توضیحات

پښتو شرح د

مشکوٰۃ شریف

تالیف

حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتہم

استاذ حدیث جامعۃ علوم اسلامیۃ بنوری ٹاؤن کراچی

پښتو ترجمه

مولانا محمد فیض الهادي "مدني"

سابق مدرس مدرسه تعلیم القرآن والحدیث

چارسده روډ پشاور

مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200


0345-1977797



توضیحات

پښتو شرح

مشکوة شریف



توضیحات شرح پښتو

مشکوة شریف

(جلد شپږم)

الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم

علامه استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری تاؤن کراچی

پښتو ترجمه،

مولوي فیض الهادی حقاني

د توضیحات پښتو شرح مشکوة خصوصیات :

- په اول جلد کې د اصول حدیث یوه مفیده مقدمه
- په متن باندې اعراب
- په ټیبل کې تحت السطور بامفهومه ترجمه
- هر حدیث ته مناسب عنوان ورکول
- د مشکوة المصابیح د آحادیثو تخریج د صحاح سته وغیره کتابونو نه کول
- د مشکوة المصابیح د مشکلو لغاتو حل کول
- په شرحه کې هر یو ځای ته مناسب عنوان ورکول
- د ائمه اربعو د مذاهبو بیان
- د مذاهبو دلائل بیانول
- د احنافو د مذهب د ترجیح وجوهات بیانول
- په شرح کې د مرقاة او د اشعة اللمعات د عباراتو حوالې ورکول
- د کتاب د هرې صفحې په سر د کتاب او باب خودنه
- د هر کتاب په اول کې د ضروري مباحثو بیان
- بین القوسین په اضافي قیوداتو سره مزید وضاحت کول
- د مشکلو ابحاثو د سوال او جواب په ذریعه حل کول
- د جدید او قدیم بعضې مسائلو استنباط
- په آحادیثو کې د تعارض په صورت کې بهترین مطابقت راوستل
- په اتم جلد کې د مشکوة المصابیح د حدیثو د راویانو مفصل حالات

مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200

0345-1977797

د چهاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دی۔

درخواست

د الله تعالیٰ په فضل وکرم سره د کمپوزنګ نظرثانی او تصحیح نه علاوه د چهاپ کولو او جلد سازئی په ټولو مرحلو کښی د ډیر احتیاط نه کار اخستلی شوی دی خو بیا هم انسان کمزوری دی۔
که ددی احتیاط باوجود هم څه غلطی په نظر درشی نو اطلاع راکړئی ان شاء الله په راتلونکی چهاپ کښی به ئی تصحیح اوکړو۔

دکتاب نوم: توضیحات مشکوٰۃ شریف

مؤلف: الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتہم
علامہ استاذ حدیث جامعۃ علوم اسلامیۃ بنوری تاؤن کراچی

ترجمہ: مولوي فیض الهادی حقاني

کمپوزنګ: مولوي فیض الهادی حقاني

ناشر: مکتبۃ الاصلاح محله جنګی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

د ملاویدو پتی:

پاکستان	افغانستان
شبقدر	جلال آباد
اکوړه خټک	کابل
صوابی	خوست
شیوه اډه	ګردیز
مردان	غزنی
مینګوره	قندهار
تیمرګره	کوندوز
باجوړ	کنړ
ټل هنګو	مزار شریف
دوآبه	لغمان
ډیره اسماعیل خان	
بلوچستان	
چمن	

نَضَّرَ اللهُ اِمْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَ وَعَاهَا وَ اَدَّاهَا (الحديث طبراني)

انتساب

زه دا خپل محنت خپل مادرِ علمي او د عِلم عالَمي مرکز

جامعة العلوم الاسلامية بنوري ټاؤن طرف ته منسوبوم

چې ددې د شفقت په سيوري کې

بنده د محدث العصر حضرت اقدس حضرت مولانا محمد يوسف البنوري رَحِمَهُ اللهُ

او صدر مدرس حضرت اقدس حضرت مولانا فضل محمد سواتي رَحِمَهُ اللهُ نه

د احاديثو مقدسو سند حاصل کړو.

فضل محمد يوسف زئي

روزِ محشر هر کسے باخویش دارد توشهء

من نیز حاضر میشوم توضیح مشکوة در بغل

وَ مِنْ مَّذْهَبِيْ حُبُّ النَّبِيِّ وَ كَلَامِهٖ

وَ لِلنَّاسِ فِيْمَا يَعْشَقُوْنَ مَذَاهِبُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ

اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ

اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ

فهرست

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
کتاب الجهاد	۳۱	د جهاد تعریف	۳۱
د جهاد قسمونه	۳۲	د جهاد یو څو نور قسمونه	۳۴
د جهاد اکبر او جهاد اصغر بحث	۳۶	د ظالم بادشاه مخې ته حق کلمه ویل	۴۰
جهاد افضل ترین عمل دی	۴۴	د ایمان نه وروسته جهاد افضل عمل دی	۴۶
مجاهد په هرحال کې کامیاب دی	۴۷	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر جنګ کې د شریکیدو او شهید کیدو ارمان کړی دی	۴۸
په اسلامي سرحداتو باندې د پهرې کولو فضائل	۵۰	د سبیل الله مطلب څه دی؟	۵۱
د رباط في سبیل الله د فضائلو په باره کې یو څو حدیثونه	۵۲	د جهاد د لارې ګرد	۵۳
په جهاد کې د کافرد وژلو ثواب	۵۳	د مسلمانانو بهترین ژوند کوم یو دی؟	۵۴
یو مجاهد جهاد ته لږ ل هم جهاد دی	۵۶	په مجاهدینو د ښځو احترام لازم دی	۵۷
په جهاد کې د مالي مرستې فضیلت	۵۸	د هر کور نه دې یو مجاهد جهاد ته لاړ شي	۵۸
د دین د حفاظت لپاره به مجاهدین تر قیامته پورې جنګېږي	۵۹	په جهاد کې د زخمي کیدو فضیلت	۶۰
د شهادت فضیلت او ارمان	۶۱	د مرګ نه وروسته د شهیدانو ژوند	۶۱
په شهات سره ټول ګناهونه معاف کېږي	۶۴	وژونکی او وژل شوی دواړه په جنت کې	۶۶
د شهادت رښتیني ارمان هم شهادت دی	۶۶	په میدانِ جهاد کې په نامعلومه ګولی لیګدو سره شهادت ملاویږي	۶۷
کهجوري یې وغورځولې او شهید شو	۶۸	د شهید مطلب او د شهیدانو قسمونه	۷۰
د مجاهد د اجر تقسیم	۷۲	د کوم مسلمان په زړه کې چې د جهاد جذبه نه وي هغه د نفاق په مرګ مړ کیږي	۷۴
حقیقي مجاهد څوک دی	۷۴	د عذر په وجه شاته پاتې کیدونکو ته د جهاد ثواب ملاویږي	۷۵
د مور او پلار د خدمت مقام او اهتمام	۷۶	د فتح مکې نه پس د هجرت فضیلت ختم شو	۷۷

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
جهاد به جاري وي تر دې چې مجاهدين به د دجال سره جنګيږي	۷۸	د جهاد نه کوونکو لپاره سخت وعيد	۷۹
په ځان، مال او د ژبې په ذريعې سره د جهاد حکم	۷۹	د کفاورککرۍ والوځوئ او جنت وګټئ	۸۰
په جهاد کې د مدافعه کولو فضيلت	۸۰	په جهاد کې د لږ وخت لپاره د شرکت فضيلت	۸۱
جهاد کې يوه روپئ مصرف کړئ او د اؤوه سوؤ ثواب وګټئ	۸۲	بهترينه صدقه	۸۳
د مجاهد فضيلت	۸۴	په جهاد کې لږ وخت تېرول په کور کې د اويا کاله لمونځ نه افضل دی	۸۵
د زړو ورځو د عبادت نه جهاد افضل عمل دی	۸۶	جنت ته اول داخليدونکي خلک	۸۶
افضل مجاهد او افضل شهيد	۸۷	د شهيد شپږ امتيازي نښانې	۸۸
څوک چې جهاد ونه کړي ايمان به يې ناقص وي	۹۰	شهيد د مرګ د تکليف نه محفوظ وي	۹۰
جهاد کې توپ دونکی قطره د وينې محبوب ترين شی دی	۹۱	په سمندر کې سفر د سخت ضرورت نه بغير مه کوئ	۹۱
په جهاد کې هر قسمه مرګ د شهادت دی	۹۳	مجاهد کور ته تر بېرته راتللو پورې جهاد کې شمارل کېږي	۹۳
يو مجاهد جهاد ته د لږ لو ثواب	۹۴	اجرتی مجاهد کېدل ډير بد دي	۹۴
په اجرت باندې جهاد ته د تللو حکم	۹۶	صرف د دنيا لپاره جهاد کولو باندې ثواب نه ملاويږي	۹۷
د حقيقي مجاهد پېژندنه	۹۷	نافرمانه امير معزول کېدلی شي	۹۹
په اسلام کې د رهبانيت ګنجائش نشته	۱۰۰	په جهاد کې د نيت اخلاص ضروري دی	۱۰۲
د مجاهدينو اوچتې درجې	۱۰۲	جنت د تورو د سيورې د لاندې دی	۱۰۳
د اُحد د شهيدانو باره کې بشارت	۱۰۴	درې قسمه مسلمانان	۱۰۵
د شهيد ارمان	۱۰۶	څلور قسمه خلک به په جنت کې وي	۱۰۷

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په جهاد کې د مال د خرچ کولو فضیلت او د نهه څلویښت کروړو خبره	۱۰۷	د مجاهدینو اوچتو مرتبو کتلو سره د سر نه خولئ وغورزیده	۱۱۰
منافق شهید نه وي	۱۱۲	فقط یوه نیکی باندې جنت، عجیبه قصه	۱۱۴
باب اعداد آلة الجهاد	۱۱۶	د استطاعت مناسب د جهاد لپاره د طاقت تیارولو حکم	۱۱۶
خطر که نه هم وي بیا هم د اسلحې شغل جارې وساتئ	۱۱۹	د اسلحې د زده کولو نه وروسته هېرول لویه ګناه ده	۱۱۹
تیراندازي کوئ زه تاسو سره یم	۱۲۰	د جهادي اَسونو فضیلت	۱۲۱
د جهادې اَسونو ونډه، اوبه، متیازي او څوټې به هم په نیک اعمالو کې وي	۱۲۲	شکال اس ناخوښه اس دی	۱۲۳
په اَسونو کې مسابقه د جهادي روزنې برخه ده	۱۲۳	یَو باندې چې مقابله کې مخکې ؤوتلو	۱۲۴
دیو تیر په ذریعه درې ګسه جنت ته ځې	۱۲۵	په میدان جهاد کې د تیر ویشتلو ثواب	۱۲۷
جهادي روزنه کې شرط لګول جائز دی	۱۲۹	په مسابقه کې د محلل د شریکیدو حکم	۱۳۰
په اَسونو کې جلب او جنب منع دی	۱۳۱	د ښائسته اَسپې علامت	۱۳۲
په سرو اَسونو کې برکت وي	۱۳۳	د اَسونو په تندې، په څټ ولاړ ویختان او د لکئ ویختان مه غوڅوئ	۱۳۴
د جهادي اَسونو ساتنه وکړئ	۱۳۵	د اهل بیتو درې خصوصیات	۱۳۵
اَسپی ته خر پریښودل منع دي	۱۳۶	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ توره	۱۳۷
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اُحد په ورځ دوه زغرې واغوستلې	۱۳۸	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جنګي جنډه	۱۳۸
خپله قومي اسلحه جوړه کړئ او هغه خپله کړئ	۱۳۹	**باب آداب السفر**	۱۴۲
د جهاد لپاره د یوم الخمیس انتخاب	۱۴۳	د ځان ته د سفر کولو ممانعت	۱۴۳
په قافله کې که سپی یا ټلئ وي نو د رحمت فرښتې به نه وي	۱۴۴	په څارؤ باندې د سورلئ کولو متعلق هدایت	۱۴۵
د سفر ضرورت مند ملګرې سره مرسته وکړه	۱۴۷	په سفر کې د مقصد د پوره کیدو نه وروسته کور ته ژر راشئ	۱۴۸

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د معزز میلمه یا د مسافر په راتلو باندې استقبال جائز دی	۱۴۹	سفر نه کور ته د نبي کریم ﷺ د راتلو وخت	۱۵۰
د سفر نه راستنیدو سره دعوت کول مسنون دی	۱۵۲	د سفر نه راستنیدو سره جومات کې ناسته او نفل کول مسنون دي	۱۵۲
سحر وختي کار ته تلونکو ته د برکت دعاء	۱۵۳	ورځي د سفر سره څه د مابنام هم یو ځای کوئ	۱۵۴
سفر کې چې کم نه کم درې کسان وي	۱۵۴	د درېو کسانو ډله دې یو امیر مقرر کړئ	۱۵۵
غوره فوځ او غوره سریه	۱۵۶	په سفر د جهاد کې د نبي کریم ﷺ عظیمه نمونه	۱۵۸
د سورلئ څارؤ باندې رحم وکړئ	۱۵۹	د موټر مالک د مخکنې سیټ حقدار دی	۱۶۰
شیطاني اوښ او شیطاني کور	۱۶۱	لاره تنګولو باندې د جهاد ثواب مه خرابوئ	۱۶۲
جهادي سفر کې تاخیر کول د نقصان سبب دی	۱۶۴	څوک چې خادم وي همغه سردار وي	۱۶۶
باب الکتاب الی الکفار و دعائهم الی الاسلام	۱۶۷	د قیصرِ روم په نوم د نبي کریم ﷺ خط	۱۶۸
د شاه فارس پرویز په نوم د نبي کریم ﷺ خط	۱۷۱	د دعوت اسلام طریقه او د جهاد آداب	۱۷۳
د جنګ ارمان مه کوئ خو چې په سر مو راشي نو بیا یې په کلکه کوئ	۱۷۷	په جنګ خیبر کې نعرهٔ الله اکبر	۱۷۸
د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه د کفارو په نوم یو عظیم مکتوب	۱۸۲	**باب القتال في الجهاد**	۱۸۴
د جهاد د مشروعیت حکمت	۱۸۴	د شهادت شوق	۱۸۵
جهاد ته د وتلو وخت کې د نبي کریم ﷺ حکمت عملي	۱۸۶	جنګ د چل او تدبیر نوم دی	۱۸۷
په جهاد کې د ښځو او ماشومانو وژنه منع ده	۱۸۸	په جهاد کې د ښځو د شریک کېدو حکم	۱۸۹

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په شب خون کې ښځې او ماشومان وژل کیدې شي	۱۸۹	د دشمن د باغونو د غوڅولو او د سوځولو مسئله	۱۹۰
د غفلت په حالت کې په دشمن باندې حمله کول جائز ده	۱۹۱	د جنګ متعلق یو حکمت	۱۹۲
جنګي شعار او د شفر الفاظ	۱۹۳	د جنګ په وخت کې شور او شغب منع دی	۱۹۴
د دشمن ښار او پټې د ضرورت په وخت کې وسوځوئ	۱۹۵	کله چې کافر په ګوته درشي نو مړه یې کړئ	۱۹۵
ښځه او غلام مه وژنئ	۱۹۶	مجاهدینو ته د نبي کریم ﷺ نصیحتونه	۱۹۶
میدان بدر کې درې په درې مقابله	۱۹۷	د جنګ موته واقعه	۱۹۹
غزوۀ طائف کې د منجنیق استعمال	۲۰۰	**باب حکم الاسراء**	۲۰۲
د کفارو په څټونو کې ځنځیر واچوئ او اسلام ته یې راولئ	۲۰۲	جاسوس مړ کړئ	۲۰۳
بنو قریظه کې د حضرت سعد فیصله	۲۰۶	د سردار یمامه ثمامه عجیبه قصه	۲۰۷
د احسان بدله احسان	۲۱۱	د حدیبیه په موقع اتیا (۸۰) مشرکان ونیول شول	۲۱۲
په قلیب بدر کې د قریشو د سردارانو سره د نبي کریم ﷺ کلام	۲۱۳	په جنګ حنین کې شپږ زره قیدیان	۲۱۶
تبادله د قیدیانو جائز ده	۲۱۸	د بدر په قیدیانو کې د نبي کریم ﷺ زوم هم وۀ	۲۲۰
قیدي وژل هم جائز دي	۲۲۲	د بدر په قیدیانو د الله تعالی ناراضتیا	۲۲۳
د قیدانو په عمر کې تحقیق او څیړنه	۲۲۴	یو مسلمان کافر ته په لاس ورکول حرام دي	۲۲۵
په یوې بې غوږئ سره د ټولو لپاره مصیبت	۲۲۶	**باب الامان**	۲۲۸
د ښځې د عهد و امان لحاظ ساتل په مسلمانانو باندې لازم دی	۲۲۹	د وعدې پوره کولو اهمیت	۲۳۲
د اسلام ضابطه مکمل او کافی ده	۲۳۴	د مسیلمه کذاب دوه قاصدان	۲۳۵

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
باب قسمة الغنائم والغلول فيها	۲۳۷	د مالِ غنیمت استعمال د دې امت د خصوصیاتو نه دی	۲۳۸
د وژل شوي کافر مال د وژونکي مجاهد دی	۲۳۹	د مالِ غنیمت د تقسیم قانون	۲۴۱
مالِ غنیمت کې د ښځو او د غلامانو برخه نشته دی	۲۴۴	د حضرت سلمه بن اکوع زړه ورتیا	۲۴۵
کفار که د مسلمانانو مال قبضه کړي نو څه به کیږي؟	۲۴۸	د خُمس حکم	۲۵۰
د مالِ فئ تعارف او حکم	۲۵۱	مشترکه قومي دولت کې خیانت کونکی به دوزخ ته ځي	۲۵۲
مشترکه قومي دولت کې د خیانتونو مختلف صورتونه	۲۵۳	په مشترکه قومي دولت کې خیانت باندې سخت وعید	۲۵۵
په جهاد کې د ضرورت مطابق د خواړو شیانو استعمال	۲۵۶	خوندور صورت	۲۵۷
د مقتول سلب به قاتل ته ورکول کیږي	۲۵۸	د ابو جهل اصل قاتل څوک ؤو؟	۲۵۹
توره یې رانښکله او جهاد ته روان دی	۲۶۰	د خیبر غنیمتونو کې د احنافو استدلال	۲۶۱
څوک چې ډېر په زړه ورتیا جنګ کوي ډیره برخه به اخلي	۲۶۲	په مالِ فئ کې ټول مسلمانان شریک دي	۲۶۳
د اهلِ سفینه خصوصیات	۲۶۴	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو خائن جنازه ونه کړه	۲۶۵
خیانت شوی واګی قیامت کې خپله راوړه	۲۶۶	په مشترکه قومي دولت کې د خیانت سزا	۲۶۷
په خائن باندې پرده اچول هم خیانت دی	۲۶۸	د تقسیم نه مخکې د مالِ غنیمت اخستل او خرڅول منع دی	۲۶۸
د ذوالفقار توري ذکر	۲۶۹	څوک چې مؤمن وي خیانت به نه کوي	۲۷۰
د مشترکه مال نه ستن هم مه اوچتوئ	۲۷۲	د ابو جهل د مرګ قصه	۲۷۶
حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابو جهل په سینه باندې	۲۷۹	د کمزور مسلمان مال بچ کول پکار دی	۲۸۰

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د بدريانو مرتبه حاصله ده	۲۸۲	جهاد لپاره د لمړ ډوبيدو سره حصار شو	۲۸۳
په مالِ غنيمت کې خيانت کونکی به دوزخ ته اچولی کيږي	۲۸۵	**باب الجزية**	۲۸۷
د مجوسيانو نه جزيه اخستل څنګه ده	۲۸۸	په مسلمانانو باندې جزيه نشته دی	۲۹۱
په جزيه باندې د صلحې يو صورت	۲۹۲	يهود و نصاری نه مالِ تجارت باندې د محصول اخستلو مسئله	۲۹۳
په ذميانو باندې د جزيې يَو عجيب صورت	۲۹۳	په سرو زرو او سپينو زرو باندې د جزيې مقدار	۲۹۵
کتاب الصلح	۲۹۶	د صلح حديبيه تفصيلي بيان	۲۹۶
د صلح حديبيه يَو څو شرطونه	۳۰۴	په صلح کې دَيو سخت شرط حکمت	۳۰۵
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيعت کې دهيڅ يوې ښځې په لاس کې لاس نه دی ايخی	۳۰۶	په صلح حديبيه کې اضافه شرطونه	۳۰۷
د معاهدې ساتنه ضروري ده	۳۰۸	د معاهدې حديبيه متن	۳۰۹
باب اخراج اليهود من جزيرة العرب	۳۱۳	د جزيره عرب نه د يهودو د ويستلو حکم	۳۱۳
حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د يهودو د ويستلو پس منظر وايي	۳۱۵	يهود او نصاری د جزيره عرب نه وباسئ	۳۱۷
د يهوديانو د ويستلو پخه اراده	۳۱۸	د يهوديانو د ويستلو عمل حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوره کړو	۳۲۰
باب الفئ	۳۲۲	د مالِ فئ خرچ کول	۳۲۳
د مالِ فئ د تقسيم يَو صورت	۳۲۴	د مالِ فئ غمې به هم تقسيميږي	۳۲۵
د مالِ فئ تقسيم کې د مرتبو د فرق لحاظ	۳۲۶	د فدک قضيه کې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ استدلال	۳۲۹
د قضيه فدک پوره تفصيل	۳۳۰	په جهاد باندې عمومي اعتراضونه او د هغې جوابونه	۳۳۴

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
کتاب الصید والذبائح	۳۴۳	د سپي او تیر په ذریعې سره شوي ځکار مسائل	۳۴۳
د ټوپک په ګولۍ باندې ښکار څنګه دی؟	۳۴۷	د یهودو او نصاراؤ په لوخو کې خوراک څنګه دی؟	۳۵۱
وژلی شوی ښکار که ورک شي نو څه حکم یې دی؟	۳۵۳	د شکمنې ذبیحې حکم	۳۵۴
د غیرالله په نوم ذبیحه حرامه ده	۳۵۵	کوم شی چې د رګونو وینه تویه ولی شي نو ذبح کول پرې جائز ده	۳۵۷
په تیره کانې باندې ذبح کول جائز ده	۳۵۹	که مړی هم کوئ نو په طریقه یې وکړئ	۳۶۰
څاروی ترڅو او ننبانه کول جائز نه دی	۳۶۰	څوک په خوله مه وهئ او مه پر مخ داغ ورکوئ	۳۶۲
د ضرورت او مصلحت په خاطر داغول جائز دي	۳۶۲	هر هغه شی چې وینه تویوي ذبح پرې جائز ده	۳۶۳
د ذبح اضطراري حکم	۳۶۴	د کوم سپي چې ذبیحه حرامه ده د هغه سپي ځکار هم حرام دی	۳۶۶
د غیر مسلمو د لاس خوراک حلال دی	۳۶۷	د مجثمة خوراک منع دی	۳۶۸
هغه څاروي چې خوراک یې حرام دی	۳۶۸	د شریطه خوراک منع دی	۳۷۰
د خیټې د بچي د ذبیحې حکم	۳۷۰	بې وجې څاروی یا مارغه وژل جائز نه دی	۳۷۲
د ژوندي څاروی نه غوڅه کړی شوې غوښه مردار ده	۳۷۳	په هرې تیرې آلې باندې ذبح جائز ده	۳۷۴
د دریاب د څارؤ حکم	۳۷۵	**باب ذکر الکلب**	۳۷۶
بې له ضرورته سپي ساتل د نقصان سبب دی	۳۷۶	د سپو د وژلو حکم	۳۷۷
د څارؤ جنګول منع دي	۳۷۹	**باب ما یحل اکله و ما یحرم**	۳۸۰
ذی ناب درنده حرام دی	۳۸۰	آیا اس حلال دی؟	۳۸۱
د وحشي خر غوښه حلاله ده	۳۸۲	سوئ حلاله ده	۳۸۲
سنده حلال دی که حرام؟	۳۸۳	د چرګ غوښه حلاله ده	۳۸۴

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
عقیقه چې د چا وي هغه دې د نافرمانۍ نه بچ شي	۴۱۷	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غوږ کې اذان وکړو	۴۱۷
په جاهلیت کې عقیقه څنګه وه؟	۴۱۸	**کتاب الاطعمة**	۴۱۹
د خوراک دریې آداب	۴۱۹	بسم الله که ونه وایي نو شیطان به درسره خوراک کوي	۴۲۰
خوراک څښاک په ښي لاس مسنون دی	۴۲۱	په چپ لاس باندې شیطان خوراک څښاک کوي	۴۲۲
دریې ګوتو باندې خوراک کول او ګوتې څټل سنت دي	۴۲۲	د خوراک نه وروسته ګوتې خپله وڅټئ یا یې په بَل وڅټئ	۴۲۳
که د خوراک په وخت کې مړئ ولوېږي نو څه کول پکار دي	۴۲۳	په تکیه وهلو سره خوراک کول منع دی	۴۲۴
مېز او چوکئ باندې د خوراک د کولو حکم	۴۲۴	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دوډئ ولیدله او نه وریته شوي بیزه	۴۲۶
میده یا د اغزلی شوي وړو دوډئ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ده خوړلي	۴۲۶	خوراک کې نقص مه راوباسئ	۴۲۷
مؤمن په یوه کولمه او کافر په اؤوه کولمو خوراک کوي	۴۲۸	قناعت که وي نو د دوؤ خوراک د درېو لپاره کافي کېږي	۴۳۰
مریض ګس لپاره تلبینه بهترین شی دی	۴۳۰	کدو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤ	۴۳۱
په اور باندې پوخ شوي شي خوړلو سره اودس لازم نه دی	۴۳۲	خوږ شی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤ	۴۳۲
سرکه بهترین سالن دی	۴۳۳	د خربوزې فایدې	۴۳۳
د خربوزې او کهجورو یو ځای کولو حکم	۴۳۴	د پیلو د ونې فضیلت	۴۳۴
د خوراک کولو وخت کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کیفیت	۴۳۶	د ملګرو سره دوه دوه کهجورې یو ځای مه خورئ	۴۳۶

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
کور کې د کهجورو ساتلو فضیلت	۴۳۷	ولږه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کور کې	۴۳۸
په اوبو او کهجورو باندې کله هم خیټه ډکه نه شوه	۴۳۹	اومه ؤوږه خوړل څنګه ده؟	۴۴۰
د پیاز، اوږه او بدبویه شی خوړلو سره جومات ته تلل منع دی	۴۴۲	د خوراک نه وروسته د الله تعالی حمد و ثناء	۴۴۳
د خوراک څکاک نه وروسته د الله شکر ادا کړئ	۴۴۴	د خوراک نه مخکې بسم الله ووایئ	۴۴۵
که هیر شي درنه نو په مینځ کې هم بسم الله ووایئ	۴۴۵	د خوراک نه وروسته دعا	۴۴۶
د خوراک نه مخکې او وروسته لاس وینځئ	۴۴۷	مینځ پرېږدئ او د غاړو نه یې خورئ	۴۴۹
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم په تکیه وهلو سره خوراک نه دی کړی	۴۵۰	په جومات کې د خوراک کولو مسئله	۴۵۰
د مرض لپاره پرهیز ضروري دی	۴۵۲	د دیګچې خوراک به د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤ	۴۵۴
د خوراک نه ورسوته لوخی پاکول د مغفرت سبب دی	۴۵۴	د خوراک نه وروسته لاس وینځئ بیا اوده کېږئ	۴۵۴
ثرید د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤو	۴۵۵	د زیتون فضیلت	۴۵۶
سرکه سالن دی	۴۵۶	کهجوري هم د سالن کار کوئ	۴۵۷
غیر مسلم معالج ته رجوع کول جائز ده	۴۵۷	غذا معتدله کړئ او وي خورئ	۴۵۸
میؤو کې چینجی پیدا کېدلو سره میوه نه نجسه کېږي	۴۵۹	اسلام چې کوم شیانو ته حرام ویلي دي همغه حرام دي	۴۶۰
د بنه خوراک خواهش جائز دی	۴۶۱	اومه اوږه خوړل منع ده	۴۶۲
د پیاز خوړلو مسئله	۴۶۲	د کوچو سره کهجوري د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښې وې	۴۶۳
لوخي کې مختلف شیان وي د خوښې شی ترینه اخلئ	۴۶۳	د حریرې فائده عجوه د جنت کهجوره ده	۴۶۵ ۴۶۶

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
خوراک کې که بسم الله نه وي ویل شوي نو شیطان هم خوراک کوي	۴۶۷	ډیر خوراک کول د نحوست علامت دی	۴۶۹
مالګه بهترین سالن دی	۴۶۹	بوټان ویستلو سره خوراک کولو باندې قدمونو ته راحت ملاویږي	۴۷۰
خوراک لږ یخول او بیا خوړل پکار دی	۴۷۰	د خوراک لوڅې دعاء هم کوي او ښېري هم کوي	۴۷۱
باب الضیافة	۴۷۲	د مېلمه اکرام کول د ایمان علامت دی	۴۷۲
کوربه باندې بوج مه جوړوئ	۴۷۳	په ذمیانو باندې د مجاهدینو میلمستیا لازمه ده	۴۷۴
د میلمه په راتللو باندې د خوشحالئ اظهار کول پکار دی	۴۷۵	د بَدو بدله بَد نه دي	۴۷۸
د خوراک نه وروسته دعاء	۴۷۹	د پرهیزګاره خلکو ضیافت ډیر بهتر دی	۴۸۱
ګوندو باندې ناسته او خوراک کول عاجزي ده	۴۸۲	راغوندیدلو سره خوراک کې برکت نازلیږي	۴۸۲
قیامت کې به د عیش والا ژوند باره کې پوښتلی کیږي	۴۸۴	د خوراک نه یو ځای پاڅېږئ	۴۸۶
که ولږه وي نو خوراک کې تکلف مه کوئ	۴۸۷	میلمه د کور دروازي پورې پریږدئ	۴۸۸
په ضیافت کې برکت دی	۴۸۹	**باب المضطر**	۴۹۰
په اضطراري حالت کې د مردار خوړلو مسئله	۴۹۰	**باب الاشربة**	۴۹۴
دري ساګانو کې د اوبو د څکلو فایدي	۴۹۴	د مشک په خوله باندې د اوبه څکلو ممانعت	۴۹۵
په ولاړه باندې د اوبه د څکلو ممانعت	۴۹۶	په ولاړه باندې د زمزم د اوبو استعمال مستحب دي	۴۹۸
د اودس نه پاتې شوي اوبه په ولاړه څکل کیدلی شي	۴۹۸	په مجبورئ کې د تالاب یا نهر نه په خوله اوبه څکلی شئ	۴۹۹

مضمون	صفحه
سرو او د سپینو زرو لوخو کې اوبه څکل حرام دي	۵۰۱
ګرځېدو راګرځېدو کې د ضرورت په بناء خوراک څکاک جائز دی	۵۰۴
یو سا باندې اوبه څکل د ځناورو کار دی	۵۰۵
اوبه د لوخي په مات ځاې باندې مه څکئ	۵۰۷
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یخ او خوږ شربت خوښ ؤو	۵۰۸
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د خوږو اوبو خاص اهتمام	۵۱۰
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د نبیذ جوړولو طریقه	۵۱۲
په کوم کوم لوخو کې نبیذ جوړول منع دي	۵۱۴
د شرابو نوم به بدل کړي او خلک به شراب څکي	۵۱۵
د مسلمان د شپې لپاره د اسلام غوره اصول	۵۱۷
داوده کیدو وخت کې اوبو سپکوئ	۵۲۱
مړی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جانماز باندې داوره ډیوه غوزاره کړه	۵۲۳
یمني "حبره" څادر د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیر خوښ ؤو	۵۲۶

مضمون	صفحه
نبي اړخ نه د جام ګرځول پکار دي	۵۰۲
داوبو څکلو وخت کې په لوخي کې سا مه اخلئ	۵۰۵
داوبو نه د ډکې وغیره لري کولو طریقه	۵۰۶
اوبه د ضرورت په وخت کې د مشکیزې په خوله باندې څکل جائز دي	۵۰۷
د خوراک او د څښاک په څیز کې د شودو نه هیڅ بهتر شی نشته	۵۰۹
باب النقع والانبذة	۵۱۱
نبیذ ترکومې پورې ایښودل کیدی شي؟	۵۱۳
د لوخو باره کې یو حکم منسوخ شو	۵۱۴
باب تغطية الأواني وغيرها	۵۱۷
کوم لونبي کې چې د خوراک څښاک شیان وي نو هغې باندې سرکپږدئ	۵۲۱
د سپي او د خرابو آواز چې واورئ نو تعوذ وایي	۵۲۲
كتاب اللباس	۵۲۴
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تنک لستونې والا جبه واغوستله	۵۲۶

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د سفرِ آخرت په وخت کې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامې	۵۲۷	د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بستره	۵۲۷
د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالخت	۵۲۸	په سر باندې د څادر او د دسمال دلیل	۵۲۸
په کور کې د درېو نه زیاتې بسترې ساتل منع دي	۵۲۹	د تکبر په وجه پاجامه د ښنګرو نه لاندې ځوړندول منع دي	۵۲۹
پرتوګ یا پاجامه د ښنګرو نه لاندې ځوړندول حرام دي	۵۳۰	پاجامه ځوړندونکې زمکه کې ننوتلو	۵۳۰
پرتوګ د ښنګرو نه لاندې ځوړندول د دوزخ برخه ده	۵۳۱	اشتمال الصماء جائز نه ده	۵۳۲
د نارینۂ لپاره ریښم استعمالول حرام دی	۵۳۳	بدنصیبه د آخرت په دنیا کې ریښم اغوندي	۵۳۳
د ریښمو توته باندې کیناستل هم منع دي	۵۳۴	ریښم ښځو ته واغوندئ	۵۳۴
نارینۂ لپاره د ریښم د څلورو ګوتو پتئ جائز ده	۵۳۵	د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُبه	۵۳۶
ریښم د عذر په بناء استعمالول جائز دی	۵۳۷	کسم او سور رنګ باندې رنګ شوي جامه د نارینو لپاره منع ده	۵۳۸
د قمیص فضیلت	۵۳۹	د قمیص حد	۵۳۹
په هره جامه کې اسبال منع دی	۵۴۰	د صحابه کرامو خولئ به څنګه وي	۵۴۱
د ښځو لباس د نارینۂ دلباس نه زیات کولاؤ پکار دی	۵۴۲	د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرطئ ګریوان	۵۴۳
د سپینو جامو د اغوستلو فضیلت	۵۴۴	د پټکي ترلو آداب	۵۴۵
خولئ باندې عمامه ترل د مسلمانانو امتیازي علامت دی	۵۴۶	سره زر او ریښم د ښځو لپاره حلال دي	۵۴۷
د نوي جامه اغوستلو وخت کې دعا	۵۴۷	د خوراک او جامه اغوستلو نه وروسته دعا سره ټول ګناهونه وبخښلی شي	۵۴۸
زړه جامه مه ضایع کوئ	۵۴۹	په لباس کې ساده توب د ایمان علامت دی	۵۵۰

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
لوہوالي لپاره د شهرت لپاره لباس اغوستل د آخرت ذلت دی	۵۵۰	کوم ګس چې د غیر مسلمو تقلید کوئ هغه همغه جوړیږي	۵۵۱
کوم ګس چې عاجزي کوي هغه اوچتیږي	۵۵۲	د الله تعالی د نعمتونو اظهار محمود عمل دی	۵۵۳
په اسلام کې ښه خوي او صفائی محمود عمل دی	۵۵۳	د نارینۂ لپاره سره جامه اغوستل حرامه ده	۵۵۵
د نارینۂ او د زنانۂ په خوشبوي کې فرق	۵۵۵	د لسو خبرو ممانعت	۵۵۷
د نارینۂ لپار د سرو زرو ګوتمه اچول حرامه ده	۵۵۸	په ریښم او د زمري څرمن باندې کیناستل منع دي	۵۵۹
د شین رنګ جامې جائز دي	۵۵۹	د قطري څادر ذکر	۵۶۰
د یو بدبختۍ یهودي معامله	۵۶۱	سري جامې د ښځو لپاره دي د نارینۂ لپاره حرامې دي	۵۶۲
د تور څادر ذکر	۵۶۴	زنګون ماتولو باندې د ناستي حکم	۵۶۴
ښځه باریکه ټوټه څنګه استعمال کړي	۵۶۵	ټوټه کې اسراف کول منع دی	۵۶۵
د لنګ او پرتوګ ترپوندو پورې کیدل خوښ کړی شویدي	۵۶۶	د لنګ زوړندلو حرمت د تکبر په وجه دی	۵۶۷
اصل کې څادر وغیره د شاته نه منع دی	۵۶۸	پټکی ترڅ د فرښتو علامت دی	۵۶۸
د ښځو لپاره داسې باریکه لباس منع دی چې په کوم کې بدن ښکاري	۵۶۹	نوي جامه اغوستلو سره کومه دعا ویل کیږی	۵۷۰
حضرت عائشې رضی الله عنها باریکه ټوټه وشلوله	۵۷۱	زمانه بدلیدلو سره خلک څنګه څنګه بدلیدل؟	۵۷۱
ریښمې لباس د نارینۂ لپاره حرام دی	۵۷۳	که د جامو تنږۍ د ریښمو وی نو د سړو دپاره جائز دی	۵۷۴
شال استعمالول جائز دی	۵۷۴	ښه وخوړئ وڅکئ خو اسراف مه کوئ	۵۷۵
سپینو جامو کې خپل رب سره ملاقات وکړئ	۵۷۶	**باب الخاتم**	۵۷۷

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د سرو زرو ګوتمه د نارینۍ لپاره حرامه ده	۵۷۷	د نارینۍ لپاره د سرو زرو ګوتسه اچول حرامه ده	۵۷۸
د نارینۍ لپاره د سرو ګوتمه د دوزخ د اور سکروټه دی	۵۷۹	د مهر نبوي نقش	۵۸۰
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګوتمې غمی	۵۸۱	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګوتمه به د چپ لاس په خنصره ګوته کې وه	۵۸۲
کومه ګوته کې ګونمه واچولی شي؟	۵۸۳	د نارینۍ لپاره نبي او چپ لاس کې ګوتمه اچول هم جائز ده	۵۸۳
سره زر او ریښم د نارینۍ لپاره حرامه دي	۵۸۴	لږ مقدار کې سره زر استعمالیدلی شي	۵۸۴
د اوسپنې او پیتلو ګوتمه استعمالول منع دي	۵۸۵	هغه لس شیان چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به بد ګڼل	۵۸۷
ښځو له اواز کونکې زر اغوستل منع دي	۵۸۹	د شرعي مجبورئ په وخت کې د سرو زرو استعمال جائز دی	۵۹۰
په زرو کې د زکوة ورکولو باندې سخت وعید	۵۹۱	جنت کې که ریښم او سره زر غواړئ نو دنیا کې ترینه ځان وساتئ	۵۹۳
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سرو زرو ګوتمه	۵۹۳	ناجائزه لباس یا زر ماشومانو ته هم اچول منع دي	۵۹۴
باب النعال	۵۹۵	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معیاري پیزار	۵۹۵
د بوټانو اهمیت	۵۹۶	د بوټ د ښپو کولو او ویستلو مسنونه طریقه	۵۹۶
یو ښپه کې بوټ او بله لغړه بې کاره عمل دی	۵۹۷	یوه موزه کې مرل کول منع دی	۵۹۸
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بوټانو	۵۹۸	په ولاړه باندې د ځینو بوټانو اغوستل منع دي	۵۹۹
یو بوټ کې مرل [illegible] دی؟	۵۹۹	بوټان ویستل او کیناستل د مجلس د آدابو نه دي	۶۰۰

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د خفين هديه	٦٠١	**باب الترجل**	٦٠٢
د حائضې ښځې بدن ناپاکه نه وي	٦٠٢	پنځه شيان فطرت کې داخل دي	٦٠٢
ږيره خريل او بريت غټول د مشرکانو کار دی	٦٠٤	د زير ناف ويختانو د صفا کولو آخري موده	٦٠٥
ويختانو کې د تور خضاب تفصيلي مسئله	٦٠٦	د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پلار ويختان د خضاب حکم	٦٠٩
د يهودو په خلاف د سر په مينځ کې لار ويستل سنت دي	٦١٠	د سر په ويختانو کې قزع کول منع دی	٦١١
هيجړا او مخنث جوړېدل حرام دي	٦١٢	د سر په ويختانو کې د مصنوعی ويختانو لګولو حکم	٦١٤
خلق الله کې تغير حرام دی	٦١٥	بد نظري يو حقيقت دی	٦١٧
د نارينه لپاره د زعفرانو استعمالول منع دی	٦١٨	نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعلی خوشبو استعمال کړه	٦١٩
د مخلوط او غير مخلوط خوشبويې ذکر	٦١٩	بريت واړه کول پخوانی سنت دی	٦٢٠
د بريت غټونکو لپاره وعيد	٦٢٠	د غاړو اړخ نه د ږيرې برابرولو حکم	٦٢١
د نارينه لپاره د خلوق عطر استعمالول جائز نه دي	٦٢١	د نارينۀ او زنانۀ په عطرو کې فرق	٦٢٣
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثر په سر تيل مو ږل	٦٢٤	د نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوځئ مبارکي	٦٢٥
د نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ويختانو مينځ کې د لارې ذکر	٦٢٥	هره ورځ د سر د ږمنځولو نه ممانعت	٦٢٦
ډير د عيش ژوند پرېږدئ او کله لغړي ښپې هم کړئ	٦٢٧	که ويختان غټ کړئ نو اکرام يې کوئ	٦٢٧
بهترين خضاب کوم يو دی؟	٦٢٨	تور خضاب کونکي لپاره وعيد	٦٢٩
زيړ خضاب کول جائز دي	٦٣٠	سپين ويختان د مؤمن د نورانيت سبب دي	٦٣١

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جمه، لمه او وفره ويختان	٦٣٢	د نارينۀ لپاره ډير اوږده ويختان ښه نه دي	٦٣٣
د برکت ويختان	٦٣٤	د ضرورت په بناء د سر ويختان خريل جائز دي	٦٣٥
د جينکو ختنه	٦٣٦	ښځوته ويختانو کې نکريزي لګول جائزدي	٦٣٧
ښځو ته په لاسونو باندې نکريزي لګول مستحب دي	٦٣٧	د نارينۀ او د زنانۀ په لباس کې يو شان والی د لعنت سبب دی	٦٤٠
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل اهل بيتو لپاره ساده ژوند خوښ کړو	٦٤١	رانجه لګول مسنون طريقه او د اثمد فايدي	٦٤٤
د يو څو مفيد دواګانو ذکر	٦٤٥	د حمام د استعمالولو ذکر	٦٤٦
ښځي دي مشترکه حمامونو ته نه ځي	٦٤٧	کوم ګس چې ايمان لري هغه دي مشترکه حمام ته نه ځي	٦٤٨
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم په سر مبارک کې خضاب نه دی لګولی	٦٤٩	نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيړ خضاب استعمال کړيدی	٦٥٠
د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويختان	٦٥١	يو مخنث نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښار نه وشړلو	٦٥١
د نارينۀ لپاره خلوق استعمالول منع دي	٦٥٢	که د چا ويختان وي نو حفاظت کول يې ضروري دي	٦٥٣
د غير مسلمو وضع قطع خپلول منع دي	٦٥٣	ښځي ته د سر ويختان خريل حرام دي	٦٥٤
د سر او زيري ويختان که خواره وي نو داد تهذيب خلاف دي	٦٥٤	د کور دالان صفا ساتئ	٦٥٥
بوډا والی عظمت او وقار دی	٦٥٦	**باب التصاوير**	٦٥٨
د رحمت فرښتي هلته نه ځي چرته چې شوقي سپي يا تصويرونه وي	٦٥٨	د غير ضروري او شوقيه سپو وژل ضروري دي	٦٦٠
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د تصوير والا شی ماتولو	٦٦١	چيرته چې تصوير ؤ و هلته نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داخل نشو	٦٦٢

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصويران وران کړل	٦٦٣	بي ضرورته ديوال ته پردي مه ځورنه وئ	٦٦٤
قيامت کې به تصوير ويستونکي ته د ټولو نه زيات عذاب وي	٦٦٥	که مصور کې همت وي نو ميږی دي پيدا کړي	٦٦٦
د الله په نزد به مصور ته د ټولو نه زيات عذاب وي	٦٦٧	چې څومره تصويران جوړ کړي هماغومره عذاب به ګټي	٦٦٧
درې لوی ګناهونه او عجيبه سزا	٦٦٨	د نرد شير لوبي کولو ممانعت	٦٦٩
مصورينو په څټ باندې به په محشر کې د دوزخ اور مسلط وي	٦٧١	شراب، جواري او کوبه حرام دي	٦٧٢
د کوترو ساتنه ناجائزه ده	٦٧٣	دزنده سرو تصوير ويستلو کاروبار ناجائز دی	٦٧٣
د تصوير ويستلو په وجه شرک راغلی او رائي به	٦٧٥	پنځه قسمه خلکو ته به قيامت کې سخت ترين عذاب وي	٦٧٦
د شطرنج غندنه	٦٧٧	خطاکار سړی شطرنج لوبوي	٦٧٧
شطرنج يوه باطله لوبه ده	٦٧٨	په سپي او پيشو کې فرق	٦٧٨
کتاب الطب والرقی	٦٨٠	الله تعالی د هر مرض علاج پيدا کړی دی	٦٨٢
دوا فقط ظاهري سبب دی شفا الله ورکوي	٦٨٣	درې شيانو کې شفاء ده	٦٨٤
حديثو کې د داغولو ذکر	٦٨٥	د کلونجي خاصيت	٦٨٦
شهدو کې شفاء ده	٦٨٧	د قسط فائدي	٦٨٨
کوټ سره د ماشومانو د مخصوصي ناروغئ عذره علاج	٦٨٩	"کوټ" باندې د ذات الجنب علاج	٦٨٩
په اوبو باندې د تبې علاج	٦٩١	بدنظرئ لپاره د دم په ذريعه سره د علاج اجازت	٦٩١
هغه دم کول جائز دي چې په هغې کې خلاف شرع الفاظ نه وي	٦٩٣	د بدنظرئ علاج د شفاء په شپږو آيتونو	٦٩٣
نظره کيدل يو حقيقت دی	٦٩٤	د بودا والي نه بغير د هر مرض علاج شته	٦٩٦

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په مریض باندې په زوره خوراک مه کوئ	٦٩٦	د سرخ باده علاج	٦٩٧
د ذات الجنب علاج	٦٩٧	سنا بهترینه دوایي ده	٦٩٨
په حرام شیانو باندې علاج مه کوئ	٦٩٩	په نکریزو باندې د درد علاج	٧٠٠
په نکریزو باندې د زخم او د دانو علاج	٧٠٠	د ښکر لګولو ذکر	٧٠١
د ښکر لګولو اهمیت	٧٠٢	د چونګښي دوا د جوړولو ممانعت	٧٠٣
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څکر لګولو بیان	٧٠٣	د څکر لګولو ورځ او تاریخ	٧٠٤
شیطان څنګه انسان په غلط منتر جنتر باندې مجبور کړي	٧٠٦	نشره د شیطان کار دی	٧٠٨
غاړه کې د ګنډو زوړند ولو مذمت	٧٠٩	غلط دمونه منع دي	٧١٠
هغه مرضونه چې د هغې لپاره دم کول ډیر غوره دي	٧١١	ښځو ته لیکل خو دل څنګه دي؟	٧١٢
د بد نظرئ یوه عجیبه واقعه	٧١٣	په معوذتینو سره د نظر بد علاج	٧١٦
د مُغَرِّبُوْنَ څه مطلب دی؟	٧١٦	د صحت او بیمارئ مرکز معده ده	٧١٧
د لړم د خوړلو علاج	٧١٩	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویخته مبارک	٧٢٠
د خریړی خواص	٧٢١	د هري میاشتي اولنئ درې ورځو کې شهد څټولو سره شفاء	٧٢٣
د شفاء دوه غټي ذریعي	٧٢٣	بغیر ضرورته خکر لګول نقصان ورکونکی دی	٧٢٤
د ښکر لګولو ورځ	٧٢٤	خکروي اؤولسم تاریخ وي او د سه شنبي ورځ وي	٧٢٥
باب الفال والطیرة	٧٢٧	بدفالی نهول منع دي	٧٢٨
یو څو بي اصله وهمونه او د هغې بطلان	٧٢٩	د یو بیمارئ متعدي کیدل بی حقیقته خبره ده	٧٣٢
ستورو او د پرۅنو هیڅ حیثیت نشته	٧٣٣	غول او شیشکي نقصان نشي ورکولی	٧٣٤

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د جذامي نه منع	۷۳۵	نیک فال نیول جائز دی	۷۳۵
مرغئ پاسول، د هغې نوم او د اواز نه فال نیول شرک دی	۷۳۵	وهم پرستئ نه د بچ کیدلو علاج توکل دی	۷۳۶
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جذامی سره ډوډئ وخوړله	۷۳۷	بد فالي هیڅ شی نه دی	۷۳۸
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بد نیک فال نیول خوښول	۷۳۹	کور کې د بي برکتئ ذکر	۷۴۰
وباء وهلي علاقې نه د تختیدلو مسئله	۷۴۱	بد فالئ نه د بچ کیدلو دعا	۷۴۲
باب الکهانة	۷۴۳	د عربو په معاشره کې د کاهنانو مختلف قسمونه ؤو	۷۴۳
کهانت او رمل ناجائز دی	۷۴۴	د کهانت بنیاد څنګه دی؟	۷۴۵
نیو ربښتیا سره سل دروغ	۷۴۶	نجومیانو ته د تلونکو څلوښت ورځي لمونځ مردود	۷۴۷
ستوري د باران سبب ګڼل کفر دی	۷۴۸	علم نجوم او سحر او جادو یو شی دی	۷۴۹
د نجومیانو تصدیق کول حرام دی	۷۴۹	کاهنانو ته د غیبو خبره څنګه رسي	۷۵۰
د شهاب ثاقب حقیقت	۷۵۲	ستوري د کوم مقصد لپاره پیدا کړی شوي دي؟	۷۵۴
نجومي ساحر دی او ساحر کافر دی	۷۵۶	کار الله کوي او نسبت یې غیر الله ته کوي	۷۵۸
کتاب الرؤیا	۷۵۹	ربښتني خوبونه مبشرات دي	۷۶۰
ربښتنی خوب د نبوت څلویښتمه برخه ده	۷۶۱	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې لیدلو تحقیق	۷۶۱
چاچې زه په خوب کې ولیدلم هغه هم زه ولیدلم	۷۶۲	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې د لیدلو فضیلت	۷۶۳
ښه او د بد خوب لیدلو وخت کې سړی څه وکړي؟	۷۶۳	د خوبونو لپاره اصولي ضابطه	۷۶۴

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د ویرونکي او مهمل خوبونو د تعبیر پوښتنه مه کوه	۷۶۶	د خوب د تعبیر یوه ضابطه	۷۶۷
د هجرت متعلق د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو خوب	۷۶۸	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو بَل خوب تعبیر	۷۶۹
عالم برزخ ته د تللو متعلق یو خوب	۷۷۱	د تعبیر لپاره خوب د دوست یا عقل مند مخې ته کیږده	۷۷۶
ورقه بن نوفل په کامیابئ سره مړ شوی دی	۷۷۷	که امکان لري نو خوب باندې په ویخه عمل وکړئ	۷۷۷
دروغ جن خوب بیانول غټ دروغ دي	۷۸۱	د سحر خوب ریښتني وي	۷۸۱
کتاب الآداب	۷۸۲	د سلام بیان	۷۸۲
د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ تخلیق او فرښتو ته سلام	۷۸۳	سلام کول بهترین عمل دی	۷۸۵
یو مسلمان باندې د بل مسلمان شپږ حقوق دي	۷۸۵	خپل مینځ کې سلام کول د محبت د زیاتېدو ذریعه ده	۷۸۶
څوک چاته سلام وکړي؟	۷۸۶	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماشومانو ته سلام کړی دی	۷۸۷
غیر مسلمو ته د سلام کولو مسئله	۷۸۷	مسلمانانو سره د یهودو عداوت و شرارت	۷۸۸
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حلم او صبر	۷۸۹	مسلم او د غیر مسلم په ګډ مجلس کې د سلام طریقه	۷۹۱
لارو او څپرونو کې کیناستل کله جائز کېږي؟	۷۹۱	اسلامي معاشره کې شپږ خپل مینځي حقوق	۷۹۳
سلام چې څومره کامل وي ثواب به هم کامل ملاوېږي	۷۹۴	ناشنا بنځو ته د سلام کولو حکم	۷۹۵
د یو سړي سلام کول یا جواب ورکول د ټول جماعت له اړخه کافي دی	۷۹۶	په سلام کولو کې د یهود و او نصارا و مشابهت مه اختیارئ	۷۹۷
هر نوي ملاقات کې سلام کول پکار دی	۷۹۸	کور ته د ننوتلو یا راوتلو وخت کې سلام کوئ	۷۹۸

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د کلام نه مخکې سلام کول پکار دی	۷۹۹	سلام کې د پخواني او وسني جاهلیت تقلید ناجائز دی	۷۹۹
غائبانه سلام او د هغې جواب	۸۰۰	خطونو کې د سلام لیکول طریقه	۸۰۱
په لیکلی شوي خط باندې خاوري شیندلو وجه	۸۰۲	د مضمون د تسلسل لپاره قلم په غوږ باندې ایښودل پکار دی	۸۰۲
د ضرورت په خاطر د غیر مسلمو ژبه زده کول جائز ده	۸۰۳	د ملاقات او د رخصت په وخت کې سلام کوئ	۸۰۴
په لاره کې د ناستي حق ادا کړئ	۸۰۴	د سلام ابتداء حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام کړي ده	۸۰۵
د سلام د ثواب کټلو لپاره بازار ته تلل	۸۰۸	سلام کې بخل کونکی بخیل دی	۸۰۹
سلام کې مخکې والی کونکی د تکبر نه پاک دی	۸۱۰	**باب الاستیذان**	۸۱۱
که دري ځله سلام باندې اجازت ملاؤ نشو نو بیرته لاړ شه	۸۱۱	د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته نزدې والی	۸۱۳
خپل تعارف په غیر مبهم الفاظو کې پکار دی	۸۱۴	قاصد سره د راتلو وخت کې د نور اجازت ضرورت نشته	۸۱۵
سلام وکړئ او اجازت وغواړئ	۸۱۶	اجازت غوښتلو سره د دروازې نه چپ ودریږئ	۸۱۷
کور کې که مور هم وي بیا هم اجازت غواړئ	۸۱۸	حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د اجازت یو صورت	۸۱۹
باب المصافحة والمعانقة	۸۲۰	مصافحه ثابت ده	۸۲۱
ماشوم ښکلول مستحب دي	۸۲۱	د مصافحې فضیلت	۸۲۲
د سلام کولو وخت کې تپه ډل منع دی	۸۲۲	د سلام یوه طریقه	۸۲۳
د سفر نه راتلونکې سره معانقه او تقبیل جائز دی	۸۲۳	معانقه جائز ده	۸۲۴

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د حضرت عکرمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راتلو باندې معانقه	۸۲۵	د يو سړي د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښکولولو عجيبه قصه	۸۲۵
د تندي ښکولول ثابت دي	۸۲۷	د جعفر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په راتګ باندې خوشحالي	۸۲۷
ښپې ښکولول څنګه دي؟	۸۲۸	د حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عمل	۸۲۹
د حضرت صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عمل	۸۳۰	اولاد د کشمالي د ګل پشان دی	۸۳۰
هديه ورکوئ محبت به ډيرېږي	۸۳۱	مصافحه کولو سره ګناهونه رژېږي	۸۳۲
باب القيام	۸۳۳	حضرت سعد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته د مجلس د خلکو پاڅيدل	۸۳۴
څوک د خپل ځاې نه پاسول او خپله هلته کيناستل جائز نه دي	۸۳۵	مجلس نه د لږ وخت لپاره پاڅيدلو باندې د ځاې حکم	۸۳۵
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ځان لپاره او درېدل نه خوښول	۸۳۶	خلک خپلې مختې ته ودرولو سخت وعيد	۸۳۶
که مجلس ته بيرته راځئ نو ځان لپاره ځنډانه کېږدئ	۸۳۸	دوه کسانو کې ننوتل او کيناستل منع دي	۸۳۸
مجلس ختميدو باندې قيام جائز دی	۸۳۹	مجلس کې راتلونکې ګس ته اهميت ورکول سنت دي	۸۴۰
باب الجلوس والنوم والمشي	۸۴۱	ګونډه ماتول باندې ناسته جائز ده	۸۴۱
جومات کې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارام کول ثابت دي	۸۴۲	ښپې باندې ښپه اړول او چيت پريوتل منع دي	۸۴۲
تکبر سره د ګرځيدونکې انجام	۸۴۳	نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالخت استعمال کړی دی	۸۴۳
ګونډه ماتول باندې د کيناستلو ذکر	۸۴۴	کله کله به نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرفصاء په صورت کې کښاستلو	۸۴۴
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دسحر د لمونځ نه وروسته تر څانبښت پورې کيناستلو	۸۴۵	د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مؤقتې استوګنې طريقه	۸۴۵

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم قبلي ته ښپي کولو سره نه دی اوده شوی	۸۴۶	نسکور پريوتل د الله تعالی په نزد مبغوض دي	۸۴۷
چار ديوارئ يا د پردي نه بغير چت باندې اوده کيدل منع دی	۸۴۸	د حلقي مينځ کې کيناستونکې والا باندې لعنت	۸۴۹
بهترين مجلس هغه دی چې په فراخه ځاې کې وي	۸۴۹	مجلس کې ييل بيل مه کينئ	۸۵۰
داسي ځاې کې مه کينئ چرته چې څه سيوری او څه لمر وي	۸۵۰	ښځو ته د لاري په غاړه باندې د تللو حکم	۸۵۱
نارينه ته د ښځو په مينځ کې تلل پکار نه دي	۸۵۲	مجلس کې چرته ځاې وينئ هلته کينئ	۸۵۳
د کيناستلو يوه ممنوعه طريقه	۸۵۳	نسکور پريوتل د جهنميانو طريقه ده	۸۵۴
باب العطاس والتثاؤب	۸۵۵	پرنچې باندې رحمان او اسويلي باندې شيطان خوشحاله کيږي	۸۵۵
د پرنچې د جواب مسنونه طريقه	۸۵۷	پرنچی کونکی که الحمد لله ونه وائي نو د جواب مستحق نه دې	۸۵۷
د زکام شوي کس د پرنچې جواب ورکول لازم نه دی	۸۵۸	چې اسويلی درشي نو خوله باندې لاس ږدئ	۸۵۸
پرنچې کولو وخت کې خله باندې لاس اينبودلو سره ورو آواز کول په کار دی	۸۵۹	پرنجی او جواب يې	۸۵۹
د يهودي پرنچې باندې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب	۸۶۰	پرنجي کولو وخت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام په السلام عليکم باندې ناراضا شو	۸۶۰
درې ځل د پرنجی جواب آخری حد دې	۸۶۲	شارع د تاکلی شوي الفاظو پابندی ضروری ده	۸۶۲
باب الضحك	۸۶۴	نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تبسم کولو	۸۶۴
جرير بن عبد الله سره د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معامله	۸۶۵	پخوانئ قصو باندې خندل جائز دي	۸۶۵
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ډير خندل	۸۶۶	صحابه کرامو به ښه ډير خندل	۸۶۶

مضمون	صفحه
باب الأسامي	۸۶۸
زه خپل رب قاسم جوړ کړی یم	۸۶۹
د غلام نوم یسار او افلح مه ږدئ	۸۷۰
قبیح ترین نوم او لقب شهنشاه دی	۸۷۲
بد نوم بدلول پکار دی	۸۷۳
انګور ته د "کرم" ویلو ممانعت	۸۷۵
ځان ته خبیث مه وایئ	۸۷۶
اجدع نوم ایښودل ښه نه دی	۸۷۷
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم او کنیت یو ځای مه ږدئ	۸۷۸
د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کنیت	۸۷۹
د زعموا لفظ د دروغو پل دی	۸۸۱
منافق ته سردار مه وایئ	۸۸۳
ښه او ریښتیا نومونه	۸۸۵

مضمون	صفحه
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کنیت باندې د خپل کنیت ایښودلو حکم	۸۶۸
عبدالله او عبدالرحمن د ټولو نه بهتر نومونه دي	۸۷۰
اوس افلح او یسار نوم ایښودل جائز دي	۸۷۱
داسې نوم مناسب نه دی چې په هغې کې ځان ښودنه وي	۸۷۲
خپل غلام او وینزې ته عبدي او امتي ویل پکار نه دي	۸۷۴
زماني ته بد مه وایئ	۸۷۵
د ابوالحکم کنیت مناسب نه دی	۸۷۶
ښه نومونه ږدئ	۸۷۸
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم او کنیت ایښودلو اجازت	۸۷۸
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیر نومونه بدل کړل	۸۸۰
شرک فعلي پشان د شرک قول نه بچ کیدل هم ضروري دي	۸۸۲
د بد نوم بد اثر وي	۸۸۴

کتاب الجهاد
د جهاد بیان

قال الله تعالی ﴿کتب علیکم القتال وهو کره لکم وعسی ان تکرهوا شیئا و هو خیر لکم﴾(بقرة ۲۱۶)

وقال الله تعالی ﴿و فضل الله المجاهدین علی القاعدین اجرا عظیما﴾(النساء)

د جهاد تعریف : ۱: عن عمرو بن عبسة رضی الله عنه قال قیل لرسول الله صلی الله علیه وسلم وما الجهاد؟ قال ان تقاتل الکفار اذا لقیتهم قیل: فایّ الجهاد افضل؟ قال من عقر جواده واهریق دمه. (کنزالعمال ۲۷/۱ وطبرانی ومسند أحمد)

ترجمه: حضرت عمرو بن عبسه رضی الله عنه فرمایي چې یو پوښتنه کونکي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل چې جهاد څه شی دی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې جهاد دا دی چې ته د مقابلې په وخت کې د کفارو سره وجنګېږي. وپوښتل شو چې د ټولو نه غوره جهاد کوم یو دی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هغه چا جهاد د ټولو نه غوره دی چې د چا اَس وُوژلی شي او بیا خپله د هغه وینه تویه شي.

۲: قال وما الجهاد؟ قال ان تقاتل الکفار اذا لقیتهم ولا تغل ولا تجبن (بیهقی فی شعب الایمان ورواه کنزالعمال ۲/۱)

ترجمه: یو صحابي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل: یارسول الله (صلی الله علیه وسلم)! جهاد څه شی دی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: جهاد دا دی چې ته د مقابلې په وخت کې د کفارو سره جنګ وکړي او په دې لاره کې خیانت ونکړي او نه ویرېږي.

۳: الجهاد بکسر الجیم اصله لغة هوا المشقة و شرعا بذل الجهد فی قتال الکفار. (فتح الباری ۴/۱)

ترجمه: جهاد کسرۀ جیم سره په لغت کې د محنت او مشقت په معنی کې دی. او په اصطلاح شریعت کې د کفارو سره په جنګ کولو کې د خپل ټول طاقت استعمالولو نوم جهاد دی.

فائده: پاس ذکر شوي د جهاد شرعي تعریفونه دي. هر تعریف کې د کفارو سره جنګ کولو ذکر دی، خو ملا علي قاري رحمه الله د مشکوة په شرح مرقاة کې تعریف داسې کړی دی. "خپل ټول طاقت کفارو سره په جنګ کې د مصرفولو نوم په شریعت کې جهاد دی". امام راغب اصفهاني رحمه الله په خپل کتاب مفردات القرآن کې د جهاد شرعي تعریف داسې کړی دی: "خپل ټول طاقت د کفارو په وهلو او شړلو کې د مصرفولو نوم جهاد دی" کتاب شرعة الاسلام په شرح کې یې د جهاد تعریف داسې کړی دی: "دشمنانِ اسلام سره د جنګ کولو نوم جهاد دی". د دې ټولو تعریفونو د نظر په اړه په هر مسلمان باندې واجب دي چې د جهاد دغه شرعي مفهوم خپل کړي، ځکه په شریعت

کې د احکامو دارومدار په شرعي اصطلاحي مفهوم باندې اینبودلی شوی دی. صحابه کرام رضی الله عنهم به همدغه په جهاد ګڼلو سره د کفارو مقابلې لپاره د اسلحو سره وتل او بیا به په میدان کې لویې لویې مقابلې کیدلې. هغوی د جهاد لغوي معنی نه کتل چې جهاد فقط د محنت او مشقت نوم دی. چې په کوم کې د کفارو سره د جنګ کولو او د تورې اوچتولو هیڅ نوبت نه رائي. شرعي احکامو کې لغوي مفهوم اخستلو سره ډیر لوی نقصان کېږي. مثلاً څوک د صلاة یو لغوي مفهوم خپلوي او وایي چې د صلوة معنی دعاء ده. زه به فقط دعا کوم، لمونځ به نه کوم یا صوم یعنې د روژې مفهوم د لږ ساعت لپاره د خوراک څښاک نه ځان ساتل دي. نو که څوک د لږ ساعت لپاره د خوراک څښاک نه ځان وساتي او بیا وایي چې بس روژه مې وشوه یا څوک زکوٰة نه ورکوي او وایي چې زکوٰة د پاکوالي نوم دی او زه به دا پاکوالی په بله طریقه حاصلوم یا د حج لغوي معنی قصد کول دي. نو که څوک وایي چې ما کور ته د تللو قصد کړی دی، جومات یا داسې نورو ځایونو ته مې د تللو قصد کړی دی. بس اوس حج وشو، نو وګورئ په لغوي مفهوم اخستلو سره څومره لوی نقصان وشو چې د شریعت د اصل حکم نه دا کس محروم شو او په لغوي مفهوم سره هیڅ تر لاسه نه شو. دغه شان جهاد ته د محنت او مشقت نوم ورکول او د کفارو سره جنګ ته نه وتلو سره خپل نقصان کېږي. وګورئ ذکر شوې ډلې لمونځ د ذکر په مفهوم سره واخستلو او اصل تعریف یې پرېښود نو د ټول دین نه محرومه شوه.

د جهاد قسمونه: ﴿و فضل الله المجاهدين على القاعدين اجرا عظيما﴾ (سورة النساء ۹۵)

ترجمه: او الله تعالی مجاهدینو ته په کور کې د ناستو (خلکو) مقابله کې لوی اجر ورکړی دی.

اول قسم فرض کفایه: مسلمانانو ته چې کله په ټول عالم کې غلبه او شوکت حاصل وي نو هغه وخت د اسلام فریضه باقي او د جاري ساتلو لپاره او اسلام مزید په نوره دنیا کې د خپرولو لپاره په دنیا کې یوه داسې ډله وي چې د کفارو سره به په جهاد کې مشغوله وي نو په داسې حالت کې جهاد فرض کفایي شي، ځکه چې یوې ډلې چې کله دا کار سنبال کړو نو د نورو مسلمانانو ذمه واري ساقطه شوه، خو په دې شرط چې دا ډله د کفارو د مقابلې لپاره پوره وي او که چرې د دنیا ټولو مسلمانانو جهاد یو شان پرېښودلو نو ټول په ټوله به ګډګار شي. صاحب د هدایه لیکلي دي: "ان ترکوا جمیعا أثم الکل" یعنې که ټولو د جهاد عمل پرېښودلو نو ټول به ګډګار شي. دغه شان عبارتونه د فقهې په نورو کتابونو کې او فتاوی کې موجود دي. د جهاد دې قسم ته جهاد اقدامي هم وایي او دا فرض کفایه وي. د دې لپاره یو څو شرطونه هم دي: ۱: مور او پلار او سرپرستو اجازت ۲: امارت شرعیه ۳: د ځینو په نزد د طاقت توازن ۴: دعوت الی الاسلام، یاد ساتئ چې د جهاد نه مخکې چې کفارو

ته کوم دعوت ورکول کېږي او په کوم باندې جهاد موقوف کېږي. د دې دعوت درې جملې دي: ۱: اسلام قبول ۲: ګڼې جزیه ورکول ۳: که نه وي نو بیا په میدان جنګ کې جنګ لپاره تیار شئ. دا دعوت د هغه کفارو لپاره ضروري دی چاچې په هیڅ ډول د اسلام نه وي اوریدلي او نه د اسلام سره واقف وي خو کومو خلکو ته چې یو ځل د اسلام دعوت رسیدلی وي یا هغوی د کومو رسنیو په ذریعه د اسلام نوم اوریدلی وي نو هغوی ته بیا په میدان جنګ کې دعوت ورکول مستحب دی. لنډه دا چې جهاد د کفارو سره کېږي نو دا دعوت به هم د کفارو سره خاص وي. د دې نور تفصیل به ان شاء الله مخکې راشي. د قرآن د ذکر شوي آیت نه علماء او فقهاء کرامو رحمهم الله د جهاد دغه قِسم استنباط کړی دی، ځکه په آیت کې د دوه ډلو ذکر دی. او دواړه مقبولې دي. یوه هغه ډله چې په کور کې ناست وي او په عبادت او په نورو نیکو کارونو کې مشغوله وي. او بله ډله هغه ده چې د جهاد لپاره د کفارو سره مقابلې کولو لپاره وتلې وي. اوس چې کور کې هغوی ته د کیناستلو اجازت ورکړی شوی دی نو د دې نه معلومه شوه چې یو قِسم د جهاد داسې هم وي چې هغې کې څه خلک وروسته پاتې کیدی شي او هغه فرض کفایي ده. اوس وتونکی مجاهد شو چې لویه درجه یې ده. او کیناستونکی مجاهد نه شو او د هغوی درجه هم کمه شوه اګر که هغه په نورو عبادتونو کې مشغول و. د دې آیت نه دوه خبرې واضحه شوې. یوه دا چې د جهاد دوه قِسمه دي، هغې کې یو قِسم فرض کفایي دی او بل فرض عین دی. دویم په خبره باندې سړی پوهه شي چې هر عبادت کونکی او د جهاد نه بغیر نور نیک کارونه کونکې ته مجاهد نشي ویلی. شیخ الهند محمود الحسن رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې داسې لیکلي دي: "د دینه معلومه شوه، جهاد فرض کفایي دی فرض عین نه دی یعنې که د مسلمانانو کافي شمیر او د ضرورت موافق ډله جهاد کوي نو جهاد نه کونکو باندې هیڅ ګناه نشته دی ګڼې ټول به ګنهګار وي". دغه شان مضمون د دې آیت په تفسیر کې د حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله نه منقول دی: **﴿ولتكن منكم امة يدعون الى الخير﴾** (ال عمران ۱۰۴)

ترجمه: یعنې پکار ده چې یوه ډله په تاسو کې نیک کار ته بلنه وکړي. د دې آیت د لاندې شاه عبدالقادر رحمه الله لیکي: معلومه شوه چې په مسلمانانو باندې فرض ده چې یوه ډله قائمه وي په جهاد او د دین خوندي (تقید) ساتلو لپاره تردې چې د دین خلاف څوک ونکړي او څوک چې په دې کار باندې قائم وي نو هم هغه کامیاب دي. او دا چې څوک د چا سره تعرض ونکړي، موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپل دین او عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپل دین باندې، دا خپله لار د مسلمانۍ نده. (موضح القرآن: ۱۰۱)

دویم قِسم فرض عین : او که چرې کفارو د مسلمانانو په یو: علاقه حمله کړې وي، خلک وهي او عزتونه او مال لوټي او مسلمانان په دفاعي حالت کې وي، نو داسې وخت کې د جهاد دا قِسم دفاعي او فرض عین شي. دا جهاد اول په نزدې خلکو فرض عین دی، که چرې هغه پوره نه وي نو ورو ورو په ټول عالم اسلام مسلمانانو باندې فرض عین شي. د جهاد دغه قِسم لپاره شرط نشته دی. بس په نفیر عام سره به ټول مسلمانانو له وتل وي. غلام له د مالک نه د اجازت اخستلو ضرورت نشته دی، نه ځوی له د پلار نه او نه ښځې له د خاوند نه د جازت اخستلو ضرورت شته دی. بس څه چې په لاس درځې او چتول او مقابلې له وتل دي. دغه وخت کې دعوت الی الاسلام هم ختم شي. علامه سرخسی او فتاوی تاتارخانیه او د فقهې په نورو کتابونو کې داسې لیکلی شوي دي. حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله په الکوکب الدری شرح ترمذي کې د علماؤ دا قول نقل کړی دی چې: **"وان هجموا علینا سقطت الدعوة"** (یعنې که چرې کفارو مونږ باندې حمله وکړه نو دعوت به ساقط شي) صاحب بحرالرائق په کتاب الجهاد کې لیکلي دي چې که چرې کفارو په مشرق کې مسلمانانې ښځې قید کړې نو تر مغرب پورې مسلمانانو باندې هغوی د کفارو د قید نه ازادول فرض عین دی. باقي د فرض عین مطلب دا دی چې د دا حکم ټولو مسلمانانو لپاره ذاتې او په شخصي توګه متوجې کېږي، نو د چا نوبت به نن راشي او د چا به وروسته راشي چې تلونکې کله بیرته راشي نو د غه شان به بله ډله لاړه شي، کله چې هغوی بیرته راشي نو بله ډله به ځي، نو نظام به هم راوان وي او د جهاد کار به هم راوان وي، لکه څنګه چې حج فرض عین دی، خو د ټولې دنیا واله په یو کال حج ته نۀ ځي بلکې موقع په موقع ځي راځي. فتح القدیر دا خبره داسې لیکلې ده: دا خبره دې هم یاده وي چې عبدالله بن مبارک رحمه الله، سعید بن المسیب رحمه الله، ابن شبرمه رحمه الله او داسې نورو فقهاؤ په نزد د جهاد هم یو قِسم دی. هغوی فرمایي چې جهاد بس فرض عین دی. فرض کفایي نه دی، خو عامه فقهاؤ دا تقسیم کړی دی. مونږ د دې تقسیم قائل یو، خو دغه وخت تقریباً په هر ځای کې مسلمانان دفاعي جهاد کوي کوم چې فرض عین دی. د نفیر عام دوه صورتونه دي. یو دا چې د وخت بادشاه یا د جهاد عام امیر عامه خلکو ته د جهاد لپاره د وتلو اعلام وکړي. دویم صورت دا چې د مظلومانو او د بې وسه مسلمانانو فریاد په یو ډول د چا غوږ ته ورسېږي. (تاتارخانیه)

د جهاد یو څو نور قِسمونه : ﴿ **و عن انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال جاهدوا المشرکین باموالکم و انفسکم والسنتکم**﴾ (مشکوة: ۳۳۲)

ترجمه: حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د مشريکنو خلاف په خپلو مالونو او ځانونو او په ژبو سره جهاد وکړئ.

جهاد بالمال: د دې مطلب دا دی چې د يو مسلمان مال په جهاد او مجاهدينو باندې مصرف شي او په هغې سره نيغ په نيغه د جهاد ميدان ته فائده ورسېږي. که يو کس يو فقير غريب ته مال ورکړي او د هغې مرسته کوي يا د خپلو خپلوانو سره مرسته کوي. دا يو نيک کار خو کيدلی شي او دې باندې ثواب هم حاصليدی شي خو په دې سره هغه ځان ته مجاهد نه شي ويلی، ځکه د دې مال بيشکه چې په يو نيک ځای کې مصرف شوی دی خو په جهاد کې نه دی مصرف شوی. که چرې هغه د خپل ځان باره کې دا سوچ کوي چې ما مالي جهاد وکړو نو دا خبره او خيال به بې ځايه وي. حديث کې د مشرکينو په خلاف "په خپلو مالونو سره جهاد وکړئ" الفاظ راغلي دي. دلته د کوم مشرک هغه خپل مال خرچ کړی دی چې د جهاد بالمال اميد لري؟ قرآن کې د جهاد بالمال ډير ترغيب راغلی دی، ځکه د مال نه بغير د جهاد عمل پاتې کېږي. او مالي جهاد هر يو کس کولی شي. همدغه وجه ده چې مال مقدم ايښودلی شوی دی.

جهاد بالنفس: د جهاد بالنفس مطلب دا دی چې سړی خپل نفس په جهاد کې استعمال کړي. د کفارو سره مقابلو لپاره دا خپل نفس وردیکه کړي او د حق او د باطل په مقابلو کې دا خپل نفس وجنګوي. "جهاد بالنفس عربي کلمه ده" او بالنفس کې د با لفظ په آله باندې داخل دی. يعنې "د نفس سره جهاد کول". دا لفظ داسې دی لکه څوک چې ؤوايي توپک سره جهاد، تورې سره جهاد، راکټ لانچر سره جهاد، توپ سره جهاد يا کلاشنکوف سره جهاد، دا چې څومره آلې د جنګ او وهلو دي. دې باندې د "با" د داخليدو نه وروسته دي مطلب پوهه کې راشي چې دا شيان د آلې په توګه استعمال کړی شوي دي. دا مطلب هرګز نه دی چې دې کس جهاد بالسيف وکړو يعنې د تورې په مقابله کې يې په توره باندې وهل شروع کړه بلکې د دې په عربي محاوره کې دا مطلب وي چې دي کس د جهاد کې په ميدان کې توره استعمال کړه او په توره يې د کفارو سره مقابله وکړه. بالکل همدغه د مطلب د جهاد بالنفس هم دی. چې دغه نفس د کفارو په مقابله کې استعمال کړی شي. دغه مطلب صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ او سلف صالحينو د دې جملې اخستی دی. حضرت عبدالله ابن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې يو حديث نقل کړی دی. چې د هغې الفاظ داسې دي:

"والمجاهد من جاهد نفسه بنفسه" يعنې مجاهده دا ده چې څوک خپل نفس سره په خپل نفس په ذريعه جهاد وکړي. يعنې نفس د جهاد په ميدان کې حاضر کړي او هغه د کفارو په مقابله کې استعمال کړي. دا د نفس په ذريعي باندې د کفارو سره مقابله هم شوه او د دې په ضمن کې د کفارو

سره مجاهده هم شوه، ځکه د نفس مجاهده په همدي عمل سره کېږي. چې د نفس د خواهش خلاف وي او دا ښکاره خبره ده چې جهاد کې جنګیدل نفس ته څومره ګرانه معلومېږي. د جهاد بالنفس متعلق خلک د یو حدیث حواله هم ورکوي. چې د هغې په رښا کې د جهاد دوه قِسمونه شي. یو وړوکی جهاد او بل لوی جهاد. د دې حدیث متعلق د بحث کتنه هم وکړئ.

دجهاد اکبر او جهاد اصغر بحث: کله چې د قومونو زوال شروع شي، نو د هغوی همتونه وغورزېږي او کله چې همتونه وغورزېږي، نو بیا د ژبې نه کمزورې جملې راوځي. زړه او مغزو کې هر هغه قسمه فلسفه کینې چې هغه یو کَس د زوال طرف ته بوځي. بیا داسې وخت کې دشمن راشي او په ارام کَینې او زوال کیدونکی قوم خپله د خپل زوال منصوبې جوړوي. کله چې د اسلام سپیڅلی دور لاړو او د اسلام تر ټولو اوچت بیرغ لاندې په راغورزیدو شو او د عزت او د عظمت او د شان و شوکت نه وروسته چې کله مسلمانان په مجموعي توګه د زوال سره مخ شول نو د هغوی په نزد داسې معذرت کونکې جملې خپلې کړی شوې چې د هغې په رښا کې خو ورته د سهولت د خوښولو ښې موقعې خو ترلاسه شوې خو د دې په ضمن کې مسلمان د کارنامو، کردار یا د تاریخ جوړولو د حیثیت نه محروم شول. همدغه د محرومۍ په زمانه کې یوه جمله جوړه کړی شوه او هغه د حدیث په شکل کې د وړاندې کولو کوشش وکړی شو، د دې لپاره چې د مسلمانانو جذبات د اسلام د دشمنانو په ځای د خپلو ځارؤو اړخ ته تاو شي او د "قهر درویش برجان درویش" پوره مصداق جوړ شي. د لاري نه د تېښتې لپاره چې کومې جملې ته د حدیث په نوم د هغې ښه خپرونه شوي شوه، هغه دا ده:

"رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر قالوا ومالجهاد الاکبر؟ قال جهاد القلب"

ترجمه: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې مونږ د وړوکې جهاد نه واپس راغلو او د لوی جهاد اړخ ته راغلو. صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وپوښتل چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! جهاد اکبر کوم یو جهاد دی؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د نفس سره جهاد (یعنې د کفارو سره جهاد کول وړوکی جهاد دی). ملا علي قاري رحمه الله د خپل کتاب په موضوعات کبیر کې د حرف الراء په ضمن کې په (صفحه ۱۲۷) باندې دا روایت د نقل کولو نه وروسته د ابن حجر عسقلانی رحمه الله په حوالې سره فرمایلي دي چې د خلکو په نزد دا حدیث په ژبو باندې ختلی دی حال دا چې دا د ابراهیم بن عبله په نوم د یو کس مقوله ده. ۱: تنظیم الاشتات شرح مشکوة جلد ۱ صفحه ۶۹ کې د دې حدیث متعلق د تعلیق الصبیح او د تفسیر بیضاوی په حواله لیکلی شوي دي چې ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي:

"هٰذَا حَدِيْثٌ لَا اَصْلَ لَهٗ" یعنې د دې حدیث هیڅ اصل نشته دی. ۲: دغه شان په فتاوی عزیزی صفحه ۱۰۲ کې شاه عبدالعزیز د پوښتنې به جواب کې فرمایلي دي چې دا کلام اکثر د صوفیاء کرامو په

کتابونو کې اکثر موندلی کېږي. او دا د هغوی په نزد حدیث نبوی دی. بلکې د ځې محدثین علماؤ هم دا عبارت ذکر کړی دی، په دې غرض بانبدې چې د دې حدیث نه ثابتېږي چې د نفس سره جهاد افضل جهاد دی، خو ماته یاد نه دي چې د حدیث په کوم کتاب کې ما دا عبارت کتلی وي. بهرحال د جهاد اکبر نه مراد دا نه دی چې د جهاد د فراغت نه وروسته راغلي بلکې د جهاد اکبر نه مراد دا دی چې چې د نفس او د شیطان سره جهاد وکړی شي. دا تفسیر د صوفیانو د خیال مطابق دی او د ډیرو علماؤ خلاف دی چې د جهاد اکبر نه مراد د جهاد د فراغت نه وروسته راتلل دي. او سلیقه کتاب داني او عبارت شناسي د دې خیال نه بالکل متنفر دی، ځکه چې مراجعت یعنې د بیرته راتلو لفظ د رجعنا نه مفهوم دی. او جهاد اصغر د ابتداء غایة (غرض) ده او جهاد اکبر د انتهاء غایة (غرض) ده. او د دواړو غایه چې د کوم شي غایه جوړېږي، د هغې نه مغائر کېږي. د دې نه معلومه شوه چې د دواړو جهاد اصغر او د جهاد اکبر مراجعت یعنې د واپسئ مغایر دی. د شاه عبدالعزیز رحمه الله دا کلام لږ شان مغلق دی، خو د دې نه دا خبره صفا واضحه کېږي چې د شاه عبد العزیز رحمه الله په نزد دا کلام د صوفیاؤ کلام کیدی شي خو حدیث نه دی. دغه شان علماؤ هم دا کلام د د جهاد اصغر نه بیرته د جهاد اکبر اړخ ته د بیرته راتللو په معنی نه دی اخستی. دغه شان په عبارتونو باندې د پوهیدو طریقه هم دا نه ده او د کتاب پوهیدو طریقه هم دا نه ده. مخکې بیا شاه عبدالعزیز په عبارت باندې اعتراض کړی دی، نو ظاهره دا چې دا حدیث نشي کیدی.

۳: د مشارع الاشواق الی مصارع العشاق په مقدمه کې (صفحه ۳۰) باندې لیکلی شوي دي چې کله د اسلام دشمنانو ولیدل چې د مسلمانانو سره د اسلام د دفاع لپاره او د اعلاء کلمة الله لپاره جهاد یو عظیم بنیادي طاقت دی او ترڅو پورې چې جهاد قائم وي نو د اسلام د دشمنانو پښې کلکې نشي پاتې کیدی، ځکه د جهاد په برکت او د الله په مرستې سره مسلمانانو په د نیمې صدئ نه کم وخت کې نیمه دنیا فتح کړه. د تاریخ په پاڼو باندې چې کله کفارو دا ولیدلو نو هغوی د جهاد ماتولو او د هغې د کمزوري کولو لپاره ډیر کلونه ګونډې ماتې کړې او غور او فکر یې وکړو تردې چې هغوی د دې مشکل حل وموندلو او هغه دا چې مسلمانان دي په زیب او زینت کې اچولو سره د جهاد نه لرې کړی شي، نو بیا د دې لپاره کفارو یوه مهذبه طریقه اختیار کړه او هغه دا چې هغوی د جهاد د اصغر او د اکبر تقسیم وکړو چې د نفس سره جهاد لوي جهاد دی. او د کفارو سره جهاد لوی جهاد دی. بیا د دې مقصد ترلاسه کولو لپاره د اسلام دشمنانو حدیثونه جوړ کړل او د هغې نسبت یې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکړو، ځکه هغوی په پوهیدل چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اړخ ته په نسبت کولو سره به مسلمانان دا ژر قبول کړي، نو هغوی د "رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد

الاکبر" حدیث جوړ کړو. چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ښکاره دروغ دي. او د حدیث په کتابونو کې مطلقاً داحدیث موجود نه دی. ابراهیم بن عبله رحمه الله اګر که ثقه سړی دی. مګر دار قطنی ویلي دي چې د هغې اړخ ته هم د عبارت نسبت واضح نه دی. بیا د دې ځانه جوړ کړی شوي حدیث اثر کمزورو مسلمانانو باندې داسې وشو چې کله هغوی ولیدل چې د نفس او شیطان مقابله لوی جهاد نو هغوی د کفارو سره د جهاد کولو نه منع شول او په محدودیت کیدلو سره په تسبیح او ذکر و فکر کې مشغول شول او د نیا یې کفارو ته خالي پرېښودله، نو کفار غالب شول او مسلمان غلام پاتې شو. ۴: خطیب بغدادی وغیره د دې عبارت نه لږ شان مختلف یو بل حدیث ذکر کړی دی. چې ترجمه یې دا ده چې حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یوې غزوې نه بیرته راغلو، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته وفرمایل ښه راغلئ ښه راغلئ، تاسو د وړوکي جهاد نه لوی جهاد ته راغلئ. صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وپوښتل چې لوی جهاد کوم یو دی نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې: د بنده د خپل خواهشاتو خلاف مجاهده کول لوی جهاد دی. دي حدیث باندې هم محدثینو جرح کړې ده. دي کې یو راوي "خلف بن محمد خیام" دی. حاکم□ فرمایي چې د دې حدیثونه د اعتبار قابل نه دي. او ابو یعلی خلیلي رحمه الله فرمایي چې دا ډیر ضعیف ؤو. هغه به ډیر اشتباه کیدلو او کله به یې داسې حدیثونه نقل کول چې د هغې به هیچاته پته نه وه. ابوزرعه رحمه الله هم د دې روایت کړی شوي حدیثونو نه بېزاري اعلان کړی وه، دې روایت کې یو راوي یحیی بن علاء دی. د هغې متعلق امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایلي دي چې دا لوی دروغژن سړی ؤ. چې د ځانه به یې حدیثونه جوړول. ابن عدي رحمه الله به فرمایل چې د دې سړي ټول حدیثونه د ځان جوړ کړی شوي دي. شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: ځینې خلک چې داحدیث نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه تبوک نه بیرته راتلو وخت کې وفرمایل چې:

﴿رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر فلا اصل له﴾

ترجمه: یعني مونږ د وړکې جهاد نه لوی جهاد ته راغلو. د دې حدیث هیڅ بنیاد نشته دی. (مقدمه مشارع الاشواق ص ۳۱)

جهاد مع النفس او د جهاد الکفار متعلق د ترمذی شریف د یو حدیث په شرح کې حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله د کوکب الدري ج۱ ص ۴۲۵ باندې داسې لیکلي دي:

﴿ولا یخفی ما بین الجهادین من الالتئام والاتصال فان مجاهدة الکفار لا تخلوا عن مجاهدة النفس ولا تتصور دونها و مجاهدة النفس اذا کملت لا تکاد تترک الرجل لا یجاهد الکفار بلسانه او بسنانه﴾

ترجمه: او دا خبره پته نه ده چې د جهاد مع النفس او د جهاد الکفار دواړو په خپل مینځ کې یو جوړ او اتصال دی، ځکه د کفارو سره په جنګ کولو کې د نفس مجاهده کېږي. د نفس د مجاهدې نه بغیر کفارو سره د جنګ کولو خیال امکان نه لري، او پاتې شوه د نفس مجاهده، نو دا د نفس مجاهده چې کله پوره شي نو دا سړی د کافرو سره د جنګولو نه بغیر نه پریږدي، که هغه په ژبه وي او که په توره یا په غشي سره وي.

۵: د دې تفصیلاتو نه وروسته د دې بحث په ابتدائی آیت: ﴿**وفضل الله المجاهدين على القاعدين اجرا عظيما**﴾(النساء :۲۶) اړخ ته ځو چې د دې آیت اولني مخاطبین صحابه کرام رضی الله عنهم دي. هغوی کې یوه ډله د دې آیت د نازلیدلو په وخت کې هغه وه چې هغه جهاد ته وتلې وه. او یوه ډله هغه وه چې جهاد ته نه وه تلې، ځکه د فرض کفایه په صورت کې هغوی ته د تللو اجازت نه ؤو. البته کومه ډله چې جهاد ته تلې وه، نو هغویالله تعالی په دوه امتیازاتو سره ممتاز کړل. یوه دا چې د ناستو او د نه تلو والې مقابله کې د تلونکو درجه اوچته ده او هغوی ته به لوی اجر ورکړی کېږي. دویم دا چې تلونکې مجاهدین دي او هغه وخت جهاد ته نه تلونکې قاعدین (یعنې ناست خلک) مجاهدین نه دي. وس غور کول پکار دي چې کوم صحابه کرام رضی الله عنهم په مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم کې باتې شوي ؤو. هغه ټول لمونځ کؤونکي، تجهد کونکیاو روژه نیونکې ؤو. نفلي عبادتونو، صدقاتو او د نفس په ریاضتونو کې ډیر زیات مشغول ؤو، خو د دې ټولو محنتونو او د نفس د مجاهدې باوجود هماالله تعالی هغوی ته مجاهدین ونه فرمایل، بلکې مجاهدین همغه شول کوم چې د کفارو سره د جنګ کولو لپاره وتلي ؤو. که چرې د نفس سره مجاهده کونکی مجاهد شي نو بیا د ﴿**وفضل الله المجاهدين على القاعدين اجرا عظيما**﴾(نساء ۲۶) څه مطلب اخستل کیدی شي؟ نو بیا په په ایت باندې پوهیدل ګران شي. دغه شان دا خبره هم یاده وساتئ چې سلف صالحینو چې د جهاد باره کوم څومره کتابونه لیکلي دي. ټول یې د جهاد مع الکفار په حواله لیکلي دي. د نفس د ریاضت باره کې چې کوم کتابونه لیکلي شوي دي. د هغې نوم هغوی کتاب الزهد ایښی دی. تر ننه پورې یو کتاب هم داسې نشته دی چې هغه چا د کتاب الجهاد یا د فضائل الجهاد په نوم سره نومولی وي. او په هغې کې یې د نفس سره د جهاد مباحثې لیکلې وي. البته د نفس د ریاضت لپاره چې کوم کتابونه لیکلی شوي دي. هغه د زهد او تقوی په نوم باندې نومولی شوي دي. پخپله د حضرت عبدالله ابن مبارک رحمه الله یو کتاب دی. کتاب الجهاد او بل کتاب الزهد دی. د دواړو مباحثې او مضمونونه جدا جدا دي، نومونه یې هم جدا جدا دي. لهذا جهاد الکفار جدا شی دی او ریاضة الجهاد جدا شی دی. بیا دا سوچ وکړی چې تقریباً پنځوس زره (۵۰۰۰۰) صحابه کرام رضی الله عنهم په میدان جنګ کې شهیدان شوي دي، نورو ټول صحابؤ په جهاد کې برخه اختسې وه، نو آیا د هغوی ژوند په داسې کار کې مصرف شوی ؤو چې په شریعت کې د اصغر او کمې درجې والا ؤو. حاشا وکلا.

جهاد باللسان : د جهاد د قسمونو په ابتداء کې چې کوم حدیث لیکلی شوی دی. هغې کې دریم قسم جهاد باللسان دی. اسلام کې د جهاد باللسان هم ډیر اهمیت دی. او نبي کریم ﷺ حکم کړی دی چې د مشرکینو سره د ژبې په ذریعې سره جهاد وکړئ. د حدیث شارحینو د جهاد باللسان وضاحت داسې کړی دی. چې د ژبې په تقریرونو او لیکنو سره خلکو کې د جهاد جذبه راپیدا کړی شي. د جهاد فضائل او مسائل بیان کړی شي. د جهاد نظمونه وویلی شي. وس که یو کس په عام فضیلت باندې یو ساعت تقریر وکړي او هغه بیا وایي چې ما جهاد باللسان وکړو نو دا به غلطه وي. جهاد باللسان هر هغه خبرې دي چې په هغې باندې میدان جهاد او د مجاهدینو او جهاد ته فائده رسېږی. دا تقریر چې د عامه متعلق دی، بیشکه د ثواب کار دی خو جهاد باللسان نه دی، ځکه په دې باندې جهاد یا مجاهد ته فائده نه رسېږي، نو د دې حدیث په شرح کې مفتي محمد شفیع رحمه الله په خپله رسالة جهاد (ص ۴۵) باندې فرمایي چې د مال جهاد دا دی چې مال د جهاد په کارونو کې خرچ کړی شي. او د ژبې جهاد دا دی چې خلک د جهاد په ترغیب په ترغیب باندې اماده کړی شي. او د جهاد احکامات ورته وویل شي او دا هم چې په خپلو خبرو او تقریر سره دشمن وډار کړي. داسې نظمونه چې په هغې سره د مسلمانانو د جهاد جذبه قوي وي یا چې په کومو سره د دشمن تذلیل وشي، هغه هم په دې جهاد کې شامل دي. لکه څنګه چې حضرت حسان رضی الله عنه په صحابۀ کې شاعر دی. د هغه نظمونه چې د مشرکانو په مقابله کې ویلی شوي دي هغې ته جهاد ویلی شوی دی. (رساله جهاد : ۴۵)

د ظالم بادشاه مخې ته حق کلمه ویل :یو حدیث کې راغلي دي: ﴿**افضل الجهاد من قال کلمة حق عند سلطان جائر**﴾

ترجمه: یعنې د ظالم بادشاه مخې ته د حق کلمه ویل د ټولو نه افضل ترین جهاد دی. دې حدیث سره دا شک مه کوئ چې دلته خو جهاد نشته دی. بیا د ژبې کلمې ته افضل جهاد څنګه وویلی شو؟ نو د دې تشریح حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله د کوکب الدری په شرح الترمذی صفحه ۴۷ جلد ۲ کې داسې کړې ده. "دا چې مجاهد د دوه خبرو په مینځ وي یا خو به جهاد کوي کفار به وژني او مالِ غنمت به حاصلوي او یا به شهید شي او په وینو کې به رنګ شي، خو هغه کس چې د ظالم بادشاه مخې ته د حق کلمه اوچتوي، نو د هغې په حق کې خو دا یقین دی چې وژلی کېږي به (د بچ کیدو امید نشته) ځکه هغه افضل شو. د دی کلام خلاصه دا شوه غازي کله په میدان کې د کفارو سره جنګېږي نو د ژوند او د مرګ د دواړو احتمال دی، خو دا سړی چې د ظالم بادشاه مخې ته یې د حق اواز اوچت کړو، د دې مرګ یقیني دی. لهذا دا هم جهاد بلکې افضل جهاد شو"

د اسلام دعوت : د امت دوه قسمونه دي. یو هغه قسم دی چې هغوی اسلام قبول کړی دی او اسلامي احکامات منې او چې څومره کیدی شي نو عمل پرې کوي. د امت دې برخې ته په اصطلاح شرع کې

"امت جابت" ویلی کېږي. دویم قِسم هغه دی چې هغوی اسلام نه دی قبول کړی بلکې په خپل کفر باندې کلک ولاړ دي. د امت دي برخې ته په اصطلاح شرع کې "امت دعوت" ته وایي. د جهاد نه مخکې چې اسلام کوم دعوت ضروري ټاکلی دی. هغه دعوت یوائې د امت دعوت لپاره دی، ځکه دا په امت اجابت کې بیخي چلیدلی نشي. د دې دعوت درې جملې دي. ۱: اسلام قبول کړه ۲: که اسلام نه قبلوي نو جزیه ادا کړه ۳: که دا هم منظور نه وي نو بیا د جنګ لپاره تیار شه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله مجاهدین لیږل نو هغوی ته به یې د دې وصیت کولو. د مسلم شریف په یو اوږد حدیث کې دا درې شیان په ترتیب سره ذکر شوي دي. زه د هغه حدیث هغه درې واړه جملې د حدیث نه مختصر کومه او ناظریونو ته یې هدیه کوم. کتنه یې وکړی.

۱: قال علیه السلام فی ضمن حدیث طویل: واذا القیت عدوك من المشرکین فادعهم الی الاسلام فان هم ابوا فسلهم الجزیة فان هم ابوا فاستعن بالله وقاتلهم (مشکوة صفحه ۳۴۱)

ترجمه: نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو اوږد حدیث په ضمن کې (د مجاهدینو امیر ته) داسې وصیت کړی دی: کله چې تاسو د خپلو مشرکانو دشمنانو سره ملاو شئ نو هغوی ته د اسلام دعوت ورکړئ. که هغوی قبول کړو نو بیا د هغوی سره د جنګ نه ځان وساتئ. که هغوی د اسلام د قبولو نه انکار وکړو، نو د هغوی نه د جزیې ورکولو مطالبه وکړئ. که هغوی جزیه قبوله کړه نو هغوی سره د جنګ کولو نه ځان وساتئ. پس که چرې هغوی د جزیې ورکولو نه هم انکار وکړو نو بیا د الله تعالی نه مرسته وغواړئ او د کفارو سره وجنګېږی.

۲: و عن اب وائل قال کتب خالدبن الولید الی اهل فارس بسم الله الرحمن الرحیم من خالد بن الولید الی رستم و مهران فی ملاءِ فارس سلام علی من اتبع الهدی اما بعد: فانا ندعو کم الی الاسلام فان ابیتم فأعطوا الجزیة عن ید و انتم صاغرون فان معی قوما یحبون القتل فی سبیل الله کما یحب فارس الخمر والسلام علی من اتبع الهدی. (مشکوة صفحه ۳۴۲)

ترجمه: د ابۍ وائل نه روایت دی چې حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اهل فارس ته د بسم الله الرحمن الرحیم نه وروسته داسې ولیکل: مونږ تاسو ته د اسلام دعوت درکوؤ. چې اسلام قبول کړئ، که چرې تاسو انکار وکړو نو بیا تاسو د ذلت سره جزیه ادا کړئ (که دا هم نه وي) نو بیا جنګ ته تیار شئ. بیشکه ما سره داسې خلک دي چې د خدای په لاره کې مرګ داسې خوښوي لکه څنګه چې تاسو د فارس والا شراب خوښوئ. او څوک چې اسلام قبول کړي نو هغوی لره دې سلامتي وي.

د اسلام د دعوت د فقهاؤ په نظر کې: د جهاد نه مخکې چې کوم دعوت واجب وي او په کوم باندې چې جهاد موقوف وي، نو د هغه دعوت متعلق فقهاء کرام رحمهم الله جدا جدا تفصیل وړاندې کړی دی.

چې د رحمة الامة فی اختلاف الائمة په نوم یو معتمد کتاب داسې بیان کړی دی. (د عربي عبارتونو د ترجمې کتنه وکړئ)

د امام مالک رحمه الله قول: د فقهاء کرامو رحمهم الله په نزد د دعوت مسئلی په تعبیراتو کې اختلاف دی. هغه داسې چې امام مالک رحمه الله فرمایي چې د کومو کفارو کورونو زمونږ سره نژدې وي نو هغوی ته د اسلام د دعوت ورکولو ضرورت نشته دی، ځکه د ګاونډي توپ په وجه هغوی دعوت الی الاسلام پیښوني (منې یې نه) نو ځکه هغوی سره جنګ کېږي. او د هغوی د غفلت انتظار نه کېږي. او د کومو کورونه چې زمونږ نه لرې وي نو هغوی ته دعوت ورکول ضروري دی چې شک او شبهه لرې شي. (رحمة الامة صفحه ۲۹۳)

د امام شافعي رحمه الله قول: امام شافعي رحمه الله وفرمایل چې نن سبا زه هیڅ یو داسې مشرک نه وینم چې هغې ته په یو نه یو طریقه د اسلام دعوت نه وي رسیدلی، خو امکان لري چې د مملکت ترکیه شاته څه مشرک قومونه وي یا د خزر (چیچنیا) شاته داسې خلک وي چې هغوی ته دعوت نه وي رسیدلی، نو که د هغه خلکو سره جنګ کول کېږي نو د اسلام د دعوت نه مخکې جنګ کول پکار نه دی. (صفحه ۲۹۳)

دامام ابوحنیفه رحمه الله قول: امام ابوحنیفه رحمه الله وفرمایل چې که چرې هغه کفارو ته د اسلام دعوت نه وي رسیدلی، نو امیرالحرب لپاره د هغوی سره جنګ کول مناسب نه دی. او که چرې هغوی ته د اسلام دعوت رسیدلی وي نو بیا د امیر الحرب لپاره مستحب ده چې د جنګ نه مخکې هغوی ته د اسلام دعوت ورکړي ګیني د جزیې د ادا کولو دي ورته ؤوایي، خو که د واجب دعوت نه مخکې مخکې چا یو کافر مړ کړو نو دیت او قصاص به نه وي. (صفحه ۲۹۳) په محیط کې لیکلی شوي دي چې دعوت رسیدل په دوه قسمه باندې دي. حقیقةً یا حکماً او حکماً داسې وي چې په مشرق او مغرب کې عام شي چې دا مسلمانان د څه شي ارخ ته بلنه کوي او په کوم شي باندې جنګ کوي. دا ظاهري شهرت د حقیقت قائم مقام ګڼل کیدی شي. (فتح القدیر جلد ۵ ص ۱۹۶)

دمولانا رشیداحمد ګنګوهی رحمه الله قول: که چرې کفارو ته دعوت نه وي رسیدلی نو د جنګ نه مخکې دعوت واجب دی. او که دعوت په څه ذریعې سره ور رسیدلی وي نو بیا دعوت د مسنون او مستحب په درجه کې دی، خو که چرې کفارو په مونږ باندې حمله کړي وي نو بیا به دعوت ساقط کېږي. (الکوکب الدری شرح ترمذی صفحه ۴۱۲)

دصاحب ترمذی قول: امام ترمذی رحمه الله د حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه د دعوت الی اسلام والا روایت نقل کوي او وایی چې د ځینو صحابؤ رضی الله عنهم دا رائی وه چې د دعوت نه مخکې دي د کفارو سره جنګ ونه کړی شي. د جنګ نه مخکې دي دعوت ورکړی شي، ځکه دي سره به دشمن په رعب

کې شي، خو د ځینو علماؤ خیال دی چې نن سبا کفارو ته د دعوت هیڅ ضرورت نشته دی. امام احمد بن حنبل وایي چې زه نه پوهیږم چې نن سبا چاته دعوت ضروري وي. (ترمذی کتاب الجهاد)

دصاحب درمختار قول : د فقه په نورو کتابونو او په خاصه توګه درمختار کې د دعوت مسئله داسې لکیلې ده. چې کله چرې مونږ کفار محاصره کړه نو اول به هغوی مونږ اسلام ته رابلو که چرې هغوی اسلام قبول کړي نو ډیره ښه دا ګینې بیا به ترینه د جزې مطالبه کوؤ. که چرې هغوی جزیه قبوله کړه نو بیا به هغوی او مونږ د اسلام د قانون او د انصاف د قانون مخې ته یو شان یو او کومو کفارو ته چې د اسلام دعوت نه وي رسیدلی، نو هغوی سره د دعوت نه مخکې جنګ جائز نه دی، خو کومو کفارو ته چې دعوت رسیدلی وي نو بیا هغوی ته دعوت ورکول مستحب دی، خو که په دې دعوت کې د جنګې حکم د عمل د لاندې مونږ ته د نقصان د رسیدلو خطر وي نو بیا به دعوت نه ورکولی کېږي. که چرې کفارو ته جزې د ادا کولو نه هم انکار وکړو نو بیا د الله تعالی نوم په اخستلو سره د هغوی سره جنګ کوؤ. منجنیق (راکټ لانچر، درنه توپ خانه) باندې به هغوی باندې انداغ کېږي، اور باندې هغوی سوځوو یا به یې په اوبو کې ډوبوؤ او د ضرورت په مناسبت سره د هغوی باغونه او پټې هم تباه کوؤ.

دصاحبؒ هدایه رحمه الله قول : "ولا یجوز ان یقاتل من لم تبلغه الدعوة الی اسلام الا ان یدعوه لقوله علیه السلام فی وصیة امراءِ الاجناد: فادعهم الی شهادة ان لا اله الا الله ویستحب ان یدعوا من بلغته الدعوة مبالغة فی الانذار ولا یجب ذالك لانه صح ان النبي صلی الله علیه وسلم اغار علی بنی المصطلق وهم وعهد الی اسامة رضی الله عنه ان یغیر علی "ابنیٰ" صباحا ثم یحرق والغارة لا یکون بدعوة". (هدایه ج ۱ ص ۵۶۰)

ترجمه: صاحب هدایه فرمایي چې کوم کس ته د اسلام دعوت نه وي رسیدلی. د دعوت نه مخکې د هغوی جنګ کول جائز نه دي، ځکه نبي کریم ﷺ به خپل پوځي قومندانانو ته دا وصیت کولو چې "دي کفارو ته اول د کلمۀ شهادت دعوت ورکوئ" او که چرې هغوی ته دعوت رسیدلی وي نو بیا دعوت ورکول مستحب دی. چې په دعوت کې ښه مبالغه وشي خو دا دعوت به واجب نه وي، ځکه د نبي کریم ﷺ صحیح حدیث دی چې نبي کریم ﷺ په مصطلق باندې داسې ناڅاپه یرغل کړی ؤو چې هغه خلک بیخي ناخبره ؤو. او دغه شان نبي کریم ﷺ حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ته حکم کړی ؤ چې سحر وختي د "اُبنٰی" علاقې په خلکو باندې چاپه ماره کاروائی وکړه او بیا په علاقه کې اور ولګوه. (بنکاره خبره ده) چې یرغل کولو سره د قتل و قتال د کاروائي سره دعوت نشي کیدلی.

فائده: د صاحب هدایه پاس ذکر شوي عبارتونو پشان قدری کې هم او په کنزالدقائق کې هم داسې

مسئله بیان شوي ده او په شرح و قایه کې هم داسې ذکر شوي ده. دغه شان د فقه په نورو وړو وړو کتابونو کې هم دا مسئله موجود ده. لهذا مجاهدینو باندې لازمه ده چې هغوی د جهاد نه مخکې دا دعوت ورکوي، خو که چرې مجاهدین دفاعي جنګ کوي نو بیا به دا دعوت ساقطېږي او چرته چې دعوت رسیدلی وي هلته هم دا دعوت فقط مستحب دی. که حالات موافق وي نو په دې مستحب باندې دې عمل وکړی شي ګنې مستحب پرېښودل هیڅ ګناه نه ده.

ددعوت فائدې: فقهاء کرامو رحمه الله د دعوت یو د یو څو فایدو ذکر هم کړی دی. اولنۍ فائده دا ده که چرې کفارو خبره ومنله او اسلام یې قبول کړو نو مقصد به حاصل شي او مسلمانان به د جنګ د مشکلاتو نه بچ شي. دویمه فائده دا ده چې دعوت ورکولو سره به کفارو ته معلومه شي چې مسلمانان فقط د وطن نیولو یا د مالونو جمع کولو او د ښځو او ماشومانو د قید کولو لپاره جنګ نه کوي بلکې دا خلک د اسلام او د دې د نظام لپاره جنګ کوي. دریمه فائده دا ده چې کله کفار د اسلام دعوت ونه مني نو بیا به حقیقت کې د هغوی مقابله د الله تعالی سره شروع شي او کوم خلک چې د الله په مقابله کې راځي، خامخا به ماتې خوري. او څلورمه فائده دا ده چې د اسلام یو حکم او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طریقه به ژوندۍ شي. د مشکوة شریف د کتاب الجهاد په اولنو بحثونو کې دا د یو څو صفحو بحث ما د خپل تالیف د "دعوتِ جهاد" نه نقل کړو او دلته مې لیکلي دي چې د جهاد په مقصد مفهوم باندې ښه رڼا راشي. اوس د حدیثونو په رڼا کې د جهاد د موضوع متعلق حدیثونه ولولئ او مخکې لاړ شئ.

نوټ: الحمد لله د توضیحات جلد شپږم د مسودې د تحریر آغاز په ۲۹ ربیع الاول ۱۴۲۶□. مطابق ۷ جون ۲۰۰۵ء کې د افریقې زابیا د سفر په دوران کې د لوسا په ښار کې د مفتي محمد ایوب بوبات صاحب په کور کې د قیام په موقع باندې وشو. (فضل محمد)

الفصل الاول

جهاد افضل ترین عمل دی

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ آمَنَ بِاللهِ
حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کوم کس چې په الله او د هغې د
وَرَسُولِهِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ
رسول په ذریعه دنیا کې د لیږلی (یعني شریع) باندې ایمان راوړو او لمونځ یې قائم کړو او د رمضان روژې یې ونیولې

حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ
نو الله تعالى باندې نو د خپلې مهربانئ او كرم او رحم په سبب) واجب دي چې هغه كس جنت ته داخل كړي اګر كه د
جَاهَدَ فِي سهل اللهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا.
الله په لاره كې جهاد وكړي او اګر كه په خپل كور كې چرته چې پيدا شوى دى ناست وي. دي اوريدلو سره صحابو رضي الله عنهم
قَالُوا: أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ
عرض وكړو چې "آيا مونږ خلكو ته خبر وانورؤو؟" نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې په جنت كې
مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ
سل درجې دي چې الله د دغه خلكو لپاره تيار كړي دي كوم چې د خداى په لاره كې جهاد كوي او د
مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ
هغوى د دوه درجو مينځنئ فاصله دومره دومره ده لكه څومره چې د زمكې او د اسمان په مينځ كې ده.
فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ
لهذا كله چې تاسو د الله (جهاد باندې لويه درجه) غواړئ نو د فردوس غواړئ ځكه هغه (فردوس)
أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ
اوسط درجه ده (يعنې د جنت په ټولو درجو كې د ټولو نه بهتره او افضله ده) او د ټولو نه اوچت جنت دى او د
وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ وَمِنْهُ تُفَجَّرُ
هغې پاسه د خداى عرش دى. (ګويا كې هغه د عرض الهي په سيوري كې دى. او د هلته نه د جنت نهرونه
أَنْهَارُ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
بهيږي. (كوم څيزونه چې د جنت د نهرونو اصل دى لكه اوبه) شراب او شهد. هغه د جنت الفردوس نه جاري كيږي.

توضيح: وصام رمضان: دي حديث كې د صلوة ذكر شوى دى. زكوة او د حج وغيره ذكر نه دى شوى. دا د دې دواړو عبادتونو د اهميت اړخ ته اشاره ده. (مرقات: ۳۵۰/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۷۸ أخرجه البخاري في الصحيحه ۱۱/۶ رقم الحديث ۲۷۹۰ وأحمد في المسند ۳۳۵/۲

اوجلس في بيته: کور کې د کيناستلو او جهاد ته د نه تللو اختيار هغه وخت کې وي کله چې جهاد د فرض کفايه په درجه کې وي. که جهاد د فرض په درجه کې شي يا د امير المؤمنين له اړخ نه د نفير عام يعنې د وتلو عمومي اعلان وشي نو هغه وخت به جهاد ته وتل پکار وي. بهرحال جنت ته د دخول نه دلته دخول اوّلي مراد دی. (مرقات ۳۵۱/۷)

قالوا: صحابؤ کې دا پوښتنه حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کړې وه. هغې چې واورېدل چې د جهاد نه بغير هم جنت ته تلل ممکن دي نو هغې د دې خوشخبرۍ د عام کولو خواست وکړو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې خلک پرېږده چې د جهاد په عمل کې مصروف وي ځکه د جنت عاليشان درجې په جهاد باندې حاصليږي. (مرقات : ۳۵۱/۷)

په حديث د ترمذي کې داسې الفاظ دي: **"قال عليه السلام ذرالناس يعملونه فان فى الجنة مأة درجه" الخ.**

اوسط: دا لفظ د افضل او سع او د ډير ښه لپاره استعمال شوی کړی شوی دی.

عرش الرحمن: د جنت فردوس چت د عرش فرش دی. (مرقات ۳۵۱/۷)

ايمان نه وروسته جهاد افضل عمل دی

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ
او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي "د الله تعالى په لاره کې جهاد کونکی داسې دی لکه د روژې
الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلَا صَلَاةٍ
نيونکي لمونځ او عبادت کونکي چې په روژه نيولو اولمونځ کولو (يعنې عبادتونو) کله هم نه ستړی کيږي.
حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
تر دې چې د الله په لاره کې جهاد کونکی بيرته کور ته راشي".

توضيح: مثل المجاهد: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا حديث د يو صحابي په جواب کې فرمايلی دی. هغه د مجاهد في سبيل الله د درجاتو باره کې معلومولو خواست کړی ؤو. يو حديث کې راغلي دي چې يوې ښځې هم خواست کړی ؤو چې زما خاوند جهاد ته تلی دی. او زه داسې عمل وکړم چې د هغې د درجو سره برابره شم، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دا امکان نه لري، خو يو کس داسې کولی

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۸۸ اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶ رقم الحديث ۲۷۸۷ ومسلم في ۱۴۹۸ رقم الحديث (۱۱-۱۸۷۸)

شي چې ټوله لمونځونه وکړي او ټوله ورځ روژه ونیسي او د هغې لږ ساعت هم د عبادت نه بغیر تیر نشي. هغه د مجاهد مرتبه موندلی شي، ځکه د مجاهد ټول ساعت په عبادت کې شمارل کېږي او داسې هیڅ عمل نشي کیدی. لهذا د مجاهد هیڅ څوک نه شي موندلی. دا تعلیق بالمحال دی. د دې حدیث نه معلومه شوه چې جهاد د ټول عملونو نه افضل دی، لکه د مشکوة په حدیث کې دي چې یو صحابي د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل: **﴿ای العمل افضل؟ قال ایمان بالله ورسوله قیل ثمه ماذا؟ قال الجهاد فی سبیل الله قیل ثم ماذا؟ قال حج مبرور﴾** (کتاب الحج ص ۲۲۳)
بخاري شریف کې یو حدیث دی.

"جاء رجل الی النبي صلی الله علیه وسلم فقال دلنی علی عمل یعدل الجهاد قال لا اجد"
ابن همام رحمه الله په فتح القدیر کې دي باندې اوږد کلام کړی دی. چې آیا جهاد افضل دی یا لمونځ افضل دی. د دواړو په افضلیت باندې حدیثونه موجود دي. ځینو علماؤ جهاد د ایمان نه وروسه غوره کړي دی، خو اکثرو علماؤ لمونځ د جهاد نه افضل ګڼلی دی. علامه ابن همام داسې تطبیق کړی دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مختلف پوښتنه کونکو په جواب کې د هغوی د احوالو مطابق جواب ورکړی دی. چا سره چې جهاد مناسب ؤو، هغې له یې جهاد افضل وګڼلو، د نورو لپاره یې لمونځ وګڼلو. ځینې علماؤ داسې بهتر تطبیق کړی دی چې کله جهاد فرض عین وي نو دا د ټولو عملونو مطلقاً افضل دی، خو کله چې جهاد فرض کفایي وي نو لمونځ مطقاً افضل دی.

د علامه ابن همام په عبارت کې یو نااشنا حدیث هم ذکر دی. فرمایي: **واما قوله علیه السلام "الجهاد ماض الی یوم القیامة" فدلیل علی وجوبه ونه لا ینسخ.** (مرقات ص ۳۴۹، ج ۷)

لایفتر: ای لا یسئام ولا یمل من العبادة: نه په عبادت سړی شي، نه تنګ شي. دا صیغه د باب نصر نه ده.

مجاهد په هر حال کې کامیاب دی

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: انْتَدَبَ اللهُ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې (الله تعالی فرمایې چې)
لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ
کوم کس چې د الله په لاره کې ؤوتلو الله تعالی د هغې ضامن شو، د هغې (د جهاد لباره) ما باندې د
إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي أَنْ أُرْجِعَهُ
هغې ایمان او د رسولانو د تصدیق نه بغیر بل چا نه دی راویستلی، نو زه زه هغې ته (یا خو به بغیر د غنیمت نه

بِمَا	نَالَ	مِنْ	أَجْرٍ	وَغَنِيمَةٍ
صرف) د آخرت د اجر و ثواب سره يا د مالِ غنيمت سره بيرته راولم او يا (كه شهيد شو نو) زه به هغه				
أَوْ	أُدْخِلَهُ	الْجَنَّةَ	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]	
(بغير د حساب و كتاب نه) د ټولو نه اول د جنت ته تلونكو سره جنت كې داخل كړم				

توضيح: انتدب: د دې لفظ آسانه ترجمه تكفل او تضمن دى. چې د كفالت او د ضمانت په معنى كې ده.

من اجر او غنيمة: يعنې يا خو به صرف ثواب وګټې مال غنيمت به نه وي يا به صرف غنميت راوړي. د دې طرز بيان نه داسې معلوميږي چې كه چرې غنيمت ورته حاصل شو نو بيا به ورته اجر نه وركول كيږي، حال دا چې معامله داسې نه ده. د دې جواب دا دى چې دلته د "او" لفظ د مانعة الخلو په توګه دى چې د دوه شيانو نه به مجاهد خالي نه راځي يا به ثواب وي يا به غنيمت وي، خو كه دواړه شيان جمع كړى شي نو هيڅ باك نشته. ملا علي قارى فرمايي: د "او" لفظ د تنويع لپاره دى يعنې دا قِسم به هم ورته وركړى كيږي. يوه نسخه كې "او" نه بلكې واؤ دى. بيا خو هيڅ اشكال نشته.

او ادخله الجنة: دې عبارت كې هم د "او" لفظ دى. دلته "او" د مانعة الجمع لپاره دى چې مجاهد في سبيل الله كله الله بېرته راولي، نو هغه ثواب او غنيمت وګټي او كه بيرته ژوندى رانغلو بلكې شهادت يې وركړو نو بيا به هغه جنت ته داخل كړي. دلته غنيمت او شهادت نشي يو ځاى كېدى، ښه دي. (مرقات: ۳۵۳/۷)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر جنګ كې د شريك كيدو او شهيد كيدو ارمان كړى دى

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل قسم دى په ذات چې د چا په
نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَا أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ
قبضه كې زما ژوند دى كه چرې ما سره دا وېره او لحاظ نه وى چې ډير (هغه) مسلمانان (چې بې وسه او كمزورى دي) د
لَا تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي وَلَا أَجِدُ
خپل ځان باره كې به په دې خوشحاله نشي چې زما وروستو او جدا شي او ما سره هيڅ داسې سورلى نه وي

[1] رقم الحديث ۳۷۸۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۲/۱ رقم الحديث ۳۶ ومسلم في ۱۴۹۵/۳ رقم الحديث (۱۰۳-۱۸۷۶)

مَا أُحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ وَالَّذِي
چې په هغې باندې هغوی سور کړمه نو زه د الله په لاره کې د هیڅا نه وروسته نه وی پاتې شوی. قسم په هغه ذات
نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ أُحْيَى
چې د چا به لاس کې زما ژوند دی! زما ارمان همدغه دی چې زه خو د الله په لاره کې شهید کړی شم، بیا ژوندی شم
ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَى ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَى ثُمَّ أُقتل (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
او بیا شهید شم بیا ژوندی شم او بیا شهید شم (یعنې بیا بیا ژوندی کړی شم او بیا بیا ؤوژلی شم چې هر ځل نوی ثواب وګټم)

توضیح : والذي نفسي بيده: نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله په اویشت (۲۷) جنګونو کې حصه اخستې ده بعضې کې جنګ نه دې شوې بعضو کې جنګ شوې دې. رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۵۶ چهاپه مار ټولی جهاد ته لیږلې دی دا ټول ۸۳ جنګونه جوړیږی لکه چې په لس کاله مدنی دور کې اوسطًا په یو کال کې اته جنګونو نه زیات شوې دی په دې پوره موده کې د طرفین یو زر اتلس کسان وژلې شوې دی ۲۵۹ صحابه کرام شهیدان شوې دی ۷۵۹ کافران هلاک شوې دې. دې نه پس جزیره عرب د کفر د پنجې نه خلاصه شوې ده. د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شهادت جذبه دومره اوچته وه چه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر جنګ ته د تللو په وخت د شهید کیدلو تمنا کړې ده خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په معرکې کې ځکه نه دې شریک شوې چه روستو په مدینه منوره کې څه نادار خلق وو چه دفقر اوفاقې د وجې نه او د وسائلو نه کیدو د وجې نه جهاد ته نه شو تلې. بل طرف ته نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دومره هم وسائل نه وو چه دغه ټولو ته ئې سورلئ ورکړې وې که چرې رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوی په مدینه منوره کې پریخودلې وې او پخپله جهاد تلې وې نو دې غریبانانو ته به دوه غمونه وو یو جهاد له د نه تلو غم او دویم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جدایئ غم. په دې وجه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمائیل چه زه دوی سره شاته پاتې کیږی. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شهادت نه پس د بیا ژوندی کیدو تمنا ځکه او فرمائیله چه په دې سره نور زیات د شهادت موقعې ملاویږی او شهادت په جهاد کولو باندې موقوف دې نو په حقیقت کې دلته د جهاد کولو تمناده چونکه جهاد د اشاعت اسلام او تبلیغ دین ذریعه ده او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بعثت مقصد د دین غلبه او د اسلام اشاعت وو. په دې وجه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باربار د شهادت او جهاد خواهش کولو دې دپاره چه دا ذنیا د فساد نه خالی شی او دین غالب شی. (مرقات ۳۵۵/۷)

---

(1) رقم الحديث ۳۷۹۰ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۶/۶ رقم الحديث ۲۷۹۷ ومسلم في ۱۴۹۷ رقم الحديث (۱۰۶-۱۸۷۶)

علامه ابن همام رحمه الله په فتح القدير کې د جهاد تعريف داسې کوی چې : **اَلجَهاد اخلاء العالم عن الفساد وهو دعوتهم الى الدين وقتالهم ان لّم يقبلوا** (مرقات ۳۴۸/۷)

ترجمه : يعنی دنيا د فساد نه خالی کولو او کافرانو ته د دين اسلام دعوت ورکول او د نه قبلولو په صورت کې هغوی سره د جنګيدلو نوم جهاد دې.

په اسلامي سرحداتو باندې د پهرې کولو فضائل

﴿۵﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ
او حضرت ابن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل " د الله په لاره کې د يوې
خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
ورځې څوکېداري د دنيا او د دنيا د شيانو نه بهتر دي".

توضيح: **رباط يوم**: دا د ارتباط نه دی چې د تړلو په معنی کې دی، ځکه اسلامي سرحداتو باندې پهره ورکونکې هم خپل اَس او خپل ځان په سرحد باندې وتړي او پهره کوي. د قرآن آيت ﴿**وعدوا لهم ماستطعتم ون قوة ومن رباط الخيل ترهبونه به عدوا الله و عدوّكم**﴾ (سورت انفال : ۴۰) او د ايت ﴿**يا ايها الدين امنوا اصبروو صابروورابطوا**﴾ (ال عمران ۲۰۰) نه رباط ماخوذ دی. حديوڅو کې د رباط فضيلتونه ذکر دي.

اسلامي سرحدونو باندې د پهره کولو د کفارو په سرحداتو باندې نظر ساتنې ته د رباط نوم ورکړی شوی دی. دلته حديث کې يو لفظ د "حراسة" هم راغلی دی چې د چوکيداری په معنی کې دی. حراسة اور رباط کې دومره فرق دی چې حراسة هغه چوکيداری ته وايي چې په ملک کې دننه وي او رباط هغه پهرې ته وايي چې د کفارو په سرحدونو باندې نظر ساتنه او د اسلامي سرحداتو حفاظت لپاره وي. لهذا د دوه مسلمان ملکونو په مينځ کې چې په سرحداتو باندې کومه پهره ورکول کېږي. د رباط فضيلت هغې ته حاصل نه دی. دغه شان په تبليغي جماعتونو باندې رباط چوکيداري کول جائز نه دي. د دې لپاره د حراسته د حديثونو فضيلت حاصليدی شي. په لغوي توګه د رباط اطلاق کله کله په نورو عملونو باندې هم شوی دی، خو هغه اصطلاحي رباط نۀ دی. د رباط پوره تفصيل زما په کتاب "دعوت جهاد" کې موجود دی. هلته يې کتل پکار دي.

من الدنيا: د دې جملې دوه مفهومه دي: اول مفهوم دا دی چې د دنيا د ټولو نعمتونو او د هغې د ټول سازو سامان نه د په رباط کې يوه ورځ پهره کول بهتر دي، ځکه د آخر ثواب باقي دی. د دنيا

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۹۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۵/۶ رقم الحديث ۲۸۹۲

نعمتونه فاني دي. دويم مفهوم دا دی چې د که چرې د دنيا ټول نعمتونه د الله په لاره کې خرچ کړی شي او لوي ثواب ملاؤ شي، په رباط کې د وې ورځې ثواب د هغې ن بهتر او لوي دی. دغه شان جمله چې چرته هم استعمال شوې وي. او د هغې مفهوم همدغه بيان کېدلی شي، لکه څنګه چې په راتلونکې حديث کې دا جمله استعمال شوې ده. (مرقات : ۳۵۴/۷)

د سبيل الله مطلب څه دی؟

﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ رَوْحَةٌ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "د يو سحر لپاره يا د ديوې مابنام

خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

لپاره د خدای په لاره کې (د شرکت جهاد په غرض) تلل د دنيا د شيانو نه بهتر دي".

توضيح: لغدو: د سحر وخت کې سفر کولو ته **غدوة** وايي او د مابنام وخت کې سفر کولو ته "**روحة**" وايي. د دې دوه وختونو په خصوصي توګه ځکه ذکر شوی دی چې په عامه توګه به مخکنئ زمانه کې په دې دوه وختونو کې به جنګ کېدلو، ځکه دي وختونو کې به د ګرمئ شدت نه ؤو او د غرمې نه وروسته د نصرت الهي هوا ګاني چلېږي، ځکه د جهاد معرکو لپاره دا دوه وختونه انتخاب کړی شوې دي. تبلېغي حضرات دا حديث د خپلو ګشتونو لپاره بيانوي. هغوی له احتياط کول پکار دي. د ګشت عمل په ابتداء کې مولانا الياس رحمة الله عليه ته معلوم نه ؤو. وروسته معلوم شو. صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته د ګشت څه علم؟ (مرقات : ۳۵۴/۷)

في سبيل الله: د الله د لارې نه د جهاد لاره او په جهاد کې شرکت کول مراد دی.

علامه ابن حجر په فتح الباري کې د سبيل الله په شرح کې لېکي. "**اى الجهاد**"

قرآن عظيم کې دا لفظ بار بار راغلی دی. قرآن د لوستلو نه معلومېږي چې د في سبيل الله لفظ په درې قسمه استعمال کړی شوی دی. د دې اولنی اطلاق او استعمال د جهاد لپاره شوی دی او د جهاد في سبيل الله سره دا لفظ خاص دی، لکه "**يقاتلون فى سبيل الله - يجاهدون فى سبيل الله**" او دغه قسمه نور حديثونه دي. دا د جهاد سره خاص دي. او په کې صراحةً د "**سبيل الله**" لفظ ۳۶ ديرش ځايونو کې ذکر دی.

د دې لفظ دويم اطلاق او استعمال په عموماً مطلق د دين لپاره شوی دی چې د دين د ټولو شعبو لپاره عام دی. د هيڅ شعبې سره خاص نه دی، لکه د "**يصدون عن سبيل الله**" ايت دی. او د دې نه بغير نور آيتونه دي. په صريحه توګه قرآن عظيم کې دا لفظ په ۲۵ مقاماتو کې ذکر دی. د دې دريم اطلاق په مشترکه توګه

([1]) رقم الحديث ۳۸۹۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۳۲/۱۱ رقم الحديث ۶۴۱۵ ومسلم في ۱۵۰۰/۳ رقم الحديث (۱۱۳-۱۸۸۱)

شوی دی. کله په انفاق في سبیل الله کې استعمال شوی دی. کله جهاد کې استعمال شوی دی او کله مطلق د دین لپاره استعمال شوی لکه "**وانفقوا فی سبیل الله ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة**" والا آیت دی. صراحةً قرآن کې دا لفظ په اوۀ ځایونو کې استعمال شوی. علامه نوي رَحِمَهُ اللهُ په المجموع کې وضاحت سره لیکلي چې د سبیل الله اولنی مصداق جهاد في سبیل الله دی. ابن دقیق العید هم داغه شان لیکلي. او ابن حزم اندلسی په المحلی کې همدغه شان تحقیق کړی. امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ د سبیل الله په مفهوم کې د یو حدیث په وجه حاجیان او د علمِ دین طلباء هم داخل منلې دي. صاحب هدایه په کتاب الزکوة کې د في سبیل الله په تشریح کې لیکلي "**ای المنقطع الغزاة لانه المتناهم عن الاطلاق**" یعنې کله چې في سبیل الله مطلق استعمال شي نو د هغې اولنی مصداق مجاهدین دي. مشکوة شریف کې په کتاب الجهاد کې دا لفظ تقریبًا ۹۰ ځله راغلی چې د جهاد لپاره استعمال شوی لهذا هر مسلمان له پکار دي چې د لفظ في سبیل الله مفهوم ډېر تنګ نه کړی او نه یې ډېر فراخه کړی. سبیل الله اهل تبلیغ د خپل کار سره خاص کوي چې غلط دی. (مسلم ۱۴۰/۲)

د رباط في سبیل الله د فضائلو په باره کې یو څو حدیثونه

﴿۷﴾ وَعَنْ سلمانَ الفارسيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: رِبَاطُ يَوْمٍ
او حضرت سلمان فارسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم ﷺ نه دا اوریدلي دي چې جهاد کې یوه ورځ او یوه
وَلَيْلَةٍ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ رِصِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ
شپه د چوکیدارئ خدمت کول د یوې میاشتې د روژو او شوګېر نه بهتر دی او هغه چوکیدار د دې خدمت
وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِي
کولو دوران کې مړ شي نو هغه چې کوم عمل باندې مامور ؤو د هغې ثواب به ورته د مرګ نه وروسته هم رسېږي
كَانَ يَعْمَلُهُ وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ
او د هغې لپاره به (د جنت د طعام او د شراب نه رزق ورکړی کېږي او هغه به د شیطان د مکرو فریب) او په
وَأُمِنَ الْفَتَّانَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ (۱)
قبر کې د عذاب د فرښتو د فتنې نه محفوظ وي".

توضیح: وامن الفتان: دې حدیث کې یوې خبرې دا کېد بیان کړی شوی دی چې یوه ورځ او یوې

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۹۳ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۲۰/۳ رقم الحديث (۱۶۳-۱۹۱۳) والنسائي في السنن ۳۹/۶ رقم الحديث ۳۱۶۷

شپې پهره د الله د جهاد په لاره کې د يوې مياشتې د تولې ورځ روژې او د تولې شپې د تهجد نه غوره دی. دويمه دا خبره بيان کړی شوې ده چې د مرابط نيک عمل چې په دنيا کې هغې کولو، د مرګ نه وروسته به د هغې ثواب نه قطع کېږي بلکې جاري به وي. دغه شان د مرګ نه ورسته په قبر کې به ورته د جنت نه د نعمتونو په صورت کې رزق ورکړی کېږي. درېمه دا خبره بيان شوې ده چې مرابط في سبيل الله به د عذاب قبر د فتنې نه محفوظ وي. د فتان په لفظ کې فا باندې فتحه او ضمه ډواړه دي او تا باندې شد دی. د دې نه د عذاب قبر فتنه هم مراد اخستلی کېدی شي او د دجال فتنه هم مراد اخستل کېدی شي او د شيطان فتنه هم مراد اخستل کېدی شي. ځينو شارحينو دا لفظ د جمع صيغه ګڼلې ده. چې مفرد يې فاتن دی او دې نه يې د جهنم دروانچي مراد اخستې ده. بهرحال چې مرابط به د دومره لوي فتنونو نه محفوظ وي نو ورې فتنې به هيڅ نه وي. (مرقات : ۳۵۷،۳۵۸/۷)

د جهاد د لارې ګرد

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي عَبْسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ

او حضرت ابو عبس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "د کوم بنده پښې چې د الله په

فِي سَبِيلِ اللهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

لاره (يعنې جهاد) کې کې په ګرد ککړې شې نو بيا هغې نه د جهنم اور نه شي لږېدلی".

توضيح: ما اغبرت: دالله تعالى په لاره کې جهاد کې مجاهد د تولو نه ډېره واسطه د خاورو او ګرد سره وي او همدغه شی د مجاهد د نجات ضامن دی. کله خو د سر نه تر پښو پورې مجاهد په ګرد کې لړلی شوی وي. د دې نه د جهاد د لارې تولو مشقتونو ارخ ته هم اشاره ده. چې په دومره مشقتونو باندې دومره ثواب حاصلېږي نو د ژوند د ورکولو، زخمي کېدلو يا بندي کېدلو به څومره ثواب وي. سبحان الله! تبليغي حضرات فضيلت د خپل ځان لپاره بيانوي. هغوی له پکار ده چې اول دا د جهاد لپاره بيان کړي، بيا دې خپل ځان په دې کې داخل کړي، هسې دې تحريف نه کوي. (مرقات : ۳۵۹/۷)

جهاد کې د کافر دوژلو ثواب

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "کافر او د هغې وژونکی (مسلمان) کله

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۹۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۹/۶ رقم الحديث ۲۸۱۱ والترمذي في السنن ۱۴۶/۴ رقم الحديث ۱۶۳۲

فِي النَّارِ أبدا. رَوَاهُ مُسلم[1]
هم په دوزخ کې یو ځای کېدی نشي".

توضیح: لایجتمع: جهاد کول او د کافرانو سره جنګېدل او د هغې د وژلو ترغیب په دې حدیث کې ورکړی شوی دی، ځکه څوک چې جهاد ته ځي نو د یو کافرد وژلو اجل هم رائي. که چا دا کافر مړ کړو نو کافر به دوزخ ته ځي او مجاهد به جنت ته ځي. داسې نه شي کېدی چې د دې قتل په وجه به مجاهد دوزخ ته ځي او دواړه به دوزخ کې یو ځای شي. قرآن عظیم کې ۷۹ صیغې داسې استعمال شوې دي چې د کافرانو سره جنګ کول په مختلف انداز کې بیان شوی دی. د قرآن حکم په کتلو سره صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ د کافرانو د وژلو ثواب ګټلی دی. ځینو په میدان کې یو یو لاکھ کفار جهنم ته لېږلي دي. د قرآن د حکم سره سره د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم باندې صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ کافران وژلې دي. خپله نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم په میدانِ اُحد کې یو کافر وژلی دی. چې نوم یې ابی بن خلف ؤو. لهذا دا فلسفه د قرآن و حدیث خلاف ده. چې ځینې خلک وایي چې کافران مه وژنئ ځکه هغوی به دوزخ ته لاړ شي. دا ګویا کې وژونکې هغوی دوزخ ته ورسول. هغوی ته خواست کېږي چې دالله تعالی او د هغې نه رسول نه ډېر رحم کونکي مه جوړېږئ، خراب به شئ. بهرحال دې حدیث کې د کافر په میدانِ جنګ کې د وژونکي مسلمان لپاره د جنت بشارت دی. (۳۵۹،۳۶۰/۷)

د مسلمانانو بهترین ژوند کوم یو دی؟

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل "انساني ژوند کې بهترین ژوند
النَّاسِ لَهُمْ رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ
د هغه کس دی چې د خدای په لاره کې یې د خپل اَس واګې نېولی وي او چې د چاوېرونکی اوازیا د یو فریاد کونکې اوازواوري
يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ
نو په توندئ سره خپل اَس باندې سپور شي او د هغه وېرونکې یا فریاد کونکې اوازاوري ته په منډه لاړ شي

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۹۵ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۵/۳ رقم الحديث (۱۳۰-۱۸۹۱) وأبوداؤد في السنن ۱۷/۳ رقم الحديث ۲۴۹۵

يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ أَوْ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ
او خپل مرګ هغه ځای کې لټوي چرته چې د مرګ ګمان وي یا بهترین ژوند د هغه کَس دی چې د بزو سره
فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هَذِهِ الشَّعَفِ أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هَذِهِ الْأَوْدِيَةِ يُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ
د غرونو دیو غرپه څوکه باندې یا درو (وادی) په یوه دره کې اوسیږي او لمونځ کوي او زکوة ادا کوي او د خپل
وَيَعْبُدُ اللهَ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْيَقِينُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ
رب په عبادت کې مشغول وي. تر دې چې مرګ ورله راشي او دا کس د انسانانو په لانجو کې شریک نه دی بلکې
إِلَّا فِي خَيْرٍ. رَوَاهُ مُسْلِم[1]
د خیر په مینځ کې ژوند تېروي".

توضیح: معاش: دا د عیش نه دی چې د ژوند په معنی کې دی یعنې د انسان بهترین ژوند. .

لهم: یعنې کوم ژوند چې د هغې د فایدې لپاره وې، د هغې لپاره وبال نه وي.

رجل: **ای معاش رجل**، مضاف مخذوف دی. **عنان**: واګې ته عنان وایې. **یطیر**: الوتلو ته وایې. دلته مراد تیزه منډه کول دي ګویا کې الوځي. (مرقات ۳۶۰/۷) شاعر حماس وایي:

قـــوم اذا الـشـر ابـدی نـاجـذیـه لـهـم

طـــــــاروا زرافـــــات وُحـــدانـا

هیعة: وېره کې د فریاد کولو اواز ته **هیعة** وایې. او فزعة: د ډېرې وېرې په وخت کې د مرستې او نصرت لپاره رابللو ته فرعه وایې. او د تنویع لپاره دی. د دواړو معنی نزدې نژدې ده. وېرېدونکي او فریاد رَس سړي ته وایې. (مرقات ۳۶۰/۷)

مظانه: دا لفظ د مرګ د لفظ سره هم بدلیدلی شي، خو که د "**یبتغی**" لپاره ظرف کړی شي نو معنی به ډېره واضحه وي یعنې چرته چې د مرګ ګمان وي، په داسې ځایونو کې مرګ لټوي. **مظانه**: د **مظنة** جمع ده او ضمیر مفرد د دې لپاره راغلی دی چې د هریو اړخ ته راجع دی. یا د اقرب اړخ ته ضمیر ګرځي چې مرګ دی.

او رجل: اي او معاش رجل یعنې بل د دې کس ژوند بهترین ژوند دی.

غنیمة: دا د غنم تصغیر دی. د تقلیل لپاره دی. یعنې د بزو به ټوټه کې دی. **شعفة**: شین او عین او فا

([1]) رقم الحدیث ۳۷۹۶ اخرجه مسلم في صحیحه ۱۵۰۳/۳ رقم الحدیث (۱۲۵-۱۸۸۹) وابن ماجه في السنن ۱۳۱۶/۲

باندې فتحه ده. د غر څوکې ته وايي. (مرقات : ۳۶۱/۷)

يؤتى الزكاة: يعنې که مالدار او صاحب نصاب وې نو زکوة هم ادا کوي. **اليقين:** د دې نه مراد مرګ دی. (مرقات: ۳۶۱/۷)

ليس من الناس: يعنې نه خلکو ته خپله تکليف ورکوي او نه د خلکو په شر کې خپله اخته کوي. د دې حديث نه يو تعليم دا حاصليږي چې د اسلام دښمنانو مقابلې لپاره هر وخت مؤمن له تيار او سېدل پکار دي او د جهاد په لاره کې ژوند په تلې باندې ايښودل پکار دی. د حديث نه دويم تعليم دا ملاو شو چې د شر او فساد او فتن او محن وخت کې سړې له پکار دي چې د خپل دين د حفاظت لپاره د سهولت والا ژوند پرېږدي او د خلکو نه جدا شي او په نامعلومه ځای کې پاتې شي او د مشقت والا ژوند اختيار کړي. ځان ځاني او د خلکو نه جدا ژوند تېرول هغه وخت افضل دي کله چې د دين او د ايمان خطر وي. ګڼې په عام حالاتو کې د خلکو سره اوسېدل او د هغوی د اصلاح فکر کول او د هغې مشقتونه برداشت کول افضل دي. د تولو انبياؤ او اولياؤ او د علماؤ همدغه معمول راروان دی. (مرقات ۳۶۱/۷)

يو مجاهد جهاد ته لېږل هم جهاد دی

﴿۱۱﴾ وَعَن زيد بن خالدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ
او حضرت زيد ابن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل څوک چې د الله په لاره کې جهاد کونکي
جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللهِ
له سامان صحيح کړو، هغې ګويا کې جهاد وکړو (يعنې هغه د جهاد کونکو به حکم کې داخل دی او د جهاد په
فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ
ثواب کې شريک دی) او کوم کس چې د غازي د اهل و عيال لپاره نائب او خليفه شو (يعنې کوم کس چې د يو
غَازِيًا فِي أَهْلِهِ
غازي او مجاهد ته د جهاد تللو نه وروسته د هغې د اهل و عيال خدمت کونکی او ساتونکی شو) نو هغې هم
فقد غزا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
ګويا کې جهاد وکړو.

توضيح جهز: دا د **تجهيز** نه دی. څوک تيارول او جهاد ته د لېږلو په معنی کې دی. تيارول دا دي

([1]) رقم الحديث ۳۷۹۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۹/۶ رقم الحديث ۲۸۴۳ ومسلم في ۱۵۰۷/۳ رقم الحديث (۱۳۵-۱۸۹۵)

چې هغې ته يې د جهاد ترغيب ورکړو، بيا يې کرايه، وسله او د لارې خرچه ورکړه.

خلف: يعنې کله چې مجاهد جهاد ته لاړو او ورسته ورپسې د کور ساتنه يې چا وکړه او د هغې د اهل و عيال خيال يې وساتلو نو داسې کس ته به هم د جهاد ثواب ورکول کېږي. (مرقات: ۳۶۲/۷)

په مجاهدينو د ښځو احترام لازم دی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ
او حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "مجاهدينو د ښځو عزت او حرمت
عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ
په ناستو (يعنې جهاد ته نه تلونکو) باندې داسې لازم دی لکه څنګه چې هغوی باندې دخپلو مېندو عزت او حرمت
وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِينَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِينَ
لازم دی. لهذا (ياد وساتئ) ناستو خلکو يعنې جهاد ته نه تلونکو والو نه چې کوم کس د يو مجاهد د
فِي أَهْلِهِ فَيَخُونُهُ فِيهِمْ
اهل و عيال لپاره نائب او خليفه شو يعنې د هغوی ساتونکی شو او هغوی د دې (مجاهد) په اهل و عيال او مال
إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
کې خيانت وکړو نو د قيامت په ورځ به هغه د دې مجاهد مخې ته ودرول کېږي. او مجاهد چې د دې د (نيک)
فيأخذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ فَمَا ظَنُّكُمْ؟. رَوَاهُ مُسلم [1]
عملونو نه څومره خوښه وي ترېنه وا به يې خلي. په داسې حالت کې ستاسو څه خيال دی"؟

توضيح: الاوقف له: يعنې دا خيانت کونکی به د مجاهد مخې ته ودرولی شي او هغه چې د دې څومره نيکي خوښې وي ترېنه وا به يې خلي. **فما ظنكم:** يعنې ستاسو څه خيال دی چې د قيامت په ورځ د هغه ضرورت په موقع باندې به مجاهد د چا نيکئ پرېږدي؟ نا، بلکې هر څه به ترېنه واخلي. د دې جملې مطلب دا دی چې د خائن به د قيامت په ورځ الله د هغې ټولې نيکئ مجاهد ته رکوي. آيا دالله تعالى باره کې ستاسو څه شک شته دی؟ داسې خيال او شک مه کوئ.

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۹۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۸/۳ رقم الحديث (۱۳۹-۱۸۹۷) وأبوداؤد في السنن ۱۷/۳ رقم الحديث ۲۴۹۶

بهرحال دې حديث کې د مجاهد ډېر لوي فضيلت بيان کړی شوی دی. چې د هغې دائره د هغې د خاندان او بچيانو پورې خورېږي چې د مجاهدينو د ښځو احترام په عام مسلمانانو باندې داسې لازم دی، لکه څنګه چې پرې د خپلو مېندو احترام لازم دی. د حديث د دې تعليم نه وروسته مسلمانان له سوچ کول پکار دی چې که چرې د هغوی د قول او فعل نه د يو مجاهد تحقير او توهين وشو، نو جرم به يې څومره خطرې وي. چې د مجاهدينو د ښځو دا مقام دی نو خپله به د مجاهد څه مقام وي؟(مرقات : ۳۶۳/۷)

په جهاد کې د مالي مرستې فضيلت

﴿۱۳﴾ وَعَن أَبِي مَسْعُود الْأَنْصَارِيّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُومَةٍ

او حضرت ابو مسعود انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه ورځ په دربار نبوت کې) يو کس د واګې والا اوښه حاضره

فَقَالَ: هَذِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ

کړله او عرض يې وکړو چې دا د الله د لارې لپاره دی. يعنې د اوښه زه د الله د رضا لپاره جهاد ته وړاندې کوم.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَكَ بِهَا

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "(زه ستا دا وړاندې نه په خوشحالئ قبلوم او تاته دا بشارت درکوم

يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعمِائَة نَاقَة كلهَا مخطومة. رَوَاهُ مُسلم [1]

چې (د دې په بدل کې به د قيامت په ورځ تاته سل اوښې ملاوېږي او په ټولو کې به واګې وي)

توضيح: مخطومة: د خطام نه دی چې د واګې په معنی کې دی. يعنې د واګې والا اوښه.(مرقات : ۳۶۳/۷)

سبع مأة: يعنې د دې اوښې په بدل کې بهالله تعالى تاته سل اوښې درکوي. دا حديث د همغه حديث پشان دی، کوم کې چې راغلې ؤو چې کوم کس کور کې ناست وي خو د جهاد ميدان ته يې يوه روپئ ولېږله نو الله هغې ته د اؤوه سوه (۷۰۰) روپو ثواب ورکړو.(مرقات : ۳۶۳/۷)

د هر کور نه دې يو مجاهد جهاد ته لاړ شي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي لِحْيَانَ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قبيله هذيل يو ډلې بنو لحيان

---

(۱) رقم الحديث ۳۷۹۹ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۵/۳ رقم الحديث (۱۳۲-۱۸۹۲) والنسائي في السنن ۴۹/۶ رقم الحديث ۳۱۸۷

مِنْ هُذَيْلٍ فَقَالَ: لينبعثْ مِنْ كلِّ رجلينِ
په مقابله کې د جهاد لپاره يو لښکر د روانولو اراده وکړه، نو حکم يې وکړو چې پکار ده چې هر دوه کسانو
أحدُهما والأجرُ بَينهمَا. رَوَاهُ مُسلم [1]
کې يو کس جهاد ته د تللو لپاره ؤځي او د جهاد ثواب به د دواړو برابر وي.

توضيح لينبعث: دا جهاد ته د لېږلو د تشکيل يو صورت دی. يعنې د هر کور نه دې يو کس جهاد ته لاړ شي او بل چې د هغې د کور ساتنې لپاره پاتې شي او په ثواب کې به دواړه برابر وي. مجاهد ته خو به جهاد ته د تللو ثواب ملاويږي خو د هغې د کور ساتونکي ته به په ساتنه کې د جهاد پوره ثواب حاصلېږي. (مرقات: ۳۶۴/۷)

د دين د حفاظت لپاره به مجاهدين تر قيامته پورې جنګېږي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَنْ يَبْرَحَ هَذَا الدِّينُ
او حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "دا دين به هميشه قائم وي او
قَائِمًا يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى تقومَ السَّاعَةُ. رَوَاهُ مُسلم [2]
په مسلمانانو کې به يو نه يو جماعت د دې د حفاظت لپاره تر قيامته پورې جنګېږي".

توضيح لن يبرح: يعنې تر کومه چې په دې زمکه باندې يو داسې جماعت وي نو جهاد به کوي نو دا دين به قائم او دائم وي. د مجاهدينو دا جماعت به کله د دنيا په يو ګوټ کې وي نو کله به په بل ګوټ کې وي، خو زمکه به د دې نه خالي نه وي. د قيامت نزدې به دا جماعت ختم شي. دا حديث نصب الراية ج ۳ ص ۳۷۷ او په مجمع الزوائد ج ۱ ص ۱۰۶ کې د دې الفاظو سره نقل کړی دی "**الجهاد ماض الى يوم القيامة**" (مرقات ج ۷ ص ۳۴۹). معجم الاوسط ج ۵ ص ۳۹۰ باندې دا حديث د دې الفاظو سره منقول دی "**والجهاد ماض الى يوم القيامة**" د طبراني په روايت کې يو ضعيف روای دی. بهرحال د حديث ترجمه دا ده يعنې تر قيامت پورې به جهاد جاري وي. علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې د مجاهدينو دا جماعت په شام کې وي چې په بل حديث کې د طائفة منصورة الفاظو سره يادکړی شوی دی. ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چې دا جماعت نن سبا په روم کې د طائفه سره جهاد کوي. بيا فرمايي چې د تحقيق خبره دا ده چې د دې جماعت نه مراد د مجاهدينو هغه جماعت دی چې د هيڅ زمان او مکان سره خاص نه دی (يعنې د دنيا به مختلفو

([1]) رقم الحديث ۳۸۰۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۵۰۷/۳ رقم الحديث (۱۳۷-۱۸۹۶) وأحمد في المسند ۴۹/۳

([2]) رقم الحديث ۳۸۰۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۲۴/۳ رقم الحديث (۱۷۲-۱۹۲۲)

علاقو کې به وي) بهرحال قرآن کریم کې د الله تعالی د ﴿ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر﴾(ال عمران ۱۰۲) او په آیت ﴿کنتم خیر امة اخرجت للناس﴾(ال عمران : ۱۱۰) کې همدغه جماعت اړ ته اشاره کړې ده. د آیت ولتکن الخ د لاندې شاه عبدالقادر لیکي :معلومه شوه چې په مسلمانانو باندې فرض دي چې یوه ډله قائم په جهاد باندې او د دین په خودي ساتلو باندې تردې چې د دین خلاف څوک ونکړي او څوک چې په دې کار باندې قائم وي هم هغه کامیاب دی، او دا چې څوک د چا سره څه تعرض ونکړي، موسی علیه السلام په خپل دین و عیسی علیه السلام په خپل دین نو دا لاره د مسلمانی نه ده . (ال عمران ایت ۱۰۴)

شاه عبدالقادر رحمه الله د دې آیت کنتم خیر امة الخ دلاندې لیکي یعنې دا امت د هر امت نه بهتر دی. په دې دوه صفتونو امر معروف یعنې جهاد او ایمان یعنې د توحید خوندیتوب دومره په بل دین کې نشته. (ال عمران ایت ۱۱۰)

په جهاد کې د زخمي کیدو فضیلت

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يُكَلَّمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللهِ
او حضرت ابو هریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل "کوم کس چې د خدای په لاره کې
وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكَلَّمُ فِي سَبِيلِهِ
(یعنې جهاد) کې زخمي کړی شي او خدای دا کس ښه پیژني کوم چې د هغې په لاره کې زخمي کیږي، نو هغه
إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ دَمًا اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ
مجاهد به په قیامت کې په داسې حال راځي چې د هغې د زخم نه به وینه راروانه وي. د هغه وینې
والريحُ ريحُ المسكِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
رنګ به د وینې پشان وی او د هغې بوئې به د مشک د خوشبو پشان وي".

توضیح: **لایکلم**: د باب نصر و ضرب نه د مجهول صیغه ده، د زخمي کېدلو په معنی کې ده. (مرقات : ۳۶۵/۷)

ای لایجرح. یثعب: دا فتح د یفتح نه ده. د زخم نه د فوارې پشان د وینې توېدلو ته وایي. یو روایت کې د یتفجر لفظ دی چې د دې معنی تائید کوي. بهرحال د قیامت په ورځ د مجاهد د زخم نه د وینې د توېدلو حکمت دا دی چې ګویا کې دا وینه به د مجاهد د قربانئ په توګه ګواه موجو وي او د هغې په فضیلت باندې به علامت وي. ګویا که مجاهد په زبان حال سره وایي: (مرقات : ۳۶۶/۷، ۳۶۵)

میرے رستے ہوئے زخموں کو دکھا کر کہنا ایسے تمغوں کے طلبگار یہاں اور بھی ہیں

---

(۱) رقم الحدیث ۳۸۰۲ اخرجه مسلم في صحیحه ۲۰/۶ رقم الحدیث ۲۸۰۳ ومسلم في ۱۴۹۶/۳ رقم الحدیث (۱۰۵-۱۸۷۶)

دې حدیث د اخلاص اړخ اشاره ده چې په جهاد کې بې ریا مخلص مجاهد څوک وې او ریا کار څوک وې.

د شهادت فضیلت او ارمان

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "جنت ته داخلېدونکی هيڅ يو

يُحِبُّ أَنْ يُرْجَعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ

کس به دا خوښ نه کړي چې هغه بېرته دنيا ته لاړ شې او (د جنت د نعمتونو په بدل د دنيا ټول) شيان قبول کړي،

إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يُرْجَعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ

خو شهيد به دا ارمان کوي چې هغه دنيا ته بېرته لاړ شې او لس ځله د خدای په لاره کې شهيد شې، ځکه

لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

د شهادت عظمت او د هغې ثواب ېې.

د مړ ګ نه وروسته د شهيدانو ژوند

﴿۱۸﴾ وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ: سَأَلْنَا عَبْدَ اللهِ بْنَ مسعودٍ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ:

او حضرت مسروق رحمه الله (تابعي) فرمايي چې مونږ د حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د دې آيت تفسير

(وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا

وپوښتلو چې کوم کسان د خدای په لاره کې وژلی شوې دي نو تاسو هغه مړه مه ګڼئ بلکې هغوی د خپل رب

بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ) الْآيَةَ قَالَ: إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ

سره ژوندي دي او هغوی له رزق ورکړی کېږي. الخ، نو هغې وفرمايل چې مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د دې آيت

فَقَالَ: "أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْوَافِ طَيْرٍ خُضْرٍ

تفسير وپوښتلو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې "د دوی (شهيدانو) روحونه شنه رنګ مرغانو په

لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ

قالب کې دي. د هغوی د (اوسېدلو) لپاره په عرش الهي کې قنديلونه (ډيوې) راځوړند کړی شوې دي.

---

[1] (رقم الحديث ۳۸۰۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۲/۶ رقم الحديث ۲۸۱۷ ومسلم في ۱۴۹۸/۳ رقم الحديث (۱۰۹-۱۸۷۷)

مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ
هغه (روحونه) جنت کې چرته د هغوی زړونه غواړي مېوې خوري، بیا راشي او په خپلو قندیلونو کې اوسیږي.
فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلَاعَةً فَقَالَ: هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا؟
بیا پروردګار د هغې (شهیدانو) اړخ ته راښکاره شې او ورته فرمایي چې "آیا ستاسو څه ارمان شته دی؟"
قَالُوا: أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا
هغوی عرض کوي "مونږ د څه شې ارمان وکړو، حال دا چې مونږ په جنت کې یو او چرته مو چې زړه غواړي د
ففعلَ ذلكَ بِهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا
هملته نه مېوي خورو". الله تعالی د هغوی سره درې ځل معامله کوي (درې ځله د هغوی نه همدغه پوښتنه کوي)
أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يَسْأَلُوا
او کله چې هغوی پوهه شي چې پوښتنه کونکی مونه پرېږدي (یعنې کله چې هغوی پوهه شي چې د پروردګار مراد دا دی
قَالُوا: يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تُرَدَّ أَرْوَاحُنَا
چې مونږ د خوشحالئ اظهار وکړو) نو عرض کوي چې "ای زمونږ پروردګاره! زمونږ بس همدغه خواهش دی
فِي أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ فِي
چې ته زمونږ روحونه بېرته زمونږ بدنونو ته راولې او مونږ دنیا ته بېرته ولېږې چې مونږ یو ځل بیا
سبيلِكَ مَرَّةً أُخرى فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ
ستا په لاره کې شهیدان شو" چې الله دا وګوري چې د هغوی هیڅ (متعین) خواهش او حاجت نشته دی،
لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا". رَوَاهُ مُسلم[1]
نو هغوی پرېښودلی شې (یعنې الله تعالی د هغوی نه پوښتنه کول پرېږدي).

توضيح اروحوا فی اجواف طیر: اجواف د جوف جمع ده. د مرغانو ججورې ته وایي. چرته چې په ابتدائي توګه خوراک جمع کېږي. چې د مرغۍ د منښو کې د لاندې پرسیدلی برخه وي. چې په نورو رایتونو کې ورله د حواصل لفظ راغلی دی.

---

(1) رقم الحديث ۳۸۰۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۲/۳ رقم الحديث (۱۲۱-۱۸۸۷) وأخرجه الترمذي ۲۱۵/۵ رقم الحديث ۳۰۱۱

علماؤ لیکلي دي چې د شهیدانو روحونه د شنه مرغانو په ججوره کې اینبنودل د شیهدانو د اکرام او د احترام په توګه دی. د دې حدیث نه دلالة النص ثابتېږي. او شارة النص نه د انبیاؤ ژوند ثابتېږي، ځکه د شهیدانو نه د انبیاؤ مقام اوچت دی. لهذا د هغوی د ژوند ثبوت په اولی طریقه دی.

د مړو د اورېدلو مسئله تر یو حده پورې په توضیحات جلد اول کې لیکلی شوې ده او د انبیاؤ د ژوند مسئله په پوره طریقې سره په توضیحات جلد دویم کې لیکلی شوې ده. دلته د دې مسئلې تفصیل مقصود نه دی. البته د دې حدیث نه د پیدا شوې یوه پوښتنه او د هغې جواب لیکلی کېږي.

سوال: د دې حدیث نه هندوان او د چین څه خلک د تناسخ عقیده (آواګون) ثابتوې. د تناسخ مطلب د هغوی په نزد دا دی چې دې دنیا کې چې کله سړی مړ شي نو د هغې روځ یو حیوان ته منتقل شي. که مړ شوی کس نیک او ښه ؤو نو د هغې روح د یو بادشاه یا د یو حاکم بدن ته انتقال شي. چې د هغې په ذریعې سره دا روح ښې مزې کوي. او همدغه د هغې جنت دی. او که چرته مړ شوی کس بد ؤو نو د هغې روح په خر یا سپې یا یو ذلیل حیوان کې لاړ شي. خلک هغه وهې او تنګوې. چې پرې دا روح ذلیله شي. همدغه د دې جهنم دی. پوښتنه دا ده چې آیا د دې حدیث نه دا عقیده ثابتېږي یا نه؟

جواب: د دغه ټولو خلکو اولنی جواب خو دا دی چې د دې حدیث تعلق خو د آخرت سره دی چې په آخرت کې به دا روحونه د مرغانو په ججورو کې وي او کوم کسان چې د تناسخ قائل دي. هغوی په دنیا کې د مړ شوې کس روح بل چاته د داخلیدلو قائل دي. آخرت خو هغوی منې نه. بیا د آخرت والا حدیث نه استدلال څنګه کوي.

دویم جواب دا دی چې دا شنه مرغان شهداؤ د روحونو لپاره د ظروف او صندوق په توګه دی، نه دا چې د هغوی روحونه د مرغانو په قالب او بدن کې حلول کړی دی. د دې مثال داسې دی چې یو کس ملغلرې په صندوق کې کېښودلې نو دا صندوق د ملغلرو لپاره ظروق دی، نه دا چې ملغلرې په صندوق کې حلول کړی دی. پوهې او د اسانتیا لپاره درېم جواب داسې وګڼئ چې دلته چې د طیر خضر کوم تعبیر دی، دا د جنت په سورلو کې د یوې سورلې اړخ ته اشاره ده. مثلاً هیلې کاپټر (الوتکه) ده. دې کې دنیا کې مختلف کسان کېښې او د دنیا مختلفو اړخونو ته والوځي، بیا بېرته خپل ځای ته راشي. د هیلې کاپټر مخکنۍ برخه بالکل د مرغۍ د ججورې پشان ده. شیشه کې د ټولو سیر او تفریح کېږي، نو دلته هم د طیر خضر نه مراد د شنه مارغانو نه د جنت شنه هیلی کاپټر مراد کېدی شي. (مرقات: ۳۷۰/۷)

فاطلع: نظر او د تجلی په معنی کې دی یعنې الله ورښکاره او هغوی ته پې وکتل، کوم چې د الله د شان سره ښایي. (۳۶۸/۷)

رؤا: یعنې شهیدانو چې کله ولیدل **لن یترکوا:** مجهول صیغه ده یعنې شهیدانو ولیدل چې هغوی

به پوښتنې نه بغیر نه پرېښودلی کېږي. ان یسألوا: یعنې چې شهیدان د الله تعالی پوښتنه وکړي او څه ترېنه وغواړوي. دا د مجهول صیغه ده. (۳۶۸/۷)

ترکوا: د مجهول صیغه ده یعنې چې کله دا خبره واضحه شوه چې دا خلک هیڅ غوښتونکې نه دي، نو هغوی پرخوستلی شي. (۳۶۸/۷)

په شهادت سره ټول ګناهونه معاف کېږي

﴿۱۹﴾ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِيهِمْ فَذَكَرَ لَهُمْ

او حضرت ابو قتاده رضي الله عنه فرمايي چې (يو ورځ) نبي صلى الله عليه وسلم صحابه کرام رضي الله عنهم ته خطبه کې وفرمايل

أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْإِيمَانَ بِاللهِ

او (هغه خطبه کې) يې هغوی خبر کړه چې "د الله په لاره کې جهاد کول او الله باندې ايمان راوړل د

أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

ټولو نه بهتر عملونه دي" (دي اوربدلو سره) يو کس وردېدلو او عرض يې وکړو چې "يارسول الله!

أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ يُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ماته دا اوايه چې زه د الله په لاره کې اوژلی شم نو آيا زما ګناهونه به بخښلی کېږي؟ نبي عليه السلام وفرمايل

نَعَمْ إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَنْتَ

چې آؤ "خو په يدې شرط چې ته د الله په لاره کې په داسې حال کې وژلی شوی يې چې ته (په سختيو باندې)

صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ.

صبر کونکی يې، ثواب طلب کونکی يې او شاه کولو تبنتيدونکو نه نۀيې بلکې د دښمن په مقابله کې کلک ولاړيې".

ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَيْفَ قُلْتَ؟ فَقَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ

بيانبی صلى الله عليه وسلم دهغې نه وپوښتل چې "تا څه ويلي ؤو؟ چې "ماته دا اوايه چې زه د الله په لاره

فِي سَبِيلِ اللهِ أَيُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ

کې اوژلی شم نو آيا زما ګناهونه به وبخښلی شي.؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل "آؤ! خو به دې شرط چې

وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ

ته صبر کونکی يې، د ثواب طلب کونکی يې، او شاته دراتبنتيدونکو نه يې بلکې د دښمن په مقابله کې کلک ولاړيې،

إِلَّا الدَّيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ قَالَ لِي ذَلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

خو قرض (يعني هغه قرض به نه بخښلی کېږي چې کوم نه وې ادا کړی شوی) او ماته جبرائيل عليه السلام همدغه شان ويلې دي.

توضيح افضل الاعمال: د ايمان نه وروسته افضل عمل کوم يو دی. د دې توضيح د دې باب په حديث نمبر ۱ او حديث نمبر ۲ کې تېره شوې ده. (مرقات: ۳۶۸/۷)

محتسب: د صابر نه مراد په ميدانِ جنګ کې د کفارو مقابله کې صبر کول مراد دی چې ونه يرېږي، ژړا فرياد ونکړي او د محتسب نه مراد د ثواب اميد کول دی. جهاد خالص د الله د رضا لپاره وې، د آخرت ثواب مقصد وې، د دنيا غرض، ځان ښودنه او رياکارې مقصود نه وې، دغه شان هيڅ قومې تعصب او د حمايت جذبه نه وي. (مرقات: ۳۶۸/۷)

كيف قلت: نبي عليه السلام ته د هغه کس پوښتنه معلومه شوه خو په دويم خل يې ځکه وکړه چې هغه کس په غور سره جواب واورې او جواب کې څه اضافه دې هغې باندې پوهه شي. (مرقات ۳۷۰/۷)

الاالدين: د دې نه مراد څه قرض نه دی بلکې حقوق العباد مراد دی. هغه په جهاد او شهادت باندې نه بخښلی کېږي. د دې نه بغير ټول حقوق الله بخښلی کېږي. ملا علي قاري په مرقات کې ليکلې دي چې سمندرې جنګ کې چې څوک شهيد شي نو هغې سره حقوق العباد هم بخښلی کېږي. ځېنو رايتونو کې دي چې په ابتداء کې حکم دغه شان ؤو نو بيا الله تعالى اسانه کړه چې د شهيد نه به حقوق العباد نه بخښلی کېږي چې صاحب حق ته به د قيامت په ورځ د دې په بدل کې ثواب ورکړی کېږي. هغه به راضي شي او شهيد به معاف شي. بهرحال مجاهدينو له ميدان جهاد ته د تللو نه مخکې وصيت کول او د قرض انتظام کول پکار دي. مسلم شريف کې د دې روايت الفاظ داسې دي "**يغفر للشهيد كل ذنب الا الدين**" معلوم شوه چې جهاد او شهادت د ګناهونو د وينځلو د ټولو نه لوي واشنګ مشين (د وينځلو مشين) دی. د راتلونکې حديث تشريح او توضيح هم دغه شان ده.

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْقَتْلُ

او حضرت عبدالله ابن عمرو بن العاص نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل "د الله په

([1]) رقم الحديث ۳۸۰۵ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۱/۳ رقم الحديث (۱۱۷-۱۸۸۵) والترمذي في السنن ۱۸۴/۴ رقم الحديث ۱۷۱۲

فِي سَبِيلِ اللهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّين. رَوَاهُ مُسلم[1]

لاره کې (یعنې جهاد کې) وژل کېدل (د حقوق العباد) نه بغیر ټول ګناهونه وراني".

وژونکی اووژل شوی دواړه په جنت کې

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَضْحَكُ اللهُ تَعَالَى

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "الله تعالی په هغه دواړه

إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا

کسانو پسې خاندې (یعنې د هغوی نه راضي کېږي) هغوی کې خو یو هغه دی چې د الله په لاره کې جهاد کوي

الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ: يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَيُقْتَلُ ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ

او شهید شي (تر دې چې جنت ته داخل شي) بیا د هغې قاتل له د توبې توفیق ورکړي (او هغه د کفر نه توبه

على الْقَاتِلِ فيستشهد" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

وباسي او ایمان راوړي) او بیا د خدای په لاره کې په جهاد کې شهید شي (لهذا هغه هم جنت ته داخل کړی شي)

توضیح: یضحك الله: دالله تعالی د خندلو نه مراد دالله تعالی رضا او خوشحاله کېدل دي. دا د متشابه الفاظو نه دي. د دې بهترین تاویل دا دی چې **"ای مایلیق بشانه"** یعنې څنګه چې د الله د شان سره مناسب وي. میدان جنګ کې د قاتل او مقتول دواړو جنت ته د تللو صورت دا وې چې مثلاً یو کافر مسلمان شهید کړو. مسلمان جنت ته لاړو. بیا هغه قاتل اسلام قبول کړو او د دین لپاره په جنګ کې هغه هم شهید شو. دا هم جنت ته لاړو، نو د هغې مقتول هم په جنت کې دی او دا خپله هم به جنت کې دی. ده شان واقعه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې هم او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته هم ډېر ځل شوې ده.

د شهادت ربنتیني ارمان هم شهادت دی

﴿۲۲﴾ وَعَن سهل بن حنيف قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَأَلَ اللهَ

او حضرت سهل ابن حنیف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کوم کس چې په

([1]) رقم الحديث ۳۸۰۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۹/۶ رقم الحديث ۲۸۲۶ ومسلم في ۱۵۰۴/۳ رقم الحديث (۱۲۸-۳۱۶۶)

([2]) رقم الحديث ۳۸۰۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۹/۶ رقم الحديث ۲۸۲۶ ومسلم في ۱۵۰۴/۳ رقم الحديث (۱۲۸-۳۱۶۶)

الشَّهَادَةَ	بِصِدْقٍ	بَلَّغَهُ	اللهُ
رښتنې زړه (یعنې د رښتیا غوښتلو جذبې سره) دالله تعالی نه د شهادت طلب کونکی وې نو الله تعالی			
مَنَازِلَ	الشُّهَدَاءِ	وَإِنْ	مَاتَ
هغه د شهیدانو درجې ته رسوې اګر که هغه په خپله بستره باندې مړ شې (یعنې په رښتیانیت سره او د رښتیا			
عَلَى فِرَاشِهِ. رَوَاهُ مُسلم[1]			
طلب کولو به وجه د شهیدانو په شان مومې).			

توضیح الشهادة: دا چې د عملو دارو مدار په نیتونو باندې دی نو ځکه رښتنې او پوخ نیت سره چې کوم مسلمان چې جهاد في سبیل الله کې شهادت غواړي او بیا د الله تعالی نه د هغې غوښتنه هم کوي نو الله تعالی هغه د شهادت مقام ته رسوې اګر که هغه په خپل کور کې فرش باندې مړ شي. دې حدیث کې مسلمانانو ته یوه لویه جذبه او حوصله ورکول مقصود ده چې د هر مسلمان به زړه او مازغو کې د جهاد جذبه او شهادت شوق هر وخت په جذبې سره وي. د شهادت د غوښتلو مطلب دا نه دی چې مرګ به د وخت نه مخکې راشي بلکې مطلب دا دی چې کوم مرګ په خپل وخت باندې راتلونکی دی هغه په شهادت کې بدل شي. (مرقات: ۳۷۲/۷)

په میدانِ جهاد کې په نامعلومه ګولۍ لیګدو سره شهادت ملاویږي

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ الرُّبَيِّعَ بِنْتَ الْبَرَاءِ وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ

او حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې (زماترور) حضرت ربیع بنت براء چې د حضرت حارثه ابن سراقه رضی الله عنه مور

أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا

ده (یو ورځ) د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه او وې ویل چې "یا نبي الله! آیا ته به

تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ

زماد ځوې حارثه رضی الله عنه حال به بیان نه کړې؟ او حارثه رضی الله عنه د بدر په ورځ (یعنې جنګ بدر کې) شهید شوی وُو

أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ

او په هغې داسې تیر لږ بدلی وُو چې ویشتونکی یې معلوم نه شو چې څوک وُو. که چرې هغه جنت کې وې

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۰۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۱۷/۳ رقم الحديث (۱۵۷-۱۹۰۹) وأبوداود في السنن ۱۷۹/۲ رقم الحديث ۱۵۲۰

صَبَرْتُ وَإِنْ كَانَ غَيْرُ ذَلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ

نو زه به صبر وکړم او که بل ځای کې وې نو زه به د ژړه کوشش وکړم (یعنې ښه به وژاړم څنګه چې د ښځو عادت وې)"

فَقَالَ: يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل "د حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مورې! حقیقت دا دی چې جنت کې ډېر باغونه دي

وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

او ستا ځوې فردوس اعلی ته رسیدلی دی (چې د جنت د ټولو نه اعلی درجه ده)".

توضیح: ام حارثه: جنګ بدر کې حضرت حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د یو کوهی نه اوبه حاصلول لپاره ناست ؤو چې ناڅاپه د یو اړخ ته تیر راغلو او پرې ولږېدلی چې هغه پرې شهید شو. دا معلومه نه شوه چې تیر د کوم اړخ نه راغلو. احتمال ؤو چې د یو مسلمان د اړخ نه تیر راغلی ؤو او هغه پرې لږېدلی ؤو چې د هغې شهادت ته پرې نقصان رسیدلی وې. دغه شان هغه وخت کې هغه د د میدان جنګ نه هم بهر ؤو او موګر واقع شو. دغه دوه خبرو د حضرت حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور پریشانه کړې وه. چې معلومه نه ده چې د حضرت حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به څه انجام وې. د دغه پریشانئ اخوا کولو لپاره یې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل چې که د حضرت حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انجام ښه وي نو زه به د هغې په مرګ باندې صبر وکړم ګنې بل صورت کې به ژړا فریاد وکړم او ښه ژړه با شروع کړم. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې له تسلي ورکړه او بشارت یې ورته واورولو چې جنت یو نه دی بلکې په مختلفو درجو مشتمل جنتونه دي او ستا ځوي خو په اعلیٰ او اوچت مقام جنت فردوس کې دی. د دې حدیث نه معلومه شوه چې د جهاد به میدان کې د هیڅ یو کس ګولی (کارتوس) لږېدلو سره الله تعالی شهادت ورکوي. نن سبا په جهاد کې غلطئ سره داسې واقعات کېږي. سهم غرب همدغه نامعلومه تیر یا ګولی ته وایي. (مرقات: ۳۷۲/۷)

کهجوري یې وغورځولې او شهید شو

﴿۲۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: انْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (د غزوه بدر په موقع کې) نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغې صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

حَتَّى سَبَقُوا الْمُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ

د (مدینې نه) روان شول او د مشرکانو نه اول د بدر (میدان جنګ) ته ورسیدل. بیا چې (کله اسلامي مجاهدین درسیدلو نه

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۰۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵/۶ رقم الحديث ۲۸۰۹ والترمذي في السنن ۳۰۶/۵ رقم الحديث ۳۱۷۴

وَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

وروسته) د مشرکانو لښکر راغلو او د (مقابلې تیاری شروع شو) نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې

«قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ.

"د جنت په لاره ودریږئ، هغه جنت چې پلنوالی او اوږدوالی یې د ځمکې او اسمان برابر دی. (یو صحابي)

قَالَ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ: بَخٍ بَخٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن حمام انصاری (دې ارشاد اوریدلو سره) وویل چې بنه، بنه! نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پوښتنه وکړه

"مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ: بَخٍ بَخٍ؟ "قَالَ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ

چې ته بنه بنه ولې وویل؟ حضرت عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې "یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ما د الفاظ د اظهار یا د بل

إِلَّا رَجَاءَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا قَالَ:

مطلب لپاره نه دې ویلې بلکې ما په حقیقت کې د دې الفاظو په ذریعې د خپل هغه ارمان اظهار کړی دی چې زه هم جنتي شم.

«فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا قَالَ:

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل "دې کې هیڅ نشته دی ته جنتي یې". راوي وایي چې حضرت عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرْنِهِ فَجَعَلَ

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلې مبارک نه دې بشارت اوریدلو سره د غشو د کڅوړې نه څه کجورې راویستلې

يَأْكُلُ مِنْهُنَّ ثُمَّ قَالَ: لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكل تمراتي

او د هغې په خوړلو یې شروع وکړه او بیا یې وویل چې که چرې زه د دې (تولو) کجورو خوړولو پورې ژوندی وُم

إِنَّهَا الْحَيَاةُ طَوِيلَةٌ قَالَ: فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ

نو ژوند به مې اوږد وي، نو هغې هغه کجورې چې د هغې سره وې وغورځولې او کفارو سره په جنګ شو

حَتَّى قُتِلَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]

تر دې چې شهید شو.

([1]) رقم الحديث ۳۸۱۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۹/۳ رقم الحديث (۱۴۵-۱۹۰۱) وأحمد في المسند ۱۳۷/۳

توضیح: قوموالی جنة: یعنې د جنت دروازه کې د داخلیدلو لپاره ودریږئ، داسې جنت چې پلنوالی یې د ځمکې او اسمان سره برابر دی. فقال عمیر: نو د لږ عمر والا ځوان په جنګ بدر کې د ټولو نه اول شهید شوی ؤو. (مرقات: ۳۷۴/۷)

بخ بخ: با مفتوح او خ ساکن دی. د مبالغې په توګه دا لفظ مکرر دی. یو نسخه کې خ باندې تنوین دی او خ باندې شد هم ویلی کیږي. عرب د خوشحالئ او تعجب، فخر او مدح په وخت کې دا کلمه استعمالوي. د ترجمه "ښه ښه" او "واه واه" کیږي.

نبي کریم ﷺ د حضرت عمیر رضی الله عنه نه دا معلومول غوښتل چې آیا هغې دا کلمه په ارادې سره ولې په ژبه راوړله. یا که هسې په اتفاقې توګه راوتلې ده. حضرت عمیر رضی الله عنه جواب ورکړو چې بغیر د ارادې نه ؤو بلکې رښتنې اراده ده چې دا جنت ماته ملاؤ شې او زماژوند قربان شي. کله چې ورته د نبي کریم ﷺ له اړخ نه دا بشارت ملاؤ شو نو د هیڅ تاخیر نه بغیر حضرت عمیر رضی الله عنه سر په تلې کې کېښودلو او د کجورو ژوؤل او د خوړلو پورې وخت یې هم برداشت نه کړو او شهید شو.

علماؤ دا حدیث او د حضرت عمیر رضی الله عنه دا اقدام د "ځان وژنې" کاروائی لپاره د دلیل په توګه وړاندې کړی دی. یاده دې وې چې کفارو باندې بمبار کول ځان وژنه نه وې بلکې دا به حقیقت کې د بل د وژنې حمله وي. خلک دې ته د ځان وژنې حمله وایې، خو د ملک دننه دغه شان افراتفري خو رول ښه نه دي. (مرقات: ۳۷۴/۷)

نوټ: (د کتاب الجهاد د ابتداء نه تر دې ځای پورې د افریقه زابیا د سفر په دوران کې د مولانا ایوب بوبات سره په لوسا ښار کې ولیکلی شو. جون ۲۰۰۵)

د شهید مطلب او د شهیدانو قسمونه

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا تَعُدُّونَ

او حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ (د صحابؤ) نه وپوښتل چې تاسو خپلو کې

الشَّهِيدَ فِيكُمْ؟ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ

کوم یو کس شهید شمېرئ؟ صحابؤ عرض وکړو چې یارسول الله ﷺ! کوم کس چې د الله په لاره کې

فَهُوَ شَهِيدٌ قَالَ: "إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ:

اوژلی شي هغه شهید دی. نبي کریم ﷺ وفرمایل". دې صورت کې زما په امت کې به د شهیدانو شمېر کم شي.

مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي سَبِيلِ اللهِ

کوم کس چې د الله په لاره کې اوژلی شي هغه خو (حقیقي شهید دی) خو کوم کس چې د الله په لاره (یعنې جهاد)

فَهُوَ	شَهِيدٌ	وَمَنْ	مَاتَ	فِي الطَّاعُونِ
کې (بغیر د قتل و قتال په خپل مرګ مړ شې هغه هم شهید دی. کوم کس چې په وبا کې مړ شې هغه				
فَهُوَ	شَهِيدٌ	وَمَنْ	مَاتَ	فِي الْبَطْنِ
هم شهید دی او کوم کس چې د خپتې په مرض شې هغه هم شهید دی (یعنې دا ټول هم د حقیقي شهیدانو د				
فهوَ	شهيدٌ".	رَوَاهُ مُسلم [1]		
درجو په ثواب کې دي. د هغوې په ټولو احکامو کې نیکي ده)				

توضیح: **الشهید فیکم**: یعنې تاسو خپلو کې څوک شهید شمارئ؟ شهید د فعیل په وزن باندې دی او فعیل کله د اسم مفعول په معنی کې راځي. او کله د اسم فاعل په معنی کې راځي. که دلته شهید د اسم مفعول په معنی کې واخستلی شي نو مطلب به دا وي چې د اعزاز او اکرام لپاره هغې ته فرښتې حاضرېږي. او که شهیدان د اسم فاعل په معنی کې واخستلی شي نو مطلب به دا وي چې شهید خپله د الله د نعمتونو د کتنې لپاره او د الله تعالی د ملاقات لپاره حاضرېږي یا د مرګ په وخت کې د خپلو درجو مشاهده کوي. یا د شهید لفظ د شهادت په معنی کې راځي. یعنې شهید خپله په عمل د اخلاص ګواهي کوي. یا دې ته ځکه شهید وایي ټول مسلمانان او فرشتې د هغې لپاره د جنت ګواهي ورکوي. اسلام کې شهید حقیقت کې هغه کس وی چې د کافرانو سره د مقابلې په دوران کې اوژلی شي یا ظلماً په تیره آله باندې قتل کړی شي او هغه د نیوې شیانو نه د نفع اخستلو نه بغیر مړ شي، دا حقیقي شهید دی. د دې نه بغیر د یو څو شهیدانو ذکر د بحث لاندې حدیث کې راغلی دی. دا د ثواب په اعتبار سره شهیدان دي. د نورو احکاماتو په اعتبار سره شهیدان نه دي. یعنې کوم کسان چې په جهاد کې په طبعي مرګ باندې مړه شي یا چې کوم کس په طاعون سره مړ شي یا د اسهال نه مړ شي یا د غرنه راوغوځېږي او مړ شي یا په اور کې وسوځي او مړ شي یا اوبو کې ډوب او مړ شي یا د ماشوم پیدا کېدو وخت کې ښځه مړه شي یا د علم په حصول کې طالب علم مړ شي. دا ټول داسې شهیدان دي چې صرف د ثواب په اعتبار سره شهیدان شمارل کېږي، ځکه د شهید اصل یو ثواب دی او یو فضل ثواب دی. دا خلک په اصل کې شریک دي. فضل ثواب کې شریک نه دي. علامه طیبي لیکي: "**ومن مات بالطاعون او بوجع في البطن ملحق بمن قتل في سبيل الله**

([1]) رقم الحديث ۳۸۱۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۵۲۱ رقم الحديث (۱۶۵-۱۹۱۵)

لمشاركته اياه في بعض ما ينال من الكرامة بسبب ما كابده من الشدة لا في الاحكام والفضائل"

(طيبي ج ص ۲۸۲)

ترجمه: کوم کس چې د طاعون یا د اسهال نه مړ شي. هغه د مقتول في سبيل الله سره په ځینو فضائلو او کراماتو کې شریک او پېوسته دي ځکه هغې محنت کړی دی، خو په ټولو احکاماتو او د شهید په ټولو فضائلو کې شریک نه دی. شهید حقیقي او شهید حکمي په مینځ کې فرق کوي او ملا علی قاری لیکي: "والمعنى انهم يشاركون في نوع من انواع المثوبات التي يستحقها الشهداء لا المساوات في جميع انواعها" (مرقات ج ص ۲۷۶)

ترجمه: مطلب دا چې شهید حکمي د حقیقي شهیدانو سره په ځینو فضیلتونو کې شریک دی ټول ثواب کې مساوات نشته. دلته هم دا خبره زده کول پکار ده چې د احکاماتو په اعتبار سره شهیدان په درې قِسمه دي: ۱: اولنی هغه شهید دی چې د نیا په اعتبار سره هم شهید دی او د آخرت په اعتبار سره هم شهید دی. دې باندې به د شهید دنیوي احکامات عملي کول کېږي چې د غسل نه بغیر به خپلو جامو کې خښول کېږي دا کامل مؤمن شهید دی چې په آخرت کې به ورته درجې ورکړی کېږي. ۲: دویم هغه شهید دی چې د آخرت په اعتبار سره شهید نه دی. صرف د دنیا په اعتبار سره شهید دی. دا هغه بد عقیده مقتول دی چې یا خو منافق دی یا قادیانی دی یا آغاخانی دی یا رافضي دی یا ذکري، بهائی وغیره دی. داسې خلک شهیدان نه وي، خو په داسې خلکو باندې به دنیوي احکام نافذېږي. ۳: درېم شهید هغه دی چې د آخرت شهید دی، خو د دنیا شهید نه دی. دا هغه کس دی چې د طاعون وغیره نه مړ شوی وي. دوی به په آخرت کې د شهید درجه ورکړی کېږي، خو د شهید دنیوي احکام به دې باندې نه نافذېږي. مزید تفصیلات زما کتاب په دعوت و جهاد کې وګورئ.

شهید کی جو موت ہے وہ قوم کی حیات ہے

شہید کا جو خون ہے وہ خون کی زکوٰۃ ہے

د مجاهد دا جر تقسیم

﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ غَازِيَةٍ
او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل "جهاد کونکې کوم جماعت
أَوْ سَرِيَّةٍ تغزو فتغنم وَتَسْلَمُ
یا جهاد کونکې کوم لښکر چې جهاد وکړو او مالِ غنیمت یې حاصل کړو او صحیح سالم بېرته راغلل.

إِلَّا كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ وَمَا مِنْ
هغې به د هغې دوه دريمې اجر ملاؤ پرې او جهاد کونکې کوم جماعت يا جهاد کونکې کوم لښکر
غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تَخْفُقُ وَتُصَابُ
چې جهاد وکړو او نه صرف دا چې صرف به هغوی مال غنمت نه بلکې د دې جماعت او لښکر چې خلک زخمي شوې دي
إِلَّا تَمَّ أُجُورهم. رَوَاهُ مُسلم[1]
يا شهيدان شوې دې نو د هغوی اجر به پوره پاتې وي".

توضيح غازية: د دې موصوف قطعة يا جماعة دی او دلته لفظ د "او" د شک لپاره نه دی. يا امکان لرې چې د کوم يو راوي شک شوی وي. (مرقات: ۳۷۵/۷)

ثلثي اجورهم: د دې حديث مطلب دا دی چې د مجاهد اجر و ثواب په درې اثلاثو باندې تقسيم کړی شوی دی. غنيمت حاصلول يو ثلث دی او صحيح سالم بل ثلث دی او د جهاد آخري ثواب درېم ثلث دی، نو کوم يو کس چې مالِ غنيمت حاصل کړو او صحيح سالم هم بېرته راغلو. د هغې دوه ثلث لاړل. صرف د آخري ثلث يو ثلث پاتې شو او چا چې دا دواړه ثلوثه حاصل نه کړه نو د هغې اجر کامل او پوره شو، کوم چې درې اثلاث دي. علامه ابن ملک رحمه الله دې حديث باندې د پوهه کېدلو لپاره د دې مطلب داسې بيان کړی دی. فرمايي چې غازي ته مال غنيمت هم حاصل شو او صحيح سالم هم بېرته راغلو نو هغې د جهاد په ثمراتو کې دوه ثمرې ترلاسه کړي او درېمه ثمره دخول جنت دی. چې اوس هم پاتې دی. او که چرې غازي مال غنيمت حاصل نه کړی شو او صحيح سالم بېرته راغلو نو د هغې ثواب پوره محفوظ شو. الغرض يو مجاهد هغه دی چې د صحيح سالم د مال غنمت سره بېرته راغلو. دويم هغه دی صحيح سالم خو بېرته راغلو خو مال غنيمت په لاس نه دی ورغلی او درېم هغه دی چې زخمي يا شهيد شو او مال هم ورته حاصل نه شو. (مرقات: ۳۷۷/۷)

تخفق: د اخفاق نه دی چې د ناکامئ او د محرومئ په معنی کې دی. يعنې جهاد يې وکړو خو مال غنيمت ورته حاصل نه شو. (مرقات: ۳۷۷/۷)

تصاب: دا د مصيبت رسيدلو په معنی کې دی. يعنې زخمي شو يا شهيد شو يا د يو بل کوم يو مصيبت سره مخ شو. (مرقات: ۳۷۷/۷)

---

(1) رقم الحديث ۳۸۱۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۱۵/۳ رقم الحديث (۱۵۴-۱۹۰۶) وأبوداؤد في السنن ۱۸/۳ رقم الحديث ۲۴۹۷

د کوم مسلمان په زړه کې چې د جهاد جذبه نه وي هغه د نفاق په مرګ مړ کیږي

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کوم مسلمان کس چې مړ شي

وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ نفاق .رَوَاهُ مُسلم[1]

او هغې نه جهاد وکړو او نه یې په زړه کې د جهاد کولو خیال تېر شوی وي نو د هغې مرګ به یو قسم له د نفاق مرګ وي".

توضیح: من مات: یعنې کوم کس چې نه جهد وکړو او نه یې د جهاد د غه شان جذبه وساتهله چې ای کاش! زه هم په جهاد کې شریک شوی وی، نه یې د جهاد تیاري وکړه، نه یې اسلحه زده کړه او نه یې وساتله نو د داسې کس چې کله مرګ راشې نو نفاق به وي. د نزول قرآن په وخت کې چې کومو خلکو د جهاد نه انکار وکړو، په جهاد یې اعتراضونه وکړه، قرآن هغوی ته د منافقینو په نوم یاد کړي دي. د دې حدیث نه معلومه شوه چې هر مسلمان باندې واجب ده چې هغه د جهاد شوق ولري او د هغې د پاره تیاري وکړي. جهاد که فرض عین وي یا فرض کفایه وي. (مرقات : ۳۷۸/۷)

د دې حدیث نه حضرت عبد الله ابن مبارک رحمه الله، حسن بصری رحمه الله او سعید بن مسیب رحمه الله استدلال کړی دی چې جهاد صرف یو قِسم دی. چې فرض عین دی. د فرض کفایه هیڅ قِسم نشته دی، خو د امت جمهورو جهاد دوه قِسمه د قرآن د آیتونو په وجه قبول کړی دی. د الله تعالی ارشاد دی : ﴿وفضل الله المجاهدين على القاعدين اجرا عظيما﴾.(نساء : ۹۵)

نفسه: دا نصوب بنزع الخافض دی یعنې "في نفسه".

حقیقي مجاهد څوک دی

﴿۲۸﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو کس د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاصر شو

فَقَالَ: الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ

او عرض یې وکړو چې "یو خو هغه کس دی چې د مال غنیمت لپاره جنګ کوي. یو هغه کس دی چې د ذکر

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۱۳ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۱۷/۳ رقم الحديث (۱۵۸-۱۹۱۰) وأبوداود في السنن ۲۲/۲ رقم الحديث ۲۵۰۲

يُقَاتِلُ	لِلذِّكْرِ	وَالرَّجُلُ	يُقَاتِلُ

(يعني د اوازي او د شهرت چې سمعه ورته وايي) لپاره جنګ کوي او يو هغه کس دی چې د دې لپاره جنګېږي

لِيُرَى	مَكَانُهُ	فَمَنْ	فِي

چې د هغې مرتبه ولیدلی شي (يعني د خپل نرتوب د ښودلو لپاره جنګ کوي چې ريا ورته ويل کېږي نو دې

سَبِيلِ	اللهِ؟	قَالَ:	مَنْ	قَاتَلَ	لِتَكُونَ

(دې) واړو کې کوم يو د الله په لاره کې جهاد (کونکی) دی؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "کوم کس چې

كَلِمَةُ	اللهِ	هِيَ	الْعُلْيَا	فَهُوَ	فِي سَبِيلِ	اللهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

د دې لپاره جنګ کوي چې د الله دين د اوچت وي. حقيقت کې همغه د الله په لاره کې جهاد کونکی دی.

د عذر په وجه شاته پاتې کيدونکو ته د جهاد ثواب ملاويږي

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (کله) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه تبوک نه بېرته راراوان ؤو

فَدَنَا	مِنَ	الْمَدِينَةِ	فَقَالَ:	إِنَّ	بِالْمَدِينَةِ	أَقْوَامًا

او مدينې ته رانژدې شو چې "مدينه کې څه خلک داسې دي (چې د جهاد په سفر کې په ظاهره خو ستاسره نه ؤو خو)

مَا	سِرْتُمْ	مَسِيرًا	وَلَا	قَطَعْتُمْ	وَادِيًا	إِلَّا	كَانُوا	مَعَكُمْ.

نو هيڅ داسې لاره نه ده اختيار کړې ده او داسې هيڅ يوې درې باندې نه يې تل چې په هغې ستاسره نه ؤو

وَفِي	رِوَايَةٍ:	«إِلَّا	شَرِكُوكُمْ	فِي	الْأَجْرِ.

"او يو بل روايت کې يعني کوم کې چې هغه ستانه ؤو په ځای دادی چې کوم "اجر او ثواب کې هغوی ستاسره شريک نه ؤو"

قَالُوا:	يَا	رَسُولَ	اللهِ	وَهُمْ	بِالْمَدِينَةِ؟

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په اورېدلو سره عرض وکړو چې "او هغه خلک په مدينه کې دي؟ (يعني مونږ سره په جهاد کې

قَالَ:	وهُم		بالمدينةِ

شريک نه ؤو خو په اجر و ثواب کې شريک شو؟) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل آؤ او هغه په مدينه کې دي (خو په اجر و ثواب کې

---

(۱) رقم الحديث اخرجه البخاري في صحيحه ۲۷/۶ رقم الحديث ۲۸۱۰ ومسلم في ۱۵۱۲/۳ رقم الحديث (۱۴۹-۱۹۰۴)

حَبسهم الْعذر. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1] وَرَوَاهُ مُسلم عَن جَابر[2]

شريک دي) ځکه د هغوی عذر هغوی منع کړی دي. بخاری او مسلم دا روايت د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړيدی

د مور او پلار د خدمت مقام او اهتمام

﴿۳۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو کس د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او

فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ: أَحَيٌّ والدك؟

جهاد کې د تللو اجازت يې وغوښتلو نو د نبي کريم ﷺ ترينه يې وپوښتل چې "آيا ستا مور او پلار ژوندي دي"؟

قَالَ: نَعَمْ قَالَ: فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ.

هغه عرض وکړو "آؤ" نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل! بيا ته د هغوی په مينځ کې پاتې شه) جهاد وکړه يعنې پوره محنت او

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ:

تونديُ سره د هغوی خدمت کوه چې ستا په حق کې همدغه جهاد دی. (بخاری او مسلم) او د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ

«فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ

دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ته وويل چې بيا ته خپل مور او پلار ته لاړ شه او د هغوی

فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[3]

صحبت خپل کړه يعنې د هغوی خدمت او د هغوی حقوق په ښه طريقه ادا کړه".

توضيح: احی والدك: يعنې ستا مور او پلار ژوندي دي؟ که ژوندي وي نو د هغوی خدمت کوه. تاته به د دې جهاد ثواب ملاوېږي. داسې معلومېږي چې د دې کس نه بغير د دې د مور او پلار د خدمت لپاره بل هيڅ څوک نه ؤو. لهذا د مور او پلار خدمت د هغې په ذمه کړه. چې د فرض عين په درجه کې ؤو، هلته جهاد هم د فرض عين په درجه کې ؤو، ځکه يې هغه کس د مور او پلار د خدمت لپاره مقرر کړو. دا يوه خاصه مجبوري وه. عامه ضابطه نه ده. او کله چې جهاد فرض عين شي نو بيا د مور او د پلار اجازت ضرورت نشته دی. ملا علی قاری په تفصيل سره بيان کړې ده.

---

(1) رقم الحديث ۳۸۱۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲۶/۸ رقم الحديث ۴۴۲۳ وابن ماجه في ۹۲۳/۲ رقم الحديث ۲۷۶۴

(2) رقم الحديث ۳۸۱۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۵۱۸/۳ رقم الحديث (۱۹۱۱-۱۵۹) وابن ماجه في ۹۲۳/۲ رقم الحديث ۲۷۶۵

(3) رقم الحديث ۳۸۱۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۴۰/۶ رقم الحديث ۳۰۰۴ ومسلم في ۱۹۷۵/۴ رقم الحديث ۲۵۴۶/۵

ځپني خلک وايي چې ګوره د مور او پلار خدمت يې په جهاد باندې مقدم کړی دی. لهذا د مور او پلار شتون کې جهاد کې جائز نه دی. د دې جواب دا دی چې آيا د صحابؤ رضي الله عنهم په هغه عظيم کې جماعت کې صرف دا يو کس ؤو. چې مور او پلار يې ژوندي ؤو؟ غزوه تبوک کې ديرش زره (۳۰۰۰۰) صحابه شريک شوي ؤو. آيا د هغه ټولو مور او پلار مړه شوي ؤو؟ حقيقت دا دی چې دلته هيڅ خاصه مجبوري وه. چې د هغې په وجه هغه کس ته اجازت ملاؤ شو. بهرحال که کوم مور او پلار چې غير مسلم ؤو يا د کفارو په مقابله کې جنګ جائز نه ګڼي يا هغه قاديانی وي يا آغا خانی وي، نو د اسې مور او پلار نه د اجازت اخستلو ضرورت نشته دی. دغه شان د تربيت اخستلو لپاره هم د مور او پلار د اجازت نشته دی، ځکه تربيت په هغه مسلمان باندې لازم دی او دې د ژوند خطر هم نشته دی چې مور او پلار پرشانه وي. (مرقات: ۳۸۱/۷)

د فتح مکې نه وروسته د هجرت فضيلت ختم شو

﴿۳۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْفَتْحِ:

او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د فتح مکې په ورځ وفرمايل

(اهجرة بَعْدَ الْفَتْحِ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ

"اوس به د فتح مکې نه وروسته هجرت نه وې خو جهاد او نيت به باقي وي. لهذا کله چې تاسو د (جهاد لپاره)

وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فانفروا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

راوغوښتلی شي نو تاسو ټول ژر ځئ. (ځکه په نفير عام موقع کې د جهاد تعتلل فرض دي او د دې ادا کول په هر يو باندې ضروري ده).

توضيح: لاهجرة: يعنې د مکې نه مدينې چې کوم خاص هجرت شوی ؤو. د هغې فرضيت ختم شو، ځکه اوس مکه دار اسلام شو. اوس هلته د هجرت ضرورت نشته دی. البته د نورې دنيا نه د هجرت فريضه اوس هم باقي ده. يا ده وساتئ چې هجرت د تبښتېدلو نوم نه دی. بلکې ښځه او بچې محفوظ ځای کې پرېښود ل او د ېپرته راتلو نوم هجرت دی ﴿واخرجوهم من حيث اخرجوكم﴾ (بقرة: ۹۱) د الله حکم دی. د هجرت تعريف داسې دی. الله تعالى او د هغې د رسول د رضا لپاره او د خپل ژوند او مال او د ايمان د حافظت لپاره د خپل خوږ وطن د پرېښودلو نوم هجرت دی: ۱: د هجرت يو قسم دا دی. چې د دار کفر نه دار امن اړخ ته د سړی هجرت وکړي بلکه ځنګه چې د مکې نه حبشې اړخ ته وشو. ۲: دويم قسم د دار کفر نه دار اسلام اړخ ته هجرت کول دي، لکه ځنګه چې د مکې نه مدينې اړخ ته وشو. ۳: دريم قسم هجرت دا دی چې سړی د دار الفتن نه دار التقوىٰ اړه ته هجرت وکړي لکه چې ځنګه چې د پاکستان نه خلک د طالبانو اسلامي خلافت اړخ ته هجرت کولو. نن سبا هلته امريکه په

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۱۸ أخرجه في صحيحه ۳/۶ رقم الحديث ۲۷۸۳ ومسلم في ۹۸۶/۲ رقم الحديث (۴۴۵-۱۳۵۳)

جهاد ورته نه شي ويل کېدی. دغه د نفس په ذريعې جهاد هغه دی چې د چا نفس د جهاد په ميدان کې په کار راشې او جهاد ته ترېنه فائده ورسېږي. صرف کور کې محنت او عبادت ته جهاد بالنفس نه شي ويل کېدی. دغه شان جهاد بالسان هغه وې چې د چا تقرير او ترغيب او ترهيب نه د جهاد ميدان ته فائده ورسېږي. صرف د پټکي ترلو متلعق يو ساعت تقرير کولو ته جهاد نه شي ويلی کېدی. ژبه باندې جهاد دا هم دی چې د دې فضائل او مسائل بيان کړی شي او هر وخت د مجاهدينو لپاره دعا وکړي. ژبې سره جهاد دا هم دی چې په دښمن باندې ويره واچوې، هغې ته سختې جملې وويل شي او د جهاد متعلق اشعار وويل شي او د ترغيب لپاره نظمونه وويل شي. حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نورو شاعران صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ همدغه شان کړی دی. تليغ والا چې کوم بيان کوي. دا جهاد نه دی. وعظ او بيان دی.

د کفاور ککرۍ والوځوئ او جنت وګټئ

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْشُوا السَّلَامَ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "سلام عام کړئ (يعنې هر اشنا او نااشنا ته سلام

وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَاضْرِبُوا الْهَامَ

کوئ) او (غريب او محتاجه خلکو ته) خوراک ورکوئ او د کفارو (فتنې او د شر) سر چت کړئ، د

تُوَرِّثُوا الْجِنَانَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حديثٌ غَرِيب[1]

جنت وارثان به جوړ کړی شئ". (روايت کړې دې ترمذی)

په جهاد کې د مدافعه کولو فضيلت

﴿۳۶﴾ وَعَن فَضَالَةَ بنِ عُبيدٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كُلُّ مَيِّتٍ

او حضرت فضاله ابن عبيد د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "هر مړی خپل عمل

يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا

باندې اختتام ته رسېږي (يعنې د هر کس عمل تر هغې د ژوند پورې وي. د مرګ نه وروسته د هغې عمل ختم

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۲۲ أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۵۲ رقم الحديث ۱۸۵۴

الَّذِي مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللهِ فَإِنَّهُ يُنَمَّى لَهُ عَمَلُهُ

شي چې پرې دې ته ثواب ملاؤ شي) خو کوم کس چې د الله په لاره کې (يعنې جهاد) کې ساتنه کولو کې

إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيَأْمَنُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[1] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ عقبة بن عَامِر[2]

مړ نو هغې لپاره د هغې تر قيامت پورې زياتېږي او هغه د قبر د عذاب او د فتنې نه په امن کې وي".

په جهاد کې د لږ وخت لپاره د شرکت فضيلت

﴿۳۷﴾ وَعَنْ معاذِ بن جبلٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ

او حضرت معاذ ابن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلې دي چې "کوم کس

قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ

د الله په لاره کې د اوښې د لوشلو هومره (يعنې د لږ وخت لپاره) هم وجنګېدلو. د هغې لپاره په (ابتداء) کې

الْجَنَّةُ وَمَنْ جُرِحَ جُرْحًا فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ

جنت واجب شو. کوم کس چې د الله په لاره (جهاد) کې (د دښمنانو د اسلحو باندې) زخمي شو يا هغه د زخم په وجه

نُكِبَ نَكْبَةً فَإِنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

کوم يو تکليف کې اخته شو، نو هغه زخم به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راځي لکه څنګه چې هغه په دنيا کې

كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ لَوْنُهَا الزَّعْفَرَانُ

وُو. (يعنې هغه کس به د قيامت په ورځ په داسې حال کې راځي چې د هغې زخم به ډير په تازه حالت کې وي) او

وَرِيحُهَا الْمِسْكُ وَمَنْ خَرَجَ بِهِ خُرَاجٌ فِي سَبِيلِ اللهِ

او د کوم کس په (بدن کې) د الله په لاره کې (پولئ) راوښتله نو (د قيامت په ورځ) به هغه پولئ باندې يا هغه

فَإِنَّ عَلَيْهِ طَابَعُ الشُّهَدَاءِ.

پولئ والا باندې د شهيدانو مهر وي د دين د اوچت والي او د حفاظت لپاره کوشش کړي وُو، نو هغې ته به انعام ورکړی شي

---

(1) رقم الحديث ۸۳۲۳ أخرجه ابوداود في السنن ۲۰/۳ رقم الحديث ۲۵۰۰ والترمذي في السنن ۱۴۲/۴ رقم الحديث ۱۶۲۱

(2) رقم الحديث ۸۳۲۴ أخرجه الدارمي في السنن ۲۷۸/۲ رقم الحديث ۲۴۲۵ .

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

کوم به چې مجاهدین اسلام ته ملاوېږي.

توضیح: فواق ناقة: اوښه چې کله لشلی کېږي نو د هغې بچی تي ته پرېښوستلی کېږي. اوښه هغه د خپل بچې لپاره پرېږدي. سړی راشي او هغه بچې ورله اخوا کړي او هغه شوده خپله راولشي. اوښه په دې وجه نور شوده هم بند کړي. سړی چالاکه وي او د اوښی بچې ېږته د هغې د تي لاندې راولي. اوښه داسې ګڼي چې بچی راغلو هغه به بیا شوده غولانځي ته راپرېږدي. سړی بیا راشي او بچې ورله اخوا کړی او شوده ترېنه خپله راوباسي. دغه شان معامله دوه درې ځل کېږي. یو ځل شوده راویستل او بیا په دویم ځل راویستلو په مینځ کې کومه مینځنۍ وقفه ده هغې ته فواق ناقة وایي. چې مراد ترېنه لږه وقفه ده. ځینو شارحینو د فواق مطلب دا بیان کړی دی چې شوده لوشونکی چې کله د اوښې په غولانځه باندې زور کوي او د شوده راښکلو لپاره خپل لاس لاندې اړخ ته راکاږي او بیا یې پاس بوځي، نو د هغې په مینځ کې چې کومه لږه وقفه ده هغې ته فواق ناقة وایي. یعنې که دومره معمولي وخت هم چا د جهاد په مقدس جنګ کې برخه واخستله نو د هغې لپاره به جنګ واجب وي.

جرح جرحاً: دښمن او د کفارو له اړخ نه د زخم لږېدلو به معنی کې دی.

نکبة: د دې نه عام مصیبت مراد دی. چې لاره کې حادثاتي توګه باندې رامینځ ته شي.

خراج: بدن کې د داې یا د پولئ راښتلو به معنی کې دی. "خ" باندې ضمه او "ر" باندې شد دی.

طابع الشهداء: طابع مهر ته وایي، خو دلته مطلق علامت دی. (مرقات ۳۸۹/۷)

جهاد کې یوه روپئ مصرف کړئ او د اؤوه سوؤ ثواب وګټئ

﴿۳۸﴾ وَعَن خُرَيمِ بن فاتِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ

او حضرت خریم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن فاتک فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کوم کس چې د

أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللهِ كُتِبَ لَهُ بسبع مائةٍ

خدای په لاره کې (یعنې جهاد) کې د خپل مال نه څه هم خرچ کوي. د هغې لپاره اؤوه سوه (۷۰۰)

---

[1] رقم الحديث ۸۳۲۵ أخرجه ابوداود في السنن ۶۴/۳ رقم الحديث ۲۵۴۱ والترمذي في السنن ۱۵۸/۴ رقم الحديث ۱۶۵۷

ضعف. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ[1]
چنده ثوابونه لیکلی کېږي. (ترمذی، نسائی)

توضیح: د دې حدیث توضیح د دې باب په حدیث ۶۹ کې به تفصیل سره راځي. څه لږ انتظار وکړئ.

بهترینه صدقه

﴿۳۹﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْضَلُ الصَّدَقَاتِ
او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "بهترینه صدقه د هغه
ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللهِ وَمِنْحَةُ خَادِمٍ
خیمې سیوری دی چې د خدای په لاره کې جهاد کې ورکړی شي او بهترینه صدقه د الله په لاره د
فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ
خادم صدقه کول یا د داسې اوښې ورکول دي چې د نر د جفتي کولو قابله وي (یعنې د خدای په لاره کې د اوښې ورکول افضل دي.
فِي سَبِيلِ اللهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]
چې نر ته د جفتي کولو عمر ته رسیدلي وي. چې د نورو په کار راشي.

توضیح: فسطاط: لوي خیمې ته وایي یعنې یو مجاهد ته یې خیمه ورکړه چې هغې په کې د سر د پټولو مقوقع ملاؤ شوه. دا بهترینه صدقه ده. (مرقات: ۳۸۹/۷)

منحة: د صدقې یا د کمک په توګه یو مجاهد ته غلام ورکول، دا بهترینه صدقه ده. (مرقات: ۳۹۰/۷)

طروقة فحل: فحل اوښ ته وایي او طروقه اوښې ته وایي چې د نر اوښ د جفتي کولو قابله وي. یعنې ځوانه اوښه یو مجاهد ته ورکول بهترینه صدقه ده. معلومه شوه چې د جهاد په لاره کې مال خرچ کول د ټولو لارو نه افضله ده. (مرقات: ۳۹۰/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۲۶ أخرجه الترمذي في السنن ۱۴۳/۴ رقم الحديث ۱۶۲۵ والنسائي في ۴۹/۶ رقم الحديث ۳۱۸۶

(۲) رقم الحديث ۳۸۲۷ أخرجه الترمذي في السنن ۱۴۴/۴ رقم الحديث ۱۶۲۷ وأحمد في المسند ۲۷۰/۵

د مجاهد فضیلت

﴿۴۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكَى

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "هغه کس به دوزخ ته نه ځي

مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ وَلَا يَجْتَمِعَ عَلَى عَبْدٍ

چې د خدای د وېرې نه یې ژړلې وي تر دې چې شوده ببرته تئینو ته ببرته لاړ نه شي او هیڅ بنده باندې

غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ.

د الله د لارې ګرد او د دوزخ لوړی یوځای کېدی نشي. حاصل دا چې مجاهد به دوزخ ته نه ځي.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَزَادَ النَّسَائِيُّ فِي أُخْرَى:

(ترمذي او نسائ کې یو بل روایت کې دا الفاظ هم نقل کړی شوې دي چې "او د هیڅ مسلمان (د پوزې)

«فِي مَنْخِرَيْ مُسْلِمٍ أَبَدًا وَفِي أُخْرَى:

دواړو سورو کې د خدا د لارې ګرد او د دوزخ لوړی کله هم یوځای کېدی نه شي. او د نسائي په روایت کې

فِي جَوْفِ عَبْدٍ أَبَدًا وَلَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيمَانُ فِي قَلْبِ عَبْدٍ أَبَدًا[1]

دا الفاظ دي چې "د بنده په خیټه کې (د خدای د لارې ګرد او د دوزخ لوړی کله هم یوځای کېدی نه شي)

توضیح: منخری: منخر د پوزې سوري تته وایي یعنې د پوزې سوری.

الشح: یعنې هیڅ زړه کې کنجوسي او ایمان نه شي ځای کېدی. شح او بخل کې دومره ف رق دی چې بخل عامه کنجوسئ ته وایي او شح یو خاص قِسمه کنجوسئ ته وایي. چې کوم سړی حرامه خوري او د ادا کولو واجب زکوة ورنکړي او د نورو مال خوري. (مرقات: ۳۹۱/۷، ۳۹۰)

پوښتنه: دا ده چې د بخل او کنجوسئ په وجه آیا سړی د ایمان نه خارج کېږي؟

جواب: علامه طیبي رحمه الله ورکړی دی. فرمایي. چې د انسان دننه دري شیان دي. چې انسان ترېنه مرکب دی. روح، نفس او زړه. لغوي اعتبار سره زړه ته ځکه زړه وایي چې دي کې د حرکت او د انقلاب معنی پرته ده. وی کېږي دا چې کله دا زړه حرکت کوي نو د روح په صفاتو باندې متصف شي چې زړه پرې روښانه او منور شي. او کله کله چې دا زړه حرکت کوي نو د نفس په صفاتو سره

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۲۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۷۸/۴ رقم الحديث ۱۶۳۳ والنسائي في ۱۲/۶ رقم الحديث ۳۱۰۷.

متصف شي نو ناپاکه شي. د نفس په صفاتو کې یو شح او بخل دی. کله چې زړه د شح او بخل په ناپاکئ کې ناپاکه شي نو دا تور شي. کله چې زړ تور شي تو د ایمان رڼا ختمه شي، ځکه یې وفرمایل چې شح او ایمان یو ځای کېدی نه شي. (الکاشف: ۳۵۱/۷، ۳۵۰)

یعود اللبن فی الضرع: دا د تعلیق بالمحال یو مثال دی، ځکه د تئینو نه لوشلې شوده بېرته تئینو کې نه شي تلی.

﴿۴۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَيْنَانِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دوه سترګې داسې دي

لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ: عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ

چې د (دوزخ) اور به ترېنه نه شي لږېدلی. یوه خو هغه سترګه چې د خدای د وېرې نه یې ژړلې وي.

وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللهِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

او بله هغه سترګه چې د خدای په لاره (یعنې جهاد) کې (د کفارو نه د مجاهدینو) نه ساتنه کولو کې شپه تېره کړي وي.

په جهاد کې لږ وخت تېرول په کور کې د اویا کاله لمونځ نه افضل دی

﴿۴۲﴾ وَعَنْ أَبِي هريرةَ قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (د یو سفر دوران کې) د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو صحابي د غر په

بِشِعْبٍ فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ فَأَعْجَبَتْهُ

دره باندې تېر شو چې د خوږو اوبو یوه چینه په کې وه، نو هغه چینه په هغې باندې د ډېره ښه اولږېدله.

فَقَالَ: لَوِ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ فَأَقَمْتُ فِي هَذَا الشِّعْبِ

هغې وویل چې کاش! زه د خلکو نه جدا والی اختیار کړم او راشم او په دره کې اوسیږم؟ کله چې

فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته د دې خبرې ذکر وکړی شو نو نبي کریم ﷺ (هغه صحابي) ته وفرمایل چې

«لَا تَفْعَلْ فَإِنَّ مَقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ

"ته داسې نه کوه ځکه تاسو کې چې تاسو کې د یو کس د الله په لاره (یعنې جهاد کې) قیام کول

---

[1] رقم الحديث ۳۸۲۹ أخرجه الترمذي في السنن ۱۵۰/۴ رقم الحديث ۱۶۳۹.

أفضل من صلاته سبعين عاما ألا تحبون أن يغفر الله لكم

کور کې د اویا کالو لمونځ کولو نه بهتر دی. آیا تاسو دا نه خوښوئ چې الله تعالی اوبخښې او

ويدخلكم الجنة؟ اغزوا في سبيل الله من قاتل

تاسو (په ابتداء کې) جنت ته داخل کړي. د خدای په لاره کې جهاد کوئ (ځکه) کوم کس چې د خدای په لاره کې

في سبيل الله فواق ناقة وجبت له الجنة. رواه الترمذي[1]

د اوښې د لوشلو په قدر (یعنې د لږ ساعت لپاره) هم جهاد وکړو د هغې لپاره جنت واجب کړی شو".

دزرو ورځو د عبادت نه جهاد افضل عمل دی

﴿۴۳﴾ وعن عثمان رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:

او حضرت عثمان رضي الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقلک وي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم وفرمایل "د الله

رباط يوم في سبيل الله

په لاره یعنې (جهاد) کې د کفر په سرحدونو باندې یو ورځ هم د چوکیدارئ په خدمت کې تېرول د

خير من ألف يوم فيما سواه من المنازل. رواه الترمذي والنسائي[2]

کورونو د عبادتونو د زرو ورځو پورې د مشغول کېدلو نه بهتر دی". (ترمذی، نسائی)

جنت ته اول داخلیدونکې خلک

﴿۴۴﴾ وعن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "عرض علي

او حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم وفرمایل زما مخې ته اول هغه درې

أول ثلاثة يدخلون الجنة: شهيد

کسان پیشنهاد کړی شول (په شروع کې به) جنت ته داخلیږي. هغې کې خو یو کس شهید دی.

وعفيف متعفف وعبد أحسن

دویم هغه کس دی چې د حرامونه ځان بچ کړي او سوال نه کوي او دریم کس هغه غلام دی چاچې د خپل الله (هم) بنه اطاعت

---

(1) رقم الحديث ۳۸۳۰ أخرجه الترمذي في السنن ۱۵۵/۴ رقم الحديث ۱۶۵۰ وأحمد في المسند ۵۲۴/۳

(2) رقم الحديث [illegible] أخرجه الترمذي في السنن ۱۶۲/۴ رقم الحديث ۱۶۶۷ والنسائي في ۴۰/۶ رقم الحديث ۳۱۶۹

عبادةَ اللهِ ونصح لمواليه". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]
او عبادت وكړو او د خپل مالكانو يې خير خواه ؤو".

توضيح: دا خلک به د انبياؤ نه وروسته د ټولو نه اول جنت ته داخليږي او صرف دري کسان نا بلکې دري قِسمه خلک به وي چې په اول نمبر کې به شهيدان وي، بيا به پاکدامن خلک وي چې د فسق او فجور او د سوال نه محفوظ ؤو. درېم نمبر باندې فرمانبردار ه غلام دی چې اسلام يې قبول کړی ؤو او د مولی اطاعت کړی وي.

افضل مجاهد او افضل شهيد

﴿۴۵﴾ وَعَن عبدِ الله بنِ حُبَشِيٍّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ
او د حضرت عبدالله ابن حبشی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل شو چې
أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ:
(د لمونځ د) عملونو (په ارکانو کې) کوم يو عمل (رکن) افضل دی؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل
طُولُ الْقِيَامِ قِيلَ: فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: جُهْدُ الْمُقِلِّ
"اوږد قيام کول" وپوښتلی شو "کوم صدقه افضله ده". ويې فرمايل "د مفلس او محتاجه کوشش کول، يعنې هغه خيرات
قِيلَ: فَأَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟
افضل دی چې يو مفلس او محتاجه د خپلې ولږې باوجود محنت او مشقت کوي" وپوښتلی شو "کوم هجرت بهتر دی"؟
قَالَ: مَنْ هَجَرَ مَا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ
ويې فرمايل "د هغه کس هجرت چې هغه شي پرېږدي چې الله حرام کړی دی يعنې که د هجرت معنی دارالکفر
قِيلَ: فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مَنْ جَاهَدَ
پرېښودل او دارالسلام ارخ ته تلل دي وپوښتلی شو "کوم جهاد بهتر دی." ويې فرمايل "د هغه کس جهاد چې
الْمُشْرِكِينَ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ. قِيلَ: فَأَيُّ
په خپل مال او د خپل نفس په ذريعه د مشرکانو سره جهاد وکړي". وپوښتلی شو "جهاد کې کوم

([1]) رقم الحديث ۳۸۳۲ أخرجه الترمذي في السنن ۱۵۱/۴ رقم الحديث ۱۶۴۲ وأحمد في المسند ۴۲۵/۲

الْقَتْلِ أَشْرَفُ؟ قَالَ: مَنْ أُهْرِيقَ دَمُهُ
وژنه بهتره ده يعني كوم شهيد افضل دی"؟ويې فرمايل "د هغه كس وژنه چې د هغې وينه تويه كړی شي
وَعُقِرَ جَوَادُهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
او د چا د اَس د څټ وينښتان چې غوځ كړی شي يعني خپله هم ؤوژلی شي او د هغې اَس هم ؤوژلی شي".
وَفِي رِوَايَةٍ للنسائي: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ الأعمالِ أفضلُ؟
او د نسائی په روايت كې داسې دي چې د نبي كريم ﷺ وپوښتلی شو چې "اعمالو كې كوم عمل افضل دی"؟
قَالَ: إِيمَانٌ لَا شَكَّ فِيهِ وَجِهَادٌ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "هغه ايمان چې هيڅ قسمه شک په كې نه وي. هغه جهاد چې هغې (د حاصل كړی شوې
لَا غُلُولَ فِيهِ وَحَجَّةٌ مَبْرُورَةٌ. قِيلَ: فَأَيُّ الصَّلَاةِ
مال غنيمت باره كې) هيڅ قسمه خيانت نه وي كړی شوی او حج مقبول". بيا وپوښتلی شو چې "لمونځ كې كوم شی
أَفْضَلُ؟ قَالَ: طُولُ الْقُنُوتِ. ثُمَّ اتفقَا فِي الْبَاقِي
افضل دی"؟ويې فرمايل "اوږد قيام كول". د دې نه وروسته د حديث الفاظ (ابوداؤد او نسائی) يو شان نقل كړي دي.

توضيح: افضل يو نوع دی چې صرف يو عمل په كې نه راځي بلكې د نوع دلاندې ډېر عملونه افضل كېدی شي.

جهد المقل: يعني بې وسه او بې كسه غريب مفلس چې كومه صدقه كوي هغه ډېره ښه ده. دلته د دم نه مراد د وينې توېدل دي. يعني خپله شهيد شي.

عقر جواده: يعني د هغې اَس هم ؤوژلی شي. دغه شان دې كس خپله ټوله سرمايه قربان كړه. (مرقات: ۳۹۵/۷) ګويا:

جو پاس تھا وہ سب لوٹا ہی دیا حق تو یہ ہے کہ حق ادا ہی کیا

د شهيد شپږ امتيازي نښانې

﴿۴۶﴾ وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "
او حضرت مقدام ابن معدی كرب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "د الله په نزد

---

[1] رقم الحديث أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۶/۲ رقم الحديث ۱۴۴۹ والنسائي في ۵۸/۵ رقم الحديث ۲۵۲۶

لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللهِ سِتُّ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دفعةٍ

د شهيد لپاره شپږ (۶) خصلتونه (يعني شپږ امتيازي) انعامونه دي ۱: په اولنۍ څل به د دې مغفرت کېږي

وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

۲: دې ته به (د ساه ويستلو وخت کې) خپله ځای ښودلی کېږي ۳: هغه به د عذاب قبر نه محفوظ وي

وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا

۴: هغه به د لوئې وېرې (يعني د اورد عذاب) نه په امن کې وي ۵: د دې په سر باندې به د عظمت او وقار تاج کيښودلی شي

خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ويزوَّجُ ثنتينِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ

چې ياقوت به يې د دنيا او د هغې د ټولو شيانو نه بهتر او ګران وي ۶: د هغې په زوجيت کې به د لوي سترګو والا حورې

وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقْرِبَائِهِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

ورکړی کېږي او د هغې د خپلو خپلوانو نه د اويا (۷۰) کسانو په حق کې د دې شفاعت قبول کړی کېږي.

توضيح: **اول دفعة**: دال باندې زبر او پيش دواړه کېدی شي. د شهيد د بدن نه د وينې اولنۍ قطره چې په زمکه باندې غورځېږي هغه مراد ده. مطلب دا چې د وينې د غه اولنۍ قطره ليدلو سره شهيد بخښلی کېږي. (مرقات: ۳۹۷/۷)

ويُرى: يعني د ساه وتلو وخت کې شهيد ته د هغې مقام ښودلی کېږي. دا دواړه خصلتونه په يو خصلت کې شمارل پکار دي چې د حديث شپږ تعداد برقرار پاتې شي. ګنې اؤوه خصلتونه به شي. (مرقات: ۳۹۷/۷)

الفزع الاكبر: د لويې وېرې نه د قرآن د دې آيت اړخ ته اشاره ده "لايحزنهم الفزع الاكبر" د دې نه يا د قيامت نفخه اخره مراد ده يا د جهنم عذاب مراد دی يا اورته تلل مراد دې يا د قبر عذاب مراد دی. (مرقات: ۳۹۷/۷)

سبعين: يعني د خپلو خپلوانو کې به د اويا (۷۰) داسې کسانو شفاعت کوي چې د هغوی لپاره به د دوزخ فيصله شوې وي.

د ځينې علماؤ نه ما اورېدلي دي چې د شهيد په دې اعزاز کې دا خصوصيت هم دی چې هغې ته اختيار وي چې د دې امت د کسانو شفاعت وکړي يا په مخکنۍ امتونو کې د چا شفاعت وکړي او د اوياؤ شمېر پوره کړي، هېڅ پابندي به پرې نه وي. (مرقات: ۳۹۸/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۳۴ اخرجه الترمذي في ۱۶۱/۴ رقم الحديث ۱۶۶۳ وابن ماجه في ۹۳۶/۲ رقم الحديث ۲۷۹۹

څوک چې جهاد ونه کړي ايمان به يې ناقص وي

﴿۴۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَقِيَ اللهَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "کوم کس چې د الله په در

بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ

کې په داسې حال کې حاضر شي چې هغې باندې د جهاد هيڅ اثر نه وي گويا کې د الله سره په داسې

لَقِيَ اللهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

حال کې ملاويږي چې د هغې دين به ناقص وي".

توضيح بغير اثر: د اثر نه مراد جسماني زخم هم کېدی شي. چې ظاهري اثر به وي او ښکاري به. دغه شان د دې نه معنوي اثر هم مراد کېدی شي چې د جهاد په لاره کې به د ګرد او دوړو لږېدلو سره جوړېږي يا جهاد کې د مال خرچ کولو سره او د نورو مشقتونو برداشت کولو سره حاصليږي. بهرحال يو مسلمان باندې لازم دي چې د جهاد په وجه هغې ته جهاد ظاهري يا جهاد معنوي علامت حاصل شي. چې د هغې د ايمان د پوره کېدلو سند به جوړ شي. (مرقات : ۳۹۷/۷)

ثلمة: ثا باندې ضمه ده او لام ساکن دی. نقصان او خلل ته وايي. يعنې که د قيامت په ورځ د چا په بدن باندې د جهاد ظاهري يا معنوي علامت نه وي نو د هغې ايمان به ناقص وي.

ځينې خلک وايي چې اول ايمان جوړ کړئ بيا جهاد ته لاړ شئ. حال دا چې حديث وايي چې د جهاد نه بغير ايمان نه جوړېږي. (مرقات : ۳۹۸/۷)

شهيد د مرګ د تکليف نه محفوظ وي

﴿۴۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الشَّهِيدُ لَا يَجِدُ أَلَمَ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "شهيد د خپل مرګ بس دومره تکليف

أَحَدُكُمُ الْقَرْصَةَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[2]

محسوسوي لکه څومره تکليف چې تاسو کې يو کس ته د مېږي په چيچلو محسوسېږي.

---

(1) رقم الحديث ۳۸۳۵ أخرجه الترمذي في السنن ۱۶۲/۴ رقم الحديث ۱۶۶۶ وابن ماجه في ۹۲۳/۲ رقم الحديث ۲۷۶۳

(2) رقم الحديث ۳۸۳۶ أخرجه الترمذي في السنن ۱۶۳/۴ رقم الحديث ۱۶۶۸ والنسائي في السنن ۳۶/۶ رقم الحديث ۳۱۶۱ .

توضيح: الم القرصة: الم درد ته وايي او قرصه د مېږي چيچلو وايي يا په دوه ګوتو باندې تق کولو ته وايي. مطلب دا دی چې شهيد به د شهادت د خوند په وجه د مرګ تکليف نه محسوسوي. دا احتمال هم دی چې د آخرت د نعمتونو د کتلو په وجه به هغه تکليف د مېږي د چيچلو برابر ګنلی کېږي. د مېږي چيچلو په وجه بدن کې خوږ خوږ درد محسوسېږي. (مرقات: ۳۹۹/۷)

جهاد کې توپدونکی قطره دوينې محبوب ترين شی دی

﴿۴۹﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ شَيْءٌ

او حضرت ابوامامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د

أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ: قَطْرَةِ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ

خدای په نزد د دوه قطرو او د نښانو نه زيات محبوب هيڅ يو شی نه دی. يو خو د خدای د وېرې نه توپې شوې

وَقَطْرَةِ دَمٍ يُهْرَاقُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَمَّا الْأَثَرَانِ:

اوبنکو قطره ده او دويمه قطره د وينې ده چې د خدای په لاره توپه شوې ده، نو دوه نښانو کې يوه

فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ

نښانه خو هغه ده چې د الله په لاره جهاد کې قائم شوی وي چې د الله د ارخ نه په فرض کړی شوې

مِنْ فَرَائِضِ اللهِ تَعَالَى". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[1]

شيانو کې د يو فرض شې په سلسله کې پيدا شوې وي". (روايت کړې دې ترمذی)

توضيح: اثران: يو اثر خو د جهاد د عمل نه دی چې تفصيل يې تېر شوی دی. دويم اثر د عبادت فريضه ده چې په ژمې کې په عبادت باندې لاس او پښې اوچوي. ياد سجده په اندامونو باندې نښان جوړ شي يا د روژه دار د خولې نه د خشبوې اثر ظاهر ېږي يا د حاجي په بدن باندې د حج دوران کې د ګرد او دوړو لړېدلو نه اثر ظاهر ېږي. دا د فرائضو اثر دی. (مرقات: ۳۹۹/۷)

په سمندر کې سفر د سخت ضرورت نه بغير مه کوئ

﴿۵۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَرْكَبِ الْبَحْرَ

او حضرت عبدالله ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "تاسو په ارادې

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۳۷ اخرجه الترمذي في السنن ۱۶۳/۴ رقم الحديث ۱۶۶۹

إِلَّا حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللهِ فَإِنَّ
سره د حج يا عمره يا د الله په لاره کې جهاد ته د تللو نه بغير په درياب کې سفر مه کوئ، ځکه د
تَحْتَ الْبَحْرِ نَارًا وَتَحْتَ النَّارِ بَحْرًا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
درياب د لاندې اور دی او د اور د لاندې درياب دی".

توضيح لاتركب البحر: يعنې حج او عمره او جهاد لپاره په سمندر کې سفرکوئ. د دې نه بغير سمندر کې د سفر کولو کوشش مه کوئ، ځکه د سمندر د لاندې اور دی. دا کلام يا حقيقت باندې محمول دی چې ربښتيا هم د سمندر لاندې اور دی. چې د کوم ارخ ته د "والبحر المسجور" کې اشاره موجود ده. د دې اور د لاندې بيا اوبه دي. او بيا هوا ده. دا ټول د الله په قدرت باندې قائم دي. يا دا کلام مجاز باندې محمول دی يعنې د سمندر دننه سختې خطرې موجودې دي. غرق کېدلو قوې امکانات دي. لهذا د ضروري سفر نه بغير د دې سفر کول پکار نه دی. (مرقات : ۴۰۰/۷)

بدریائے منافع بیشمار است اگر خواہی سلامت بر کنار است

﴿۵۱﴾ وَعَن أُم حَرَام عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ
او د حضرت ام حرام رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل درياب او سمندر کې چې په
الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ
کوم کس باندې تاوېدل شروع شي او د هغې په وجه هغې ته وجه هغې ه کانګې ورځې نو هغې ته به
أَجْرُ شَهِيدٍ وَالْغَرِيقُ لَهُ
د يو شهيد ثواب ملاوېږي او کوم کس چې د سفر دوران کې درياب کې ډوب شي نو هغې ته به د
أَجْرُ شَهِيدَيْنِ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]
دوه شهيدانو ثواب ملاوېږي.

توضيح المائد: ما ديميد نه د المائد اسم فاعل دی. د سر کرځېدلو او تاوېدلو ته وايي. سمندر کې داسې کېږي. سمندرو څپې او د طوفان په وجه داسې کېږي. بيا کانګې سړي له ورځي. کانګو چې کوم مقيد دی، دا

([1]) رقم الحديث ۳۸۳۸ أخرجه ابوداود في السنن ۱۳/۳ رقم الحديث ۲۴۸۹.

([2]) رقم الحديث ۳۸۳۹ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵/۳ رقم الحديث ۲۴۹۳.

اتفاقي دی. کانګې که وي يا نه وي مجاهد ته په سمندر کې د دې سفر ثواب ملاوېږي. د حج او علم په سفر کې هم دغه شان ثواب ملاوېږي، خو د تجارت لپاره چې کوم سفر کېږي. هغې کې دا ثواب نشته دی. (مرقات: ۴۰۱/۷)

په جهاد کې هر قسمه مرګ د شهادت دی

﴿۵۲﴾ وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ

او حضرت ابو مالک اشعری رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې کوم کس

فَصَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

د الله په لاره کې (يعنې د جهاد پشان د مقصدونو لپاره د کور) نه ؤوتلو (او د زخمي کېدلو په وجه)

فَمَاتَ أَوْ قُتِلَ أَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ أَوْ بَعِيرُهُ أَوْ لَدَغَتْهُ

مړ شو يا هغې ؤوژلی شو يا د هغې اَس يا اوښ هغه د پښو لاندې چيت کړو يا يو زهريله ځاروی

هَامَّةٌ أَوْ مَاتَ فِي فِرَاشِهِ بِأَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللّٰهُ

(لکه مار وغيره) هغه وخوړلو او يا (د يوې بيماری په وجه يا ناڅاپه) د الله په خوښه باندې خپله بستره مړ شو نو هغه

فَإِنَّهُ شَهِيدٌ وَإِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

(هر صورت کې) شهيد دی (يعنې هغه به په ابتداء کې د شهيدانو او د صالحانو سره به) جنت ته داخليږي.

توضيح: وقصه: يعنې اَس غوزار کړو او څټې يې مات شو. (مرقات: ۴۰۲/۷)

اولدغ: تک لږول او د خوړلو په معنی کې دی. **هامة:** زهريله ځناور ته وايي لکه مار او لړم وغيره حشرات الارض دي. **حتف:** طبعي مرګ ته حتف وايي. (مرقات: ۴۰۲/۷)

مجاهد کور ته ژر بېرته راتللو پورې جهاد کې شمارل کېږي

﴿۵۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل "جهاد نه

قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

بېرته راتلل هم د جهاد پشان دی".

---

(1) رقم الحديث ۳۸۴۰ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹/۳ رقم الحديث ۲۴۹۹

(2) رقم الحديث ۳۸۴۱ أخرجه ابوداود في السنن ۱۲/۳ رقم الحديث ۲۴۸۷ وأحمد في المسند ۱۷۴/۲

توضيح: قفلة: د جهاد نه چې سړی بېرته کور ته راروان وي، دغه بېرته راتللو ته قفلة ويلی شوي دي. گويا کې د ميدان جهاد نه په وتلو سره چې تر څو پورې يو کس کور ته نه وي رارسيدلی، تر هغه وخت پورې هغه په جهاد کې شمارل کېږي. ثواب ورته ملاوېږي. (مرقات : ۴۰۲/۷)

يو مجاهد جهاد ته د لېږلو ثواب

﴿۵۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِلْغَازِي

او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "جهاد کونکي ته د

أَجْرُهُ وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ

هغې خپل اجر ملاوېږي (يعنې د مجاهد لپاره چې د جهاد کوم مخصوص اجر دی هغه هغې ته پوره ملاوېږي)

وَأَجْرُ الْغَازِي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

او جاعل يعنې مال ورکونکي ته د هغې خپل ثواب ملاوېږي او د جهاد کونکي هم".

توضيح: وللجاعل: جاعل هغه کس ته وايي چې غازي ته مال ورکړي او جهاد ته يې روان کړي. هغه کس ته دوه چنده ثواب ملاوېږي. يو خو د مال د خرچ کولو او بل غازي جهاد ته د لېږلو. دا کس که صرف معاون دی نو دې کې د هيڅ يو کس اختلاف نشته دی چې دې ته به دوه چنده ثواب ملاوېږي، نو ابن مالک رحمه الله فرمايي چې د دې جاعل نه مراد هغه کس دی چې هغه په مزدوری باندې کس جهاد ته لېږي او اجرت ورکوي او خپله د جهاد نه پاتې شي. د احنافو په نزد د دې مزدور جهاد هم صحيح دی او لېږونکي ته به هم ثواب ملاوېږي، خو د شوافعو په نزد دا ناجائز دي. د دې مسئلې تفصيل هم راروان دی. څه لږ انتظار وکړئ. (مرقات : ۴۰۳/۷)

اجرتی مجاهد کېدل ډېر بد دي

﴿۵۵﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او د حضرت ابوايوب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلې دي چې

سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الْأَمْصَارُ وَسَتَكُونُ

"نژدې ته چې ستاسو لپاره به (لوي لويې) ښارونه فتح شي او د لښکرو به جدا جدا ډېر بيرغونه وي

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۴۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۴/۳ رقم الحديث ۲۵۲۶ واحمد في المسند ۱۷۴/۲

جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ يُتَطَعُ عَلَيْكُمْ فِيهَا بُعُوثٌ فَيَكْرَهُ الرَّجُلُ الْبَعْثَ
چې ستاسو لپاره به په کې لښکرې مقررې کړی شي نو کوم کس چې بغیر د اجرت نه جهاد نه خوښوې
فَيَتَخَلَّصُ مَنْ قَوْمِهِ ثُمَّ يَتَصَفَّحُ الْقَبَائِلَ
نو هغه به د خپل قوم نه وتښتي او بیا به نورې قبیلې ګورې او هغوی ته به خپل خدمتونه وړاندې کوي
يَعْرِضُ نَفْسَهُ عَلَيْهِمْ مَنْ أَكْفِيهِ
او وایي به چې کوم یو کس دی چې زه ورته دیو داسې لښکر ارخ نه کافي شم (یعني هغه څوک دی چې زما خدمت په اجرت باندې واخلي
بَعْثَ كَذَا أَلَا
او مانو کړي چې زه د هغې له ارخه لښکر ته لاړ شم او د جنګ محنت او مشقت په خپله ذمه واخلم. حاصل دا چې هغه کس خبردار!
وَذَلِكَ الْأَجِيرُ إِلَى آخِرِ قَطْرَةٍ
هغه کس به د خپلې وینې تر آخري قطري پورې مزدور وي یعني داسې کس مجاهد یا غازي ګڼل
مِنْ دَمِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
بلکې هغه د کرایه ټټو دی. چې د نور پرځای په میدان کې جنګېږي تر دې چې ژوژلی شي".

توضيح جنود مجندة: يعني ستاسو به جدا جدا بيرغونه وي او د لښکرونو به مولوي لوي ډلې وي.

يقطع عليكم: يعني د لښکر امير چې کله تاسو کې يوه دله جدا کړي او جنګ ته يې روانه کړي نو يو کس به دا تګ نه خوښوې بلکې د اجرت او مزدورۍ په غرض به جدا شي او بيا به خپل ځان قبائلو ته وړاندې کړي چې ما په اجرت او مزدورۍ باندې لېږلو ته څوک تيار دی چې زه د هغې ارخ نه د هغې لپاره کافي شم. هغه دې زماد کور اخراجات پوره کړي او زه د هغې له ارخه جهاد ته لاړ شم. ويې فرمايل چې د وينې تر آخرئ قطره پورې به هغه مزدور وي. د جهاد ثواب به ورته نه ملاوېږي. د مالکيؤ او د احنافو په نزد په اجرت باندې جهاد کول جائز دي، خو د شوافعو په نزد بالکل منع دی. د بحث لاندې حديث د شوافعو په حق کې دی. (مرقات: ۴۰۴/۷)

([1]) رقم الحديث ۳۸۴۳ أخرجه ابوداود في السنن ۳۵/۳ رقم الحديث ۲۵۲۵ واحمد في المسند ۴۱۳/۵

په اجرت باندې جهاد ته د تللو حکم

﴿۵۶﴾ وَعَن يَعْلى بن أُمَيَّةَ قَالَ: أَذِنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالغزو

او حضرت يعلى ابن اميه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه موقع باندې) نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلک جهاد ته د تللو لپاره خبر كړه

وَأَن شَيْخٌ كَبِيرٌ لَيْسَ لِي خَادِمٌ

نو دا چې زه ډېر بوډه وُړم او ما سره هيڅ يو خادم هم نه وُو، نو ځكه مايو داسې مزدور وكتلو (چې د جهاد دوران

فَالْتَمَسْتُ أَجِيرًا يَكْفِينِي فَوَجَدْتُ رَجُلًا سَمَّيْتُ لَهُ ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ

كې زما ساتنه وكړي شي) نو ما يو كس وموندلو چې د هغې اجرت ما درې ديناره مقرر كړه. بيا (د جهاد د نه

فَلَمَّا حَضَرَتْ غَنِيمَةٌ أَرَدْتُ أَنْ أُجْرِيَ لَهُ سَهْمَهُ

وروسته) چې كله مال غنيمت راغلو نو ما اراده وكړه چې (د دې مال غنيمت نه) د دې كس برخه هم وكړي، نو

فَجِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ لَهُ

(د دې مسئله باره كې د معلوماتو لپاره) د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې حاضر شوم او صورت حال مې ورته بيان

فَقَالَ: مَا أَجِدُ لَهُ فِي غَزْوَتِهِ هَذِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

كړو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "ماته د دغه كس لپاره د دې جهاد متعلق په دنيا او آخرت كې بغير د دې دينارو نه

إِلَّا دَنَانِيرَهُ الَّتِي تسمى. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

چې مقرر كړى شوې دي بل هيڅ شى نه ملاوېږي".

توضيح: الادنانيره: يعنې هغه اجرتې مجاهد ته به د دينارو نه بغير بل هيڅ نه ملاوېږي. د علماء كرامو په دې اختلاف دى چې د اجرتې غازي ته به د مال غنيمت نه برخه وركړى كېږي او كه نه به وركړى كېږي. امام اوزاعى او اسحاق بن راهويه او په يو قول كې امام شافعي فرمايي چې دا كس مزدور دى. دا كه ميدان جهاد كې جنګ وكړي يا نه دې ته به په مال غنيمت كې برخه نه ملاوېږي. امام مالک رحمه الله او مام احمد نب حنبل رحمه الله فرمايي چې دې كس ته به په هر حال كې برخه وركړى كېږي. د احنافو د اصولو او د قواعدو تقاضا هم دغه ده. ځينې علماؤ دا لار اختيار كړې ده چې هغه كس ته اختيار دى چې د مزدورې روپئ واخلي يا هغه پرېږدي او د مال غنيمت نه برخه

---

(1) رقم الحديث ۳۸۴۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳/۳۷ رقم الحديث ۲۵۲۷ واحمد في المسند ۴/۲۲۳

واخلي. ظاهري حديثونه د شوافعو په حق کې دي. (مرقات : ۴۰۵/۷)

صرف د دنيا لپاره جهاد کولو باندې ثواب نه ملاويږي

﴿۵۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رسولَ الله رجلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو کس عرض وکړو "يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! يو کس

فِي سَبِيلِ اللهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضاً من عرَضِ الدُّنْيَا

د الله په لاره کې د جهاد کولو اراده لري حال دا چې هغه (د دې جهاد په ذريعه) د دنيا د مال او د اسبابو خواهشمند دی"؟

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا أجر لَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دې په نصيب کې ثواب نشته دی.

توضيح: عرضاً: دنيا وري سازوسامان ته عرض ويلی شوی دی. يعنې کوم کس چې په اخلاص نيت او د اعلاء کلمة الله په غرض نه بلکې د دنيا د اسباب او د سامان لپاره جهاد کوي، نو هغه د آخرت د ثواب نه محرومه کيږي. ظاهره خبره ده چې يو کس دومره لويې جهاد د دومره سپکې دنيا لپاره پرېږدي او خپله هم په زړه کې د ثواب نيت نه کوي، نو ولې خپله به هغې پسې ثواب ونښلي څه؟ داسې هيڅ کله نه شي کېدی. د دې حديث د نظر لاندې که چرته د اسلامي ملکونو فوجونه صرف د مزدورۍ په غرض فوج کې دخليږي نو هغوی ته به هم ثواب نه ملاويږي. (مرقات : ۴۰۶/۷)

د حقيقي مجاهد پيژندنه

﴿۵۸﴾ وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْغَزْوُ

او حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې جهاد په دوه قسمه وي، نو کوم کس چې د الله د رضا لپاره جهاد کې شرکت

غَزْوَانِ فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللهِ وَأَطَاعَ الْإِمَامَ وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ

وکړو او د امام اطاعت يې وکړو، خپل پاک مال او خپل پاک نفس يې د خداى په لاره کې خرچ کړو او خپل

وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ واجتنبَ الْفساد

شريکو ال سره نېک معامله وکړه او د فتنې او فساد نه بچ شول (يعنې د لوټلو، ورانی کولو او د خيانت کولو

([1]) رقم الحديث ۳۸۴۵ أخرجه ابوداود في السنن ۳۰/۳ رقم الحديث ۲۵۱۶ واحمد في المسند ۲۹۰/۲

فَإِن	نَومه	ونهبه	أَجْرٌ	كُلُّهُ.
په ذريعه يې د شريعت د حدودو نه تجاوز ونه کړو) نو د هغې اوده کېدل او پاڅېدل ټول اجر او ثواب دي. او				
وَأَمَّا	مَنْ	غَزَا	فَخْرًا	وَرِيَاءً	وَسُمْعَةً	وَعَصَى	الْإِمَامَ
کوم کس چې د فخر په طريقه (يعنې د شهرت) او ښودنط لپاره جهاد وکړو، د امام نافرمايې يې وکړه او په مخ د							
وَأَفْسَدَ	فِي	الْأَرْضِ	فَإِنَّهُ	لَمْ
زمکه يې فتنه او فساد خور کړو نو هغه هيڅ بدله د ځان را نوړي يعنې دغه جهاد کولو سره خو به نه د هغې				
يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]				
ګناهونه وبخښلی شي او نه به هغې ته هيڅ ثواب ملاؤ شي.				

توضيح انفق الكريمة: يعنې په جهاد کې يې خپل غوره مال خرچ کړو.

يأسر: يعنې خپلو ملګرو سره په نرمئ سره ملاؤ شو. (مرقات : ۴۰۶/۷)

عصى الامام: يعنې د وخت د امير نافرمانې هم کوي. او د خپل جهادې امير هم نافرماني هم کوي. هروخت فساد کوي. تبليغات کوي. (مرقات : ۴۰۶/۷)

بالكفاف: کفاف برابرئ ته وايي. يعنې دا کس به برابر بېرته را نشي چې نه يې ګناه وي او نه يې ثواب وي بلکې دا به د ګناه سره بېرته راځي او که چرته د کفاف نه ثواب مراد واخستلی شي نو مطلب به دا وي چې دا کس د ثواب ګټلو سره بېرته را نشي. (مرقات : ۴۰۷/۷)

﴿۵۹﴾ وَعَن	عبد	الله	بن	عَمْرو	أَنَّهُ	قَالَ:	يَا رَسُولَ اللهِ
او د حضرت عبدالله ابن عمرو ابن عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې عرض وکړو "يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!							
أَخْبِرْنِي	عَنِ	الْجِهَادِ	فَقَالَ:				
ماته د جهاد باره کې اوايه (څنګه جهاد ثواب حقدار دی؟) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل!							
يَا	عَبْدَ	اللهِ	بْنَ	عَمْرٍو	إِنْ	قَاتَلْتَ	صَابِرًا	مُحْتَسِبًا
ای عبدالله ابن عمرو! که ته په داسې حال کې جنګ وکړې چې صبر کونکې او ثواب غوښتونکی يې،								

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۴۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۰/۳ رقم الحديث ۲۵۱۵ وأخرجه النسائي في السنن ۴۹/۶ رقم الحديث ۳۱۸۸

بَعَثَكَ	اللهُ	صَابِرًا	مُحْتَسِبًا
نو الله تعالى به تا (د قيامت په ورځ) د صبر كونكى او ثواب غوښتونكى راپاڅوي او كه ته د ځان			
وَإِنْ	قَاتَلْتَ	مُرَائِيًا	مُكَاثِرًا	بَعَثَكَ	اللهُ	مُرَائِيًا
ښودني او د زور ښودلو لپاره جنګيږي، نو الله تعالى به تا (د قيامت په ورځ) د ځان ښودونكى او						
مُكَاثِرًا	يَا	عَبْدَ	اللهِ	بْنَ	عَمْرٍو	عَلَى	أَيِّ	حَالٍ
زور ښودونكى راپاڅوي. اى عبدالله ابن عمرو (ياد وساته) چې په كوم حال كې جنګيږي يا په كوم								
قَاتَلْتَ أَوْ قُتِلْتَ بَعَثَكَ اللهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]								
حال كې مړ شي نو الله تعالى به دې په هم هغه حال كې راپاڅوي".								

توضيح: محتسباً: د ثواب په نيت كار كولو ته وايي. **بعثك الله**: قيامت كې د راپاڅولو په معنى كې دى.

مرائياً: د رياكارئ او ځان ښودني په معنى كې دى. **مكاثراً**: د ځان ښودني او د خپلې لوي ښكاره كولو لپاره يې چې كوم كار وكړي شي، د هغې لپاره د مكاثر لفظ ويلى كيږي. شارحينو د مكاثر مطلب د مال زياتول هم اخستى دى چې صرف د مال جمع كولو لپاره جنګ كوي. دا مطلب ډير واضح دى. (مرقات: ۴۰۹/۷)

نافرمانه امير معزول كيدلى شي

﴿۶۰﴾ وَعَنْ	عُقْبَةَ	بن	مَالك	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت عقبه ابن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم ﷺ نه نقل كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "								
أُعجزتم	إِذا	بعثت	رجلا	فَم				
آيا تاسو د هغې نه عاجزيې چې زه يو كس (ستاو امير او حاكم جوړ كړم او) دروې لېږم او هغه زماد								
يَمْضِ	لِأَمْرِي	أَنْ	تَجْعَلُوا	مَكَانَهُ	مَنْ	يَمْضِي		
حكم فرمان برداري ونكړي (يعنې هغه زماد يو حكم يا زماد يو ممانعت مخالفت وكړي) نو تاسو								

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۴۷ أخرجه ابوداود في السنن ۳۲/۳ رقم الحديث ۲۵۳۹

لِأَمْرِي؟. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَذَكَرَ حَدِيثَ فَضَالَةَ: وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ. فِي كِتَابِ الْإِيمَانِ[1]

هغه معزوله کړئ او یو داسې کس وټاکئ چې سپارلی شوی کارو وکړئ". (ابو داؤد)

توضیح: فلم یمض لامری: یعنې زماد حکم پابندي نه کوي نو تاسو هغه معزول کړئ او داسې امیر مقرر کړئ چې زما حکم نافذ کړې. ګویاکې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې مثلاً ما یو امیر مقرر کړو خو هغه خود سره شو او د شر جاله شوه. زماد ویلی شوې قانو پر ځای یې خپله لار مقرره کړه. خپل قانو چلوې، نو تاسو هغه معزوله کړئ. علماؤ د دې حدیث نه دا مسئله راویستلې ده چې که چرې حاکم په خلکو باندې ظلم کوي. د عوامو د حقوقو خیال نه ساتې او اسلامي نظام نه نافذ کوي بلکې د غیرو خلکو قانو چلوې او هغې باندې مسلمانان وراچوي، نو عوامو ته دا حق حاصل دی چې هغه معزول کړي او بل کس وټاکي.

ملا علي قاري رحمه الله لیکلي دي چې که چرې حاکم د خلکو په مالونو باندې زیاتی کوي خو د هغې په لرې کولو کې د وینې توې کېدلو او د فتنې خطر دی نو داسې حاکم به نه چېړئ. بلکې پرېږدئ، خو که چرې حاکم خلک وژني. عوام او خواص وژني، نو که د دې په معزولو کې او وژلو کې د زیاتې وینې توې کېدلو خطر دی نو بیا یې پرېږدئ او که په معزولو او په وژلو کې د لږې وینې خطر او په پرېښودلو کې د زیات هلاکتونو خطر دی، نو بیا د هغې او د هغې د ګوند (پارټئ) خلک وژل جائز دي. (مرقات ج ۷ ص ۳۰۹)

۱۶ صفر ۱۴۱۸ھ

الفصل الثالث

په اسلام کې درهبانیت ګنجائش نشته

﴿۶۱﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ

حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې مونږ خلک د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په یو لښکر وې ؤوتلو،

فَمَرَّ رَجُلٌ بِغَارٍ فِيهِ هَيْءٌ

نو د سفر په دوران کې چې کله (په مونږ کې) یو کس داسې غار (درې) په مینځ کې تېر شو چې

مِنْ مَاءٍ وَبَقْلٍ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ بِأَنْ يُقِيمَ فِيهِ

هغې څه لږې اوبه او څه شنکی ؤو. هغې په خپل زړه کې سوچ وکړو چې هغه په هم دې غار کې پاتې

([1]) رقم الحديث ۳۸۴۸ أخرجه ابوداود في السنن ۹۴/۳ رقم الحديث ۲۵۳۷ وأحمدفي المسند ۱۱۰/۴ .

وَيَتَخَلَّى مِنَ الدُّنْيَا فَاسْتَأْذَنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ

شي او د نيا نه غاړې ته شي، نو هغې د دې باره کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اجازت وغوښتلو.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "ياد وساته"! نه خو ماله يهوديت راکړی شوی (او دې دنيا ته) راليږلی شوی يم

وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ وَلَكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ

او نه عيسائيت (چې زه تاسو له د رهبانيت تعليم درکړم،) بلکې زه د دين حنيفه سره راليږلی شوی يم. چې يو اسان دين دی.

السَّمْحَةِ وَالَّذِي نَفْسُ

بې ځايه تکليف او تنګسيا شته دی او نه په کې د ضرورت نه زيات مشقت او محنت شته دی. قسم په هغه ذات چې د چا په قبضه کې

مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَغَدْوَةٌ أَوْ رَوْحَةٌ

د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوند دی! د ورځې (صرف په اولنۍ برخه کې يعنې سحر او مابنام د خدای په لاره کې

فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا

(جهاد) کې تلل د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو نه بهتر دی او په تاسو کې د يو کس د ميدان جنګ په

وَلَمَقَامُ أَحَدِكُمْ فِي الصَّفِّ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِهِ سِتِّينَ سَنَةً. رَوَاهُ أَحْمد[1]

صف کې او دريدل دهغې د شپيته کالو (ځان کړی شوې) لمونځونو نه بهتر دی".

توضيح: اليهودية: يعنې جهاد پريښودل او غارونو کې کيناستل او رهبانيت اختيارول او عبادت کول او د عامه معاشرې نه جدا کېدل د درويش جوړېدلو په اسلام کې هيڅ ګنجائش نشته دی. بلکې د دې دين لويې عبادت په ميدان جنګ کې دی. د دې تابعداران د شپې رهبان او د ورځې شهسواران وي. (مرقات: ۷/۴۱۱)

سکھایا ہے ہمیں اے دوست طیبہ کے والی ﷺ نے
کہ بـــو جہلـــوں سے ٹکرا کر ابھرنا عین ایمان ہے
جہاں باطل مقابل ہو وہاں نوک سنان سن بھی

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۴۹ اخرجه احمد في المسند ۵/۲۶۶

برائے دین اسلام رقص کرنا عین ایمان ہے

الحنيفة: دا حنفاء اړخ ته منسوب دی. دین توحید مراد دی. السمحة دا د اسان او واضح په معنی کې دی یعنې زمارب زه په توحید باندې رالېږلی یم. چې د ټولو نه اسان دین دی. د یهود او نصاراؤ پشان بې ځایه تشدد په کې نشته دی. او نه په کې داسې مشقت شته دی چې د برداشت کولو قابل نه وي.

په جهاد کې د نیت اخلاص ضروري دی

﴿۶۲﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ غَزَا فِي

او حضرت عباده ابن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې "چا د یو پړي د حاصلولو لپاره هم د الله په لاره کې

سَبِيلِ اللهِ وَلَمْ يَنْوِ إِلَّا عِقَالًا فَلَهُ مَا نَوَى. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

جهاد وکړو نو هغې ته به همغه شی ملاویږي د کوم چې هغې نیت کړی دی".

د مجاهدینو اوچتې درجې

﴿۶۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: من

او د حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کوم کس چې د

رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا

الله په رب کېدلو باندې اسلام د حق دین کېدو او په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله رسول کېدو باندې خوښ وي

وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ

(یعنې دزړه نه داتول منې) نو د هغې لپاره جنت واجب شو". ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دا ارشاد واورېدلو نو ډېر تعجب یې وکړو.

فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَعَادَهَا عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ:

هغې عرض وکړو: یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! دا خبرې یو ځل بیا زما مخکې وکړه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بیا دغه خبرې وکړې

وَأُخْرَى يَرْفَعُ اللهُ بِهَا الْعَبْدَ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ

او وېې فرمایل: یو شی بل دی چې د هغې په سبب الله تعالی جنت کې بنده تر سلو (۱۰۰) درجو پورې اوچتوي

---

(1) رقم الحديث أخرجه النسائي في السنن ۲۴/۶ رقم الحديث ۳۱۳۸ والدارمي ۲۷۴/۲ رقم الحديث ۲۴۱۶ وأحمد في المسند ۳۱۵/۵

مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

او په هغې کې د هر دوه درجو په مينځ کې دومره فاصله ده لکه څومره چې د زمکې او د اسمان په مينځ کې ده".

قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ

ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! هغه څه شی دی؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ الْجِهَادُ فِي - سَبِيلِ اللهِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

هغه د الله په لاره کې جهاد کول دي هغه د الله په لاره کې جهاد کول دي، هغه د الله په لاره کې جهاد کول دي.

توضيح عقالاً: پرې ته عربئ کې عقال وايي. پرې ته عربئ کې عقال وايي يعنې که په جهاد کې چا د يو پرې نيت هم وکړو نو پرې به ورته ملاوېږي، ثواب به ورته نۀ ملاوېږي. علماؤ ليکلي دي چې دا په جهاد کې د اخلاص آخري حد او د تقوى آخري مقام ورته ويلى شوى دى. چې د سبک نه سبک شي نيت هم د جهاد پاک عمل سره شامل نه وي، خو که يو کس جهاد د مال نيت هم کوي نو په دې سره د جهاد ثواب نه باطل کېږي او شرعاً داسې نيت کول جائز دى. بلکې علماؤ ليکلې دي چې که چرې يو کس رياکارئ سره جهاد کوي، نو په هغې کې هم د جهاد ټول عمل نه ضايع کېږي. اګر که رياکار بې کاره ده. بهرحال يو د تقوى مقام دى. دويم د فتوى مقام دى. د فرق لحاظ ساتل پکار دى.

جنت د تورو د سيورې د لاندې دى

﴿۶۴﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او د حضرت ابو موسى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې هغې په (يو مجلس کې) دا بيان کړو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلې

إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَقَالَ:

دي "د جنت دروازې د تورو د سيورې د لاندې دي" (دې اوربدلو سره) يو کمزورى کس اودرېدلو او وې ويل

يَا أَبَا مُوسَى أَنْتَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې "ابو موسى! آيا تا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلې دي. يعنې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ستا دا

يَقُولُ هَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ فَرَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ

اوربدل د کلک يقين په تو کې دې؟ هغې وويل "آؤ" (دې اوربدلو سره) هغه کس د خپلو ملګرو اړخ ته وګرځېدلو

([1]) رقم الحديث ۳۸۵۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۰۱/۳ رقم الحديث (۱۱۶-۱۸۸۴) والنسائي في ۱۹/۶ رقم الحديث ۳۱۳۱

فَقَالَ: أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ فَأَلْقَاهُ
او وې ويل چې "زه تاسو ته (آخري) سلام کوم او بيا يې د خپلې تورې کاتۍ (قاش) ماته کړه او وې غورځولو
ثُمَّ مَشَى بِسَيْفِهِ إِلَى الْعَدُوِّ
(يعني د دې په ذريعې هغې د خپلې هغه ارادې اظهار وکړو چې اوس به بېرته نه راځم) يعني خپله توره يې واخسته او د دښمنانو اړخ
فَضَرَبَ بِهِ حَتَّى قُتِلَ. رَوَاهُ مُسلم[1]
ته روان شو او د هغوی سره وجنګېدلو تر دې چې شهيد شو".

توضيح تحت ظلال السيوف: د دې جملې دوه مفهومه دي. اولنۍ مفهوم دا دی چې مجاهد کله د يو کافر په سر توره اوچته کړي او سيوري د کافر په سر باندې راشي نو د هغې لاندې جنت دی، ځکه د کافر په وژلو سره ثواب حاصليږي چې جنت ته د تللو سبب جوړيږي.

دويم مفهوم دا دی چې کله کافر د يو مسلمان په سر باندې توره اوچته کړي او د تورې سيوري د مسلمان په سر باندې جوړ شي نو د هغه سيوري د لاندې جنت دی، ځکه مسلمان ته شهادت ملاويږي چې د جنت سبب دی. دلته د ابواب د لفظ نه اشاره کېږي چې مجاهد چرته هم وي د جنت په لاره به وي.

رث الهيئة: يعني شليدلې زړې جامې او ګډوډ ويښتان او د سترې صورت مالک يو تابعي کس ؤو.

جفن: د تورې کاتۍ (قاش / نيام). دا حديث مونږ له تعليم راکوي چې د دين حکم د اورېدلو نه وروسته هغې باندې عمل کول ضروري دی. دې کس ته وګورئ حديث يې واورېدلو او عمل يې پرې وکړو. د نن سبا عوامو او د خواصو مثال د ربړ پشان دی. چې رائې کاږي او بيا يې پرېږدي، نو د کوم ځای چې دې رابنکلی دی هم هلته بېرته ځي. بيا د تبليغي جماعت ځېنې حضراتو هم په جهاد کې تشويش پيدا کړی دی. (مرقات: ۷/۴۱۴)

د اُحد د شهيدانو باره کې بشارت

﴿۶۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ لِأَصْحَابِهِ:
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته وفرمايل
"إِنَّهُ لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ يَوْمَ أُحُدٍ جَعَلَ اللهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ
"کله چې ستاسو وروڼه په غزوه اُحد کې شهيدان کړی شول نو الله د هغوی روحونه د شنه مرغانو په قالب کې انتقال کړه،

---

[1] رقم الحديث ۳۸۵۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۱۱/۳ رقم الحديث (۱۴۶-۱۹۰۲) والترمذي في ۱۵۹/۴ رقم الحديث ۱۶۵۹

تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا

نو هغه روحونه (د هغه مرغانو په قالب کې) د جنت نهرونو ته راځي. د هغه ځای میوې خوري او

وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ فَلَمَّا وَجَدُوا

بیا د هغه سرو زرو قندیلونو کې اوسیږي چې د عرش د سیورې د لاندې راځوړندې دي، نو کله چې

طِيبَ مَأْكَلِهِمْ وَمَشْرَبِهِمْ وَمَقِيلِهِمْ قَالُوا: مَنْ

هغه روحونو د خپلو خوراک او څښاک خوندونه ولیدل نو وې ویل چې "څوک دې هغه چې زمونږ

يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّنَا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ

لخوانه زمونږ وروڼو ته دا پیغام ورسوي چې په جنت کې ژوندي یو او د الله تعالی د داسې داسې نعمتونو نه خوندونه اخلو.

لِئَلَّا يَزْهَدُوا فِي الْجَنَّةِ وَلَا يَنْكُلُوا

د دې لپاره چې هغوی د جنت په حاصلولو کې غفلت او غلطي ونه کړي (بلکې د جنت درجو حاصلولو ته يې توجه وي)

عِنْدَ الْحَرْبِ فَقَالَ اللهُ تَعَالَى:

او د جنګ په وخت کې ناراستي ونه کړي". الله تعالی د (هغوی ده خبره اوریدلو سره) وفرمایل (وې پرېږئ مه)

أَنَا أُبْلِغُكُمْ عَنْكُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى:

ستاسو له ارخ نه به زه هغوی ته دا پیغام ورسوم، نو الله تعالی ذکر شوی آیت رانازل کړو. او تاسو

(وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ) إِلَى آخِرِ الْآيَاتِ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

ګمان دهغه چا متعلق چه وژلې شوې دی په لاره د الله کې د مړو بلکې هغوی ژوندی دی الخ.

دري قسمه مسلمانان

﴿٦٦﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْمُؤْمِنُونَ فِي الدُّنْيَا

او د حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "چه مسلمانان په دنیا

عَلَى ثَلَاثَةِ أَجْزَاءٍ: الَّذِينَ آمَنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ

کې دري قسمه دي. یو خو هغه دی چې الله او د هغې رسول باندې ایمان راوړې او بیا په شک او شبه کې

---

(1) رقم الحديث ٣٨٥٣ اخرجه ابوداود في السنن ٣/٣٢ رقم الحديث ٢٥٢٠ واحمد في المسند ١/٢٦٦

لَمْ	يَرْتَابُوا	وَجَاهَدُوا	بِأَمْوَالِهِمْ

اختنه شي. دغه شان هغوی د خپل مال او د ژوند په ذریعې د الله په لاره کې جهاد وکړو (یعنې د مؤمنانو دا هغه جماعت دی چې خپل

وَأَنْفُسِهِمْ	فِي	سَبِيلِ	اللهِ

ایمان کامل او خپل نفس مهذب بې (پاک کړو او د هغې سره بې د خدای د مخلوق د خیر بنېګړي او د پاکئ لپاره هم کوشش وکړو او

وَالَّذِي	يأمنه		النَّاس

همدا هغه جماعت دی چې د مرتبې په اعتبار سره د ټولو نه اعلی او اشرف دی) دویم مومن هغه کس دی چې د هغې نه د خلکو مال او

على	النَّاسُ	عَلَى	أَمْوَالِهِمْ

د هغوی ژوند محفوظ دی (یعنی اګر که هغې د خدای د مخلوق د خیر بنې ګټې لپاره کوشش نه دی کړی خو د هغې په ذریعې

وَأَنْفُسِهِمْ	ثُمَّ		الَّذِي

بې چاته نقصان او ضرر هم و نه رسولو د غه شان نه خو هغې اختلاط وکړو او نه په طمع او حرص کې اخته شو) او

إِذَا أَشْرَفَ عَلَى طَمَعٍ تَرَكَهُ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ". رَوَاهُ أَحْمد[1]

بیا د رېم مومن هغه کس دی چې کله د هغې په زړه کې طمع پیدا شي نو د الله د وېرې په وجه هغه طمع پرېږدي.

د شهید ارمان

﴿٦٧﴾ وَعَن عبدِ الرَّحمنِ بن أَبِي عَمِيرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا مِنْ نَفْسٍ

او د حضرت ابو عبد الرحمن بن ای عمیره نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل. د شهید نه بغیر بل هیڅ

مُسْلِمَةٍ	يَقْبِضُهَا	رَبُّهَا	تُحِبُّ

داسې مسلمان نشته دی چې د خپل پروردګار له اړخ نه د روح د قبض کولو نه وروسته دا خبره خوښه کړي

أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْكُمْ وَأَنَّ لَهَا الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا غير الشَّهِيد قَالَ ابْن عَمِيرَةَ:

چې هغه بېرته تاسو ته راشي او د دنیا او هغه څه چې په دې کې دي هغه حاصل کړي. عبد الرحمن بن ابن عمیره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَأَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ

فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا (هم) و فرمایل چې په خدای قسم! زما د خدای په لاره کې مړ کېدل زما په نزد د

([1]) رقم الحديث ۳۸۵۴ اخرجه احمد في المسند ۸/۳ .

أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

هغه شي نه دبر خوښ دی چې د خيمو او بنګلو والا زماغلامان او محکوم وي.

توضيح: **اهل الوبر**: وبر د اوښ ويختانو او پشم ته وايي. مراد خيمې دي. او د خيمو والا خلک خانه بدوش او دشتو کې وسيدونکي خلک دي. مطلب د ابادئ نه لري خانه بدوش خلک دي. او "**المدر**" د دې نه مراد خاوره او پاښه کورونه دي. مطلب دا دی چې ماته جهاد د دې نه دبر خوښ دی چې زه د دې ټولو خلکو حاکم شم او حکومت پرې کوم. (مرقات: ۴۱۷/۷ الكاشف: ۳۷۱/۷)

څلور قسمه خلک به په جنت کې وي

﴿۶۸﴾ وَعَنْ حَسْنَاءَ بِنْتِ مُعَاوِيَةَ قَالَتْ: حَدَّثَنَا عَمِّي قَالَ:

او حضرت حسناء بنت معاويه (ابن سليم) فرمايي ماته زماتره حضرت اسلم ابن سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان وکړو چې

قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ:

(يوورځ) ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل چې "جنت کې به کوم کوم خلک وي"؟ نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې

النَّبِيُّ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ وَالْوَئِيدُ

جنت کې به نبي ان وي، شهيدان به وي، جنت کې به ماشومان وي او جنت کې به هغه هم وي چې ژوندې

فِي الْجَنَّةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

هغوی خښ کړی شوي دي".

توضيح: **المولود**: وړوکې ماشوم ته مولود وايي. **الوئيد**: ژوندې خښ کړی شوې ماشوم ته وئيد په معنی د موؤد وايي.

په جهاد کې د مال د خرچ کولو فضيلت او د نهه ځلو ښت کروړو خبره

﴿۶۹﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي أُمَامَةَ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ،

([1]) رقم الحديث ۳۸۵۵ أخرجه النسائي في السنن ۳۳/۶ رقم الحديث ۳۱۳۵ وأحمدي المسند ۲۱۶/۴

([2]) رقم الحديث ۳۸۵۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳/۳ رقم الحديث ۵۸/۵ وأحمدي المسند ۵۸/۵ رقم الحديث ۳۸۵۷ .

وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ

حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت عبد الله ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت جابر ابن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او

وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ كُلُّهُمْ يُحَدِّثُ

حضرت عمران ابن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ټول حضرات د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه حديث نقل كوي چې

عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: مَنْ أَرْسَلَ نَفَقَةً فِي سبيلِ الله

نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "كوم كس چې د الله په لاره كې (يعني جهاد كې) روپئ او سامان او اسباب ولېږلو

وأَقَامَ فِي بيتِه فلَه بكلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ

او خپله كور كې كيناستلو (يعني شريک نشو بلكې امداد ئې او كړو) نو د دې د هر درهم په بدل كې به د اؤوه سوه

دِرْهَمٍ وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَنْفَقَ فِي وَجْهِهِ

درهمو ثواب ملاوېږي او كوم كس چې خپله هم جهاد وكړو او جهاد كې يې روپئ او مال هم خرچ كړو

ذَلِكَ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ.

نو هغې ته به د دې درهم په بدل كې د اؤوه لاكه درهمو ثواب ملاوېږي. (ځكه دې خپل نفس هم په تكليف او مشقت كې

ثُمَّ تَلَا هذهِ الآيةَ: (واللهُ يُضاعفُ لمنْ يشاءُ) رَوَاهُ ابنُ مَاجَه[1]

واچولو او مال يې هم خرچ كړو) بيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت تلاوت كړو يعني الله چې چاته غواړي د هغې ثواب زياتوي".

توضيح: د دې نه مخكې حديث نمبر ۱۳ او حديث ۳۸ كې دا خبره ذكر ده چې جهاد في سبيل الله كې د يوې اونۍ په بدل كې اؤوه سوه اونۍ ملاوېږي او دنيا كې د يو درهم د خرچ كولو په بدل كې به اؤوه سوه درهمه ملاوېږي. د بحث لاندې كې هم د دې تذكره ده خو دلته دوه (۲) قسمه خلك دي او د دواړو ثواب جدا جدا دى. يو هغه كس دى چې مجاهد ينو ته روپئ لېږي خو خپله كور كې ناستى دى. جهاد كې نه دى شريک شوى. هغې ته به د يو درهم په بدل كې اؤوه سوه درهمه ملاوېږي. دويم هغه كس دى چې خپله هم جهاد كې شريک دى او په دې لاره كې روپئ هم خرچ كوي، نو د بحث لاندې حديث كې دي چې دې ته به د يو درهم په بدل كې اؤوه لاكه درهمه ملاوېږي. اوس دلته دواړه كسان هم بدل دي. او د دواړو عملونو كې فرق هم دى. د دواړو په اجر و ثواب كې هم فرق دى. لهذا

---

(1) رقم الحديث ۳۸۵۷ أخرجه ابن ماجه في السنن ۹۲۲/۲ رقم الحديث ۲۷۶۱.

دواړه ښه ښه ساتل پکار دي. تبليغي حضرات دلته د دې حديث نه د نه کروړو (۹۰۰۰۰۰۰۰) ثواب راوباسي. او طريقه دا اختياروي چې د اؤوه سوه درهمو والا حديث سره په اؤوه لاکه والا حديث کې ضرب ورکړه. مثلاً ۷۰۰ x ۷۰۰۰۰۰۰ = ۴۹۰۰۰۰۰۰۰. دغه ډېر رقم د حاصلولو نه ورسته دا حضرات دا فضيلت د خپل مخصوصو عملونو سره خاص کوي. دلته پوښتنه دا ده چې سبيل الله عام دی او که خاص دی. که عام وي نو دا ثواب طلباء، علماء، خطباء، فقهاء، حاجيان کرام، اهل تبليغ او مجاهدينو ټولو ته ملاوښدل پکار دي، ځکه دا ټول د الله په لاره کې دي. او که د سبيل الله سره خاص دی نو بيا د انصاف تقاضا ده چې دا ثواب صرف مجاهدينو ته حاصل وي ځکه کله چې سبيل الله مطلق ذکر شي نو د هغې نه د جهاد لاره مراد وي. دغه شان حديث کې په کتاب الجهاد کې ذکر دي چې مجاهدينو سره خاص دی نه دا چې د اهل تبليغو سره. دويمه خبره دا ده چې دلته د نه کروړو راويستلو آخر څه ضرورت دی او کومه مجبوري ده؟ آيا حديث باندې د پوهېدلو لپاره د داسې ضرب ورکولو ضرورت شته دی؟ نبي کريم ﷺ خو د دوه قسمه جدا جدا خلکو ذکر کړی دی، نو د دوؤ (۲) د يو کولو جواز د چرته نه راغلی؟. بيا زه که د دوه قسمه خلکو ثواب يو ته ورکول کېږي نو چې د اؤوه سوه والا ثواب دې اؤوه لاکه والا ته ورکړو نو د دې سره د اؤوه لاکه سوه شمېر ثواب شو. دا نه ځلوېښت کروړه د کوم ځای نه راغله؟.

که چرې د يو کس د "**يضعف**" د الفاظو نه استدلال کوي چې دې کې دوه چنده ذکر دی، نو عرض دا دی چې د دوه چنده کولو حد خپله نبي کريم ﷺ متعين کړی دی چې د يو ثواب تر اؤوه سوه پورې او د بل ثواب تر د اؤوه لاکه پورې زياتېږي. نبي کريم ﷺ د تضعيف او دوه چنده والې حد ويلی دی. تاسو د هغې نه ولې مخکې ځئ؟ که په قيامت کې خلک نه ځلوېښت کروړه غوښتل شروع کړي نو دا حضرات به يې د کوم ځای نه ورکوي، ځکه د الله په نزد خو دا تعين نشته دی، خو د دې حضراتو د خپله مفروضه ده. حال دا چې د نه کروړه عدد لپاره د عربئ په الفاظو کې ويل هم دې حضراتو ته نه ورځې. تحفة الاحوذی کې ليکلې دي چې "**والفضائل لاتؤخذ و با لقياس**" يعنې فضائل په قياس کولو سره بيان کېدی نه شي. دلته خو تعين کېږي، قياس نه چلېږي.

بله يوه ضابطه باندې هم پوه کېدل پکار دي چې شريعت کې د ثواب زياتو او کمولو کې هيڅ پابندي نشته دی. "**والله يضاعف لمن يشاء**" د قرآن آيت دی. نه ځلوېښت کروړه خو لا څه چې د نه ځلوېښت اربه ثواب هم کېدی شي، خو شريعت چې چرته تعين کړی دی. مونږ به يې کوؤ او چرته چې شريعت مبهم پرېښی دی نو هلته هيڅا ته حق حاصل نه دی چې هغه تعين وکړي. نن سبا بې شماره خلک د ابې ادبئ او د ګستاخۍ مرتکب کېږي او دا وايي او ګرځي راګرځي چې بيت الله کې يوه نيکي د يو لاکه ده او په دعوت تبليغ کې د نه ځلوېښت کروړو ده. ماهنامه البلاغ کې يو ځل د بحث لاندې د ابن ماجه حديث متعلق يو فتوىٰ راغلې وه.

چې په کې ویلی شوې ؤو چې د ابن ماجه دا حدیث ضعیف دی. لهذا کوم کس چې دا حدیث بیانوې. هغې باندې لازم دې چې هغه عوام ته دا هم ؤوایي چې دا حدیث ضعیف دی.

د مجاهدینو اوچتو مرتبو کتلو سره د سر نه خولئ وغورزیده

﴿۷۰﴾ وَعَن فَضَالَةَ بنِ عُبيد قَالَ: سمِعْتُ عمَرَ بن الْخطاب يَقُولُ:

او حضرت فضاله ابن عبید فرمایي چې ما د حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او واورېدل. هغه وایي چې ما د

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الشُّهَدَاءُ أَرْبَعَةٌ: رَجُلٌ مُؤْمِنٌ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلې دي چې "شهیدان په څلور قسمه دي. یو خو هغه کس دی چې کامل ایمان والا

جَيِّدُ الْإِيمَانِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللهَ حَتَّى قُتِلَ

مسلمان ؤو. او چې کله یې د دښمن سره جنګ شو نو هغه الله تعالی ته رښتیا وښودله تر دې چې په جنګ جنګ

فَذَلِكَ الَّذِي يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ أَعْيُنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

کې هغه شهید شو، نو دا هغه کس دی چې د هغې ارخ ته به د قیامت په ورځ خلک سرونه اوچتوي

هَكَذَا" وَرَفَعَ رَأْسَهُ حَتَّى

او ورته ګوري به (دې کتلو سره) هغې خپل سر راوچت کړو چې ماته معلومه نه ده چې د هغې د سره

سَقَطَتْ قَلَنْسُوَتُهُ فَمَا أَدْرِي

خولئ وغورزېدله د حدیث راوي چې دا روایت یې د حضرت فضاله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی چې ماته معلومه نه ده

أَقَلَنْسُوَةَ عُمَرَ أَرَادَ أَمْ

چې د فضاله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خولئ وه چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (د حدیث بیانولو وخت کې د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شان سر اوچت وښودلو

قَلَنْسُوَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟

نو د هغې) د سره نه خولئ ولیدله یا که د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د سر نه خولئ لیدلې وه. (بهر حال حاصل دا چې د قیامت په ورځ به د دې کس دومره

قَالَ: وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَيِّدُ الْإِيمَانِ

لویه مرتبه وي چې خلک خلک به دې ته په ولاړه ولاړه ګوري) یا نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې دویم هغه کس چې جید الایمان مومن ؤو.

لَقِيَ الْعَدُوَّ كَأَنَّمَا ضَرَبَ جِلْدَهُ بِشَوْكٍ

او کله یې چې د دښمن سره جنګ شو نو هغه د خپلې بزدلئ په وجه داسې ښکاره کېدلو چې په بدن کې یې د ازغن بوتې ازغې وي

طَلْحٍ	مِنَ	الْجُبْنِ	أَتَاهُ

(يعني دا کس د وېرې په وجه ږېږېدلو او د دهشت په وجه د غوني راځېرشو او کيفيت يې کنايةً بيان کړی دی) او بيا په

سَهْمٌ	غَرْبٌ	فَقَتَلَهُ	فَهُوَ

تير ولږېدلو، چې يو نامعلومه کس ويشتلو ؤو او هغه د تير هغه د مرګ غيږي ته ورسولو، نو دا کس (د

فِي الدَّرَجَةِ	الثَّانِيَةِ	وَرَجُلٌ	مُؤْمِنٌ	خَلَطَ	عَمَلًا	صَالِحًا	وَآخَرَ	سَيِّئًا

اولني کس په نسبت) په دويمه درجه کې دی. او درېم کس هغه مومن ؤ. څه يې ښه او څه يې بد عملونه کړي

لَقِيَ	الْعَدُوَّ	فَصَدَقَ	اللهَ	حَتَّى

ؤو. او کله چې د ښمن سره په جنګ شو نو الله تعالى يې رښتيا وښودل تر دې چې (په جنګ ږدلو او ؤوژلى شو، نو

قُتِلَ	فَذَلِكَ	فِي الدَّرَجَةِ	الثَّالِثَةِ	وَرَجُلٌ	مُؤْمِنٌ	أَسْرَفَ	عَلَى نَفْسِهِ

دا د درېم کس درجه ده او څلورم کس هغه مسلمان دی چې په خپل نفس باندې ډېر اسراف کړی ؤ (يعني

لَقِيَ	الْعَدُوَّ	فَصَدَقَ	اللهَ	حَتَّى

ډېر زيات ګناهونه يې کړي ؤو) او کله يې چې د ښمن سره جنګ شو نو هغې الله ته رښتيا وښودل، تر دې چې

قُتِلَ فَذَاكَ فِي الدَّرَجَةِ الرَّابِعَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[1]

په جنګ شو او ؤوژلى شو. دا خو د څلورم کس درجه ده. (روايت کړې دې ترمذى)

توضيح: الشهداء اربعة: يعني د شهيدانو څلور قِسمونه دي. صرف څلور کسان مراد نه دي.

العدو: يعني د کافرانو سره جنګ وشو.

فصدق الله: دا صيغه د تخفيف سره ويلى شوې ده. چې مشهوره ده. دې صورت کې به مطلب دا وې چې دې مجاهد په جرأت او نرتوب سره هغه وعده پوره کړه کومه يې چې د الله سره کړې وه. تر دې چې هغه شهيد کړى شو. **قال الله تعالىٰ: ﴿رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه﴾** (سورت احزاب ۲۳)

علامه طيبي رحمه الله د دې جملې مطلب داسې بيان کړى دى چې الله تعالى د مجاهدينو صفت داسې بيان کړى دى چې هغوى صبر کونکي ؤو او په اخلاص سره د ثواب په نيت جهاد کونکي دي.

---

(1) رقم الحديث ۳۸۵۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۵۲/۴ رقم الحديث ۱۶۴۴.

چې کس کله خپل کار په ثابت قدمئ او اخلاص سره جنګ کول ثابت کړو نو ګویا کې هغې په خپل کردار باندې د الله وښا ربښتیا وښودله . د "**صدق الله حقق قتل**" همدغه مطلب دی.(مرقات : ۴۱۱/۷، الکاشف : ۳۷۳/۷)

قلنسوته: یعنې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شهید اوچتې درجې د ښودلو لپاره سر دومره اوچت کړو چې خولئ یې لاندې پرېوتله. د دې حدیث نه د شهید د درجاتو ثبوت ملاوېږي. همدغه ځای کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خولئ سمولو ثابت کېږي. (مرقات ۴۱۹/۷)

فما ادری: دا د راوي قول دی چې د حضرت فضاله نه روایت دی.

اراد: یعنې د حضرت فضاله د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خولئ د لوېدلو وویل یا یې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خولئ د لوېدلو خبره وکړه. په ښکاره خو د کلام نه معلومېږي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خولئ مراد ده، ځکه متباد همدغه دی.

بشوك طلح: شوک ازغې ته وایې او طلح د کیکر وغیره ازغن بوټې ته وایې. چې غټ غټ ازغې په کې دي یعنې د وېرېدلو به وجه د هغې غوښې ځېر شو. ګویا کې ازغې په ننوځې. څلور قسمه خلکو کې اول جید الایمان زړه ور دی. دویم جید الایمان وېرې دونکی دی. دریم څه ګناه ګار دی. څلورم پوره ګناه ګار دی. ټول شهیدان دي. معلومه شوه چې ګناه ګار کس هم په جهاد کې برخه اخستلی شي. تبلیغي حضرات وایې چې اول فرښته شه او بیا به جهاد وي. یاد وساتئ نه به د هغوی یو کس فرښته شي او نه به جهاد وي.(مرقات : ۴۱۹/۷)

منافق شهید نه وي

﴿۷۱﴾ وَعَن عُتبةَ بن عبدٍ السَّلَمِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: "الْقَتْلَى

او حضرت عتبه ابن عبد السلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کوم کسان چې په جهاد کې وژلی

ثَلَاثَةٌ: مُؤمن جَاهد نَفسه وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ

کېږي هغه درې قسمه دي. یو خو کامل مومن چا چې د الله په لاره کې په خپل نفس او د خپل مال په ذریعه

فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَقَّ

جهاد وکړو، نو کله یې چې د دښمن سره جنګ شو (نو پوره په بهادرئ او زړه ورتیا) سره وجنګېدلو تر دې چې

يُقْتَلَ" قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ:

شهيد شو. "نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې كس باره كې وفرمايل چې "دا هغه شهيد دى چې د جهاد په مشقتونو او ازمائش

فَذَلِكَ الشَّهِيدُ الْمُمْتَحَنُ فِي خَيْمَةِ اللهِ تَحْتَ عَرْشِهِ

كې اخته كړى شو. دا شهيد به (آخرت كې) د عرش د سيوري د لاندې د الله په خيمه كې وي او انبياء به صرف

لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّونَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ وَمُؤْمِنٌ خَلَطَ عَمَلًا صَالِحًا

د دې نه په درجه كې اوچت وي. او دويم كس هغه مومن دى چې اعمال يې برابر وي. چې څه به يې نيک عملونه

وَآخَرَ سَيِّئًا جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ

وي او څه به يې بد عملونه وي، نو هغې د خپل نفس او د مال په ذريعه د خداى په لاره كې جهاد وكړو. او كله

إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ

يې چې د دښمن سره جنګ شو نو پوره بهادرئ او زړه ورتيا سره وجنګېدلو تر دې چې ووژلى شو".

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ: مُمَصْمِصَةٌ مَحَتْ ذُنُوبَهُ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې كس باره كې وفرمايل "دا شهادت يا خصلت، پاكونكى دى. د دې ګناهونه

وَخَطَايَاهُ إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءٌ لِلْخَطَايَا

او خطاګانې ختموي او په دې كې هيڅ شک نشته دى چې د توره خطاګانې ختمونكى دى. دا هغه

وَأُدْخِلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ وَمُنَافِقٌ

شهيد دى چې په كومه دروازه تلل غواړي جنت ته به داخل كړى شي. او دريم كس منافق دى چې

جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ

(اګر كه) هغې (هم) د خپل نفس او د مال په ذريعه جهاد وكړو او كله چې يې د دښمن سره جنګ شو

قَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ فَذَاكَ فِي النَّارِ إِنَّ السيفَ لَا يمحُو النِّفاقَ. رَوَاهُ الدارميُّ[1]

نو (ښه) وجنګېدلو. تر دې چې ووژلى شو (خو) دا كس به دوزخ ته ځي ځكه توره نفاق نه ختموي".

توضيح المتحن: د اسم مفعول صيغه ده. امتحان او ازمائش كې د اچولو به معنى كې دى، خو

---

(1) رقم الحديث ۳۸۵۹ اخرجه الدارمي في السنن ۲۷۲/۲ رقم الحديث ۲۴۱۱

دلته دا معنی هم کېدی شي چې الله تعالی د دغه عظیم شهید زړه د ایمان او تقوی لپاره کولاو کړو او په ایمان او تقوی باندې د هغې سینه کولاوه شوه، لکه په آیت کې دي ﴿**اولئك الذين امتحن الله قلوبهم للتقوى**﴾(سورت الحجرات :۲) دا کسان به د الله تعالی د لګولی شوی خیمه کې وي.

مصمصة: د مدحرجة په وزن باندې ده. دا صفت دی. د موصوف یا لفظ "**شهادة**" دی. او یا خصلة دی. ای **شهادة مصمصة** او **خصلة مصمصة**، مصمصه د مضمضه په وزن باندې د صفائی او د پاکوالي په معنی کې دی. یعنې دا شهادت سړی د ګناهونو نه پاکونکی دی.

ذاك في النار: یعنې منافق اګر که جهاد وکړي، ښه وجنګېږي او دنیوې شهید هم شو، خپلو جامو کې بغیر د غسل نه د شهید په شان خښ هم کړی شو. بیا به هم د جنت په ځای دوزخ ته ځي، ځکه توره ګناهو ختموي خو غلطه عقیده نه شي بدلولی، لکه څنګه چې قادیانی، آغاخانی، رافضي او محلد ذکرې وغیره دي. چې په پاکستاني فوج کې د سروس (وظیفې) لپاره جنګېږي. او مړه کېږي، خو دا شهیدان نه دي ځکه منافق شهید نه شي کېدلی. (مرقات : ۴۰۲/۷)

فقط یوه نیکی باندې جنت، عجیبه قصه

﴿۷۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَائِذٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جِنَازَةِ رَجُلٍ
او حضرت ابن عائذ فرمایي چې (یو ورځ) نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو کس جنازې سره لاړو (چې د هغې لمونځ وکړي)
فَلَمَّا وُضِعَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللهِ
کله چې جنازه کیښودلی شوه نو حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ته د دې جنازې
فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ فَالْتَفَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ
لمونځ مه کوه، دا یو منافق او فاسق کس وُو". (دې اوربدلو سره) نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلکو اړخ ته متوجې شو او
فَقَالَ: هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟
ویې فرمایل چې "آیا تاسو کې یو کس په خپل ژوند کې په داسې عمل کولو باندې لیدلی دی چې حقیقي اسلام
فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً
باندې دلالت کوي، نو هغه مونږ ته وایئ. یو کس عرض وکړو "آؤ یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! دې کس یوه شپه د
فِي سَبِيلِ اللهِ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
الله په لاره کې چوکیداري کړې وه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د جنازې لمونځ وکړو او (د خبنولو په وخت کې یې د هغې قبر

وَحَثَا عَلَيْهِ التُّرَابَ وَقَالَ: أُصَحَابُكَ يَظُنُّونَ
باندې) خاوره واچوله او (ګويا کې مړی يې مخاطب کړو او) ويې فرمايل چې "ستا د ملګرو خو دا ګمان دی چې
أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَقَالَ: يَا عُمَرُ
ته دوزخي يې او زه دې خبرې ګواهي ورکوم چې ته جنتي يې". او بيا يې (حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وفرمايل) "عمر!
إِنَّكَ لَا تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلَكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيشُعَبِ الْإِيمَانِ[1]
تانه به د خلکو د بدو اعمالو باره نه پوښتلی کېږي بلکې ستا نه به د اسلام باره کې پوښتنه کېږي.

توضيح على عمل الاسلام: يعنې چا دا کس په يو داسې عمل باندې ليدلی دی چې په حقيقي اسلام باندې دلالت کوي. يو کس وويل چې ما دا د الله په لاره کې په چوکيدارئ باندې ليدلی ؤو. دې اوربدلو سره نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د جنازي لمونځ وکړو، ځکه ايمان او جهاد باندې د جهاد يو عمل دلالت کوي. د غيبو معامله په الله باندې حواله ده. مړې ته د مرګ نه وروسته په بنه القاباتو باندې يادول پکار دی. حکم لګول د بنده ګانو کار نه دی. دې وجې نه نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته تنبيه وکړه او د غيب په معامله باندې يې پرې د حکم لږولو نه منع کړو چې نفس اسلام ته ګوره، قيامت کې به صرف د اسلام باره کې پوښتنه کېږي. د پټو عملونو باره کې تشويش مه کوه. بيا نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس مخاطب کړو او ورته ويې فرمايل چې خلک تاته دوزخي وايي خو زه ګواهي کوم چې ته جنتي يې. يو خو د اسلام وجه ده چې ته مسلمان يې. دويم د جهاد عمل دی چې يو عظيم عمل دی. سبحان الله جهاد څومره لوی عمل دی چې بې عمله هم دلته باعمله دی. (مرقات: ۴۲۲/۷)

دلته هغه کسانو له سترګې کولاؤول پکار دي چې شپه ورځ همدغه نغاره وايي چې اول ايمان جوړ کړه بيا جهاد وکړه. ګويا کې چې تر څو پورې فربسته جوړه شوې نه يې نو جهاد ته نزدې تلل حرام دي. "لا حول ولا قوة الا بالله".

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۶۰ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴۳۰/۴ رقم الحديث ۴۲۹۷

باب اعداد آلة الجهاد

د جهاد د سامان تیارولو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿واعدوا لهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدو الله وعدوكم﴾

الفصل الاول

د استطاعت مناسب د جهاد لپاره د طاقت تیارولو حکم

﴿۱﴾ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ

حضرت عقبه ابن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا په منبر باندې اورېدلې

يَقُولُ: "(وَأَعِدُّوا لَهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ) أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ

دي چې او تاسو د کافرانو سره د جنګ کولو لپاره (خپل) طاقت او قوت چې څه (هم) څیز تیارولی شئ وکړئ.

أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ. أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ) رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

یاد وساتئ! تیر اندازي قوت دی. یاد وساتئ! تیر اندازي قوت دی. یاد وساتئ! تیر اندازئ قوت دی.

توضیح: واعدوا لهم ما استطعتم من قوة: اعداد د سامان وغیره د تیارولو په معنی کې دی. صاحب مشکوة دا عنوان د همدغه آیت د نظره ایښی دی. شاه اسماعیل رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې لیکلې دي چې واعدوا کې چې د امر کومه صیغه ده، ټول مسلمانان د دې مخاطب دي او هر مسلمان باندې فرض او لازمه ده چې هغوی په ذاتي توګه د جهاد لپاره تیارشي او خپل قوت پیدا کړي. دا قوت اګر که د ټولې دنیا برابر نه وي خو بیا هم د خپل طاقت مطابق قوت پیدا کول ضروري دي.

ما استطعتم: دا لفاظ بیانوي چې تاسو نه څومره کېدی شي هغه هومره وکړئ. شیخ التفسیر حضرت مولانا احمد علی لاهوری رحمه الله په اعداد الات جهاد باندې یو کتاب لیکلی دی. چې نوم یې ورله "اسلام اور ہتھیار" ایښی دی. دې کې هغې د قرآن او حدیث نه دا ثابته کړې ده چې هر مسلمان باندې فرض ده چې هغه اسلحه زده کړي او کوریې هم وساتي او په کفارو باندې یې هم استعمال کړي. د دې کتاب د لیکلو ضرورت هغه وخت پیښ شو چې کله په هندوستان کې د انګریزانو له خوا دا تبلیغات شروع شول چې اسلام کې د اسلحو او د تورو هیڅ مقام نشته دی. تر دې چې اخبارونو کې مضمونونه شایع کېدل شروع شو. دې باندې څه مسلمانانو د دارالعلوم نه فتوی وغوښتله چې آیا په اسلام کې د

---

[1] رقم الحدث ۳۸۶۱ اخرجه مسلم فی صحیحه ۱۵۲۲/۳ رقم الحدیث (۱۶۷-۱۹۱۷) وابوداود فی السنن ۱۹/۳ رقم الحدیث ۲۵۱۴

تورې څه مقام شته دی یا نه. د دیوبند علماؤ حضرت مولانا احمد علی لاهوی رحمه الله د جواب ورکولو لپاره انتخاب کړو. هغه دا کتاب ولیکلو چې د سید حسین احمد مدنی رحمه الله او حضرت مولانا مفتي کفایت الله رحمه الله او د حضرت مولانا قاری محمد طیب رحمه الله دستخطي وربانديې موجود دي. روزنامه انقلاب تاریخ ۳ ستمبر ۱۹۳۵ کې دا فتوی جاري کړی شوه. ما دا کتاب په دعوت جهاد کې ص ۲۵۰ باندې پوره نقل کړی دی. د اعداد اله جهاد او د اسلحي د جوړولو اهتمام او انتظام خپله نبي کریم ﷺ هم په ترجیحي بنیادونو باندې کړی ؤو. کله چې د طائف د قلعه محاصره اوږده شوه نو نبي کریم ﷺ د قلعه د ماتولو اسلحي د ضرورت اړخ ته اشاره وکړه. نو حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه منجنیق تیار کړو. بیا نبي کریم ﷺ د همدغه طائف نه دوه صحابه کرام رضی الله عنهم د دمشق علاقې جرش ته ولیږل، ځکه جرش کې هغه وخت دوه قسمه نوي اسلحي تیاریدلي. د یو نوم دبابه یعني ټینک ؤو او د بل نوم ضبور ؤو. دا یو قسم موټر ؤو. لکه نن سبا چې زرې پوش موټري دي. نبي کریم ﷺ غوښتل چې مسلمانان صرف ټینک رانولې بلکې د اسلحي د جوړولو ټیکنالوجي هم زده کړي، نو حضرت عروه بن مسعود رضی الله عنه او غیلان بن مسلمه لاړل او دا یې زده کړه او بېرته راغلل. د جنګ خندق نه وروسته چې کله بنو قریظه شکست وخوړلو او د هغوی ښځې وینځې شوي نو نبي کریم ﷺ د روم په بازارونو کې هغه ښځي د اسلحي په بدل کې خرڅې کړي او اسلحه یې حاصله کړه. قرآن کریم کې الله تعالی د اسلحي جوړولو اړخ ته ډېره اشاره کړې ده. حدیثونو کې د نبي کریم ﷺ د اسلحه د زدوه کولو او ښودلو، ساتلو او استعمالولو ډېر زیات ترغیب کړی دی، ځکه کفار د مادې قوت نه وېرېږي. د روحاني قوت هغوی هیڅ پرواه نه کوي. په عرفات کې ۶۰ لاکه حاجیان کرام په چغو چغو د کفارو لپاره ښېرې کوي خو هیڅ یو ځای کې کافر په شا نه شو، خو که د طمانچې یوه ګولۍ هغوی باندې کشمیر وغیره کې وچولوی شي نو د هغوی لښکرې منډې وهي. لهذا د اسلحي دا مادې قوت پرېښودل او د روحاني قوت خبره کول د شریعت د تعطیل او د احکام الهي د باطلولو مترادف دي. مسلمانانو له د دې خبرو نه ځان ساتنه پکار ده. د نبي کریم ﷺ په زمانه کې د آسونو سورلۍ، د تورې چلول، نیزه ویشتل او تیراندازې وغیره د جهاد سامان او مروجه اسلحه وه. نن توپک، توپ، راکټ لانچر، الوتکه، جیټ طیارې، ټینک، توپونه، زرې پوش موټرې، بحري جهازونه، بم، ایټم بم، زرې دار واسکټ او د کرو میزائلو وغیره زمانه ده. لهذا مسلمانانو باندې لازم دي چې دا ټولې مروجې اسلحې ښې تیارې کړي. فتح او کامیابي د الله په لاس کې ده، خو الله خپله مسلمانانو ته د اسلحو د استعمالول حکم کړی دی. اسبابو باندې توکل ناجائز دي. د اسبابو استعمال خو د اسلام حکم دی. ورنه اسباب یو شان مسترد کولو سره انسان په فرقه ضاله جبریه کې داخلیږي. سورت حدید کې آیت دی ﴿وأنزلنا الحدید فیه بأس شدید و منافع للناس ولیعلم الله من ینصره ورسله بالغیب﴾. (سورة الحدید: ۲۵) دې کې په واضحه توګه حکم دی چې د خپل دین مرسته او د الله تعالی او د هغې د رسول د حفاظت لپاره د وسپنې نه د جهاد کار واخلئ. وګورئ الله تعالیٰ

په هر شي کې يو نه يو خصوصيت ايښی دی. دا خصوصيت له نظره نه شي غورځول کېدی. مثلاً يو کس تږی شوی دی. د تندې ماتولو لپاره الله تعالیٰ اوبه پيدا کړي دي او د تندې ماتولو خاصيت په کې دی. اوس يو کس متوکل جوړ ږبې او د اوبو څښلو په ځای جومات ته روانږي او لمونځ شروع کړي نو دا به د ځان وژنې برابروي. يا خو دغه کس باندې د خرق عادات او د کرامونو پيره سپور دی يا يې په مازغو کې فرق دی. بالکل دغه شان الله د کفارو د مقابلې لپاره وسپنه پيدا کړې ده. او د دې نه جوړ کړی شوې اسلحو کې يې د دفاع خاصيت ايښی دی. د دې په استعمالولو سره به کافران مغلوبه شي او تښتې به. که يو که کس دا ويل شروع کړي چې د کفارو د تښتولو لپاره روحانيت پيدا کړئ، نيکان شئ، اعمالو باندې راشئ او اسلحې له لاس مه ورورئ، د کفارو حکومتونه به خپله وغورځږي، نو دا فلسفه او ذهنيت هم د قرآن او حديث خلاف ده. د همدغه ذهنيتی لرې کولو لپاره نبي کريم ﷺ د اعداد الله جهاد د آيت په تفسير کې دوه ځله وفرمايل "الا ان القوة الرمی الا ان القوة الرمی" يعنې ويشتل قوت دی، تير ويشتل قوت دی. داسې نه چې د روحانې قوت په طمع شي او خپل نقصان وکړئ. مسلمانان شئ، نيکان شئ خو د اسلحې په استعمال باندې تکل مه کوئ. دا استعمالولئ او د بازان په شان د خپل دين مرسته کوئ. سوال او زارئ او معذرت کولو انداز سره به مو کافران په سر وخېژې او هر څه به تباه کړې. شاعر مشرق ويلې دي.

افسوس صد افسوس کہ شاہين نہ بنا تو
ديکھے نہ تيری آنکھ نے قدرت کے اشارات
تقدير کے قاضی کا يہ فتویٰ ازل سے
ہے جرم ضعيفی کی سزا مرگ مفاجات

هر مسلمان له پکار ده چې هغه اسلحه باندې د کافرانو اعتراضونو له جواب ورکړي.

ہم پوچھتے ہيں شيخ کليسا نواز سے
مشرق ميں جنگ شر ہے تو مغرب ميں بھی ہے شر
حق سے اگر غرض ہے کيا يہ بات
اسلام کا محاسبہ مغرب سے در گزر

الرمی: د دې ډېر عجيب جامع لفظ دی. دې کې تورې وار هم داخل دی. کانۍ ويشتل هم، تير ويشتل، د توپ ګولی ويشتل، بم غوځرارول، راکټ ويشتل ټول د رمې په مفهوم کې داخل دی. (الکاشف ۳۷۶/۷، مرقات: ۴۲۴/۷)

خطر که نه هم وي بیا هم د اسلحې شغل جاري وساتئ

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: سَتُفْتَحُ

او حضرت عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلې دي چې "نژدې ته

عَلَيْكُمُ الرُّومُ وَيَكْفِيكُمُ اللهُ

چې ستاسو لپاره به روم فتح کړي شي او الله تعالى به تاسو له (د اهل روم د شر کولو نه کافي شي.

فَلَا يَعْجِزْ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

لهذا خبردار! تاسو کې هيڅ يو کس هم د تيرې په لوبولو کې ناراستي ونه کړئ".

توضیح: يعنې د شام او د روم خلک په تير ويشتلو کې ډېر ماهره دي. تاسو به د هغوى مقابله په تير اندازئ باندې کوئ. لهذا تير اندازئ ښه زده کړئ او کله چې الله تعالى په هغوى باندې فتح در کړي نو داسې مه کوئ چې اسلحې شغل په دې وجه پرېږدئ چې اوس خو شام فتح شوى. اوس د اسلحې څه ضرورت دى بلکې د اسلحې شغل هميشه لپاره ساتئ لکه دا چې ستاسو د لوبو برخه وي، ځکه کله هم ددې ضرورت راتلى شي مسلمانانو ته پکار ده چې هغوى د ننسبا د جهاد په حوالې سره ځومره په غفلت کې پراته دي. توره ورکه کړى شوې ده اولاس کې يې د ذلت لور (بيټ) اخستى دى.

توڑدی تلوار ہاتھ میں لیا بلا ہم نے پیٹیاں لٹتی رہیں اور ہم دعا کرتے رہے

د اسلحې د زده کولو نه وروسته هېرول لويه ګناه ده

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يقولُ: مَنْ

او حضرت عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلي دي چې "کوم کس

عَلِمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَلَيْسَ

تيراندازي زده کړه او بيا يې هغه پرېښودله نو هغه زمونږ نه نۀ دى. يعنې زمونږ په طريقه د تلونکو

مِنَّا أَوْ قَدْ عَصَى. رَوَاهُ مُسلم[2]

کې شامل نه دى. يا بيا ده چې هغې نافرماني وکړه".

---

(1) رقم الحديث ۳۸۶۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۲۲/۳ رقم الحديث (۱۶۸-۱۹۱۸) والترمذي في السنن ۲۵۲/۵ رقم الحديث ۳۰۳۸

(2) رقم الحديث ۳۸۶۳ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۲۳/۳ رقم الحديث (۱۶۹-۱۹۱۹) وابن ماجه في ۹۴۰/۲ رقم الحديث ۲۸۱۴

تيراندازي کوئ زه تاسو سره يم

﴿۴﴾ وَعَن سلَمَةَ بنِ الأَكوَعِ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَوْمٍ

او حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يو ورځ) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بنی اسلم يو ې قبيلي

مِنْ أَسْلَمَ رَيَّتَنَا ضَلُونَ بِالسُّوقِ

ته راغلو او هغه خلکو هغه وخت په بازار کې خپلو کې د تيراندازئ (مشق) کولو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ: ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ

چې هغوی په دې حالت کې وليدل نو ډېر خوشحاله شوا وويې فرمايل چې ای اولاد اسماعيل (يعنې ای عربو) تيراندازي کوئ حکه

فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا وَأَنَا مَعَ بَنِي

ستاسو پلار (حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ تيراندازوو او زه (هم) د فلانئ قبيلي سره يم (يعنې هغه وخت چې د بنی اسلم کومو

فُلَانٍ لِأَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ

دوه ډلو خپل مينځ کې د تيراندازئ مشق کولو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی کې د يو نوم واخستلو او ويې فرمايل چې زه

فَأَمْسَكُوا بِأَيْدِيهِمْ فَقَالَ:

د دې ډلې له (رخه يم) خو بلې ډلې لاس ودرول (يعنې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د يوې ډلې (رخ ته شو نو مقابلې ډلې د تير ويشتلو

مَا لَكُمْ؟ قَالُوا:

نه لاس راښکلو) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې "په تاسو څه وشو؟ يعنې تاسو تيراندازي ولې بنده کړه؟ هغوی وويل

وَكَيْفَ نَرْمِي وَأَنْتَ مَعَ بَنِي فُلَانٍ؟

چې مونږ په داسې صورت کې څنګه تيراندازي کولی شو چې ته د فلانئ (ډلې) سره يې (يعنې مونږ

قَالَ: ارْمُوا وَأَنَا

دا نه خو بنوؤ چې ته مونږ پر پرږدې او د بلې ډلې سره شې. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "(بنا) تاسو

مَعَكُمْ كُلِّكُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

تيراندازي کوئ زه د ټولو سره يم".

---

(1) رقم الحديث ۳۸۶۴ اخرجه البخاري في صحيحه ۵۳۷/۶ رقم الحديث ۳۵۰۷

﴿۵﴾ وَعَن أَنسٍ قَالَ: كَانَ أَبُو طَلْحَةَ يَتَتَرَّسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتُرْسٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (په ميدان جنګ کې) د يو ډال په ذريعه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

وَاحِدٍ وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ حَسَنَ الرَّمْيِ

بچ کولو ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو بهترين تيرانداز ؤو، نو (په دښمنانو باندې يې ډېر په ښه انداز سره تيراندازي هم کوله او

فَكَانَ إِذَا رَمَى تَشَرَّفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حفاظت هم) کله به چې هغې تير ويشتلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به را اوچت شو

فَيَنْظُرُ إِلَى مَوضِعِ نبله. رَوَاهُ البُخَارِيُّ[1]

او کتل به يې چې تير کوم ځای کې ولږېدلو او په چا ولږېدلو".

توضيح: **بترس**: يعني د ډال په ذريعه يې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حفاظت کولو. دوه ډالونه نه ؤو: دا د ډېر نژوالي اړخ ته اشاره ده چې ډېر نزدې ؤو. **تشرف**: د سر پورته کولو باندې کتلو ته وايي.

د جهادي اَسونو فضيلت

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (اَلْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيلِ) (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "د اَسونو په تندو کې برکت دی".

﴿۷﴾ وَعَن جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْوِي نَاصِيَةَ فَرَسٍ

او حضرت جرير ابن عبد الله بجلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د اَسونو د تندو ويختان

بِأُصبعِهِ وَيَقُولُ: "اَلْخَيْلُ

په خپلو ګوتو باندې اړول او فرمايل به يې چې اَسونه چې په تندو کې يې د قيامت لپاره په کې خير او نيکئ دي.

مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا اَلْخَيْرُ

(ځکه د اَسونو په ذريعه د جهاد د کولو سعادت حاصليږي چې د دنيا او آخرت خير په کې دی، لکه يو موقع

---

(1) رقم الحديث ۳۸۶۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۹۳/۶ رقم الحديث ۲۹۰۹ وأحمد في المسند ۳۶۸/۳

(2) رقم الحديث ۳۸۶۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۴/۶ رقم الحديث ۲۸۵۱ ومسلم في ۱۴۹۴/۳ رقم الحديث (۱۰۰-۱۸۷۴)

إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ: الأَجْرُ والغَنيمةُ". رَوَاهُ مُسلم[1]
باندې وفرمایلی شو چې جهاد کې باندې د آخرت ثواب ملاوېږي او د دینا مال غنیمت حاصلیږي).

توضیح یلوی: د اړولو په معنی کې دی. **معقود**: د عقد نه د ترلو په معنی کې دی.

نواصی: دا د ناصیة جمع ده. د تندې ویختانو ته وایې، خو مراد ترینه د اَسونو ذات دی. د اَسونو په تندو کې خیر او برکت تر قیامت پورې ځکه ترلی شوی دی چې جهاد به تر قیامت پورې جاري وي. او د جهاد لویه ذریعه اَس دی، نو اَسونو کې جهاد دی او جهاد کې تر قیامت پورې د ین او دنیا خیر دی. لهذا اَسونو کې دا خیر دی.

د جهادې اَسونو وونډه، اوبه، متیازي او څوتې به هم په نیک اعمالو کې وي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنِ
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کوم کس چې به الله تعالی باندې
احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللهِ إِيمَانًا وتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ
د ایمان راوړلو او د هغې وعده رښتیا ګڼلو په وجه د خدای په لاره کې (د کار اخستلو لپاره خپل کور) کې
فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ
اَس وترلو نو د هغې اَسپې سیری او سیرابی (یعنې څه چې هغې دنیا کې خوړلې او څښلې دي هغه) او د هغې
وبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
خاشنه او د هغې متیازي به د قیامت په ورځ د هغه کس د اعمالو په تله کې تللی کېږي".

توضیح شبعه: د خوړول شیان.

ریّه: د څښلو شیان. څنګه چې د جهادې اَسونو په ساتلو کې دومره ثواب دی. دغه شان نن سبا د جهاد لپاره هم اسلحه ساتلو باندې به ثواب ملاوېږي او چې د اَس دا شان دی نو دې باندې د سپورېدونکې مجاهد به څه شان وي؟

---

(1) رقم الحديث ۳۸۶۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۹۳/۳ رقم الحديث (۹۷-۱۸۷۲) والنسائي في السنن ۲۲۱/۶ رقم ۳۵۷۲

(2) رقم الحديث ۳۸۶۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۷/۶ رقم الحديث ۲۸۵۳ والنسائي فئي ۲۲۵/۶ رقم الحديث ۳۵۸۲

شکال اس ناخوښه اس دی

﴿۹﴾ وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يكرَهُ الشَّكَالَ فِي الْخَيْلِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په اَسونو کې شکال نه خوښولو.

وَالشِّكَالُ: أَنْ يَكُونَ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَى بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَى أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمنى

او شکال دا دی چې د اَس په ښي پښه او چپه پښه باندې سپین والی یا ښي لاس او چپ پښه باندې

ورِجلِه الْيُسرى. رَوَاهُ مُسلم[1]

سپین والی وي". (روایت کړې دې مسلم)

توضیح: الشکال: راوي په حدیث کې د شکال اَس پوره تعارف کړی دی، خو عام اهل لغت د دې سره اتفاق نه کوي. صاحب قاموس وغیره په قاومس وغیره کې لیکلې دي چې شکال اَس هغه وي چې دري پښې یې سپینې وي او یوه پښه یې د نور بدن پشان وي یا د هغې عکس وکمپلی شي چې یوه پښه یې سپینه وي او نورې دري پښې یې د بدن د رنګ پشان وي.

په اَسونو کې مسابقه د جهادي روزنې برخه ده

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سابَقَ بينَ الخيلِ

او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې (یو ورځ) د هغه دوه اَسونو مینځ کې مسابقت (اس زغلولو

الَّتِي أُضمِرَتْ مِنَ الحَفْيَاءِ وَأَمَدُهَا ثَنِيَّةُ الْوَدَاعِ

باندې چې کوم اضمار کړی شوی ؤ او دا د مسابقت حفیاء نه شروع شوه او په ثنیة الوداع باندې ختمه شوه

وَبَيْنَهُمَا سِتَّةُ أَمْيَالٍ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ

او د دې مقاماتو مینځ کې دوه میله فاصله وه او د کومو اَسونو کې اضمار نه ؤ شوی د هغوی په

مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ

مینځ کې د ثنیة الوداع نه تر د مسجد بنی زریق پورې مقابله وکړی شوه او د دې دواړو مقاماتو په

---

(1) رقم الحديث ۳۸۶۹ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۹۳/۳ رقم الحديث (۱۰۲-۱۸۷۵) وابوداود في السنن ۴۸/۳ رقم الحديث ۲۵۴۷

بني	زُرَيْق	وَبَينهمَا	ميل	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
مينځ کې (يعني د ثنية الوداع او د مسجد زريق) په مينځ کې يو ميل فاصله وه".				

توضيح: سابق: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې دوه قِسمه اَسونو په مقابله کې برخه اخستې ده. يو قِسم تربيت کړی شوي اسونه ؤو. د هغوی مقابله شپږ ميله فاصله پورې د منډې وهلو پورې وه. دويم هغه قِسمه اَسونه ؤو چې روزلی شوي نه ؤو. د هغوی د مسابقت فاصله درې ميله پورې وه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله هم تربيت (ټريننګ) کړی دی او نورو له يې هم ورکړی دی. د اَسونو منډه کې يې هم برخه اخستې ده او نور خلک يې هم اماده کړي دي، لکه په حديث نمبر ۱۱ کې راروان دي.

اضمرت: اَسونو له د سدهانې په غرض باندې منډه ورکول کېږي. دي عمل ته تضمير وايي. د دې طريقه دا وې چې اول اَس ته ښه خوراک څښاک ورکړي او مور کړی شي. بيا تر څلويښتو (۴۰) ورځو پورې هغې ته په نهره باندې سحر وختي وختې منډه ورکول کېږي. او ډېر کم خوراک ورکول کېږي. تر دې چې په مزه مزه په څلويښتو ورځو کې د هغې خيټه د ملا سره ولږږي. دا تضمير شوی اَس وي. چې د هوا په شان منډه وهي. (مرقات: ۴۲۹/۷)

يو بانډه چې مقابله کې مخکې ؤوتلو

﴿۱۱﴾ وَعَن أَنَسٍ قَالَ: كَانَتْ نَاقَةٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُسَمَّى الْعَضْبَاءَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يوه اوښه وه. چې نوم يې عضباء ؤو. او

وَكَانَتْ	لَا	تُسْبَقُ	فَجَاءَ	أَعْرَابِيٌّ
کله به هم شاته نه پاتې کېدله (يعني د مقابل اوښ نه به دا به مخې وتله) خو (يو ورځ) يو بانډه چې خپل اوښ باندې راغلو				
عَلَى	قَعُودٍ	لَهُ	فَسَبَقَهَا	فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ
او هغې چې د عضباء سره خپل اوښ په منډه کړو نو د هغې اوښ مخکې شو دا خبره په مسلمانانو باندې ډېره سخته				
فَقَالَ	رَسُولُ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ: إِنَّ حَقًّا عَلَى اللهِ
تېره شوه. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې "د الله تعالى دا يوه ثابته شوي فيصله ده چې دنيا کې هر يو				

(۱) رقم الحديث ۳۸۷۰ أخرجه البخاري في الصحيح ۷۱/۶ رقم الحديث ۲۸۶۸ ومسلم في ۱۴۹۱/۳ رقم الحديث (۹۵-۱۸۷۰)

أَنْ لَا يَرْتَفِعَ شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا وضَعه. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]

شی اوچت شي،نو الله تعالی هغه راغوزار کړي". (بخاری)

توضيح العضباء: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يوې اوښې نوم عضباء ؤو. اصل کې چې د کومې اوښې چې غوږ پيدائشي توګه باندې نه وي يا غوڅ وي نو هغې ته عضباء وايي. دلته د اوښې غوږونه ؤو خو واړه ؤو، ځکه ورله د عضباء نوم ورکړی شوی ؤو.

لاتسبق: يعنې هيڅ يو اوښ د دې نه مخکې نه شي تلی او دا شته نه شي پريښودلی. د مجهول صيغه ده. عضباء به په عامه توګه د مقابلې لپاره تيارېدلو. هغې د ټولو اوښانو د مخکې کېدلو ريکاډ جوړ کړی ؤو. (مرقات: ۳۴۰/۷)

اعرابی: باندې چې ته وايي. **قعود:** د دوه کالو نه ترد شپږو کالو پورې اوښې ته قعود وايي. د شپږ کالو نه وروسته اوښې ته جمل وايي. ګويا کې قعود هغه ځوان اوښ وې اوس اوس د سورلۍ لپاره تيار کړی شوې وي. (مرقات ۴۳۰/۷)

فاشتد ذلك: يعنې صحابه کرامو باندې د باندې چې د اوښ مخکې کېدل او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوښې ريکاډ ماتلو بد ولږېدل، ځکه د عربو معاشره کې شاته کېدنه د شرم سبب ؤو.

دې باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو ته اطمينان ورکړو چې د نيا په معاملاتو کې چې هر يو کس مخکې شي او هغه مشهور شي نو يو وخت الله هغه شاته کړي. چې د دنيا فخر ختم شي. لهذا دې اوښې سره هم الله تعالی همدغه معامله وکړه. د پريشانه کېدلو هيڅ ضرورت نشته دی. (مرقات ۴۳۰/۷)

الفصل الثاني

د يو تير په ذريعه درې ګسه جنت ته ځې

﴿۱۲﴾ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى

او حضرت عقبه ابن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې "الله تعالی

يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ: صَانِعَهُ

(کافرانو باندې د ويشتل شوې) يو تير په بدل کې درې کسان جنت ته داخلوي. وی خو د دې تير جوړونکی

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۷۱ أخرجه البخاري في الصحيح ۷۳/۶ رقم الحديث ۲۸۷۲ وأبوداود في السنن ۱۵۱/۵ رقم الحديث ۴۸۰۲.

يَحْتَسِبُ	فِي	صَنْعَتِهِ	الْخَيْرَ
کله چې هغه د خپل روزګار نه د ثواب امید هم وساتي (یعنې کله چې هغه تیر جوړوي نو د خپل روزګار سره دا نیت هم وکړي			
وَالرَّامِيَ	بِهِ		وَمُنَبِّلَهُ
چې زه دا تیر جهاد د پکار راتللو لپاره جوړوم) دویم جهاد کې تیر ویشتونکې ته او درېم تیر ورکونکې ته (یعنې هغه کس			
فَارْمُوا	وَارْكَبُوا		وَأَنْ
چې د تیر ویشتونکې په لاس کې تیر ورکړو هغه که اول ورکړي او د د نشانې د پاسه یې ورکړې) لهذا تاسو			
تَرْمُوا	أَحَبُّ	إِلَيَّ	مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا كُلُّ شَيْءٍ
تیراندازي کوئ او اسونو باندې سورلی کوئ او ستاسو تیراندازي ماته د سورلی کولو نه ډیره خوښه ده. او یاد			
يَلْهُو	بِهِ	الرَّجُلُ	بَاطِلٌ
وساتئ! انسان چې کوم شی په لهو و لعب کې (یعنې صرف په لوبو او تفریح) کې اختیار کړي هغه باطل او ناروا			
إِلَّا رَمْيَهُ	بِقَوْسِهِ	وَتَأْدِيبَهُ	فَرَسَهُ وَمُلَاعَبَتَهُ امْرَأَتَهُ
دی، خو د خپل کمان نه تیراندازي کول، خپل اس ساتل او د خپلې ښځې سره سیر او تفریح کول دا			
فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَزَادَ أَبُو دَاوُد والدارمي:			
ټول شیان حق دي. ترمذی ابن ماجه) ابو داؤد او دارمي دا (خپل روایت کې) دا الفاظ هم نقل کړي دي "			
وَمَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ			
او کوم کس چې د تیراندازئ د زده کولو نه وروسته دا د بې نیازئ او بېزارئ سره پرېږدي، نو هغه تیراندازي			
فَإِنَّهُ نِعْمَةٌ تَرَكَهَا. أَوْ قَالَ: كفرها[1]			
یو نعمت دی چې کوم هغې پرېښود لی دی. یا یې دا وفرمایل چې د هغې د دې نعمت ناشکري وکړه.			

توضیح: **ثلاثة نفر**: یعنې په جهاد کې د استعمالېدونکې یو تیر په ذریعه د ښه نیت په وجه درې کسان جنت ته داخل شي. یوه هغه جوړونکی چې د جهاد په نیت تیر یا توپک وغیره خپلې کارخانه

---

(1) رقم الحديث ۳۸۷۲ اخرجه ابوداود في السنن ۲۸/۳ رقم الحديث ۲۵۱۳ والترمذي في ۱۴۹/۴ رقم الحديث ۱۶۳۷

کې جوړوي. دويم ويشتونکی مجاهد او درېم "منبل" مجاهد سره مورچه کې ولاړ کس چې تيرويشتونکې مجاهد ته په لاس کې تير ورکوي هغې ته منبل وايي. (مرقات : ۴۳۱/۷)

نبال: تيراندازئ ته وايي او نبل تير ته وايي.

وارموا وار کبوا: د دې جملې يو اسان مفهوم دای دی چې تيراندازئ هم زده کړئ او اَس سواري هم زده کړئ. دواړه کارونه د جهادي روزنې برخه ده. دويم مفهوم دا دی چې تيراندازي هم کوئ او اَسونو باندې د سپورېدلو حالت کې نيزه بازي هم کوئ. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې زماد نيزه بازئ نه تير اندازي ډېره خوښه ده، ځکه تيراندازئ کې په ځان اعتماد زيات دی او خالص د ځمکې په جنګ باندې مبنې دی. چې د جنګ نتيجه ترېنه تر لاسه کېږي. خلاصه دا چې د هر قسمه مشق ښه دی خو د تير اندازئ مشق د نورو مشقونو نه زماډېر خوښ دی، نو په حديثونو کې د تيرونو چلول مقدم کړی شوی دی. بهرحال مشق زده کول او بيا يې هېرول ګناه ده. (مرقات ۴۳۱/۷)

کفرها: يعنې د يو نعمت ناقدرې او ناشکرې ده. (مرقات ۴۳۲/۷)

په ميدان جهاد کې د تير ويشتلو ثواب

﴿۱۳﴾ وَعَن أَبِي نَجِيحٍ السُّلَمِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت ابو نجيح سلمی فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې "کوم

مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ لَهُ دَرَجَةٌ فِي الْجَنَّةِ

کس د الله په لاره کې (يعنې جهاد) کې يو تير (نښانه باندې) ؤلي (يعنې تيريې ويشتلو او کافريې پرې مړ کړ)

وَمَنْ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ

نو د هغې لپاره جنت کې يوه لويه درجه ده او کوم کس چې د الله په لاره کې (يعنې جهاد) کې تير ويشتلو (هغې باندې

فَهُوَ لَهُ عِدْلُ مُحَرَّرٍ وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً

کافر که ولېدلو يا نا) نو د هغې لپاره د يو برده (غلام يا د وينځې د ازادولو برابر دی او کوم کس چې د اسلام (په حالت

فِي الْإِسْلَامِ كَانَتْ لَهُ

کې) بوډا شو (يعنې الله د اسلام په حالت باندې وساتلو تر دې چې هغه بوډه شو او مړ شو) نو هغه بوډه والی

نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ. وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ

به د قيامت په ورځ رنا وي". (دا روايت بهيقی رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړی دی) ابو داؤد د (روايت صرف)

الْفَصْلَ	الْأَوَّلَ	وَالنَّسَائِيُّ	الْأَوَّلَ	وَالثَّانِيَ
اولنی جز یعنې نسائی اولنی او دویم جز (چې په کوم کې د تیر اندازې فضیلت بیان کړی شوی دی) نقل کړی دی.				
وَالتِّرْمِذِيُّ	الثَّانِيَ	وَالثَّالِثَ	وَفِي	رِوَايَتِهِمَا:
او ترمذی دویم او درېم جز نقل کړی دی. دغه شان د بیهقی او د ترمذی په روایت کې "فی الاسلام" یعنې "د اسلام په حالت				
مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي سَبِيلِ اللهِ بدَلَ فِي الْإِسْلَامِ[1]				
کې" په ځای د في سبیل الله "یعنې د الله په لاره کې" دی.				

توضیح بلغ: یعنې یو تیر ننباني ته ورسیدلو چې په کافر باندې ولږېدلو.

ومن رمی: یعنې د کافران اړخ ته یې تیر ویشتلو. هغه که پرې ولږېدلو یا نا.

عدل: برابر او د مساوی په معنی کې دی. **محرر**: یعنې غلام یا د وینځې د ازادولو برابر دی.

الفصل الاول: د دې حدیث درې برخې دي. دغه برخو ته فصل اول او ثانی او ثالث ویل شوی دی.

من بلغ نه د **ومن رمی** پورې یوه برخه ده. دې ته فصل اول ویلی شوی دی. ابوداؤد دغه هومره نقل کړی دی. د **ومن رمی** نه و من شاب پورې دویمه برخه ده. امام نسائی اولنۍ او دویمه برخه نقل کړې ده. او ترمذی دویمه او درېمه برخه نقل کړې ده. درېمه برخه د **ومن شاب** نه تر آخر پورې ده. د فصل اول نه مراد برخه او جزء دی.

وفی روایتهما: په ظاهر د تثنیه دا ضمیر نسائی او د ترمذی اړخ ته تلل پکار دی، ځکه دواړه نزدې نژدې دي، خو داسې نه ده، ځکه نسائی درېم جزء نه دی نقل کړی. لهذا د تثنیه دا ضمیر د بیهقی او ترمذی اړخ ته ځي، ځکه بیهقی پوره حدیث نقل کړی دی.

اوس پوښتنه دا ده چې بیهقی د **شیبة فی الاسلام** لفظ استعمال کړی دی، لکه څنګه چې پاس حدیث کې دی، نو د بیهقی باره ویلی کېدی شي چې هغې د **فی سبیل الله** لفظ نه دی استعمال کړی. بیا دلته صاحب مشکوة څنګه ویلې دي چې "**وفی روایتهما فی سبیل الله الخ**"

د دې جواب دا دی چې د بیهقی نه دوه روایتونه نقل دي. یو کې د **فی الاسلام** لفظ نقل دی چې په ترمذی کې نشته دی. او دویم روایت کې د **فی سبیل الله** لفظ دی چې په ترمذی کې هم دی. او بیهقی کې هم دی. لهذا د **وفی روایتهما** جمله صحیح شوه. (مرقات: ۴۳۳/۷)

---

(۱) رقم الحدیث ۳۸۷۳ اخرجه ابوداود فی السنن ۲۷۴/۴ رقم الحدیث ۳۹۶۵ والترمذي في ۱۴۹/۴ رقم الحدیث ۱۶۳۸.

جهادي روزنه کې شرط لګول جائز دی

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا سَبَقَ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "د مسابقي د شرط مال اخستل

إِلَّا فِي نَصْلٍ أَوْ خُفٍّ أَوْ حَافِرٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

صرف دري شیانو (یعني) تیر ویشتلو، اوښ په منډه کولو او د آسونو په منډه کې جائز دی".

توضیح: لاسبق: مخکې کېدلو کې شرط لګولو ته سبق او سباق ویلی شوی دی. یعنې مقابله کې د انعام شرط لګول د جهادې روزنې برخه کې جائز دی. د دې نه بغیر ناجائز دی. ځکه دا جواري ده. کوم شیان چې د جهاد په وسائلو او ذرایعو کې شامل دي. د هغې په مسابقت کې شرط لګول او مقابله کول او د شرط روپئ اخستل اصل کې جهاد ته د ترغیب ورکولو د نظر په خاطر دی. او اعداد اله جهاد او د هغې په تشویق او ترغیب په حکم کې راځي، ځکه دا جائز ګڼلی شوي دي. جهاد عجیبه عبادت دی او د دې عجیبه نازکه احکامات دي. ډېر شیان نورو ځایونو کې ناجائز دي خو په جهاد کې جائز دي. (مرقات ۴۳۳/۷)

چا څه ښه ویلې دي:

تفرد بالاحكام في اهله الهوى ❁ فانت جميل الخلف مستحسن الكذب

نصل: "ای ذو نصل" نصل بهالې ته وایي چې په نیزه او تیر کې وي.

او خف: ای ذو خف، اوښ ته وایي. (مرقات ۴۳۴/۷)

حافر: ای ذو حافر آس ته وایي. حدیث کې دا دري شیان خاص کړی شوې دي. چې ترینه معلومېږي چې د دې نه بغیر بل هیڅ یو څیز کې شرط لګول او روپئ اخستل جائز نه دی.

خو فقهاؤ د دې دري شیانو په حکم کې هغه شیانو هم شامل کړي دي. جو اعداد آله جهاد کې استعمالېږي. مثلاً خچر، خر او هاتې (فیل) دی یا پیاده مقابله کول دي یا د توپک وغیره نښانه صحیح کول دي. چې دا ټول شیان د جهادې روزنې په غرض وي نو هغې کې هم د شرط لګولو روپئ وصول کېدلی شي، ځکه علت مشترک دی. ما د فقهاؤ دا خبره نقل کړې ده. (كذا في المرقات)

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۷۴ أخرجه ابوداود في السنن ۶۳/۳ رقم الحديث ۲۵۶۴ والترمذي في ۱۷۸/۴ رقم الحديث ۱۷۰۰

په مسابقه کې د محلل د شریکیدو حکم

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "چې کوم کس د دوه اَسونو په

بَيْنَ فَرَسَيْنِ فَإِنْ كَانَ يُؤْمَنُ

مینځ خپل اَس شامل کړي نو هغه اَس داسې دی چې (د تیزېدلو په وجه) د هغې باره کې دا یقین دی چې هغه به (د دې دواړو

أَنْ يَسْبِقَ فَلَا خَيْرَ فِيهِ وَإِنْ كَانَ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يَسْبِقَ

اَسونو نه) مخکې ځي، نو دې کې خیر نشته دی. او که دا یقین نه وي چې هغه به مخکې لاړ شي،

فَلَا بَأْسَ بِهِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: قَالَ:

نو بیا څه باک نه کوي". او د ابوداؤد روایت کې دا الفاظ دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ يَعْنِي وَهُوَ لَا يَأْمَنُ

چې که یو کس د دوه اَسونو مینځ کې خپل اَس شامل کړو چې د هغې باره کې دا یقین نه دی چې

أَنْ يَسْبِقَ فَلَيْسَ بِقِمَارٍ وَمَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ

هغه به مخکې شي نو دا جوارې نه ده او که چرې یو کس د دوه اَسونو مینځ خپل (داسې) اَس شامل کړي

وَقَدْ أَمِنَ أَنْ يَسْبِقَ فَهُوَ قمار[1]

چې د هغې باره کې دا یقین دی چې دا به مخکې لاړه شي نو دا جوارې ده.

توضیح: ادخل فرسا بین فرسی: دا سې معلومېږي چې دا په جهادي روزنه کې نه دی بلکې د عامه اَسونو د منډې مقابله ده، ځکه د دې د جواز لپاره یو خاص صورت ویلی شوی دی. حال دا چې جهادي معامله کې هیڅ صورت ناجائز نه دی، لکه څنګه چې مخکې تېر شوې دي. ما د دې حدیث نه همدغه ګڼلې ده. والله اعلم. بهرحال د حدیث پس منظر او د جائز او ناجائز صورتونو نقشه داسې ده چې مثلاً د دوه کسانو د اَسونو مقابله ده. که یوې کمپنۍ یا حاکم په دې کې د مخکې کېدونکې لپاره د انعام په توګه شرط ایښی دی، نو دا جائز دي. دغه شان د دواړو اَسونو مالکانو کې یو خپل ملګرې ته وویل چې که چرې ته مخکې ؤوتلې نو دومره روپئ به درکوم او که زه مخکې ؤوتلم نو څه

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۷۵ أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۰/۳۹۶ رقم الحديث ۲۶۵۴ وأبوداود في السنن ۳/۶۶ رقم الحديث ۲۵۷۹

به هم نه اخلم. دا صورت هم جائز دی. او که دواړو شرط کیښودلو نو دا معامله د جواز ده. چې ناجائزه ده، خو که په شرط کې محلل راغلو نو د بیا به د طرفینو معامله جائزه وي. محلل هغه درېم کس ته وایي چې خپل اَس د شرط لګونکو سره شامل کړي او وایي چې که زه د دواړو نه مخکې شوم نو ستاسو دواړو نه به دومره روپئ اخلم. او که زه شاته پاتې شوم نو زه تاسو ته هیڅ نه درکوم. مانه به هیڅ نه اخلئ. اوس د دې محلل په داخلیدلو سره د اَسو د منډو اولنی شرط ترونکې دواړه کسانو لپاره شرط حلال شو. په دې وجه دې ته محلل وایي. اوس که محلل ونه وتلو او په دې دواړو کې یو کس مخکې ؤوتلو نو هغه به د خپل ملګري نه مقرر شوی شرط اخلي او که دواړه یو ځای ورسېدل نو هی یو ته به روپئ نه ملاویږي، خو د محلل لپاره په دې حدیث کې یو شرط لګولی شوی دی. هغه دا دی چې که چرې د هغې د اَس د دې دواړو د اَسونو نه د مخکې کېدل یقینیط نه وي بلکې احتمال وي چې مخکې شي یا وروسته پاتې شي. که ټولو ته په یقیني توګه معلومه وي چې د محلل اَس به مخکې کېږي نو بیا دا کس محلل نه شي کېدلی. بلکې ټوله معامله به ناجائز شي. (مرقات ۴۳۵/۷)

په اَسونو کې جلب او جنب منع دی

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ.
او حضرت عمران ابن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې "نه جلب (جائز) دی او نه جَنب او (یو راوي
زَادَ يَحْيَى فِي حَدِيثِهِ: فِي الرِّهَانِ.
یحیی په خپل روایت کې د لفظ "فی الرهان" هم نقل کړی دی یعنې د هغې په روایت کې دا دي چې رهان یعنې د اسونو په شرط
رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
او مسابقت کې نه جلب جائز دی او نه جنب. دا روایت ابوداؤد نقل کړی دی. دغه شان ترمذی هم دا روایت
مَعَ زِيَادَةٍ فِي بَابِ الْغَضَبِ[1]
څه زیات الفاظو او معانې سره په باب الغصب کې نقل کړی دی".

توضیح: **جلب او جنب**: د دې دا اصطلاح په کتاب الزکوٰم کې هم استعمال شوې ده. او کتاب الجهاد کې هم استعمال شوې ده. او په کتاب البیوع کې صرف د یو لفظ جلب استعمال شوی دی. کتاب الزکوة

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۷۶ أخرجه ابوداود في السنن ۶۷/۳ رقم الحديث ۲۵۸۱ والترمذي في ۴۳۰/۳ رقم الحديث ۱۱۲۳.

او بيوع کې د دې تفصيل تېر شوی دی. هلته يې کتل پکار دي. دلته اصطلاحي مفهوم دا دی چې د اَس د منډې مقابله کې يو کس خپل اَس شاته يو بل سپور شوی پرېږدي. خپله په اَس باندې سپور دی، خو د مقابل کونکې کس اَس د شاته نه تنګوي. اوازونه ورکوي او په تيزه کوي. دا ناجائز دي، لکه د خر په مقابل کونکې کس اَس د شاته نه تنګوي. ياد اوښانو په مقابله کې ظالمان منډه کولو لپاره په هغې باندې سپور شوی کس لوتا وغيره شړنګ. ياد اوښانو په مقابله کې ظالمان عربان معصومه ماشومان سپور کړې. ماشوم د وېرې له وجې ژاړي، نو اوښ وېرېږي او په تيزه منډه وهي. الله تعالىٰ به داسې ظالمانو ته سزه ورکړي. (مرقات ۴۴۵/۷)

ولا جنب: جنت دا دی چې د مقابله کونکې سره سره يې يو فارغ اَس اينبی دی. د دې لپاره چې کله يې سورلی ستړې شي نو د هغې لکئ تازه کړي او بېرته پې سپور شي. کوم يې چې غاړي ته دی. دا هم ناجائز دی. (مرقات ۴۴۵/۷)

في الرهان: اَسونو د منډو مقابله او شرط لګولو ته رهان وايي.

د بنائسته اَسپې علامت

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: خَيْرُ الْخَيْلِ
او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل. بهترين اَس
الْأَدْهَمُ الْأَقْرَحُ الْأَرْثَمُ ثُمَّ الْأَقْرَحُ
تور اَس دی. چې په تندې باندې يې لږ سپين وي او د پوزې اړخ ته يې سپين والی وي. بيا هغه اَس بهتر دی
الْمُحَجَّلُ طُلْقُ الْيَمِينِ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ
چې په تندې باندې يې لږ سپين والی وي او پښې يې سپينې وي خو بنې پښه يې سپينه نه وي. او
أَدْهَمَ فَكُمَيْتٌ عَلَى هَذِهِ الشِّيَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ[1]
که اَس تور نه وي نو بيا دغه قسمه کميت (هم بهتره اَس دی)

توضيح: الادهم: ډېر زيات تور اَس ته ادهم وايي. د دې تور اَس څه صفات هم په دې حديث کې ذکر دي. اول صفت د اقرح دی. يعنې چې په تندې يې سپين داغ وي چې د غړه نه کم وي. (مرقات ۴۳۴/۷)

الارثم: دا دويم صفت دی يعنې د پاسنۍ شونډې برخه يې د پوزې اړخ ته سپين وي. (مرقات ۴۳۶/۷)

ثم الاقرح المحجل: يعنې که د ادهم پاسنې صفات په ادهم کې نه وي نو په ادهم کې دويم نمبر باندې

([1]) رقم الحديث ۳۸۷۷ أخرجه الترمذي في السنن ۱۷۶/۲ رقم الحديث ۱۶۹۶ وابن ماجه في ۹۳۳/۲ رقم الحديث ۲۷۸۹

هغه اَس دی چې د تولو نه ښه دی. په تندې باندې يې د سپين داغ سره د هغې پښې هم تر يوه حد پورې سپينې وي. اګر که تول سپين وي يا که دوه سپين وي يا درې سپينې وي. (مرقات ۴۳۶/۷)

طلق اليمين: يعنې که په پښو کې څه سپين والی وي. نو په دې کې شرط دا دی چې صرف يې يوې پښه سپينه نه وي بلکې دا پښه ازاده وي. (مرقات ۴۳۶/۷)

فكميت: يعنې که تور اَس نه وي نو د هغې نه وروسته د کميت اَس ښه دی. کميت هغه اَس دی چې د غړۍ او لکۍ مينځ کې ويختان يې تور وي او باقې اَس سور وي. (مرقات ۴۳۷/۷، ۴۳۶)

على هذه الشية: **شية د شيات** جمع ده. دا هغه داغ ته وايي چې د بدن د عام رنګ خلاف وي. شاعر ساحر ادهم او شيۀ په يو شعر کې داسې راجمع کړي دي.

افاعيل الورىٰ من قبل دهم ۞ و فعلک في فعالهم شيات

د دې جملې مطلب دا دی چې که تور اَس نه وي نو بيا کميت هم ښه اَس دی، خو د ادهم په صفت باندې وي. چې **اقرح وأرثم و محجل هو.** (مرقات ۴۳۷/۷)

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَلَيْكُمْ بِكُلِّ

او حضرت ابوٴ وهب جشمې وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ستاسو لپاره سپين تندې والا

كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ

او د سپين لاس پښو والا کميت اَس ضروري دی. بيا اشقر اَس پکار دی. چې تندی يې هم سپين وي

أَوْ أَدْهَمَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

او لاس او پښې يې هم سپينې وي يا تور اَس وي چې د سپين تندې والا وي او د سپين لاس او پښو والا وي.

په سرو اَسونو کې برکت وي

﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُمْنُ الْخَيْلِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل اَسونو کې برکت په سرو

فِي الشُّقْرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[2]

اَسونو کې وي. (ترمذی، ابوداؤد)

---

(1) رقم الحديث ۳۸۷۸ أخرجه أبوداود في السنن ۴۷/۳ رقم الحديث ۲۵۴۳ والنسائي في ۲۱۸/۶ رقم الحديث ۳۵۶۵.

(2) رقم الحديث ۳۸۷۹ أخرجه أبوداود في السنن ۴۸/۳ رقم الحديث ۲۵۴۵ والترمذي في ۱۷۶/۴ رقم الحديث ۱۶۹۵.

توضیح اغر: د غرة نه دی. د تندې سپین داغ ته وایي. (مرقات ۴۳۷/۷)

اشقر: سور رنګې اَس ته وایي. چې ټول سور وي خو د هغې لکۍ یا د غړۍ ویختان سپین وي. هم دومره فرق دی او شقر سور رنګ ته وایي.

د اَسونو په تندې، په څټ ولاړ ویختان او د لکۍ ویختان مه غوڅوئ

﴿۲۰﴾ وَعَن عُتبةَ بن عبدٍ السُّلميِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عتبه ابن سلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې هغې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلې دي چې

لَا تَقُصُّوا نَوَاصِيَ الْخَيْلِ وَلَا مَعَارِفَهَا وَلَا أَذْنَابَهَا

"د اَسونو د تندې ویختان د هغې د غړۍ او د لکۍ ویختان مه غوڅوئ ځکه د هغې لکۍ د هغې مورچهل دی

فَإِنَّ أَذْنَابَهَا مَذَابُّهَا وَمَعَارِفَهَا دِفَاءُهَا

(چې هغه دا خوځئ نو مچانو او ماشي الوځوي) او د هغې غړۍ هغوی ته د ګرمئ د رسولو شیان دي.

وَنَوَاصِيهَا مَعْقُودٌ فِيهَا الْخَيْرُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

شوی دی. او د دوی د تندې په ویختانو کې خیر تړلی

توضیح لاتقصوا: قص د غوڅولو په معنی کې دی. (مرقات ۴۳۷/۷)

نواصی: د ناصیة جمع ده. د تندې ویښتو ته وایي. (مرقات ۴۳۷/۷)

معارف: د دې مفرد عرف دی یا معرفة دی. د اَس په څټ چې کوم ویختان او چت ولاړ وي هغه مراد دي. چې ایال ورته وایي. (مرقات ۴۳۷/۷)

اذنابها: د دې مفرد ذنب دی. لکۍ ته وایي. مراد تربنه د لکۍ ویختان دي. د حدیث نوره برخه کې د دې د ممانعت اړخ ته اشاره شوې ده. (مرقات ۴۳۸/۸)

مذابها: دا د ذب نه دی. د اخوا کولو په معنی کې دی. یعني د لکۍ ویختانو باندې اَس مچان وغیره پاسوي. دا د دې پکی دی. (مرقات ۴۳۸/۷)

معقود: یعنی د تندی ویښتو کې الله تعالی برکت ایښودلې دي. (مرقات ۴۳۸/۷)

---

(۱) رقم الحدیث ۳۸۸۰ اخرجه ابوداود في السنن ۴۸/۳ رقم الحدیث ۲۵۴۲ واحمد في المسند ۱۸۴/۴

د جهادي اَسونو ساتنه وکړئ

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ارْتَبِطُوا الْخَيْلَ

او حضرت وهب جشمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل اَسونه وترئ. د هغې

وامسحُوا بنواصيها وأعجازِها أَو قَالَ: كفالِها

په تندو او شا ګانو باندې لاسونه راکاږئ. يا د (اعجازها په ځاې) اکفالها وفرمايل او د دې دواړو الفاظو په معنی

وَقَلِّدُوهَا وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

ده، شا ترېنه مراد ده. او د دې په څټ کې رسۍ وترئ خو د دې په څټ کې د کمان په مزي باندې يې مه ترئ.

توضيح: **ارتبطوا**: وې ترئ يعنې ښه ساتنه يې وکړئ. او ښه خوراک پرې وکړئ چې ښې تازه او چاغې وي. او د جهاد په وخت کې ښې کانامې وکړي. (مرقات ۴۳۸/۷)

اعجاز: د عجز جمع ده. (مرقات ۴۳۸/۷)

اکفال: د کفل جمع ده. د دواړو ترجمه وروستنئ برخه ده. يعنې انس او محبت او صفائې او د خدمت په غرض د اَس په شا باندې او په وروستنئ برخه باندې لاس راکاږئ. (مرقات ۴۳۸/۷)

وقلدوها: يعنې د اَس په غاړه کې قلاده اچوئ. چې د اسلام د دښمنانو سره د جنګ لپاره د دين د اوچت والي لپاره هر وخت تيار وي. (مرقات ۴۳۸/۷)

الاوتار: دا د وتر جمع ده. د کمان مزي او پرې (تسمه) ته وايي. مطلب دا دی چې دا تسمه د اَس په غاړه کې مه اچوئ. دې سره اَس ځورند شي. يا د وتر نه مراد شرکيه مزی او تسمه ده. چې د عربو د ضرر د لرې کولو لپاره د ځناورو په غاړه کې ترلو او شرک عقيده به يې ترېنه ساتله. اسلام دا منع کړی ده. (مرقات ۴۳۸/۷)

د اهل بيتو درې خصوصيات

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا مَأْمُورًا

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو مامور بنده ؤو. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته

مَا اخْتَصَّنَا دُونَ النَّاسِ بِشَيْءٍ إِلَّا بِثَلَاثٍ:

(يعنې خپل اهل بيت د نورو خلکو نه جدا کړه او د درې خبرو نه بغير بل د هيڅ يوې خبرې په خصوصي

([1]) رقم الحديث ۳۸۸۱ اخرجه أبوداود في السنن ۵۳/۳ رقم الحديث ۲۵۵۳ والنسائي في ۲۱۸/۶ رقم الحديث ۳۵۶۵.

أَمَرَنَا	أَنْ	نُسْبِغَ	الْوُضُوءَ
توګه حکم نه دی کړی. او هغه (دری خبرې چې په خاصه توګه يې اهل بيتو ته حکم کړی ؤو) دا دي چې ۱: مونږ اودس			
وَأَنْ لَا نَأْكُلَ الصَّدَقَةَ وَأَنْ لَا نَنْزِيَ حِمَارًا عَلَى فَرَسٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ[1]			
پوره وکړو ۲: مونږ د صدقې مال ونه خورو ۳: مونږ اَسپو باندې خرې ونه خېجؤو.			

توضيح: عبداً مأموراً: يعنې نبي کريم ﷺ د الله تعالى د حکم پابند بنده ؤو. کوم حکم چې د الله د اړخ نه به ملاوېدلو هغه به يې عوامو ته رسولو. داسې نه وه چې خپلوانو ته به يې خصوصي حکم کولو او نورو ته به يې نظر نه کولو. دغه شان په احکاماتو کې نبي کريم ﷺ به امتياز او خصوصيت روا نه ساتلو. همدغه وجه ده چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا وضاحت کوي چې نبي کريم ﷺ به مونږ اهل بيتو ته هم د يو شي خاص حکم نه کولو، خو د درې شيانو يې مونږ ته په خاصه توګه حکم وکړو. اګر که امت هم په دې کې مونږ سره دوه شيانو کې شريک دی، خو په خاصه توګه مونږ ته حکم شوی دی. هغه درې وصيتونه پوره اودس کول، صدقه نه خوړل او خر په اَسپې نه خېجول دي. خر په اَس باندې د خېجولو په وجه د اَسپې نسل خرابېږي. او د دښې شي په ځای بيکاره شی ترلاسه کېږي، ځکه خچر د اَس نه ادنی دی. دې وصيت کې او د کامل او پوره اودس کولو وصيت کې نور امت هم شريک دی. البته صدقه نه خوړل صرف د اهل بيتو خصوصياتو کې دی. دې حديث باندې په اهل روافضو باندې ښکاره رد دی چې وايي حضرت علي رضي الله عنه ته نبي کريم ﷺ خصوصي وصيتونه کړي ؤو. روافض په اذان کې د دې اظهار د "**وصی رسول الله**" په الفاظ سره کوي. حضرت علي رضي الله عنه او اهل بيت بار بار د دې تردېد کړی دی، خو روافض ډېر پلېد خلک دي. (مرقات ۴۳۸/۷)

اَسپی ته خر پريښودل منع دي

﴿۲۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أُهْدِيَتْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم
او د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دی چې (يو موقع باندې) د نبي کريم ﷺ په خدمت کې

(۱) رقم الحديث ۳۸۸۲ اخرجه ابوداود في السنن ۵۰۷/۱ رقم الحديث ۸۰۸ والترمذي في السنن ۱۷۸/۴ رقم الحديث ۱۷۰۱

بغلةً	فركِبَهَا	فَقَالَ	عَلِيٌّ:
يو قچر دهديه په توګه پيش کړی شو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې باندې سپور شو. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو			
لَوْ حَمَلْنَا الْحَمِيرَ عَلَى الْخَيْلِ فَكَانَتْ لَنَا مِثْلُ هَذِهِ؟			
چې که چرې مونږ اَسپو ته خرو رپرېږدو نو مونږ ته به (هم) داسې قچر ملاؤ شي؟ (دې اوربدلو سره)			
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا يَفْعَلُ ذَلِكَ الَّذِينَ لَا يعلمُونَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ[1]			
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې دا کار هغه خلک کوي چې ناواقفه دي. (روايت کړې دې ابوداؤد او نسائی)			

توضيح لايعلمون: يعنې خر په اَسپي ته پريښودل د نامعقوله خلکو کار دی. که دا عقل مند خلک وی اَسپي باندې به يې اَس پريښودلی وی چې د ښه نسل والا اَسونه پيدا شي. د خر د نسل نه بيکاره خچر پيدا کېږي. دا خلک د صحيح فيصلې نه لرې شوي دي او د صحيح لارې نه بې لارې شوې دي. او په دې مکروه کار کې مشغوله شوې دي.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ توره

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ			
او حضرت انس رضی الله عنه فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ توره قبضه (موتې) خولئ د			
مِنْ فِضَّةٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ والدارمي[2]			
سپينو زرو وه. (روايت کړې دې ترمذی او ابوداؤد، نسائی او دارمی)			

توضيح قبيعة سيف: د توري خولئ ته وايي. چه دلاسکی نه شاته وی. د توري د ښائست لپاره لږ شان سره زر استعمالول جائز دي. سپين زر هم جائز دي خو چې ډېر نه وي. (مرقات ۴۴۰/۷)

﴿۲۵﴾ وَعَنْ هُودِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ جَدِّهِ مِزيدةَ قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ			
او حضرت هود بن عبدالله ابن سعد د خپل نيکه چې نوم يې مزيد ؤ نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ			
يَوْمَ	الْفَتْحِ	وَعَلَى	سَيْفِهِ
د فتح په ورځ (مکې) ته داخل شو، نو هغه وخت د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره توره وه. هغې باندې			

(۱) رقم الحديث ۳۸۸۳ أخرجه ابوداود في السنن ۵۸/۳ رقم الحديث ۲۵۶۵ والنسائي ۲۲۴/۶ رقم الحديث ۳۵۸۰.

(۲) رقم الحديث ۳۸۸۴ أخرجه ابوداود في السنن ۶۸/۳ رقم الحديث ۲۵۸۳ والترمذي في ۱۷۳/۴ رقم الحديث ۱۶۹۱

ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[1]

د سرو او سپينو زرو كار شوى ؤو. (روايت كړې دې ترمذى)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اُحد په ورځ دوه زغرې واغوستلې

﴿۲۶﴾ وَعَن السَّائِب بْنِ يَزِيدَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سائب ابن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې د غزوه اُحد په ورځ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

كَانَ عَلَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[2]

(بدن مبارک) باندې دوه زغرې وې. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه په بلې باندې اغوستې وه. (ابوداود، ابن ماجه)

توضيح: قدظاهر: يعنې يوه يې په بلې باندې د لاندې اغوستې وه. معلومه شوه چې د زيات نه زيات اسلحه استعمالول د توكل منافې نه ده. او دا هم معلومه شوه چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله جنګ كړى دى او په ښه انداز سره يې جنګ كړى دى. كوم خلک چې دا نقصان او شرم ګڼې يا ترې انكار كوي. هغه دې د خپل ايمان خير ولمانځي. (مرقات ۴۴۱/۷)

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جنګي جنډه

﴿۲۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَتْ رَايَةُ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْدَاءَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غټه تور رنګې جنډه وه او وړه جنډه

وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْنُ مَاجَه[3]

يې د سپين رنګ وه.. (ترمذى و ابن ماجه)

توضيح: راية: ملكي غټې جنډې ته رايه وايي. دا جنډه توره وه. د تور مطلب دا نه چې ښخې توره وه بلكې د لرې نه توره ښكارېدله. او كه د نزدې نه چا كتلى نو سپينې پټې پكې ښكارېدلې او همدغې ته پرانګينه (د پرانګ په رنګ) ويلى كېږي. (مرقات ۴۴۱/۷)

والواؤه ابيض: يعنې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جنګي جنډه وړه او سپينه وه. چې امن ته اشاره ده. (مرقات ۴۴۲/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۸۵ أخرجه الترمذي في السنن ۱۷۳/۴ رقم الحديث ۱۶۹۰

(۲) رقم الحديث ۳۸۸۶ أخرجه ابوداود في السنن ۷۱/۳ رقم الحديث ۲۵۹۰ وابن ماجه في ۹۳۸/۲ رقم الحديث ۲۸۰۶

(۳) رقم الحديث ۳۸۸۷ أخرجه الترمذي في السنن ۱۶۹/۴ رقم الحديث ۱۶۸۱ وابن ماجه في ۹۴۱/۲ رقم الحديث ۲۸۱۸

﴿۲۸﴾ وَعَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ مَوْلَى مُحَمَّدِ بْنِ الْقَاسِمِ قَالَ: بَعَثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ

او حضرت موسى ابن عبيدة چې د محمد ابن قاسم (تابعي) ازاد کړی شوی غلام ؤو وايي چې محمد ابن قاسم

إِلَى الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يَسْأَلُهُ عَنْ رَايَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زه حضرت براء بن عازب خوا ته ولېږلم چې دا معلومه شي چې د نبي کريم ﷺ بيرغ څنګه ؤو.

فَقَالَ: كَانَتْ سَوْدَاءَ مُرَبَّعَةً مِنْ نَمِرَةٍ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[1]

نو براء بن عازب وفرمايل چې جنډه د تور رنګ وه. د هغې توته څلور ګوډه او د پرانګ د څرمني په شان وه.

توضيح مربعة: يعنې اوږد والى او پلنوالى يې څلور ګوټه ؤو. **نمرة**: د پرانګ په رنګ وه.

﴿۲۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ

او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ (د فتح مکه په ورځ) مکې ته داخل شو، نو هغه

وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[2]

وخت د نبي کريم ﷺ سره سپينه جنډه وه.

الفصل الثالث

﴿۳۰﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: لَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ النِّسَاءِ

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې د نبي کريم ﷺ په نظر کې د ښځو نه وروسته (د جهاد د مقصد ونو لپاره)

مِنَ الْخَيْلِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[3]

د آسونو نه زيات محبوب او خوښ بل هيڅ يو شى نه ؤو.

خپله قومي اسلحه جوړه کړئ او هغه خپله کړئ

﴿۳۱﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كَانَتْ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت علي رضي الله عنه فرمايي (په هيڅ يو ميدان کې يا هيڅ په يو داسې موقع باندې) د نبي کريم ﷺ

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۸۸ أخرجه ابوداود في السنن ۷۱/۳ رقم الحديث ۲۵۹۱ والترمذي ۱۸۹/۴ رقم الحديث ۱۶۸۰

(۲) رقم الحديث ۳۸۸۹ أخرجه ابوداود في السنن ۷۲/۳ رقم الحديث ۲۵۹۲ والترمذي في ۱۶۸/۴ رقم الحديث ۱۶۷۹ .

(۳) رقم الحديث ۳۸۹۰ المرقاة المفاتيح ۴۰۶/۷

قَوْسٌ عَرَبِيَّةٌ فَرَأَى رَجُلًا بِيَدِهِ قَوْسٌ فَارِسِيَّةٌ
په لاس کې عربي لينده ؤو. کله چې هغې يو کس (صحابي) په لاس کې فارسي (ايراني) لينده وليدلو نو ويې فرمايل
قَالَ: مَا هَذِهِ؟ أَلْقِهَا وَعَلَيْكُمْ بِهَذِهِ وَأَشْبَاهِهَا
چې دا څه دي؟ دا غوزاره کړه. تاله (يعني عربي) لينده ساتل پکار دي. او دغه شان (يعني دا قسم) ساتل پکار
وَرِمَاحِ الْقَنَا فَإِنَّهَا يُؤَيِّدُ اللهُ لَكُمْ بِهَا فِي الدِّينِ
دي. دغه شان روغې نيزې ساتل پکار دي. يقيناً د دې په ذريعه الله تعالى به د دين په (اوچتولو کې) ستاسو
وَيُمَكِّنُ لَكُمْ فِي الْبِلَادِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]
سره مرسته وکړي. او (د دښمنانو) ښارونو کې به تاسو کلک کړي.(۱)

(۱) د ښځو نه وروسته اسونو سره د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محبت د جهاد د محبت ارخ ته اشاره ده. هغه وخت به اس د جيټ طيارې په شان کار کولو. حديث کې د اعدادو ډاډګېرنه ده. (د کتاب په صفحه ۱۱۸ آخر کې باندې دي)

توضيح قوس فارسية: يو عربي لينده وي او يو فارسي لينده وي. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاس کې عربي لينده وه. او د يو صحابي په لاس کې فارسي لينده وه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه خوښ نه کړو. او ويې فرمايل چې دا غوزار کړه او عربي لينده په لاس کې واخله او استعمال يې کړه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عربي لينده ته په فارسي لينده باندې ولې ترجيح ورکړه؟ ما د ځينو علماؤ نه اوريدلې دي چې عربي لينده د ماتېدلو نه وروسته هم کار کوي، خو په فارسي کمان کې دا صفت نشته دی، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عربي کمان د ښه والي له نظره دا د اختيار ولو حکم ورکړو. ډېره ښه توجيه ده. کاش که چا چرته په کتاب کې ليکلی وی. (مرقات ۴۴۴/۷)

بله توجيه چې زما په ذهن کې راځي هغه دا ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله وطنئ او د قومې اسلحه ډاډګېرنه کړې ده چې عربي کمان زمونږ د مصنوعاتو نه دی. مونږ له په دې باندې پوره اعتماد ساتل پکار دي او د نورو جوړه شوې اسلحه خپل قومي بنياد ايښودل پکار نه دي. حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به هم په عام جنګونو کې خپلې قومي اسلحې ته ترجيح ورکوله. اګر که د غيرو خلکو اسلحه به څومره هم ښه وه. د حديث سياق او سباق د دې توجيهاتو سره بالکل موافق ده، ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلې دي چې د هم دې اسلحې په وجه او د جهاد په برکت سره به الله تعالى دين کې ستاسو سره مرسته کوي او په ملکونو کې به تاسو ثابت قدم کړي.

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۹۱ أخرجه ابن ماجه في السنن ۹۳۹/۲ رقم الحديث ۲۸۱۰

درېمه توجیه دا هم ده چې کومه ټولو شارحینو اخستې ده. ملاعلي قاري او علامه طیبي او نورو شارحینو همدغه اختیار کړې ده. هغوی فرمایي چې د هغه صحابي خیال ؤو چې فارسي کمان مضبوط وي. په دې به مونږ ته ډېر فتوحات تر لاسه شي، ځکه ورته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ستا خیال صحیح نه دی. د جنګ آلاتو باندې فتوحات نه کېږي. بلکې دا د الله تعالیٰ په نصرت او مرستې سره حاصلیږي. دا نصیحت په خپل ځای بالکل صحیح دی، خو د بحث لاندې د حدیث سیاق و سباق د دې توجیه نه ډېر لرې ده، ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د "انها" نه تر آخره پورې د اسلحې د استعمالول او د جنګ د آلاتو د اختیارول د دین د ترقئ ذریعه ویلې ده.

فانها: کې ضمیر قصه دا ده چې دې کمانونو او نیزو سره الله تعالیٰ ستاسو د دین تائید کوي او ستاسو قدمونه په دنیا کې مضبوطوي. (مرقات ۴۴۴/۷)

هرمسلمان له پکار ده چې هغه جهاد او اسلحه مضبوطه کړي. څومره چې اسلحه او ایمان مضبوط وي د مسلمانانو جهاد به مضبوط وي. د خلکو ذهن به جهادې وي، نو دین به هم ترقي کوي. مسلمان حکومتونه به هم مضبوط وي. دنیا به هم اباده وي. امن به قائم وي. عزتونه او عظمتونه به محفوظ وي. معاشره به هم پاکه وي. او ملک به هم خوشحاله وي. ګنې هیڅ به لاس را نشي. او ذلت به مسلط شي. الله تعالیٰ چې د اسمان د کافرانو د مغلوبولو لپاره کومه نسخه راکړې ده هغه جهاد او جهادې اسلحه ده. پرېښودل د اسلحې نه دي. کوم خلک چې اسلحې ته د کرکې په نظر ګورې هغوی د قرآن او حدیث توهین کوي. او په غیر شعورې توګه د جهاد نه منکر شي. زما دعویٰ ده چې اسلحه د فساد ذریعه نه ده بلکې د امن او امان ذریعه ده. دې دعویٰ باندې د قبائلو د خلکو امن او امان واضحه دلیل دی. چې د اسلحې انبار ورسره وي، خو په ناحق دومره نه مړه کېږي. څومره مرګونه چې په دې ښارې علاقو کې کېږي. چرته چې ډاکوان مسلح وي او د شریفانو لاسونه یې تړلې وي. چا د جهاد د اسلحې باره کې څه ښه ویلې دي.

سکھایا ہے ہمیں ای دوست طیبہ کے والی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نے
کہ بوجہلوں سے ٹکرا کر ابھرنا عین ایمان ہے
برائے دین اسلام رقص کرنا عین ایمان ہے

باب آداب السفر
د سفر د آدابو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿ولا یطئون موطئا یغیظ الکفار ولا ینالون من عدو نیلا إلا کتب لهم به عمل صالح﴾(سورة توبه : ۲۰)

آداب جمع ده. د دې مفرادب دی. خصائل حمیده د خپلو او د خصائلو رذیله نه د بچ کیدلو نوم ادب دی یعنې هر شي ته د جائز مقام او د مناسب حق ورکولو نوم ادب دی.

د سفر نه مراد عام او مطلق سفر دی، خو دلته زیاتره د نبي کریم ﷺ د جهادي سفرونو او د هغې د آدابو بیان شوی دی. نبي کریم ﷺ د نبوت نه مخکې د دیارلس (۱۳) کالو عمر کې شام ته یَو سفر کړی ؤ. او مکې ته بیرته راغلو. بیا نبي کریم ﷺ د پنځویش (۲۵) کاله عمر کې د تجارت په غرض باندې شام ته سفر کړی ؤو. د نبوت نه وروسته د نبي کریم ﷺ یو سفر د مکې نه طائف ته شوی ؤو. د هغې مقصد طائف والو ته د اسلام دعوت ورکول هم ؤو. او د خپل ملګرو لپاره د پناه ځای لټنه هم مقصود ؤ[illegible] بیا نبي کریم ﷺ د مکې نه مدینې ته د ۵۳ کاله عمر کې د هجرت عظیم الشان سفر وکړو. د مدینې منورې نه په شپږمه هجرئ کې د نبي کریم ﷺ یو سفر د عمري لپاره ؤو چې په صلح حدیبیه باندې ختم شو او نبي کریم ﷺ بغیر د عمري نه بیرته مدینې ته راغلو. بیا بَل کال ته د نبي کریم ﷺ د عمرة القضاء سفر وشو. بیا په لسمه هجرئ کې نبي کریم ﷺ د حج په ارادې سوالاک□ یا د کم و زیات صحابؤ رضی الله عنهم سره د حجة الوداع سفر وکړو. د نبي کریم ﷺ د دې اؤوه (۷) سفرونو نه بغیر نور ټول سفرونه د جهاد لپاره شوي دي. چې د جزیره عرب دننه ؤو. د جزیره عرب نه بیرون د نبي کریم ﷺ یو جهادي سفر شوی ؤو. چې د غزوه تبوک لپاره د شام زمکې اړخ ته شوی ؤو. علماء، طلباء او صلحاء عوامو له لازم دي چې د نبي کریم ﷺ سفر د کوم مقصد لپاره شوی ؤو. همغه مقصد د خپل ځان لپاره بیان کړي. جهادي سفر له د تشکیل نوم ورکول کوم انصاف دی؟ حال دا چې نن سبا د عوام الناس په ذهن کې د تشکیل یو خاص تصور دی. چې د جهاد تصور کول په حرام ګڼلی کېږي. بهرحال د جهاد د سفر یو څو آداب هم لیکلی کېږي. کتنه یې وکړئ.

۱: د اعلاء کلمة خالص نیت وي ۲: بغیر د څه تکبر نه دي په ډیره عاجزئ ته لاړشي او راشي ۳: خپل مینځې جنګ او ټکري دي نه وي بلکې د یو بَل سره دي مرسته کونکې وي ۴: سفر د نبي کریم ﷺ د طریقي مطابق وي ۵: دشمن سره دي د جنګ ارمان نه کوي خو چې کله جنګ وي نو بیا دي ثابت قدم وسي

او بنه صبر دي وکړي ۶: عدد او عدد باندې دي نظر ونه کړي شي. بلکې فقط په الله تعالى باندې دي يقين وي او تعلق مع الله دي بنه مضبوط وي ۷: اوچت ځای ته يا لاندې د تلو راتلو وخت کې دي په ژبه باندې د الله او د الله اکبر چغې وي ۸: د فتحې نه وروسته دي نه تکبر کوي، نه دي ظلم کوي بلکې عاجزي دي کوي.

الفصل الاول

د جهاد لپاره د يوم الخميس انتخاب

﴿۱﴾ عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ

حضرت کعب ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه تبوک لپاره د پنج شنبې د ورځې

وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

نه روان شو او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دا خوښول چې د جهاد د سفر ابتداء د پنج شنبې د ورځې نه وکړي.

توضيح: **يوم الخميس**: د پنج شنبې ورځې ته خميس وايي. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمومي سفرونه د پنج شنبې په ورځ شوي وُو. کله کله د دې نه خلاف هم شوی دی. د پنجشنبې د ورځې د انتخاب وجه دا ده چې د ټولې هفتې عملونه د پنج شنبې په ورځ الله تعالى ته وړاندې کېږي. چې د جهاد لوی عمل هم په دې کې وي، نو ډېره بنه ده. دويمه وجه دا ده چې خميس او خمس کې مناسبت لفظي دی. خمس د مال غنيمت برخې ته وايي. دريمه وجه دا ده چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لښکر نوم الخميس وُو چې پنځه برخې يې وي. يعنې **مقدمة الجيش، ساقة الجيش، ميمنة الجيش، ميسرة الجيش او قلب الجيش.** په دې مناسبت سره به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پنج شنبې په ورځ سفر کولو. يهودو چې خيبر کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لښکر وليدلو نو په هغه موقع يې وويل "**محمد والخميس والله**" د دې لپاره د فال په توګه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پنج شنبې ورځ عموماً د سفر لپاره انتخاب کړه. (مرقات ۴۴۵/۷، ۴۴۴)

د ځان ته د سفر کولو ممانعت

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ

او حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل! که خلک د هغه

---

(1) رقم الحديث ۳۸۹۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱۳/۶ رقم الحديث ۲۹۵۰ وأبوداود في السنن ۷۹/۳ رقم الحديث ۲۶۰۵

يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ مَا سَارَ
شي نه چې په سفر کې پېښېږي دومره خبر شي لکه څومره چې زه خبر يم نو هيڅ سو سپور کس به د
رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
شپې سفر (د کولو همت) ونه کړي

توضیح: يعني يواځې د سفر کولو چې کوم دنيوي او اخروي نقصانونه ماته معلوم دي که چرې هغه چاته معلوم شول نو هيڅ يو سپور کس به ځان له سفر ونه کړي. ديني نقصان خو دا دی چې د جمعې سره لمونځ د ځان کس په نصيب کې نه وي او دنيوي نقصان دا دی چې د حادثې په وخت کې يا د سامان د حفاظت په وخت کې به د هغې د مرستې لپاره هيڅ څوک نه وي او خاص کر کله چې د جهاد زمانه وي، نو د ځان کس لپاره به د سفر څومره خطر وي. بهرحال نن سبا د سفر کولو لپاره اجتماعي ترتيب وي. هيڅ يو کس چرته هم ځان نه وي. کېدی شي دې سفر او پخواني سفر کې فرق وي. (مرقات ۴۴۵/۷)

په قافله کې که سپی يا تلئ وي نو د رحمت فرښتي به نه وي

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَصْحَبُ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د هغه قافلې سره
الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]
فرښتې نه وي چې کوم کې سپی تلئ (ګينګړی) وي.

توضیح: الملائكة: د رحمت فرښتې مراد دي. هغه ورسره يو ځای نه وي. د رحمت فرښتې او کراماً کاتبين نو وي. د جرس نه مراد ګينګړی او تلئ دي چې اواز کوي. د دې نه د ريکاډنګ حرمت په اسانې سره معلوميږي. د سپې نه شوقيه سپی مراد دی. بنکاري سپی يا د څوکئ سپی مراد نه دی. (مرقات ۴۴۵/۷)

﴿۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْجَرَسُ
او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل جرس (يعني ګينګړی او تلئ)

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۹۳ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳۷/۶ رقم الحديث ۲۹۹۸ وابن ماجه في السنن ۱۲۳۹/۲ رقم الحديث ۳۷۶۸

(۲) رقم الحديث ۳۸۹۴ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۷۲/۳ رقم الحديث (۱۰۳-۲۱۱۳) وأبوداود في السنن ۵۳/۳ رقم الحديث ۲۵۵۵

مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[۱]

مزامير شيطان (شيطاني باجه) ده.

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي بَشِيرٍ الْأَنْصَارِيِّ: أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ

او د حضرت ابوبشير انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغه په يو سفر کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وُو،

فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو (هغه بيان کوي چې د هغه سفر په موقع کې) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو کس ته د قافلې دننه د دې حکم

رَسُولًا: لَا تبقين فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ

د اعلان لپاره ولېږلو چې د هيڅ اوښ په غاړه کې د لينديو د مزي پټې پاتې نه شي. يا يې وفرمايل چې

أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[۲]

پټې مه پرېږدئ ببخې يې غوڅې کړئ.

توضيح: قلادة: د پټې ممانعت ځکه وشو چې دې کې اواز کونکې ګينګړی وي. که ګينګړی نه وي او د شرک پټئ نه وي نو هسې د پټئ ممانعت نشته دی. (مرقات ۴۴۶/۷)

په ځاړۀ باندې د سورلئ کولو متعلق هدايت

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا سَافَرْتُمْ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل. کله چې ته د ارزانئ په زمانه

فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَقَّهَا مِنَ الْأَرْضِ

کې (اوښانو باندې) سفر کوي نو هغه اوښانو ته د هغه ځمکې (نه د خوراک) حق ورکړه (يعنې هغې د وانښو

وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَأَسْرِعُوا

د خوړلو موقع ورکړه. د غه وخت کې د سفر په دوران کې د لږ وخت نه وروسته يې د څربدلو لپاره پرېږده، چې

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۹۵ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۷۲/۳ رقم الحديث (۱۰۴-۱۲۱۴) وأبوداود في السنن ۵۴/۳ رقم الحديث ۲۵۵۶

(۲) رقم الحديث ۳۸۹۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۴۱/۶ رقم الحديث ۳۰۰۵ ومسلم في ۱۶۷۲/۳ رقم الحديث (۱۰۵-۲۱۱۵)

عَلَيْهَا	السَّيْرَ	وَإِذَا	عَرَّسْتُمْ
هغه خپلې خټې ډکې کړې او تيزې مزل وکړي) او کله چې ته قحط په زمانه کې سفر کوي نو دې باندې ژر سفر کوه (يعنې د			
بِاللَّيْلِ	فَاجْتَنِبُوا		الطَّرِيقَ
سفر دوران کې تاخير مه کوه چې اوښ د خوراک نه کولو په وجه کمزورئ کې د اخته کېدلو نه مخکې خپل منزل ته ورسوې)			
فَإِنَّهَا	طُرُقُ		الدَّوَابِّ
دغه شان چې کله د شپې چرته پراؤ کوي نو په لاره کې پراؤ مه کوه ځکه ځناور مزل کوي او هغه مضر (زهريله)			
وَمَأْوَى	الْهَوَامِّ	بِاللَّيْلِ. وَفِي	رِوَايَةٍ: إِذَا
ځناور (لکه مار او د لړم وغيره) د اوسيدلو او د تېرېدلو ځايونه دي. او يو روايت کې داسې دي چې کله ته قحط			
سَافَرْتُمْ	فِي السَّنَةِ	فَبَادِرُوا بِهَا	نِقْيَهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
په زمانه کې (اوښان نو باندې) سفر کوي نو په تندئ سره سفر کوه. چې په اوښان کې د بدن طاقت موجود وي.			

توضيح الخصب: د شينکې او د ارزانئ او په اسانه زمانه کې سفر ته الخصب وايي. (مرقات ۴۴۷/۷)

حقها: يعنې د وانبو د خوړلو حق ورکوه. (مرقات ۴۴۷/۷)

السنة: وچکالې او قحط ته وايي. يعنې داسې موقعو کې تيز مزل کوه چې د وچکالئ په وجه د هلاک کېدلو نه مخکې مخکې بېچ شې او ؤوځې. (مرقات ۴۴۷/۷)

عرستم: تعريس د شپې آخري وخت کې پراؤ کولو ته وايي.

الطريق: يعنې لاره کې قيام مه کوه. بلکې د لارې نه غاړې ته شپه تېروه. چې درنده ګان او د ځمکې د حشراتو او د پېريانو نه بچ شي، ځکه د شپې دا شيان لارو ته راؤځي.

مأوئ: د ځای جوړولو په معنى کې دى. (مرقات ۴۴۸/۷)

الهوام: حشرات الارض او مضر شيانو ته وايي. (مرقات ۴۴۸/۷)

نقيها: يعنې طاقت د ختمېدلو او د کمزورې کېدلو نه مخکې مخکې څاروى بچ وباسه.

---

(1) رقم الحديث ۳۸۹۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۲۵ رقم الحديث (۱۷۸-۱۹۲۶) وأخرجه أبو داود في السنن ۳/ ۶ ۔ ۷ رقم الحديث ۲۵۶۹

د سفر ضرورت مند ملګرې سره مرسته وکړه

﴿۷﴾ وَعَن أَبِي سعيد الْخُدْرِيّ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې په یو موقع کې کله چې مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ؤو.

إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ فَجَعَلَ يَضْرِبُ يَمِينًا وَشِمَالًا

ناڅاپه یو کس په اوښ باندې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له راغلو او اوښ یې نبي او چپ اړخ ته تاوهلو،

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ

نو دا (لیدلو سره) نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم کس سره چې (د خپل ضرورت نه) زیاتې سورلی وي،

فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ

هغې له پکار ده چې هغه سورلی هغه کس له ورکړي چې سورلی ورسره نه وي او د کوم کس سره

وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ

چې د ضرورت نه زیات خوراک او د څښاک سامان وي نو هغه دې هغه کس له ورکړي چې د هغې سره خوراک

عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ قَالَ: فَذَكَرَ

او د څښاک سامان نه وی. روایي وایي چې د هغې نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مال او د شیانو د قسمونو ذکر وکړو

مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ حَتَّى

(یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شیانو نومونه اخستلو سره وفرمایل چې د کوم کس سره فلانی او فلانی شی لکه تو ته وغیره د خپل

رَأَيْنَا أَنَّهُ لَا حَقَّ

حاجت نه زیاته وي نو هغه په هغه کس باندې خرچ کول پکار دي چې د هغې سره هغه شی نه وي) تر دې چې (د هغې د ترغیب او نصیحت

لِأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

نه) احساس وکړی شو چې مونږ کې د هیچا هم په خپل هغه شي باندې هیڅ حق نشته ذی چې کوم هغې سره د ضرورت نه زیات وي.

توضیح: **یضرب یمیناً و شمالاً**: یضرب د تاوهلو په معنی کې دی. د مسلم په یو روایت کې د یصرف لفظ موجود دی. چې د تاوهلو په معنی کې دی. مسلم کې په دې روایت کې د یصرف نه وروسته د

([1]) رقم الحديث ۳۸۹۸ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۳۵۴ رقم الحديث (۱۸-۱۷۲۷) وابوداود في السنن ۳۰۵/۲ رقم الحديث ۱۶۶۳

بصره لفظ هم موجود دی. دې سره مطلب ډېر واضحه شو چې د هغه کس سورلی دا چې ډېره ستړي شوې وه او هغې سره د سفر سامان هم نه ؤو، ځکه هغې ښې او چپ اړخ ته نظر تاوهلو چې یو مسلمان د هغې سره مرسته وکړي. دې توجیه سره به ټول حدیث باندې پوهېدل اسانه شي، ځکه د هغه کس نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وروسته د مرستې کولو ترغیب ورکړو. شارحینو د دې حدیث مطلب دا هم بیان کړی دی چې د هغه کس سورلی دومره کمزورې شوې وه چې اودرېدلی نه شوه، ځکه هغې ښې او چپ اړخ ته جوتې خوړلې او پریشانه وه او هغه کس به هغه ښې او چپ اړخ ته تاوهله. دا توجیه بعیده ده.

فضل زاد: یعنې که د چا سره زیاتې سورلی وي یا زیاتې سامان او خوراک وي نو په هغې دې د خپل ورور سره مرسته وکړي. (مرقات ۴۴۸/۷)

فلیعد به: دا صیغه د عاد یعود نصر ینصر نه ده. اساس البلاغه کې علامه مخشری رحمه الله د دې معنی رفق او نرمي کړې ده. "**ای فلیرفق به یقال هذا الامر اعود علیك**" **ای ارفق بك**، خو په منحد کې لیکلی شوې دې چې د عاد یعود د راتاوهلو او د حساس کېدلو په معنی کې دی. "**یقال عاد السائل ای ردّهٗ و صرفه عاد فلاناً بالمعروف صنعه معه**" یعنې د هغې سره یې احسان وکړو. د بحث لاندې حدیث مناسبه معنې همدغه ده. اګر که علامه طیبې اولنۍ معنی کړې ده. مطلب دا شو چې د چا څه سورلی یا سامان وي یا خوراک وي نو هغه دې خپل مجتاج ورور سره احسان وکړي او ورد دې کړي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومره ترغیب ورکړو چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ خیال وکړو چې په زیاتې مال باندې د هغوی هیڅ حق نشته دی. (الکاشف ۴۰۰/۷ مرقات ۴۴۸/۷)

په سفر کې د مقصد د پوره کیدو نه وروسته کور ته ژر راشئ

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې سفر د عذاب یوه ټوټه ده.

يَمْنَعُ	أَحَدَكُمْ	نَوْمَهُ	وَطَعَامَهُ	وَشَرَابَه

چې تاسو نه خو (په اراما و راحت سره) خوب ته پرېږدي او نه (مو په طریقه باندې) خوراک څښاک ته پرېږدي.

فَإِذَا	قَضَى	نَهْمَتَه	مِن	وَجْهِه

لهذا کله چې تاسو کې یو کس (چرته سفر ته لاړ شي او) د سفر غرض پوره شي (یعنې د کوم مقصد لپاره مو چې سفر کړی دی

فليعجل	إِلَى	أَهله	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
هغه مقصد پوره شي) نو هغې له پکار ده چې د خپل کور والو ته راتللو کې تونديې وکړي.			

توضيح نهمته: مقصد. حاجت او د ضرورت په معنى کې دى. (مرقات ۴۵۰/۷)

من وجهه: يعنې کوم اړخ ته چې مسافر متوجې شي او د کوم مقصد لپاره يې سفر کړى دى. هلته نه چې کله مقصد پوره شي نو ژر دې کور ته بېرته راشي. دا حکم د غير واجبه سفرونو لپاره دى. که سفر واجب وي لکه حج او جهاد وغيره نو د هغې لپاره دا حکم نه دى. اګر که حديث دې لپاره هم شامليدلى شي.
سفر ته د عذاب ټوټه ځکه ويلى شوې ده چې انسان په کې د ټولو سهولتونو نه محروم شي. که سهولتيات وي هم خو بيا هم د کور نه جدا، وطن او د خاندان نه جدا کېدل ولې څه لږه پريشانې ده؟ بې مقصده سفرونو کې اکثر ليدلى شوې دي چې د بسونو حادثې وشي، لکه د مزارونو سفرونو لپاره د سفر مېلو کې او ټورسټ (تفريح کونکې) اکثر په مصيبتونو کې راګېر شي. (مرقات ۴۵۰/۷)

د معزز ميلمه يا د مسافر په راتلو باندې استقبال جائز دى

﴿۹﴾ وَعَن	عبدِاللهِ	بنِ	جعفرٍ	قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عبدالله ابن جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سفر نه بېرته راتللو نو د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ				
إِذَا	قَدِمَ	مِنْ	سَفَرٍ	تُلُقِّيَ بِصِبْيَانِ أَهْلِ بَيْتِهِ
اهل بيتو به د ماشومانو په ذريعه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استقبال کولو (يعنې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ				
وَإِنَّهُ	قَدِمَ	مِنْ	سَفَرٍ	
اهل بيتو به ماشومان نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته حاضر کړه) نو (يو ورځ) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د سفر نه بېرته راغلو				
فَسُبِقَ	بِي	إِلَيْهِ	فَحَمَلَنِي	بَيْنَ يَدَيْهِ
(او مدينې ته راننډې شو) نو زه يې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورانديې کړم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه اوچت کړم او خپلې				
ثُمَّ	جِيءَ	بِأَحَدِ	ابْنَيْ	فَاطِمَةَ فَأَرْدَفَهُ خَلْفَهُ
مخې ته يې سپور کړم. بيا يې د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په دواړو زامنو کې يو ځوې حسن يا حسين راوستلو نو				

---

(۱) رقم الحديث ۳۸۹۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳۹/۶ رقم الحديث ۳۰۰۱ ومسلم في ۱۵۲۶/۳ رقم الحديث (۱۷۹-۱۹۲۷)

قَالَ: فَأُدْخِلْنَا المدينةَ ثلاثةَ على دَابَّة. رَوَاهُ مُسلم[1]
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه خپل شاته کښول او ویایي (دغه شان مونږ دري واړه په یو څاورې باندې (سپور) مدینې ته داخل کړو.

توضيح تلقى بالصبيان: مطلب دا دی چې د ماشومانو په ذریعه به د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استقبال کېدلو یعنې اهل بیتو به ماشومان د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استقبال لپاره بوتلل. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لوېې استقبال د مدینې والو د اسلحو په تاوهلو سره هغه وخت کړی ؤو. کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې نه هجرت کولو او مدینې ته یې تشریف راوړلو. بیاد غزواتو په سفرونو کې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ موقع په موقع د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استقبال کړی دی، نو ځکه د عزت مند مېلمنو په راتللو او دغه شان علمي شخصیت په راتللو باندې که عوام خلک استقبال کوي نو دا به ناجائزه نه وي، خو چې د شرعي منکراتو نه پاک وي. څه وچ مزاجه خلک استقبال ناجائزه ګڼي. (مرقات ۴۵۱/۷)

﴿۱۰﴾ وَعَن أَنَسٍ: أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه (انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) او حضرت طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره
وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةُ مُرْدِفَهَا
(د خیبر د سفر نه) بېرته راغلل، نو په هغه موقع کې حضرت صفیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وه او نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَلَى رَاحِلَتِه. رَوَاهُ البُخَارِيّ[2]
هغه په خپله سورلي باندې شاته کښولې.

سفر نه کورته د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د راتللو وخت

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلًا
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل کور والو ته د (سفر نه) د شپې وخت
وَكَانَ لَا يَدْخُلُ إِلَّا غُدْوَةً
کې ببرته نه راتللو بلکې د ورځې په اولنۍ برخه کې یعنې د سحر وخت کې یا د په آخري برخه یعنې

---

(1) رقم الحديث ۳۹۰۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۸۸۵/۴ رقم الحديث (۶۶-۲۴۲۸) واخرجه ابوداود في السنن ۵۹/۳ رقم الحديث ۲۵۶۶

(2) رقم الحديث ۳۹۰۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۶۹/۱۰ رقم الحديث ۶۱۸۵ ومسلم في صحيحه ۹۸۰/۲ رقم الحديث (۴۲۹-۱۳۴۵)

أَوْ عَشِيَّةً (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
د مابنام وخت کې (کور ته) داخلیدلو.

توضیح: د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې حدیث تعلیم دا دی چې د سفر نه سړی کله بېرته کور ته راځي، نو هغې له پکار ده چې د ورځې راشي. د دې سره د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ والا روایت نمبر ۱۲ کې په واضحه توګه منع شوې ده چې د اوږد سفر نه وروسته د شپې وخت کې کور ته داخلیدل پکار نه دي. د دې دواړو حدیثونو سره راتلونکې د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حدیث نمبر ۳۰ تعارض دی. چې هغې کې د شپې وخت کې کور ته راتلل بهتر او ښه ګڼلی شوی دی. د دې جواب دا دی چې کله سفر اوږد وي او خاوند ډېر وخت د کور نه په سفر وُو، نو په داسې وخت کې ناڅاپه کور ته راتلل پکار نه دي. بلکې د ورځې په جومات کې دوه رکعته کول پکار دي او د خلکو سره د ملاقات نه وروسته کور ته تلل پکار دي چې کور کې ښځه خپل زیت او سنګار وکړي شي. او که سفر د لرې ځای نه وُو بلکې نزدې وُو نو د شپې په اول وخت کې راتلل بهتر دي، لکه څنګه چې په حدیث نمبر ۳۰ کې راروان دي. د دې وجه دا ده چې د شپې په اولنۍ برخه کې راتللو سره دې مسافر ته خپله هم اطمینان حاصلیږي. او ناوخته تللو سره د کور خلک هم پریشانه نه وي. دغه شان د شپې په اول وخت کې به خاوند د ښځې سره کورکوالی وکړي او ټوله شپه به ارام وکړي. علامه نوَوی فرمایي چې کومو حدیثونو کې چې د شپې د راتللو ممانعت دی. د هغه حدیثونو تعلق د داسې صورت سره دی کله چې سفر اوږد وي او ښځې ته د خاوند د راتللو هیڅ خبر نه وي. که خاوند ناڅاپه کور ته داخل شي او ښځه د چوهاړې پشان ناسته وي نو کورنۍ تعلقات به خراب شي. لنډ سفر کې به دا صورت نه وي. دغه شان که سفر اوږد وي خو د خاوند د راتللو نه مخکې خبر ورکړی شوی دی، نو دغه صورت کې هم خاوند هر وخت کور ته راتلی شي. اسلام غواړي چې کورنی نظام د مضبوط نه مضبوط وي، خو یهود او نصاری او د هغوی اینجنټ این جې اوز کورنی نظام تباه کول غواړي. د لاندې ذکر شوي حدیث هم دغه تشریح ده. (مرقات ۴۵۲/۷)

﴿۱۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: إِذَا طَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې تاسو د یو کس غیر حاضري اوږده شي
فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
(یعني سفر کې ډېرې ورځې تېرې کړي) نو هغه (د سفر نه بېرته راتللو وخت) کې خپل کور ته شپې وخت کې مه داخلېږئ.

([1]) رقم الحديث ۳۹۰۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۱۹/۳ رقم الحديث ۱۸۰۰ ومسلم في ۱۵۲۷/۳ رقم الحديث (۱۸۰-۱۹۲۸)

([2]) رقم الحديث ۳۹۰۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۹/۹ رقم الحديث ۵۲۴۴ ومسلم في ۵۲۸/۳ رقم الحديث (۱۸۳-۷۱۵)

﴿۱۳﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل که چرې تاسو د (سفر نه بېرته راتللو

دَخَلْتَ لَيْلًا فَلَا تَدْخُلْ عَلَى أَهْلِكَ

کې د شپې بنار به ابادئ کې) د شپې وخت کې راوراسيږئ نو خپل کور ته مه داخليږئ. تر څو چې خاوند د

حَتَّى تستحد المغيبة وتمتشط الشعثة (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

غائب ښځې د نامه لاندې ويښتۀ پاک نه کړي. او هغه ښځه چې ويښتۀ يې ګډوډ وي هغه ګومنزنه کړي.

توضيح: تستحد: حديد استعمالولو ته وايي. مراوز د نامه لاندې ويښتو ته وايي. د نارينۀ لپاره د وسپنې آله استعمالول طبي لحاظ سره فائده منده ده او د ښځې لپاره د وسپنې په ځای په بله طريقه اختيارول بهتر دي. مثلاً ويستل يا نوره استعمالول يا د ويښتو ختمول مناسب ده. (مرقات ۴۵۱/۷)

د سفر نه راستنيدو سره دعوت کول مسنون دی

﴿۱۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله مدينې ته راغلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

اوښ يا غوا ذبح کړه. (روايت کړې دې بخاری)

د سفر نه راستنيدو سره جومات کې ناسته او نفل کول مسنون دي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا

او حضرت کعب ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د څابنت د وخت نه بغير

نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ

بل په هيڅ وخت کې د سفر نه بېرته نه راتللو، نو کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د سفر نه) بېرته راتلو

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۰۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۴۱/۹ رقم الحديث ۵۲۴۶ ومسلم في ۱۵۲۷/۳ رقم الحديث (۱۸۲-۷۱۵)

(۲) رقم الحديث ۳۹۰۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۴/۶ رقم الحديث ۳۰۸۹ وأحمد في المسند ۳۰۱/۳

بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ
نو اول به جومات ته لاړ و بيا به يې د کيناستلو نه مخکې تحية المسجد کولو يا به يې د څانبنت دوه رکعته لمونځ کولو
ثُمَّ جلس فِيهِ للنَّاس (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
او بيا به د خلکو سره د ملاقات لپاره هلته کيناستلو.
﴿۱۶﴾ وَعَن جَابِر قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَلَمَّا
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه (يو) سفر کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ؤوم، نو مونږ
قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لِي: ادْخُلِ الْمَسْجِدَ فَصَلِّ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
مدينې ته ښېرته راغلو، نو نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: جومات ته لاړ شه او دوه رکعته لمونځ وکړه.

الفصل الثاني

سحر وختي کار ته تلونکو ته د برکت دعاء

﴿۱۷﴾ عَن صَخْرِ بن وَداعَةَ الغامِدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
حضرت صخر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بن وداعه غامدی فرمايي چې (يو ورځ) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وفرمايل (يعنې دا
اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا وَكَانَ إِذا بعث
دعا يې وکړه يا الله! زما امت لپاره د ورځ په ابتدائی برخه کې برکت واچوې، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام به چې
سريَّةً أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ وَكَانَ صَخْرٌ تَاجِرًا
کله وړوکی يا لويې لښکر لېږلو نو د ورځ په ابتدائی برخه کې به يې لېږلو. او صخره چې يو تاجر (سوداګر) ؤو
فَكَانَ يَبْعَثُ تِجَارَتَهُ أَوَّلَ النَّهَارِ فَأَثْرَى
(د دې برکت حاصلولو له نظره) به يې خپل تجارتي مال د ورځې په اولنۍ برخه کې لېږلو، نو هغه

---

(1) رقم الحديث ۳۹۰۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۴/۶ رقم الحديث ۳۰۸۸ ومسلم في ۴۹۶/۱ رقم الحديث (۷۴-۷۱۶)

(2) رقم الحديث ۳۹۰۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۳/۶ رقم الحديث ۳۰۸۷ ومسلم في ۴۹۶/۱ رقم الحديث (۷۲-۷۱۵)

وَكَثُرَ مالُه. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد والدارمي[1]

مالداره شو او مال يې ډېر زيات شو. (ترمذی، ابوداؤد، دارمی)

توضیح بکورها: يعنې سحر وختي د جهاد د سفر يا د تجارت د سفر لپاره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د برکت دعا وکړه.

صخر: د يو تاجر صحابي نوم دی. چې په دې حديث باندې به يې عمل کولو. او سحر وختي به يې د تجارت لپاره مال لېږلو. (مرقات ۴۵۴/۷)

فائدې: يعنې ښه ډېر مالداره شو. **کثر ماله:** دا د اثری تشريح ده. (مرقات ۴۵۴/۷)

نن سبا مسلمانان هم د کافرانو پشان د دې حديث خلاف روان دي. د ورځې يؤولس (۱۱) يا دولس (۱۲) بجې دکان ته راځي. دې کې به خاورې برکت راشي.

ورځي د سفر سره څه د مابنام هم يو ځای کوئ

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ته د شپې په وخت کې مزل کول

فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

د ځان لپاره ضروري وګڼه ځکه د شپې وخت کې زمکه راغونډېږي.

وضیح علیکم: د دې حديث مطلب دا نه دی چې د ورځې سفر مه کوه. د ورځې د سفر خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم کړی دی چې سحر وختي سفر کوه. دلته مطلب دا دی چې د ورځې د سفر سره څه برخه د شپې هم شامله وه، ځکه د شپې په سفر کې خو يو ګرمي او لمر نه وي. دويم دا چې څه ښکاري نه نو ځکه په سفر کې يو شان والی او برکت وي. همدې حديث کې ويلی شوی دی چې ګويا کې زمکه رانغښتلی کېږي. (مرقات ۴۵۵/۷)

سفر کې چې کم نه کم درې ګسان وي

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نېکه نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

([1]) رقم الحديث ۳۹۰۸ أخرجه ابوداود في لاسنن ۵۱۷/۳ رقم الحديث ۲۶۰۶ والترمذي في ۵۱۷/۳ رقم الحديث ۲۱۲.

([2]) رقم الحديث ۳۹۰۹ أخرجه ابوداود في السنن ۶۱/۳ رقم الحديث ۲۵۷۱ وأحمد في المسند ۳۰۵/۳

الرَّاكِبُ شَيْطَانٌ وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

چې يو سپوريو شيطان دی او دوه سپاره دوه شيطانان دي او درې سپاره، سپاره دي. (مالک، ترمذی، ابوداود، نسائی)

توضيح الثلاثة ركب: يعنې درې سپاره جماعت دی. يو يا دوه سپاره شيطانان دي، ځکه که يو يا دوه ملګري د مشکل سره مخ شې نو شيطان به ډېر خوشحالېږي او دا هم امکان لري چې يو يا دوه ملګري شيطان په اسانۍ سره ګمراه کولی شي. خکه دې ته سفرې شيطان ويلی شوی دی. خلاصه ده چې په سفر کې کم نه کم درې کسان پکار دي. د لمونځ وخت کې دا په صحيح طريقه په جمعې سره لمونځ وکړي. دويمه فائده دا ده چې که څوک د څه کار لپاره لاړو نو نور به په اطمينان سره وې. او که په راتللو کې تاخير شو نو بل به د خبر لپاره لاړ شي او درېم به د سامان حفاظت کوي.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دور مبارک کې به سفرونو ډېر خطرې ؤو. عرد صحرا ګانو مشکلات يو جدا وې او د دښمن خطرات جدا ؤو، نو ځکه د درېو کسان جماعت کېدنه د کمې درجې انتظام ؤو. نن سبا خو هغه صورت نشته دی، خو بيا هم په ظاهري حديث باندې عمل کولو کې بې شماره فايدې دي. (مرقات ۴۵۵/۷)

د درېو کسانو ډله دې يو امير مقرر کړئ

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فِي

او د حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: که (مثلاً سفر

سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

کې) درې کسان وې نو په هغې کې يو کس امير کړئ.

توضيح درې يا د درېو نه زيات کسانو له پکار دي چې هغوی په سفر کې يو نبه کس امير کړي. د دې لپاره چې د سفر انتظام وکړي او د اختلاف او د جنجال په صورت کې فيصله وکړي، نو پوهه او غموخوار کس له پکار دي چې هغه خپل ځان د ملګرو خادم وګڼي چې مخدوم خپل ځان ورو کې ونه ګڼي. ملګرو له پکار ده چې په جائز کارونو کې د امير اطاعت وکړي.

---

(1) رقم الحديث ۳۹۱۰ أخرجه ابوداود في السنن ۸۰/۳ رقم الحديث ۲۶۰۷ والترمذي في ۱۶۶/۴ رقم الحديث ۱۶۷۴.

(2) رقم الحديث ۳۹۱۱ أخرجه ابوداود في السنن ۸۱/۳ رقم الحديث ۲۶۰۸

غوره فوځ او غوره سريه

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ وَخَيْرُ السَّرَايَا

بهترين ملګرې او دوستان هغه دي چې (كم نه كم) څلور وي. وړو لښكرو كې بهترين لښكر هغه دى

أَرْبَعُ مِائَةٍ وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا

چې په هغې څلور سوه (مجاهدين وي) او په غټو لښكرو كې بهترين لښكر هغه دى چې دولس زه

مِنْ قِلَّةٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[1]

(۱۲۰۰۰) (مجاهدين) په كې وي. د كموالې په وجه كله هم نه شي مغلوبه كېدلى.

توضيح اربعة: يعنې بهترين ملګرې څلور دي، ځكه درې وړه درجه ده او د دې نه كم منع دې. د څلورو په جماعت كې كه يو امام شې نو درې پوره جماعت دى او كه يو مريض شې او بل وصي كړي نو پاتې دوه به د ګواه په توګه پاتې شي.

سرايا جمع ده. د دې مفرد سريه ده. دا چابه مار لښكر ته وايي. سريه هغه وې چې د څلور سوه نه زيات نه وي. كه زيات شول نو بيا په فوج كې داخل دي. دويم شرط دا دى چې هغې كې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وي. اسلام كې ټوله سرايي شپږ پنځوس دي. كوم كې چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شركت نه دى كړى. د غزوه موته چې كومه سريه وه هغې كې درې زره صحابه ؤو، نو ځكه هغه د سريه د تعريف نه بهر شول او د لښكر په حكم كې شول. اګر كه په هغې كې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شركت نه ؤو كړى. د اسامه د لښكر هم دغه معامله وه. د هغې سره درې زره (۳۰۰۰) لښكر ؤو. څلور زره (۴۰۰۰) لويې لښكر دى. ځكه ورته بهترين لښكر ويلى شوى دى، لكه څنګه چې د سريه لپاره څلور سوه لويې تعداد دى. چې بهترين ګڼلى شوى دى. (مرقات ۴۵۶/۷)

اثنا عشر: يعنې دولس زره (۱۲۰۰۰) لښكر د دې وجې نه شكست نه شي خوړلى چې هغوى لږ دي. هغوى چې كوم شكست خوړلى دى، د هغې څه بل څه وجه كېدى شي، ځكه دولس زره (۱۲۰۰۰) لښكر

([1]) رقم الحديث ۳۹۱۲ اخرجه ابوداود في السنن ۸۲/۳ رقم الحديث ۲۶۱۱ والترمذي في ۱۰۵/۴ رقم الحديث ۱۵۵۵

يو پټن (ډويژن) لښکر دی، نو د تعداد په وجه شکست ونه شو. کېدی د نا فرمانئ يا د غرور او تکبر په وجه شکست شوی وي. د دې حديث مطلب دا نه دی چې تر څو پورې دولس زره لښکر نه وي نه جهاد نه کېږي. تبليغي حضرات وايي چې تر اوسه پورې دولس زره چرته دي. که دولس زره وي نو مونږ به نه مغلوبه کېږو. تر کومې پورې چې دولس زره نه وي نو جهاد نه کېږي. (مرقات ۴۵۶/۷)

﴿۲۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (د سفر دوران کې) د تللو وخت کې (د عاجزی په وجه او د نورو د خبر ساتنې په

يَتَخَلَّفُ فِي الْمَسِيرِ فَيُزْجِي

خاطر به د قافلې نه) شاته ؤو. ليکن نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د کمزوري (سپرلی) زغلوله، دې لپاره چې د نورو ملګرو سره يو ځای شي او

الضَّعِيفَ وَيُرْدِفُ وَيَدْعو لَهُم. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

کوم کمزوری او ضعيف کس چې د سورلی نه پاتې کېدلو په وجه پيدل مزل کوي هغه ځان سره سپور کړي او د هغه لپاره به يې دعا کوه.

﴿۲۳﴾ وَعَن أَبِي ثَعلبَةَ الخُشَنِيِّ قَالَ: كَانَ النَّاسُ

او حضرت ابو ثعلبه خشنی فرمايي چې (اول به په عامه توګه داسې ؤو چې خلک (صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) به چې کله

إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلًا تَفَرَّقُوا فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ

يو منزل ته کوزېدل نو د غرپه جدا جدا درو ته به خوئيدل (يعنې څوک به چرته کوزېدل او څوک به چرته)

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د دې طريقې ختمولو لپاره هغه وخت کې وفرمايل) چې تاسو پوهه شئ ستاسو په

وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ

دې درو کې جدا جدا کوزېدل صرف د شيطان له اړخ دي (يعنې د دهوکې له وجې دی چې تاسو جدا کول غواړي د دې لپاره

فَلَمْ يَنْزِلُوا بَعْدَ ذَلِكَ

چې د دښمن په تاسو باندې زور ور شي او تاسو ته نقصان ورسوي) د دې ارشاد نه وروسته به چې کله هم په يو

---

[1] رقم الحديث ۳۹۱۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۰۰/۳ رقم الحديث ۲۶۳۹

مَنْزِلًا إِلَّا انْضَمَّ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ حَتَّى يُقَالَ:
منزل کوزېدل نو د يو بل سره به دومره نزدې نزدې ؤو چې او درېدل به. ويل کېدل به چې په دې ټولو باندې يوه
لَوْ بُسِطَ عَلَيْهِمْ ثَوْبٌ لعمّهم. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
توته واچولی شي نو ټول په کې راګېر شي.

توضیح: دا چې په هغه زمانه کې به صف په صف جنګ کېدو نو د ملګرو يو ځای به ډېر ضروري ؤو، ځکه کوم ملګری به چې ځان له وموندلی شو او په اسانۍ به يې مړ کولو، خو دا چې نن سبا هوائي بمباري کېږي، دغه شان راکټ او ګولۍ راغورځېږي، نو دې لپاره د حکمت عمل هغه وي کوم چې د بچ کېدلو لپاره ګټور وي. اسلام مسلمانانو ته د جهاد حکم کړی دی، خو د دې د هئيت او حالت پابند کړي يې نه دي، لکه څنګه يې چې د تبليغ حکم کړی دی، خو د يو خاص شکل او جوړولو او د خپلولو پابند کړي يې نه دي. لهذا د جهاد او د دعوت چې کوم صورت اسان او ګټور وي هغه دې خپل کړی شي. د يو خاص صورت التزام به بدعت وي.

په سفر د جهاد کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عظيمه نمونه

﴿۲۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ
او حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د بدر په ورځ (يعني د جنګ بدر په موقع) مونږ حالت دا ؤو
كُلَّ ثَلَاثَةٍ عَلَى بَعِيرٍ
چې مونږ به هر درې کسان په يو اوښ سپور ېدلو (يعني درې کسانو له به يو اوښ ؤو او هغوی به نمبر په نمبر
فَكَانَ أَبُو لُبَابَةَ وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ زَمِيلَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
په اوښ باندې سور ېدل او حضرت ابولبابه او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په يو اوښ باندې سفر
قَالَ: فَكَانَتْ إِذَا جَاءَتْ
کولو. حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان وکړو چې صورت حال دا ؤو چې کله (هغه اوښ باندې) د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د
عُقْبَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَا:
کوزېدلو نمبر راتلو نو حضرت ابولبابه او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به عرض کولو چې دستاسو (يعنی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ) په بدل کې

(1) رقم الحديث ۳۹۱۴ أخرجه ابوداود في السنن ۹۴/۳ رقم الحديث ۲۶۲۸ ... ۱۰۰/۴

نَحْنُ	نَمْشِي	عَنْكَ	قَالَ:
به مونږ پیدل لاړ شو، تۀ (محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په اوښ باندې سورشه) خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به فرمایل چې نه خو تاسو (دې			
مَا	أَنْتُمَا	بِأَقْوَى	مِنِّي
دنیا کې زمانه ډېر طاقت لرئ (چې بس تاسو د پیدل تللو طاقت لرئ او زه پیدل نه شم تلی) او نه زه د (آخرت)			
وَمَا أَنَا بِأَغْنَى عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا. رَوَاهُ فِي شرح السّنة[1]			
زیات ثواب حاصلولو کې ستاسو په شان بې پرواه یم.			

توضیح: ما نا باغی: جنګ بدر ته د درې سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره صرف ۷۰ اوښان ؤو، نو ځکه به په یو اوښ باندې څو څو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سفر کولو. مثلاً درې کسانو ته به یو اوښ ملاوېدلو او یو به واګې نېولو او روان به ؤړ. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره هم دغه معامله وشوه. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به یو اوښ کې شریک ؤو. کله چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پیدل تللو او د واګې د نېولو نمبر راتلو نو داوړو ملګرو ته ورته ویل چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ستا په ځای به مونږ پیدل مزل کوؤ. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ورته وفرمایل چې تاسو زمانه ډېر طاقتور هم نه وئ او نه زه د پیدل مزل د ثواب نه بېزاره یم. لهذا په مقرر شوې ترتیب به مزل کوؤ. د دې حدیث نه د جهادې سفر فضیلت او عظیم ثواب پته لږې او دا هم معلومه شوه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې څومره ډېره عاجزې وه. او دا هم معلومه شوه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلو ملګرو لپاره څومره مهربانه ؤو. چا رښتیا ویلې دي:

لم یخلق الرحمن مثل محمد ابداو علی انه لا یخلق

جہاں تک آپ کی تقلید ہے اسی حد تک سلیقہ بشریت بشر کو ملتا ہے

د سورلئ څارؤ باندې رحم وکړئ

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د

---

[1] رقم الحديث ۳۹۱۵ أخرجه البغوي في شرح السنة ۳۵/۱۱ رقم الحديث ۲۶۸۶، وأحمد في المسند ۴۲۲/۱

لَا تَتَّخِذُوا ظُهُورَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى إِنَّمَا سَخَّرَهَا لَكُمْ

ځارؤ شاه ګاني ممبرونه مه جوړوئ، ځکه الله تعالی ځاروي صرف د دې لپاره تابع کړي دي چې تاسو علاقو او

لِتُبَلِّغَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ

بنا نو ته ورسوي. چرته چې تاسو (پیدل مزل باندې) د بدن مشقت او محنت سره رسیدلئ. د ځارؤ نه مقصود هغې باندې سورلی کول

وَجَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ

او هغې په ذریعې خپل مقصد حاصلول دي. لهذا دې ته ضرر رسول روا نه دي. او الله تعالی زمکه ستاسو لپاره

فَعَلَيْهَا فَاقْضُوا حَاجَاتِكُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

(د همدې غرض لپاره) پیدا کړې ده. لهذا تاسو خپل کارونه او خپل حاجتونه پوره کړئ.

توضیح منابر: یعنې د سورلی د ځناورو شاګانې د ناستې او د خطبې ورکولو لپاره ممبر مه جوړوئ چې بې ضرورته او بې سفره د هغې شاګانې د خپل ګپ شپ لپاره د ناستې ځایونه جوړ کړئ. آخر دا هم زنده سرې دي. دوی ته هم د ارام او د استراحت موقع ورکوئ. د دوی د شاګانو نه کوز شئ او زمکه باندې خپل د ناستې ځایونه جوړ کړئ. د دې نه هغه صورت مستثنیٰ دی چې د یو خاص په صورت په وخت کې د سورلی په شا باندې کینئ او خطبه ورکړئ د دې لپاره چې اواز تر لرې پورې ورسېږي، لکه څنګه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عرفې په ورځ کړې وه.

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كُنَّا إِذَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله مونږ (د سفر دوران کې یا د سفر نه وروسته) یو ځای ته کوز بدل نو تر

لَا نُسَبِّحُ حَتَّى نَحُلَّ الرِّحَالَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

هغه وخت پورې به لمونځ نه کولو تر څو پورې به یې چې تر ښه سامان کوز کړی نه ؤو.

د موټر مالک د مخکنې سیټ حقدار دی

﴿۲۷﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي

او حضرت بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (یو سفر کې) پیدل په لاره باندې تللو چې په دې دوران کې یو

([1]) رقم الحديث ۳۹۱۶ أخرجه ابوداود في السنن ۵۹/۳ رقم الحديث ۲۵۶۷

([2]) رقم الحديث ۳۹۱۷ أخرجه ابوداود في السنن ۵۱/۳ رقم الحديث ۲۵۵۱

إِذَا	جَاءَهُ	رَجُلٌ	مَعَهُ	حِمَارٌ	فَقَالَ:
کس په خپل ناڅاپه د خپل خر سره يعنې هغې باندې سپور) نبي کريم ﷺ له راغلو او عرض يې وکړو					
يَا	رَسُولَ	اللهِ	ارْكَبْ	وَتَأَخَّرَ	الرَّجُلُ
يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! (زما په خر باندې سپور شه او (دې ويل سره) هغه کس (د خر په شا باندې) شاته کيناستلو					
فَقَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا
د دې لپاره چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخکې کيني، خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې زه مخکې نه کينم ځکه د سورلي په څاروي					
أَنْتَ	أَحَقُّ	بِصَدْرِ	دَابَّتِكَ		
باندې د مخکې کيناستلو ستا حق دی، خو دا که ما حقدار کړي (اګر که د هغه کس ځکه شاته کيناستلو چې ګويا کې هغه					
إِلَّا	أَنْ	تَجْعَلَهُ			
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مخکې کيناستلو حقدار کړی وُو، خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د احتياط د کمال له نظره هغې ته دا واضحه کړه چې ستا په					
لِي.	قَالَ:	جَعَلْتُهُ			
سورلي باندې هغه وخت کيناستلی شم چې په صريح الفاظ کې ما ته د کيناستلو لپاره ووی. هغه کس وويل چې زه په صراحت سره					
لَكَ	فَرَكِبَ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَأَبُو دَاوُدَ[1]	
دا وايم چې ما ته (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) د دې حقدار کړي. د هغې نه وروسته نبي کريم عَلَيْهِ السَّلَامُ مخکې کيناستلو.					

شيطاني اوښ او شيطاني کور

﴿۲۸﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ:

او حضرت سعيد ابن ابو هند رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (تابعي) د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې هغې دا بيان وکړو چې

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَكُونُ إِبِلٌ لِلشَّيَاطِينِ وَبُيُوتٌ لِلشَّيَاطِينِ.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې (څه) اوښان د شيطانانو لپاره وي. او (څه) کورونه د شيطانانو لپاره وي،

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۱۸ اخرجه ابوداود في السنن ۶۲/۳ رقم الحديث ۲۵۷۲ والترمذي في ۹۲/۵ رقم الحديث ۲۷۷۳ وأحمد في المسند ۳۵۲/۵

فَأَمَّا إِبِلُ الشَّيَاطِينِ فَقَدْ رَأَيْتَهَا: يَخْرُجُ أَحَدُكُمْ
نو کوم اوښان چې د شيطانانو لپاره وي هغه ما ليدلي دي، لکه تاسو کې چې يو کس ښې اوښې بهر اوباسي او هغه يې ښه
بِنَجِيبَاتٍ مَعَهُ قَدْ أَسْمَنَهَا فَلَا يَعْلُو بَعِيرًا مِنْهَا وَيَمُرُّ بِأَخِيهِ
وڅروي، خو هغې کې په يو اوښ سپور نه شي. او کله چې (په يو سفر کې) د خپل هغه مسلمان ورور سره لاره کې
قَدِ انْقَطَعَ بِهِ فَلَا
روان وي چې (د خپلې کمزورئ او د سورلي نه د محرومئ په وجه) په مزل کولو باندې ستړې شوې دي، نو هغه
يَحْمِلُهُ وَأَمَّا بُيُوتُ الشَّيَاطِينِ فَلَمْ أَرَهَا
هم په هغه اوښ باندې سپور نه کړي. او کوم کور چې د شيطانانو لپاره وي، هغه ما ليدلې نه دي. د حديث راوي
كَانَ سَعِيدٌ يَقُولُ: لَا أُرَاهَا إِلَّا هَذِهِ الْأَقْفَاصَ الَّتِي
حضرت سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زما ګمان دا دی چې هغه کور (چې د شيطانانو لپاره وي) هغه پنجرې دي چې
يَسْتُرُ النَّاسُ بِالدِّيبَاجِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
خلک يې د ريښمو په توتو (پردو) کې پټوي.

توضيح: بنجيبات: نجيبات ښې اوښو ته وايي. (مرقات ۴۶۱/۷)

فلا يعلموا: يعنې اوښ ځان له پرېږدي. نه بل پرې بل څوک سپوروي او نه پرې خپله سپور ږږي، ځکه هغې ته يې ضرورت نشته دی بلکې کله په يو مجبور ورور باندې تېرږږي خو هغه پرې نه سپوروي. دا شيطاني اوښ دی چې د دې په شا باندې د هيڅ غريب او د مجبور حق نشته دی.

الاقفاص: دا د قفص جمع ده. قفص پنجرې ته وايي. دلته مُراد کجاوه ده، خو هغه کيجاوه چې د ريښمو توتو والا وي. د ريښمو په وجه دا کجاوې د شيطان پنجرې او جالئ جوړه شي. (مرقات ۴۶۱/۷)

لاره تنګولو باندې د جهاد ثواب مه خرابوئ

﴿۲۹﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت سهل ابن معاذ د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې وويل چې يو ځل چې کله مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره جهاد ته لاړو

---

(1) رقم الحديث ۳۹۱۹ أخرجه ابوداود في السنن ۶۰/۳ رقم الحديث ۲۵۶۸

فَضَيَّقَ	النَّاسُ	الْمَنَازِلَ
(او په منزل کې مو قيام وکړو) نو خلکو د منزل هغه ټول ځايونه تنګ کړه او لاره يې غوڅه کړه. (يعنې ځينو خلکو يې ضرورته يا د		
وَقَطَعُوا	الطَّرِيقَ	فَبَعَثَ
ضرورت نه زيات ځې باندې قبضه واچوله چې دهغې په وجه د نورو خلکو لپاره ځای تنګ شو. د غه شان لاره هم تنګه شوه. چې		
نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنَادِيًا يُنَادِي فِي النَّاسِ:		
له وجې ئې تلو راتلو والو ته پريشاني شوه، نو (دې ليدلو سره) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو اواز کونکی خلکو ته ولېږلو		
أَنَّ مَنْ ضَيَّقَ مَنْزِلًا أَوْ قَطَعَ		
چې دا اعلان وکړي چې کوم خلکو د منزل ځايونه تنګ کړي دي يا يې لارې غوڅې کړي دې نو خلکو		
طَرِيقًا فَلَا جِهَادَ لَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]		
بې ضرورته د تکليف ورکولو په وجه به هغوی ته د جهاد ثواب نه ملاوېږي.		
﴿۳۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:		
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د		
إِنَّ أَحْسَنَ مَا دَخَلَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَوَّلُ اللَّيْلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]		
سفر نه بېرته راتو تلونکو نارينو لپاره د خپل کور والو ته بهترين وخت د شپې ابتدائی برخه ده.		

الفصل الثالث

﴿۳۱﴾ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ		
او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سفر کې وُ و نو (يو پراؤ		
فَعَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى يَمِينِهِ وَإِذَا عَرَّسَ		
باندې) آخري برخه کې (يعنې د سحر د لمر نه مخکې) کوزېدلو او نبي ارخ ته پرېوتلو او کله به چې د		

---

(1) رقم الحديث ۳۹۲۰ أخرجه ابوداود في السنن ۹۵/۳ رقم الحديث ۲۶۲۹ وأحمدفي المسند ۴۴۱/۳

(2) رقم الحديث ۳۹۲۱ أخرجه ابوداود في السنن ۲۱۸/۳ رقم الحديث ۲۷۷۷

قُبَيْلَ	الصُّبْحِ	نَصَبَ	ذِرَاعَهُ	وَوَضَعَ	رَأْسَهُ
سحر نه لږ مخکې راکوزېدلو نو خپل ښي لاس به يې ودرولو او د هغې په تلې به يې خپل سر کېښود لو (يعني د څه					
عَلَى	كَفِّهِ.	رَوَاهُ	مُسلم[1]		
وخت لپاره به يې په دې انداز ارام کولو چې خوب غالبه نه شي.					

توضيح بليل: يعني د شپې په آخري برخه کې به چې کله نبي کريم ﷺ پراؤ کولو نو که په صبح صادق کې به لږ وخت ؤو نو نبي کريم ﷺ به سيدها پرېوتلو او ارام به يې کولو ځکه وخت به زيات ؤو، خو که وخت به کم ؤو نو نبي کريم ﷺ به ښي لاس و درؤول او د هغې په تلې به يې ارام کولو چې د سحر لمونځ قضا نه شي.

جهادي سفر کې تاخير کول د نقصان سبب دی

﴿۳۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللهِ بْنَ رَوَاحَةَ					
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه ته					
فِي سَرِيَّةٍ فَوَافَقَ ذَلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ					
د (جهاد) لپاره يو وړو کې لښکر ولږلو. اتفاقاً هغه د جمعې ورځ وه. چې نبي عليه السلام ته په کې جهاد ته تللو					
فَغَدَا أَصْحَابُهُ وَقَالَ:					
حکم شوی ؤو، نو د هغې ملګرې يعني د لښکر سحر وختي روان شول، خو عبد الله بن رواحه رضي الله عنه خپل زړه کې سوچ وکړو					
أَتَخَلَّفُ وأُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ					
او يو ملګرې ته يې وويل چې زه به وروسته در روانېږم. زه اول دلته مدينه کې د نبي ﷺ سره د جمعې					
ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَلَمَّا صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ					
لمونځ وکړم بيا به لښکر سره ملاؤ شم. کله چې حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه د نبي ﷺ سره د جمعې لمونځ					
رَآهُ فَقَالَ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تَغْدُوَ مَعَ أَصْحَابِكَ؟					
وکړو او نبي عليه السلام هغه وليدلو (چې هغه اوس هم دلته موجود دی) نو ويې فرمايل چې ته سحر وختي کې د خپلو ملګرو					

---

[1] رقم الحديث ۳۹۲۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۷۶ رقم الحديث (۳۱۳-۶۸۳) وأحمد في المسند ۵/۳۰۹.

فَقَالَ: أَرَدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ
سره د تګ نه څه څیز منع کړي؟ هغې عرض وکړو چې ما دا سوچ وکړو چې زه تا سره د جمعې لمونځ وکړم او
ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَقَالَ: لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا
بیا به د خپلو ملګرو سره ملاو شم. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ته په مخ د زمکه باندې ټول شیان خرڅ هم کړې
مَا أَدْرَكْتَ فَضْلَ غَدْوَتِهِمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
نو د سحر وخت کې د تلونکو ملګرو برابر ثواب به حاصل نه کړي.

توضیح: في سرية: ۸ هجرئ کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تقریباً درې زره (۳۰۰۰) صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د روم د سلطنت لپاره جهاد ته روان کړي ؤو. حضرت زید او د هغې نه وروسته حضرت جعفر او بیا حضرت عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دري واړه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرله پسې په ترتیب سره امیران کړي ؤو. کله چې د مدینې نه دا حضرات ؤوتل نو حضرت عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د جمعې لمونځ کولو په غرض په مدینه کې پاتې شو. او دواړه ملګرې یې د اسلام د لښکر سره روان شول. د جمعې ورځ وه. حضرت عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سوچ وکړو چې کېدی شي چې د ژوند آخري جمعه وې او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخري دیدار وې. د مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخري لمونځ وې، نو په دې غرض د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې لمونځ کولو لپاره پاتې شو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې ولیدلو نو ورته ویې فرمایل چې په څه وجه دې تاخیر وکړو، نو عذر یې وویله چې د ملګرو سره ملاقات څه ګران کار نه دی. اوس به لاړ شم. او ستا سره د جمعې د لمونځ کولو فضیلت راته حاصل شو، نو په دې ورته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې په زمکه کې چې څه دي. که دا ټول هم خرچ کړي نو بیا هم د جهاد په سفر کې سحر کې د وتونکو والو فضیلت به ونه مومې. معلومه شوه چې د جهاد عمل ډېر لوی دی او دا د ټولو نه افضل عمل دی. دا حدیث د تبلیغي جماعت ملګرې د خپلو سه روزو، چلو او ګشت کې د وتلو لپاره بیانوي. او واقعه داسې بیانوي چې په دې کې د جهاد نوم نه راځي. دا د هغه حضراتو له اړخ په دې حدیث کې واضحه تحریف دی. د خدای نه وېره کول پکار ده. (مرقات ۴۶۱/۷، الکاشف ۴۱۲/۷)

﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د هغه قافلې سره د رحمت

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۲۳ أخرجه الترمذي في السنن ۴۰۵/۲ رقم الحديث ۵۲۷ وأحمد في المسند ۲۲۴/۱

تَصْحَبُ	الْمَلَائِكَةُ	رُفْقَةً	فِيهَا
فرښتې نه وي چې د زمري څرمن په کې وي. يعنې د زمري په څرمن باندې سپور ښه ونکې له کيناستل			
جِلْدُ	نَمِرٍ.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُدَ[1]
يا د هغې استعمالول منع دي، ځکه دې سره د تکبر شان پيدا کېږي.			

توضيح جلد نمره: يعنې زمري څرمن به يې په سورلۍ باندې خوره کړه او سفر به يې کولو يا به يې په زمکه خورولې او پرې کيناستل به. دا چې په دې سره مازغو او زړه کې تکبر پيدا کېږي چې زه په زمري باندې ناست يم نو د دې تکبر په وجه د رحمت فرښتې په خوا کې نه وي. (مرقات ۴۶۵/۷)

څوک چې خادم وي همغه سردار وي

﴿۳۴﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:					
او حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل سفر کې د جماعت					
سَيِّدُ	الْقَوْمِ	فِي السَّفَرِ	خَادِمُهُمْ	فَمَنْ	سَبَقَهُمْ بِخِدْمَةٍ
امير او سردار، د هغوی خادم دی. لهذا کوم کس چې د دوی (د سفرو کونکو) په خدمت کې مخکې شول،					
لَمْ	يَسْبِقُوهُ	بِعَمَلٍ	إِلَّا الشَّهَادَةَ.	رَوَاهُ	الْبَيْهَقِيّ فِيشعب الْإِيمَان[2]
نو د دې په مقابله کې د يو کس د ګواهئ نه بغير د بل هيڅ يو عمل په ذريعه باندې نه شې مخکې کېدلی.					

توضيح سيد القوم: د حديث يو مطلب دا دی چې کوم کس د خپلو ملګرو خدمت کوي هغه اصل کې د تولو سردار دی، ځکه هغه د خدمت په وجه د تولو زړونو وګټي. د غه شان په هر کار کې خلک د هغې محتاجه وي. د غه شان هغه د تولو سردار شي. اګر که غريب کس وي. د حديث دويم مطلب دا دی چې کوم کس چې د خپلو ملګرو امير شو نو د ملګرو خادم همغه وي. بيا هغې له پکار ده چې د خپلو ملګرو خدمت کوي. داسې نه چې خپله ځان مشر کړي او ناست وي او په نورو باندې حکم چلوي، نو ځکه د حديث په آخري الفاظ کې دا ارشاد دی چې خادم کله د خدمت په ذريعه مخکې شي نو د هغې مقام ته هيڅ نه شي رسيدلی. (مرقات ۴۶۵/۷)

---

(1) رقم الحديث ۳۹۲۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۲/۴ رقم الحديث ۴۱۳۰

(2) رقم الحديث ۳۹۲۵ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۳۳۴/۶ رقم الحديث ۸۴۰۷

باب الکتاب الی الکفار و دعائهم الی الاسلام
کفارو ته د مکتوبونو په ذریعه د دعوت ورکولو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿و من احسن قولا ممن دعا الی الله وعمل صالحا و قال انني من المسلمین﴾(سورة حم سجده : ۳۳)

کفارو ته د جنګ نه مخکې دعوت ورکول واجب دی، خو په دې شرط چې هغوی ته دعوت نه وي رسیدلی. که چرې دعوت ورته رسیدلی وي نو بیا دعوت ورکول مستحب دی. دې باندې د کتاب الجهاد په ابتداء کې تفصیل تیر شوی دی. د دعوت ډیري طریقې دي. خپله ورتللو سره دعوت ورکول یا د یَو نشره ونکې اداري سره اعلان کول یا د یوې مشهورې واقعې نه کفاورته معلومېدل چې مسلمانان هم یو قوم دی. چې خپل اسماني کتاب او مذهب لري. دغه طریقو کې د دعوت یوه طریقه کفارو ته خط لیکنه هم ده. اسلام کې دعوت خو یوه شعبه ده، خو د دې ځیځ متعین شکل نشته دی. د زماني د احوالو مطابق چې کوم یو صورت څوک اختیاروي نو د دعوت کار کېږي.

بهرحال نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د مکې کفارو سره د لسو (۱۰) کالو لپاره په حدیبیه کې جنګ بندئ باندې صلح وکړه، نو هغه صلحې سره ډیر فایدې ترلاسه شوې. یوه فائده دا وشوه چې کفاور مسلمانان د نژدې نه ولیدل او په خپل مینځ کې د راکړې ورکړې په ذریعې سره کفارو په بهتره توګه په اسلام پوهه شول او بیا ګڼ شمیر خلکو اسلام قبول کړو.

دویمه فائده دا وشوه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله د جزیره عرب دننه د دشمنانو نه په اطمینان سره فارغ شو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جزیره عرب نه د بیرون دنیا نورو کفارو ته د مکتوبونو په ذریعې د اسلام دعوت ورکړو. اګر که نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جزیره عرب نه بیرون لا نړو خو د مکتوبونو په ذریعې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعوت ورسولو او دومره دعوت ضروري او د جهاد لپاره کافي ؤو.

دنیا کې هغه وخت دوه لوی قوتونو حکمراني کوله (لکه څنګه چې زمونږ په دور کې روس او امریکه وه. روس خو مات شو وس انشاء الله د امریکې نوبت دی) د یو قوت نوم فارس ؤو او د دویم قوت نوم روم ؤو. خلکو به د فارس مشر (بادشاه) ته کسری او د روم مشر (بادشاه) ته به یې د قیصر نوم اخستلو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قیصر او کسری دواړو ته مکتوبونه ولېږل، خو هغه خلکو به د مهر نه بغیر هیڅ یو مکتوب نه قبلولو، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ګوتمه جوړه کړه او هغې کې یې دا عبارت وتراشو "**محمد رسول الله**". د هغې د لېکلو طریقه داسې وه. چې لفظ "**الله**" د ټولو نه پاس ؤو، د هغې نه وروسته "**رسول**" او د هغې نه د ټولو لاندې د "**محمد**" لفظ ؤو.

الله

رسول

محمد

الفصل الاول

د قیصر روم په نوم د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خط

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى قَيْصَرَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قيصر يعني د روم بادشاه ته يو خط وليکلو.

يَدْعُوهُ إِلَى الْإِسْلَامِ وَبَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَيْهِ دِحْيَةَ الْكَلْبِيَّ

چې هغې کې ورته د اسلام دعوت ورکړی شوی ؤو او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل خط د دحيه کلبی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (صحابي)

وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى لِيَدْفَعَهُ إِلَى قَيْصَرَ فَإِذَا فِيهِ:

په لاس ولېږلو او هغې ته يې دا حکم وکړو چې هغ حاکم بصری دا قيصر ته ورسوي. هغه خط کې دا ليکلی شوی ؤو.

"بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ

بسم الله الرحمن الرحيم: د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخه چې د خدای خاص بنده او رسول دی.

إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ

هرقل چې د روم اعلی حاکمران دی په هغې دې سلامتي وي چې (د اسلام د قبلولو او د خپل نيک کردار او د اعمالو په ذريعه)

اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدَاعِيَةِ الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ

د هدايت تابع دی. پس له دې څخه زه تاته د اسلام دعوت درکوم. ته اسلام قبول کړه. دنيا او د آخرت د عذاب نه به محفوظ شې

وَأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ

ته مسلمان شه. الله به تاته دوه چنده اجر درکړي. او که مخ دې واړولو يعني اسلام دې قبول نه کړو نو دا درته واضحه وي چې د دې د

وَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَعَلَيْكَ

انکار او د مخ اړولو په وجه به صرف تا باندې خپله ګناه او وبال نه وي بلکې ستا ملک والو ستا د عوامو ګناه به هم په تا باندې وي،

إِثْمُ الْأَرِيسِيِّينَ وَ﴿يَا﴾ أَهْلَ الْكِتَابِ

ځکه ستا د اسلام نه راوړلو په وجه به هغه په کفر کې اخته وي، نو د هغوی ګمراهئ ذمه واری به هم په تا باندې وي. ای اهل کتاب!

تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ
داسې کلمې او دين ارخ ته راشئ چې زمونږ او ستاسو په مينځ کې يوشان او مشترک دی يعنې دې دين کې زمونږ او ستاسو
أَن لَا نَعْبُدَ إِلَّا اللهَ
درسولانو او د کتابونو په مينځ کې هيڅ اختلاف نشته دی. او هغه کلمه او دين دا دی چې مونږ د خدای نه بغير بل د هيڅا عبادت ونه
وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا
کړو هغې سره بل څوک شريک نه کړو او مونږ هيڅ څوک بل د خدای نه بغير رب جوړ نه کړو لکه
مِنْ دُونِ اللهِ فَإِنْ
څنګه چې عيسايانو حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ رب جوړ کړی دی. پس که اهل کتاب د دې خبرې د
تَوَلَّوْا فَقُولُوا: اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
قبلولو نه انکار وکړي او مخ واړوي نو ای مؤمنانو! تاسو دا اعلان وکړئ چې ای کافرو ګواه اوسئ چې مونږ مسلمانان يو.
وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: مِنْ محمَّدٍ رسولِ اللهِ" وَقَالَ: إِثْمُ
او په روايت د مسلم کې مِنْ محمَّدٍ عبدالله وَرَسُوْلِهِ په ځای مِنْ محمَّدٍ رسولِ الله دی او (اثم الْأَرِيسِيِّينَ
اليريسيّين وَقَالَ: بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
په ځای إِثْمُ اليريسيّين دی او د بِدَاعِيَةِ الْإِسْلَامِ په ځای بِدِعَايَةِ الْإِسْلَام دی.

توضيح: **دحية**: دا صحابي ډېر زيات ښايسته او مخوريز او ښائسته شکل والا ؤو. **يوسف هذه الامة** په لقب سره مشهور ؤو، نو د د سفير په توګه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه لېږلو. او جبرائيل امين به هم د هغې په شکل کې وحې راوړله.

هرقل: ها باندې کسره ده. را باندې فتحه ده او قاف باندې سکون دی. دغه شان را باندې سکون او قاف باندې فتحه هم ويلی کېدی شي. د روم د حاکم نوم دی. هغه زمانه کې په لويې لويې طاقتونو کې يو طاقت د روم ؤو. چې پايه تخت يې قسطنطينة ؤو. د يورپ د مختلفو ملکونو نه بغير د مصر، شام

---

(۱) رقم الحديث أخرجه البخاري في صحيحه ۳۱/۱ رقم الحديث ۷ ومسلم في ۱۳۹۳/۳ رقم الحديث (۷۴-۱۷۷۳) واحمد في المسند ۲۶۳/۱

او د فلسطین علاقې هم د دوی د اثر لاندې وي. د روم د بادشاه لقب به قیصر ؤو، لکه څنګه به چې د فارس د بادشاه لقب خسرو ؤو. چې عربي کې ورته کسریٰ وایي. د مصر د بادشاه لقب به فرعون ؤو. د ترکانو د بادشاه لقب به خاقان ؤو. د حبشه د بادشاه لقب به نجاشي ؤو. نجاشي او د یمن د بادشاه لقب به تُبّع ؤو. هندوستان د بادشاه لقب به راجه ؤو او د چین د بادشاه لقب به فغفور ؤو. بهرحال د هرقل په نوم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو خط ولېږلو. د حضرت دحیه کلبی په واسطه یې د بصری شام والي ته دا خط ورسولو او هغې هرقل ته ورسولو. هرقل ولوستلو او ډېر په احترام سره یې کیښودلو.

عظیم الروم: د دې لفظ نه معلومه شوه چې په دنیوي لحاظ سره د لویې منصب والا کس د مقام خیال ساتنه جائز ده. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هرقل بادشاه د عظیم الروم په نوم سره یاد کړی دی. د غیر مسلمو لپاره د سلام طریقه **والسلام علی من اتبع الهدی** ده، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السلام علیکم ونه فرمایل. (مرقات ۴۶۶،۴۶۷/۷)

داعیة الاسلام: **داعیه د عافیة او عاقبة** په شان مصدر دی. چې د الدعوة په معنی کې دی. یو روایت کې دعایة هم دی. هغه هم دعوت په معنی کې دی. (مرقات ۴۶۸/۷)

اسلِم: یعنې اسلام قبول کړه.

تَسلَمُ: یعنې د فاسدو او د شرکیه عقیدو او بد اخلاقو او هلاکتونو نه به بچ شي. دا لفظ د "ت" په فتحه او سین په سکون او د لام په فتحه او میم د سکون سره دی. چې که په دنیا کې چا د تولو نه زورو او مختصر خط لیکلی دی، نو هغه د حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ خط دی. چې قرآن کې ذکر دی، خو د هغې خط نه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خط ډېر مختصر او زوره ور دی.

اجرك مرتین: یهود او نصاری کې چې کوم کس په خپل نبي باندې ایمان راوړی دی او بیا یې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبول کړی دی نو هغې ته دوه اجرونه ملاویږي. (مرقات ۴۶۸/۷)

الاریسیین: دا لفظ د "**اَرِیُسِیِّیْنَ**" دی. همزه مفتوح دی. د دې نه وروسته را باندې کسره ده او بیا یا ساکن دی. بیا سین باندې کسره بیا یا باندې شد دی. او بیا یا ساکن او آخر کې نون دی. دا لفظ یریسیین هم راغلی دی. د همزه په ځای "ی" مفتوح دی. باقي کلمه همدغه انداز باندې ده. دا لفظ اریسین هم راغلی دی. همزه باندې کسره ده. بیا یا ساکن دی. د صحیح قول مطابق د ملک چوهدری او په لویې دهقانانو باندې به د دې لفظ اطلاق کېدلو، نو په ځینو روایتونو کې د "**اَکَّارِیْنَ**" لفظ هم راغلی دی. چې د کرونده کونکي او د دهقان په معنی کې دی. حدیث کې د دې

لفظ نه عام خلک مراد اخستلی شوی دی. (مرقات ۴۶۸/۷)

اربابا من دون الله: هیڅ یو کس ته حلال د حرام کولو او حرام د حلال کولو اختیار ورکول هغه خپل رب جوړل دي. عیسایانو به دا اختیار خپلو مشرانو ته ورکولو. حضرت عدي بن حاتم چې کله مسلمان شو نو هغې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! مونږ کله هم خپل پادریان رب نه دي جوړ کړي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې آیا هغوی ته به مو حلال په حرام کې د بدلولو اختیار ورکولو او که نه؟ هغې وویل چې دا اختیار به مو ورکولو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې همدغه رب جوړول دي. هرقل د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خط ډېر احترام وکړو او د خپل ملک غټو ته یې د اسلام د راوړلو خواست هم وکړو. خلک په دې وران شول. لهذا اسلام یې قبول نه کړو. اګر که د اسلام د بار بار قبولو خواهش یې وکړو. امام بخاري په بخاري کې اشاره کړې ده چې هرقل په کفر کې مړ شوی دی. د مذهب په اعتبار سره عامه توګه باندې د روم خلک عیسایان ؤو. کله چې صحابه په انطاکیه باندې قابض شول نو هرقل د خپلې ښځې او بچو سره په کشتئ کې کیناستلو او شام ځمکې باندې یې نظر واچولو او وې ویل "السلام علیك یا ارض الشام لا ارك الی یوم القیامة" دا یې وویله او قسطنطین ته لاړو او هلته مړ شو. (مرقات ۴۵۰/۷)

د شاه فارس پرویز په نوم د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خط

﴿۲﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل خط مبارک د عبد الله ابن حذافه سهمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
فَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ
په لاس روان کړو. چې تقریباً په همغه مضمون باندې مشتمل ؤو چې قیصر وغیره ته یې لیږلی ؤو. او هغې ته یې دا
فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى
حکم وکړو چې هغه دا خط د بحرین حاکم ته ورسوي (چې کسری ته یې ورسوي) نو عبد الله ابن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
فَلَمَّا قَرَأَ مَزَّقَهُ
هغه د بحرین حاکم ته وروسولو او د بحرین حاکم هغه کسری ته ورسولو. چې کسری هغه خط ولوستلو نو (په ځای د دې
قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ: فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې عمل پرې وکړې) وېشلولو (د حدیث یو راوي) ابن مسیب فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

کسری او د هغې خلکو ته ښېرې وکړي چې هغوی دې ذره ذره شي باکل ذره ذره.

توضیح: الی کسریٰ: د روم پشان د فارس هم د ساسانیو ایرانیو عظیم طاقتور سلطنت ؤو. یو اړخ ته خو د هغوی حدود تر سندھ پورې خور شوی ؤو. او د بل اړخ نه عراق او د عرب څه علاقې مثلاً یم او بحرین او عمان هم د دوی د لاندې ؤو. دا ایشیاء عظیم مملکت او د دنیا دویم سپر پاور ؤو. د بادشاه لقب به یې خسرو ؤو. چې عربي کې به یې ورته کسری ویله. هغه وخت د دې بدبخته نوم پرویز ؤو، لکه څنګه چې نن سبا د پاکستان د بد بخت صدر نوم پرویز دی. خدای دې وکړي چې د دواړو انجام یو وي. نبي کریم ﷺ د حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه په لاس د کسری په نوم خط ولېږلو. پرویز مغرور ؤو. هغه غوسه شو چې زمانوم یې وروسته لیکلی دی او اول یې خپل لیکلی دی. په دې وجه هغې د نبي کریم ﷺ خط وشلولو او وې غورځولو. نبي کریم ﷺ هغې ته ښېرې وکړې. تاریخ کې لیکلې دي چې دې بدبخته د نبي کریم ﷺ د نېولو لپاره دوه کسان مدینې ته راروان کړه. دا استاځي مدینې ته راغلل. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې تر سبا پورې انتظار وکړئ. په دویمه ورځ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې زمارب ستاسو رب مردار کړی دی. او د پرویز ځوي هغه مردار کړی دی. بیا شیرو د پلار د خزانې نه د زهرو ډکه یوه شیشه ولیدله چې پرې لیکلی شوې ؤو. "دواء نافع للباه" هغې د قوت باه دوا وګڼله او وې څښله. او مړ شو. شېرو میاشتو کې دننه دننه د دواړو خاتمه وشوه. بیا خلکو د کسری لور (آرمید خت) خپله مشره کړه. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې هغه قوم به کله هم کامیاب نه شي چې مشرې یې ښځه کوي. بیا د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په مشرئ کې صحابه کرام رضی الله عنهم هغې اړخ ته متوجې شول او فارس آخري حاکم روایزدجرد یې د همیشه لپاره په خاورو کې اوده کړو د تر قیامت پورې د قیصر او د کسری نوم او نښان وران شو. (مرقات ۴۷۲/۷، ۴۷۱)

﴿۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى كِسْرٰى وَإِلَى قَيْصَرَ

او حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ فارس یعني د ایران بادشاه، د کسری روم بادشاه قیصر

---

(1) رقم الحديث ۳۹۲۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲۶/۸ رقم الحديث ۴ ، ۲۲ واحمد في المسند ۲۴۳/۱

وَإِلَى	النَّجَاشِيِّ	وَإِلَى	كُلِّ	جَبَّارٍ
او د حبشه بادشاه نجاشی او هر متکبرو مقتدر بادشاه ته یې خط ولیکلو. چې په هغې کې هغوی الله (یعنې دین اسلام) ارخ				
يَدْعُوهُمْ	إِلَى	اللهِ	وَلَيْسَ	بِالنَّجَاشِيِّ	الَّذِي
ته راوبلل شوې ؤو. او دا نجاشې چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته خط لېږلی ؤو هغه نجاشی نه دی چې د کوم لپاره					
صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]					
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدینه کې غائبانه جنازه کړې وه.					

توضیح: نجاشی: دا لفظ اصل کې نجوس ؤو. د حبشی بادشاه ته به هغه خلکو نجوس ویلې. عربو دا لفظ نجاشې کړو. نن سبا د نجاشې نوم کافرانو ایتهوپیا ایښی دی، د دې لپاره چې د مسلمانانو نه تاریخ ورک شي. د بحث لاندې حدیث کې دا تنبیه ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حبشی کوم نجاشې ته خط لیکلی ؤو دا هغه نجاشې دی چې اسلام یې قبول کړی ؤو. او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د جنازې لمونځ کړی ؤو. (مرقات ۴۷۳/۷)

د دعوت اسلام طریقه او د جهاد آداب

﴿۴﴾ وَعَن	سليمانَ	بنِ	بُريدةَ	عَنْ	أَبِيهِ	قَالَ:
او حضرت سلیمان بن بریده د خپل پلار (حضرت بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه نقل کوي چې هغې وفرمایل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ						
كَانَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	إِذَا	أَمَّرَ	أَمِيرًا	عَلَى	جَيْشٍ	أَوْ	سَرِيَّةٍ
به څوک د وړو کې یا لویې لښکر امیر کولو نو په خاصه توګه به یې د هغې د ذات متعلق نو هغه به یې د الله نه												
أَوْصَاهُ	فِي	خَاصَّتِهِ	بِتَقْوَى	اللهِ
د وېرولو او د هغې سره (جهاد کې) د تلونکو مسلمانانو متعلق هغې د نیکئ او د خیر کولو نصیحت کولو (چې				
وَمَنْ	مَعَهُ	مِنَ	الْمُسْلِمِينَ
د مجاهدینو لښکر د ستا په امارت کې روان دي همیشه د هغوی سره د خیر او نیکئ معامله کوه او د هغوی په				
خَيْرًا	ثُمَّ	قَالَ:
حق کې د نبه اخلاق او د احسان او نرمئ او ملاطفت اخلاق اختیار کړه) او د هغې نه وروسته به یې دا فرمایل			

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۲۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۳۹۷/۳ رقم الحديث (۷۵-۱۷۷۴) والترمذي في السنن ۶۴/۵ رقم الحديث ۲۷۱۶

"اغْزُوَا بِسْمِ اللّٰهِ قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ

لاړه او خدای نوم واخله او د خدای په لاره کې جهاد وکړه د هغه کس خلاف جهاد وکړه چې د الله سره یې کفر

اغْزُوَا فَلَا تَغُلُّوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تَمْثُلُوا

کړی دی. جهاد وکړه، د غنیمت په مال کې خیانت مه کوه. وعده مه ماتوه، مثله مه کوه (یعنې د بدن اندامونه لکه

وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا

پوزه، غوږ وغیره مه غوڅوه) او ماشومان مه وژنه. او (ای د لښکر امیره) چې کله ته د خپل مشرک دښمنانو نو ته

وَإِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَادْعُهُمْ

ورسیږې نو اول هغوی ته د هغه درې شیانو د اختیارولو دعوت ورکړه (د حدیث راوي د خپل شک اظهار کوي

إِلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ أَوْ خِلَالٍ

چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل ثلاث خصال په ځای ثلاث خلال وفرمایل (خصاص او خلال د دواړو یوه معنی ده)

فَأَيَّتَهُنَّ مَا أَجَابُوكَ

په دې درې شیانو کې مشترک چې ته کوم اختیار وې . او د خپل ځان لپاره یې خوښوې ته هغه منظور کړه او د

فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ

هغې نه زیات څوک په مجبوره کولو نه ځان وساته. بیا یعنې په دې درې شیانو کې اولنی شی دا دی

ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَجَابُوكَ

چې هغوی د اسلام دعوت ورکړه. که هغوی یې قبول کړي نو ته یې منظور کړه او هغوی سره د جنګ نه

فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ

ځان وساته. بیا هغوی اسلام قبول کړي نو د هغوی په خپل ملک کې یعنې د دارالحرب نه د مهاجرینو ملک

ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ

یعنې دار الاسلام ته د انتقالیدلو یعنې د هجرت کولو دعوت ورکړه او هغوی ته دا ووایه چې کچرې

وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ

تاسو دا کوئ (یعنې هجرت وکړئ او دارالاسلام ته راشي نو هغوی به همغه حقوق وي، کوم چې

فَلَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ فَإِنْ

مهاجرین ته حاصل دي. او په هغوی به همغه ذمه واري وي کومې چې په مهاجرینو باندې دي او په

أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ يُجْرَى عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللهِ

هغوی به د دخدای همغه حکم نافذ کېږي کوم چې په ټولو مسلمانانو باندې نافذ دي یعنې د لمونځ، زکوة

الَّذِي يُجْرَى عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللهِ الَّذِي يُجْرَى عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَكُونُ لَهُمْ فِي الْغَنِيمَةِ وَالْفَيْءِ

وغیره واجب کېدل او قصاص او د دیت احکامات نافذ کېدل او د غنیمت او فئ په مال کې به د هغوی هیڅ برخه

شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ

نه وي. البته هغه وخت به ورته ملاوېږي چې کله مسلمانانو سره په جهاد کې شریک شي. او که هغوی

فَإِنْ هم أَبَوْا فعلهم الْجِزْيَةَ فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ

د اسلام قبولو نه انکار وکړي نو بیا ترېنه د جزیې دادا کولو مطالبه وکړه. او که جزیه ورکول قبول کړي نو ته یې هم منظور

وَكُفَّ عَنْهُمْ فَإِنْ هُمْ أَبَوْا

کړه او د جنګ کولو نه ځان وساته. او که هغوی جزیه هم قبوله نه کړي نو درېم شی دا دی چې تاسو د الله

فَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَقَاتِلْهُمْ وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ

نه مرسته وغواړئ او د هغوی سره جنګ شروع کړئ او کله چې تاسو د یوې قلعه خلک یعنې دښمنان محاصره

فَأَرَادُوكَ أَنْ تَجْعَلَ لَهُمْ ذِمَّةَ اللهِ وَذِمَّةَ نَبِيِّهِ

کړئ او د قلعه یا د کلې والا تاسو نه د الله او د هغې د نبي عهد او امان وغواړي نو تاسو هغوی ته د الله د

فَلَا تَجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّةَ اللهِ وَلَا ذِمَّةَ نَبِيِّهِ وَلَكِنِ اجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّتَكَ وَذِمَّةَ أَصْحَابِكَ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخه د امان ورکولو عهد مه کوئ. د خپل د جهاد د ملګرو له اړخه ورته عهد او امان ورکړه

فَإِنَّكُمْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَمَكُمْ وَذِمَمَ أَصْحَابِكُمْ

ځکه که ته د خپل او د خپلو ملګرو له اړخه د ورکړې شوي عهد و امان ماتوئ نو دا به د الله او د هغې د

أَهْوَنُ مِنْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَّةَ اللهِ وَذِمَّةَ رَسُولِهِ وَإِنْ حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ

رسول عهد و امان د ماتولو نه ډېر اسان وي او کله چې ته د یوې قلعه خلک محاصره کړي او هغوی (د قلعه والا) ستا

فَأَرَادُوكَ أَنْ تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللهِ فَلَا تُنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِ اللهِ
نه د الله په حکم باندې د محاصرې د ختمولو خواست وکړي نو ته د الله په حکم د هغوی نه محاصره مه اوچتوه بلکې پخپل
وَلَكِنْ أَنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِكَ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي:
حکم باندې د هغوی نه محاصره ختمه کړه، ځکه تاته نه ده معلومه چې تاد خپل ځان باره کې د فیصلې کولو وخت کې د الله حکم ته
أَتُصِيبُ حُكْمَ اللهِ فِيهِمْ أَمْ لَا؟". رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
رسیدلی یې یانه (تاته په څنګه پته لږې چې تاد محاصرې اوچتولو وخت کې کومه فیصله کړې ده هغه د خدای په نزد صحیح ده یانه

توضیح: **ثم ادعهم الی الاسلام**: د دعوت اسلام په درې خصلتونو کې دا اولنی خصلت دی چې د ایمان دعوت ورکړه. دلته په ځینو نسخو کې د "ثم" لفظ نشته دی. او همدغه ډیره مناسبه ده لکه څنګه چې د ابوداؤد په روایت کې دي. د حدیث مطلب دا دی چې د دعوت نه وروسته که خلکو اسلام قبول کړو نو بیا هغه خلکو ته ؤوایه چې هغه ښارونو ته راشئ چرته چې مسلمانان اباد دي. او که هغه خلکو هجرت وکړو او د کلو نه ښارونو ته راغلل نو د مهاجرینو ټول حقوق به هغوی ته ملاوېږي. او که هغه خلک ښارونو ته نه راځي نو بیا د هغوی معامله د کلیوالو پشان وي چې که په جهاد کې شریک شو نو مالِ غنیمت به ورته ملاوېږي ګڼي نه. البته د اسلام قوانین به په هغوی نافذ کېږي.

فسلهم الجزیة: یعنې که کفارو اسلام قبول نه کړو نو د دعوت اسلام دویم خصلت دا دی چې د هغوی ته بله خبره د جزیې وکړه. **فاستعن بالله**: یعنې که د جزیه ورکولو نه هغه خلکو انکار وکړو نو بیا د دعوت اسلام درېم خصلت دا دی چې د الله نوم واخله او د هغوی سره جنګ وکړه. جهاد د مقدس جنګ د آدابو نه یو آداب دا دی چې کله ته کومه قلعه محاصره کړي او د قلعه والا ستانه د الله د نوم په ذمه وارئ باندې عهد او امان وغواړي، نو د الله تعالی په ذمه وارئ معاهده مه کوه. بلکې په مضبوطه رایه باندې معاهده وکړه، ځکه که معاهده د یوې مجبورې له وجې ماتول غواړي نو بهتره به دا وي چې ستا په عهدو او امان ورکړی شوی ؤو هغه مات شي او الله او د هغې د رسول نافرماني ونه شي. دغه شان د جنګ په آدابو کې دویم ادب دا دی چې که د کومې قلعه خلک په دې شرط راکوزېدل غواړي چې د هغوی باره کې د الله کوم حکم وي نو په هغوی به نافذ کېږي. داسې معاهده هم مه کوئ بلکې هغوی ته وایي چې زمونږ مطابق په فیصله باندې راکوشئ. کومه فیصله چې مونږه کوؤ همغه به نافذ کېږي. دا ځکه چې تاسو ته څه پته ده چې د دې باره کې د الله څه حکم دی او چرته دی. هغه خلک به نور څه وایي او تاسو به نور څه وایي. دغه شان به تاسو په تشویش کې شئ، نو ځکه پاکه ورته ؤوایئ چې زمونږ امیر چې کومه

---

[1]) رقم الحدیث ۳۹۲۹ أخرجه مسلم: صحیحه ۱۳۹۷/۳ رقم الحدیث (۷۵-۱۷۷۴) والترمذي في السنن ۶۴/۵ رقم الحدیث ۲۷۱۶

فیصله کوي نو د همغې به اعتبار وي. ظاهره ده چې مسلمان امیر د شریعت خلاف فیصله نه کوي. کومه فیصله به چې کوي هغه به د انصاف او حکمت وي. (مرقات ۷/ ۴۷۶، ۴۷۵)

د جنګ ارمان مه کوئ خو چې په سر موراشي نو بیا یې په کلکه کوئ

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي

او حضرت عبدالله بن او فی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپلو ورځو کې یو ورځ چې د دښمن په مقابله

لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ انْتَظَرَ

کې وُو (یعنې د جهاد په موقع کې په میدان جنګ کې وُو) د لمر د پرېوتلو پورې د جنګ شروع کېدلو انتظام

حَتَّى مَالَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَامَ فِي النَّاسِ فَقَالَ:

کولو. بیا لمر پرېوتلو، نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته د خطبې لپاره او درېدلو او ویې فرمایل خلکو! تاسو د خپل دښمن

يَا أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ

سره د مقابلې ارمان مه کوئ یعنې دا مه غواړئ چې د کفارو سره د قتل و قتال بازار ګرم وي، ځکه دا غوښتل

وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ

د امتحانونو او د مصیبت ارمان کول دي. چې منع ده. بلکې د الله نه د امن او عافیت طلب کوئ. کله چې ستاسو

فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا

د دښمن سره مقابله شي نو بیا ښه په پوره زړه ورتیا سره مقابل کوئ او د صبر او استقامت نه کار اخلئ. او په

وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ

دې خبره پوهه شئ چې جنت د تورو د سیورې دلاندې دی. یعنې تاسو جنت ته بالکل نزدې وئ. د دې نه ورسته

ثُمَّ قَالَ: اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وهازم الْأَحْزَابِ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا دعا وغوښتله ای الله! کتاب نازلونکی، وریځې چلونکی او د کفارو جماعت ته شکست

واهزمهم وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ورکونکی دې دښمنانو ته شکست ورکړي او مونږ له په هغوی فتح راکړې.

---

(1) رقم الحديث ۳۹۳۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲۰/۶ رقم الحديث ۲۹۶۵ ومسلم في صحيحه ۱۳۶۲/۳ رقم الحديث (۲۰-۱۷۴۲)

په جنګ خیبر کې نعرۀ الله اکبر

﴿٦﴾ وَعَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ سره د يو دښمن قوم سره جهاد کولو

قَوْمًا لَمْ يَكُنْ

يعنې کله به چې د جهاد په موقع باندې يو داسې دښمن باندې حمله کولو اراده لره چې د هغې د حالاتو علم به نه ؤو او مونږ

يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ

به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په جهاد کې شريک ؤو، نو د سحر کېدلو نه مخکې به مونږ سره په هغې باندې حمله نه

وَيَنْظُرَ إِلَيْهِمْ فَإِنْ

کوله. بيا به چې کله سحر شو نو دې دښمنانو ابادئ او د هغوی په ځايونو به يې نظر اچولو چې د مشاهدې يا د قرائينو نه

سَمِعَ أَذَانًا كَفَّ عَنْهُمْ

دا معلومه شوه چې دا کوم خلک دي که د هغوی له اړخ به مو د اذان اواز واورېدلو نو جنګ به مو ورسره نه کولو.

وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا

او که د اذان اواز به مو نه اورېدلو او د هغې قرينه نه دا ثابت شو چې دې کې مسلمانان نشته دي، نو په

أَغَارَ عَلَيْهِمْ قَالَ: فَخَرَجْنَا إِلَى خَيْبَرَ

هغوی به مو حمله کوله. حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږ کله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خيبر ته د جهاد

فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ لَيْلًا فَلَمَّا أَصْبَحَ وَلَمْ يسمَعْ أَذاناً

ته روان شو، نو د هغوی سرحدونو ته د شپې ورسيدلو. چې سحر شو او هغوی دارخ نه به اذان وانه ؤريدلی شو نو

رِكِبَ وَرَكِبْتُ خلفَ أَبِي طلحةَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به سورلی باندې سپور شو او زه د ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغې په سورلی باندې د هغې شاته کينا ستلم.

وَإِنَّ قَدَمِي لَتَمَسُّ قَدَمَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او زمونږ سورلی د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سورلی سره دومره نزدې وه چې زما پښې به د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د پښو سره لږېدلې

قَالَ: فَخَرَجُوا إِلَيْنَا بِمَكَاتِلِهِمْ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله سحر کې د خيبر والا زمونږ د راتللو نه بې خبره خپلو پټو ته د تللو لپاره

ومساحيهم	فَلَمَّا	رأى
خپلې کدالې په بوجئ (يعنې د زمندارئ سامان) واخستل او د کورنه ؤوتل او زمونږ ارخ ته راغلل او هغوی		
النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	قَالُوا:	مُحَمَّدٌ واللهِ
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليدلو او په چغو چغو يې وويل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغلو په خداى قسم		
محمّدٌ والخميسُ	فلَجؤوا	إِلَى الْحِصْنِ
محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او د هغې خميس لښکر راغلو. دې ويلو سره هغوی وتښتېدل او قلعه کې پټ شول.		
فَلَمَّا رَآهُمْ رَسُولُ اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی په منډو وليدل نو ګويا کې هغوی د شکست سره په تعبير کولو سره		
قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ	اللهُ أَكْبَرُ	خَرِبَتْ خَيْبَرُ
ازراه تفاول فرمايل چې الله ډېر لويې دى، الله ډېر لويې دى. خيبر برباد شو. دې کې هيڅ شک نشته دى.		
إِنَّا إِذَا	نَزَلْنَا	بِسَاحَةِ قَوْمٍ
مونږ د مسلمانانو جماعت يا د انبياؤ چې کله د يو قوم په ميدان کې د جنګ لپاره کوزېږو نو د هغه		
فساءَ صباحُ المُنْذَرِينَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]		
وېرېدونکې قوم سحر ډېر خراب وي.		

توضيح مكاتل: د کمتل جمع ده غټې بوجئ ته مکتل وايي **مساحي**: ددې مفرد مسحات دى کدالې ته وايي. **الخميس**: د پنځو برخو لښکر ته الخميس وايي. د يو کافر په علاقې باندې د حمله کولو نه مخکې که اذان وشي نو بيا په احتياط سره د جنګ کاروائى کول پکار ده چې مسلمانانو ته نقصان ونه رسيږي، خو که اذان ونه شي نو بيا ښه په درځ کې حمله کېږي، نو په دې وجه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احتياط کړى دى. (مرقات ۴۸۰-۴۸۱/۷)

﴿۷﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ: شَهِدْتُ الْقِتَالَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت نعمان بن مقرن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په جنګ کې شريک شوى يم،

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۳۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۹/۲ رقم الحديث ۶۱۰ ومسلم في صحيحه ۱۴۲۶/۳ رقم الحديث (۱۲۰-۱۳۶۵)

فَكَانَ	إِذَا	لَمْ	يُقَاتِلْ	أَوَّلَ	النَّهَارِ	انْتَظَرَ
نو كله به چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سحر كې جنګ نه شروع كولو نو د هغه وخت انتظار به يې كولو						
حَتَّى تهب الْأَرْوَاح وتحضر الصَّلَاة. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]						
چې هوا به وچليدله او د غرمې د لمونځ وخت رانژدې شي.						

توضيح جهاد مقدس به د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه كې دوه وختو كې كېدلو. سحر ته تر لمر د تيزېدلو پورې به اودرېدلو. د هغې نه وړوسته به مازيګر ؤو. كله به چې دهوپ كم شو. د بحث لاندې حديث همدغه خبره كړې شوې ده چې كه د سحر وخت كې به نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ نه راوتلو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به انتظار كولو چې د غرمې نه وروسته د فتحې او د مرستې هوا ګانې ولږېږي. د هوا ګانو د چليدلو مطلب دا دى چې د الله تعالى له اړخه مرسته رانازله شي. د هغې به يو ظاهري صورت هم ؤو. هغه دا چې د غرمې د لمونځ نه وروسته عام مسلمانان لمونځونو كې او د لمونځونو نه وروسته د مجاهدينو لپاره دعا ګانې غوښتلې چې الله د مجاهدينو سره مرسته وكړې. معلومه شوه چې په جوماتونو كې د مجاهدينو لپاره دعا ګانې غوښتل پكار دي.

الفصل الثاني

﴿۸﴾ عَن النُّعْمَان بن مقرن قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ						
حضرت نعمان ابن مقرن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره (جنګونو كې) شريك شوم،						
فَكَانَ	إِذَا	لَمْ	يُقَاتِلْ	أَوَّلَ	النَّهَارِ	
نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې كله د ورځ په ابتدائى برخه يعنې د سحر وخت كې جنګ نه كولو نو هغه						
انْتَظَرَ	حَتَّى	تَزُولَ				
وخت به يې د جنګ كولو انتظار كولو تر څو به چې لمر نه ؤو پرېوتلى او هوا به ونه لږېدله. او نصرت						
الشَّمْسُ	وَتَهُبَّ	الرِّيَاحُ				
يعنې د فتحې هوا به رانازله نه شوه يا د نصرت رانازليدلو مطلب دا دى چې تر څو پورې به د غرمې د لمونځ نه وروسته د اسلام						

---

(1) رقم الحديث ۳۹۳۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۸/۶ رقم الحديث ۳۱۶۹۰

وينزِلَ النَّصرُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
د مجاهدينو لپاره د مسلمانانو د دعاګانو په برکت سره د فتح آثار ظاهره نه شول.
﴿٩﴾ وَعَن قتادةَ عَنِ النُّعمَانِ بنِ مُقَرِّنٍ قَالَ:
او حضرت قتاده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حضرت نعمان ابن مقرن رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې هغې وفرمايل چې ما
غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ
د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره جهاد کړی دی. نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د سحر نه وروسته تر هغه وخت پورې
أَمْسَكَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا
جنګ نه کولو چې تر کومې پورې به د سحر د لمونځ فارغ شوی نه ؤو او لمر به رابښتلی نه ؤو. چې
طَلَعَتْ قَاتَلَ فَإِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ أَمْسَكَ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ
لمر به راوښتلو نو جنګ به يې شروع کړو او چې غرمه به شوه نو د غرمې د ختمېدلو لپاره به يې جنګ بند کړو.
فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ قَاتَلَ حَتَّى الْعَصْرِ
بيا به چې غرمه ختمه شوه او د غرمې لمونځ به يې وکړو نو ترد مازيګر پورې به يې جنګ کولو او
ثُمَّ أَمْسَكَ حَتَّى يُصَلَّى الْعَصْرُ ثُمَّ يُقَاتِلُ قَالَ
بيا به يې بس کړي تر دې چې د مازيګر لمونځ نه وروسته به بيا جنګ کې مشغول شو. قتاده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ
قَتَادَةُ: كَانَ يُقَالُ: عِنْدَ ذَلِكَ
فرمايي چې ويل کېدل به (يعني صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ به د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګې نظام د وختونو
تُهِيجُ رِيَاحُ النَّصْرِ
د حکمت باره کې ويله چې دا د دې وجې نه ؤو چې په دې وختونو کې د نصرت هوا ګانې چلېږي او
وَيَدْعُو الْمُؤْمِنُونَ لِجُيُوشِهِمْ
مسلمانان په خپلو لمونځونو کې د خپلو لښکرونو لپاره د فتح او د کاميابئ دعاګانې کوي يعني د لمونځ نه وروسته د عاګانې غواړي

([1]) رقم الحديث ٣٩٣٣ أخرجه ابوداود في السنن ١١٣/٣ رقم الحديث ٢٦٥٥ والترمذي في ١٣٧/٤ رقم الحديث ١٦١٣

فِي صَلَاتِهِمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
يا د لمونځ په دوران کې دعا ګانې کوي، لکه څنګه چې د قنوت لوستلو په سلسله کې په حديثونو کې منقول دي).
﴿١٠﴾ وَعَنْ عِصَامٍ الْمُزَنِيِّ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عصام مزنی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ د جهاد لپاره په يو وړو کې
فِي سَرِيَّةٍ فَقَالَ: إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا أَوْ سَمِعْتُمْ مُؤَذِّنًا
لښکر کې ولېږلو او وې فرمايل چې کوم ځای کې جومات اوينئ يا د مؤذن نه اذان واورئ نو هلته
فَلَا تَقْتُلُوا أَحَدًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[2]
هيڅ څوک مه وژنئ. (ترمذی او ابو داؤد)

توضيح: مسجدا: يعني که يو اسلامي شعار مثلاً اذان او جومات تاسو اوينئ نو بيا په جنګ کې احتياط کوئ. فقط کافران اوژنئ او که په دار حرب کې مسلمانان اوسيږي نو هغوی د اعلان او خبر باوجود هم د کفارو نه جدا نه شول نو بيا به د هغوی خيال نه ساتلی کيږي. اګر که کفار مسلمانان د ډال په توګه استعمال کړي. هغه وخت يې د کافرانو په نيت باندې اوژنئ. د داسې مسلمان وينه هدر ده. (مرقات ٤٨٣/٧)

الفصل الثالث

د حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د کفارو په نوم يو عظيم مکتوب

﴿١١﴾ عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ: كَتَبَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ إِلَى أَهْلِ فَارِسَ:
حضرت ابو وائل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې حضرت خالد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د فارس يعني د ايرن خلکو يعني د هغوی مشران او د
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ مِنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ إِلَى رُسْتَمَ
سردارانو دا خط ولېږلو. بسم الله الرحمن الرحيم: د حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د اړخه رستم او د
وَمِهْرَانَ فِي مَلَإِ فَارِسَ. سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى.
مهران په نوم چې د ايران په مشرانو کې دي. هغه کس باندې دې سلامتي وي چې د حق او هدايت پيروي وکړي.
أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّا نَدْعُوكُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَبَيْتُمْ
وروسته د دې نه دې دا واضحه وي چې مونږ تاسو ته د اسلام د قبلولو دعوت درکوؤ. که اسلام نه قبلوئ

([1]) رقم الحديث ٣٩٣٤ أخرجه الترمذي في السنن ١٣٦/٤ رقم الحديث ١٦١٢

([2]) رقم الحديث ٣٩٣٥ أخرجه ابوداود في السنن ٩٨/٣ رقم الحديث ٢٦٣٥ والترمذي في ١٠٢/٤ رقم الحديث ١٥٤٩

فَأَعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَأَنْتُمْ صَاغِرُونَ فَإِنْ أَبَيْتُمْ
نو په ذلت او خوارئ سره په خپلو لاسونو جزیه ادا کړئ او که د جزیه د ادا کولو نه هم انکار کوئ نو تاسو ته دې خبر
فَإِنَّ مَعِيَ قَوْمًا
وي چې هلاکت او پښیمانتیا ستاسو مقدر شوی دی، ځکه بیشکه ما سره د یو داسې خلکو جماعت دی چې د وینې تو پول
يُحِبُّونَ الْقَتْلَ فِي سَبِيلِ اللهِ
یا د خدای په لاره کې خپل ژوند قربانول داسې خوښوي لکه څنګه چې د ایران خلک شراب خوښوي
كَمَا يُحِبُّ فَارِسُ
یعنې څنګه چې تاسو ایرانیان د شرابو په نشه کې خوند او خوشحالي حاصلوي. دغه شان زما د جماعت خلک د
الْخَمْرَ وَالسَّلَامُ عَلَى
قتل و قتال په مستي او سرفروشي حاصلوي. یا خو هغوی ته په ژوند اخستلو یا ورکولو کې همغه خوشحالي
مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[1]
او خوند حاصلیږي چې کوم تاس په شرابو کې محسوسوئ او سلامتي وي په هغو باندې چې د حق او هدایت پیروي کوي.

توضیح: القتل: یعنې دا خیال د مازغو نه او باسئ چې مونږ د مرګ نه وېرږدونکي یو. مونږ له په میدان جنګ کې د جنګ کولو او د مرګ په شهادت کې همغه مزه او مستئ حاصلوي لکه څنګه چې تاسو ته په شرابو کې خوند حاصلوي. د داسې قوم مقابله تاسو نه شئ کولی. لهذا خامخا زمونږ لاره مه نیسئ. سبحان الله دا هم یو درد ؤو. چې په کوم باندې ترننه پورې اسلام فخر کوي.

یو شاعر ویلي دي:

مصلحت در دین ما جنگ و شکوه　　مصلحه در دین عیسیٰ غار و کوه

یعنې زمونږ د دین مصلحت خو په جهاد او په رعب و داب کې دی. او د عیسائی مذهب مصلحت په پادرې جوړېدلو کې او غارونو کې اوسیدل دي. د حضرت خالد رضی الله عنه دا خط د فارس والو په نوم په هغه وخت کې لیکلی شوی ؤو. کله چې حضرت خالد د جهاد په ابتدائی دور کې په عراق کې ؤو. بیا حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغه د عراق نه شام ارخ ته راولېږلو او د لښکر امیر یې کړو. شام یې فتح کړو په بیا په دې لاره د مصر صعید مصر ته ورسیدلو او هلته یې عظیم جهاد وکړو.

---

(1) رقم الحديث ۳۹۳۶ المرقاة المفاتيح ۴۴۴/۷

باب القتال في الجهاد
جهاد کې جنګ د ترتیب بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿فاذا لقیتم الذین کفروا فضرب الرقاب﴾ (سورة محمد : ۴)

د فقهې په ټولو کتابونو کې د دې باب سره د کیفیة القتال لفظ لګولی شوی دی. حدیثونو کې هم د کیفیت قتال بیان مقصود دی، ځکه دي باب کې چې څومره حدیثونه ذکر دي. تقریباً ټولو کې د قتال څه نه څه کیفیت ذکر دی. ملا علي قاري فرمایي "ای فی حث القتال و ترغیبه و ثوابه" یعنې دي باب کې د کفارو سره د جنګ کولو د ترغیب بیان دی. د دې د ثواب بیان دی او کفارو سره جنګ کولو باندې د اماده کولو او د راپارولو بیان دی. (مرقات ۴۸۵/۷)

ځینې خلک داسې دي چې په طبعي توګه جهاد مکروه ګڼي. هغوی دلته خوشحالېږي چې وګوره دلته جهاد یو شی دی او جنګ کول بل شی دی. مونږ اګر که جنګ نه کوؤ خو په جهاد کې برابر مشغول یو. او جهاد کې جنګېدل یوه جزوي معامله ده. چې د مجبوری په درجه کې دی. زه وایم د دې نه مخکې د جهاد په باب کې د جنګ حدیثونه ولې راغلي دي. که چرې بیل شی دی نو د جهاد په باب کې د جنګېدلو د حدیثونو ذکر به هم نه وی. حال دا چې ټول باب د جنګ د حدیثونو او د فضائلو نه ډک پروت دی. چې دا کړلی شوی امر دی او جنګ د جهاد برخه ده نو د هغې د کیفیت او د ترتیب او د طریقي بیان کول ضروري ؤو، نو ځکه د جهاد د عمومي باب نه یې د دې کیفیت په جدا کولو سره یو مستقل باب کې ایخی دی.

د جهاد د مشروعیت حکمت : اسلام کې د مشروعیت جهاد ډیر لوی حکمتونه دي. ۱: جهاد سره د دین لپاره پرانستلی کېږي ۲: فساد ختم شي او امن راشي ۳: د الله تعالی کلمه اوچته شي ۴: یو لوی حکمت دا دی چې کله ټول انسانان د الله بندیګان او غلامان دي، نو هغوی له د الله په غلامئ کې وسیدل پکار دي، خو ځینې بندیګان د الله د احکاماتو نه عامه نافرماني کوي او بغاوت شروع کړي. او د نورو امن خوښونکو انسانانو لپاره د مصیبت سبب شي، نو الله تعالی د ارخ نه خپلو منونکو بندیکانو ته حکم دی چې وَس دوی مړه کړئ، وَس دا ځناور شوي دي، نو ځکه دا ځناور په میدان جهاد کې وژل هم جائز دي او نیول او ذبح کول یې هم جائز دي. او اخستل او خرڅول یې هم جائز دي. او غلام کول او وینځي کول یې هم جائز دي. د مثال په توګه یو حکومت دی. د هغې لښکر دی. هغه لښکر کې بغاوت وشو. او لښکر په دوه برخو کې ویشل شو. یو منونکی دی او بل باغي دی. د بین المللی قانو مطابق د دنیا ټول حکومتونه په دې خبره خامخا پوهېږي چې منونکی

لښکر به هغه باغي لښکر سره جنګ کوي او هغوی به ختموي. بالکل همد غه شان الله خپل منونکو بندیګانو ته حکم کوي چې مانه بغاوت کونکې لښکر ښه وجنګېږئ او هغوی ؤوژنئ ۵: د جهاد په حکمت باندې تاسو داسې هم پوهه کېدی شئ چې کله بدن کې د سرطان ناروغي ولږي نو د هغه برخې عملیات هر عقلمند او طبیب ضروري ګڼي. د دې لپاره چې د سرطان دا ناروغي نور بدن کې خوره نشي. دغه شان د کافرانو بدن چې د انسانانو د صالح بدن دننه د سرطان د ناروغئ په شان دی. د هغې غوڅول ضروري دی. د دې لپاره چې د ټول انسانیت بدن د دې وژونکې مرض نه محفوظ شي. علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله د سورت توبه آیت نمبر ۴ په تفسیر کې د جهاد شپږ حکمتونه همد غه شان بیان کړي دي.

الفصل الاول

د شهادت شوق

﴿۱﴾ عَن جَابر قَالَ: قَالَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ:
حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د جنګ اُحد په ورځ (په میدان جنګ کې) یو کس نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل
أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا؟
چې ته (محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) اوایه! که چرې زه اوژلی شم (یعني د اسلام د دښمنانو سره په جنګ کې شهید شم) نو زه به چرته ځم.
قَالَ: فِي الْجَنَّةِ
یعني جنت به ځم که دوزخ ته؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "جنت ته" (دې اوربدلو سره) هغه کس (جنت ته
فَأَلْقَى ثَمَرَاتٍ فِي يَدِهِ
د رسیدلو په ارمان کې د شهادت مرتبه ژر د حاصلولو لپاره) هغه کجورې ګوزار کړي چې (د خوراک لپاره)
ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
د هغې په لاس کې وې او په جنګ شو تر دې چې شهید شو.

(۱) رقم الحديث ۳۹۳۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۵۴/۷ رقم الحديث ۴۰۴۶ ومسلم في ۱۵۰۹/۳ رقم الحديث (۴۳-۱۸۹۹)

جهاد ته دوتلو وخت کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکمت عملي

﴿۲﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت کعب ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله کومې غزوې (يعنې د

يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا حَتَّى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ يَعْنِي غَزْوَةَ تَبُوكَ

جهاد کولو) اراده کوله نو د هغې په ځای به يې توريه کوله تر دې چې دا غزوه يعنې غزوه تبوک واقع شو.

غَزَاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ وَاسْتَقْبَلَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غزوه تبوک په سخت ترينه زمانه کې وکړو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې لپاره

سَفَرًا بَعِيدًا وَمَفَازًا وَعَدُوًّا كَثِيرًا

ډېر لرې سفر وکړو او بې اوبو او بې وابنو ځنګلونو کې وکړو. دغه شان په هغې د دښمنانو شمېر ډېر زيات ؤو،

فَجَلَّى لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ

نو کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې غزوې اراده وکړه نو د هغې باره کې يې د مسلمانانو په مينځ کې صفا صفا اعلان وکړو

لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ

(او د دې غزوې په دوران کې يې د راتلونکې مشکلاتو او پريشانئ په وضاحت سره بيان کړې) چې هغه خلک (د جنګ لپاره)

فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي

ښه تيارشي. او خپل د جهاد سامان صحيح کړي. دغه شان نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته د هغه لارو

يُرِيدُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

او مقاماتو باره کې هم وويله کومه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (تبوک ته د رسيدلو لپاره) اختيارول غوښتله.

توضيح: وړّى: دا د لفظ توريه نه دى. چې د باب تفعيل نه دى. توريه تعريض او کنايه ته وايي. چې د دښمنانو نه اصل حقيقت پټ کړي او بله خبره ظاهره کړي مثلاً تک يو اړخ ته دى تو تفتيش او تذکرې به يې بل اړخ ته شروع کړي. د مثال په توګه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اراده به د فتح مکې په موقع باندې مکې ته تلل ؤو، خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خيبر په احوال بيان کړه، لټون او تذکره يې شروع کړه. د حکمت په دې عمل کې فائده وه چې د دښمن به بې خبر ؤو. او هغوى به د جنګ د تيارې نه بې

---

(1) رقم الحديث ۳۹۳۸ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱۳/۸ رقم الحديث ۴۲۱۸ ومسلم في ۲۱۲۰/۴ رقم الحديث (۵۳-۷۶۹)

خبره پاتې شول او حمله به پرې کېدله. همدې ته "**الحرب خدعة**" ويلی شوې ده. دې کې تصريح نه وي. که د صراحت سره دا وويلی شي چې زه د لکهنؤ ښار ته ځم او زړې کې دا پټه کړې ده چې زه فيروز اباد ته ځم، نو دا توريه نه دا. بلکې دا صريح دروغ دي. چې په شريعت کې يې اجازت نشته دی.

غزوۀ تبوک: نبي کريم ﷺ په غزوه تبوک کې د تعريض او کنايې نه کار نه دی اخستی بلکې په واضحه الفاظ کې يې اعلان وکړو چې د جهاد لپاره به تبوک ته ځو. د دې تصريح وجه دا وه چې د سختيونو نه ډک سفر ؤو. لاره ډېره لرې وه، ځکه د مدينې نه تبوک تقريباً زر (۱۰۰۰) کلو ميټره دی، خوراکې شيان ډېر کم ؤو او سخته ګرمې وه، نو د پوره تيارئ ضرورت ؤو، نو ځکه نبي کريم ﷺ واضحه اعلان وکړو. دا غزوه په ۹ کې پېښه شوې وه. نبي کريم ﷺ د ډېرش زره (۳۰۰۰۰) کسانو لښکر ؤو. په مقابله کې د رومې عيسايانو په لاکهونو تعداد کې ؤو. د مدينې نه د خيبر په لاره د العلا علاقه راځي. د هغې نه وروسته مدائن صالح او ثمود دره راځي. د هغې نه وروسته تبوک دی. (مرقات ۴۸۶/۷)

جنګ د چل او تدبير نوم دی

﴿۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: الْحَرْب خدعة (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل جنګ د چل او دهوکې (نوم) دی.

توضيح: الخدعة: دا لفظ د خا په ضمه سره دی. دال ساکن دی، خو د اهل لغتو په نزد خا باندې فتحه او دال باندې سکون زيات فصيح او بهتر دی. چل، تدبيرو مکر او حيله او د دهوکې نوم خدعه ده. چې په جهاد کې جائز دی. مطلب دا دی چې په جنګ کې د تعداد زياتېدل دومره فائده مند نه دی لکه څومره چې چال او تدبير او دهوکه فائده منده وي. نن سبا دې تدبير ته د حکمت عمل وايي، نو کماندر همغه وې چې د حکم عمل او داؤ پېچ نه ډېر زيات کار اخلي او د دښمن فوج په تښتېدلو باندې مجبور کړي. د حکمت دې جنګ کې هر تدبير او مکر او حيله جائزه ده، خو دا ضروري ده چې په دې د حکمت عمل سره کړی شوې معاهدې خلاف ورزې دې ونه کړی شي او نه دې هغه کړی شوې معاهده ماته کړی شي چې کومه معاهده د دښمن سره شوې وي. علامه طيبې فرمايي چې د جهاد په معامله کې او د هغې په فائده کې صريح دروغ ويل هم جائز دي، خو تعريض زيات بهتر دی، نو ځکه د صريح دروغو نه بچ کېدل پکار دي. (مرقات ۴۸۷/۷، ۴۸۶)

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۳۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۵۸/۶ رقم الحديث ۳۰۳۰ ومسلم في ۱۳۶۱/۳ رقم الحديث (۱۷-۱۷۳۹)

په جهاد کې د ښځو د شریک کېدو حکم

﴿۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره جهاد ته تللو نو د ځان سره

وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا يَسْقِينَ الْمَاءَ

به يې ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او د انصار نورې ښځې هم بوتللې. هغه ښځو به د اسلام غازيانو ته اوبه ورکولې

وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى. رَوَاهُ مُسلم[1]

او د زخميانو ته به يې د مرهمو پټئ کولې او د هغوی خيال به يې ساتلو.

توضيح: **يغزوبأم سليم**: ښځو باندې عام حالاتو کې جهاد فرض نه دی، خو که جهاد فرض عين شې او ترد کورونو دروازو پورې راورسيږي نو بيا د هرې ښځې لپاره د خپل عزت او ناموس لپاره جنګ کول فرض دی، خو که په عامو حالتو کې ښځې جنګ کې شريک کېدل غواړي چې پېغلو ښځو له تلل جائز نه دي. د زيات عمر والا ښځې د زخميانو د خيال ساتنې او د مرهم پټئ لپاره او د خوراک او څښاک د پښولو په غرض تلی شي. ځينې فقهاؤ ليکلي دي چې د ميدان په بالکل آخري مورچو کې د ضرورت په وخت کې د پردې سره ښځې په جنګ کې شرکت کولی شي. که خاوند د خپل خدمت يا د ضرورت مباشرت لپاره ښځې بوتلل غواړي نو د ازاد ښځو په ځای خپلې وينځې بوتلل زيات بهتر دي.

د زخميانو په خدمت کې د ښځه د زخمي د بدن په هغه برخه دوائی لګولی شي. او هغه برخې نه لاس هم لګولی شي. د دې نه بغير عام بدن نه ي لږبدلی. هغه زمانه کې به د جنګ ته د ښځو بوتللو کې دا فائده وه چې د ښځو په وجه به نارينۀ په زړه ورتيا سره جنګ کولو او د منډې نوم به يې نا اخستلو. دويمه فائده به دا وه چې ښځو به نارينۀ ته د منډو په وخت کې د شرم احساس کولو، نو په دې وجه به يې ښه په کله جنګ کولو. ام سليم، ام ماره، ام عطيه، ام ابان، خوله وغيره هغه زړه وريې ښځې دي چې په ډېرو جنګونو کې يې باقاعده برخه اخستې ده او کفارو ته منډې ورکړې دي. (مرقات ۴۸۸/۷)

﴿۵﴾ وَعَنْ أُمِّ عطيَّةَ قَالَتْ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ

او حضرت ام عطيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په اؤوه غزواتو کې شريکه شوې يم.

أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ

زه (په ميدان جنګ کې) د هغه (مجاهدينو) نه شاته په هغې پراؤونو کې ؤومه. چې کوم ځای کې به ما هغوی خواړه پخول. د

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۴۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۴۳/۴ رقم الحديث (۱۳۵-۱۸۱۰) وابوداود في السنن ۱۳۹/۳ رقم الحديث ۲۵۳۱

وَأُدَاوِي الْجَرْحَى وَأَقُومُ عَلَى المرضى. رَوَاهُ مُسلم[1]
زخميانو مرهم پټئ به مو کولې او دواګانې به مو ورله راوړلې او د مريضان ساتنه به مې کوله.

په جهاد کې د ښځو او ماشومانو وژنه منع ده

﴿٦﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ
او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ښځې او هلکان د وژلو نه
وَالصِّبْيَانِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
منع کړي دي. (بخاری و مسلم)

توضيح: ښځې او ماشومان او پادريانو د وژلو نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده، خو که پادريان او ښځې کافرانو ته جنګې مشورې ورکوي يا په جنګ کې شرکت کوي يا ورسته مالي مرسته کوي يا پادريانو ودونه وکړل او بچي پيدا کول يې شروع کړه نو بيا به يې وژل جائز وي. ماشوم هم که ميدان ته جنګ لپاره راځي او په جنګ کې څه نه څه برخه اخلي نو هغه به هم وژلی کېږي. دغه شان هغه ماشوم چې د سردار يا د بادشاه بچی وي چې ټول خلک پرې متفق کېږي او راجمع کېږي نو د هغه ماشوم وژل هم جائز دي. دغه شان که مسلمانان د په شپه کې حمله وکړي نو په کورونو کې ښځې او ماشومان ؤوژلی شي نو دا هم د مجبوری په وجه جائز دي، ځکه د دې نه بچ کېدل مشکل دي. شیخ فانی سے بوڑھا کھوسٹ مراد ہے. هغوی مه وژنه خو که جنګې تدبير يا مشوره ورکوي نو وژل يې جائز دي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دريد بن صمه د وژلو حکم ورکړی ؤو حال دا چې عمر يې ۱۲۰ کاله ؤو. جنګ حنين کې داسې شوې ؤو ځکه دريد ډېر پوه او مشوره ورکونکی سړی ؤو. (مرقات ۴۸۹/۷)

په شب خون کې ښځې او ماشومان وژل کيدې شي

﴿٧﴾ وَعَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَهْلِ
او حضرت صعب ابن جثامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه هغه مشرکانو باره کې وپوښتلی شول
الدَّارِ يَبِيتُونَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَيُصَابُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ
چې د کور والا وي (يعنې چې په آبادیانو کې اوسيږي) چې که د شپې حمله وکړی شي نو څه حکم دی؟

---

(1) رقم الحديث ۳۹۴۱ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۴۷/۳ رقم الحديث (۱۴۲-۱۸۱۲) وابن ماجه في ۹۵۲/۲ رقم الحديث ۲۸۵۶

(2) رقم الحديث ۳۹۴۲ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۴۸/۶ رقم الحديث ۳۰۱۵ ومسلم في ۱۳۶۴/۳ رقم الحديث (۲۵-۱۷۴۴)

قَالَ: هُمْ مِنْهُمْ. وَفِي رِوَايَةٍ:
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې په جواب كې وفرمايل چې دوى هم د هغوى نه دې. او يو بل روايت كې دا دي
هُمْ مِنْ آبَائِهِم (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هغوى د خپل پلارانو تابع دي.

د دشمن د باغونو د غوڅولو او د سوځولو مسئله

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بنو نضير د كجورو بوټو د ماتولو
وحرَّقَ وَلها يقولُ حسَّانٌ:
او د سوزولو حكم وكړو. د همدې باره كې (د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاعر صحابي) حضرت حسان بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا شعر
وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ حَرِيقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيرُ وَفِي ذَلِكَ نَزَلَتْ
وويله. يعنې د بنى لوى د سردارانو لپاره بويره سوځول اسان شول. د غه شان د دې متعلق دا آيت نازل شو.
(مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا
(تاسو چې د كجورو د بوټو نه څه مات كړه يا مو چې څه د هغې په جړلو باندې پرېښودل (يعنې څه مو چې نه دې
فَبِإِذْنِ اللهِ) (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
مات كړې) دا ټول د خداى په حكم سره دي).

توضيح: وهان: نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې كله د مكې نه مدينې ته هجرت وكړو نو په مدينه كې هغې واسطه د يهودو سره شوه. د هغوى درې لويې قبيلې وې. بنو قينقاع، بنو نضير او بنو قريظه. اولنې ذكر شوې خو هيڅ معاهده ونه كړه، نو مسلمانانو هغوى په ابتداء كې د مدينې نه ويست. دويم ذكر شوې بنو نضير معاهده وكړه خو بيا يې غداري وكړه تر دې چې هغوى د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وژلو سازش وكړو، نو په دې وجه هغوى مسلمانانو په قلعه كې محاصره كړه. او قلعه بند شول. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوى د باغونو د سوځولو حكم وكړو، نو په دې باندې يهودو وويله چې دا خو صرف فساد دى، نو د قرآن آيتونه رانازل شول چې دا ټول د

---

[1] رقم الحديث ۳۹۴۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۴۶/۶ رقم الحديث ۳۰۱۲ ومسلم في ۱۳۴۶ رقم الحديث (۲۶-۱۷۴۵)

[2] رقم الحديث ۳۹۴۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۷ رقم الحديث ۴۰۳۱ ومسلم في ۱۳۴۵/۳ رقم الحديث (۱۷۴۶/۳۰)

الله په حکم شوې دي. اوس مسئله دا راؤتله چې که باغونه او پټې د سوځولو ضرورت پیښ شي نو سوځول یې جائز دي، خو بغیر د مجبوری نه یې سوځول جائز پکار نه دي. (مرقات ۴۹۰/۷)

بویره: د بنو نضیر د علاقې نوم دی. چرته چې د هغوی باغونه ؤو. هغه باغونو ته چې کله اور ولږول شو نو حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې موقعه کې د ټوقو یو څو اشعار وویل. چې هغې یو شعر په حدیث کې دی. یعنې د قریشو ته ډېره اسان شو هغه اور چې مونږ د بویره په مقام کې لګولی ؤو. چې اوچتې لمبې یې وهلې. (مرقات ۴۹۱/۷)

بنی لوئ: د دې نه مراد صحابه هم کېدلی شي چې د اور په لګولو کې ورته هیڅ مشکل نه ؤو یعنې هیڅ یو کس مزاحمت ونه کړی شو او د بنو لوئی نه مراد مکه هم کېدلی شي. او دا ډېره واضحه ده. مطلب دا دی چې د بویره په مقام کې د لمبې وهونکی اور د کفارو لپاره اسان شو هغوی مزاحمت ونه کړی شو او په اسانۍ سره یې دا ذلت قبول کړو. ابو سفیان بن حارث د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلوان ؤو. هغې د دې شعرونو جواب دا ورکړو. (مرقات ۴۹۰/۷)

أَدَامَ اللهُ ذٰلِكَ مَنْ صَنِيْعٍ وَحَرَّقَ فِي نَوَاحِيهَا السَّعِيْرُ

سَتَعْلَمُ أَيُّنَا مِنْهَا بَنُزْهٍ وَتَعْلَمُ أَيَّ أَرْضَيْنَا نَضِيْرُ

یعنې الله د هغه اور لمبې د مدینې پورې بنورې کړي. نزدې ده چې تاسو به پوهه شئ چې مونږ به د دې اور نه څومره لرې یو. او تاس به په دې هم پوهه شئ چې په مونږ د چا د ځمکې نقصان دی.

د غفلت په حالت کې په دشمن باندې حمله کول جائز ده

﴿۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَوْنٍ: أَنَّ نَافِعًا

او د حضرت عبد الله بن عون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ازاد شوی غلام نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

كَتَبَ إِلَيْهِ يُخْبِرُهُ أَنَّ ابْنَ عمر أَخبرهُ أَن ابْن عمر

عبد الله بن عون ته یو خط ولږلو چې هغې کې حضرت نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغې ته خبر ورکړی ؤو چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَغَارَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ غَارِّينَ

(نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) ته بیان کړ چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بنی مصطلق باندې هغه وخت حمله وکړه کله

فِي نَعَمِهِمْ بِالْمُرَيْسِيعِ فَقَتَلَ

چې هغوی په مریسیع کې د خپلو څاروؤ به مینځ کې غافل پراته ؤو، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوی جنګ کونکي مړه کړل

الْمُقَاتَلَة وسبى الذُّرِّيَّة (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
او د هغوی ښځې او ماشومان یې قیدیان کړه او رایې وستل.

توضیح: بنو المصطلق: د بنو خزاعه یو شاخ دی او یرسیع د یو ځای نوم دی چې د مدینې نه تقریباً ۸۰ کلومیټره فاصله باندې دی. په پنځمه هجرئ په دې مقام باندې جنګ شوی ؤو او کفار وژلی شوې ؤو. همدې سفر کې په حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باندې تهمت لګولی شوی ؤو.

غارین: یعنې هغه خلک بالکل بې خبره ؤو. د دې نه معلومه شوه چې کله یو ځل دعوت ورسول شي نو بیا بغیر د دعوت نه په کفارو باندې حمله کېدی شي. که دعوت نه هم وې رسیدلی او په کاروائې کې مصلحت وې نو بیا هم جمله کېدی شي اګر که منع ده.

المقاتله: یعنې د جنګ جوګه خلک یې مړه کړل او واړه ماشومان یې ونېول او غلامان یې کړل. (مرقات ۴۹۲/۷)

د جنګ متعلق یو حکمت

﴿۱۰﴾ وَعَن أَبِي أَسِيدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَنَا يَوْمَ بَدْرٍ حِينَ
او حضرت ابو اسید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه بدر په ورځ (میدان جنګ) کې کله
صَفَفْنَا لِقُرَيْشٍ وَصَفُّوا لَنَا:
چې مونږ د قریشو خلاف او د مکې قریشو زمونږ خلاف صفونه جوړ کړه، نو مونږ ته حکم وکړی شو چې کله هغه
إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالنَّبْلِ.
دښمن ډېر نږدې کله چې د مکې قریش تاسو ته دومره نږدې راشي چې ستاسو تیران هغوی ورسیدلی شي نو هغوی په تیرؤولئ او
وَفِي رِوَايَةٍ: إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ
یو روایت کې دي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل په دې دښمنانو باندې هغه وخت تیر ؤولئ چې کله هغوی تاسو ته
وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَحَدِيث سعد: هُوَ تُنْصَرُونَ سَنَذْكُرُهُ فِي بَابِ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ. وَحَدِيثُ
نږدې شي او خپل تیران وساتئ یعنې خپل ټول تیران په هغوی مه ختموئ بلکې په احتیاط سره یې استعمال کړئ

([1]) رقم الحديث ۳۹۴۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۷۵/۵ رقم الحديث ۲۵۴۱ ومسلم في ۱۳۵۶/۳ رقم الحديث (۱۷۳۰/۱)

الْبَرَاءِ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا فِي بَابِ الْمُعْجِزَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى [1]
څه وساتئ چې د نشوالي نه مو دښمن فائده واخلي او په تاسو غالب نه شي.

توضيح: اكثبوهم: يعنې كله چې كافران سره نژدې شي نو بيا يې په تيرانو ډولئ چې يو تير هم ضايع نه ښي. (مرقات ۴۹۲/۷)

استبقوا: يعنې تيران فضول مه خرابوئ بلكه د ضرورت موقعې لپاره يې وساتئ. (مرقات ۴۹۲/۷)

الفصل الثاني

﴿۱۱﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمنِ بن عَوفٍ قَالَ: عَبَّأَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبدر لَيْلًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ [2]
حضرت عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بدر كې مونږ د شپې تيار كړو.

توضيح: عبأنا: دا د تعبيه نه دى چې د تيارولو او د ډكولو په معنى كې دى. يعنې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بدر په موقع كې د شپې وخت كې زمونږ صفونه برابر كړي ؤو او دا هدايات يې راكړي ؤو چې تر څو پورې دښمن رانژدې شوى نه وي نو د هغې نه مخكې تيران مه خرابوئ بلكې كله چې دښمن رانژدې شي نو بيا يې په ډولئ. (مرقات ۴۹۳/۷)

جنګي شعار او د شفر الفاظ

﴿۱۲﴾ وَعَنِ الْمُهلب أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت مهلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غزوه يې خندق كې مونږ ته وفرمايل چې
"إِنْ بُيِّتَكُمُ الْعَدُوُّ فَلْيَكُنْ شِعَارُكُمْ: حم لَا يُنْصَرُونَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد [3]
كه تاسو سره دښمن باندې د شپې حمله وكړئ (يعنې د مسلمانانو) علامت حم لا ينصرون نه الفاظ پكار دي.

توضيح: حم لاينصرون: يعنې اى حم نازلونكى الله د كافرانو مدد رنه كړي. فوجې او جنګې

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۲۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۹۱/۶ رقم الحديث ۲۹۰۰

(۲) رقم الحديث ۳۹۲۷ أخرجه الترمذي في السنن ۱۲۷/۴ رقم الحديث ۱۶۷۷

(۳) رقم الحديث ۳۹۲۸ أخرجه ابوداود في السنن ۷۴/۳ رقم الحديث ۲۵۹۷ والترمذي في ۱۷۰/۴ رقم الحديث ۱۶۸۲ .

اصطلاح کې داسې مختصر الفاظو ته شفر (کوډورډ) وايي. چې د دښمن د پېژندلو لپاره په ميدان جنګ کې يو علامت وي. (مرقات ۷/۴۹۴)

﴿۱۳﴾ وَعَن سَمُرَةَ بن جُندبٍ قَالَ: كَانَ شِعَارُ الْمُهَاجِرِينَ: عَبْدَ اللهِ

او حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې په غزواتو کې عموماً د لفظ د عبدالله د مهاجرينو علامت ؤو

وَشِعَارُ الْأَنْصَارِ: عبدُ الرَّحمنِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

لفظ د عبدالرحمن د انصارو علامت ؤو.

﴿۱۴﴾ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ أَبِي بكر زمن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم

او حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې مونږ يو ځل د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره

فَبَيَّتْنَاهُم نَقْتُلُهُمْ وَكَانَ

(يعنې د هغې په مشرولئ کې) جهاد وکړو، نو کله چې مونږ په دښمنانو باندې د شپې حمله وکړه او هغوی مو وړه کړل

شِعَارُنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ: أَمِتْ أَمِتْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

او په هغه شپه کې زمونږ د شپې د پېژندنې علامت امت الفاظ ؤو (د دې الفاظو معنی ده ای! د الله دښمنان مړه کړئ.

د جنګ په وخت کې شور او شغب منع دی

﴿۱۵﴾ وَعَن قيسِ بنِ عُبادٍ قَالَ: كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت قيس ابن عباد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به په ميدان جنګ کې د جنګ په

يَكْرَهُونَ الصَّوْتَ عِنْدَ الْقِتَالِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[3]

وخت کې د الله نوم اخستلو په ځای د اوازونو شور او شرغب نه خوښول.

﴿۱۶﴾ وَعَن سَمُرَة بن جُنْدُبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اقْتُلُوا شُيُوخَ الْمُشْرِكِينَ

او حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د مشرکينو (يعنې دښمنان) د ډېر عمر

---

[1] رقم الحديث ۳۹۴۹ أخرجه أبوداود في السنن ۷۳/۳ رقم الحديث ۲۹۹۵

[2] رقم الحديث ۳۹۵۰ أخرجه أبوداود في السنن ۳/۱۰۰ رقم الحديث ۲۶۳۸ وأحمد في المسند ۴۶/۴

[3] رقم الحديث ۳۹۵۱ أخرجه ابوداود في ۱۱۳/۳ رقم الحديث ۲۶۵۶

وَاسْتَحْيُوا شَرْخَهُمْ أَيْ صِبْيَانَهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد[1]
والا مړه کړئ او د لږ عمر والا يعنې د هغې د ښمنانو بچې ژوندې پرېږدئ.

توضيح شيوخ المشركين: د شيوخ مفرد شيخ دی. دلته د شيخ نه مراد بوډه نه دی بلکې د ماشومان په مقابله کې نارينه او سړې مراد دي. (مرقات ۴۹۶/۷)

شرخ: وړو ماشومانو ته وايي. "**ای صبيانهم**" دا د يو راوي له اړخه تفسير دی. (مرقات ۴۹۶/۷)

د دشمن ښار او پټې د ضرورت په وخت کې وسوځوئ

﴿۱۷﴾ وَعَن عُرْوَةَ قَالَ: حَدَّثَنِي أُسَامَةُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عروه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماته بيان کړه چې کله نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسامه د يو لښکر
كَانَ عَهِدَ إِلَيْهِ قَالَ: أُغِرْ عَلَى أُبْنَى صباحا
امير کړو او جهاد ته يې ولږلو نو دا هدايت او تاکيد يې ورته وکړو چې ته په ابنا کې د سحر وخت کې حمله وکړه
وَحرق. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
او (د ښمن کورونه، پټې او بوټې او باغونه) وسوځوه.

توضيح أُبنا: دا شام کې د يو ځای نوم دی. دلته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورانولو حکم ورکړو.

اغر: يعنې مړه او تباه کړه. (مرقات ۴۹۷/۷)

کله چې کافر په کوته درشي نو مړه يې کړئ

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ:
او حضرت اسيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ بدر په ورځ (د اسلام مجاهدينو ته) وويل چې په
إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ
ميدان جنګ کې کله کفار يعنې د ښمن تاسو ته بالکل رانژدې شي نو هغوی په غشو وولئ او توري ترهغه وخت

---

(1) رقم الحديث ۳۹۵۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۲۲/۳ رقم الحديث ۲۶۷۰ والترمذي في ۱۲۳/۴ رقم الحديث ۱۵۸۳

(2) رقم الحديث ۳۹۵۳ أخرجه أبوداود في السنن ۸۸/۳ رقم الحديث ۲۶۱۶ وابن ماجه في ۹۴۸/۲ رقم الحديث ۲۸۴۳

وَلَا تَسُلُّوا السُّيُوفَ حَتَّى يَغْشَوْكُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

پورې د نيام (کاتې) مه راوباسئ چې تر څو پورې هغوی تاسو ته رانژدې نه شي.

بنځه او غلام مه وژنئ

﴿۱۹﴾ وَعَنْ رَبَاحِ بْنِ الرَّبِيعِ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ

او حضرت رباح ابن ربيع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې په يوه غزوه کې مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په ميدان جنګ کې وُ.

فَرَأَى النَّاسَ مجتمعينَ عَلَى شَيْءٍ فَبَعَثَ رَجُلًا

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليدل چې څه خلک يو ځای کې يو څيز ته راجمع کېږي، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو کس ولېږلو او وې

فَقَالَ: انْظُرُوا عَلَى من اجْتَمع هَؤُلَاءِ؟ فَقَالَ:

فرمايل چې لاړ شه هلته وګوره چې خلک څه څيز ته راجمع کېږي. هغه کس ېرته راغلو او عرض يې وکړو چې

عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ فَقَالَ: مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ

يوه بنځه وژلې شوې ده. خلک د هغې جسد ته راجمع دي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې هغه بنځې خو جنګ نه

وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ

کولو نو بيا ولې ؤوژلې شوه؟ د لښکر د اولنې صف واک حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حواله شوی ؤو.

فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ: "قُلْ لِخَالِدٍ: لَا تَقْتُلِ امْرَأَةً وَلَا عسيفا". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ېرته ولېږلو چې لاړ شه او خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اوايه چې هيڅ يوه بنځه او مزدور مه وژنه.

توضيح: عسيفا: عسيف خادم او غلام ته وايي. يعني غلام او بنځه په جهاد کې مه وژنئ. (مرقات ۵۰۰/۷)

مجاهدينو ته د نبي ﷺ نصيحتونه

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجاهدين جهاد ته د لېږلو په وخت کې دا هدايات وکړه

([1]) رقم الحديث ۳۹۵۴ أخرجه ابوداود في السنن ۱۱۱/۳ رقم الحديث ۲۶۶۴

([2]) رقم الحديث ۳۹۵۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۲۱/۳ رقم الحديث ۲۶۶۹ واحمد في المسند ۴۸۸/۳

انْطَلِقُوا	بِاسْمِ	اللهِ	وَبِاللهِ	وعَلى	مِلّةِ	رسولِ	الله
چې لاړ شئ او د الله نوم واخلئ او د هغې په تائید او توفیق سره او د هغې د رسول په دین باندې د دې ځای نه روان شئ!							
لَا	تَقْتُلُوا	شَيْخًا	فَانِيًا	وَلَا	طِفْلًا	صَغِيرًا	وَلَا	امْرَأَةً
(یا وساتئ) شیخ فاني (یعني بوډه) مه وژنئ. مه واړه ماشومان او ښځې وژنئ، مالِ غنیمت کې								
وَلَا	تَغُلُّوا	وَضُمُّوا	غَنَائِمَكُمْ					
خیانت مه کوئ، مال غنیمت جمع کړئ. خپل مینځ کې صلح او صفائی وساتئ (د اصلحوا یوه معنی همدغه ده								
وَأَصْلِحُوا	وَأَحْسِنُوا	فَإِنَّ						
معنی ده چې که تاسو ته مصلحت بنکاري نو د دښمن سره صلح وکړئ او دا معنی هم کېدی شي چې تاسو خپل دیني او								
اللهَ	يحبُّ	المحسنينَ.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُد[1]				
دنیوي معاملات صحیح وساتئ) او خپل منیځ کې دیوبل سره نیکي او خیر کوئ ځکه الله د نیکئ او د خیر والا دوست ساتي.								

ميدان بدر كې دري په دري مقابله

﴿۲۱﴾ وَعَنْ	عَلِيٍّ	رَضِيَ	اللهُ	عَنْهُ	قَالَ:	لَمَّا	كَانَ	يَوْمُ	بَدْرٍ
او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله د بدر د جنګ ورځ راغله او میدان جنګ کې د اسلام مجاهدین او د مکې									
تَقَدَّمَ	عُتْبَةُ	بْنُ	رَبِيعَةَ						
کفار یوبل ته مخامخ صف کې او د ربدل، نو د مکې د کافرانو نه عتبه ابن ربیعه د جنګ کولو لپاره د صف نه									
وَتَبِعَهُ	ابْنُهُ	وَأَخُوهُ							
رامخکې شو. د هغې نه وروسته د هغې ځوي یعني ولید ابن عتبه او د هغې ورور یعني شیبه ابن عتبه هم راغلو.									
فَنَادَى:	مَنْ	يُبَارِزُ؟	فَانْتُدِبَ	لَهُ					
عتبه په چغه وویل چې څوک دي چې زمونږ مقابلې له میدان ته راشي؟ اسلام د مجاهدیون د صف نه ډېرو									
شبابٌ	مِنَ	الْأَنْصَارِ							
انصار ځوانانو جواب ورکړو یعني هغوی عتبه او د هغې ملګرو سره د جنګ کولو لپاره د صف نه میدان ته									

---

[1] رقم الحديث ۳۹۵۶ أخرجه ابوداود في السنن ۸۶/۳ رقم الحديث ۲۶۱۴

فَقَالَ:	مَنْ	أَنْتُمْ؟	فَأَخْبَرُوهُ
راغلل. عتبه هغوی ولیدل نو وې پوښتل چې تاسو څوک وئ؟ هغه ځوانانو جواب ورکړو چې مونږ د مدینې انصار			
فَقَالَ:	لَا	حَاجَةَ	لَنَا
فِيكُمْ			
یو. عتبه وویل مونږ ته ستاسو هیڅ ضرورت نشته دی. یعنې مونږ تاسو سره د جنګ اراده نه لرو. بلکې مونږ د			
إِنَّمَا	أَرَدْنَا	بَنِي	عَمِّنَا
خپل تره زامنو یعنې د مکې نه هجرت کونکې قریشې مسلمانانو سره جنګ کول غواړو. دې اوږدلو سره			
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُمْ يَا حَمْزَةُ قُمْ يَا عَلِيُّ قُمْ			
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صف اړخ ته مخاطب او وې فرمایل حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ودریږه، علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ودریږه،			
يَا	عُبَيْدَةُ	بْنَ	الْحَارِثِ.	فَأَقْبَلَ
عبیده ابن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ودریږه او مخکې شئ او دنه شي په طاقت کې د سرمستو سرونه سرا و غرور او تکبرمات کړئ،				
حَمْزَةُ	إِلَى	عُتْبَةَ	وَأَقْبَلْتُ	إِلَى	شَيْبَةَ
نو حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عتبه مقابلې ته لاړو او هغه یې ؤوژلو. زه یعنې علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شیبه مقابلې ته لاړم او مړ مې کړو.					
وَاخْتَلَفَ بَيْنَ عُبَيْدَةَ وَالْوَلِيدِ ضَرْبَتَانِ فَأَثْخَنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ					
د عبیده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ولید په مقابله کې دوه سخت ګوزارونه وشول او هغې کې یو خپل مقابل زخمي او بد حاله کړو.					
ثُمَّ	مِلْنَا	عَلَى	الْوَلِيدِ	فَقَتَلْنَاهُ
بیا مونږ په ولید حمله وکړه او هغه مو مړه کړو او عبیده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د ولید په کوزار زخمي شوی				
وَاحْتَمَلْنَا عُبَيْدَةَ. رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد[1]				
ؤو. د میدان جنګ نه مو اوچت کړو. (ابوداؤد)				

توضيح بدر کې اولنئ حمله کافرانو وکړه. عبته او شیبه دوه ورونه او د عتبه ځوي ولید دري واړه مقابلې ته راغلل او په مقابل کې د ګلشنِ نبوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دري ځوانان مقابلې ته راغلل چې تعلق یې د انصارو سره ؤو. کافرانو هغوی په مقابله کې قبول نه کړل. بلکې د قریش د ځوانان غوښتنه یې

---

(1) رقم الحديث ۳۹۵۷ أخرجه ابوداود في السنن ۱۱۹/۳ رقم الحديث ۲۶۶۵ والحمدي المسند ۱۱۱/۱

وکړه چې د خپلې زړه ورتیا کارنامې ورته وښایي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت حمزه، حضرت علي او حضرت عبیده بن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقابلې ته روان کړه. دو په دوه جنګ ؤو. د حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقابله د عبته سره وشوه نو هغه يې جهنم ته ورپارسل کړو. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم خپل مقابل شبیه ته وخت ورنه کړو، خو حضرت عبیده بن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د ولید مقابله تر د څه وخت پورې وشوه او هریو بل زخمي کړو. بیا پرې حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راتاؤ شول او د ولید کار هم ور خلاص کړو. حضرت عبید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زخمونه برداشت نه کړی شو او په لاره کې شهید شو.

د جنګ موته واقعه

﴿۲۲﴾ وَعَن ابنِ عُمر قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ځل نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یو جهاد کې مونږ سره یو لښکر ولېږلو. هلته

فَحَاصَ النَّاسُ حَيْصَةً فَأَتَيْنَا الْمَدِينَةَ فَاخْتَفَيْنَا بِهَا

رسیدلو سره زمونږ خلک په تیښته شول، نو مونږ مدینې ته ښېرته راغلو، نو د شرم په وجه کورونو کې پټ کیناستل

وَقُلْنَا: هَلَكْنَا ثُمَّ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ

بیا مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض مو وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

نَحن الفارون. قَالَ: بَلْ أَنْتُمُ

مونږ خو د میدان نه راتښتېدونکي خلک یو؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې نا، بلکې تاسو

الْعَكَّارُونَ وَأَنَا فِئَتُكُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ نَحْوَهُ وَقَالَ:

دوباره حمله کونکي خلک یئ. او زه ستاسو جماعت یم. او ابو داؤد داسې روایت نقل کړی دی او

لَا بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ قَالَ:

هغې کې دا الفاظ دي چې "نا" بلکې تاسو دوباره حمله کونکي خلک یاست. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي

فَدَنَوْنَا فَقَبَّلْنَا يَدَه

(کله چې مونږ ولیدل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ نه د جواب غوښتلو یا دیوې غلطي کونکو په ځای په داسې

فَقَالَ: أَنَا فِئَةٌ من الْمُسْلِمِينَ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أُمَيَّةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ:

نرم انداز زمونږ همت لوړ کړو نو د ډیرې مینې او محبت نه) مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا ته نزدې شو او

كَانَ يَسْتَفْتِحُ وَحَدِيثُ أَبِي الدَّرْدَاءِ ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ فِي بَابِ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى[1]

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه مو ښكل كړل. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل زه د مسلمانانو جماعت يم.

توضيح: دې حديث كې د جنګ موته اړخ ته اشاره ده. د دې نه مخكې دې واقعې اړخ ته لنډه اشاره كړې شوې ده.

فحاص الناس حيصة: دښمن نه د تښتېدلو لپاره دا لفظ استعمال كړې شوى دى. اګر كه معنى حمله كول هم راځي. (مرقات ۵۰۲/۷)

فاختفينا: يعنې مدينه كې خپلو كورونو كې پټ كيناستل. د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته ور نغلى شول.

الفرارون: فرار د مبالغې صيغه ده يعنې مونږ خو ډېر تښتېدونكې يو.

الكرارون: كرار هم د مبالغې صيغه ده. دښمن باندې د بار بار حمله كولو په معنى كې دى. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تاسو تښتېدونكې نه ياست بلكې بار بار د جنګ اړخ ته تلونكې او حمله كونكې يئ. (مرقات ۵۰۳/۷)

وانا فئتكم: دښمن د تښتېدلو يو صورت جائز دى. هغه داسې چې كسان خپل مركزې لښكر اړخ منډې كړي چې مضبوط شي او بيا حمله وكړي. كوم كيمپ او مركزې لښكر اړخ ته سړې ځي هغه كيمپ د هغې لپاره فئة دى. د انا فئتكم همدغه مطلب دى چې تاسو د دښمن نه تښتېدلې نه ياست بلكې خپل مركز ته راغلې ياست. صحابؤ خيال وكړو چې مونږ تښتېدونكي يو. حقيقت داسې نه ؤو بلكې حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډېر په ځېركتيا سره د صحابؤ لښكر د تنګ مقام نه شاته راوستلو او بيا په فراخه ميدان كې وجنګېدل نو دښمن وتښتېدلو او صحابه كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ بېرته راغلل. حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د كوم حكمت عمل په مناسبت سره لښكر شاته كړې ؤو. همغه صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ تښتېدنه ګڼلې وه. (مرقات ۵۰۳/۷)

الفصل الثالث

غزوۀ طائف كې د منجنيق استعمال

﴿۲۳﴾ عَنْ ثَوْبَانَ بْنِ يَزِيدَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د حضرت ثوبان ابن يزيد نه روايت دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل طائفو په مقابله كې

نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ عَلَى أَهْلِ الطَّائِفِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلاً[2]

منجنيق نصب كړل. دا روايت ترمذى د ارسال په طريقه نقل كړى دى.

([1]) رقم الحديث ۳۹۵۸ أخرجه ابوداود في السنن ۱۰۶/۳ رقم الحديث ۲۶۴۷ والترمذي في ۱۸۴/۴ رقم الحديث ۱۷۱۶

([2]) رقم الحديث ۳۹۵۹ المرقاة المفاتيح ۴۶۲/۷

توضیح: منجنیق: دا اصل کې د فارسۍ لفظ دی. یعنې "**من چه نیك**" زه څوزه ښه یم. دا به د جنګ یوه آله وه چې په لاس به استعمالیدله. او نن سبا د راکټونو کار کوي. د دې صورت به دا ؤو چې یو غټ کانې به په دې آله کې اینبودلی کېدو او بیا به یې رانښکلو او پرې به یې ښوستلو. هغه کانې به تیزئ سره په قلعه باندې ولیدلو چې دیوال پرې مات شو. بیا به صحابه کرام رضي الله عنهم دننه ننوتل. دا چې د طائف ډېره مضبوطه وه. مالک بن عوف په دې د کافرانو قومنده کوله. تر ۲۵ ورځو پورې قلعه فتح نه شوه، ځکه دې باندې د منجنیق په اسلام کې د استعمالول اولنۍ موقعه وه چې صحابؤ رضي الله عنهم استعمال کړو. حضرت طفیل رضي الله عنه د دې جنګ دوران کې منجنیق او ټینک ملاؤ شوې ؤو. د "یا جرش" مقام نه دوه صحابه کرامو رضي الله عنهم ټینک راوړی ؤو. او دلته یې استعمال کړي هم ؤو. دغه شان د قلعه نه ګېر چاپېره نبي کریم صلى الله عليه وسلم د ځسک ازغې نه خپاره کړي ؤو. چې د دننه نۀ څوک ونه تښتي. د دې نه د مائن تعلیم مسلمانانو ته حاصل شو، خو مسلمانان د اسلحې نه غافل شو. کفارو اسلحه واخسته نو مسلمانان غلامان شول. په جنګ حنین باندې زمایو کتاب دی. هغه کتل پکار دی.

طائف نن هم د حجاز یو غټ بنار دی. ۳۵ یا ۴۵ میله فاصله باندې واقع دی. چې ۹۰ کلومیټره دی. نن سبا چې کوم ځای ته مشناة وایي همغه ځای کې اصل طائف اباد ؤو. اوس وخت کې هلته دوه باغونه دې چرته چې هغه دوه واړه واړه جوماتونه دي. یو نوم مسجد علی دی او د بل نوم مسجد الجعثی دی. د دې جوماتو په مینځ کې یوه دره ده. چې نوم یې "وج" دی. د محقیقینو خیال دی چې په د همد غه ځای نه نبي کریم صلى الله عليه وسلم طائف محاصره کړی ؤو. او غالباً دغه ځای کې نبي کریم صلى الله عليه وسلم منجنیق نصب کړی ؤو. نن سبا چې کوم ځای کې د طائف جومات جوړ شوی دی، همد غه ځای کې نبي کریم صلى الله عليه وسلم په طائف کې قیام کړی ؤو. (مرقات ۵۰۴/۷)

باب حکم الاسراء
د قیدیانو د احکاماتو بیان

قال الله ﴿ما كان لنبي ان يكون له اسرىٰ حتى يثخن في الارض﴾ (سورة الانفال ۶۷)

اسراء د اسیر جمع ده. اسیر قیدي او نیول شوي کَس ته وایي. میدان جهاد کې چې څنګه مقابله کېږي او خلک مړه کېږي. هملته خلک نیول کېږي هم. نیول کیدل د دواړو اړخونه نه کېږي. د مسلمانانو هم کېږي او د کفارو هم کې. بیا د هغه قیدیانو د ازادولو مختلف طریقي وي. کله د قیدیانو تبادلي کېږي او کله کله تاوان ورکړي او ازادول کېږي. او کله یې د احسان په توګه باندې پرېږدي. او کله یې وژني هم. اسلام کې د قیدیانو پوره قانون موجود دی. لهذا زمونږ مقدس اسلام د اقوام متحده یا د جنیوا کنونشن د قاعدو محتاج نه دی. په کومو قوانینو باندې چې خپله د هغوی جوړونکې هم عمل نه کوي. پاس ذکر شوي صوروتونو باندې مسلمانانو عمل کولی شي. اګر که کفار سوځوي. ذکر شوي باب کې د هغه قیدیانو بیان دی. کوم چې غیر مسلم وي. او د مسلمانانو سره ؤ. مسلمانانو د ډیر ښه اخلاقو مظاهرو کړه او په خپلو خپلو باندې یې کاڼي وټړل او د هغوی عزت یې وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته د ښه اخلاق کولو حکم کړی ؤو. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې د کافرونو نه بغیر هیڅ یو مسلمان قیدي د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نه ؤو. او نه هغه وخت د هغې لپاره کوم یو جیل ؤو.

الفصل الاول
د کفارو په څټونو کې ځنځیر واچوئ او اسلام ته یې راولئ

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

يُدْخَلُونَ الْجَنَّةَ فِي

الله تعالی په هغه قوم باندې عَجِبَ اللهُ مِنْ قَوْمٍ تعجب کوي یعنې د هغه خلکو نه خوشحاله کېږي

السَّلَاسِلِ. وَفِي رِوَايَةٍ:

چې په زنځېرونو کې ترلی شوي وي او جنت ته داخلېږي. یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې د الله تعالی

يُقَادُونَ إِلَى الجَنَّةِ بِالسلاسل. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]
د هغه خلكو نه خوشحاله كېږي چې په زنځېرونو كې تړلى شوي وي او د جنت اړخ ته بوتللى كېږي.

توضيح: عجب الله: الله تعالى تعجب كوي مطلب دا دى چې الله تعالى خوشحالېږي. (مرقات ۵۰۵/۷)

فى السلاسل: سلسلة د زنځېر په معنى كې دى. يعنې په زنځېرونو كې تړلى شوى راوستلى شي. هغې اسلام قبول كړو او د جنت مستحق شو. (مرقات ۵۰۵/۷) دا حديث دلته مفصل نه دى بلكې مجمل دى. د دې حديث تفصيل په هغه حديثونو كې دى چې مفسرينو د آيت ﴿**كنتم خير امة اخرجت للناس**﴾ د لاندې ذكر كړى دى:

۱: **قال ابن كثير قال البخارى بسنده عن ابى هريرة رضى الله عنه كنتم خير امة اخرجت للناس قال خير الناس للناس تأتون بهم فس السلاسل فى اعناقهم حتى يدخلوا فى الاسلام.** (ابن كثير ج ۱ ص ۱۹۱)

۲: **قال القرطبى قابل ابو هريرة نحن خير الناس للناس نسوقهم بالسلاسل الى الاسلام.** (رواه الترمذى)

دې حديثونو نه د دې آيت تفسير معلوم شو. تبليغي حضرات د دې آيت په تفسير كې اشاره هم نه كوي بلكې د ځان نه جوړ شوى تفسير بيانوي. داسې كول پكار نه دي. د دې حديثونو نه دا هم معلومه شوه چې جهاد لويه ذريعه ده چې خلك پرې اسلام كې داخلېږي. ابتداء كې به كفار د اسلام په قبولو باندې نه خوشحاله نه وي، آخر كې بيا خوشحاله وي. ﴿**ورأيت الناس يدخلون فى دين الله افواجا**﴾ (سورة النصر: ۶) جهاد سره د دين لارې پرانستل كېږي. بند ېږي پرې نۀ.

كوم خلك چې جهاد د دين په لاره ستونزه ګڼي. هغوى بخيې په دين پوهه شوې نه دي يا يې د دخپل مزاج دين جوړ كړى دى.

جاسوس مړ كړئ

﴿۲﴾ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَيْنٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ
او حضرت سلمه بن اكوع فرمايي چې يو ځل د مشركينو يو جاسوس نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلو
وَهُوَ فِي سَفَرٍ فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ
او نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سفر كې وُو، نو هغه جاسوس (د خبر اخستلو لپاره) نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابوُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۶۰ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۴۵/۶ رقم الحديث ۳۰۱۰ وأبوداود في السنن ۱۲۷/۳ رقم الحديث ۲۶۷۷

يَتَحَدَّثُ ثُمَّ انْفَتَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
کينا ستلو او خبرې يې وکړې او بيا لاړو. نبي کريم ذ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د هغې باره کې معلومه شوه نو ويې فرمايل
اطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ. فَقَتَلْتُهُ
چې هغه ولټوئ او مړه يې کړئ. او هغه يې ولټولو او رائې وستلو او مړيې کړو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د
فنفَّلَني سلبَه (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
هغې سامان او اسباب ماته راکړو.

توضيح فقتلته: دا کس دا چې جاسوس ؤو نو حکمه وژل يې ضروري ؤو. دغه شان هغه کافر به هم وژلی کېږي چې حربي وي او د امان لپاره د مسلمانانو علاقه کې داخل شوی وي. (مرقات ۵۰۵/۷)

فنفلني: يعني د انعام په توګه د هغې د بدن سامان ماته راکړی شو. (مرقات ۵۰۵/۷)

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د قبيله قيس د يوې
هَوَازِنَ فَبَيْنَا نَحْنُ نَتَضَحَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قبيلې هوازان خلاف جهاد کې شريک شوې ؤو. يو ورځ چې مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د غرمې ډوډۍ خورله،
إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ فَأَنَاخَهُ
نو ناڅاپه يو کس چې د دښمن جاسوس ؤو او په سور او اوخ سپور ؤو. هغې اوښ کښولو او بيا يې
وَجَعَلَ يَنْظُرُ وَفِينَا ضَعْفَةٌ
اخوا ديخوا کتل يعني زمونږ د حالت خبرې اخستل يې شروع کړه. او هغه وخت مونږ د کمزورې حالت او د پياده روئ په وجه
وَرِقَّةٌ مِنَ الظَّهْرِ
د هر يو حاله ؤو. مونږ سره د سورلو کمی ؤو او د خپل کمزورې حالت په وجه د هر پريشانه ؤو، نو د دښمن ته د دې خبر
وَبَعْضُنَا مُشَاةٌ إِذْ خَرَجَ يَشْتَدُّ فَأَتَى جَمَلَهُ فَأَثَارَهُ
ورکولو لپاره هغه ناڅاپه زمونږ د مينځ نه په منډه اوتلو، خپل اوښ ته ورسيدلو او سپور پرې او پائی څولو.

(۱) رقم الحديث ۳۹۶۱ اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۶۷ رقم الحديث ۳۰۵۱ ومسلم في ۱۳۷۴ رقم الحديث (۴۵-۱۷۵۴)

فَاشْتَدَّ بِهِ الْجَمَلُ فَخَرَجْتُ أَشْتَدُّ حَتَّى أَخَذْتُ
او هغه اوښ هغه په تیزئ سره په منډو کړو. ما چې دا صورتحال ولیدلو نو زه هم د خلکو د مینځ نه اوتلم
بِخِطَامِ الْجَمَلِ فَأَنَخْتُهُ
او هغه کس پسې مې شاته منډه کړې تر دې چې هغه مې راګیر کړو او د اوښ واګې مې ونیولو او هغه مې
ثُمَّ اخْتَرَطْتُ سَيْفِي فَضَرَبْتُ رَأْسَ الرَّجُلِ
کینولو او بیا مې توره راویستله او د هغه کس په سر مې ښه دروند غوزار وکړو چې هغه پرې مړ
ثُمَّ جِئْتُ بِالْجَمَلِ أَقُودُهُ وَعَلَيْهِ رَحْلُهُ وَسِلَاحُهُ
شو. د هغې نه وروسته هغه اوښ چې د هغه کس سامان او اسلحه پرې پرته وه رامې ښکله. کله چې
فَاسْتَقْبَلَنِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فَقَالَ:
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د نورو صحابوؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ زما مخې ته راغلل نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل
مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ؟ قَالُوا: ابْنُ الْأَكْوَعِ فَقَالَ:
چې دا چا مړ کړی دی؟ صحابوؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وفرمایل چې دا سلمه بن اکوع. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل
لَهُ سَلَبُهُ أَجْمَعُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
چې د دې ټول سامان حقدار ته یې (سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) دی.

توضیح هوازن: دا د یو مشهور قبیلي نوم دی. چې په تیراندازئ کې ډېر مشهور ؤو. حنین او اوطاس کې د هوازن سره ډېره لویې جنګ وشو. د عرفات او طائف په مینځ کې د یوې درې نوم حنین دی. (مرقات ۵۰۶/۷)

نتضحی: دا لفظ د تضحیه نه دی. اصل کې د وابنو والا ځای ته د کوزېدلو او د اوښانو د څرولو او د ارام ورکولو لپاره استعمالیدلو. بیا د نرمي د لپاره استعمال شو. بیا د څانښت د لمونځ لپاره استعمال شو. بیا د څانښت وخت کې د خوراک کولو لپاره استعمال شو. همدغه معنی مراد ده. (مرقات ۵۰۶/۷)

رقة من الظهر: یعني د سورولو د کمې په وجه مونږ کې کمزورې وه. په پیدل تلو تلو باندې ستړې شوې ؤو.

و بعضنا مشاة: دا جمله د رقة من الظهر لپاره عطف بیان او تفسیر دی. (مرقات ۵۰۷/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۶۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۶۸/۶ رقم الحديث ۳۰۵۱ ومسلم في صحيحه ۱۳۷۴/۳ رقم الحديث (۴۵-۱۷۵۴)

اخترطت سيفي: توره راويستلو ته وايي. (مرقات ۵۰۷/۷)

اشتد: د منډه کولو په معنی کې دی. (مرقات ۵۰۷/۷)

خطام: واګې ته وايي. (مرقات ۵۰۷/۷)

بنو قريظه کې د حضرت سعد فيصله

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله زه مدينې ته راغلم. د بنو قريظه يهود د سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حکم

بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باندې تسليم شول او راکوز شول او په دې خبره راضي شول چې سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کومه فيصله کوي مونږ به

إِلَيْهِ فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ

يې منو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې يو کس ولېږلو. سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يو خر سپور وو

فَلَمَّا دَنَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او راغلو چې کله رانژدې شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاضرينو ته وويل چې تاسو د خپل سردار د تعظيم يا

قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ فَجَاءَ فَجَلَسَ

د هغې د مرستې لپاره ودرېږئ. سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نزدې کينا ستلو، نو

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه مخاطب کړو او ورته ويې فرمايل چې داخلک يعنې د بنو قريظه يهود ستا د حکم په منلو باندې راضي دي.

قَالَ: فَإِنِّي أَحْكُمُ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ

سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې زه فيصله کوم چې دې يهودو کې چې کوم د جنګ کولو صلاحيت لري هغه مړه

وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ. قَالَ:

کړئ او ددوی ښځې او ماشومان قيديان کړئ. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوربدلو سره وفرمايل چې تا ددوی باره کې د

لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ.

بادشاه مطابق فيصله وکړه. يعنې تا داسې فيصله وکړه چې الله تعالى پرې هم راضي دی. او يو

وَفِي رِوَايَةٍ: بِحكم الله (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
روایت کې دا الفاظ دي چې تا د الله د حکم مطابق فیصله وکړه.

توضیح: قوموا الی سیدکم: حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د انصارو سردار ؤو. د خندق په جنګ کې هغه سخت زخمي شوی ؤو. هغې د بنو قریظه په غداریٔ باندې د الله نه دعا غوښتلې وه چې ای الله! ماته تر هغې پورې مرګ رانکړې چې تر څو پورې په یهودو باندې خپل زړه یخ نه کړم. هلته د جنګ خندق نه وروسته مسلمانانو ژر بنو قریظه محاصره کړه. د ۲۵ ورځو نه زیاته محاصره وه، نو هله یهود د خپلو قلعه ګانو نه په راکوزېدلو باندې راضي شول خو هغه بدبختو وویل چې زمونږ فیصله دې یهود نه کوي بلکې سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې وکړي. د حضرت سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه خلکو سره پخوانې رسمونه هم ؤو. او دا دواړه دیو بل ملګري هم ؤو. د یهودو خیال ؤو چې سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به زمونږ په حق کې فیصله وکړي. حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا چې زخمي ؤو نو ځکه یې د مسجد نبوي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خر باندې سپور راوستلو. چې د بنو قریظه محلي ته ورسیدلو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل **"قوموا الی سیدکم"** دا چې د هغې مرستې ته ضرورت ؤو، ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د خپل سردار د مرستې لپاره ودرېږئ. هغه د خبر نه راکوز کړئ. لهذا د دې حدیث د هغه حدیث سره تعارض نشته دی چې کوم کې راغلې دي چې **"من سره ان یتمثل له الرجال قیاما فلیتبوأ مقعده من النار"** ځکه هلته مجبوري وه. شوقیه د چا لپاره پاڅیدل منع دي. دویم جواب دا دی چې دلته صرف د استقبال په توګه د احترام او اکرام لپاره اودرېدلو ؤو. د دې نه صرف استقبال ثابت دی. د عجمو د ممنوع قیام د دې سره هیڅ تعلق نشته دی. چې ذکر یې د **"من سره"** والا حدیث کې دی.

بهرحال حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فیصل وکړه چې د جنګ قابل یهود مړه کړئ او ښځې او ماشومان یې غلامان کړئ. همدغه فیصله د تورات هم وه، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې د سعد فیصله د عرش والا د بادشاه فیصله ده. (مرقات ۵۰۷/۷، ۵۰۸)

د سردار یمامه ثمامه عجیبه قصه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو لښکر د جهاد کولو لپاره نجد ته روان کړو. د لښکر
فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ: ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ
خلکو د قبیله بنو حنیفه یو کس ونیولو او مدنیې ته یې راوستلو چې نوم یې ثمامه ابن اثال ؤو. او د یمامه د بنار

[1] رقم الحديث ۳۹۶۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۶۵/۶ رقم الحديث ۳۰۴۳ ومسلم في ۱۳۸۸/۳ رقم الحديث (۶۴-۱۷۶۹)

فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ

سردارؤو. داکس يې د مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوې ستنې پورې وترلو چې ونه تښتي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه

فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَاذَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟

حوالې راغلو او د هغې سره يې وپوښتل چې اوبه تمامه! ستا سره څه اوريدلو لپاره څه دي؟ يعنې اوبه چې ستا څه خيال دي يا زما

فَقَالَ: عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ

باره کې ستا څه خيال دی چې زه به تا سره څنګه سلوک کوم؟ ثمامه وويل چې ما سره خير ښه ګړه د دې ما سره

خير إِنْ تَقْتُلْ

د هر مال دی. که ته ما مړ کړي نو د وينې والا يو کس به مړ کړي چې د مرګ مستحق دی. د دې الفاظ په ذريعه

تَقْتُلْ ذَا دَمٍ

ګويا کې ثمامه د خپلې ګناه اعتراف او اقرار وکړو. د هغې د دې الفاظو مطلب دا ؤو چې که چرې ته ما مړ کړې

وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ

نو يو داسې کس به مړ کړي چې وينه به يې بې ځايه نه ځي. ځکه زما قوم به زما وينه ونه بخښي. بلکې ستانه به

عَلَى وَإِنْ شَاكِرٍ

بدله اخلي. دې صورت کې ګويا کې هغې د خپل امارت او د خپل رياست او د وجاهت دعوی وکړه او که ته ما په عزت سره خلاص

كُنْتُ تُرِيدُ الْمَالَ

کړې او ما سره ښه سلوک وکړې نو د داسې کس سره به ښه سلوک کوؤ چې شکر ويستونکی او قدردان وې يعنې زه به هم د ښه

فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ

سلوک بدله تاته درکړم او که ته مال غواړې نو وغواړه. څومره مال چې غواړې در به کړی شي. د دې

فَتَرَكَهُ رسول اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خبرو اوريدلو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه (د هغې په حال) پريښود لو. چې بله ورځ راغله نو

حَتَّى كَانَ الْغَدُ فَقَالَ لَهُ: مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟ فَقَالَ:

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې نه بيا وپوښتل چې اوبه ثمامه تا سره د ويلو لپاره څه دي؟ هغه وويل

عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ: إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ

ما سره همغه څه دي چې ما ويلي دي چې که ښه سلوک کوې نو داسې کس سره به ښه سلوک کوؤ. چې

عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ كنتَ تريدُ المالَ فسَلْ تعط مِنْهُ

شکرویستونکی او قدردان وي. که مې مړ کړي نو دويني والا کس به وژنو. او که ته مال غواړي نو وغواړه،

مَا شِئْتَ. فَتَرَكَهُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

څومره چې غواړي دربه کړی شي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې باندې هم دې اوربدلو سره هغه د هغې په حال پرېښودلو

حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَقَالَ لَهُ: مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟

او کله چې درېمه ورځ شوه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته ويا د هغې نه وپوښتل چې ثمامه تاسره د ويلو لپاره څه دي؟

فَقَالَ: عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ: إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ

هغې وويل چې ما سره همغه څه دي چې کوم ويلي دي چې که ته ښه سلوک کوې نو د داسې کس سره به ښه سلوک کېږي

عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ

چې شکرويستونکی او قدردان به وي. که يې وژنې نو د وينې والا کس به وژنو او که ته مال غواړي نو

فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ

چې څومره غواړي هغه هومره وغواړه، دربه کړی شي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوربدلو سره ثمامه ازاد کړو،

فَانْطَلَقَ إِلَى نَخْلٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَسْجِدِ

نو د ازادولو نه وروسته د څه ويل نه بغير هغه د کجورو د بوټو په يو څنګل کې لاړو چې مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته نزدې وُ

فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ:

او هلته يې ولامبل او بېرته مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلو او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته يې وويل

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

يعنې زه په ربښتني زړه اعتراف او اقرار سره ګواهي ورکوم چې د الله نه بغير بل هيڅ څوک د عبادت

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

لائق نشته دی او ګواهي ورکوم چې محمد د الله بنده او د هغې رسول دی. او بيا يې وويل چې

يَا مُحَمَّدُ وَاللّٰهِ مَا كَانَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ وَجْهٌ

ای محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! قَسم په خدای چې په مخ د ځکه باندې زما په نزد ستا د مخ نه بل هیڅ شی

أَبْغَضُ إِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ فَقَدْ أَصْبَحَ

زیات د نفرت والا نه ؤو (یعنې زما چې ستا د ذات نه څومره نفر ؤو، دومره نفرت مې د بل ذات نه نه ؤو)

وَجْهُكَ أَحَبَّ الْوُجُوهِ كُلِّهَا إِلَيَّ وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ دِينٍ

خو اوس ستا مخ زما په نزد د دنیا د ټولو مخونو ګران دی او قَسم په خدای چې زما په نزد ستا د بنار

أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ دِينِكَ فَأَصْبَحَ دِينُكَ أَحَبَّ الدِّينِ كُلِّهِ إِلَيَّ وَوَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ بَلَدٍ

نه زیات بل هیڅ بنار د نفرت والا نه ؤو خو اوس زما په نزد ستا بنار زما په نزد د دنیا د ټولو بنارونو نه زیات ګران دی.

أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَأَصْبَحَ بَلَدُكَ أَحَبَّ الْبِلَادِ كُلِّهَا إِلَيَّ وَإِنَّ خَيْلَكَ أَخَذَتْنِي وَأَنَا

بیا هغې عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! ستا لښکر زه هغه وخت ګیر کړی ؤم چې ما د

أُرِيدَ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرَى؟

عمرې لپاره د مکې نه د تللو اراده کوله، نو ته (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) ماته څه حکم کوې چې آیا زه مکې ته د عمرې لپاره لاړ شم که نه؟

فَبَشَّرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خو اول هغې ته زېری ورکړو چې د اسلام د قبلولو په وجه تاته د انسانیت شرف او عظمت حاصل شوی دی

وَأَمَرَهُ أَنْ يَعْتَمِرَ فَلَمَّا

او ستا ټول ګناهونه بخښلی شوې دي او بیا یې هغې ته عمرې د کولو حکم وکړو. د هغې نه وروسته ثمامه چې کله

قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ لَهُ قَائِلٌ: أَصَبَوْتَ؟ فَقَالَ:

(د عمرې کولو لپاره) مکې ته ورسید لو نو ویونکو هغې ته وویل چې ته بې دینه شوی یې. ثمامه جواب ورکړو

وَلَكِنِّي أَسْلَمْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا

چې نه، د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاس اسلام قبول کړی دی. زه بې دینه شوی نه یم او (یاد وساتئ)

وَاللّٰهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ حَتَّى

په خدای قَسم چې اوس به ثمامه تاسو ته دغنمو یوه دانه هم در ونه لېږي تر څو پورې چې

يَأْذَنَ فِيهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسلم وَاخْتَصَرَهُ الْبُخَارِي[1]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې اجازت رانکړي. دا روايت بخاری هم لنډ نقل کړی دی.

توضيح: **خيلاً**: د شهسوارانو يوه ډله د جهاد لپاره نجد اړخ ته روانه کړی شوې وه. هغوی ثمامه ګير کړو چې د قوم سردار ؤو. هغه يې د مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ستنو کې يوه ستنه پسې وترلو. (مرقات ۵۰۸/۷)

ماعندك: يعنې ستا څه خيال دی چې زه به تاسره څه کوم؟ (مرقات ۵۰۸/۷)

عندی خير: يعنې ستا باره کې ښه ګمان دی ځکه ته به ظلم نه کوي. (مرقات ۵۰۹/۷)

ان تقتل ذا دم: يعنې ته مړ کړي نو زما بدله به اخستلی کېږي. زما وينه به نه ضايع کېږي. دويم مطلب دا دی چې ما مړی کړی دی ته به يو مجرم مړ کړي. (مرقات ۵۰۹/۷)

وان تنعم: يعنې که احسان دې وکړو او زه دې اوبخښلم نو يو شريف، قدردان، شکر ويستونکې کس باندې به احسان وي. درې ورځې همدغه شان پوښتنه او جواب روان ؤو. بيا په درېمه ورځ د احسان په توګه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ازاد کړو، ځکه د خليفه او اميرپه رايه باندې داسې کول جائز دي. (مرقات ۵۰۹/۷)

اصبوت: آيا ته صابې او بې دينه شوی يې؟ هغې وفرمايل چې نا بلکې زه خو مسلمان شوی يم. اوس به د محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اجازت نه بغير ثمامه د غلې يوه دانه هم مکې والو ته نه لېږي.

د احسان بدله احسان

﴿۶﴾ وَعَن جُبَير بن مطعم أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ:

او حضرت جبير ابن مطعم فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ د قيديانو باره کې وفرمايل چې که چرې

لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى

مطعم ابن عدي ژوندی وی او ماته يې د دې ناپاکه قيديانو باره کې سفارش کړی وی نو ما به د مطعم په

لتركتهم لَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[2]

سفارش دوې ازاد کړي وی.

([1]) رقم الحديث ۳۹۶۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۷/۸ رقم الحديث ۴۳۷۲ ومسلم في ۱۳۸۶ رقم الحديث (۵۹-۱۷۶۴)

([2]) رقم الحديث ۳۹۶۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۳۷/۶ رقم الحديث ۳۱۳۹ وأبوداود في السنن ۱۳۸/۳ رقم الحديث ۲۶۸۹

توضیح: حضرت جبیر د دې حدیث راوي دی، خو وخت چې دې دا حدیث اورېدلی دی هغه وخت دا مسلمان شوی نه ؤو. بلکې په جنګ بدر کې د نورو کافرانو سره نېولی شوی ؤو. حدیث خو یې د کفر په حالت اورېدلی دی خو بیان یې د اسلام په حالت کې کوي. د هغې د پلار نوم مطعم بن عدي ؤو. هغه د کفر په حالت مړ شوی ؤو. مطعم بن عدي هغه کس ؤو چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې طائف نه د ښېرته راتللو وخت کې پناه ورکړې وه او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې مکې مکرمې ته د خپل ځان سره داخل کړی ؤو. دا چې هغې لوی احسان کړی ؤو نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د "**هل جزاء الاحسان الا الاحسان**" په توګه وفرمایل چې که چرې نن مطعم ژوندی وی او د بدر د بویه مشرکانو قیدیانو باره کې یې ماته سفارش کړی وی نو د هغې په خاطر به ټول ازاد کړي وی.

د حدیبیه په موقع اتیا (۸۰) مشرکان ونیول شول

﴿۷﴾ وَعَن أَنَسٍ: أَنَّ ثَمَانِينَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایي دی چې د صلح حدیبیه په کال د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلاف د مکې اتیا (۸۰) کسان د

هَبَطُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَبَلِ التَّنْعِيمِ

اسلحو په لاس د تنعیم په غر راکوز شول چې د هغوی اراده دا وه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغې په ملګرو به ناڅاپه

مُتَسَلِّحِينَ يُرِيدُونَ غِرَّةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حمله وکړي او هغوی ته نقصان ورسوي خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د جنګ نه بغیر هغوی بې وسه او ذلیله ګیر کړه او

وَأَصْحَابِهِ فَأَخَذَهُمْ سِلْمًا فَاسْتَحْيَاهُمْ. وَفِي رِوَايَةٍ: فَأَعْتَقَهُمْ

بیا یې هغوی ژوندي پریښودل. او یو روایت کې داسې دي چې بیا یې هغوی ازاد کړل، نو په دې

فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى (وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ

الله تعالی دا آیت نازل کړو. او هغه الله داسې دی چې د مکې په چاپېریال کې د هغه کفارو لاس ستاسو

وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ) رَوَاهُ مُسلم [1]

خلاف او ستاسو لاس د هغې خلاف بند وساتل.

([1]) رقم الحديث ۳۹۶۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۴۲/۳ رقم (۱۳۳-۱۸۰۸) وأبوداود في السنن ۱۳۷/۳ رقم الحديث ۲۶۸۸.

توضیح غرة النبي : یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې یې ناخبرئ کې حمله کوله او شهید کول یې غوښتل. الله هغوی د مسلمانانو په لاس کې ګیر کړه. (مرقات ۵۱۴/۷)

په قلیب بدر کې د قریشو د سردارانو سره د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کلام

﴿۸﴾ وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ: ذَكَرَ لَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ

او حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حوالې مونږ ته دا

أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ بِأَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا

بیان وکړو چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ بدر په ورځ د قریش د کفارو د څلورویشت (۲۴) وژل شوؤ

مِنْ صَنَادِيدِ قُرَيْشٍ فَقُذِفُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ

سردارانو باره کې حکم وکړو چې دوی ځای ته ورسوئ، نو مونږ د بدر په کوهي کې هغوی یو یو ورغوزار

خَبِيثٍ مُخْبِثٍ وَكَانَ ذَا ظَهَرَ

کړل چې ناپاکه ؤو او ناپاکه کونکي ؤو. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت دا ؤو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به کله

عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ

په یو قوم باندې غلبه یا فتح وموندله نو هغه میدان جنګ کې به یې دریو ورځې قیام کولو، نو د هغه عادت مطابق

ثَلَاثَ لَيَالٍ فَلَمَّا كَانَ بِبَدْرٍ الْيَوْمَ الثَّالِثَ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ کمتلو نه وروسته په هغه میدان جنګ کې دریو ورځې قیام کولو. کله چې دریو ورځې ختمې شوې

أَمَرَ بِرَاحِلَتِهِ فَشُدَّ عَلَيْهَا رَحْلُهَا

نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل اوښ باندې د کجاوه تړول حکم وکړو، نو کجاوه وتړلی شوه او

ثُمَّ مَشَى وَاتَّبَعَهُ أَصْحَابُهُ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روان شو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه هم ورپسې شاته روان شول. چې دې

حَتَّى قَامَ عَلَى شَفَةِ الرَّكِيِّ فَجَعَلَ

کوهي ته راورسیدلو کوم کې چې د قریشو سرداران غوزار کړی شوې ؤو. نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يُنَادِيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِهِمْ:

د هغه کوهي په غاړه اودرېدلو او د هغه سردارانو او د هغوی د پلارانو نومونه اخستل یې شروع کړل

يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ

چې ای فلانی د فلانې ځویه، ای فلانی د فلانې ځویه او بیا یې ګویاکې هغوی مخاطب کړل چې

أَيَسُرُّكُمْ أَنَّكُمْ أَطَعْتُمُ اللهَ وَرَسُولَهُ؟

آیا تاسو ته اوس ډیر ښه معلومیږي چې تاسو د الله او د هغې د رسول اطاعت کولی؟ بیشکه مونږ

فَإِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُمْ

ته هغه څیزونه حاصل شول چې د کوم زمونږ رب قطعي وعده کړې وه. او آیا تاسو هغه څیز هم موندلی دی

مَا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقًّا؟

چې د کوم تاسو سره ستاسو پروردګار قطعي وعده کړې وه. یعني ستاسو د عذاب. مطلب دا چې مونږ ته د خدای د وعدې مطابق

فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللهِ

فتح او کامیابي حاصله شوه، آیا تاسو ته هم عذاب ملاوشو چې د کوم نه ستاسو رب تاسو یره ولې وئ؟ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو

مَا تُكَلِّمَ مِنْ أَجْسَادٍ لَا أَرْوَاحَ لَهَا؟

چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آیا ته داسې بدنونه مخاطب کوي چې روحونه په کې نشته دی؟

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل قسم په هغه ذات چې د کوم په لاس کې د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوند دی،

مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ . وَفِي رِوَايَةٍ: مَا أَنْتُمْ

دې بدنونو ته چې څه وایم تاسو هغه زیات اورېدونکې نه وئ او یو روایت کې داسې دي چې تاسو

بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ

د دوی نه زیات اورېدونکې نه یئ خو فرض صرف دومره دی چې تاسو جواب ورکولو باندې قادر یئ

لَا يُجِيبُونَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَزَادَ الْبُخَارِيُّ: قَالَ قَتَادَةُ:

او دوی جواب نه شي ورکولی (بخاری او مسلم) بخاری هم دا نقل کړی دی چې حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل

أَحْيَاهُمُ اللهُ حَتَّى أَسْمَعَهُمْ قَوْلَهُ

چې الله تعالی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خطاب په وخت کې ژوندي کړي وُو چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبره واوري

تَوْبِيخاً	وتصغيرا	ونقمة	وحسرة	وندما	(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
چې هغوی ته پرې سزا وي او هغوی ذلیل او خوار او افسوس او پښیمانتیا پرې محسوسه کړي.					

توضيح: **صناديد**: د صنديد جمع ده. اشراف او سردارانو په معنی کې دی. (مرقات ۵۱۴/۷)

طوی: چې د کوم کوهي ګیر چاپېره د ښه مضبوطو کانو ډیری وي هغې ته طوی وایي. شاعر ویلې دي (مرقات ۵۱۴/۷).

فإن الماء ماء ابی وجدّی وبیری ذو حفرت وذو طویت

طوی: اباد کوهې ته وایي او قلیب هغه کوهې ته وایي چې وران او خراب وي. راویانو زیات خیال نه دی کړی چې د طوی لفظ هم ځینو راویانو ذکر کړی دی او ځینو د قلیب لفظ استعمال کړی دی. لږ شان فرق دی. چا خیال نه دی کړی، د بدر کوهی وران او خراب ؤو.

خبيث مخبث: یعنې خپله کوهی هم ګنده ؤو او د قرشو کوم سرداران چې په دې اچولی شوې ؤو هغه هم خبیثان ؤو. یعنې خپله هم فاسدان او نور فاسده کونکې ؤو. (مرقات ۵۱۶/۷)

فجعل يناديهم: تبکیت او تذلیل او توهین او تحقیر او د تخسیر په غرض نبي کریم ﷺ د قریشو سردارانو ته دا خبرې وکړې. حضرت حسان رضی الله عنه په خپلو شعرونو کې د دې پس منظر داسې بیان کړی دی.

فغادرنا ابا جهل صريعا ❁ وعتبة قد تركنا بالجبوب

وشيبة قد تركنا في رجال ❁ ذوی حسب اذا نسبوا النسيب

يناديهم رسول الله ما ❁ قذفناهم كباكب في القليب

الم تجدوا كلامي كان حقا ❁ وامر الله يأخذ بالقلوب

فما نطقوا ولو نطقوا القالوا ❁ اصبت وكنت ذا رأی مصيب

ترجمه: مونږ ابو جهل پرمخې راګوزار کړو او پرې مو ښودلو. او عتبه مو هم مړ پرېښودو.

او شیبه مونږ د داسې خلکو سره مړ پرېښودلو چې د لوی نسب او حسب والا ؤو.

نبي کریم ﷺ هغوی ته اواز کولو کله چې مونږ هغوی ګنده کوهي ته د پاس نه لاندې

([1]) رقم الحديث ۳۹۶۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۰/۷ رقم الحديث ۳۹۷۶ ومسلم في ۲۲۰۴/۴ رقم الحديث (۷۸-۲۸۷۵)

راګوزار کړو او پرې مو ښودو .نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې آيا تاسو زما خبره ربنتيا ونه منله؟ حال دا چې د الله حکم زړونو ته کوزپږي.د قريش کافرانو خبره ونه کړه که هغوی جواب ورکولی نو دا به يې ويلی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ربنتيا ويلې ؤو او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رأي صحيح وه.

د دې حديث د لاندې د سماع موتی مسئله اخيستل کېږي خو ما په توضيحات جلد اول ص ۳۵۴ باندې دا مسئله ليکلې ده. ښه تفصيل دی.

په جنګ حنين کې شپږ زره قيديان

﴿۹﴾ وَعَنْ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت مروان او حضرت مسور ابن مخرمه راويان دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت د خطبې

قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفد من هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ

ورکولو لپاره ورډېدلو کله چې د قبيله هوازن خلک د اسلام نه وروسته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شول

فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ

او هغوی دا خواست وکړو چې د هغوی مال او د هغوی قيديان بېرته ورکړی شي.

فَقَالَ: " فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ:

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته وفرمايل چې دواړو شيانو کې يو شی اختيار کړئ يعنې يا قيديان ازاد

إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ ".قَالُوا: فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا.

کړئ او بو يې ځئ يا مال بېرته واخلئ؟ هغوی عرض وکړو چې مونږ خپل قيديان ازاد دول خوښوؤ،

فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَثْنَى عَلَى اللهِ

نو بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته خطبه ورکړه. اول نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی حمد او ثناء

بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بعدُ

بيان کړه چې د کوم هغه مستحق دی او بيا يې وفرمايل چې د دې نه وروسته! د قبيه هوازن خلک چې

فَإِنَّ إِخْوَانَكُم قَدْ جَاؤُوا تَائِبِينَ

ستاسو ديني يا نسبي ورونه دي د خپل کفر او شرک نه توبه کوي او مسلمانانو تاسو ته راغلي دي.ما

وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ

دا کار مناسب ګڼلی دی چې د دوی قيديان دوی ته بېرته ورکړم. لهذا کوم کس چې په خوشحالئ باندې

أَنْ يُطَيِّبَ ذَلِكَ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ

قيديان بېرته ورکول غواړي نو اوس وخت کې به هغې ته د دې بدله د دې نه مخکې راغلي مال نه ورکړی

أَنْ يَكُونَ عَلَى حظِّه حَتَّى نُعطِيَه إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يَفِيءُ اللهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ

کېږي چې الله د غنيمت په توګه راکړی دی، نو هغه دې همدغه شان وکړي. خلکو (يعنې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

فَقَالَ النَّاسُ: قَدْ طَيَّبْنَا ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ

يا بغير د څه امتياز نه ټولو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) عرض وکړو چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! مونږ دې

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

باندې يعنې قيديان په خوشحالئ باندې ورکولو ته اماده يو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې مونږ ته

إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ

په دې غونډه کې نه شي معلومېدلی چې تاسو کې کوم يو کس راضي دی او کوم کس راضي نه دی. د هغې فرق نه شي کېدی.

فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ

لهذا تاسو ټول خپلو خپلو کورونو ته لاړشئ او د خپل خاندان او قبيلې والو سره دې باره کې مشوره وکړئ

أَمْرَكُمْ . فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ

چې ستاسو هغه سردار تفصيل سره مونږ ستاسو فيصله راکړي، نو ټول خلک لاړل او چې د هغوی سردارانو سره هغوی خبرې وکړې

ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ

نو هغه خلک بېرته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شول او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې وويل

أَنَّهُمْ قد طَيَّبوا وأَذِنوا. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]

چې هغوی قيديانو باندې بېرته ورکولو باندې راضي دي او هغوی د دې امر اجازت ورکړو.

توضيح: اموالهم وسبيهم: جنګ حنين کې شپږ زره (۶۰۰۰) کسان ګيرشوي ؤو. چې ماشومان هم په کې ؤو. ښځې هم وي او بوډه ګان هم ؤو. ځوانان هم ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غنيمتونو په تقسيم کې دېر تاخير وکړو چې د هوازن خلک د مذاکراتو لپاره راشي هغوی دېر ناوخته راغلل خو داسې قصدې

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۶۸ اخرجه البخاري في صحيحه ۴۸۳/۴ رقم الحديث ۲۳۰۷ وابوداود في السنن ۱۴۱/۳ رقم الحديث ۶۲۹۳

يې ولوستلې چې خلک يې وژړول. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اوس د غنيمت مالونه تقسم شوې دي. اوس تاسو په دوه خبرو کې يوه خبره خوښه کړئ. يا مال بېرته واخلئ يا مال پرېږدئ او خپل قيديان بېرته واخلئ. هغه خلکو وويل چې مونږ خپل انسانان بېرته غواړو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مخې ته يوه خطبه وويله او ويې فرمايل چې د هوازن خلک مسلمانان شوې دي. اوس که د هغوی قيديان څوک په خوشحالئ بېرته ورکول غواړي نو بېرته دې ورکړي او څوک يې چې بېرته ورکول نه غواړي نو هغه دې هم بېرته ورکړي خو د هغه دې د خپل قيدي په بدل کې آينده زمونږ نه غلام واخلي. صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وفرمايل چې مونږ بېرته ورکولو باندې راضي يو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې مونږ ته معلومه نه ده چې څوک خوشحاله دي او څوک خوشحاله نه دي. تاسو د خپلو قبيلو سره خبره وکړئ. سردارانو هم د خوشحالئ اظهار وکړو، نو هلته يې ورته ټول قيديان بېرته ورکړل او مالو تقسيم شول چې څلويښت زره (۴۰۰۰۰) بزې وې، څليرېش زره (۲۴۰۰۰) اوښان ؤو او څلويښت زره (۴۰۰۰۰) اوقيه په لاس ورغلې وې. (مرقات ۵۲۰/۷)

تبادله د قيديانو جائز ده

﴿۱۰﴾ وَعَن عمرَان بن حُصَيْن قَالَ: كَانَت ثَقِيفٌ حَلِيفًا لِبَنِي عُقَيْلٍ

او حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د بنو قبيله ثقيف د بنو عقيل شريکان ؤو. کله چې قبيله

فَأَسَرَتْ ثَقِيفٌ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بنو ثقيف د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه صحابه ګير کړل نو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ د بنو عقيل

وَأَسَرَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ فَأَوْثَقُوهُ فَطَرَحُوهُ فِي الْحَرَّةِ

يو کس ګير کړو او مضبوط يې وترلو او په حرا کې يې واچولو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَمَرَّ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُ: يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فِيمَ أُخِذْتُ؟

د هلته تېر شو نو هغه قيدي ورته اواز وکړو چې ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زه په کوم جرم کې قيدي کړی شوی يم؟

قَالَ: بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكُمْ ثَقِيفٍ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د خپل حليف ثقيف د خلکو په جرم کې يعنې ثقيف قبيلي خلکو زمونږ دوه مسلمانان

فَتَرَكَهُ وَمَضَى فَنَادَاهُ:

ګير کړي دي. د هغې په بدل کې تاسو ګير کړی شوې وئ. دې ويلو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی همدغه شان پرېښودل

يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ

او مخکې ترېنه لاړو. هغې بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اواز وکړو چې ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

فَرَحِمَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم فرجعَ فَقَالَ:
د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې باندې رحم راغلو او هغوی له ېرته ورغلو او ورته ويې فرمايل چې
مَا شَأْنُكَ؟ قَالَ: إِنِّي مُسْلِمٌ. فَقَالَ:
تاسو په کوم حال کې يئ؟ هغه وويل چې زه مسلمان يم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې
لَوْ قُلْتَهَا وَأَنْتَ تَمْلِكُ أَمْرَكَ
کاش! تا دا خبره هغه وخت کړې وی چې کله ته د خپل اختيار مالک وې نو تا به خلاصون موندلی وی
أَفْلَحْتَ كُلَّ الْفَلَاحِ
کامل خلاصون يعنې په دنيا کې به خلاصون درته ملاؤ شوی وی چې قيدي شوی به نه وی او په
قَالَ: فَفَدَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
آخرت کې د دوزخ د عذاب نه خلاص شوی وې. راوي وايي چې د هغې نه وروسته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه
بالرجلينِ اللَّذينِ أسرَتْهُما ثقيفٌ. رَوَاهُ مُسلم[1]
د هغه دوه کسانو په بدل کې بنو ثقيف ګير کړي ؤو پرېښودلو.

توضيح: بجريرة حلفائكم: معاهده، معاقده او په محالفه کې به دا کېدل چې د يو بل په خير کې به دواړه برابر شريکان ؤو. بنو ثقيف او بنو عقيل د يو بل سره معاهده وه. بنو ثقيف د صحابه کرامو نه دوه کسان قيديان کړي ؤو. صحابه کرامو د بنو عقيل يو کس ونېولو او وې ترلو او په ګرمه شړه يې واچولو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې په خوا تېرېدلو نو هغې اواز وکړو چې زه په کوم جرم کې ونېولی شوی يم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جواب کې وفرمايل چې ستاسو سره معاهده کونکې بنو ثقيف په جرم کې ته ونېولی شوی يې ځکه هغوی زمونږ دوه کسان ونېولې دي. بله ورځ هغه کس بيا اواز وکړو چې زه مسلمان شوی يم، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې که اول دې اسلام راوړی وی نو جدا خبره به وه. اوس خو يې ته د نفاق په توګه هم ويلی شي چې زه مسلمان يم د دې لپاره چې ازادې درته ملاوه شي. د هغې نه وروسته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل دوه صحابه کرامو په بدل کې هغه کس خلاص کړو. د دې حديث نه د قيديانو د تبادلې تعليم ملاؤ شو. (مرقات ۵۲۰/۷)

الفصل الثاني

د بدر په قیدیانو کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوم هم ؤ

﴿۱۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: لَمَّا

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې کله په جنګ بدر کې الله تعالى نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د

بَعَثَ أَهْلُ مَكَّةَ

مکې په کافرانو باندې غلبه او فتح ورکړه او په هغوی کې څه اوژلی شو او څه قیدیان کړی شول او مدینې ته یې راوستل.

فِي فِدَاءِ أُسَرَائِهِمْ

او بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوی د ازادولو په بدل کې مال وغوښتلو نو د مکې والو د خپل قیدیانو د ازادولو په بدل کې

بَعَثَتْ زَيْنَبُ فِي فِدَاءِ أَبِي الْعَاصِ

تاوان راولېږلو. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لور حضرت زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم د خپل خاوند ابو العاص د ازادولو په بدل کې

بِمَالٍ وَبَعَثَتْ فِيهِ بِقِلَادَةٍ لَهَا كَانَتْ عِنْدَ خَدِيجَةَ

څه مال ولېږلو. چې په کوم کې د هغې هغه امبیل هم ؤو چې کوم مخکې د خدیجه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره ؤو او هغه

أَدْخَلَتْهَا بِهَا عَلَى أَبِي الْعَاصِ فَلَمَّا رَآهَا

هغې د ابو العاص زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره د نکاح په وخت کې په مهر کې ورکړی ؤو. کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقَّ

هغه امبیل ولیدلو نو د زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لپاره په نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې هغه د پرسخت ګران شو. یعنې هغه وخت کې

لَهَا رِقَّةً شَدِيدَةً

د خپلې لور زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د غریبۍ او د تنهائی احساس یې وکړو او د حضرت خدیجه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د رفاقت یاد ونه د تازه کېدلو په وجه

وَ قَالَ: إِنْ رَأَيْتُمْ

چې د هغې په غاړه به ؤو، نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام زړه راپورته شو او نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته وفرمایل چې که تاسو مناسبه ګڼئ

أَنْ تُطْلِقُوا لَهَا أَسِيرَهَا

نو د زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خاطر د دې قیدي ابو العاص بغیر د تاوان نه ازاد کړئ او زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د

وَتَرُدُّوا	عَلَيْهَا	الَّذِي
هغې ټول شيان چې کوم هغې د ابو العاص د ازادولو لپاره راليږلي دي بېرته ورولېږئ. صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ		
لَهَا	فَقَالُوا:	نَعَمْ
عرض وکړو چې ډېره بهتره ده. مونږ زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د هغې مال بېرته ورکوؤ او ابو العاص بغير د تاوان نه خلاصوؤ.		
وَكَانَ	النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	أَخَذَ عَلَيْهِ
نو ابو العاص خلاص کړی شو. او د خلاصېدلو وخت کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابو العاص سره دا عهد او وعده وکړه		
أَنْ	يُخَلِّيَ	سَبِيلَ
چې هغې ته د زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په راتللو وخت کې مزاحمت نه کوي. يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ابو العاص د خلاصولو وخت		
زَيْنَبَ	إِلَيْهِ	وَبَعَثَ
کې هغه ته وويل چې دا پخه وعده وکړه چې مکې ته رسيدلو سره زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ماته مدينې ته راولېږه او د هغې لاره به نه بندوې.		
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ	وَرَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ
او بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيد ابن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د انصارو نه يو کس مکې ته روان کړو او		
فَقَالَ: كُونَا	بِبَطْنِ يَأْجَجَ	حَتَّى تَمُرَّ بِكُمَا زَيْنَبُ
هغوی ته يې وويل چې تاسو په بطن يا جج کې هيسار شئ، کله چې زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د مکې نه راروانه شي		
فَتَصْحَبَاهَا حَتَّى تَأْتِيَا بِهَا. رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد[1]		
او تاسو ته راورسېږي نو د هغې سره شئ او مدينې ته يې راولئ.		

توضيح فداء ابي العاص: ابو العاص د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوم ؤو. حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د هغې په نکاح کې وه. حضرت ابو العاص يو ځل په جنګ بدر کې قيدي شوی ؤو. چې د فديې په ذريعه د قيديانو د خلاصېدلو عمل شروع شو نو حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د خپل خاوند د راخلاصولو لپاره هغه امبيل راولېږلو چې د رخصتئ په وخت کې حضرت خديجه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغې ته ورکړی ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې هغه امبيل وليدلو نو پخوانئ دور ورته رايادشو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ډېر زيات تکليف شو

---

(1) رقم الحديث ۳۹۷۰ أخرجه أبوداود في السنن ۱۴۰/۳ رقم الحديث ۲۶۹۲ وأحمد في المسند ۲۶۹/۶

او صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته يې وويل چې که زماد لور امبيل هم ببرته ولېږئ او قيدي يې هم خلاص کړئ نو ښه به وي. صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دا خوښه کړه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابوالعاص سره شرط کيښودلو چې زما لور مدينې ته راولېږه، نو ابوالعاص وفاداري وکړه او د بطن يا جج مقام باندې يې حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دوه صحابۀ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته حواله کړه او صحابۀ هغه مدينې ته ولېږله. هغې کې يو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خولې ويلی شوی ځوی زيد بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤو. د دې حديث نه معلومه شوه چې دين يو مضبوط نظام دی او د دې خرڅولو لپاره لويې قربانئ ورکړی شوي دي. (مرقات ۵۲۴/۷)

قيدي وژل هم جائز دي

﴿۱۲﴾ وَعَنْهَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايې دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د بدر په جنګ کې د اسلام د مجاهدينو خلاف جنګ کونکو
أَسَرَ أَهْلَ بَدْرٍ قَتَلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِي مُعَيْطٍ وَالنَّضْرَ بْنَ الْحَارِثِ وَمَنَّ عَلَى أَبِي عَزَّةَ الْجُمَحِيِّ.
کې چې کوم کافران نيولې ؤو، هغې کې يې عقبه ابن ابو معيط او نضر ابن حارث مړه کړه ابو عزة
رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَالشَّافِعِيُّ وَابْنُ إِسْحَاقَ فِي السِّيَرَةِ[1]
يې بغير له تاوانه خلاص کړو او احسان مند يې کړو.

توضيح: قتل عقبة بن ابي معيط: عقبه بن ابی معيط او نضر بن حارث دوه بد بخته ؤو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې په مکه مکرمه کې سخت تکليف رسولی ؤو. عقبه د اولنئ درجې بيوقوفه او د ابو جهل يوه خاص د کار کاشوغه وه. دهر ځله يې په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې لاس اوچت کړی ؤو او په بدن يې ورله ګند غورځولی ؤو. نن دا د بدر په قيديانو کې ؤو او دا يې ويله چې د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ستر ګو کې ماته مرګ ښکاري. نضير بن حارث د قرآن دښمن ؤو او قرآن پسې به يې توقې کولې، دواړه د ګيرولو نه وروسته ؤوژلی شول او درېم کس ابو عزه جمحي شاعر ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه په دې شرط ازاد کړو چې آينده به نه د مسلمانانو خلاف لاس استعمالوي او نه به ژبه استعمالوي. دا بد بخته بيا د اُحد په ميدان کې راغلو او وروسته بيا ګير شو او د ګيرېدلو نه وروسته بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د وژلو حکم ورکړو او ويې فرمايل چې مسلمان د يو سوري نه په دويم ځل نه شي چيچلی. (مرقات ۵۲۴/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۷۱ أخرجه البغوي في شرح السنة ۷۸/۱۱ رقم الحديث ۲۷۱۱

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ قَتْلَ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله د عقبه ابن معيط د وژلو

قَالَ: مَنْ لِلصِّبْيَةِ؟ قَالَ: النَّارُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

حکم ورکړو نو هغې وويل چې زمابچې به څوک ساتي؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "اور"

د بدر په قيديانو د الله تعالى نارضتيا

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّ جِبْرِيلَ

او حضرت علي کرم الله وجهه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ

هَبَطَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ: خَيِّرْهُمْ يَعْنِي أَصْحَابَكَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ:

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له راغلو او وې ويل چې د خپلو صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته د بدر د قيديانو باره کې اختيار ورکړه

الْقَتْلَ وَالْفِدَاءَ عَلَى أَنْ يُقْتَلَ مِنْهُمْ قَابِلًا

چې هغوی که دوی وژني يا يې فديه اخلي يعنې مال ترې ونه اخلي او پرې يې ږدي، خو فديه اخستلو په صورت کې به بل کال به

مِثْلُهُمْ " قَالُوا الْفِدَاءَ

د دې صحابؤ همدومره کسان وژلى کېږي. صحابؤ اختيار اوږدلو سره عرض وکړو چې مونږ فديه اخستل

وَيُقْتَلَ مِنَّا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]

او د خپل اوياؤ (۷۰) کسانو د وژلو اختيار ورکوؤ.

توضيح القتل أو الفداء: بدر کې کوم خلک ګير شوي ؤو هغه د مکې اويا (۷۰) سړي ؤو. چې هغه مشهوره کسان هم ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته الله تعالى اختيار ورکړو چې که دا خلک وژني يا ترېنه فديه اخلي خو د فديې په صورت کې به بل کال له ستاسو اويا کسان وژلى کېږي. دې فيصله باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صورت حال د صحابه کرامو مخې ته کيښودلو او خپله رائى يې دا ورکړه چې فديه اخستل ښه دي. صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم فديه اخستل غوره وګڼله چې اوس مهال په فديې سره د جهاد ميدان مستحکم شي، باقي خو مونږ د شهادت لټونکي يو. که زمونږ کسان بل کال

([1]) رقم الحديث ۳۹۷۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۳۵/۳ رقم الحديث ۲۶۸۶

([2]) رقم الحديث ۳۹۷۳ أخرجه الترمذي في السنن ۱۱۴/۴ رقم الحديث ۱۵۶۷

له شهیدان شي نو هیڅه باک نه کوي. د عام صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هم دغه رائی وه. صرف د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت سعد بن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رائی دا وه چې دا د قریشو سرداران دي. فدیه اخستل پکار نه ده بلکې وژل یې پکار دي. بهرحال فیصله د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د عام صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د رائی مطابق وشوه، نو دې باندې د الله له اړخه ډېر سخت وعید راغلو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تر دې بوتې پورې عذاب راورسیدلو. که عذاب الهی راغلی وی نو د عمر او د سعد نه بغیر به هیڅ نه وی بچ شوی. اوس پوښتنه دا ده چې مسلمانانو ته په دواړو شیانو کې یو شي د اختیارولو اختیار ؤو، نو بیا دا وعید او رټنه ولې راغله؟ د دې جواب دا دی چې دا اختیار هم د امتحان په توګه ؤو. الله په نزد فدیه اخستل نه ؤو. چې کافر ؤوژلی شي، په دې وجه رټنه راغله.

د قیدانو په عمر کې تحقیق او څېړنه

﴿۱۵﴾ عَن عَطِيَّةَ القُرَظِيِّ قَالَ: كُنتُ فِي سَبْيِ قُرَيْظَةَ
او حضرت عطیه قرظی فرمایي چې د بنو قریظه کوم خلک قیدیان شوي ؤو هغې کې زه هم ؤم. مونږ د
عُرِضْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته وړاندې کړی شول. هغه و[illegible] صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دا طریقه اختیار کړه چې قیدیانو
فَكَانُوا يَنْظُرُونَ فَمَنْ أَنْبَتَ
کې چې کوم د کم عمر والا ؤو، د هغوی نامه لاندې ویختان به یې پرانستل او کتل به یې. د کوم چې د نامه لاندې ویختان
الشَّعَرَ قُتِلَ وَمَنْ
راغټ شوي ؤو هغوی یې وژل، ځکه د نامه لاندې ویختان رابښتل د بلوغت علامه ده. لهذا داسې کس به د
لَمْ يُنْبِتْ لَمْ يُقْتَلْ
مسلمانانو سره جنګ کونکی شمارل کېدو. او د کوم به چې د نامه لاندې ویختان نه ؤ راغټ شوي هغوی به یې نه وژل،
فَكَشَفُوا عَانَتِي فَوَجَدُوهَا
ځکه هغوی به یې په ذریت یعنې ماشومانو کې شمارل، نو زما د نامه لاندې ویختان هم پرانستلی
لَمْ تُنْبِتْ فَجَعَلُونِي فِي السَّبْيِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه. والدارمي[1]
شول او چې راغټ شوي ویختان په کې ونه موندلی شول نو زه یې په قیدیانو کې ژوندی پرېښودم.

([1]) رقم الحديث ۳۹۷۴ أخرجه ابوداود في السنن ۵۶۱/۴ رقم الحديث ۴۴۰۴ والترمذي في ۱۲۳/۴ رقم الحديث ۱۵۸۴

توضیح : **القرظی**: دا د نبو قریظه اړخ ته نسبت دی. حضرت عطیه ته الله د اسلام توفیق ورکړو او اوس هغه په آخرت کې مزې کوي او په دنیا کې د مسلمانانو لپاره شیخ الحدیث جوړ شو. صحابه د نامه لاندې ویختان د بلوغت علامه ګڼلې ده. فقهاؤ هم دا د بلوغت علامه ګڼلې ده. (مرقات ۵۳۰/۷)

یو مسلمان کافر ته په لاس ورکول حرام دي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ عِبْدَانٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د صلح حديبيه په وړځ د مسلمانانو او د کفارو په مينځ کې

يَعْنِي الْحُدَيْبِيَةَ قَبْلَ الصُّلْحِ

معاهده د ليکلو نه مخکې څه غلامان د مکې نه راغلل او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شول.

فَكَتَبَ إِلَيْهِ مَوَالِيهِمْ قَالُوا: يَا مُحَمَّدُ وَاللهِ

د هغې مالکانو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خط وليکلو چې ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! قسم په خدای چې

مَا خَرَجُوا إِلَيْكَ رَغْبَةً فِي دِينِكَ وَإِنَّمَا

دا غلامان د دې لپاره تاته نه دي راغلي دي دوی ستا د دين اړخ ته رغبت لري بلکې دا د غلامۍ نه

خَرَجُوا هَرَبًا مِنَ الرِّقِّ.

خلاصون په غرض تښتېدلي دي. کله چې په صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې څه خلکو دا خط وليدلو نو

فَقَالَ نَاسٌ: صَدَقُوا يَا رَسُولَ اللهِ

عرض يې وکړو چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د هغوی مالکانو بالکل صحيح ويلي دي. ته دا

رُدَّهُمْ إِلَيْهِمْ فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ:

غلامان د هغوی مالکانو ته بېرته ولېږه. دې اوربدلو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غُصه شو او ويې فرمايل

مَا أُرَاكُمْ تنتهونَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ حَتَّى

چې ای د قريش والو! زه وينم چې تاسو به د خپلې سرکشۍ او نافرمانۍ نه لرې نه شئ تر هغه وخته

يَبْعَثَ اللهُ عَلَيْكُمْ مَنْ يَضْرِبُ رِقَابَكُمْ عَلَى هَذَا

چې الله په تاسو داسې کس مسلط نه کړي چې د ستاسو د خوښې فيصلې باندې ستاسو څټو والوځئ.

وَأَبَى أَنْ يَرُدَّهُمْ وَقَالَ: هُمْ عُتَقَاءَ اللهِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُد[1]
بيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غلامانو د بېرته لېږلو مطالبه رد کړه او ويې فرمايل چې د الله تعالى له ازاد شوي دي.

توضيح: فغضب: نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځكه غُصه شو چې دا غلام خالص مسلمان ؤ او خلكو مطالبه كوله چې دا هغه خپلو زړو مالكانو ته حواله كړه او د ازادېدلو نه وروسته دې هغه بيا غلامان شي. (مرقات ۵۳۰/۷)

الفصل الثالث

په يَوې بې غورئ سره د ټولو لپاره مصيبت

﴿۱۷﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بنى
بَنِي جَذِيمَةَ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ
جذيمه قبيلي ته ولېږلو. خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغوى ته د اسلام دعوت وركړو. هغه خلكو د اضطراب او وارخطايي په حالت
فَلَمْ يُحْسِنُوا أَنْ يَقُولُوا: أَسْلَمْنَا
كې په ښه ډول دا ونه ويلى شو چې مونږ اسلام راوړى دى يعنې په خپلو ژبو سره يې د اسلام كلمه پوره ادا نه كړى شوه.
فَجَعَلُوا يَقُولُونَ: صَبَأْنَا صَبَأْنَا
بلكې هغوى دا وويل چې صبأنا صبأنا يعنې مونږ دين پريښود لو يا خپل دين مو پريښود لو.
فجعلَ خالدٌ يقتلُ ويأسِرُ
خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د هغوى د ژبو نه دا واوړېدل نو د هغوى د ځپنو وژل او د ځپنو قيديان يې شروع كړه او بيا
وَدَفَعَ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ
مونږ چې كوم خلك د هغې سره ؤو. مونږ ته يې د هغوى نه هريو ته قيدي راكړو يعنې كوم خلك چې قيديان شوي ؤو.
حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمٌ أَمَرَ
په مونږ ته يې تقسيم كړل او يو يو قيدي يې هريو ته وركړو او دا حكم يې وكړو چې مونږ تر هغه وخته پورې د هغه قيديانو حفاظت

[1] رقم الحديث ۳۹۷۵ أخرجه أبوداود في السنن ۱۴۸/۳ رقم الحديث ۲۷۰۰

خَالِدٌ	أَنْ	يَقْتُلَ
وکړو چې تر څو پورې د هغې وژلو حکم ونه کړی شي، نو کله چې هغه ورځ راغله چې کومه کې خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قیدیانو		
كُلُّ	رَجُلٍ	مِنَّا
د وژلو فیصله کړې وه، نو هغې مونږ ته حکم وکړو چې مونږ هر یو کس خپل قیدي مړ کړو. دې حکم اوږدلو		
فَقُلْتُ: وَاللهِ لَا أَقْتُلُ أَسِيرِي وَلَا يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِي		
سره ما وویل چې په خدای قسم زه خو خپل قیدي نه وژنم او زما ملګرو کې به هم هیڅ یو کس خپل		
أَسِيرَه	حَتَّى	قَدِمْنَا
قیدي نه وژني. بلکې مونږ خپل قیدیان تر هغه وخت پورې په حفاظت کې ساتو چې تر څو پورې مونږ ته		
إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم		
د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ له اړخه نه حکم نه وي شوی او د دې باره کې یو آخري حکم حاصل نه کړو. مونږ خپل خپل قیدیان خپل حفاظت		
فذكرناهُ	فَرَفَعَ	يَدَيْهِ
کې وساتل تر دې چې مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو او ټوله واقعه مو بیان کړه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې اوږدلو سره دواړه		
فَقَالَ:	اللّٰهُمَّ أَنِّي	أَبْرَأُ إِلَيْكَ
لاسونه اوچت کړل چې ای الله! زه ستا په درکې د خالد د عمل نه د خپلې بیزارئ او د بې رضایئ اظهار کوم.		
مِمَّا صنعَ خالدٌ مرّتينِ. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]		
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا الفاظ دوه ځل وویل.		

توضيح صبأنا صبأنا: دا د اسلام قبولو یو تعبیر ؤو. دې باره کې صحابه کرامو او خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا خیال ونه کړو چې دا خلک په اسلام کې د دخیلدلو په غرض دا الفاظ وایي. دې وجه ځینې صحابه کرامو د خپل قیدیان د ازادولو په ځای مړه کړل. دې باندې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه اوچت کړل او د خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې کار نه یې برأت اعلان کړو. علماؤ لیکلي دي چې د وینې غورځولو په سلسله کې په مبهم الفاظو باندې کله هم عمل کول پکار نه دی. (مرقات ۵۳۱/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۷۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳، ۱۸۱ رقم الحديث ۷۱۷۹ وأحمد في المسند ۱۵۱/۲

باب الامان

د امان ورکولو بیان

قَال الله تعالى: وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ (سورة التوبة: ٦)

﴿١﴾ عَن أُم هَانِئٍ بنت أَبِي طالِبٍ قالتْ: ذهبتُ إِلى رسولِ الله عَامَ الْفَتْحِ

ام هانی رَضِیَ اللهُ عَنْهَا بنت ابی طالب وائی دمکي د فتح په موقع زه د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضره شوم

فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت غسل کولو او د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ لور فاطمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په کپړې سره د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ پرده کړې وه

فَسَلَّمْتُ فَقَالَ: - «مَنْ هٰذِهِ؟» فَقُلْتُ: أَنَا أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ:

ما سلام اوکړو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس اوکړو څوک ده ما عرض اوکړو زه ام هانی بنت ابو طالب یم نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمائیل

«مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ» فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ قَامَ فَصَلَّى

ام هانی خوش آمدید کله چه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د غسل نه فارغ شو نو د بدن مبارک نه ئې کپړه تاؤ کړه او دردو او د څانبښت د مونځ

ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ الله زَعَمَ

اته رکعته ئې اوکړل کله چه د مونځ نه فارغ شو نو ما عرض اوکړو یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما د مور

ابْنُ أُمِّي عَلِيٌّ أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلًا أَجَرْتُهُ

ځوې یعنی د حضرت علی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ګمان دې چه هغه د هغه سړی قتلونکی دې کوم ته چې ما په خپل کور کې پناه

فُلَانَ بْنَ هُبَيْرَةَ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قَدْ أَجَرْنَا

کور کې پناه ورکړې ده یعنی فلانې سړې چه د هبیره ځوې دې نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمائیل اې ام هانی!

مَنْ أَجَرْتِ يَا أُم هَانِئٍ» قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ وَذٰلِكَ ضُحًى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

چاته چه تا پناه ورکړې ده ګویا هغه ته مونږ پناه ورکړې ده ام هانی رَضِیَ اللهُ عَنْهَا وائی چه دا واقعه د څانبښت د وخت ده

وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ: قَالَتْ: أَجَرْتُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَحْمَائِي

او د ترمذی په روایت کې داسی دی چې ام هانی رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عرض اوکړو ما دوؤ سړو ته پناه ورکړې ده

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قد أمنا من أمنت» (۱)

چه زما د خاوند رشته دار دی نبی عَلَيْهِ السَّلَام او فرمائیل زمونږ د طرف نه هغه سړي په امان دي چا ته چه تا امان ورکړي دي.

توضیح : **یغتسل** :نبی عَلَيْهِ السَّلَام د فتح مکې په موقع باندې د وادی محصب سره یوځای باندې دخپل اوسیدو دپاره یوه خیمه لګولې وه او هم هلته ئې خپله جهنډا خخه کړې وه په دغه ځای باندې نن سبا یو جمات موجود دي چه نوم ئې مسجد رایه دي کوم چه د چهپره بازار په آخره کې دي نبی عَلَيْهِ السَّلَام په دي ځای کې غسل فرمائیلې وو چرته چه ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا راغلې وه. د ام هانی اصل نوم فاخته یا عاتکه وو. د نبی عَلَيْهِ السَّلَام د تره ابو طالب لور وه. دهغې د خاوند هبیره وو. د فتح مکې په ورځ نبی عَلَيْهِ السَّلَام دعامې معافئ اعلان کړې وو مګر دا شرط ئې کیخودې وو چه څوک وسله اوغورزوی یا دکور دروازه بنده کړی یا په حرم کې یا مسجد حرام کې داخل شی یا د ابوسفیان په کور کې داخل شی هغه په امن کې دي. حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه کله د خپلې خور ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کور کې داخل شو نو هلته یو سړي ملاؤ شو. حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خیال اوکړو چه لکه دې سړی ته امن حاصل نه دي. لهذا هغه ئې قتلول غوښتل حضرت ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا رامخې ته شوه مګر حضرت علی په سخت غصه کې وو. ام هانی رامنډه کړه او نبی علیه السلام له راغله او امن ئې حاصل کړو. نبی علیه السلام امن ورکړو. ام هانی حضرت علی ته ابن امی د شفقت په وجه اووئیلو ځکه چه دمور مینه زیاتوی. دفلان بن هبیره نه هم دغه سړي مراد دي چه د هبیره ځوي وو په تفصیلی روایت کې دی چه دا دوه سړی وو چه د هبیره رشته دار وو کیدې شی یوئې ځوي وی دویم بل څوک وی. (مرقات ۵۳۳/۸، ۵۳۲)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

د بنځې د عهد و امان لحاظ ساتل په مسلمانانو باندې لازم دی

﴿۲﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْمَرْأَةَ لَتَأْخُذُ لِلْقَوْمِ»

حضرت ابو هریره نه روایت دي چه نبی علیه السلام او فرمائیل بنځه دیو قوم دپاره عهد اخستې

يَعْنِي تُجِيرُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (۲)

شی. یعنی هغه د مسلمانانو د طرف نه پناه ورکولې شی. (ترمذی)

توضیح : یعنی کم نه کم د بې نامې سړی تردې چه که بنځه هم په جنګ کې یو کافر ته پناه ورکړی نو

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۷۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۷۳/۶ رقم الحديث ۳۱۷۱ ومسلم في ۴۹۸/۱ رقم الحديث ۳۳۶/۸۲.

(۲) رقم الحديث ۳۹۷۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۲۰/۴ رقم الحديث ۱۵۷۹.

په تولو مسلمانانو باندې لازم دی چه هغوی د دغه ښځې د عهد او امان حفاظت او خیال اوساتی او غداری اونه کړی مسلمانانو له سوچ کول پکار دی دا د اسلام حکم دې په دې باندې مسلمانان ولې عمل نه کوی په وزیرستان کې نن صبا په زرګونو مسلمانان یو څو مهاجرینو ته امن ورکړې دې کوم چه خالص مسلمانان دی مګر د پاکستان ملحد حکومت په هغوی باندې بمباری کوی او دغه امن ماتوی او دغداریٔ مرتکب کیږی. (مرقات ۵۳۲/۸)

﴿۳﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَمِقِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُولُ: «من أَمَّنَ رَجُلًا

او عمرو بن حمق وائی چه د نبی علیه السلام نه واوریدل کوم سړې چه چاته د سرامان ورکړی

عَلَى نَفْسِهِ فَقَتَلَهُ أُعْطِيَ لِوَاءَ الْغَدْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» . رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[1]

اوبیا هغه قتل کړی نو د قیامت په ورځ به هغه ته د بدعهدیٔ نښه ورکولې شی (شرح السنة)

توضیح: یعنی په عرصاتو د قیامت کې به مشهورولې شی چه فلانکی سړی غداری کړې وه په دې شهرت سره به د دغه سړی تذلیل اوسپکاوې کیږی. خلقو ته به وئیلې شی چه اوګورئ دا سړې څومره ذلیل دی.

﴿۴﴾ وَعَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: كَانَ بَيْنَ مُعَاوِيَةَ وَبَيْنَ الرُّومِ عَهْدٌ

او سلیم ابن عامر تابعی رحمه الله وائی چه د امیر معاویه او رومیانو په مینځ کې دا معاهده شوې وه چې

وَكَانَ يَسِيرُ نَحْوَ بِلَادِهِمْ حَتَّى إِذَا

دومړې ورځې به یو بل سره جنګ نه کوی. او حضرت معاویه رضی الله عنه به د دې وعدې بهزمانه کې د رومیانو په ښارونو کې

انْقَضَى الْعَهْدُ أَغَارَ عَلَيْهِمْ

ګشت کولو او د حالاتو اندازه به اخسته چې کله د وعدې موده تیره شی نو په هغه ورځ به په رومیانو باندې یو ځل حمله اوکړی

فَجَاءَ رَجُلٌ عَلَى فَرَسٍ أَوْ بِرْذَوْنٍ

امیر معاویه رضی الله عنه خپل لښکر والو سره د رومیانو په ښار کې ګرځیدې یو سړی عربی یا ترکی اس باندې سوریدو سره راغلو

وَهُوَ يَقُولُ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ وَفَاءٌ

چې الله اکبر الله اکبر د وفا لحاساتی نه چې د بدعهدیٔ یعنی تاسو باندې معاهده پوره کول لازم دی نه چې تاسو د معاهدې خلاف

لَا غدر فَنظر فَإِذا هُوَ

ورزی کوی ګویا هغه دا واضحه کړه چه تاسو خلق د وعدې د پاسداری لحاظ ساتلو علاممنده بلکه دا وعده شکنی او د وعدې د

([1]) رقم الحديث ۳۹۷۹ أخرجه ابن ماجه في السنن ۸۹۶/۲ رقم الحديث ۲۶۸۸ وأحمد في المسند ۲۲۳/۵.

عَمْرو	ابْن	عَبَسَةَ	فَسَأَلَهُ
خلاف ورزې حکم کې داخل دی هر کله چه خلقو ولیدل نو معلومه شوه چې دا سړې یو صحابی حضرت عمرو بن عبسه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې،			
مُعَاوِيَةُ	عَنْ	ذَلِكَ	فَقَالَ:
حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دهغه نه دا تپوس او کړو چه د رومیانو په ښارونو کې ګرځیدل د عهد شکنئ برابر څنګه دی هغه اوویل			
سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ			
ما د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوریدلې دی د کوم سړی او کوم قوم په مینځ کې چه وعده وی نو هغه ته پکار دی چې هغه خپل وعده ماته کړی او			
عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَّ			
نه ئې بدله کړی تردې چې دهغه موده تیره شی یا هغوی خبر ولو سره د د برابرې په بنیاد خپله وعده ماته کړی یعنی دهغه وعدې خلاف			
عَهْدًا	وَلَا		يَشُدَّنَّهُ
کول یا خو په هغه صورت کې جائز دی هر کله چې دوعدې وخت ختم شوې وی یا په هغه صورت کې جائز دې هر کله چې د څه مجبورې			
حَتَّى	يُمْضِيَ		أَمَدَهُ
یا مصلحت په بناء د مودې په دروان کې وعدم اتول ضرور شوې وی او مخالف فریق د مخکې نه خبردار شوې وی چې زمونږ			
أَوْ	يَنْبِذَ	إِلَيْهِمْ	عَلَى
او ستاسو په مینځ کې کومه وعده شوې وه مونږ هغه ماتوو او اوس مونږ او تاسو دواړه برابر یو چې د چا څه مرضی وی هغه دې او کړی			
سَوَاءٍ»	.	قَالَ:	فَرَجَعَ
د حدیث راوی مسلم ابن عامر وائی امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت ابن عبسه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا خبره او د			
مُعَاوِيَةَ بِالنَّاسِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[1]			
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حدیث په اوریدو سره خپلو خلقو سره د رومیانو د ښارنه خپل کمیپ ته واپس راغلو،			

توضیح: یسیر حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د معاهدې په دوران کې حمله نه کول غوښتل بلکه هغوی دا سوچ اوکړو چې کله د معاهدې موده ختمه شی نو د حملې کلوو دپاره به فوج تیارشی په دې غرض هغه اسلامی فوجونه د روم سرحد ته رسول غوښتل حضرت معاویه رضی الله عنه دا تیاری کوله

---

(1) رقم الحديث ۳۹۸۰ أخرجه أبوداود في السنن ۱۹۰/۳ رقم الحديث ۲۷۵۹ والترمذي في ۱۲۱/۴ رقم الحديث ۱۵۸۰

چې یو صحابی په عربی اس یا ترکی اس باندې راغلو او وې فرمائیل چه وفاداری کوئ غداری مه کوئ یعنی یا دمودې پوره کیدو نه پس فوج روان کړئ او یا په وجه د مصلحت د معاهدې د ختمولو واضح علان او کړې دې دپاره چه دښمن ناخبره پاتې نه شی.

ینبذ الیهم علی سواء : هم دغه مطلب دې حضرت معاویه رضی الله عنه دا حدیث اوریدو سره فوجونه واپس کړل سبحان الله ددین یوې خبرې څومره خیال ساتل وو، ددې حدیث ترجمه او مطلب صاحب مظاهر حق جدید صحیح نه دې لیکلې خیال کول پکار دی. (مرقات ۸/۵۳۶، ۵۳۵)

فلا یحلن یعنی معاهده دې نه ماتوی او غداری دې نه کوی. (مرقات ۸/۵۳۵)

ولا یشدنه : مطلب دادې چې په معاهده کې دې څه تغیر نه کوی که دنوې معاهده سره ولې نه وی دا ئې د مبالغې په توګه او فرمائیل چه په معاهده کښ دې څه تغیر نه کوی ګنی د تجدید د معاهدې ممانعت نشته دې. **فرس** : عربی اس برذون ترکی اس (مرقات ۸/۵۳۶).

دوعدې پوره کولو اهمیت

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ: بَعَثَنِي قُرَيْشٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابو رافع رضی الله عنه وائی د صلح حدیبیه په مقام د قریشو کفارو زه خپل قاصد جوړ ولو سره د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کې

فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُلْقِيَ فِي قَلْبِيَ الْإِسْلَامُ

ولیدلم هر کله چې زما نظر په نبی صلی الله علیه وسلم ولګیدلو نو بې اختیاره زما په زړه کې د اسلام صداقت او حقانیت ځای او کړلو

فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي وَاللهِ لَا أَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا قَالَ:

ما عرض او کړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه به اوس هیڅ کله دې د قریشو کفارو ته واپس نشم نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل

«إِنِّي لَا أَخِيسُ بِالْعَهْدِ وَلَا أَحْبِسُ الْبُرُدَ وَلَكِنِ ارْجِعْ فَإِنْ كَانَ فِي نَفْسِكَ

زه نه خو وعده ماتوم او نه قاصدان بندوم البته اوس ته واپس لاړشه که ستا په زړه کې هغه څیز یعنی اسلام قائم وی

الَّذِي فِي نَفْسِكَ الْآنَ فَارْجِعْ».

کوم چه دا وخت دې نو بیا ماته راشه حضرت ابو رافع رضی الله عنه وائی د نبی صلی الله علیه وسلم د حکم مطابق زه مکې ته واپس لاړم

قَالَ: فَذَهَبْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم فَأَسْلمت. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

او بیا دنبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو اسلام مې قبول کړو یعنی دخپل اسلام مې اعلان او کړو. (ابوداود)

توضیح: لا أُخيس: خاس یخیس د معاهدې ماتولو په معنې کې دې ای لا أنقض العهد (مرقات ۵۳۷/۸).

البرد: دا د برید جمع ده ډاک او پیغام اوړونکې او راوړونکې قاصد ته وائی. (مرقات ۵۳۷/۸)

علامه طیبی رحمه الله لیکی چه برید په اصل کې قچرته وئیلې شو دا لفظ په اصل کې بریده دم وو کوم چه د فارسئ لفظ دې یعنی هغه قچر دکوم د لکئ وینښته چې پرې کړې شوې وی. دداسې قچر د لکئ نه به اوږده وینښته پرې کولې شو بیا عربو دا مخفف کړو نو برید شوبیا ددې اطلاق د قچر په سوریدونکی باندې اوشو. بیا برید په هغه مسافت باندې وئیلې شو کوم چه د اس د منډې په مقدار وو چه دولس میله پورې به وو. پخوانئ زمانه کې د ډاک او پیغام اوړلو راوړلو یو عجیبه تیز نظام وو هغه به داسې وو چه په هر برید باندې ښه تازه اس ولاړو وو. مثلاً د لاهور نه دهلی پورې د مغل بادشاهانو په زمانه کې په هر برید باندې اسونه وو. دولس میله پورې اس د ښه تیز ګاډی په شان منډې وهی بیا سترې کیږی. د یو برید پورې چه به دغه اس منډه وهله نو دیو برید نه پس دا اس پاتې کیدو او دهغه ځاې نه به تازه دم اس سامان اخستلو او روانیدلو به دویم برید ته رسیدو سره به اودریدو دهغه ځاې نه به بل اس روانیدو. نو د سحر د وخت تماتر به د لاهور نه د مابنام کیدو نه وړاندې دهلی ته رسیدل او هغه ځاې نه به لاهور ته سامان راتلو. د ډاک نظام به هم دغه شان چلیدلو (الکاشف ۲۵،۲۶/۷)

﴿ ۲ ﴾ وَعَنْ نُعَيْمِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلَيْنِ

او نُعیم ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه دوو سړو ته وفرمائیل کوم چې

جَاءَ مِنْ عِنْدِ مُسَيْلِمَةَ: «أَمَّا وَاللهِ لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ

د مسیلمه سره راغلې وو چې یاد لرئ قسم په خداې که د قاصد قتلول شرعی طور سره ممنوع نه وې

لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد[2]

نو ما به ستاسو څټونه الوزولې وې.

([1]) رقم الحديث ۳۹۸۱ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۹/۳ رقم الحديث ۲۷۵۸ وأحمد في المسند ۸/۴ .

([2]) رقم الحديث ۳۹۸۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹۱/۴ رقم الحديث ۲۷۶۱ وأحمد في المسند ۴۸۷/۳ .

توضیح: لرجلین: دا دوه قاصدان وو دیو نوم عبدالله بن نواحه وو او دبل نوم ابن اثال وو لکه چه په حدیث نمبر ۸ کې راځی. (مرقات: ۵۳۸/۸)

مسیلمه: داسړي مسیلمه کذاب ووچه د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وصال نه پس ځې د نبوت دعوی کړې وه. بلکه د نبی پاک صلی الله علیه وسلم په اخری عمر کې ځې دعوی کړې وه، نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له په یو وفد کې دې هم راغلې وو مګر ملاقات ځې نه دې کړې. ده نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یو خط لیکلې وو، نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جواب کې الی مسیلة الکذاب لیکلې وو، هم په دې سره کذاب مشهور شو حضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه د مرتدینو خلاف کوم جنګونه کړې وو په هغې کې زیات جنګونه هم دې مسیلمه کذاب سره شوې وو. حضرت خالدرضی الله عنه په ده باندې حمله اوکړه مسیلمه کذاب سره څلویښت زره طاقتور فوج وو. د یمامه به جنګ کې په یو قلعه کې لاس په لاس جنګ اوشو په ګنړ شمیر صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ شهیدان شول. وحشی بن حرب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مسیلمه کذاب باندې حمله اوکړه او قتل ځې کړو. دغه وخت د مسیلمه کذاب عمر ۱۲۰ کاله وو چرته چه دا جنګ اوشو د اکثرو مړو د وجې نه د دغه ځای نوم حدیقة الموت مشهور شوې وو.

الرسل: قاصد چه څنګه پیغام راوړی هم هغه شان واپس پیغام اوړی هم په دې وجه دا په خپل مینځ کې د رابطې او د مذاکراتو واحد ذریعه وی. کوم چه د طرفینو په مفاد کې وی. په دې وجه په بین الاقوامی طور باندې د قاصدانو احترام کولې شی او د دوی قتل نه شی کولې. د اسلام قانون هم دغه دې لیکن صبا چه کوم سفیران وی دا صرف جاسوسان وی مګر نوم ځې د قاصد او سفیر دې.

اعناقکما: یعنی د نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وړاندې دې د واړو قاصدانو د مسیلمه کذاب د نبوت ګواهی ورکړه په دې وجه واجب القتل وو خو که قاصدان نه وې. (مرقات ۵۳۸/۸)

د اسلام ضابطه مکمل او کافی ده

﴿۷﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او عمرو بن شعیب خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوی چه نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ورځ د

قَالَ فِي خُطْبَةٍ: «أُوفُوا بِحِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ

خپلې خطبې په دوران کې دا وفرمایل چې تاسو د زمانه جاهلیت قسم پوره کوئ ځکه چې هغه یعنی

فَإِنَّهُ لَا يَزِيدُ يَعْنِي الْإِسْلَامَ إِلَّا شِدَّةً

یعنی اسلام هغه قسم زیات مضبوطوی مطلب دادې چې خپل قسم او خپله وعده پوره کول په اسلام کې ډیر زیات ضروری دی

وَلَا تُحْدِثُوا حِلْفًا فِي الْإِسْلَامِ».
ددې په اعتبار سره اسلامی احکام او وعده پوره کول او حلف کې څه قضاء نشته او په اسلام کې حلف یعنی قسم تمرواج مه ورکوئ.
رَوَاهُ التِّرمذيُّ من طريقِ ابنِ ذَكْوَانَ عَنْ عَمْرٍو
امام ترمذی رحمه الله دا حدیث د حسین ابن ذکوان په سند سره بروایت عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقل کړی دی
وَقَالَ: حَسَنٌ وَذَكَرَ حَدِيثَ عليٍّ: «المسلمونَ تَتَكَافَأُ» فِي «كتاب الْقِصَاص» [1]
او ویلی ئې دی چې دا حدیث حسن دی او د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت المسلمون تتکافادمائهم په کتاب القصاص کې ذکر شوی دی.

توضیح : أوفوا : یعنی د جاهلیت په زمانه کې چه کومه معاهدې شوې دی دهغې خیال او ساتئ اسلام هغه نه ماتوی بلکه نوریې مضبوط او مستحکم کوی خو په دې کې به هغه ټولو قواعدو ته کتلې شی چې د اسلام د قواعدو مطابق وی د اسلام مخالف قواعد به په ځاې نه شی ساتلې. (مرقات ۵۳۸/۸)

ولاتحدثوا : یعنی د میراث داحکاماتو د نافذ کیدو نه پس د بل څه نوې معاهدې ضرورت نشته چه څوک چالره خپل وارث جوړولو معاهده اوکړی ځکه چه کوم حقوق اسلام ورکړی دی میراث هغه متعین کړې دی. (مرقات ۵۳۹/۸)

الْفَصْلُ الثَّالِث

د مسیلمه کذاب دوه قاصدان

﴿۸﴾عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: جَاءَ ابْنُ النَّوَّاحَةِ وَابْنُ أُثَالٍ رَسُولَا مُسَيْلِمَةَ
ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې مسیلمه کذاب د نبوت مدعی دوه قاصدان ابن نواحه او ابن اثال د
إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمَا:
نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته او فرمایل آیا تاسو د دې حقیقت
«أَتَشْهَدَانِ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟» فَقَالَا: نَشْهَدُ أَنَّ مُسَيْلِمَةَ رَسُولُ اللهِ
گواهی ورکوی چې زه د الله رسول یم هغه دواړو وویل نه بلکه مونږ د دې گواهی ورکوو چې مسیلمه د خدای رسول دی
فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «آمَنْتُ بِاللهِ وَرَسُولِهِ
نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې اوریدو سره او فرمائیل ما په الله او د هغه په رسول ایمان راوړی دی که

([1]) رقم الحديث ۳۹۸۳ اخرجه الترمذي في السنن ۱۲۴/۴ رقم الحديث ۱۵۸۵ وأحمد في المسند ۲۱۳/۳

وَلَوْ	كُنْتُ	قَاتِلًا	رَسُولًا	لَقَتَلْتُكُمَا». قَالَ

زه د قاصد انو او استازو قتلونکي وې نو یقیناً مابه تاسو دواړه قتل کړي وې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې

عَبْدُ	اللهِ:	فَمَضَتِ	السُّنَّةُ

ارشاد مبارک پیش نظر دا سنت جاری شو یعنی دا ضابطه او کړئیدله چې هیڅ قاصد او استاذي نه شی قتلولې

أَنَّ	الرَّسول	لَا	يُقتَلُ.	رَوَاهُ أَحْمد [1]

برابر خبره ده که هغه هر څومره غیر مناسب خبره ولې اونه کړی او د قتل سزا وار ولې نه وی. (احمد)

توضیح: نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مسیلمه کذاب د دوؤ قاصدانونه د خپل نبوت او رسالت گواهی اوغوښتله نو هغوی په جواب کې اوویل چه مونږ خو صرف مسیلمه رسول منو په دې وجه ستاسو دنبوت گواهی نه شو ورکولې ددې په جواب کې نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لوې منصف په حیثیت سره جواب کې اوفرمائیل چه زه الله تعالی او د هغه رسولان منم مسیلمه کذاب رسول نه دې بلکه کذاب او ملعون دې او ستاسو د ناخوښه خبرو اترو په وجه تاسو واجب القتل ئې لیکن زه قاصدان نه قتلوم په دې وجه تاسو بچ شوې. راوی په دې باندې تبصره کوی او فرمائی چه د حضور پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کلام سره بین الاقوامی طرز باندې دا ضابطه روانه شوه چه هیڅ یو قاصد او ایلچی به قتلولې نه شی. (مرقات ۵۴۱/۸، ۵۴۰)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(۱) رقم الحديث ۳۹۸۴ أخرجه احمد في المسند ۳۸۴/۱

باب قسمة الغنائم و الغلول فیها
د مالِ غنیمت تقسیم او د خیانت بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿واعلموا ان ما غنتم من شئ فان لله خمسه وللرسول ولذی القربی الخ﴾ (الانفال: ۴۱)

غنائم د غنیمة جمع ده. میدان جهاد کې د کفارو نه د جنګ په ذریعې سره چې کوم مال حاصلیږي. هغې ته مالِ غنیمت وایي. که یو مال د جنګ نه بغیر نه حاصل شي هغې ته مالِ فئ وایې. چې د هغې ذکر په جدا باب کې راتلونکی دی. مالِ غنیمت ته انفال او نفل هم وایي. نفل د ئاد په معنی کې دی.

دا چې د جهاد اصل مقصد اعلاء کلمة الله وي او مال د دې مقصود نه زیات حاصل شي، ځکه دې ته نفل یا زائد وایي. د "واعلموا انما غنتم" په آیت کې الله تعالی د مالِ غنیمت تقسیم کړی دی چې څلور برخې د مجاهدینو لپاره او پنځه برخه د بیت المال ده. د غنائمو په بحثونو کې یو څو اصطلاحي الفاظ راغلي دي. په هغې باندې پوهه کېدل لازمي دي.

الغنیمة: جهاد في سبیل الله کې چې د متو په زور د کفارو نه چې کوم مال حاصلیږي. هغې ته مالِ فئ وایي. (مرقات ۵۴۱/۷)

تنفیل: دا د نفل نه دی. چې زیاتوالي په معنی دی. باشاه یا امیرا لحرب چې په یوه کارنامه باندې مجاهد ته کوم انعام ورکوی. هغه تنفیل دی. مثالً بادشاه وایي چې که چرې چا قلعه فتح کړه نو هغې له به د قلعې لسمه برخه ورکول کېږي. یا به د کافر بادشاه لُور به هغې ته ورکړی کېږي.

السلب: سلب د قبضه کولو په معنیٰ دی. بادشاه یا امیر الحرب چې کله اعلان وکړي. چې چا کوم کافر مړ کړو نو هغې ته به د مقتول د بدن سامان ملاویږي. مثلاً سات (کهنټه)، د جیب سامان، اسلحه او سورلی وغیره ټول په سلب کې داخل دي.

الرضخ: رضخ د عطیه په معنی کې ده. کومو خلکو ته چې په مالِ غنیمت کې برخه نه ورکول کېږي. که هغوی په جهاد کې شامل شول نو هغوی ته به څه عطیه ورکول کېږي. دغې ته رضخ وایي. د خمس جدا کولو نه وروسته د نور مال نه عطیه غلامانو، ماشومانو او ښځو ته ورکول کېږي.

الصفی: صفی د انتخابولو په معنی کې دی. د تقسیم نه مخکې به نبي کریم ﷺ د یوې توري یا د زغري یا د وینځې انتخاب کولو. د هغې نوم صفي ؤو، نو ویل کېږي ام المؤمنین صفیة رضی الله عنها من الصفیة د نبي کریم ﷺ نه وروسته دا برخه منسوخ شوي ده.

غلول: مالِ غنیمت کې خیانت ته غلول وایي. چې ډیره لویه ګناه ده.

باقي تفصيلات زماد كتاب د دعوت جهاد په ابواب غنائمو كې دي. هلته يې كتل پكار دي.

الفصل الاول

د مالِ غنيمت استعمال د دې امت د خصوصياتو نه دى

﴿۱﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا ذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ

پس د غنيمت مال زمونږ نه مخكې بل هيڅ يو امت لپاره حلال نه ؤ. كله چې الله تعالى مونږ په مالې

رَأَى ضعفنا وعجزنا فطيها لنا (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

تو كه كمزورې او عاجزه وليدلو نو د غنيمت مال يې زمونږ لپاره حلال كړو.

توضيح: فلم تحل: مخكنې امتونو باندې يو څو مذهبې تنگسياوې وي. د دې امت نه الله تعالى د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له بركته هغه تنگسياوې لرې كړې چې د دې امت په خصوصيتونو كې شمارل كېږي. مخكنې امتونو كې مال غنيمت او د قربانئ غوښه استعمالول منع ؤو. د اسمان نه به اور راتللو او مقبول مال به اوسوځېدلو. د دې امت لپاره الله حلال كړې ده. د مخكنې امتونو لپاره د جومات نه بهر د جماعت نه بغير لمونځ جائز نه ؤو. د دې امت لپاره ټول جائز دي. د مخكنې امتونو لپاره د پاكوالې لپاره د اوبو نه بغير د طهارت حاصلولو لپاره بله ذريعه نه وه. د دې امت لپاره يې خاوره د اوبو په ځاى ګرځولې ده. او د تيمم حكم وركړى شوى دى. په يهودو باندې وازګه حرامه وه او د شنبې په ورځ د ماهيانو نيكار هم حرام ؤو او د اونې غوښه حرامه وه. هغوى به كه د شپې وخت كې ګناه وكړه نو د ورځې به يې په دروازې باندې ليكل. جامه باندې به كه نجاست ولږېدلو نو هغه ځاى به يې غوڅولو، د وينځلو اجازت ورته نه ؤو. د دې امت نه دا ټول بوجونه لرې كړى شول. نصارى چې كوم رهبانيت كې ځان اخته كړى ؤو. الله تعالى د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بركت سره مسلمانان د هغه ټولو تنگسيانو نه ازاد كړو. د همدغې احسان ذكر په دې حديث كې دى چې الله تعالى په مونږ باندې احسان وكړو او مالِ غنيمت استعمالول يې راته حلال كړو. (مرقات ۵۳۲/۷)

---

[1] رقم الحديث ۳۹۸۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۲۰/۶ رقم الحديث ۳۱۲۴ ومسلم في ۳۶۶/۳ رقم الحديث (۳۲-۱۷۴۸)

دوژل شوي کافر مال دوژونکي مجاهد دی

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حُنَيْنٍ

او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د مکې د فتحې نه وروسته د غزوه حنين په کال مونږ د جهاد لپاره د

فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره روان شو. کله چې د کافرانو سره زمونږ مقابله وشوه نو د څه لږ وخت لپاره مسلمانان د شکست

فَرَأَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ

سره مخ شول. ما ولېدو چې يو مشرک په مسلمان باندې غالب شوی دی. ما شاته د هغې د څټ په

فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلَى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ فَقَطَعْتُ الدِّرْعَ وَأَقْبَلَ عَلَيَّ

رګ باندې نبه تيز غوزار وکړو او د هغې زغره مې ماته کړه. او هغه مشرک په ما راتاو شو او ماله يې دومره په

فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ

زوره زور کړم چې د هغې په وجه ماله مرګ خوند زاکړو يعنې زه مرګ ته نزدې شوم. زما په يو بل غوزار

ثُمَّ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَأَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ

مرګ هغه ونيولو او زه ترېنه خلاص شوم. د هغې نه وروسته زه د حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مخ

فَقُلْتُ: مَا بَالُ النَّاسِ؟

شوم او ورته اومې ويل چې زما په يو بل غوزار سره مرګ هغه ونيولو او په خلکو څه شوې دي چې

قَالَ: أَمْرُ اللهِ

منډې وهئ؟ هغې وويل چې د الله تعالى همدغه حکم دی يعنې داڅه چې کېږي د قضا او قدرت مطابق کېږي

ثُمَّ رَجَعُوا وَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بيا د خلک د دې عارضې تښتې نه وروسته بېرته ميدان راغلل او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بل ځای کې کيناستلو او وې

فَقَالَ: مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ

فرمايل چې کوم کس څوک مړ کړو او د هغې د وژونکي ګواه وي، اګر که يو ګواه وې نو د وژلې

عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ

شوې مال به د هغې وي. دې اوربدلو سره زه اودربدلم او اراده مې وکړه چې د دې مشرک د وژلو واقعه بيان کړم

سَلَبُهُ	فَقُلْتُ:	مَنْ
خوزړه کې مې وویل چې زما ګواهي به څوک ورکوي چې ما دا مشرک وژلی دی. آخر کې کیناستلم. نبي عَلَيْهِ السَّلَام ییا دغه		
يَشْهَدُ	لِي؟	ثُمَّ جَلَسْتُ
شان وفرمایل چې څوک د دښمن کوم کس مړ کړي او دهغې د وژونکي ګواه وي نو وژلی شوې مال به د هغې وي. ما اودریدل		
ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ		
وغوښتل او واقعه ییانول مې وغوښتل خوزړه کې مې وویل چې زما ګواهي به څوک ورکوي؟ اوزه ییا کیناستلم. نبي عَلَيْهِ السَّلَام		
مِثْلَهُ	فَقُمْتُ	فَقَالَ:
دغه شان ییا پدریم ځل وفرمایل زه چې دا ځل هم اودریدلم خو دخولې نه مې هیڅ راونه وتلی شو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې		
مَا لَكَ يَا أَبَا		قَتَادَةَ؟
ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څه خبره ده. ته دیو غرض مند او د حاجت طلب کونکي په شان بار بار ودریږې او کینې، خو په خوله څه نه وایې؟		
فَقَالَ	رَجُلٌ:	صَدَقَ
نو هلمې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وویل ما فلاني مشرک وژلی دی. یو کس زما خبره واوریدل او وې ویل چې ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رښتیا وې		
وَسَلَبُهُ	عِنْدِي	فَأَرْضِهِ
او دهغه مشرک مال زما سره موجود دی. ته هغه زماله اړخه راضي کړه چې داد خپل حق نه لاس واخلي. او دې ته دې مشرک د مال په بدل		
مِنِّي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ:		
کې څه بل شی ورکړی شی یا دا په دې خبره رضا کړی شي چې دا ماسره په یوه بله طریقه مصالح وکړې. حضرت ابو بکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ		
لَا هَا اللهِ إِذاً لَا		
دې اوریدلو هغه ته وویل چې نا قسم په خدای داسې نه شي کېدلی او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په دې معامله کې		
يَعْمِدُ أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللهِ		
د ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلاف هیڅ اراده نه کوي. ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله په زمرو کې یو زمری دی. چې د		
يُقَاتِلُ عَنِ اللهِ وَرَسُولِهِ		
الله او د هغې د رسول د خوشحالولو لپاره د دښمن سره جنګېږي. بیا دا څنګه امکان لري چې په کوم		

فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
د ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حق دی هغه تاته درکړي؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ته وويل چې ابو بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
صَدَقَ فأُعطه فأعطانيه
صحيح وايي. ته ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه وژلې شوې مال ورکړه، نو هغه کس ماته د هغې مال راکړو. او
فاتبعت بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَإِنَّهُ
بيا وروسته ما د هغه مال په ذريعه يو باغ واخستلو چې په بنو سلمه کې واقع ؤو. او دا د ټولو نه
لَأَوَّلُ مالٍ تأثَّلْتُه فِي الإسلامِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
اولنی مال ؤو چې ماته د اسلام د قبولو نه وروسته حاصل شو.

توضيح جولة: ګرځېدلو او د ګشت به معنی کې دی. مراد دا چې کافر په موږ راتاؤ شول يعنې مونږ شکست وخوړلو. شکست ناکامه ځکه نه ؤو چې دا عارضي تېښته وه. دې کې هيڅوک شهيد شوی نه ؤو او نه زخمي شوی ؤو. (مرقات ۵۴۴/۷)

من يشهدلی: يعنې ما زړه کې وويل چې زما په لاس وژلې شوي باندې به څوک ګواهي ورکړي. صرف او درېدلم. بيا کيناستلم او په خوله مې هيڅ ونه ويل. (مرقات ۵۴۴/۷)

فارضه منی: يعنې کس اقرار وکړو چې د وژلې شوې سامان ما سره دی. وژونکې يې ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی خو زماله اړخه ته هغه راضي کړه يا د هغې له اړخه د خپله ځانه څه مال ورکړه يا دې مفته کې هغه ماته مال پرېږدې. (مرقات ۵۴۴/۷)

لاهاالله: "**ای لا والله**" دا اصل کې قسم دی اګر که زيات مشهور نه دی.

اذاً: د نوين سره دی. ای اذا صدق ابو قتادة يعنې چې د ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبره صحيح وي.

لايعمد: د ضرب د يضرب نه دی. **ای لا يقصد النبي فی ابطال حقه واعطاء سلمه اياك** يعنې چې د ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبره رښتنې ده نو قسم په خدای چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هر ګز داسې نه کوي چې د الله په زمرو کې د يو زمري مال غنيمت تاته درکړي. اصل قصه دا وه چې يو کافر په جنګ حنين کې يو مسلمان پسې شو. حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شاته نه هغه په توره ؤوهلو، هغه راتاؤ شو او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې دومره زور ورکړو چې هغې د مرګ خوشبوي بويې کړله خو دا چې

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۸۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۴/۸ رقم الحديث ۴۳۲۱ ومسلم في ۱۳۷۰/۳ رقم الحديث (۴۱-۱۷۵۱)

کافر سخت زخمي شوی ؤو نو ځکه راوغورځېدلو. ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ېهرته راغلو. د هغه کافرد بدن سامان بل صحابي کوز کړی ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د سامان د اخستلو اعلان وکړو نو ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ګواه په لټه کې شو چې د دې وژلی شوې مال حاصل کړي، خو په ژبه يې هيڅ ونه ويل. بيا هغه کس د سامان د اخستلو اعتراف وکړو خو د سامان د نه ورکولو خبره يې وکړه. صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې باندې قسم وکړو او ويې فرمايل چې داسې به هرګز نه وي. بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سامان ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړو. ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي سلمه په محله کې په هغه سامان باندې يو باغ واخستلو چې هغې پرې مال ذخيره کړو. (مرقات ۵۴۴/۷)

مخرف: باغ ته وايي. **تأثلت:** د ذخيره کولو او د جمع کولو په معنی کې دی. د جمهورو په نزد سلب يوه ضابطه او قاعده ده چې چا کوم وخت کافر مړ کړو. د هغې سلب (مال) د هغه کس وژونکي دی، خو احناف فرمايي چې سلب مستقله ضابطه نه ده بلکې د وخت په توګه د جنګ امير يا د بادشاه د اعلان په بنياد باندې ملاوېږي. که امير اعلان ونه کړو نو هيڅاته به نه ملاوېږي. ظاهري حديثونه د جمهورو په حق کې دي.

د مالِ غنيمت د تقسيم قانون

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْهَمَ لِلرَّجُلِ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مال غنيمت نه يو کس او د هغې د
وَلِفَرَسِهِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ: سَهْمًا لَهُ وَسَهْمَيْنِ لِفَرَسِهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
اَسپې لپاره درې برخې ورکړي يعنې يوه برخه خو خپله د هغې لپاره او دويمه د هغې د اَس لپاره.

توضيح: ثلاثة اسهم: ميدان جنګ کې دوه قسمه خلک جنګ کوي. يو هغه قسمه خلک دي چې د هغوی سره اَسونه وي. او ويم قسم خلک پيدل وي. اوس د اَسوپو والا په پيدل خلکو کې فرق دی چې اَسپو والو ته به زياته ملاوېږي که پيدل والو ته به زياته ملاوېږي، خو د برخې په مقررولو کې د فقهاؤ اختلاف دی چې چاته به څومره ملاوېږي. (مرقات ۵۴۴/۷)

د فقهاؤ اختلاف: د ائمه ثلاثو په نزد به پيدل مجاهد ته يوه برخه ملاوېږي او شهسوار ته به درې برخې ملاوېږي. يوه برخه خو به د هغې خپله وې او دوه به ورته د اَسې په وجه ملاوېږي. د احنافو ائمؤ په نزد پيدل کس ته يو برخه ملاوېږي خو شهسوار ته دوه برخې ملاوېږي. يوه برخه به د هغې وې او يوه به د هغې د اَس وي.

دلائل: د جمهور فقهاؤ دزير بحث حديث د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال کړی دی.

---

[1] رقم الحديث ۳۹۸۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۷/۶ رقم الحديث ۲۸۶۳ ومسلم في ۱۳۱۲/۳ رقم الحديث (۵۷-۱۷۶۲)

چې په خپلې مدعا باندې واضح دلیل دی. د احنافو ائمؤ په فصل ثانی کې د مجمع بن جاریه رضی الله عنه د روایت نمبر ۲۲ نه استدلال کړی دی. چې په واضحه توګه په کې ذکر دي چې په خیبر کې پیدل ته یوه برخه او شهسوار ته دوه برخې ورکړی شوې. الفاظ یې داسې دي "**فاعطی الفارس سهمین والراجل سهماً**". (ابوداؤد ،مرقات۵۴۶/۷)

د حضرت مجمع بن جاریه په روایت کې د غنیمت د مالونو د برخو په تقسیم او د مجاهدینو د تعداد هم بیان موجود دی. چې د احنافو مسلک باندې په واضحه توګه ثبوت دی او د جمهورو د مسلک نفي په کې ده. هغه داسې چې د خیبر د مالونو اتلس (۱۸) برخې وې او مجاهدین پنځلس سوه (۱۵۰۰) ؤو. چې درې سوه (۳۰۰) په کې شهسواران ؤو او دولس سوه پیدل (۱۲۰۰) ؤو. درې سوه شهسورانو کې هر یو ته دوه دوه برخې ورکړي شوې ویې، نو شپږ برخې لاړې او دولس پاتې شوې. دولس سوه پیدل والو کې هر یوه ته د سلو سلو (۱۰۰) یوه یوه برخه ورکړی شوه، نو پنځلس سوه (۱۵۰۰) مجاهدینو ته اتلس سوه برخې پوره شوې.

که د جمهورو د مسلک مطابق شهسوارانو ته درې برخې ورکړی شوې نو درې سوه مجاهدینو ته به ۹ برخې ملاوی شي او دولس سوه ته به دولس برخې ملاوی شي. دغه شان به د مال غنیمت ټولې برخې یو ویشت (۲۱) شي. حال دا چې د حضرت مجمع جاریه رضی الله عنه په روایت کې په واضحه الفاظو کې راغلې دي چې "**فقسمها رسول الله ﷺ ثمانیة عشر سهماً**" یعنې ټولې اتلس برخې وې. (مرقات۵۴۸/۷)

سوال: دلته داسوال پیدا کیږي چې دراتلونکې د مجمع بن جاریه رضی الله عنه د روایت متعلق امام ابوداؤد وایي چې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د بحث د لاندې روایت صحیح او واضح دی. او د مجمع بن جاریه رضی الله عنه روایت کې د یو راوي وهم دی. اصل کې درې سوه شهسواران نه ؤو بلکې دوه سوه شهسواران ؤو او دوه سوؤ ته شپږ برخې ملاؤ شوې وي. د دې جواب دا دی چې که شهسواران دوه سوه هم ومنلی شي نو بیا هم د جمهور خبره نه جوړیږي، ځکه دې خبره باندې خو اتفاق دی چې مجاهدین پنځلس سوه ؤو. چې د حدیبیه نه سیدها راغلل او خیبر کې جنګېدلې ؤو. که دوه سوه شهسواران ؤو نو پیدل به دیارلس سوه ؤو. چې هغوی ته دیارلس سوه برخې ورکړی شوې وي نو شپږ او دیالس (۱۳) بیا نورلس (۱۹) برخې شوي. حال دا چې دا اتفاقي ده چې ټولې برخې شپاړس وي. دا احنافو دویم دلیل همدغه د حضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت دی چې په مصنف ابن ابی شیبه کې ذکر دی. الفاظ یې دا دي "**للفارس سهمان وللراجل سهم**" د احنافو ائمؤ د حضرت ابن عمر رضی الله عنه دا روایت راجح ګڼلی دی. د دې وجه دا ده چې اَس جهاد کې آله ده او سړی ذی الاله ده. د آله درجه د الاله نه زیاته پکار نه ده، ځکه انسان د اَس نه بغیر جنګېدلی شي خو اَس د انسان نه بغیر نه شي جنګېدلی. (مرقات۵۴۸/۷)

جواب: زیر بحث حدیث د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د روایت جواب دا دی چې دا تنفیل او نورو انعامونو باندې محمول دی. چې د داسې شهسوارانو د حوصلې ساتنه وشي او خلک د زیات نه زیات اَسونه راولې.

صاحب هدایه د دې دا جواب ورکړی دی چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دواړو روایتونو کې تعارض دی، نو دواړه ساقط دي. لهذا د حضرت جاریه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت د احنافو د استدلال لپاره سالم پاتې شو.

مالِ غنیمت کې د ښځو او د غلامانو برخه نشته دی

﴿۴﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ: كَتَبَ نَجْدَةُ الْحَرُورِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ

او حضرت یزید ابن هرمز فرمایي چې نجده حروری حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یو خط ولیکلو چې هغې کې یې

يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ يَحْضُرَانِ لمغنم

د ښځې او د غلام باره کې دا معلومه کړې وه چې کله دوی د غنیمت د مال د تقسیم په وخت کې موجود وي نو

هَلْ يُقْسَمُ لَهما؟ فَقَالَ لِيَزِيدَ:

هغوی ته هم په مال غنیمت کې برخه ورکړی شي یا نا؟ حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د یزید نه یعنې ماته وفرمایل

اكْتُبْ إِلَيْهِ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا سَهْمٌ

چې ته زماله اړخه نجده ته دا جواب ولیکه چې د دې دواړو لپاره برخه مقرره نه ده. البته د تقسیم په وخت کې

إِلَّا أَنْ يُحْذَيَا. وَفِي رِوَايَةٍ: كَتَبَ إِلَيْهِ ابْنُ عَبَّاسٍ:

دوې له هسې څه ورکړئ. او یو روایت کې دا دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې نجده دا جواب ولیکلو چې په

إِنَّكَ كَتَبْتَ إِلَيَّ تَسْأَلُنِي: هَلْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خط کې تا زمانه دا پوښتنه کړې وه چې آیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به جهاد کې ښځې بوتللې او آیا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ښځو ته

يَغْزُو بِالنِّسَاءِ؟ وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ؟ فَقَدْ كَانَ يَغْزُو بِهِنَّ

په مال غنیمت کې برخه ورکوله؟ نو دهغې جواب دا دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ښځې جهاد ته د ځان سره بوتللې

يُدَاوِينَ الْمَرْضَى وَيُحْذَيْنَ مِنَ الْغَنِيمَةِ

چې د مریضانو ته به یې دوائی ورکوله او د زخمیانو مرهم پټئ به یې کولې. او هغوی له به یې په مال غنیمت کې هسې

وَأَمَّا السَّهْمُ فَلَمْ يَضْرِبْ لَهُنَّ بِسَهْمٍ. رَوَاهُ مُسلم[1]

څه ورکول، خو د هغوی لپاره په مالِ غنیمت کې هیڅ برخه نه وه مقرره کړی شوې.

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۸۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۴۵/۳ رقم الحديث (۱۳۹-۱۸۱۲) وأبوداود في ۱۶۹/۳ رقم الحديث ۲۷۲۷

توضیح نجدة: نجدة د خوراجو د مشر نوم دی. (مرقات ۵۵۰/۷)

الحروی: دا د حروراً اړخ ته منسوب دی چې د کوفه په اطرافو کې د یو ځای نوم دی. د خوارجو اولنۍ اجتماع په همدغه ځای کې شوې وه. (مرقات ۵۵۱/۷)

ان یحذیا: د حذی عطیه ته وایي. غلامانو او ښځو ته به برخه نه ورکړی کېدله. صرف د طبابت کولو په خاطر او زړه ساتنې په خاطر به یې څه ورکول، ځکه هغوی باندې د جنګ ذمه واري نشته دی. همدغه مسئله د نابالغه هلکانو هم ده. (مرقات ۵۵۱/۷)

د حضرت سلمه بن اکوع زړه ورتیا

﴿۵﴾ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِظَهْرِهِ
او حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې مسلمانانو او د کفارو په مینځ کې معاهدې نه وروسته د حدیبیه
مَعَ رَبَاحٍ غُلَامِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نه پېرته راتلو دوران کې په لاره کې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره په خپلې سورلی. ټول اوښان، درباح سره چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ازاد شوی غلام ؤو،
وَأَنَا مَعَهُ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا
مخکې روان کړو او زه هم د رباح سره شوم. مونږ د واړو د شپې یو ځای کې قیام وکړو او کله چې سحر شو
إِذَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ الْفَزَارِيُّ
نو مونږ ته معلومه شوه چې عبدالرحمن فزاری چې د مسلمانانو یو مشهور دښمن او کافر ؤو. د
قَدْ أَغَارَ عَلَى ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْتُ عَلَى أَكَمَةٍ
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اوښانو یې چهاپه اوهله او هغه یې روان کړل. زه په غونډۍ باندې ودختلم
فَاسْتَقْبَلْتُ الْمَدِينَةَ فَنَادَيْتُ ثَلَاثًا يَا صَبَاحَاهُ
او د مدینې اړخ ته مې مخ کړو او درې ځله مې یاصباحاه یعني خبردار دښمنه چغه اؤوهله او غشي مې ویشتل
ثُمَّ خَرَجْتُ فِي آثَارِ الْقَوْمِ أَرْمِيهِمْ
او هغه قوم یعني عبدالرحمن او د هغې د قوم د پښو نښانو باندې روان شوم. هغه وخت زما په ژبه
أَنَا بِالنَّبْلِ وَأَرْتَجِزُ وَأَقُولُ:
باندې په اوچت اواز سره رجزیه یعني رجزیه شعرونه ؤو. ما ویل، انا ابن الاکوع. والیوم یوم الرضع یعني ای دښمنانو!

ابْنُ	الْأَكْوَعُ	وَالْيَوْمُ	يَوْمُ	الرُّضَّعُ

په کولاؤ غوږ نو یې واوړئ زه د اکوع ځوي یم یعني ورځ د بد و خلکو لپاره یعني د دین د دښمن او لپاره بده ورځ ده.

فَمَا	زِلْتُ	أَرْمِيهِمْ	وَأَعْقِرُ	بِهِمْ

همد غه شان مې مسلسل تیران ویشتل او د غه شان مې د هغوی د سورلو واکي غوځولو سره مخکې روان ؤوم

حَتَّى	مَا	خَلَقَ	اللهُ	مِنْ	بَعِيرٍ

تر دې چې دې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اوښانو کې د الله په پیدا کړی شوې اوښانو کې هیڅ داسې اوښ پاتې نه شو

مِنْ ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا خَلَّفْتُهُ وَرَاءَ ظَهْرِي ثُمَّ اتَّبَعْتُهُمْ أَرْمِيهِمْ حَتَّى

چې ما د خپل ځان نه وروسته نه ؤوپریښی. ما غشي ویشتل او وړپسې ورروان ؤوم. تر دې چې هغوی د خپل ځان د سپکولو په

أَلْقَوْا	أَكْثَرَ	مِنْ	ثَلَاثِينَ	بُرْدَةً	وَثَلَاثِينَ

خیال خپل دیرش څادرونه او دیرش جامې غوزاري کړي یعني په منډو کې یې خپل څادرونه او جامې هم غوزارولې

رُمْحًا	يَسْتَخِفُّونَ	وَلَا	يَطْرَحُونَ	شَيْئًا

چې د بدن سپید کولو سره تیزه منډه وهلو کې اسانی وې او هغوی به هر شی ویشتلو، هغوی به د نبي

إِلَّا جَعَلْتُ عَلَيْهِ آرَامًا مِنَ الْحِجَارَةِ يَعْرِفُهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ

په توګه هغې باندې کانې کینبودلو چې که نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغوی ملګري د شاه طرف نه راځي چې هغوی دا

حَتَّى رَأَيْتُ فَوَارِسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَحِقَ أَبُو قَتَادَةَ

وپیژني، تر دې چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سپاره ولیدل او بیا مې دا ولیدل چې ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته

فَارِسُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ فَقَتَلَهُ قَالَ

سور ویلی ؤو عبدالرحمن یې ونېولو او مړه یې کړو. بیا د دې غوبل نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُ فُرْسَانِنَا الْيَوْمَ أَبُو قَتَادَةَ

وفرمایل چې نن زما په سورو کسانو کې بهتر سور ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی او په پیدل سپاره کې د ټولو نه

وَخَيْرُ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ. قَالَ: ثُمَّ أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بهتر پیدل سلمه بن اکوع دی. بیا د هغې نه وروسته چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کافرانو نه ښولی شوې مال تقسیم شروع کړو

سَهْمَيْنِ: سَهْمَ الْفَارِسِ وَسَهْمَ الرَّاجِلِ فَجَمَعَهُمَا إِلَيَّ جَمِيعًا ثُمَّ

نو ماته يې دوه برخې راكړې يو برخه د سور او بله برخه د پيدل. دواړه برخې يې يو ځاى كړې اه ماته يې

أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ عَلَى الْعَضْبَاءِ رَاجِعَيْنِ إِلَى الْمَدِينَةِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

راكړې او نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپلې اوښې عضباء باندې زه شاته كښولم او د مدينې اړخ ته روان شو.

توضيح: **سلمة بن اكوع**: دا د شان والا صحابي دى. جنګو كې يې ډېرې برخې اخستلې دي. پيدل منډو كې مشهور ؤو. د اَس نه به يې تيزه منډه وله. (مرقات ۵۵۳/۷)

اغار: حملې او وژنې ته وايي. (مرقات ۵۵۳/۷)

على ظهره: د ظهر نه مراد د سورلي اوښ دى. **اكمة**: اوچتې غونډۍ ته وايي. (مرقات ۵۵۳/۷)

ياصباحاه: پخوا زمانه كې به چاته د مرستې لپاره اواز كېدلو نو د عرب په معاشره كې به دغه قسمه اوازونه كېدل. د دې مطلب دا دى چې د دښمن د سحر وخت كې حمله كړې ده. تيار شئ او مرسته وكړئ، د لښكر كاروائى به اكثر د سحر وخت كې كېدله. (مرقات ۵۵۳/۷)

ارتجز: يعنې ما رجزيه شعرونه ويل. د بحر رجز وزن مستفعلن شپږ ځله دې.

يوالرضع: د دې مفرد راضع دى. د راضع يو مطلب كم اصل او ذليل دى يعنې نن د كم اصلو او د ذليلو د هلاكت ورځ ده. چې په خوله كې تى اونيسې او شوده روې چې د شودو د راويستلو اواز راون وځي. دويم مطلب دا دى چې نن هغه كس كامياب دى چې چاته شريفې ښځې شوده وركړل. يعنې نن به په شودو فيصله كېږي. د زړه وړې مور شوده به زړه ورتيا پيدا كوي او ويرندو كې مور شوده به ويره پيدا كوي. (مرقات ۵۵۳/۷)

يستخفون: يعنې زيات سامان يې غوزار كړل چې د منډې وهلو لپاره سپک شي. (مرقات ۵۵۳/۷)

أراماً: د دې مفرد دارم دى، لكه څنګه چې اعناب او عنب علامت ته وايي. باندې چيانو كې اوس هم دا رواج دى چې لږې وغيره شيانو باندې كانې ږدي. دا علامت وې چې دا مال د يو چا دى، نو څوک ورله بيا لاس نه وړي. ځينې خلک پرې كانې ږدي چې د طلاق قَسم خوړولو اړخ ته اشاره وي. ارم په معنې د علامت، علامه بوصيرى په قصيده برده كې ذكر كړى دى ـ

فالصدق في الغار و الصديق لم يريا وهم يقولونه ما بالغار من ارم

([1]) رقم الحديث ۳۹۸۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۳۳/۳ رقم الحديث (۱۳۲-۱۸۰۷) وأحمد في المسند ۵۲/۴

سهم الفارس: د يو مجاهد نښې کارنامې باندې هغې ته زيات مال ورکول کېږي. ځکه حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دوه برخې ورکړی شوي.

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کوم خلک جهاد ته لېږل هغې کې

السَّرَايَا لِأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً سِوَى قِسْمَةِ عَامَّةِ الْجَيْشِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

به ځېنې خلکو له د عام لښکر په نسبت په مخصوصه توګه څه زياته برخه ورکول کېدله.

﴿۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ: نَفَّلَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم نَفَلًا سِوَى نَصِيبِنَا

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ځل نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ له د خمس د مال نه زمونږ

مِنَ الْخُمُسِ فَأَصَابَنِي شَارِفٌ والشارف:

شوی برخو نه بغير هم څه زياته راکړه، نو زما برخه کې يو شارف راغلو او شارف هغه اونبي ته وايي

المسن الْكَبِير (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

لپاره مونږ د مقرر چې بوډۍ او غټه وي.

توضيح: دا د ګېرنې او د ترغيب لپاره ځېنې ښه مجاهدينو ته څه زياته ورکول جائز دي. همدغې ته نفل او تنفيل وايي.

کفار که د مسلمانانو مال قبضه کړي نو څه به کېږي؟

﴿۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: ذَهَبَتْ فَرَسٌ لَهُ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې منقول دي چې يو ځل د هغې اَس وتښتېد لو چې د ښمنانو يعنې

فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ

کافرانو ګير کړو. بيا چې کله مسلمانان هغه کافرانو باندې فاتحين شول او د هغوی په مال غنيمت کې هغه

فَرُدَّ عَلَيْهِ فِي زَمَنِ

اَس هم راغلو نو ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د هغې اَس ېرته ورکړی شو او هغه په مال غنيمت کې شمار نه کړی شو. دا واقعه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

([1]) رقم الحديث ۳۹۹۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۳۷/۶ رقم الحديث ۳۱۳۵ ومسلم في ۱۳۶۹/۳ رقم الحديث ۱۷۵۰.

([2]) رقم الحديث ۳۹۹۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۳۶۹/۳ رقم الحديث (۳۸-۱۷۵۰)

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِي رِوَايَةٍ: أَبَقَ عَبْدٌ لَهُ فَلَحِقَ بِالرُّومِ
د زمانې ده. او يو بل روايت کې دا دي چې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غلام وتښتېدلو او روم ته ورسيدلو.
فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ فَرَدَّ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ
بيا چې کله مسلمانانو په رومیانو باندې فاتحين شول نو خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د
بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
هغې غلام بېرته ورکړو. دا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زمانې نه وروستنئ واقعه ده.

توضيح: **فاخذها العدو**: يعنې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوښ وتښتيدلو نو دښمن ونيولو. بيا پرې مسلمانان غالبه شو او اَس يې بېرته ورکړو. د غه شان د هغې غلام تښتيدلی ؤو. بيا چې کله مسلمانان غالبه شو نو هغه هم مسلمانانو بېرته ونيولو. اوس مسئله دا ده چې که کفار د يو مسلمان په مال باندې غلبه وکړي او د ځان سره يې ويسي نو آيا هغه خلک به د مال مالکان شي يا نا؟ دې کې د فقهاؤ اختلاف دی. (مرقات ۵۵۶/۷)

اختلاف: امام شافعي رحمه الله فرمايي چې کافران به د دې مال مالکان نه وي. دا چې د چا مال دی د هغې به وي، خو د جمهورو په نزد کافران به د هغې مال مالکان شي. د دې اختلاف نتيجه به دا راؤځي چې که وروسته مسلمانانو غلبه حاصله کړه او همغه مال يې قبضه کړو نو اوس به څه کېږي؟ د شوافعو په نزد به مال د هغې اصل مالک ته ورکول کېږي. ګويا کې دا مال د هغې د ملکيت نه نۀ دی وتلی. د جمهورو په نزد که دا مال په کافرانو کې تقسيم نه شو او د مسلمانانو په لاس کې د تقسيم نه مخکې راغلو نو دا د اصل مالک ما دی، خو کافرانو کې د تقسيمېدلو نه نه وروسته که د مجاهدينو په لاس راغلو، نو اوس به دا په مال غنيمت کې شمال شي او په عام مسلمانانو به تقسيم شي. (مرقات ۵۵۶/۷)

دلائل: شوافعو د بحث لاندې روايت نه استدلال کړی دی. چې کوم کې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او اَس او د غلام د تښتيدلو او د کافرانو په لاس کې قبضه کېدلو قصه ده. او بيا دهغې بېرته د ورکولو ذکر دی. دغه شان شوافعو د دې نه مخکې حديث نمبر ۵ کې د ذکر شوی ناقۀ رسول د واقعې نه هم استدالال کړی دی. جمهورو د "**للفقراء المهاجرين**" نه استدلال کړی دی. د استدلال طرز داسې دی چې د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مالونه په مکه مکرمه کې ؤو، خو د کافرانو په لاس دقبضه کېدلو په وجه الله د هغې مالکان د فقراء په نوم ياد کړي دي. د دې نه معلومه شوه چې د

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۹۲ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۸۲/۶ رقم الحديث ۳۰۶۸ وابن ماجه في ۹۴۹/۲ رقم الحديث ۲۸۴۷

مسلمانانو دا مال د کافرانو په ملکیت کې تلی ؤو او د تقسیم نه وروسته کافران د هغې مالکان شوې ؤو. خو د تقسیم نه مخکې کافران د هغې مال مالکان نه شي جوړېدلی، نو دا د عامه مالونو مسئله او په دې کې اختلاف ؤو. اوس دلته د تبنتیدلې غلام جدا مسئله ده. دې کې هم د فقهاؤ اختلاف دی. هغه داسې دی چې که غلام مرتد شوی وتبنتیدلو نو د ټولو فقهاؤ په نزد اتفاقاً کافران به د دې مال مالکان شي، خو که مسلمان یا ذی مسلمان وتبنتې نو کافران د هغې مالکان شي، نو امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چې کافران د دې مالکان نه شي کېدی، خو جمهور وایي چې مرتد غلام پشان د مسلمان غلام به هم کافر مالک شي. دواړو فریقینو د بحث لاندې حدیث د جزاء نه استدلال کړی دی، خو دا یو باریکه اجتهادي فرق دی، ځکه د دلائلو ضرورت نشته دی. (مرقات ۵۵۶/۷)

د خُمس حکم

﴿۹﴾ وَعَنْ جُبَيْرِ بن مُطعِمٍ قَالَ: مَشَيْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جبیر ابن مطعم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې زه او حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت

فَقُلْنَا: أَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ

کې حاضر شو او عرض مو وکړو چې تا (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) د خیبر په خمس کې بنو مطلب ته برخه ورکړه

وَتَرَكْتَنَا وَنَحْنُ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْكَ؟

او مونږ له مو رانکړه، حال دا چې د ستاسو (د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ) په اعتبار سره مونږ یو مرتبه کې یو؟

فَقَالَ: إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ وَاحِدٌ.

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایل چې زه د دې نه بغیر نور هیڅ نه پیژنم چې بنو هاشم او بنو مطلب یو دي.

قَالَ جُبَيْرٌ: وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ

حضرت جبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بنو شمس یعني د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره

وَبَنِي نَوْفَلٍ شَيْئًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

او بنو نوفل یعني د حضرت جبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره ته هیڅ برخه ورنه کړه.

توضیح من خمس خیبر: مالِ غنیمت کې پنځمه برخه د بیت المال وي. د خمس دا برخه نبي

([1]) رقم الحديث ۳۹۹۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۸۴/۷ رقم الحديث ۴۲۲۹

کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نژدژ خپلوانو او فقیرانو وغیره کې تقسیموله. د خیبر مال چې کله راغلو نو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خمس مال کې د خپلو نزدې خپلوانو بنو هاشم او بنو المطلب ته ورکړو خو بنو نوفل او بنی عبد الشمس ته هیڅ ورنه کړل. دې خبره باندې د پوهېدلو لپاره حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت جبیر بن مطعم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورغلل او عرض یې وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! نژدیکت کې مونږ او بنو المطلب ستا لپاره برابر یو. دا خبره صحیح ده چې د ستا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعلق د بنو هاشم سره دی. دي افضلیت کې مونږ مداخلت نه شو کولی چې بنو هاشم ته ولی ورکړی شوي ده، خو بنو المطلب او مونږ په نژدیکت کې تاته برابر یو، ځکه د عبد مناف څلور زامن ؤو. چې نومونه یې دا دي. ۱: هاشم ۲: مطلب ۳: عبد شمس ۴: نوفل.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هاشم په اولاد کې ؤو. حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عبد شمس په اولاد کې ؤو. حضرت جبیر بن مطعم د نوفل به اولاد کې ؤو. د دې حضراتو شکایت دا ؤو چې بنو المطلب ته خمس ورکړی شو نو مونږ ولي پریښودلی شو. حال دا چې په نژدیکت کې هیڅ فرق نشته دی. د دې په جواب کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د نژدیکت حق صرف بنو هاشم او بنو المطلب ته حاصل دی. ځکه دې خلکو په اسلام او جاهلیت کې یو ځای پاتې کېدلو مظاهره کړې ده، ځکه کله چې قریشو د بنو هاشم سره بائیکاټ وکړو نو بنو المطلب د بنو هاشم سره ملګرتیا وکړه. او بنو نوفل او بنو عبد شمس په بائکاټ کې د کافرانو سره پوره فرخه واخستله. لهذا د هغوی نژدیکت مونږ سره ختم شو نو په خمس کې د هغوی حق پاتې نه شو. راتلونکې حدیث نمبر ۴۲ کې د دې واقعې نور تفصیل موجود دی. (مرقات ۵۵۹/۷، ۵۵۸)

د مالِ فيء تعارف او حکم

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّمَا قَرْيَةٍ أَتَيْتُمُوهَا

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم کلي تاسو ته لاړ شئ

وَأَقَمْتُمْ فِيهَا فَسَهْمُكُمْ فِيهَا وَأَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتِ اللهَ

او هغې کې قیام کوئ نو د هغوی په مال کې ستاسو برخه ده. او کوم کلی چې د خدای او د هغې د

وَرَسُولَهُ فَإِنَّ خُمُسَهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ. رَوَاهُ مُسلم[1]

رسول نافرماني وکړي نو په هغې کې پنځمه برخه د الله او د هغې د رسول لپاره ده، نوره ستاسو ده.

توضیح: واقمتم فیها: یعنې په داسې ځکه کې تاسو هیسار شوی چې هلته خلکو نه جنګ وکړو او نه

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۹۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۳۷۶/۳ رقم الحديث (۴۷-۱۷۵۶) وأبوداود في السنن ۴۲۷/۳ رقم الحديث ۳۰۳۶

يې مزاحمت وکړو او د هغوی مال تاسو ته د غنيمت په توګه ملاؤ شو. نو دا مال فئ دی. چې کوم کې مجاهدين. مقاتلين او په مدينه کې اوسيدونکې غير مجاهدين ټول شريک دي. ټولو ته برخه ملاويږي. او هغې کې خمس نه وي. خو کوم ښار چې د الله نافرمانې وکړه يعنې د هغه ځای اوسيدونکو د مجاهدينو مقابله وکړه، جنګ يې وکړو او شکست يې وخوړلو او مال غنيمت مسلمانانو ته ملاو شو. نو هغې کې مالِ خمس جدا کړئ او بيت المال ته يې حواله کړئ او پاتې ځلور برخې به مجاهدينو کې تقسيم شي. بهرحال د حديث خلاصه دا ده چې مال فئ کې خمس نشته دی او مال غنيمت کې وي. آخري جمله ثم هی لکم کې وفرمايل چې خمس به هم تاسو مسلمانانو باندې تقسيم کړي. زماذاتې مال نه دی. (مرقات ۵۶۳/۷)

مشترکه قومي دولت کې خيانت ګونګی به دوزخ ته ځي

﴿۱۱﴾ وَعَن خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت خوله انصاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې ځينې

إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ

خلک د الله په مال يعنې غنيمت فئ او د زکوة په مال کې ناحق يعنې بغير د څه حق د حقدارئ برخه اخلي.

فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

لهذا داسې خلک به د قيامت په ورځ د اور د سزه مستحق وي.

توضيح يتخوضون: خوش د ننوتلو په معنی کې دی. دلته اوقاف، مال غنيمت. زکوة او مال فئ کې بې ځايه تصرف کول مراد دی. دا خبره ياد ساتئ چې دې حديثونو کې ظاهراً غله او مال غنيمت کې د خيانت کولو الفاظ راغلي دي، خو دا فقط مال غنيمت نه دی. بلکې مشترکه قومي دولت او د ټولو مسلمانانو امانت مراد دی. لهذا سرکاري ادارو کې، مذهبی مدرسو کې او جهادي او غير جهادي تنظيمونو کې چې کوم مشترکه مالونه دي. هغې ټولو باندې دا الفاظ تطبيقيږي. څوک دا خيال ونه کړي چې دا خو د مال غنيمت د خيانت خبره ده. زه خو سرکاري دفتر يا کمپنئ يا د اوقافو مال کې خيانت کوم. د بحث لاندې حديث کې د مال الله لفظ راغلی دی. دې کې ټولې اداري شاملې دي. زه به په نورو عنوانو کې مشترکه قومي ليکم يا به همدې عموم ته اشاره وي. (مرقات ۵۶۶/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۳۹۹۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۳/۶ رقم الحديث ۲۸۱۸ وأحمد في المسند ۴۱۰/۶

مشترکه قومي دولت کې د خیانتونو مختلف صورتونه

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو ورځ مونږ ته خطبه راکړه او د هغه خطبې دوران کې

فَذَكَرَ الْغُلُولَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ

یې په مال غنیمت کې د خیانت ذکر وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته ډېره لویه ګناه وویله او ډېره په اهمیت سره یې

ثُمَّ قَالَ: " لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

هغه بیان کړو او بیا یې وفرمایل چې خبردار! زه په تاسو هیڅ یو کس د قیامت په ورځ داسې حال ونه وینم چې

عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ

هغه په خپل څټ باندې به اوښان وي او رمباړي (په چیغه سره او ازویستل) په وهي یعنې کوم کس چې د مال غنیمت

لَهُ رُغَاءٌ يَقُولُ:

مثلاً د اوښ خیانت وکړي نو میدان حشر کې به په داسې حالت کې راځي چې د هغې په څټ به همغه اوښ سور

يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي

وي او هغه به رمباړي وهي. او بیا ماته دا اوایي چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما سفارش وکړه او ورته د هغې په جواب

فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا

کې اوایم چې اوس زه ستا د هیڅ شي ذمه وار نه یم یعنې زه تا د الله د عذاب نه نشم خلاصولی، ځکه ما درته په

قَدْ أَبْلَغْتُكَ. لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

دنیا کې د شریعت احکامات در رسولې ؤو. او خبردار! زه قیامت کې تاسو په داسې حال او نه وینم چې هغوی په

عَلَى رَقَبَتِهِ فُرُسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ فَيَقُولُ:

خپل څټ باندې رمباړي وهونکې اَسونه پراته وي او میدان حشر ته راشي او بیا ماته دا اوایي چې

يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ:

یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما سفارش وکړه او زه ورته د هغې په جواب کې اوایم چې زه اوس ستا د

لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ

هیڅ شي ذمه وار نه یم. ځکه ما تاته د شریعت احکامات در رسولي ؤو. یعنې ته مې د مخکې نه خبر کړی وې چې په مال

لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

غنیمت کې خیانت یا په بل شي کې تصرف لویه ګناه ده. او خبردار! زه قیامت کې تاسو په داسې حال او نه وینم چې هغې په

عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللهِ

خپل څټ باندې امبی امبی کونکې بزې سپرې وي او میدان حشر ته راشي. او بیا ماته دا اوایي یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

أَغِثْنِي فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا

زما سفارش وکړه او زه ورته د هغې په جواب کې اوایم چې زه اوس ستا د هیڅ شي ذمه وار نه ځکه ما تاته د

قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

شریعت احکامات در رسولي ؤو. او خبردار! زه قیامت کې تاسو په داسې حال او نه وینم چې هغې په خپل څټ

عَلَى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ

باندې یو چغې وهونکی سړی یعنې هغه غلام یا وینځه چې هغې د غنیمت د قید یا نو نه په خیانت اخستی ؤو او په

فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي

غاړه یې وي او میدان حشر ته راشي. او بیا ماته دا اوایي یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما سفارش وکړه او زه ورته د

فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ

هغې په جواب کې اوایم چې زه اوس ستا د هیڅ شي ذمه وار نه ځکه ما تاته د شریعت احکامات در رسولي ؤو.

لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ

او خبردار! زه قیامت کې تاسو په داسې حال او نه وینم چې په خپل څټ باندې یې سره زر او سپین زر پراته وي او میدان

تَخْفِقُ فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ:

حشر ته راشي او ماته دا اوایي یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما سفارش وکړه او زه ورته د هغې په

لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ فَيَقُولُ:

جواب کې اوایم چې زه اوس ستا د هیڅ شي ذمه وار نه یم ځکه ما تاته د شریعت احکامات در رسولي

يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قد أبلغتك ".

ؤو. دا روایت د معنې او د مضمون په اعتبار سره بخاری او مسلم دواړو نقل کړی دی. الفاظ د

وَهَذَا لفظ مُسلم وَهُوَ أتم (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
مسلم دي چې د بخاري د الفاظ په نسبت پوره دي.

توضيح: د دې حديث د ټول مشکل الفاظو تشريح په بهتره طريقه په ترجمه کې راغلي دي، نور د اردو لو ضرورت نشته دی.

په مشترکه قومي دولت کې خيانت باندې سخت وعيد

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: أَهْدَى رَجُلٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې يو کس د هدې په
غُلَامًا يُقَالُ لَهُ: مِدْعَمٌ فَبَيْنَمَا مِدْعَمٌ يَحُطُّ
توګه يو غلام پيش کړو چې نوم يې مدعم ؤو. يو ورځ غالباً په ميدان جنګ کې هغې
رَحْلًا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم إِذْ أَصَابَهُ سهم عَائِر فَقَتَلَهُ
د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کجاوه کوزوله چې ناڅاپه ديو نامعلومه کس تير باندې ولږېدلو چې هغه پرې مړ شو.
فَقَالَ النَّاسُ: هَنِيئًا لَهُ الْجَنَّةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
خلکو وويل چې مدعم ته دې جنت مبارک مدعم خوش قسمته شو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خدمت په دوران کې شهيد شو او جنت ته
كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِن الشملة الَّتِي أَخَذَهَا
ورسيدلو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې داسې نه ده. قسم په هغه ذات د چا په لاس کې چې زما ژوند دی هغه څادر
يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا
چې مدعم د خيبر په ورځ د مال غنيمت د تقسيم نه مخکې اخستی ؤو او ترينه جوړ او په مدعم باندې راوريږي. چې هغه خلکو
فَلَمَّا سَمِعَ ذَلِك النَّاس
د هغې سخت وعيد واورېدلو چا چې په مال غنيمت کې خيانت سهل ګڼلی ؤو او دا ګمان يې کړی ؤو چې ورړو ورړو او معمولي شيانو
جَاءَ رجل بشرك
باندې به نېول نه کيږي. هغوی ورپېدل او هغوی چې د مال غنيمت نه کول واړه شيان اخستې ؤو، ښرته يې لاوړل تردې

---

(1) رقم الحديث ۳۹۹۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۸۵/۶ رقم الحديث ۳۰۷۳ ومسلم في صحيحه ۱۴۶۱ رقم الحديث (۲۴-۱۸۳۱)

أَوْ شِرَاكَيْنِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:
تردې چې یو مزی یا دوه مزې یې هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت ته راوړلې. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لیدلو سره وفرمایل
شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ شِرَاكَانِ
چې دا اوریوه مزی ده یا دا اوردوه مزې دي. یعنې د خیانت شی هر حالت کې د دوزخ د اور حقدار دی، هغه
من نارٍ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
که هر څومره معمولې وي.

توضیح سهم عائر: نامعلومه تیر چې ناڅاپه پرې څوک ولېږي. **شمله**: څادر ته ویلی شوی دی.

تشتعل: اورد لمبو کولو په معنی کې دی. **شراک**: مزې ته وایي. (مرقات ۵۶۸/۷)

﴿۱۴﴾ وَعَن عبدِ الله بنِ عَمْرٍو قَالَ: كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ
او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو کس چې د هغې نوم کره ؤو چې یو غزوه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ظرفه
يُقَالُ لَهُ كَرْكَرَةُ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هُوَ فِي النَّارِ
د سامان او د اسبابو ساتونکی مقرر شو. کله چې هغه مړ شو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې کرکرَة دوزخ کې
فَذَهَبُوا يَنْظُرُونَ فَوَجَدُوا عَبَاءَةً
واچولی شو، نو خلکو د هغې سامان کتل شروع کړو. هغې کې یوه کلدانئ وموندلی شوه چې هغې د
قد غلها. رَوَاهُ البُخَارِيُّ[2]
مال غنیمت نه خیانت کړې وه.

توضیح عباءة: چوغي په شان څادر او غاړه بند ته عباء وایي. (مرقات ۵۷۰/۷)

په جهاد کې د ضرورت مطابق د خواړو شیانو استعمال

﴿۱۵﴾ وَعَن ابن عمر قَالَ: كُنَّا نُصِيبُ فِي مَغَازِينَا الْعَسَلَ وَالْعِنَبَ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې مونږ ته به په غزواتو کې شهد او انګور ملاوېدل نو مونږ به

(۱) رقم الحديث ۳۹۹۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/ ۵۲۹ رقم الحديث ۶۷۰۷ ومسلم في ۱۰۸/۱ رقم الحديث (۱۸۳-۱۱۵)

(۲) رقم الحديث ۳۹۹۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۶/ ۱۸۷ رقم الحديث ۳۰۷۴ وأخرجه ابن ماجه في السنن ۹۵۰/۲ رقم الحديث ۲۸۴۹

فنأكله وَلَا نرفعه رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]
هغه خوړل، د ځان سره به مو نه وړل.

توضيح: **العسل**: اصول او قاعده دا ده چې کوم شيان د خوراک او څښاک متعلق وي يا د اَسونو د وندې متعلق وي نو د مال غنيمت د تقسيم نه مخکې د اسې شيانو استعمالول جائز دي، خو دا جائز نه دي چې هغه د ځان سره ويوړلی شي او ذخيره کړی شي. د همدغه ممانعت له اړخ په "ولا نرفعه" کې اشاره ده. د علماؤ په دې اتفاق دی چې مجاهدين ترکومې پورې د جنګ په ميدان او محاذ جنګ کې وي، نو هغه وخت هغوی له د مال غنيمت نه د ضرورت په حساب د خوراک او څښاک شيان د تقسيم نه مخکې استعمالو جائز دي. هلته دار اسلام يعنې د جنګ د محاذ نه بېرته راتللو نه وروسته دا استعمال ناجائزه دی. (مرقات ۵۷۱/۷)

خوندور صورت

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ: أَصَبْتُ جِرَابًا مِنْ شَحْمٍ يَوْمَ خَيْبَرَ فَالْتَزَمْتُهُ
او حضرت عبدالله بن مغفل فرمايي چې د خيبر په ورځ د وازګې نه که يوه بوجئ ماته ومونډله او را اوچته مې
فَقُلْتُ: لَا أُعْطِي الْيَوْمَ أَحَدًا مِنْ هَذَا شَيْئًا فَالْتَفَتُّ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
کړه او د سينې سره مې ولږوله او په زړه کې يا په ژبه مې وويل چې نن به زه د دې وازګې نه چاته هيڅ
يبتسم إِلَيَّ. مُتَّفق عَلَيْهِ. وَذكر الحَدِيث أَبِي هُرَيْرَةَمَا أُعْطِيكُمْ فِي بَابِرِزْقِ الْوُلَاةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
نه ورکوم. بيا ما شاته وکتل نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ولاړؤو او ما پسې يعنې خما په دې کار پسې يې خندل.

توضيح: د خيبر په جنګ کې په ابتداء کې د خوراک دومره تنګې راغله چې صحابؤ وانبه اخوړل، د خرو غوښې يې وخوړلې، هلته به يهود وسيدل، د هغوی لپاره وازګه استعملول حرام ؤو. لهذا په هغوی کې چا د وازګې نه ډکه بوجئ په ډيران کې غوزاره کړه. يو صحابي ته چې دا بوجئ ملاوه شوه نو د سينې سره يې ولږوله چې خپله به يې خورم، هيڅا ته به يې نه ورکوم. چې شاته يې وکتل نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې په خندا وليدلو. سبحان الله څه منظر ؤو.

([1]) رقم الحديث ۳۹۹۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۵/۶ رقم الحديث ۳۱۵۴

([2]) رقم الحديث ۴۰۰۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۵/۶ رقم الحديث ۳۱۵۳ ومسلم في ۱۳۹۳/۳ رقم الحديث (۷۲-۱۷۷۲)

الفصل الثاني

﴿۱۷﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ اللهَ فَضَّلَنِي عَلَى الْأَنْبِيَاءِ

حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه روايت کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل بيشکه الله ماله په انبياؤ

أَوْ قَالَ: فَضَّلَ أُمَّتِي عَلَى الْأُمَمِ

فضيلت او بزرګي راکړې ده. يا يې دا وفرمايل چې زما امت ته په نورو امتونو باندې فضيلت او بزرګي ورکړې

وأحلَّ لنا الْغَنَائِم". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

شوې ده. او مال غنيمت زمونږ لپاره حلال کړې شوی دی.

د مقتول سلب به قاتل ته ورکول کيږي

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: يَوْمَئِذٍ يَوْمَ حُنَيْنٍ:

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په هغه ورځ يعنې د غزوه حنين په ورځ وفرمايل چې کوم کس

مَنْ قَتَلَ كَافِرًا فَلَهُ سَلَبُهُ فَقَتَلَ

کوم کافر دښمن مړ کړي، د هغه وژل شوې مال او اسباب به هم هغه وژونکي ته ملاوېږي، نو

أَبُو طَلْحَةَ يَوْمَئِذٍ عِشْرِينَ رَجُلًا وَأَخَذَ أسلابهم. رَوَاهُ الدَّارِمِيّ[2]

ابو طلحه په هغه ورځ د دښمنانو شل کسان مړه کړل او د هغې ټول مال او اسباب يې حاصل کړو.

توضيح: فله سلبه: د جمهورو په نزد د سلب ضابطه او قاعده ده چې هر حال کې به وزونکې ته ملاوېږي. که په موقع باندې امير اعلان وکړي يا نه. د احنافو په نزد موقع باندې موقتې اعلان ضروري دی. مستقله قاعده او ضابطه نشته دی. يا ده دې وي چې سلب کې خمس نشته دی. تفصيل مخکې تير شوی دی. (مرقات ۵۷۴/۷)

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عوف بن مالک اشجعی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د وژلې شوې

---

(1) رقم الحديث ۴۰۰۱ أخرجه الترمذي في السنن ۱۰۴/۴ رقم الحديث ۱۵۵۳ وأحمد في المسند ۲۳۸/۵

(2) رقم الحديث ۴۰۰۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۲/۳ رقم الحديث ۲۷۱۸ والدارمي في ۳۰۱/۲ رقم الحديث ۲۸۸۴

قَضَى فِي السَّلَبِ لِلْقَاتِلِ.
باره کې حکم وکړو چې هغه د وژونکي حق دی. د غه شان نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه مال او اسبابو نه
وَلَمْ يُخَمِّسِ السَّلَبَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
د خمس جدا نه کړو، لکه څنګه به يې چې په مال غنيمت کې جدا کولو.

د ابو جهل اصل قاتل څوک ؤو؟

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: نَفَّلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ سَيْفَ
او حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د جنګ بدر په ورځ د ابو جهل توره زماد برخې
أَبِي جَهْلٍ وَكَانَ قَتَلَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
نه زياته وه. واضحه شوه چې ابو جهل عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وژلی ؤو.

توضيح وكان قتله: يعنې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابو جهل وژلی ؤو. دې باره کې په حديثونو کې لږ اختلاف دی چې اصل کې ابو جهل چا وژلی ؤو. ځينې روايتونو کې دي چې د عفراء دوه زامنو وژلی، ځينو کې دي چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وژلی، ځينو کې دي چې اوله حمله معاذ بن عمرو بن جموح کړې وه بيا معوذ راغلو او کار يې ورله خلاص کړو، نو اصل حقيقت دا دی چې په ابو جهل باندې اولنۍ حمله حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کړې وه او د هغې ورون يې غوڅ کړو او د اَس نه يې راغوزار کړو. بيا د زمرې پشان حضرت معوذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پرې ورچپه شو او غوزار يې پرې وکړو او هغه ريبدلو چې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته راورسيدلو او هغې سر يې غوڅ کړو. دې اعتبار سره له هر ارخه ابو جهل د وژلو نسبت شوی دی. بلکې دا هم په روايتونو کې دی چې فرښتو د ابو جهل په وژلو کې عملاً برخه اخستې وه، خو اصل کردار د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤو، نو ځکه د هغې سامان او اسباب ټول هغې ته ورکړی شو. بافې دوؤ (۲) ته څه نه څه ورکړی شو، لکه څنګه چې د بحث لاندې حديث کې دي چې د ابو جهل توره حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړی شوه. راروان حديث ۴۳ کې او په حديث ۴۴ کې پوره تفصيل راروان دی. (مرقات ۵۷۵/۷، ۵۷۴)

اوس دلته يوه پوښتنه او تعارض دی. هغه دا دی چې يو روايت کې دي چې معاذ بن عمر بن الجموح ابو جهل مړ کړو او بل کې دي چې د عفراء دوه زامنو وژلی دی، دغه تعارض به داسې لرې کول کېږي چې معاذ او معوذ دواړه د عفراء زامن دي او په مور کې شريک رونه دي خو پلاران يې جدا جدا

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۰۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۵/۳ رقم الحديث ۲۷۲۱ وأحمدفي المسند ۲۶/۶ رقم الحديث ۴۰۰۴

(۲) رقم الحديث ۴۰۰۴ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۶/۳ رقم الحديث ۲۷۲۲

دي. د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پلار نوم عمرو بن الجموح دی او د معوذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پلار نوم حارث دی. عفراء د دواړو مور ده. لهذا معاذ بن عمر بن جموح او معوذ بن عفراء جدا جدا سړی نه دي.

توره يې رابشکله او جهاد ته روان دی

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ: شَهِدْتُ خَيْبَرَ

او حضرت عمیر د آبی الحم ازاد شوی غلام ؤو. وایي چې زه د خپلو مالکانو سره په غزوه خیبر کې شریک شوی یم د هغه غزوې د روانیدو

مَعَ ساداتِي فَكَلَّمُوا فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په وخت زما مالکانو زما باره کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خبرې وکړې یعنې هغوی زما تعریف او صفت وکړو او عرض یې وکړو

وَكَلَّمُوهُ أَنِّي مَمْلُوكٌ

چې په میدان جنګ کې د جنګېدلو لپاره یا د خدمت په غرض عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د ځان سره بوځي. د غه شان هغوی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا هم

فَأَمَرَنِي فَقَلَّدْتُ سَيْفًا

وویل چې زه یو غلام یم. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زما د مالکانو درخواست منظور کړو او ماته یې حکم وکړو چې زه مسلح شم او د مجاهدینو سره

فَإِذَا أَنَا أَجُرُّهُ فَأَمَرَ لِي بِشَيْءٍ

شامل شم، نو ماته یې توره راکړه او مسلح یې کړم یعنې یوه توره یې زما غاړې ته واچوله. چې به روان ؤوم نو د کمر عمرئ په وجه یا لنډ قد

مِنْ خُرْثِيِّ الْمَتَاعِ

په وجه به ما خپله توره ځمکې پسې رابشکله او مزل به مې کولو. بیا د بنمنانو باندې د غلبې حاصلولو نه وروسته د مال غنیمت تقسیم

وَعَرَضْتُ عَلَيْهِ رُقَيَّةً كُنْتُ

شروع شو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د هغې څه لږ شان ماته هم راکولو حکم وکړو. د غه شان هره موقع باندې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته خپله هغه متر

أُرَقِّي بِهَا الْمَجَانِينَ فَأَمَرَنِي بِطَرْحِ بَعْضِهَا

او رولی دی چې ما به لېونو باندې دمولو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه مې د هغې باره کې وپوښتل، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته د

وَحَبْسِ بَعْضِهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ

هغې د ځینو برخو د پریښودلو او د ځینو د جاري ساتلو حکم وکړو. دا روایت ترمذی او ابوداؤد

إِلَّا أَنَّ رِوَايَتَهُ انتهتْ عِنْد قَوْله: الْمَتَاع[1]
نقل کړی دی خو د ابوداؤد الفاظ په المتاع باندې پوره شوې دي.

توضيح حرثی المتاع: يعنې د کور سامان راوغورځېدلو يعنې پتېله وغيره.

اَجَرُّ: يعنې عمر او قد د کموالې په وجه توره مې په زمکه رابنکله او روان ؤوم.

ارق بها: يعنې ما دم هم کولو. ما چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د دم الفاظ ولوستل نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځېنې منع کړل او ځېنې مې جاري وساتل. (مرقات ۵۷۵/۷)

د خيبر غنيمتونو کې د احنافو استدلال

﴿۲۲﴾ وَعَن محمع بن جارية قَالَ: قُسِمَتْ خَيْبَرُ
او حضرت مجمع بن جاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې خيبر کې حاصل شوی مال غنيمت او زمکه په هغه خلکو کې تقسيم
عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ فَقَسَمَهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
کړی شوه چې په صلح حديبيه کې شريک ؤو، نو نبي کريم ﷺ د هغه خيبر مال غنيمت او زمکه په
ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا وَكَانَ الْجَيْشُ أَلْفًا
اتلس (۱۸) برخو کې تقسيم کړه او په صلح حديبيه کې د شريک شوې لښکر تعداد پنځلس سوه
وَخَمْسَ مِائَةٍ فِيهِمْ ثَلَاثُمِائَةِ فَارِسٍ فَأُعْطِيَ الْفَارِسُ سَهْمَيْنِ
(۱۵۰۰) کسان ؤو چې هغې کې درې سوه (۳۰۰) سور ؤوږد غه شان سپارو ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دوه برخې ورکړي
وَالرَّاجِلُ سَهْمًا رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ
او پيدل کسانو ته يې يوه برخه ابوداؤد دا روايت نقل کړی دی او ويلې يې دي چې دې باره کې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
أَصح فَالْعَمَل عَلَيْهِ وَأَتَى الْوَهْمُ فِي حَدِيثِ مُجَمِّعٍ
حديث صحيح دی. او همغې باندې اکثر ائمؤ عمل کړی دی. د غه شان د مجمع په روايت کې واهمه واقع شوی ده

([1]) رقم الحديث ۴۰۰۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۱/۳ رقم الحديث ۲۷۳۰ والترمذي في ۱۰۷/۴ رقم الحديث ۱۵۵۷.

أَنَّهُ قَالَ: ثَلَاثُمِائَةِ فَارِسٍ وَإِنَّمَا كَانُوا مِائَتَيْ فَارِسٍ[1]
چې هغې ويلې دي چې د ريې سوه سپاره ؤو. حال دا چې د سپارو تعداد دوه سوه ؤو.

توضيح: د دې حديث پوره تفصيل په حديث نمبر ۳ کې تير شوی دی.

څوک چې ډېر په زړه ورتيا جنګ کوي ډيره برخه به اخلي

﴿۲۳﴾ وَعَن حبيب بن مسلَمَةَ الفِهْرِيِّ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت حبيب ابن مسلمه فهری فرمايي چې د يوې غزوې په موقعه زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شوم
نفل الرّبع فِي البداءة
شوم. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د جنګ په ابتداء کې جنګ کونکو ته د مال غنيمت نه د څلورمې برخې نه زياته برخه ورکړه
وَالثلث فِي الرجعة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
او بېرته راتللو وخت کې يې جنګ کونکو ته يې د دريمې برخې نه زياته برخه ورکړه.

توضيح: **نفل الربع**: دا د تنفيل نه دی. د انعام په توګه زياتې برخې ته ويلی شوی ده. د دې صورت به دا ؤو چې مثلاً څه خلکو د اسلام د لښکر محاذ ته رسيدلو نه مخکې په کافرانو باندې حمله وکړه او کافرانو ته يې شکست ورکړو، نو هغه اولنۍ دستې ته به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مال غنيمت په توګه د ټول نه څلورمه برخه د انعام په توګه ورکوله. او په باقي مال کې به يې هم د عام مجاهدينو پشان برخه وه، ځکه دې خلکو ډېر د جرأت مظاهره کړې ده. (مرقات ۵۷۷/۷) د "البداءة" همدغه مطلب دی. دويم صورت به دا ؤو چې مثلاً د اسلام لښکر به بېرته د محاذ نه لاړو خو يوه دسته اوس هم د دښمن په مقابل کې کله جنګ کوي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به داسې خلکو ته د تقسيم نه مخکې د ټول مال درېمه برخه ورکوله ځکه دوی په جرأت کې د مخکنو نه زيات دي. همدغې ته "في الرجعة" ويلی شوې دي. اوس دې بحث دی چې دا انعام د خمس د لرې کولو نه روسته په پاتې څلورو برخو کې به ورکول کېدلو او که خمس به هم په دې شامل ؤو. راتلونکې روايت نمبر ۲۴ نه معلومېږي چې د خمس لرې کولو نه روسته به داسې کېدلو. او همدغه د احمد بن حنبل مسلک دی. ځېنې ويلي دي چې دا انعام به د خمس د مال نه زيات ورکول کېدلو. (مرقات ۵۷۷/۷)

([1]) رقم الحديث ۴۰۰۶ اخرجه ابوداود في السنن ۱۷۴/۳ رقم الحديث ۲۷۳۶ واحمد في المسند ۴۳۰/۳

([2]) رقم الحديث ۴۰۰۷ اخرجه ابوداود في السنن ۱۸۲/۳ رقم الحديث ۲۷۵۰ وابن ماجه في ۹۵۱/۲ رقم الحديث ۲۷۵۳

﴿۲۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

او حضرت حبيب ابن مسلمه فهرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ په ابتداء كې د اسلامي لښكر د

يُنَفِّلُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ

رسيدلو نه مخكې جنګ كونكو مجاهدينو ته د مال غنيمت نه د خمس جدا كولو نه وروسته د څلورمي برخې

وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ،

نه زياته وركوله او د لښكر د بېرته راتللو صورت كې جنګ كونكو مجاهدينو ته د خمس جدا كولو نه وروسته

إِذَا قَفَلَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

د تهائى برخې نه زياته وركوله.

په مالِ فئ كې ټول مسلمانان شريک دي

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ الْجَرْمِيِّ قَالَ: أَصَبْتُ

او حضرت ابو جويره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت په زمانه كې يوه

بِأَرْضِ الرُّومِ جَرَّةً حَمْرَاءَ فِيهَا دَنَانِيرُ فِي إِمْرَةِ مُعَاوِيَةَ وَعَلَيْنَا

ورځ د روم په زمكه يو سور رنګې بوجئ وموندله چې د دينارو نه ډكه وه. هغه وخت زمونږ د علاقې حاكم

رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ يُقَالُ لَهُ: مَعْنُ بْنُ يَزِيدَ

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابۀ كې يو كس ؤو چې نوم يې معن ابن يزيد ؤو. هغې بوجئ واخستله

فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَسَمَهَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ

او هغې له راغلو. هغوى دا دينار مسلمانانو يعنې د اسلام مجاهدينو په مينځ كې تقسيم كړل او هغې كې

وَأَعْطَانِي مِنْهَا مِثْلَ مَا أَعْطَى رَجُلًا مِنْهُمْ

يې ماته هغومره راكړل څومره چې د يو كس په برخه كې راغلې وه. يعنې ماته يې د ټولو برابره راكړه، هيڅ يې زياته رانكړه.

ثُمَّ قَالَ: لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او بيا هغې وفرمايل چې كه چرې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا نه وى اوريدلى چې د خمس جدا كولو

---

[1]) رقم الحديث ۴۰۰۸ اخرجه ابوداود في السنن ۱۸۳/۳ رقم الحديث ۲۷۴۹ والدارمي في ۳۰۰/۲ رقم الحديث ۲۴۸۳

لَا نَفَلَ إِلَّا بَعْدَ الْخُمُسِ لَأَعْطَيْتُكَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نه وروسته زياته برخه وركول كېږي نو يقيناً مابه تاته د نورو نه زياته برخه دركړي وي.

توضيح لولانی: يعني انعام وغيره د دې مال نه زيات وركول كېږي. چې خمس ترېنه جدا كېږي يعني هغه مال غنيمت وي چې د خمس جدا كولو نه وروسته د نورو څلورو برخو نه انعام وركول كېږي. لهذا انعام زه ځكه نه شم دركولی چې دا مال غنيمت نه دی بلكې مال فئ دی. چې د جنګ نه بغير تاته حاصل شوی دی، نو ځكه د انعام اميد مه ساته بلكې د عامو مسلمانانو پشان به تاته هم برخه ملاوېږي. (مرقات ۵۷۶/۷)

د اهل سفينه خصوصيات

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَدِمْنَا فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې كله مونږ حبشې نه راغلو او نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له راغلو،

حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ فَأَسْهَمَ لَنَا أَوْ

نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت خيبر فتح كړی وُو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مال غنيمت نه مونږ له هم برخه راكړه.

قَالَ: فَأَعْطَانَا مِنْهَا وَمَا قَسَمَ

ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونږ ته هم د مال غنيمت نه برخه راكړه او نبي عَلَيْهِ السَّلَام د هغه مال

لِأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا

غنيمت نه بل هيڅ هغه كس ته برخه ورنه كړه چې د فتح خيبر په موقع موجود نه ؤو بغير د هغه كسانو نه چې غزوه خيبر

شَيْئًا إِلَّا لِمَنْ شَهِدَ مَعَهُ إِلَّا أَصْحَابَ سَفِينَتِنَا

په وخت كې د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ؤو او بغير زمونږ د كشتئ والو نه يعني حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د هغې ملګرو نه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام

جَعْفَرًا وَأَصْحَابَهُ أَسْهَمَ

مونږ كشتئ والو ته هم په هغه غزوه خيبر كې شريک كېدونكو مجاهدو نو سره برخه راكړه سره د دې

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۰۹ اخرجه ابوداود في السنن ۱۸۷/۳ رقم الحديث ۲۷۵۳ وأحمد في المسند ۴۷۰/۳

لَهُمْ مَعَهم. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
نه چې مونږ په دې غزوه خيبر کې شريک شوې نه ؤو.

توضيح: د جنګ خيبر په موقع د حبشې نه مدينې اړخ ته په د دويمې هجرئ په موقع حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغيره صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ راورسيدل. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوی لپاره په مال غنيمت کې برخه مقرره کړې وه. دا څنګه وشوه؟ نو دې کې د فقهاؤ اصولو باندې پوهېدل پکار دي. د امام شافعي رحمه الله اصول دا دي چې کله ميدان جنګ کې جنګ ختم شي او د کافرانو ته د شکست نه وروسته مال غنيمت د مسلمانانو لاس ته راغلل نو د بهر نه راتلونکې لښکر ته په هغې کې هيڅ حق نشته دی. دا به صرف په مجاهدينو باندې تقسيمېږي. د شوافعو په نزد دار اسلام د طرفه د ايستلو او ځان ساتلو شرط نشته دی.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو خائن جنازه ونکړه

﴿۲۷﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ خَالِدٍ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت يزيد ابن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې
تُوُفِّيَ يَوْمَ خَيْبَرَ فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يو کس د خيبر په ورځ مړ شو. صحابه کرامو د هغې ذکر نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بيان کړو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وويل شو:
فَقَالَ: صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ
چې د فلانن کس مړ شوی دی. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې تاسو د هغې جنازه وکړئ، زه د هغې جنازه نه کوم.
فَتَغَيَّرَتْ وُجُوهُ النَّاسِ لِذَلِكَ
خلکو دې اوږدلو سره د وېرې نه د هغوی رنګ بدل شو چې معلومه نه ده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې د جنازې لمونځ ولې نه کوي.
فَقَالَ: إِنَّ صَاحِبَكُمْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللهِ
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل زه د دې د جنازې لمونځ ځکه نه کم چې ستاسو دې ملګرې د الله په لاره کې يعنې مال
فَفَتَّشْنَا مَتَاعَهُ فَوَجَدْنَا خَرَزًا
غنيمت کې د خيانت ارتکاب کړی ؤو، نو د هغې مال او اسباب ولټولو، نو مونږ ته په هغې کې د

[1] رقم الحديث ۴۰۱۰ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۸/۳ رقم الحديث ۲۷۲۵

مِنْ	خَرَزٍ	يَهُودَ	لَا	يُسَاوِي
يهودو يعني د يهودو د بنځو په غاړه کولو امبيل ملاؤ شو. چې د دوه درهمو برابر هم نه ؤو. يعني				
دِرْهَمَيْنِ. رَوَاهُ مَالك وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ[1]				
د هغې قيمت د دوه درهمو نه هم کم ؤو.				

توضيح: خرز: د غاړې هغه امبيل ته وايي چې د بيکاره شيانو نه جوی شوی وي.

خيانت شوی واګی قيامت کې خپله راوړه

﴿۲۸﴾ وَعَن عبدِ الله بنِ عَمْرٍو قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصَابَ غَنِيمَةً				
او حضرت عبدالله ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مال غنيمت راجمع کولو او د تقسيمولو اراده وکړه نو				
أَمَرَ	بِلَالًا	فَنَادَى	فِي	النَّاسِ
حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به يې د اعلان کولو حکم کولو، نو هغې د خلکو په مينځ کې اعلان کړو او د اعلان اوريدلو سره خلکو خپل خپل				
فَيَجِيئُونَ	بِغَنَائِمِهِمْ			فَيُخَمِّسُهُ
غنيمتونه راوړل يعني چا سره چې د غنيمت څه ؤو، هغه يې راوړل او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام به دربار کې جمع کړل. نبي عَلَيْهِ السَّلَام اول خمس				
وَيُقَسِّمُهُ	فَجَاءَ			رَجُلٌ
يعني پنځمه برخه جدا کړه او د هغې نه وروسته يې مال غنيمت خلکو يعني مجاهدينو په مينځ کې تقسيم کړو. يو ځل داسې وشو چې يو				
يَوْمًا	بَعْدَ	ذَلِكَ	بِزِمَامٍ	مِنْ	شَعَرٍ
کس د مال غنيمت نه د خمس جدا کولو او هغې د مجاهدينو په مينځ کې د تقسيمولو نه يو ورځ وروسته د ويختانو نه					
فَقَالَ:	يَا	رَسُولَ	اللهِ	هَذَا	فِيمَا	كُنَّا	أَصَبْنَاهُ
جوړ شوی واګی راوړلو او عرض يې وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! کوم مال غنيمت چې زمونږ							
مِنَ	الْغَنِيمَةِ	قَالَ: أَسْمَعْتَ	بِلَالًا	نَادَى	ثَلَاثًا؟		
په لاس راغلی ؤو هغې کې دا واګی هم ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دري ځله اعلان کړی ؤو.							

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۹۱ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۵/۳ رقم الحديث ۲۷۱۰ والنسائي ۶۴/۴ رقم الحديث ۱۹۵۹

قَالَ:	نَعَمْ	قَالَ:	فَمَا
هغه تا اورېدلی ؤو؟ هغې وویل چې آؤ ما اورېدلی ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې بیا هغه وخت			
مَنَعَكَ	أَنْ	تَجِيءَ	بِهِ؟
ته د راوړلو نه څه شي منع کړی وي. هغې د تاخیر لپاره څه عذر بیان کړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل			
كُنْ	أَنْتَ	تَجِيءُ	بِهِ
چې اوس دا د ځان سره کېده. اوس دا خپله د قیامت په ورځ د ځان سره راوړه او هلته خدای له د دې			
فلنْ أقبلَه عَنْك. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]			
تاخیر جواب ورکړه. زه تانه هرګز دا نه نۀ اخلم.			

په مشترکه قومي دولت کې د خیانت سزا

﴿۲۹﴾ وَعَنْ	عَمْرِو	بْنِ	شُعَيْبٍ	عَنْ	أَبِيهِ
او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار حضرت شعیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او هغه د شعیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل نیکه					
أَنَّ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په					
حَرَّقُوا	مَتَاعَ	الْغَالِّ	وضربوه.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُد[2]
مال غنیمت کې د خیانت کونکي سامان او اسباب اوسوځول او هغوی له یې ښه وهل هم ورکړل.					

توضیح: حرقوا، کوم کس چې خیانت وکړي نو د هغط سزه څه ده. دې حدیث کې دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې به د خائن مال سوځولی کېدلو. ځینې فقهاؤ لکه احمد بن حنبل وغیره وایي چې نن هم دغه شان حکم دی چې د خیانت کونکي مال دې اوسوځولی شي، خو ژوندی ځناور دې بچ کړی شي، صحیفې وغیره دې ونه سوځولی شي. دغه شان خیان کړی شوی مال دې هم اوسوځولی شي ځکه دا د خیانت کونکي مال نۀ دی بلکې د بیت المال مال دی. داغه شان د ژوندي ځناورو سوځول هم منع دی. د جمهورو فقهاؤ په نزد د خیانت کونکي مال

---

(1) رقم الحديث ۴۰۱۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۶/۳ رقم الحديث ۲۷۱۲ وأحمد في المسند ۲۱۳/۲

(2) رقم الحديث ۴۰۱۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۸/۳ رقم الحديث ۲۷۱۵

او اسباب دي ونه سوځولی شي بلکې قاضي دې د سزا په توګه خیانت کونکي ته بله سزه ورکړي. دا حضرات فرمایي چې د بحث لاندې حدیث تشدید او تغلیظ باندې محمول دی. (مرقات ۵۸۴/۷)

په خائن باندې پرده اچول هم خیانت دی

﴿۳۰﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ

او حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمایل چې کوم کس په

يَكْتُمُ غَالًّا فَإِنَّهُ

مال غنیمت کې د خائن خیانت پټ کړو (یعنې هغې نه یې امیر او حاکم خبر نه کړو چې فلانې کس خیانت کړی دی) نو دګناه ګار

مِثْلُهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

کېدلو په اعتبار سره هغه هم د خیانت کونکې پشان دی.

توضیح: یعنې چاچې خائن پټ کړو او هغه یې بچ کړو، د هغې مخالف یې دباؤ کړو او خیانت شوی مال یې پټ کړو، نو دا کس به هم په دې خیانت کې برابر شریک وي.

د تقسیم نه مخکې د مالِ غنیمت اخستل او خرڅول منع دی

﴿۳۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شِرَاءِ

او حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غنیمت مال د تقسیم کولو نه اول هغه د

الْمَغْنَمِ حَتَّى يُقْسَمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

اخستلو نه منع کړی دی ځکه د تقسیم نه مخکې د هغې هیڅ مالک نه وي.

﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې

نَهْيٌ أَنْ تُبَاعَ السِّهَامُ حَتَّى تُقْسَمَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ[3]

ممانعت نه اعلان وکړو چې د مال غنیمت برخې چې تر کومې پورې تقسیم نشي، هغه دې خرڅ نه کړی شي.

---

(1) رقم الحديث ۴۰۱۴ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۸/۳ رقم الحديث ۲۷۱۶

(2) رقم الحديث ۴۰۱۵ أخرجه الترمذي في السنن ۱۱۲/۴ رقم الحديث ۱۵۶۰ وابن ماجه في ۷۴۰/۲ رقم الحديث ۲۱۹۶

(3) رقم الحديث ۴۰۱۶ أخرجه الدارمي في ۲۹۸/۲ رقم الحديث ۲۴۷۶

﴿۳۳﴾ وَعَن خولةَ بنتِ قيسٍ: قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ

او حضرت خوله بنت قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلې دي چې بيشكه

هَذِهِ الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ

دا مال يو شين او خوږ شى دى (يعنې مال يو داسې شى دى چې د انسان نظر يې خوښوي او زړه خوشحالوي)

فَمَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ بُورِكَ لَهُ فِيهِ

لهذا كوم كس چې دا مال حق يعنې حلال ذريعې سره حاصلوي نو د هغې لپاره په هغې كې بركت

وَرُبَّ متخوض فَمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللهِ وَرَسُولِهِ

اچولى كېږي. او يا د وساتئ چې ډېر داسې خلك دي چې د الله او د هغې د رسول په مال يعنې مال غنيمت

لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا النَّارُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

نه چې كوم شى د هغې زړه غواړي، هغه خپل كړي. د قيامت په ورځ به هغې له صرف د دوزخ اور وي.

د ذوالفقار توري ذكر

﴿۳۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَفَّلَ سيفَه ذَا الفَقَارِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله توره چې نوم يې ذوالفقار ؤو

يومَ بدْرٍ رَوَاهُ أَحْمد وَابْن مَاجَهْ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ وَهُوَ الَّذِي رَأَى فِيهِ الرُّؤْيَا يَوْم أُحد[2]

د جنګ بدر په ورځ د برخې نه زيات ؤو. (مسند احمد، ابن ماجه)

توضيح: **ذوالفقار**: فقار د ملا د تير كړيو (مهرو) ته وائي، د توري په شا، يا خو دغه قسمه هډوكى ؤو. يا دغه قسمه مهر جوړ شوى ؤو. جنګ بدر كې دا توره د يو كافر مُنَبِّه بن حجاج په لاس كې ؤو. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه مړ كړو. هغه توره نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښه كړې وه. او د "صفي" په توګه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله اخستې وه. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مختلفو جنګونو كې استعمال كړى ؤو. د جنګ أحد نه مخكې چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوب كې كومه ماته توره ليدلې وه. هغه همدغه صفي ؤو. د صفي انتخاب صرف د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خاص ؤو. بيا منسوخ شو. نبي كريم ﷺ دا توره

---

(1) رقم الحديث ۴۰۱۷ أخرجه الترمذي في السنن ۵۰۷/۴ رقم الحديث ۲۳۷۴ وأحمد في المسند ۳۷۸/۶.

(2) رقم الحديث ۴۰۱۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۱۰/۴ رقم الحديث ۱۵۶۱ وابن ماجه في السنن ۹۳۹/۲ رقم الحديث ۲۸۰۸

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړه، ځکه خلک وايي. (مرقات ۵۸۴/۷)

لافتى الا على لا سيف الا ذوالفقار

څوک چې مؤمن وي خيانت به نه کوي

﴿۳۵﴾ وَعَن رويفع بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ

او حضرت رويفع ابن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې الله او

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً

په ورځ د آخرت باندې ايمان لري نو دهغې لپاره قطعاً روا نه دي چې هغه د مسلمانانو د مشترکه

مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ

مال غنيمت نه يو څاروی بغير له شرعي ضرورت نه سورشي او بيا چې کله هغه څاروي کمزوری شي نو هغه مال غنيمت ته

وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

بېرته وسپاري او کوم کس چې الله او په آخرت باندې ايمان لري د هغې لپاره قطعاً دا جائز نه دي چې د

فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسلمين حَتَّى إِذا أخلقه

هغه د مسلمانانو د مشترکه جامې بغير له شرعي ضرورت نه واغوندې او بيا چې کله هغه زړې شي

ردها فِيهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نو هغه مال غنيمت ته بېرته ورکړي.

﴿۳۶﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْمُجَالِدِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ:

او حضرت محمد ابن ابو المجالد د حضرت عبدالله ابن ابی اوفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې ما د (عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ)

قُلْتُ: هَلْ كُنْتُمْ تُخَمِّسُونَ الطَّعَامَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟

نه وپوښتل چې آيا تاسو به د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کې د خوراک د شيانو نه خمس يعنې پنځمه برخه جدا کوله؟

قَالَ: أَصَبْنَا طَعَامًا يَوْمَ خَيْبَرَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَجِيءُ

هغه وفرمايل چې د غزوه خيبر په ورځ د خوراک شيان هم زمونږ لاسه راغلي وُو، نو هر کس به راتلو او دهغې

---

(1) رقم الحديث ۴۰۱۹ أخرجه أبوداود في [illegible] ۶۱۶/۲ رقم الحديث ۲۱۵۹

فَيَأْخُذُ مِنْهُ مقدارَ مَا يكفيهِ ثمَّ ينْصَرف. وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

به يې د ضرورت مطابق اخستل او بېرته به تللو. (ابو داؤد)

﴿۳۷﴾ وَعَن ابنِ عُمَرَ: أَنَّ جَيْشًا غَنِمُوا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې د مسلمانانو لښکر چې کله د جهاد

طَعَامًا وَعَسَلًا فَلَمْ يُؤْخذْ

نه بېرته راغلو نو په مال غنيمت کې يې د خوراک شيان او شهد راوړل. هغه لښکر چې د دې شيانو نه څه خوړلې

منهمُ الْخمس. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

څښلې ؤو يا چې څه هغوی پاتې شوې راوړې ؤو د هغې نه خمس يعنې پنځمه برخه نه جدا کړی شوی.

﴿۳۸﴾ وَعَنِ الْقَاسِمِ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت قاسم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (تابعی) چې د عبد الرحمن ازاد کړی شوی غلام ؤو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ځينې صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

قَالَ: كُنَّا نأكلُ الجَزورَ

نه روايت کوي چې هغوی يعنې ځينې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ بيان وکړو چې مونږ به په غزواتو کې د اوښ غوښه

فِي الغزْوِ وَلَا نُقَسِّمُهُ

خوړله او هغه به نه تقسيموله يعنې مونږ به په مجاذ جنګ کې د ضرورت مطابق د مال غنيمت نه اوښان ذبح

حَتَّى إِذَا كُنَّا لَنَرْجِعُ إِلَى رِحَالِنَا

کول او د هغې غوښه به مو د تقسيم نه بغير د خپل خپل حاجت مطابق اخستله تر دې چې مونږ به د سفر

وأُخْرِجَتُنا مِنْهُ مَمْلُوءَة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[3]

دوران کې خپلو ډيرو او خيمو ته بېرته راغلو نو زمونږ به بوجئ به د غوښو نه ډک وي.

توضيح: فناكل الجزور: د ضرورت مطابق مجاهدين په ميدان جنګ کې اوښ ذبح کولی او خوړلی

([1]) رقم الحديث ۴۰۲۰ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۱/۳ رقم الحديث ۲۷۰۴

([2]) رقم الحديث ۴۰۲۱ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۹/۳ رقم الحديث ۲۷۰۱

([3]) رقم الحديث ۴۰۲۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۲/۳ رقم الحديث ۲۷۰۶

شي. خو چې هلته نه لښکر بهرته راشي او د سرحد نه راواوړي نو اوس دا چې ضرورت پاتې نه شو نو ځکه يې اوس استعمالول جائز نه دي بلکې ونډه هم د مال غنيمت نه نۀ شي اخستل کېدی.

اخرجنتا: د الخروج جمع ده. بوجئ او د خوراک د ايښودلو لوښو ته وايي. دا د ميدان جنګ پس منظر بيانوي چې مونږ به د خپلو خيمو اړخ ته دا غوښه د خوراک لپاره وړله. د ذخيره کول لپاه به مو نه وړله.

د مشترکه مال نه ستن هم مه اوچتوئ

﴿۳۹﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: أَدُّوا
او د حضرت عباده ابن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمايل چې ادا کوئ
الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ وَإِيَّاكُمْ
چې تار او ستن هم يعنې د مال غنيمت نه دا معمولې شی هم مه پټوئ او تاسو په مال غنيمت کې يا مطلق
وَالْغُلُولَ فَإِنَّهُ عَارٌ عَلَى أَهْلِهِ
د خيانت نه ځان وساتئ ځکه دې کې هيڅ شک نشته دی چې خيانت کول د خيانت کونکو خلکو لپاره به
يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ
د قيامت په ورځ بې عزته کونکی وی. (دارمي او نسائی دا روايت د عمرو ابن شعيب او هغې د
عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ[1]
خپل پلار او هغې د خپل نيکه نه نقل کړی دی.

توضيح خياط: تار ته وايي. المخيط: ستن ته وايي. الخياط: خا باندې کسره ده. ستنه کې اچولو والا تار. المخيط: خا باندې کسره ده. يا باندې فتحه ده. ستنې ته وايي. (مرقات ۵۸۹/۷)

﴿۴۰﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:
او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې هغې وويل: يو ورځ
دَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعِيرٍ فَأَخَذَ وَبَرَةً
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مال فئ کې د راوړلی شوي يو اوښ خوا له تشريف راوړو او د هغې کوب

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۲۳ اخرجه ابن ماجه في السنن ۹۵۰/۲ رقم الحديث ۲۸۵۰ والدارمي في ۳۰۲/۲

مِنْ سَنَامِهِ ثُمَّ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَيْسَ لِي مِنْ هَذَا الْفَيْءِ

نه یې یو دوه ویختان راویستل او ویې فرمایل. خلکو! حقیقت دا دی چې دې مال فئ کې زما هیڅ

شَيْءٌ وَلَا هَذَا وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ

برخه نشته دی، نو دنبي عَلَيْهِ السَّلَام په ګوته باندې هغه دوه ویختان ؤو. خلکو ته یې د بنو دلو لپاره ګوته اوچته کړه او ویې فرمایل چې دا

إِلَّا الْخُمُسَ وَالْخُمُسُ

مال هم یعنې دومره معمولې برخه هم زمانشته دی. البته خمس یعنې د پنځمې برخې زه حقداریم خو خمس هم په مانه خرچ کېږي

مَرْدُودٌ عَلَيْكُمْ فَأَدُّوا

بلکې به هم تاسو باندې خرچ کېږي. یعنې د خمس مال هم ستاسو د خیر لپاره خرچ کېږي. هغه وخت کې ستاسو لپاره اسلحه او آسونه

الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ فَقَامَ رَجُلٌ فِي يَدِهِ

وغیره حاصلیږي. لهذا که تاسو سره د مال غنیمت ستنه هم وې نو هغه هم جمع کړئ. دې اوربد لو سره د یو کس په لاس کې

كُبَّةٌ شَعَرٍ فَقَالَ: أَخَذْتُ هَذِهِ لِأُصْلِحَ

د ویختانو نه جوړې شوې د پړې یوه غونډۍ راوړو. اودربد لو او وې ویل چې د پړې دا توټه ما د ځان سره ایښې وه چې د دې

بِهَا بَرْدَعَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په ذریعې سره د پالان د لاندې کمبله برابره کړم. اوس د دې باره کې څه حکم دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام و فرمایل

أَمَّا مَا كَانَ لِي وَلِبَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ

چې ترکوم ځای پورې د دې شې باره کې سوال دی چې زما او د بنو عبد المطلب په برخه کې دی، نو هغه ستا دی یعنې د دې

فَهُوَ لَكَ فَقَالَ:

توتې نه چې څه زما د خاندان بنو هاشم او د هغې د حلیف او ملګرې بنو عبد المطلب د خلکو برخه ده هغه خو مونږ تاته در اوبخښله، خو

أَمَّا إِذَا بَلَغَتْ

دې کې چې څه زمونږ نه بغیر د نورو مجاهدینو وه، د هغې باره کې ته خبر شه چې که چرې ته هغوی باندې هم دا برخه ځان ته اوبخښې

مَا أَرَى فَلَا أَرَبَ لِي

نو هیڅ مواخذه به پرې نه وي. او که هغوی برخې ونه بخښلې نو د قیامت په ورځ به نه بولی کېږي. دې کس دې اوربد لو سره وویل چې دا

فِيهَا	ونبَذَها.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُد[1]
پرې دګناه دې حد ته رسيدلی دی چې زما مخې ته دی، نو بيا ماته د دې ضرورت نشته دی او دې ويلو سره يې هغه پرې غوزار کړو.			

توضيح: کبة: يعنې د ويختانو يو غونډاری، ښځې چې کله د چرخئ په ذريعه وړئ غوځوي او د وړئ يو توټه ماشوړه جوړه شي. همغې ته کبة وايي. (مرقات ۵۹۰/۷)

بَرذَعة: د اَس د زين لاندې يا د اوښ د کجاوې د لاندې چې کومه توټه په شا باندې خورول کېږي همغې ته بردعه وايي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه کس په جواب کې وفرمايل چې که دا معمولې شی زماوی يا زماد خاندان وی نو ما به درکړی وی خو دا د بيت المال مال دی. هغه کس په جواب کې وويل چې که د دومره شې معامله دومره لرې لاړله نو ماته د دې هيڅ ضرورت نشته دی. دې ويل سره هغې هغه غونډاری غوزار کړو. (مرقات ۵۹۰/۷)

﴿۴۱﴾	وَعَن	عمرو بن عَبَسةَ	قَالَ:	صَلَّى	بِنَا	رَسُولُ اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَعِيرٍ مِنَ
او حضرت عمرو ابن عبسه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په (يو موقع کې) د مال غنيمت يو							
الْمَغْنَمِ		فَلَمَّا		سَلَّمَ			
اوښ سترې کړو او مونږ ته يې لمونځ راکړو. کله چې نبي کريم ﷺ سلام وکړځولو او د لمونځ نه فارغ شو							
أَخَذَ	وَبَرَةً	مِنْ	جَنْبِ	الْبَعِيرِ	ثُمَّ	قَالَ:	وَلَا يَحِلُّ لِي
نو د هغه اوښ د غاړې نه يې يو دوه ويختان راويستل او بيا يې وفرمايل چې ستاسو په مال غنيمت کې زما لپاره							
مِنْ غَنَائِمِكُمْ مِثْلُ هَذَا إِلَّا الْخُمُسُ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ فِيكُمْ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]							
دومره يعنې د دې ويختانو هومره برخه هم نشته دی بغير د خمس نه او هغه خمس هم ستاسو په ضرورتونو کې خرچ کېږي.							
﴿۴۲﴾	وَعَن	جُبير بن مُطعِمٍ	قَالَ:	لَمَّا	قَسَمَ	رَسُولُ اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَ
او حضرت جبير ابن مطعم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مال غنيمت کې د خپلو							
ذَوِي الْقُرْبَى بَيْنَ بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ أَتَيْتُهُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ							
نزدې خپلوانو پنځمه برخه بنو هاشم او بنو مطلب په مينځ کې تقسيم کړه، نو زه د بنو نوفل او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ							

(1) رقم الحديث ۴۰۲۴ أخرجه النسائي في السنن ۲۶۲/۶ رقم الحديث ۳۶۸۸

(2) رقم الحديث ۴۰۲۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۲/۳ رقم الحديث ۲۶۹۴ وأحمد في المسند ۱۸۴/۲

فَقُلْنَا:	يَا	رَسُولَ	اللهِ	هَؤُلَاءِ
د بنو عبد شمس له ارخه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو او مونږ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ! زمونږ دا				
إِخْوَانُنَا	مِنْ	بَنِي	هَاشِمٍ	لَا
ورور چې تعلق يې د بنو هاشم سره دی، مونږ د دې د فضيلت او د بزرګئ نه انکار خو نه کوؤ ځکه ته الله تعالى په هغوی کې پيدا کړی				
لِمَكَانِكَ	الَّذِي	وضعكَ	اللهُ	
يې. لهذا په دې اعتبار سره زمونږ به نسبت هغوی تاته هر نزدې دي، ځکه ستا او د هغوی نيکه يو دی. يعنې هاشم، اګر که زمونږ او د				
مِنْهُمْ	أَرَأَيْتَ	إِخْوَانُنَا		
هغوی نيکه هم يو دی، خو مونږ تاسو دا وايه چې د دې څه وجه ده چې تاسو د خمس په مال کې د خپلو خپلوانو کومه برخه ده زمونږ هغه				
مِنْ	بَنِي	الْمُطَّلِبِ	أَعْطَيْتَهُمْ	وَتَرَكْتَنَا
ورونو ته خو برخه ورکړه او مونږه مو محروم کړو حال دا چې زمونږ يعنې د بنو نوفل او د عبد شمس او د هغوی يعنې د بنی مطلب خپلوان				
وَإِنَّمَا	قَرَابَتُنَا	وَقَرَابَتُهُمْ		
يو ده. د غه شان لکه څنګه چې د هغوی نيکه د هاشم ورور ړو. د غه شان زمونږ نيکه هم د هاشم ورور ؤو.				
وَاحِدَةٌ	فَقَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
ګويا کې د هغه دوارو د عرض حاصل دا ؤو چې په مال غنيمت کې چې کوم خمس جدا کيږي هغه د قرآن مطابق هغه د قرآن مطابق د				
إِنَّمَا	بَنُو	هَاشِمٍ	وَبَنُو	الْمُطَّلِبِ
ستاسو د خپلوانو برخه ده، نو تاسو د خپلوانو يو شاخ بنو مطلب ته د مال خمس نه ورکړو خو نورو دوه شاخونو يعنې بنو نوفل او				
شَيْءٌ	وَاحِدٌ	هَكَذَا		
بنو عبد شمس ته هيڅ ورنکړل. حال دا چې دا دوارې شاخونه د يو لويې نيکه يعنې د عبد مناف اولاد دی، نو د دې امتيازي سلوک				
وَشَبَّكَ	بَيْنَ	أَصَابِعِهِ.		
څه وجه ده. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د يو لاس ګوتې د بل لاس ګوتو په مينځ کې ورکړې او د يې اړخ ته يې اشاره وکړه او ويې فرمايل چې د دې نه بغير				
رَوَاهُ	الشَّافِعِيُّ	وَفِي	رِوَايَةِ	أَبِي دَاوُدَ
هيڅ خير نه يم لکه څنګه چې د دا ګوتې په خپل مينځ کې يو شوې دي. د غه بنو هاشم او بنو مطلب هم يو شی دی. (شافعي رحمه الله) د				

وَالنَّسَائِيِّ نَحْوُهُ وَفِيهِ: إِنَّا وَبَنُو الْمُطَّلِبِ
ابوداؤد او نسائی روایت هم دغه شان دی او هغې کې دا الفاظ دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې مونږ او
لَا نَفْتَرِقُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ وَإِنَّمَا نَحْنُ وَهُمْ شَيْءٌ وَاحِدٌ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ[1]
هغوی دواړه يو شی يو. دې ويلو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لاسونو ګوتې يو بل سره يو ځای کړي.

توضیح: د دې حديث پوره تشريح د دې نه مخکې په حديث نمبر ۹ کې شوې ده. هلته يې وګورئ.

الفصل الثالث

د ابوجهل د مرګ قصه

﴿۴۳﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: إِنِّي وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ
حضرت عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د غزوه بدر په ورځ زه د دښمن په مقابل صف کې ولاړ وم. چې
فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي فَإِذَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ
ما خپل نبي او چپ اړخ ته نظر واړولو نو څه وينم چې زه د دوه انصارو هلکانو په مينځ کې ولاړ يم چې بالکل
حَدِيثَةٍ أَسنانها فتمنيت
کم عمرې ؤو. ما دا ارمان وکړو چې کاش زه دې وخت کې د دې دواړو نه زيات د طاقت او تجربو والا په مينځ کې ولاړ
أَنْ أَكُونَ بَيْنَ
وی. يعنې ما دا کم عمرې د حوصلې او زړه ورتيا په اعتبار سره کم وګڼل او دا خيال مې وکړو چې دا د نوې عمر والا تجربه
أَضْلَعَ مِنْهُمَا فَغَمَزَنِي
کار دي. ځکه کېدی شي چې د دښمن د حملې مقاومت ونه کړي او د جنګ په وخت کې وتښتي. چې ما ته به هم ترينه
أَحَدُهُمَا فَقَالَ: يَا عَمِّ
نقصان راورسي. زه په دې خيالونو کې اخته ؤوم چې ناڅاپه دې دواړو کې يو زه وځکوي نو دلم او وې ويل چې ته د جانه چې ته جانه

([1]) رقم الحديث ۴۰۲۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳/۱۸۸ رقم الحديث ۲۷۵۵

هَلْ	تَعْرِفُ	أَبَا	جَهْلٍ؟	قُلْتُ: نَعَمْ

آیا ته ابو جهل پیژنې. هغه کوم یو دی او چرته دی؟ ما ورته وویل چې زه یې پیژنم خو زما وراره ستا د ابو جهل سره

فَمَا	حَاجَتُكَ	إِلَيْهِ	يَا	ابْنَ	أَخِي؟	قَالَ: أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ

څه کار دی؟ هغې وویل چې زه خبر شوی یم چې هغه لعین نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کنځلې کوي. قسم کې مې،

رَسُولُ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	وَالَّذِي

هغه ذات چې د چا په قبضه کې زما ژوند دی، که زه هغه اوینم نو زما بدن به د هغې د بدن نه تر هغه وخت پورې جدا نه شي ترکومې

نَفْسِي	بِيَدِهِ	لَئِنْ	رَأَيْتُهُ

پورې په مونږ یو مرګ ته ژر ورسیدلو کې تونديږونه کړي یعنې د ابو جهل خلاف زما په زړه کې دومره کرکه ده

لَا	يُفَارِقُ	سَوَادِي	سَوَادَهُ

چې په لیدلو سره به پرې حمله کوم او تر هغې پورې به ورسره جنګ کوم چې تر څو پورې مونږ دواړو کې چې د چا مرګ

حَتَّى	يَمُوتَ	الْأَعْجَلُ		مِنَّا

مخکې راتلونکی وي هغه مړ نه شي، اګر که زه شهید شم او که هغه جهنم ته ورپارسل کړم. حضرت عبد الرحمن فرمایي چې د دې کم

فَتَعَجَّبْتُ	لِذَلِكَ		قَالَ:

عمرې خبره اوږدلو سره زه حیران شوم چې خدایا د دې کم عمرو په زړه کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره څومره مینه ده او د دوی جذبې

وَغَمَزَنِي	الْآخَرُ		فَقَالَ

همت او حوصلې او زړه ورتیا څه محشر خور شوی دی. عبد الرحمن فرمایي چې بیا هغه بل هلک زه وڅکوندلم او

لِي	مِثْلَهَا	فَلَمْ	أَنْشَبْ

هغې هم همغه الفاظ وویل چې کوم اولنې ویلې ؤو. د هغې وروسته ما هیڅ توقف ونه کړو او ابو جهل مې

أَنْ	نَظَرْتُ	إِلَى	أَبِي	جَهْلٍ	يَجُولُ	فِي	النَّاسِ فَقُلْتُ:

ولیدلو چې د بنمن خلکو کې ګرځېدلو. ما د هغې اړخ ته اشاره کول سره هغه هلکانو ته وویل چې آیا

أَلَا	تَرَيَانِ؟	هَذَا	صَاحِبُكُمَا

تاسو هغه کس نه وینئ چې په دې بنمنانو کې ګرځي را ګرځي؟ همدغه تاسو ته مطلوب دی چې د کوم باره کې تاسو

الَّذِي	تَسْأَلَانِي	عَنْهُ	قَالَ:	
خمانه پوښتنې کولې يعنې دا کس وپيژنئ، دا ابو جهل دی. عبد الرحمن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې دې اوږدلو سره دواړو				
فابتدراه	بسيفهما	فَضَرَبَاهُ	حَتَّى	قَتَلَاهُ
خپلې توريې سنبال کړي او ژر دا ابو جهل اړخ ورمخکې شول او په هغې يې حمله وکړه تر دې چې هغې يې مړ کړو.				
ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخبراهُ				
يا هغه دواړه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا له ېرته راغلل او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې د دې واقعې نه خبر کړو.				
فَقَالَ: أَيُّكُمَا قَتَلَهُ؟ فَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: أَنَا قَتلته فَقَالَ: هلْ مسحتُما سيفَيكما؟ فَقَالَا: لَا				
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل تاسو دواړو خپلې توريې اوچې کړي؟ هغوی وويل چې نۀ،				
فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّيْفَيْنِ فَقَالَ: كِلَاكُمَا قَتَلَهُ				
نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې دواړو تورو ته وکتل او ويې فرمايل چې تاسو دواړو هغه مړ کړی دی.				
وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَلَبِهِ لِمُعَاذِ بن عَمْرِو بن الْجَمُوحِ				
او بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې د ابو جهل سامان معاذ ابن عمرو ابن جموح ته ورکړئ او				
وَالرَّجُلَانِ: مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ومعاذ بن عفراء (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]				
هغه دواړه هلکانو چې ابو جهل يې مړ کړی ؤو معاذ ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن جموح او معوذ ابن عفراء ؤو.				

توضيح: **اضلع**: د اقوی په معنی کې دی يعنې ما ارمان وکړو چې کاش زمابنې او چپ اړخ ته د دې دوه ماشومانو په ځای طاقتور سړي وی. (مرقات ۵۹۳/۷)

فغمزنی: يعنې د لاس په ګوتو باندې يې زمابدن وځکوندلو چې زه د هغوی اړخ ته متوجې شم.

سوادی سواده: **ای جسمی جسمه و شخصی شخصه** (مرقات ۵۹۳/۷)

الاعجل: يعنې د چا د مرګ چې مخکې وي هغه به مړ شي. دا هم د ځان وژنې حملې پشان دی. چې اصل کې بله ځان وژنه ده. (مرقات ۵۹۳/۷)

لم انشب: يعنې هيڅ وخت په کې و لږ بدلو. (مرقات ۵۹۳/۷)

ومعاذ بن عفراء: د دې نه مخکې ليکلی شوې دي چې دا دواړه مور عزيره ؤورنه ؤو او د مور نوم

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۲۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۴۶/۶ رقم الحديث ۳۱۴۱ وأحمد في المسند ۱۹۳/۱

يې عفراء ؤو او پلاران د دواړو جدا جدا ؤو. د معاذ د پلار نوم عمر و بن جموح ؤو او د معوذ د پلار نوم حارث ؤو او د واړو د مور نوم عفراء ؤو، نو د چا اړخ ته هم نسبت وشو صحيح ده. هيڅ تعارض نشته دی. البته دومره دې يادہ وي چې اول حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حمله وکړه بيا معوذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وکړه او وتښتېدل. بيا حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وروسته راغلو او د ابو جهل سره غوخ کړو. فرښتو هم د خير په دې کار کې برخه اخستې وه. (مرقات ۵۹۵/۷، ۵۹۴)

حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابو جهل په سينه باندې

﴿۴۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ:

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ بدر په ورځ ميدان جنګ کې و فرمايل

مَنْ يَنْظُرُ لَنَا مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ؟

چې کوم کس دی چې په ليدلو سره اوايي چې ابو جهل څه وکړل يعنې د هغې څه انجام شو، هغه وژلی شوی دی يا که

فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ

ژوندی دی. نو حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاړو او هغې ابو جهل په داسې حالت کې وليدلو چې عفراء دواړو زامنو وهلې دی

حَتَّى بَرَدَ قَالَ: فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ فَقَالَ:

اويخ کړی يې دی يعنې مرګ ته يې نزدې کړی ؤو. حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې ليدلو

أَنْتَ أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ:

سره د ابو جهل ګيره ونيوله او ورته وې يې ويل چې ابو جهل يې؟ ابو جهل د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې پوښتنې شاته دې توقې او کړه

وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ

محسوسه کړه او وې ويل چې يشکه زه ابو جهل يم، خو آيا ته د هغه کس نه په اوچته مرتبه کې يې چې کوم تاوژلی دی؟ يعنی کوم کس

قَتَلْتُمُوهُ. وَفِي رِوَايَةٍ:

چې تاوژلی دی د هغې په لوړه مرتبه کې هيڅ شوک نشته دی. د دې الفاظ په ذريعه ګويا کې ابو جهل دا دعوی وکړه چې په

قَالَ: فَلَوْ غَيْرُ

قريشو کې په مرتبه کې زمانه بل هيڅ شوک نشته دی او يو روايت کې دا دي چې ابو جهل په دې موقع دا وويل

أَكَّارٍ	قتلني	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
چې که د غير زراعت والا خلکو زه وژلی وی نو بهتره به وی.		

توضيح حتى برد: يعني د ژوند آخري سلګئ يې وه. (مرقات ۵۹۵/۷)

وهل فوق رجل: يو مطلب دا دی چې د دې کس نه اوچت تا څوک وژلی دی. يعني زمانه تا هيڅ نويې کس نه دی وژلی. دويم مطلب دا دی چې يو کس دې وژلی دی دې باندې څه فخر کوي، نو لښکر موجود دی. د دې حديث په ترجمه کې په مظاهر حق کې څه ابهام دی.

ځينې روايتونو کې دلته څه تفصيل دير هغه دا چې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کله راغلو نو د ابوجهل په سينه کيناستلو. ابوجهل وويل چې ای شپونکيه! مبارک دې وي په لويې او اوچت مقام کيناستلې، خو دا راته اوايه چې د جنګ ميدان د چا په لاس کې دی؟ هغې ورته وفرمايل ميدان د محمد عربي او د مسلمانانو په لاس کې دی. ابوجهل وويل د ځان ښودنې ضرورت نشته دی، د يو کس نه بغير دې بل څوک وژلی دی. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې ستانه بغير اويا (۷۰) کسان وژلی شوي دي. ابوجهل وويل دا راته اوايه زه وهلی چايمه؟ هغې ورته وويل د عفراء ځوي وهلی يې. ابو جهل وويل "**فلو غيرا کارقتلني**" کاش که د دهقان نه بغير بل چا وژلی وی. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابوجهل ږېره رانښکله او ورته وې فرمايل چې "**وقد اخزاك الله يا عدوالله**" ای د الله دښمنه! الله ته ذليله کړی يې. بيا ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل ما تا وژونکی يم. ابوجهل وويل چې دا څه اولنۍ واقعه نه ده چې يو غلام مالک وژلی دی. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل زه دې سر غوڅول غواړم. ابو جهل وويل خپله توره راته انبايه. کله چې ابوجهل د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زنګ شوې توره وليدله نو وې ويل چې په دې نه بلکې زماتوره واخله او سر مې جدا کړه خو د اوږو سره يې غوڅ کړه چې زماسر اوچت ښکاري او محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ايې ربنتيا هم چې د لوی سردار سر ؤو. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورله سر غوڅ کړو او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته يې کيښود لو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شکر سجده وکړه او ويې فرمايل: زماد امت فرعون ؤوژلی شو. تفصيلات زما په کتاب جنګ بدر کې وګورئ. (مرقات ۵۹۶/۷)

د کمزور مسلمان مال بې ګول پکار دی

﴿۴۵﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: أَعْطَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا

او حضرت سعد ابن وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ حال دا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس کې ناست ؤم چې د

[1] رقم الحديث ۴۰۲۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۴۶/۶ رقم الحديث ۳۱۴۱ وأحمد في المسند ۱۹۳/۱

وَأَنَا جَالِسٌ فَتَرَكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم مِنْهُم رَجُلًا.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو جماعت ته څه مال ورکړو او هغه جماعت کې يو کس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پرېښود لو يعنې هغې له يې

وَهُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ فَقُمْتُ

هيڅ ورنه کړل. حال دا چې هغه کس زما په نزد د دين په اعتبار سره د ټولو نه بهتر ؤو. دې ليدلو سره زه اودرېدلم

فَقُلْتُ: مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ؟

او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مې عرض وکړو چې د فلانې کس لپاره څه دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه د خپلې تحفې نه محرومه کړو؟

وَاللهِ إِنِّي لَأُرَاهُ مُؤْمِنًا

قسم په خدای! زه خو دا صادقه مومن ګڼم. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې دا سې مه وايه چې زه دا صادقه مومن

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْ مُسلما ذكرَ سَعْدٌ ثَلَاثًا

ګڼم بلکې دا سې وايه چې زه دا مسلمان ګڼم. سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته دا خبره دري ځله وويله، خو

وَأَجَابَهُ بِمِثْلِ ذَلِكَ ثُمَّ قَالَ:

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هم هر ځلې همدغه شان جواب ورکړو. د هغې نه وروسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې زه يو کس

إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ

ته مال ورکوم حال دا چې د هغې په نسبت هغه بل کس ماته ډېر نزدې او ډېر خوښ وي او د هغې وجه دا وه چې

خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وې چې چرته هغه کس پر مخې دوزخ ته غوزار نه کړي شي. او د بخاري او مسلم يو روايت کې دا دي چې

وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: قَالَ الزُّهْرِيُّ: فترى: أَن الْإِسْلَام

زهري رحمه الله فرمايلي دي چې د دې ارشاد له نظره زما دا عقيده ده چې اسلام کې اصل کلمه يعنې کلمه د شهادت

الْكَلِمَة وَالْإِيمَان الْعَمَل الصَّالح (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

نوم دی او د زړه ايمان د نيک عمل يعنې د تصديق نوم دی.

([1]) رقم الحديث ۴۰۲۹ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۲۴/۳ رقم الحديث (۱۱۸-۱۸۰۰)

توضيح: او مسلما: علامه طيبي فرمايي چې "او" د بل په معنى کې دى. يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ويل غواړي چې د ايمان يو پټ باطني امر دى. د دې حكم مه لګوئ بلكې صرف ظاهر باندې حكم لګوئ چې اسلام دى. لهذا دې ته مسلمان وايه، مؤمن مه وايه. د دې روايت نه په اسلام او ايمان کې د تباين پته لږږي. تفصيل د جلد اول په کتاب الايمان کې دى. (الكاشف: ۶۰،۶۱/۸)

حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د بدر يانو مرتبه حاصله ده

﴿۴۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د جنګ بدر په ورځ د خطبې ورکول لپاره اودرېدلو

فَقَالَ: إِنَّ عُثْمَانَ انْطَلَقَ فِي حَاجَةِ اللهِ وَحَاجَةِ رَسُولِهِ

او ويې فرمايل چې بيشكه عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الله او د هغې د رسول د كار لپاره تلى دى، ځكه زه (خپله) د هغې له

وَإِنِّي أُبَايِعُ لَهُ فَضَرَبَ لَهُ رسولُ الله بِسَهْمٍ

ارخه بيعت كوم. بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لپاره د جنګ بدر په مال غنيمت کې برخه مقرره

وَلَمْ يَضْرِبْ بِشَيْءٍ لِأَحَدٍ

كړه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه بغير بل د هيڅا لپاره داسې برخه مقرره نه كړه چې په جنګ

غَابَ غَيْرَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

کې شريک شوى نه ؤو.

توضيح: حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنګ بدر کې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لور حضرت رقيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په بيمار پرسئ کې مشغول ؤو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حكم مطابق جنګ بدر کې شريک نه شو. بدر والو درجه عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ملاوه شوه او د مال غنيمت برخه هم ورته ورکړى شوه.

﴿۴۷﴾ وَعَنْ رافِعِ بن خديجٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْعَلُ فِي قَسْمِ

او حضرت رافع ابن خديج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مال غنيمت د تقسيم په

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۳۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۴۰/۳ رقم الحديث ۱۴۷۸ ومسلم في صحيحه ۱۳۲/۱ رقم الحديث (۲۳۶-۱۵۰)

الْمَغَانِمِ عَشْرًا مِنَ الشَّاءِ بِبَعِيرٍ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

وخت کې يو اوښ د لسو بزو برابر ګڼلی ؤو. (نسائی)

جهاد لپاره د لمر ډوبيدو سره حصار شو

﴿۴۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې په انبياؤ کې يو نبي يعنې

فَقَالَ لِقَوْمِهِ: لَا يَتْبَعْنِي

ديوشع ابن نون عَلَيْهِ السَّلَامُ ذکر دی چې يو ځل هغې د جهاد اراده وړه او کله چې د جهاد لپاره روان شو نو هغې خپل قوم ته وويل

رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ

چې ما سره دې هغه کس نه ځي چې ديو ښځې سره يې نکاح کړې وي او هغه ښځه يې کورته راوستلې وي او د جماع

وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا وَلَا أَحَدٌ بَنَى بُيُوتًا

اراده ورسره لرې او تر اوسه پورې يې کورته راوستلې وي او زما سره هغه کس مه ځئ چې کور يې جوړ کړی

وَلَمْ يَرْفَعْ سُقُوفَهَا وَلَا رَجُلٌ اشْتَرَى غَنَمًا أَوْ خَلِفَاتٍ

وې خو په هغې چت نه وي اچولی. د غه شان هغه کس هم زما سره مه ځئ چا چې بلا ربي بزي او بلا ربي اوښي

وَهُوَ يَنْتَظِرُ وِلَادَهَا

اخستې وي او د هغې د بچو د پيدا کېدلو په انتظار کې وي. د هغې نه وروسته هغه نبي د خپلو نورو ملګرو سره

فَغَزَا فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ

روان شو او کله چې هغه کلي ته نزدې ورسيدل چرته يې چې د جهاد اراده لرله نو مازيګر وخت شوی ؤو يعنې هغه

صَلَاةَ الْعَصْرِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ فَقَالَ لِلشَّمْسِ:

داسې وخت کې هغه کلي ته نزدې ورسيدل چې د مازيګر لمونځ د ختميدلو وخت ؤو. هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لمر

إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ

مخاطب کړو او وې ويل چې ته هم علېنې باندې مامورې يې او زه هم د دې کلي په فتح کولو باندې مامور يم:

---

[1] رقم الحديث ۴۰۳۱ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۸/۳ رقم الحديث ۲۷۲۶.

اللّٰهُمَّ	احْبِسْهَا	عَلَيْنَا	فَحُبِسَتْ

ای اللہ! ته لمر و دروې نو هغه لمر اودریدلو یعنې د یخوانو ماهرین فلکیاتو د نظریې مطابق د لمر رفتار یا د نوې نظریې

حَتّٰى	فَتَحَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِ

مطابق د ځمکې ګردش په حکم و دروڼ شوی ؤ و چې د شپې د تورتم نه مخکې مخکې هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ جهاد و کړي.

فَجَمَعَ	الْغَنَائِمَ	فَجَاءَتْ	يَعْنِي	النَّارَ

او الله هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته فتح ورکړه. بیا چې مال غنیمت راجمع کړی شو او هغې د سوزولو لپاره اوربل کړی شو نو

لِتَأْكُلَهَا	فَلَمْ	تَطْعَمْهَا	فَقَالَ:

هغه اور مال غنیمت اونه سوځولو. دې لیدلو سره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپلو ملګرو ته وویل چې یقیناً په تاسو کې د

إِنَّ	فِيكُمْ	غُلُولًا

مال غنیمت خیانت شوی دی یعنې تاسو کې چا په مال غنیمت کې خیانت کړی دی. چې د هغې وجې اور خپل

فَلْيُبَايِعْنِي	مِنْ	كُلِّ	قَبِيلَةٍ

کار نه کوي. لهذا تاسو کې هرې قبیلې کې یو یو کس له پکار دي چې هغه بیعت وکړي. چې بیعت شروع شو او

رَجُلٌ	فَلَزِقَتْ	يَدُ	رَجُلٍ

د هرې قبیلې یو یو کس خپل لاس د هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس کې کیښود ل نو د یو کس لاس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د

بِيَدِهِ	فَقَالَ:	فِيكُمُ	الْغُلُولُ

لاس و نښتلو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه کس ته وفرمایل چې دې ذریعې سره ثابت شو چې خیانت ستا له اړخ شویدی

فَجَاؤُوا	بِرَأْسٍ	مِثْلِ	رَأْسِ	بَقَرَةٍ	مِنَ	الذَّهَبِ فَوَضَعُوهَا

بیا د هغه قبیلې والا یو د سرو زرو سر راوړو چې غوې د سر پشان ؤ و او هغه یې کیښود لو. د هغې نه وروسته

فَجَاءَتِ	النَّارُ	فَأَكَلَتْهَا	زَادَ	فِي رِوَايَةٍ:

اور راغلو او هغه مال یې اوسوځولو. او یو روایت کې راوي دا عبارت هم نقل کړی دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وفرمایل

فَلَمْ	تَحِلَّ	الْغَنَائِمُ	لِأَحَدٍ	قَبْلَنَا	ثُمَّ	أَحَلَّ	اللّٰهُ لَنَا الْغَنَائِمَ

زمونږ نه مخکې د هیچا لپاره مال غنیمت حلال نه ؤو. بیا الله تعالی دا زمونږ لپاره حلال کړو. الله تعالی مالي

رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

تو ګه باندې مونږ کمزورې ولیدلو نو مال غنیمت یې مونږ ته حلال کړو.

توضیح نبي من الانبي اء: وایي دا یوشع بن نون پیغمبر ؤو. هغې وزګار ځوانان د جهد لپاره انتخاب کړل چې په زړه ورتیا سره جنګ وکړي.

انت مأمورة: یعنې کا ماته د جهاد حکم دی او تاباندې د اسمان د سفر حکم دی. ای الله دا ودروې چې زه د جهاد عمل پوره کړم او بنار ته دننه شم. دا چې د لمر د ډوبېدلو نه وروسته د شنبې ورځ د شروع والا ؤوده او د شنبې په ورځ د هغوی لپاره جهاد کول منع ؤو، ځکه حضرت یوشع عَلَيْهِ السَّلَامُ دعا وکړه چې د جهاد عمل پوره شي او بنار فتح شي. ګنې تر بله ورځ پورې به کافران مضبوط ښي. دا وخت کمزورې دي او د هغوی پښې نښوډلې دي. د هغې دعا نه وروسته لمر اودرېدلو. کله چې بنار فتح شو نو هغه لمر ډوب شو. د دې نه د جهاد د اهمیت او عظمت پته لږي. د تبلیغ والو په نزد د جهاد هیڅ اهمیت نشته دی. بهرحال بنار فتح کېدلو نه وروسته مال غنیمت راجمع کړی شو، خو د رواج مطابق اور هغه اونسوځولو. حضرت یوشع عَلَيْهِ السَّلَامُ د خلکو سره د مصافحې کول حکم وکړو. د خیانت کونکې لاس د هغې د لاس سره ونښتلو. د دې حدیث نه معلومه شوه چې د یهودو انبیاؤ جهاد کړی دی. کوم خلک چې جهاد ته دهشت ګردې وایي هغوی په خپل نبي باندې اعتراض کوي.

په مالِ غنیمت کې خیانت کونکی به دوزخ ته اچولی کیږي

﴿۴۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: حَدَّثَنِي عُمَرُ قَالَ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مونږ ته بیان وکړو چې کله د خیبر ورځ

لَمَّا كَانَ يَوْمَ خَيْبَرَ أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا:

راغله یعنې غزوه خیبر ختم شو، نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په صحابؤ کې یو څو خلک راغلل او خپل مینځ کې یې وویل

فُلَانٌ شَهِيدٌ وَفُلَانٌ شَهِيدٌ

فلانی شهید دی او فلانی کس شهید دی یعنې هغه ورځ چې کوم مسلمانان شهیدان شوي ؤو د هغوی نومونه

حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ فَقَالُوا:

یې اخستل او د هغوی د شهادت ذکر یې کولو. تردې چې هغوی دیو کس په جسد باندې تیر شول او ویې ویل

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۳۲ أخرجه النسائي في ۲۲۱/۷ رقم الحديث ۴۳۹۱، وأحمدي المسند ۴۶۲/۳.

فُلَانٌ شَهِيدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَلَّا
چې دا فلانی کس شهید دی. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوږدلو سره وفرمایل چې هرګز نه، تاسو چې په کومه معنی کې
إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ
دې ته شهید وایې هغه صحیح نه دی، ځکه ما دې کس ته په مال غنیمت کې یو څادر یا یې وفرمایل چې یو دهرئ
ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او د یوې کمبلي پټولو په وجه دوزخ کې په سوزېدلو باندې لیدلی دی. بیا نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه مخاطب
يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ:
کړم او وې فرمایل چې ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاړ شه او د خلکو په مینځ کې دریځله دا اواز وکړه چې
أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ ثَلَاثًا
جنت ته صرف مومن یعنې کامل مومن داخلېږي. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې زه اوتلم او دریځله
قَالَ: فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ: أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ ثَلَاثًا. رَوَاهُ مُسلم[1]
ځله مې اواز وکړو چې خبردار! جنت ته به صرف مومن داخلېږي. (مسلم)



---

(1) رقم الحديث ۴۰۳۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۲۸/۶ رقم الحديث ۳۱۲۴ ومسلم في ۱۳۶۶/۳ رقم الحديث (۳۲-۱۷۴۷)

باب الجزية
د جزيي بيان

قال الله تعالىٰ: ﴿حتى يعطوا الجزية عن يد و هم صاغرون﴾ (سورة التوبة: ۲۹)

جزيه د جزا نه دی. چې لغوي اعتبار سره د بدلې په معنی کې دی. اصطلاح کې **"الجزية ما يؤخذ من اهل الذمة"** يعنې جزيه هغه خاص محصول او ټيکس ته وايي چې د ذميانو نه د هغوی د مال او نفس د حفاظت په بدل کې اخستلی کېږي، نو د اسلامي حکومت ذمه واري ده چې هغوی د زميانو د مال او نفس او د هغوی د عزت او ابرو حفاظت وکړي. (مرقات ۶۰۴/۷)

د جزيي حکمت: اهل ذمۀ باندې د جزيي عملي کولو حکمت دا دی چې کله هغوی اسلام او اهل اسلام د نژدې نه وګوري او د هيڅ يَو اړخ نه په هغوی باندې پابندي نه وي. هر اړخ ته د اسلام شوکت او غلبه وي. د اسلام برکتونه وي، نو دير ژر به د اسلام آفاقي کشش هغوی اسلام ته رابنکاږي، ځکه په لاکهونو ذميانو په قرونِ اولی کې داسې اسلام قبول کړی دی. دويم حکمت جزيه کې دا دی چې په ذميانو باندې جزيه بوج شي نو د هغوی زړونه به مغلوب شي. د اسلام قانون به غالب وي، نو په کفر کې به د ذميانو لپاره هيڅ فائده نه وي. بلکې دنيوي نقصان به هم وي او اخروي نقصان به هم وي، نو ځکه د جزيي د ذلت نه د وتلو لپاره او د دنيوي ګټو په غرض به هغوی اسلام ته راشي. نن سبا هم دا ليدلی کېږي چې چرته ټيکس کم وي يا نه وي. خلک هغه اړخ ته ځي. څومره خلک دي چې خپل ځانونه په اهل باطلو کې شميري چې هلته ټيکس نه راځي. يَو ښه مسلمان به د زکوٰة نه د بچ کېدلو لپاره خپل ځان عيسائی، قاديانی او رافضي ښائی. د دې لپاره چې د زکوة نه بچ شي. که چرې هغه خلکو ته معلومه شي چې ټيکس زيات دی او زکوة کم دی نو دوی به خپل ځانونه د کافر په ځای ځان مسلمان ښاې. دا انساني طبع او فطرت دی چې د نظر نه غوږ ځول کېدلی نه شي. قرآن کې الله تعالی همدغې اړخ ته اشاره کړې ده. **"حتى يعطوا الجزية عن يد و هم صاغرون"** (التوبة: ۲۹) چې په ذلالت سره خپل لاس باندې ټيکس او جزيه ور کړي، نو هغوی ته به احساس کېږي چې هغوی چرته ولاړ دي.

د جزيي قِسمونه: د جزيي دوه قِسمه دي. اولنی قِسم د صلحې په توګه دی. هغه داسې چې کفار ويري په وجه جنګ ونه کړي. بلکې د صلحي په توګه اسلام د جزيه ورکول قبول کړي. دغه شان د جزيه د جانبي نو له اړخ نه رضامنتيا کېږي. د صلحې نه وروسته مسلمانانو له د هغې پابندي کو لازمه ده. دي صورت کې به جزيه د جانبي نو له اړخ د رضامنتيا مطابق وي. د جزيي دويم قِسم هغه

وي چې اسلامي لښکر د کفارو په يوه علاقه باندې حمله کوي. او د جنګ نه وروسته هغه فتح کړي او د هغې نه وروسته د کفارو د نه وژلو په بدل کې هغوی باندې جزيه مقرره کړي . هغې کې د وخت د خليفې او د امير الحرب خوښه وي چې هغوی څومره جزيه مقرروي. د کفارو خوښه به نه وي. (مرقات ۶۰۴/۷)

ذميانو لپاره د اسلام د اړخ نه شرطونه : د جزيه ادا کولو سره سره اسلام په ذميانو باندې يو څو نور شرطونه هم مقرروي چې لاندې ذکر دي: ۱: ذميان به نوي کليسا يا عبادت خانه نه جوړوي ۲: ذميان به د خپل عبادتونو په ښکاره تشهير نه کوي ۳: د اسلامي قوانينو او قواعدو د تحقير او توهين به نه کوي ۴: بدن باندې به يو خصوصي نښان کوي د دې لپاره چې دا ذمي معلوم شي لکه د اميل استعمال يا سر باندې چوتی ايښودل وغيره ۵: ذميان خلک به د مسلمانانو نه ښه کور نه جوړي ۶: د مسلمانانو نه به د ښه شان و شوکت والا جامه نه استعمالوي ۷: اَسپي باندې سورلی نه کوي ګوياکې د مرسډيز او لينډ کروزر سورلی به نه کوي ۸: جزيه به خپله په ولاړه باندې په خپل لاس دفتر کې جمع کوي ۹: که مسلمان محصول وصولونکی هغې له ورغلو نو د ذمي ګريوان به نيسي او ديکا به ورکوي او محصول به ترينه اخلي. دا نه (۹) شرطونه دي. چې د دې نه نه وروسته نه شي ويل کيدی چې هيڅ يَو ذمي ګَس به اسلام قبلولو نه بغير پاتې شي، نو دا جزيه مقرروول حقيقت کې د اسلام يو دعوت دی، خو نن سبا مسلمانان دومره کمزوري شوي دي چې دا خبرې په ژبه ويل هم نه خوښوي. ګيني حقيقت خو دا دی چې کوم کافر د خپل حقيقي مالک نه باغي شي، نو هغې دا اخلاق کولو هم د هغې سره مننه (رعايت) دی، خو کوم خلک چې غيرت مند مسلمانان ؤو هغوی د خارو لاندې خخ دي. د خاوري د پاسه وَس ګډ بدوننکي (انسران) پاتې شوي دي.

گل گئے گلشن گئے پھولوں کے پتے رہ گئے — جو لوگ تھے وہ مر گئے الّو کے پٹھے رہ گئے

آدمیان گم شدند ملک خدا خر گرفت — شامت اعمال ما صورت نادر گرفت

الفصل الاول

د مجوسيانو نه جزيه اخستل څنګه ده

﴿۱﴾ عَن بَجَالَةَ قَالَ: كُنْتُ كَاتِبًا لِجَزْءِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَمِّ الْأَحْنَفِ

حضرت بجاله رحمه الله (تابعی) فرمايي چې زه د جزء ابن معاويه رحمه الله تابعی سره چې د حضرت احنف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (صحابي)

فَأَتَانَا كِتَابُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَبْلَ مَوْتِهِ

تره ؤو، ورسره منشي ؤوم. يو ځل مونږ د حضرت (ام المومنين) د حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مرګ نه مخکې

بِسَنَةٍ: فَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنَ الْمَجُوسِ
يو خط راغلو. چې دا حكم په كې راكړى شوى وو چې د مجوسيانو كلي په آتش پرستو كې د هغوى د محارمو په مينځ
وَلَمْ يَكُنْ عُمَرُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمَجُوسِ
فرق وكړئ. راويي وايي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به اول د مجوسيانو نه جزيه نه اخستله. تردې چې
حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ
عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ گواهي ورکه يعنې هغې دا بيان کړل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هجر
هَجَرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ وذُكِرَ حديثُ بُريدةَ: إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ فِيبَابِ الْكتاب إِلى الْكفَّار[1]
د يهودیانو نه جزيه اخستله، نو هله بيا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مجوسيانو نه جزيه اخستل شروع کړه.

توضيح: من المجوس: حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په ابتداء کې د مجوسيانو نه جزيه نه اخستله، ځکه قرآن کريم کې آيت ؤو **﴿من الذين اوتوا الكتاب حتى يعطو الجزية عن يد وهم صاغرون﴾** (سورة التوبة : ۲۹) د دې آيت نه په ظاهره معلومېدل چې د جزيې تعلق صرف د اهل کتابو يهود او نصاری سره دی. مجوس اهل کتاب نه دي بلکې آتش پرست دي. کله چې حضرت عبدالرحمن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ گواهي ورکړه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هجر علاقې د مجوسو نه جزيه اخستله نو بيا حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جزيه اخستل شروع کړه. د جزيه اخستلو مطلب دا نه دی چې هغوی دې ژوندې پرې نه ښودلی شي بلکې مړه دې کړی شي. اوس د اهل کتابو او د مجوسو نه بغير نور د عجمو د کفارو نه به جزيه اخستلی کېږي يا نه. دې کې د فقهاؤ اختلاف دی.

د فقهاؤ اختلاف : د امام شافعي رحمه الله په نزد د اهل کتابو نه بغير به د هيڅ يو کافر نه جزيه نه اخستلی کېږي. هغه که عربې وي يا عجمې وي. البته د مجوسيانو نه جزيه اخستل ځکه جائز دي چې د بحث لاندې حديث کې د دې واضحه تصريح موجود ده.د احنافو په نزد د اهل کتابو وغيره ټول نه به جزيه اخستلی کېږي. البته د عرب د مشرکانو او د مرتدينو نه به جزيه نه اخستلی کېږي. د هغوی لپاره به يا اسلام وي يا توره وي.

---

(۱) رقم الحديث ۳۰۳۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۷۵/۶ رقم الحديث ۳۱۵۷-۳۱۵۶ وأبوداود في السنن ۴۳۱/۳ رقم الحديث ۳۰۴۳

دلائل: امام شافعي رحمه الله د ﴿من الذين اوتوا الكتاب﴾ نه د مخالف په توګه استدلال کړی دی. البته د مجوسو تخصيص او د هغوی نه جزيه اخستل د بحث لاندې حديث په وجه دی.
د احنافو ائمه فرمايي چې د عجمو کافرانو غلام کول د ټولو په نزد جائز دي. دا د دې خبرې دليل دی چې د هغوی نه جزيه اخستل هم جائز دي، ځکه چې ژوندې پريښودل د کفر په حالت کې جائز دي نو بيا جزيه اخستل هم جائز پکار ده. باقي د مخالف مفهوم زمونږ لپاره دليل نه دی. لهذا دا پيش کول بيکاره دی.

ذي محرم من المجوس: د مجوسيانو په نزد د لُور، مور او د خور وغيره سره محارم سره نکاح کول هيڅ شرم نه ؤو. او نه منع ؤو، ځکه حضرت عمر رضي الله عنه حکم وکړو چې د داسې محارمو د ازدواجي تعلق نه جدا کړه. (مرقات ۶۰۵/۷)

هجر: په يمن کې يوې علاقې نوم دی. چې نن سبا ورته احساء وايي. دغه شان مدينې ته نزدې د يوې علاقې نوم هم هجر ؤو. (مرقات ۶۰۵/۷)

الفصل الثاني

﴿۲﴾ عَنْ مُعَاذٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ

د حضرت معاذ رضي الله عنه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه حاکم او قاضي کړو او يمن ته يې روان کړو، نو

أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي مُحْتَلِمٍ دِينَارًا أَوْ عَدْلَهُ مِنَ الْمَعَافِرِيِّ:

هغې ته يې هدايت وکړو چې هغه هلته د هر حالم يعنې د هر بالغ نه يو دينار يا يو د يو دينار په قيمت د معافري

ثِيَابٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

ټوټه چې په يمن کې تيارېدله د جزيه به توګه واخلي.

توضيح: **حالم**: د دې نه بالغ مراد دی يعنې د بالغ سړی نه به يو دينار جزيه اخستلی کېږي. که دينار نه وي د هغې د قيمت برابر به ترېنه د معافري ټوټه اخستلی کېږي.

معافري: د همدان د يوې قبيلې نوم دی. هغوی ته ټوټه منسوب وه. د روايت په آخر کې راوي اشاره

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۳۶ أخرجه ابوداود في السنن ۲۲۸/۳ رقم الحديث ۳۰۳۸ والترمذي في ۲۰/۳ رقم الحديث ۶۲۳

وکړه چې دا به په يمن کې جوړېدله. علماؤ ليکلې دي چې اوس معافري د يوې ټوټې نوم دی او نسبت ختم شوی دی. د دې روايت نه په ظاهره معلومېږي چې بالغ کس له پکار ده. مالدار وي که غريب وي په هغوی باندې به په يو مقدار کې جزيه مقررېږي. همدغه د شوافعو مسلک دی خو د احنافو نزد په صاحب حيثيت مالدار باندې د کال ۴۸ درهمه جزيه ده. متوسطه طبقه باندې ۲۴ درهمه د کال دي او ادنی فقير باني دولس درهمه د کال دي. احنافو د څه مرسل روايتونو او د حضرت عمر رضي الله عنه د عمل نه استدلال کړی دی او د بحث لاندې حديث مجمل هم دی او د صلح په صورت باندې محمول هم دی. (مرقات ۶۰۶،۶۰۷/۷)

په مسلمانانو باندې جزيه نشته دی

﴿۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَصْلُحُ قِبْلَتَانِ فِي أَرْضٍ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې يو زمکه باندې دوه قبلې

وَاحِدَةٍ وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ جِزْيَةٌ. رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد[1]

پکار نه دي او په مسلمانانو باندې جزيه نه شي مقرر کېدی. (احمد، ترمذی، ابو داؤد)

توضيح: **لاتصلح قبلتان**: د دې جملې يو مطلب دا دی چې د يهود او نصاری لپاره په جزيرۀ عرب کې د اوسيدلو هيڅ ګنجائش نشته دی. ځکه د هغوی قبله بيت المقدس ده او د مسلمانانو بيت الله دی. او دا دواړه په مخالف اړخ کې دي. لهذا دوی د عرب د جزيرې نه اوباسئ. ګويا کې د "**ارض واحدة**" نه د عب جزيره مراد ده. دويم مطلب دا دی چې د مسلمانانو هيڅ ځمکې له دا مناسب او صالح نه دي چې هلته د مبالغې او د مقابلې په توګه او مساوات به توګه دوه قبلې ابادې وي. د هغې صورت به دا وي چې د مسلمانانو په ملک کې کافران د جزيې نه بغير اوسيږي يا مسلمان باجګذاب بن کر د کفار په مينځ کې په ذلت سره اوسيږي. (مرقات ۶۰۹/۷)

وليس على المسلم جزية: مطلب دا دی چې يو ذمي کس ؤو. هغې باندې جزيه مقرره وه. بيا هغه مسلمان شو. اوس هغه ذمي نه بلکې مسلمان دی، نو اوس هغې باندې دا جزيه نشته دی. يا مطلب دا دی چې يو ذمي ؤو. هغې جزيه ورکوله خو بيا هغې بنده کړه، خو څه موده وروسته مسلمان شو. اوس چې په هغې باندې کومه پاتې جزيه وه د هغې ورکول لازم نه دي، ځکه اوس هغه مسلمان شوی

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۳۷ أخرجه أبوداود في السنن ۴۳۸/۳ رقم الحديث ۳۰۳۵ والترمذي في ۲۷/۳ رقم الحديث ۶۳۳ وأحمد في المسند ۲۲۳/۱

دی. او په مسلمان باندې جزیه نه وي.

په جزیه باندې د صلحې یو صورت

﴿۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُومَةَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اکیدر دومه مقابلې ته ولېږلو، نو خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَأَخَذُوهُ فَأَتَوْا بِهِ فَحَقَنَ لَهُ دَمَهُ

او د هغې ملګرو اکیدر ونېولو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې یې پیش کړو. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَصَالَحَهُ عَلَى الْجِزْيَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

هغه معاف کړو او جزیه باندې د هغې سره صلح وشوه.

توضیح: اکیدردومة: دومة د تبوک سره د یو ښار نوم دی. د هغې یو مقامي بادشاه ؤو چې نوم یې اکیدر ؤو. دا د روما د سلطنت ماتحت ؤو. د غزوه تبوک په موقع نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړو چې لاړه او اکیدر ژوندی راوله. حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! هغه سړی د ښار دننه قلعه کې محفوظ دی، ژوندی یې څنګه راولم. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې هغه به تاته ځنګل کې ملاو شي، نو حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله قلعه ته نزدې شو نو دغه وخت کې یو اسماني رنګه غوا راغله او د قلعه دیوال سره یې سر مښلو. اکیدر هغې په سې را اوتلو. غوا د ځنګل اړخ ته وتښتېدله او اکیدر ورپسې شاته ؤو چې حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اکیدر باندې حمله وکړه او د اکیدر ورور ؤوژلی شو او خپله ګیر کړی شو.

کله چې اکیدر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوستلی شو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې اکرام وکړو. او د هغې ښار یې روغ پرېښودلو، خو د کال جزیه یې پرې مقرره کړه. دوه زره (۲۰۰۰) اوښان، اته سوه (۸۰۰) آسونه، څلور سوه (۴۰۰) زغري او څلور سوه نیزو باندې صلح وشوه. وروسته اکیدر مسلمان شو. د اکیدر نه بغیر هم د دې باندې چیانو سردارانو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره صلح وکړه او جزیه یې قبوله کړه. شل (۲۰) ورځې وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مدینې ته بېرته راغلو. (مرقات ۶۱۱/۷)

---

(1) رقم الحديث ۴۰۳۸ أخرجه ابوداود في السنن ۴۲۷/۳ رقم الحديث ۳۰۳۷.

يهودو نصارى نه مال تجارت باندې د محصول اخستلو مسئله

﴿۵﴾ وَعَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ جَدِّهِ أَبِي أُمِّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت حرب ابن عبيد الله د خپل نيکه نه او هغه د خپل پلار نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ: إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ

وفرمايل يهود او نصارى باني عُشر يعنې لسمه برخه ده. او په مسلمانانو باندې څلويښتمه برخه واجب ده.

عُشُورٌ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ[1]

هغوى باندې عُشر واجب نه دى.

توضيح: د **عشور** مفرد **عشر** دى. د مال لسمه برخه ويستلو ته عشر وايي. زمکه په دوه قسمه ده. عشري او خراجي. عشري هغه ځمکې ته وايي چې مالک يې مسلمان وي. مسلمان باندې د ځمکې په وجه صرف عشر فرض دى. خراجي هغه ځکه ده چې مالک يې ذمي کافر وي. هغې باندې د ځمکې خراج حرام دى. د حديث مطلب دا دى چې په مسلمان باندې د تجارت په مال کې عشر نشته دى. د مسلمان د ځمکې د عشر نفي دلته مقصود نه ده، خو د خراج سره د اهل کتاب په تجارتي مالونو کې هم عشر شته دى. دا چې په چونګې کې د هغوى د مالونو نه عموماً لسمه برخه اخستلى کېږي ځکه ورته عشر وويل شو. لهذا دلته د عشر نه اصطلاحي عشر مراد نه دى بلکې لسمه برخه مراد ده. د شوافعو مسلک دا دى چې په يهود او نصارى باندې جزيه مقرره ده نو بس همغه کافي ده. د دې نه بغير هغوى باندې هيڅ عشر وغيره نشته دى. احناف فرمايي چې که کافران په خپلو علاقو او سرحدونو باندې د مسلمانانو د تجارتي مال نه عشر اخلې نو مونږ به يې هم اخلو، ګنې نه به يې اخلو. د حديث د احنافو مؤيد دى. (مرقات ۶۱۲/۷)

په ذميانو باندې د جزيې يو عجيب صورت

﴿۶﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت عقبه ابن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

---

[1] (رقم الحديث ۴۰۳۹ اخرجه ابوداود في السنن ۴۳۵/۳ واحمد في المسند ۴۷۲/۳

إِنَّا	نَمُرُّ	بِقَوْمٍ	فَلَا	هُمْ	يُضَيِّفُونَنَا

چې مونږ کله جهاد ته حواله دیو قوم په ابادئ باندې تېرېږو نو هغه خلک نه زمونږ مېلمستیا کوي او نه مونږ له هغه شی

وَلَا	هُمْ	يُؤَدُّونَ	مَا	لنا

راکوي چې کوم هغوی باندې زمونږ د اسلام په وجه حق وي. یعنې د اسلام په وجه چې هغوی باندې زمونږ چې

عَلَيْهِم	مِنَ	الحقِّ

دا کوم حق دی چې هغوی قرض وغیره راکړي او زمونږ ضرورتونه پوره کړي او زمونږ خیال وساتې. هغوی دا

وَلَا	نَحْنُ	نَأْخُذُ	مِنْهُمْ.

نه پوره کوي او چې مونږ د هغوی نه هیڅ یو شی په زوره نه اخلو نو ځکه مونږ سخت پریشانه یو او د هغوی

فَقَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

درویې په وجه مونږ په لوی اضطرار او نقصان کې اخته کېږو. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایل چې که هغوی ستاسو

إِنْ	أَبَوْا	إِلَّا	أَنْ	تَأْخُذُوا

د مېلمستیا کولو نه یا تاسو په لاس کې نغد درکولو یا د په قرضو د یو شي خرڅولو نه انکار وکړي او په دې

كُرهاً	فَخُذُوا.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ[1]

صورت کې د هغوی نه هیڅ یو شی په زوره د اخستلو نه بغیر نه چاره نه وي نو په زوره یې ترېنه واخلئ.

توضیح: د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې به مجاهدین هر ځای ته تلل راتلل. لاړې به خالي وي. لږ ځایونو کې به د ذمیانو اباديانې وي، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ذمیانو باندې د معاهدې د لاندې جزیې سره دا لازمه کړې وه چې کله تاسو باندې مسلمانانو تېرېږي نو د مجبورۍ په وخت کې هغوی ته خوراک ورکوئ او کور کې به ورله د شپې انتظام کوئ. د دې جزیې متعلق په ډېرو مقاماتو کې دغه قسمه حدیثونه راځي چې که اهل کتاب درته خوراک نه درکوي نو په زوره یې ترېنه اخلئ. د جزیې صورت دا ؤو ځکه د هیڅ مسلمان لپاره جائز نه ده چې د هغه د اهل کتاب نه په زوره خوراک وخوري. دا تول یا د معاهدې صورتونه دي یا د ولږې صورت کې دي یا د قرض په توګه دی چې وروسته به روپئ ادا کوؤ. توضیحات جلد اول کې دا مسئله تفصیل سره لیکلی شوې

---

[1] رقم الحديث ۴۰۴۰ أخرجه الترمذي في السنن ۴: ۱۲۵ رقم الحديث ۱۵۸۹

ده. (مرقات ۶۱۳/۷)

الفصل الثالث

په سروزرو او سپينوزرو باندې د جزيې مقدار

﴿۷﴾ عَنْ أَسْلَمَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

حضرت اسلم رحمه الله (تابعی) فرمايي چې حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپل دور خلافت کې په هغه ذميانو

ضَرَبَ الْجِزْيَةَ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أربعةَ دنانيرَ

باندې چې سره زر ورسره ؤو څلور ديناره جزيه مقرره کړه او کومو ذميانو به چې سپين زر لرل نو هغوی

وعَلى أهلِ الوَرِقِ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا مَعَ ذَلِكَ أَرْزَاقُ الْمُسْلِمِينَ وَضِيَافَةُ

باندې يې څلويښت درهمه مقرر کړل او د دې نه بغير يې پرې د مسلمانانو د خوراک څښاک د

ثلاثةِ أيامٍ. رَوَاهُ مَالك[1]

درې ورځو مېلمستيا هم مقرره کړې وه.

توضيح: ارزاق المسلمين: د دې نه مراد همغه مېلمستيا ده چې ذکر يې د دې نه مخکنې حديث کې راغلی دی. د حالاتو او د اشخاصو د تفاوت په وجه د جزيې مقررولو هم مختلف صورتونه پيدا شوې دي. دلته د کال څلور ديناره د کس په سر ذکر دي او د څلويښت درهمو د کال ذکر دی، خو دې سره د مېلمستيا حق هم يو زيات حق دی. (سورة النساء: ۱۲۸)



[1] أخرجه مالك في الموطأ ۲۷۹/۱ رقم حديث ۳۳ من كتاب الزكاة

کتاب الصلح

د صلحې بيان

قال الله تعالىٰ: ﴿وان جنحوا للسلم فاجنح لها و توكل على الله﴾ (سورة الانفال:)

وقال الله تعالىٰ: ﴿والصلح خير﴾ (سورة النساء)

مصالحه او صلح د اصلاح نه مشتق دی چې د فساد ضد دی. یو بَل سره په محبت و مودت سره معامله کول ته صلح وایي. که چیرې د وخت صالحه بادشاه د مسلمانانو لپاره صلح مناسبه ګڼي. او صلح کولو کې فائده وي او د مسلمانانو عظمت او شوکت ته هیڅ نقصان نه رسېږي، نو د کفارو سره صلح بالعوض هم جاز ده او بغیر د عوض نه هم جائز ده. او که په صلح کې نقصان وي نو صلح جائز نه ده. اسلامي تاریخ کې د ټولو نه لویه صلح د حدیبیې ده چې د شرطونو بیان یې راروان دی. کفارو سره د لسو (۱۰) کالو ډیره صلح پکار نه ده.

الفصل الاول

د صلح حدیبیه تفصیلي بیان

﴿۱﴾ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَا: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او د مسور ابن مخرمه او د حضرت مروان ابن حکم نه روایت دی. دا دواړه وایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ أَصْحَابِهِ
د حدیبیه په کال خپل یو زرو څو سوه صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ځان سره کړل او د مدینې نه روان شول. کله
فَلَمَّا أَتَى ذَا الْحُلَيْفَةِ
چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ذوالحلیفه ته ورسیدلو چې د مدینې منورې نه تقریباً شپږ میله فاصله کې واقع دی او ایسار علی چې هم ورته
قَلَّدَ الْهَدْيَ وَأَشْعَرَ وَأَحْرَمَ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ
وایي نو هدی یعني د قربانئ څاروي په غاړه کې یې پرې واچولو او اشعار یې وکړو. بیا یې د ذوالحلیفه نه د عمرې لپاره
وَسَارَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالثَّنِيَّةِ
احرام وترلو او مخکې روان شو تردې چې کله ثنیه یعني هغه سمځي ته ورسیدلو چې د کوم اړخ نه مکې والو ته

الَّتِي	يُهْبَطُ	عَلَيْهِمْ	مِنْهَا	بَرَكَتْ	بِهِ	رَاحِلَتُهُ

راکوزېږي. نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوښه چې قصواء نوم يې ؤو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يې کينولو. چې خلکو وليدل نو

فَقَالَ	النَّاسُ:	حَلْ	حَلْ	خَلَأَتِ	القَصْوَاءُ

خبرې يې شروع کړې چې "حل حل" دا لفظ به د اوښ د والوتلە لپاره ويل کېدلو. قصواء پاڅېدله.

خلأت	الْقَصْوَاء	فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:	مَا	خَلَأَتِ	الْقَصْوَاءُ	وَمَا	ذَاكَ	لَهَا	بِخُلُقٍ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوربدلو سره وفرمايل چې نه قصواء الوتې نه ده او نه د دې د الوتلو عادت دی.

وَلَكِنْ	حَبَسَهَا	حَابِسُ	الْفِيلِ	ثُمَّ	قَالَ:	وَالَّذِي

بلکې دا هغه ذات و درولې ده کوم کوم ذات چې هاتي و درولی ؤو. او بيا يې وفرمايل، قسم دی په

نَفْسِي	بِيَدِهِ	لَا	يَسْأَلُونِي	خُطَّةً

هغه ذات چې د چا په لاس کې زما ژوند دی چې قريش ما سره کومه هم داسې خبره کول غواړي چې

يُعَظِّمُونَ	فِيهَا	حُرُمَاتِ	اللهِ

په کوم کې د الله د حرم عظمت وي نو زه به د هغوی خبره پوره کوؤم. يعنې که نن د مکې خلک د صلحې

إِلَّا	أَعْطَيْتُهُمْ	إِيَّاهَا	ثُمَّ

پەوخت کې کومې هم داسې خبرې مطالبه کوي چې د الله د حرم عظمت په کې وي نو زه به هغه خبره پوره کوم. بيا نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زَجَرَهَا	فَوَثَبَتْ	فَعَدَلَ	عَنْهُمْ	حَتَّى

اوښه پاڅوله او هغه څرپاڅېدله، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې لارې پرېښودله او بل اړخ ته روان شو چې د حديبيې آخري غاړې

نَزَلَ	بِأَقْصَى	الْحُدَيْبِيَةِ

ته ورسيږي چرته چې يو کنده کې لږ اوبه وي کوز شو او هلته يې پراؤ واچولو. خلکو د هغه کندې لږ اوبه راخستلى

عَلَى	ثَمَدٍ	قَلِيلِ	الْمَاءِ

او استعمالول يې شروع کړل تر دې چې لږ وخت يې هغه تولې اوبه راويستلې يعنې هغه کنده دا چې اوبه د هرې لږې وې،

يَتَبَرَّضُهُ	النَّاسُ	تَبَرُّضًا	فَلَمْ	يَلْبَثْهُ	النَّاسُ

نو ځکه د خلکو د کم نه کم مقدار کې د اخستلو باوجود هم اوبه د هرې ژر ختمې شوې. خلکو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

حَتَّى نَزَحُوهُ وَشَكِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَطَشَ فَانْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ

په خدمت کې د تندې شکایت وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل ترکش نه یو تیر راویستلو او

ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهُ فِيهِ فو الله

صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې حکم وکړو چې دا اوبه په ډبه کنده کې واچوئ. او بیا راوي وایي چې قسم په خدای! چې دهغه

مَا زَالَ يَجِيشُ لَهُمْ بِالرِّيِّ

تیر په برکت سره د هغه خلکو د مړولو اوبه. کله هم نه ختمیدونکې اوبه ګویاکې په چپو راروانې دي تردې چې خلک ترینه لړې

حَتَّى صَدَرُوا عَنْهُ فَبَيْنَا هُمْ

شول یعنې الله په هغه کنده کې دومره ډېرې اوبه پیدا کړې چې د ټولو خلکو ضرورتونه نه په اطمینان سره پوره شول. بلکې چې د

كَذَلِكَ إِذْ جَاءَ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ

هلته نه بېرته راتلل نو هغه وخت هم اوبه پاتې وې. بهرحال صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په هغه حالت کې ؤو چې ناڅاپه بدیل ابن ورقاء

الخزاعيُّ فِي نَفَرٍ مِنْ خُزَاعَةَ

خزاعی. د خزاعه څه خلکو سره د مکې د کفارو پشان د مصالحت لپاره راغلو. بیا عروه ابن مسعود

ثُمَّ أَتَاهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ

هم د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ته راورسیدلو. د هغې نه وروسته امام بخاری هغه اوږدې خبرې

وَسَاقَ الْحَدِيثَ إِلَى أَنْ قَالَ:

نقل کړي دي چې د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د بدیل او عروه په مینځ کې وشوې چې صاحب مصابیح د اختصار له نظره

إِذْ جَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو

دلته نه دې پیش کړي. او بیا یې دا بیان کړل چې آخرکار کله چې سهیل ابن عمرو د مکې والو آخري سفیر او

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اُكْتُبْ: هَذَا

د نماینده په حیثیت راغو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمایل چې ولیکه: دا

مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ ". فَقَالَ سُهَيْلٌ:

هغه معاهده ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې صلح کړې ده. سهیل د دې الفاظ لیدلو سره وویل چې

وَاللهِ لَوْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ مَا صَدَدْنَاكَ عَنِ الْبَيْتِ

په خدای که مونږ دا منلی چې ته د الله رسول یې نو نه به ته مونږ د خانه کعبې د تللو نه منع کولی او

وَلَا قَاتَلْنَاكَ وَلَكِنِ اكْتُبْ: مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ اللهِ

نه به سو جنګ کولی. لهذا دا سې ولیکه چې دا هغه معاهده ده چې په کوم باندې محمد ابن عبد الله صلح کړې ده.

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَاللهِ إِنِّي لَرَسُولُ اللهِ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوربدلو سره وفرمایل چې قسم په خدای! زه د الله رسول یم اګر که تاسو

وَإِنْ كَذَّبْتُمُونِي اكْتُبْ: مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ اللهِ

زما تکذیب کوئ. خیر د مصلحت په خاطر الفاظو کې ستاسو دا بدلون زه منم: علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ! ته محمد ابن عبد الله ولیکه.

فَقَالَ سُهَيْلٌ: وَعَلَى أَنْ لَا يَأْتِيَكَ مِنَّا رَجُلٌ

یا سهیل وویل چې د دې صلحې معاهده کې داخبره هم منه چې تاسو کې هر څوک زمونږ خوا له راغلو نو مونږ به هغوی بېرته نه پرېږدو،

وَإِنْ كَانَ على دِينِكَ

خو که زمونږ ستاسو خوا له یو کس راغلو، اګر که ستاسو دین یې قبول کړی وي. نو هغه به تاسو مونږ ته بېرته راکوئ. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

إِلَّا رَدَدْتَهُ علينا

دا هم قبوله کړه. دې موقعه کې هم په واقعه کې د اختصار نه کار اخستلی شوی دی یعنې صاحب مصابیح د دې

فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ

معاهدې متعلق د بخاری بیان کړی شوی ټول تفصیل نه دی نقل کړی. یا دا د بخاری بل کوم یو روایت دی.

قَضِيَّةِ الْكِتَابِ قَالَ

چې صرف دومره په کې بیان شوی دی. بهر حال نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یا حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د صلح نامې نه فارغ شو، نو

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: قُومُوا فَانْحَرُوا

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو صحابو ته وویل چې پاسئ او لاړ شئ. اوس د هدی څاروي ذبح کړئ او

ثُمَّ احْلِقُوا ثُمَّ جَاءَ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى:

بیا سر ونه وخروی د همغې نه وروسته د پرې نښې مسلمانانې شوې او د مکې نه راغلې. او الله تعالی

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا

دا حکم نازل کړو ﴿يآ ايها الذين اٰمنوا اذاجاءكم المؤمنات مهاجرات الخ﴾ ای ایمان والو! چې

جاءكُم المؤمناتُ مهاجِراتٌ) الْآيَةَ.

مسلمانانې ښځې کله هجرت وکړي او تاسو ته راشي الخ. لهذا الله د دې آیت کریمه په وجه مسلمانانو

فَنَهَاهُمُ اللهُ تَعَالَى أَنْ يَرُدُّوهُنَّ وَأَمَرَهُمْ

د دې خبرې نه منع کړل چې هغوی دا ښځې کافرانو ته بېرته ورکړي او هغوی له د دې خبرې حکم ورکړو

أَنْ يَرُدُّوا الصَّدَاقَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْمَدِينَةِ

چې د هغوی مهر بېرته ورکړي. د هغې نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بېرته مدینې ته لاړو. څه ورځې

فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ وَهُوَ مُسْلِمٌ

وروسته د قریشو یو کس ابو بصیر چې مسلمان شوی ؤو د مکې نه راؤتلو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوا له راغلو.

فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ رَجُلَيْنِ

د مکې قریشو دوه کسان د هغې لټولو لپاره مدینې ته راولېږل. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د معاهدې د ذکر شوې

فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ فَخَرَجَا بِهِ

شرط مطابق ابو بصیر هغې دواړو ته بېرته ورکړو. هغه دواړو ابو بصیر ځان سره کړو او مکې ته روان شول او کله

حَتَّى إِذَا بَلَغَا ذَا الْحُلَيْفَةِ نَزَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْ تَمْرٍ لَهُمْ

یې چې په اولنې منزل ذوالحلیفه کې قیام وکړو او د هغوی سره چې کومې کجورې وې د هغې خوړل یې شروع کړل،

فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ لِأَحَدِ الرَّجُلَيْنِ: وَاللهِ إِنِّي

نو ابو بصیر یو کس مخاطب کړو او ورته وې ویل چې قسم په خدای! ای فلانی سړی، زما خیال دی

لَأَرَى سَيْفَكَ هَذَا يَا فُلَانُ جَيِّدًا

چې ستا دا توره ډېره ښه ده. لږه یې ماته او ښایه چې زه یې هم وګورم. هغه کس ابو بصیر ته د تورې

أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْهِ فَأَمْكَنَهُ مِنْهُ

کتلو موقع ورکړه یعنې هغې خپله توره د ابو بصیر په لاس کې ورکړه، بس دومره موقع کافي وه.

فَضَرَبَهُ	حَتّٰى	بَرَدَ	وَفَرَّ

ابو بصیر هغې باندې په دې توره دومره سخت غوزار و کړو چې ژریې ایخ کړو یعنې مړ شو. او دویم کس دې لیدلو سره

الْآخَرُ	حَتّٰى	أَتَى	الْمَدِينَةَ	فَدَخَلَ	الْمَسْجِدَ	يَعْدُو

او درېدلو او وتښتېدلو تردې چې مدینې ته ېرته راغلو. او د خپل مرګ له وېرې په منډه مسجد نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته داخل

فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ: لَقَدْ	رَأَى	هٰذَا	ذُعراً

شو. نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې حالت لیدلو سره وفرمایل چې دا کس وېرېدلی معلومېږي. هغه

فَقَالَ:	قُتِلَ	واللّٰهِ	صَحَابِيٌّ

کس وویل چې آؤ. قسم په خدای زما ملګری خو ؤوژلی شو او زما په وژلو کې هم هیڅ شک نشته دی. یعنې

وَإِنِّي	لَمَقْتُولٌ	فَجَاءَ	أَبُو	بَصِيرٍ

په ما وېره سوره ده چې زه به هم وژلی کېږم یا بس زه بچ شوم ګنې زه به هم وژلی شوی وی. ابو بصیر هم راغلو.

فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ: وَيْلَ	أُمِّهِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې لیدلو سره وفرمایل چې افسوس دی د هغې په مور باندې یعنې د تعجب او د حیرانتیا مقام دی.

مِسْعَرَ	حَرْبٍ	لَوْ	كَانَ	لَهُ	أَحَدٌ

دا د ابو بصیر جنګ خو اور لمبه کونکی دی. که د دې څوک مرسته کونکی وی نو مرسته به یې ورسره کړی وی.

فَلَمَّا	سَمِعَ	ذٰلِكَ	عَرَفَ	أَنَّهُ	سَيَرُدُّهُ	إِلَيْهِمْ

چې ابو بصیر دا خبره واورېدله نو پوهه شو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ما یا کافرانو ېرته لېږي، نو ابو بصیر یا کافرانو ته حواله کېدلو

فَخَرَجَ	حَتّٰى	أَتَى	سِيفَ	الْبَحْرِ	قَالَ:

له وېرې نه پټ شو او د مدینې نه ؤوتلو تردې چې هغه د سمندر په غاړه یوې علاقې ته ورسېدلو. روای وایي

وَانْفَلَتَ	أَبُو	جَنْدَلِ	بْنُ	سُهَيْلٍ	فَلَحِقَ	بِأَبِي	بَصِيرٍ

چې ابو سهیل هم د کفارو د قبضې نه راتښتیدلی ؤو او د ابو بصیر سره ملاو شو او یا خو دا حال شو چې مکه کې

فَجَعَلَ	لَا	يَخْرُجُ	مِنْ	قُرَيْشٍ	رَجُلٌ	قَدْ	أَسْلَمَ	إِلَّا	لَحِقَ	بِأَبِي	بَصِيرٍ

به چا هم اسلام قبلولو او د قریشو د قبضې نه به راتښتیدلو او د ابو بصیر سره به ملاوېدلو. تردې چې د ابو بصیر سره د قریش

حَتَّى اجْتَمَعَتْ مِنْهُمْ عِصَابَةٌ فو الله مَا يَسْمَعُونَ

نه د راخلاصېدلو والړ ېږ دلوېنه ډله برابره شوه. او قسم په خدای! کوم خلکو به چې هم دا اوربدل چې د قریشو یوه تجارتی

بِعِيرٍ خَرَجَتْ لِقُرَيْشٍ إِلَى الشَّامِ إِلَّا اعْتَرَضُوا لَهَا

قافلې وغیره د شام نه راوخ ته روانه شوې ده. هغوی به ورپسې شول او مړه به یې کړل او د هغوی ټول سامان او اسباب به یې ترینه

فَقَتَلُوهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ

اخستل. آخر دا چې کله د هغه خلکو د لاسه د قریشو ځله شوه او هغوی سختې پریشانئ کې اخته شول، نو هغوی ته احساس وشو

فَأَرْسَلَتْ قُرَيْشٌ إِلَى

چې مونږ د مسلمانانو سره یو ډېر غیر معقول شرط منلو څومره لویه نادانې ده او د هغې سره اوس مونږ خوړو. لهذا هغوی یو کس خپل

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سفیر کړو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت ته یې راولېږلو. او د هغې په ذریعه یې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د الله قسم ورکړو او د هغه خپلولئ واسطه

تُنَاشِدُهُ اللهَ وَالرَّحِمَ

یې ورکړه چې کومه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغوی په مینځ کې [illegible] داخواستې وکړو چې ته په څنګه طریقه د مره وکړه چې خپل یو

لَمَّا أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ

کس ابو بصیر او د هغې ملګرو ته دا حکم وکړه چې هغوی مدینې ته راشي او زمونږ د قافلې سره جنګ نه کوي او کله چې تاسو دا حکم

فَمَنْ أَتَاهُ فَهُوَ

ولېږي او هغه خلک ستاخوا ته راشي، نو بیا چې مونږ مکې والو کې یو کس هم مسلمان شي او ستاخوا ته راځي هغه به په امن کې وي

آمِنٌ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ

یعنې نه صرف دا چې د هغې په لاره کې به مزاحمت نه کېږي بلکې هغه به پېرته مونږ ته د الېرلو ضرورت هم نه وي د غه شان هغې وویل

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم

چې ته ابو بصیر د دې طریقې نه منع کړه. مونږ سره د معاهدې د صلحې د دې شرط نه منع شو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یو کس ابو بصیر او د هغې

إِلَيْهِم. رَوَاهُ البُخَارِيُّ[1]

ملګرو ته ولېږلو چې د هغې په ذریعې هغوی ته حکم وشو چې هغوی دې د قریشو قافلو سره هیڅ جنګ نه کوي او زما خوا ته راشئ.

توضیح: حدیبیة: د یو کوهي نوم ؤو. د هغې په وجه د ځای نوم شو. حدیبیه د مکې او د جدې په

---

(۱) رقم الحدیث ۲۰۴۲ اخرجه البخاري في صحیحه [illegible] ۲۷۳۱ وابوداؤد في السنن ۱۹۴/۴ رقم الحدیث ۲۷۲۵

مینځ کې د یو مقام نوم دی چې څه برخه یې حرم کې داخله ده. نن سبا دې ته شمیسی وایي. مکې نه د مغرب اړخ ته تقریباً پنځلس سوه (۱۵۰۰) میله فاصله باندې حدیبیه واقع ده. (مرقات ۶۱۶/۷)

حل حل: یعنې زه زه. (مرقات ۶۱۷/۷) **خلأت القصوىٰ:** یعنې قصواء اونبه والوتله:

ثمد: کنده چې لږې شان اوبه په کې وي. (مرقات ۶۱۷/۷) **یتبرضه:** لږې لږې اوبه اخستل.

شکی: د مجهول صیغه ده. د شکایت په معنی کې دی. د اوبو د کموالې شکایت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکړی شو. (مرقات ۶۱۸/۷)

یجش: جوش وهلو په معنی کې دی. **بالرّی:** یعنې ښې ډېرې اوبه راغلې. چې د خلکو تندې پرې ماتې شوې.

صدروا: یعنې ښې اوبه یې وڅښلې او بېرته لاړل. (مرقات ۶۱۸/۷)

یردوالصداق: د الله تعالی تکوینې معامله وه چې د صلح حدیبیه کې د ښځو تذکره هیڅاته هم یاده نه وه. وروسته کفار بیا پښیمانه ؤو، خو هیڅ په لاس ورنرغلل. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وحي وشوه چې ښځې د کافرانو ته بېرته مه ورکوئ. البته د ښځو مهرونه ورکړئ. دا د ابتدائ دور معامله وه. بیا دې کې راغلو، نو نن د هیڅ مسلمان نارینه د کافرانو له اړخ د بېرته ورکولو معاهده جائز نه ده. (مرقات ۶۲۵/۷)

ذعراً: یعنې هغې وېرونکې حادثه لیدلې ده. **ویل امه:** دا جمله اګر که د ښېرو لپاره وضع شوې ده خو دا د تعجب لپاره استعمالېږي. دلته تعجب معنی ده. (مرقات ۶۲۶/۷)

مسعر حرب: یعنې د جنګ اور لګونکی دی. که د دې سره څه ملګرې نور شول او دې سره مرسته وکړي. دا مطلب ډېر واضحه دی. اګر که ملا علي قاري رحمه الله دا مطلب ډېر زیات مناسب ګڼلی دی چې جنګ لمبه کونکی دی. کاش دې ته څوک ؤوایي چې زما خوا له مه راځه چې زه یې بېرته ورنه کړم. بهرحال نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبصیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مدینې نه بېرته ولېږلو، خو د کافران په لاس یې ورنه کړو. ابوبصیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاړو او د سمندر په غاړه یې ځان له ځای جوړ کړو. اوس چې د کافرانو نه کوم مسلمان راخلاصېدلو نو د ابوبصیر معسکر کې به هیسا ربدلو. دا د هغه مظلومانو لپاره ازاده قبائلې علاقه جوړه شوه، نو د هغوی تعداد ۷۰ ته ورسیدلو او د کافرانو په مقابله کې یې چهاپه مار جنګ شروع کړو. د هغوی په تجارتي قافلو باندې یې حملې وکړې. قریش پریشانه شول او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې خط ولیکلو او د خدای واسطه یې ورکړه او هغې ملګرې یې مدینې ته راوغوښتل. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابوبصیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوم خط ولېږلو چې مدینې ته راشه. هغه وخت ابوبصیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نزع په حالت کې ؤو. هغې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خط واورېدلو او بیا په خپله سینه باندې کیښودلو او ساه ئې ورکړه (مرقات ۶۲۶/۷).

بنا کردند خوش رسمے بخاک وخون غلطیدن

خدا رحمت کند ایں عاشقان پاک طینت را

د صلح حديبيه يو څو شرطونه

﴿۲﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ

او حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديبيه كې په درې خبرو باندې

عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ: عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ

صلح كړې وه. اول خو دا چې د مكې مشركانو نه چې كوم كس مسلمان شي او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوا له راځي.

رَدَّهُ إِلَيْهِمْ وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به هغه بېرته مشركانو ته وركوي او د مسلمانانو نه چې كوم كس مشركانو ته راځي نو

لَمْ يَرُدُّوهُ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ

هغه به مشركان بېرته نه وركوي. دويمه دا چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د حج او عمرې لپاره دې كال مكې نه داخليږي بلكې بل كال له

وَيُقِيمَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَا يَدْخُلَهَا إِلَّا

به مكې ته راځي او صرف درې ورځې به مكه كې سيسارېږي. او دريمه دا چې بل كال كه مكې ته راځي نو خپله

بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ وَالسَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ فَجَاءَ

توله اسلحه، كمان او دغه ټول شيان به په غلاف كې تاؤ او راوړي به يې. دې موقع كې ابو جندل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوا ته

أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجِلُ فِي قُيُودِهِ

په داسې حال كې راورسيدلو چې د هغې په پښو كې ځنځېرونه ؤو چې د هغې په وجه هغه په ټوپونو ټوپونو روان ؤو،

فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه بېرته مشركانو ته ولېږلو.

توضيح: ثلاثة اشياء: دې حديث كې د صلح حديبيه په شرطونو كې د درې اهم شرطونو بيان دی. ۱: اول شرط دا چې كه يو مشرک مسلمانانو ته راشي نو مسلمانان به د دې پابند وي چې هغه به قريشو ته بېرته ورکوي، اګر كه هغه مسلمان شوی ولي نه وي او كوم مسلمان چې كافرانو ته لاړ شي، نو هغوی به هغه قيد كوي او بېرته به يې نه ورکوي. همدغه شرط ؤو چې دومره سخت ؤو چې صحابه كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ يې ولرځول. خو د هغوی د صلحې نظم و ضبط وساتلو او د اسلامي امارت د وفادرئ

[1] رقم الحديث ۴۰۴۳ أخرجه البخاري . صحيحه ۵/ رقم الحديث ۲۷۰۰ ومسلم في ۳/ ۱۴۱۰ رقم الحديث (۹۲-۱۷۸۳)

مظاهره يې وکړه او شرط يې قبول کړو. ۲: دويم شرط دا ؤو چې بل کال چې کله مسلمانان عمرې ته راځي نو ورڅه اسلحه به ورسره وي، هغه هم په تيکئ او غلافونو کې به وي. او دې کال به بغير د عمرې نه ځي. ۳: دريم شرط دا ؤو چې بل کال له به مکه کې صرف دري ورځو پورې مسلمانان قيام کوي، بيا به بهرته ځي. ۴: د دې نه بغير څلورم شرط دا ؤو چې تر لسو کالو پورې به جنګ بندې وي. ۵: پنځم شرط دا ؤو چې کوم قبائل په فريقينو چې د چا سره تلل غواړي هغه دې لاړ شي، هغه به هم د معاهدې برخه وي. ۶: شپږم شرط دا ؤو چې د صلحې په موده کې به خيانت نه وي. (مرقات ۶۲۹/۷)

بجلبان السلاح: جيم باندې ضمه ده. لام باندې هم ضمه ده. با باندې د شد سره فتحه ده. دا د څرمنې د هغه بوجئ نوم دی چې توري وغيره به په کې اچول کېدلی او هغه به يې وترلي او د کجاوي يا د زين وروستنئ برخې سره به يې ځوړنده ولي. مراد دا چې د اسلحې نمائش به نه وي. غلافونو کې پټې وي. (مرقات ۶۲۹/۷)

يحجل فی قيوده: ابوجندل د سهيل بن عمر ځوي ؤو. سهيل چې دا وليدلو نو قلم يې ودرولو او وې ويل چې زمائځوي ماته بهرته راکړئ نو صلحه نامه به ليکلی کېږي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې لا تر اوسا پورې دستخط نه دی شوی. دا مخکې راغلی دی. معاهده به د دې نه وروسته عملي کېږي. او که د ابوجندل راتګ په معاهده کې هم شمارل کېږي نو زه ستانه ابوجندل غواړم چې دا ماله راکړه. سهيل انکار وکړو. ابوجندل بهرته په ژړه لاړو. تاريخ والو د ابوجندل بهرته د تللو خطرناک منظر ليکلی دی. ابوجندل بيا د کفارو د لاسونو نه خلاص شو او د سمندر په غاړه د ابوبصير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوا له لاړو. (مرقات ۶۳۰/۷)

په صلح کې د يو سخت شرط حکمت

﴿۳﴾ وَعَن أَنس: أَنَّ قُرَيْشًا صَالَحُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاشْتَرَطُوا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د مکې قريشو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره صلح وکړه. هغوی

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ مَنْ جَاءَنَا مِنْكُمْ لَمْ نَرُدَّهُ

په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې دا شرط ومنلو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه کوم کس مونږ له راشي نو مونږ به يې بهرته نه ورکوؤ

عَلَيْكُمْ وَمَنْ جَاءَكُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ عَلَيْنَا

او که زمونږه کوم کس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راغلو نو ته به هغه بهرته مونږ له راکوي. صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دا شرط د خپل ملې

فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

حمايت او د وقار منافي او د صلحې د اصولو د تقاضو نه لري وګڼله او عرض يې وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

نَكْتُبُ هَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ إِنه

يا مونږ دا شرط ونه ولیکو يعنې آيا تاسو دا شرط منظوروي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې آؤ. خبره دا ده چې مونږ

من	ذهبَ	منّا	إليهم

نه کوم یو کس دوی ته ځي نو ظاهره خبره ده چې هغه به مرتد تښتي. دې اعتبار سره به هغه یو داسې کس وي

فَأَبْعَدَهُ	اللهُ	وَمَنْ	جَاءَنَا	مِنْهُمْ

چې الله تعالی به یې د خپل رحمت نه لرې کړي. او د دوښه چې کوم کس مونږ له راځي. هغه به اګر که مونږ په

سَيَجْعَلُ	اللهُ	لَهُ	فرجا	ومخرجاً.	رَوَاهُ مُسلم[1]

ورکولو مجبوره یو خو الله به ژر د هغې لپاره د خوشحالئ او فراخی او د خلاصون او د نجات سامان پیدا کړي.

توضیح: **لم نرده**: صلح حدیبیه کې دا شرط په مسلمانانو باندې د ټولو نه ډېر زیات بوج ؤو. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته سختې خبرې وکړې او بیا یې د ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخې ته سختې خبرې وکړې. دواړو جواب ورکړو چې د الله او د هغې د رسول فیصله ده. ای عمر! دا ومنه. الله تعالی خپل رسول بې یاره او بې مرستې نه پرېږدي. بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې حکمت اړخ ته اشاره وکړه چې کوم کس زما مجلس پرېږدي او د کافرانو اړخ ته ورځي نو هغه به منافق وي. مونږ له پکار ده چې د لستونې مال وتښتؤ، نو چې هغه خپله ځي او الله هغه لرې کوي تو تاسو ولې پریشانه کېږئ؟ او کوم کسان چې د کافرانو د مجلس نه ماله راځي نو کېدی شي چې هغه یو جاسوس وي نو مونږ له پکار ده چې هغه پرېږنه دو چې قریش هغه خپله بوځي نو تاسو ولې پریشانه کېږئ؟ او که هغه رښتنې مسلمان وي نو ډېر ژر به الله تعالی د هغې لپاره نجات او د خلاصې لاره اسانه کړي. دې باندې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذهانت باندې اعتراف وکړو چې دا د نبوت فیصله ده. (مرقات ۶۳۲/۷، ۶۳۱)

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بیعت کې د هیڅ یوې ښځې په لاس کې لاس نه دی ایخی

﴿۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فِي بَيْعَةِ النِّسَاءِ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د ښځو د بیعت باره کې فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغه ښځو

يَمْتَحِنُهُنَّ	بِهَذِهِ	الْآيَةِ:	(يَا	أَيُّهَا	النبيُّ

سره چې د مکې نه به راتللې او د اسلام د قبلولو اظهار به یې کولو. د دې آیت په رڼا کې به یې کولو ﴿یاایها النبي

إِذَا	جَاءَكَ	الْمُؤْمِنَاتُ	يُبَايِعْنَكَ)	فَمَنْ

اذا جاءك المؤمنات یبایعنك﴾ ای نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! چې مومنانې ښځې تاته د بیعت لپاره حاضرې شي، الخ،

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۴۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۱۰/۳ رقم الحديث (۹۳-۱۷۸۴)

أَقَرَّتْ	بِهَذَا	الشَّرْطِ	مِنْهُنَّ	قَالَ	لَهَا:
نو هغوی چې به چې کومو ښځو د دې آیت ذکر شوی شرط د منلو اقرار کولو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به هغې ته وفرمایل					
قَدْ	بَايَعْتُكِ	كَلَامًا	يُكَلِّمُهَا	بِهِ	
چې ما تاسره بیعت وکړو او حال دا چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به خبرې کولې او ښځې ته به یې دا خبره کوله					
وَاللهِ	مَا	مَسَّتْ	يَدُهُ	يَدَ	امْرَأَةٍ
خو په خدای قسم چې دا سې کله هم نه دې شوې چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یوې ښځې سره بیعت					
قَطُّ	فِي	الْمُبَايَعَةِ	(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]		
کړی وي او د هغې لاس د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لاس سره لږ بدلی وي.					

توضیح: نن سبا ځینې ښه پیران صاحبان د ښځو په لاس کې لاس کیږدي او بیعت ترینه اخلي، دا ښه پیران نه دي. چې معصوم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترینه ځان ساتلی دی نو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غلام له هم ځان ساتل پکار دي. د بیعت تفصیل په جلد اول کې تېر شوی دی.

الفصل الثاني

په صلح حدیبیه کې اضافه شرطونه

﴿۵﴾عَنِ	الْمِسْوَرِ	وَمَرْوَانَ:	أَنَّهُمُ	اصْطَلَحُوا	
د حضرت مسور او د حضرت مروان نه روایت دی چې د مکې قریشو چې په حدیبیه کې په کومو					
عَلَى	وَضْعِ	الْحَرْبِ	عَشْرَ	سِنِينَ	
خبرو باندې صلح کړې وه هغې یوه خبره دا هم وه چې د لسو کالو پورې به د فریقینو په مینځ کې جنګ نه وي.					
يَأْمَنُ	فِيهَا	النَّاسُ	وَعَلَى		
چې خلک په دې ورځو کې په امن و امان سره اوسي. دا خبره هم د صلحې په معاهده کې شامله وه چې					
أَنَّ	بَيْنَنَا	عَيْبَةً	مَكْفُوفَةً	وَأَنَّهُ	لَا إِسْلَالَ	وَلَا إِغْلَالَ.	رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
زمونږ په مینځ کې بنده بوجئ وي او دا چې نه مونږ په خپل مینځ کې پټه غلا وکړو او نه خیانت.							

([1]) رقم الحديث ۴۰۴۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۱۲/۵ رقم الحديث ۲۷۱۳ ومسلم في صحيحه ۱۴۸۹ رقم الحديث (۸۸-۱۸۶۶)

([2]) رقم الحديث ۴۰۴۶ أخرجه ابوداود في السنن ۲۱۰/۳ رقم الحديث ۲۷۶۶ وأحمد في المسند ۲۳۵/۴.

توضيح: **عيبة مكفوفة:** بنده بوجګئ، عيبه اصل کې بوجګئ، صندوقچه او داسې بوجئ ته وايي چې د راز شيان په کې پټول کېږي. يا په کې خاصې جامې کيښودلی کېږي. دلته ترېنه داسې زړه او سينه مراد ده چې هغې کې هم راز او نيازوي چې د يو بل لپاره خير خواهي وي. بغض او عناد او د شر او فساد خيال په کې نه وي.

وان لا اسلال: يعنې په پټه توګه به د يو بل مال نه پټو.

ولا اغلال: او په ظاهري توګه به د يو بل سره خيانت نه کوؤ. مطلب دا چې ظاهراً او باطناً به د يو بل د ژوند او د مال خيال ساتو. ځينې علماؤ د اسلال نه د تورې رابنکل مراد اخستی دی. او د اغلال نه يې زغره اغوستل مراد اخستې ده. يعنې تورا اخستلو سره زغره اغوستل باندې به د يو بل سره جنګ نه کوؤ.

د معاهدې ساتنه ضروري ده

﴿٦﴾ وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ عِدَّةٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت صفوان ابن سليم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څه صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د زامنو نه او هغه زامن د خپلو صحابه

عَنْ آبَائِهِمْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

پلارانو نه او هغوی د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې يا وساتئ کوم کس چې په هغه

أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا

غير مسلم باندې ظلم وکړو چې د کوم سره معاهده شوې ده. لکه ذمي او مستامن يا يې د هغې حقوقو ته نقصان

أَوِ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ

ورسولو يا يې هغې باندې د طاقت او د استعداد نه زيات بوج واچولو لکه يو ذمي باندې يې د هغې د حيثيت

أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا

او د استطاعت نه زياته جزيه مقرره کړه يا يې د هغه حربي مستامن نه چې دار الاسلام ته د تجارت په غرض

بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ

راغلی وي، د هغې د تجارت د مال نه عشر يعنې د لسمې برخې نه زياته واخستله او د هغې د رضا او د خوشحالئ

فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

نه بغير يې د هغې نه څه شی واخستلو نو زه د قيامت په ورځ د هغې خلاف احتجاج کوم.

([1]) رقم الحديث ۳۰۲۷ أخرجه ابوداود ۴۳۷/۳ رقم الحديث ۳۰۵۲

﴿۷﴾ وَعَن أُمَيمةَ بنت رقيقَة قَالَتْ: بَايَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ

او حضرت امين بنت رقيقه فرمايي چې ما د څه ښځو سره په اجتماعي توګه نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره بيعت وکړو يعني مونږ يو څو ښځو

فَقَالَ لَنَا: فِيمَا

په اجتماعي توګه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره بيعت وکړو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونږ ته وفرمايل چې اى ښځو ما تاسو سره په همغه شيانو باندې

اسْتَطَعْتُنَّ وَ أَطَقْتُنَّ قُلْتُ:

بيعت کړى دى چې د کوم طاقت او استطاعت تاسو لرئ يعني نبي عَلَيْهِ السَّلَام د شفقت له خاطره د هغه ښځو بيعت د هغوى د عملي

اللهُ وَرَسُولُهُ أَرْحَمُ بِنَا مِنَّا

استعداد او د همت پورې محدود کړو. ما وويل بيشکه په خپل ذان باندې مونږ چې خپله څومره مهربانه او رحم دله کېدلى شو د هغې

بِأَنْفُسِنَا قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

نه پير زيات زمونږ په حق کې الله او د هغې رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رحم کونکى دى. او بيا ما عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

بَايِعْنَا تَعْنِي صَافِحْنَا

مونږ سره بيعت وکړه. د دې خبرې نه د هغې دا مراد وو چې مونږ سره مصافحه وکړه يعني د بيعت په وخت کې زمونږ لاس په خپل لاس

قَالَ: إِنَّمَا قَوْلِي

مبارک کې ونيسه. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې زما سلو (۱۰۰) ښځو ته وينا يوې ښځې ته د وينا کولو پشانده. اول ښځو په ژبه ويل

لِمِائَةِ امْرَأَةٍ كَقَوْلِي

کافي دي چې ما تاسو سره بيعت وکړو، د هغوى لاس په لاس کې نيول ضروري نه دى. دويم دا چې که څه ښځې په اجتماعي توګه باندې

لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَمَالِكٌ فِي الْمُوَطَّأِ [1]

بيعت کوي نو په ژبه باندې هم د جدا جدا ښځې لپاره مخاطب کېدل ضروري نه دي. بلکې يوې ښځې ته ويل د ټولو ښځو لپاره کافي دي.

الفصل الثالث

د معاهدې حديبيه متن

﴿۸﴾ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: اعْتَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ

او حضرت براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د ذى قعده ۶ هجرئ په مياشت کې د عمرې لپاره د

([1]) رقم الحديث ۴۰۴۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۲۹/۴ رقم الحديث ۱۵۹۷ ،والنسائي في ۱۴۹/۷ رقم الحديث ۴۱۸۱.

فَأَبَى أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يَدَعُوهُ

مدینې نه لاړو. د مکې خلکو د دې نه انکار وکړو چې هغوی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مکې ته داخلید لو موقع ورکړي یعنې

يَدْخُلُ مَكَّةَ حَتَّى

هغوی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د نبي کریم عَلَيْهِ السَّلَامُ صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ مکې ته د راتللو نه منع کړل، تر هغه وخت پورې

قَاضَاهُمْ عَلَى أَنْ يَدْخُلَ يَعْنِي مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ

چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مکې والو سره په دې خبره باندې صلح وکړي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به بل کال ته مکې ته راځي

يُقِيمُ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ

او هغه وخت به هم په مکه کې صرف درې ورځې قیام کوي، نو صلح نامه ولیکلی شوه. د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ له اړخه

كَتَبُوا: هَذَا مَا قَاضَى

صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نوم مبارک داسې ولیکلو چې دا هغه معاهده ده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې صلح

عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ. قَالُوا: لَا نُقِرُّ بِهَا فَلَوْ

کړې ده. د مکې والو دا الفاظ لیدلو سره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وویل چې مونږ ستا رسالت نه منو که چرې زمونږ دا

نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

علم وی یعنې که زمونږ په دې عقیده وی چې ته د الله رسول یې، نو مونږ به د مکې منع کولې ولې. مونږ خو صرف

منعناك وَلَكِنْ أَنْتَ

دومره منو چې ته محمد یې او د عبدالله ځوی یې. لهذا دې صلح نامه کې د محمد رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ځای

مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ فَقَالَ: أَنَا رَسُولُ اللهِ

محمد بن عبدالله ولیکه. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې زه د الله رسول هم یم او محمد بن عبدالله هم یم. دا صرف

وَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ.

ستاسو ضد او زیاتی دی. کنې تاسو ښه پوهیږئ زما دوارې صفتونه یعنې د الله رسول کېدل او محمد بن عبدالله

ثُمَّ قَالَ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ:

کېدل په خپلو کې داسې لازم او ملزوم دي چې د یو بل نه جدا کېدی نه شي. حضرت علي بن ابی طالب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

"امْحُ:	رَسُولَ	اللهِ"	قَالَ:
ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې صلح نامه يې ليکله چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لفظ وران کړه. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل			
لَا	وَاللهِ	لَا	أَمْحُوكَ	أَبَدًا	فَأَخَذَ
چې قسم په خداى زه خو ستا نوم نه شم ورانولى. دې اوربدلو سره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لاس نه			
رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	وَلَيْسَ	يُحْسِنُ
هغه صلح نامه واخستله او سره د دې نه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ليکلو باندې نه پوهېدلو، خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د رسول الله			
يَكْتُبُ	فَكَتَبَ:	"هَذَا	مَا	قَاضَى	عَلَيْهِ	مُحَمَّدُ	بْنُ	عَبْدِ	اللهِ:
لفظ وران کړو او دا يې وليکل چې دا هغه معاهده ده چې په کوم باندې محمد بن عبد الله صلح کړې ده او په			
لَا	يُدْخِلُ	مَكَّةَ	بِالسِّلَاحِ
دې معاهده کې دا شرط ؤو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به مکې ته د اسلحو سره نه داخلېږي، خو			
إِلَّا	السَّيْفَ	فِي	الْقِرَابِ
مګر دا چې د هغوى اسلحې به په تيکو کې وي. او دا چې که چرې د مکې والو نه يو کس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د			
وَأَنْ	لَا	يَخْرُجَ	مِنْ	أَهْلِهَا	بِأَحَدٍ
تللو اراده کوي نو هغه به د مکې نه پرېښودلى کېږي يعني کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مکې ته راشي او بېرته ځي نو د			
إِنْ	أَرَادَ	أَنْ	يَتْبَعَهُ	وَأَنْ	لَا	يَمْنَعَ	مِنْ	أَصْحَابِهِ	أَحَدًا	إِنْ	أَرَادَ
مکې والو نه به هيڅ يو کس د ځان سره نه بوځي او دا چې که چرې په صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې يو کس مکې کې			
أَنْ	يُقِيمَ	بِهَا	"فَلَمَّا
د پاتې کېدو اراده وکړي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به يې په مکه د پاتې کېدو نه منع کوي، نو بلکال له نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ			
دَخَلَهَا	وَمَضَى	الْأَجَلُ
مکې ته راغلو او مکه کې يې د درې ورځو هغه موده چې د صلحې په معاهده کې ليکلى شوې وه تېره شوه يعني درې			
أَتَوْا	عَلِيًّا	فَقَالُوا:	قُلْ	لِصَاحِبِكَ:
ورځې پوره کېدو والا وې چې د مکې والا حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغلل او هغې ته يې وويل چې تاسو خپل سردار				

اخْرُجْ	عَنَّا	فَقَدْ	مَضَى	الْأَجَلُ
يعني نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اوايه چې كړی شوې موده پوره شوې ده. اوس زمونږ د ښار نه ؤوځه.				
فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]				
نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مكې نه لاړو. (بخاری و مسلم)				

توضيح: انت محمد: كافرانو محمد بن عبدالله ليكل غوښتل ځكه هغوی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه منلو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لفظ وړان كه، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انكار وكړو خو دا نافرماني په وجه نه ؤو بلكې د اطاعت په غرض ؤو. چې ثواب پرې ملاوپرې. همدغه شان انكار حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قرطاس په واقعه كړی ؤو، خو روافضو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ونه چېړلو او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې پرې نښودلو. دا د دوی د بدنيتۍ نښانه ده (مرقات ۶۴۲/۷).

فعين الرضا عن كل عيب كليلة
ولكن عين السخط تبدى المساويا

الله تعالى د هغې نه وروسته په قرآن مجيد كې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم سره ۹ ځله د رسول لفظ ذكر كړی دی. بلكې سورۀ فتح كې خو په ښكاره همدغه لفظ راغلو ﴿**محمد رسول الله والذين معه اشداء على الكفار الخ**﴾ (**سورة محمد: ۲۹**)



(۱) رقم الحديث ۲۰۴۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۳/۵ رقم الحديث ۲۶۹۹ ونسائي في ۳ ۱۴۰۹ رقم الحديث ۱۱۰۳

باب اخراج الیهود من جزیرة العرب
د جزیرۀ عرب نه د یهودو د ایستلو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿وقاتلوهم حتی لا تکون فتنة و یکون الدین کله لله﴾ (سورة الانفال : ۳۹)

جزیره اصل کې د وچې د هغه ځای نوم دی چې له ځلورو اړخونو نه ورته اوبه وي. دا چې د عرب په درې اړخونو کې اوبه دي، ځکه د زمکې دي برخې ته د اکثري حکم په اعتبار سره جزیره ویلی شوي ده. ګینې د عرب په شمال کې ملک شام واقع دی. چرته چې سمندر نشته دی. البته په اکثرو اړخور کې اوبه دي. نو بحر هند، بحر شا او دجله او فرات دا ملک احاطه کړی دی. حدود اربعه یې څه داسې ده. د عرب په مشرقي اړخ کې خلیج فارس او بحر عمان دی. مغربي اړخ کې یې بحیرۀ قلزم او نهر سویز دی. جنوب کې بحر هند واقع دی او شمال کې ملک شام واقع دی. چې سمندر ورته نشته دی.

جزیرۀ په پنځه برخو کې شامله ده. ۱: تهامه ۲: نجد ۳: حجاز ۴: عروض ۵: یمن

کله چې د جزیزه عرب نوم اخستلی کېږي نو په اوږدوالي کې دا عدن تر عراق پورې دی. او په پلن والي کې د جده نه تر شام پورې دی. دلته د کتاب په عنوان کې فقط د یهودو د ویستلو لفظ راغلی دی، ځکه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دور مبارک کې فقط یهود ویستلی شول. او نصاریٰ او عیسایان ونه ویستلی شو، وروسته هغوی هم ویستلی شوي ؤو، خو بیا هم په راتلونکو حدیثونو کې د یهود و نصاری او د اهل کتابو ذکر موجود دی. بلکې د مشرکینو د ویستلو ذکر هم دی. د دوی د ویستلو وجه دا ده چې دا جزیرۀ عرب د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وطن دی او دي کې د اسلام مرکز مکه او مدینه واقع ده، نو ځکه مذهبي او سیاسیي اعتبار سره دا مرکزونه د کفر و شرک د پلتیو نه لري کول او د مفسد او مضر اثراتو نه دا پاکول ډیر مهم او قیاس ته نژدي دی. امام شافعي رحمه د کفارو نه د حجاز دا تطهیر د مکې او مدینې پورې محدود کړی دی، خو ائمه احناف دا تخصیص نه خوښوي. بلکې د ټول جزیرۀ عرب د تطهیر فتوی ورکوي چې نه کلیسا وي، نه کنیسه وي، نه مندر وي، نه ګردواره وي، نه امام باړه وي، نه مرزاړه وي او نه هیڅ ایمان باړه وي. بهرحال چې حدیثونو کې مطلق د جزیرۀ عرب نوم راغلی دی او د "لا یجتمع دینان فی جزیرة العرب" الفاظ عام دي، نو دا عموم تر د مکې او مدینې پورې محدودول مناسب نه دي. لهذا دشوافو پر ځای د احنافو مسلک خپلول ډیر ښه دی. بالخصوص په نن سبا زمانه کې.

الفصل الاول
د جزیره عرب نه د یهودو د ویستلو حکم

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو لمونځ کې خلک په مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې ناست ؤو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (خپلې

فَقَالَ:	انْطَلِقُوا	إِلَى	يهود	فخرجنا مَعَه

هجرې مبارکې نه) راؤتلو او ويې فرمايل چې يهوديانو له لاړ شئ، نو مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره روان شو تر دې

حَتَّى جِئْنَا	بَيت	الْمَدَارِس	فَقَامَ	النَّبِيّ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ يَهُودَ

چې د يهودو مدرسې ته روسيدلو. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او درېدلو او ويې فرمايل چې اى د يهودو دلې! تاسو مسلمانان شئ

أَسْلِمُوا	تَسْلَمُوا	اعْلَمُوا

چې (د دنيا د پريشانو نه او د آخرت د عذاب نه) بچ شئ. تاسو پوهه شئ چې ځکه د خداى او د هغې د رسول ده

أَنَّ	الْأَرْضَ	لِلّٰهِ	وَلِرَسُولِهِ

(يعنې د دې ځمکې حقيقي خالق او مالک الله تعالى دى او د هغې رسول د نائب او خليفه په حيثيت دې زمکه

وَأَنِّي	أُرِيدُ	أَنْ	أُجْلِيَكُمْ

باندې متصرف او حاکم دى) که تاسو د مسلمانېدلو نه انکار کوئ نو بيا واورئ چې (ما دا اراده کړې ده چې تاسو

مِنْ	هَذِهِ	الْأَرْضِ.	فَمَنْ	وَجَدَ

به د دې ځمکې (يعنې د جزيرة العرب) نه شړم. پس تاسو کې چې کوم يو کس په خپل مال او اسباب

مِنْكُمْ	بِمَالِهِ	شَيْئًا

کې (څه داسې) شيز لرې (چې د ځان سره يې وړل امکان نه لري لکه جايداد غير منقوله وغيره) نو

فليبعه (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
هغې له پکار دې چې هغه خرڅ کړي

توضيح: بينا نحن في المسجد: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې په همغه دوران کې چې مونږ په جومات کې ناست ؤو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشريف راوړو. (مرقات ۶۴۷/۷)

سوال: دلته دا سوال پيدا کېږي چې د بنو نظير جلا وطنې په ۴ هجرئ کې شوې وه او د بنو قريظه تباهي په ۵ هجرئ کې وشوه. حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ۷ هجرئ کې مسلمان شوى دى. هغه وخت خو ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمان شوى هم نه ؤو، نو هغه څنګه وايي چې د بنو نظير د جلا وطنئ په وخت کې

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۵۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۷۰/۶ رقم الحديث ۳۱۶۷ ومسلم ۱۳۸۷/۳ رقم الحديث (۶۱-۱۷۶۵)

مونږ په جومات کې ناست ؤو؟ **جواب**: د دې اولنی جواب دا چې دلته د یهودو نه مراد د بنو قینقاع دي ددې څه خلک هغه وخت ویستلی شوي ؤو چې کوم وخت کې حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ مسلمان شوی ؤو. دویم جواب دا چې حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اکثر داسې جمله وایي چې مونږ هلته ؤو. او مونږ ولیدل یا مونږ واورېدل. د دې نه حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ جماعت مراد اخلي. اګر که خپله هلته نه وي. مطلب دا وي چې زمونږ د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ جماعت هلته ناست ؤو چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغلو (د حدیثنو پوهېدلو لپاره دا بهترینه قاعده ده).

بیت المدارس: دا به د یهود په نزد مدرسه وه، لکه څنګه چې زمونږ مدرسه وه. (مرقات ۶۴۷/۷)

اجلیکم: یعنې زه د جزیره عرب نه تاسو جلا وطن کول غواړم. تاسو خپل مالونه خرڅ کړئ خو د دې ځای نه لاړ شئ. (مرقات ۶۴۷/۷)

حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د یهودو دویستلو پس منظر وایي

﴿۲﴾ وَعَن ابْن عمر قَالَ: قَامَ عُمَرُ خَطِيبًا فَقَالَ:
او حضرت ابن عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ورځ حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خطبې لپاره اودرېدلو او په خطبه کې یې
إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وفرمایل چې تاسو ټول خبر یئ چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خیبر د یهودو د مال او جایداد متعلق یو وه معامله فرمایلې
كَانَ عَامَلَ يَهُودَ
وه او هغه دا چې دا یهودیان به په خیبر کې د وسیدلو لپاره پرېښودلی کېږي. او د غه شان د هغوی د کجورو باغونه او پتې به هم د دوی
خَيْبَرَ عَلَى أَمْوَالِهِمْ
هم د دوی په ملکیت کې پرېښودلی کېږي. البته د دوی د پیداوار او عاید نه نیمه برخه اخستلی کېږي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دوی باندې
وَقَالَ: نُقِرُّكُمْ مَا
داسې جزیه هم مقرره کړې وه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ همغه وخت کې یهودو ته ویلي ؤو چې مونږ به تاسو په خیبر کې تر هغه وخت پورې
أَقَرَّكُمُ اللّٰهُ وَقَدْ
پرېږدو چې تر کومې پورې الله تعالی تاسو پرېږدي یعنې تاسو تر هغه پورې په خیبر کې د اوسیدلو حقدار یئ چې تر څو پورې مونږ ته
رَأَيْتُ إِجْلَاءَهُمْ فَلَمَّا
الله تعالی ستاسو د جلاوطنۍ حکم ونه کړي. لهذا حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمایل چې اوس زه د هغوی جلاوزطنۍ مناسب ګڼم.

أَجْمَعَ	عُمَرُ	عَلَى	ذَلِكَ	أَتَاهُ	أَحَدُ	بَنِي	أَبِي الْحُقَيْقِ

بيا چې کله حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې خبرې فيصله وکړه نو د يهودو د قبيلې بنى ابى الحقيق يو کس چې د خپل

فَقَالَ:	يَا	أَمِيرَ	الْمُؤْمِنِينَ	أَتُخْرِجُنَا

قوم لويې بوډه سردار ؤو. د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خدمت ته راغلو او وې ويل چې امير المؤمنين آيا ته مونږ جلا وطن

وَقَدْ	أَقَرَّنَا	مُحَمَّدٌ	وَعَامَلَنَا	عَلَى	الْأَمْوَالِ؟

کوي. حال دا چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ د دلته په خيبر کې د پريښې ؤو. او زمونږ د مال او د اسبابو متعلق يې يوه معاهده

فَقَالَ	عُمَرُ:	أَظَنَنْتَ	أَنِّي	نَسِيتُ

هم کړې وه؟ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې که ته دا ګمان کوي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا خبره هېره کړې ده

قَوْلُ	رَسُولِ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ: كَيْفَ	بِكَ إِذَا

چې کومې ته تازه مخاطب کړم او ودې ويله چې هغه وخت به ستا څه حال وي او څه به کوي چې ته به د خيبر

أُخْرِجْتَ	مِنْ	خَيْبَرَ	تَغْدُو	بِكَ	قَلُوصُكَ

جلا وطن کېږي. او د شپې نه وروسته به ستا اونبي ته په منډو کړې ى. ګويا کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د دې راتلونکې

لَيْلَةً	بَعْدَ	لَيْلَةٍ؟	فَقَالَ:	هَذِهِ

وخت نه وړاندې وي چې تاسو به شپې د شپې د خيبر نه ؤځئ. د دې کس دې اوږدلو سره وويل چې دا خبره خو

كَانَتْ	هُزَيْلَةً	مِنْ	أَبِي	الْقَاسِمِ	فَقَالَ كَذَبْتَ

ابو القاسم په د تو قې په ته وقه کړې وه. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې اى د خداى دښمنه! ته دروغ وى.

يَا	عَدُوَّ	اللهِ	فَأَجْلَاهُمْ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا خبره په ته وقه کې نه کوي بلکې د معجزې په توګه يې کړې وه. تاسو ته يې د غيبې خبرې خبر

عُمَرُ	وَأَعْطَاهُمْ	قِيمَةَ	مَا	كَانَ	لَهُمْ	مِنَ	الثَّمَرِ مَالًا

درکړى ؤو. او بيا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يهوديان جلا وطن کړل او د هغوى سره چې څه قسمه مېوه وه لکه

وَإِبِلًا وَعُرُوضًا مِنْ أَقْتَابٍ وَحِبَالٍ وَغَيْرِ ذَلِكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
کجورې وغیره د هغې په قیمت کې یې هغوی ته مال، اوښان او اسباب لکه پړې او پالان وغیره ورکړل.

توضیح قلوص: قلوص ځوان طاقتور اوښي ته وایي. (مرقات ۶۵۰/۷)

لیلة بعد لیلة: یعنې شپې د شپې به ستا اوښه په منډو منډو وباسي، هغه منظره څنګه وي؟ د یهودیانو سردار وویل چې ابو القاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو توقې کولې. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمایل چې زه د الله دښمنه. دا توقې نه وي. ته دروغ وایي، نو بیا حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغوی جلا وطن کړل. (مرقات ۶۵۰/۷)

واعطاهم قیمة: د **اعطاهم** لپاره **قیمة** مفعول ثانی دی. او **مالاً** د دې بدل دی. دغه شان **ابلا** و **عروضا** هم بدل دی. او من **اقتاب** دا **عروضاً** لپاره بیان دی. عبارت داسې دی "**فاعطاهم قیمةً** یعنې **ابلاً** و **عروضاً من الاقتاب والحبال یبدل ما کان لهم من الثمر**" یعنې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جلا وطن کونکو یهودو ته د هغوی د باغونو او د میوو په بدل کې قیمت ادا کړو. هغه قیمت د اوښانو په شکل کې وو او د سامان به شکل کې هم وو، لکه پالان، کجاوی او پړې، دا یې هغوی ته ورکړل چې لاره کې یې پکار شي او د باغونو نه به د دې په بدل کې مسلمانانو ته پاتې شي. (مرقات ۶۵۰/۷)

یهود او نصاری د جزیره عرب نه وباسئ

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم أَوْصَى بِثَلَاثَةٍ:
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مرګ په وخت کې د درې خبرو نصیحت وکړ.
قَالَ: أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې مشرکان د جزیره عرب نه وباسئ یعنې مکې او د مدنې نه یې وباسئ او د قاصدانو او
وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ
نمایندګانو سره هغه سلوک کوئ کوم چې ورسره ما کولو. یعنې چې هغوی له تاسو سره وي نو د هغوی خیال
قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ
ساتئ او هغوی ته: هغوی د ژوند ضرورتونه ورکوي. راوي وایي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په درېمه خبره

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۳۲۷/۵ رقم الحديث ۲۷۳۰، ۲۰۵۱

أَوْ	قَالَ:	فأنسيتها (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

باندې چپ پاتې شو يا حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې درېمه خبره مانه هېره شوې ده.

توضيح: **اوصى**: دې حديث کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت به نوم د يو پيغام په شکل کې وصيت لېږلی دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وصيت هغه وخت کړی دی کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرګ په مرض کې ؤو. مسلمانانو له پکار ده چې دې ته غوږ ونسې، ګڼې همدغه شان به پاتې شي. دا دې وصيتونه ؤو. (مرقات ۶۵۰/۷)

۱: **اخرجوا المشركين**: علماؤ ليکلې دي چې د دې نه مراد يهود او نصارى دي، ځکه هغوى هم په شرک کې اخته شوي دي. يا امکان لري چې اهل کتاب او نور مشرکان ټول مراد وي. ظاهره همدغه ده. (مرقات ۶۵۰/۷)

۲: **اجيزوا الوفد**: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به د لرې لرې نه د اسلام قبلولو په غرض يا د دين زده کولو په اراده خلک به د وفد په شکل کې راتلل. خصوصاً په آخري عمر کې خو ټول کال وفدونه راتلل. نبي کريم ﷺ به د هغوى عزت کول. هغوى هيسارول، خوراک ورکول، اوده کول او څه به يې عطيه ورکړه او بيا به يې لېږل، دا ټول به کېدل. د همدغه دود د جاري ساتلو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دويم وصيت کړی دی.

۳: درېم وصيت باره کې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې مانه هېر شوې دي. علماؤ ليکلي دي چې درېم وصيت د جيش اسامه باره کې ؤو چې دا خامخا ولېږئ. زيږ بحث حديث کې دې ته اشاره نشته دی. ځينې روايتونو کې د دې ذکر دی. قاضي عياض فرمايي چې درېم وصيت دا ؤو چې زماقبر د بت پشان مه جوړوئ چې غوښتنه ترېنه شروع شي. موطأ مالک کې د دې ذکر دی. (مرقات ۶۵۰/۷)

د يهوديانو دويستلو پخه اراده

﴿۴﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

او حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حضرت عمر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماته بيان کړو چې

([1]) رقم الحديث ۴۰۵۲ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۷۰/۶ رقم الحديث ۳۰۳۵ ومسلم في ۱۲۵۷/۳ رقم الحديث (۲۰-۱۷۳۷)

أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:لأُخرِجنَّ اليهودَ والنصَارى من
هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلې دي چې زه به يهوديان او عيسايان د جزيره عرب نه ضرور
جزيرةِ الْعَرَب حَتَّى لَا أَدَعَ فِيهَا إِلَّا مُسْلِمًا . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةٍ:
وباسم تردې چې په جزيره عرب کې به د مسلمانانو نه بغير هيڅ څوک نه پرېږدم. او روايت کې دي چې
لَئِنْ عِشْتُ إِنْ شَاءَ اللهُ لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وفرمايل چې که زماژوند وُ و نو ان شاء الله يهوديان او عيسايان به د
مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ[1]
جزيره عرب نه ضرور وباسم.

توضيح: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو په داسې تاکيد سره فرمايلي دي چې خامخا د جزيره عرب نه يهود او نصارى وباسم، خو عربو نن سبا قسم خورلى دى چې مونږ به يهود او نصارى به په جزيره عرب کې داخلوُو او کوم عرب مسلمانان چې د هغوى خلاف کوي او هغوى به د جزيره عرب نه وباسې او افغانستان يا سوډان به شړي. دا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وصيت وُو او د دې به ضمن کې ګوياکې يوه سياسې فيصله هم وه او پيښګوئى هم وه چې که چرې داسې نه کوئ نو ګير به شئ. نن سبا يهود او نصارى د عرب مسلمانان ګير کړي دي. نن سبا که د دې حديث خبره څوک کوي نو وايي چې دا بنياد پرست دي او دا دهشت ګرد دي. شيخ اسامه د دې وجې نه در په در دى. **انا لله وانا اليه راجعون.**

الفصل الثاني

لَيْسَ فِيهِ إِلَّا حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ لَا تَكُونُ قِبْلَتَانِ وَقَدْ مَرَّ فِي بَابِ الْجِزْيَةِ
دا فصل د حديث نه خالي دى. دې کې چې کوم حديث وُو هغه په باب الجزيه کې تير شوى دى.

([1]) رقم الحديث ٤٠٥٣ أخرجه مسلم في صحيحه ١٣٨٨/٣ رقم الحديث (٦٣-١٧٦٧) وأبوداود في السنن ٤٢٤/٣ رقم الحديث ٣٠٣٠.

الفصل الثالث

د یهودیانو دویستلو عمل حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوره کړو

﴿۵﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَجْلَى الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ أَرْضِ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د حجاز په ځمک یعنې جزیرة العرب نه د یهودو جلا وطنئ د

الْحِجَازِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ

کار د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس انجام ته ورسید لو. د دې نه مخکې کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خیبر په خلکو باندې

عَلَى أَهْلِ خَيْبَرَ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ الْيَهُودَ مِنْهَا

غالب شوی ؤو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یهود د خیبر نه د شړلو اراده کړې وه ځکه کومه زمکه باندې چې د حق

وَكَانَتِ الْأَرْضُ لَمَّا ظُهِرَ عَلَيْهَا لِلّٰهِ

دین ته غلبه حاصله شي هغه زمکه د الله او د هغې د رسول او د مسلمانانو شي. هلته به صرف د الله دین غالب

وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُسْلِمِينَ فَسَأَلَ الْيَهُودُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او مسلمانانو ته د تصرف حق او حکمراني حاصله وي، خو یهود و نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا خواست وکړو

أَنْ يَتْرُكَهُمْ عَلَى أَنْ يَكْفُوا الْعَمَلَ

چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ یهود په دې شرط د خیبر په زمکو باندې قابض او تصرف پرېږده چې هغوی محنت وکړي

وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ

یعنې د باغونو ساتنه او هغه اوبه کولو وغیره ټول کارونه وکړي او د هغې د پیدا کېدلو مېوؤ نیمه برخه به د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حق وي، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغوی دا خواست منظور کړو خو دا یې ورته وفرمایل چې مونږ تاسو په دې شرط

نُقِرُّكُمْ على ذٰلِك مَا شِئْنَا فَأَقِرُّوا

تر هغه وخت پورې خیبر کې پرېږدو چې تر کومې پورې به مونږ غواړو. د هغې نه وروسته یې بیا په خیبر کې پرېښودل

حَتَّى أَجْلَاهُمْ عُمَرُ فِي إِمارته إِلى تَيماءَ وأريحاء (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

تردې چې عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل دور خلافت په زمانه کې هغه ټول د تیماء او اریحا اړخ ته جلا وطن کړل.

توضيح: من ارض الحجاز: د یهودو د جلاوطنئ چې کوم ارمان او تاکید نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی ؤو. هغه حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پوره کړو. معلومه شوه چې حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکمونه پوره کونکی ؤو. که حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چرته د تاریخ د صفحونه ویستلی شي نو د دین د تکمیل مرحله پوره پاتې نه شي. روافضو باندې دې د الله لعنتونه وي چې د حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خدمتونو نه انکار کوي. (مرقات ۶۵۲/۷)

وكانت الارض: یعنې کومه زمکه به چې د جهاد په ذریعه فتح کېدله هغه به د الله او د هغې د رسول او مسلمانانو وه او په مسلمانانو کې به تقسیمېدله. د خیبر ځمکو سره هم دغه شان وشوه خو د یهودو دا خواست وکړو چې اوس د دهقانانو په توګه مونږ دلته پرېږدئ، مونږ به ځمکې ایادې کړو. نیمه غله زمونږ او نیمه به د مسلمانانو وي. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تر څو پورې زمونږ خوښه وي تاسو به پرېږدو ګڼې جلا وطن کؤو به مو، نو حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د هغوی ویستل نو باقي ونه ساتل ګویاکې د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویستل او بافې نه ساتل انقرکم کې د عمر شان څومره شاندار شي. تیما او اریحا دواړه مقامونه د جزیره عرب نه بهر په شام کې دي. (مرقات ۶۵۲/۷)



(1) رقم الحديث ۴۰۵۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۲/۶ رقم الحديث ۳۱۵۲ ومسلم في ۱۱۸۷ رقم الحديث (۶-۱۵۵۱)

باب الفئ
د فئ بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿وما افآء الله علی رسولهم فما اوجفتم علیه من خیل و لا رکاب﴾

وقال الله تعالیٰ: ﴿ما افآء الله علی رسوله من اهل القریٰ فلله و للرسول ولذی القربیٰ﴾ (سورة حشر)
کوم مال چې مسلمانانو ته په میدانِ جنګ کې او د مقابلې نه بغیر تر لاسه شي، هغې ته فئ وایي.
فاء یفئ فیئا د بیرته راتلو او رجوع په معنی کې دی. دا چې دا مال اول د کفارو په لاس کې ؤو. وس د حق حکومت سره قبضه شول او حقیقي مالک یعنې د الله تعالی اړخ ته بیرته راغلی دی یا د مسلمانانو لاس ته راغلی دی نو ځکه دې ته مالِ فئ وایې. (مرقات ۶۵۳/۷)
قرآن پاک کې الله تعالی د مالِ فئ تعارف هم کړی دی. او د دې مصرفول یې هم ویلي دي. د الله تعالی حکم دی.

﴿وما افآء الله علی رسوله منهم فما اوجفتم علیه من خیل ولا رکاب و لکن الله یسلط رسله علی من یشآء والله علی کل شئ قدیر ۝ ما افآء الله علی رسوله من اهل القریٰ فلله و للرسول ولذی القربیٰ والیتامیٰ والمساکین وابن السبیل کی لا یکونه دولة بین الاغنیاء منکم﴾ (سورة حشر ۶، ۷)
ملا علی قاری مرقات کې لیکلې دي. چې مالِ فئ هغه وي چې کوم مسلمانانو ته بغیر د جنګ نه حاصل شي. د دې څلور برخې به په پوره توګه د نبي کریم ﷺ په لاس کې وي. او نبي کریم ﷺ به په مناسب ځای باندې خرچ کولي. دي کې مېلمنو باندې خورل، اهل و عیال ته ورکول، مجاهدینو سره مرسته کول تول شامل ؤو، نو پنځمه برخه به نبي کریم ﷺ په هغې باندې مصرفول د کومو مصارفو ذکر چې الله تعالی ذکر کړی دی. د مالِ مصرف او د اموالِ خراج او د خمس مصرف یو دی. دا نبي کریم ﷺ په اهل بیت، ښځو، ماشومانو وغیره باندې تقسیم کړو، یتیمانو او کونډو وغیره باندې یې خرچ کړه، مسکینانو او محتاجه خلکو باندې خرچ کړه، مسافرو او په پسماندګانو خلکو باندې یې خرچ کړه. دد ینه بغیر نور د خیر په کارونو کې د دې مصرفول جائز دي. مثلاً سړک یا پُل جوړول، هسپتال یا جومات او مدرسه جوړول، دي ټولو مصارفو کې مالِ فئ استعمالیدلی شي. اوس پاتې شوه دا خبره چې د مالِ فئ په تقسیم کې به د خلکو د مرتبې لحاظ وي یا نا؟ نو د جمهورو په نزد د دې لحاظ کېږي. هغه داسې چې اول افضل ته ورکړی شي بیا دې درجه په درجه ورکړی شي. مثلاً د ټولو نه اول دې د بدر والو ت ورکړی شي. بیا دې بیعت الرضوان والو کې تقسیم وي. بیا په اهل بیتو کې او بیا دې په عوامو کې تقسیم شي. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به د همدغه ترتیب خیال ساتلو، لکه مخکې په حدیث کې راروان دي.

خو امام شافعي رحمه الله فرمايي چې مال فئ کې د تقسيم د هيڅ ترتيب هيڅ لحاظ او اعتبار نشته دی. بلکې د ميراث پشان به مستحيقينو کې برابر شريک وي. بهرحال مال غنيمت کې صرف د مجاهدينو حق دی. مال فئ کې د ټولو مسلمانانو حق دی. دغه شان په مال فئ کې خمس نه وي. مال غنيمت کې خمس وي. خمس او د مال فئ د خرچ مواقع يو شان دي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کوم مال فئ ملاو شوی ؤو. هغه خو يو د بنو نضير په مالونو کې ملاو شوی ؤو. او دويم د خيبر د فتح کېدلو نه وروسته څه علاقې د جنګ نه بغير په ورغلې وي، په هغې کې مال فئ ملاؤ شوی ؤو، لکه د فدک باغ ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مسلمانانو په ضرورتونو کې هغه استعمالولو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرګ نه وروسته که چرې مال فئ ملاو شي نو وخت خليفه به يې په مسلمانانو باندې تقسيموي. (مرقات ۶۵۳،۶۵۴/۷)

الفصل الاول

د مالِ فئ خرچ کول

﴿۱﴾ عَنْ مالكِ بن أَوْسِ بنِ الحَدَثانِ قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: إِنَّ اللهَ

حضرت مالک بن اوس ابن حدثان فرمايي چې حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل الله دې مال فئ په سلسله

قَدْ خَصَّ رَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْفَيْءِ بِشَيْءٍ لَمْ عطه أحدا غيرَه

کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو خاص خصوصيت ورکړی ؤو. د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه بغير يې بل هيچاته هغه خصوصيت نه

ثُمَّ قَرَأَ (مَا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُم) إِلى قولِه (قديرٌ)

دی ورکړی. بيا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا آيت ما افاء الله على رسوله منهم .....تا .....قدير يې ولوستلو

فكانتْ هَذِه خَالِصَة لرَسُول اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ

او ويې فرمايل چې دا صرف د الله د رسول لپاره مخصوص ؤو. چې د هغې نه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل

عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ. ثُمَّ يَأْخُذُ

کورنۍ ته د ټول کال خرچ ورکولو. د هغې نه وروسته به چې هغې کې څه پاتې شول نو هغه به يې په هغه ځای کې خرچ

مَا بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ

کړل چې د الله د مال خرچ کولو ځايونه دي يعنې دا پاتې مال به يې د مسلمانانو په مفاد او د خير لکه د اسلحو او د آسونو وغيره په

مَالِ اللهِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

اخستلو کې خرچ کولو. دغه شان په محتاجه او مسکینانو کې به یې چاته غوښتل نو هغې سره به یې پرې مرسته کوله.

﴿۲﴾ وَعَن عمر قَالَ: كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا

او د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د یهودو د قبیلې د بنو نظیر مال د هغه قسمه مالونو نه ؤو چې الله خپل

أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِمَّا لَمْ يُوجِفِ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ

نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بغیر د کوشش نه ورکړی ؤو، نو ځکه نه خو مسلمانانو اسونه په منډو کړي ؤو

بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِصَةً يُنْفِقُ

او نه اوښان، ځکه هغه مال د الله رسول لپاره مخصوص شوی ؤو چې د هغې نه به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ

خپل کورواله و ته د ټول کال د ضرورتونو خرچ ورکولو. او بیا به چې د هغې نه څه پاتې شول نو هغه به

فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللهِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

یې د اسلحو او د اسونو په اخستلو باندې خرچ کول چې هغه د الله په لاره یعنې جهاد کې پکار شي.

توضیح: نفقة سنة: پوښتنه دا ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د توکل په وجه د ځان سره څه نه ساتل. دلته یې خرچه څنګه وساتله؟

د دې جواب دا دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د خپل ځان لپاره نه ساتله. په ازواج مطهراتو کې به هم د ځینو ازواج لپاره د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخه داسې کېدل. د تولو لپاره به نه ؤو.

الفصل الثاني

د مالِ فیٔ د تقسیم یو صورت

﴿۳﴾ عَن عوفِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَاهُ الْفَيْءُ

حضرت عوف ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مال فیٔ راغلو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۵۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۷/۶ رقم الحديث ۳۰۹۴ ومسلم في ۱۳۷۸/۳ رقم الحديث (۴۹-۱۷۵۷)

(۲) رقم الحديث ۴۰۵۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۹۳/۶ رقم الحديث ۲۹۲۰ ومسلم في ۱۳۷۸/۳.

قَسَمَهُ فِي يَوْمِهِ فَأَعْطَى الْآهِلَ حَظَّيْنِ
هغه په همغه ورځ په ضرورتمندو کې تقسیم کړو. کوم به چې د ښځې والاؤو هغې له به یې دوه برخې ورکولې
وَأَعْطَى الْأَعْزَبَ حَظًّا فَدُعِيتُ فَأُعْطَانِي حَظَّيْنِ
او مجرد ته به یې یوه برخه ورکوله، نو یو ځل یې زه هم راوغوښتلم او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماله دوه برخې راکړې
وَكَانَ لِي أَهْلٌ ثُمَّ دُعِيَ بَعْدِي عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ فَأُعْطِيَ حَظًّا وَاحِدًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
ځکه زما ښځه وه او بیا یې زما وروسته عمار بن یاسر راوغوښتلو چې ښځه یې نه وه نو هغې له یې یوه برخه ورکړه.

توضيح: الآهل: د واده کړی شوي په معنی کې دی.

الاعزاب: ناواده کړي ته اعزاب وایي. (مرقات ۶۵۸/۷)

الكراع: اَسونو ته کراع وایي.

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د مال فئ راتلو نه وروسته به د
أَوَّلُ مَا جَاءَهُ شَيْءٌ بَدَأَ بِالْمحرَّرِينَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
هغې نه په ټولو کې اول هغه خلکو ته ورکول چې کوم په هغه وخت کې د غلامئ نه ازاد کړی شوي ؤو.

توضيح: المحررين: ازاد شوی غلام مراد دی. دا چې دا به بې سرو او بې سامانه ؤو نو ځکه به یې د ټولو نه اول به د مالِ فئ تقسیم په هغوی کېدلو.

د مالِ فئ غمې به هم تقسیمیږي

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِطِيبَةٍ فِيهَا خَرَزٌ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې یو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له یو بوجئ راوړلی شوه. چې د غمو نه ډکه وه.
فَقَسَمَهَا لِلْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ:
نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه غمې په بیانو یعنې ازاد شوؤ ښځو او په وینځو باندې تقسیم کړي. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې زما

([1]) رقم الحديث ۴۰۵۷ أخرجه ابوداود في السنن ۳۵۹/۳ رقم الحديث ۲۹۵۳ وأحمدفي المسند ۲۵/۶

([2]) رقم الحديث ۴۰۵۸ أخرجه ابوداودفي السنن ۳۵۸/۳ رقم الحديث ۲۹۵۱.

كَانَ أَبِي يَقْسِمُ لِلْحُرِّ وَالْعَبْدِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

پلار يعني حضرت ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به كله عمي راغلل نو هغه غمي به يي په ازاد كړي شوي غلامانو باندې هم تقسيمول.

توضيح ظبيبة: ظا باندې فتحه ده. با ساكن دى. يا باندې فتحه ده. وړې بوجئ ته وايي. چې په هغې كې عموماً ملغلرې ايښودلى كېږي. خرز: خا باندې فتحه ده. را باندې هم فتحه ده. آخر كې زا ده. د جواهرو يو قِسم دى، خو دلته غمي مراد دي.

للحر والعبد: د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په دې كلام كې دا شاره ده چې د مال فئ غمي به په دور صديقي كې صرف په ښځو باندې نه تقسيمېدل بلكې نارينۀ باندې به تقسيمېدل. او دا شاره هم ده چې كه هغه نارينه او ښځه به وه او غلام به ۇو او كه وينځه به وه. دا چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه كې به د مال فئ غمي صرف په ښځو تقسيمېدل. نارينۀ ته به نه وركول كېدل. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا تخصيص عام كول غواړي او فرمايي چې د حضرت ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه كې په نارينۀ هم تقسيمېدل. ملا علي قاري رحمه الله ليكلي دي چې كېدى شي چې د غلام نه ازاد شوى غلام مراد وي ځكه غلام كه د چا غلام دى نو د هغې خرچ په مالك باندې دى. مال فئ كې د هغې برخه نه وي. بهرحال حق كېدل او عطيه وركول جدا جدا شيان دي. (مرقات ۶۵۹/۷)

د مالِ فئ تقسيم كې د مرتبو د فرق لحاظ

﴿۶﴾ وَعَن مالكِ بن أُوسِ بن الحدَثانِ قَالَ: ذكر عمر بن الْخطاب يَوْمًا الْفَيْءَ

او حضرت مالك ابن اوس ابن حدثان فرمايي چې يو ورځ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مال فئ ذكر وكړو

فَقَالَ: مَا أَنَا أَحَقُّ بِهَذَا الْفَيْءِ مِنْكُمْ وَمَا أَحَدٌ مِنَّا

او ويې فرمايل چې د دې مال فئ زه ستاسو نه زيات مستحق نه يم او په مونږ يو كس دې مال فئ كې

بِأَحَقَّ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا أَنَّا عَلَى مَنَازِلِنَا مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

د بل كس نه زيات مستحق دى. البته مونږ د الله د كتاب او د هغې د رسول د تقسيم مطابق په خپله خپله مرتبه باندې يو،

وَقَسْمِ رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالرَّجُلُ وَقِدَمُهُ وَالرَّجُلُ

نو يو هغه كس دى د اسلام په قبوليت كې اوليت لري. يو هغه كس دى چې د دين په لاره كې زړه ورتيا او بهادرئ

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۵۹ أخرجه ابوداود في السنن ۳۵۹/۳ رقم الحديث ۲۹۵۲ وأحمد في المسند ۱۵۶/۶

وَبَلَاؤُهُ	وَالرَّجُلُ	وَعِيَالُهُ
سره د لويي كارنامو او د كوشش او مشقت صفتونه لري. يو هغه كس دى چې اهل و عيال لري او يو هغه		
وَالرَّجُلُ وَحَاجَتُهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]		
كس دى چې ضرورت او حاجت لري.		

توضيح وقدمه: يعني قديم الاسلام سړى به د مال فئ په تقسيم كې اوليت او افضل وي. (مرقات ۶۶۰/۷)

فالرجل وبلاءة: يعني مسلمان دى او بهادر دى، لويي معركې كوي. د دين لويي لويي مشقتونه برداشت كوي. هغه زيلت مستحق دى. (مرقات ۶۶۰/۷)

وعياله: يعني كس د بچو والا دى. هغې ته به د هغې د بچو په خاطر زيات وركول كېږى. (مرقات ۶۶۰/۷)

وحاجة: يعني داسې كى دى چې بالكل محتاجه دى. هغه زيات مستحق دى. حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مرتبو لحاظ ساتلى دى. همدغه د جمهورو مسلك دى. امام شافعي رحمه الله د دې قائل نه دى. مسئله مخكې ليكلى شوې ده. راتلونكى حديث هم داسې دى. (مرقات ۶۶۰/۷)

﴿۷﴾وَعَنْهُ	قَالَ:	قَرَأَ	عُمَرُ	بْنُ
او حضرت مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن اوس فرمايي چې په يو موقع حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا آيت ولوستلو چې د زكوة د				
(إِنَّمَا	الصَّدَقَاتُ	لِلْفُقَرَاءِ	وَالْمَسَاكِينِ)	حَتَّى
مصارفو بيان په كې دى ﴿انما الصدقات للفقراء والمساكين﴾ او دا آيت هغې د عليم حكيم پورې ولوستلو				
فَقَالَ:	هَذِهِ	لِهَؤُلَاءِ.		
او ويې فرمايل چې دې كې د زكوة اخستلو هغه خلك مستحق دي چې ذكر يې په دې آيت كريمه كې شوى دى.				
ثُمَّ	قَرَأَ	(وَاعْلَمُوا	أَنَّ	مَا
يعني فقيران او مسكينان وغيره. بيا هغې دا آيت ولوستلو واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه وللرسول				
حَتَّى	بلغَ	(وابنِ	السَّبِيلِ)	ثُمَّ
او دا آيت يې د وابن السبيل پورې ولوستلو او ويې فرمايل چې دا د خمس مال د همغه خلكو حق دى چې ذكر				

([1]) رقم الحديث ۴۰۶۰ اخرجه ابوداود في السنن ۳۵۸/۳ رقم الحديث ۲۹۵۰

لِهَؤُلَاءِ.	ثُمَّ	قَرَأَ	(مَا	أَفَاءَ	اللهُ

يې دې آيت شوی دی. يعنې د ذوی القربی وغيره د هغې نه وروسته هغې دا آيت ولوستلو چې د مال فئ بيان په کې

عَلَى	رَسُولِهِ	مِنْ	أَهْلِ	الْقرى)	حَتَّى	بلغَ

شوی دی چې چاچا ته ورکړی شي ما افاء الله على رسوله من اهل القرى دا آيت يې د للفقراء والذين جاء وامن

(للفقراءِ)	ثُمَّ	قرأَ	(والذينَ

بعد هم پورې ولوستلو. يو نسخه کې دا عبارت دی چې حتى بلغ للفقراء ثم قرأ والذين جاءوا د دې مطابق به

جاؤوا	منْ	بعدِهِم)

مفهوم دا وي چې هغوی دا آيت ما افاء الله شروع کړو او د للفقراء پورې يې دوه آيتونه ولوستل او بيا يې دا

ثُمَّ	قَالَ:	هَذِهِ

آيت والذين جاءوا من بعدهم ولوستلو او ويې فرمايل چې دې آيت د ټولو مسلمانانو احاطه کړې ده. لهذا که

اسْتَوْعَبَتِ	الْمُسْلِمِينَ	عَامَّةً

زماژوند ؤ و نو زماد خلافت په حدود و کې به هيڅ داسې مسلمان پاتې نه شي چې هغې ته د هغې د مال برخه

فَلَئِنْ	عِشْتُ	فَلَيَأْتِيَنَّ	الرَّاعِيَ	وَهُوَ	بِسَرْوِ	حِمْيَرَ

ورونه رسي. تر دې چې هغه شپونکې ته به هم د هغې د مال فئ برخه ورورسېږي چې په مقام سرو حمير

نَصِيبُهُ مِنْهَا لَمْ يَعْرَقْ فِيهَا جَبِينُهُ. رَوَاهُ فِي شرح السّنة[1]

کې وي حال دا چې د دغې مال حاصلو کې د هغې تندې هم په کرد نه ککړ ېږي.

توضيح: **استوعبت المسلمين**: يعنې دې آيت کې ټول مسلمانان شامل دي. (مرقات ۶۶۱/۷)

الراعي: شپونکې ته راعي وايي. دلته د لرو لرو علاقو خلک مراد دي. (مرقات ۶۶۱/۷)

بسرو: سين باندې فتح ده. را ساکن دی. واؤ متحرک دی. باجاره دی. سرو يم سره نزدې د يو ځای نوم دی. (مرقات ۶۶۱/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۶۱ اخرجه البغوي في الشرح السنة ۱۳۸/۱۱ رقم الحديث ۲۷۴۰

حمیر: د یمن د یوې مشهورې قبیلې نوم دی. یعې هغه باندې چې به د قبیله حمیر په علاقه کې اوسیږي او ماله به راشي نو زه هغې له په مال فیٔ کې برخه ورکوم.

ملاعلي قاري د پاس ذکر شوي تحقیق نه وروسته دا هم لیکلي دي چې د ځینې علماؤ دا خیال دی چې "سروحمیر" د یوې علاقې پوره نوم دی. لهذا بیا به د اضافت صورت نه وي. یعنې باندې چې به سروحمیر نه راشي. مظاهر حق کې ترجمه غلطه لیکلی شوې ده. (مرقات ۶۶۲/۷)

دفدک قضیه کې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ استدلال

﴿۸﴾وَعنهُ قَالَ: كَانَ فِيمَا احتجَّ فيهِ عُمَرُ
او حضرت مالک ابن اوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کومې خبرې نه استدلال وکړو
أَنْ قَالَ: كَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ صَفَايَا بَنُو النَّضِيرِ
دهغه دا ؤو چې هغې وفرمایل یا دا چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره درې صفایا وي. ۱: بنو نضیر
وخيبرُ وفَدَكُ فَأَمَّا بَنُو النَّضِيرِ فَكَانَتْ
۲:خیبر ۳:فدک، نو د بنو نظیر د جلاوطنیٔ نه وروسته د هغوی چې کومه زمکه په قبضه کې راغلې وه د هغې نه حاصلیدونکی
حَبْسًا لِنَوَائِبِهِ وَأَمَّا
مال د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اخراجاتو لکه د مېلمنو مېلمستیا او تواضع او د مجاهدینو لپاره د اسلحو او آسونو اخستل
فَدَكُ فَكَانَتْ حَبْسًا
وغیره مخصوص ؤو. د فدک محاصل به د هغه مسافرو د مرستې لپاره مخصوص ؤو چې کوم اګر که
لِأَبْنَاءِ السَّبِيلِ وَأَمَّا خَيْبَرُ
په خپل وطن کې به یې مال ؤو خو د سفر په دوران کې به ورسره مال او اسباب ختم شوې ؤو. او د خیبر محاصل
فَجَزَّأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ: جزأين
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په درې برخو تقسیم کړی ؤو. هغې کې خو به دوه برخې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په
بينَ المسلمينَ وجزءً نَفَقَةً لِأَهْلِهِ فَمَا فَضُلَ عَنْ نَفَقَةِ أَهْلِهِ
مسلمانانو تقسیمولې او یوه برخه به یې په خپل اهل و عیال باندې خرچ کوله. او په هغې کې که به هم د

جَعَلَهُ بَيْنَ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

اهل و عيال د خرچ نه څه پاتې شوه نو هغه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غريب مهاجرينو باندې تقسيموله.

توضيح ثلاث صفايا: صفايا د صفيه جمع ده. انتخابو او تاکل او د خوښولو ته وايي. يعنې د مال غنيمت د تقسيم نه مخکې به يو شی نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځان لپاره خوښولو، نو دا صرف د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خاص ؤو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته د هيچا لپاره جائز نه دي. د صفی اطلاق دلته کېدی شي د اجازت په توګه وي ځکه دا مالونه خو د مال فئ په برخه کې راځي. ګويا کې مال فئ باندې د صفی اطلاق شوی دی. (مرقات ۶۶۳/۷)

حبساً: د هيسارول په معنی کې دی. يعنې د بنو نضير مالونه او د فدک مالونه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حواثو او د مسافر د ضرورتونو لپاره هيسارول. او د خيبر مالونه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په درې برخو تقسيم کړي ؤو. يو برخه يې د خپل اهل و عيال لپاره خاص کړه او د دوه برخې يې د عام مسلمانانو لپاره خاص کړې. اصل پس منظر دا ؤو چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړو دا مطالبه کړې وه چې دا مالونه زمونږ په مينځ کې تقسيم کړه. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې نه انکار کړی ؤو. البته دا دواړه يې د دې مالونو متولي کړل، خو په دې تولیت کې هم هغه دواړه متفق نه شو. بيا حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغلو او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې يې سخت الفاظ استعمال کړل او د تقسيم مطالبه يې وکړه. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تقسيم نه انکار وکړو او د هغې ټول پس منظر يې بيان کړو. چې دا وقفې مالونه دي. که تاسو يې نه شئ سنبالوی نو بهرته يې راکړئ. راروان حديث کې به يې هم تفصيل راشي، خو د ټولو نه زيات تفصيل د بخاری په کتاب المغازی کې دی او په مسل کې هم تفصيل دی. (مرقات ۶۶۳/۷)

الفصل الثاني

د قضيه فدک پوره تفصيل

﴿۹﴾ عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ جَمَعَ بَنِي مَرْوَانَ

او حضرت مغيره بن شعبه فرمايي چې کله حضرت عمر ابن عبدالعزيز خليفه شو نو هغې د مروان زامن راجمع

---

(۱) رقم الحديث ۳۰۴۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۵/۳ رقم الحديث ۲۹۶۷.

حِينَ اسْتُخْلِفَ فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ فَدَكُ

کړه او ویې فرمایل چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فدک په زمکه او جائیداد خپله ذاتي حق ساتلو.

فَكَانَ يُنْفِقُ مِنْهَا وَيَعُودُ

چې د هغې حاصل شوی عاید او پیداوار نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل اهل و عیال او فقراؤ او د مساکینو لپاره خرچ کولو.

مِنْهَا عَلَى صَغِيرِ بَنِي هَاشِمٍ وَيُزَوِّجُ مِنْهَا

همدې کې د بنو هاشم د وړو امداد باندې د خرچ کولو سره حسن سلوک کولو او بې خاونده بنځو او بغیر د بنځې نارینۀ

أَيِّمَهُمْ وَإِنَّ فَاطِمَةَ سَأَلَتْهُ

ودونه به یې کول. یو ځل حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خواست کړی ؤو چې د فدک د زمکه او جایداد

أَنْ يَجْعَلَهَا لَهَا فَأَبَى

زما په نوم کړه یا د هغې عاید زما برخه هم مقرره کړه، خو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې خواست رد کړو. د

فَكَانَتْ كَذَلِكَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَيَاتِهِ حَتَّى مَضَى

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ژوند همدغه شان ؤو تر دې چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دنیا نه لاړو او کله چې

لسبيله فَلَمَّا وُلِّيَ أَبُو بكرٍ علم فِيهَا بِمَا عَمِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلیفه شو نو د هغې معمول هم هغه ؤو کوم چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل ژوند کې ؤو

فِي حَيَاتِهِ حَتَّى مَضَى

یعنې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ذکر شوې معمول پشان حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د فدک محاصل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اهل و عیال او د بنو هاشم

لِسَبِيلِهِ فَلَمَّا أَنْ

په ماشومانو او د بې وسه سړو او د بنځو په ودونو باندې خرچ کول. تر دې چې حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم مړ شو او

وُلِّيَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَمِلَ فِيهَا بِمِثْلِ

د هغې نه وروسته حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلیفه شو نو دې سلسله کې د هغې عمل هم هغه ؤو چې د دې دواړو یعنې

مَا عَمِلَا حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ ثُمَّ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤو. تر دې چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم مړ شو. او بیا مروان د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

اقْتَطَعَهَا	مَرْوَانُ	ثُمَّ	صَارَتْ
د خلافت په زمانه کې یا یې د خپل حکمرانئ په دور کې دا فدک د خپل او د خپل وارثانو جاګیر وګڼلو. اوس			
بِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَرَأَيْتُ أَمْرًا مَنَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ			
هغه جاګیر د عمر بن عبدالعزیز شو خو زه وینم چې کوم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لور فاطمه ته نه ؤو ورکړی. د دې			
لَيْسَ لِي بِحَقٍّ وَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ			
زه هم مستحق نه شم کېدی. لهذا زه تا د خپلې فیصلې ګواه کوم چې ما فدک هغې ته په همغه حیثیت باندې			
أَنِّي رَدَدْتُهَا عَلَى مَا كَانَتْ. يَعْنِي عَلَى عَهْدِ			
بېرته ورکړو. چې په کوم باندې هغه ؤو. یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت ابو بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ			
رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ			
او د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې په کومه طریقه د هغې محاصل خرچ کېدلو. اوس به بیا په هم			
وَأَبِي بَكْرٍ وعمَرَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]			
هغه طریقه خرچ کړی کېږي او فدک به د چا ذاتي جاګیر نه کېږي.			

توضیح: **ان عمر بن عبدالعزیز**: دې حدیث کې خبره دلته نه ځکه روانه ده چې بنو مروان د فدک وغیره وقفی مالونه قبضه کړل او خپل ذاتي مالو سره یې یو ځای کړي ؤو او عمر بن عبدالعزیز هغه راخلاصه او وقفي حیثیت یې ورکول غوښتل. (مرقات ۶۶۴/۷)

کانت له فدک: فدک د یو کلي نوم ؤو. چې د خیبر په اطرافو کې ؤو. د مدینې نه په لرې فاصله کې داکلی واقع ؤو. یو شین ځای ؤو. چرته چې زیاتې کجورې او څه د نورو میوؤ باغونه هم ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته فدک د صلح په صورت کې ملاو شوی ؤو. چې حیثیت یې د مال فئ ؤو. د فدک باغ، د بنو نظیر مالونه او خیبر زمکه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذاتي حیثیت ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل اهل بیت نه بغیر د عام مسلمانانو په مصارفو کې دا مالونه خرچ کول. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرګ نه وروسته د اهل بیتو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خاندان ځینې کسانو دې مالونو باندې د ذاتي حیثیت دعوی وکړه، خو خلفاؤ دا د وقف په حیثیت کې وساتل او د میراث

([1]) رقم الحديث ۴۰۶۳ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۸/۳ رقم الحديث ۲۹۷۲

حیثیت یې ورنه کړو، ځکه د انبیاؤ مال په میراث کې نه شي تقسیم کېدلی، ځکه د مړګ نه وروسته انبیاء ژوندې وي. چې اثر یې په دنیا پرېوځي. حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند مبارک کې هم د دې مطالبه کړې وه، خو نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورکولو نه انکار کړی ؤو.

د بحث لاندې حدیث کې حضرت عمر بن عبد العزیز د دې مال پس منظر بنو مروان ته بیان کړو او دا یې په همغه خپل حیثیت کې وقف وساتلو لکه څنګه چې د خلفائی راشدینو په زمانه کې ؤو. څه د تفصیل سره دا پس منظر په خپل الفاظ کې د لوستونکو مخې بیانوم.

مال فدک د فدک باغ ؤو. حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه غوښتلی ؤو. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورکولو نه انکار وکړو. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه عام خرچ کول. بیا حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه وغوښتله. حضرت ابو بکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته د "**لا نورث ولا نورث ما ترکنا صدقة**" حدیث واورولو او د ورکولو نه یې انکار وکړو. حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د انسان په حیثیت ناراضا شوه. بیا صدیق اکبر د هغې کور ته ورغلو او غرمو ته وردېدلو او بخښنه یې ترېنه وغوښتله. حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ورته معافي وکړه. او دې سلسله کې یې ورته کله هم مراجعت ونه کړو. شپږ میاشتې وروسته حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا مړه شوه، نو څه اوږدې جګړې ونه شوې. شیعه او روافض هسې شور کوي. او په دې مجلسونه ګرم کړي او خلک پرې ژړوي. او په صحابؤ باندې تبرا کوي. زه د شیعه ګانو دا پوښتنه کوؤم چې حضرت فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د فدک باغ د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه هم غوښتلی ؤو. او نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته د ورکولو نه انکار کړی ؤو. دې باندې شور ولي نه کوي؟ بیا چې کله حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلیفه شو د فدک باغ موجود ؤو هغې ولې حسنین رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ته ور نه کړو؟ بیا حضرت حسن رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپله خلیفه شو او تر شپږ میاشتو پورې یې خلافت وکړو. هغې فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ولي په خپلو مالونو کې شامله نه کړه؟ د شرم خبره ده چې د فدک باغ په وجه پروپیګنډه جوړه کړي او په صحابؤ باندې طعن کوي حال دا چې د صحابؤ فتح کړی شوې ملک باندې ایران په خاموشئ سره قابض دی؟ تاسو ایران ببرته راکړئ تاسو ته به د فدک باغ ببرته درکړی شي. بهرحال د فدک د مال پشان د بنونضیر د مالونو مسئله هم پیدا شوه. د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مړګ نه وروسته دا مال د وقف په توګه صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سنبال کړو. بیا د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په نګرانئ کې بیا د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مشترکه توګه باندې نګراني شوه، خو په خپل مینځ کې د اختلاف په وجه د دې مال متعلق حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د تقسیم مطالبه وکړه چې جدا جدا به د خپلې خپلې برخې ساتنه کوي. حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انکار وکړو او ویې فرمایل چې دا یو خو به قِسمه تقسیم شي.

داسې نه شي کېدلی. بیا مروان دا مالونه خپل ذاتي جایداد کې شامل کړل او بنو مروان په خپل مینځ کې تقسیم کړل. کله چې عمر بن عبدالعزیز خلیفه شو نو هغې د نورو اصلاحاتو سره سره دا اصلاح هم وکړه چې دا مالونه یې د هغوی نه بېرته واخستل او د وقف حیثیت یې ورکړو. د هغې د مرګ نه وروسته بیا بنو مروان هغه تقسیم کړل او داسې یې غیبه کړه چې تر ننه پورې معلومه نه شوه چې دا مالونه چرته لاړل. حضرت عمربن عبدالعزیز د بحث لاندې حدیث کې همدغه وایي چې کوم مالونه نبي کریم ﷺ حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا ته نه دې وکړي نو زه څوک یم چې د ځان سره یې کېدم. بهرحال صدیق رضی اللہ عنہ او فاروق رضی اللہ عنہ باندې دې الله تعالی رحم وکړي هغوی ډېر لویې مشقتونه برداشت کړل او د یوې شرعي مسئلهې حفاظت یې وکړو.

الحمد لله د کتاب الجهاد تشریحات د توضیحاتو نه فارغ شوم. اوس په جهاد باندې د یو اعتراضاتو او د هغې جوابونه لیکم.

۲۹ صفر ۱٤۱۸هـ

په جهاد باندې عمومي اعتراضونه او د هغې جوابونه

دا چې په جهاد کې د نفس او مال خطر وي، نو ځکه خلک د جهاد نه د بچ کېدلو لپاره قِسم قِسم بهانې جوړوي.

خود بدلتے نہیں قرآں بدل دیتے ہیں

پوښتنه: څه خلک وایي چې جهاد د جهد نه مشتق دی چې د سخت محنت په معنی کې دی، نو هر محنت جهاد دی. مونږ هم په جها لړیا یو، ځکه د دین محنت کوؤ.

جواب: دا د جهاد لغوي معنی ده. د جهاد شرعي تعریق د کتاب په اول کې لیلکی شوی دی. شریعت کې د اصطلاحي مفهوم په اعتبار باندې دی. لغوي مفهوم باندې بناء نه دی. ګنې د صوم لغوي مفهوم امساک ساعة دی. لمونځ د تحریک صلوین یا د دعا په معنی کې دی. حج د قصد په معنی کې دی. د زکوة لغوي معنی د زیاتوالي ده. که اصطلاحي شرعي معنی پرېښودلی شي او لغوي معنی باندې عمل وکړی نو دا د ګمراه کېدو لپاره کافي ده. نن سبا عام خلک وایي د میاشو خلاف جهاد، د مچو خلاف جهاد یا د ملیریا خلاف جهاد دی. دا هغه جهاد دی چې د قیصر او کسری سلطنتونه یې پرې ذره ذره شول؟

پوښتنه: د څه خلکو خیال دی چې جهاد حسن لغیره دی. مونږ په حسن لعینه کې مشغول یو.

جواب: اصول فقه کې لیکلی شوې دي چې مامور به کې حسن پکار دی، ځکه د الله تعالی امر دی، د هغې په امر کې حسن ضروري دي. اوس فقهاؤ په هر هر مامور به کې حسن لټولی دی. ځینو کې د هغې ذات ملاو شوی دی او ځینو کې واسطه ملاو شوه، جهاد کې واسطې سره حسن ملاؤ شو نو

دې ته يې حسن لغيره وويل. دې سره د جهاد په حکم هيڅ اثر نه غورځېږي، خو مباح يا مستحب دی. حال دا چې حسن لعينه دی، نو آيا رانجه لګول، او تيل او عطر استعمال کول، کالې څټل او ګوتې څټل، دا د دې جهاد نه افضل دي؟ د خدای نه وېرېږئ.

پوښتنه: د څه خلکو خيال دی چې جهاد فرض کفايه دی. لهذا تلل ضروري نه دي.

جواب: د جهاد فرض کفايه کېدل يا فرض عين کېدلو لپاره د جهاد په خپلو معروضې احوال دي. تاسو ولې دې کې اخته کېږئ. آيا تاسو ته د "فرض" لفظ نه ښکاري؟ او آيا د فرض مطلب دا دی چې دې ته بيخې تګ پکار نه دی. فرض کفايه خو د فرض عين نه زياد عام دی، ځکه دا يوه قومې فريضه ده. که ټولو پرېښودله نو په اجتماعې توګه به ټول ګناه ګار ځي شي. بيا دا حکم دا وکړو چې نن سبا مسلمانان په کوم حالت کې دي هغوی باندې جهاد فرض عين نه دی. بلکې فرض کفايه دی؟ تاسو لږ د فقهې کتابونه وګورئ هغوی چې په کوم حالت کې جهاد ته فرض عين وايي، آيا هغه وخت مو په سر نه دی راغلی. کفار يو ځای شول او په فلسطين يې حمله وکړه، مسجد اقصی يې قبضه کړه. عراق يې قبضه کړو. افغانستان باندې يې قبضه وکړه. کشمير يې قبضه کړی دی. هر ارخ نه يې په مسلمانانو باندې حمله کړې ده. بيا هم فرض عين نه دی؟

پوښتنه: د څه خلکو خيال دی چې جهاد بالنفس لويې جهاد دی. "رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر" د روايت نه دا خلک استدلال کوي او ظلم د پاسه ظلم دی چې غټو او وړو دا پټئ لولي چې د نفس سره جهاد کول دا لويې جهاد دی. کافران پرېږدئ. هغوی سره جنګ کول يا جهاد نه دی يا وړوکی جهاد دی. ټولو ته يې دا روايت زده کړی دی.

جواب: جهاد بالسيف کې لويوه مجاهده او د نفس اصل علاج کېږي. ولړه، تنده، وېره، هيبت، مشقت او محنت، قيد و بند، مرګ او زخم او بې ارامې دا د جهاد د ميدان اولنئ تحفه ده. اوس اوايئ مجاهده کوم يو کې زياته ده. يا خو قورمو خورول، مېوي چوپلو، پکو لګولو او د دنيا نه بې غمه کېدل او ګپونه لګولو کې زياته مجاهده ده؟ او باقې دا چې خلک کومه مقوله حديث ګڼي. دا غلطه ده. دا د ابراهيم بن عبله مقوله ده. حديث نه دی. (موضوعات کبير د ملا علي قاري رحمه الله وګورئ) او که دا حديث دی نو آيا صحابه کرامو خپل ټول عمرونه په جهاد کې تېرل کړل او په مفضول عمل کې اخته ؤو. او د افضل عمل نه محرومه ؤو؟ د خدای نه وېرېږئ او "وفضل الله المجاهدين علی القاعدين اجرا عظيما" (سورة النساء: ۹۵) وګورئ.

پوښتنه: څه خلک وايي چې دا مکې دور دی. کله چې مدني دور راغلو مونږ به جهاد کوؤ. مکې دور

کې جهاد نه ؤو.

جواب: دا کوم قرآن او حدیث کې لیلکی شوې دي چې دا مکې دور دی؟ خلک مخکې ځې تاسو شاته راروان یئ؟ بیا دا اوایئ چې که دا مکې دور دی او جهاد نشته دی، نو مکې دور کې لمونځونه چرته ؤو. اخترونه او جمعه چرته وه. روژه چرته وه او زکوة او حج چرته ؤو؟ د شرابو حرمت چرته ؤو؟ پرده چرته وه؟ د سود حرمت چرته ؤو؟ که جهاد نه ؤو، نو دا څیزونه چرته ؤو. ټول پرېږدئ. په غور سره واورئ د جهاد حکم چې کله راغلو نو دې باندې عمل هم راغلو. د خدای نه وېرېږئ. شاته مه ځئ، کنده کې به ولېږئ. مخکې لاړ شئ.

پوښتنه: څه خلک وایي چې اول ایمان جوړ کړئ او بیا جهاد وکړئ. مونږ اوس ایمان جوړلو کې مشغول یو.

جواب: آیا کوم خلک چې جهاد کوي. دا بې ایمانه دي؟ د خدای نه وېرېږئ. لږ دا خو اوایئ چې آیا تاسو ایمان نه دی قبول کړی. که مو قبول کړی دی نو هغه څه شی دی. ایمان دی یا که بې ایمانې؟ او دا اوایئ چې د ایمان جوړولو معیار څه دی. په کوم تهرمامېتر باندې به د ایمان جوړولو فیصله کوئ؟ ایمان څه د کدو حلوه نه ده چې تاسو به یې پتیله کې پخوئ. که ایمان په عملونو جوړېږي، نو آیا د ایمان پشان لویې عمل پریښودلو سره به ایمان جوړ شي یا که خراب به شي؟ آیا جهاد عمل نه دی. نو عمل کولو سره ایمان جوړېږي که پریښودلو سره جوړېږي؟ بیا دا اوایئ چې د کوم ایمان په ذریعه چې تاسو لمونځ کوئ. روژه نیسئ. حج کوئ، دنیا کې ګرځئ راګرځئ، مال خرچ کوئ. وخت ورکوئ، آیا دې ایمان باندې تاسو جهاد نه شئ کول؟ صحابه کرام خو به میدان کې مسلمانان کېدل او به همغه میدان کې به یې جهاد کولو. کم نه کم تاسو خو د خپل ایمان جوړلو موده او د هغې دورانیه خو اوایئ چې څومره وخت کې به ستاسو ایمان جوړېږي. تاسو کله هم د خپلې دې مودې ذکر نه دی کړی. معلومه شوه چې تاسو د جهاد نه د تښتیدلو لپاره بهانې لټوئ. لهذا نه به ایمان جوړ شي او نه به جهاد وشي.

پوښتنه: ځینې خلک په جهاد اعتراض کوي چې افغانستان کې جهاد نه ؤو. دا د روس او امریکه جنګ ؤو. چې د پښتنو وېنه په کې تویه شوې ده.

جواب: که دا جهاد نه ؤو او د کفر او اسلام جنګ نه ؤو. بلکې د امریکه جنګ ؤو، نو نن سبا د همغه مجاهدینو سره امریکه ولې جنګ کوي. او که امریکه د نفرت قابله وه. نو نن ته ولې د امریکه په غېږه کې ناست یې؟ او که د پښتنو وېنه تویه شوې ده، نو آیا دا علماء کرامو، مجاهدینو او د طالبانو وېنه د پښتنو وېنه نه وه. او ولې دا انسانان نه ؤو. د هغې د وژلو لپاره چې پرون دا د روس سره څنګه ملګرتیا کوله. نن د امریکې ملګرتیا کوي. معلومه شوه چې نه د لته د پښتون خبره ده نه

د قومیت خبره ده. بلکې صرف د دین سره دښمني او د عداوت خبره ده. کله چې کمیونسټ اوژلی شي نو شوی کوي چې پښتانه وژلی کېږي او دوی جنګولی کېږي. او کله چې عالم یا طالب علم پښتون وژلی کېږي نو پټه تماشه یې کوي او پرې خوشحالېږي.

سوال: ځینې خلک وایي چې کافران مه وژنئ. دغه شان به هغوی دوزخ ته لاړ شي نو تاسو به ګناه شئ. **جواب**: قرآن عظیم کې الله تعالی اتیا (۸۰) آیتونو کې د قتل لفظ استعمال کړی دی او سلګونو (۱۰۰) آیتونو او حدیثونو کې د کافرانو د جنګ کولو او د هغوی د وژلو حکم ورکړی دی. خپله په میدان جنګ کې نبي کریم ﷺ اُحد کې ابن بن خلف په خپل لاس وژلی دی. الله او د هغې د رسول په حکم صحابه کرامو په زرګونو، لاکهونو کافران په جهاد کې وژلې دي. په زرګونو صحابه کرام خپله هم شیهیدان شوې دي. د یرموک په جنګ کې صحابه کرامو د یو لاکه نه زیات کافران وژلې دي. د جلولاء په جنګ کې صحابه کرامو د یو لاکه نه زیات کافران وژلې دي. د عراق په تکریت جنګ کې صحابه کرامو اتیا زره (۸۰۰۰۰) کافران وژلې دي. اسلامي تاریخ د داسې واقعاتونو ډک پروت دی، نو د پوښتنه کونکو دغه حضراتو نه پوښتنه ده چې د دغه وژلی شوؤ ذمه وار او ګناه ګار به څوک وي؟ کوم خلک چې داسې خبرې کوي هغوی د قرآن و حدیث او د سلف و صالحینو او د ټول امت په مسلمانانو باندې اعتراض کوي او د شریعت ښایسته مخونه مسخ کوي. هغوی ته صرف دومره عرض کوؤ چې د خدای په مخلوق د خدای نه زیات مه مهربانه کېږئ. جهاد کې که د الله یو باغي وژلی کېږي نو د هغې په بدل کې په زرګونو انسانان مسلمانان شي او جنت ته لاړ شي. که په مکه کې نبي کریم ﷺ څلوریش کسان وژلی نه وی او مکه یې فتح کړی نه وی او کفار یې پرېښی وی، نو په اربونو کافران به پیدا شوی وی او په کفر به مړه شوې وی او دوزخ به تلې وی. خلاصه دا چې یا خو تاسو کافران اوژنئ یا به هغوی تاسو وژنئ. کومه خبرمه مو خوښه ده؟

مصلحت در دین ما جنګ و شکوه　　مصلحت در دین عیسیٰ غار و کوه

یعنې زمونږ د دین مصلحت خو دا دی چې د جهاد جنډه په شان او شوکت سره اوچته کړو او د عیسایانو د مذهب مصلحت خو په کوټو او غارونو کې کېنې.

سوال: ځینې خلک وایي چې مونږ نبي کریم ﷺ په خوب کې لیدلی دی. د نبي کریم ﷺ نه مو د جهاد اجازت وغوښتلو نو نبي کریم ﷺ وفرمایل ۳۱۳ کسان جوړ کړئ بیا جهاد وکړئ. اوس مونږ کوشش کوؤ چې ۳۱۳ کسان جوړ شي نو بیا به جهاد کوؤ. **جواب**: د قرآن او حدیث او د شریعت د احکاماتو په موجودګئ کې د هیڅ یو کس ګنده خوبونه له اعتبار نشته دی. که زمونږ د ژوند ضابطه زمونږ خوبونه شي نو بیا د قرآن او حدیث څه ضرورت پاتې کېږي. بیا خو به

هر کس د خپل خواهش تابع شي. دغه شان که ار اوسه پورې دې امت کې ۳۱۳ کسان جوړ نه شول نو بیا دا ناکامه شنډ امت دی. د خدای نه وېرېږئ. د ۳۱۳ نه خو ستاسو واعظین زیات دي. ۹۰ کاله اوشو تر اوسه یې ایمان نه دی جوړ شوی. د ۳۱۳ حد چا ایښی دی؟ ځینې معرکو کې شپېته (۶۰) یا دیرش (۳۰) مسلمانانو هم مقابله کړې ده.

سوال: ځینې خلک وایي چې که نن سبا صحیح جهاد شته دی نو مسلمانانو ته په فتح کې دا دومره تاخیر ولې دی. صحیح جهاد کې فتح ژر حاصلیږي. **جواب**: جهاد یو عظیم عبادت دی. مسلمانانو له جهاد کول پکار دی. نتیجه د الله په لاس کې ده. کله به فتح ژر ورکوي کله به یې ناوخته ورکوي. خپله نبي کریم ﷺ اته (۸) کاله پس یو لویې ښار فتح کړو. دا تاخیر ولې وشو؟ د لس کالو مسلسل جهاد نه وروسته صرف د عرب جزیره فتح شوه. بیا د صدیق اکبر په دوه کالو کې صرف تر دمشق پورې شام فتح شو. بیا د حضرت عمر په دور حکومت کې د مسلسل جهاد باوجود د حلب قلعه فتح شوه. د دولس زره (۱۲۰۰۰) صحابؤ د نبي کریم ﷺ سره د طائف قلعه محاصره کړې وه خو بیا هم قلعه فتح نه شوه. او بغیر د فتحې نه راغلل. زه وایم چې که د مجاهدینو نه ناوخته کېږي نو آیا تاسو به یې تماشه کوئ. مخکې راشئ او په منټونو کې دنیا فتح کړي.

سوال: ځینې خلک وایي چې د مجاهدین د مال په غرض جهاد کوي. د ځمکې لپاره جنګ کوي. دا جهاد صحیح نه دی. **جواب**: تاته د کوم ځای نه پته وچلیدله چې یو عرب ځوان د کرړونو جایدار پریښودلو او افغانستان ته د مال په مال په غرض راغلی دی. آیا تاته د محاذ جنګ نه چا په موبائیل خبر درکړی دی؟ د خدای نه وېرېږه څوک چې ساه په تلې کېږدي او په میدان ورودانګي نو هغه د څه لپاره مال ګټي؟ او که داسې منډې لږبدلې وي نو ته هم راشته او څه مال وګټه. یا وساتئ مجاهدین د الله لپاره جهاد کوي. دې اخلاص مندو پسې توقې مه کوئ ګڼې په نفاق به مړه شئ. باقې دا شرعي حکم دی چې که مال غنیمت ملاو شي نو هغه په مسلمانانو باندې تقسیمېږي. صحابه کرامو د مال غنیمت برخه اخستې ده. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې الله زماد امت رزق د نیزې د لاندې ایښی دی. دخدای نه ویرېږئ. په سودې کاروبار د مال ګټلو او د مال غنیمت برخه اخستلو کې د ځمکې او اسمان فرق دی. باقې د ځمکې لپاره جهاد کول خکه ضروري دی چې دې باندې به د الله قانون نافذ شي. که زمکه نه وي نو جومات به چرته نه جوړوې. لمونځ به چرته کوي؟ قرآن کې د الله اعلان دی ﴿واخرجوهم من حیث اخرجوکم﴾ (البقرة: ۱۹۱) د کومې ځمکې نه چې کافرانو تاسو ویستلې وئ د هملته نه یې وباسئ. د اسلامي مملکت د سرحدونو تحفظ او د هغې ځمکې حفاظت په مسلمانانو باندې فرض دی.

سوال: ځینې خلک وایي چې کوم ځای کې مسلمانان وژلی کېږي. دا د هغوی د ګناهونو نتیجه ده. دوی باندې د الله عذاب راغلی دی. د هغوی مرسته ضروري نه ده. **جواب**: دا یوه کمزورې فلسفه ده. او د ناڅاپي مرګ انتظار دی. د ابنیاؤ نه بغیر هیڅ یو انسان د ګناه نه پاک نه دی. صحابه کرام محفوظ ؤو. معصوم نه ؤو. بیا د هغوی پاک جاعت باندې کافرانو ولي حمله وکړه؟ جهاد ته ګناه ګار خلک هم تللی شي؟ او د ټولو نه زیات ګناهونه هتله معاف کېږي. د ټولو مسلمانانو وهل د هغې د عملونه نتیجه وګڼئ او بیا خاموشه کېنئ، نو تاسو داسې ولې نه وایئ چې راشئ ورونو دا کافران خو د ټولو نه زیات ګناه ګاران دي، دوی به ؤوهو چې د الله عذاب پرې راشي او زمونږ په لاسونو دوی ته شزه ملاؤ شي. ﴿**قاتلوهم یعذبهم الله بایدیکم الخ**﴾ دویمه خبره دا چې د جهاد پریښودل لویه ګناه ده. دا ولې نه وایي چې راشئ جهاد وکړو چې زمونږ ګناهونه معاف شي او مونږ د خدای د عذاب نه بچ شو. عجیبه هوښیار خلک دي. هر هغه ځای نه وتلو کې کامیاب شي چرته چې د ګوتې د غوڅېدلو خطر وي، خو یاد وساتئ! دې بچ کېدلو پسې شاته ننښتل هم دي. اقبال مرحوم فرمایي:

افسوس صد افسوس نہ بناتو — دیکھے نہ تیری آنکھ نے قدرت کے اشارات

تقدیر کے قاضی کا یہ فتویٰ ہے ازل سے — ہے جرم ضعیفی کی سزہ مرگ مفاجات

سوال: ځینې خلک وایي چې که کافران زمونږ په لاره کې مزاحمت جوړېږي نو جهاد به وي. تر اوسه پورې هغوی زمونږ په لاره کې مزاحمت نه دی کړی، نو ځکه جهاد نشته دی. **جواب**: تا هغه لاره کله اختیار کړې ده چې کافر مزاحمت وکړي؟ الله خو فرمایي ﴿ولا یزالون یقاتلونکم حتی یردوکم عن دینکم ان استطاعوا﴾ (البقرة: ۲۱۷) یعنې تر کومې پورې چې تاسو کافران نه کړي نو تر هغه وخت پورې به تاسو سره جنګېږي. آیا دا مزاحمت نه دی؟ اوس د کافر کېدلو لپاره تیار شئ یا د مقابلې لپاره میدان ته راشئ. **سوال**: ځینې خلک وایي چې کله عملونه جوړ شي نو الله به د کافرانو سره خپله و جنګېږي. جهاد او د اسلحې ضرورت نشته دی. نه مونږ له میدان ته د اسلحو سره میدان ته د تللو ضرورت نشته دی. بس مونږ به عملونه جوړ کړو، کار به الله تعالی کوي. **جواب**: الله ته د ولي پیدا کړی یې او تاته یې جنګ کولو حکم ولي کړی دی. چې هر څه یې خپله کول نو ولي ته یې صرف د قورمې خوړلو لپاره پیدا کړی یې؟ د قرآن اعلان دی. ﴿**ولو شآء الله لأنتصر منهم ولکن لیبلو بعضکم ببعض**﴾ زه پوښتنه کوم، آیا د صحابه کرامو عملونه سل فیصده صحیح نه ؤو؟ بیا د عملونو

نه وروسته هغوی ولي په میدان کې قدم کیښود لو؟ او په زرګونو تعداد کې شهیدان شول؟ د خدای نه وېرېږئ. لاس په لاس باندې ایښود ل سره کار نه کېږي.

سوال: ځینې خلک وایي چې قرآن کې ډېر آیتونه دي چې کافرانو ته د بخښولو حکم کوي، نو بیا جهاد څنګه؟ **جواب**: ترکومې پورې چې د جهاد حکم نه ؤو راغلی نو کافران ته بخښول حکم ؤو. کله چې د جها حکم راغلو نو د بخښلو حکم یې ختم شو. اوس جهاد کوئ، ځکه خو علماء کرام فرمایي چې کوم کس ته د ناسخ او منسوخ پته نه وي نو د هغې لپاره بیان کول یا وعظ کول حرام دي.

سوال: ځینې خلک وایي چې د اسلام په اخلاقو خور شوی دی. په توره نه دی خور شوی. لهذا د جهاد په ځای د اخلاقو نه کار واخلئ. **جواب**: دا د کافرانو له اړخه ډېر پخوانی اعتراض دی. چې سلطان صلاح الدین ایوبی یې هم پریشانه کړی ؤو، نو هغې په جواب کې وفرمایل چې زه نه پوهېږم چې اسلام به اخلاقو خور شوی دی یا که په جهاد، البته زه په دې پوهېږم چې د اسلام حفاظت او د اشاعت لپاره توره اوچتول فرض او ضروري ده. اصل قصه دا شوې وه چې اول کافرانو اعتراض وکړو چې دین اسلام د تورې په زور خور شوی دی، دې کې څه ذاتې کشش نشته دی، نو د وخت لوېو علماؤ ولیکل چې د اسلام په توره نه بلکې په اخلاقو خور شوی دی. هغې باندې د وخت علماؤ د هغه زمانه پروپینګنډه ماتول غوښتل، لکه نن سبا چې څنګه جهاد ته دهشت ګردې وایي. او علماء او طلباء جواب ورکوي چې اسلام کې دهشت ګردې نشته دی. د حقیقت کې په دهوکې سره د هغوی په ژبو باندې د جهاد نه انکار ویستل غواړي. علماؤ له دا ویل پکار دي چې جهاد او دهشت ګردئ کې فرق دی. بهرحال کله چې لوېو علماؤ ولیکل چې جهاد په توره نه بلکې په اخلاقو خور شوی دی، نو انګریزان راتاؤ شول او بل غوزار یې وکړو چې وګوره د مسلمانانو مشرانو لیکلي دي چې اسلام په اخلاقو خور شوی دی. دا توره او اسلحه او جهاد په اسلام کې د کوم ځای نه راغلو؟ زه وایم چې دا جمله غلطه ده چې اسلام په اخلاقو خوی شوی دی یا په توره خور شوی دی. آیا جهاد اوچتول او جهاد کول بد اخلاقي ده؟ او آیا نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو رضی اللہ عنہم او سلفو صالحینو ټول عمر بد اخلاقي کړې ده؟ جهاد او اخلاق او توره او اخلاق د یو بل سره مقابل کې پیش کولو والا اصل کې جهاد ته بد اخلاقي وایي، نو ځکه مسلمانانو د ژبې نه دا جمله ویستل پکار نه دي، ځکه جهاد ته بد اخلاقي ویل کفر دی.

سوال: ځینې خلک وایي چې اسلام کې اقدامي جهاد نشته دی. بلکې د فاعي جهاد حکم دی.

جواب: د دفاع حق خپله حاصلیږي. هغه هیڅ قانون نه دی چې کوم چاله ورکړی شي. کوم کس چې د بل په مرئ چاړه رابنکاږي نو آیا هغه وخت به ذبح کېدونکې ته حق ورکړی کېږي چې اوس ته دفاع

وکړه. داسې وخت کې ځناور دفاع کوي. یو مرغی خپله ذبح کونکی په پنجه او په منښو که باندې وهي. اسلام دفاع ته جائز ویلې دي او د اقدام حکم یې کړی دی. د قرآن اعلان دی ﴿قاتلوهم حتی لا تکونه فتنة﴾ (سورة انفال :۳۹) آیا دا اقدام نه دی و د جزیره عرب نه چې کله صحابؤ په شام باندې حمله وکړه، بیا یې په مصر وکړه بیا یې په صعید مصر او په دیابکر یې حمله وکړه بیا یې په عراق حمله وکړه بیا د دجلې وانبوتل او مدائن ته ورسیدل او د هغوی وائټ هاؤس قصر ابیض یې فتح کړو. آیا دا اقدام ؤو که دفاع وه؟ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې اُحد او د خندق جنګونه د دفاع په صورت کې پیدا شوي ؤو د هغې نه بغیر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هر ځای اقدام کړی دی. جنګ خندق کې چې کله کافران وتښتیدل نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل "الآن نغزوهم ولا یغزونا" یعنې اوس به مونږ اقدام کوؤ، کافران به حمله نه کوي اودبیا لپاره به هم داسې وشو. بهرحال جهاد پرینښود وسره مسلمان منافق شي اودنفاق په مرګ مړ شي. او په اجتماعي توګه امت مسلمه د ذلت ښکار شي لهذا داشعبه چې څومره فعاله وي هومره به مسلمانانو زورور وي ګنې هیڅ به نه وي.

سوال: نن سبا ټوله دنیا شور کوي چې جهاد دشت ګردي ده. منافق قسمه مسلمان هم دغه اعتراض کوي او جهاد ته فساد وایي. آیا واقعې جهاد فساد دی؟ **جواب**: جهاد فساد نه بلکې دې سره خو د عالم فساد په امن کې بدل شي. دې باندې د عالم تاریخ ګواه دی. البته فسادې ذهن لرونکې فسادې خلک جهاد ته فساد وایي. دوی به یې وایې او جهاد به کېږي. باقې چې کوم خلک جهاد ته دهشت ګردې وایي نو که هغه خلک کافر دي نو د هغوی وینا صحیح ده، ځکه د هغوی کافرانه دهشت د مؤمنانو جهاد ختموي. د هغوی لپاره خو دا دهشت ګردې نوره هم زیاتول پکار ده. او که یو مسلمان د اعتراض په توګه جهاد ته دهشت ګردې وایي او د هشت ګردې نه فساد مراد اخلي نو داسې منابق مسلمان د دې اعتراض نه وروسته د اسلام نه خارج شي، ځکه جهاد د الله حکم دی او د الله د حکم توهین کول کفر دی. غلام احمد قادیاني خپلو کتابونو کې بار بار جهاد ته فساد ویلی دی او د جهاد د منسوخولو یې داسې اعلان کړی دی۔

اب چھوڑ دو اے دوستوں جہاد کا خیال — دین کے لئے حرام اب قتل و قتال
اب آگیا مسیح جو دین کا امام ہے — دین کی تمام جنگوں کا اب اختتام ہے
اب آسماں سے نور خدا کا نزول ہے — اب جنگ اور جہاد کا فتویٰ فضول ہے
دشمن ہے وہ خدا کا جو کرتا ہے اب جہاد — منکر نبی کا ہے جو یہ رکھتا ہے اعتقاد

خلاصه دا چې کوم مسلمان په جهاد باندې اعتراض او طعن کوي هغه مسلمان نه شي پاتې کېدی او جهاد به تر قیامت پورې جاري وي.

سوال: ځینې خلک وایي چې مجاهدین هر ځای کې شکست خوري او ځای کې وهل خوري، هغوی سره د الله هیڅ مدد نشته دی. **جواب**: دا خلک دروغ وایي. مجاهدین بدناموي. زه د هغوی نه پوښتنه کوؤم. د سویت یونین طاقت چرته لاړو. نیمه دنیا باندې د حکومت کونکي طاقت نوم د دنیا د نقشي نه ولي ورک شو؟ هغه میدان کې چا وهل وخوړل، مجاهدنو یا که روسانو؟ اوس دې وخت کې د دنیا ۳۷ کافر ملکونو او ۵۵ مسلمانان ملکونو د افغانستان په طالبانو او مجاهدینو باندې حمله کړې ده خو مجاهدین ورته په تش لاس خوله ماتی جواب ورکوي. او دنیا اقرار کوي چې مجاهدینو ته کافران ناکامه دي. آیا دا د الله مرسته نه ده؟ بیا چې د مجاهدینو د جسدونو نه کومه خشبوې خیژي آیا دا د الله د مرستې اعلان نه دی؟ باقې د تکلیفونو تلل راتلل دا د جهاد برخه ده. صحابه کرامو باندې د دې نه زیات تکلیفونه راغلې دي. مجاهدینو پسې تو قې مه کوئ چې وهل خوري. زه تاسو نه پوښتنه کوم چې د الله د مرستې ضرورت چرته ضرورت وي. تاسو د دښمن په مقابله کې کوم محاذ پرانستلی دی؟ آیا د پکې لاندې د قورمې خوړلو او د لوښو څټلو وخت کې د اسمان نه مرستې لپاره فریښتې راکوزېږي؟ دغه شان جهاد او اقامت دین د معذرت پریښودلو نه وروسته به تاسو وهل ولي خورئ، تاسو د ګلانو د په غاړه کولو او ګلدستو مستحق وئ.

سوال: ځینې خلک وایي چې جهاد لپاره د سرکارې حکم ضرورت دی. چې خلیفه نه وي او سرکارې حکم او اعلان نه وي نو دا شخصې جهاد صحیح نه دی؟ **جواب**: سرکار له پکار ده چې د جهاد اعلان وکړي چې شخصې جهاد ختم شي. هر مسلمان حکومت باندې د شریعت په حکم دا فریضه لازمه کېږي چې هغه کم نه کم یو کال کې دوه ځله د کافرانو سره جهاد وکړي. که سرکار د کافرانو سره په جهاد نه کولو باندې سازش وکړي نو ولي مسلمان به جهاد پرېږدي؟ که داسې ضروري وي نو بیا خو سرکاد د جمعه او د اخترونو او د عامو لمونځونو انتظام او اهتمام خو پریښی دی نو ولي مسلمانان به دا هم پرېږدي؟ سرکار نفاذ شریعت پریښی دی نو ولي مسلمانان هم د دې نه لاس والي خلي. داسې نه کېږي، جهاد به تر قیامت پورې ضروري وي.

ہم پوچھتے ہیں شیخ کلیسا نواز سے
مشرق میں جنگ شر ہے تو مغرب میں بھی ہے شر
حق سے اگر غرض ہے تو زیبا ہے کیا یہ بات
اسلام کا محاسبہ یورپ سے در گذر

کتاب الصید والذبائح
د ځکار او د ذبیحو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿وما علمتم من الجوارح مکلبین تعلمونهن مم علمکم الله فکلوا مما امسکن علیکم واذکروا اسم الله علیه﴾ (مائده: ۴۵)

صید مصدر دی. دا کله د اصطیاد په معنی کې رائي یعنې ښکار کول او کله د اسم المفعول په معنی کې رائي. یعنې ښکار شوی شی. ذبائح د لفظ سره دا دویم مفهوم زیات مناسب دی. مطلب به دا شي چې د ښکار او د مذبوحه شیانو بیان. حرم د زمکې نه بغیر هر ځای کې ښکار کول جائز او مباح دی. البته حالت احرام کې هیڅ ځای کې د وچې ښکار جائز نه دی، خو سمندري ښکار د احرام په حالت کې هم جائز دی. دا پابندي د احرام حق دی. د حرم په زمکه کې د هر یو لپاره ښکار کول حرام دی. که د احرام په حالت کې وي یا نه وي. دا پابندي د حرم د زمکې حق دی. ښکار کول مباح دی. کتاب الله او سنت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د امت په اجماع سره د دې اباحت ثابت دی، خو امام مالک رحمه الله فرمایي چې که چرې یَو کَس فقط د لوبو تهوقو په خاطر ښکار کوي نو دا مکروه دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله ښکار نه دی کړی. البته ښکار کول یې جائز ګڼلی دی. او هغه یې خوړلی دی. ښکار یې د ښکار کولو وخت کې لیدلی دی. د ښکار ټول مسائل یې بیان کړي دي او د هغې د ضرر نه یې خبرتیا هم کړې ده. د صحابو په ډله کې د ښکار مسائل د ټولو نه زیات عدي بن حاتم پوښتلي دي او دا ښکاري هم ؤو. بیا ابو ثعلبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتلي دي. دا هم ښکاري ؤو. څو نورو صحابؤ هم ښکار کړی دی، لکه ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره.

ذبائح: دا د ذبیحه جمع ده. د ذبح عمل ته وایي. بیا ذبح په دوه قِسمه ده. یوه ذبح اختیاري ده. دویمه ذبحه اضطراري ده. ذبح اختیاري کې دا ضروري ده چې د حلقوم اکثر رګونه پرې کړی شي او بسم الله ورسره وي. ذبح اضطراري کې څاروی یا د مرغه زخمي شي، هغه د ذبحي لپاره کافي دی، خو په دی شرط چې د ویشتلو وخت کې بسم الله او تکبیر ویلی شوی وي. (مرقات ۶۶۷/۷)

الفصل الاول
د سپي او تیر په ذریعې سره شوي ځکار مسائل

﴿۱﴾ عَن عدِيّ بنِ حاتِمٍ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ

حضرت عدي ابن حاتم فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمایل چې کله ته خپل سپي پرېږدي نو دالله د

فَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ

نوم ذکر کوه یعنې ته چې کله د ښکار لپاره تربیت شوی سپی د پریښود لو اراده کوي نو هغه په بسم الله الله اکبر ویل سره

فَإِنْ أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَأَدْرَكْتَهُ حَيًّا

پرېږده. او که یا هغه سپی ستا لپاره ښکار نه ولی وي او هغه ښکار تاته ژوندی ملاؤ شي او هغه قصداً نه ذبح

فَاذْبَحْهُ وَإِنْ أَدْرَكْتَهُ

کوي نو د هغې خوړل به ستا لپاره حرام وي، ځکه هغه صورت کې به هغه مردار وي. او که ته ښکار په داسې

قَدْ قَتَلَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ

حالت کې ومومې چې سپې هغه وژلی وي خو هغې د هغې نه هیڅ نه خوړلي نو ته هغه ښکار وخوړه، خو که سپې

وَإِنْ أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا

د هغې نه څه خوړلي وي نو بیا ته هغه مه خوره ځکه صورت کې د هغې باره کې هیڅ نه شي ویل کېدی چې سپې

أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ

هغه د ځان لپاره نه ولی وي. چې د دې خبرې علامت به وي چې سپي ته زدکړه نه ده شوي، خو د هغه سپې نه ول

فَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا

شوی ښکار حلال دی چې زدکړه ورته شوي وي او که ته د ښکار سره د خپل سپې خوا کې بل سپی هم ومومې او

غَيْرَهُ وَقَدْ قَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّكَ

حال دا چې دې دواړو کې به یو سپي ښکار وژلی وي نو هغه صورت کې هم دا ښکار مه خوره ځکه تاته به معلومه

لَا تَدْرِي أَيُّهُمَا قَتَلَ.

نه وي چې دا ښکار په دې دواړو کې کوم یو نه ولی دی. که بل سپي وژلی وي نو کېدی شي چې هغې ته زدکړه نه

وَإِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ

وي شوې یا د پریښود لو وخت کې هغې باندې بسم الله نه وي ویل شوې او یا هغه یو داسې کس پریښی وي چې

فَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ

د هغې د لاس ذبح کړی شوی شی حلال نه وي لکه مجوسي یا بت پرست وغیره او کله چې ته په ښکار پسې تیر

فَإِنْ	غَابَ	عَنْكَ	يَوْمًا
ورخوشې کړي نو هغه وخت د الله ذکر کوه يعنې بسم الله ويل سره غشی پريږده او بيا که بنکار تر يو ورځې			
فَلَمْ	تَجِدْ		فِيهِ
پورې ستانه ورک وي او د هغې نه ورسته تاته ملاؤ شي نو هغه وخوره خو په دې شرط چې هغه بنکار کې دې د			
إِلَّا	أَثَرَ	سَهْمِكَ	فَكُلْ
خپل تير نه بغير بل هيڅ نښان نه وي او که هغه بنکار تاته په اوبو کې ډوب شوی ملاؤ شو او د ستا د تير نښان			
إِنْ	شِئْتَ	وَإِنْ	وَجَدْتَهُ	غَرِيقًا	فِي	الْمَاءِ
هم په کې موجود وي نو ته هغه مه خوره ځکه امکان لري چې ستا په تير هغه مړ شوی نه وي بلکې اوبو کې په						
فَلَا تَأْكُلْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]						
ډوبيدلو سره مړ شوي وي.						

توضيح: **اذا رسلت كلبك**: دې حديث کې د بنکار د ډېرو مسائلو بيان راغلی دی. چې د قرآن کې آيت کې ورته اشارې دي. ﴿**وما علمتم من الجوارح مكلبين تعلمونهن مما علمكم الله فكلوا مما امسكن عليكم واذكروا اسم الله عليه**﴾ (سورة مائده : ۴۵) دې آيت د "**الجوارح**" نه څېرونکې او بنکار کونکې درندې او مرغان وغيره مراد دي، لکه پرانګ، زمرا و سپی وغيره او مرغانو کې يا زوغيره مراد دي. (مرقات ۶۶۷/۷)

مكلبين: يعنې تا هغه بنکار پسې پريښی دی. دا وړوکی د ذبح کولو لپاره دی، ځکه دې وخت کې بسم الله الله اکبر ويل پکار دي. او همدغه کافي ده، خو که بنکار زخمي حالت کې ملاو شو نو بيا يې ذبح کول اختياري ضروري دي.

تعلمونهن: يعنې چې زکړه ورته شوې وي، تعليم يافته سپی وي. فقهاؤ د تعليم يافته کېدلو لپاره درې شرطونه بيان کړي دي. ۱: اولنی شرط دا چې کله يې بنکار پسې پريږدي نو بنې منډې پسې ژوهې ۲: د بنکار دوران کې يې چې کله بېرته راوغواړي نو ژر بېرته راشي ۳: درېم شرط دا چې بنکار نېولو سره مالک ته بېرته راولې. خپله يې بالکل ونه خوري. دغه شان سپی معلم کېږي. د هغې د پريښودلو وخت کې بسم الله ويلو سره بنکار حلال شي. د دې په وژلو سره ذبح پوره کېږي. که چرې بنکار تر اوسه پورې ژوندی وي نو بيا د هغې ذبح ضروري ده. د باز وغيره د معلم کېدلو لپاره دوه شرطونه دي. ۱: چې بنکار

([1]) رقم الحديث ۶۴۰۴ اخرجه البخاري في صحيحه ۶۱۰/۹ رقم الحديث ۵۴۸۴ ومسلم في ۵۳۱/۳ رقم الحديث (۶-۱۹۲۹)

پسې يې پرېږدي نو بنه ډېر ورپسې والوځي ۲: دويم شرط دا چې کله يې بېرته راوغواړي نو ښې والوښي او بېرته راشي. د ښکار نه خوړل د مارغه لپاره شرط نه دی. (مرقات ۶۶۹/۷)

وان اکل فلا تأکل: يعنې که ښکاري سپي ښکار وکړو او ويې خوړلو نو بيا پاتې ښکار مه خورئ. اوس مسئله دا ده چې که سپي وخوړلو او ښکار مړ شو نو آيا هغه حلال دی يا نه؟ دې کې د فقهاؤ اختلاف دی.

د فقهاؤ اختلاف : امام مالک او امام اوزاعی فرمايي چې داسې ښکار هم حرام دی. دې خوراک هم حلال دی. جمهور ائمه فرمايي چې داسې ښکار خوړل حرام دي.

دلائل : امام مالک او امام اوزاعي رحمه الله د سنن ابی داؤد د روايت نه استدلال کړی دی. چې دا الفاظ په کې راځي: "**اذا رسلت کلبك و ذکرت اسم الله علیه فکل وان اکل من**" (ابو داؤد ص ۳۸ ج ۲)

جواب: د جمهورو له اړخ د امام مالک د استدلال يو جواب دا دی چې دا حديث ډېر قوي او مضبوط دی. د امام مالک د مستدل دا درجه نشته دی. دويم جواب دا دی چې د قرآن آيت: مما امسکن عليکم کې په واضحه توګه د حلالېدلو لپاره د ښکار نه خوړل بلکې د امساک شرط دی. د دې وجې نه به د امام مالک مستدل پرېښودل غواړي. درېم جواب دا دی چې په **فلا تأکل** کې نهې ده. او د حل او حرمت په مقابله کې حرمت ته غوره والی ورکول کېږي. "**فان وجدت مع کلبك کلباً**" دې حديث کې دا دويمه مسئله ده. د دې تشريح داسې ده چې که ښکاري سپي سره د بل يو کس دويم سپی شامل شو او هغې ښکار ؤوژلو نو دې حديث کې دي چې هغه ښکار مه خورئ ځکه اصل خبره د **بسم الله** د لوستلو او د نه لوستلو ده. او دا چې دويم سپی په کې شامل شو، نو دې کې دوه شکوک دي. اولنئ دا خبره مشکوکه ده چې دا معلومه نه ده چې هغه معلم دی يا نا. ډېر امکان لري چې هغه غير معلم وي. دويمه خبره دا ده چې د سپي پرېښودلو وخت کې د الله نوم اخستلو سره **بسم الله** ويلی شوې دا يا نا، نو ځکه نبي کريم ﷺ وفرمايل چې دا مه خورئ. (مرقات ۶۶۸/۷)

حکم د متروک التسمیه ذبیحه : **فذکراسم الله**: دي حديث کې دريمه مسئله بيان شوي ده، چې د متروک التسميه څه حکم دی. سپی د ورپسي کولو وخت کې يا د تير ويشتلو وخت کې يا که په ذبح اختياري کې چا قصداً بسم الله پرېښودله، نو آيا دا ذبيحه حلاله ده او که حرامه ده. دي کې د فقهاؤ اختلاف دی.

د فقهاؤ اختلاف : د امام شافعي رحمه الله په نزد که چا د قصداً **بسم الله** پرېښودله يا ترينه هېره شوه، نو هر حالت کې ښکار حلال دی. يو ضعيف قول د حنابلو هم داسې دی. داؤد ظاهری او امام شعبی رحمه الله فرمايي چې هر حالت کې ښکار حرام دی. امام ابو حنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله جمهور فرمايي چې که چرې چا قصداً **بسم الله** پرېښودله

نو ښکار حرام دی. او که چرې نسیاناً تسمیه پاتې شوه نو ښکار حلال دی. (مرقات ۶۶۹/۷)

دلائل : فریق اول امام شافعي رحمه الله د دې اجتهاد نه استدلال کړی دی. چې قرآن کې چې د بسم الله کوم ذکر دی هغه عام دی. هغه که په ژبه وویل شي یا که په زړه کې وویل شي او د مسلمان په زړه کې بسم الله او د الله نوم هر وخت موجو وي. لهذا متروک التسمیه ذبیحه حلاله ده.

فریق ثانی داؤد ظاهری او شعبی رحمه الله دلیل دا دی چې د قرآن آیت ﴿**ولا تأکلوا مما لم یذکر اسم الله علیه وانه لفسق**﴾ عام او مطلق دی. که تسمیه په هیري سره پاتې شي یا قصداً پرېښودلی شوه، ذبیحه حرامه ده.

فریق ثالث جمهورو د قرآن د آیت نه استدلال کړی دی او فرمایي چې آیت کې ﴿**وانه لفسق**﴾ ویلی شوی دی. چې د تسمیه پرېښودل فسق دی. او فسق هغه کار ته وایي چې هغې کې قصد او اراده وي. که چرې فعل کې قصد او اراده نه وي نو هغه فسق نه دی. لهذا قصداً تسمیه پرېښودلو سره به ذبیحه حرامه وي. او نسیاناً تسمیه پرېښودلو سره به ذبیحه حرامه نه وي، ځکه حدیث کې د "**رفع عن امتی الخطاء والنسیان**" یوه ضابطه ده. جمهورو د دې باب د ټولو حدیثونو نه هم استدلال کړی دی. چې تسمیه په کې شرط دی. د بحث د لاندې حدیث په رڼا کې یو څو خبرې د خلاصي په توګه لیکلی کېږي. چې حقیقت کې د ښکار د شرطونو نه دي.

۱: خکال د حلال کیدو اولنی شرط دا دی چې ښکار کونکی مسلمان وي. د کافر ښکار او ذبیحه حرامه ده.

۲: ښکاري سپی ښکاري پریښی وي. دا دویم شرط دی. که خپله سپي ښکار ونیؤو او حاضر یې کړو نو هغه به حلال نه وي.

۳: دریم شرط دا چې د سپي وغیره پرېښودلو وخت کې ښکاري د الله نوم اخستی وي. که قصداً تسمیه پریښودل شوه نو ښکار به حلال نه وي.

۴: د کوم څاروي یا مرغه په ذریعه چې ښکار کېږي هغه به معلّم وي، د غیر معلّم ښکار د ذبحې نه بغیر حرام دی.

۵: تعلیم یافته سپي هم که د ښکار نه وروسته ښکار وخوړلو نو پاتې برخې استعمال د سړي لپاره حرام دی.

۶: تعلیم یافته سپي د ښکار حلال کېدلو لپاره شپږم شرط دا دی چې سپي ښکار زخمي کړی وي. بغیر زخم نه که ښکار مړ شي نو د هغې استعمال حرام دی.

۷: ښکار که چرې ورک شي او د خرابېدو نه مخکې ومومي نو د هغې خوړل حلال دي او که چرې خراب شي یا اوبو کې غرق شي او مړ شي نو د هغې خوړل حلال نه دی.

د توپک په ګولۍ باندې ښکار څنګه دی؟

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ

او حضرت عدی رضی الله عنه فرمایي چې ما عرض وکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونږ تربیت شوي (یعنې زدکړه ورته

قَالَ:	كُلْ	مَا	أَمْسَكْنَ	عَلَيْكَ
شوې وي) سپي پرېږدو؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل ستاسو سپي چې کوم ښکار ستاسو لپاره ونيسي او وې ساتې نو هغه				
قُلْتُ:	وَإِنْ	قَتَلْنَ؟	قَالَ:	وَإِنْ	قَتَلْنَ	قُلْتُ:
خورئ. ما عرض وکړو که سپي ښکار ووژني؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل اګر که وې وژني. بيا ما عرض وکړو چې						
إِنَّا	نَرْمِي			بِالْمِعْرَاضِ.		
مونږ ښکار باندې بغير له څوکې والا تير خوشې کوو او د هغې په ذريعه ښکار کوو، نو آيا هغه ښکار خورل صحيح						
قَالَ:	كُلْ	مَا		خزق		
دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې کوم ښکار هغه تير زخمي کړي يعني که هغه سيدها لاړې او ښکار په څوکه						
وَمَا	أَصَابَ	بعرضه		فَقَتله		
ولږي او هغه مړ شي نو هغه خورئ او که د په څوکه نه بلکې د پلن والي په اړخ باندې په ښکار ولږي او هغه						
فَإِنَّهُ	وقيذ	فَلَا	تَأْكُل	(مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]		
ښکار زخمي شي او مړ شي نو هغه وقيذ دی، هغه مه خورئ.						

توضيح: انا نرمي بالمعراض: يعنې کله مونږ ښکار پسې تير ورخوشې کوو. هغه پرې په پلن والي ولږي. د دې څه کم دی؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب کې وفرمايل "کل ما خزق" خزق منډلو او نافذ کېدلو ته وايي. څوکه او تيره څوکه والې باندې زخمي کول مراد دی. معراض هغه تير دی چې په پلنوالي په ښکار ولږي د تيره اړخ نه ونه لږي. دا د وقيذ په حکم کې دی. ښکار حلال نه دی. د دې نه د هر هغه آلې والا څيز حکم راؤځې چې کوم کې تيره څوکه نه وې بلکې په خپل بوج، زور او دباؤ باندې ښکار وشلوې.

د فقهاؤ اختلاف: اوس دې کې اختلاف دی چې بغير د تيرې څوکې والا څيز باندې ښکار حلال دی يا که حرام دی. کوم کې چې نن سبا د توپک مسئله مخې ته راځي. امام مکحول رحمه الله او اوزاعی شامی رحمه الله او څه د نورو علماؤ رأی دا ده چې د توپک په ګولۍ باني کړی شوی ښکار حلال دی.

د جمهور علماؤ رائی ده دا چې د تیرې څوکې نه بغیر او زخم کولو نه بغیر د دباؤ په ذریعه وژلی شوی ښکار حلال نه دی. لهذا د توپک به ګولۍ ښکار حلال نه دی، خو دا چې ژوندی وي او ذبح اختیاري شي نو حلال دی. (مرقات ۶۷۱/۷)

دلائل: امام اوزاعی او د شام علماؤ او امام مکحول د قرآن د آیت نه استدلال کوي چې ﴿مما امسکن علیکم﴾ کې د زخم ذکر نشته دی. آیت مطلق دی. دا د زخم سره نه شي مقید کېدی. لهذا بغیر د څوکي والا څیز سره ښکار جائز دی.

جمهور د ذکر شوې حدیث نه استدلال کوي چې نبي کریم ﷺ د معراض ښکار وقیذ ګڼلی دی او د "خزق" قید یې لګولی دی چې تیره څوکه باندې زخم وي او وینه تویه شي نو بیا حلال دی ګڼې نه دی.

جمهور د اوزاعی د استدلال دا جواب کړی دی چې مما امسکن کې د امساک قید عدمِ اکل لپاره دی چې ستاسو لپاره هیسار شي او د خپل خوراک لپاره هیسار نه شي. د دې آیت د زخمي کېدلو نه کېدلو سره هیڅ تعلق نشته دی. بلکې امساک او زخم یو ځای هم کېدی شي. بهرحال د توپک ګولۍ اګره که د بارود و په زور لاړه شي او ښکار ته زور ورکوي خو په دې کې څه داسې قسمه تیزوالی شته دی چې د چاقو یا چاړه نه یې په تیزه غوڅوي. علماؤ له د دې باره کې له سوچ کول پکار دی. دې مسئله کې د فقهاؤ او د مفتیانو د اختلاف نه مخکې د مسئلې اصل حقیقت بیانول ضروري دی. دې سلسله کې مولانا خالد سیف الله لیکي. د ذبح کولو دوه طریقې دي. یو د څارؤ د ذبح کولو طریقه چې د سړي په اختیار کې وي. دې ته د فقهې په اصطلاح کې "ذبح اختیاري" وایي. دویم صورت د داسې څارؤ د ذبح کولو دی چې د سړي په اختیار کې نه وي مثلاً د ښکار څاروي، چې د وړاندې نه یې د وژلو کوشش کېږي. د دې د ذبح کولو طریقه د هغه څارؤ نه لږه شان مختلف ده کوم چې د انسان په اختیار کې وي. او دې ته د فقهې په اصطلاح کې "ذبح اضطراری" وایي.

ذبح اختیاري او د ذبح اضطراري د تقسیم نه وروسته مولانا خالد سیف الله لیکي:

ذبح اضطراري د مرئ کې د خاص رګونو غوڅول ضروري نه دي بلکې دومره کافي ده چې په کوم څیز د شکار لپاره استعمل شوی وي هغه ښکار زخمي کړي. د زخمي کېدلو نه وروسته که ښکار کونکی هغه ژوندی ونیسي نو اوس د مرئ رګونه به غوڅول غواړي او که د ورسیدلو نه مخکې څاروی مړ شوی وُو نو د هغې زخمي کېدل کافي دي. او دا حلال دی. د ښکار په معامله کې دا خصوصي سهولت د قرآن او حدیث د تصریحاتو نه ماخوذ دی.

ښکارې څاروی توپک باندې د ویشتلو صورت کې که توپک چلونکی مسلمان وي او د ګولۍ چلولو وخت کې یې "بسم الله الله اکبر" اویله او ګولۍ په خوشې کړه او ښکار پرې ولږېدلو او هغه

مړ شو نو دا ښکار به حلال وي یا که حرام. هدایه او د فقهي د نورو کتابونو د ترصیح نه داسې معلومېږي چې که په دې خبره یقین وي چې دا دا ځاروی د زخم په وجه مړ شوی دی نو بیشکه حلال دی او که یقین شي چې د زخم نه شویدی نو بیشکه حرام دی. د هدایه عبارت دا دی.

"والاصل فی هذه المسائل ان الموت ان کان مضافاً الی الجراح بیقین کان حلالا وان کان مضافاً الی الثقل بیقین کان حراماً وان رقع الشك ولا یدری مات بالجرح او بالثقل کان حراماً احتیاطاً"

مولانا مفتي محمود صاحب د نومبر ۱۹۵۶ء په مطابق د ربیع الاول ۱۳۷۶ء، مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوی چې هغه وخت د دارالعلوم کراچۍ کې د مفتي او مدرس ؤو ته یو ولیکلو "دې مسئله (یعنې د ټوپک په ګولۍ ښکار" کې دې احقر ته خپله تردّد دی. لاندې ذکر شؤو دلائلو باندې نظر واچوه او د خپلې رائې نه مې خبر کړه. او نفس دلائلو د لاندې فانظر الی ما قال ولا تنظر الی من قال په اړه موجبه رایه قائم کړي. د هغې وروسته مولانا متفی محمود صاحب حلت او حرمت باندې دلالت کونکي ډېر روایتونه ذکر کړل او خپله رائې هم ولیکله. هغه په ذکر شوي خط کې لیکي. او اوس د کوترې نه تر هوسۍ پورې ښکار په ټوپک باندې کېږي. قدرت علی الذکات الا ختیاریة ځېنې وخت ملاوېدلی شي. اخراج الدم هم کامل وي، نو دې سخت ضرورت کې سره د تمیز الدم المسفوح باکمل وجه وهو المقصود حرام ګرځولو په معنې کې به وي چې د دغه زماني خلک به د رخصت خداوندي نه فائده مند نه وي. مولانا مفتي محمود دې مسئله کې د رائی د اظهار باره کې څومره د احتیاط نه کار اخلي. د دې اندازه د دې خبرې نه کېدلی شي چې دواړه قسمه دلائل د ذکر کولو باوجود یې ډېر په احتیاط سره خپله رائی لیکلې ده. او د هغې د وجې اړخ ته هم اشاره کوي.

دا صحیح ده چې بې له وجې د نوې آلاتو او د نوې زمانې سره احکام کې د بدلون کول الحاد او زندقه ده او د فقهاؤ د عباراتو او د اشاراتو خلاف هیڅ یو حکم هم د فتنې نه خالي نه دی، خو د شرعي دلائلو په موجودګئ کې د فقهاء کرامو اصولو د لاندې مقرره کړی شوې مسئلې باندې غور کول به هم د ملامتیا قابل وي، نوې آلې او ضرورتونه، زمانه باندې غور او فکر نه کول او د ټوپک ګولۍ دختو ټوپک باندې قیاس کول او پرېښودل کول د علماؤ شان نه دی. او بیا ټوپک کې صرف ګولۍ او په چاړه خو ښکار نه کېږي بلکې د څوکې والا ګولۍ څوکه خو د معراض د څوکې نه کمه نه وي. ټول به یو حکم کې راوستل څنګه صحیح وي. مولانا رشید احمد لدهیانوی د فقهاء کرامو رحمهم الله د ډېرو عبارتونو حوالې ورکړي دي او د عقلي دلائلو نه یې هم مرسته اخستې ده، خو آخر کې د مولانا مفتي محمود د دې قول "بلکې د څوکې والا ګولۍ څوکه خو د پلن غشي د څوکې نه کمه نه

وي " د لاندې لیکي. اقوال د داسې ګولۍ د ښکار په حلت کې هیڅ شک نشته دی او نه دې کې د هیڅ قِسمه اختلافاتو ګنجائش شته دی. امداد المفتیین کې د داسې ښکار د حلت فتوی لیکلی شوې ده. البته که یو دومره وړه ګولۍ دومره وړوکی څاروی ژوژنې چې د ګولۍ د وزن متحمل کېدلی نشي یعنې که ګولۍ د تیزې څوکې والا نه وی نو بیا هم د وزن نه یې څاروی وژل شوی وی نو دا څاروی به حلال نه وی. مولانا محمد ایوب جان صاحب بنوری، د حضرت مفتي صاحب د موقف وضاحت داسې کوي: حضرت مفتي صاحب ډېر دلائل پیش کړل. هغې کې یو دلیل دا هم ؤو چې کله ټوپک باندې ګولۍ ویشتلی کېږي نو هغه وخت د هغې نه اور ؤځي او هغه زخمي شي. او په اور سره ذبح کول فقهاء کرام حلال ګڼي، نو ځکه حلال دی. راقم الحروف فضل محمد یوسف زئی وضاحت کول غواړي چې د یوې اوږدې تجربې او د اوږد بحث او مباحثې نه وروسته دې نتیجې ته رسیدلی یم چې د ټوپک په ګولۍ او په چاړه باندې ښکار شوی څیز حلال دی، ځکه د "كُلْ مَا خَزَقَ" مطابق زخم دلته موجود دی او "مَا أَنْهَرَ الدَّمَ" هم په پوره توګه موندلی کېږي. چاقو او چاړه باندې چې کومه غوښه پرېکړیشي او وینه ترېنه روانه شي. ګولۍ او چاړه کې د دې نه کم نه دی. لهذا د دې په حلال کېدو کې شک کول پکار نه دي. د حضرت مولانا مفتي محمود صاحب په دې فتوی سره زمادې ډېره حوصله افزائی شوې ده. او یوه زړه مسئله حل شوې ده. "الحمد لله"

د یهودو او نصاراؤ په لوخو کې خوراک څنګه دی؟

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّا
او حضرت ابو ثعلبه خشنی فرمایي چې ما عرض وکړو ای د الله نبي (ﷺ)! مونږ د یو داسې قوم په مینځ کې
بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ كِتَابٍ أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ وَبِأَرْضِ
اوسیږو چې اهل کتاب دي، نو آیا د هغوی په لوښو کې خوړلی او څښلی شو؟ او مونږ په داسې علاقه کې
صَيْدٍ أَصِيدُ بِقَوْسِي وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ وَبِكَلْبِي
اوسیږو چې ښکار په کې ډېر زیات دی. زه خپله لیندئ یعنې د غشي او تربیت یافته سپي په ذریعه
الْمُعَلَّمِ فَمَا يصلح؟
ښکار کوم او په غیر تربیت یافته سپي باندې هم ښکار کوم، نو زمالپاره کوم یو شی صحیح دی؟
قَالَ: أَمَّا ذَكَرْتَ مِنْ آنِيَةِ أَهْلِ الْكِتَابِ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې تر کومې پورې د دې شي تعلق دی چې تا د اهل کتابو د لوښو باره کې پوښتلی دی نو

فَإِنْ	وَجَدْتُمْ	غَيْرَهَا	فَلَا	تَأْكُلُوا	فِيهَا

که د هغې لوښو نه بغير نور لوښي ملاوېږي نو بيا د هغوی په لوښو کې خوراک مه کوه او څښنه او که نور لوښي درته

وَإِنْ	لَمْ	تَجِدُوا	فاغسلوها	وَكُلُوا	فِيهَا

نه ملاوېږي نو اول هغه ؤوينځه او اوچ يې کړه او بيا يې پکې خوره او څښنه. پاتې شوه د ښکار خبره نو کوم څاروی

وَمَا	صِدْتَ	بِقَوْسِكَ	فَذَكَرْتَ	اسْمَ	اللهِ	فَكُلْ

چې تا په خپل تير باندې ښکار کړی دی او د تير ويشتلو وخت کې د الله نوم اخستی دی، نو هغه خوره. دغه شان

وَمَا	صِدْتَ	بِكَلْبِكَ	الْمُعَلَّمِ	فَذَكَرْتَ	اسْمَ	اللهِ

کوم څاروی چې تا په تربيت يافته سپې باندې ښکار کړی دی او د هغه سپې پر ښو دلو وخت کې دې د الله نوم

فَكُلْ	وَمَا	صِدْتَ	بِكَلْبِكَ	غَيْرِ	معلم

اخستی دی نو هغه هم وخوره او دغه شان چې کوم ښکار تا په غير تربيت يافته سپې باندې ونښولو او هغه د ذبح

فأدركت	ذكاته	فكل	(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

کولو قابل يعنې ژوندی دې وموندلو او بيا دې ذبح کړی دی نو هغه هم خوړلی شي.

توضيح: د اهل کتابو په لوښو کې که هغوی د خنزير غوښه اينبې وي يا يې د شرابو لپاره استعمال کړی وي نو که په هغه صورت کې بل لوښی ملاوېدلی شي نو د هغې د هغې لوښو استعمالول قطعاً جائز نه دی، خو که بل لوښی نه ملاوېږي نو بيا د هغې وينځل او استعمالول جائز دي. مجبوري ده. او که د هغوی دا لوښي په شرابو وغيره کې استعمال شوې نه وي نو بيا يې صرف وينځل او استعمالول جائز دي. اګر که خپل لوښی هم موجود وي. بهرحال اسلام غواړي چې مسلمانانو کې اسلامي غيرت او حميت پاتې وي، ځکه لږ اختلاط سره سړی ورو ورو د غير مسلمو په معاشره کې ورک شي. بد اخلاقي جائز نه ده خو د اخلاقو هم يو مقام وي. اخلاق د دې نوم دی چې د خدای د ښمنانو سره د زړه مينه پيدا شي. د بحث لاندې اشاره هم دغه ده چې که خپل لوښی موجود وي نو د کافر لوښی مه استعمالوه. (مرقات ۶۷۲/۷)

---

(1) رقم الحديث ۴۰۶۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۰۴/۹ رقم الحديث ۴۵۷۸ومسلم في ۱۵۳۲/۳ رقم الحديث (۸-۱۹۳۰)

وژلی شوی ښکار که ورک شي نو څه حکم يې دی؟

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابو ثعلبه خشنی فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې که تاسو د الله نوم اخستلو سره په ښکار

إِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ

پسې تير ورخوشې کړئ او بيا هغه ښکار تير لږ بدلو سره ستاسو له نظره ورک شي يعنې که په يو داسې ځای کې

فَغَابَ عَنْكَ فَأَدْرَكْتَهُ

مړ شي چې هغه وخت کې تاسو ملا ونشو او بيا هغه ستاسو په لاس درشي او تاسو په هغې کې د خپل غشي نښان

فَكُلْ مَا لَمْ

ليدلو سره دا يقين وکړئ چې دا ستاسو تير لږ بدلو سره مړ شوی دی نو دا تاسو خوړلی شئ. چې تر کومې پورې

يُنْتِنْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

يې بويې تغير نه وي پيدا کړی.

توضیح: مالم ینتن: مثلاً يو کس د مرغۍ وغيره ښکار وکړو خو وليدله او په چاخو کې ورکه شوه. اوس د هغه ورک شوې ښکار څه حکم دی. دې حديث کې ويلی شوې دي چې تر څو پورې هغه ښکار بد بويې نه وي کړي نو تره هغه وخت پورې يې خوړل جائز دي، خو شرط دا دی چې هغه ښکار په بله څه وجه نه وي مړ شوی. بلکې د ښکارې کس د تير وغيره په وجه مړ شوی وي او ويشتلو وخت کې يې بسم الله الله اکبر ويلې وي. معمولې بدبويې سره حرام نه دی. اګر که د صحت لپاره مضر وي، خو ښکار لپاره لازم دي چې هغه دا ښکار تر د خپل وسه پورې مسلسل ولټوې. راتلونکې حديث کې دي چې درې ورځې وروسته هم ملا وشي، بيا هم جائز دی. (مرقات ۶۷۲/۷)

﴿۵﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الَّذِي يُدْرِكُ صَيْدَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ:

او حضرت ثعلبه خشنی فرمايي چې نبي کريم ﷺ د هغه ښکار په حق کې چې خپل ښکار درې ورځې وروسته

---

[1]) رقم الحديث ۴۰۶۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۳۲/۳ رقم الحديث (۹-۱۴۳۱) وابوداود في السنن ۲۷۸/۳ رقم الحديث ۲۸۶۱

فكله مَا لم ينتن. رَوَاهُ مُسلم[1]

وموميې، ويې فرمايل چې هغه وخوره خو چې هغې کې بدبويي پيدا شوې نه وي.

د شکمنې ذبيحې حکم

﴿٦﴾ وَعَن عَائِشَة قَالَت: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هُنَا

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ځل يو صحابي عرض وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! دلته څه داسې

أَقْوَامًا حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ

خلک هم دي چې د شرک زمانه يې ډېره نزدې ده يعنې هغه نوي مسلمانان چې د اسلام احکامات او ديني مسائل يې پوره

بِشِرْكٍ يَأْتُونَنَا بِلُحْمَانٍ لَا نَدْرِي

نه دي زده کړي، هغه خلک مونږ له غوښه راوړي او مونږ ته د هغې علم نه وي چې هغوی د دې ذبح

أَيَذْكُرُونَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهَا أَمْ لَا؟

کولو وخت کې د الله نوم اخستی دی يا نه، نو آيا د هغوی لاوړلی شوې غوښه مونږ خوړلی شو. يا نه؟

قَالَ: اذْكُرُوا أَنْتُم اسمَ اللهِ وكلوا. رَوَاهُ البُخَارِيّ[2]

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل تاسو د الله نوم اخلئ او هغه خوړئ.

توضيح: **اذكروا انتم اسم الله**: صحابۀ دا مسئله پوښتلې ده چې د مختلف ځايونو نه غوښه راځي. معلومه نه ده چې د هغوی ذبح څه قسمه ده. د هغې خوراک څنګه دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې شک مه کوئ. بسم الله اوايئ او وې خورئ. د دې حديث مطلب دا نه دی چې د څاروي ذبح کولو وخت کې که بسم الله نه وې ويلی شوې نو تاسو يې د هغې د مړه کېدو نه وروسته په بسم الله ويلو سره وخورئ. د دې حديث مطلب دا دی چې که ذبح کونکی د ذبحې قابل وي او د کوم اطرافو نه چې غوښه راغلې ده هلته مسلمانان دي، نو د تحقيق او تفتيش او شک او شبې نه بغير مسلمانانو باندې د ښه ګمان به بنياد په بسم الله ويلو سره خوړل پکار دي. نن سبا چې کومه غوښه د برازيل او د تهائی لينډ او يا د نورو کافرانو نه مسلمانانو ته راځي، نو هغې کې د ډېر زيات تحقيق ضرورت دی. دې ملکونو د يوې منصوبې د لاندې مسلمانان د حرام غوښو خوړلو په ذريعې د ګمراه کولو اراده کړې ده.

([1]) رقم الحديث ۴۰۶۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۳۲/۳ رقم الحديث ۱۰-۱۹۳۱) والنسائي في ۱۹۴/۷ رقم الحديث ۴۳۳۰

([2]) رقم الحديث ۴۰۶۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۳۴/۹ رقم الحديث ۵۵۰۷ وأبوداود في السنن ۲۵۴/۳ رقم الحديث ۲۸۲۹

مسلمانان دومره بې احساسه او بې وسه شوي دي چې هغوی د پخپله د ځارۍ د ذبح کولو همت هم روان دی. حرمین شریفینو ته حرامه غوښه رائي او خلک یې خوري. دلته پاکستان کې هم د چرګانو فارمونو کې چرګې مړې شي نو هغه د عوامو په خوراکونو کې او په هوټلونو کې وربانديې خوري. او هغه مردارې وي، خو غوښه ارزانه وي نو ځکه اخستلی کېږي. حضرت مولانا شاه انور شاه کشمیري فرمایي چې دې حدیث کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وسوسو د لرې کولو لپاره داسې فرمایلي دي چې وسواسي کېږئ مه. بلکې بسم الله ؤوایئ او وې خورئ. بسم الله ویلو سره به ستاسو وسوسه ختمه شي. دا مطلب نه دی چې په حرامو غوښو باندې بسم الله ویلو سره حلاله شي.

د غیر الله په نوم ذبیحه حرامه ده

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ: سُئِلَ عَلِيٌّ:

او حضرت ابو طفیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دا پوښتنه وکړی شوه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د څه شي

هَلْ خَصَّكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ؟

په ذریعې باندې خصوصیت او امتیاز ورکړی دی؟ یعنې آیا دا صحیح ده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تاسو ته چې اهل

فَقَالَ: مَا خَصَّنَا بِشَيْءٍ

بیت رسول دي څه داسې احکامات ورکړي دي چې نورو خلکو ته یې نه دي ورکړي؟ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

لَمْ يَعُمَّ بِهِ

وفرمایل چې نا. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ لپاره هیڅ داسې شی نه دی مخصوص کړی چې د نورو خلکو لپاره عام شوې

النَّاسَ إِلَّا مَا

نه وي بغیر د دې شې نه چې زماد تورې په تیکۍ کې دیو څو احکاماتو د مجموعې په صورت کې موجود دي. خو

فِي قِرَابِ سَيْفِي

دې احکاماتو باره کې زه هم په دې نه پوهېږم چې آیا هغه احکامات مونږ اهل بیتو لپاره خاص دي یا د هغې تعلق

هَذَا فَأَخْرَجَ صَحِيفَةً

په عمومي توګه د ټول امت سره دي. بیا حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلې تورې د تیکۍ نه یو کاغذ راویستو چې دا

فِيهَا: لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ

احکامات په کې درج ؤو چې په هغه کس دې د الله لعنت وي چې د غیر الله په نوم یو څاروی ذبح کړي او په

وَلَعَنَ اللهُ مَنْ سَرَقَ مَنَارَ الْأَرْضِ وَفِي رِوَايَةٍ مَنْ
هغه کس دې د الله لعنت وي چې د ځمکې نښانه پټه کړي او په يو روايت کې داسې الفاظ دي چې په هغه کس
غَيَّرَ مَنَارَ الْأَرْضِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ
دې د الله لعنت وي چې د ځمکې نښان بدلوي و په هغه کس دې د الله لعنت وي چې په خپل پلار لعنت کوي
وَلَعَنَ اللهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
او په هغه کس دې د الله لعنت وي چې بدعتي ته ځای ورکوي.

توضيح: **خصكم:** دا پروېښګنډه د هغه وخت نه تر اوسه پورې شروع ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته څه خصوصي نصيحتونه کړي ؤو. صحابؤ بار بار د هغې باره کې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه کړې ده او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلسل انکار کړی دی. تر ننه پورې روافض په خپلو اذانونو کې د ؤوصی رسول الله الفاظ تکراروي او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبرې ته دروغجنه وايي. (مرقات ۶۷۵/۷)

قراب: د توري نيام ته وايي. يو ليکلی شوی خط هغې په دې نيام کې اينبی ؤو. (مرقات ۶۷۵/۷)

لغير الله: د الله د نوم نه بغير د بل چا په نوم څاروی ذبح کول داسې دي لکه د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ په نوم يا د حضرت عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ په نوم يا د شيخ عبد القادر رحمه الله په نوم يا د حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوم يا د يو پير فقير په نوم څاروی ونومول شي چې دا د فلانکې د نوم څاروی دی. بيا هغه ذبح کړي. د ذبح وخت کې ځښې بې دينه نو د غير الله نوم اخلي او ځښې بې دينه خو د الله نوم اخلي خو ساه د بل لپاره وباسي. د غير الله په نوم د نومولو نه وروسته د ذبحې وخت کې بسم الله وايي او حال دا چې هغه نذر او نياز د غير الله په نوم وي.

منار الارض: د ځمکو نښانو ته منار ويلی شوی دی. د دې نښان نه مراد هغه د علامت والا کانې وغيره دی چې د دوه مشترک ملګرو د ځمکې حدود باندې اينبودلی کېږي. د هغې پټولو يا بدلولو سره هغه د بل زمکه خپلول غواړي. کله داسې هم کېږي چې دا نښان د يو اړخ نه لرې کړي او بل اړخ ته يې ويسي. او اصل مالک ته امتياز پاتې نشي. دا هم خپلول غواړي. او نن سبا په ځمکو کې د ټولو نه زيات بدلول د پټواريانو په لاسونو باندې کېږی. د دې حديث اولنی مصداق همدغه پټواری خلک دي چې د ځمکې په نقشه کې او په لټها کې او د کس په نمبر کې ګډبډ کوي او بيا يې صحيح کولو باندې روپئ حاصلوي. خپله يې خراب او بيا پرې روپئ اخلي. (مرقات ۶۷۵/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۷۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۶۷/۳ رقم الحديث (۴۵-۱۹۷۸) والنسائي في السنن ۲۳۲/۷ رقم الحديث ۴۴۲۲

لعن والده: یعنې د مور او پلار نافرماني کوي او بیا هغوی د تنقید ننبانه جوړه کړي یا د بل مور او پلار ته کنځلې وکړي. هغې د بل مور او پلار ته کنځلې وکړي نو د غه شان هغه بیا خپله د هغه کنځلو ذریعه شي.

محدثاً: د دې نه بدعتې کس مراد دی. داسې کس ته ځای ورکړي یا یې پټ سنبال کړي. مدینه یا مکه وغیره کې د هغې سره مالي تعاون کول، د هغې رائی ته ترویج ورکول او د هغې تعظیم او عزت کول، هغه پیر او مرشد کول ټول د لعنت سبب دی. (مرقات ۶۷۶/۷)

کوم شی چې درګونو وینه تویه ولی شي نو ذبح کول پرې جائز ده

﴿۸﴾ وَعَن رَافِع بن خديج قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت رافع بن خدیج رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې ما عرض وکړو یا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! سبا د دښمن یعنې د کافرانو سره

إِنَّا لَاقُوا الْعَدُوَّ غَدًا وَلَيْسَتْ مَعَنَا

زمونږ مقابله ده او مونږ سره چرې نشته دی. یعنې کېدی شي چې د جنګې هنګامو په وجه مونږ سره چاړې نه

مُدًى أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ؟

وي او مونږ ته د ځارؤ د ذبح کولو ضرورت پیښ شي، نو آیا په هغه صورت کې مونږ په قینچې سره ذبح کولی شو؟

قَالَ: "مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ

نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم څیز سره وینه توې کړی شي او هغې باندې د الله نوم اخستلی شوی وي نو هغه

فَكُلْ لَيْسَ السِّنَّ

خوړلی شي یعنې هغه څاروی خوړل جائز دي چې کوم په یو داسې څیز سره ذبح کړی شوی وي چې په هغې وینه

وَالظُّفُرَ وَسَأُحَدِّثُكَ عَنْهُ:

تویه شي اګر که هغه وسپنه وي یا بل شی وي خو په غاښونو او نوکانو باندې ذبح کول جائز نه دي. او زه تاته د

أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ وَأَمَّا الظُّفُرُ

دواړو باره کې وایم چې د دې په ذریعه ذبح کولو ولي جائز نه دي، نو واوره! غاخ هډوکی دی او ترکوم ځای پورې

فَمُدَى الْحَبَشِ" وَأَصَبْنَا نَهْبَ إِبِلٍ وَغَنَمٍ

چې د نوک تعلق دی نو دا د حبشیانو چاړه ده. حضرت رافع رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې د دښمن څه اوښان او بزې په

فَنَدَّ	مِنْهَا	بَعِيرٌ	فَرَمَاهُ	رَجُلٌ	بِسَهْمٍ

غنيمت کې زمونږ لاس ته راغلې. هغې کې يو اوښ راوپاړېدلو او وتښتېدلو، خو مونږ يو کس هغه په تير ويشتلو

فَحَبَسَهُ	فَقَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:

او وې درولو يعنې هغه اوښ په غشو ولږېدلو او راغوزار شو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې ليدلو سره وفرمايل چې

إِنَّ	لِهَذِهِ	الْإِبِلِ	أَوَابِدَ	كَأَوَابِدِ	الْوَحْشِ

اوښانو کې ځينې اوښان د انسانانو نه داسې وپاريږي، لکه څنګه چې ځنګلي څاروي د انسانانو نه پاريږي.

فَإِذَا	غَلَبَكُمْ	مِنْهَا	شَيْءٌ	فَافْعَلُوا	بِهِ	هَكَذَا	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

لهذا که اوښانو کې يو اوښ ستاسو د قبضې نه وتښتې نو د هغې سره همدغه شان معامله کوئ.

توضيح: مدئ: د مدية جمع ده. چاړه ته وايي. مطلب دا چې مونږ ته به د څارۀ د ذبح کولو ضرورت پيښږي. تنګ حالت به وي. د جهاد سفر دی که چاړه ملاوه نه شوه نو آيا مونږ په "**القصب**" باندې څاروی ذبح کولی شو؟ قصب د بانس تراشلی شوي ته وايي. چې د چاړه پشان تېره وي. د وړې ټانټه او ګڼې پوستکی هم دغه شان تېره وي. لږ وخت کې هم داسې تېره راوځي. چې اردو کې ورته کهپچ او کهپچی وايي.

فعظم: يعنې غاښ خو هډوکی دی او په هډوکې ذبح کول صحيح نه ده. لهذا په غاښ باندې ذبح کول صحيح نه ده. (مرقات ۶۷۷/۷)

فمدی الحبش: يعنې نوکان خو د حبشيانو چاړې دي. هغوی دا استعمالوي. لهذا مسلمانانو له د کافرانو دا طريقه خپلول پکار نه ده. هر تيری شی چې څاروی پرې اسانۍ سره ذبح شي نو ذبح جائز ده. اوس که غاښ او نوک که د بدن سره لږ بدلی وي نو په اتفاق سره هغې باندې ذبح ناجائزه ده، خو که جدا جدا ولاړ وي نو هغې باندې ذبح کولو کې د فقهاؤ اختلاف دی. (مرقات ۶۷۷/۷)

د فقهاؤ اختلاف: د جمهور فقهاؤ په نزد غاښ او نوک باندې ذبح مطلقاً ناجائزه ده. هغه که د بدن نه جدا وي يا که پيوسته وي. د احنافو ائمؤ په نزد که غاښ او نوک د بدن سره پيوسته وي نو ذبح ناجائزه ده خو که جدا وي او په استعمالول سره وينه تويه کړی شي نو ذبح د کراهت سره جائزه ده. جمهورو د ذکر شوي حديث نه استدلال کړی دی. د احنافو ائمؤ راتلونکي فصل ثانی کې د عدي بن حاتم د حديث ۱۸ نه استدلال کړی دی. چې الفاظ يې دا دی. "**امر رالدم بم شئت**" يعنې په کوم

---

[1] رقم الحديث ۴۰۷۱ اخرجه البخاري في صحيحه ۶۳۸/۹ رقم الحديث ۵۵۰۹ ومسلم في ۱۵۵۷/۳ رقم الحديث (۲۰-۱۹۶۸)

څيز چې وغواړئ وينه تويه کړئ. دا حديث عام دی. غاښونه او نوکان هم شامل دي. اصل مقصد وينه تويول دي. که د مقلوع غاښ او نوک باندې دباؤ نه راځي او وينه تويه شي نو ذبيحه حلاله پکار ده. البته فعل کې کراهت دی. راتلونکی حديث ۹ نه هم د احنافو دليل دی. ځکه غاښ او تېره هډوکی يو څيز دی. جمهورو چې د زير بحث حديث نه کوم استدلال کړی دی، نو احناف دا حديث په غير مقلوع غاښ او په غير مقطوع نوک باندې حمل کوي، ځکه د حبش خلک به څاروی همدغه شان ذبح کولو. يا دا جواب دی چې د بحث لاندې حديث کې ممانعت د کراهت په درجه کې دی. هغه د احنافو په نزد هم مکروه دی، خو ذبيحه حلاله ده. د احنافو استدلال کمزوری دی.

اوابد: پاريدونکي او ټوپ وهونکي ځناور ته ويل کيږي. د دې مفرد آبدة دی. يو شاعر د اَس تعريف کوي او وايي (مرقات ۶۷۸/۷).

وقد اغتدی والطير في وكناتها

بمنجرد قيد الاوابد هيكل

دې صورت کې به ذبح اختياري نه وي بلکې ذبح اضطراري به شي چې د بسم الله سره زخم لګول کافي دي.

په تيره کاڼي باندې ذبح کول جائز ده

﴿۹﴾ وَعَن كعبِ بنِ مَالك أَنه كانَ لَهُ غَنَمٌ تُرْعَى
او د حضرت کعب ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د بزو يو رمه وه چې د مدينې په
بِسَلْعٍ فَأَبْصَرَتْ جَارِيَةٌ لَنَا بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا مَوْتًا
يو غر سلع باندې يې څرولي. يو ورځ زمونږ يوې وينځې يو بزه وليدله چې هغه مړه کېدونکې ده، نو هغې د يو
فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا بِهِ فَسَأَلَ
کاڼي ټوټه ماته کړه او د هغه ټوټه په ذريعه يې هغه بزه ماته کړه. بيا کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه
النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د دې مسئلې باره کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وپوښتل چې دې صورت کې د بزې غوښه خوړل حلاله دا يا نا؟
فَأَمره بأكلها. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغې ته د هغه بزې غوښه د خوړلو حکم ورکړو.

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۷۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۸۲/۴ رقم الحديث ۲۳۴۰ وابن ماجه في ۱۰۶۲/۲ رقم الحديث ۳۱۸۲

که مړی هم کوئ نو په طریقه یې وکړئ

﴿۱۰﴾ وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى

او حضرت شداد بن اوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل الله په هر شیز باندې

كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ

احسان کول لازم کړی دی یعنې د الله له اړخه هر کار په بنایسته، بنه او نرمئ سره د کولو حکم کړی دی.

فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا

تر دې چې سزاً د چا وژل یا د څارۀ په ذبح کولو کې هم مهربانې او زړه خوږې او بنه او نرمه طریقه اختیارول

الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ

لازم کړې ده. لهذا چې په تاسو چې څوک د قصاص یا د حد په توګه باندې وژنئ نو هغه په نرمئ او بنې طریقې

فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَ وَلْيُحِدَّ

سره وژنئ چې هغې ته تکلیف نه وي لکه تېره توره استعمال کړئ او وژلو کې تندې کوئ او تاسو کې چې څوک

أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ

څاروي ذبح کوي نو بنې او نرمې طریقې سره یې ذبح کوئ. لهذا دا ضروري ده چې تاسو کې هیڅ یو کس چې

ذَبِيحَتَهُ. رَوَاهُ مُسلم[1]

څاروی ذبح کول غواړي نو خپله چاړه بنه تېره کړئ او ذبح کونکې څاروي ته ارام ورکړئ.

توضیح: مطلب دا دی چې میدان جهاد کې یا قصاص کې چې څوک وژل غواړي نو په هغه قتل کې هم د سلیقې نه کار واخلئ چې هغې ته تکلیف نه وي او مه یې شکل ورانوئ. د غه شان په ذبح کولو کې هم سلیقه اختیار کړئ چې د ضرورت نه زیات غوڅ نه کړئ. چاړه بنه تېره کړئ. اسلام د احسان او سلیقې حکم کوي، خو نن سبا خلک بې سلیقه راغلل چې د اسلام طریقې ته طریقه نه وایي.

څاروی ټړل او نښانه کول جائز نه دی

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دې

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۷۳ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۴۸/۳ رقم الحديث (۵۷-۱۹۵۵) وابوداود في السنن ۲۴۴/۳ رقم الحديث ۲۸۱۵

أَنْ تُصْبَرَ بهيمةٌ أَو غيرُها للْقَتْل (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

خبرې نه منع کوله چې هيڅ څاروی وغيره د وژلو لپاره وترئ او بيا يې ننبانه کړئ.

توضيح ان تصبر: دا د مجهول صيغه د صبر نه ده. د صبر دوه مطلبه دي. يو دا چې څاروي مو وترلو او خوراک او څښاک مو پرې بند کړو چې مړ شي. تر دې چې مرګ راشي. دې صورت کې للقتل کې لام اجليه وي. ای لا جل القتل يعنې د قتل لپاره يې وترلو. دويم مطلب دا دی چې څاروی يې د ننبانی لپاره وترلو او بيا يې په هغې باندې تيران شروع کړل، ګولی ويشتل يې پرې شروع کړلې چې مزه هم وکړي او ننبانه هم صحيح شي. دا سخت منع دي، ځکه دې کې زنده سرې ته ضرر رسي. چې په ذبح باندې يو اضافي سزه ده. دا مطلب په راتلونکو روايتونو کې زيات مناسب دی. چې د صبراً په ځای په کې د غرضاً لفظ راغلی دی. (مرقات ۶۸۱/۷)

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس باندې لعنت ويلی دی چې په

فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

زنده سرې باندې ننبانه ولګوي.

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هيڅ يو زنده سری ترلو او

الرُّوحُ غَرَضًا. رَوَاهُ مُسلم[3]

په هغې باندې ننبانه مه جوړوئ.

﴿۱۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوله باندې څپېړه وهونکی او خوله داغولو نه منع کړې ده

([1]) رقم الحديث ۴۰۷۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۴۲/۹ رقم الحديث ۵۵۱۴ وأحمد في المسند ۹۴/۲.

([2]) رقم الحديث ۴۰۷۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۴۳/۹ رقم الحديث ۵۵۱۵ ومسلم في ۱۵۴۹ رقم الحديث (۵۹-۱۹۵۸)

([3]) رقم الحديث ۴۰۷۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۴۹/۳ رقم الحديث (۵۸-۱۹۵۷) والنسائي في السنن ۲۳۸/۷ رقم الحديث ۴۴۴۳.

عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْه. رَوَاهُ مُسلم[1]

يعني د يو كس يا څاروي په خوله باندې څپېړه يا دره وهل وغيره مه وهئ او مه د چا خوله داغوئ.

څوک په خوله مه وهئ او مه پر مخ داغ ورکوئ

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ وَقَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته يو خر تېر شو چې داغلی شوی ؤو.

قَالَ: لَعَنَ اللهُ الَّذِي وَسَمَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې او ربدلو سره وفرمايل چې په هغه كس دې د الله لعنت وي چاچې دې له داغ ورکړی دی.

توضيح: لعن الله: يو هيڅ يو زنده سري مخ او خوله باندې داغ ورکول منع دي. هغه كه انسان وي يا څاروی وي، مخ او خوله نه بغير د بدن په نورو اندامونو باندې داغل جائز دي، ځكه د راتلونكې حديث نه ثابت دي. البته انسان د بدن د غلو په هېنې روايتونو كې مطلقاً ممانعت راغلی دی. د دې وجه دا ده چې نهمی شفقةً ده چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نورو اسبابو سره د علاج ترغيب ورکړی دی، ځكه په اور باندې داغولو سره ډېر تكليف وي، خو كه نور علاجونه ناكامه شي نو آخري مجبوری باندې داغول صحيح دي، لكه ويلی شوي دي "آخر الداء الكی" بلكې كه مجبوري وي نو مخ باندې هم داغ لګول جائز دي. د دې ممانعت دويم وجه دا كېدی شي چې د جاهليت خلكو داغول يو معجزاتي او قطعي يقيني علاج ګڼلو. ګويا كې داغ ورکول د هغوی د ادهام پرستئ يوه برخه وه، ځكه مسلمانان منع کړی شول. (مرقات ۶۸۲/۷)

د ضرورت او مصلحت په خاطر داغول جائز دي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: غَدَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه يو ورځ د سحر وخت كې عبد الله ابن طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت

لِيُحَنِّكَهُ فَوَافَيْتُهُ فِي

ته بوتلم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ كجوري وژوئ او د هغې په تالو كې يې كېږدي، نو هغه وخت كې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

يَدِهِ الْمِيسَمُ يَسِمُ

په داسې حال كې وليدلو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس مبارک كې د داغولو يوه آله وه چې د هغې په ذريعه

([1]) رقم الحديث ۴۰۷۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۷۳/۳ رقم الحديث (۱۶۰-۲۱۱۶) وأخرجه الترمذي في السنن ۱۸۳/۴ رقم الحديث ۱۴۰۷

([2]) رقم الحديث ۴۰۷۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۷۳/۳ رقم الحديث (۱۰۷-۲۱۱۷) وابوداود في السنن ۵۷/۳ رقم الحديث ۲۵۶۴

إِبِلَ الصَّدَقَة (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
يې د زكوة اوښان داغل.

توضيح: الميسم: داغ كولو والا آلې ته ميسم ويلى شوي ده. لكه سيخ وغيره وي. دا داغ لګول په بدن باندې نه ؤو، ځكه هيڅ تعارض نشته دى. د بدن نورې برخې مرادى دى. (مرقات ۶۸۲/۷)

ليحكمه: د تحنيک عمل دا دى چې سړى په خپله خوله كې كجورې وژوئ او لاړې يې كړي او بيا هغه نوې پيدا شوي ماشوم په تالو كې كښږدي او هغه پرې وركلک كړي چې د نيک كس مبارکې لاړې د ماشوم خوراک شي. (مرقات ۶۸۱/۷)

﴿۱۷﴾وَعَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ:
او حضرت هشام ابن يزيد د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كوي چې هغې وويل زه يو ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په
دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي
خدمت كې حاضر شوم، نو هغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ځارؤ په غوجل كې ؤو. ما وليدل چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ
مِرْبَدٍ فَرَأَيْتُهُ يَسِمُ شَاءَ حسبته
د بزو وغيره باندې اندامونو له داغ ورکول. هشام وايي چې زما ګمان دى چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان كړى ؤو
قَالَ: فِي آذانها (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه بزو وغيره غوږونو باندې داغونه لګول.

الفصل الثاني

هر هغه شى چې وينه تويوي ذبح پرې جائز ده

﴿۱۸﴾عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ
او د حضرت عدي ابن حاتم نه روايت دى چې هغې عرض وكړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ماته دا اوايه چې

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۷۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۶۶/۳ رقم الحديث ۱۵۰۲ ومسلم في ۱۶۷۴/۳ رقم الحديث (۱۰۹-۲۱۱۹)

(۲) رقم الحديث ۴۰۸۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۵۳/۹ رقم الحديث ۵۵۴۲ ومسلم في ۱۶۷۴/۳ رقم الحديث (۱۱۱-۲۱۱۹)

أَحَدُنَا أَصَابَ صَيْدًا وَلَيْسَ مَعَهُ سِكِّينٌ

كه مونږ کې يو کس د يو ځاروي ښکار ونيسي او هغه وخت د هغې سره چاړه نه وي نو آيا هغه يې د کانې

أَيَذْبَحُ بِالْمَرْوَةِ وَشِقَّةِ الْعَصَا؟ فَقَالَ:

په يو ټوټه يا د يو لرګي په ټوټې کې هغه ښکار ذبح کولی شي؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې

أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَ شِئْتَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

په کوم څيز دې خوښه وي بسم الله پرې او ايه او وينه تويه کړه.

توضيح المروة: د کانې سپينه ټوټه مراد ده. چې تېره وي.

شقة العصاء: د لرګي تراشل او ټوټکی مراد دی. چې تيره وي.

امُرر الدم: يعنې وينه تويه کړه چې په څيز دې خوښه وي. د حديث د دې عموم نه احنافو جدا شوی غابن او جدا شوی نوک د ذبح کولو د جواز باندې استدلال کړی دی. يعنې بسم الله او ايه او وينه تويه کړه. (مرقات ۶۸۴/۷)

د ذبح اضطراري حکم

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي الْعُشَرَاءِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت ابو العشراء د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې عرض وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آيا د

أَمَا تَكُونُ الذَّكَاةُ

شرعي ذبحې تعلق مرئ او سينې د سر په مينځنئ برخې سره دی. يعنې شرعي توګه کې ذبح صرف

إِلَّا فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ؟

هغې ته ويلی کېږي چې د ځاروي تالو او د سينې په مينځ کې د زخم سره وينه تويه شي. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ: لَوْ طَعَنْتَ فِي فَخِذِهَا لَأَجْزَأَ عَنْكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

وفرمايل که ته د ښکار پتون ته هم جراحت ورسوي نو ستا ليږه به کافي وي. امام ابو داؤد فرمايي

وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهَذِهِ ذَكَاةُ

چې دا يعنې حديث کې ذکر شوې ذبح اجازت ورکول د هغه ځاروي متعلق دی چې کوهي کې پرېوتی وي

---

[1] رقم الحديث ۴۰۸۱ أخرجه ابوداود في السنن ۲۴۹/۳ رقم الحديث ۲۸۲۴ والنسائي في ۱۹۴/۷ رقم الحديث ۴۳۰۴.

الْمُتَرْجِمِ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا فِي الضَّرُورَةِ[1]
يعنې دا د ذبح اضطراري د صورت حكم دى. او امام ترمذى فرمايي چې دا ضرورت د حالت حكم دى.

توضيح اماتكون: يعنې آيا ذبح صرف سينې او د مرئ په مينځ كې كېږي بل هيڅ ځاى كې نه وي؟ دې جمله كې استفهام دى. د دې په جواب كې ذبح اضطراري ته عموم ويلى دى چې اضطراري ذبح كې زخم چرته هم ولګول شي پوره شي. د مرئ سره خاص نه دى. البته اختياري ذبح مرئ كې وي. (مرقات ۶۸۵/۷)

﴿۲۰﴾وَعَنْ عدي بن حَاتِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او د عدب ابن حاتم نه روايت دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كومو څارؤ ته چې تاسو زدكړه كړي وي
مَا عَلَّمْتَ مِنْ كَلْبٍ أَوْ بَازٍ ثُمَّ أَرْسَلْتَهُ وَذَكَرْتَ
هغه كه سپى وي يا باز وي او تاسو هغوى كې يو ښكار پسې پرېښود لو او د پرېښود لو وخت كې مو د
اسْمَ اللهِ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكَ عَلَيْكَ. قُلْتُ:
الله نوم واخستلو نو تاسو هغه څاروى خورئ چې كوم تاسو له هغه سپى يا باز نه ولى دى. ۱۰ اعرض وكړو چې اګر
وَإِنْ قَتَلَ؟ قَالَ: إِذَا قَتَلَهُ وَلَمْ يَأْكُلْ
كه هغه ښكار وژلى وي؟ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل اګر كه هغه سپى يا باز ښكار وژلى وي او خپله يې دهغې
مِنْهُ شَيْئًا فَإِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَيْكَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]
نه هيڅ نه وي خوړلى، نو د دې مطلب د دې نه بغير بل هيڅ نشي كېدى چې هغې ښكار ستاسو لپاره نه ولى دى.
﴿۲۱﴾وَعَنْهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرْمِي الصَّيْدَ
او حضرت عدب بن حاتم فرمايي چې ما عرض وكړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! زه ښكار په غشو ولم او
فَأَجِدُ فِيهِ مِنَ الْغَدِ سَهْمِي
بيا بله ورځ (چې هغه ښكار كوم ځاى كې پروت وي او ماته ملاو شي نو) هغې كې خپل وموم (آيا زه هغه ښكار

([1]) رقم الحديث ۴۰۸۲ أخرجه ابوداود في السنن ۲۵۰/۳ رقم الحديث ۲۸۲۵ والترمذي في ۶۲/۴ رقم الحديث ۱۴۸۱

([2]) رقم الحديث ۴۰۸۳ أخرجه ابوداود في السنن ۲۷۱/۳ رقم الحديث ۲۸۵۱.

قَالَ:	إِذَا	عَلِمْتَ	أَنَّ	سَهْمَكَ
خو ولی شم؟) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دې صورت کې که ته پوهه شي چې دا ښکار هم ستا غشي وژلی				
قَتَلَهُ	وَلَمْ	تَرَ		فِيهِ
دی او هغه ښکار کې د بل چا د تير نښان ونه مومې نو هغه خوړلی شي او که په ښکار کې د کوم درنده غاښ				
أَثَرَ	سَبُعٍ	فَكُلْ.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُدَ[1]
يا د پنجې وغيره نښان ومومې يا د بل غشي علامت ومومې نو په هغه صورت کې يې مه خوره.				

د کوم سپي چې ذبيحه حرامه ده د هغه سپي خکار هم حرام دی

﴿۲۲﴾ وَعَن جَابِرٍ قَالَ: نُهِينَا عَنْ صَيْدِ كَلْبِ الْمَجُوسِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږه د مجوسيانو د سپې و نېولی شوې ښکار د خوړلو نه منع کړی شوي يو.

توضيح: که څاروی ژوندی وي او مسلمانان هغه ذبح کړي نو حلال به شي اګر که د مجوسي سپې نېولی وي خو که مړ شو نو حرام دی.

﴿۲۳﴾ وَعَن أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا

او حضرت ابو ثعلبه خشنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما عرض وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! مونږ اکثر د

أَهْلُ	سفر	تمر	الْيَهُود	وَالنَّصَارَى	وَالْمَجُوسِ

سفر کونکو خلکو نه يو. زمونږ لاره په يهوديانو، عيسايانو او د مجوسيانو په اباديانو باندې هم وي. هغه وخت د هغوی د

فَلَا	نَجِدُ	غَيْرَ	آنِيَتِهِمْ

لوښو نه بغير نور لوښي مونږ سره نه وي، نو آيا مونږ د هغوی په لوښو کې خوراک ځښاک کولی شو؟

قَالَ: فَإِنْ	لَمْ	تَجِدُوا	غَيْرَهَا	فَاغْسِلُوهَا	بِالْمَاءِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل که د هغوی د لوښو نه بغير تاسو ته نور لوښي نه ملاويږي نو د هغوی لوښي وينځئ

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۸۴ أخرجه الترمذي في السنن ۵۵/۴ رقم الحديث ۱۴۶۸، والنسائي في ۱۹۳/۷ رقم الحديث ۴۳۰۰

(۲) رقم الحديث ۴۰۸۵ أخرجه الترمذي في السنن ۲۴۰/۴ رقم الحديث ۱۴۶۶ وابن ماجه في ۱۰۷۰/۲ رقم الحديث ۳۲۰۹

ثُمَّ كلوا فِيهَا وَاشْرَبُوا . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

او اوچ يې كړئ او بيا په كې خورئ او څښئ.

توضيح: د دې باب حديث نمبر ۳ كې د زير بحث حديث او د اهل كتابو د لوښو تفصيل تير شوى دى.

د غير مسلمو د لاس خوراک حلال دى

﴿۲۴﴾وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت قبيصه بن هلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه روايت كوي چې هغې وويل چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د

عَنْ طَعَامِ النَّصَارَى وَفِي رِوَايَةٍ:

عيسايانو د خوراکونو باره كې وپوښتل چې مونږه يې وخورو يا نه؟ او يو روايت كې داسې دي چې د دې باره كې

سَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ مِنَ الطَّعَامِ طَعَامًا

يو كس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه مسئله وپوښتله نو هغې عرض وكړو خوراكونو كې يو خوراک يعني د يهودیانو او د عيسايانو

أَتَحَرَّجُ مِنْهُ فَقَالَ: لَا يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شَيْءٌ

خوراک داسې دى چې زه تيرينه پرهيز كوم. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ستا په زړه كې يو څيز

ضَارَعَتْ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ . وَأَبُو دَاوُد[2]

يعني شک او شبه پيدا كېدل پكار نه دي. تا د دې عمل په ذريعې د عيسائيت مشابهت اختيار كړى دى.

توضيح: اتحرج: زه تنكسيا محسوسومه او بيا ترېنه ځان ساتم. (مرقات ۶۸۸/۷)

لايتخلجن: دا د خلجانه دى. يعني ستا په زړه كې هيڅ خلجان او شک تيريدل پكار ندي.

ضارعت: دا د مضارعت مشابهت په معنى كې دى يعني دې طريقې سره تا د نصارى مشابهت اختيار كړو، ځكه هغوى ځان باندې ډېره تنګې كوي. او لږ شک راتلو په وجه خپل ځان باندې حلال خوراک حرام كړي. مسلمانانو له پكار ده چې تركومې پورې د حرمت يقين نه وي صرف د شک په بنياد هيڅ يو شى مه حراموئ. پوښتنه كونكى دا چې عدي بن حاتم ؤو چې مخكې عيسائى ؤو نو ځكه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نصارى ذكر كړى دى. (مرقات ۶۸۸/۷)

([1]) رقم الحديث ۴۰۸۶ أخرجه الترمذي في السنن ۵۳/۴ رقم الحديث ۱۴۶۴ وأحمد في المسند ۱۹۳/۴.

([2]) رقم الحديث ۴۰۸۷ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۷/۴ رقم الحديث ۳۷۸۴ والترمذي في ۱۱۳/۴ رقم الحديث ۱۵۶۵

د مجثمة خوراک منع دی

﴿۲۵﴾وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْمُجَثَّمَةِ

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مجثمه د خوراک نه منع فرمايلې ده او مجثمه هغه

وهِيَ الَّتِي تُصْبَرُ بِالنَّبْلِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ(۱)

ثاروي ته وايي چې کوم وترلی شي او د نښانې پشان ودرولی شي او بيا په تير باندې ډويشتل شي.

توضيح: دا چې دلته ذبح اختياري کېدی شي. د دې په ځای ذبح اضطراري اختيارول جائز نه ده. ثاروی مردار دی او دا عمل ظلم دی. مجثمه هغه ژوندی ثاروی وي چې ترلی شوی په نښه کړی شي. د دې نه مخکې مصبرة او د غرضاً کوم الفاظ تير شوې دي دا ټول د يو مفهوم عمل دی.

هغه ثاروي چې خوراک يې حرام دی

﴿۲۶﴾ وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ كُلِّ

او حضرت عرباض ابن ساريه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خيبر په ورځ د دې ثارو د خوړلو نه منع

ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَعَنِ الْمُجَثَّمَةِ

وکړه پنجې والا ماتونکی درنده، پنجې والا مارغه، د کورنۍ خرونو غوښه، مجثمه، او خليسه، او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په

وَعَنِ الْخَلِيسَةِ وَأَنْ تُوطَأَ الْحَبَالَى حَتَّى يَضَعْنَ مَا فِي

جهاد کې د نهولی شوؤ دهغه وينځو سره د جماع کولو نه هم منع کړې ده چې حامله وي چې تر څو پورې هغه ما

بُطُونِهِنَّ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى:

ونه زېږوی کوم چې د هغې په خيټه کې دی. حضرت محمد ابن يحيى (چې د امام ترمذی شيخ او استاذ دی او د حديث

سُئِلَ أَبُو عَاصِمٍ عَنِ الْمُجَثَّمَةِ

په راويانو کې يو راوي دی وايي چې زما شيخ او استاذ حضرت ابو عاصم رحمه الله نه د مجثمه باره کې وپوښتلی

فَقَالَ: أَنْ يُنْصَبَ الطَّيْرُ أَوِ الشَّيْءُ فَيُرْمَى

شوه نو هغې وفرمايل چې چې مرغی وغيره وترلی شي او بيا په غشي ډويشتلی شي. د غه شان د

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۸۸ أخرجه الترمذي في السنن ۵۹/۴ رقم الحديث ۱۴۷۳

وَسُئِلَ	عَنِ	الْخَلِيسَةِ	فَقَالَ:	الذِّئْبُ
حضرت ابو عاصم رحمه الله نه د حليه معنى باره كې وپوښتلى شو نو هغې وويل چې د دې مطلب دا دى چې				
أَوِ	السَّبُعُ	يُدْرِكُهُ	الرَّجُلُ	فَيَأْخُذُ مِنْهُ
لېوه يا بل كوم درنده څاروى يو څاروى نېولى وي او بيا يو كس د هغه درنده هغه څاروي قبضه كړي				
فَيَمُوتُ فِي يَدِهِ قَبْلَ أَنْ يذكيها. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]				
او هغه د ذبح كولو نه مخكې د هغه كس په لاس كې مړ شي.				

توضيح: **ذى ناب**: هغه درنده ته ذى ناب وايي چې د هغې نوكان وي د رباعي غاښونو سره يې بنې او چپ اړخ ته تېره غاښونه وي او په هغې نور څاروي څېړئ، لكه زمرى، لېوه، پړاګ، ايږه، بيزو، خنزير، لومبړه، او بجو وغيره دي.

من السباع: د دې مطلب دا دى چې د هغه د دې په ذريعه څېرل كوي او نور څاروي پرې څېروي. د من السباع دا لفظ چې څنګه د درنده ګانو سره لږي د غه شان د ذى مخلب مارغانو سره هم لږي.

ذى مخلب: ميم باندې كسره ده. خا ساكن دى. لام باندې فتحه ده. پنجې تر ښه مراد دي. يعنې كوم مارغان چې په پنجو باندې څېرول كوي لكه باز، شكره، تېوس، چرغ، او خر په پنجو باندې نور مارغان څېروي. يعنې ذى ناب او ذى مخلب هغه صورت كې حرام دي چې هغه د ناب او د مخلب ښكار كوي. كه ښكار نه كوي نو حرام نه دي لكه اوښ ذى ناب دى خو د ناب ښكار نه كوي.

الحمر الاهلية: د دې نه كورنې خره مراد دي. لهذا ځنګلي خره د دې نه اوتل ځكه هغه حلال دي چې ګوره خر (زيږه) ورته وايي. چې د جمعيت د جنډې په رنګ كې وي. افريقه د دې نه ډكه ده. (مرقات ۶۸۹/۷)

عن الخليسه: يعنې زمرى يا لېوه مثلاً د بزى ښكار وكړي او يو انسان تر ښه هغه را خلاصه كړه خو هغه بزه مړه شوې ده. هغې ته خليه وايي. دا چې دا مرداره شوې ده نو ځكه مسلمانانو له د دې خوړل حرام دي. (مرقات ۶۸۹/۷)

وان توطأ الحبالى: يعنې كه د چا به لاس كې وينځه راغله خو حامله ده، نو د حمل زېږېدلو پورې د هغې سره جماع جائزه نه ده. د دې نه منكوحه حامله ښځه مراد نه ده. كه وينځه حامله نه وي نو تر د يو حيض پورې انتظار ضروري دى. دا په جهاد كې په لاس راغلې والا د وينځې خبره ده. (مرقات ۶۸۹/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۸۹ اخرجه الترمذي في ۵۹/۴ رقم الحديث ۱۴۷۴ وأحمد في المسند ۱۲۷/۴.

د شریطه خوراک منع دی

﴿۲۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ شَرِيطَةِ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راویان دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شریه

الشَّيْطَانِ. زَادَ ابْنُ عِيسَى: هِيَ الذَّبِيحَةُ يُقْطَعُ

شیطان نه منع کړې ده. ابن عیسی یو راوي دا نور بیان کړو چې شریطه شیطان دا دی چې د څاروي مرئ اوپاس

مِنْهَا الْجِلْدُ وَلَا تُفْرَى الْأَوْدَاجُ ثُمَّ تُتْرَكُ حَتَّى تَمُوتَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

څرمن غوڅه کړی شي او د هغې تول رګونه غوڅ نه کړی شي او بیا هغه پریښودلی شي تر دې چې هغه مړ شي.

توضیح: **شریطة الشیطان**: دا د جاهلیت په ناجائزه ذبائحو کې یو وه. هغه داسې چې په مرئ کې به یې ورله لږ رګ غوڅ کړو او ننبان به یې پرې جوړ کړو او پرې به یې ښودله. تول رګونه به یې ورله نه غوڅول، هغه به په ترپکو ترپکو مړ شو. دا د شیطان ننبان دی چې ناجائز دی، ځکه دا ډېر زیات ظلم دی. او د رګونه نه دم مسفوح نه ؤځي، نو حرام مردار دی.

ولا تفری الاوداج: مرئ کې څلور رګونه وي. چې هغې سره د د ذبح شرعي تعلق دی. د یو نوم حلقوم دی. دې سره د سا تعلق دی. درمختار کې دې ته راجح او صحیح ویل شوی دی. د بل نوم المری دی. چې د هغې سره د خوراک او څښاک تعلق دی، نورو دوؤ ته دجان وایي. چې د مرئ مخکنئ رخه کې وي. حلقوم او د مرئ په مینځ کې وي. دې ته د ساه رګ هم وایي. دې څلور واړو کې کوم درې غوڅ شي نو شرعي ذبح به پوره شي. حدیث کې د اوداج لفظ څلور رګونو لپاره ویل کېږي. که دوه رګونو غوڅ شي او باقي دوه وي نو ذبح نه کېږي.

ولا تفری: د مجهول صیغه ده. **الفری** د غوڅولو معنی کې دی. هغه د ژوند و ثارؤ څرمن د غوڅولو او ویستلو لپاره ویل کېږي.

د خیټې د بچي د ذبیحې حکم

﴿۲۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ذَكَاةُ الْجَنِينِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې د مور ذبح کول، د هغې د خیټې بچي هم

([1]) رقم الحديث ۴۰۹۰ أخرجه ابوداود في السنن ۲۵۱/۳ رقم الحديث ۲۸۲۶ وأحمد في المسند ۲۸۹/۱

ذَكَاةُ أُمِّهِ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد والدارمي [۱] وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيّ عَن أَبِي سعيد [۲]

ذبح کول هم دي. (ابو داؤد، دارمي) ترمذی دا روایت دی حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

توضيح: ذكاة الجنين ذكاة امه: يعنې د مور ذبح د هغې د خټې د بچې ذبح ده. تفصيل داسې دی چې که چرې حامله څاروی ذبح کړی شوی وي او د ذبحې نه وروسته د هغې د خټې نه بچی راؤتلو نو د هغې دوه صورتونه دي. يا به هغه بچی ژوندی وي يا به مړ شوی وي. که ژوندی وي نو اتفاقاً د هغې ذبح کول ضروري دي. ذبح کولو نه بغير به حلال نه وي. که بچی مړ شوی وي نو دې کې د فقهاؤ اختلاف دی. (مرقات ۶۹/۷۱)

د فقهاؤ اختلاف: جمهور او د صاحبينو په نزد د ذبح کولو نه بغير هغه بچی حلال او پاک دی. د مور ذبح کېدل د هغې بچی لپاره کافي دي، خو په دې شرط چې نام الخلقت وي او د هغې په بدن ويښتان راغلې وي. امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي چې داسی بچی مردار دی او د هغې خوړل حرام دي.

دلائل: ذکر شوی حديث د جمهورو دليل دی. ذكاة امه مرفوع ګڼې. چې هغوی ترې استدلال کوي. يعنې د جنين(بچي) ذبح همدغه ده چې د هغې مور ذبح شي. د جمهورو دويم دليل قياس دی. هغوی دا قياس کوي چې ګوره سا اخستلو کې د خټې بچی د مور تابع وي. اخستلو او خرڅولو کې د مور تابع دی، خوراک څښاک کې او ژوند او مرګ کې کې دا بچی د مور تابع دی. لهذا ذبح کې هم دا بچی د مور تابع پکار دی، ځکه دا بچی د مور جزء متصل دی. د جدا ذبح کولو ضرورت نشته دی. امام ابو حنيفه رحمه الله خپل استدلال کې فرمايي چې که دا بچی د مور په ذبح او د هغې د مرګ نه مخکې مړ شوی وي نو دا ميتة د مردار په حکم کې دی. او که د مور د مرګ نه وروسته سا ښتلو سره مړ شوی وي نو دا منخنقة د سا وتلو والا څاروي په حکم کې دی. او دا دواړه حرام دي. لهذا جنين حرام دی.

جواب: د زير حديث مطلب د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد هغه نه دی کوم چې جمهورو ګڼلی دی بلکې دامام صاحب په نزد دا حديث په تشبيه باندې محمول دی يعنې **"ذكاة الجنين كذكاة امه"** د دې مطلب واضح دی چې څنګه يې مور ذبح کړی شوې ده دغه شان د هغې بچی هم ذبح کړه. د ذبح کولو طريقه يو شان ده. دې بچی باندې رحم کول سره د ذبح کولو نه بغير مه پرېږدئ. دغه شان دا

([۱]) رقم الحديث ۴۰۹۱ أخرجه ابوداود في السنن ۲۵۱/۳ رقم الحديث ۲۸۲۷،والدرامي في ۱۱۵/۲ رقم الحديث ۱۹۷۹.

([۲]) رقم الحديث ۴۰۹۲ أخرجه الترمذي في السنن ۶۰/۴ رقم الحديث ۱۴۷۶.

خيال مه كوئ چې دومره وړوكى بچى د ذبح كولو لپاره حلال نه دى، لكه څنګه چې ځينې دا حلال نه ګڼي. د دې مطلب تائيد په حديث كې د ذكاة امه د منصوب لوستلو نه هم كېږي. چې منصوب نزع الخافض دى.

اى كذاكاة امه، او د دې مطلب تائيد د راتلونكي حديث نمبر ۲۹ نه هم كېږي. چې كوم كې صحابه كرامو رضي الله عنهم د جنين د غورځولو او د نه خوړولو پوښتنه كړې ده، ځكه دا حديث د جمهورو د مطلب نه دى. باقې د بچى د ذبحې معامله اخستلو او خرڅولو وغيره باندې قياس كول جائز نه دي، ځكه ذبح كې وينه تويل كېږي. دا په اخستلو او خرڅولو باندې قياس كول قياس مع الفارق دى. دغه شان دا معامله د مباح او محرم ده. داسې صورت كې ترجيح محرم ته وركول كېږي.

﴿۲۹﴾ وَعَن أَبِي سعيدٍ الخدريّ قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې مونږ عرض وكړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! كله چې

نَنْحَرُ النَّاقَةَ ونذبح الْبَقَرَة وَالشَّاة فنجد فِي بَطنهَا جَنِينا

مونږ اوښ ذبح كوؤ، يا غوا او بزه ذبح كوؤ نو اكثر وختونو كې مونږ د هغه ذبيحه په خيټه كې مړ بچى اوينو.

أَنُلْقِيهِ أَمْ نَأْكُلُهُ؟ قَالَ: كُلُوهُ

آيا مونږ هغه غوزار كړو او كه وې خورو؟ نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې كه ستاسو خوښه وي نو

إِنْ شِئْتُمْ فَإِنَّ ذَكَاتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْن مَاجَه[1]

هغه خورئ ځكه د هغې د مور ذبح كېدل د هغې بچى ذبح هم ده.

بې وجې څاروى يا مارغه وژل جائز نه دى

﴿۳۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل

مَنْ قَتَلَ عُصْفُورًا فَمَا فَوْقَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا سَأَلَهُ اللهُ

كه يو يوه مرغى يا د هغې نه وړوكى يا غټ بله كومه مرغى په ناحقه مړه كړي نو الله به پوښتنه كوي

عَنْ قَتْلِهِ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا حَقُّهَا؟

د هغه كس نه د ناحق وژلو باره كې. عرض وكړى شو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! او د هغه مرغى وغيره حق څه دى؟

([1]) رقم الحديث ۴۰۹۳ اخرجه ابوداود في السنن ۲۵۲/۳ رقم الحديث ۲۸۲۷ وابن ماجه في ۱۰۶۷/۲ رقم الحديث ۳۱۹۹.

قَالَ: أَنْ	يَذْبَحَهَا	فَيَأْكُلَهَا	وَلَا	يَقْطَعَ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې هغه ذبح کړی شي. د نورو څارۀ پشان دې نه وژلی کېږي. او بيا هغه وخوړلی شي.				
رَأْسَهَا فَيَرْمِيَ بِهَا . رَوَاهُ أَحْمد وَالنَّسَائِيّ والدرامي[1]				
د نه چې د هغې نه سر غوڅ کړئ او بيا يې غوزاره کړئ.				

توضيح: د بو څاروي ژوند اخستل لويه خبره او لويه حادثه ده. د جائز مقصدونو نه بغير هغې باندې اقدام کول پکار نه دی. جائز مقصد دا دی چې هغه ذبح کړی شي او وخوړلی شي. دا نه، چې د لوبو تفوقو لپاره استعمال کړی شي او استعمال نه کړی شي. د ضرورت لپاره وژل هم د جائز مقصدونو کې شامل دی. دې حديث کې د عصفور اړخ ته يو ځل د مؤنث اړخ ضمير راجع شوی دی او په دويم ځل د مذکر اړخ ته ضمير راجع شوی دی. علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې د جنس په اعتبار سره مؤنث ته ضمير راجع شوی دی. او د لفظ په اعتبار سره مذکر ته ضمير راجع شوی دی.

يا دې کې د "زيدٌ هاهو" قاعده ده چې د کلمة په اعتبار سره مؤنث دی او د لفظ په اعتبار سره مذکر دی. د "فما فوقها" د تحقير لپاره هم کېدی شي چې مرغۍ وي يا د مرغۍ نه وړوکی څاروی وي او د غټ اړخ ته هم اشاره کېدی شي چې مرغۍ وي يا د مرغۍ نه غټه وي.

د ژوندي څاروی نه غوڅه کړی شوې غوښه مرداره ده

﴿۳۱﴾عَن أَبِي وَاقِد اللَّيْثِيّ قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ				
او حضرت ابوواقد ليثي فرمايي چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې نه هجرت وکړو او مدنيې ته راغلو نو				
وَهُمْ	يَجُبُّونَ	أَسْنِمَةَ	الْإِبِلِ	وَيَقْطَعُونَ أَلْيَاتِ الْغَنَمِ
هغه وخت به مدينه کې خلکو داسې کول چې د اوښانو کوفونه او کوناتې به يې غوڅول. او بيا به يې هغه خوړلو،				
فَقَالَ: مَا	يُقْطَعُ	مِنَ	الْبَهِيمَةِ	وَهِيَ حَيَّةٌ
نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم يو څيز د داسې څاروي نه غوڅ کړی شي چې ژوندی وي، نو هغه				
فَهِيَ مَيْتَةٌ لَا تُؤْكَلُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[2]				
غوڅ کړی شوی څيز مردار دی، هغه مه خورئ.				

([1]) رقم الحديث ۴۰۹۴ أخرجه النسائي في السنن ۲۳۹/۷ رقم الحديث ۴۴۴۵ والدارمي في ۴/۲ رقم الحديث ۱۹۷۸.

([2]) رقم الحديث ۴۰۹۵ أخرجه ابوداود في السنن ۲۷۷/۳ رقم الحديث ۲۸۵۸ والترمذي في ۶۲/۴ رقم الحديث ۱۴۸۰.

توضيح: يجبون: چې يجب د غوڅولو په معنى کې دى اسنمة د سنام جمع ده. اوښ او غوايا وغيره کوهان ته وايي. (مرقات ۶۹/۷۱)

الیات: د الية جمع ده. د ګډې لکئ، کوناټي او لم ته وايي. د جاهليت زمانه کې چې به کله د عربو غوښو ته ضرورت ؤو، نو د ټول څاروي په ځاى به يې د ژوندې او کوف او ژوندې ګډې کوناټي غوڅول. او غوښه به يې استعمالوله. اسلام د دې ظالمانه کار نه منع وکړه او دغه شان جدا شوې غوښه يې حرام کړه، ځکه دې کې دم مسفوح (وينه بهيدونکي) شامله ده. (مرقات ۶۹/۷۱)

الفصل الثالث

په هرې ټيرې آلې باندې ذبح جائز ده

﴿۳۲﴾ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ أَنَّهُ كَانَ يَرْعَى لِقْحَةً بِشِعْبٍ

حضرت عطا ابن يسار قبيله بنى حارث د يو کس نه روايت کوي چې هغې يو ورځ اوښه د احد د غر

مِنْ شِعَابِ أُحُدٍ فَرَأَى بِهَا الْمَوْتَ

په يوه دره څراوله چې د هغې اوښې د مرګ آثار يې موندل يعنې هغې وليدل چې اوښه په څه وجه مړه کېږي.

فَلَمْ يَجِدْ مَا يَنْحَرُهَا بِهِ

هغه وخت هغې ته هيڅ داسې څيز ملاؤ نه شو چې د هغې په ذريعه يې اوښ ذبح کړى وى. آخر دا چې هغې

فَأَخَذَ وَتِدًا فَوَجَأَ بِهِ فِي لَبَّتِهَا حَتَّى

يو ميخ را اوچت کړو او د هغې څوکه يې د اوښې په سينه کې او مټه له او وينه يې ترېنه تويه کړه. بيا هغې

أَهْرَاقَ دَمَهَا ثُمَّ أَخْبَرَ

دا واقعه نبي عليه السلام ته بيان کړه او د هغې د غوښې باره کې يې ترېنه وپوښتل چې دې صورت کې د هغې خوړل څنګه دي؟

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَمَالِكٌ وَفِي رِوَايَتِهِ:

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د هغې د غوښې خوړلو اجازت ورکړو. او يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې آخر هغې

قَالَ: فَذَكَاهَا بِشِظَاظٍ[1]

يو تېره لرګى باندې ذبح کړو.

([1]) رقم الحديث ۴۰۹۶ أخرجه ابوداود في السنن ۲۴۹/۳ رقم الحديث ۲۸۲۳ ومالک في المؤطا ۴۸۹/۲ رقم الحديث ۳ .

توضيح: بلاربي اوښې ته "**لقحة**" وايي. (مرقات ۶۹/۷۵)

وتداً: وتد ميخ ته وايي. دلته غټ او د څوکې والا ميخ مراد دی. چې د تير په توګه استعماليدلی شي. چې نحر پرې ممکن وي.

لبتها: مړئ او سينې ته وايي. (مرقات ۶۹/۷۶)

شظاظ: هغه لرګې ته شظاظ وايي چې دواړو ارخونه يې د څوکې والا وي. (مرقات ۶۹/۷۶)

د درياب د څارۀ حکم

﴿۳۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: مَا من دَابَّة

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د اوبو هيڅ يو څاروی داسې نشته

إِلَّا وَقَدْ ذَكَّاهَا اللهُ لِبَنِي آدَمَ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيّ[1]

دی چې الله د بنی آدم لپاره ذبح کړی نه وي.

توضيح: يعنې درياب کې څومره څاروي دي الله هغه ذبح کړي دي او هغه د انسان لپاره حلال دي. د دې دريابې څارۀ نه مراد ماهيان دي، ځکه هر قِسمه ماهي د ذبحې نه بغير حلال دی. د ماهي نه بغير سمندري څارۀ باره کې د فقهاؤ اختلاف دی. جمهور يې حلال ګڼي نو د هغوی په نزد دا حديث د ټول دريابې ماهيانو لپاره شامل دی، خو احناف صرف ماهيانو ته حلال وايي، نو د هغوی په نزد دې حديث کې صرف ماهي شامل دی. تفصيل سره اختلاف جلد اول ص ۶۳۰ باندې ليکلی شوی دی. (مرقات ۶۹/۷۶)



---

(1) رقم الحديث ۴۰۹۷ أخرجه الدارقطني في السنن ۲۶۷/۴ رقم الحديث ۴ في كتاب الصيد والذبائح .

باب ذکر الکلب

د سپي متعلق د احکاماتو بیان

دي باب کې به هغه حدیثونه بیانېږي. چې د سپي متعلق احکامات به ترینه معلومېږي چې کوم قسمه سپی ساتل جائز او کوم قسمه سپی ناجائز دی او کوم قسم سپی وژل جائز دی. دورِ جاهلیت کې د خلکو د سپو سره ډیره مینه وه، لکه څنګه چې نن سبا ده. د دې مینې د ختمولو په غرض د اسلام په ابتداء کې په لویه کچه د سپو د وژلو عملیات شروع شول. چې د خلکو زړونو کې کرکه پیدا شوه نو یا د یَو قسمه سپو د ساتلو اجازت ملاؤ شو. او شوقي سپو د ساتلو ممانعت وکړی شو. د ټولو حدیثونو نه معلومېږي چې د دري قسمه سپو ساتنې اجازت دی.۱: څارؤ د حفاظت لپاره ۲: ښکار لپاره۳: پټې د حفاظت لپاره. فقهاؤ دي سره د کور د چوکیدارئ سپې ذکر کړی دی.

الفصل الاول

بې له ضرورته سپي ساتل د نقصان سبب دی

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کوم کس چې د څارؤ د ساتلو والا سپي اود

أَوْ ضَارٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ښکاری سپي نه بغیر بل سپي ساتي، نو د هغې د عملونو د ثواب نه هره ورځ دوه قیراطه برابر کمی کوي.

توضیح: **اقتنی:** د ساتلو په معنی کې دی. **کلب ماشیة:** د بزو په رمه کې یو سپی وي چې د بزو د حفاظت لپاره ساتلی کېږي. دې ته کلب ماشیة وایي. (مرقات ۶۹/۷۷ ،الکاشف ۱۱۱/۸)

او کلب ضار: دا هغه ښکاري سپي ته وایي چې د ښکار دومره شوق لري ګویاکې ښکار د هغې طبیعت ثانیه جوړ شوی وي. ځینې روایتونو کې دا لفظ ضاریاً راغلی دی. ځینو کې ضاري راغلی دی. ځینو کې ضار راغلی دی. د ټولو نه مراد ښکاري سپی دی. علامه طیبي فرمایي چې د ضار نه اول رجل موصوف هم مخذوف منل کېږي. یعني کلب رجل صائد د ښکار کولو سړي والا سپی. (مرقات۶۹/۷۷،الکاشف : ۱۱۱/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۹۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۰۷۹ رقم الحديث ۵۴۰۰ ومسلم في ۱۲۰۱/۳ رقم الحديث ۱۵۷۴/۵۰)

قيراطان: دا تثنيه ده. د دې مفرد قيراط دی. قيراط د يو وزن نوم دی. چې د نيم دانګ يا د ځينو په قول دينار د ۶/۴ يا د ځينو په قول د دينار د لسمې برخې د نيمې برابر وي. د ځينو په قول يو قيراط د جوارو د پنځه دانو برابر دی. قيراط د کرکې په توګه د وړو څيزونو لپاره هم ويل کېږي. او د تعظيم لپارغټو څيزونو لپاره هم ويل کېږي. شوقيه سپې ساتلو باندې ځکه ثواب کمېږي چې د رحمت فرښتې هغه کور ته نه راځي، نو ثواب متاثره کېږي. دويم دا چې سپی خلکو ته ضرر ورکوي، خوړل کوي، غاپې، وېرول کوي نو د ثواب نقصان کېږي. (مرقات ۶۹/۷۸)

سوال: ځينو حديثونو کې د يو قيراط ثواب د کمولو ذکر دی او ځينو کې د دوه قيراط د کمولو ذکر دی. چې په ظاهره تعارض دی. **جواب**: د دې جواب دا دی چې د دې تعلق د سپې د ضرر رسولو سره دی. که چرې سپې زيات ضرر رسوي نو دوه قيراطه ثواب ضايع شي. که کم ضرر رسوي نو يو قيراط ثواب کمېږي. دويم جواب دا دی چې د دې تعلق مکان او مقام سره دی چې مقدس او مبارک مقاماتو کې سپې ساتلو سره دوه قيراطه کمېږي او عامو مقاماتو کې يو قيراط کمېږي. اول د يو قيراط وحې راغله نو بيا د دوه قيراطه وحې راغله، نو هيڅ تعارض نشته دی. (مرقات ۶۹/۷۸)

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: من اتَّخَذَ كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ

او حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې د څارۀ د حفاظت والا،

أَوْ صَيْدٍ أَو زرعٍ انتقَصَ منْ أجرِه

ښکار کولو والا، د کهيت کهليان د ساتلو والا سپې نه بغير بل سپی ساتې نو د هغې د ثواب نه هره

كلَّ يومٍ قِيرَاط (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ورځ يو د قيراط برابر ثواب کمېږي.

د سپو دوژلو حکم

﴿۳﴾ وَعَن جَابر قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د مدينې د سپو د وژلو حکم کړی ؤو. مونږ

حَتَّى إِنَّ الْمَرْأَةَ تَقْدَمُ منَ الباديةِ بكلبِها

به د مدينې د اطراقو سپې وژلو تردې چې کومه ښځه به ځنګل ته راغله او د هغې سره به سپې ؤو نو مونږ به

---

(۱) رقم الحديث ۴۰۹۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۵/۵ رقم الحديث ۲۳۲۲ ومسلم في ۱۲۰۳/۳ رقم الحديث (۵۸-۱۵۷۵)

فتقتله ثُمَّ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا وَقَالَ: عَلَيْكُمْ

هغه هم ختمولو بيا وروسته نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عامو سپو د وژلو نه منع وكړه او دا حكم يې وكړو

بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ ذِي النقطتين فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ . رَوَاهُ مُسلم [1]

چې خالص تور سپې چې د دوه نقطو والا وي، وژل يې ستاسو لپاره ضروري دي ځكه هغه شيطان دى.

توضيح: اول د عامو سپو د وژلو حكم راغلو چې په زړونو كې نفرت پيدا شي. بيا د شوقيه او اسود بهيم نه بغير د سپو اجازت وشو. **النقطين**: يعنې داسې تك تور سپى چې د هغې د سترګو د پاسه دوه سپينې نقطې او داغونه وي. دا ډېر زيات ضرر يې وي. د ضرر سبب وي. او د فايدې نه خالې وي، ځكه ورته شيطان ويلى شوى دى. (مرقات ۶۹/۷۹)

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ ته د ټولو سپو يا د مدينې د سپو د وژلو حكم

إِلَّا كَلْبَ صيدٍ أَو كلب غنم أَو مَاشِيَة (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

وكړو خو د ښكار يې سپو او د بزو د حفاظت والا سپو او د څارؤ د حفاظت والا سپې يې مستثنى كړل.

توضيح: **او كلب ماشية**: يعنې د بزو د رمې د حفاظت لپاره يا د څارؤ د حفاظت لپاره وي نو دا جمله د تعميم نه وروسته د تخصيص لپاره ده ډېر يا او د شك لپاره دى چې د راوي شك شو چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كوم لفظ استعمال كړى ؤو. غنم او ماشية يو څيز دى.

الفصل الثاني

﴿۵﴾ عَن عبد الله بنِ مُغفَّلٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت عبد الله ابن مغفل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

لَوْلَا أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا كُلِّهَا

چې كه چرې دا خبره نه وى چې سپې هم د ډلو نه يو ډله دى نو ما به يقيناً حكم كړى وى چې دا ټول ؤوژنئ، نو په

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۰۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۳۰/۱۲۰۰ رقم الحديث (۴۷-۱۵۷۲) والترمذي في ۴/۶۶ رقم الحديث ۱۴۶۸

(۲) رقم الحديث ۴۱۰۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۲۰۰ رقم الحديث (۴۶-۱۵۷۱)

فَاقْتُلُوا مِنْهَا كُلَّ أَسْوَدَ بَهِيمٍ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ:

دې کې چه کوم يو سپی هم خالص د تور رنګ والا وي نو هغه اوژئ. او ترمذی دا روايت نور نقل کړی دی

وَمَا مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ يَرْتَبِطُونَ كَلْبًا إِلَّا نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِمْ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ

چې کوم کور والا بغير له ضرورته سپی ساتي نو د هغې د عمل نه ثواب هره ورځ يو قيراط کمېږي، خو

إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ كَلْبَ غنم[1]

بنکارې سپی او د پټې ساتلو والا سپی او د رمې ساتلو والا سپی د دې نه مستثنی دی.

توضيح: امة: لکه څنګه چې الله د انسان د يو خاص مصلحت د لاندې پيدا کړی دی او د انسان نسل يې جاري ساتلی دی. همدغه شان يې ځناور هم د يو مصلحت د لاندې پيدا کړي دي. لهذا د هغوی ساتل هم د حکمت يو تقاضا ده. همغې اړخ ته حديث کې اشاره ده چې که چرې سپي مستقل امت نه وی نو ما به د ټولو د وژلو حکم کړی وی. د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ کشتئ کې چې کوم انسانان او حيوانات داخل شول نو د هغې نسل به پاتې وي، نو ځکه د هيڅ نسل د بيخ نه ختمول ممکن نه ده. (مرقات ۷/۷۰۰)

د څارۀ جنګول منع دي

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّحْرِيشِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څاروي يو ته د راپارولو يعنې هغوی په

بَيْنَ الْبَهَائِمِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

خپل مينځ کې د جنګولو نه منع کړې ده.

توضيح: مطلب دا دی چې اوښان، هاتيان، ګډې، غوايان، ميخې، سپې، چرګې او مړزان جنګول سخت منع دي. هغه که په شرط وي يا بغير له شرطه وي. چې د څارۀ جنګول منع دي نو د انسانانو په ناحقه جنګول خو به لويه ګناه وي. **"والفتنة اشد من القتل"**

(دې باب کې دريم فصل نشته دی)

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۰۲ أخرجه ابوداود في السنن ۲۶۷/۳ رقم الحديث ۲۸۴۵ والترمذي في ۶۷/۴ رقم الحديث ۱۴۸۹.

(۲) رقم الحديث ۴۱۰۳ أخرجه ابوداود في السنن ۵۶/۳ رقم الحديث ۲۵۶۲ والترمذي في ۱۸۲/۴ رقم الحديث ۱۷۰۸

باب ما يحل اكله و ما يحرم
خوراک د کوم څارؤ حلال یا حرام دی

قال الله تعالىٰ ﴿ويحل لهم الطيبات و يحرم عليهم الخبائث﴾ (سورة اعراف : ۱۵۷)

قرآن کریم الله تعالی څلو شیان قطعي حرام کړي دي. ۱: میتة یعني مردار ۲: دم مسفوح یعني د رګونو نه وتلي وینه ۳: ما اهل لغیرالله یعني الله د نوم بغیر د غیرالله په نوم ذبح شوی څاروی. د قرآن آیت دی **﴿قل لا اجد فما اوحی الی محرماً علی طاعم یطعمه الا ان یکونه میتة او دما مسفوحاً او لحم خنزیر فانه رجس او فسقاً اهل لغیرالله به﴾** (انعام آیت ۱۴۵)

د دې څلور شیانو نه بغیر په حدیثونو کې د ډیرو شیانو ممانعت او د حرمت ذکر نبي کریم ﷺ کړی دی. د همدې بیان په دې باب کې دی.

الفصل الاول
ذی ناب درنده حرام دی

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ

حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل درنده ګانو چې کوم ځناور د خپرې والاوي

فَأَكْلُهُ حَرَامٌ. رَوَاهُ مُسلم [1]

چې په غاښ خپل ښکار نیسي لکه زمری او لېوه وغیره نو د دې خوړل حرام دي.

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ د هر هغه درنده د غوښې خوړلو نه منع کړې ده چې د خپرې

وَكُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [2]

والاوي او د هر هغه مارغه د خوړلو نه یې منع کړې ده چې خاوند د پنجې وي یعني چې په خپلې پنجه ښکار کوی لکه باز وغیره

توضیح: د ذی مخلب مارغانو تفصیل مخکې تیر شوی دی.

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۰۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۳۴/۳ رقم الحديث (۱۵-۱۹۳۳) والترمذي في ۶۱/۴ رقم الحديث ۱۴۷۹.

(۲) رقم الحديث ۴۱۰۵ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۳۴/۳ رقم الحديث (۱۶-۱۹۳۴) وابوداود في ۱۵۹/۴ رقم الحديث ۳۸۰۳

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ قَالَ: حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او حضرت ابو ثعلبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د كورنو خرو غوښه حرامه كړې ده.

توضيح: د كورنو خرو د حرمت تفصيل هم د همدغه حديث ۲۶ كې ليكلى شوى دى.

آيا اَس حلال دى؟

﴿۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خيبر په ورځ د كورونو خرو د غوښې خوړلو نه

وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

ممانعت جاري كړو او د اَسونو د غوښو خوړلو اجازت يې وركړى ؤو.

توضيح: اَس كه د خر د نسل نه وي نو د هغې غوښه په اتفاق سره حرامه ده. كه اَس كې د خر د نسل ملاوټ نه وي آيا د هغې غوښه حلاله ده يا كه حرامه ده. دې كې د فقهاؤ اختلاف دى. (مرقات ۷۰۲/۷)

د فقهاؤ اختلاف: د امام شافعي رحمه الله، امام احمد بن حنبل رحمه الله او د صاحبينو په نزد د اَس غوښه حلاله او پاكه ده. ذبح يې كړي او وې خوړئ او مزې كئ. امام مالک رحمه الله او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي چې د اَس غوښه خوړل مكروه ده يا مكروه تحريمي ده يا مكروه تنزيمي ده.

دلائل: د جمهورو دليل د بحث لاندې حديث دى.

امام مالک رحمه الله او امام ابو حنيفه رحمه الله د قرآن آيت ﴿**والخيل والبغال والحمير لتركبوها و زينة**﴾ (سورة النحل: ۸) نه استدلال كړى دى. د استدلال طرز داسې دى چې الله په اَسونو كې مهمه فائده هغې باندې سپورېدل او رُكُوب ګڼلى دى. كه د دې غوښه جائزه وى نو الله به خامخا فرمايلى وى ځكه د ركوب نه غوښه زياته مهمه وه او الله تعالى مهم ذكر كوي. د امام ابو حنيفه رحمه الله ارخ ته هم دا منسوب ده چې هغې به د اَس غوښې ته ځكه مكروه ويله چې اَس د جهاد آله ده. كه دا ذبح كړى شي نو د جهاد ميدان به كمزورى شي. امام ابو حنيفه رحمه الله راتلونكي د حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نمبر ۲۶ نه استدلال كړى دى. چې الفاظ يې دا دي "**عن خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان رسول**

([1]) رقم الحديث ۴۱۰۶ اخرجه البخاري في صحيحه ۶۵۳/۹ رقم الحديث ۵۵۲۷ ومسلم في ۱۵۳۸/۳ رقم الحديث (۲۳-۱۹۳۶)

([2]) رقم الحديث ۴۱۰۷ اخرجه ابوداود في السنن ۱۶۱/۴ رقم الحديث ۳۸۰۳ والنسائي في ۲۰۵/۷ رقم الحديث ۴۳۴۳.

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهى عن اكل لحوم الخيل والبغال والحميرة" (ابو داؤد او نسائی، مرقات ۷/۳۰۲)

جواب: ذکر شوی حدیث په جائز مع الکراهة باندې محمول دی. چې په حدیثونو کې تعارض پاتې نشي. دغه شان دا مسئله د محرم او د مبیح ده چې محمر ته په کې ترجیح ورکول کېږي. بهرحال د احنافو کتاب کفایت المنتهی کې لیکلی شوی دي چې امام ابوحنیفه رحمه الله د مرګ نه مخکې درې ورځې مخکې د خپل دې قول نه د صاحبینو او د جمهورو قول ته رجوع کړې ده او په همدې باندې فتوی ده. درمختار کې هم داسې لیکلی شوې ده چې امام صاحب د خپل قول نه رجوع کړې ده او په همدې باندې فتوی ده.

غوښه د وحشي خر حلاله ده

﴿۵﴾ وَعَن أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ رَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَعَقَرَهُ

او د حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغې ګورخر ولیدلو او هغه یې ؤوژلو او بیا یې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ

د غوښې خوړلو باره کې مسئله وپوښتله، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترینه وپوښتل چې آیا تاسره د هغې

مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ؟ قَالَ: مَعَنَا

په غوښه کې څه شته دی؟ نو ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې ما سره د هغې پانچې شته دی، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا فَأَكَلَهَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

هغه پانچې واخستلې او هغه یې وخوړلې.

سوئ حلاله ده

﴿۶﴾ وَعَن أَنَسٍ قَالَ: أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ورځ مونږ مقام الظهر کې د ښکار لپاره یو خرګوش پسې شو،

فَأَخَذْتُهَا فَأَتَيْتُ بِهَا أَبَا طَلْحَةَ فَذَبَحَهَا

نو په منده کې مو هغه ونیولو او بیا مو هغه ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له راوستلو. ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ذبح

---

[1] رقم الحديث ۴۱۰۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۹/۶۱۳ رقم الحديث ۴۵۹۰ ومسلم في ۲/۸۵۵ رقم الحديث (۶۳-۱۱۹۴)

وَبَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بوَرِكِها وفخذَيها فقبِله (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

کړو او د هغې یو پتون او دواړه پتونونه یې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ولېږل. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه قبول کړه.

توضیح: انفجنا: یعنې مونږ خرګوش پسې شو. هغه د خپلې سورې نه په اوړیدلو وکتلو.

فقبله: د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبلول د هغې د حلالیدلو دلیل دی.

ورکها: ورک پیړ پتون او د هغې کولمې ته وایي او فخذ عام پتون لپاره ویلی کېږي.

سنډه حلال دی که حرام؟

﴿۷﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ

او حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل سنډه نه زه خورم او

وَلَا أُحَرِّمُهُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

نه دا حرام ګڼم. (بخاری ومسلم)

توضیح: **الضب**: دې ته ګهوړ هم وایي او سنډه هم ورته وایي. او ګهوړ پهوړ ته هم وایي. دا عجیبه حیوان دی. شارحینو لیکلي دي چې د سنډه دوه ذکره وي. او تر د اوؤه سوه (۷۰۰) کالو پورې د هغې عمر کېدی شي. اوبو ته نزدې نه ورځي. صرف په شبنم ګوزاره کوي او څلویښت ورځې وروسته میتازې کوي او کله هم د دې غاښونه نه غورځېږي. نبي کریم ﷺ د طبعي کراهت په وجه دا نه دی خوړلی، نورو باندې یې نه دی حرام کړی. نو د امام شافعي او امام احمد په نزد د دې غوښه حلاله ده. خو امام ابو حنیفه رحمه الله په فصل ثانی کې د عبدالرحمن بن شبل د حدیث ۳۳ نه استدلال کړی دی او د ګهوړ خوړلو ته یې حرام ویلي دي. د حدیث الفاظ دا دي: "**ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهىٰ عن اكل لحم الضب**" امام ابو حنیفه رحمه الله دې روایت باندې د حلت روایتونه منسوخ ګڼي.

﴿۸﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ أَخْبَرَهُ

او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت شوی دی چې حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغې ته بیان وکړو چې یو

([1]) رقم الحديث ۴۱۰۹ أخرجه الترمذي في صحيحه ۳۰۲/۵ رقم الحديث ۲۵۷۲ ومسلم في ۱۵۴۷/۳ رقم الحديث (۵۳-۱۹۵۳).

([2]) رقم الحديث ۴۱۱۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۶۲/۹ رقم الحديث ۵۵۳۶ ومسلم في ۱۵۴۳/۳ رقم الحديث (۴۰-۱۰۴۳)

أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَيْمُونَةَ وَهِيَ خَالَتُهُ

ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د حضرت میمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کور لاړو چې د حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترور هم وه او د

وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ فَوَجَدَ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم. هغې د هغې سره هغوی یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یا حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوذًا فَقَدَّمَتِ الضَّبَّ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یوه سمسېره وریته شوې وموندله. حضرت میمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پیش کړه، خو

فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَنِ الضَّبِّ فَقَالَ خَالِدٌ:

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې سمسېرې نه خپل لاس رابنکلو. حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دا ولیدل نو وې پوښتل

أَحَرَامٌ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: لَا وَلَكِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي

چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آیا سمسیره حرام دی؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نا. بلکې دا زمکه د قوم

فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ قَالَ خَالِدٌ:

په زمکه یعنې حجاز کې نشته دی نو ځکه ورسره د[ ]دننه نه کراهت محسوسوم. د حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان

فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ إِلَيَّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

دی چې دې اوږدلو سره ما هغه سمسېره خپل اړخ ته رابنکلو او خوړلو مې او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زما اړخ ته کتل.

توضیح: محنوذ: وریت شوي سمسیره. رفع: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د خوړلو نه لاس رابنکلو. اعافه: یعنې زما ترېنه کرکه کېږي. اجترته: ما هغه خپل اړخ ته رابنکلو او په خوړلو مې ورله شروع کړه او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تعجب سره کتل. (مرقات ۷/۷۰۶)

د چرګ غوښه حلاله ده

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ لَحْمَ الدَّجَاجِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د چرګ غوښه خوړلو باندې لیدلی دی.

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۱۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۶۶۳ رقم الحديث ۵۵۳۷ ومسلم في ۳/۱۵۴۲ رقم الحديث (۱۹۴۳)

(۲) رقم الحديث ۴۱۱۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۶۴۵ رقم الحديث ۵۵۱۷ ومسلم في ۳/۱۲۷۰ رقم الحديث (۹-۱۶۴۹)

توضیح: حدیث کې د کورنۍ چرګ خبره ده. هغه وخت د فارم چرګان نه ؤو. د فارم د چرګو باره کې عام علماء فرمایي چې حلال دي. ډېر کم علماء بلکې که یو نیم عالم دې ته حرام ویلې دي. هغوی وایي چې د فارم چرګان اول نه تر اخر پورې په حرامو خوراکونو باندې غټېږي. دا د جلاله په حکم کې دي. لهذا حرام دي. د ګوجرانواله مفتي محمد عیسی مدظله د دې د حرام کېدلو فتوی ورکوي. محتاط علماء د دې چرګانو غوښه نه خوري، خو د صحت لپاره مضر ټولو په نزد دي. کورنو چرګانو کې اختلاف دی.

ملخ خوړل جائز دي

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ كُنَّا

او حضرت ابن ابی اوفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره اوه (۷) غزاګانې کړي.

نَأْكُلُ مَعَهُ الجَرَادَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

مونږ به په دې موقعو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ملخان خوړل.

توضیح نأکل معه: د حدیث په اکثر روایتونو کې اکثر د معه لفظ نشته. او چرته چې دا لفظ دی نو د دې مطلب دا دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شتون کې صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ملخان خوړلي دي. خپله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم ملخ نه دی خوړلی. نه یې خپله خوړلی دی او نه یې په نورو حرام کړی دی. (مرقات ۷۰۸/۷)

قصه د عنبر ماهي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: غَزَوْتُ جَيْشَ الْخَبَطِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې جیش الخبط یعني پانې راغونډل او خوړونکې والا لښکر سره جهاد ته تلونکو

وَأُمِّرَ عَلَيْنَا أَبُو عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوعًا شَدِيدًا

سره زه هم شریک ؤوم. حضرت ابو عبیده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لښکر امیر وټاکل شو، نو مونږ سخت وږې شو.

فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهُ

سمندر یو مړ ماهي خپلې غاړې ته راغوزار کړو. مونږ دومره غټ ماهي کله هم نه ؤو لیدلی. دې قسمه

يُقَالُ لَهُ: الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ

ماهي ته به یې عنبر ویله، نو مونږ تر نیمې میاشتې هغه په فراخي سره وخوړلو. بیا ابو عبیده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د

---

[1] رقم الحديث ۴۱۱۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۲۰/۹ رقم الحديث ۴۵۹۵ ومسلم في ۱۵۳۴/۳ رقم الحديث (۵۲-۱۹۵۲)

عَظْمًا	مِنْ	عِظَامِهِ	فَمَرَّ	الرَّاكِبُ
هغې په هډوکو کې يو هډوکی يعنې يوه پوښتی. ودرولەنو د هغې دلاندې به يو اوښ په اسانی سره تيرېدلو. د هغې				
تَحْتَهُ	فَلَمَّا	قَدِمْنَا	ذَكَرْنَا	ذٰلِكَ	لِلنَّبِيِّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
نه وروسته چې کله مونږ بيا مدينې ته راغلو نو مونږ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مو د دې واقعې ذکر وکړو،								
فَقَالَ:	كُلُوا	رِزْقًا						
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: کوم رزق چې الله تاسو ته درسوي نو هغه خورئ يعنې تاسو دا نه کړي دي چې ماهي مو خوړلی دی،								
أَخْرَجَهُ	اللهُ	إِلَيْكُمْ						
ځکه هغه الله ستاسو رزق کړو او تاسو ته يې درورسولی ؤو، او که د هغه ماهي څه برخه تاسو سره پاتې وي نو په مونږ به يې هم								
وَأَطْعِمُونَا	إِنْ	كَانَ						
وخورئ، ګويا کې دا خبره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغوی د زړه د خوشحالولو لپاره او د هغه ماهي د حلال کېدل حکم د مؤکد کولو								
مَعَكُمْ	قَالَ:	فَأَرْسَلْنَا						
په غرض وفرمايلو چې د دې خلکو په زړه کې دا خيال پيدا نه شي چې دا ماهي خو اصل جائز نه ؤو خو زمونږ د اضطرار په								
إِلَى	رَسُولِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ		
حالت له نظره يې دا مونږ له حلال کړو. حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نو د هغه ماهي څه برخه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ								
مِنْهُ	فَأَكَلَه	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]						
ته ولېږله او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخوړله.								

توضيح الخبط: خ باندې فتحه ده. او با ساکن دی. او دواړو باندې زبر هم ويل کېږي. خبط د بوټو پاڼو ته وايي. دا چې دې غزوه کې د اسلام لښکر د بوټو پاڼې راڅنډلې او بيا به يې خوړلې تر دې چې شنې پاڼې هم ختمې شوې، نو ځکه يې نوم سرية الخبط او جيش الخبط شو. دې ته سرية سيف البحر هم وايي، يعنې سمندر د غاړې سرمايه د مدينې منورې نه د پنځه ورځو په فاصله باندې واقع ده. درې سوه (۳۰۰) صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دې چاپه مارجنګ کې تلې ؤو. چې اميريې ابو عبيده بن الجراح ؤو. ۶آ□. کې د صلح حديبيه نه مخکې دا واقعه پيښه شوې وه. د بوټو پاڼو خوړلو خوړلو باندې د صحابه کرامو

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۱۴ اخرجه البخاري في صحيحه ۷۸/۸ رقم الحديث ۴۳۶۲ ومسلم في ۱۵۳۶/۳ رقم الحديث (۱۷-۱۹۳۵)

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شوندې چاودلې وي، خولې يې زخمي شوې وي او قضاء حاجت به يې د پچو پشان ؤو، آخر کې الله مدد وکړو او يو ډير غټې جوسې والا ماهي يې دسمندر د غاړې نه را وغورزولو چې نوم يې عنبر دی، د غټوالي په وجه دا د دابة لفظ سره هم ياد کړی شوی دی ګڼې دا ماهي ؤو، لکه څنګه چې دبحث لاندې حديث کې بخاری او مسلم دې ته حوت ويلی دی. درې سوه مجاهدينو دا تريو مياشتې پورې وخوړلو. ځېنې روايتونو کې د ۱۵ ورځې او ځېنې روايتونو کې د ۱۸ ورځو د خوړلو ذکر دی. دې کې هيڅ تعارض نشته، ځکه چا چې څومره ورځې خوړلی وي د هغې ذکر يې وکړو. ټول لنبکر تر د ۱۵ ورځو پورې وخوړلو. بيا چې چا سره څومره غوښه پاتې شوه هغې هغه هومره ورځې وخوړله. چا ۱۸ ورځې او چا ۳۰ ورځې. د برکت له وجې نبي کريم ﷺ هم وخوړله او د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ خاطر هم مقصود ؤو او د جواز فتوی يې هم ورکړه. صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د دې نه ډېر تيل هم حاصل کړل. کشتيانو کې يې هم استعمال کړل او په بدنو يې ومړل. د ماهي د سترګې سورې کې ۹۰ کسان کيناستل. او نه به ښکاره کېدل. د پوښتنې د هډوکې لاندې په اوښ سپوريو کس تير شو. (مرقات ۷۰۸/۷)

مچ که د خوراک څخاک شيانو کې ولوېږي نو څه حکم يې دی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا وَقَعَ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کله تاسو کې د

الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُم فَلْيَغْمِسْهُ . كُلَّهُ ثُمَّ

يو کس په لوښي کې مچ وغورځېږي نو هغې پکار ده چې هغه هغه ټولې مچۍ له غپا ورکړي او بيا

لِيَطْرَحْهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [1]

راويستلو سره غوزاره کړي ځکه د مچ په دواړو وزرو کې يوې وزر کې شفا ده او بله کې بيماری ده.

توضيح: مچ که د چای پشان ګرم څيزونو کې ولوېږي او په کې او سوځي نو د هغې خوراک څښناک ذکر په دې حديث نشته. هغه په طبعي او عرفي توګه د قابل استعمال نه دی. خبره د هغه خوراک څښناک باره کې ده چې يخ وي. چې مچ په کې غوځېدلو سره ګيره شي، لکه شوده، شروبې، شربت او يخ سالن کې مچ وغورځېږي. دې حديث کې د همدغه صورت باره کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې مچ له هغې کې غوپه ورکړئ او بيا يې تر راوباسئ او ويې غورزوئ، د غوپه کولو وجه دا ويلی شوې ده چې د مچ په يو وزر کې زهر او بيماری ده او بل وزر کې علاج او شفاء ده. مخکې د دويم فصل په حديث ۳۹، ۴۰ کې دا تفصيل دی چې مچ د شفا والا وزر د ډوبيدلو نه بچ کول کوي چې صرف بيماری او جراثيم انسان کې داخل

([1]) رقم الحديث ۴۱۱۵ اخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۰/۱۰ رقم الحديث ۵۷۸۲ وابوداود في السنن ۱۸۲/۴ رقم الحديث ۳۸۴۴

شي. لهذا تاسو ټول سچ ډوبوئ يې چې شفا هم حاصله شي. د مچ په چپ وزر کې بيماري ده. تجربه ګواه ده چې په لوی مهارت سره مچ يو وزر او چت ساتي. صدق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. دې کې هيڅ استبعاد نشته دی چې په يو څاروي کې دوه صفتونه جمع وي. د شهدو مچۍ کې شهد هم دي او زهر هم دي. د لړم په څرمن د هغې د زهرو لپاره شفاء ده، نو زهر هم شته دی او شفاء هم په کې ده. (مرقات ۷/۷۱۰)

کنګل غوړو وغيره کې که موږک ولوېږي نو څه کم دی؟

﴿۱۳﴾ وَعَن ميمونةَ أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ فَمَاتَتْ

او د حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې يوه مړه په کنګل غوړو کې پرېوتله او مړه شوه. د

فَسُئِلَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَقَالَ:

نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتلی شو چې څه وکړی شي، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې دا مړئ او د هغې ګير چاپيره غوړي

ألقوها وَمَا حولهَا وكلوه. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]

راوباسئ او غوزاريې کړئ او نور غوړي وخورئ.

توضيح: که مايع څيزونو کې مړه وغيره وغورځېږي او مړه شي نو ټوله مايع به نجسه شي او هغه وغورځولی شي او ضايع به شي. د بحث لاندې حديث کې د مايع څيز مسئله نه ده. د مايع څيز مسئله د فصل ثانی په حديث ۲۰ کې راروانه ده. دلته دې حديث کې په کنګل غوړو کې د مړې د ليدلو مسئله ده. چې د هغې باره کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې مړه شوې مړه لرې کړئ او د هغې ګير چاپيره غوړي هم وغورزوئ او نور غوړي استعمال کړئ. د دې وجې دا ده چې کنګل غوړو کې صرف هغه برخه پليته شي چې کومې برخې سره مړه شوې مړه لږ بدلې وي. باقي برخه پاکه ده. (مرقات ۷/۷۱۱)

دمار دوژلو حکم

﴿۱۴﴾ وَعَن ابْن عمر أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلې دي چې عموماً

"اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ وَاقْتُلُوا ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ

ټول ماران وژنئ او خصوصاً هغه مار چې د هغې په شا باندې دوه توري پټې وي او هغه مار چې ابتر ورته وايي وژنئ،

([1]) رقم الحديث ۴۱۱۶ اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۶۶۷ رقم الحديث ۵۵۳۸ وابوداود في السنن ۴/۱۸۰ رقم الحديث ۳۸۴۱.

فَإِنَّهُمَا	يَطْمِسَانِ	الْبَصَرَ
ځکه دا دواړه قسمه ماران بينائی ختموي. يعنې صرف کتلو سره سړې روند شي او د دې سبب د هغې د زهرو خاصيت		
وَيَسْتَسْقِطَانِ	الْحَبَلَ	قَالَ
دی چې کوم دې مارانو کې وي. دغه شان دا دواړه ماران حمل هم غورځوي. يعنې که حامله ښځه دې ته وګوري		
عَبْدُ	اللهِ:	فَبَيْنَا
نو د زهرو په وجه يا د هغې د وېرې او د دهشت په وجه د هغې حمل غورزېږي. حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي		
أُطَارِدُ	حَيَّةً	أَقْتُلُهَا	نَادَانِي	أَبُو	لُبَابَةَ:
چې يوه ورځ چې ما مار باندې حمله کوله او د وژلو په طمع يې ؤوم چې يو صحابي ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماته					
لَا تَقْتُلْهَا فَقُلْتُ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْحَيَّاتِ.					
اواز وکړو چې دا مه وژنه. ما وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د ټولو مارانو د وژلو حکم کړی دی. حضرت ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ					
فَقَالَ: إِنَّهُ نَهَى بَعْدَ ذَلِكَ عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ وَهِنَ الْعَوَامِرُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]					
ووېل خو نبي عَلَيْهِ السَّلَام د عام حکم نه وروسته د کورو الا مارد وژلو نه منع کړې وه، ځکه هغه کورابادوونکي دي.					

توضيح: **ذالطفيتين**: د کوم مار په شا چې دوه توري پټې (کرخي) وي هغې ته **ذالطفيتين** وايي.

الابتر: دا هغه مار ته وايي چې لکئ يې بيخې وړه وي. ګلګت شتيال کې دا مار ما ليدلی دی. د يو ليشت نه لږ اوږد وي. لکئ د نشوالي برابر وي. د هغه ځای خلکو وويل چې که مار څوک وچيچي نو سړی ژر مړ کېږي. دا دواړه قسمه ماران ډېر زهريله وي. که حامله ښځه دا اوينې نو د زهرو په اثر د هغې حمل وغورزېږي، او که څوک ورته وګوري نو د هغه کس بينايي لاړه شي. دا د دې د زهرو خاصيت دی، ځکه د دې د وژلو ډېر تاکيد شوی دی.

اطارد: مار پسې کېدل او هغې باندې د غالب کېدلو لپاره هغه تښتول.

العوامر: دا د **عامرة** جمع ده. يعنې دا مار په کورونو کې اوسيږي او کورونه ابادوي. د دې عمرونه زيات وي، ځکه ورته عوامر ويلی شوي دي. علامه تورپشتی فرمايي چې دا پيريان دي. د عوامر اطلاق په پيريانو باندې کېږي. مطلب دا دی چې کورونو کې اکثر چې کوم ماران اوسيږي هغه

---

(1) رقم الحديث ۴۱۱۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۴۷/۶ رقم الحديث ۳۲۹۷ ومسلم في ۱۷۵۲/۴ رقم الحديث (۱۲۸-۲۲۳۳)

حقیقت کې پیریان وي. چې د مارانو صورت یې اختیار کړی وي، ځکه د هغې په وژلو کې احتیاط پکار دی چې خدای مه کړه هغه چرته پیریان نه وي چې د نقصان رسیدلو قوی خطر پیدا نشي. د دې حدیث نور تفصیل او اوږده قصه مخکې راروانه ده. (مرقات ۷/۷۱۳)

د کور نه د پیریانو شړلو طریقه

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي السَّائِبِ قَالَ:

او حضرت سائب رحمه الله چې د حضرت هشام ابن زهره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ازاد شوی غلام ؤو او تابعي دی. وایي چې یو ورځ

دَخَلْنَا عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ

مونږ ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له د هغې کور ته لاړو، نو مونږ هلته ناست ؤو. چې ناڅاپه مو هلته د ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَبَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ إِذْ سَمِعْنَا

د تخت د لاندې یو نری اواز واورېدلو. مونږ چې وکتل نو هلته یو مار ؤو. زه د هغې وهلو پسې ونخښتلم

تَحْتَ سَرِيرِهِ فَنَظَرْنَا فَإِذَا فِيهِ حَيَّةٌ فَوَثَبْتُ لِأَقْتُلَهَا وَأَبُو سَعِيدٍ يُصَلِّي فَأَشَارَ

خو ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې لمونځ یې کولو ماته اشاره وکړه چې کینه، زه کیناستلم. کله چې

إِلَيَّ أَنِ اجْلِسْ فَجَلَسْتُ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَشَارَ إِلَى بَيْتٍ فِي الدَّارِ فَقَالَ:

ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لمونځ وکړو نو هغې د کور یوې کوټې اړخ ته اشاره وکړه او وې پوښتل چې

أَتَرَى هَذَا الْبَيْتَ؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ فَقَالَ: كَانَ فِيهِ

آیا ته دا کوټه لیدلې ده؟ ما وویل آؤ بیا ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې دې کوټه کې به زمونږ

فَتًى مِنَّا حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ:

د خاندان یو ځوان اوسیدلو چې نوی نوی واده یې شوی ؤو. حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې

فَخَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ فَكَانَ

مونږ د رسول د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د غزوه خندق لپاره لاړو. چې محاذ د مدینې په مضافاتو کې قائم کړی شوی ؤو.

ذَلِكَ الْفَتَى يَسْتَأْذِنُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْصَافِ النَّهَارِ

دا ځوان به د غرمې وخت کې هره ورځ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه کور ته د تللو اجازت غوښتلو، ځکه د ناوې

فَيَرْجِعُ	إِلَى	أَهْلِهِ	فَاسْتَأْذَنَهُ يَوْمًا

محبت به دا په دې مجبوره کولو، نو خاندان سره د ملاوېدلو لپاره به هغه راتللو او شپه به يې کور کې تېره کړه او بېرته به راغلو

فَقَالَ	لَهُ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:

او د مجاهدينو سره به شامل شو. يوه ورځ يې د معمول په حساب د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه اجازت وغوښتلو. چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام اجازت

خُذْ	عَلَيْكَ	سِلَاحَكَ	فَإِنِّي	أَخْشَى

ورکړو او ورته ويې فرمائيل چې خپله اسلحه د ځان سره کېږده، ځکه زه وېرېږم چې چرته بنو قريظه حمله ونه کړي.

عَلَيْكَ	قُرَيْظَةَ	.فَأُخَذَ

بنو قريظه مدينه کې د يهودو يوه قبيله وه. چې دې موقع کې د قريشو حليف شوي وه او د مسلمانانو خلاف په جنګ کې شريکه وه.

الرَّجُلُ	سِلَاحَهُ	ثُمَّ	رَجَعَ	فَإِذَا

هغه ځوان خپله اسلحه واخسته او کور ته روان شو. کله چې د خپل کور مخې ته ورسيدلو نو څه وينې چې هغې

امْرَأَتُهُ	بَيْنَ	الْبَابَيْنِ	قَائِمَةٌ	فَأَهْوَى	إِلَيْهَا

بنځه د کور به دواړو دروازو کې يعنې دننه او بهر د دروازه په مينځ کې ولاړه ده. ځوان د بنځې ويشتلو

بِالرُّمْحِ	لِيَطْعَنَهَا	بِهِ	وَأَصَابَتْهُ	غَيْرَةٌ

لپاره د هغې اړخ ته نيزه او چته کړه ځکه دا يې وليدل چې د هغې بنځه بهر ولاړه ده، هغه په غيرت کې راغلو، خو بنځې

فَقَالَتْ	لَهُ:	اكْفُفْ	عَلَيْكَ	رُمْحَكَ

هغې ته وويل چې خپله د ځان سره کېږده او لږ کور کې خو وګوره چې څه څيز زما د راويستلو سبب شوی دی.

وَادْخُلِ الْبَيْتَ حَتَّى تَنْظُرَ مَا الَّذِي أَخْرَجَنِي فَدَخَلَ فَإِذَا بِحَيَّةٍ عَظِيمَةٍ

دې اوربدلو سره ځوان کور ته ننوتلو او هلته ناڅاپه د هغې نظر په يو مار ولګېدو، هغه په مار حمله وکړه شو

مُنْطَوِيَةٍ	عَلَى	الْفِرَاشِ	فَأَهْوَى	إِلَيْهَا	بِالرُّمْحِ

او نيزه کې يې راتاؤ کړو او بيا د کور نه را بهر شو او نيزه يې د کور په برنډه کې بنخه کړه. مار په ځوان باندې

فَانْتَظَمَهَا	بِهِ	ثُمَّ	خَرَجَ	فَرَكَزَهُ	فِي الدَّارِ	فَاضْطَرَبَتْ عَلَيْهِ

حمله وکړه. بيا دا معلومه نه شوه چې دواړو کې اول څوک شو، مار او که ځوان يعنې دواړه داسې يو ځای مړه شول

فَمَا يُدْرِي أَيُّهُمَا كَانَ أَسْرَعَ مَوْتًا: الْحَيَّةُ أَمِ الْفَتَى؟ قَالَ:

چې دا پته هم ونه لږېدله چې اول څوک مړ شوی دی. حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د دې واقعې نه

فَجِئْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ وَقُلْنَا:

وروسته مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مو دا واقعه بیان کړه. او عرض مو وکړو

ادْعُ اللهَ يُحْيِيهِ لَنَا فَقَالَ:

چې تا د الله نه دعا وغواړه چې الله زمونږ ځوان ژوندی کړي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د

اسْتَغْفِرُوا لِصَاحِبِكُمْ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ لِهَذِهِ الْبُيُوتِ عَوَامِرَ

خپل ملګرې لپاره مغفرت وغواړئ. او بیا یې وفرمایل چې د مدینې په دې کورونو کې عوامر یعنې پیریان اوسیږي. چې مؤمنان

فَإِذَا رَأَيْتُم مِنْهَا شَيْئًا فَحَرِّجُوا عَلَيْهَا ثَلَاثًا

هم په کې دي او کافران هم. لهذا تاسو کې څوک هغې کې کوم یو د مار په صورت ؤوینئ نو دریځله یا دریو ځلې هغې باندې

فَإِنْ ذَهَبَ وَإِلَّا فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّهُ كَافِرٌ.

تنګی کوي، بیا که هغه لاړ شي نو هره ښه ده ګنې مړې کړئ، ځکه دغه صورت کې به همدغه ګنلی کېږي چې هغه په پیریانو

وَقَالَ لَهُمْ: اذْهَبُوا فَادْفِنُوا صَاحِبَكُمْ

کې کافر دی. بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ انصارو ته وفرمایل چې لاړشئ او د خپل ملګري تدفین وکړئ. یو بل

وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا

روایت کې دا الفاظ دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل په مدینه کې څه پیریان دي او هغوی هغه هم دي چې

فَإِذَا رَأَيْتُم مِنْهُم شَيْئًا فَآذِنُوهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

مسلمانان شوي دي، نو هغې کې تاسو کوم یو د مار په صورت کې اوینئ نو دریو ورځو پورې هغه

فَإِنْ بَدَا لَكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ. رَوَاهُ مُسْلِم [1]

خبردار کړئ. بیا که د ورځو نه وروسته هغه رابنکاره شي نو هغه اوژئ ځکه هغه شیطان دی.

توضیح یحییه لنا: د صحابۍ دا خواست د دې لپاره نه ؤو چې مړ شوی صحابي راژوندی شي بلکې د هغوی

---

[1] رقم الحديث ۴۱۱۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۵۶/۴ رقم الحديث (۱۴۰-۲۲۳۶) والترمذي في السنن ۶۵/۴ رقم الحديث ۱۴۸۴.

خیال ؤو چې کېدی شي دا ژوندی وي. د مار د زهرو په وجه بې هوشه شوی دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دا خبرې پرېږدئ هغه مړ شوی دی. د هغې لپاره استغفار وغواړئ. (مرقات ۷/۷۱۵)

عوامر: یعنې د مارانو په شکل کې پیریان دي. چې په کورونو کې اياد دي. (مرقات ۷/۷۱۵)

فحرجوا علیها: یعنې هغې ته اوایئ چې اوس په تنګئ او ګیر کې یې، اوس د وتلو کوشش مه کوه. که بیا را اوتلې نو مونږ به په تا حمله وکړو او مړ به دې کړو. اوس ستا خوښه ده پاتې کېږي او که ځې. یو روایت کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کله کور کې مار رانښکاره شي نو هغې ته دا ؤوایئ: "**انشدکم بالعهد الذی اخذ علیکم سلیمان بن داؤد لا تؤذونا ولا تظهروا لنا**" دریې ورځو پورې دې دا عمل وکړی شي، ځکه که هغه مسلمان پیری وي نو لاړ به شي او که نه وي نو معلومه به شي چې دا کافر پیری دی. اوس هغه مار اوژنئ ځکه اوس هغه شیطان شوی دی. چې حقیقت کې ابلیس دی. یا حقیقت کې مار دی. یا کافر پیری دی. د دې ټولو وژل جائز دي. (مرقات ۷/۷۱۵)

د چرمښکئ د وژلو حکم

﴿۱۶﴾وَعَن أُم شريك: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ
او د حضرت ام شریک رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کربوړي د وژلو حکم کړی دی
وَقَالَ: كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيم (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
او وي فرمایل چې دې کربوړي به حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې اور پوکلو.

توضیح: **الوزغ**: د دې جمع اوزاغ ده. څرمونښکئ ته وایي. منجد چې کوم تصویر ورکړی دی هغه هم څرمونښکئ ده. مصباح اللغات کې هم د دې ترجمه څرمونښکئ لیکلی شوې ده. مظاهر حق د دې ترجمه کربوړي کړې ده. چې محل د تأمل ده. څرمونښکئ ډېر زهریله ځناور دی. که په خوراک کې وغورځېږي نو ټول خوړو کې پرې مړه کېږي. دا کله نا کله څوک خوري، خو د خوړلو سره کس مړ کېږي. ما یو ځل لیدلي دي چې یو طوطي یې د دربه اړخ وچېچلو. د چیچلو سره یې طوطي مړ کړو. دا په طبعي توګه ورانکاري ده. که خاموشه ښکاري نو په مالګه کې پوکی وهې. یا هغې کې ځان مړی. چې دې مالګې استعمالول سره د ابرص مریض شي. دې د طبعي وران کارئ او بد نیتئ د اظهار په توګه حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې د نمرود بل شوې اور ته پوکی ؤوهلو. ګنې د دې پوکې سره به څه اثر وکړي صرف د دښمنئ اظهار یې وکړو، ځکه اسلام کې د دې په وژلو دا انعام

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۱۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۹/۶ رقم الحديث ۳۳۵۹ ومسلم في ۱۷۵۷/۴ رقم الحديث (۱۴۲-۲۲۳۷)

ملاوېږي چې که يو غوزار کې مړه شوه مو د يو صاع د صدقې ثواب ملاوېږي. او که په ډېرو غوزارونو کې مړه شوه نو د نيم صاع د صدقې ثواب ملاوېږ. دا په يو غوزار اکثر نه مري. د دې لپاره لښده يا توپک بهترېنه اسلحه ده. ژر پرې مري. حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا به د دې وژلو لپاره دوه ډنډې ساتلې. يو به يې د کور په برانډه کې او يه به يې په کوټه کې ايښودله. د هګئ پوستکې ايښودلو سره څرمونښکئ تښتي. ورسره لاندې حديث کې هم د څرمونښکئ د وژلو حکم بيان کړی شوی دی. او د هغې نه وروسته حديث ۱۸ کې د هغې وژلو باندې د سلو (۱۰۰) نيکيانو د ثواب ملاوېدلو بيان دی، خو په دې شرط چې وژونکې اول نمبر حاصل کړي. دويم نمبر والا ته ۵۰ او درېم والا ته د ۲۰ درجو ثواب ملاوېږي. (مرقات ۷/۷۱۶)

﴿۱۷﴾وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ

او د حضرت سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کربوړي وژلو حکم وکړو

وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

او د دې نوم يې فويسق کينبودلو.

﴿۱۸﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَتَلَ وَزَغًا

او د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم کس چې کربوړی

فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَفِي الثَّانِيَةِ دُونَ ذَلِكَ

په يو غوزار کې مړ کړي نو د هغې لپاره سل نيکياني ليکلی کېږي. او په دويم کې د هغې نه کم او

وَفِي الثَّالِثَةِ دُونَ ذَلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

په دريم کې د هغې نه کم. (مسلم)

دمېږي دوژلو مسئله

﴿۱۹﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَرَصَتْ

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې الله کوم انبياء مخکې تير شوي دي. هغې

---

[1]) رقم الحديث ۴۱۲۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۵۸ رقم الحديث (۱۴۴-۲۲۳۸) وابوداود في ۵/۴۱۶ رقم الحديث ۵۲۲۶

[2]) رقم الحديث ۴۱۲۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۵۸ رقم الحديث (۱۴۷-۲۲۴۰) وابوداود في ۵/۴۱۶ رقم الحديث ۵۲۶۳

نَمْلَةٌ نَبِيًّا من الأنبياءِ فأمرَ بقريةِ
کې د يو نبي واقعه ده چې يو ورځ هغه يو ميږې وچيچلو. هغې د ميږو د کوربارہ کې حکم وکړو چې دا وسوځولی شي
النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ فَأَوْحَى اللهُ تَعَالَى إِلَيْهِ: أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ
نو کوريې ورله وسوځولو نو بيا الله هغې باندې دا وحي رانازله کړه چې ته يو ميږې خوړلی وي نو تا ورله په
أَحْرَقْتَ أُمَّةً مِنَ الْأُمَمِ تُسَبِّحُ؟" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
جماعتونو کې يو جماعت وسوځولو چې تسبيح يعنې د الله په پاکې بيانولو کې به مشغوله وه.

توضيح: نبياً: ځينو ويلې دي چې دا حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ؤو. ځينو د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ نوم ليکلی دی. مرقات کې ليکلی شوې دي چې هغه نبي د الله نه سوال وکړو چې په يو قوم کې هر قسمه او نيک او بد خلک وي، خوچې ستا عذاب رائي نو نيکان او بدان ټول په کې راګير شي. حال دا چې ټول مجرمان نه وي. الله د يو مثال په ذريعه هغه پوهه کول غوښتل، نو نبي د بوټې د لاندې اوده شو. يو ميږی هغه وچيچلو او هغې د ټولو کورنه وسوځول. الله ترينه د عتاب په توګه وپوښتل چې ودې سوځول ټول او خوړلی يو وي. دې کې اشاره وه کله کله امتياز مشکل شي، نو ټول وژل غواړي. د هغه نبي په سوځولو باندې عتاب نه ؤو بلکې د ټولو وژلو باندې عتاب ؤو، خو دا د هغوی په شريعت کې ؤو. زمونږ په شريعت کې ميږه، کټمل، سپګه وغيره سوځول جائز نه دي. په بله کومه طريقه باندې يې وژل پکار دي. کوم ميږي چې ضرر رسولی دی د سزه په توګه هغه وژل پکار دی خو سوځول يا د ټولو وژل جائز نه دي. د ميږانو د ورکولو يوه طريقه په مرقات کې ليکلی شوې ده چې سړی په چوکئ کښې او ميږی مخاطب کړي او د الله حمد او ثناء ولولې او بيا دا وظيفه

ووايې اني احرج عليكن الا خرجتن من داري فاني اكره ان تقتلن في داري (مرقات ۷/۷۱۹، ۷۱۸)

الفصل الثاني

په مايع غوړو کې د موږک د لوېدلو مسئله

﴿۲۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا وَقَعَتِ الْفَأْرَةُ فِي السَّمْنِ
حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل که په غوړو کې مږه وغورزېږي او مړه شي او هغه

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۲۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۵۴ رقم الحديث ۳۰۱۹ ومسلم في ۴/۱۷۵۹ رقم الحديث (۱۴۸-۲۲۴۱)

فَإِنْ	كَانَ	جَامِدًا	فَأَلْقُوهَا	وَمَا
غوړي کنګل وي نو هغه مړه او د هغې د څلورو اړخونو غوړي راوباسئ او غوزاريې کړئ او پاتې غوړي مصرف				
حَوْلَهَا وَإِنْ كَانَ مَائِعًا فَلَا تَقْرَبُوهُ . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُودَاوُد[1] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيّ عَن ابْن عَبَّاس[2]				
کړئ. او که غوړي مايع وي يعنې ويلي شوې وي نو بيا هغې ته نزدې هم مه ورزئ يعنې هغه مطلقاً مه خورئ.				

توضيح: مائعاً: که غوړي وغيره کنګل وي نو د هغې مسئله مخکې په حديث ۱۳ کې ليکلی شوې ده. دلته د مايع څيز مسئله ده يعنې که غوړه وغيره ويلي شوې وي او هغې کې مړه وغيره وغورځېږي نو ټوله مايع نجسه شي او خوړل به يې حرام شي. دا اتفاقي مسئله ده. اوس دا قسمه څيزونه د خوراک او د خرڅولو نه بغير د څه لپاره استعمالول جائز دي يا نا؟ دې کې د علماؤ مختلف اقوال دي. د ځينې علماؤ په نزد مطلقاً د دې نه فائده اخستل ناجائز دي. بلکې دا ضايع کول لازم دي. ځينې علماء فرمايي چې دغه قسمه غوړي او تيل وغيره په ډيوه کې استعمالیدلی شي. کشتيانو باندې مړلی کيږي. د امام ابو حنيفه رحمه الله قول داسې دی. او د امام شافعي رحمه الله مشهور قول هم دغه شان دی. اګر که د کراهت سره دی. (مرقات ۷/۷۱۹)

﴿۲۱﴾ وَعَنْ سَفِينَةَ قَالَ: أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمَ حُبَارَى. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[3]
او حضرت سفينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د حبارى غوښه خوړلې ده.

توضيح: د حبارى ترجمه تدرى تعذرى او د د سرخاب نه کبړي. دا يو مرغى ده اګر که کم عقله ده.

د ناپاکه خوراک خوړونکې ځناور حکم

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جلاله د غوښې خوړلو او د هغې د
وَأَلْبَانِهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ:
شودو څښلو نه منع کړې ده. ترمذی او د ابو داؤد په روايت کې داسې دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۲۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۱/۴ رقم الحديث ۳۸۴۲ وأحمد في المسند ۲۳۲/۲

(۲) رقم الحديث ۴۱۲۴ أخرجه الدارمي في السنن ۱۴۹/۲ رقم الحديث ۲۰۸۵

(۳) رقم الحديث ۴۱۲۵ أخرجه أبوداود في السنن ۱۵۵/۴ رقم الحديث ۲۷۹۷ والترمذي في ۲۳۹/۴ رقم الحديث ۱۸۲۸

قَالَ: نُهِيَ عَنْ رُكُوبِ الْجَلَالَةِ[1]
وویل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جلاله باندې د سپورېدلو نه منع کړې ده.

توضیح: کومه غوا وغیره چې د انسان د ګندئ خوړلو عادت لري نو هغې ته جلاله وایي.

سمسیره خوړل حرام دي

﴿۲۳﴾وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ
او د حضرت عبدالرحمن ابن شبل نه روایت دي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګوه د غوښې د خوړلو نه
لَحْمِ الضَّبِّ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]
منع کړې ده.(ابوداؤد)

توضیح: کېدی شي چې په ابتداء کې د سمسیرې غوښه خوړل حلاله وه. بیا دې حدیث سره ممانعت راغلو. اولنی حکم منسوخ شو. د احنافو همدغه مسلک دی. مباح او حرامو کې حرامو ته ترجیح ورکول کېږي. (مرقات۷/۷۲۱)

د پیشو غوښه حرامه ده

﴿۲۴﴾وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ الْهِرَّةِ
او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پیشو غوښه او د هغې د قیمت
وَأَكْلِ ثَمَنِهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ[3]
خوړلو نه منع کړې ده.(ابوداؤد، ترمذی)

توضیح: د پیشو غوښه د ټولو په نزد حرامه ده، د چین خلک د ځنګلي وغیره پیشوګانو غوښه خوري چې د هغې په وجه هغوی په نیمونیا قسمه مرضونو کې اخته دي. البته پیشو خرڅول او د هغې روپئ د احنافو په نزد جائز دي، خو مکروه دي، ځکه دا مردار کاروبار دی. او مسلمانانو له د مردار کاروبار نه ځان ساتل پکار دي. (مرقات۷/۷۲۱)

---

(1) رقم الحديث ۴۱۲۶ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۴/۴ رقم الحديث ۳۷۸۵والترمذي في ۲۳۸/۴ رقم الحديث ۱۸۲۴.

(2) رقم الحديث ۴۱۲۷ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۵/۴ رقم الحديث ۳۷۹۶

(3) رقم الحديث ۴۱۲۸ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۱/۴ رقم الحديث ۳۸۰۷ والترمذي في ۵۷۸/۳ رقم الحديث ۱۲۸۰.

غوښه د خر، قچر او د درنده حرامه ده

﴿۲۵﴾وَعنهُ حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ الْحُمُرَ الْإِنْسِيَّةَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خيبر په ورځ په کورکي د ساتلي شوؤ

وَلُحُومَ الْبِغَالِ وَكُلَّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَكُلَّ ذِي مِخْلَبٍ

خرو، قچرو او د هر قسمه کچلي والا درنده ګانو او د په پنجو باندي د شکار کونکو مارغانو

مِنَ الطَّيْرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[1]

غوښه حرامه کړي وه. (روايت کړي دي امام ترمذي)

توضيح: تشريح او توضيح حديث ۲۶، باب الصيد کې تير شوې ده.

د اس غوښه خوړل منع ده

﴿۲۶﴾ وَعَن خالدِ بْنِ الْوَلِيدِ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ

او د حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسونو، قچرو او د خرو

والبِغَالِ والحميرِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[2]

غوښو خوړلو نه منع کړي ده. (نسائي)

توضيح: تفصيل يې تير شوی دی. "باب ما يحل اكله وما يحرم" کې حديث ۴ وګورئ. د بحث لاندې حديث د امام ابو حنيفه رحمه الله د مسلک مطابق دی. د امام مالک هم دغه مسلک دی.

د معاهد مال بې وجې اخستل منع دی

﴿۲۷﴾وَعَنْهُ قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ

او حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د خيبر په جهاد کې شريک وُوم.

فَأَتَتِ الْيَهُودُ فَشَكَوْا أَنَّ النَّاسَ قَدْ أَسْرَعُوا

يو موقع کې يهودي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ته راغلو او دا شکايت يې وکړو چې خلکو دهغوی د

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۲۹ أخرجه الترمذي في السنن ۶۱/۴ رقم الحديث ۱۴۷۸.

(۲) رقم الحديث ۴۱۳۰ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۱/۴ رقم الحديث ۳۷۹۰ والنسائي في ۲۰۲/۷ رقم الحديث ۴۳۳۱.

إِلَى خَضَائِرِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

کجورو ارخ توندې کړي ده. يعني مسلمانانو زمونږ د کجورو د بوټو نا مېوه راشکولې ده. حال دا چې مونږ

أَلَا لَا يَحِلُّ أَمْوَالُ المعَاهِدِينَ

معاهده کړې ده، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل خبردار! د هغه خلکو مال حلال نه دی چې د چا سره کلکه وعده شوی دی

إِلاَّ بحقِّها. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

بغير د هغه حق نه چې د دې مال په متلعق دی.

توضيح: که معاهده کونکی ذمي دی نو پ هغې باندې جزيه ده. جزيې د حق نه بغير د هغې مال قبضه کول حرام دی او که معاهده کونکی مستامن دی نو د هغې د مال تجارت چې د لارې کوم ټيکس اخستلی کېږي هغې ته عشر وايي. د هغې نه بغير ترېنه هيڅ اخستل ظلم دی.

خضائر: دا د **خضير** جمع ده. د کجورو هغه باغ ته وايي چې په کچه کجورو کې يې شين رنګ خور شوی وي يعني ښښدلو ته نزدې وي، نو دې وجې نه دا لفظ د خضرة د مادې نه جوړ شوی دی. (مرقات ۷/۷۲۲)

ماهي، ملخ، کليجي او اينه حلاله ده

﴿۲۸﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دوه بغير د ذبح شوؤ شيانو

وَدَمَانِ: الْمَيْتَتَانِ: الْحُوتُ وَالْجَرَادُ وَالدَّمَانِ:

او دو وينه وينې حلالې دي. دو بغير ذبحې نه شيان خو ماهي او ملخ دی. او دوه وينې کليجې او اينه دی.

الْكَبِدُ وَالطِّحَالُ". رَوَاهُ أَحمدُ وابنُ مَاجَه وَالدَّارَقُطْنِيّ[2]

دا دواړه اصل کې جام شوي وينه ده. نه دا چې غوښه ده.

توضيح: الميتتان: يعني د ذبح کولو نه بغير حلال دي. دې اعتبار سره دې ته ميتتان ويلی شوي دي. **دمان**: دوه وينې کليجي او اينه مراد دی. که دې ته زور ورکړی شي او ګوتو کې وسولو شي نو دا خالصه وينه شي، خو دا دواړه وينه حلاله ده. باقي حرام دي. (مرقات ۷/۷۲۳)

([1]) رقم الحديث ۴۱۳۱ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۱۶۱ رقم الحديث ۳۸۰۶ وأحمدي المسند۴/۸۹.

([2]) رقم الحديث ۴۱۳۲ أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۱۰۱ رقم الحديث ۳۳۱۴ والدارقطني في السنن ۴/۲۷۱ رقم الحديث ۲۵.

د سمک طافي حکم

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم:

او حضرت ابوزبير د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم

مَا أَلْقَاهُ الْبَحْرُ وجزر

ماهي چې درياب غاړې ته راويشتي وي يا د اوبو نه راخلاص شوی وي يعني د درياب بالکل اوچې شوي وي

عَنْهُ الْمَاءُ فَكُلُوهُ وَمَا مَاتَ فِيهِ وَطَفَا

يا بل اړخ ته تلې وي نو هغه ماهي خورئ. او کوم ماهي چې درياب کې مړ شي او پاس راشي هغه

فَلَا تَأْكُلُوهُ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: الْأَكْثَرُونَ

مه خورئ. (ابوداؤد، ابن ماجه) او محی السنة ويلي دي چې اکثر محدثين د دې خبرې قائل دي چې دا حديث په جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَلَى أَنَّهُ مَوْقُوفٌ على جَابِر [1]

باندې موقوف دی. يعني د هغوی په نزد دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ارشاد نه دی بلکې د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل قول دی.

توضيح: اوجزر عنه الماء: که سمندر وغيره کښې اوبو کې د څه مصيبت يا د تکر يا د بل څه مصيبت نه ماهي مړ شو او اوبو ته پاس راوښتلو نو هغه د ټول په نزد حلال دی. يا سمندر غاړې ته راغوزار کړو يا ډېرو اوبو سره ماهي يو ځای ته راغلو او اوبه يې ورته لاړې. ماهي په اوچتوالي کې پاتې شو او مړ شو نو د ټولو په نزد دا ماهي حلال دی، خو که سمندر او دريا کې دننه ماهي خپله مړ شو، په خارجي وجه نه دی مړ شوی او د اوبو سر ته راغلو نو د هغې په خوړلو کې اختلاف دی. شوافعو او د مالکيو په نزد دا حلال دی. هغه که په هره وجه مړ شوی وي خو امام ابوحنيفه رحمه الله دا طافي حرام ګڼلی دی. د بحث لاندې حديث د احنافو دليل دی او جمهور بغير له دليل نه دي. البته هغوی د احنافو دليل ته کمزوری وايي. چې محی السنة ويلي دي چې د اکثرو په نزد دا حديث موقوف دی. ملا علی قاری رحمه الله فرمايي چې موقوف کېدل زمونږ د استدلال لپاره مضر نه دی، ځکه دغه قسمه احکاماتو باندې مشتمل حديثونه د مرفوع په حکم کې دي. د ماهي پټه دومره کمزوری ده چې معمولي تيز اواز سره چوي، نو ځکه د اسمان تندر راغورځېدلو سره يا د درياب باندې د اسمان بجلي راغورځېدلو يا د دائمائت الوتلو سره ماهيان مړه شي او اوبو د بره راشي. بنکاريان خلک داسې کوي او بيا يې نيسي. (مرقات ۷/۷۲۳)

---

[1] رقم الحديث ۴۱۳۳ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۱۶۵ رقم الحديث ۳۸۱۵ وابن ماجه في ۲/۱۰۸۲ رقم الحديث ۳۲۴۷

حكم د ملخ

﴿۳۰﴾وَعَن سلمَان قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْجَرَادِ

او حضرت سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ملخ خوړلو او د هغې د حقيقت باره کې وپوښتل، نو

فَقَالَ: أَكْثَرُ جُنُودِ اللهِ

نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ملخان د الله په مرغانو کې د ټولو نه لويې لښکر دی. نه خو زه

لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ.

دا خورم ځکه طبعاً زه کراهت محسوسوم او نه په نورو باندې دا شرعاً حرام ګڼم، ځکه د الله له ارخ حلال کړی شوی دی،

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدُ وَقَالَ محيي السّنة: ضَعِيف [1]

لکه څنګه چې مخکې حديث کې تير شوې دي. ابوداؤد. او محی السنة وويل چې دا حديث ضعيف دی.

توضيح: جنود الله: د الله په مخلوقاتو کې الوتونکو مخلوق کې د ټولو نه زيات ملخان دي. او د دې لښکر د دټولو نه غټ دی. او د قيامت نه مخکې د دوی ورکېدل د قيامت په علاماتو کې دی. ځينې ملکونو کې لويې لويې ملخان وي، نو ځکه که دا څوک پاک کړي او وې خوړې نو جائز دي. اګر که نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دې خوړلې. (مرقات ۷/۷۲۴)

د سحر چرګ ته بَد مه وايئ

﴿۳۱﴾وَعَن زيدِ بن خالدٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ سَبِّ الدِّيكِ

او حضرت زيد ابن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چرګ ته بد ويلو نه منع کړې ده. دغه شان

وَقَالَ: إِنَّهُ يُؤَذِّنُ للصَّلَاةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [2]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيشکه دا چرګ د لمونځ لپاره خبر درکوي.

توضيح: د سحر وخت کې خلک اوده وي. کله چې چرګ اذان وکړي نو د کور والا ځينې ځل پريشانه شي او کنځلې کوي، ځکه چرګ نصف اخر کې يو خل اذان کوي. بيا د پښمنې وخت کې بل ځل اذان کوي. او خلک د پښمنې او د تهجد و لپاره راپاڅوي. بيا آخري ساعت کې د سحر لمونځ لپاره راپاڅوي.

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۳۴ أخرجه ابوداود في السنن ۴ : ۱۰۰ رقم الحديث ۳۸۳۱وابن ماجه في ۱۰۷۳ رقم الحديث ۳۲۱۹

(۲) رقم الحديث ۴۱۳۵ أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۲/۱۹۹ رقم الحديث ۳۲۷۰ وأحمد في المسند ۵/۱۹۲.

چرګ د اسمانې سره وابسطه وي. پاس فربټې متحرک شي، نو هلته د چرګ رابطه قائمه شي. بیا اذان کوي، ځکه دې ته کنځل کوی یو پاک نظام ته د کنځلو مترادف دی. لهذا منع ده. سعدی بابا ویلې دي.

اے مرغ سحر عشق ز پروانہ بیاموز

کاں سوختہ را جاں شد آواز نیامد

ای د سحر چرګه د پروانه نه عشق زده کړه، فضول چغې او شور کی. وګوره پروانې په چپه خوله د ژوند قربان کړو. یاد وساتئ چې د ې چرګ د نن سبا فارمې چرګ مراد نه دی. چې د اذان وخت ورته معلوم نه وي. مابنام او د ماسخوتن نه وروسته اذان کوي، ځکه د انسان مصنوعې لاس د دې په تخلیق کې شامل شو. چرګ ته وخت د پته نه وي او چرګې ته د بچې راویستلو پته نه وي.

﴿۳۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَسُبُّوا الدِّيكَ فَإِنَّهُ

او حضرت زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چرګ ته بد مه وایئ، ځکه هغه

يُوقِظُ للصلاةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

مو د لمونځ لپاره راپاسوي.

کور کې که مار ولیدلی شي نو څه کول پکار دي

﴿۳۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: قَالَ أَبُو لَيْلَى: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبدالرحمن بن ابولیلی فرمایي چې حضرت ابولیلی بیان کړی دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې کله

"إِذَا ظَهَرَتِ الْحَيَّةُ فِي الْمَسْكَنِ فَقُولُوا لَهَا: إِنَّا نَسْأَلُكِ بِعَهْدِ نُوحٍ وَبِعَهْدِ

کور کې مار بنکاره شي نو د هغې مخې ته دې وویل شي چې مونږ تانه د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ د عهد

سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ أَنْ لَا تُؤْذِينَا فَإِنْ عَادَتْ

او د سلیمان ابن داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ د عهد واسطه درکوؤ او دا غواړو چې مونږ ته ضرر مه رسوئ. که د هغې نه

فَاقْتُلُوهَا". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[2]

وروسته هغه بیا رابنکاره شو نو هغه اوژئ.

توضیح: دا یو قِسم له وظیفه هم ده او مار ته یوه وعده وریادول هم ده، ځکه حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ مار په

---

[1] رقم الحديث ۴۱۳۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۱/۵ رقم الحديث ۱۹۲/۵ أحمدي المسند ۱۹۳/۵

[2] رقم الحديث ۴۱۳۷ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۵/۵ رقم الحديث ۵۲۴۰ والترمذي في ۶۶/۴ رقم الحديث ۱۴۵۸.

کشتئ کې واچولو نو د مارانو نسل پاتې شو ځکه چې ختم شوی به وی او د حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ عهد ځکه چې هغې خو په مارانو باندې حکومت کړی وُو. د هغې سره به يې خبرې کولې. (مرقات ۷/۷۲۸)

د انتقام دويرې د مار نه وژل ګناه ده

﴿۳۴﴾ وَعَن	عكرمةَ	عَن	ابنِ	عبَّاسٍ	قَالَ:	لَا
او حضرت ابن عکرمه د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي او فرمايي چې زه د دې نه بغير هيڅ						
أَعْلَمُهُ	إِلَّا	رَفَعَ	الْحَدِيثَ:			أَنَّهُ
نه پوهيږي حضرت حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مرفوع په طريقه دا حديث بيان کړی دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د						
كَانَ	يَأْمُرُ	بِقَتْلِ	الْحَيَّاتِ		وَقَالَ:	
مارانو د وژلو حکم کولو او فرمايل به يې چې کوم کس د بدلې اخستلو او د انتقام د وېرې نه هغه ماران						
مَنْ	تَرَكَهُنَّ	خَشْيَةَ	ثَأْرِ			
پرېږدي نو هغه يو ضرر رسونکی د نه وژلو او قضاء او د قدر الهی باندې د يقين نه کولو په سبب زمونږ						
فَلَيْسَ مِنَّا. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[1]						
نه ئې دی. يعنې زمونږ په لاره روان نه دی.						

توضيح: ثأر: انتقام ته ثائر وايي. يعنې د انتقام د وېرې نه مار نه وژنې. د عربو په جاهليت دور کې يوه غلطه عقيده وه. هغه دا چې که يو کس مار اوژلو نو د هغې ملګری به ضرور راځي او دې وژنکې نه به انتقام اخلي. که نر يې وژلی وي نو د خزېنې انتقام لپاره به راځي. او که خزېنه يې وژلی وي، نو د نر انتقام اخلي. دا چې دا غلطه عقيده په ادهام پرستئ باندې بناء وه نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړه چې کوم کس داسې عقيده ساتې نو هغه کس زمونږ نه ئې دی. يعنې اګر که هغه په نور اسلام باندې قائم دی خو دې خاصه شعبه کې د اسلام به طريقه نه دی. دا مطلب نه دی چې هغه کس کافر شو. (مرقات ۷/۷۲۹، ۷۲۸)

کله نه چې جنګ شروع دی صلح بيخې شوي نه ده

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا سَالَمْنَاهُمْ مُنْذُ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د کله نه مونږ د مارانو

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۳۸ أحمد في المسند ۱/۳۴۸

حَارَبْنَاهُمْ	وَمَنْ	تَرَكَ
سره جنګ شروع کړی دی، نو د هغه وخت نه مونږ د دوی سره مصالحت نه دی کړی. لهذا کوم کس		
شَيْئًا	مِنْهُمْ	خِيفَةً
چې دې مارانو کې یو مار د دې وېرې نه د وژلو نه وېرېږي چې خپله به هغه مار یا به د هغې جوړه نقصان		
فَلَيْسَ مِنَّا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]		
راورسوي او بدله به واخلي نو هغه زمونږ نه نۀ دی.		

توضيح: يعنې طبعاً دواړه د يو بل دښمنان دي. د مار خيال دی چې انسان کله هم ما ونيې نو سر به مې چتوې. دا زما دښمن دی. انسان سوچ کوي چې کله مې هم په مار پښه کيښودله نو ټک به راکړي او اوبه مې کړوې، نو ځکه له دواړو اړخ پخه دښمنې ده. او چې د کومې نه دښمنې شوې ده نو کله هم صلح نه ده شوې. څه ضعيف روايتونو کې دي چې ابليس د جنت نه د راويستلو نه وروسته بيا دننه کولو والا مار ؤو. بيا ابليس وسوسه وروا چوله او حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام يې د جنت نه راويستلو، نو يقيناً دا کلک جنګ دی. (مرقات ۷۲۹/۷)

﴿۳۶﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ټول مارن مړه کړئ او که
كُلَّهُنَّ فَمَنْ خَافَ ثَأْرَهُنَّ فَلَيْسَ مِنِّي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[2]
که يو کس د انتقام نه وېرېدلی وي نو هغه زمونږ نه نۀ دی.

دزمزم په کوهي کې مار

﴿۳۷﴾وَعَنِ الْعَبَّاسِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا
او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې يو ورځ عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!
نُرِيدُ أَنْ نَكْنُسَ زَمْزَمَ وَإِنَّ فِيهَا مِنْ هَذِهِ الْجِنَّانِ يَعْنِي الْحَيَّاتِ الصِّغَارِ فَأُمِرَ
مونږ د زمزم د کوهي صفايي غواړو خو هغې کې ماران يعنې واړه واړه ماران دي؟

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۳۹ أخرجه ابوداود في السنن ۴۰۹/۵ رقم الحديث ۵۲۴۸ وأحمد في المسند ۲۴۷/۲

(۲) رقم الحديث ۴۱۴۰ اخرجه ابوداود في السنن ۴۰۹/۵ رقم الحديث ۵۲۴۹ والنسائي في السنن ۵۱/۶.

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِهِنَّ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه مارانو د وژلو حکم وکړو.

توضيح: دا چې د زمزم د کوهې د صفائی ضرورت ؤو، خو مشکل دا پيښې دو چې هلته واړه واړه ماران ؤو. د هغې د وژولو خطر ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې وې وژنئ اوس مجبوري ده، ځکه د دې نه بغير صفائی امکان نه لري، نو د دې حديث د عوامر د نه وژلو والا حديث سره هيڅ تعارض نشته دی. (مرقات ۷/۷۳۰)

کورنی سپين مار مه وژنئ

﴿۳۸﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: اقْتُلُوا

او د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د ټولو مارانو نه

الْحَيَّاتِ كُلَّهَا إِلَّا الْجَانَّ الْأَبْيَضَ الَّذِي كَأَنَّهُ قضيب فضَّة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

بغير د جان يعنې سپين وړوکی مار چې سپينو زرو د چاړه پشان وي.

ورانی دمچ وګورئ

﴿۳۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تاسو کې د يو کس په

فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً

لوښي کې چې د خوراک څښاک څيزونو مچ وغورځيږي نو هغې له غپا ورکړئ ځکه د هغې په يو وزر کې بيماري

وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً فَإِنَّهُ يَتَّقِي بِجَنَاحِهِ

ده او په بل وزر کې يې شفاء ده. او مچ په يو شې اول هغه وزره ډبوي چې کوم کې بيماري ده. لهذا

الَّذِي فِيهِ الدَّاءُ

ټول مچ ته غوپه ورکول پکار دي چې د شفاء والا وزر سره هغه جراثم ورک شي کوم چې د بيماری والا وزر په وجه

([1]) رقم الحديث ۴۱۴۱ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۰/۵ رقم الحديث ۵۲۵۱

([2]) رقم الحديث ۴۱۴۲ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۵/۵ رقم الحديث ۵۲۶۱

فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

په وجه د خوراک څښاک څيز ته رسيدلې ده.

توضيح: يتقي: دا د تقوى نه دى. د بچ کېدلو په معنى کې دى. يعنې مچ خپل ښي وزر د ډوبيدلو نه بچ کوي. هغه داسې چې ښي وزره اوچته نيسي او چپ وزر ډوبوي. دې کې د مچ دا شرارت وي چې د چپ وزر والا جراثم په شودو وغيره کې پرېږدي او د شفاء والا جدا ساتي چې جراثيم ختم نه شي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دا غپا کړئ چې د شفاء والا وزر هم ډوب شي او جراثيم ختم شي. ځينو شارحينو د يتقى دا ترجمه هم کړې ده چې مچ د زهر والا وزر مخکې ساتي. هغه حضرات وايي چې د لغت نه ثابت دي چې يتقى د يقدم په معنى کې استعمالېږي. بهرحال د ورو مچ شرارت خو وګورئ او د هغې عداوت وګورئ. (مرقات ۷/۷۳۲، ۷۳۱)

﴿۴۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الطَّعَامِ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ سُمًّا

چې که په خوراک کې مچ پرېوځي نو هغې له غپا ورکړه ځکه د دې په يو وزر کې زهر دي او په بل

وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً وَإِنَّهُ يُقَدِّمُ السَّمَّ وَيُؤَخِّرُ الشِّفَاءَ. رَوَاهُ فِي شرح السنة[2]

وزر کې يې شفاء ده او مچ خپل د زهر والا وزر مخکې ډوبوي او بيا د شفاء والا.

د ځلور قسمه ځناور وژل منع دي

﴿۴۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ أَرْبَعٍ مِنَ الدَّوَابِّ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دغه څلور واړو ځناور د وژلو نه

النَّمْلَةِ وَالنَّحْلَةِ وَالْهُدْهُدِ وَالصُّرَدِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ[3]

منع کړې ده. ميږى، د شهدو مچى، هد هد او شين تيغ.

---

(1) رقم الحديث ۴۱۴۳ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۱۸۲ رقم الحديث ۳۸۴۴ وأحمدي المسند ۲/۳۴۰.

(2) رقم الحديث ۴۱۴۴ أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۵۹ رقم الحديث ۳۵۰۴ وأحمدي المسند ۳/۶۷ والبغوي في شرح السنة ۱۱/۲۶۱.

(3) رقم الحديث ۴۱۴۵ أخرجه ابوداود في السنن ۵/۴۱۸ رقم الحديث ۵۲۶۷ وابن ماجه في ۲/۱۰۷۴ رقم الحديث ۳۲۲۴.

توضیح: النملة: یعنې غیر مضر میږی وژل منع دی. (مرقات ۷/۷۳۳)

نحلة: د شهدو مچۍ یو مبارک حیوان دی. او مبارک شهد تیاروي. (مرقات ۷/۷۳۳)

الهدهد: دا یوه مرغۍ ده. دې ته اکثرو ژبو کې **هد هد** وایي. کهټ برهۍ هم ورته وایي. ملاچرچک او ملاچرګک هم ورته وایي او کلی کرکانړی هم ورته وایي. دا چې دا مردار او بدبوداره ده نو خوراک یې جائز نه دی، نو فضول وژلو نه یې منع کړې ده. مضر هم نه دی. (مرقات ۷/۷۳۳)

صرد: صرد یو مرغۍ ده. چې سر یې غټ وي. اوږدې اوږدې وزرې یې وي. او اوږده منښوکه یې وي. نیم سپین وي او نیم تور وي. د مرغیو ښکار کوي. دا د منجد تحقیق دی. مظاهر حق والا د دې نوم کلچړی لیکلی دی. مصباح اللغات کې د دې نوم لټورا لیکلی دی. زما په خیال زمونږ علاقه کې یو مرغۍ ده **صرد** همغه دی. چې پښتو کې ورته شین ټغ وایي. اوبو کې غیپا وهي او د ماهي ښکار کوي. او امکان لري چې د وړو مرغو ښکار هم کوي. دا بې ضرره مرغۍ ده. د دې وژل منع دي.

والله اعلم

الفصل الثالث

تحلیل او تحریم حق فقط د شارع دی

﴿۴۲﴾عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د جاهلیت زمانه کې به خلکو د خپل نفسي خواهشاتو مطابق

يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا

څه څیزونه خوړل او څه څیزونه به یې پریښودل. یعنې د کوم شیانو نه به یې کرکه کېده نو هغه به یې نه خوړل،

فَبَعَثَ اللهُ نَبِيَّهُ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ

نو الله خپل نبي راولېږلو او په هغوی باندې او د هغوی په ذریعه د هغې په امت باندې خپل کتاب نازل کړو

وَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ فَمَا أَحَلَّ

او خپل حلال شیان یې حلال کړي دي او حرام شیان یې حرام کړل. د غه شان الله چې کوم شیان حلال کړي دي

فَهُوَ حَلَالٌ وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ

هغه حلال دي او د هغې نه بغیر حلال نه دي. او کوم شیانو ته یې چې حرام ویلي دي هغه حرام دي او په کومو

وَمَا	سَكَتَ	عَنْهُ
شيانو يې چې سكوت اختيار كړى دى يعنې د كوم شيانو باره كې يې چې څه نه دې ويلې چې دا حلال دي		
فهوَ	عفْوٌ	وتَلا
او كه حرام دي. نو هغه شى معاف دى چې هيڅ مواخذه پرې نشته دى او بيا ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا آيت ولوستلو		
(قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ		
اى محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! اوايه چې كوم احكامات د وحې په ذريعه ماته راځي هغې كې هيڅ حرام خوراک نه مومم		
يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا) رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]		
دهيڅ خوراک كونكې لپاره چې كوم هغه خورې خو دا چې هغه مردار وي يا وينه. الخ.		

توضيح: خلاصه دا چې د شريعت او د شارع حكم ته وګورئ خپل خواهشات په كې مه داخلوئ.

﴿۴۳﴾ وَعَنْ زاهِرٍ الأسلميِّ قَالَ: إِنِّي لَأُوقِدُ تَحْتَ الْقُدُورِ بِلُحُومِ الْحُمُرِ

او حضرت زهرا سلمى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ ما هغه پتلې ته اور بلولو چې د خرغوښه پخولو

إِذْ نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

لپاره ايښو دلى شوې وه چې ناڅاپه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخ يو اعلان كونكې دا اعلان وكړو چې

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو د خرد غوښې خوړلو نه منع كوي. (روايت كړې دې بخارى)

د پيريانو قسمونه

﴿۴۴﴾ وَعَنْ أَبِي ثَعلبةَ الخُشَنِيِّ يَرْفَعُهُ:

او حضرت ابو ثعلبه خشنى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مرفوع په طريقه نقل كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د

الْجِنُّ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ صِنْفٌ لَهُمْ أَجْنِحَةٌ يَطِيرُونَ فِي الْهَوَاءِ وَصِنْفٌ

پيريانو درې قسمونه دي. يو هغه پيرى دى چې د هغې وزرې وى او په هوا كې الوځي. دويم هغه

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۴۶ أخرجه ابوداود في السنن ۱۵۷/۴ رقم الحديث ۳۸۰۰.

(۲) رقم الحديث ۴۱۴۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۵۱/۷ رقم الحديث ۴۱۷۳

حَيَّاتٌ وَكِلَابٌ وَصِنْفٌ يُحلُّونَ ويظعنونَ . رَوَاهُ فِي شرح السنَّة [1]

قسم دي چې د مار او سپې په شکل کې ښکارې او درېم هغه قسم دي چې منزل ته کوزېږي او روانېږي.

توضيح: جنات: دې حديث کې د پيريانو درې قسمه بيان کړی شوي دي. : ځينې پيريان د مارغانو پشان الوځي. ۲: ځينې پيريان د مار پشان کشېږي. ۳: او ځينې پيريان کورونو ته کوزېږي.

پيريان د اور نه پيدا شوی مخلوق دی. د دوی به طبيعت او خمير کې ورانی پروت دی. پيريان کې که شرارت او سرکشي د حد نه زياته شي نو دا شيطانان شي. او ديوان ترېنه جوړ شي. او که د هغوی ورانی زيات نرم شو او د طبيعت نه اضافې ورانی ختم شو نو د دې نه پيريان جوړ شي او که ورانی په اعتدال سره وي نو دا پيريان دي. د دوی ودونه کېږي. او اولادونه يې کېږي. د دنيا په انسانانو کې چې څومره فرقې وي نو په پيريانو کې هم هغه هومره فرقې وي. دوی کې يهود او نصاری، مسلمان او هندو، بدعتي، توحيدي، بريلوي ديوبندي، اهل حديث او منکر حديث، روافض او شيعه او سپاه صحابه وغيره هر قسمه خلک وي او خپل مينځ کې يې لانجې هم وي. د پيريانو عمرونه ډېر زيات وي. (مرقات ۷۴۱/۷)



---

(1) رقم الحديث ۴۱۴۸ مرقاة المفاتيح ۷۳/۸

باب العقيقة
د عقيقي بيان

اسلام دا چې يو کامل پوره بلکې د ژوند پوره ضابطه ده، نو ځکه دي کې د انساني ژوند د هري شعبی متعلق قواعو او قوانين موجود دي، نو د اسلام د همدغه جامعيت د نظر لاندې په حديثونو کې د نوي پيدا شوي ماشوم عقيقه او تحنيک وغيره مسائلو او فضائلو ذکر موجود دی. زمابه خيال که د عقيقي باب د باب الاضحية نه وروسته ايښودلی شوی وی نو ډير به مناسب وی، ځکه عقيقه هم د قربانئ پشان د يو ځاروي ذبح کول دي، خو کيدی شي چې لېکوال عليه الرحمة د ذبحی الفاظو ته نظر کړی وي، نو دا يې د ذبائح سره کيخودلو. والله اعلم.

عق د يعق عقاً نصر ينصر نه په معنی د شق يشق شقاً د څيرول په معنی کې دی. دا چې د نوي پيدا شوي ماشوم د سَر ويختان خامخا غوڅول کېږي، ځکه د ويختانو د پاکولو، اؤوهه ورځ باندې نوم ايښودل او د يوې (۱) بيزي د ذبح کولو نوم عقيقه ايښودلی شوی دی. د امام احمد بن حنبل رحمه الله د يو قول مطابق او د ابن حزم او د اهل ظوهرو په نزد عقيقه واجب ده. د جمهور علماؤ په نزد عقيقه سنت ده، خو په دې شرط چې په اؤوه (۷) ورځو کې دننه دننه وشي. امام احمد رحمه الله او اهل ظواهرو د عقيقي لپاره د اهريقوا وغيره د امر صيغو ته په کتني سره د وجوب قول کړی دی. جمهور فقهاء فرمايي چې اکثر حديثونو کې د عقيقي لپاره د سنت لفظ ويلی شوی دی. لهذا سنت ده، واجب نه ده. راتلونکې حديث نمبر ۸ نه معلومېږي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عقيقي لفظ نه خوښ نه ؤو، ځکه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نيسکه او ذبيحه اطلاق خوښولو. د دې حديث راوي فرمايي چې د عقيقه لفظ د عق نه اخستی شوی دی. چې د نافرمائ په معنی کې دی، ځکه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ نه ؤو، خو علامه تورپشتی فرمايي چې دا توجيه د راوي خپل خيال دی. ګيني نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله په ډيرو ځايونو کې د عقيقي لفظ استعمال کړی دی، نو د نه خوښول څه مطلب شو؟ بهرحال د عقيقي د ځاروي لپاره همغه شرط دی کوم چې د قربانئ د ځاروي لپاره وي. روايتونو او د حديثونو مطابق عقيقه په اؤومه ورځ مسنون ده. امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمايي چې که چرې په اؤومه ورځ امکان نه لري نو بيا دي په ځوالسمه (۱۴) ورځ وکړی شي. ګيني په يؤويشتمه (۲۱) ورځ دي وکړی شي او يا دي په اته ويشتمه ورځ (۲۸) ورځ وکړی شي. بيا په پنځ ديرشتمه (۳۵) ورځ وهلم جراً. امام مالک فرمايي چې د عقيقي د ځاروي هډوکې ماتول پکار نه دي. بلکې روغ دي ؤويستلی شي او خځ دي کړی شي. امام شافعي رحمه الله فرمايي چې ماتول يې صحيح دي. بيا د عقيقي غوښه پخول او خوړل بهتر دي. او اومه

غوښه تقسیمول ډیره ګټوره ده. هسي دواړه برابر دي. جاهیلت کې به د ماشوم د عقیقي په وینه کې ککړ کول کیدلو. اسلام کې دا جائز نه ده. البته په زغفرانو باندې رنګول بهتر دي.

الفصل الاول

د عقیقي کولو حکم

﴿۱﴾ عَن سلمانَ بن عامرٍ الضَّبي قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَعَ

حضرت سلمان ابن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اورېدلې دي چې د

الْغُلَامِ عَقِيقَةٌ فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا

هلک په پیدائش باندې عقیقه کول مسنون یا مستحب ده. لهذا د دې له اړخ څاروی ذبح کوئ او د

وأَمِيطوا عَنهُ الْأَذَى. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]

دې نه اذی یعنې د سر ویښتان او ګند لیرې کوئ.

توضیح: اهریقوا: وینه غوزاره کړئ، د دې مطلب دا دی چې د دې له اړخه د عقیقې څاروی ذبح کړئ. (مرقات ۷۴۲/۷)

امیطواعنه الاذی: اماطت د ازاله په معنیٰ کې دی. او اذیٰ نه مراد ګند دی. چې د پیدائش وخت کې د سر د ویښتانو سره وي. بلکې دا ویښتان خپله ګنده وي. ننسبا نو مولوژر په هسپتالونو کې لمبوي. چې د بدن لپاره ډېر مضر دي. اکثر ماشومان چې د نیمونیا ښکار شوي وي. د هغې وجه همدغه ده، خو ډاکټران د انګریزان په فلسفه روان دي. که د ماشوم ژر لمبول ضروري وی نو اسلام به تر اوُوه (۷) ورځو پورې کله هم تاخیر نه کولی. انګریز زده ډاکټر د نوم نلی د بیخ نه غوڅ کړي. دې کې خپل د وخت فیشن خو شته دی خو خرابیدلو سره ډېر نقصان کوي. او د کلو جاهله ښځې د نوم نلی ډېر د پاس نه غوڅوي چې د زخم ډکیدلو لپاره ډېر مفید وي. اکه په دې کې فیشن نه وي، نو دا د کلې جاهله ښځې د ډاکټرانو نه زیاتې عاقلې دي. (مرقات ۷۴۲/۷)

تحنیک سنت عمل دی

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له نوی پیدا شوی ماشوم راوستلی شو.

---

[1] رقم الحديث ۴۱۴۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۹۰/۹ رقم الحديث ۵۴۷۱ وأبوداود في السنن ۲۶۱/۳ رقم الحديث ۲۸۳۹

بِالصِّبْيَانِ	فَيُبَرِّكُ	عَلَيْهِمْ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې لپاره د برکت دعا وکړه يعنې د هغې مخې ته به يې فرمايل. الله دې تا باندې برکت او رحمت نازل		
وَيُحَنِّكُهُمْ. رَوَاهُ مُسلم[1]		
کړی او د هغې تحنيک به يې کولو.		

توضيح: تحنيک د هغه عمل نوم دی چې يو عالم يا صالح کس کجوره خوله کې ښه وچيچي او بيا هغه لاړې د هغه نوې پيدا شوې ماشوم خولې کې کېږدي. ماشوم هغه تير کړي. دا کجوره خوږ شی هم دی او مبارکه مېوه هم ده نو ځکه د دې انتخاب کړی شوی دی. شهد و سره هم دا عمل کېدی شي، نوی ماشوم د خوب حالت کې وي. د هغې د بدن حواس او مشاعر په دې خوږ شې سره رابيدار شی او د هغې خټې سره ته اولنی خوراک د دې عالم يا د صالح کس د لاړو په برکت سره راشي او کله به چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د چا تحنيک کولو د هغې به باره کې به څه وويل شي او بيا چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وي، بيا خو به د تحنيک شان څه بل شان وي. (مرقات ۷/۷۴۳)

اولنی مولود في الاسلام

﴿۳﴾وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ				
د حضرت اسماء بنت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې مکه کې عبدالله ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغې نه پيدا شو.				
قَالَتْ:	فَوَلَدْتُ	بِقُبَاءَ	ثُمَّ	أَتَيْتُ بِهِ
حضرت اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې د قباء په مقام باندې زما ولادت وشو نو ما عبدالله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ				
رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ فِي حِجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ				
د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کې پيش کړو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په غيره کې مې کينبود لو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کجورې راوغښتلې				
فَمَضَغَهَا	ثُمَّ	تَفَلَ	فِي فِيهِ	ثُمَّ حَنَّكَهُ
او هغه يې وژوله. بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې لاړې د هغې په خوله کې واچولې. د هغې نه وروسته				
ثُمَّ	دَعَا	لَهُ	وبرك	عَلَيْهِ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې لپاره دعا وکړه او برکت يې ورله وغوښتلو يعنې دا سې يې وفرمايل چې الله دې				

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۲۳۷/۱ رقم الحديث (۲۸۶/۱۰۱) واخرجه ابوداود في السنن ۳۳۳/۵ رقم الحديث ۵۱۰۶

فَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الْإِسْلَامِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

دې باندې برکت نازل کړي، نو عبدالله ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اولنۍ سړی ؤو چې د اسلام په عهد کې پيدا شو.

توضيح بقباء: مدينه منوره په قباء کې کې د مدينې د انصارو يوه محله وه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مدينې ته د خليدلو نه مخکې په قباء کې قيام وکړو او هلته يې د قباء بيناد کيښودلو چې د اسلام اولنۍ جومات ؤو. او د رتبې به لحاظ سره په ټوله دنيا کې په اول نمبر باندې ؤو. (مرقات ۷/۷۴۳)

اول مولود: يعنې د هجرت نه وروسته په مهاجرينو کې چې کوم اولنی ماشوم پيدا شوی ؤو هغه عبدالله بن زبير ؤو. او د مدينې په انصارو کې چې کوم ماشوم اول پيدا شوی ؤو هغه نعمان بن بشير ؤو. (مرقات ۷/۷۴۳)

الفصل الثاني

په عقيقه کې څو چيلي وي

﴿۴﴾ عَنْ أُمِّ كُرْزٍ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: أَقِرُّوا الطَّيْرَ

او حضرت ام کرز رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلې دي چې مرغۍ د هغې

عَلَى مَكِنَاتِهَا . قَالَتْ: وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ:

په جالو کې پريږدئ. ام کرز رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا هم اوريدلې دي چې عقيقه کې

عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ وَلَا يَضُرُّكُمْ

د هلک له ارخه دوه بيزي او د جينۍ له ارخ يوه بزه ده او دې کې ستاسو لپاره هيڅ نقصان نشته دی چې دوه بيزي

ذُكْرَانًا كُنَّ أَوْ إِنَاثًا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وللترمذي وَالنَّسَائِيِّ من قَوْله: يَقُول:

نروي يا که ماده وي يعنې د خبرې لحاظ ضروري نه دی چې د هلک په عقيقه کې ورغمې ذبح کړی شي او د جينۍ

عَن الْغُلَام إِلَّا آخِره وَقَالَ التِّرْمِذِيّ: هَذَا صَحِيح [2]

په عقيقه کې بزی ذبح کړی شي په روايت کې تر آخر پورې دي. او ترمذی ويلې دي چې دا صحيح دی.

توضيح اقروا الطير على ومكناتها: اقروا د امر صيغه ده. په ارام او جاري ساتلو په معنی کې دی.

---

[1] رقم الحديث ۴۱۵۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۹ ۵۸۷ رقم الحديث ۵۴۶۹ ومسلم في ۳/۱۶۹۱ رقم الحديث (۲۶*۲۱۴۶)

[2] رقم الحديث ۲۱۵۲ أخرجه ابوداود في السن ن۳/۲۲۷ رقم الحديث ۲۸۳۵ والترمذي في ۴/۸۳ رقم الحديث ۱۵۱۶

(مرقات۷/۷۴۳)مكنات د مكنة جمع ده. جالې ته وايي. ځېنو ويلې دي چې هګو ته وايي. دا لفظ كنات هم دی. (مرقات۷/۷۴۴) امرء القيس وايي۔

وقد اغتدیٰ والطیر في وکناتها بمنجرد قید الاوابد هیکل

ذکرانا کن: يعنې دا هيڅ باک نو کوي چې دو ورغمې وي يا که بزې وي، دا ضروري نه ده چې د هلک له اړخه ورغمې وي او له جينئ له اړخه بزې وي. (مرقات۷/۷۴۴)

د عربو عادت ؤو چې کله به يو پسې تلل نو د جالو نه به يې مرغۍ پاسولې چې د هغه د کاميابئ او د ناکامئ اندازه وشي. ک مرغۍ به د جالې ښې ته والوتله نو عرب به خوشحاله شول او سفر به يې جاري کړو او که مرغۍ به د چپ اړخ نه پاڅيدله نو نو سفر به يې ختم کړو. دا ټول د اهوام پرستئ کارونه ؤو، نو ځکه نبي کريم ﷺ د دې نه منع وکړه. دا د حديث يو حکم دی چې پوره شو چې داسې مه کوئ. دې حديث کې دويم حکم د عقيقې بيان کړی شوی دی. (مرقات۷/۷۴۴)

د عقيقې طريقه

﴿۵﴾وَعَنِ الحسنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:اَلْغُلَامُ
او حضرت حسن بصری رحمه الله د حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل هر ماشوم
مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ تُذْبَحُ عَنْهُ
د خپلې عقيقې په بدل کې ګانه دی. د هغې د پيدائش په اؤومه (۷) ورځ د هغې لپاره عقيقه وکړئ،
يَوْمَ السَّابِعِ وَيُسَمَّى وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ
په اؤومه ورځ هغې له نوم کېږدئ او د هغې سر وخرائيوئ. دا احمد، ترمذی، ابوداؤد، او نسائی
لَكِنْ فِي رِوَايَتِهِمَا رَهِينَةٌ بدلمرتهنٌ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَأَبِي دَاوُدَ:
نقل کړی دی خو ابوداؤد د نسائی په روايت کې دی. او احمد او د ابوداؤد په يو روايت کې د
وَيُدْمَى مَكَانَ : وَيُسَمَّى وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ : وَيُسَمَّى أَصَحُّ[1]
يسمى په ځای ويُدمَى دی او ابو داؤد ويلې دي چې دا لفظ د يسمى نه زيات صحيح دی.

توضيح مرتهن: يو روايت کې لفظ رهينة هم راغلی دی. هغه روايت زيات محفوظ هم دی او

[1] رقم الحديث ۲۱۵۳ أخرجه ابوداود في السنن ۲۵۹/۳ رقم الحديث ۲۷۳۸،۲۷۳۷ والترمذي في ۸۵/۴ رقم الحديث ۱۵۲۲

بامعنې هم دی، ځکه مرتهن هغه کس ته وایي چې د هغې سره رهن ایښودلی شوی وي. دا مطلب صحیح نه جوړیږي او که د مرتهن په ځای الغلام مرهون اسم مفعول واخستلی شي نو معنې به صحیح شي خو په روایتونو کې داسې لفظ نشته دی. لهذا دومره به کول غواړي چې دلته په مرتهن ویلو سره د روای نه سهو شوې ده. او صحیح لفظ همغه رهینة دی. چې ابوداؤد او په نسائی کې ذکر شوی دی. ماشو خپله عقیقه کېګانه دی. د دې مطلب دا دی چې که عقیقه ونه کړی شوه او ماشوم مړ شو نو د قیامت په ورځ به د خپل مور او پلار شفاعت نه کوي، نو شفاعت موقوف او محبوس دی. عقیقه باندې دویم مطلب دا دی چې د ماشوم د صحت او د هغې غټولو او د مصیبتونو نه د هغې حفاظت په عقیقه باندې موقوف دی. دې روایت کې لفظ یُدمّی هم منقول دی چې امام احمد په مسند احمد کې ذکر کړی دی. دا د تدمیة نه دی چې په وینو کې د ککړ شوې په معنی کې دی. ماشوم د عقیقې په وینه کې ککړ کړی شي. دا د جاهلیت طریقه وه. لهذا دې لفظ کې هم د یو راوي نه تصرف شوی دی. اصل لفظ یُسمّی دی یعنې د ماشوم نوم دې کیښودلی شي. ابو داؤد دې ته صحیح ویلې دي.

تلطیح: د جاهلیت طریقه مکروه ده چې اوس موقوف شوې ده. د هغې په ځای اوس اسلام کې د زعفرانو او د خلوق په ذریعې باندې ماشوم رنګول کېږي، لکه څنګه چې په راتلونکې حدیث نمبر ۱۰ کې ذکر دي. (مرقات ۷۵۱/۷)

د حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عقیقه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وکړه

﴿۶﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ
حضرت محمد بن علی ابن حسین یعنې حضرت امام باقر ابن امام زین العابدین ابن امام حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د
عَنْ عَلِيِّ بن أَبِي طَالب قَالَ: عَقَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت علي ابن طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې هغې وفرمایل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل لمسې او
عَنِ الْحَسَنِ بِشَاةٍ وَقَالَ: يَا فَاطِمَةُ
زمامځوي د حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په عقیقه کې یو بیزه ذبح کړې وه. او ویې فرمایل چې ای فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا!
احْلِقِي رَأْسَهُ وَتَصَدَّقِي بِزِنَةِ شَعْرِهِ فِضَّةً فَوَزَنَّاهُ
د حسن سر وخرائیوه او د دې د سر د ویختانو په وزن سپین زر صدقه کړه، نو د هغې ویختان وتلل
فَكَانَ وَزْنُهُ دِرْهَمًا أَوْ بَعْضَ دِرْهَمٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا
نو هغه یو درهم یا د یو درهم نه په کم وزن وو. ترمذی دا روایت نقل کړی دی او ویلې یې دي چې دا

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ لِأَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ
حدیث حسن غریب دی او دې اسناد متصل یعنې مسلسل نه دي. ځکه محمد ابن علی ابن حسین
لَمْ يُدْرِكْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ[1]
د حضرت علي ابن ابی طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه نه دی موندلی.

توضیح بشاة: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په عقیقه کې یو بزه ذبح کړه.

سوال: زیر بحث حدیث کې د یوې بزې بیان دی. سنن ابوداؤد کې هم داسې دي خو سنن نسائی کې دو کبش ذکر دی. دلته د دې نه مخکې په حدیث ۴ کې د عقیقې ضابطه بیان کړی شوې ده چې د هلک له اړخ د دوه بزې او د جینئ له اړخ د یوې (۱) بزې ذکر دی. په ظاهره خو روایتونو کې اختلاف دی.

جواب: اصل ضابطه خو همغه ده چې په عقیقه کې د هلک له اړخه دوه او د جینئ له اړخه یوه بزه ده. دلته د حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په عقیقه کې چې د یوې بزې ذبح کولو ذکر دی نو دې کې به تاویل کول غواړې. اول تاویل او جواب دا دی چې افضل خو دوه دې خو د یوې بزې عقیقه په جواز باندې محمول ده. دویم جواب دا دی چې یوه بزه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخه وه او دویمه د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له اړخه یاد حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له اړخه وه. درېم جواب دا دی چې د بحث لاندې روایت غیر متصل دی. دې کې انقطاع ده. لهذا د دې په ځاېد دوه بزو والا روایت اولی بالقبول دی. (مرقات ۷۴۸/۷)

عقیقه کې یې دوه ګډان ذبح کړی

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَّ عَنِ الْحَسَنِ
او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت امام حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
وَالْحُسَيْنِ كَبْشًا كَبْشًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَعِنْدَ النَّسَائِيِّ: كبشين كبشين[2]
او د امام حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په عقیقه کې یو یو ګډ ذبح کړه. (ابوداؤد،)

توضیح امکان لري چې د ولادت په وخت کې یې یوه ګډ ذبح کړی وي او د عقیقې په وخت کې یې بل ګډ ذبح کړی وي، نو دې ته یو یو کبش هم ویل کېدی شي او دوه دوه هم ورته ویل کېدی شي. یا بل یو صورت کېدی شي، ځکه داد فعل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذکر دی. چې په هر احتمالات او

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۵۴ أخرجه الترمذي في ۸۴/۴ رقم الحديث ۱۵۲۹

(۲) رقم الحديث ۴۱۵۵ أخرجه ابوداود في السنن ۲۶۱/۳ رقم الحديث ۲۸۴۱ والنسائي في ۱۶۶/۷ رقم الحديث ۴۲۱۹.

خصوصيات په کې راتلی شي، خو د قول النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همغه ضابطه ده چې په حديث نمبر ۴ کې دی چې د هلک له اړخه دوه بزې او د جينئ له اړخه يوه بزه عقيقه ده. (مرقات ۷/۷۴۹)

عقيقه چې د چاوي هغه دې د نافرمانۍ نه بچ شي

﴿۸﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:

او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار او د هغه د خپل نيکه نه روايت کوي هغې وويل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه

سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَقِيقَةِ فَقَالَ: لَا يُحِبُّ اللهُ الْعُقُوقَ

د عقيقې باره کې وپوښتلی شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې الله عقوق نه خوښوي گويا کې

كَأَنَّهُ كَرِهَ الِاسْمَ وَقَالَ: مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ

دا لفظ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عقيقې سره د نومولو سره ناخوښ کړی دی چې د چا کره هلک پيدا

فَأَحَبَّ أَنْ يَنْسِكَ عَنْهُ فَلْيَنْسِكْ عَنِ الْغُلَامِ شَاتَيْنِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةً. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

شي نو هغه له پکار ده چې هغه د دې له اړخه دوه بزې ذبح کړي او که جينئ پيدا شي نو يوه بزه.

توضيح: د لفظ عقيقه اطلاق باندې په ابتدائی بحثونو کې کلام شوی دی. د دې حديث ظاهره مطلب دا دی چې کله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د عقيقې باره کې وپوښتل شول نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې الله عقوق يعنې نافرماني نه خوښوه وي. لهذا د چاچې عقيقه شوې وي نو گويا کې هغه د عقوق نه بچ شو. گويا کې دا د عقيقې کولو ترغيب شو. مخکې روايت کې چې د کانه کره الاسم کوم تفسير دی دا د يو راوي له اړخه دی. هغې دا گڼلې ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به لفظ عقوق نه خوښولو. حال دا چې واقعه داسې نه ده. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا خپله استعمال کړی دی. "هٰذا ما فهمت والله اعلم" (مرقات ۷/۷۴۹)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غوږ کې اذان وکړو

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذَّنَ فِي أُذُنِ الْحَسَنِ ابْنِ عَلِيٍّ

او حضرت رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليدلو چې د حسن ابن علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په غوږ کې يې

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۵۶ أخرجه ابوداود في السنن ۲۶۲/۳ رقم الحديث ۲۸۴۲ والنسائي في السنن ۱۶۲/۷ رقم الحديث ۴۲۱۲.

حِينَ وَلَدَتْهُ فَاطِمَةُ بِالصَّلَاةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حسن صَحِيح(۱)

اذان وکړو کله چې هغه د حضرت فاطمی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پیدا شو او هغه اذان د لمونځ د اذان پشان ؤو.

توضیح: د سوچ مقام دی چې د چا په غوږ کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذان وکړي نو د هغې مقام به څومره اوچت وي. لهذا د هغې وژل به څومره لویه ګناه وي.

الفصل الثالث

په جاهلیت کې عقیقه څنګه وه؟

﴿۱۰﴾عَن بُرَيدَةَ قَالَ: كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا وُلِدَ لِأَحَدِنَا

حضرت بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د جاهلیت په زمانه کې به زمونږ رواج دا ؤو چې کله به مونږ کې د چا

غلامٌ ذَبَحَ شاةً ولَطَّخَ رأسَه بدمه فَلَمَّا

هلک پیدا شو نو هغې به بزه ذبح کوله او د هغه بزې وینه به یې د هغه هلک په سر و مړله، خو کله

جَاءَ الْإِسْلَامُ كُنَّا نَذْبَحُ الشَّاةَ يَوْمَ السَّابِعِ وَنَحْلِقُ رَأْسَهُ

چې اسلام راغلو نو مونږ به د پیدائش په اؤومه (۷) ورځ بزه ذبح کوله، د هغې سر به مو خرائیلو او

وَنُلَطِّخُهُ بِزَعْفَرَانٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَزَاد رزين: ونُسمّيه(۲)

د هغې په سر به مو زعفران مړلو. (روایت کړې دې ابو داؤد)

توضیح: اسلام د جاهلیت طریق موقوف کړه او خپله مبارکه طریقه یې عملي کړه، نو اوس ځکه مسلمانانو له د اسلام طریقه خپلول پکار ده. د جاهلیت زمانه کې به خلوک خپل ماشوم د ځناور په وینه کې ککړولو. د هغه ماشوم په ژوند کې به درندګي پیدا شوه. اسلام د هغې په ځای د زعفرانو حکم وکړو چې ماشوم مشک او زعفران شي، ځکه علماؤ لیکلي دي چې د عقیقه خوړلو سره څه شرینې ورکول هم پکار ده چې د ماشوم اخلاق ښایسته شي. (مرقات ۷۵۱/۷)

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۵۷ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۳/۵ رقم الحديث ۵۱۰۵ والترمذي في ۸۲/۴ رقم الحديث ۱۵۱۴.

(۲) رقم الحديث ۴۱۵۸ أخرجه ابوداود في السنن ۲۶۳/۳ رقم الحديث ۲۸۴۳.

كتاب الاطعمة

د خوراکونو بيان

قال الله تعالىٰ: ﴿وطعمون الطعام على حبه مسكيناً و يتيماً و اسيراً﴾ (سورة الدهر : ۸)

وقال الله تعالىٰ: ﴿كلوا واشربوا ولا تسرفوا﴾

اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د ژوند پوره ضابطه ده، ځکه هغه خپل منونکو ته د ژوند د هري شعبي متعلق ښه ښه هدايات ورکوي. او هغوی ته لار ښونه کوي چې مسلمانان د غير قومونو د تقليد په ځای د نورو لپاره تقليد جوړ شي. همدغه سلسله کې اسلام د خوراک څښاک د آدابو او اصول او قاعد ښايې. دي حديثونو کې د همدغه شيانو ذکر دی.

الفصل الاول

د خوراک دريې آداب

﴿۱﴾عَن عمر بن أَبِي سَلَمَة قَالَ: كُنْتُ غُلَامًا فِي حِجْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمر ابن ابی سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه ماشوم ؤوم. او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په پرورش او تربيت کې ؤوم.

وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصفحة.

يو ماد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره خوراک کولو اوزما لاس په لوښي کې ژرژرتاوېدلو يعنې څنګه چې دماشومانو عادت وي

فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سم الله

مابه دخپلې مخې په ځای دلته او هلته لاس اچولو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل چې بسم الله ووايه

وكل يَمِينك وكل مِمَّا يليك (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

په نبي لاس خوراک کوه او د هغه ځای نه يې خوره چې تاسته نزدې وي يعنې د خپلې مخې نه يې خوره.

توضيح: عمرو بن سلمه د ام سلمه اولنی خاوند ؤو. ام سلمه چې کله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نکاح راغله نو عمرو بن سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تربيت کې راغلو. هغې اړخ ته د "في حجر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" ته اشاره کړی شوې ده.

تطيش: يعنې لاس مې اخوا ديخوا په لوښي کې ګرځولو. کله به مې د يو ځای نه خوړله او کله به مې

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۵۹ مرقاة المفاتيح ۸۳/۸

د بل ځای نه خوړله لکه څنګه چې دعامو ماشومانو عادت وي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته آداب وښودل. او دا چې بسم الله ويلو سره خوراک شروع کوه، دويم دا چې په نبي لاس خوراک شروع کوه، درېم دا چې د خپلې مخې نه يې خوره. دلته د درې آدابو بيان دی. د دې مطلب دا نه دی چې ټول همدغه آداب دې هيڅ حصر نشته دی. (مرقات ۵/۸)

بسم الله که ونه وايي نو شيطان به درسره خوراک کوي

﴿۲﴾وَعَن حُذَيْفَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم خوراک کې د الله

أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

نوم وانغستلی شي نو هغه شيطان د خپل ځان لپاره حلال ګڼي.

توضيح: يستحل: يعنې د شيطان دا کوشش وي چې څنګه به مسلمان په غفلت سره خوراک شروع کړي چې شيطان ته موقع ملاوه شي او هغه يې هم ورسره وخوري. بسم الله ويلو سره دا خبيث تښتي. (مرقات ۶/۸)

﴿۳﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا دَخَلَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کله چې يو کس خپل کور يعنې

الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللهَ

د خپل خوب ځای ته داخل شي او د داخليدلو وخت کې د الله نوم اخلي يعنې بسم الله ويلو سره د

عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ:

خوب ځای ته داخل شي او يا د خوراک کولو وخت کې هم د خدای نوم واخلي، نو شيطان خپلو تابعدارانو ته وايي

لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ

چې دې کور ستاسو لپاره هيڅ ځای نشته دی او نه خوراک شته دی. او کله چې سړی کور ته د داخليدلو

يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ دُخُولِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ

وخت کې د الله نوم وانخلي نو شيطان خپلو تابعدارانو ته وايي چې دې کې تاسو ته ځای ملاوشو

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۶۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۹۷/۳ رقم الحديث (۱۰۲۰۱۷) وأبوداود في السنن ۱۳۹/۴ رقم الحديث ۳۷۶۶.

وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ:
او کله چې د خوراک وخت کې د خدای نوم وانخلې نو شیطان خپلو تابعدارانو ته وایي چې دې
أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ". رَوَاهُ مُسلم [1]
کور تاسو ته هم ځای ملاو شو او خوراک هم درته ملاو شو.

توضیح: د دې حدیث حاصل دا دی چې کور ته د راتللو وخت کې او بیا د خوراک کولو وخت کې چې کله سړی بسم الله اوایي نو د شیطانانو د جماعت امیر هغوی ته وایي چې دلته نه ستاسو لپاره خوراک شته دی او نه د شپې تېرولو لپاره د ځای ګنجائش شته دی، نو که کور ته د راتللو وخت کې بسم الله اونه وایي نو همدغه شیطان وایي چې ورونو! د شپې د تېرولو ځای ملاو شو او کله چې د خوراک کولو وخت کې بسم الله اونه وایي نو شیطان وایي خوشحاله شئ خوراک او شپه دواړه ملاو شول. علماؤ لیکلې دي چې بیا ابلیس جماع کې هم د هغه کس سره په جماع کې شریک شي. نن سبا دور کې د جهالت په وجه دا وباء عامه ده. ماډرن طبقه د بسم الله نه لرې ده. (مرقات ۷/۸)

خوراک ښښاک په ښي لاس مسنون دی

﴿۴﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې تاسو کې یو کس خوراک کوي
فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ
نو خپله ښي لاس باندې خوراک کوئ او چې څیز څښې نو شي لاس یې څښئ یعنې د اوبو وغیره لوښی
بِيَمِينِهِ. رَوَاهُ مُسلم [2]
په ښي لاس باندې نیسئ.

توضیح: بیمینه: شریعت د انسان په هر ځای رهنمائی کړې ده. لهذا د شریعت حکم دی چې په ښي لاس خوراک کوئ او قضائی حاجت په ښي لاس پاکوئ، اوس که یو د دې خلاف روان وي او په چپ لاس خوراک کوي نو د شریعت نافرمانی سره سره به د دې خوراک هم بدمزه شي، ځکه کله چې هغې ته رایاد شي اوس اوس یې قضائی حاجت په چپ لاس پاک کړو او اوس یې هغه لاس په خوله کې

---

(1) رقم الحديث ۴۱۶۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۹۸/۳ رقم الحديث (۱۰۲-۲۰۱۷) وابوداود في ۱۳۸/۴ رقم الحديث ۳۸۶۵

(2) رقم الحديث ۴۱۶۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۵۹۸/۳ رقم الحديث (۱۰۵-۲۰۲۰) وأبوداؤد في السنن ۱۴۴/۴ رقم الحديث ۳۷۷۶

ايښى دى او څټې يې نو كركه ورله راشي او خوراک بې خونده شي. (مرقات ۸/۸، ۷)

په چپ لاس باندې شيطان خوراک څښاک کوي

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو كې دې هيڅ يو كس

بِشِمَالِهِ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا فَإِنَّ الشَّيْطَانَ

په چپ لاس خوراک نه كوي او نه دې په چپ لاس څه شى وڅښې ځكه دا د شيطان شيوه ده چې هغه

يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِهَا. رَوَاهُ مُسلم [1]

په خپل چپ لاس خورک كوي او په چپ لاس څښاک كوي.

توضيح: د دې حديث نه معلومه شوه چې كوم خلک په چپ لاس خوراک كوي، دا په حقيقت كې شيطان شوى دى. اګر كه شكل يې د سړې دى. شيطان د انسان دښمن دى خو ښكارې ورته نۀ، خو د هغې كار او كردار ښكارې، نو كوم كس چې د شيطان كردار خپلوې نو ښه پوهه شئ چې هغه د شيطان دوست او خپله ښه پوخ شيطان دى. (مرقات ۸/۸)

درې ګوتو باندې خوراک كول او ګوتې څټل سنت دي

﴿۶﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثَةِ أَصَابِعَ

او حضرت كعب بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په درې ګوتو خوراک كولو او

وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَن يمسحها. رَوَاهُ مُسلم [2]

د خوراک د فارغېدلو نه وروسته به يې په څه رومال وغيره وچولو يا به يې د وينځلو نه مخكې څټل.

توضيح: بثلاثة: انسان له پكار ده چې خوراک كې كم نه كم درې ګوتې استعمال كړي. او د مړئ لپاره كم نه كم د درې ګوتو ضرورت وي. بيا د لوښي څټل هم د بركت سبب دى او لاس د او چولو يا د وينځلو نه مخكې هم سنت دى. دې كې بركت دى. او دې كې د خورک لذت دى. ځښې وخت كې د ضرورت په بناء د درې ګوتونو نه زيات هم نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوراک كې استعمال كړي دي. هغې سره د جواز اړخ ته اشاره شوې ده. (مرقات ۹/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۱۶۳ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۹۸/۳ رقم الحديث (۱۰۶-۲۰۲۰) وابوداود في السنن ۱۴۴/۴ رقم الحديث ۳۷۷۶ واحمد في المسند ۴۵۴/۳.

(2) رقم الحديث ۴۱۶۴ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۰۵/۳ رقم الحديث (۱۳۱-۲۰۳۲) واحمد في المسند ۴۵۴/۳.

﴿۷﴾وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّفْحَةِ

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګوتو او لوښي د څټلو حکم وکړو

وَقَالَ: "إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ: فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ؟" . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

او ویې فرمایل چې تاسو نه پوهیږئ چې کومه ګوته کې یا په مړئ کې برکت وي.

د خوراک نه وروسته ګوتي خپله وڅټئ یا یې په بَل وڅټئ

﴿۸﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ

او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې تاسو کې یو خوراک وکړي

فَلَا يمسحْ يدَه حَتَّى يلعقها أَو يلعقها (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

نو لاس ترهغه وخت پورې مه اوچوئ او مه یې وینځئ چې ترڅو پورې دلاس ګوتې ونه څټئ او یا یې په بل ونه څټئ.

توضیح: اویلعقها: یعنې یا یې خپله وڅټې او یا یې په بل وڅټې، څټو کې داسې کس وي چې د هغې د ګوتو نه کرکه نه وي مثلاً ځوي یا لور وغیره وي. واړه ماشومان وي یا خادم یا طالب علم او غلام وي. العاق د باب افعال نه په بل د څټلو په معنیٰ کې دی. ورو باندې ګوتې څټلو باندې ما خپل مشران لیدلې دي. (مرقات ۱۰/۸)

که د خوراک په وخت کې مړئ ولوېږي نو څه کول پکار دي

﴿۹﴾وَعَن جَابر قَالَ: النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ الشَّيْطَانَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلې دي چې شیطان ستاسو سره

يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ

هر وخت په هر کار کې موجود وي. تردې چې د خوراک کولو وخت کې هم ستاسو سره موجود وي.

فَإِذَا سَقَطَتْ من أحدكُم لقْمَة فَلْيُمِطْ

لهذا تاسو کې چې د چانه مړئ وغورځېږي نو هغې له پکار ده چې هغه اوچت کړي او خاوره وغیره

---

(1) رقم الحديث ۴۱۶۵ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۰۶/۳ رقم الحديث (۱۳۳-۲۰۳۳)

(2) رقم الحديث ۴۱۶۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۷۷/۹ رقم الحديث ۵۴۵۶ ومسلم في ۱۶۰۵/۳ رقم الحديث (۱۲۹-۲۰۳۱)

مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى ثُمَّ لِيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ

چې کوم شی هغې پسې اینښتی وي هغه پاک کړي او وې خوړي، هغه شیطان ته پرېږدنه دي. او که

فَإِذَا فرغ فليلعق أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي: فِي أَيِّ طَعَامِهِ يَكُونُ الْبَرَكَةُ؟ ". رَوَاهُ مُسلم[1]

خوراک مو وکړو نو خپلې ګوتې وڅټئ ځکه دا معلومه نه دا چې کوم خوراک په کومه برخه کې برکت دی.

توضیح: فلیمط: اماطه د ازاله په معنی کې دی یعنې که د هغې سره خس و خشاک یا څه خاوره لرې بدلي وي او پاکول یې ممکن وي نو د وسه پورې هغه پاکه کړئ او د متکبرینو خلک پشان هغه په ځمک یا دسترخوان باندې مه پرېږدئ، ځکه شیطان راشي او هغه خوړي. یا د هغې په ضایع کولو باندې خوشحالېږي، نو شیطان له د خوشحالئ موقع مه ورکوئ، هغه ستاسو دښمن دی. که پاکول یې امکان نه لري نو هغه سپې یا پیشو باندې وخورئ چې د الله رزق ضایع نه شي. کله چې د خوراک فارغ شئ نو په عاجزئ او انکسارئ د الله شکر ادا کړئ او ګوتې وڅټئ. دې کې برکت دی او د نظام هضم لپاره فائده مند دی. (مرقات۸/۱۰)

په تکیه وهلو سره خوراک کول منع دی

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: لَا آكُلُ مُتَّكِئًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

او حضرت ابو جحیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل زه تکی وهلو سره خوراک نه کوم.

توضیح: متکئًا: یعنې تکی وهل او بې اعتنائی او تکبر سره خوراک نه کوم، نو زما امت له هم داسې خوراک کول پکار نه دی. دا د تکبر والا خلک کوي. (مرقات۸/۱۱)

میز او چوکئ باندې د خوراک د کولو حکم

﴿۱۱﴾ وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَا أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خِوَانٍ

او حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم په میز باندې

وَلَا فِي سُكُرُّجَةٍ وَلَا خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ قِيلَ لِقَتَادَةَ:

خوراک نه دی کړی او نه کله د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره چپاتئ پخه کړی شوې ده. د حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه

([1]) رقم الحديث ۴۱۶۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۰۷/۳ رقم الحديث (۱۳۵-۲۰۳۳)

([2]) رقم الحديث ۴۱۶۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۵۴۰ رقم الحديث ۵۳۹۹وابوداو في السنن ۱۴۰/۴ رقم الحديث ۳۷۶۹.

على مَا يَأْكُلُون؟ قَالَ: على السفر. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]

وپوښتلی شو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به څه شې خوراک کولو؟ هغې وفرمايل چې په دسترخوان باندې.

توضيح: على خوان: خوان اصل کې دسترخوان ته ويل کېږي خو دلته د خوان نه مراد چوکئ يا مېز دی چې خوراک پرې کيښودلو سره خوړلی کېږي د دې لپاره چې خورک ته ښکته نه شي. دا چې مالدا، عيش پرست، متکبر او د غير اسلامي تهذيب د خلکو شيوه ده چې هغوی په چوکئ يا مېز باندې خوراک کوي، کله کينې، کله يې په ولاړه ولاړه خوري، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا طريقه نه ده خوښه کړې. چوکئ باندې د خوراک رواج ځېنې علماؤ کې هم راغلی دی.

ولا في سكرجة: يعنې نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تشتری مجمع اوتړې کې خوراک کړی دی. سُكُرَّجَةٍ سين او کاف باندې پيش او را باندې زبر سره شد دی. جيم باندې زبر دی آخر کې ګرده تا ده. او سُكُرِجة هم دی. کاف باندې سکون دی او را باندې زير دی. شد نه دی. منجد ليکلي دې "الصحفة التی يوضع فيها الاكل" هغه کاسه او پيالئ او مجمعه او پتنوس چې خورک په کې ايښودلی کېږي. دا سامان هم عيش ارخ ته اشاره ده چې د هر شي لپاره جدا جدا لوښی او پتنوس دی. امکان لري چې د حديث په مفهوم کې هم داخل وي خو ملا علي قاري رحمه الله مرقات کې د سکرجه نه مربه، اچار او چکنئ ايښودلو لوښي مراد اخستې دي. او مطلب يې دا بيان کړی دی چې د خوراک نه زيات شيان چې خوراک هضم کړي د هغې لپاره به جدا جدا لوښي نه ؤ، لکه څنګه چې نن سبا تماشې راغلې يو زنده دل يحيى بن معاذ رازی رَحِمَهُ اللهُ دنيا داره علماؤ ته وويل: يا اصحاب العلم ا:قصوركم قيصرية۲:وبيوتكم كسروية۳:واثوابكم طالوتية۴:واخفافكم جالوتية۵:واوانيكم فروعونية ٦: ومراكبكم قارونية ۷: وموائدكم جاهلية ۸: ومذاهبكم شيطانية فاين المحمدية؟"

مرقق: يعنې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د چپاتو ډوډو اهتمام کله نه دی شوی.

على السفر: د سفرة جمع ده. دسترخوان ته وايي. کوم شي چې د څرمن، ريکسن يا توتې او د پلاسټک وي. نن سبا هم دې کې تماشې راغلې دي. البته مجبوري جدا شی دی. (مرقات ۱۲/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۱۶۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۵۳۰/۹ رقم الحديث ۵۳۸۶ والترمذي في السنن ۲۲۰/۴ رقم الحديث ۱۷۸۸.

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ډوډئ وليدله او نه وريته شوي بيزه

﴿۱۲﴾ وَعَن أنس قَالَ: مَا أَعْلَمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَغِيفًا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه نه يم خبر چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله هم نرئ ډوډی چپاتئ ليدلې وي

مُرَقَّقًا حَتَّى لَحِقَ بِاللهِ

تردې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ الله سره ملاقات وشو يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل تول ژوند كې كله همد چپاتئ صورت نه دی

وَلَا رَأَى شَاةً سَمِيطًا بِعَيْنِهِ قَطُّ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

ليدلی دا چې كله يې هم چپاتئ خوړلې وې. دغه شان نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وريته شوي بيزه هم كله په خپلو سترګو نه ليدلې.

توضيح: رأى: چې دا شيان يې ليدلې نه دي، نو د خواک يې سوال نه پيدا کيږي.

شاة سميطاً: هغه زمانه كې به د چين په خلكو كې داسې رواج ؤو چې د بزې نه به يې څرمن او ويخټان اويستل او د ګرمو اوبو په تپ او براس به يې كيښودله. دا چائنيز خوراک به د چين خلكو تيارولو. د هغې نه وروسته عياش پرستو هغه طريقه خپله كړه. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ليدلې هم نه ده. (مرقات ۱۲/۸)

ميده يا داغ لې شوي وړو ډوډئ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ده خوړلي

﴿۱۳﴾ وَعَن سهل بن سعد قَالَ: مَا رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ مِنْ

او د حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د كله نه الله رسول كړی دی

حِينِ ابْتَعَثَهُ اللهُ حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ وَقَالَ:

نو د هغه وخت نه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ميده نه ليدلې تردې چې الله د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روح قبض كړو.

مَا رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْخُلًا مِنْ حِينِ

او حضرت سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د كله نه الله رسول كړی دی نو د هغه وخت نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ كله چې نه

ابتعثهُ اللهُ حَتَّى

دی ليدلی تردې چې الله د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روح قبض كړو يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د رسالت ورکولو نه وروسته تر د آخري وخت پورې

([1]) رقم الحديث ۴۱۷۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۳۰/۹ رقم الحديث ۵۳۸۵ وابن ماجه في السنن ۱۱۰۰/۲ رقم الحديث ۳۳۰۹.

قَبِضَهُ	قِيلَ:	كَيْفَ
د ميدې نه تيار شوې څيزيا په چنړ چنړ شوې د وړو وړې خوړل خو لاځه، کله هم نبي عَلَيْهِ السَّلَام د هغې صورت نه دې ليدلې.		
كُنْتُمْ	تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ	غَيْرَ مَنْخُولٍ؟
نه دې ليدلی. د حضرت سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وپوښتلی شو چې يا به تاسو د جوارو نه بغير چنړ شوې وړو وړې څنګه		
قَالَ:	كُنَّا نَطْحَنُهُ	وَنَنْفُخُهُ
خوړله؟ حضرت سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې مونږ به جوار د ميده کولو نه وروسته هغه پوک وهل نو د الوتلو والا		
فَيَطِيرُ مَا طَارَ وَمَا بَقِيَ ثَرِيناه فَأَكَلْناه. رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]		
شيان به ترې نه والوتل او کوم څيز به چې پاتې شو يعنې وړه، نو هغه به په اوبو کې واغږل او بيا به مو د هغې وړو وړې پخوله.		

توضيح النقي: سپين ميده وړو ته نقی وايي. د هغې وړو وړې مراد ده.

المنخل: د وړو چنړ ته منخل وايي. په دې چنړ کړی شوې وړو ته مُنخل او منخول وايي.

الشعير: يعنې د جوارو وړو کې خو ډېر پوستکې وي. هغه د ازغو پشان وي. د چنړولو نه بغير به مو هغه څنګه خوړله؟ ويې فرمايل چې پوکی به مو ورکړو، نو غټ پوستکې به ترې نه والوتل او پاتې به مو په اوبو کې لوانده کړل. او پاخول او خوړل به مو.

ثريناه: لوندولو ته وايي. (مرقات ۱۴/۸)

خوراک کې نقص مه راوباسئ

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم خوراک ته بد نه دې ويلې. که
إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَ إِنْ كرهه تَرَكه (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]
د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به وړته زړه کېدلو نو وبه يې خوړله او که خوښه به يې نه وه نو پرې به يې بنودله.

توضيح ماعاب: خوراک کې عيب هغه کس راوباسي چې د مخکې نه مور وي. وړی شوی انسان کله هم داسې نه کوي. ويل کېږي چې خوراک تره هغه پورې خورئ چې په خوراک کې انتخاب نه

([1]) رقم الحديث ۴۱۷۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۴۹/۹ رقم الحديث ۵۴۱۳ وابن ماجه في ۱۱۰۷/۲ رقم الحديث ۳۳۳۵.

([2]) رقم الحديث ۴۱۷۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۴۷/۹ رقم الحديث ۵۴۰۹ ومسلم في ۱۶۳۲/۳

وي، خوراک کې چې کله انتخاب شروع شي نو هغه وخت لاس رانښکل پکار دي. (مرقات ۱۴/۸)

مؤمن په يوه کولمه او کافر په اؤوه کولمو خوراک کوي

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا كَثِيرًا فَأَسْلَمَ فَكَانَ

او د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو کس وُو چې ډېره خوراک به يې کولو. کله چې مسلمان شو نو

يَأْكُلُ قَلِيلًا فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

به يې لږه خوړله. نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د هغې ذکر وشو. نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې

إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سبعةِ أمعاء . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

حقيقت دا دی چې مؤمن خو د يوې کولمې خوراک کوي او د کافر د اؤوه (۷) کولمو خوراک کوي.

وَرَوَى مُسْلِمٌ عَنْ أَبِي مُوسَى وَابْنِ عُمَرَ الْمسند مِنْهُ فَقَط [2]

او مسلم دا روايت دی ابو موسی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه نقل کوي. چې دا واقعه په کې ذکر نه ده،

وَفِي أُخْرَى لَهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خو مسلم د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه يو بل روايت نقل کړی دی چې هغې کې دا سې دي چې يو ورځ د

ضَافَهُ ضَيْفٌ وَهُوَ كَافِرٌ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فَحُلِبَتْ

نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مېلمه راغلو چې کافر وُو. نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې لپاره د بزې د لوشلو حکم وکړو،

فَشَرِبَ حِلَابَهَا ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ ثُمَّ أُخْرَى

بزه ولوشلی شوه. او هغه کافر شوده وخښل. بيا د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم دويمه بزه ولوشلی شوه.

فَشَرِبَهُ حَتَّى شَرِبَ حِلَابَ سَبْعِ شِيَاهٍ ثُمَّ إِنَّهُ أَصْبَحَ فَأَسْلَمَ فَأَمَرَ لَهُ

هغې دا شوده هم وخښل. بيا چې سحر شو نو هغه مسلمان شو. نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه وخت هم د هغې لپاره بزې د لوشلو حکم وکړو.

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فَحُلِبَتْ فَشَرِبَ حِلَابَهَا ثُمَّ أَمَرَ بِأُخْرَى

بزه ولوشلی شوه. او هغې هغه شوده وخښل بيا هغې د بلې بزې د لوشلو حکم وکړو، نو بزه ولوشلی شوه،

([1]) رقم الحديث ۴۱۷۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۳۶/۹ رقم الحديث ۵۳۹۶ وأخرجه ابن ماجه في ۱۰۸۴/۲ رقم الحديث ۳۲۵۶.

([2]) رقم الحديث ۴۱۷۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۳۲/۳ رقم الحديث (۱۸۴-۲۰۶۱) والترمذي في السنن ۲۳۴/۴ رقم الحديث ۱۸۱۸

فَلَمْ يَسْتَتِمَّهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْمُؤْمِنُ يَشْرَبُ
خو اوس يې د هغې شوده ټول ونه څښلی شو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې مومن په يوه
فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يشربُ فِي سَبْعَةِ أمعاء[1]
کولمه څښل کوی او کافر په اوؤ (۷) کولمو څښل کوي.

توضيح: في سبعة امعاء: يعنې کافر په اؤوه (۷) کولمو خورک کوي. ګويا کې د کافر د خوراک اؤوه کولمې دي. (مرقات ۱۴/۸)

سوال: دې حديث باندې په ظاهره دا اشکار کېږي چې د انسان په حيثيت ټول انسانان يو شان دي، نو بيا دا ويل څنګه صحيح کېدی شي چې د کافر اؤوه کولمې دي او د مومن يوه کولمه ده؟ مشاهده هم د دې خلاف ده. **جواب**: د دې پوښتنې مختلف جوابونه ورکړی شوي دي. علامه نؤوی رحمه الله اؤوه جوابونه ورکړي دي. علامه طيبي هم د ورکولو کوشش کړی دی. او قاضي عياض مالکی رحمه الله هم جواب ورکړی دی. ملاعلي قاري رحمه الله د دې ټول اقوال او جوابونه نقل کړي دي، خو کوم چې واضح جواب دی او ټول د هغې په نقل کولو باندې اتفاق هم کړی دی هغه د قاضي عياض جواب دی. فرمايي چې مومن په خوراک څښاک کې ډېر لالچ او حرص نه کوي، ځکه په خوراک او څښاک کې برکت راشي. او پليټ يې په لږ خوراک ډک شي، خو کافر په خوراک او څښاک کې ډېر لالچې او حرصناک وي. د هغې نقطه نظر خو د ځناور پشان د خوراک او څښاک وي، نو د دې دواړو په مينځ کې د حرص او عدم حرص په وجه د خوراک او څښاک په معامله کې دومره تفاوت دی، ګويا کې د يو او د اوؤ (۷) کولمو تفاوت دی. مومن د يوې کولمې په مقدار خوراک کوي او کافر د اوؤ (۷) کولمو په مقدار خوراک کوي. ګويا کې دا يو مثال دی. د علامه طيبي د کلام خلاصه هم تقريباً همدغه شان ده. د ټولو اقوالو خلاصه دا ده چې د کامل مومن شان زهد او قناعت او ترک دنيا ده، نو هغه په قوت لا يموت باندې صابر وی. او د کافر معامله د دې برعکس ده. اوس دا ضرورې نه ده چې د هر مومن شان زهد او قناعت وي. کېدی شي چې ځينې مومن د کافر نه هم زيات حرص لرې او زيات خورک کوي، خو چې هغه د خپل مومنانه شان نه غورځېدلی وي. لهذا حديث باندې به اعتراض نه رائي. (مرقات ۱۴،۱۵/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۱۷۵ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۳۲/۳ رقم الحديث (۱۸۵-۲۰۶۲) وابن ماجه في ۱۰۸۴/۲ رقم الحديث ۳۲۵۸ .

قناعت كه وي نو د دوؤ خوراک د درېو لپاره کافي کېږي

﴿۱۶﴾وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:طَعَامُ الِاثْنَيْنِ كَافِي الثَّلاثَةِ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دوه كسانو خوراک دري كسانو له

وطعامِ الثلاثةِ كَافِي الْأَرْبَعَة (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او د درې كسانو خوراک د څلورو لپاره كافي كېږي.

توضيح: د حديث مطلب دا نه دی چې د دوه كسان خوراک د درې كسانو په لپاره په مړه خيټه كافي وي. بلكې كه د قناعت نه كار واخستلی شي نو هغه خوراک درې كسانو له د كفايت په توګه پوره كېږي. او د څلور خوراک د كفايت په توګه اتو (۸) له كافي كېږی، لكه څنګه چې په راتلونكي حديث كې د دوه چنده خبره شوې ده چې د څلور خوراک د اتؤ (۸) لپاره د كفايت په توګه كافي كېږي. نيمه خيټه باندې خوراک كولو سره سړی نه مړې او بل پرې ژوندی شي. دې دواړو حديثونو كې د يو ځای خوراک كولو ترغيب ورکړی شوی دی. (مرقات ۱۵/۸)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:طَعَامُ الْوَاحِدِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلې دي چې د يو كس خوراک

يَكْفِي الِاثْنَيْنِ وَطَعَامُ الِاثْنَيْنِ يَكْفِي الْأَرْبَعَةَ وَطَعَامُ الْأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثمانية . رَوَاهُ مُسلم[2]

د دوه كسانو لپاره او د دوؤ د څلورو لپاره او د څلورد اتؤ (۸) لپاره كافي كېږی.

مريض كس لپاره تلبينه بهترين شی دی

﴿۱۸﴾وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوربدلې دي چې تلبينه د

التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ تَذْهَبُ بِبَعْضِ الْحزن(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[3]

بيمار زړه ته سكون او قوت وركوي او ځينې غمونه لرې كوي.

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۷۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۳۲/۳ رقم الحديث (۱۸۶-۲۰۶۳) والترمذي في السنن ۲۳۵/۴ رقم الحديث ۱۸۱۹

(۲) رقم الحديث ۴۱۷۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۳۶/۹ رقم الحديث ۵۳۹۲ ومسلم في ۱۶۳۰/۳ رقم الحديث (۱۷۸-۲۰۵۸)

(۳) رقم الحديث ۴۱۷۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۳۰/۳ رقم الحديث (۱۷۹-۲۰۵۹) والترمذي في السنن ۲۳۶/۴ رقم الحديث ۱۸۲۰

توضيح التلبينة: دا د هغه حريره نوم دی چې د وړو او د شوده نه جوړيږي. دا چې د شودو (پيو) ماده زياته وي، نو ځکه ورته تلبينه ويلی شوی دی. چې ماده يې د پيو ده. په دې کې شهد او داسې نور خواږه يو ځای کولی کيږي. نرم وي، څښل کېدی شي. پيو کې پخ شوي مينچي چې په اختر کې پخولی کيږي، هغه هم دغه شان وي. شير خرمه هم د دې مصداق دی. (مرقات ۱۸/۸)

مجمة: ای مريحة مفرحة خوشحالي ورکونکی او راحت رسونکي ته وايي. چې زړه پرې خوشحاله او قوي کيږي. د همدغې بيان مخکې جملې کې راغلی دی. ګويا کې دا د هغې لپاره بيان دی. (مرقات ۱۸/۸)

کدو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤ

﴿۱۹﴾وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ خَيَّاطًا دَعَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ يو درزي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل تيارشوي خوراک لپاره دعوت ورکړو
صَنَعَهُ فَذَهَبْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَّبَ خُبْزَ شَعِيرٍ
د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره زه هم لاړم. هغې د جوارو ډوډۍ او خوروه راوړله او په دسترخوان يې
وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءُ وَقَدِيدٌ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ
کيښودله چې کدو او اوچه غوښه هم په کې وه. ما وليدل چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا چې کدو زيات
الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ فَلَمْ أَزَلْ
خوښ ؤو نو ځکه به يې د کاسې غاړو ته کدو لټولو او خوړله به يې، نو د ځکه د هغه ورځې نه وروسته
أُحِبُّ الدباءَ بعد يومِئذٍ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
زه کدو خوښوم، ځکه دا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤو.

توضيح خياطاً: درزي ته وايي. دې خوش قسمته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دعوت کې خوروه کې د اوچې غوښې پوتې ايښې ؤو. او د کدو چنې وي.

قديد: د اوچې غوښې پوتې ته وايي. کدو او تينډه ټول د يو مزاج سبزي ده. د دې حديث نه معلومه شوه چې د غريبانانو دعوت قبلول مسنونه طريقه ده. او خپل خادمان هم د ځان سره کښول پکار دي. او که په لوښي کې مختلف شيان وي نو د هغې انتخابول او اخستل جائز دي، خو په دې شرط چې په شريکانو بده نه لږي. (مرقات ۱۸/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۷۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۵/۹ رقم الحديث ۵۴۱۷ ومسلم في ۱۷۳۶ رقم الحديث (۲۲۱۶/۹۰)

په اور باندې پوخ شوي شي خوړلو سره اودس لازم نه دی

﴿۲۰﴾ وَعَن عَمْرو بنِ أُمَيَّةَ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحتزمن كتف الشَّاة

او د حضرت عمرو بن امیه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولیدلو چې د ښیزې یوه اوږه چې د هغه په

فِي يَدِهِ فَدُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ

لاس کې وه په چاړه یې غوڅوله. بیا د غه دوران کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د لمونځ لپاره راوغښتلی شو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَأَلْقَاهَا وَالسِّكِّينَ الَّتِي يَحْتَزُّ بِهَا ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى

هغه اوږه او هغه چاړه چې اوږه یې پرې غوڅوله پرې یې ښوده له او اودرېدلو او لمونځ یې ادا کړو.

وَلَمْ يَتَوَضَّأْ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه وخت اودس ونه کړو ځکه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس ؤو.

توضیح: يحتز: ای يقطع: چاړه باندې غوڅولو ته وایي. که غوښه سخته وي نو هغه په چاړه غوڅول بهتر دي، خو که غوښه نرمه وي نو په چاړه غوڅول مناسب نه دي بلکې د عجمو ناخوښه طریقه ده. د دې حدیث نه معلومه شوه چې اهل حق کله د اذان او از واوري نو ژر لمونځ ته متوجې شي. دویمه دا خبره معلومه شوه چې اور باندې د پوخ شي خوړلو سره اودس نه ماتېږي. لکه څنګه چې د ځینو حضراتو خیال دی. (مرقات ۲۰/۸)

خوږ شی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤ

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خوږ شیز او شهد

وَالْعَسَلَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

زیات خوښول. (بخاری)

توضیح: الحلواء: د حلواء نه مراد مطلق خوږ شی دی. د هغې نه وروسته د العسل ذکر د تخصیص بعد تعمیم د. او که د حلواء نه مشهوره حلواء مراد وي نو دې کې هم هیڅ باک نشته دی. البته خاص کول محل نظر دی. بدعتیان خلک د حلواء هر تعریفونه کوي. دې حدیث کې خوږ شی مراد دی. د شان والا طبیعت

---

(1) رقم الحديث ۴۱۸۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۲۴/۹ رقم الحديث ۵۳۷۹ ومسلم في ۱۶۱۵/۳ رقم الحديث (۱۴۴-۱۲۰۴۱)

(2) رقم الحديث ۴۱۸۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۸۴/۹ رقم الحديث ۵۴۶۲ ومسلم في ۲۷۴/۱ رقم الحديث (۹۳-۳۵۵)

والا خلک هم خوږ شی خوښوي، خوږوالی د جګر غذا ده. د خوشبو د زړه غذا ده. (مرقات ۲۰/۸)

سرکه بهترین سالن دی

﴿۲۲﴾وَعَنْ جَابِرٍؓ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَ أَهْلَهُ الْأُدُمَ.

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو ورځ د خپل کور والو نه سالن وغوښتلو.

فَقَالُوا: مَا عِنْدَنَا إِلَّا خَلٌّ فَدَعَا بِهِ فَجَعَلَ

کور والو وویل چې مونږ سره سالن نشته دی. البته سرکه شته دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرکه راغوښتله

يَأْكُلُ بِهِ وَيَقُولُ: نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ. رَوَاهُ مُسلم [1]

او د هغې سره یې ډوډۍ خوړل شروع کړه او دا به یې فرمایل چې سرکه بهترین سالن دی. سرکه بهترین سالن دی.

توضیح: **ادام**: سالن ته وایي او الخل سرکې ته وایي. سرکه کم خرچ بالا نشنی سالن دی. سالن هم دی. طعام هم دی. او د بدن لپاره مفید هم دی.

د خرېږي فایدې

﴿۲۳﴾وَعَن سعيد بنِ زيدٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ

او حضرت سعید ابن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د خرېږي د من یو قسم دی.

وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ:

او د دې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده. (بخاری او مسلم) او د مسلم یو روایت کې دي چې خرېږي د

مِنَ الْمَنِّ الَّذِي أَنزلَ اللهُ تَعَالَى على مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام (مُتَّفق عَلَيْهِ) [2]

هغه مَنّ نه دی چې الله په حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نازل کړی ؤو.

توضیح: الکمأة: د دې جمع اکمؤ ده. ځمکې او د غر په خربا و لرږو او د ځښو بوټو په جړلو کې دا بوټی پیدا کېږي. د دې ډېر قسمونه دي، خو مونږ سره دوه مشهور دي. دې ته اردو کې کھمبی او زمونږ په ژبه کې ورته خرېږي وایي. دا د بارانونو په موسم کې کېږي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دا د سترګو لپاره شفاء ده. دې ته شحم الارض هم وایي، ځکه د وازګې پشان یو ځکې

([1]) رقم الحديث ۴۱۸۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۵۷/۹ رقم الحديث ۵۴۳۱ ومسلم في ۱۱۰۱/۲ رقم الحديث (۲۱-۱۴۷۴)

([2]) رقم الحديث ۴۱۸۳ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۲۲/۳ رقم الحديث (۱۶۶-۲۰۲۵) وأبوداود في السنن ۱۹۹/۴ رقم الحديث ۳۸۲۰

بوتې دی. شودو يا اوبو کې پخول کېږي. دا تازه غوښې پشان خوندور وي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دا يو نعمت دی، لکه څنګه چې بنی اسرائيلو ته د نعمت په توګه صحراء کې من او سلوی ورکړی شوې ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې يوه فائده دا ويلې ده چې که د دې اوبه وزببنلی شي نو د شپې يو څاکی په سترګه کې واچولی شي نو نظر صحيح کېږي. باب الطب کې به د دې بيان ان شاء الله راشي.

د خربوزې او کهجورو يو ځای کولو حکم

﴿۲۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ

او حضرت ابن جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خربوزه او تازه کجورو ملاؤولو

الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او خوړلو باندې ليدلی دی.

توضيح: رطب: لوندو کجورو ته وايي او القثاء خربوزه ته وايي. چې اوږده اږده مېوه يې وي. ګويا کې ماردی کجوره ګرمه وي. او خربوزه يخه وي. دغه شان چې دواړه ملاو کړی شي نو اعتدال پيدا شي. (مرقات ۸/۲۴، ۲۳)

د پيلو دونې فضيلت

﴿۲۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو موقع کې مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په مقام مرالظهر کې ؤو.

نَجْنِي الْكَبَاثَ فَقَالَ:

چې مکې ته نژدې يو ځای دی. او پيلو پخې پخې مېوې مو راجمع کولې. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې

عَلَيْكُم بِالْأَسْوَدِ مِنْهُ فَإِنَّه أَطْيَبُ فَقِيلَ:

د دې کومه مېوه توره وي نو هغه واخلئ ځکه هغه ښه وي. او فائده هم رسوي. مونږ عرض وکړو

أَكُنْتَ تَرْعَى الْغَنَمَ؟ قَالَ: نَعَمْ

يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آيا تا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بزې څرولې دي؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل آؤ.

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۸۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۱۶۳ رقم الحديث ۵۷۰۸ ومسلم في ۳/۱۶۱۹ رقم الحديث (۱۵۷-۲۰۴۹)

وهلْ منْ نبيٍّ إلاَّ رعاها؟ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او کوم نبي دی چې بزې يې نه وې څرولې.

توضيح: بمر الظهران: دا مکې مکرمې ته نزدې د يو مقام نوم دی. همدلته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فتح مکه په موقع باندې پراؤ اچولی ؤو.

نجنی: انتخابول او د راماتولو په معنی کې دی. (مرقات ۲۳/۸)

الكباث: د پيلو پخو مېوؤ ته وايي "ای النضيج من ثمر الراك" (مرقات ۲۳/۸)

وهل من نبي: صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کله چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا واورېدل چې د پيلو د مېوؤ نه تورو خورئ دا ډېر خوند وروي، نو دېنه صحابه کرامو اندازه ولګوله چې دا معلومات صرف هغه خلکو ته وي چې صحراء کې بزې څروي. دې وجې نه صحابه کرامو وپوښتل چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آيا تا بزې څرولې دي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يوې ظابطې اړخ ته اشاره وکړه چې هر نبي بزې څرولې دي. دې کې دا حکمت وي چې بزه يو عاجز او کمزوری حيوان دی، خو طبعي توګه باندې څرولو کې ډېر متحرک واقع دی. د بوتې يوه پاڼه د يو ځای نه خورې اوبه ليدلو سره بل ځای ته رسېږي. که معمولي کاڼې باندې ويشتلی شي نو مړه کېږي. ځنګل کې د بزې دښمنان هم زيات وي، ځکه لومبړه هم دا څېرولی شي، نو ځکه د څرونکو په مزاج کې عاجزې، اعتدلال او د سخت برداشت ماده پيدا شي. او همدغه شيان دي چې انبياؤ ته يې ضرورت وي. چې آينده عوامو ته لارشي او په کولاوه سينه او په سړو مازغو هغوی پوهه کړي. بزو څرولو سره د نظم او ضبط مهارت هم حاصليږي. چې بيا د انسانانو منظم کول او تاوده او يخ برداشت کول اسان وي. ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات کې ليکلي دي چې حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه الله وپوښتل چې آيا ته پوهېږي چې تاله مو ولې نبوت درکړو.؟ حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په نفي کې جواب ورکړو، نو الله جواب ورکړو چې تا يو ځل بزې څرولې او يوه بزه درنه وتښتېدله نو هغې پسې شوی او ښه سترې شوی، خو بزه دې ونېوله او هغې ته دې وويل چې او بې وسې! ځان دې هم په مصيبت کې واچولو او زه دې په مصيبت کې واچولم. ما چې وليدل چې په حيوان ستا دومره شفقت دی نو ته مې د انسانانو لپاره کړي او وراومې لېږلې.

نن سبا خلک بغير د تربيت نه دعوت کونکي جوړ شي او نقصان کوي. د حديث نه معلومه شوه چې نبوت هميشه په عاجزه او متواضع طبقاتو کې راغلی دی.

([1]) رقم الحديث ۴۱۸۵ اخرجه البخاري في ۵۶۴/۹ رقم الحديث ۵۴۴۰ ومسلم في ۱۶۱۶/۳ رقم الحديث (۱۴۷۱-۲۰۴۳)

د خوراک کولو وخت کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کیفیت

﴿۲۶﴾وَعَن أنس قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْعِيًا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اقعاء په حالت کې ناسته باندې

يَأْكُلُ تَمْرًا وَفِي رِوَايَةٍ: يَأْكُلُ مِنْهُ أكلا ذريعا. رَوَاهُ مُسلم [1]

کجورو خوړلو باندې لیدلی دی او یو روایت کې دا دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کجورې ژر ژر خوړلې.

توضیح مقعیاً: د اقعاء نه دی. د کیناستلو یو حالت دی. چې کس په کې په کوناتو باندې کښې او. په زنګنونو باندې ودریږي. دا یو متواضع صورت دی.

ذریعاً: ژر ژر یې خوړلې. کښدی شي په څه وجه تندئ کې ؤو. (مرقات ۲۴/۸)

د ملګرو سره دوه دوه کهجوري یو ځاې مه خورئ

﴿۲۷﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْرِنَ الرَّجُلُ بَيْنَ

او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه منع کړې ده چې یو کس دوه کجورې

التَّمْرَتَيْنِ حَتَّى يستأْذِنَ أَصْحَابه (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

یو ځاې کړي او په یو ځل دوه کجورې وخوري، خو مګر دا چې د خپلو ملګرو نه اجازت وغواړي.

توضیح: ان یقرن: د ضرب او نصر دواړو نه راځي. قران دوه کجورې یو ځای کول او خوړلو ته وایي. علمه سیوطی فرمایي چې دا د هغه وخت خبره ده چې کله د خوراک ډېره تنګسیا وه. بیا چې کله وسعت شو نو دا حکم موقوف او منسوخ شو. اوس دوه کجورې په ځای خوړلی شي.

بهرحال د ادب تقاضا همدغه ده چې د ملګرو سره په مجلس کې یوه یوه کجوره مستحب دي، خو جدا یې څوک خوري نو دري دري هم په وی ځل خوړلی شي. او که د مجلس ټول ملګري اجازت وکړي نو بیا هم دوه دوه په یو ځای خوړلی شي، لکه څنګه چې دې حدیث کې ذکر دي. (مرقات ۲۵/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۱۸۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۷۵/۹ رقم الحديث ۵۴۵۳ ومسلم في ۱۶۲۱/۳ رقم الحديث (۱۶۳-۱۲۰۵۰)

([2]) رقم الحديث ۴۱۸۷مسلم في صحيحه ۱۶۱۶/۳ رقم الحديث (۱۴۸-۲۰۴۴) و(۱۴۹-۲۰۴۴)

كور كې د كهجورو ساتلو فضيلت

﴿۲۸﴾وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:لَا يَجُوعُ أَهْلُ بَيْتٍ

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د هغه كور خلك نه وږې كېږي

عِنْدَهُمُ التَّمْرُ. وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ:يَا عَائِشَةُ بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ

چې كوم كور كې كجورې وي. او يو روايت كې داسې دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې

جِيَاعٌ أَهْلُهُ قَالَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]

كوم كور كې كجورې نه وي د هغه كور والا وږې دي. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا الفاظ دري ځله وفرمايل.

توضيح: يعنې كه په كور كې كجورې وي نو د كور والا په فقر او فاقه كې نه دي. او كه كجورې په كور كې نه وي نو وږې دي. دا حديث د هغه خلكو متعلق دی چې مدينه منوره كې اياد ؤو. د هغوی ګوزاره به صرف په كجورو وه. دغه شان دې حديث كې د كجورو څه فضيلت هم بيان شوی دی چې كور كجورې د بركت سبب دی. د دې نه دا معلومه شوه چې كجورې كور كې ذخيره كول جائز دي. او دا هم معلومه شوه چې كه صرف كجورې وي او نور هيڅ نه وي نو بيا هم كس له دا شكايت جائز نه دی چې كور كې د خوراک لپاره هيڅ نشته دی. (مرقات ۲۴/۸)

﴿۲۹﴾وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ:مَنْ تَصَبَّحَ

او حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې كوم كس د سحر وخت كې دبل كوم

بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

شې خوړلو نه مخكې اؤوه (۷) عجوه كجورې خوړې هغې ته به د هغه ورځ هيڅ زهر او جادو نقصان نه روسوي.

توضيح: **تمرات عجوة**: عجوه د مدينې په ښو كجورو كې دي. رنګ يې تور وي، خوږوالي كې ډېر خوږ نه وي بلكې معتدل وي. د دې هډوكی ګول وي. دانه هم ګول وي. ډېرې ګرانې دي. يو زمانه كې به په سل (۱۰۰) ريال يوه كلو خرڅېدله. دې كې الله يو خاصيت ايښی دی چې سحر كې د دې اؤوه دانې په نهره خوله خوړلو سره سړی د زهر او سحر نه محفوظ وي. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كېدی

([1]) رقم الحديث ۴۱۸۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳۱/۵ رقم الحديث ۲۴۸۹ ومسلم في ۱۹۱۷/۳ رقم الحديث (۱۵۱-۲۰۴۵)

([2]) رقم الحديث ۴۱۸۹ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۱۸/۳ رقم الحديث (۱۵۳-۲۰۴۶) وأبوداود في السنن ۱۷۴/۴ رقم الحديث ۳۸۳۱

شي چې د عجوه کجورې لپاره دعا غوښتلې وي چې به کجوره کې دا اثر وي. د اؤوه شمير د لله په علم کې دی چې په دې کې څه حکمت دی. آينده د عجوه نور تفصيل راروان دی. (مرقات ۸/۲۷)

﴿۳۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ فِي عَجْوَةِ

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د عاليه په عجوه

الْعَالِيَةِ شِفَاءً وَإِنَّهَا تِرْيَاقٌ

کجورو کې شفاء ده. او هغه د زهرو وغيره لپاره دی تریاق خاصيت لري. چې د ورځ په ابتدائی

أَوَّلَ الْبُكْرَةِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

برخه کې يعنې په نهره وخوړلی شي.

توضيح العالية: د مدينې اطرافې علاقو ته عوالی وايي. ځينې عوالي درېو نه تر د آته (۸) کلومزټره پورې واقع دي. د بحث لاندې حديث کې په مدينه منوره کې په عوالې د يو عوالې ذکر دی.

اول البكرة: يعنې سرح په نهره خوړلو سره به دا فائده وي. تریاق د يوې دوائی نوم دی چې د زهرو لپاره ګټور وي. وايي (مرقات ۸/۲۸، ۲۷).

چوں تریاق از عراق آوردہ شود مار گزیدہ مردہ شود

ولږه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کور کې

﴿۳۱﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ يَأْتِي عَلَيْنَا الشَّهْرُ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ځينې مياشت به مونږ باندې دسې تېرېدله چې مونږ به هغې کې اور نه بلولو.

مَا نُوقِدُ فِيهِ نَارًا إِنَّمَا هُوَ

يعنې وخت به مو توله مياشت ګوزاره کوله. زمونږ کور کې د خوراک د سامان د نشتوالي په وجه په نغرې کې به اور نه بليدلو

التَّمْرُ وَالْمَاءُ إِلَّا أَنْ يُؤْتَى بِاللُّحَيْمِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

او هغه وخت کې به زمونږ انحصار صرف په کجورو او اوبو باندې وُو، خو دا چې کله به لږه شان غوښه راغله.

---

(1) رقم الحديث ۴۱۹۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۶۹/۹ رقم الحديث ۵۴۴۵ ومسلم في ۱۶۱۸/۳ رقم الحديث (۲۰۴۷-۱۵۵)

(2) رقم الحديث ۴۱۹۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۱۹/۳ رقم الحديث (۱۵۶-۲۰۴۸) وأحمد في المسند ۱۰۵/۶.

توضیح لُحیم: دا د لحم تصغیر دی. د ثقلیل لپاره دی. یعنې د بهر نه به چې کله هم چا تحفه راولېږله نو بیا به مونږ غوښه خوړله. ګنې کجورو او اوبو باندې به مو ګوزاره کوله. یاده دې وي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ولېږې اختیاري وي. دا د شرم سبب نه ؤ. بلکې د فخر سبب د چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذات کې د ټولو انبیاؤ صفات پیدا شي.

حسن یوسف دم عیسیٰ ید بیضا داری

آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

﴿۳۲﴾وَعَنْهَا قَالَتْ: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ يَوْمَيْنِ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې کله هم داسې نه دې شوې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور والو ته دوه ورځې
مِنْ خُبْزِ بُرٍّ إِلَّا وَأَحَدُهُمَا تمر (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
د غنمو ډوډۍ باندې خیټه دکه کړي وي او په هغه دوه ورځو کې یوه ورځ خوراک د کجورو نه وه.

توضیح خبزبر: یعنې د غنو په ډوډۍ خیټه نه ده ډکه شوې، د جوارو هغې باندې به ډکه وه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فقر او فاقې او د ترک دنیا باره یوه ضابطه د خپل ځان لپاره مقرره کړې وه. دویمه ضابطه د اهل بیتو لپاره وه. او دریمه ضابطه د عام امت لپاره وه. د ځان لپاره خالص فقر ؤ. د اهل بیتو لپاره څه د ساتلو ضرورت ؤ. د امت لپاره یې اسانې وساتله. (مرقات ۲۸/۸)

په اوبو او کجورو باندې ګله هم خیټه ډکه نه شوه

﴿۳۲﴾وَعَنْهَا قَالَتْ: تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا شَبِعْنَا
حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې دنیا نه لاړو او مونږ د هغې په ژوند
مِنَ الأسودين (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
کې کله دوه تور څیزونه یعنې کجورې او اوبه په مړه خیټه ونه څښلې.

توضیح الاسودین: د دوه تورو نه مراد اوبه او کجورې دي. اوس پوښتنه دا ده چې د اوبو ملاوېدل څه مشکل ؤ چې په هغې یې خیټه نه وه ډکه شوې؟ نو د دې جواب دا دی چې سړی په نهره خوله اوبه نه شي څښلی. چې په خیټه کې کجورې وغیره نه وي نو په نهره اوبه هم نه څښل کېږي، نو ځکه د

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۹۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۸۲/۱۱ رقم الحديث ۶۴۵۸ ومسلم في ۲۲۸۲/۴ رقم الحديث (۲۶-۲۹۷۲)

(۲) رقم الحديث ۴۱۹۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۸۲/۱۱ رقم الحديث ۶۴۵۵ وابن ماجه في السنن ۱۱۱۰/۲ رقم الحديث ۳۳۴۴.

کجورو نه ملاوبدلو په وجه ګویاکې اوبه هم په ملاوې نه شوې چې خیټه پرې ډکه شي. د اسو دین د ترغیب په توګه دی. ګنې اوبه توري نه وی. (مرقات ۲۹/۸)

﴿۳۴﴾ وَعَنِ النُّعمانِ بن بشيرٍ قَالَ: أَلَسْتُمْ

او د حضرت نعمان ابن بشیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغې یو موقع کې وفرمایل چې آیا تاسو چې

فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ؟

خپل خوراک څښاک کې څنګه غواړي عیش نه کوئ؟ یعنې تاسو په خپل خوراک او څښاک کې د خپل خواهش مطابق وسعت

لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او افراط اختیارولو سره د عیش او راحت ژوند تېروئ. او حال دا چې ما ستاسو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسې حال کې لیدلی

وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَأُ بَطْنَهُ. رَوَاهُ مُسلم [1]

دی چې هغوی ته به ناکاره کجورې هم دومره نه ملاوبدلې چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې خپله خیټه ډکه کړی وی.

توضیح: **الدقل**: ناکاره کجورو ته دقل وایي. حضرت نعمان ابن بشیر خو یا دا کلام د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرګ نه وروسته صحابه ته کړی دی. یا یې تابعینو ته کړی دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې فاني دنیا ته د عیش او عشرت لپاره نه ؤو راغلی، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دنیا د خوندونو نه ځان وساتلو. څه به چې ورسره ؤو نو په نور به یې قربانول. او خپله به یې فقر او فاقه برداشت کول. دا فقر اختیاري وه. ځینې روایتونو کې دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به صرف په کجورو ګوزاره کوله. بل هیڅ خوراک به نه ؤو. بیا یو حدیث کې دي کجورې به هم ډېرې لږې وي او هغه کجورې به هم ناکاره وي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زهد او قناعت ژوند تېر کړو او کرامت یې دې فاني دنیا ته د تعلیم او مثال په توګه پریښود لو. قصدیه برده کې دي ـ

ظلمت سنة من احیا الظلام الی ❁ ان اشتکت قدماه الضر من ورم

و شد من سغب احشائه وطویٰ ❁ تحت الحجارة کشحاً مترف الادم

اومه ؤوړه خوړل څنګه ده؟

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَيُّوب قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ

او حضرت ابوایوب انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خوراک راوړلی شو

---

(۱) رقم الحدیث ۴۱۹۵ اخرجه مسلم في صحیحه ۲۲۸۴ رقم الحدیث (۲۹۷۷) والترمذي في ۴/۵۰۶، رقم الحدیث ۲۳۷۲

أَكَلَ مِنْهُ وَبَعَثَ بِفَضْلِهِ إِلَيَّ وَإِنَّهُ بَعَثَ إِلَيَّ يَوْمًا
نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه خوړلو او پاتې خوراک به يې ماته راليږلو. يو ورځ يې ماته داسې
بِقَصْعَةٍ لَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا لأَنَّ فِيهَا ثُومًا
کاسه راولېږله چې خوراک په کې ؤو. او د هغې نه يې هيڅ نه ؤو خوړلې ځکه هغې د اوږې بوې ؤو.
فَسَأَلْتُهُ: أَحَرَامٌ هُوَ؟ قَالَ:لَا وَلَكِنْ أَكْرَهُهُ مِنْ أَجْلِ رِيحِهِ .
ما وپوښتل چې آيا اوږه حرامه ده؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل نۀ بلکې د دې د بوې په وجه زه دا نه خوښوم.
قَالَ : فَإِنِّي أَكْرَهُ مَا كرهت. رَوَاهُ مُسلم[1]
ابوايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو چې يا خويې زه هم نه خورم، ځکه کوم شی چې تا ناخوښه کړی دی هغه زه هم نه خوښوم.

توضيح اق بطعام: د يمن بادشاه په مدينه حمله وکړه چې بيا په کې د هغې ځوي مړ شو. هغې د مدينې د ورانولو قسم وخوړلو. د مدينې ځينې يهود علماؤ هغې ته وويل چې داسې مه کوه دا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هجرت آخري ځای دی. هغه به د مکې نه هجرت وکړي او دلته به راشي، نو بادشاه توبه وکړه. او يو کوريې جوړ کړو چې کله هغه مدينې ته راشي، نو دې کور کې به اوسيږي. هغه يو رقعه (چيټۍ) هم ولېکله. چې يو څو شعرونه په کې ؤو. دوه شعرونه دا دي.

شهدت على احمد انه رسول من الله باری النسم

فلو مد عمری الی عمره لكنت وزير آله وابن عم

حضرت ابوايوانصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه بادشاه د خاندان نه ؤو او اتفاقاً په همغه کور کې اوسيدلو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې مدينې ته تشريف راوړو نو هر انصاري غوښتل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما کور کې ؤاوسيږي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې خما اوښه ازاده پرېږدئ، دا چې چرته کيناستله نو زه به هلته اوسيږم، نو اوښه راغله او د ابوايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کور مخې ته کيناستله. د مدينې انصارو به چې کله دعوت ورکولو نو خوراک به يې پوخ کړو او د هغې کور ته بې راوړلو او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلو صحابؤ سره خوړلو. هم هغې ته دې حديث کې اشاره ده. چې "اذا اق بطعام" يعنې کله به چې خورک راوړلی شو.

د اوږې په وجه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوراک قبول نه کړو او په ملګرو يې وخوړلو. اومه اړه خوړل

---

(1) رقم الحديث ۴۱۹۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۲۳/۳ رقم الحديث (۱۷۰-۲۰۵۳) والترمذي في السنن ۲۳۰/۴ رقم الحديث ۱۸۰۷.

حرامه نه ده. البته مکروه ده. (مرقات ۳۱/۷، ۳۰)

د پیاز، اوږه او بدبویه شی خوړلو سره جومات ته تلل منع دی

﴿۳۶﴾وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کوم کس چې اوږه یا کچه پیاز وخوري

فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ قَالَ:

نو هغې له پکار ده چې هغه زمونږ نه جدا شي یعني زمونږ مجلس ته دې نه راځي. یا یې دا وفرمایل چې هغې له پکار

فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا أَوْ لِيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ.

ده چې زمونږ جومات ته رانشي. یا یې دا وفرمایل چې هغه چرته د تلو نه په ځای خپل کور کې کیني. او د یوې

وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ

ورځې واقعه ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له پتیلا راوړلی شوه. چې هغې هر قسمه ترکاري وه. یعنې اوږه، پیاز او غنم

فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا فَقَالَ: قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ

وغیره نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې کې بوې محسوس کړو نو خپلو صحابؤ کې یې یو کس ته وکړه

أَصْحَابِهِ وَقَالَ: كُلْ

او ورته ویې فرمایل چې دا هغه فلاني کس له ویسه او هغه کس یې مخاطب کړو او ویې فرمایل چې ته دا وخوره،

فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لَا تُنَاجِي (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

زه یې نه خورم ځکه زه چې د کومې هستئ سره خبرې کوم هغې سره ته خبرې نه کوي.

توضیح: مسجدنا: راوي ته په بیان کولو کې دوه ځای شک شوی دی نو ځکه یې "او" ذکر کړی دی. چې د شک لپاره راځي. هر هغه کس چې کچه پیاز یا اوږه یا مولئ یا ګندنا یا تمباکو یا نسوار یا پان استعمالوي او د خولې نه یې بدبوې خبړې یا هسې د بیماری په وجه د هغې د خولې نه بدبویې ځې نو د داسې کس لپاره جومات ته تلل مکروه دي. ترڅو چې بدبوې لاړه نشي. د جومات نه بغیر د عام خلکو مجلسونه ته تګ هم مکروه دی. **قربوا** او د **اکل** په الفاظو کې تعارض نشته دی،

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۹۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۹/۲ رقم الحديث ۸۵۵، ومسلم في ۳۹۴/۱ رقم الحديث (۷۳-۵۶۴)

جدا جدا مخاطب کړی شي جمع هم او مفرد هم. دې حدیث کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نه خوړلو علت دا بیان کړی دی چې زما خبرې د فربښتو سره وي نو ځکه احتیاط کوم. ستاسو معامله داسې نه ده، تاسو یې وخورئ. (مرقات ۳۲/۸، ۳۱)

﴿۳۷﴾ وَعَنِ الْمِقْدَامِ بن معدي كرب عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت مقداد ابن معدیکرب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

كيلوا طَعَامك يُبَارك لكم فِيهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

چې د خوراک او څښاک څیزونه تلئ. تاسو له دې کې برکت اوچولی کېږي.

توضیح كيلوا: د کیل نه دی د تللو په معنی کې دی. دا چې کوم څیزونه تلل کېږي نو هغه غله وي او غله خوړلی کېږي، نو ځکه یې په اطعمه کې ذکر کړو. ګنې دا د کتاب البیوع مسئله ده. هلته لیکلی شوې ده. (مرقات ۳۲/۸)

د خوراک نه وروسته د الله تعالی حمد و ثناء

﴿۳۸﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهُ

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مخې نه به چې دسترخوان اچتولی کېدلو

قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا

نو د الله په حمد او ثناء کې به یې داسې فرمایل چې ټول تعریفونه الله لره دي. داسې تعریف چې ډېر دی او پاک دی یعنې

مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مَكْفِيٍّ

بنکاره کولو او دریا نه خالي دیر چې برکت په کې اچولی شوی دی یعنې هغه داسې د برکت والا حمد دی چې

وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبُّنَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

همیشه جاري وي او کله نه قطع کېږي. هغه نه کفایت شوی دی او نه ترېنه بې پروائی وي. ای زمونږه ربه.

توضیح غير مكفي: د دې لفظ نه تر آخر پورې ټولې جملې او ټول کلام د حمد صفت هم کېدی شي. او د خوراک صفت هم کېدی شي. دواړو صورتونو کې به مطلب کې فرق راځي. که د حمد صفت وي نو مطلب به داسې وي چې دا حمد به همیشه همیشه د الله لپاره قائم او دائم ساتو. هیڅ یوې مرحله

---

(۱) رقم الحديث ۴۱۹۸ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۴۵/۴ رقم الحديث ۲۱۲۸ وابن ماجه في السنن ۷۵۱/۲ رقم الحديث ۲۲۳۲.

(۲) رقم الحديث ۴۱۹۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۵۸۰/۹ رقم الحديث ۵۴۵۸ وأبوداود في السنن ۱۸۶/۴ رقم الحديث ۳۸۴۹.

کې به دا مونږ کافي نه ګڼو. بلکې مسلسل به جاري وي.

ولا مودع: یعنې دا تعریف به مونږ نه پرېږدو بلکې مسلسل به یې جاري ساتو. (مرقات ۳۴/۸)

ولا مستغنی عنه: او نه به مونږ د دې حمد نه مستغني کېږو. بلکې دې ته مونږ هر وخت محتاجه یو. خلاصه دا چې دا په هیڅ حد کافي ونه ګڼلی شي او نه دا پرېښودلی شي او نه د دې نه بې پروائی وکړی شي. که دا جملې د خوراک صفت جوړ کړی شي نو بیا به د دې جملو مطلب دا سې وي چې خورک د الله نعمت دی. هیڅ وخت دا کافي ونه ګڼلی شي بلکې هر وخت د دې احتیاج ساتل پکار دی.

ولا مودع: یعنې نه د دې لټه او طلب پرېښودلی کېدی شي او نه د دې نه مستغني کېدلی شي. (مرقات ۳۴/۸)

د خوراک ځکاک نه وروسته د الله شکر ادا کړئ

﴿۳۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيَرْضَى

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله د بنده د هغه خبرې نه

عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ

خوشحاله او راضي کېږي چې یوه مړۍ وخوري او هغې باندې د خدای حمد او ثناء بیان کړي یا یو ځل وڅکي

فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1] سنذكره

او په هغې د خدای حمد او ثناء بیان کړي، نور دوؤ (۲) روایتونو کې چې هغې کې یو روایت د

حَدِيثِي عَائِشَةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دی او دویم روایت د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی. دا دواړه روایتونه به

مِنَ الدُّنْيَا. فِي بَابِ فَضْلِ

ان شاء الله مونږ په باب فضل الفقراء کې نقل کوؤ یعنې دواړه روایتونه صاحب مصابیح په کتاب الاطعمه کې نقل کړي ؤو

الْفُقَرَاءِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى

خو مونږ دا په باب فضل الفقرآء کې نقل کړی دی.

توضیح: یعنې چې د چا کلی وي نو د هغه ځای بادشاه دربانديې خوري نو تعریف هم د هغې پکار دی ځکه "الانسان عبد الاحسان"

([1]) رقم الحديث ۴۲۰۰ اخرجه مسلم فی صحيحه ۲۰۹۵/۴ رقم الحديث (۸۹-۲۷۳۴)

الفصل الثاني

د خوراک نه مخکې بسم الله ووايئ

﴿۴۰﴾عَن أَبِي أَيُّوب قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُرِّبَ طَعَامٌ

حضرت ابوايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ مونږ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ؤوچې خوراک راوړلی شو.

فَلَمْ أَرَ طَعَامًا كَانَ أَعْظَمَ بَرَكَةً مِنْهُ

د خوراک دوران کې ما محسوسه کړه چې ما هغه چې په دې خوراک کې کوم لويې برکت وليدلو کله

أَوَّلَ مَا أَكَلْنَا وَلَا أَقَلَّ

چې مونږ خوراک شروع کړی ؤو. داسې برکت ما په هيڅ خوراک کې نه ؤو ليدلی او د خوراک په

بَرَكَةً فِي آخِرِهِ قُلْنَا:

آخر کې مې چې کوم کم برکت وليدلو نو داسې کم برکت هم په هيڅ خوراک نه ؤو ليدلی، نو مونږ عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ هَذَا؟ قَالَ:

چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د دې څه سبب دی. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې حقيقت کې

إِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ حِينَ أَكَلْنَا ثُمَّ قَعَدَ مَنْ أَكَلَ

مونږ د خوراک په اول کې د الله نوم اخستی ؤو خو وروسته يو داسې کس کينا ستلو چې خوراک يې خو وکړو

وَلَمْ يُسَمِّ اللهَ فَأَكَلَ مَعَهُ الشَّيْطَانُ. رَوَاهُ فِي شرح السنة[1]

خو د الله نوم يې وانغستلو. لهذا د هغې سره شيطان هم وخوړله. په دې وجه آخر کې بې برکتې وشوه.

که هيرشي د نه نو په مينځ کې هم بسم الله ووايئ

﴿۴۱﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كله چې تاسو کې کوم کس خوراک

فَنَسِيَ أَنْ يَذْكُرَ اللهَ عَلَى طَعَامِهِ فَلْيَقُلْ:

ته کيني او شروع کې ترېنه د الله نوم هيرشي او د خوراک په مينځ کې ورته راياد شي نو هغې له

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۰۱ أخرجه البغوي في شرح السنة ۲۷۵/۱۱ رقم الحديث ۲۸۴۴

بِسْمِ اللهِ أَوَّلَه وآخرَه". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد[1]

پکار ده چې هغه دا اوايي چې بسم الله اوله و اخره.

﴿۴۲﴾ وَعَن أُمَيَّةَ بن مَخْشِيٍّ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ يَأْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ

او حضرت اميه بن مخشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ يو کس د خورک لپاره کيناستلو نو هغې د الله نوم وانخستلو

حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهِ إِلَّا لُقْمَةٌ

يعنې د بسم الله لوستلو نه بغير کيناستلو تردې چې هغه کې خوراک کې بغير د يوې مړئ نه بغير هيڅ پاتې نشو

فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ

او هغې ته راياد شول مانه د خوراک په شروع کولو کې بسم الله هيره شوې وه، نو هغې هغه آخري مړئ خلې

قَالَ: بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ فَضَحِكَ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ته د وړولو وخت کې بسم الله اوله و آخره وويله. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ليد لو سره وخندل او

ثُمَّ قَالَ: مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللهِ

وې فرمايل چې شيطان د دې سره سم لږيا وُو خو چې دې د الله نوم واخستلو نو د شيطان نه هغه

اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

ټول څه راوُتل کوم چې د هغې په خيټه کې وُو.

توضيح: استقاء: کوم څه يې چې په خيټه کې وُو هغه يې کانکې کړي. څه يې چې تېر کړي وُو هغه يې راغوزار کړل. (مرقات ۳۹/۸)

د خوراک نه وروسته دعا

﴿۴۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خوراک نه فارغ شو

قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا

نو فرمايل به يې هر قسمه تعريف د الله لپاره مناسب دی. چې هغې مونږ له د خوراک لپاره راکړل. مونږ

---

(1) رقم الحديث ۴۲۰۲ أخرجه أبوداود في السنن ۱۳۹/۴ رقم الحديث ۳۷۶۷ والترمذي في ۲۵۴/۴ رقم الحديث ۱۸۵۸

(2) رقم الحديث ۴۲۰۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۰/۴ رقم الحديث ۳۷۶۸ وأحمدي المسند ۲۳۶/۴

وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه[1]

له يې څښاک راکړو او مونږه يې مسلمانان کړو. (ترمذی، ابو داؤد، ابن ماجه)

﴿۴۴﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الطَّاعِمُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې څوک خوراک وکړي

الشَّاكِرُ كَالصَّائِمِ الصابر. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2] وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

او هغه د الله شکر ادا کړي نو هغه د صبر کونکي او د روژه دار پشان دی. (ترمذی) ابن ماجه او دارمي

عَنْ سِنَانِ بْنِ سَنَّةَ عَنْ أَبِيه[3]

دا روايت د سنان بن سنه نه او هغې د خپل پلار نه نقل کړی دی.

﴿۴۵﴾وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ قَالَ:

او حضرت ابو ايوب فرمايي کله به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوراک او څښاک کولو نو فرمايل به يې

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى

چې هر قسمه تعريف د الله لپاره لائق دی. چا چې خوراک راکړو اد خورک او څښاک څيزونه يې په

وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مخرجا رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[4]

اسانۍ سره د تالو نه تير کړل او د هغې د ويستلو لاريې پيدا کړه.

د خوراک نه مخکې او وروسته لاس وينځئ

﴿۴۶﴾وَعَنْ سلمانَ قَالَ: قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ

او حضرت سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د اسلام قبلولو نه مخکې به تورات کې لوستلي ؤو چې په

أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ بَعْدَهُ

خوراک کې د برکت د خوراک نه وروسته اودس کول دي، نو د اسلام د قبلولو نه وروسته يوه ورځ ما

---

(1) رقم الحديث ۴۲۰۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۷/۴ رقم الحديث ۳۸۵۰ والترمذي في ۴۷۴/۵ رقم الحديث ۳۴۵۷.

(2) رقم الحديث ۴۲۰۵ أخرجه الترمذي في السنن ۵۶۳/۴ رقم الحديث ۲۸۳۲ وأحمدي المسند ۲۸۳/۱

(3) رقم الحديث ۴۲۰۶ أخرجه ابن ماجه في السنن ۵۶۱/۱ رقم الحديث ۱۷۶۵ والدارمي في ۱۳۰/۲ رقم الحديث ۲۰۲۴

(4) رقم الحديث ۴۲۰۷ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۷/۴ رقم الحديث ۳۸۵۱

فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَرَكَةُ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د دې مضمون ذكر وكړو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې خوراک کې

الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ(۱)

د برکت ذريعه د خوراک نه مخکې اودس کول دي او د خوراک نه وروسته اودس کول دی.

توضيح: **في التوراة**: تورات کې د خوراک کولو نه وروسته د لاس وينځلو او د خولې د کنګالولو بيان ؤو. صحابي هغه لوستلی ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې د هغې تذکره وکړه چې د خوراک نه مخکې هم لاس وينځل پکار دي او د خوراک نه وروسته. دا دواړه د برکت سبب دی. گويا کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره وکړه چې شريعت محمد کامل او پوره بلکې اکمل دين دی. د شريعت د تکميل تقاضا ده چې د خوراک نه مخکې هم لاس وينځل دي او وروسته هم وينځل دي. دلته د اودس نه اصطلاحي اودس والا اودس مراد نه دی بلکې د دې نه نه لغوي اودس مراد دی، چې صرف لاس وينځل او خله کنګالول دي، او همدغه اودس د **مما مست النار** لپاره دی، جلد اول کتاب الطهارة کې دا مسئله په تفصيل سره ليکلی شوې ده. (مرقات ۴۱/۸)

﴿۴۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ

او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تشناب نه بهر ته راغلو نو

فَقُدِّمَ إِلَيْهِ طَعَامٌ فَقَالُوا: أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ؟

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له خوراک راوړلی شو. ځينې صحابه کرامو عرض وکړو چې مونږ تاله د اودس اوبه

قَالَ: إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ

راوړو؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې ماته د بې اودسۍ نه وروسته د اودس کولو حکم د وجوب د طريقې

إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ

حکم هغه صورت کې راکړی شوی دی چې لمونځ ته د اودريدلو اراده وکړمه. (ترمذی، ابوداؤد،

---

(۱) رقم الحديث ۲۲۰۸ أخرجه ابوداود في السنن ۱۳۶/۴ رقم الحديث ۳۸۵۱ والترمذي في ۲۴۸/۴ رقم الحديث ۱۸۴۶.

وَالنَّسَائِيُّ[1] وَرَوَاهُ ابْن مَاجَه عَن أَبِي هُرَيْرَة[2]
نسائی) او ابن ماجه دا روایت د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

توضیح: یعنې اصطلاحي شرعي اودس هغه وخت کې کله چې سړی لمونځ ته اودریږي او اودس یې نه وي، نو هغه وخت اودس فرض دی. د خوراک کولو لپاره اصطلاحي اودس لازم نه دی.

مینځ پرپرډئ او د غاړو نه یې خورئ

﴿۴۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ أُتِيَ بِقَصْعَةٍ مِنْ ثَرِيدٍ
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې یو ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې د ثرید یوه
فَقَالَ: كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا
پیاله راوړلی شوه. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مجلس کې موجود صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته وفرمایل چې د دې
وَلَا تَأْكُلُوا مِنْ وَسَطِهَا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ فِي وَسَطِهَا.
پیالې د غاړو نه یې وخورئ، د دې د مینځ نه یې مه خورئ، ځکه برکت د دې په مینځ کې نازلیږي.
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حسن صَحِيح
(ترمذی، ابن ماجه، دارمي) ترمذی ویلي دي چې دا حدیث صحیح حسن دی او د
وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ قَالَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا
ابوداؤد په روایت کې داسې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: تاسو کې یو کس د خوراک کولو لپاره کینې
فَلَا يَأْكُلُ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ وَلَكِنْ يَأْكُلُ مِنْ أَسْفَلِهَا
نو هغې له پکار ده چې د پیالې د برې نه یې نه خوري بلکې د پیالې د لاندې نه دې خوري ځکه د
فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا[3]
برکت برنئ برخه کې نازلیږي.

---

(1) رقم الحديث ۴۲۰۹ أخرجه أبوداود في السنن ۱۳۶/۴ رقم الحديث ۲۷۶۰ والترمذي في ۲۴۸/۴ رقم الحديث ۱۸۴۷

(2) رقم الحديث ۴۲۱۰ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۰۸۵/۲ رقم الحديث ۳۲۶۱

(3) رقم الحديث ۴۲۱۱ أخرجه أبوداود في السنن ۱۴۲/۴ رقم الحديث ۳۷۷۲ والترمذي في ۲۲۹/۴ رقم الحديث ۱۸۰۵

توضیح: کلوا من جوانبها: د لوښي مینځ کې د خوراک لویه برخه وي. برکت او ادب د خوراک دا دی چې دې کې د لویې برخې د غاړو نه وخوړلی شي. دا نه چې د خوراک ابتداء د مینځ نه وکړي او دا راوغورځوي. دا سپک خوئي هم دی. او د برکت لپاره نقصان هم دی. د اعلی رکابي نه هم دغه پاسنۍ برخه مراد ده. او د اسفل رکابی نه لاندنۍ برخه او د هغې غاړې مراد دی.

ثرید: هغه خوراک ته وایې چې ډوډۍ په ښوروه کې اچولو سره ښه نرمه کړی شي او بیا وخوړلی شي، خوندوره هم وي، ژر هضمېږي هم او کم خرچ بالانشین هم ده. (مرقات ۴۳/۸)

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم په تکیه وهلو سره خوراک نه دی کړی

﴿۴۹﴾ وَعَن عبد الله بن عَمْرو قَالَ: مَا رُئِيَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مُتَّكِئًا

او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تکیه لګولو سره خوراک کولو

قَطُّ وَلَا يَطَأُ عقبه رجلَانِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

باندې نه دی لیدلی شوی او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاته به دوه کسان هم نه تلل.

توضیح: متکأً: تکیه لګول سره خوراک کول د متکبرین او متجبرینو عادت دی. چې خوراک هم کوي او بې احتیاجې هم ظاهروي. ګویاکې هغه الله او د هغې د رزق نه بالکل بې احتیاجه دی.

ولا یطأ عقبه رجلان: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د خلکو نه مخکې مخکې د ملګرو به جلوه کې نه تللو. بلکې په مینځ کې به ؤو. کله کله به داسې هم ؤو چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به بالکل آخر کې ؤو. او دوه کسان به هم د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاته نه ؤو. د زیاتو خو هیڅ خبره نشته، خو که یو کس به ؤو نو د هغې نفي نشته، لکه څنګه به چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځانله ؤو. بهرحال دا د عام معمول ضابطه نه ده بلکې کله به یو صورت ؤو او کله به بل صورت ؤو.

عقب: پوندې ته وایي. مراد تري شاته کېدل دي.

په جومات کې د خوراک کولو مسئله

﴿۵۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ: أُتِيَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزٍ

او حضرت عبدالله بن حارث بن جزء فرمایي چې یو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې ډوډۍ او د

---

[1] رقم الحديث ۴۲۱۲ أخرجه أبوداود في السنن ۱۴۱/۴ رقم الحديث ۳۷۷۰ وابن ماجه في ۸۹/۱ رقم الحديث ۲۴۴.

وَلَحْمٍ	وَهُوَ	فِي	الْمَسْجِدِ	فَأَكَلَ
غوښې والا خوراک راوړلی شو، خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات کې ؤو. هغه خوراک نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هم وخوړلو				
وَأَكَلْنَا	مَعَهُ	ثُمَّ	قَامَ	فَصَلَّى	وَصَلَّيْنَا	مَعَهُ
او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مونږ هم وخوړلو. بيا اودرېدلو او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمونځ وکړو. مونږ هم ورسره لمونځ						
وَلَمْ	نَزِدْ	عَلَى	أَنْ	مَسَحْنَا	أَيْدِيَنَا
وکړو، نورد دې نه مونږ هيڅ زيات ونه کړل چې د خوراک د فارغ کېدلو نه وروسته چې لاسونه مو په هغه کانو اوچ					
بِالْحَصْبَاءِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]					
کړې ؤو چې کوم په جومات کې ؤو.					

توضيح فأكل: که مجبوري او ضرورت وي نو جومات کې خوراک او څښاک جائز دی يا څوک مسافر دی د هغې هيڅ ځای نشته دی. يا دينې طلبه دي يا د محلې کس دی خو کور کې يې ځای تنګ دی او هغه مجرد دی. ناوده کړی شوی دی يا يو اعتکاف کونکی دی، نو دې خلکو لپاره جومات کې خوراک جائز دی، خو په دې شرط چې جومات کې د ګندګۍ احتمال نه وي. که ګندګي خوربږي نو بيا خوراک کول حرام يا مکروه دی. نن سبا خلک د اعتکاف په نيت جومات کې خورک کول جائز کوي، نو هغوی له د دوه خبرو خيال ساتل پکار دي. يو دا چې که چرې اعتکاف د څلېرېش (۲۴) ساعت لپاره دی نو روژه نېول لازم دي. دويمه خبره دا چې اعتکاف د عبادت لپاره وي. د خورک او څښاک جائز کولو په نيت اعتکاف نه کېږي. لهذا د عبادت په غرض اعتکاف وکړئ، خوراک به خپله راشي. بيا اعتکاف کې ګپ شپ لګول به هم منع وي. (مرقات ۴۵/۸)

﴿۵۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې پخه کړی وريته شوې غوښه راوړی
فَرُفِعَ	إِلَيْهِ	الذِّرَاعُ	وَكَانَتْ	تُعْجِبُهُ
شوه. هغې کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د دست برخه ورکړی شوه، ځکه د لاس برخه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ډېره خوښه				

---

[1] رقم الحديث ۴۲۱۳ اخرجه ابن ماجه في ۱۰۹۷/۲ رقم الحديث ۳۳۰۰

فَنَهَسَ مِنْهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

وه، نو هغه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غاښونو باندې په راخكلو سره وخوړلو.

توضيح: د بې تكلفۍ او ساده والې په وجه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوله غوښه خوړلې ده. او كه غوښه نرمه وي نو داسې كول پكار دي.

فنهس: غاښونو باندې چيچلو سره خوراک كولو ته نهس وايي. (مرقات ۴۵/۸)

﴿۵۲﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقْطَعُوا اللَّحْمَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل غوښه په چاړه مه غوڅوئ

بِالسِّكِّينِ فَإِنَّهُ مِنْ صُنْعِ الْأَعَاجِمِ وَانْهَسُوهُ

يعنې چاړه باندې غوڅولو سره غوښه مه خورئ ځكه دا د عجميانو طريقه ده. بلكې غوښه په غاښونو

فَإِنَّهُ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ وَقَالَا: لَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ[2]

باندې خورئ، ځكه غاښونو باندې غوښه خوړلو سره خوندوره او ډېره خوشگواره وي.

توضيح: **لاتقطعوا**: يعنې بغير له ضرورته غوښه په چاړه باندې غوڅول او خوړل د متكبره عجمو كار دى. غوښه كه ښه پخه او نرمه وي نو په خولې باندې خوړل پكار ده. دې كې ډېرې فائدې دي. چاقو باندې د زخمي كېدلو خطره نشته دى. د تكبر او غرور خطر نشته دى، د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نافرمانۍ خطر نشته دى. او كه مجبوري وي نو مجبوري خو مجبوري ده، په دې كې نرمي ضرور شته دى.

وانهسوه: نهس د غاښونو په غاړو باندې خوړلو ته وايي.

اهنأ: د هنأ نه دى، خوندور او موافق د طبعي خوراک ته وايي.

وامرأ: چې په اسانۍ تېرېږي او نه بوج كېږي. يعنې راحت رسونكى او ښائسته خوند والا ښه هضميدونكى دى آيت: ﴿**هنيأً مريأً**﴾ اړخ ته اشاره "**فانه**" كې د **النهس** اړخ ته ضمير راجع دى.

د مرض لپاره پرهيز ضروري دى

﴿۵۳﴾وَعَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ام منذر انصاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما خوا له تشريف راوړو.

([1]) رقم الحديث ۴۲۱۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۵۸/۸ رقم الحديث ۴۷۱۲ من حديث طويل وكذلك مسلم في ۱۸۴/۱ رقم: ۳۲۷۰-۱۹۴

([2]) رقم الحديث ۴۲۱۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۵/۴ رقم الحديث ۳۷۷۸ والبيهقي في شعب الايمان ۹۱/۵ رقم الحديث ۵۸۹۸

وَمَعَهُ عَلِيٌّ وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ؤو. هغه وخت زمونږ كور كې د اچو كجورو غونچې زوړندې
فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ
وې، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه غونچو نه خوراک شروع كړو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم په خوراک شروع كړه.
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ: مَهْ يَا عَلِيُّ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې اى علي (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ)! ته دد ې كجورو د خوړلو نه ځان وساته ځكه ته كمزورى
فَإِنَّكَ نَاقِهٌ قَالَتْ:
يې يعنې ته اوس د بيمارى نه راپاڅېدلى يې او تا باندې د كمزورئ اثر غالب دى، نو ځكه ستا لپاره پرهيز ضروري دى.
فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا
حضرت ام منذر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغې د صحابؤ لپاره چقندر او جوار تيار كړي
فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَلِيُّ مِنْ هَذَا فَأَصِبْ فَإِنَّهُ
ؤو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې علي (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ)! تهٔ دا وخوره ځكه ستا لپاره ډېر ګټور
أَوْفَقُ لَكَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ[1]
او موافق دى. (روايت كړې دې احمد، ترمذى، ابن ماجه)

توضيح: دوال: د دې مفرد دالية دى. د كجورو غونچو او نيم پخته غونچو ته وايي. چې بُسر ورته وايي. كله چې پخې شي نو بيا ورته رطب وايي.

مه يا علي: يعنې مه يې خوره، مه كوه. (مرقات ۴۶/۸)

نَاقِهٌ: نقاهت كمزورئ ته وايي. بيمار سړى چې كله صحت مند شي، خو كمزورى وي. دې ته ناقه وايي. دا چې د بيمارى په وجه معده كمزورې وي، نو دروند شيز هضمول مشكل وي. (مرقات ۴۶/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۱۶ اخرجه داود في السنن ۱۹۳/۴ رقم الحديث ۳۸۵۶ والترمذي في ۳۳۵/۴ رقم الحديث ۲۰۳۷

د ديګچي خوراک به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤ

﴿۵۴﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ.

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ديګچي د ويخ (خورک)

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان[1]

خوښ ؤو. (روايت کړې دې ترمذی، بيهقی)

توضيح: الثفل: د ديګچي ويخ کې چې کوم خوراک پاتې شي ته الثفل وايي. دې کې دې سوځېدلو لږ خوند هم وي. دا خوندور وي او د دې په خوړلو کې عاجزې او انکساري هم ده. متکبره خلک دې ته ګوتې هم نه وروړي، دا زياتره د وريژو په پخلي کې وي. (مرقات ۴۸/۸)

د خوراک نه ورسوته لوخی پاکول د مغفرت سبب دی

﴿۵۵﴾وَعَنْ نُبَيْشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ

او حضرت نبيشه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايل کوم کس

أَكَلَ فِي قَصْعَةٍ فَلَحَسَهَا اسْتَغْفَرَتْ لَهُ الْقَصْعَةُ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

چې پيالی يا کاسه کې خوراک وکړي او بيا هغه په ګوتو وڅټي نو هغه پياله د هغې لپاره استغفار کوي.

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]

امام ترمذی وائی دا حديث غريب دې

توضيح: لحسها: يعنې په ګوتو باندې لوښی وڅټلو او لوښی يې پاک کړو. (مرقات ۴۹/۸)

د خوراک نه وروسته لاس وينځئ بيا اوده کيږئ

﴿۵۶﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ

او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل کوم کس چې په

---

[1]) رقم الحديث ۴۲۱۷ أخرجه أحمد في المسند۳/۲۲۰ والبيهقي في الشعب

[2]) رقم الحديث ۴۲۱۸ أخرجه الترمذي في السنن ۲۲۸/۴ رقم الحديث ۱۸۰۴ وابن ماجه في ۱۰۸۹/۲ رقم الحديث ۳۲۷۱

بَاتَ	وَفِي	يَدِهِ	غَمَرٌ
داسې حالت کې شپه تېره کړي چې د هغې د په لاس غوړو الی لګېدلی وي او د خوراک نه وروسته يې هغه			
لَمْ	يَغْسِلْهُ	فَأَصَابَهُ	شَيْءٌ
نه وي وينځلی او بيا هغې ته څه ضرور سېرې يعنې ضرر رسونکي ځناور د خوراک بوی يا غوړو الي پسې راکوز ېږي او هغې			

فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه [1]

ته ضرر ورسوي نو هغه دې خپل ځان ملامته کړي ځکه غوړو لاسونو سره چې څملي نو خپله د ضرر سبب دی.

توضيح: فلا يلومن: يعنې خوراک دې وکړو نو د هغې په وجه لاس پسې غوړو الی وننبلي او هغې د وينځلو نه بغير غرمه يا ماخوستن کې اوده شوی او د زمکې يوې حشرې يعنې ميږې وغيره وخوړلې يا يې د خوراک د خوشبوې په وجه وځتلې نو د رورسېدلو نو سړی دې صرف خپل ځان ملامته کړي، ځکه شريعت هغې ته لار نبودنه کړې وه هغې پرې عمل ونه کړو. صدق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ۱۹۷۲ کې دارالعلوم کراچۍ کې ما سره داسې واقعه شوې وه. د شپې مې لاس پورې د خوراک خوشبوې پاتې وه. تر سحر پورې مې د خوب په حالت کې ميږه بد حشر کړی ؤو. او لاس مې پرسېدلی ؤو. (مرقات ۵۰/۸)

ثريد د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤو

﴿۵۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ أَحَبَّ الطَّعَامَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّرِيدُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ډوډۍ ثريد او د

مِنَ الْخُبْزِ وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [2]

حيس ثريد د ټولو نه زيات خوښ خوراک ؤو.

توضيح: ثريد په دوه قسمه وي. يو د ډوډۍ ثريد او بل د خوروا ثريد دی. دا هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤو. بله د "حيس" په نوم ثريد دی. د ډوډۍ ثريد داسې وي چې د ډوډۍ پوټې په خوروا کې ماته او لونده کړی شي او ثريد ترېنه جوړ شي او بيا خوړل کېږي. د حيس ثريد هغه خوراک ته وايي چې چوارې، غوړي او پنير وغيره ګډوډ کړی شي او د مالیده پشان جوړ شي. دا هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1] (رقم الحديث ۴۲۱۹ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۸/۴ رقم الحديث ۳۸۵۲ والترمذي في السنن ۲۵۵/۴ رقم الحديث ۱۸۶۰.

[2] (رقم الحديث ۴۲۲۰ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۷/۴ رقم الحديث ۳۷۸۳

خوښ ؤو. دواړه هضمبدونکي، صحت ورکونکی او کم خرچ بالا نشین دی. (مرقات ۵۰/۸)

دزیتون فضیلت

﴿۵۸﴾ وَعَن أَبِي أُسَيدٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُوا الزَّيْتَ

او حضرت ابو ایوب انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې زیت یعني د زیتونو

وَادَّهِنُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ[1]

غوړي خورئ او په دې بدن مالش کوئ ځکه هغه د یو برکتې بوټې تیل دي.

توضیح: زیتون خوړل کېږي هم او بدن پرې هم مالش کېږي.

شجرة مبارکة: د الله تعالی ارشاد دی ﴿**وقد من شجرة مبارکة زیتونة لا شرقیة ولا غربیة**﴾ حدیث کې د همدغې اړخ ته اشاره ده.

سرکه سالن دی

﴿۵۹﴾ وَعَن أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ: دَخَلَ

او حضرت ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې د ابو طالب لور او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور وه. وایي چې یو ورځ

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَعِنْدَكِ شَيْءٌ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ کور ته راغلو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وفرمایل چې د خوراک لپاره ستا سره څه دي؟

قُلْتُ: لَا إِلَّا خُبْزٌ يَابِسٌ وَخَلٌّ فَقَالَ: هَاتِي

ما وویل چې اوچه ډوډۍ او د سرکې نه بغیر بل هیڅ نشته دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې راړه.

مَا أَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ أُدُمٍ فِيهِ خَلٌّ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[2]

هغه کور د خوراک نه خالي نه دی چې کوم کې سرکه وي. (روایت کړې دې ترمذی)

توضیح: یعني کوم کې سرکه وي نو دا نشي ویل کېدی چې دې کور کې خوراک نشته دی. دا سرکه خپله خوراک دی. دوائی هم ده او خوراک هم دی. او کم خرچ بالا نشین هم دی.

---

(1) رقم الحديث ۴۲۲۱ أخرجه الترمذي في السنن ۲۵۱/۴ رقم الحديث ۱۸۵۲ والدارمي في ۱۳۹/۲ رقم الحديث ۲۰۵۲.

(2) رقم الحديث ۴۲۲۲ أخرجه الترمذي في السنن ۲۴۶/۴ رقم الحديث ۱۸۴۱

کهجوري هم د سالن کار کوئ

﴿۶۰﴾ وَعَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ كِسْرَةً

او حضرت يوسف بن عبد الله ابن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نو ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وربشو د

مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً فَقَالَ: هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ وَأَكَلَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

ډوډۍ پوتې واخستل او کجورې يې پرې کينبودله او ويې فرمايل چې دا کجوره د ډوډۍ د پوتې سالن دی.

غير مسلم معالج ته رجوع کول جائز ده

﴿۶۱﴾ وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ: مَرِضْتُ مَرَضًا أَتَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ځل زه سخت بيمار شوم، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نارو غئ

يَعُودُنِي فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ

پوښتنې لپاره راغلو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت زما د واړو په مينځ کې يعنې په سينه باندې لاس

حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَهَا عَلَى فُؤَادِي. وَقَالَ:

کينبودلو چې يخوالي يې ما په خپل زړه کې محسوس کړو. بيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې

إِنَّكَ رَجُلٌ مَفْؤُودٌ ائْتِ الْحَارِثَ بْنَ كَلَدَةَ

ته يو داسې کس يې چې د زړه په درد اخته يې. يعنې ته د زړه يې. لهذا دا حارث بن کلده ته لاړ شه

أَخَا ثَقِيفٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ

چې د قبيله ثقيف سره تعلق لري، ځکه هغه کس د طب به علاج باندې پوهيږي. هغې له پکار ده چې

فَلْيَأْخُذْ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ

هغه د مدينې د تولو نه اعلى قسم د عجوه کجورو نه اؤوه (۷) دانې کجورې واخلې او هغه کجورې

فَلْيَجَأْهُنَّ بِنَوَاهُنَّ ثُمَّ لِيَلُدَّكَ بِهِنَّ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

د هلو کو سره وټکوي او بيا يې د هغې نه وروسته د دوائې په صورت کې ستا خوله کې واچوي.

([1]) رقم الحديث ۴۲۲۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۳/۴ رقم الحديث ۳۸۳۰

([2]) رقم الحديث ۴۲۲۴ أخرجه ابوداود في السنن ۲۰۷/۴ رقم الحديث ۳۸۷۵

توضیح مفئود: دا د فؤاد نه دی. د زړه مریض ته وایي. ګویاکې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحیح تشخیص وکړو چې ته د زړه مریض یې.

حارث بن کلدة: دا د عربو مشهور حکیم ؤو. چې د بنو ثقیف سره یې تعلق ؤو. اوس پوښتنه دا ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اول حکیم ته د تللو مشوره ورکړه او بیا یې ورله خپله دوائی هم تجویز کړه او بیا یې د نسخې د جوړولو کار حکیم ته وسپارلو. داسې یې ولې وکړو؟ د دې جواب دا دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اول سعد ته د حکیم د تللو مشوره ورکړه، خو بیا چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د هغې حکم وشو چې د زړه مریضانو ته دا نسخه اسانه او فائده منده ده، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله دوائي هم تجویز کړه چې هغه د حکیم اوږدو او لنډو بوټو په چکر کې ونه غورځېږي. بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ترکیب او د معجونو جوړولو کار حکیم ته پریښودلو، ځکه هغه دې کې ماهر ؤو او د هغې کار ؤو. د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې غیر مسلم ډاکټر او حکیم باندې علاج کول او هغې ته تلل جائز دي. دې حدیث کې د فلیأخذ نه تر آخر پورې د غائب پورې د ټول ضمائر د طبیب اړخ ته دي. **یتطبب:** یعنې هغه کس د طبابت په عمل کې ماهره دی. **عجوة المدینة:** معلومه شوه چې د دې نسخې لپاره د مدینې عجوه کجورې ضروري دي. **فلیجأ:** وجاء د یوجا نه دی. ماتولو او د میده کولو په معنی کې دی. (مرقات ۵۵/۸)

بنواهن: د نواة جمع ده. د کجورې هډوکې ته وایي. یعنې د عجوه کجورې د هغې هډوکو سره میده کړي او کپه ترېنه جوړه کړي او کپه په مریض وخورې. (مرقات ۵۵/۸)

لِيَلُذَكَ: د نصر دینصر نه لدوداً. هغه دوائی ته وایي. چې د خولې په ذریعه مریض ته ورکړی کېږي. (مرقات ۵۵/۸)

غذا معتدله کړئ اووي خورئ

﴿۶۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ.

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خربوزه د کجورو سره خوړله.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: وَيَقُولُ: يَكْسِرُ

(ترمذی) او ابوداؤد دې روایت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمایل

حَرَّ هَذَا بِبَرْدِ هَذَا وَبَرْدَ هَذَا بِحَرِّ هَذَا.

چې د دې کجورې ګرمي د خربوزې سره ماتېږي. او د خربوزې یخوالی د کجورې د ګرمئ سره ماتېږي.

وَقَالَ التِّرْمِذِيّ: هَذَا حَدِيث حسن غَرِيب[1]

او ترمذی ویلې دې چې دا حدیث حسن غریب دی.

توضیح البطیخ: خربوزې ته عربئ کې بطیخ وایی. د دې خوند یخ وي.

الرطب: دا تازه کجورو ته وایي. چې مزاج یې ګرم وي. دې دواړو ګډوډولو سره خوراک کې اعتدال پیدا کېږي. دواړه د یو بل ګرمي او یخني ختموي. مظاهر حق کې د بطیخ معنیٰ خربوزه کړی شوې ده. چې محل تأمل دی. (مرقات ۵۶/۸، ۵۵)

میوؤ کې چینجی پیدا کېدلو سره میوه نه نجسه کېږي

﴿۶۳﴾وَعَن أَنَسٍ قَالَ: أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ورځ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې کجورې پیش کړی شوي.

عَتِيقٍ فَجَعَلَ يُفَتِّشُهُ وَيُخْرِجُ السُّوسَ مِنْهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

چې چینچې په کې شوې ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه کجورې شلولي او چینجې به یې ترېنه غوزارولو.

توضیح السوس: مېوؤ کې ځینې ځل چینجي وشي او خوراک کې چاته پته نه لږي. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یو حدیث کې دي چې "دود الثمر کالثمر" دا دې خبرې ته اشاره ده چې مېوه نجسه نه وي لهذا که په غفلت سره چا په مېوه کې وخوړلو نه پاک نه کوي. زیر بحث حدیث کې دومره خبره ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کجورو نه چینچي پاکول او هغه به یې استعمالول. چې د هغه قسمه کجورو د پیدا کولو جواز تري پیدا کېږي. سوس: مېوؤ او غله کې چې کوم چینجې پیدا کېږي. هغې ته سوس وایي. عتیق یرانی کجور ته وایي. چینجو نه مېوه پاکول د نظافت او نفاست دی چې شرعاً مطلوب دی. (مرقات ۵۶/۸)

﴿۶۴﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجُبْنَةٍ فِي تَبُوكَ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د غزوه تبوک دوران کې یوه موقعه کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کې د پنیر

---

[1] (رقم الحديث ۴۲۲۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۶/۴ رقم الحديث ۳۸۳۶ والترمذي في ۲۴۶/۴ رقم الحديث ۱۸۴۳

[2] (رقم الحديث ۴۲۲۶ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۴/۴ رقم الحديث ۳۸۳۲ وابن ماجه في ۱۱۰۶/۲ رقم الحديث ۳۳۳۳

فَدَعَا بِالسكين فسنّى وقطّعَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

یوه ټکړه راوړلی شوه، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چاړه راوغوښتله او بسم الله ویلو سره یې هغه پرې کړه.

جبنة: دپنیر تکړې ته وایي په نون باندې شد هم لوستلې شوې دي او بغیر د شد نه هم دي (مرقات ۵۶/۸)

اسلام چې کوم شیانو ته حرام ویلي دي همغه حرام دي

﴿۶۵﴾ وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّمْنِ وَالْجُبْنِ

او حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه غوړو، پنیر او پوستین یا ګور خر باره کې

وَالْفِرَاءِ فَقَالَ: الْحَلَالُ

وپوښتلی شو چې دا څیزونه حلال دي یا که حرام دي؟ نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د حلت او حرمت په سلسله کې

مَا أَحَلَّ اللهُ فِي كِتَابِهِ وَالْحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللهُ

اصول د نظر دلاندې ساتئ چې حلال همغه شی دی چې الله په خپل کتاب کې حلال کړي دي. یعني چې حلال

فِي كِتَابِهِ وَمَا

کېدل یې قرآن بیان کړي وي. او حرم همغه څیزونه دي چې الله په خپل کتاب کې حرام کړي وي. او په کومو

سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا

څیزونو یې چې سکوت اختیار کړی دی یعني کوم څیز ته یې چې نه حلال ویلي دي او نه یې ورته حرام ویلي

عَفَا عَنْهُ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وموقوفٌ على الأصحّ[2]

دي. هغه د هغه قسم نه دي چې معاف کړی شوې دي یعني د هغې استعمالول یې مباح کړي دي.

توضیح: السمن: غوړو ته وایي. د څه خلکو شک شوی ؤو، ځکه یې د غوړو باره کې وپوښتل. ګنې ځای د پوښتنې نه ؤو. (مرقات ۵۶/۸، ۵۷)

الجبين: دا لفظ د نون د شد سره هم ویلی شوی دی او بغیر د شد نه هم ویلی شوی دی. پنیر ته وایي. د دې باره کې پوښتنه ځکه وکړی شوه چې هغه زمانه کې به د پنیر جوړلو لپاره د اوښ یاد بیزي وارګه استعمالیدلي. ظاهره ده چې دا سوال دی. (مرقات ۵۶/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۲۲۷ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۹/۴ رقم الحديث ۳۸۱۹

([2]) رقم الحديث ۴۲۲۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۹۲/۴ رقم الحديث ۱۷۲۶ وابن ماجه في السنن ۱۱۷/۲ رقم الحديث ۳۳۹۷.

الفراء: دا لفظ په دواړو معنو کې استعمالیدلی شي. عام شارحینو لیکلي دي چې الفراء د کسره او مد سره جمع ده. او الفراء د فا د فتحې سره مفرد دیږ ځنګلي خر یا ګورخر ته وایي. د دې باره کې د حلال او حرام کېدلو باره کې د بوښتنې ضرورت ؤو. ځینو شارحینو الفراء د "فرو" جمع ګڼلې ده چې د پوستین په معنی کې دی. دې صورت کې پوښتنه ځکه وکړی شوه چې د څرمن نه به کافرانو پوستنی تیارولو، نو کېدی شي چې د مرادرې څرمن وي. نبي کریم ﷺ د زیاتو پوښتنو او کهود کرید نه منع کړو او ویې فرمایل چې د حرام او حلالو څیزونو تذکره په قرآن او حدیث کې راغلې ده، لکه ﴿**ما آتکم الرسول فخذوه و مانهاکم عن فانتهوا**﴾ او د کومو څیزونو نه چې قرآن او حدیث خاموش دی هغه مباح دي. د دې حدیث نه فقهاؤ دا ضابطه راویستلې ده چې څیزونو کې اصل خبره اباحت دی. د حرمت او حلت حکم ثانوی امر دی. (مرقات ۵۶/۸)

د بنه خوراک خواهش جائز دی

﴿۶۲۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَدِدْتُ

او حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې یو نبي کریم ﷺ په مجلس کې وفرمایل چې زه خوښوم چې

أَنَّ عِنْدِي خُبزَةً بيضاءَ

زما مخې ته د غنمو رسپینه ډوډۍ وي چې غوړو او شودو کې لونده کړی شوې وي. دې اوربدلو

من بُرَّةٍ سَمْرَاءَ مُلَبَّقَةً بِسَمْنٍ وَلَبَنٍ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَاتَّخَذَهُ فَجَاءَ بِهِ

یو کس د جماعت نه پاڅیدلو او لاړلو او ذکر ډوډۍ یې تیاره کړه او راوړله. نبي علیه السلام دې لیدلو سره

فَقَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ كَانَ هَذَا؟ قَالَ

وفرمایل چې دې ډوډۍ باندې چې کوم غوړي لربدلي دي هغه په کوم لوښي کې ؤو؟ هغې وویل چې هغه د

فِي عُكَّةِ ضَبٍّ قَالَ: ارْفَعْهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيث مُنكر[1]

سمسیري د څرمني په لفافه کې ؤو. نبي کریم ﷺ وفرمایل زه یې نه خورم. دا زماد مخې نه اوچت کړئ.

توضیح خبزة بیضاء: یعني د سرو غنمو سپینه ډوډۍ وي او په غوړو کې ککړه شوې وي. ښه سره غنمو کې سپینه وي. خلک نن سبا په اشتهاراتو کې لیکي د سرو زرو پشان غنم، د سپینو زرو پشان وړه. (مرقات ۵۷/۸)

ملبقه: د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده. ګډ وډولو سره د نرمولو په معنی کې دی. دلته غوړو او شودو کې د ګډ وډولو لپاره استعمالیږي. (مرقات ۵۷/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۲۲۹ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۸/۴ رقم الحديث ۳۸۱۸ وابن ماجه في السنن ۱۱۰۹/۲ رقم الحديث ۳۳۴۱

عکة: کُپې ته وایي. چې غوړو کې ایښودلی کېږي. (مرقات۵۸/۸)

ضب: سمسیره ته وایي. د دې د حلال او د مکروه کېدلو متعلق بحث په باب ما یحل اکله الخ کې حدیث نمبر ۸ او حدیث نمبر ۲۳ کې شوی دی. د احنافو په نزد گوه حلال نه دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د گوه نه طبعي کرکه کړې ده. کېدی شي چې په دې وجه یې څرمن کې ایښودلی شوې غوړي نه وي استعمال کړې، خو د دې حدیث نه د حرمت استدلال مشکل دی، ځکه ابوداؤد دې حدیث ته منکر ویلی دی.
علماؤ لیکلې دي چې الله تعالی خپلو خاصو بنده ګانو ته د خوراک خوښه څنګه ناخوښه کوي چې د دنیا د خوندونو نه التفات نه وي. کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله وفرمایل "مالی وللدنیا" الخ د هغې نه وروسته د هغه خوندونو نه خوند اخستل د عقل نه بره ؤو، ځکه دې کې یو غیبي ستونزه راغله، خو د دې حدیث نه دا ثابته شوه چې د ښه خوراک خواهش کول جائز دی. (مرقات۵۸/۸)

اومه اوږه خوړل منع ده

﴿۶۷﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الثُّومِ إِلَّا

او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوږې د خوړلو نه منع کړې ده خو

مَطْبُوخًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[1]

دا چې هغه پخه وي. (ترمذی او ابوداؤد)

توضیح: الثوم: دې حدیث کې اومه اوږه منع کړی شوې ده. او پخه اوږه جائز کړی شوې ده. د دې وجه دا ده چې د پخلو نه وروسته اوږه کې بدبوې نه پاتې کېږي. د بدبوې تعلق صرف د اوږې یا پیاز وغیره سره نه دی. بلکې هغه کسان هم جومات ته د لمونځ کولو نه منع کول کېږي چې د هغې د خولې نه د ګندهنې بدبوې خیژي. (مرقات۵۸/۸)

د پیاز خوړلو مسئله

﴿۶۸﴾ وَعَنْ أَبِي زِيَادٍ قَالَ: سُئِلَتْ عَائِشَةُ عَنِ الْبَصَلِ

او حضرت ابوزیاد فرمایي چې د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه د پوخ شوې پیاز باره کې وپوښتلی شو چې دا حرام دی

فَقَالَتْ: إِنَّ آخِرَ طَعَامٍ أَكَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یا که حلال؟ نو هغې وفرمایل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې په خپل ژوند کې آخري خوراک کړی

---

[1] رقم الحديث ۴۲۳۰ أخرجه ابوداود في ... ج ۱۷۳/۴ رقم الحديث ۳۸۲۸ والترمذي في السنن ۲۳۰/۴ رقم الحديث ۱۸۰۸

طَعَامُ فِيهِ بصل. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
ؤو؟ هغې کې پوخ شوی پیاز ؤو.

توضیح: دا حدیث که د پیاز په جواز باندې حمل کړی شي او د ممانعت حدیثونه په مکروه تنزیهي باندې حمل کړی شي نو هیڅ تعارض به پاتې نشي، ځکه د مکروه تنزیهي مطلب خلاف اولیٰ دی. یا دا هم ویل کېدی شي چې د بحث لاندې حدیث تعلق د پوخ شوې پیاز سره دی. ظاهره ده چې د دې اجازت دی. (مرقات ۵۹/۸)

د کوچو سره کهجوري د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښې وې

﴿۶۹﴾ وَعَن ابْنَيْ بُسرٍ السُّلَمِيَّين
او د حضرت بسر دواړه زامنو یعنې حضرت عبدالله او حضرت عطیه نه چې اسلمي او صحابي دی. روایت دی چې
قَالَا: دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دې دواړو وویل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ کره راغلو، نو مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې
فَقَدَّمْنَا زُبْدًا وَتَمْرًا وَكَانَ يُحِبُّ الزبدَ والتمرِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
ته کوچ او کجورې پیش کړې. چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وخوړل. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به کوچ او کجورې خوښولې.

لوخي کې مختلف شیان وي د خوښې شی ترینه اخلئ

﴿۷۰﴾ وَعَنْ عِكْرَاشِ بْنِ ذُؤَيْبٍ قَالَ: أُتِينَا بِجَفْنَةٍ
او حضرت عکراش بن زویب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو موقع کې مونږ له یوه غټه پیاله راوړلی شوه
كَثِيرَةٍ من الثَّرِيدِ وَالْوَذْرِ
چې ډېر ثرید په کې ؤو یعنې خوره کې د لوندې شوې ډوډۍ پوتې او د ګوشت پوتې په کې ؤو. د
فَخَبَطْتُ بِيَدِي فِي نَوَاحِيهَا
خوراک دوران کې ما خپل لاس هر اړخ ته وړلو یعنې د خپلې مخې نه مړۍ کولو په ځای به مې هر اړخ ته لاس اچولو.
وَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ فَقَبَضَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى
او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د خپلې مخې نه خوراک کولو، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل چپ لاس

---

[1] (رقم الحديث ۴۲۳۱ اخرجه ابوداود في السنن ۱۷۶/۴ رقم الحديث ۳۸۳۷ وابن ماجه في ۱۱۰۶/۲ رقم الحديث ۳۳۳۴

[2] (رقم الحديث ۴۲۳۲ اخرجه ابوداود في السنن ۱۷۶/۴ رقم الحديث ۳۸۳۷ وابن ماجه في ۱۱۰۶/۲ رقم الحديث ۳۳۳۴

عَلَى يَدِيَ الْيُمْنَى ثُمَّ قَالَ: يَا عِكْرَاشُ كُلْ مِنْ مَوْضِعٍ وَاحِدٍ

زما ښي لاس ونيولو او ويې فرمايل چې عكراش د يو ځاې نه يعنې د خپلې مخې نه خوراک كوه

فَإِنَّهُ طَعَامٌ وَاحِدٌ. ثُمَّ أُتِيْنَا بِطَبَقٍ فِيهِ أَلْوَانُ التَّمْرِ

ځكه دا يو شان خوراک دى. بيا مونږ له يو كاسه راوړلى شو. چې هغې كې قسمه قسمه كجورې وې.

فَجَعَلْتُ آكُلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ

ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هدايت مطابق د خپلې مخې ته كجورې اوچتولې او خوړل شروع كړه، خو اوس د

وَجَالَتْ يَدُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الطَّبَقِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس په طباق كې هر اړخ ته ګرځېدلو يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د خپل طبعي مطابق د كاسې د هر ګوټ نه اچتولې

فَقَالَ: يَا عِكْرَاشُ كُلْ مِنْ

صرف د دې كار په ذريعه دا بيان نه كړو. بلكې دا تعليم ئې وركړو او وې فرمايل چې عكراش! چېرته كوم اړخ نه نه غواړې خوره،

حَيْثُ شِئْتَ فَإِنَّهُ غَيْرُ لَوْنٍ وَاحِدٍ ثُمَّ أُتِيْنَا بِمَاءٍ

ځكه دا په قسم نه دي. د هغې نه وروسته مونږ له او به راوړلى شوى، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله

فَغَسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ وَمسح بَلل كَفَّيْهِ وَجْهَهُ

دواړه لاسونه وينځل او د لاس لوندوالى يې په خپله خوله او ترڅنګلو پورې لاسونو پورې او په سر باندې ومښل

وَذِرَاعَيْهِ وَرَأْسَهُ وَقَالَ: يَا عِكْرَاشُ هَذَا الْوُضُوءُ

او وې فرمايل چې عكراش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا د دې خوراک كولو نه وروسته اودس دى. چې اوربدل كړى دى. يعنې دا

مِمَّا غَيَّرَتِ النَّارُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (۱)

لاس او خوله وينځل چې د خوراک اودس ورته وايي د دې خوراک په وجه دى چې په اوربخ شوى دى.

توضيح الوذر: دا د وذرة جمع ده. د غوښې هغه پوټو ته وايي چې هډوكى په كې نه وي. (مرقات ۶۰/۸)

خبطت: لاس اچولو ته وايي. يعنې ما د پيالې هر اړخ ته لاس اچول شروع كړل. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما لاس ونيول او وې فرمايل چې دا يو قسم له خوراک دى. لهذا د خپلې مخې نه يې

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۳۳ اخرجه الترمذي في السنن ۲۴۹/۴ رقم الحديث ۱۸۴۸ وابن ماجه في السنن ۱۰۸۹/۲ رقم الحديث ۳۲۷۴

خوره. د هغې نه وروسته د مختلف قسمه کجورو یو کاسه راوړلی شو. ما د خپلې مخې نه کجورې اچتولې. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دا د چرته نه هم غواړي نو د هملته نه یې خوره. ځکه دا یو قسم شی نه دی. بلکې جدا جدا رنګونو باندې مشتمل دی. بیا د هغې نه وروسته اوبه راوړلی شوي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې خوله او مخ وینځلو او بیا یې وفرمایل چې عکراش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ! ما مست النار نه چې د کوم اودس حکم دی هغه همدغه لاس وینځل او غرغره کول دي یعني لغوي اودس مراد دی. توضیحات جلد اول کتاب الطهارة کې دا مسئله تبره شوې ده. د دې حدیث نه یوه خبره معلومه شوه چې که یو قسم خوراک وي نو د مخې نه دې وخوړلی شي او که مختلف قسمه مېوه وي نو د هر ځای نه یې خوړلی شي. دا دویمه خبره معلومه شوه چې مامست النار چې د کوم اودس حکم دی هغه لغوي اودس دی. اصطلاحي نه دی. (مرقات ۶۰/۸)

د حریرې فائده

﴿۷۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ أَهْلَهُ الْوَعْكُ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې کله به د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کورواله و تبه شوه نو
أَمَرَ بِالْحَسَاءِ فَصُنِعَ ثُمَّ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د حساء د تیارول حکم کولو، نو هغه به تیار کړی شو او بیا به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بیمارانو
أَمَرَ فَحَسَوْا مِنْهُ وَكَانَ يَقُولُ: إِنَّهُ
ته د حساء د څښلو حکم کولو چې هغه به بیمار وڅښل. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمایل چې حقیقت کې
لَيَرْتُو فُؤَادُ الحزين ويسرو عَن فؤاد السقيم
حساء غم شوې زړه ته طاقت ورکوي او د بیمار د زړه نه غم او تکلف داسې لرې کوي
كَمَا تسروا إِحْدَاكُنَّ الْوَسَخَ بِالْمَاءِ عَنْ وَجْهِهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ[1]
لکه څنګه تاسو ښځو یو د بلې خپلې خولې نه ګند په اوبو پاکوئ. (روایت کړې دې ترمذی)

توضیح الوعك: سختې تبې ته وایي. (مرقات ۶۱/۸)

الحساء: د خوراک یو نرم قسم ته حساء وایي. چې د وړو. اوبو او د غوړول نه جوړیږي. کله دې

---

[1] رقم الحديث ۲۲۳۲ اخرجه الترمذي في السنن ۳۳۶/۴ رقم الحديث ۲۰۳۹ وابن ماجه في ۱۱۴۰/۲ رقم الحديث ۳۴۳۵.

شكر هم ګډوډوي. د مكې خلک دې ته حريره وايي. (مرقات۶۱/۸)

فحسوا: يعنې خلكو هغه اوخښل. دا د جمع صيغه ځكه ده چې په تبه كې ټول شريک ؤو. يا د دې حريره په څښلو كې ټول شريک ؤو. (مرقات۶۱/۸)

وكان يقول: يعنې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "انه" يعنې دا حساء او حريره "ليرتو" لام د ابتدائيه تاكيديه لپاره دى. **رتى يرتو:** نصر د ينصر نه دى. چې معنى يې زړه قوې كول دي. اى "يقوى القلب" يعنې غمګين زړه قوې كوي. **ويسرو: (يسرو يكشف ويرفع)** په معنى كې دى يعنې بوج اوخوا كوي.

كما تسرو: يعنې څنګه چې تاسو ښځې د خپلو مخونو نه د اوبو تپه ذريعه ګند لري كوئ. دا مخې ته ښځې وي نو ځكه يې هغوى ته خطاب وكړو. (مرقات۶۱/۸)

عجوه د جنت كهجوره ده

﴿۷۲﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل. عجوه د جنت كجوره ده

وَفِيهَا شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ وَالْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وماؤُها شفاءٌ للعينِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

او دې كې د زهرو شفاء ده او خريرې د من قسم دى او د هغې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده.

توضيح: مطلب دا چې د دې اصل د جنت نه دى يا به چې جنت كې كومې كجورې وي نو هغه به ښې ښې كجورې وي.

الفصل الثالث

﴿۷۳﴾عَن المغيرةِ بن شعبةَ قَالَ: ضِفْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ

حضرت مغيره بن شعبه فرمايي زه يو شپه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د يو چا كره مېلمه شوم. هغه

فَأَمَرَ بِجَنْبٍ فَشُوِيَ

كس زمونږ لپاره يوه بزه ذبح كړه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه بېزې يو اړخ د وريتو لو حكم وركړو. كله چې هغه اړخ وريت

ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ لِي بِهَا مِنْهُ

كړى شو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو چاړه راواسته او د هغې په ذريعه يې زما لپاره پوتې غوڅول. دغه وخت

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۳۵ أخرجه الترمذي في السنن ۳۵۰/۴ رقم الحديث ۲۰۶۶ وابن ماجه في ۱۱۴۳/۲ رقم الحديث ۳۴۵۵ .

فَجَاءَ	بِلَالٌ	يُؤْذِنُهُ	بِالصَّلَاةِ	فَأُلْقِيَ الشَّفْرَةَ
کې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لمونځ خبر راکولو لپاره راغلو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چاړه غوزاره کړه او د				
فَقَالَ:	مَا	لَهُ	تَرِبَتْ	يَدَاهُ؟
تعجب په انداز يې وفرمايل چې په بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څه شوې دي؟ چې داسې وخت کې د خبر لپاره راغلو. د هغې دواړه لاسونه				
قَالَ:	وَكَانَ	شَارِبُه	وَفَاء	فَقَالَ لِي:
دې په خاورو ککړ شي. مغيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي هغه وخت د هغې شونډې يعنې بريت غټ شوې ؤو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل				
أُقُصَّه عَلَى سِوَاكٍ؟ أَوْ قُصَّهُ عَلَى سِوَاكٍ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ [1]				
چې زه ستا شونډې په مسواک وړې کړم يا يې دا وفرمايل چې شونډې په مسواک کېږده او وړې يې کړه.				

توضيح ضفت: يعنې زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د چاکره مېلمه شوم.

يحز: چاړه باندې د غوښې غوڅولو په معنى کې دى. کله چې غوښه سخته وي نو د چاړه استعمال جائز دى. ګڼې دا طريقه د اهل عجم د فارس والو ده. **يوذنه**: دا د ايذان نه دى. د خبر ورکولو به معنى کې دى. يعنې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خبر ورکولو چې د لمونځ وخت شو. **فشوى**: د وريتو لو په معنى کې دى. يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوربه ته وويل چې يو اړخ يې وريت کړه، نو هغې وريت کړو. **شاربه وفاءً**: يعنې د مغيره بن شعبه بريت غټ شوې ؤو. دې کې مغيره بن شعبه د شاربى په ځاى شاربه ويلى دى. دا التفات دى.

اقصه لك على سواك: يعنې زه به ستا بريت په مسواک کېږدم او درله واړه به يې کړم. يا يې ته خپله په سمواک کېږده او غوڅ يې کړه. دا هم امکان لري چې شونډې په مسواک وي او د هغې سره برابر د بريتو ويښتان په قينچې غوڅ کړي. چې يو قطار کې غوڅ شي. او دا هم امکان لري چې قينچې نه وي بلکې په مسواک باندې ويښتان برابر کړي کېږدي او چاړه يا چاقو يې غوڅ کړي.

خوراک کې که بسم الله نه وي ويل شوي نو شيطان هم خوراک کوي

﴿۷۴﴾ وَعَن حُذَيفَةَ قَالَ: كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم
او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په يو خوراک کې ؤو

([1]) رقم الحديث ۴۲۳۶ أخرجه ابوداود في السنن ۱۳۱/۱ رقم الحديث ۱۸۸ والترمذي في الشمائل رقم الحديث ۱۶۷.

لَمْ نَضَعْ أَيْدِيَنَا حَتَّى يَبْدَأَ

نو مونږ به تر هغه وخت پورې خوراک ته لاس نه وروړلو چې تر څو پورې به نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شروع نه وه کړي.

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ يَدَهُ

کله به چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس وروړاندې کړو نو د هغې نه وروسته به مونږ هم لاس وروړاندې کړو. د

وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ مَرَّةً طَعَامًا فَجَاءَتْ

يو ځل واقعه ده چې کله مونږ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ډوډۍ خوړله نو د يې وخت کې يوه جينۍ د

جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ فَذَهَبَتْ

خوراک لپاره داسې راغله چې ګويا کې هغه رادبکه کړې شوې وي. يعنې د ولږۍ د شدت په وجه بې اختياره شوې وه

لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ

او په خوراک يې داسې رامنډه کړلې لکه چا چې د شاته نه په دسترخوان باندې رادبکه کړې وي. بيا چې

فَأَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهَا

څنګه هغې وغوښتل چې د بسم الله ويلو نه بغير خوراک شروع کړي نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې لاس ونيولو.

ثُمَّ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ كَأَنَّمَا يُدْفَعُ

بيا باندې چې هم د غه شان راغلو چې ګويا کې خوراک باندې رادبکه کړې شوې وي. او هغې هم د بسم الله ويلو نه بغير

فَأَخَذَهُ بِيَدِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

خوراک باندې لاس اچولو غوښتل نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې لاس هم ونيولو او بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ

چې حقيقت دا دی چې شيطان دا خوراک د ځان لپاره حلالوي او هغه خوراک باندې قادر کېږي چې

أَنْ لَا يُذْكَرَ اسمُ اللّٰهِ عليهِ وإنَّه جَاءَ بِهَذِهِ الْجَارِيَةِ

کوم خوراک باندې د الله نه وانغستلی شي. نو شيطان دا جينۍ راوستله چې د دې بسم الله د نه ويلو

لِيَسْتَحِلَّ بِهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا فَجَاءَ بِهَذَا الْأَعْرَابِيِّ

په سبب خوراک د ځان لپاره حلال کړي خو ما د دې لاس ونيولو بيا شيطان دا باندې چې راوستلو چې

لِيَسْتَحِلَّ بِهِ فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ وَالَّذِي

د دې په ذريعه خوراک د ځان لپاره حلال کړي خو ما د دې لاس هم ونيولو. قسم په هغه ذات دی چې د چا په

نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدِهَا.
لاس کې زما ژوند دی بیشکه هغه وخت د شیطان لاس د دې جینئ د لاس سره زما په لاس کې ؤو. یو بل
زَادَ فِي رِوَايَةٍ: ثُمَّ ذَكَرَ
روایت کې حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یا مسلم دا الفاظ هم نقل کړي دي چې د هغې نه وروسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د
اسمَ اللهِ وأكَلَ. رَوَاهُ مُسلم[1]
الله نوم واخستلو یعنې بسم الله یې ولوستله او خوراک یې وکړو.

توضیح تدفع: د شړلو په معنی کې دی. ګویاکې هغه وینځې او باندې چې ته څوک دېکې ورکوي او د خوراک لپاره یې حاضروي. (مرقات ۶۵/۸)

یستحل: چې شیطان د خپل ځان لپاره خوراک ممکن کړي. (مرقات ۶۵/۸)

ډیر خوراک کول د نحوست علامت دی

﴿۷۵﴾عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَشْتَرِيَ غُلَامًا
او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې یو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو غلام اخستلو اراده وکړه، نو د
فَأُلْقِيَ بَيْنَ يَدَيْهِ تَمْرًا فَأَكَلَ الْغُلَامُ فَأَكْثَرَ
ازمایلو په توګه مخکې کجورې کیښودلې، نو هغه غلام د کجورو نه زیاتې کجورې وخوړلې.
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ كَثْرَةَ الْأَكْلِ
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې لیدلو سره وفرمایل چې دا ډیر خوراک د دې برکتئ سبب او د دې برکتئ
شُؤْمٌ. وَأَمَرَ بِرَدِّهِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان[2]
علامت دی. بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه غلام د بېرته ورکولو حکم وکړو.

مالکه بهترین سالن دی

﴿۷۶﴾وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَيِّدُ
او حضرت انس ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ستاسو په سالنو

---

[1] رقم الحديث ۴۲۳۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۹۷/۳ رقم الحديث ۲۰۱۷/۱۰۲ وأبوداود في السنن ۱۳۹/۴ رقم الحديث ۳۷۶۶.

[2] رقم الحديث ۴۲۳۸ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۳۱/۵ رقم الحديث ۵۶۶۱

إِدَامِكُمُ الْمِلْحُ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[1]
كې بهترين سالن مالګه ده. (ابن ماجه)

توضيح: مثلاً كور كې سالن نشته دی خو مالګه شته دی، نو د جوارو يا غنمو ډوډۍ د مالګې په اوبو كې بهترينې طريقې سره خوړلی كېږي. د ښكار كولو وخت كې خلک دغه شان ډوډۍ خوري. ډېره مزه كوي. (مرقات ۶۷/۸، ۶۶)

بوټان ويستلو سره خوراک کولو باندې قدمونو ته راحت ملاويږي

﴿۷۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا
او حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كله چې تاسو ته
وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوا نِعَالَكُمْ
خوراک كېښودلی شي او تاسو د خوراک لپاره كېنئ، نو خپل بوټان وباسئ ځكه بوټان ويستل د
فَإِنَّه أَرْوَحُ لأقدامكم[2]
پښو لپاره ډېر راحت ورکونکی دی.

توضيح: كله چې سړی خوراک كوي نو د بدن ټولو اندامونو ته خوند حاصليږي. تردې چې پښو ته هم راحت رسيږي. كه پښې په بوټانو كې بنديوي نو هغه د راحت نه محرومه شي. او د هغې په وجه د ټول بدن خوند خراب شي. (مرقات ۶۷/۸)

خوراک لږ يخول او بيا خوړل پكار دی

﴿۷۸﴾ وَعَن أَسماءَ بنتِ أَبِي بكرٍ: أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا أُتِيَتْ بِثَرِيدٍ
او د حضرت اسماء بنت ابی بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باره كې دا روايت دی چې كله به هغې ته ثريد راوړلی شو نو
أُمِرَتْ بِهِ فَغُطِّيَ حَتَّى تَذْهَبَ
هغې به د هغې د سر ايښودلو حكم كولو، نو هغې باندې به سر كېښودلی شو. تردې چې د هغې لوړی اوتپ

---

(1) رقم الحديث ۴۲۳۹ أخرجه ابن ماجة في السنن ۱۱۰۲/۲ رقم الحديث ۳۳۱۵

(2) رقم الحديث ۴۲۴۰ أخرجه الدارمي في السنن ۱۴۸/۲ رقم الحديث ۲۰۸۰.

فَوْرَةُ دُخَانِهِ وَتَقُولُ: أَنِّي سَمِعْتُ
به ؤوتلو يعني د هغې د ګرمئ شدت به ختم شولو. د هغې نه وروسته به يې هغه خوړل. او هغې به فرمايل چې ما
رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: هُوَ أعظم للبركة . رَوَاهُمَا الدَّارِمِيّ[1]
د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې د خورک نه ګرموالي وتل برکت کې د زياتوالي سبب دی.

توضيح: فورة دخانه: يعني کوم براس او تپ به چې د ګرمئ له وجې وتلو نو د هغې د ايښولو لپاره به يې پرې د پاسه سر کيښودلو چې خوراک څه لږ يخ شي او بيا وخوړلی شي، ځکه زيات ګرموالي په وجه خوله هم سوځي او د کولمو لپاره هم مضر دی. څه انتظار کول او پتېلي له دم ورکول او بيا خوړل فائده مند او خوندور شي. او هغې کې برکت راځي. جامع صغير کې ليکلی شوې دي "ابردوا بالطعام فان الحار لا برکة فيه"(مرقات ۶۷/۸)

د خوراک لوڅې دعاء هم کوي او ښېرې هم کوي

﴿۷۹﴾وَعَن نُبَيْشَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَكَلَ
او حضرت نبيشه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې پياله يا رکيبئ وغيره
فِي قَصْعَةٍ ثُمَّ لَحِسَهَا
کې خوراک وکړي او بيا هغه په ګوتو وڅټي نو هغه پياله په زبان حال سره يا زيات صحيح دا دي چې په زبان قال
تَقُولُ لَهُ الْقَصْعَةُ: أَعْتَقَكَ اللهُ مِنَ النَّارِ
سره هغه کس ته وايي چې څنګه چې تا د شيطان خوراک يا د هغې د خوشحالېدلو نه زه بچ کړم،
كَمَا أعتقتني من الشيطانِ". رَوَاهُ رزين[2]
همدغه شان دې الله تاته د دوزخ د اور نه خلاصون درکړي.

توضيح: تقول: د حديث مطلب دا دی چې د خوراک لوښی دعا هم کوی او ښېرې هم کوي، ځکه دا لوښی چې کله ګنده پروت وي نو شيطان راشي او دا څټي. هغه وخت لوښی ښېرې کوي چې زه دې د شيطان د مشق تخته ولې جوړ کړم. او که وې څټلو او وينځلی شو نو دعا کوي چې زه دې د شيطان د تسلط نه بچ کړم. (مرقات ۶۸/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۲۴۱ أخرجه الدارمي في السنن ۱۳۷/۲ رقم الحديث ۲۰۴۷

(2) رقم الحديث ۴۲۴۲ أخرجه رزين .

باب الضيافة
د میلمستیا بیان

قال الله تعالىٰ: ﴿ويطعمون الطعام الطعام على حبه مسكينا و يتيما واسيرا﴾ (سورة الدهر : ٨)

د ضاف يضيف ضيفا و ضيافة اصل معنى د مائل كيدلو ده. میلمه هم یو اړخ ته مائله كېږي. ضيف میلمه ته وائئ او مضيف كوربه ته وايي او ضيافت میلمستیا ته وايي. د جمهور علماؤ په نزد په خنده تندې سره میلمستیا كول مستحب دي. ځینې علماء فرمايي چې میلمستیا یوه ورځ واجب ده بیا مستحب ده. دي علماؤ كې شیخ لیث رحمه الله هم شامل دی. خو جمهور علماء فرمايي چې میلمستیا د اخلاقیاتو د قبیل نه ده. لهذا واجب نه ده بلكې مستحب ده. او كومو روایتونو كې چې د واجب یا د لازم الفاظ راغلي دي. هغه خو یا په اضطراري حالت باندې محمول دي یا د هغې نه هغه خاص ټیكس یا جزیه مراده ده چې د خوراك په صورت كې په ذمیانو باندې مقرر ول كېږي یا په ابتداء د اسلام كې ضیافت واجب ؤو. بیا یې وجوب منسوخ شو او استحباب یې پاتې شو. بهرحال میلمستیا د اسلام یو خاص پیژندګلوی ده. كومو علاقو كې چې انسانیت موجود وي او د عصر تعلیم نه فطرت د مسخ كیدلو نه محفوظ وي. هلته میلمستیا ډیر په لویه كچه باندې كېږي. اسلام څه آداب او قواعد هم میلمنو ته خودلي دي. دغه شان كوربه یې هم د یو څو قواعدو پابند كړی دی. راتلونكې حدیثونو كې همدغه بیان دی.

الفصل الاول
د میلمه اكرام كول د ایمان علامت دی

﴿١﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ كَانَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل كوم كس چې په

يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ

الله او قیامت باندې ایمان ساتي نو هغې له پكار ده چې د خپل میلمه عزت وكړي. كوم كس چې په

يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ

الله او د قیامت په ورځ ایمان ساتي نو هغې له پكار ده چې خپل ګاونډي ته تكليف ورنه كړي او

وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ.

كوم كس چې په الله او د قیامت په ورځ ایمان ساتي نو هغې له پكار ده چې د خبره وكړي یا چپ پاتې شي.

وَفِي رِوَايَةٍ: بَدَلَ الْجَارِ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ
او بخاری کې یعنې د ګاونډ په ځای دا دې چې کوم کس الله او د قیامت په ورځ ایمان ساتې نو
الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
هغې له پکار ده چې خپلوي وساتي یعنې د خپلو خپلوانو او عزیزانو سره ښه سلوک او د احسان معامله وکړي.

توضیح: فلیکرم: دې حدیث کې د درېؤ ښو خصلتونو ترغیب ورکړی شوی دی. د دې مطلب دا نه دی چې کوم کس کې دا درې خصلتونه نه وي نو هغه مومن نه دی. دا د ترغیب یو اندازه ده او د دې خصلتونو په خپلولو ته ترغیب ورکول مقصود دی، لکه څنګه چې یو کس خپل ځوي ته وایي "ان کنت ابنی فاطعمنی" دا خو ډلو ترغیب دی چې دې کې د کامل مومن خبره شوې ده چې کامل مومن همغه دی چې کوم کې دا درې خصلتونه موجود وي. علماؤ لیکلي دې درې ورځو پورې په خنده تندې او نرم اخلاقو سره مېلمه ته خوراک ورکول د کوربه فریضه ده. د هغې نه وروسته خوراک ورکول صدقه او خیرات دی. که خوښه یې وې پرې ودې خورې او که ښوښه یې نه وي، پرې نه دې خوري. مېلمستیا کې دې یو ځل د اعلی انداز وي، نور دې عام دعوت وي. (مرقات ۶۸/۸)

فلایؤذ جارہ: په اصل کې د شریعت خو دا حکم دې چه د ګاونډی د ټولو حقوقو خیال اوساتلې شی ځکه چه «**فلیکرم جارہ فلیحسن جارہ**» الفاظ په حدیث کې دی. لیکن که یو سړې د حقوقو خیال نه ساتی نو کم نه کم ګاونډی ته خو دې تکلیف نه ورکوی. (مرقات ۶۹/۸)

کوربه باندې بوج مه جوړوئ

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ
او د حضرت شریح کعبی نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایل کوم کس چې په الله او د
وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ
قیامت په ورځ ایمان ساتې نو هغې له پکار ده چې د خپل مېلمه تعظیم او عزت وکړي. مېلمه سره
جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ
احسان او تکلف زمانه یو ورځ او یوه شپه ده او د مېلمستا کولو زمانه درې ورځې ده. او د درې

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۴۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۴۵/۱۰ رقم الحديث ۶۰۱۸ ومسلم في ۶۸/۱ رقم الحديث: (۷۵-۴۷)

فَمَا	بَعْدَ	ذٰلِكَ	فَهُوَ	صَدَقَةٌ	وَلَا	يَحِلُّ

ورځو نه وروسته چې څه ورکول کېږي هغه به هدیه یا خیرات وي. او د مېلمه لپاره دا جائز نه دي

لَهُ	أَنْ	يَثْوِيَ	عِنْدَهُ	حَتّٰى	يُحَرِّجَهُ	(مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

چې هغه یو کور به ته د دې ورځو نه زیات د پوښتنې نه بغیر هیسار شي چې هغه په تنګسیا کې اخته نه شي.

توضیح: جائز ته: ای عطیته، د مېلمه په مېلمستا کې په اولنۍ ورځ کې د دعوت ښه اهتمام کول پکار دی. او بیا د عام عادت مطابق خوراک ورکول پکار دی. دریم ورځو نه وروسته چې هغه لا شي نو هغې له د یوې ورځې او شپې جائزه یعنې د سفر رخصت دې ورکړی شي. علامه ابن اثیر جزری په نهایه کې لیکلي دي چې د جائزه مطلب همدغه دی، خو د ابن اثیر نه بغیر نور علماء لیکلي چې مېلمه ته چې په اولنۍ ورځ کوم د تکلف والا خورک ورکړی شوی دی همغه د هغې انعام او جائزه ده. دا معنې ډېره واضحه او راجح ده. نن سبا خلکو ته عجیبه ښکاري چې دریم ورځې مېلمه ته څنګه خوراک ورکړی شي او څنګه یې کور وساتو خو که د مخکنې دور د انسانانو تاریخ ولوستلی شي او نن سبا د قبائل خلکو ته وکتلی شي نو دې کې هیڅ وړاندې والی نه محسوسېږي. بهرحال خلک غورځېدلې دي خو انساني شرافت او د هغې تاریخ خو نه دی غورځېدلی. تاریخ خو جاري دی. بیا هم د علاقو او د حالاتو له نظره خپله مېلمه د ډېر د احتیاط نه کار اخستل پکار دی چې په چا بوج نه شي، هره ورځ دې نه رائي او که راشي نو ژر دې ښېرته لاړ شي. (مرقات ۷۱/۸)

په ذمیانو باندې د مجاهدینو میلمستیا لازمه ده

﴿۳﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عقبه ابن عامر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې ما نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو چې کله تاسو

"إِنَّكَ	تبعثنا	فتنزل	بِقَوْمٍ

مونږ جهاد ته یا د کار لپاره لېږې نو داسې هم کېږي چې د داسې خلکو په مینځ کې قیام کولو ضرورت شي

لَا	يُقْرُونَنَا	فَمَا	تَرَى؟

چې زمونږ مېلمستیا نه کوي. داسې صورت کې تاسو څه حکم کوي. آیا مونږ په زوره هغوی باندې مېلمستیا کولی شو یا

فَقَالَ	لَنَا:	إِنْ	نَزَلْتُمْ	بِقَوْمٍ

نا؟ نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ ته وفرمایل چې که چرې تاسو د سفر په دوران کې دیو قوم په مینځ کې قیام کوئ او هغه تاسو

[1] رقم الحديث ۴۲۴۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۴۵/۱۰ رقم الحديث ۶۰۱۹ ومسلم في ۱۳۵۳/۳ رقم الحديث ۴۸/۱۵

فَأَمَرُوا لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا فَانْ
له شي چې يو مېلمه ته ورکولو لائق وي نو تاسو هغه قبلوئ او که داسې نه کوي يعنې د مېلمستيا
لَمْ يَفْعَلُوا فَخُذُوا مِنْهُمْ حق الضَّيْف الَّذِي يَنْبَغِي لَهُم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]
حق نه ادا کوي نو تاسو د هغوی نه مېلمستيا حق اخستلی شئ چې د يو مېلمه لائق وي. (بخاری مسلم)

توضيح: لايقرونا: دا د قرا نه دی. مېلمستيا ته وايي. د دې حديث مطلب دا دی چې که چرې کوربه د مېلمستيا حق نه ادا کوي نو مېلمه د هغې نه په زوره حق اخستلی شي. دا حديث د هغه حضراتو لپاره دليل دی چې د يوې ورځې مېلمستيا ته واجب وايي، خو جمهور فقهاء فرمايي چې مېلمستيا مستحب ده. او دا حديث د هغه ذميانو باره کې دی چې هغوی باندې به د جزيې مقررولو وخت کې دا هم مقررول کېدل چې که مجاهدين په تاسو باندې تېرېږي نو تاسو به هغوی ته خوراک ورکوئ، نو دا عامه مېلمستيا نه ده. بلکې د جزيې يوه برخه ده يا د دې نه مراد اضطراري حالت دی چې د هغوی نه يې وخورئ او وروسته ورله قيمت ادا کړئ. د ټولو نه ښه جواب اولنی دی، ځکه د يو مسلمان مال د هغې د خوشحالئ نه بغير خوړل حرام دی. کېدی شي چې دا حکم په ابتداء کې وي او بيا منسوخ شوی وي. باب الاعتصام کې جلد اول کې دا مسئله تېره شوې ده.

د ميلمه په راتللو باندې د خوشحالئ اظهار کول پکار دی

﴿۳﴾وَعَن أَبِي هريرةَ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْم وَلَيْلَة
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ورځې يا د شپې وخت کې چرته د تللو لپاره د کور نه
فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ:
ؤوتلو چې ناڅاپه د ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ملاقات وشو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پوښتنه وکړه: څه شي تاسو د کور
مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا
نه راويستلي وئ. يعني وخت دا چې ستاسو د راوتلو عادت نه دی نو ځکه څه ضرورت درته پېښ شوی دی چې
هَذِهِ السَّاعَةَ؟ قَالَا: الْجُوعُ
ستاسو د کور نه د راوتلو سبب شو. هغې دواړو عرض وکړو چې مونږ ولږي د کور نه راويستلو باندې مجبوره
قَالَ: وَأَنَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ
کړي يو. يعني د لږې ډېرې والي مونږ د کور نه راويستلي يو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل او زه هم. قسم په هغه ذات چې

([1]) رقم الحديث ۴۲۴۵ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰۷/۵ رقم الحديث ۲۴۶۱ ومسلم في ۱۳۵۳/۳ رقم الحديث (۱۷-۱۷۲۷)

لَأَخْرَجَنِي الَّذِي أَخْرَجَكُمَا

د چا په لاس کې زما ژوند دی همدغه شي د کور نه راویستلی یم. یعنې زه د کور نه د ولږۍ په وجه راوتلی یم.

قُومُوا فَقَامُوا مَعَهُ فَأَتَى رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ

راپاتې ئ او ما سره راځئ، نو هغه دواړه هم راپاڅېدل او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره شول. بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د يو انصاري

فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ فَلَمَّا رَأَتْهُ الْمَرْأَةُ

کور ته ورسيدلو چې نوم يې ابو الهيثم ؤو، خو هغه کور کې موجود نه ؤو. د هغې ښځې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وليدلو نو وې

قَالَتْ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

پخير راغلئ. ته د خپلو خلکو سره راغلې يې. ستا راتلل دې مبارک وي. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وپوښتل چې

أَيْنَ فُلَانٌ؟ قَالَتْ: ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنَ الْمَاءِ

فلاني يعنې ستا خاوند چرته دی؟ هغې عرض ورکړو چې هغه مونږ خوږو اوبو راوړلو لپاره تلی دی. د غه وخت کې هغه

إِذْ جَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَنَظَرَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ

انصاري د کورو الا راغلو. هغې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغې دواړه صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ابو بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل کور

ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ

ته په راتلو ولیدل نو خپلې دې خوشبختئ باندې يې قابو نه وه او وې ويل الحمد الله، د خدای شکر دی. د ډېر بزرګانو ميلمنو

مَا أَحَدٌ الْيَوْمَ أَكْرَمَ أَضْيَافًا مِنِّي

په اعتبار سره نن ورځ ماته هيڅ خوشحالي نه ده نصيب شوي. يعنې نن ورځ زما ميلمانه دنورو خلکو د ميلمنو

قَالَ: فَانْطَلَقَ فَجَاءَهُمْ

نه زيات بزرګان او معززدي. راوي يعنې حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د هغې نه وروسته هغه انصاري خپله د کجورو

بِعِذْقٍ فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ

بوټو له لاړو او د ميلمنو لپاره يې د کجورو يوه غونچه راوړله چې پخې، نيم پوخته او تر و تازه هر قسمه کجورې

فَقَالَ: كُلُوا مِنْ هَذِهِ وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ

په کې وي. بيا هغې وويل چې تاسو يې د دې نه خورئ. د هغې نه وروسته هغې چاړه راوخسته او بزه ذبح

فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ

کول يې غوښتل نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغې ته وفرمايل چې د شودو والا بزه مه ذبح کولو نه ځان وساته.

فَذَبَحَ	لَهُمْ	فَأَكَلُوا
آخر دا چې هغې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغې د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ لپاره ډيوه بزه ذبح کړه او چې د هغې غوښه پخه		
مِنَ الشَّاةِ	وَمِنْ ذَلِكَ	الْعِذْقِ وَشَرِبُوا
د هغې غوښه پخه شوه نو ټولو د هغې غوښه وخوړله او د هغ غونچې نه کجورې وخوړلې او اوبه يې وڅښلې.		
فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ:		
چې د اوبو نه يې خيټې ډکې شوې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې		
وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ		
قسم په هغه ذات چې د چا په لاس کې زما ژوند دی د قيامت په ورځ به تاسو نه د دې نعمتونو باره		
أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوا حَتَّى أَصَابَكُمْ		
کې پوښتلی کېږي. ولږ تاسو ستاسو د کورونو نه راويستلې وئ خو تاسو کورنه لا تلې هم نه وئ		
هَذَا النعيمُ. رَوَاهُ مُسلم. وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي مَسْعُودٍ: كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فِيبَابِ الْوَلِيمَةِ[1]		
چې د خدای له ارخ تاسو ته دا نعمتونه درکړی شو.		

توضيح: **مرحبًا واهلاً**: يعنې پخير راغلئ، تاسو خپل کور ته راغلئ. د ځکې دا ټوټه ستاسو لپاره هواره او خوش ګواره ده. د دې حديث نه د مېلمستيا ډېر ښه اصول مخې ته رائې. اول دا چې د خپل ولږې او تندې او د تکليف او پريشانئ اظهار د خپلو دوستانو ته کول جائز دي، لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ابوبکر او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وکړل. دويم دا چې خپل د اعتماد قابل ملګرې خواله بغير د دعوت نه خپله هم سړی تلی شي او خپل ملګري هم بوتللی شي، لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بوتللې ؤو. درېم دا چې د خپلې خوښۍ شې طلب کول او کوربه د ښه شې د ورکولو نه منع کول جائز دي. لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړو. څلورم دا چې د مېلمه نه دا پوښتل چې تاسو خوراک کوئ يا نه نو دا مناسبه نه ده بلکې ژر د خوراک کولو څه فکر کول پکار دی لکه څنګه چې هغه انصاری صحابي کړي دي چې کجورې يې ورله مخې ته کيښودلي او د بزې ذبح کولو پسې شو. پنځم دا چې د دنيوي نعمتونو نه خوند اخستلو باندې د قيامت په ورځ د دې نعمتونو باره کې پوښتلی کېږي. (مرقات ۷۳/۸)

---

(1) رقم الحديث أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۰۹/۳ رقم الحديث (۱۴۰-۲۰۳۸) وابن ماجه في السنن ۱۰۶۲/۲ رقم الحديث ۳۱۸۱.

الفصل الثاني

﴿۵﴾عَن المقدامِ بن معدي كرب سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

حضرت مقداد ابن معديكرب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې هغې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا اوريدلي دي چې كوم كس په

أَيُّمَا مُسْلِمٍ ضَافَ قَوْمًا فَأَصْبَحَ الضَّيْفُ مَحْرُومًا

يو قوم كې د چا مېلمه شو او هغې د محروميۍ په حالت كې سحر يعني د هغې كوربه د شپې د هغې مېلمستيا ونه

كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ

كړه، نو په هر مسلمان به دا حق وي چې د هغې سره مرسته وكړي تر دې چې دا كس د چا مېلمه شوى دى د هغې

نَصْرُهُ حَتَّى يَأْخُذَ لَهُ بِقِرَاهُ مِنْ مَالِهِ وَزَرْعِهِ.

مال او د زراعت نه د مېلمستيا په قدر يعني دا يو مېلمه د خوراک او څښاک په حساب تر هغه وصول كړئ.

رَوَاهُ الدَّارِمِيّ وَأَبُو دَاوُد وَفِي رِوَايَةٍ: وَأَيُّمَا رَجُلٍ ضَافَ قَوْمًا

(دارمي و ابوداؤد) او د ابوداؤد په يو روايت كې داسې دي چې كوم په يو قوم كې مېلمه شو او

فَلَمْ يُقْرُوهُ كَانَ لَهُ

هغه خلكو د هغې مېلمستيا ونه كړه نو هغوى ته به دا حق حاصل وي چې هغه خلكو پسې شي او د

أَن يعقبهم بِمِثْلِ قراه[1]

هغې د مال او اسبابو نه د مېلمستيا په قدر وصولي وكړي.

توضيح: د دې حديث تعلق هم په ظاهره د ذميانو سره دى چې هغوى باندې د جزيه په توګه د مجاهدينو مېلمستيا لازمه شوې وه. د مېلمه خوراک څښاک ته "قِرا" وايي.

د بَدو بدله بَدنه دي

﴿۶﴾وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ الْجُشَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ:

او حضرت ابولاحوص د خپل پلار مالک ابن فضله صحابي نه روايت كوي چې هغې وفرمايل چې ما پوښتنه

قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ

عرض وكړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! كه زه په يو چا تېر شوم يعني د هغې سره مېلمه شم او هغه

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۴۷ أخرجه ابوداود في السنن ۱۲۹/۴ رقم الحديث ۳۷۵۱ والدارمي في ۶۳۴/۲ رقم الحديث ۲۰۳۷

فَلَمْ	يُقِرْنِي	وَلَمْ	يُضِفْنِي	ثُمَّ
مېلمستيا ونه کړي او نه زماد مېلمستيا حق ادا کړي او د هغې نه وروسته د هغې ټېرنده زما سره وي يعنې هغه زما مېلمه				
مَرَّ	بِي	بَعْدَ	ذَلِكَ	أَأُقْرِيهِ
شي نو آيا زه د هغې مېلمستيا وکړم او که د هغې نه بدله واخلم يعنې زه د هغې سره همغه شان سلوک وکړم				
قَالَ : بل اقره. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]				
چې کوم يې ما کړی ؤو؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل نا. د دې نه بدله مه اخله بلکې د هغې مېلمستيا وکړه.				

د خوراک نه وروسته دعاء

﴿۷﴾ وَعَنْ	أَنَسٍ	أَوْ	غَيْرِهِ	أَنَّ
او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يا د هغې نه بغير د بل کوم يو صحابي نه روايت دی چې يو ورځ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د				
اسْتَأْذَنَ	عَلَى	سَعْدِ	بْنِ	عُبَادَةَ
سعد ابن عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور ته ورسيدلو نو د هغې نه يې کور ته د ننوتلو اجازت وغوښتلو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ				
فَقَالَ:	السَّلَامُ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَةُ	اللهِ
دروازه باندې اودرېدلو او وېې فرمايل چې السلام عليکم ورحمة الله، تاسو باندې دې سلامتي وي او د هغې رحمت دې وی				
فَقَالَ	سَعْدٌ:	وَعَلَيْكُمُ	السَّلَامُ	
آيا زه دننه راتلی شم؟ سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کور نه جواب ورکړو چې وعليکم السلام ورحمة الله او تاسو باندې هم د الله سلامتی				
وَرَحْمَةُ	اللهِ	وَلَمْ	يُسْمِعِ	
او رحمت نازل شي، آيا زه دننه راتلی شم؟ سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کور نه جواب ورکړو چه وعليکم السلام خو				
النَّبِيَّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	حَتَّى
هغه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دا جواب ورنکړو تر دې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ځله سلام اوکړو				
وَرَدَّ	عَلَيْهِ	سَعْدٌ	ثَلَاثًا	
او سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دې ځله جواب ورکړو، خو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وانورېدلو. يعنې				

[1] رقم الحديث ۴۲۴۸ اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۰ رقم الحديث ۲۰۰۶ واحمد في المسند ۳/۴۷۳ رقم الحديث ۴۲۴۹.

وَلَمْ	يُسْمِعْهُ	فَرَجَعَ

سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سلام جواب دري ځله قصداً په وروورو کړو چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې وانوري

النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې جواب نه اورېدلو سره بېرته روان شو. حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې ولیدلو چې کوم شی

فَاتَّبَعَهُ	سَعْدٌ	فَقَالَ:

ما د سعادت د حصول د زیاتې ذریعه غوښتله هغه زما لپاره بالکل د محرومئ سبب شوه او یو قسم له د بې ادبئ

يَا	رَسُولَ	اللهِ	بِأَبِي

صورت هم پیدا شو، نو په منډه د کور نه ؤوتلو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې شو او عرض يې وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

أَنْتَ	وَأُمِّي	مَا	سَلَّمْتَ	تَسْلِيمَةً	إِلَّا	هِيَ

په تا دې زما مور او پلار قربان وي تا چې څو ځله سلام کړی دی هغه هومره زما غوږونو اورېدلی دی او

بِأُذُنِي:	وَلَقَدْ	رَدَدْتُ	عَلَيْكَ

حقیقت دا دی چې ما په هر ځله جواب هم درکولو. البته دا جواب مې ستا غوږونو ته نه درسیدلو ځکه زه

وَلَمْ	أُسْمِعْكَ	أَحْبَبْتُ	أَنْ	أَسْتَكْثِرَ

ستانه د ډېر سلام او برکت خواهش منډ ؤوم یعنې زما مقصد دا ؤو چې زما جواب د ستاسو غوږونو ته

مِنْ	سَلَامِكَ	وَمِنَ

درونه رسیږي چې ته څومره ډېر سلامونه کوې نو زما په حق کې هغه هومره زیات د برکت او د سعادت د حصول

الْبَرَكَةِ	ثُمَّ	دَخَلُوا

ذریعه شي، نو د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له اړخه د دې حقیقت د اظهار او د عذر خواهئ نه وروسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

الْبَيْتَ	فَقَرَّبَ	لَهُ	زَبِيبًا

او حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور ته داخل شو او د سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته او چې کجورې پیش کړي. چې

فَأَكَلَ	نَبِيُّ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَلَمَّا	فَرَغَ	قَالَ:

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وخوړلې. کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خوراک نه فارغ شو نو د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق

أَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ وَأَفْطَرَ
کې يې دعا وکړه چې د الله نيکان دې ستا خوراک وخوري، فرښتې دې ستا لپاره استغفار وکړي
عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ. رَوَاهُ فِيشَرْحِ السُّنَّةِ[1]
او روژه دار دې ستا سره روژه ماتې وکړي.

توضيح: **اكل طعامكم الابرار**: دا صيغه د ماضي ده، خو د انشاء او د دعا لپاره د استقبال په توګه استعمال شوی دی يعنې د الله نيکان بندې ګان ستا خوراک وخوري. (مرقات ۷۹/۸)

وصلت عليكم الملائكة: د صائمون نه مراد هغه خل کدي چې هغوی ډوډۍ نه وي خوړلي هغه که روژه دار وي يا نه وي. دا جمله هم د دعا په توګه ده يعنې روژه دار دې ستا سره روژه ماتې وکړي. د خوراک نه وروسته دا دعا ګاني وي. ځينې خلک لاس اوچت کړي او دعا کوي. دا معلومه نه ده چې هغوی د کوم ځای نه ثابتوي. د خوراک نه وروسته دا دعا هم منقول ده "**الحمد لله الذى اطعمنى هذا ورزقنيم من غير حول منى ولا قوة**" او د کوربه لپاره دا دعا ده. "**الله بارك له فى امواله و اولاده**"

د پرهيزګاره خلګو ضيافت ډير بهتر دی

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ
او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه روايت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې د مومن او د
وَمَثَلُ الْإِيمَانِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ فِي آخِيَّتِهِ
ايمان مثال د هغه اَس پشان دی چې خپل پرې کې ترلی شوی وَي او د اخوا ديخوا چکرو نه وروسته
يَجُولُ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى آخِيَّتِهِ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَسْهُو ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى الْإِيمَانِ
خپل پرې ته راشي. او دغه شان مومن غفلت او کوتاهي کوي، خو بيا هم د ايمان اړخ ته راځي. لهذا
فَأَطْعِمُوا طَعَامَكُمُ الْأَتْقِيَاءَ وَأَوْلُوا مَعْرُوفَكُمُ الْمُؤْمِنِينَ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيشُعَبِ الْإِيمَانِ وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ[2]
تاسو خپل خوراک متقي او پرهيزګارانو ته ورکوئ او خپلې عطيې تولو مسلمانانو ته ورکوئ.

([1]) رقم الحديث ۴۲۴۹ اخرجه احمد في المسند ۱۳۸/۳.

([2]) رقم الحديث ۴۲۵۰ اخرجه احمد في المسند۵۵/۳ والبيهقي في الشعب ۴۵۲/۷ رقم الحديث ۱۰۹۶۴ وابونعيم في الحلية ۱۷۹/۸

توضیح: اَخِیَّتِهٖ: همزه باندې مد دی خا باندې کسره ده یا باندې شد دی بیا "تا" ده. د دې اسانه ترجمه پرې او کنډه ده. اصل کې د اخیة بهترین مصداق د ځناور په غوجل کې کوم د سائیکل ټائر په زمکه خښېږي او هغه د پرې سره وتړي او بیا پرې ځناور تړي. دې ته کَلّه هم وایي. د حدیث مطلب دا دی چې مومن د خپل ایمان مرکز سره تړلی شوی دی. ځناور د کَلّه نه کافي لرې لاړ شي خو پرې موجود وي نو آخر کې بېرته دې پرې ته راشي. همدغه شان مثال د مومن دی چې د ایمان د کلی سره تړی شوی دی. که د ګناه ارخ ته لاړ شي نو د خپل ایمان مرکز ته بېرته راشي. د مسلمان مرکز، ایمان او قرآن دی. بیت الله او مدینة الرسول دی. جوماتونه او مدرسې او علماء دي. بې لارۍ شوی مسلمان د همدغه ځای نه د هدایت حاصلوی شي. (مرقات ۷۹/۸)

فاطعموا: دا فا جزائیه ده. د دې شرط مخذوف دی. یعنې کله چې د مسلمانانو مرکز یو دی نو دې مرکز ته ټولو له راجمع کېدل پکار دي. لهذا دا مرکز مضبوط کړئ. د دې صورت به دا وي چې د یو بل مېلمستیا وکړئ چې محبت او اتحاد پیدا شي. پرهیز ګارانو ته د خوراک تخصیص ځکه شوی دی چې کله هغوی خوراک وکړي نو عبادت به کوي او تاسو ته به دعاګانې کوي او د هغوی دعاګانې قبلېږي. (مرقات ۷۹/۸)

واولوا: دا د ایلاء نه دی. والي او متولي د جوړولو په معنی کې دی. یعنې مسلمانان د خپلو عطیو سره خاص کړئ او د منافقانو او د کافرانو پرواه مه کوئ. (مرقات ۸۰/۸)

ګونډو باندې ناسته او خوراک کول عاجزي ده

﴿۹﴾عَن عبد الله بنِ بُسر قَالَ: كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْعَةٌ

او حضرت عبدالله ابن بسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره یو غټه کاسه ؤو. چې څلورو کسانو

يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ

به اوچتوله. یعنې کله به چې هغې خوراک کیښودلی شو نو هغه دومره درنه وه چې څلورو کسانو ته اوچتوله.

يُقَالُ لَهَا: الْغَرَّاءُ

یا خالي هغه دومره لویه یا درنه وه چې د څلور کسانو نه بغیر به نه اوچتې دله، نو هغه کاسي ته به یې غراء ویله

فَلَمَّا أَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحَى أُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ

کله به چې د څانښت وخت شو او خلکو به د څانښت لمونځ وکړو نو هغه کاسه به راوړلی شوه او هغې کې به یې

وَقَدْ ثُرِدَ فِيهَا فَالْتَفُّوا عَلَيْهَا فَلَمَّا كَثُرُوا

ثرید تیارولو. بیا به خلک د هغې نه ګیر چاپیره راجمع شول. تردي چې د خلکو شمیر به زیات شو او ناستي ځای

جَثَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

به تنګ شو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په ګونډو کيناستلو. دغه شان کيناستلو باندې ليدلو سره يو ورځ

فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: مَا هَذِهِ الْجِلْسَةُ؟

يو بانډې چې وويل چې دا څنګه ناسته ده؟ يعني دغه شان کيناستل د ستاسو د شان سره مناسب نه دي. دې

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ جَعَلَنِي

اورېدلو سره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې حقيقت دا دی چې الله زه د عاجزۍ او انکسارۍ والا جوړ

عَبْدًا كَرِيمًا وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا ثُمَّ

کړی يم. سرکشه او ضدي کړی يي نه يم. او دغه شان د عاجزۍ او انکسارۍ ناسته لنډه لاره ده. بيا

قَالَ: كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ټول مخاطب کړل او ويې فرمايل چې د دې د غاړو يعني د خپلې مخې نه يې خورئ، د

وَدَعُوا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۱)

دې پاس ځای پرېږدئ يعني په مينځني خوراک لاس مه اچوئ تاسو له به دې کې برکت واچولی شي.

توضيح: الغراء: د روښانه په معنی کې دی. مراد ترېنه غټ تال والا کاسه دی. (مرقات ۸۰/۸)

څڅ: په ګونډو باندې ناستې ته وايي. مطلب دا چې تکيا وهلو سره خوراک کول جائز نه دی. د دې نه بغير چې په هر صورت کې کينې نو جائز دی. البته د نبي کريم ﷺ په انداز کې کيناستل مسنون دي، خو دا په سنن زوائدو کې دي. که د ثواب نيت مو وکړو نو ثواب به ملاوېږي ګنې په عادت سره ناستې باندې ثواب نه ملاوېږي. (مرقات ۸۰/۸)

راغونډېدلو سره خوراک کې برکت نازليږي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ:

او حضرت وحشی ابن حرب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه د خپل پلار نه او وحشی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل نيکه نه نقل

إِنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا:

کوي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو څو صحابه کرامو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يو ورځ وپوښتل چې

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۵۱ أخرجه ابوداود في السنن ۱۴۳/۴ رقم الحديث ۳۷۷۳ وابن ماجه في ۱۰۸۶/۲ رقم الحديث ۳۲۶۳

يَا	رَسُولَ	اللهِ	إِنَّا	نَأْكُلُ
یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! مونږ اګر که ښه وړ خوراک کوؤ خو زمونږ خپله نه ډکیږي. او مونږ دا غواړو چې زمونږ				
وَلَا	نَشْبَعُ			قَالَ:
خپله ډکه شي چې د عبادت طاقت حاصل کړو. یا مونږ ته د قناعت دولت حاصل شي. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې وړ خوراک				
فَلَعَلَّكُمْ	تَفْتَرِقُونَ؟			قَالُوا:
کولو باوجود هم د خپلې نه ډکیدلو وجه دا معلومیږي چې کېدی شي چې تاسو جدا جدا خوراک کوئ؟ هغوی عرض وکړو				
نَعَمْ	قَالَ:	فَاجْتَمِعُوا	عَلَى	طَعَامِكُمْ
چې آؤ. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل نو بیا تاسو خپل خوراک ته په یو ځای کینئ او د هغې خوړلو				
وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]				
وخت کې بسم الله وایئ. ستاسو خوراک کې به برکت واچولی شي.				

توضیح: په ښکاره داسې معلومیږي چې په یو ځای په غونډه په یو لوښي کې د خوراک کولو باره کې ویل شوی دی. کېدی شي دسترخوان باندې کینا ستلو سره په جدا جدا کاسو کې خوراک کولو سره دا شرط پوره نه شي. د عربو خلک لس لس کسان په یو ځای خوراک ته کینې. اوس هم په قبائلو کې داسې رواج دی.

الفصل الثالث

قیامت کې به د عیش والا ژوند باره کې پوښتلی کیږي

﴿۱۱﴾ عَنْ أَبِي عَسِيبٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلًا

حضرت ابو عسیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د یو واقعه ده چې د شپې وخت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د کور نه ؤوتلو او

فَمَرَّ	بِي	فَدَعَانِي	فَخَرَجْتُ	إِلَيْهِ	ثُمَّ	مَرَّ
ماته یې تشریف راوړلو او ځې یې راوغوښتلم. زه د کور نه راؤتلم او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره شوم. بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام						
بِأَبِي	بَكْرٍ	فَدَعَاهُ	فَخَرَجَ	إِلَيْهِ		
ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورغلو او هغه یې راوغوښتلو او راوې غوښتلو او هغه هم د کور نه راؤوتلو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره شو. د						

([1]) رقم الحديث ۴۲۵۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۳۸/۴ رقم الحديث ۳۷۶۴ وابن ماجه في ۱۰۹۳/۲ رقم الحديث : ۳۲۸۶.

ثُمَّ مَرَّ بِعُمَرَ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَانْطَلَقَ

هغې نه ورسته نبي عَلَيْهِ السَّلَام د عمر خوا له ورغلو او راوې غوښتلو. هغه هم د خپل نه راؤوتلو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام

حَتَّى دَخَلَ حَائِطًا لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ

سره شو. مونږ ټول د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره شو تردې چې یو باغ ته ورسیدلو چې دیو انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باغ ؤو.

فَقَالَ لِصَاحِبِ الْحَائِطِ: أَطْعِمْنَا بُسْرًا

نبي عَلَيْهِ السَّلَام د باغ مالک ته وویل چې په مونږ کجورې وخوروه. د باغ مالک د کجورو یو غونچه راوړله او

فَجَاءَ بِعِذْقٍ فَوَضَعَهُ فَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ

زمونږ مخې ته یې کیښود له. د هغې نه نبي عَلَيْهِ السَّلَام هم وخوړله او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ یعنې مونږ

ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ بَارِدٍ فَشَرِبَ فَقَالَ:

هم وخوړله. بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام یخې اوبه راوغوښتلې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام او بیا مونږ وڅښلې. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل

لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ:

چې یقیناً د قیامت په ورځ به ستاسو نه د دې باره کې پوښتلې کېږي. روایې وایي دې اوربدلو سره

فَأَخَذَ عُمَرُ الْعِذْقَ فَضَرَبَ فِيهِ الْأَرْضَ حَتَّى تَنَاثَرَ الْبُسْرُ

عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کجور غونچه را اوچته کړه او په ځمکې ته یې راویشتله تردې چې د هغې کچه کجورې

قَبْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته خورې شوې. بیا هغې عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

إِنَّا لَمَسْؤُولُونَ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ:

آیا د قیامت په ورځ به مونږ نه د دې باره کې هم پوښتنه کېږي؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

نَعَمْ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ

آؤ! د هر نعمت باره کې به پوښتنه کېږي. هغه که کم وي یا زیات وي البته د درې شیانو باره کې پوښتنه نه کېږي.

خِرْقَةٍ لَفَّ بِهَا الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ أَوْ كِسْرَةٍ سَدَّ بِهَا جَوْعَتَهُ

یو خو هغه توته د چې په هغې سړی خپل ستر پټوي او دویم د ډوډی پوتی چې په هغې خپله ولږه ختمه کړي

أَوْ حُجْرٍ يتدخَّلُ فِيهِ مَنِ الْحَرِّ وَالْقُرِّ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيشعب الْإِيمَان.(۱)

او درېم کور او هجره چې هغې د ګرمئ او يخنئ نه د بچ کېدلو لپاره ننوځي.

توضیح تناثر: د بنورېدلو په معنی کې دی. **قِبل**: د اړخ ته معنی کې دی يعنې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اړخ ته بنورې شوې. (مرقات ۸۲/۸)

حجر: که "ح" مخکې وي نو دا حجره د کوټې په معنی کې ده. او که "ج" مخکې وي نو دا د سورې په معنی کې دی. دلته د حجرې نه مراد وړه کوټه ده. (مرقات ۸۳/۸) **يتدخل**: يعنې په ګرانه هغې ته داخلېږي. د ګرمئ او د يخنئ نه د بچ کېدلو لپاره کافي وي. (مرقات ۸۳/۸) **قر**: يخنئ ته وايي. (مرقات ۸۳/۸)

د خوراک نه يو ځای پاځېږئ

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا وُضِعَتِ الْمَائِدَةُ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کله دسترخوان خور کړی شي او

فَلَا يَقُومُ رَجُلٌ حَتَّى تُرْفَعَ الْمَائِدَةُ

خلک دې ته د خوراک لپاره کيني نو هيڅ يو کس دې تر هغې پورې نه پاسېږي چې ترڅو پورې دسترخوان اوچت نه کړی

وَلَا يَرْفَعُ يَدَهُ وَإِنْ شَبِعَ

شي او د خوراک نه تر هغه وخت پورې لاس را نښکلی شي چې ترڅو پورې ټول کسان خوراک ونکړي. اګر

حَتَّى يَفْرُغَ الْقَوْمُ

که د هغې خېټه ډکه شوې وي. او که د څه عذر په وجه د دسترخوان نه پاڅېدل ضروري وي نو يا د نور کسانو

وَلْيُعْذِرْ فَإِنَّ ذَلِكَ

د فارغېدلو نه مخکې لاس را نښکل وي نو هغې له پکار ده چې خپل عذر بيان کړي يعنې معذرت وغواړي او د

يُخْجِلُ جَلِيسَهُ فَيَقْبِضُ

دسترخوان نه پاسېږي، ځکه هغه خپلو ملګرو ته شرم ورولي. کله چې يو کس داڅوينې چې د هغې ملګري

يَدَهُ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ لَهُ

خوراک بس کړو نو د شرم په وجه به هغه هم بس کړي. او دا ډېر امکان لري چې هغه اوس د هم خوراک

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۵۳ أخرجه احمد في المسند ۸۱/۵ والبيهقيْ في شعب الايمان ۱۴۳/۴ رقم الحديث ۴۶۰۱

فِي الطَّعَامِ حَاجَةٌ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[1]

کولو خواهش لري یعني د هغې خیټه نه وي ډکه شوي.

توضیح: فلا یقوم: د خوراک په آدابو کې یو ادب دا دی چې خواړه ملګري یو ځای کینولی شي. ډاکټر د ډاکټر سره، مولا د طالب علمانو سره، علم والا د علم والا سره وغیره غیره.

کند هم جنس با هم جنس پرواز کبوتر با کبوتر باز با باز

او کوربه د هغه کسانو سره کینې چې د هغوی سره هغه مانوس وي چې مېلمنو ته په خوراک کې د هغې په وجه وحشت او تکلف نه وي. د خوراک دوهم ادب دا دی چې په اجتماعي خوراک کې هیڅ یو کس د نورو احبابو نه مخکې د خورک نه مخکې بس نه کړي. بلکې تر آخر پورې هسې ځان وساتي چې د شرم په وجه نور هم خوراک پرېږدي نه دي.

ویعذر: یعنې که یو کس ژر پاسیږي یا څه مجبوري وي نو خپلو ملګرو ته معذرت وکړي او ژوایې چې ورونو تاسو خوراک کوئ. ما اول وخوړله. زه ژر چرته روان یم. دا د دې لپاره چې نور د شرم په وجه د خوراک نه پاتې نسیږي. چې لا تر اوس پورې د خوراک خواهش وي خو د دنورو د بس کولو په وجه هغوی هم بس کړي. (مرقات ۸۳/۸)

﴿۱۳﴾ وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كَانَ

او حضرت امام جعفر د ابن محمد د خپل پلار یعنې د امام محمد باقر نه روایت کوي چې هغې وویل

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ مَعَ قَوْمٍ كَانَ آخِرَهُمْ أَكْلًا. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَانِ مُرْسَلًا[2]

چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې د خلکو سره خوراک کولو نو د ټولو نه آخر کې پاتې ونکی کس به وو.

که ولږه وي نو خوراک کې تکلف مه کوئ

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت اسماء بنت یزید فرمایي چې یو ورځ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له خوراک راوړلی شو. او یا

بِطَعَامٍ فَعَرَضَ عَلَيْنَا

هغه خوراک مونږ ته کیښود لی شوه، مونږ اګر که اوږې وا او د خوړلو خواهش مو لرو خو لکه څنګه چې عادت وي صرف

---

(1) رقم الحديث أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۰۹۶/۲ رقم الحديث ۳۲۹۵ والبيهقي في الشعب ۸۳/۵ رقم الحديث ۵۸۶۴

(2) رقم الحديث ۴۲۵۵ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۱۲۲/۵ رقم الحديث ۶۰۳۷.

فَقُلْنَا:	لَا	نَشْتَهِيهِ. قَالَ:
تکلفا مونږ وویل چې مونږ د خوړلو خواهش نه لرو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اورېدلو سره وفرمايل		
لَا تَجْتَمِعْنَ جُوعًا وَكَذِبًا. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[1]		
چې ولږه او دروغ مه يو ځای کوئ. (ابن ماجه)		

توضيح: لانشتهيه: يعني زمونږ زړه نه کېږي حال دا چې زړه مو کېدلو. مطلب دا دی چې وږي خو يو خو د په تکلف سره مو وويل چې ولږه مه نشته دی، نو دې کې د دوه شيانو نقصان دی يو خو يې د دنيا خوراک ونه خوړلو، دويم دا چې د دروغو ارتکاب يې وکړو. دا د امت د داسې اشخاصو لپاره تنبيه ده چې داسې کوي. (مرقات ۸۵/۸)

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُوا

او د حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې خوراک

جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ مَعَ الْجَمَاعَةِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[2]

په يو ځای کوئ، جدا جدا يې مه خورئ ځکه برکت د جماعت سره وي.

ميلمه د کور دروازې پورې پرېږدئ

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنَ السُّنَّةِ أَنْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دا سنت دي چې يو کس د

يَخْرُجَ الرَّجُلُ مَعَ ضَيْفِهِ إِلَى بَابِ الدَّارِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[3]

خپل ميلمه د استقبال کولو يا د هغې د رخصتولو لپاره د کور تر دروازې پورې ؤوځي. (ابن ماجه)

وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنْهُ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ

بيهقي په شعب الايمان کې دا روايت د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی. او

---

(1) رقم الحديث ۴۲۵۶ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۰۹۷/۲ رقم الحديث ۳۲۹۸.

(2) رقم الحديث ۴۲۵۷ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۰۹۳/۲ رقم الحديث ۳۲۸۷.

(3) رقم الحديث ۴۲۵۸ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۴/۲ رقم الحديث ۳۳۵۸

وَقَالَ: فِي إِسْنَادِهِ ضَعِيف[1]
بيهقي ويلي دي چې د سند په سلسله کې ضعيف دی.

توضيح: من السنة: د دې مطلب دا دی چې د مېلمه رخصتولو وخت کې ذ هغې سره تر د دروازې پورې تلل د پخوانئ زمانې يو عادت دی. چې د تهذيب او د ښه اخلاقو يوه برخه ده. يا دا مطلب دا دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې دا عمل زماد سنت مطابق دی. (مرقات ۸۵/۸)

په ضيافت کې برکت دی

﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْخَيْرُ أَسْرَعُ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کور کې چې مېلمنو ته
إِلَى الْبَيْتِ الَّذِي يُؤْكَلُ فِيهِ مِنَ الشَّفْرَةِ
خوراک ورکول کېږي هلته خير يعني د رزق برکت او نيکي دومره تيزئ سره رسيږي چې هغه تيزئ
إِلَى سَنَامِ الْبَعِيرِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[2]
سره چاړه هم د اوښ کوف طرف ته نه رسيږي.

توضيح: الى سنام البعير: اوښ چې کله ذبح کېږي، نو د ذبح کولو نه وروسته اول ژر ژر د هغې د کو ه ان نه غوښه غوڅولی کېږي او په شوق سره خوړلی کېږي. دې حديث کې يې وفرمايل چې کوم کور کې مېلمه ته خوراک ورکړی شو نو د هغه کور اړخ ته خير او برکت د دې نه هم ژر راځي، لکه څنګه چې چاړه د ذبح شوې اوښ کوف اړخ ته ژر ته ځي. (مرقات ۸/۸۶)



---

[1] رقم الحديث ۴۲۵۹ البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث

[2] رقم الحديث ۴۲۶۰ اخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۱۴/۲ رقم الحديث ۳۳۵۷

باب المضطر

وهذا الباب خال عن الفصل الاول والثالث

د مضطر بیان

د دې باب د لاندې صاحب مشکوة هیڅ عنوان نه دی ترلی. ګویا کې دا باب د مخکنیو د لواحقاتو نه دی. د [illegible] خبره دا ده چې دې باب کې فصل اول او فصل ثالث دواړه نشته دی. فقط فصل ثانی ذکر دی. دا چې صاحب مشکوة د مصابیح اقتداء کوي او صاحب مصابیح ته د دې متعلق هیڅ حدیث نه دی ملاؤ شوی. لهذا فصل اول یې نه دی ایښی. باقی فصل ثالث راوړل د مصابیح په نزد نشته دی، ځکه د دې نفي ضرورت نشته دی. بهرحال که دا بیخې دا باب نه وی نو ډیر به ښه وی، نو دا حدیثونه به د مخکنې باب په **فصل ثاني** کې لېکلی شوي وی، خو دا چې د مضامینو په اعتبار سره دا حدیثونه باکل مختلف دي نو ځکه علامه طیبي رحمه الله او ملا علي قاري رحمه الله ورله د باب المضطر عنوان ترلی دی چې ډیر ښه دی.

الفصل الثاني

په اضطراري حالت کې د مردار خوړلو مسئله

﴿۱﴾عَن الفجيع العامري أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د حضرت فجیع عامری رضی الله عنه نه روایت دی چې هغه یو ورځ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې
فَقَالَ: مَا يَحِلُّ لَنَا مِنَ الْمَيتَةِ؟
حاضر شو او عرض یې وکړو چې حضرت دا اوایه چې زمونږ لپاره په مردار کې څه حلال دي؟
قَالَ: مَا طعامُكم؟ قُلنا:
نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې اول دا اوایه چې خوراک درته په کوم مقدار ملاویږي؟ مونږ عرض وکړو
نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ:
چې مونږ ته پیاله شوده مابنام کې او یو پیاله سحر کې ملاویږي. د حدیث روای ابو نعیم فرمایي
فَسَّرَهُ لِي عُقْبَةُ: قَدَحٌ
چې زما استاد او شیخ حضرت عقبه رضی الله عنه د نغتبق او د نصطبح دا وضاحت کړی دی چې یو پیاله شوده

غُدْوَةً	وَقَدَحٌ	عَشِيَّةً
سحر کې او يو پياله شوده مانبام کې. بهر حال نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د فجيع دې جواب اورېدلو سره وفرمايل چې د خوراک		
قَالَ:	ذَاكَ	وَأَبِي	الْجُوعُ
دا مقدار د خپل پلار د قسم ولږه واجب کوي. يعني سحر او مانبام صرف يوه ډيوه پياله شوده شريکول ولږه ختمه کړي او د			
فَأَحَلَّ لَهُمُ الْمَيْتَةَ عَلَى هَذِهِ الحالِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]			
انساني ژوند د بقاء ذريعه نه شي جوړېدلی شي. نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه صورت کې د هغې لپاره مردار حال کړی ؤو.			

توضيح: ماطعامكم: يعنې تاته په خوراک کې څه ملاوېږي؟ (مرقات ۸۷/۸)

نغتبق و نصطبح: د حديث راوي ابونعيم وايي چې زما استاد د دې دواړو کلماتو داسې مطلب بيان کړی دی چې د شودو يوه پياله سحر کې او يوه مانبام کې ملاوېدله. صبوح د سرح نه او غبوق مانبام ته وايي.

ذاك وابى الجوع: ذاک مبتداء دی او الجوع د دې خبر دی. او وابی په مينځ کې جمله معترضه قسميه ده. علامه طيبي فرمايي "وابى جملة قسمية معترضة بين المبتداء والخبر" (طيبي) يعنې په خدای قسم دا خو خالصه ولږه ده. يعنې حالت اضطراري دی. لهذا مردار خوره او ژوند بچ کړه. (مرقات ۸۷/۸)

پوښتنه: د دې حديث د راتلونکي حديث سره واضحه تعارض دی ځک د بحث کې دي چې که د شودو يو پياله سحر او مانبام ملاوېږي نو دا حالت اضطراري دی. او مردار خوړل جائز دی او راتلونکې حديث کې ذکر دی چې تر څو پورې په وانبو باندې هم ګوزاره کېږي نو تر هغه وخت پورې مردار خوړل ناجائز دي. د دې تعارض د لرې کولو څه طريقه ده؟

جواب: د دې تعارض د لرې کولو سريقه دا ده چې د اضطراري متحقق حد خو همغه دی چې د کوم ذکر په راتلونکې د ابو واقد په حديث نمبر ۲ کې دی چې وانبه هم ملاوېږي هغه وخورو او مردار ونه خورو.

او د زير بحث حديث جواب دا دی چې هغې چې د کوم د يوې پيالې ذکر دی. دا د يو يو کس لپاره نه وه. بلکې د ټول قوم لپاره به سحر يوه پياله او مانبام يوه پياله وه، نو د ټول قوم لپاره د يوې پيالې نه

([1]) رقم الحديث ۴۲۶۱ اخرجه ابوداود فی السنن ۱۶۷/۴ رقم الحديث ۳۸۱۷

به څه ملاو شي؟ يو ګوټ هم مشکل دی. دا خو خالص اضطرارې حالت دی. لهذا د دې حديث او د راتلونکې حديث مفهوم او مضمون يو دی.

د دې حديث د يو څو الفاظو نه معلوميږي چې د شودو يوه پيالې به د يو قوم لپاره وه. مثلاً **ما طعامكم** کې ټول قوم ته خطاب دی. دغه شان د راوي پوښتنه **"مايحل لنا"** کې د ټول قوم لپاره پوښتنه ده. د يو کس لپاره نه وه.

باقي دواړو حديثونو باندې د پوهېدل لپاره ضروري دي چې د ثبوت اضطرارې باره کې د فقهاؤ اختلاف بيان کړی شي، ځکه دې مسئلې کې د فقهاؤ اختلاف دی. (مرقات ۸۸/۸)

د فقهاؤ اختلاف: امام مالک او د امام احمد بن حنبل او يو قول کې د امام شافعي په نزد که يو کس د خپل طبعي حالت مطابق دومره خوراک نه مومي چې خپله يې پرې ډکه شي نو هغه کس له مردارې خوړل جائز دي. د مردار خوړلو او د تحقيقِ اضطرارې باره کې د دې حضراتو په نزد ډېر لوی وسعت دی.

امام ابوحنيفه رحمه الله او يو قول کې د امام شافعي رحمه الله په نزد اضطرارې حالت به هغه وخت کې متحقق وي چې د سړی ژوند ته و ولږي په وجه د هلاکت خطر وي شي نو بيا مردار خوړل جائز دي چې ژوند پاتې شي. صرف د **قوت لا يموت** او د **سَدّرمق** تر حد پورې دې وخوړي. (الکاشف: ۱۹۲/۸)

دلائل: جمهورو د بحث د لاندې حديث نه استدلال کړی دی. د احنافو ائمؤ د راتلونکې حضرت ابوواقد ليثی رحمه الله د حديث نه استدلال کړی دی.

د احنافو له اړخه د زير بحث حديث جواب د دې نه مخکې د پوښتنې او د جواب په ضمن کې تير شوی دی چې دا يوه پيالې د ټول قوم لپاره وه. دا خو د عين اضطرارې دی.

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا
او حضرت ابوواقد ابو ليثی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو کس عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ! مونږ
نَكُونُ بِأَرْضٍ فَتُصِيبُنَا بِهَا
کله په داسې زمکه يعنې داسې ځای ته ورسيږو چې مونږ ته هلته خوراک نه ملاويږي. چې د هغې
المخمصة فَمَتَى يحلُّ لنا الميتةُ؟
په وجه مونږ هلته د مخمصه ولږي په حالت کې اخته شو. دې صورت کې مردار خوړل زمونږ لپاره کله حلالږي؟

قَالَ:مَا	لم	تصطبحوا	وتغتبقوا
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې کله تاسو ترسحر پورې يا د مابنام پورې د خوراک څښاک هيڅ شی ونه مومئ يا د هغه			
أَوْ	تَحْتَفِئُوا	بِهَا	بَقْلًا	فَشَأْنُكُمْ	بِهَا.
زمکه يعنې هغه ځاې چرته چې تاسو وئ او د ترکارئ د څيزونو نه تاسو ته هيڅ څيز ملا و نه شي،					
مَعْنَاهُ:	إِذَا	لَمْ	تَجِدُوا	صَبُوحًا	
نو تاسو مردار خوړلی شئ. حاصل دا چې تاسو ته هيڅ داسې څيز نه ملاويږي. چې ولږه ختمونکې					
أَوْ	غَبُوقًا	وَلَمْ	تَجِدُوا	بَقْلَةً	
يا د خيټې ته مرسته ورکونکې وي نو ستاسو حالت به د مردار متعلق وي. يعنې داسې صورت					
تَأْكُلُونَهَا حَلَّتْ لَكُمُ الْمَيْتَةُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيّ[1]					
راتلو کې مردار خوړل به ستاسو لپاره حلال وي.					

(1) رقم الحديث أخرجه الدارمي في السنن ۲/۱۲۰ رقم الحديث ۱۹۹۶ وأحمد في المسند ۵/۲۱۱.

باب الاشربة
د څکونکو شیانو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿کلوا واشربوا ولا تسرفو﴾ (سورة الاعراف: ۳۱)

اشربة: د شراب جمع ده. او شراب د مشروب په معنی کې دی. مشروب هر څکونکې شي ته وایي. هغه که اوبه وي، نبیذ وي، شربت وي یا جوس وي. دا چې مشروب د طعام تابع وي، ځکه یې د کتاب الاطعمه د لاندې تابع ذکر کړو او لباس د طعام تابع نه دی نو ځکه یې هغه د جدا کتاب په عنوان کې ذکر کړو. دې باب کې د اوبو د څکلو آداب، مستحبات او د مکروهاتو ذکر کړی دی. (مرقات ۹۱/۸)

الفصل الاول
په درې ساګانو کې د اوبو د څکلو فایدې

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا.

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د اوبو په مینځ کې درې ځله ساه اخستله. او

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وزادَ مسلمٌ فِي روايةٍ ويقولُ: إِنَّه

د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ هم نقل دي چې او نبي عَلَيْهِ السَّلَام به فرمایل چې دغه شان په ډېرو ساګانو کې اوبه څښل

أَرْوَى وأَبْرَأُ وأَمْرَأُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ښه مړول کوي او تنده ماتوي. بدن ته صحت ورکوي او ښه هضمېږي او معدي ته ډېر په اسانۍ سره ځي.

توضیح: ثلاثاً: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به درې درې ساګانو کې اوبه څښلې. دا د غالب احوالو خبره ده. ګنې د ترمذی په روایتونو کې په دوه ساګانو کې د اوبو څښلو خبره هم ملاویږي. هغه هم کله کله شوی دی. یو بل حدیث کې دي چې اوبه د اوښ پشان مه څښئ بلکې دوه ساګانو یا درې ساګانو کې یې څښئ. دې کې هم د دوه ساګانو ذکر دی. (مرقات)

---

[1] ، قم الحدیث ۴۲۶۳ أخرجه البخاری، صحیحه ۲۹/۱۰ ، قم الحدیث ۵۶۲۱ ، ۳/۱۶۰۱ ، قم الحدیث (۱۲۳-۲۰۲۸)

د اوبو په آدابو کې یو ادب دا هم دی چې کله انسان سا اخلي نو لوښی دې د خولې نه اخوا کړي چې د سا اخستلو په وجه اوبو کې څه څیز غوزار نه کړي.

قاضي عیاض لیکلي دي چې دَرې ساګانو سره اوبو څښلو کې یوه فائده دا ده چې دې سره تنده ښه ماتېږي. دویمه فائده دا ده چې دا د هضم لپاره ګټوره ده، ځکه دغه شان د اوبو یخوالی معدې او اعصابو ته نسبتاً کم نقصان رسوي. او که هغه پ یو سا باندې اوبه وڅښي نو معده د یو ځل نه یخه شي او نقصان به کېږي. د دې حدیث په دې آخري جملو د همغه فایدو بیان دی، خو په سنت نبوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې عمل کول د ټولو نه لویه فائده ده. (مرقات ۹۲/۸)

اروی: ای اشدرواه یعني ښه مړول کوي. (مرقات ۹۲/۸)

ابرأ: دا د برأت نه دی یعني دغه شان اوبه څښل د بدن لپاره صحت ورکونکی او د بیماری نه د برأت سبب دی. (مرقات ۹۲/۸)

امرأ: ای اقوی هضماً، ښه هضمېږي. (مرقات ۹۲/۸)

د مشک په خوله باندې د اوبه څکلو ممانعت

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مشک په غاړه باندې اوبو څښلو نه منع کړې ده.

توضیح: من فی السقاء: فی لفظ مشدد دی. اصل کې د فوه نه دی. چې د فم په معنی کې دی. ای من فم القربة د مشکیزې په خوله باندې د اوبو څښلو نه ځکه منع کړی شوې ده چې امکان لري چې د مشکیزې په خوله کې څه کچره کې وي یا مضر ځناور یا حشره وغیره ننبتې وي. یا اوبو کې دننه ګونګټ یا ګندګي وي او دغه شان په پټو سترګو څښلو سره هغه خولې کې لاړ شي. او اوبه د مشکیزې ذ تورتم نه د خیټې تورتم ته یو ځل نه څښلو سره د معدې د خرابېدلو خطر هم وي. دغه شان اوب څښلو سره د دې ګیس دننه لاړ شي. چې د صحت لپاره مضر کېدلی شي. او کله کله په جامو باندې اوبه وغورځېږي او ډېره لونده شي. کله کله د خولې نه د خوراک پوټې د اوبو په لوښي کې دننه لاړ شي. چې د صفائی خلاف دي. دا وجوهات په خپل ځای خو د یو مسلمان لپاره د دې ممانعت د ټولو نه لویه وجه دا ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا منع کړي دي. او دا د مسنون طریقې خلاف ده. د مشکیزې پشان دا حکم د لوټې لپاره هم دی. بوجئ، ، بوتل یا د هره هغه لوښي هم دی،

---

[1] رقم الحديث اخرجه البخاري في صحيحه ۹۰/۱۰ رقم الحديث ۵۶۲۹ وابوداود في السنن ۱۰۹/۴ رقم الحديث ۳۷۱۹ .

چې د هغې د دننه حالت علم چاته نه وي. د راتلونکې حديث تشريح او توضيح هم دغه شان ده. (مرقات ۸/۹۳، ۹۲)

پوښتنه: اوس پوښتنه دا ده چې د دې باب په آينده حديث نمبر ۱۹ کې حضرت کبشه فرمايي چې نبي کريم ﷺ د مشکيزې په خوله باندې خپله اوبه وڅښلې، نو د دې تعارض څه جواب دی؟

جواب: د دې جواب دا دی چې د مجبورۍ په وخت کې داسې کول جائز دي. ګڼې نه دي. دويم جواب دا دی چې يو وړه مشکيزه وي يو غټه مشکيزه وي. په وړې مشکيزې باندې نبي کريم ﷺ څښلې دي. چې هغې کې يقيناً د مضرې حشرې خطر نه وُو. درېم جواب دا دی چې عام عادت کول يې ممنع دی. د يو نيم ځل څښلو ګنجائش شته دی.

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اخْتِنَاثِ.

او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ د مشک خوله اړول يعني د

الْأَسْقِيَةِ زَادَ فِي رِوَايَةٍ: وَاخْتِنَاثُهَا:

هغې خوله اړولو او اوبه د څښلو نه منع کړې ده. او روايي يو روايت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې د مشک د

أَنْ يُقْلَبَ رَأْسُهَا ثُمَّ يُشْرَبَ مِنْهُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

خولې اړولو مطلب دا دی چې د مشک سره يعني خوله سرچپه کړی شي او بيا د هغې نه اوبه وڅښلې شي.

توضيح: اختناث: دا د خنث نه دی چې معنې يې د مشکيزې خوله اړول او د خپلې خولې سره لګول دي. يعني داسې استعمالو سره اوبه جائز نه دي. وجوهات پاس بيان شوي دي. (مرقات ۸/۹۳)

په ولاړه باندې د اوبه د څکلو ممانعت

﴿۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى

او حضرت انس رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کړي چې نبي کريم ﷺ د دې نه منع

أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

کړې ده چې يو کس په ولاړه اوبه وڅښي.

([1]) رقم الحديث ۴۲۶۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۸۹ رقم الحديث ۵۶۲۵ ومسلم في ۳/۱۶۰۰ رقم الحديث (۱۱۱-۲۰۲۳)

([2]) رقم الحديث ۴۲۶۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۶۰۰ رقم الحديث (۱۱۳-۲۰۲۴) وابوداود في السنن ۴/۱۰۸ رقم الحديث ۳۷۱۷

توضیح: **قائما**: دې حدیث کې په ولاړه د اوبو څښلو نه د منعې ذکر دی. او ورسره روایت کې دي چې که چرې په هیره یې وڅښلو نو هغې له پکار دي چې اوبه کانګې کړي. د دې حدیث تعلق د اصل او قاعدې سره دی چې د شریعت همدغه قاعده ده. چې په نانسته اوبه وڅښې. او هم دغه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت ؤو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت هم په دې هم عمل دی. د دې برعکس په فصل ثانی کې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث ۱۳ کې په ولاړه د اوبو د څښلو ذکر موجود دی، نو د دې حدیث تعلق د بیان د جواز سره دی چې که مجبوري داسې وي نو هغه جائز ده کله ځای نه وي. کله توندې وي. مله بله څه مجبوري وي چې استثنائی صورتؤونه دي. دویم جواب دا چې زیر بحث حدیث کې ممانعت کراهت تنزیهي باندې محمول دی او راتلونکی د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ والا حدیث په جواز باندې محمول دی. او کراهت تنزیهي او د جواز په مینځ کې منافات نشته دواړه یو شی دی. بهرحال اصل قاعده او قانون په ناسته د څښلو دی. کله ناکله که د دې قانون برعکس وي نو هغه به د مجبوري استثنائی صورت وي. چې د ناستې ځای نه وي، نو کله توندې وي او کله څه بله مجبوري وي. په استثنائی صورتو کې یو صورت د زمزم د اوبو دی چې هغه په ولاړه څښل کېږي، ځکه هغه مبارکې اوبه دي چې څومره زیاتې وڅښلی شي نو نقصان نه کوي. منافق د دې نه کمې اوبه څښې، نو مسلمانانو ته حکم دی چې په ولاړه یې وڅښې، ښې ډېرې دې وڅښې چې پوښتئ ډکې شي. د قیام په حالت کې نورو اوبو سره په ډکه خیټه اوبه وڅښلی شي نو کیناستلو سره بوج کمېږي، خو په زمزم باندې خیټه بوج نه مسحوسوي. دغه شان د اودس نه بچ شوې اوبه په ولاړه څښلی کېږي. هغه هم مبارکې اوبه دي ضرر به نه رسوي. عجیبه حکمت دی چې د ناستې حالت کې خیټه کې کوتونه جوړېږي. په ډکه خیټه اوبه څښلو سره چې کله سړی ودرېږي نو اوبه خیټه کې خوړې شي. او ګنجائش پیدا کېږي. هیڅ بوج به نه وي، خو د قیام په حالت کې اوبو څښلو سره به دا فائده ورکه وي. (مرقات ۸/۹۴، ۹۳)

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو کې دې هیڅ یو

مِنْكُمْ قَائِمًا فَمَنْ نَسِيَ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَقِئْ. رَوَاهُ مُسلم[1]

کس په ولاړه اوبه نه څښي او که چا په هیره په ولاړه اوبه وڅښلې نو هغې له پکار دې چې کانګې یې کړي.

---

[1] رقم الحديث ۴۲۹۷ اخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۶۰۱ رقم الحديث (۱۱۶-۲۰۲۶)

په ولاړه باندې د زمزم د اوبو استعمال مستحب دي

﴿۶﴾ وَعَن ابْن عَبَّاس قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې د زمزم د اوبو يو

فَشَرِبَ وَ هُوَ قَائِمٌ (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

ډول راوړلو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه په داسې حالت كې وڅښلې چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولاړؤو.

د اودس نه پاتې شوي اوبه په ولاړه څكل كيدلى شي

﴿۷﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّهُ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ قَعَدَ فِي حَوَائِجِ النَّاسِ

او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى د چې يو ورځ هغې د غرمې لمونځ وكړو او بيا د خلكو د مقدمو او د معاملاتو

فِي رَحَبَةِ الْكُوفَةِ حَتَّى

د فيصلو لپاره د كوفې يو اوچت او فراخه ځاى باندې خپل مجلس قائم كړو او هلته به يې د خلكو د جنګونو معاملې

حَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ ثُمَّ أُتِيَ بِمَاءٍ

اوربدلې او فيصلې به يې كولې تردې چې د مازيګر وخت راغلو. چې د اودس لپاره اوبه راوړلى شوي نو

فَشَرِبَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ

هغې د خپلې تندې د ماتولو لپاره د اودس نه مخكې د اودس اوبه وڅښلې او بيا هغې د اودس لپاره مخ او لاسونه

وَذَكَرَ رَأْسَه وَرِجْلَيْهِ

ؤوينځل. او راوي دا ذكر كړل چې هغې د خپل سر مسح وكړه او د خپلې پښې يې وينځلې. د هغې نه وروسته

ثُمَّ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَه وَهُوَ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورد بدلو او د اودس پاتې اوبه يې وڅښلې. او به يې په داسې حالت كې وڅښلې چې هغه

قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ أُنَاسًا يَكْرَهُوْنَ الشُّرْبَ قَائِمًا

ولاړؤو. او بيا يې وفرمايل چې ځينې خلك په ولاړه اوبه څښل په كراهت باندې محمول كوي. يعنې

---

[1] رقم الحديث ۴۲۶۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۱/۱۰ رقم الحديث ۵۶۱۷ ومسلم في ۱۶۰۲/۳ رقم الحديث ۴۲۶۸

وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ
هغوی دا ګڼي چې په ولاړه اوبه څښل مکروه دي، خو حقیقت دا دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همدغه
مِثْلَ مَا صَنَعْتُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
شان کړي دي لکه څنګه چې اوس ما وکړل.

توضيح: ذکر راسه: يعنې راوي په هغه اودس کې د سر د مسحې بيان هم وکړو او د پښو د وينځلو ذکر يې هم وکړو. **مَا صَنَعْتُ**: حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ويل غواړي چې څنګه ما د اودس پاتې اوبه وڅښلې همدغه شان عمل نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی ؤو. بهرحال د دې نه د عامو اوبو د څښلو د جواز خبره نه ثابتېږي ځکه د زمزم او اودس د اوبو صورت د استثنائی صورتونو نه دی (مرقات ۸/۹۶)

په مجبورئ کې د تالاب يا نهر نه په خوله اوبه څکلی شئ

﴿۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يعنې د ابو الهيثم
وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ فَسَلَّمَ فَرَدَّ الرَّجُلُ
چې ذکر يې تير شوی دی چې باغ ته ورغلو. د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره يو صحابي يعنې حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ؤو.
وَهُوَ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطٍ
نبي عَلَيْهِ السَّلَام باغ ته رسيدلو سره سلام عليکم وکړو. هغه انصاری هغه وخت باغ له اوبه ورکولې. د
فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ كَانَ عِنْدَكَ
نبي عَلَيْهِ السَّلَام د سلام جواب يې ورکړو. نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغې ته وفرمايل چې که ستا سره په مشک کې زړې
مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ وَإِلَّا كَرَعْنَا؟
اوبه وي نو راې وړه او که تاسره داسې اوبه نه وي نو بيا به مونږ لختې يا نهر باندې خوله کېږدو او اوبه به وڅښو.
فَقَالَ: عِنْدِي مَاءٌ بَاتَ فِي شَنٍّ فَانْطَلَقَ إِلَى الْعَرِيشِ
هغه عرض وکړو چې آؤ ما سره په زوړ مشک کې اوبه زړې اوبه شته دی، نو هغه سپر ته لاړو چې کوم هغې باغ

[1] رقم الحديث ۴۲۶۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۱/۱۰ رقم الحديث ۵۶۱۶

فَسَكَبَ	فِي	قَدَحٍ	مَاءً	ثُمَّ	حَلَبَ	عَلَيْهِ

کې ودرولی ؤو. او یوې پیاله کې یې اوبه روا ړلې یعنې باندې یعنې هغه پیاله کې د کور ساتلې د بزې شوده ولشل

مِنْ	دَاجِنٍ	فَشَرِبَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او هغه پیاله یې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته پیش کړه. بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه وڅښل. بیا د هغې نه وروسته هغه انصاری

ثُمَّ	أَعَادَ	فَشَرِبَ	الرَّجُلُ	الَّذِي	جَاءَ	مَعَهُ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيّ (۱)

د اولنۍ پیالې پشان یوه بله پیاله راوړله چې بیا هغه کسانو وڅښله کوم چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ؤو.

توضیح: ومعه صاحب له: شارحین لیکلي چې د دې نه مراد حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی، ځکه الله هغه د صاحب په لقب سره یاد کړی دی. **"اذ یقول لصحابه"** د شارحینو قول په سر سترګو قبول دی، خو ما چې په خپل زړه مازغو باندې څومره زور ورکړی دی هغه هومره دماغو انکار کړی دی، ځکه د حدیث په آخر دا الفاظ دي. **فشرب الرجل الذی جاء معه** داسې الفاظ د صدیق لپاره څنګه استعمالیدلی شي. دا خو دیو غیر معروف کس لپاره د استعمالول الفاظ دي. والله اعلم.

ماء باتٌ: یعنې د شپې نه اینبودلی شوې اوبه.

شنة: زړې مشکیزې ته وایي.

والا کرعنا: یعنې که داسې اوبه او مشکیزه نه وي نو بیا به مونږ یو تالاب یا په نهر خوله کښېږدو. اوبو د څښلو ترتیب داسې دی چې که لوښی وي نو په هغې دې وڅښلی شي. که لوښی نه وي نو بیا دې په دواړه لپو کې اوبه وڅښلی شي. که په دې هم مشکل وي نو بیا په خوله څښل جائز دي، لکه څنګه چې د دې روایت نه معلومېږي. ماته د غرونو د اوبو په خولې باندې د څښلو تجربه شوې ده. هلته ځینې اوبه داسې وي چې لوښي یا لپه کې را اوچتول او څښل امکان نه لري، نو داسې مجبوری کې په خوله باندې د څښلو اجازت دی. د ابن ماجه په یو بل روایت کې په خوله باندې د اوبو څښلو نه منع شوې ده. هغه په نهې کراهت تنزیهي باندې محمول دی. او د بحث لاندې حدیث د جواز لپاره دی. یعنې که مجبوري وي نو په خوله باندې اوبه څښلی شي.

داجن: د کور ساتلی شوې بزې ته وایی. (مرقات ۹۷/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۷۰ اخرجه البخاري في صحيحه ۵۷/۱۰ رقم الحديث ۵۶۱۳ وابوداود في السنن ۱۱۲/۴ رقم الحديث ۳۷۲۴.

سرو او د سپينو زرو لوخو کې اوبه څکل حرام دي

﴿۹﴾وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:الَّذِي يَشْرَبُ

او د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې د

فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ.

سپينو زرو په لوښي کې او کوم شی څښي نو د هغې دا څښل به د دې نه بغير بله هيڅ نتيجه پيدا نه

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ:إِنَّ الَّذِي يَأْكُلُ وَيَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَةِ وَالذَّهَبِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

کړي چې د هغې به خيټه کې به د دوزخ اور ګوټ ګوټ ورکوز کړی شي.(بخاری ومسلم)

توضيح: **يجرجر**: اوښ د رمبا ړي وخت کې چې د هغې د خولې نه کوم اواز وځي هغې ته جرجرة وايي. دله ګوټ ګوټ خيټه کې اور داخلول مراد دي. دې داخليدلو سره د جرجره اوزا پيدا کېږي. (مرقات۸/۹۸)

نار جهنم: راجح او واضح او سانه ترکيب همدغه دی چې د نار جهنم کلمه يجرجر مفعول به دی. **ای يجرجر نار جهنم فی بطنه** يعني مسلسل به يې د دوزخ اور نه خيټه ډکولی کېږي.

اوس د دې حديث حکم او فقه دا ده چې د ټول امت په دې اتفاق دی چې د هر نابينه او زنانه لپاره د سرو او سپينو لوښي استعمالول په هرحال کې ناجائز او حرام دي. هغه که په خوراک څښاک کې استعمال وي يا د بل کوم يو مقصد لپاره وي. البته د ښځو لپاره سرو او سپينو زرو زيوارت استعمالول جائز دي. د زيوارتو تعلق د هغې د ذاتي ښايست سره دی چې مطلوب دی. لوښو کې دا شی نشته دی، نو ځکه د ښځو لپاره هم منع دی. که د کوم لوښي په غاړو کې د سپين زر لړېدلې وي يا يې يو پتری لړېدلی وي نو مسلمانانو له پکار دي چې خوله هغه ځای کې کېږدي چې کوم ځای باندې سپين زر نه وي. (مرقات۸/۹۸)

﴿۱۰﴾وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:لَا تَلْبَسُوا

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلې دي چې مه اغوندئ

الْحَرِيرَ وَلَا الدِّيبَاجَ وَلَا تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ

د ريښمو جامې او مه څښئ ريښم اغوندئ. چې دواړه يو قسمه د ريښمو ټوټه وي. د غه شان د سرو زرو او

---

[1] رقم الحديث ۴۲۷۱ اخرجه البخاري في صحيحه ۹۶/۲۰ رقم الحديث ۵۶۳۴ ومسلم في ۱۶۳۴/۴ رقم الحديث (۱-۲۰۶۵)

وَالْفِضَّةِ وَلَا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا

مه د سپينو زرو په لوښو کې اوبه څه څيز څښئ. او مه د سرو او سپينو زرو په کاسو او پيالو کې خوراک کوئ،

فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

ځکه دا ټول شيان دنيا کې د کافرانو لپاره دي. او ستاسو لپاره په آخرت کې دي. (بخاری و مسلم)

نبي اړخ نه د جام ګرځول پکار دي

﴿۱۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: حُلِبَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کور ته تشريف راوړو، نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لپاره د ساتلې

شَاةٌ دَاجِنٌ وَشِيبَ لَبَنُهَا بِمَاءٍ مِنَ الْبِئْرِ الَّتِي فِي دَارِ أَنَسٍ

شوې بزې شوده ولوشلې شو او هغه شوده د هغه کوهي په اوبه کې ګډه کړې شو چې د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په کور کې وه.

فَأُعْطِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَدَحَ فَشَرِبَ

بيا د شودو دا پياله د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کې پيش کړې شوه. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ترې نه څه شوده وڅښل. هغه وخت

وَعَلَى يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چپ اړخ ته ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ناست ؤو. او نبي اړخ ته يې يو بانډه چې ناستی ؤو.

فَقَالَ عُمَرُ: أَعْطِ أَبَا بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايل چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! دا پاتې شوده حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړه،

فَأَعْطَى الْأَعْرَابِيَّ الَّذِي عَنْ يَمِينِهِ ثُمَّ

خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه بانډه چې ته ورکړه کوم چې نبي اړخ ته ناست ؤو. بيا يې وفرمايل چې د نبي اړخ والا مخکې دی. او بيا د چپ اړخ والا

قَالَ: "الْأَيْمَنَ فَالْأَيْمَنَ وَفِي

او يو روايت کې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه موقع کې دا وفرمايل چې ياد وساتئ د نبي اړخ والا زيات حقدار دی لهذا د نبي اړخ والا

رِوَايَةٍ: الْأَيْمَنُونَ الْأَيْمَنُونَ

ته يې ورکړه. يعنې چې دا معلومه شوه چې د نبي اړخ والا زيات حقدار دی نو تاسو هم نبي اړخ والا لحاظ

---

(1) رقم الحديث ۴۲۷۲ اخرجه البخاري في صحيحه ۹۶/۱۰ رقم الحديث ۵۶۳۳ ومسلم في ۱۶۳۷/۳ رقم الحديث (۴-۲۰۶۷)

أَلَا فَيَمِّنُوا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
ساتئ. زه د همدغې نه ابتداء کوم.

توضيح: الايمنون: دا ټول الفاظ د يمين د مادې نه ماخوذ دي. يعنې د نبي اړخ نه جام ګرځول پکار دي. د نبي اړخ والا زيات حقدار دي.

﴿۱۲﴾وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ
او د حضرت سهل ابن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو ځل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې د شودو يا د اوبو پياله
فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ - غُلَامٌ أَصْغَرُ
راوړلی شوه. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې نه وڅښل. هغه وخت کېد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نبي اړخ ته يو کم عمری ځوچې
الْقَوْمِ وَالْأَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ
د مجلس په حاضرينو کې د ټولو نه وړوکی ځو. يعنې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نور چې کوم بوډا ډير کسان ځو. هغوی
فَقَالَ: يَا غُلَامُ أَتَأْذَنُ أَنْ أُعْطِيَهُ الْأَشْيَاخَ؟
چپ اړخ ته ځو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې ای هلکه آيا ته اجازت کوې چې دا پاتې شوده يا اوبه دې بوډه ګانو
فَقَالَ: مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ بِفَضْلِي مِنْكَ أَحَدًا يَا رَسُولَ اللهِ
ورکړم؟ هغه وړوکی وويل چې نا يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زه ستانه پاتې شوې شودو يا د اوبو په سلسله کې
فَأَعْطَاهُ إِيَّاه (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَحَدِيث أَبِي قتادَةَ سنذكر فِيبَابِ الْمُعْجِزَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى)[2]
د خپل ځان نه بل ته ترجيح نه شم ورکولی، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه پاتې شوده هغه کم عمري ته ورکړل.

توضيح: غلام: د غلام نه مراد حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی. دا نبي اړخ ته ناست ځو. (مرقات ۱۰۲/۸)

لااوثر: يعنې زه د ستاسو نه (اې دالله رسوله) پاتې شوې اوبو يا شودو په ورکولو کې په خپل ځان هيڅاته ترجيح نه ورکوم. د دې حديث نه د ايثار بالطاعات مسئله واضح کېږي. د ايثار بالطاعات مطلب دا دی چې يو کس ته نيکي ملاوېږي او هغه خپل ځان پرېږدي او بل له موقع ورکړي چې دا نيکي دې ته ملاوشي. مثلاً د جماعت په اولنې صف کې يو کس ولاړ وي. شاته صف کې يو بزرګ راشي او بزرګ ته يې په اول صف کې موقع ورکړه. دې ته ايثار بالطاعات وايي. ايثار بالطاعات که په واجباتو کې وي نو دا ناجائز دي. او که طاعات غير واجبه وي نو مکروه دي. دا خو د ايثار رالطاعات خبره وه،

---

(1) رقم الحديث

(2) رقم الحديث ۴۲۷۴ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۴/۵ رقم الحديث ۲۳۵۸ ومسلم في ۱۶۰۴/۳ رقم الحديث ۴۲۷۴.

خو که په دنوې امورو کې یو کس ایثار کوي نو دا مستحب دي. مثلاً خپل حق بل ته پریښودل یا خپل نمبر بل ته ورکول. خپل ځای باندې بل کښول، نو دې کې د ادب ثواب ملاویږي. (مرقات ۱۰۲/۸)

الفصل الثاني

ګرځېدو راګرځېدو کې د ضرورت په بناء خوراک څکاک جائز دی

﴿۱۳﴾ عَنِ ابنِ عمرَ قَالَ: كُنَّا نَأْكُلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَمْشِي

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې به یوه زمانه داسې

وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

هم وه چې مونږ به په روانه کې خوراک کولو. او بیا به مو په ولاړه اوبه وغیره څښلې. (ترمذی، ابن ماجه، دارمی)

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ[1]

امام ترمذی وائی چه دا حدیث حسن صحیح غریب دې

توضیح: قیام: د دې حدیث نه معلومه شوه چې په روانه کې خوراک کول بلا کراهت جائز دی، خو د دې نه استدلال کولو لپاره ضروري دی چې دا عمل د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عمل کې راغلی وي. او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې تصویب کړی وي او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تقریر ضابطه پوره شوې وي. که داسې نه وي نو د صحابي دا عمل به په ضرورت او مجبوری باندې حمل کېږي، ځکه د ټولو علماؤ او فقهاؤ په دې خبره اتفاق دی چې ولاړ اوبه څښل مناسب نه دي، ځکه دا د اوبو د څښلو خلاف دي. د دې باب د حدیث ۴ د لاندې دا مسئله په تفصیله سره تیره شوې ده. او نور ډېرو حدیثونو کې په ولاړه د اوبو ممانعت راغلی دی. د خوراک مسئله خو ډېره مهمه ده، نو ځکه د بحث لاندې حدیث کې به تاویل کېږي. دغه شان د خوراک د شیانو حال هم مختلف دی. که کجورې وي یا انګور وي نو دا د ډوډۍ نه مخلتف دي. (مرقات ۱۰۳/۸)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جده قَالَ:

او حضرت عمرو ابن شعیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې هغې وفرمایل

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۷۵ أخرجه الترمذي في السنن ۲۱۵/۴ رقم الحديث ۱۸۸۰ وابن ماجه في السنن ۱۰۹۸/۲ رقم الحديث ۳۳۰۱

رَأَيْت رَسُول لله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

ما نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ولاړه په اوبو څښلو باندې هم ليدلی دی او په ناسته هم.

توضيح: قائماً قاعدا: عام عادت د ناستې ؤو. د قيام په حالت کې اوبه څښل د جواز د بيان يا د نورو مجبوريو په وجه کله کله شوی دی.

د اوبو څکلو وخت کې په لوخي کې سامه اخلئ

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه منع کړې ده چې اوبه وغيره و څښلو وخت کې

أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[2]

لوښي يا پياله وغيره کې سا واخستلی شي يا په کې پوکه وکړی شي.

توضيح: يتنفس: لوښي کې د سا اخستلو نه په دې وجه منع شوې ده چې امکان لري چې د خولې نه لاړې يا نور سامان اوبو کې وغورځېږي. او طبيعت يې ناخوښه کړي. يا د سړې په خولې بدبويې وي او هغه اوبو ته ورسيږي نو دا د صحت لپاره هم مضر دي او مُكَدِّرِ طبيعت هم دی. دغه شان اوبو کې سا اخستل د ځناور عادت دی. لهذا انسان له د سا اخستلو وخت کې د لوښي نه خوله جدا کول پکار دي. علماؤ ليکلې دي چې که د ګرم شي د يخولو لپاره پوکی وهل منع دی. او د څښلو په شيانو کې څه ډکی (کثړکی) وي نو هغه هم په پوکې لرې کول منع دي. (مرقات ۱۰۳/۸)

يو سا باندې اوبه څکل د ځناورو کار دی

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَشْرَبُوا وَاحِدًا كَشُرْبِ الْبَعِيرِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې تاسو په يو سا اوبه مه څښئ لکه څنګه چې اوښ اوبه څښي.

وَلَكِنِ اشْرَبُوا مَثْنَى وَثُلَاثَ وَسَمُّوا

بلکې دوه يا دري ساګانو کې اوبه څښئ او کله چې تاسو اوبه څښئ نو بسم الله وايئ او چې د څښلو

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۷۶ اخرجه الترمذي في السنن ۲۲۶/۲ رقم الحديث ۱۸۸۳ واحمد في المسند ۱۷۴/۲

(۲) رقم الحديث ۴۲۷۷ اخرجه في السنن ۱۱۴/۴ رقم الحديث ۳۷۲۸ والترمذي في ۲۶۹/۴ رقم الحديث ۱۸۸۸

إِذَا أَنْتُمْ شَرِبْتُمْ وَاحْمَدُوا إِذَا أَنْتُمْ رفعتُم . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

نه وروسته د لوبني نه خپله خوله اوچتوئ نو حمد وايئ. يعني هر ځل يا آخري ځل کې. (ترمذی)

توضيح: وسموا: يعني په ابتداء کې بسم الله الرحمن الرحيم وايئ او آخر کې دغه حمد او ثناء وايئ.

﴿الحمد لله الذی جعله عذبا فراتاً برحمته ولم يجلعه ملحاً اجاجاً بذنوبنا﴾ (مرقات ۱۰۴/۸)

- داوبو نه دډکې وغيره لري کولو طريقه

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ النَّفْخِ فِي

او د حضرت ابو سعدی خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام اوبو کې د پوکې وهلو نه منع کړې ده يو

الشَّرَابِ فَقَالَ رَجُلٌ: الْقَذَاةَ

کس دې اوربدلو سره عرض وکړو چې که په اوبو کې ډکې وغيره وي نو څه وکړو؟ ځکه که پوکی نه کوؤ نو ډکې

أَرَاهَا فِي الْإِنَاءِ

به څنګه وځي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل تا هغه غوزار کړه يعني د پاس نه لرې اوبه غوزاري کړه چې هغه ډکې

قَالَ: أَهْرِقْهَا قَالَ:

وغيره تر ښه وځي. او دا هغه کس به د پوکې د ممانعت نه پدې هم پوهه شوی وي چې دې سره دا هم ضروری شوه چې داوبو څښلو

فَإِنِّي لَا أُرْوَى مِنْ نَفَسٍ وَاحِدٍ قَالَ:

او په مينځ کې سا وانخستلی شي بلکې په يو سا کې اوبه وڅښلی شي، نو ځکه هغې عرض وکړو چې زه يو سا يعني يو سا کې اوبو څښلو باندې نه مړ يږم، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل

فَأَبِنِ الْقَدَحَ عَنْ فِيكَ

چې دا سې يې څښنه چې اول لرې شان وڅښه او بيا پياله د خولې نه لرې کړه او د لوبني نه بهر سا واخله

ثُمَّ تَنَفَّسْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ والدارمي[2]

او بيا همدغه شان په دويم او درېم سا کې نوري اوبه وڅښه.

توضيح: القذاة: د دې معنی ډکی دی.

([1]) رقم الحديث ۴۲۷۸ أخرجه الترمذي في السنن ۲۶۷/۴ رقم الحديث ۱۸۸۵ .

([2]) رقم الحديث ۴۲۷۹ أخرجه الترمذي في السنن ۲۶۸/۴ رقم الحديث ۱۸۸۷ والدارمي في ۱۶۱/۲ رقم الحديث ۲۱۲۱.

قال: دا چې حديث کې د دې نه منع شوې ده چې په لوښي کې اوبه وڅښلی شي يا پوکی ډوهلی شي نو هغه کس کېدی شي دا ګڼلې وي چې اوبه په يو سا څښل پکار دي، ځکه هغې پوښتنه وکړه.

فانی لاروی: يعنې زه په يو سا نه مړېږم: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې لوښی د خولې نه لرې کړه او سا واخله. هغه کس اولنۍ پوښتنه دا کړې وه چې زه د لوښي په اوبو وغيره کې کله ډکی وينم نو هغه څنګه لرې کړم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اوبه د پاس نه غوزارې کړه. ډکی به اول وځي. علماؤ ليکلي دي چې د ډکې اخوا کولو طريقه دا هم ده چې بل لرې وغيره يې ډکی لرې کړی شي. (مرقات۸/۱۰۴).

اوبه د لوخې په مات ځاې باندې مه څکئ

﴿۱۸﴾وَعَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پيالې په سورې باندې د

ثُلْمَةِ الْقَدَحِ وَ أَنْ يُنْفَخَ فِي الشَّرَابِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

اوبو څښلو نه منع کړې ده. او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوبو کې د پوکې وهلو نه هم منع کړې ده.

توضيح ثلمة القدح: د پيالې مات ځای ته ثُلْمَةٌ وايي چې د پيالې سورى هم ورته وايي. هغه وخت به دلرګي لوښي ؤ دهغه پيالو غاړې به عموماً ماتېدلې داسې ځای باندې دا وبو څښلو دممانعت وجه داده چې دا ځای ګنده وي او خوله کې هم صحيح نه راځي، نو اوبه وغيره په جاموباندې وغورزېږي او هسې هم دا د تهذيب خلاف ده. ددې حديث مطلب دا نه دی چې که د لوښي کومه برخه ماته وي نو هغه مه استعمالوئ. بلکې مطلب دا دی چې هغه مات ځای مه استعمالوئ. (مرقات۸/۱۰۵)

اوبه د ضرورت په وخت کې د مشکيزې په خوله باندې څکل جائز دي

﴿۱۹﴾وَعَنْ كَبْشَةَ قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت کبشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا (صحابيه) فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ کره تشريف راوړو

---

[1] رقم الحديث ۴۲۸۰ اخرجه ابوداود في السنن ۱۱۱/۴ رقم الحديث ۳۷۲۲ واحمد في المسند۳/۸۰ رقم الحديث ۴۲۸۰.

فَشَرِبَ مِنْ فِي قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ(۱)

مشک خولې ته ورډبدلم او هغه مې غوڅ کړو. (ترمذی وابن ماجه) امام ترمذی وائی دا حدیث حسن دې

توضیح: قربة: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اختنات نه منع کړې ده او دلته يې خپله اختنام وکړو. د دې تفصيل په حديث نمبر ۳ کې تير شوی دی. کېدی شي د څه مجبوری په وجه يا د جواز د بيانولو لپاره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې کړي وي. (مرقات ۱۰۵/۸)

فقطعته: د برکت د حصول د لپاره مې هغه غوڅ کړو او د ځان سره مې کيښودلو. دا هم ويل کېدی شي چې حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه ځکه غوڅ کړو چې په هغه ځای د چا خوله ونه لږي. چرته چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شوندې مبارکې لږي دلې وي. (مرقات ۱۰۵/۸)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يخ او خوږ شربت خوښ ؤو

﴿۲۰﴾ وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ:

او حضرت زهری د حضرت عروه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او هغه د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه نقل کوي چې هغې يعنې عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل

كَانَ أَحَبُّ الشَّرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحُلْوَ الْبَارِدَ.

چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نزد د څښاک په شيانو کې يخ خوږ شی ډېر زيات خوښ ؤو.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنِ الزُّهْرِيِّ

دا روايت ترمذی نقل کړی دی او ويلې يې دي چې دا صحيح دی. چې د زهری په حواله

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا(۲)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د ارسال په طريقه نقل کړی شوی دی.

توضیح: الحلوالبارد: د يخ خوږ شي څښاک لپاره دا ضروري نه دی چې صرف اوبه وي بلکې شوده هم کېدی شي او د شهدو شربت هم کېدی شي. دغه شان مطلب اخستلو کې به د ډېرو حديثونو په مينځ کې

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۸۱ أخرجه الترمذي في السنن ۲۷۰/۴ رقم الحديث ۱۸۹۲ وابن ماجه في ۱۱۳۲/۲ رقم الحديث ۳۴۲۳

(۲) رقم الحديث أخرجه الترمذي في السنن ۲۷۲/۴ رقم الحديث ۱۸۹۵ وأحمد في المسند ۳۸/۶.

تطبيق راشي، لكه په ځينې روايتونو كې راغلي دي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څښاک په شيانو كې شوده د ټولو نه زيات خوښ ؤو. يو روايت كې د شهدو ذكر هم راغلى دى، يعنې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يخ خوښ شى خوښ ؤو، هغه كه د شهدو سره ؤو او كه د شودو يا اوبو سره وي. (مرقات ۱۰۶/۸)

د خوراک او د څښاک په ځيز كې د شودو نه هيڅ بهتر شى نشته

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل كله چې تاسو كې يو كس
طَعَامًا فَلْيَقُلِ: اللهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ
خوراک وكړي نو داسې دې اوايي يعنې دا دعا دې ولولي اى الله مونږ له په دې خوراک كې برکت واچوي
وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ. وَإِذَا
او مونږ له د دې نه هم ښه خورک راكړي او تاسو كې چې يو كس ته شوده د څښلو لپاره ملاؤ شي نو داسې دې
سُقِيَ لَبَنًا فَلْيَقُلِ: اللهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ
اوايي يعنې دا دعا دې وكړي اللهم بارک لنا فيه وزدنا منه. اى الله! مونږ له دې شودو كې برکت واچوې او مونږ له د څښلو
وَزِدْنَا مِنْهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ
لپاره د دې نه زيات راكړې او د شودو څښلو نه د دې دعا نه هم ښه د څښلو لپاره راكړې والا الفاظ مه وايئ ځكه د شودو نه بهتر ين
يجزى مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ
هيڅ شى نشته دى. چې د خداى نه وغوښتلى شي او د دې وجدا ده چې بل هيڅ داسې شى نشته دى چې د خوراک او څښاک بدل
إِلَّا اللَّبَنُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[1]
وي بغير د شودو نه چې د خښې د ډكولو خاصيت هم لري او د تندې د ماتولو هم.

توضيح: يعنې د شودو متلعق دا نه شي ويل كېدى چې د څښاک په شيانو كې د دې نه بل بهتر شى نشته دى، ځكه شوده د تندې ماتولو كار هم كوي او د ولږې د ختمولو كار هم كوي، نو ځكه دعا كې زدنا ويل پكار دي. خيراً ويل پكار نه دي.

يجزى: اى يكفي، كافي كېدلو ته وايي. (مرقات ۱۰۷/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۲۸۳ اخرجه ابوداود في السنن ۱۱۶/۴ رقم الحديث ۳۷۳۰ والترمذي في ۴۷۲/۵ رقم الحديث ۳۴۵۵.

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د خوږو اوبو خاص اهتمام

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَعْذَبُ لَهُ الْمَاءُ مِنَ السُّقْيَا.

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره به خوږې اوبه د سقيا نه راوړلى كېدلې.

قِيلَ: هِيَ عَيْنٌ بَيْنَهَا وَ بَيْنَ الْمَدِينَةِ يَوْمَانِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۱)

ځينې حضرا تو بيان كړى دى چې د سقيا د يوې چينې نوم دى. چې د مدينې نه دوه نزله فاصلې باندې واقع دى.

الفصل الثاني

﴿۲۳﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ شَرِبَ فِي إِنَاءِ ذَهَبٍ

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كوم كس چې د سرو يا

أَوْ فِضَّةٍ أَوْ إِنَاءٍ فِيهِ شَيْءٌ

سپينو زرو په لوښي كې څښل كوي يا په يو داسې لوښي كې څښل كوي چې هغه اګركه ټول د سرو

مِنْ ذَلِكَ فَإِنَّمَا يُجَرْجِرُ

يا د سپينو زرو نه وي خو په هغې كې د سرو يا سپينو زرو څه برخه وي نو د هغې دا څښل به د دې نه

فِي بَطْنِهِ نَارَ جهنمَ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ (۲)

بغير بله هيڅ نتيجه ورنكړي چې د هغې په خيټه كې به د دوزخ اور ګوټ ګوټ وردننه كړى شي. (دارقطنى)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۸۴ أخرجه ابوداود فى السنن ۱۱۹/۴ رقم الحديث ۳۷۳۵ واحمد في المسند ۱۰۰/۶.

(۲) رقم الحديث ۴۲۸۵ أخرجه الدارقطني فى السنن ۴۰/۱ رقم الحديث ۱ من كتاب الطهارة.

باب النقع والانبذة
نقیع او د نبیذو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿تتخذون منه سكراً و رزقاً حسناً﴾ (سورة النحل: ٦٧)

نقیع او **نبیذ** د څښلو د شربتونو د قِسمونو نه دي، نقیع د جوړولو صورت دا وي چې انګور یا کجورې په اوبو کې لمدې کړی شي او د څه وخت لپاره پرېښودلی شي چې اوبو کې خوږوالی پیدا شي، بس همدغه نقیع دی. د دې څښل جائز او د بدن او نظام هضم لپاره ډیر فائده مند دي.

نبیذ په معنی د **منبوذ**، ګوزار شوي شي ته وایي. د دې د جوړولو طریقه دا ده چې کجورې په اوبو کې واچولی شي او د لږ وخت لپاره پرېښودلی شي چې اوبو کې لږ شان تیزوالی پیدا شي خو دومره تیزوالی او تغیر رانشي چې مُسکر جوړ شي. دا نبیذ دی. د دې څکل جائز او حلال دی. که مُسکر شو نو حرام دی. (مرقات ۱۰۹/۸)

د نبیذ قسمونه: ۱: که چرې کجورې او انګور وغیره په اوبو کې واچولی شي او د ګډوډي دلو نه مخکې مخکې استعمال کړی شي نو دا د اوبو په حکم کې د. د ټولو په نزد په دې باندې اودس کول هم جائز دی او عام استعمال یې هم جائز دی. ۲: که چرې کجورې او انګور وغیره په اوبو کې واچولی شي او ډیر وخت پرېښودلو په وجه په کې سکر پیدا شو یا یې په اور باندې پوخ کړی شو او اوبو کې چوش او سکر پیدا شو، نو دا د ټولو په نزد حرام دي. نه په دې باندې اودس کېږي او نه عام استعمالیدلی شي. ۳: که چرې اوبو کې کجورې او انګور وغیره واچولی شو. اوبو کې معمولي شان ګډوډوالی راغلو. جوش هم رانغلو، زګ هم ونشو، نو په دې کې د فقهاؤ اختلاف دی. جمهور او د صاحبینو په نزد دا د اودس لپاره استعمالول جائز نه دي، خو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د دې عام استعمال هم جائز دی. د مرګ نه لږ وخت مخکې امام ابو حنیفه رحمه الله د صاحبینو قول ته رجوع وکړه چې په دې باندې اودس ناجائز دی. توضیحات جلد اول ص ۶۳۳ باندې دا مسئله ډیره په تفصیل سره تیره شوي ده.

الفصل الاول

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحِي

د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چې هغې وویل چې ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې دې خپلې

هَذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ: الْعَسَلَ والنَّبِيذَ والماءَ وَاللَّبن. رَوَاهُ مُسلم[1]

پياله کې ټول څيزونه څښلې دي لکه شهد، نبيذ، اوبه او شوده.

توضيح بقدر ي هذا: حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې په کومه پياله کې څيزونه څښلې وو. هغه پياله د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وه. بيا هغه حضرت نضر بن انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په اته لاکه (۸۰۰۰۰۰) درهم باندې اخستې وه. حضرت امام بخاری رحمه الله په بصره کې دا پياله ليدلې وه. او د هغې د خوش قسمتئ به څه اوايو چې په هغه پياله کې يې اوبو د څښلو سعادت هم حاصل کړی وُو. (مرقات ۱۰۹/۸)

د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د نبيذ جوړولو طريقه

﴿۲﴾ وَعَن عائشةَ قَالَتْ: كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فرمايي چې مونږ به نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له په يو مشک کې نبيذ جوړولو.

يُوكَأُ أَعْلَاهُ وَلَهُ عَزْلَاءُ

چې د پاس نه به مو بندولو. او د هغې په لاندئ برخه کې هم د هغې غاړه وه. مونږ به هغه مشک کې کجورې وغيره

نَنْبِذُهُ غُدْوَةً فَيَشْرَبُهُ عِشَاءً وَنَنْبِذُهُ عِشَاءً

اچولي، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام به هغه د شپې وخت کې څښل او که په هغې کې به مو کجورې وغيره د شپې واچولې

فيشربه غُدوةً. رَوَاهُ مُسلم[2]

نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام به هغه د سحر وخت کې څښل.

توضيح سقاء: مشکيزې ته وايي. يوكأ: مزې باندې ترلو ته وايي. د مشکيزې يوه برخه پاسنۍ ده. چې د هغې غاړه وي يعنې پاسنۍ برخه به مو په مزې باندې ترله. (مرقات ۱۱۰/۸)

عزلا: د مشکيزې د لاندې چې کومه غاړه وي هغې عزلا وايي. پوهيدل پکار دي چې د مشکيزې يو پاس اړخ ته غاړه وي نو هغه هرې مشکيزه کې وي خو د دې مشکيزې يو غاړې لاندې اړخ ته هم وه چې نسبتاً وړه وه. پاسنۍ غاړه به يې وترله او په لاندئ غاړه به يې څښل. دا دې حديث مطلب دی. نبيذ د جوړولو دا طريق کېدی شي د ګرمئ په زمانه کې وه چې سحر او ماښام په کې نبيذ تيار بدلی

([1]) رقم: حديث ۴۲۸۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۵۹۱/۳ رقم الحديث (۸۹-۲۰۰۸) وأحمد في لامسند ۲۴۷/۳

([2]) رقم الحديث ۴۲۸۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۹۰/۳ رقم الحديث (۸۵-۲۰۰۵) وأبوداود في السنن ۱۰۴/۴ رقم الحديث ۳۷۱۱.

شي. ديخنئ موسم کې کله يو ورځ او کله دري ورځې اخلي. لکه څنګه چې نورو حديثونو کې د دې ذکر دی. **نبيذ:** د جوړولو په معنی کې دی يعنې مونږ به نبيذ تيارولو. (مرقات ۱۱۰/۸)

نبيذ تر کومې پورې ايښودل کيدی شي؟

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْبَذُ لَهُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره به چې کوم نبيذ د شپې په

أَوَّلَ اللَّيْلِ فَيَشْرَبُهُ إِذَا أَصْبَحَ يَوْمَهُ ذَلِكَ

اوله برخه کې اچولی کېدو. هغه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د راتلونکي ورځ سحر کې څښلو، بيا به يې

وَاللَّيْلَةَ الَّتِي تَجِيءُ وَالْغَدَ وَاللَّيْلَةَ الْأُخْرَى

راتلونکي شپه کې هم څښلو، بيا به يې په دويمه ورځ او په دويمه شپه څښلو او بيا به يې راتلونکي

وَالْغَدَ إِلَى الْعَصْرِ فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ

ورځ يعنې د درېمې ورځ تر مازيګر پورې څښلو او که د هغې نه وروسته به هم د هغې نه څه پاتې شو

سَقَاهُ الْخَادِمَ أَوْ أَمَرَ بِهِ فَصُبَّ. رَوَاهُ مُسلم [1]

نو په خادم به يې څښل او يا به يې د غورزارولو حکم کولو، نو هغه به غوزار کړی شو. (مسلم)

توضيح اوامر به: دا أوشک لپاره نه دی بلکې د تنويع لپاره دی يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې به تر دري ورځو پورې نبيذ څښول کېدو. درېمې ورځې د مازيګر نه وروسته دا چې د نبيذ آخره برخه به پاتې ؤو، نو ځکه به يې هغه په خادم باندې څښلو، خو که په آخري برخه کې به نشه راغله نو بيا به يې هغه غوزارولو. معلومه شوه چې تر دري ورځو پورې نبيذ ساتل آخري حد دی.

علماؤ ليکلي دي چې د دې نه حديث نه دا خبره زده کېږي چې غلام او خادم ته د خوراک او څښاک پاتې شيان ورکول شي او دا عمل هم جائز دی چې کوم په حديث کې دی. (مرقات ۱۱۰/۸)

﴿۴﴾ وَعَن جابِرٍ قَالَ: كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَائِهِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره به په مشک کې نبيذ جوړېدلو او که

فَإِذَا لَمْ يَجِدُوا سِقَاءً يُنْبَذُ لَهُ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ. رَوَاهُ مُسلم [2]

کوم وخت کې به مشک نه ؤو نو بيا به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لپاره په کانې په لوښي کې نبيذ جوړېدلو. (مسلم)

([1]) رقم الحديث ۴۲۸۸ أخرجه مسلم في ۱۵۸۹ رقم الحديث (۷۹-۲۰۰۴) وأحمد في المسند ۲۴۰/۱.

([2]) رقم الحديث ۴۲۸۹ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۸۴/۳ رقم الحديث (۶۲-۱۹۹۹) وأبوداود في السنن ۹۹/۴ رقم الحديث ۳۷۰۲

توضيح تور: تور د کانې او د پيتلو لوښي ته وايي.

من حجارة: د کانې د لوښي تعين شوی دی. پخوانئ زمانه کې به د لرګې، وسپنې، پيتل او د کانې نه به لوښي جوړېدل. (مرقات۸/۱۱۰)

په کوم کوم لوخو کې نبيذ جوړول منع دي

﴿۵﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهى عَنِ الدُّبَّاءِ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کدو نه جوړو شوي لوښي،

والحنتم والمزفت وَالنَّقِيرِ وَأُمِرَ

لرګي تراشل شوي لوښي او د غوړو لوښي د نبيذ جوړولو نه منع وفرمايله او حکم يې وکړو چې د

أَنْ يُنْبَذَ فِي أَسْقِيَةِ الْأَدَمِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

څرمنې په مشک کې دې نبيذ جوړ کړی شي.

توضيح الدباء: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسلام په ابتدائی دور کې په دغه قسمه لوښو کې د نبيذ جوړولو نه منع کړې وه. چې د شراب ليدلو سره دوباره د شرابو رغبت پيدا نه شي او د هغه لوښو د خاص اثر نه د نبيذ په شرابو کې بدل نشي، کله چې د شرابو نه کرکه په زړونو کې کيناستلو او په نشه يي او غير نشه يي شيانو کې فرق کول اسان شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه قسمه لوښو کې نبيذ د جوړلو اجازت ورکړو، لکه د ورسره لاندې روايت کې د دې ذکر دی.

اوچ تش کدو ته دباء وايي. غټ منګي ته **حنتم** وايي. روغني لوښي ته **مزفت** وايي. تراشل شوي تش لرګي ته **نقير** وايي، (مرقات۸/۱۱۰) هغه زمانه کې به په خاصه توګه دې لوښو کې شراب جوړېدل. (مرقات۸/۱۱۰)

أدم: دا لفظ د مفرد دی. همزه او دال باندې فتحه ده. څرمن ته وايي مراد ترينه د څرمن نه جوړه شوې مشکيزه ده. توضيحات جلد اول کتاب الايمان کې د دې حديث تفصيل تير شوی دی. (مرقات۸/۱۱۰)

د لوخو باره کې يو حکم منسوخ شو

﴿۶﴾وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: نَهَيْتُكُمْ

او د حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ما تاسو په پاس ذکر شوو

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۹۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۵۸۰ رقم الحديث (۴۶-۱۹۹۷)

عَنِ	الظُّرُوفِ	فَإِنَّ	ظَرْفًا
لوښو کې د نبيذ جوړولو نه منع کولئ. او تاسو دا ګمان کولو چې د حلت او د حرمت تعلق د لوښو سره دی،			
لَا	يُحِلُّ	شَيْئًا	وَلَا
حال دا چې داسې نه ده. بلکې حقيقت دا دی چې کوم شی حرام دی هغه هيڅ يو لوښی نه حلال کوي او کوم شی چې حلال			
يُحَرِّمُهُ	.	وَكُلُّ	مُسْكِرٍ
دی هغه هيڅ يو لوښی نه حلالوي. اصل حکم خو دا دی چې کوم شی نشه پيدا کړي نو هغه حرام دی. هغه که په هر يو			
حَرَامٌ	وَفِي	رِوَايَةٍ:	
لوښي کې وڅښل شي. کوم چې نشه نه پيدا کوي هغه حلال دی هغه که په هر يو لوښي کې وڅښل شي. او يو بل روايت			
قَالَ:	نَهَيْتُكُمْ	عَنِ	الْأَشْرِبَةِ
کې داسې دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ما تاسو په ذکر شوي لوښو کې د نبيذ څښلو نه منع کړي وئ			
إِلَّا	فِي	ظُرُوفِ	الْأَدَمِ
بغير د څرمن د لوښو نه خو اوس هغه حکم منسوخ کولو سره په هر يو لوښي کې نبيذ د تيارولو او څښل			
فَاشْرَبُوا فِي كُلِّ وِعَاءٍ غَيْرَ أَنْ لَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا . رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]			
مباح ګنم. لهذا تاسو هر قسمه لوښي کې څښلی شئ خو کوم شی چې نشه پيدا کوي نو هغه هرګز مه څښئ.			

توضيح: نهيتكم: د اسلام په ابتداء کې چې کله په مدينه منوره کې د شرابو د حرمت ذکر راغلو نو مسلمانانو له د شرابو سره د نفرت پيدا کولو په غرض نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د لوښو د ماتولو او د نه استعمالولو حکم ورکړو. کله چې د شرابو نفرت په زړه کې کيناستلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هر قسمه لوښو د استعمالولو اجازت ورکړو او ويې فرمايل چې لوښی هيڅ شی نه حلالوي او نه يې حراموي. اوس هر قسمه لوښي استعمالوئ خو د نشې نه ځان وساتئ. (مرقات ۱۱۲/۸)

الفصل الثاني

د شرابو نوم به بدل کړي او خلک به شراب ځکي

﴿۷﴾عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
د حضرت ابو مالک اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلي دي

[1] رقم الحديث ۴۲۹۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۵۸۵/۳ رقم الحديث (۶۵-۹۷۷) والترمذي في السنن ۲۶۰/۴ رقم الحديث ۱۸۶۹

لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا
چې داسې زمانه راتلونکې ده چې زما امت ځينې خلک به شراب څښې او د هغې د نوم په ځای به
بِغَيْرِ اسْمِهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]
ورله څه بل څه نوم ورکوي. (ابوداؤد. ابن ماجه)

توضيح دا زمانه راغلې ده بلکې د دې نه هم مخکې راغلې ده. نن سبا خو دا حالت دی چې که په چا کې معمولې شان شرافت دی نو هغه ورله نوم بدل کړي او څښي يې. مثلاً شرابو ته به نبيذ وايي يا به ورته ماء العسل وايي. يا آب جو اور ہنزہ واٹر کہہ کر پئیں گے، خو چې په چا کې د شرافت د نوم څه نشته دی نو او نه په د خدای د ويرې څه تصور وي، نو هغوی ورته شراب وايي او څښي يې بلکې جائز يې ګڼي. (مرقات ۱۱۳/۸)

الفصل الثالث

﴿۸﴾عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِيذِ
حضرت عبدالله بن ابی اوفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به شنه تيلې کې جوړ شوې
الْجَرِّ الْأَخْضَرِ قُلْتُ: أَنَشْرَبُ فِي الْأَبْيَضِ؟
نبيذ د څښلو نه منع کړي وکړه، نو ما عرض وکړو چې آيا مونږ په سپينه تيلې کې جوړ شوی نبيذ
قَالَ: لَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
څښلی شو؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل نا.

توضيح عن نبيذ الجر الأخضر: يعنې سبز تهليا اور ځم، د لوښي لپاره څه قيد احترازی نه ؤو. بلکې د زمانې لحاظ سره دا دا قيد اتفاقي ؤو. ځکه عموماً به هغه وخت د شرابو لوښي شنه او مرغن ؤو. حضرت عبد الله بن ابی اوفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا قيد احترازی ګڼلی ؤو، نو پوښتنه يې وکړه چې آيا په سپين لوښي کې جوړ شوی نبيذ څښلی شو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکړو چې نا. دا هغه وخت دا ټول لوښي د نبيذ وغيره لپاره منع کړی شوي ؤو، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپينې تيلې نه هم ممانعت کړی ؤو. بيا دا ممانعت منسوخ شو. (مرقات ۱۱۳،۱۱۴/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۲۹۲ أخرجه ابوداود في السنن ۹۱/۴ رقم الحديث ۳۶۸۸ وابن ماجه في ۱۳۳۳/۲ رقم الحديث ۴۰۲۰.

(2) رقم الحديث ۴۲۹۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۸/۱۰ رقم الحديث ۵۵۹۶ وأحمد في المسند ۳۵۳/۴.

باب تغطية الأواني وغيرها

لوښو باندې د سَر ايښودلو بيان

دې باب کې په حديثونو کې د لوښو او د نورو شيانو باندې د سر ايښودلو بيان دی. د دې نه بغير د کور دروازه د بندلو او د شپې تورتم کيدلو وخت کې ماشومان په کور کې حصارول او د اوده کيدو په وخت کې د اور د مړ کولو وغيره د مسائلو او د فضائلو بيان دی چې امت لپاره په کې فائده ده. دا خبره دې ذهن کې وي چې دې حديثونو کې چې د کومو اوامرو او نواهيو ذکر دی. دا اوامر او نواهي ارشادي او استحبابی دي، د ارشادي مطلب همدغه دی چې دې کې دې امت ته لابنودنه او خير مقصود دی.

الفصل الاول

د مسلمان د شپې لپاره د اسلام غوره اصول

﴿۱﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کله شپې تورواله خورشي يا يې داوفرمايل
إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ أَوْ أَمْسَيْتُمْ فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ
چې کله مابنام شي نو تاسو خپل ماشومان کورنه د راوتلو او کلي کوڅو کې د ګرځيدو نه منع کړئ،
فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ
ځکه هغه شيطان يعنې پيريان څلورو اړخونو ته خواره شي. بيا کله چې د شپې يو ساعت تېر شي، نو
فَخَلُّوهُمْ وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ
بيا د ماشومانو په تلو راتلو کې هيڅ باک نشته دی. او د الله نوم اخستلو سره يعنې بسم الله لوستلو
فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا
سره دروازه بنده کړئ. ځکه بسم الله ويلو سره بند کړی شوې دروازې شيطان نه خلاصوي او د الله يادولو سره
وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ
هغه مشکيزې وتړئ چې کومو کې اوبه وي چې حشره يا پتنګ وغيره په کې ورننه نه شي. او د الله نوم اخستلو
وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ
سره سر ټوپونه کنډ سر بندولو نه پرته څه شی نه موجودنه وي چې په هغې د هغه لوښي خوله پورته نه بندیږی نو هغې باندې

وَلَوْ	أَنْ	تعرِضوا	عَلَيْهِ

يو د عارضي وخت لپاره لرې وغيره کېږدئ. اګر که په دې صورت کې به لوښی پوره بند نه شي، خو داسې نه شي، خو داسې

شَيْئًا	وأطفئوا	مصابيحكم

به کم نه کم کراهت خو ختم شي او د دې حکم په برکت سره به لوښي موجود خوراک او څښاک څيزونه هغه ضرر او نقصان نه ورسوي

مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ[1]	وَفِي

چې هغه د بالکل د خلاص لوښي په صورت کې يقيني وي، لکه د شيطان تصرف. او د اوده کېدو وخت کې خپل

رِوَايَةٍ	لِلْبُخَارِيِّ:	قَالَ:

ډيوه بند کړئ. د بخاري په يو روايت کې داسې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل لوښو باندې سرپټوئ، د مشکيزو

خَمِّرُوا	الْآنِيَةَ	وَأَوْكُوا	الْأَسْقِيَةَ	وَأَجِيفُوا	الْأَبْوَابَ

خولې ترئ، دروازې بندوئ او خپل ماشومان د خپل ځان سره کېنوئ او اخوا ديخوا يې مه پرېږدئ

وَاكْفِتُوا	صِبْيَانَكُمْ	عِنْدَ	الْمَسَاءِ	فَإِنَّ	للجن انتشارا

چې کله ماښام شي، ځکه هغه وخت پيريان خلورو اړخونو ته خواره شي او تونګي لګوي. او د اوده کېدو

أَوْ خُطْفَةَ	وَأَطْفِئُوا	الْمَصَابِيحَ	عِنْدَ	الرُّقَادِ	فَإِنَّ	الْفُوَيْسِقَةَ	رُبَّمَا اجْتَرَّتْ الفتيلة

وخت کې ډيوې مړې کوئ، ځکه اکثر يا ځينې وختونو کې داسې کېږي چې مږه رانبکاره شي او د

فأحرقت	أهل	الْبَيْتِ[2]	وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ	قَالَ: غَطُّوا الْإِنَاءَ

او د کور والا اوسوزوي او د مسلم يو روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل لوښو باندې سرپټوئ،

وَأَوْكُوا	السِّقَاءَ	وَأَغْلِقُوا	الْأَبْوَابَ	وَأَطْفِئُوا	السِّرَاجَ	فَإِنَّ	الشَّيْطَانَ

د مشکيزو خلې ترئ، دروازې بندوئ او ډيوې مړې کوئ، ځکه د الله نوم اخستلو شيطان بندې کړی

لَا	يَحُلُّ	سِقَاءً	وَلَا	يَفْتَحُ	بَابًا	وَلَا	يَكْشِفُ	إِنَاءً

شوي مشکيزې نه خلاصوي او نه دروازې خلاصوي او نه پټ کړی شۀ لوښو نه سر اوچتوي، که

---

(1) رقم الحديث ٤٢/٩٥ أخرجه البخاري في صحيحه ٣٥٥/٦ رقم الحديث ٣٣١٦ وأبوداود في السنن ١١٨/٤ رقم الحديث ٣٧٣٣

(2) رقم الحديث ٤٢٩٤ أخرجه البخاري في صحيحه ٣٣٦/٦ رقم الحديث ٣٢٨٠ ومسلم في ١٥٩٥ رقم الحديث (٩٧-٢٠١٢)

فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا أَنْ يعرضَ على إِنائِه عوداً ويذكرَ اسمَ اللهَ

تاسو کې چاته د سرپټو لو لپاره څه نه ملاوېږي خو دا چې هغه د الله نوم واخلئ نو په لوښي باندې عارضي څه لرګی کېښودلی

فَلْيَفْعَلْ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ

شي. نو هغه دې همدغه شان وکړي يعنې بسم الله ويلو سره په لوښي باندې څه لرګی کېږدئ او د اوده کېدو

تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ

وخت چراغ مړ کوئ ځکه چې مړه په کور ډيوه راکاږي او د کور والا او سوځوي، يعنې مړه لړېدلې باتي. يو داسې ځای

بَيْتِهِمْ[1] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ:

کې غوزاره کړي چې هلته يو شې ته اور ولړې او بيا ټول کور او سوځوي) او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې

قَالَ: لَا تُرْسِلُوا فَوَاشِيكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل کله لمر ډوب شي نو خپل څاروي او ماشومان د کور نه بهر مه پرېږدئ تر دې

حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْعَثُ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ

چې د شپې ابتدائی برخې تورتم لاړ شي. يعنې څه شپه تيره شي ځکه د لمر ډوبيدلو نه وروسته د شپې ابتدائی

حَتَّى تذهب فَحْمَة الْعشَاء[2] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ:

برخه کې تيرېدلو وخت کې شيطان يعنې پيريان خواره کېږي. او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې

قَالَ: غَطُّوا الْإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ فَإِنَّ فِي السَّنَةِ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې لوښي باندې سر ايږدئ او د مشکيزې خله تړئ ځکه ټول کال

لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ

کې يوه شپه داسې راځي چې هغې کې وباء نازلږېږي او کوم لوښی چې خلاص وي يا چې د کومې

([1]) رقم الحديث ٤٢٩٦ أخرجه مسلم في صحيحه ١٥٩٤ رقم الحديث (٩٦-٢٠١٢) وأحمد في المسند ٣٨٦/٣

([2]) رقم الحديث ٤٢٩٧ أخرجه مسلم في صحيحه ١٥٩٥/٣ رقم الحديث (٩٨-٢٠١٣) وأحمد في المسند ٣٩٥/٣

لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ أَوْ سِقَاءٌ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ إِلَّا نَزَلَ فِيهِ من ذَلِك الوباء[1]

مشكيزې خوله نه وي تړلی شوي نو د هغه وباء څه برخه هغې کې هم داخليږي.

توضيح جنح: د شپې ابتدائی برخه مراد ده. **اوامسيتم:** لفظ او د روای د شک لپاره دی.

شنتشر: يعنې د مانښام وخت کې پيريان او شيطانان بنورېږي. هغه وخت هغوی ماشومانو ته نقصان رسوي. دغه شان ځناور ته هم نقصان رسولی شي، نو ځکه د تورتم بنورېدلو وخت کې ماشومان او ځناور د کور نه بهر مه پرېږدئ. **باباً مغلقاً:** يعنې د کومې دروازې بندولو وخت کې چې بسم الله ويلی شوې وي نو شيطان هغه نه شي خلاصولی. د هغې په خلاصولو باندې قادر نه وي.

أوكوا: د ايکاء نه دی، مزې باندې تړلو ته وايي. **خمروا:** لوښي باندې سر اينبودلو ته وايي.

ان تعرضوا: نصر د ينصر نه دی. لوښي باندې لرېږی په پلنوالي باندې اينبودلو ته وايي. يعنې که د لوښي پتولو لپاره پوره سر نه ملاوېږي نو د لرېږې ډکی بسم الله ويلو سره په پلنوالي کېږدئ. دا لرېږی به د بسم الله ننبانه وي، نو شيطان به تښتي. نزدې به نه راځي. (مرقات ۸/۱۱۴)

اطفئوا: چراغ وغيره مړ کړئ. **اجيفوا:** دروازه د بندولو به معنی کې دی.

اكفتوا: د باب افعال نه اكفات، د خپل ځان سره کيښودلو او د بندولو او خپل اړخ ته د ضم کولو په معنی کې دی.

الجن: پيريانو کې چې کوم د اعتدلال د حد نه زيات سرکش شي نو هغه شيطان شي. او کوم چې د اعتدلال نه زيات نرم شي هغه پرې (خاپيرئ) شي. او کوم کې چې په اعتدلال سره شرارت وي نو هغه پيری وسي. چې کوم يو هم پيری دی هغې کې شرارت خامخا وي. هغه که مسلم وي يا که کافر وي.

الرقاد: يعنې د اوده کېدو وخت کې. **الفويسقه:** دا د فاسقه تصغير دی. مږه مراد ده. چې د خپلې سورې نه راؤځي او ورانی کوي. **اجترت:** د اجترار نه دی. د رابنکلو په معنی کې دی.

الفتيلة: هغه بتی ته فتيله وايي چې اور ورته لږېدلی وي.

لايحل: مشکيزه نه خلاصوې خو په دې شرط چې بسم الله سره بنده کړي وي.

تضرم: د باب افعال نه دی. اور لګولو ته اضرام ويي. **فحمة العشاء:** د شپې تورتم ته فحمة وايي.

يبعث: د مجهول صيغه ده. يعنې شيطانان بنواره شي. او بنواره کړی شي.

وباء: د وبائی مرض نه هيضه وغيره مراد ده. د دې حديث خلاصه دا راؤتله چې د الله نوم بسم الله هر

---

[1] رقم الحديث ۴۲۹۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۵۹۶ رقم الحديث (۹۹-۲۰۱۴)

وخت د هر مطلب لپاره استعمالوئ. دا ستاسو د دنيوي او د اخروي مصيبتونو نه د بچ کېدو لپاره ګټوره ده. دا ټول اوامر نواهي دي. وجوبي نه دي. (مرقات ۱۱۷/۸)

کوم لوښي کې چې د خوراک خښاک شيان وي نو هغې باندې سر کېږدئ

﴿۲﴾وَعَنْهُ قَالَ: جَاءَ أَبُو حُمَيْدٍ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مِنَ النَّقِيعِ بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ابو حميد چې يو انصاري کس ؤو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

خدمت کې د مقام تقيع نه د شودو يو ډک لوښی راوړلو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې هغه لوښی خلاص

أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ أَنْ تعرِضَ

وليدلو نو ويې فرمايل چې تا دا لوښی بند ولې نه دی. اګر که د د سر د پټولو دا هم د غه صورت ولې نه وی

عليهِ عوداً (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

چې تا دې باندې عارضي يو ډکی اينبی وی.

توضيح: مدينې منورې ته نزدې د يو ځای نوم "نقيع" دی. دا کس د همغه ځای نه راغلی ؤو.

الاخمرته: يعني تا په دې سر ولې نه دی اينبی؟ دا د تخمير نه دی. د پټولو په معنی کې دی.

عوداً: وړوکې لرګې ته ويلی شوی دی. (مرقات ۱۱۸/۸)

د اوده کيدو وخت کې اور مړ کړئ

﴿۳﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تنامون (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

کله چې تاسو اوده کېږئ نو کورونو کې اور مه پرېږدئ.

توضيح: د اور نه مراد داسې اور دی چې هغې نه يو شې د سوځېدلو خطر وي، لکه چراغ وغيره يا نغری کې اور يا د ګيس بل شوی سلنډر چې په زرګونو خلک پرې مړه شوي دي. د دې نه هغه اور مراد نه دی چې د بجلی د بلب په صورت کې وي يا د قنديل دننه وي چې خطر په کې نه وي.

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۹۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۷۰/۱۰، قبل الحديث ۵۶۰۵ ومسلم في ۱۵۹۳/۳ رقم الحديث (۹۵-۲۰۱۱)

(۲) رقم الحديث ۴۳۰۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۹/۱۱، قبل الحديث ۱۲۹۳ ومسلم في ۱۵۹۶/۳ رقم الحديث (۱۰۰-۲۰۱۵)

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ

او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې شپه کې داسې وشول چې مدينه کې د يو کس کور وسوزېدلو

فَحُدِّثَ بِشَأْنِهِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او په کور والو باندې راوليدلو، نو د هغې باره کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته ذکر وکړی شو، نو

قَالَ: إِنَّ هَذِهِ النَّارَ إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دې نه بغير بل هيڅ نشته دی چې دا ستاسو په حق کې يو دښمن دی.

فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

چې ژوند او مال سوځوي. لهذا کله چې تاسو اوده کېږئ نو دا مړ کوئ. (او د دې د نقصان او ضرر خپل ځانونه محفوظ کړئ).

الفصل الثاني

د سپي او د خر اواز چې واورئ نو تعوذ وايي

﴿۵﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِذَا سَمِعْتُمْ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايل چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې کله تاسو شپه کې د

نُبَاحَ الْكِلَابِ وَنَهِيقَ الْحَمِيرِ مِنَ اللَّيْلِ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

سپو د غپارا و د خرو هرانې اواز واوري نو د شيطان رټلی شوی نه د الله پناه وغواړئ، ځکه هغه چې سپي او

فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ. وَأَقِلُّوا الْخُرُوجَ

خر کوم شی وينې (يعنې شيطان او د اولاد د) هغه تاسو نه وينئ او کله چې د خلکو تلل راتلل بند شي نو هغه

إِذَا هَدَأَتِ الْأَرْجُلُ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبُثُّ مِنْ خَلْقِهِ فِي لَيْلَتِهِ

وخت تاسو هم د کور نه کم وځئ، ځکه هغه وخت شپه کې الله تعالی خپلو مخلوقاتو کې چې څوک

مَا يَشَاءُ وَأَجِيفُوا الْأَبْوَابَ

غواړي يعنې پيريان او شيطانان او ضرري ځناور وغيره هغوی څلور اړخونو ته ښواره کړي. او خپلې

وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا إِذَا أُجِيفَ

دروازې د الله نوم اخستلو يعنې بسم الله ويلو سره بندوئ ځکه کومه دروازه چې د الله نوم اخستلو سره

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۰۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۵/۱۱ رقم الحديث ۶۲۹۴ ومسلم في ۱۵۹۶/۳ رقم الحديث (۱۰۱-۲۰۱۶)

وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ وَغَطُّوا الْجِرَارَ

بنده کړی شوی وي نو شیطان د هغې په خلاصولو باندې قادر نه وي او هغه لوښو باندې سرپټوئ چې کوم کې د خوراک او

وَأَكْفِئُوا الْآنِيَةَ وأوكوا الْقرب. رَوَاهُ فِي شرح السّنة [1]

څښاک څه شی وی او کوم لوښو کې چې څه شی نه وي یعنې هغه خالي وي نو هغه سرچپه وردئ او د مشکیزو خلي تړئ.

توضیح سپې او د خر سره د شیطان مستقیماً رابطه وي. دا چې کله شیطان اوینې نو د خوشحالئ نه ټوپونه وهې او غاپې او هم ډبري.

هدأت الارجل: چې قدم په سکون کې شي یعنې د خلکو تګ راتګ بند شی. (مرقات ۱۲۰/۸)

مړی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جانماز باندې د اور ډیوه غوزاره کړه

﴿۶﴾ وَعَن ابنِ عبَّاسٍ قَالَ: جَاءَتْ فَأْرَةٌ تَجُرُّ الْفَتِيلَةَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د یو ورځې واقعه ده چې یوې مړې د چراغ بله شوې ډیوه را ښکله

فَأَلْقَتْهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُمْرَةِ الَّتِي

او رائې وړله او هغه یې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته په توشکه باندې غوزار کړو چې کوم باندې به

كَانَ قَاعِدًا عَلَيْهَا فَأَحْرَقَتْ مِنْهَا مِثْلَ مَوْضِعِ الدِّرْهَمِ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کینا ستلو نو هغې د یو درهم هومره توشکه اوسوځوله. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ: إِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوا سُرُجَكُمْ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدُلُّ

دې لیدلو سره وفرمایل چې کله تاسو اوده کیږئ نو چراغ مړ کوئ، ځکه شیطان د دې مړې پشان

مِثْلَ هَذِهِ عَلَى هَذَا فَيَحْرِقُكُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [2]

ضرري ځناور دغه شان حرکت باندې غولوي او دې صورت کې ګویاکې شیطان تاسو سوځوي.

توضیح د مړې شرارت ته وګورئ چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په توشکه باندې یې او غوزار کړو او منډه یې کړل. د یو درهم هومره توشکه یې اوسوځوله. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې نه وروسته خپل امت د حفاظتي تدبیرونو نه خبر کړل.

(دې باب کې درېم فصل نشته دی)

---

[1] (رقم الحديث ۴۳۰۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۲/۵ رقم الحديث ۵۱۰۳ وأحمدفي المسند ۳۰۶/۳ والبغوي في شرح السنة ۳۹۲/۱۱ رقم الحديث ۳۰۶۰.

[2] (رقم الحديث ۴۳۰۳ أخرجه ابوداود في السنن ۴۰۸/۵ رقم الحديث ۳۰۶۰.

کتاب اللباس
د لباس بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿یا بنی آدم قد أنزلنا علیکم لباساً یواری سوآتکم وریشاً ولباس التقویٰ ذالك خیر﴾ (اعراف ۲۶)

وقال الله تعالیٰ: ﴿یا بنی آدم خذوا زینتکم عند کل مسجد﴾ (اعراف: ۳۱)

لباس مصدر په معنی د ملبوس دی، لکه څنګه چې کتاب د په معنی د مکتوب استعمالیږي. سمع د یسمع نه ده. د دې اصل مصدر لُمساً دی. لام باندې پیش دی. که په لام باندې زبر وویل شي نو هغه د التباس او د ګډوډ کیدلو په معنی کې دی. لباس د انساني ژوند یوه لازمي برخه ده. اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د ژوند پوره ضابطه ده، ځکه د انساني ژوند د هر اړخ او د شعبي کفالت کوي. دا چې قرآن کې الله تعالی باحیا او مهذب انسانانو ته د باپرده لباس هدایت هغه وخت کړی دی چې کله شیطان انسانان د رسم و رواج او د عقیدې په لاره کې د لباس دشمنان کړي ؤو. تردې چې د عرب خلک به کله د عبادت لپاره بیت الله ته راتلل او طواف به یې کولو نو لباس به یې ویستلو او په لغړه به یې طواف کولو او په فخر به یې شعرونه ویل. ښځو به په خپل فرض باندې معمولي شان پټې کلکه کړه او د فخر په توګه به یې دا اشعار ویل:

الیوم یبدو بعضه او کله ❁ وما بدا منه فلا احله (ابن کثیر)

یعنې نن د بدن او د فرض څه برخه ښکاره ده یا پوره ښکاره ده. څومره چې ښکاره ده د دوزخ اور په دې باندې حرام دی. بیت الله د طواف نه بغیر د ژوند په کومه مرحله کې به چې هغوی غوښتل نو د لباس به د الف پشان پاک شول، لکه څنګه چې د اوسني جاهلیت شاعر نورو شاعرانو ته پیغور ورکړی دی.

یاد ہے جب جگر چڑھاتے تھے ❁ کیا الف ہو کے ہنہناتے تھے

د نن سبا جاهلیت د پخوانې جاهلیت نه په دې میدان کې یو څو قدمه مخکې دی. او د فخر په توګه اعلان کوي چې مونږ اعتدلال پسند خلک یو. روشن خیاله یو، خو الله تعالی انسانانو ته د تهذیب او نرموالي تعلیم ورکوي. د الله تعالی ارشاد دی: ﴿یا بنی آدم قد انزلنا علیکم لباسا یواری سوآتکم و ریشا﴾ (سورة اعراف: ۲۶)

مطلب دا هم پرده ده او هم زیب و زینت دی. بیا د الله ارشاد دی:

﴿یا بنی آدم خذوا زینتکم عن کل مسجد﴾ (سورة اعراف. ۳۱)

یعنې د عبادت ځایونو کې او د هر عبادت دوران کې په خاص اهتمام سره لباس واغوندئ.

بیا د الله تعالی ارشاد دی: ﴿قل من حرم زينة الله التي أخرج لعباده﴾ (اعراف: ۳۲)

یعنې د کوم زیب و زینت حکم چې الله تعالی کړی دی. چا هغه حرام کړی دی؟

د دې آیتونو نه د اسلامي شرعی لباس د ترغیب ښه اندازه کیږي.

د اسلامي لباس نقشه: اسلام او اسلامي معاشره کې د لباس اجمالي نقشه او تصور داسې دی چې:

۱: نارینه او د زنانه په لباس کې فرق پکار دی.

۲: اندامونه د بدن پټولو کې د نارینه او زنانه په لباس کې فرق دی. لباس د نارینۀ د دې ښکرو نه لاندې نه وي او د ښځو د دې د ښکرو نه پاس نه وي.

۳: هر نارینه مسلمان اسلام د دې پابند کړی دی چې د هغې په لباس کې د غیر مسلم قومونو د شعار سره څه خاص مشابهت نه وي.

۴: لباس د مسلمان دومره کولاۀ (ارت) پکار دی چې د بدن اعضاء په کې نه ښکاري یعنې داسې پاپړه وي چې د اغوستلو نه وروسته یې د جدا جدا اندامونو پته نه لږي.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله په خپل ملفوظاتو وغیره کې د لباس یو څو درجې بیان کړي دي. فرمایي چې د لباس څلور درجې دي.

۱: اولنۍ درجه د ضرورت ده. دا هغه لباس دی چې د واجب په درجه کې دی. هغه دا دی چې د بدن مستوره اندام پټ کړي.

۲: درجه د اسائش. دا هغه لباس دی چې انسان د ګرمۍ او یخنۍ نه ساتي.

۳: درجه د ارائش او زیبائش. دا هغه درجه ده چې زیب و زینت پرې کیږي. قرآن کریم کې همدغې ته "ریشاً" ویلی شوی دی.

۴: درجه د نمائش یعنې چې په هغې کې تفاخر او ریاکاري مقصود وي.

اولنۍ دوه درجې خو بې ګرده او بې کلامه دي. د دریمې درجې لباس د تحدیث نعمت په توګه مستحب دی. او د مسرت او لذت په توګه مباح دی او فخر او تکبر په توګه حرام دی. او د څلورمي درجې لباس مطقاً حرام دی. **کتاب اللباس** کې هغه حدیثونه ذکر دي چې د جائز او ناجائز لباس تعین په کې شوی دی. لباس د اغوستلو او ویستلو آداب او د کیفیت بیان دی. د دې په ضمن کې د لوښو متعلق هم څه تذکره ده.

الفصل الاول

يمني "حبره" څادر د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډير خوښ ؤو

﴿۱﴾عَن أَنسٍ قَالَ: كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَهَا

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ټولو جامو كې د اغوستلو لپاره د حبره څادر

الْحِبَرَةُ(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

د ټولو نه زيات خوښ ؤو.

توضيح: الحبرة: ح باندې زير دی.با باندې زبر دی. د عِنَبَةٌ په وزن باندې دی. دا يمن كې به جوړېدونكی يو خاص قِسم منقش څادر ؤو. چې هغه زمانه كې به د ټولو نه خاص څادرونو كې شمارل كېدو. ځېنو كې به سره او په ځېنو كې به شنه څادرې وې. تحبير هغه نقش و نگار ته وايي چې سليم الفطرت خلک هغه خوښوې. دا يې هم ليلكي دي چې د قطن او د سوتی تار په وجه محبوب ؤو. اوس پوښتنه دا ده چې راروان حديث نمبر ۲۲ كې ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ټولو جامو كې قميص د ټولو نه زيات خوښ ؤو. دلته د يمني څادر خبره ده. دا په ظاهره تعارض دی.د دې جواب دا دی چې د اچولو څادرونو په قِسمونو كې د يمن څادر ورته د ټولو نه زيات محبوب ؤو. او په اغوستونكو شيانو كې ورته ورته قميص د ټولو نه محبوب ؤو. هيڅ تعارض نشته دی. (مرقات۸/۱۲۳،۱۲۲)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تنګ لستونې والا جبه واغوستله

﴿۲﴾وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ جُبَّةً رُومِيَّةً

او د حضرت مغيره ابن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو رومي جبه واغوستله

ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

چې لستونې يې تنګ ؤو.

توضيح: سفر كې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تنګ لستونو والا جبه اغوستې ده. او حضر كې يې د كولاو

([1])رقم الحديث ۴۳۰۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۲۷۶ رقم الحديث ۵۸۱۳ ومسلم في صحيحه ۱۶۴۸/۶ رقم الحديث (۳۲-۲۰۷۹)

([2])رقم الحديث ۴۳۰۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۷۳/۱ رقم الحديث ۳۶۳ومسلم في ۲۲۹/۱ رقم الحديث (۷۷-۲۷۴)

لستونړو والا استعمال کړې ده. دواړه جائز دي. د حالاتو مطابق چې کوم مناسب نه ؤو. هغه يې اغوستل. مظاهرحق والا د حديث ۲ د لاندې د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يو غلط حديت نقل کړی دی. هغه حديث په باب مناقب اهل البيت مشکوة ص ۵۶۸ باندې دی. کتاب اللباس کې نشته دی. اګر که مصابيح کې دلته ذکر دی. طيبي هم نقل کړی دی. شيخ عبدالحق دې باندې پوره بحث کړی دی.

د سفرِ آخرت په وخت کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامې

﴿۳﴾وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ: أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ كِسَاءً

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مونږ ته د ښو دلو لپاره يو

مُلَبَّدًا وَإِزَارًا غَلِيظًا فَقَالَتْ: قُبِضَ رُوحُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پيوند شوی څادر او يو پيړ تهبند راويستلو او ويې فرمايل چې کله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روح مبارک قبض

فِي هٰذَيْنِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

کړی شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په همغه دوه جامو کې ؤو.

توضيح کساء ملبداً: د تلبيد نه دی. پيوند شوې څادر ته وايي. (مرقات ۱۲۸/۸)

ازارا غليظاً: پيړ تهبند . د دې حديث نه امت ته دا تعليم ورکول کېږي چې د دنيا د زيب او زينت نه ځان ساتنه د ژوند برخه ده. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د دنيا نه تللو وخت کې خپل امت ته کومه نمونه پرېښي ده، نو امت له پکار دي چې د کم نه کم لباس په معامله کې د اسراف نه ځان وساتي. او د تقوی په بنياد نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښه لباس اغوستلو عادت نه جوړ کړی. اګر که ځينې وخت د تحديث نعمت په توګه به يې ښه لپاس اغوستی وي، نو داسې جائز دي. (مرقات ۱۲۸/۸)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بستره

﴿۴﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَنَامُ عَلَيْهِ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ توشکه چې کوم باندې به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پرېوتلو

أَدَمًا حَشْوُهُ لِيفٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

د څرمنې وه او هغه د مالوچو په ځای د کجورو د پوستکو نه ډک شوی ؤو.

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۰۶ اخرجه البخاري في ۲۱۲/۶ رقم الحديث ۳۱۰۸ ومسلم في ۱۶۴۸/۳ رقم الحديث (۳۴-۲۰۸۰)

(۲) رقم الحديث ۴۳۰۷ اخرجه البخاري في صحيحه ۲۸۲/۱۱ رقم الحديث ۶۴۵۶ ومسلم في ۱۶۵۰/۳ رقم الحديث (۳۸-۲۰۸۲).

توضيح أدماً: اديم او آدم هغه څرمن ته وايي چې رنګ کړی شوی وي.

حشوه: داخل او د باطن په معنی کې دی يعنې دننه ځای چې د څه ډک شوی ؤو هغه "ليف" يعنې د کجورو د پوستکول نه ډک شوی ؤو. دلته يوه پوښتنه ده. هغه دا چې په شمائل ترمذی کې د حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خوړلو لپاره تاټ ؤو. په ظاهره کې دواړو روايتونو کې تضاد دی. د دې جواب دا دی چې يو وخت کې تاټ ؤو، نو په وخت کې هغه بل ؤو. دويم جواب دا دی چې دا د خوړلو لپاره به د څرمنې توشکه وه او د کيناستلو لپاره به د کجورې پوستکي ؤو. (مرقات ۱۲۶/۸)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالخت

﴿۵﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ وِسَادُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَتَّكِئُ عَلَيْهِ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالخ چې هغوی به پرې تکی وهلو د

مَنْ أَدَمٍ حَشْوُهُ لِيفٌ. رَوَاهُ مُسلم[1]

څرمنې ؤو او هغه د کجورو د پوستکو نه ډک شوی ؤو.

توضيح د دې حديث نه د بالخ ثبوت او د هغې استعمال ثابتيږي.

په سر باندې د څادر او د دسمال دليل

﴿۶﴾ وعنها قَالَتْ: بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي حَرِّ الظَّهِيرَةِ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې د هجرت نه يو ورځ مخکې چې مونږ غرمه کې په خپل کور کې ناست

قَالَ قَائِلٌ لِأَبِي بَكْرٍ: هَذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ؤو. او يو ويونکې ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل چې هغه وګوره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څادر ګوډونه په

مُقْبِلًا مُتَقَنِّعًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

خپل سر مبارک باندې اچولی دی او راروان دی.

توضيح قال قائل: يعنې ويونکې او بشارت ورکونکې وويل. (مرقات ۱۲۶/۸)

مقبلاً: يعنې ستا اړخ ته راروان دی. (مرقات ۱۲۷/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۰۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۰/۳ رقم الحديث (۳۷-۲۰۸۲) وابوداود في ۳۸۱/۴ رقم الحديث ۴۱۴۶.

(۲) رقم الحديث ۴۳۰۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۲۸۳ رقم الحديث ۵۸۰۷ وابوداود في ۳۴۳/۴ رقم الحديث ۴۰۸۳

متقنعاً: د قناع نه دی. د څادر ګوډ ته وایي. ای مغطیاً راسه بالقناع ای بطرف ردائه یعنې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څارد په ګوډ خپله مخ پټ کړی دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګرمې نه د بچ کېدو لپاره مخ پټ کړی ؤو. چې نن سبا د سعودیه د اوسیدونکو لپاره رومال او د څادر د استعمال لپاره زبردست دلیل دی. یا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دښمن نه مخ د پټولو لپاره داسې کړي ؤو. چې د مجاهدینو لپاره دلیل دی. د دواړو احتمال شته دی. (مرقات ۱۲۸/۸)

په کور کې د درېو نه زیاتې بسترې ساتل منع دي

﴿۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته وفرمایل چې یو بستره د نارینه لپاره

وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهِ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ . رَوَاهُ مُسْلِم [1]

او دویمه د هغې د ښځې لپاره او دریمه بستره د مېلمه لپاره او څلورمه بستره د شیطان لپاره وي.

توضیح: فراش: بستره یو د ځان لپاره، دویمه د ښځې لپاره، دریمه د مېلمه لپاره او څلورمه د شیطان لپاره وي. (مرقات ۱۲۸/۸)

لامرأته: اصل قاعده خو همدغه ده چې خاوند او ښځه یو ځای اوده شي، خو کله د جدا اوده کېدلو ضرورت کېږي، نو د ځکه د ښځې لپاره د جدا بسترې ضرورت پیښ شو. د مېلمه لپاره چې د کومې بسترې تذکره شوې ده د هغې نه دا خبره معلومېدلی شي چې که مېلمانه زیات راځي، نو د هغوی له خاطره بسترې زیاتې ساتلی شي. اصل کې دلته فخر او مباهات او تکبر او غرور او د ځان ښودنې او دلویې والې په توګه د ساتلو نه منع شوې ده. ګنې د ګنجائش جواز شته دی.

څلورمه د شیطان لپاره مطلب دا دی چې د فخر او تکبر لپاره ده. او دا چې دا ستره خالي وي نو ځکه په کې شیطان خبیث ځان ځای برابر کړي، ځکه یوه مقوله ده چې جائے خالی را دیوی گیرد. (مرقات ۱۴۸/۸)

د تکبر په وجه پاجامه د ښنګرو نه لاندې غورځول منع دي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل الله به د قیامت په ورځ هغه کس ته د

إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَه بطرا . (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

رحمت په نظر نه ګوري چې څوک د غرور او د تکبر په وجه یعنې پاجامه او تهبند د ښنګرو نه لاندې غورځوي.

---

[1] رقم الحديث ۴۳۱۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۱/۳ رقم الحديث (۴۱-۲۰۸۴) وأبوداود في السنن ۲۷۹/۴ رقم الحديث ۴۱۴۲.

[2] رقم الحديث ۴۳۱۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۷/۱۰ رقم الحديث ۵۷۸۸ ومسلم ۱۶۵۳/۳ رقم الحديث (۲۰۸۷-۴۸)

پرتوګ يا پاجامه د ښنګرو نه لاندې ځوړندول حرام دي

﴿۹﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ

كوم كس چې د غرور او تكبر په توګه د بدن جامې په زمكه رابنكاږي نو د قيامت په ورځ به الله د

إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

هغې اړخ ته د رحمت او د عنايت په نظر نه ګوري.

توضيح: جرثوبه: د ثوب لفظ سره حكم كې عُموم پيدا شو. هغه كه ازار بند وي يا پاجامه وي يا پتلون وي يا قميص وي يا پرتوګ وې او يا تاو كړي شوى څادر وي.

خُيَلَاءَ: يعنې د تكبر په توګه داسې كوي. كه په غلطئ سره لاندې لاړ شي او ژريې را اوچت كړي نو خير دى، خو د دې قيد مطلب دا نه دى چې كه د يو پرتوګ ځوړند وي او ايې چې زه خو يې د تكبر په غرض نه كوم، نو هغې ته دې واضحه وي چې پرتوګ ځوړندول خپله تكبر او غرور دى. د صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په ټول جماعت كې صرف ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته رخصت وركړى شوى ؤو. بل هيچاته هم اجازت نه دى وركړى شوى. ګويا كې خيلاً قيد اتفاقي دى. احترازي نه دى. مجبوري او شرعي عذر جدا شى دى. حقيقت كې د پرتوګ ځوړوندول او ددا وضع او د دې كيفيت اجازت اسلام نه وركوي. نن سبا د نارينؤ د ښنګرو د پټولو شوق دى او په ښځو كې خكاركولو شوق دى. بس مستوراتو فيصله كړې

ده چې هغوى مكشوفات شي. او مكشوفات نارينؤ فيصله كړې ده چې هغوى مستورات شي۔

مرد مردانہ پن سے عاری ہیں جنس تبدیل ہوگئی ہوگی

پاجامه ځوړندونكې زمكه كې ننوتلو

﴿۱۰﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې كوم وخت كې يو كس د

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۱۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۴/۱۰ رقم الحديث ۵۷۸۴ ومسلم في ۱۶۵۲/۳ رقم الحديث ۵۳۲۸.

مِنَ الْخُيَلَاءِ خُسِفَ بِهِ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ
غرور او تکبر په توګه خپل ازار بند یا پاجامه په زمکه رابنکله نو هغه په زمکه کې ومنډلی شو. اوس
إِلَى يَومِ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]
به همغه شان د قیامت تر ورځې خکته منډل کېږي.

توضيح: جلجلة: اواز سره حرکت کولو ته وایي. یعنې د یوې کنډې نه بلې کنډې ته حرکت کوي او روان دی. یا مطلب دا دی چې په ځنکه کې منډل کېږي. ای ینخسف فیها ویسوخ فیها ابداً. دا کس د قارون نه بغیر په مخکنې امتونو کې یو کس تیر شوی دی. (مرقات ۱۲۸/۸)

پرتوګ د ښنګرو نه لاندې ځوړ ندول د دوزخ برخه ده

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل از قسم یعنې ازار یعنې
مِنَ الْإِزَارِ فِي النَّارِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
پاجامه وغیره کوم برخه چې د ښنګرو نه لاندې وي، هغه به دوزخ ته اچولی کېږي.

توضيح: ما اسفل: یعنې کوم ازار بند یا پرتوګ یا پاجامه چې څومره د ښنګرو نه لاندې ځې د پښې هغه هومره برخه به دوزخ ته ځي. د دې مطلب دا نه دی چې کس به بهر وي او د پښو څه برخه دوزخ ته ځي. بلکې د دغه قسمه عبارتونو مقصد دا وي چې دا کس به جنهم ته ځي. داسې کس ته مسبل ازار هم وایي. چې د چا باره کې سخت وعیدونه وي. یو حدیث کې د دغه شان کس باره کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې لاړه او لمونځ هم بېرته وکړه او نوی اودس هم وکړه. د ښنګرو پتولو بیماري د پنجاب په عوامو او علماؤ کې ډېره زیات ده. د سرحد خلک او علماء په دې کې لږ اخته دي. د بلوچستان خلک په دې بیماری کې ډېر زیات اخته دي. دغه شان د افغانستان عوام او خواص هم د دې مرض ښکار شوي دي. صوبه سندھ خو د ټولو صوبو په خلکو مشتمله ده. دې کې هر قسمه خلک دي. د عربو خلک په اجتماعي توګه دې ګناه کې اخته دي. د مصر یو لویې عالم دې مرض کې اخته ؤو. هغه یو ورځ د کور نه دفتر ته تللو چې خپله پاجامه یې پښو کې ونخښتله او د

([1]) رقم الحديث ۴۳۱۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۱۵/۶ رقم الحديث ۳۴۸۵ والنسائي ۲۰۶/۸ رقم الحديث ۵۳۲۶.

([2]) رقم الحديث ۴۳۱۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۶/۱۰ رقم الحديث ۵۷۸۷ والنسائي في ۲۰۷/۸ رقم الحديث ۵۳۳۰.

زينې نه لاندې راوغورځېدلو او ژر مړ شو. (مرقات ۸/۱۲۹، ۱۲۸)

اشتمال الصماء جائز نه ده

﴿۱۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ

او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه منع کړې ده چې يو کس

يَأْكُلَ الرَّجُلُ بِشِمَالِهِ أَو يمشي فِي نعل وَاحِد وَأَن يشْتَمل الصماء

په چپ لاس خوراک وکړي او يو پښه کې بوټ واچوي او لاړ شي او دا چې بدن باندې ټوټه داسې تاوه کړي

أَو يجتبي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ. رَوَاهُ مُسلم [1]

دواړه لاسونه يې د ټوټې دننه وي. يا بدن نه يو داسې ټوټه راتاوه کړي چې په ګونډه کينې چې د هغې ستر کولاوشي.

توضيح فی نعل واحدة: يعنې يو پښه کې يې بوټ شته دی او بله کې يې نشته دی، نو داسې ګرځېدل منع دي، ځکه دې کې د ګرځېدلو توازن هم خرابېږي او سړی پرې بې ډنګه هم ښکاري. يا چې دواړه بوټان وي يا دواړه پښې لغړې وي. (مرقات ۸/۱۲۹)

ان يشتمل الصماء: په عربو کې به د څادر د اچولو طريقه داسې وه چې د سرنه تر د پښو پورې به يې بدن په څادر کې راتاولو او کيناستل به، نو سړی د کانې پشان شو. هيڅ ځای به خلاص پاتې نه ؤو. د دې نه اسلام منع کړې ده. يو وجه خو دا ده چې نبي کريم ﷺ منع کړې ده. دا کافي ده. دويمه وجه دا ده چې داسې کولو سړی په لږ حرکت سره غوځېږي. او چې غوځېږي نو ګڼين به ترېنه جوړ شي او غونډ به لېږي. چې د پوزې وغيره د ليدلو خطر هم په کې دی. دريمه وجه دا ده چې که دا د جهاد ماحول وي او د دښمن خطر وي نو چې تر څو پورې په څادر کې نغښتلی شوی کس بهر راوځي نو دښمن به وژلی وي. او د بچ کېدلو به هيڅ صورت نه وي، نو ځکه **داشتمال الصماء** ممانعت راغلی دی. (مرقات ۸/۱۳۰، ۱۲۹)

او يحتبي: ګونډه ماتولو سره کيناستلو ته احتباء وايي.

دې صورت کې د کيناستلو يو کيفيت دا وي چې مثلاً يو کس کوناټي په زمکه کېږدي او پونډئ ودروي او دواړه لاسونه د ګونډو نه څه لاندې د هغې نه راچاپير کړي او کينې، نو دا صورت ډېر قبيح او حرام دی، ځکه دې کې ټول بدن لغړ شي، نو دې کې بالکل د ستر عورت نشته دی. د احتباء دويم صورت دا وي چې سړی دغه شان په کناټو باندې کينې خو يو ټوټه د ملا او پونډو نه چاپيره بدن باندې جدا ټوټه وي نو بيا د احتباء اجازت شته دی، لکه جلسو او محفلونو کې ځينې حضرات

---

[1] رقم الحديث ۴۳۱۵ اخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۶۶۱ رقم الحديث (۷۰-۲۰۹۹) ومالک في الموطا ۲/۹۲۲ رقم الحديث ۵

د تنکولو لپاره ګونده ماته کړي او کینې او تقریر اوري. (مرقات۸/۱۳۰)

د نارینۍ لپاره ریښم استعمالول حرام دی

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عُمَرَ وَأَنَسٍ وَابْنِ الزُّبَيْرِ وَأَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ

او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت ابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ

څلور واړه صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې کوم کس په

لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دنیا کې غیر مشروع ریښم واغوستلو. هغه به په اخرت کې ریښم نه اغوندي.

توضیح فی الاٰخرة: د نارینۍ لپاره د ریښمو جامې اغوستل جائز نه دي. د بڼځو لپاره جائز دي. البته د څلور ګوتو په اندازه د ریشم پټۍ د جامو په غاړو وغیره کې نارینه هم استعمالولی شي. د بحث لاندې حدیث کې دي کوم نارینه په دنیا کې ریښم استعمالوي نو آخرت کې به هغې ته ریښم نه ملاویږي. (مرقات۸/۱۳۰)

پوښتنه: ریښم خو په جنت کې ملاویږي نو آیا دا کس کافر شو چې جنت ته به کله هم نه ځي او د ریښم نه به محروم وي؟

جواب: که یو کس د نارینۍ لپاره د ریښمو د حرمت عقیده نه لري بلکې دا حرام حلال ګڼي نو هغه کافر کیږي. جنت ته به نه ځي، خو که یو کس د حرمت انکار نه کوي او اغوندې یې، نو هغې ته په اول ځل جنت ته د دخول وخت کې ریښم نه اچولی کیږي. بلکې دوزخ کې به سزه خوري او ریښم به استعمالوي. درېم جواب دا دی چې که دا کس جنت ته داخل شي خو د سزه په توګه به د ریښم نه داسې محرومه وي چې د دې په زړه کې به د ریښمو غوتنه نه وي. چې غوښتنه نشته نو مطالبه نشته، چې مطالبه نه وي نو ریښم به نه ورکړی کیږي، نو محرومه به شي. دا حدیث د تغلیظ او تشدید او د زجر او توبیخ باندې محمول دی. (مرقات۸/۱۳۰)

بدنصیبه د آخرت په دنیا کې ریښم اغوندي

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دې کې هیڅ شک نشته

يَلْبَسُ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

دی چې دنیا کې هغه کس ریښم اغوندي چې د هغې لپاره آخرت کې برخه نه وي.

([1]) رقم الحديث ۴۳۱۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۲۸۴ رقم الحديث ۵۸۳۲ عن انس ۵۸۳۳ وعن ابن الزبير ۵۸۳۴ وعن عمر.

([2]) رقم الحديث ۴۳۱۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۲۸۴ رقم الحديث ۵۸۳۲ عن انس ۵۸۳۳ وعن ابن الزبير ۵۸۳۴ وعن عمر.

توضیح: لا خلاق: برخه او نصیب ته خلاق ویل شوي دي.

دریښمو ټوټه باندې کیناستل هم منع دي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ

او حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ د دې نه منع کړي یو چې مونږ د

الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ

سرو او سپینو زرو په لوخو کې وڅښو او دې کې وخورو. او نبي کریم ﷺ د نري ریښم او د پیړو

وَالدِّيبَاجِ وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ریښمو د یو قسم ریښمي جامه اغوستلو او هغې باندې د کیناستلو نه منع کړي ده.

توضیح: الدیباج: دا د ریښمو یو قسم دی. څه پیړ ریښمو لپاره د دیباج لفظ استعمال شوی دی.

وان نجلس علیه: د ریشم لباس د نارینۍ لپاره د ټولو فقهاؤ په نزد حرام دی. او که د ریښمو څادر وغیره لاندې غورولی کېږي نو دې کې اختلاف دی. صاحبین فرمایي چې دې باندې ناسته هم حرامه ده، لکه څنګه چې د دې اغوستل حرام دي، خو امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چې کیناستل پرې حرام نه بلکې مکروه دي. او دا حدیث په کراهت باندې محمول دی.

فتاوی قاضي خان کې لیکلي دی چې څنګه د ریښمو استعمال د نارینۍ لپاره حرم دی دغه شان وړو هلکانو لپاره هم ناجائز دی او وراغوستونکي به ګناه ګاران وي. (مرقات ۱۳۱/۸)

ریښم ښځو ته واغوندئ

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم حُلَّة

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ځل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې یو نري ریښمي جوړه چې تهبند او

سِيَرَاءَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَيَّ

څادر باندې مشتمله وه د هدې په توګه ورته پیش کړی شوه، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ماته راولېږله او ما هغه

فَلَبِسْتُهَا فَعَرَفْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ

واغوسته ما ولیدل چې هغه جوړه زما بدن باندې لیدلو سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخ مبارک باندې د غصې

فَقَالَ: إِنِّي لَمْ أَبْعَثْ بِهَا إِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا

پيدا شو. نبي عَلَيْهِ السَّلَام ماته وفرمايل چې ما دا جوړه تاته د دې لپاره نه وه درلېږلې چې ته يې واغوندې بلکې ما

إِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا إِلَيْكَ لِتُشَقِّقَهَا خُمُراً بَيْنَ النساءِ (۱)

دا جوړه تاته ځکه درلېږلې وه چې ته وا اوشلوه او لوپټې ترېنه جوړې کړه او دا لوپټې په ښځو تقسيم کړه.

توضيح سيراء: سين باندې کسره ده. يا باندې زبر دی او را باندې هم زبر دی. د هغې نه وروسته الف باندې مد دی. سورريښم ته وايي. همدغه وجه ده چې دې باندې د ديباج او د سندس اطلاق هم شوی دی.

خمراً: دا د خمار جمع ده څادر او لوپټې ته وايي. (مرقات ۱۳۲/۸)

ناريټو لپاره دريښم د څلورو ګوتو پټئ جائز ده

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ

او د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ريښمو د اغوستلو نه منع کړې ده بغير د

إِلَّا هَكَذَا وَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إصبعيه:

دومره نه يعني دوه ګوتو برابر او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ممانعت بيانولو سره ذکر شوی مقدار د ظاهرولو لپاره خپله مينځنۍ

الْوُسْطَى والسبابة وضمهما (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ (۲)

او د شهادت ګوته او چته کړه يعني نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوارې ګوتې يوځای کړې او وې ښودلې او وې ويل چې دومره

وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: أَنَّهُ

يعني د دوه ګوتو برابر د ريښمو ټوټه که په لباس کې وي نو مباح ده. او د مسلم په يو روايت کې دي چې عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

خَطَبَ بِالْجَابِيَةِ فَقَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ

يوښار جابيه کې د خطبې دوران کې وفرمايل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ريښمي جامې اغوستلو

إِلَّا مَوْضِعَ إِصْبَعَيْنِ أَوْ ثَلَاث أَوْ أَرْبَع) (۳)

نه منع کړې ده. بغير د دوه يا دريو يا څلورو ګوتو نه.

توضيح جابيه: د شام د يو ښار نوم دی. د بيت المقدس د فتحې په موقع حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تشريف

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۲۲ أخرجه الترمذي في صحيحه ۲۲۹/۵ رقم الحديث ۲۶۱۴ ومسلم في ۱۶۴۴ رقم الحديث (۲۰۷۱-۱۰۷)

(۲) رقم الحديث ۴۳۲۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۸۴/۱۰ رقم الحديث ۵۸۲۹ ومسلم في ۱۶۴۲/۳ رقم الحديث (۲۰۶۹-۱۲)

(۳) رقم الحديث ۴۳۲۴ أخرجه في صحيحه ۱۶۴۳/۳ رقم الحديث (۲۰۶۹-۱۵) وأبوداود في السنن ۳۰۲۱/۴ رقم الحديث ۴۰۴۲

وړی ؤو. هلته جاييه کې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خطبه ورکړه. د نارينؤ لپاره د ريښم د جواز ابتداء د دوه ګوتو په مقدار نه وشوه او څلور ګوتې د هغې انتهاء ده، نور حرام دي. دا خبره دې په ذهن کې وي چې د څلورو ګوتو په مقدار ريښم استعمال د نورو جامو په ضمن کې جائز دي. مستقلاً نۀ. (مرقات ۱۳۳/۸)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُبه

﴿۱۸﴾ وَعَن أسماءَ بنت أبي بكر: أَنَّهَا أَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ كِسْرَوَانِيَّةٍ

او د حضرت اسماء بنت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د طيلسان کسرواني جبه راويسته. (ديو خاص

لَهَا لِبْنَةُ دِيبَاجٍ وفُرجَيْهَا مكفوفَين بالدِيباجِ

قسم تور څادر) د هغې په ګريوان په دواړو طرفونو باندې د ريښمو ټوټه ګنډلی شوې وه. او د هغې

وَقَالَت: هَذِه جبَّةُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

به دواړو نستونو باندې هم. بيا هغې وفرمايل چې دا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جبه ده چې د

كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره وه او کله چې هغه مړه شوه نو (د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ميراث چې زما خوروه) زما په قبضه

وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُهَا فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا

کې راغله. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا جبه (کله کله) اغوستله. مونږ به دا د مريضانو لپاره وينځو (يعنې د دې

للمَرضى نستشفي بهَا. رَوَاهُ مُسلم[1]

وينځل شوې اوبه مريضانو باندې څښنو) او د دې په ذريعه هغوی ته شفاء حاصليږي.

توضيح طيالسة: دا د طيلسان جمع ده او طيلسان اصل کې تالسان ؤو. عجمي لفظ دی. عربو کې طيلسان شو. طيلسان يو تور رنګی څادر ؤو. چې او وړئ نه جوړيدلو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جبه د همغې نه جوړه شوې وه، نو ځکه د دې اړخ ته نسبت وکړی شو. د کلام نه مقصود دا ويل دي چې "جبة صوف سوداء" يعنې د وړئ نه جوړه شوې توره جبه وه. طيلسان د دې تعبير دی. (مرقات ۱۳۳/۸)

كسروانية: د فارس بادشاه ته به يې کسری ويلو. دا جبه دا چې د هغې د شهرته نه مشهوره شوې وه، نو ځکه هغې ته منسوب وه. يعنې د کسری د ستائل چوغه وه، لکه څنګه چې وايي چې جناح کيمپ، لياقت علی کيمپ، کسروانی جبه. (مرقات ۱۳۴/۸، ۱۳۳)

لبنة: لام باندې زبر دی. با ساکن ده، نون باندې زبر دی. د ريښمو هغه ټوټې ته وايي چې د قميص يا جبې د پاسه

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۲۵ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۴۱/۳ رقم الحديث (۱۰-۲۰۶۹) وأبوداود في ۳۲۸/۴ رقم الحديث ۴۰۴۵

به لږولی کېدله. ګویاکې د ښایست لپاره به د جیب د پاسه د ریښمو یو پټۍ لږولی کېدله. (مرقات ۱۳۴/۸)

وفرجیها: فا باند ضمه ده. فتحه هم استعمالېږي. **ای شقیها** د جبې مخې ته د سینې اړخ فراخوالی وي. دې ته ګرېوان وایي. ځینې ملکونو کې شاته هم یو ګریوان وي. چې د شا ګرېوان وي. دې حدیث کې د فرجیها نه مراد همدغه دوه شقه دي. (مرقات ۱۳۳/۸)

مکفوفین: ای خیط فاها بالدبیاج والکفة بالضم عطف الثوب.

شیخ عبد الحق په اشعة اللمعات کې لیکي چې کفة د یو شي غاړې ته وایي. که کاف باندې پیش وی نو دا مستطیل اوږد او د پلن شیانو لپاره راځي، لکه ګرېوان وغیره. او که کفة کې کاف باندې زیر وي نو مدور او په ګول شیانو کې استعمالېږي، لکه څنګه چې د تلی چاپېرې ته کفة وایي. د دې حدیث مطلب دا شو چې د دې جبې په دواړو ګرېوانو باندې د سنجاف دیباج بوټی ټک وهلی شوي وو لکه څنګه چې نن سبا جامو باندې بوټی وغیره کېږي. [اشعة اللمعات ۵۷۷/۳]

حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها ته دا جبه د حضرت عائشه رضی الله عنها نه حاصله شوې وه. او فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دا اغوستله. او مونږه یې د برکت په توګه د مریضانو د شفاء لپاره دا وینځو. او د دې اوبه په هغوی څښوؤ. د دې نه تبرک به اثار الصالحین ثابتېږي، خو شرط دا دی چې دواړو اړخ ته خلک صالح وي چې عقیده خرابه نه شي.

ریښم د عذر په بناء استعمالول جائز دی

﴿۱۹﴾ وَعَن أَنَسٍ قَالَ: رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ
او حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت زبیر رضی الله عنه او
وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ فِي لبس الْحَرِير لحكة بهما
حضرت عبد الرحمن ابن عوف رضی الله عنه ته د ریښمو د اغوستلو اجازت ورکړی وُو، ځکه په هغوی خارښ وُو
وَفِي رِوَايَة لمُسلم قَالَ: إِنَّهُمَا شكوا
(بخاری او مسلم) او د مسلم په روایت کې دا دي چې انس رضی الله عنه بیان وکړو چې د دې دواړو (زبیر رضی الله عنه او
من الْقمل فَرخص لَهما فِي قمص الْحَرِير (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]
عبد الرحمن) د سپګو د زیاتېدلو شکایت وکړو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغوی ته د ریښمو د اغوستلو اجازت وکړو.

توضیح: الحکة: خارښ ته وایي. د ریښم استعمالول د شرعي ضرورت او عذر په بناء جائز دي، نو د بدن د

---

[1] رقم الحديث ۴۳۲۶ اخرجه البخاري في صحيحه ۲۹۵/۱۰ رقم الحديث ۵۸۳۹ ومسلم في ۱۶۴۶/۳ رقم الحديث (۲۵-۲۰۷۶)

خربنې لپاره يا د جهاد په ميدان کې د بچ کېدو لپاره يا د سپکو د ختمولو لپاره د ضرورت په قدر جائز دی. ربښم د اصل په اعتبار سره ګرم او خوشحاله دی، نو ځکه پرې خاربنې او سپکې ختمېږي. (مرقات ۸/ ۱۳۵)

کسم او سور رنګ باندې رنګ شوې جامه د نارينو لپاره منع ده

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ

او حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه په سور رنګ باندې

مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ من ثِيَابِ الْكُفَّارِ

رنګ شوو جامو کې ولیدلم نو ويې فرمايل چې "دا د کافرانو لباس دی (چې نه هغوی په حلال او حرام کې فرق کوي او نه

فَلَا تلبسها وَفِي رِوَايَةٍ:

د نارينه او د زنانه په لباس کې فرق کوي) لهذا دا مه اغوندە. او يو بل روايت کې داسې دي چې ما

قلت: أغسلهما؟ قَالَ: بل احرقها . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَائِشَةَ:

عرض وکړو چې "آيا دا ؤوينځم"؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې نا بلکې دا اوسوزوه". او د

خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ فِي بَابِ مَنَاقِبِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت خرج النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذات غداة الخ کې به ان شاء الله مونږ مناقب اهل

أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم [1]

بيت نبوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په باب کې نقل کوؤ.

توضيح کسم د يو سور رنګ نوم دی چې د يو بوټي نه حاصليږي. د نارينۍ لپاره منع دی. احناف دا او دغه شان هر قسمه سور رنګې توتې د نارينۍ لپاره مکروه تحريمي ګڼي. اګر که د فقهاؤ تور اقوال هم شته دی.

احرقها: د دې نه مراد ضايع کول دي. چاته يې تحفه کړه يا يې په بله کومه طريقه ضايع کړه. که هيڅ نه وي نو وې سوځوه خو د ځان سره يې مه ږده. (مرقات ۸/ ۱۳۶)

و سنذكر حديث عائشة الخ: د دې عبارت نه په واضحه توګه معلومه شوه چې په ابتداء صاحب مشکوة دا حديث ذکر کړی نه دی، خو مظاهر حق کې شته دی. مصابيح کې هم دی. ما په توضيحات کې نه دی ليکلی، نو ځکه مې د حديث نمبر هم بدل ليکلی دی. (مرقات ۸/ ۱۳۷)

([1]) رقم الحديث ۴۳۲۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/ ۱۶۴۷ رقم الحديث (۲۷-۲۰۷۷) والنسائي في السنن ۸/ ۲۰۳ رقم الحديث ۵۳۱۶.

الفصل الثاني
د قميص فضيلت

﴿۲۱﴾عَن أُم سَلمَة قَالَتْ: كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په ټولو ټوټو كې قميص د ټولو نه

الْقَمِيصَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[1]

زياته خوښه وه. (ترمذی ابوداؤد)

توضيح: القميص: څادر د اوږو نه هر وخت غورزېږي راغورزېږي. او د مقابلې په وخت كې يا د كار په وخت كې د دې سنبالول ډېر مشكل وي، نو ځكه قميص يې افضل او خوښ ګڼلی دی. چې بېشماره فايدې په كې دي. د عربو خلك چې نن سبا كوم لباس استعمالوي هغه يو قيد خانه ده. ددوی په اوږد توپ كې نه سړې منډه وهلې شی او نه په اوچت ځای ختلی شي. نه راكوزېدلی شي نو د دښمن مقابله دې كې څنګه كېدی شي. د حرمينو شريفينو امام عبدالله بن سبيل المحترم يو ځل درس كې وفرمايل چې د دنيا په لباسونو كې د ټولو نه د سهولت والا لباس د پېښور والا دی. پرتوګ او قميص هر لحاظ سره ارام كونكی او ښايسته لباس دی.

د قميص حد

﴿۲۲﴾وَعَن أَسمَاءَ بنت يزيد قَالَتْ: كَانَ كُمُّ قَمِيصِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى

او حضرت اسماء بنت يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرتئ لستونې به تر د

الرُّصغِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[2]

پينځو پورې (هم) ؤو. (روايت كړې دي ترمذی)

توضيح: الرصغ: د لاس مړوند ته او پينځو ته رضع وايي. كله به يې تر د ګوتو پورې هم اوږد والی ؤو. معلومه شوه چې مسنون قميص هغه دی چې د هغې لستونې د ګوتو نه مخې نه وي او لمن د ښنګرو نه لاندې نه وي. (مرقات ۱۳۸/۸)

﴿۲۳﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسَ قَمِيصًا

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به كله قرتئ اغوستله نو د نبي اړخ نه

---

[1] (رقم الحديث ۴۳۲۸ أخرجه ابوداود في السنن ۳۱۲/۴ رقم الحديث ۴۰۲۵ والترمذي في ۲۰۸/۴ رقم الحديث ۱۷۶۲

[2] (رقم الحديث ۴۳۲۹ أخرجه ابوداود في السنن ۳۱۳/۴ رقم الحديث ۴۰۲۵ والترمذي في ۲۰۹/۴ رقم الحديث ۱۷۶۵.

بَدَأَ بِميامنه. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]
به يې شروع كوه. (ترمذی)

توضيح ميامن: د **ميمنة** جمع ده. ښي اړخ ته وايي. مثلاً ښي لستونې دي اول واغوستلی شي، ښي پښنه كې مخكې والی وشی.

۱۰ ربيع الاول ۱۴۱۸ھ

په هره جامه كې اسبال منع دی

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې "د
يَقُولُ: إِزْرَةُ الْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِ فِيمَا بَيْنَهُ
يو تهبند او پاجامه د ټولو نه بهتر صورت خو دا دی چې هغه كس د نيمو پونډو پورې وي او د نيمو
وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ مَا أَسْفَلَ
پونډو نه د ښنګرو پورې (په مينځ) كې كېدلو كې هيڅ باك نه كوي، خو د دې (ښنګرې) نه چې لاندې كومه
مِنْ ذَلِكَ فَفِي النَّارِ قَالَ
برخه (غورنده) وي هغه به د دوزخ اور ته ځي. حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې
ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَلَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا الفاظ دري ځله تكرار كړله او (بيا يې وفرمايل چې) الله به د قيامت په ورځ هغه كس ته
إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[2]
د رحمت او د عنايت په نظر نه ګوري چې په غرور او تكبر سره تهبند او پاجامه د ښنګرو نه لاندې غورندوي".

توضيح ازرة المؤمن: دا د ازار جمع ده لنګ ته وايي. تر د نيمي پونډئ پورې افضل دی. تر د ښنګرو پورې جائز دی. د ښنګرو نه لاندې ناجائز دی. د دې حديث نه د اسبال (زورندول) عموم معلوميږي چې د لباس كې د شرعي حد نه تجاوز چې نوم يې اسبال دی دا صرف پاجامه كې نه بلكې لنګئ، پاجامه، د قميص لنستونې، د هغې د لمن عمامه، او څادر ټول په اسبال كې وي. پاجامه دې

([1]) رقم الحديث ۴۳۳۰ أخرجه الترمذي في السنن ۳۷۹/۴ رقم الحديث ۴۱۴۱ والترمذي في ۲۰۹/۴ رقم الحديث ۱۷۶۶.

([2]) رقم الحديث ۴۳۳۱ أخرجه ابوداود في السنن ۳۵۳/۴ رقم الحديث ۴۰۹۳ وابن ماجه في ۱۱۸۳/۳ رقم الحديث ۳۵۷۳

د ښنګرو نه لاندې نه وي ګڼې اسبال به وي. د قمیص لمن دې هم لاندې نه وي او چې د څلور ګوتو نه کم نه وي ګڼې اسبال به وي. او که پاجامه بې خیالئ کې لاندې لاړه نو ژریې او چتول پکار دي، ګناه به نه وي. او د که د تکبر په توګه راځوړند کړی شي نو حرام دي.

لم ینظر الله: یعنې الله به د هغې نه ناراضه شي او د قیامت کې به ورته الله د رحمت په نظر نه ګوري. ځینې خلک د ښنګرو نه لاندې پرتوګ یا پاجامه ځوړندوې او وایي چې مونږ تکبر نه کوؤ. حال دا چې دا خپله تکبر دی. صحابه کرامو کې هیچاته هم اجازت نه ؤو ورکړی شوی، نو د امت د عامه خلکو څه حیثیت دی. صرف صدیق یې د مجبورۍ په وجه معذور ګڼلی دی. هغه هم ګاه ګاه. (مرقات ۱۴۰/۸)

حدیث نمبر ۶۰ کې پوره تفصیل راروان دی.

﴿۲۵﴾ وَعَن سَالم عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سالم د خپل پلار (یعنې حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه او هغه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي

قَالَ: الْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيصِ وَالْعِمَامَةِ

چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "اسبال یعنې ځوړندول، ازار، قرتئ او عمامه کې دی. کوم چې

مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ

د دې جامو نه څه راځوړند کې او په تکبرا و غروریې رانښکاره نو د قیامت په ورځ به الله د هغې

الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْن مَاجَه[1]

ارخ ته (د رحمت په نظر) نه ګوري. (ابو داؤد، نسائی، ابن ماجه)

د صحابه کرامو خولئ به څنګه وي

﴿۲۶﴾ وَعَن أَبِي كبشةَ قَالَ: كَانَ كِمَامُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو کبشه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوه صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ خولئ

بُطْحًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حديثٌ مُنكر[2]

داسې وي چې سرونو پسې به ننبتي وي. ترمذی دا روایت نقل کړی او ویلي یې دي چې دا حدیث منکر دی.

توضیح: **کِمام**: دا جمع ده **کُمَّةٌ**، لکه څنګه چې **قِباب قُبَّةٌ** جمع ده. دا د یو ګول قسم خولئ نوم دی. چې د پټکي د لاندې به استعمالیدله.

---

[1] رقم الحديث ۴۳۳۲ اخرجه ابوداود في السنن ۳۲۵/۴ رقم الحديث ۴۰۸۵ والنسائي في ۲۰۸/۸ رقم الحديث ۵۳۳۴ .

[2] رقم الحديث ۴۳۳۳ اخرجه الترمذي في السنن ۲۱۶/۴ رقم الحديث ۱۷۸۲

بُطحاً: ب باندې پیش دی. او طا ساکن دی. د دې مفرد بطحاء دی. هوراې ګاړئ ځمکې ته بطحاء وایي. دلته داسې خولئ مراد ده چې د سره سره نخښتې وي او په دې ښوره شوې وي. د حدیث مطلب دا دی چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به چې کومې خولئ استعمالولې هغه به ګول او په سرونو پسې به نخښتې وي. تنګې او اوچتې به نه وي، لکه څنګه ترکئ، ایرانئ او د مصر خولئ ګانې دي. د دې حدیث نه د جناح کیسې او لیاقت علی کیمپ او ځینې د قبه پشان د کلف والا د ټوپۍ د خولئ ګانو حوصله شکنی کېږي. دا جدا خبره ده چې دا حدیث منکر دی. ځینې حضرات د کمام جمع د کم د خولئ ګانو په ځای د لستونې مراد اخستې دي. او د بطح نه یې فرامه مراد اخستی دی. مطلب دا دی چې د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ لستونې به فراخه وُو. اولنی مفهوم ډېر زیات راجح دی. صحابه کرامو زیات تر پټکي استعمال کړي دي. د پټکې نه بغیر یې خولئ لږه استعمال کړې ده. (مرقات ۱۴۱/۸)

د ښځو لباس د نارینۍ دلباس نه زیات کولاؤ پکار دی

﴿۴۷﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ ذَكَرَ الْإِزَارَ:

او د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې کوم وخت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ازار بند (لنګ او پاجامه) حکم

فَالْمَرْأَةُ يَا رَسُولَ اللهِ؟

بیانولو (چې د ښځو ټولو منع دي) نو هغې عرض وکړو چې "یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" او د ښځو باره کې څه حکم دی؟

قَالَ: تُرْخِي شِبْرًا

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ښځه دې خپل لنګ یا پاجامه یو لویشت لاندې ځوړند ولی شي.

فَقَالَتْ: إِذًا تَنْكَشِفُ

حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عرض وکړو چې "دې صورت کې به هم څه برخه ښکاره وي یعنې که پوندئ ډېرې اوږدې وي

عَنْهَا قَالَ: فَذِرَاعًا

وهغه ویل نیمو پونډو نه یو لویشت او ترلاندې پورې خپله پاجامه ځوړنده کړي نو بیا هم د هغې د ستر د ښکاره کېدو به احتمال وي.

لَا تَزِيدُ عَلَيْهِ.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل "دې صورت کې هغه خپله پاجامه وغیره دومره لاندې ځوړنده ولی شي چې هغه تر ځکې پورې ورسیږي.

رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُد

ي د هغې پښې پټې شي او که د لویشت نه زیات وي یا دیو ګز برابر د هغې نه وروسته نبي عَلَيْهِ السَّلَام د حد نه زیات د ځوړندولو

وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]
مانا: تاکید دپاره نولو لپاره بیان کړو چې هیڅ یوه بنځه دې دیو ګز نه زیات لاندې نه خوړندوي. (مالک، ابوداؤد، نسائی،
وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ وَالنَّسَائِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ
ابن ماجه) او ترمذی او د نسائی په یو روایت کې چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دی، داسې
فَقَالَتْ: إِذًا تَنْكَشِفُ أَقْدَامُهُنَّ قَالَ:
دی چې حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا وویل چې دې صورت کې پښې کلاوې شي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَيُرْخِينَ ذِرَاعًا لَا يَزِدْنَ عَلَيْهِ[2]
وفرمایل چې هغه دې یو لاس نور هم لاندې ځوړندې کړي خو دې نه زیاتې نه ځوړندوي".

توضیح: د دې حدیث نه معلومه شوه چې د بنځو لباس د نارینوؤ په نسبت فراخه او سست او اوږد او پلن وي، خو نن سا بنځو ته فاسقې معاشرې د تنګ او د نیم لغړ لباس واغوستلو او د هغوی عظمت یې تار تار کړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ازار باره کې وفرمایل چې دوهم اوږد وي چې د بنځې قدم او پښې په کې بنکاره نه شي. د دې نه زیات په زمکه باندې راښکته صنع دي. (مرقات ۱۴۲/۸)

اکبر الله آبادي د نوي دور د بې پردګۍ متلعق ویلي دي:

بے پردہ کل جو آئیں نظر چند بیبیاں — اکبر زمین میں غیرت قومی سے گڑ گیا
پوچھا جو ان سے آپ کا پردہ کیا ہوا — کہنے لگیں کہ عقل پہ مردوں کی پڑ گیا

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرطئ ګریوان

﴿۲۸﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ
او حضرت معاویه بن قرة د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې وویل یو ورځ ما د مزینه قوم د یو جماعت
فَبَايَعُوهُ وَإِنَّهُ لَمُطْلَقُ
سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو، نو د هغه جماعت خلکو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره په اسلام بیعت وکړو.
الْأَزْرَارِ فَأَدْخَلْتُ يَدِي
هغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خپلې قمیص ګنډې کولاوکړي وي. ما موقع غنیمت وګڼله او د برکت د حصول او

---

[1] رقم الحديث ۴۳۳۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۶۴/۴ رقم الحديث ۴۱۷ والترمذي في ۱۹۵/۴ رقم الحديث ۱۷۳۱

[2] رقم الحديث ۴۳۳۵ أخرجه ابوداود في السنن ۳۶۵/۴ رقم الحديث ۴۱۱۹ والترمذي في ۱۹۵/۴ رقم الحديث ۱۷۳۱

فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ فَمَسِسْتُ الْخَاتَمَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

د سعادت لپاره خپل لاس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د قميص په گرېوان کې واچولو او په مهر نبوت مې لاس رانښکلو.

توضيح: الازرار: دا د زر جمع ده. د ټوټې نه جوړې شوې تنۍ ته وايي. يو شاعر وايي:

لا تعجبوا من بلا غلالته ❁ قد زر ازراره على القمر

ترجمه: د محبوب د بنين په شليدلو باندې تعجب مه کوه ځکه د دې تنۍ په سپو ګمئ باندې تړلې شوي دي. يعنې بنين د تسر او د کتان د ټوټې نه جوړ شوی دی چې د سپو کمئ په رڼا سره شلېږي. د محبوب بدن د سپو ګمئ دی، نو ځکه بنين شليدلی دی. تعجب مه کوه. حديث کې د جيب نه مراد هغه پاکټ نه دی چې کوم کې خلک سامان او بټوه وغيره ږدي. بلکې دلته ګرېوان مراد دی. اوس احتمال دا هم دی چې د شاته نه ګرېوان وي او دا هم احتمال دی چې د مخې اړخ نه وي. ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چې دلته د ګرېوان نه مراد هغه پټۍ ده چې د څټ نه راتاؤ وي. مخې ته د ګرېوان تنۍ چې کله کولاوه وي نو دې پټۍ کې سست والی پيدا شي. د همدغې نه د معاويه بن قره پلار لاس داخل کړی دی. که تنۍ بنده وي نو لاس نه شي داخليدلی. د ځېنې قومونو په قميصونو کې مخکې او وروسته دوه ګرېوانه وي، خو علمه سيوطی فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګرېوان به مخې ته ؤو. د ځېنو خلکو دا ويل غلط ثابت شو چې وايي د مخې نه ګرېوان کول بدعت دی. (په يو زمانه کې به دې ته خلکو بدعت ويله) د ځېنې قومونو ګرېوان د سينې د چټر نه د نبي اوږې اړخ ته وي. دلته هغه هم مراد نه دی. (مرقات ۱۴۳/۸)

الخاتم: د مهر په معنی کې دی. مراد ترېنه ختم نبوت دی. چې د شا اړخ ته د چپې اوږې د هډوکې د لاندې د څلور ګوتې هګئ برابر پرسېدلې غوښه وه. چې د زخې نښان پرې ؤو. چې پرې ليکلی شوې ؤو "توجه حيث شئت فانك منصور" مهر يا پيدائشې ؤو يا د نبوت د ملاوېدلو نه وروسته راغلی ؤو. د مګر دا دا ډکه برخه دننه لاړله او ورکه شوه. (مرقات ۱۴۴/۸)

د سپينو جامو د اغوستلو فضيلت

﴿۲۹﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْبَسُوا الثِّيَابَ

او د حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايل سپينې جامې اغوندئ ځکه سپينې

---

[1] رقم الحديث ۴۳۳۶ اخرجه ابوداود في السنن ۳۴۲/۴ رقم الحديث ۴۰۸۲ وابن ماجه في ۱۱۸۴/۲ رقم الحديث ۳۵۷۸

الْبِيضَ فَإِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

جامې ډېرې پاکې او ډېرې ښې وي. او دغه شان خپلو مړو ته هم سپينې ټوټه ورکړئ.

توضيح: اطهر: سپينه جامه ژر خيرنېږي، نو ډېره وينځل کېږي. لهذا پاکه ده او ژر پاکېږي. توره جامه ټوله مياشت نه وينځل کېږي. ګنده وي خو د ګند پته پرې نه لږي، نو استعمالېږي. (مرقات ۸/۱۴۴)

اطيب: يعنې د هغې رنګ ګډوډ نه وي. خالص سپينه وي. لهذا د سليم الطبع خلکو په نزد دا خوښې وي. او په سپينه جامه باندې د ګرمئ اثر هم کم وي، خوب کې مړه په سپينه جامه کې مړی وليدلی شو نو دا د هغې د نجار اړخ ته اشاره ده. او که د ژوندې انسان په بدن باندې هر وخت سپينه جامه ښکاري نو مرګ به مستحضر وي، نو تقوی به اختياروي. ګويا کې کفن د سترګو مخامخ دی. مړې په سپينه جامه کې د خښولو مقصد همدغه دی چې د هغې به ژوند کې د سپينې ټوټې انتخاب کړی وي. بهرحال کفن کې سپينه ټوټه استعمالول افضل دي، نور رنګونه هم جائز دي. البته سور رنګ منع دی. (مرقات ۸/۱۴۳)

د پټکي ټرلو آداب

﴿۳۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَمَّ سَدَلَ عِمَامَتَهُ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله عمامه ټرله نو د هغې شمله به

بَيْنَ كَتِفَيْهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[2]

يې د دواړو اوږو په مينځ کې اچوله. (روايت کړې دي ترمذی)

توضيح: اذا اعتم: يعنې کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پټکی ټرله نو د هغې شمله به يې د اوږو په مينځ اچوله. پټکی ټرل په سنن زوائدو کې ده. که يو کس يې د اتباع نبي په نيت ټرې نو ثواب ملاوېږي. ګنې د قومې رسم او رواج لپاره ټرلو باندې هيڅ ثواب نشته دی. په رزرګونو خلک د قومې لباس په بنياد پټکی ټرې. دا عادت ديرسنت نه دی. يادې دې وي چې د سنن زوائدو لپاره ضروري دي چې دې کې د اتباع نيت وي ګنې ثواب به نه ملاوېږي. ځينې روايتونو کې د پټکي لويې فضليت راغلی دی. يو ضعيف روايت کې دي چې د پټکي ټرلو سره لمونځ کول اويا (۷۰) چنده افضل دی، خو په خولئ کې هم کېږي. هيڅ منع نه ده. او نه پټکی د لمونځ لپاره لازم دی. کوم ائمه حضرات چې صرف د لمونځ کولو وخت کې پټکی استعمالوي او بيا يې په ممبر پرېږدي او لاړ

([1])رقم الحديث ۴۳۳۷ أخرجه الترمذي في السنن ۱۰۹/۵ رقم الحديث ۲۸۱۰ والنسائي في ۳۴/۴ رقم الحديث ۱۸۹۶

([2])رقم الحديث ۴۳۳۸ أخرجه الترمذي في السنن ۱۹۸/۴ رقم الحديث ۱۷۳۶

شي. دا ډېره غلطه طريقه ده. پټکی خو په عام وختونو کې مسنون دی. پټکي ته د عربو تاج ويلی شوی دی. پټکي سره انساني مازغو ته سکون ملاوېږي. د مازغو حفاظت کېږي. د حادثې وخت کې د زخمي کېدو نه محفوظ وي. د هيلمټ کار کوي. انسان ته د باوقار عزت مقام ورکوي. انسان د بې کاره اخلاقو نه احتراز کوی.او د ټولو نه غوره خبره دا چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پټکی استعمال کړی دی. او د دې ترغيب يې کړی دی. د پټکو په رنګو کې تور، سپين او د پيکه رنګ والا ملاوېږي. د شين رنګ پټکي تذکره لا اوسه نه ملاو شوي. بدعتيانو به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګنبد د رنګ اخستی وي، خو که د ګنبد رنګ بدل شوی نو بيا به بدعتيان څه کوي؟دپټکي داوږدوالي باره کې دومره خبره باندې پوهه شئ چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه قسمه پټکي ؤو. وړوکی پټکی يې اؤوه (۷) ګزه ؤو او غټ پټکی يې دولس (۱۲)ګزه ؤو. شرعي ګز يو لاس وي. د پټکي دوه شملې وي. يو وړکی او يو اوږد. او که يو هم وي نو خير دی. اکه دواړه شملې د اوږو په مينځ کې واچولی شي نو دا هم جائز دي. او که کله يو شمله شاته او يو ښي اړخ ته مخکې واچولی شي نو دا هم جائزدي.

د دې آدابو نه معلومه شوه چې اسلامي پټکی او سکهانو پټکي کې د ځمکې او اسمان فرق دی. د پټکي لپاره خولئ ضروري ده. او خولئ کولاوه اوظاهرېدل پکار دي. د اهل بدعت پشان پټ پناه نه وي. مشرکينو به هم پټکی استعمالولو، خو هغې کې به خولئ نه وه،لکه څنګه چې نن سبا د ايران ذاکرين بغير د خولئ نه پټکی استعمالوي. روافض عمامه کې شمله هم نه استعمالوي. د سکهانو هم دغه عادت دی. (مرقات۸/۱۴۶)

﴿۳۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: عَمَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَدَلَهَا

او حضرت عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته پټکی وترلو،

بَيْنَ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

نو د هغې شمله يې زما مخې او زما شاته (دواړو اړخونو) ته ځوړند کړل.

خولئ باندې عمامه ترل د مسلمانانو امتيازي علامت دی

﴿۳۲﴾وَعَن رُكَانَة عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت رکانه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

---

(۱)رقم الحديث ۴۳۳۹ أخرجه ابوداود في السنن ۳۴۱/۴ رقم الحديث ۴۰۷۹

فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ.

زمونږ او د مشرکانو په مینځ کې یو فرق دا هم دی چې مونږ په خولئ (ټوپئ) باندې پټکی تړو.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَائِمِ [1]

ترمذی دا روایت نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی او د دې اسناد صحیح نه دي.

توضیح: القلانس: د دنیا د ټولو ملکونو په لښکرو باندې د خولئ استعمالول د هر ملک قانوني ضابطه ده. د دې نه معلومه شوه چې کامل نارینه هغه دی چې د هغې په سر باندې خولئ وي. د افریقیانو ملکونو کې خولئ استعمالول د اسلام علامت وي. د دې نه معلومه شوه چې د لوڅ سر کړئ بدل نه د اسلام تقاضا ده او نه د کامل انسان تقاضا ده. بلکې ځناور یاد لېونې انسان تقاضا ده. (مرقات ۱۴۷/۸)

سره زر او ریښم د ښځو لپاره حلال دي

﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيرُ

او د حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل زماد امت د

لِإِنَاثِ مِنْ أُمَّتِي وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا صَحِيحٌ [2]

ښځو لپاره سره زر ریښم حلال کړی شوي دي او د امت په نارینو باندې حرام کړی شوي دي.

توضیح: د سرو زرو صرف زیورات د ښځو لپاره حلال دي. لوښي نه.

د نوي جامه اغوستلو وخت کې دعا

﴿۳۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوي جامې اغوستلې

سَمَّاهُ بِاسْمِهِ عِمَامَةً أَوْ قَمِيصًا أَوْ رِدَاءً ثُمَّ يَقُولُ

نو هغې به چې کوم نوم ؤو یعنې پټکی یا کرتا او یا څادر هغه نوم به یې اخستلو او بیا به یې فرمایل.

اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا كسوتَنيه

ای الله! خاص ستا لپاره تعریف دی چې تا ماته دا نوي جامه واغوستله. ای الله! زه ستانه د دې نوي جامې

أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وخيرَ

د خیر طلب کاریم چې دا جامه زما په بدن په عافیت سره وي. دې ته هیڅ نقصان ونه رسیږي او ستانه د هر هغه شي خیر غواړم چې د

---

[1] رقم الحديث ۴۳۴۰ أخرجه ابوداود في السنن ۳۴۰/۴ رقم الحديث ۴۰۷۹ والترمذي في ۲۱۷/۴ رقم الحديث ۱۷۸۴

[2] رقم الحديث ۴۳۴۱ أخرجه الترمذي في السنن ۱۸۹/۴ رقم الحديث ۱۷۲۰، واحمد في المسند ۳۹۲/۴

مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ
کوم لپاره دا جامه جوړه شوې ده يعني دا چې ما جامه واغوستله او ستا اطاعت به کوم. او زه دې جامې د بدو او د دې د
مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ [1]
بدئ چې د کوم لپاره دا جامه جوړه شوې ده ستا پناه غواړم. (يعني دا چې زه دې جامې اغوستلو سره څه ګناه ونه کړم)

توضيح: استجد ثوباً: يعني کله به يې چې نوي جامې اغوستلي "ای لبس ثوباً جديداً" (مرقات)

سماه: يعني د شکر په توګه به يې د دعا لوستلو نه مخکې نبي کريم ﷺ د هغه جامې نوم ياد کړو چې دا قميص دييا پټکی وغيره دی. بيا به يې دعا کې د هغ تذکره داسې کوله: "اللّٰهم لك الحمد كما كسوتنی هٰذا القميص الخ" (مرقات ۸/۱۵۰)

د خوراک او جامه اغوستلو نه وروسته دعا سره ټول ګناهونه وبخښلی شي

﴿۳۵﴾ وَعَن معاذِ بن أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ أَكَلَ طَعَامًا
او د حضرت معاذ ابن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې خوراک وکړي او
ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هٰذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيهِ
بيا دا اوايي يعني دا دعا ولولي. ټول تعريفونه الله لره دي چې چا ماته دا خوراک راکړو او دا خوراک
مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ
بغير زماد څه حيله او بغير زماد څه قوت او د اثر نه ماته راورسوله، نو د هغې ټول مخکنې واړه
مِنْ ذَنْبِهِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: "وَمَنْ
ګناهونه معاف شي. (ترمذی) او ابوداؤد په خپل روايت کې دا الفاظ نقل کړي دي چې کوم کس
لَبِسَ ثَوْبًا فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي
جامې واغوندي نو بيا دا اوايي ټول تعريفونه د هغه الله لپاره دي چې چا ماته دا جامې واغوستلې
هٰذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ
او دا جامې يې بغير زماد څه حيله او بغير زماد څه اثر نه ماته راورسولې، نو د هغې ټول مخکنې او وروستنې

([1]) رقم الحديث ۴۳۴۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۰۹/۴ رقم الحديث ۴۰۲۰ والترمذي في ۲۰۰/۴ رقم الحديث ۱۷۶۷ .

مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ"[1]

واړه ګناهونه معاف کړی شي.

توضيح: واړه ګناهونه دې دعا او په شکر ادا کولو سره معاف کېږی. او که توبه وکړي نو غټ ګناهونه هم معاف کېږي.

زړه جامه مه ضايع کوئ

﴿۳۶﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَائِشَةُ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل چې عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

إِذَا أُرِدْتِ اللُّحُوقَ بِي فَلْيَكْفِكِ

که چرې ته دنيا او آخرت دواړو ځايونو کې زمانه کامل اتصال او يو ځای کيدل غواړي نو د دنيا صرف

مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ وَإِيَّاكِ وَمُجَالَسَةَ الْأَغْنِيَاءِ

په دومره شيانو باندې اکتفا کوه چې د مسافر دلارې د سامان برابر وي او د دولت مندو سره د ناستې نه ځان ساته.

وَلَا تَسْتَخْلِقِي ثَوْبًا حَتَّى تُرَقِّعِيهِ.

او جامې ترهغه وخت پورې زړې ګڼلو سره مه غوزازوه چې ترڅو پورې ته هغه پيوند لږ ولو سره د استعمال قابل ګڼې.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ

دا روايت ترمذی نقل کړی دی او ويلې يې دي چې دا حديث غريب دی او دا حديث مونږ ته د

صَالِحِ بْنِ حَسَّانَ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ:

صالح بن حسان منکر الحديث د روايت نه بغير په بله کومه ذريعه نه دی را رسيدلی. او محمد بن اسماعيل

صَالِحُ بْنُ حَسَّانَ مُنكر الحَدِيث[2]

يعنې امام بخاری ويلي دي چې صالح بن حسان منکر الحديث دی يعنې د دې روايت منکر دی.

توضيح: كزاد الراكب: يو توخه د سپور کس وي او يو د پيدل کس وي. سپور کس دا چې ژر منزل ته رسي نو کم خرچ ضرورت ورته وي، نو ځکه حديث کې د سپور د توخې ذکر شوی دی. يعنې ډېره کمه توخه. (مرقات ۱۵۳/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۳۴۳ اخرجه ابوداود في السنن ۳۱۰/۴ رقم الحديث ۴۰۲۳ والترمذي في ۴۷۴/۵ رقم الحديث ۳۴۵۸

([2]) رقم الحديث ۴۳۴۴ اخرجه الترمذي في السنن ۲۱۵/۴ رقم الحديث ۱۷۸۰

مجالسه الاغنياء: د مالدارو سره د كيناستلو سره چې نقصان كېږي نو د دې نه اندازه كېږي چې خپله به مالدرانو څه حالت وي. ولا **تستخلق:** خلق د زور كېدلو په معنى كې دى. دې صيغه كې سين تا حسبان لپاره دى. ينعني هيڅ يوه جامه زړه مه ګڼه. (مرقات ۱۵۳/۸)

ترقعيه: يعني تر څو پورې چې هغې كې پيوند ونه لږى. وايي چې يو ځل حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خطبه وركړه. كله چې وليدل شو نو د هغې په ازار كې دولس (۱۲) پيونده لږېدلې ؤو. او حال دا چې امير المؤمنين ؤو. (مرقات) بهرحال د بحث لاندې حديث امام بخارى منكر ګڼلى دى.

په لباس كې ساده توب د ايمان علامت دى

﴿۳۷﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ إِيَاس بن ثعلبةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يعنې اياس ابن ثعلبه فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل آيا

أَلَا تَسْمَعُونَ؟ أَلَا تَسْمَعُونَ أَنَّ الْبَذَاذَةَ

تاسو نه اورئ، آيا تاسو نه اورئ يعنې اى خلكو! په غوږونو يې واورئ د جامې خرابوالى او ساده والى

مِنَ الْإِيمَانِ أَنَّ الْبَذَاذَةَ

يعنې د جامو ساده والى اختيار كړئ او د دنيا زيب او زينت پرېښودل د ايمان د حسن علامت دى. د جامو خرابوالى

مِنَ الْإِيمَانِ؟. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

او ساده والى اختيارول او د دنيا زيب او زينت پرېښودل د ايمان د حسن علامت دى.

توضيح: البذاذه: جامو كې ساده والى اختيار كړئ. دې كې عاجزې او انكسارې خپله كړئ او د دنيا زيب او زينت نه ځان ساتل د ايمان په ښه عادتونو كې دى. او د ايمان علامت دى. زيب او زينت كې اخته كېدل او اسائش او آرائش د ښځو كار دى. د نارينه حسن د هغې ساده والى دېر. بهرحال ښه جامه او ښه لباس استعمالول چې د رياكارئ نه بغير وي او د استعداد مطابق وي نو هغه منع نه دى. ساده والى ښېل شى دى او ګندګي ښېل شى دى. اسلام د ساده والې حكم كړى دى. د ګندګي حكم يې نه دى كړى. (مرقات ۱۵۴/۸)

لوړوالي لپاره د شهرت لپاره لباس اغوستل د آخرت ذلت دى

﴿۳۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شهرةٍ من

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې كوم كس په دنيا كې د شهرت

---

[1] رقم الحديث ۴۳۴۵ اخرجه ابوداود في السنن ۳۹۳/۴ رقم ۴۱۶۱، وابن ماجه في ۱۳۷۹/۲ رقم الحديث ۴۱۱۸

الدُّنْيَا أَلْبَسَهُ اللهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[1]

جامه اغوندي. د قيامت په ورځ به الله هغې ته د ذلت جامې واغوندي. (مسند احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

توضیح شهرة: کوم چې د تکبر او د تجبیر په توګه او د فقرانو او د مسکینانو د ذلیل کولو لپاره یا د ځان نه کارتون جوړ کړي او د خلکو د خندولو لپاره عجیب او غریب شکلونه اختیاروي نو د داسې کس لپاره وعید دی. د دې نه زیات واضح مطلب دا دی چې کوم کس د شهرت لپاره د علماؤ لباس اختیاروي، د صوفیاء لباس او جبه او دستار اچوي او هغې باندې خپل ځان اوچتول غواړي او د خپل د حصول لپاره شپه ورځې اخته وي. د داسې کس لپاره وعید دی. (مرقات ۱۵۴/۸)

کوم کس چې د غیر مسلمو تقلید کوئ هغه همغه جوړ پرې

﴿۳۹﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم کس د کوم قوم سره

فَهُوَ مِنْهُمْ . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد[2]

مشابهت اختياروي نو د هغې شمار به همغه قوم دی.

توضیح من تشبه: يعنې د يو غير مسلم قوم نقل کول او د هغوی تقليد اختيارول د مسلمانانو لپاره حرام دی. د کافرانو عملونه او کارونه او د هغوی طور طريقې او د هغوی فکرونه او اقتداء به پرېږدي. که کوم کس د يو قوم سره مشابهت اختياروي، د هغوی په طرز باندې خوراک کوي، د هغوی اخلاق خپلوي او د هغوی د اسيدلو طريقې او ثقافت د سينې سره لګوي نو دا کس د هغوی به ډلې ته لاړ شي. اوس چې د دې کافرانو د فاسقانو او د فاجرانو په عملونو باندې هغوی ته کومه سزه ملاوېږي، همغه سزه به دې نخرو کونکې او تقليد کونکې ته هم ملاوېږي. او کوم کس چې خپل ځان د علماؤ او صالحانو او د ديندارو په نظر اچوي. د هغوی او قوال او افعال خپلوي او د هغوی سره محبت کوي، نو هغه کس په خير د هغه سعادت مندو په ډله کې شمارل کېږي. (مرقات ۱۵۵/۸)

د دې حديث مفهوم ډېر فراخه دی. او دا جوامع کلم نه دی. دې کې ممانعت هم دی چې ښځې دې په وضع قطع کې د نارينۍ سره مشابهت نه اختياروي او نارينه دې د زنانۍ سره مشابهت نه اختياروي. البته دومره خبره يادساتل پکار ده چې د غير مسلمو سره د مشابهت نه چې کوم ممانعت شوی دی. هغه د هغوی خصوصي امتيازي شعار په خپلولو کې دی. عام حالاتو کې د انسان عمل او دخل خو د يو بل سره مشابه وي. مثلاً ډېره خرائيل، کوټ پتلون او ټائی لګول، د صليب تصوير ځای په ځای

---

(1) رقم الحديث ۴۳۴۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۱۴/۴ رقم الحديث ۴۰۲۹ وابن ماجه في ۱۱۹۲/۲ رقم الحديث ۳۶۰۶

(2) رقم الحديث ۴۳۴۷ أخرجه ابوداود في السنن ۳۱۴/۴ رقم الحديث ۴۰۳۱ وأحمد في المسند ۵۰/۲ .

لګول، دا د يهود او نصارى خصوصي علامتونه دي. تندې باندې قشقه لګو وغيره د هندوانو خصوصي علامت دى، ږيره راتاوهلو او د زنې لاندې کول، پان استعمالول، دا د سکهانو خصوصي علامتونه دي. د دې نه احتراز ضروري دى. د دې نه بغير په عام ژوند کې د يو بل سره مشابه کېدل مراد نه دي. مثلاً ټول قومونه پيالې کې چائى څښې، دا هيڅ شعار نه دى.

کوم کس چې عاجزي کوي هغه اوچتيږي

﴿۴۰﴾ وَعَنْ سُوَيْدِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سويد ابن وهب، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو صحابي د ځوي نه او هغه د خپل پلار نه

عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ تَرَكَ لُبْسَ

روايت کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې د زيب او زينت لباس اغوستل پريږدي سره ددې نه

ثَوْبِ جَمَالٍ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ وَفِي رِوَايَةٍ:

چې د هغې د اغوستلو استعداد لري او يو روايت کې د تواضعا لفظ هم راغلى دى يعنې کوم کس چې د زهد او

تَوَاضُعًا كَسَاهُ . اللهُ

تواضع او د کسر نفسى په سبب د زيب او زينت لباس اغوستل پريږدي نو هغې ته به الله د عزت او د عظمت جامه واچوي.

حُلَّةَ الْكَرَامَةِ وَمَنْ

يعنې الله به هغې ته د جنت لباس واچوي چې د هغې د اوچتوالي او د عظمت سبب به وي. يا دا چې الله به هغې ته په دنيا او آخرت دواړو

تَزَوَّجَ لِلَّهِ تَوَجَّهُ اللهُ

ځايونو کې عزت او عظمت ورکړي، لکه څنګه چې ويلى شوي دي چې کوم کس فروتنى اختيار وي الله هغې له اوچته مرتبه ورکوي. او

تَاجَ الْمُلْكِ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

کوم کس چې د الله د خوشحالولو لپاره نکاح وکړي نو الله به هغې ته د بادشاهت تاج ورکوي. (ابوداؤد)

وَ رَوَى التِّرْمِذِيُّ مِنْهُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ حَدِيث اللبَاس [2]

او ترمذى د دې روايت صرف هغه برخه چې د جامې ذکر په کې دى د معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړې دى.

توضيح: تواضعا: د وَس لرو باجود هم د زينت پريښودل لويې کمال دى. دې سره سړى نه غوړځېږي بلکې اوچتېږي. او چا کې چې طاقت نشته دى هغه خپله تواضع دى. (مرقات ۸/۱۵۶)

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۴۸ اخرجه ابوداود في السنن ۱۳۸/۵ رقم الحديث ۴۷۷۸

(۲) رقم الحديث ۴۳۴۹ اخرجه الترمذي في السنن ۵۶۱/۴ رقم الحديث ۲۴۸۱

ومن تزوج: يعني يو بې نومه او د ورک نوم والا جينئ ده. بې آسرې ده، نه د هغې کفو شته دی، نه يې خاندان شته دی. يو کس د دې سره صرف د دې لپاره نکاح کوي چې د دې ژوند جوړ شي او هغې ته آسره ملاو شي نو داسې کس ته به الله د عظمت تاج ورپسر کوي. (مرقات ۱۵۶/۸)

د الله تعالى د نعمتونو اظهار محمود عمل دى

﴿۴۱﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عمرو ابن شعيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يُرَى أَثَرُ نِعْمَتِهِ على عَبده . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ [1]

بيشکه د الله دا خبره خوښه ده چې د هغې د نعمت اثر د هغې په بنده ګانو باندې وليدلى شي.

توضيح: ان يرى: يعني چې الله دنيوې نعمت درکړى دي نو د شکر په توګه د هغې اثر هم د انسان په بدن باندې پکار دى. د دې صورت دا وي چې چرته يې وَس وي خو د ښه لباس اغوستلو په ذريعه دې د الله د نعمت عملي شکر ادا کړي. او چرته يې چې وَس نه وي نو هلته د سادا والې عملي مظاهره کول پکار ده. او چرته چې تنګې وي نو قرض اخستل او په تکلف سره د لباس مظاهره او مفاخره کول سخت منع دى. (مرقات ۱۵۶/۸)

په اسلام کې ښه خوي او صفائى محمود عمل دى

﴿۴۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: أَتَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرًا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ملاقات به غرض مونږ کره تشريف راوړو.

فَرَأَى رَجُلًا شَعِثًا قد تفرق شعرُه فَقَالَ:

هلته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګډ ودې ويختانو والا يو کس وليدلو چې ويختان يې ښواره ؤو. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

مَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ رَأْسَهُ؟

چې آيا دې کس سره هغه څيز يعني زمونځ وغيره نشته دى چې د هغې په ذريعه خپل ويختان صحيح کړي.

وَرَأَى رجلا عَلَيْهِ ثِيَابٌ وسِخَةٌ فَقَالَ:

يا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو کس وليدلو چې د هغې بدن باندې کنده جامې وي، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

---

[1] (رقم الحديث ۴۳۵۰ اخرجه الترمذي في السنن ۱۱۴/۵ رقم الحديث ۲۸۱۹ واحمد في المسند ۱۸۲/۲

مَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ؟. رَوَاهُ أَحْمد وَالنَّسَائِيّ [1]

چې آيا دې کس سره هغه څيز يعنې صابون يا اوبه نشته دی چې په هغې دا خپلې جامې وينځي.

توضيح مايسكن: ما عبارت د ږمونځ نه يعنې دې کس ته ږمونځ نه ملاويږي چې د هغې په ذريعه خپل ويختان ږمونځ کړي. (مرقات ۱۵۷/۸)

مايغسل: دلته هم د ما نه صابون وغيره د صفائې کولو سامان مراد دی. (مرقات ۱۵۷/۸)

د دې حديث نه معلومه شوه چې بدن مهذب، شائسته او ښايسته ساتل د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ ؤو. او د دې برعکس منظر د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ نه ؤو، ځکه اسلام يو ترقې خوښونکی او مهذب او متمدن مذهب دی. دا د انسان د دنيا او د آخرت دواړو کفالت او لارښودنه کوي. لهذا دا څيزنه بالکل د اسلام مطابق دي. چې د کوم تعليم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورکړو. اسلام اګر که د ساده والې تعليم ورکوي خو ساده والې ښې څيز دی. او ګندګي ښې څيز دی. د الله په نظام کې تهذيب او صفائی ده او د شيطان په نظام کې نجاست او پلټې ده. د بحث د لاندې د دې تشريح نه معلومه شوه چې دې سره د هغه حديث تعارض نشته دی چې کوم کې "ان البذاذة من الايمان" ويلی شوی دی، ځکه دې حديث کې د ساده والې درس دی. نجاست او ګندګي او بد تهذيبئ درس نه دی. (مرقات ۱۵۷/۸)

﴿۴۳﴾ وَعَن أَبِي الأَحوصِ عَن أَبِيهِ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوالاحوص د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې وويل چې زه يو ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې په

وَعَلَيَّ ثَوْبٌ دُونٌ فَقَالَ لِي:

داسې حالت کې حاضر شوم چې زما په بدن باندې خرابې او ورستې جامې وې. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې ليدلو سره ماته وفرمايل

أَلَكَ مَالٌ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: مِنْ أَيِّ الْمَالِ؟ قُلْتُ:

چې آيا تا سره مال شته دی. ما عرض وکړو چې آؤ. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وپوښتل کوم قسم مال دی. ما عرض وکړو چې

مِنْ كُلِّ الْمَالِ قَدْ أَعْطَانِي اللهُ مِنَ الإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ.

هر قسمه مال دې راالله ماته اوښان، غواګانې او بزې هم راکړې دي. او اس او غلام يې هم راکړی دی.

قَالَ: فَإِذَا آتَاكَ اللهُ مَالًا فَلْيُرَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تاته الله دومره مال درکړی دی نو د هغې تقاضا داده چې تا باندې د الله

---

[1] رقم الحديث ۴۳۵۱ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۲/۴ رقم الحديث ۴۰۶۲.

أَثَرُ نِعْمَةِ اللهِ عَلَيْكَ وَكَرَامَتِهِ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ

د درکړې شوې نعمت اثر وي او تاته چې الله کوم نعمت او عظمت درکړی دی هغه ښکاره وي. (نسائی)

وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ بِلَفْظِ الْمَصَابِيحِ[1]

او شرح السنة دا روایت د مصابیح په مختلف الفاظ کې نقل کړی دی، نو د دواړو مختلف دی، خو د دواړو مضمون یو دی.

توضيح: ثوب دون: دون د ادون نه دی چې بیکاره او خرابو او ورستو جامو ته وایي.

د ناریځ لپاره سره جامه اغوستل حرامه ده

﴿۴۴﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ

او حضرت عبد الله ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ورځ یو کس دوه سرې جامې اغوستې وي او تیر شو.

فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[2]

او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې سلام وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د سلام جواب ورنکړو.

توضيح: فلم یرد: یعنې دې کس سرې جامې اغوستې وي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د سلام جواب ور نکړو. د دې نه معلومه شوه چې سرې جامې استعمالول منع دي. د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چې د ښکاره فاسق د سلام جواب ورکول لازم نه دی. او هغې باندې اول سلام کول بطریق اولی منع دی. (مرقات ۱۵۹/۸)

د ناریځ او د زنانځو په خوشبوي کې فرق

﴿۴۵﴾وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا أَرْكَبُ الْأُرْجُوَانَ

او د حضرت عمران بن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل زه ارغوانی

وَلَا أَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ وَلَا أَلْبَسُ الْقَمِيصَ

یعنې د سور رنګ رزین پوش باندې نه سپورېږم، نه زه د کسم رنګ شوې جامې اغوندم او نه زه داسې پیر رهن وغیره

الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ وَقَالَ:

کوم چې هغې باندې ریښمې سنجاف یعنې ریښمې ګوټ او بیل وغیره لږ بدلي وي او بیا یې وفرمایل

---

(1) رقم الحديث ۴۳۵۲ أخرجه أبوداود في السنن ۳۳۳/۴ رقم الحديث ۴۰۶۲ والنسائي ۱۸۳/۸ رقم الحديث ۵۲۳۶.

(2) رقم الحديث ۴۳۵۳ أخرجه أبوداود في السنن ۳۳۶/۴ رقم الحديث ۴۰۶۹ والترمذي في ۵/۱۰۷ رقم الحديث ۲۸۰۷

أَلَا	وَطِيبُ	الرِّجَالِ
چې ياد وساتئ نارينه چې کومه خوشبوي ولګوي، هغې دې داسې وي چې هغې خوشبوي خو وي خو چې		
رِيحٌ	لَا	لَوْنَ	لَهُ
رنګ په کې نه وي لکه ګلاب او د عطرو استعمالول وغيره چې په رنګدار خوشبوي لګولو سره جامې رنګ نه شي.		
وَطِيبُ	النِّسَاءِ	لَوْنٌ
او بښځې چې کومه خوشبوي لګوي هغه داسې پکار ده چې رنګ خو په کې وي خو خوشبوي په کې نه وي لکه		
لَا	رِيح	لَهُ.	رَوَاهُ	أَبُودَاوُد [1]
زعفران او نکرېزي وغيره چې د هغې خوشبوي بهر وتلو سره د نارينۀ لپاره د فتنې او ازمائښت سبب نه شي.		

توضيح الارجوان: دا لفظ د ارغوان معرب دی. ارغوانی رنګ سور وي. ملا علي قاري فرمايي چې دا ژاړه شان ګډئ وي چې د ناستې لپاره په زين باندې اچول کېږي. چې زمين پوش ورته وايي. مطلب دا شو چې زه په داسې سورلي باندې نه سپورېږم چې د هغې زين پوش د سور رنګ وي. ځينو اهل لغت ارغوان يو داسې بوټی ګڼلی دی چې د هغې ګلان سره وي. زياتو اهل لغتو ارجوان سور رنګ ګڼلی دی. علامه خطابی فرمايي چې په نورو حديثنو کې دا د "**المیاثر الحمر**" په نوم ياد کړی شوی دی. چې اصل کې د ريښم او د ديباج نه تيارېږي. بهرحال يا خو دا ممانعت خو د سور رنګ د وجې نه دی يا د ريښم په وجه دی. ملا علي قاري سور رنګ راجح ګڼلی دی. او فرمايلي يې دي چې په سور رنګې توټه ناسته هم منع ده، نو د دې اغوستل به څومره سخت منع وي. (مرقات ۱۵۹/۸)

المعصفر: د دې په کسم کې رنګ شوي سره توټه مراده. دا د واړه د نارينۀ لپاره منع دي. (مرقات ۱۵۹/۸)

المكفف: يعنې چې کوم کې سنجاف او ريښمې ګوټ لږ بدلی وي. دې حديث کې د مکفف قميص اغوستلو نه منع راغلې ده، خو د دې نه مخکې د حضرت اسماء رضي الله عنها حديث ۱۸ کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د جبې سره د مکفوفين الفاظ ذکر دي. دې دواړه حديثنو کې په ظاهره کې تعارض دی. د دې جواب دا دی چې تر څلور ګوتو پورې د ريښمو د پټئ اجازت شته دی. د دې نه زيات نشته دی. دلته حديث د څلور ګوتو نه د زيات ممانعت باندې محمول دی. يا د اسماء رضي الله عنها په حديث باندې فتوی محمول ده. او زير بحث حديث تقوی باندې محمول دی. (مرقات ۱۶۰/۸)

---

[1] برقم الحديث ۴۳۵۳ اخرجه أبوداود في السنن ۳۲۴/۴ رقم الحديث ۴۰۴۸ واحمدفي المسند ۴۴۲/۴.

د لسو خبرو ممانعت

﴿۴۶﴾وَعَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَشْرٍ: عَنِ الْوَشْرِ

او حضرت ابوريحانه فرمايي چې نبي كريم ﷺ د لس (۱۰) خبرو نه منع كړي ده. غاښونه د تيره كولو نه،

وَالْوَشْمِ وَالنَّتْفِ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ بِغَيْرِ شِعَارٍ

د بدن يو برخه د ګودنې نه، ويختان و ويستلو نه، نارينه د نارينه سره د پرېوتلو نه كه په مينځ كې توته نه وي،

وَمُكَامَعَةِ الْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ بِغَيْرِ شِعَارٍ

ښځې د ښځې سره د اوده كېدو نه چې مينځ كې توته حائل نه وي، او نبي كريم ﷺ د دې نه

وَأَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي أَسْفَلِ ثِيَابِهِ حَرِيرًا

منع كړي ده چې نارينه د خپلې جامې د لاندې استر ولګوي لكه څنګه يې چې عجمي خلك لګوي. يا

مِثْلَ الْأَعَاجِمِ أَوْ يجعلَ على مَنْكِبَيْهِ حَرِيرٍ مِثْلَ الْأَعَاجِمِ

د عجمي خلكو پشان په اوږو باندې ريښم لګوي او نبي كريم ﷺ د چا مال د لوتلو نه او د

وَعَنِ النُّهْبَى وَعَنْ رُكُوبِ

پرانګ څرمن په زين باندې د اوده كېدلو نه منع كړي ده. او نبي كريم ﷺ د دې نه منع كړي ده

النُّمُورِ وَلُبُوسِ الْخَاتَمِ إِلَّا لِذِي سُلْطَانٍ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

چې يو كس د مهر والا ګوتمه واچوي خو چې هغه د صاحب حكومت وي.

توضيح العشر: يعني د لس بدو خصلتونو نه نبي كريم ﷺ منع كړي ده.

الوشر: عرب كې په بوډئ ښځو د پيغلو جينكو په حسن كې د مشابهت لپاره بدرنګ غاښونه د غاړو نه كمولو باندې ښائسته جوړوي. د دې نه منع وشوه ځكه دې تغير خلق الله دى. (مرقات ۱۶۰/۸)

وشم: د بدن يو برخه سوري كول او په هغې كې نيل وغيره ډكولو ته وشم وايي. دې كې هم تغير خلق الله دى، ځكه منع دى. (مرقات ۱۶۱/۸)

النتف: لتف ويختان ويستلو ته وايي. مثلاً يو ناريه سړي د ږېرې سپين ويختان د زينت اختيارولو لپاره اوباسي. دا منع دي. دا بې ځايه زينت دى. دغه د ښځو لپاره د تندې واړه ويختا ويستلو منع دي، ځكه دا هم بې ځايه زينت دى. او د تغير خلق الله امكان هم دى. يا د مصيبت په وخت كې

---

[1] رقم الحديث ۴۳۵۵ اخرجه ابوداود في السنن ۳۲۵/۴ رقم الحديث ۴۰۳۹ والنسائي في ۱۴۳/۸ رقم الحديث ۵۰۹۱

ويختان ويستل مراد دي چې منع دي. (مرقات۸/۱۶۱)

مكامعة: يعني بغير پردي د دوه نارينوؤ لغړ پرېوتل منع کړی شوي دي. دغه شان ښځې هم منع کړی شوي دي. دشعار معنی د بدن سره لږېدلي ټوټه ده. مراد پرده دی.

اسفل ثيابه: يعني پاس عامه ټوټه وي او لاندې استر ريښم وي. د دې نه منع کړی شوې ده. دا د عجمو عادت دی. اوس د عربو شوی دی. (مرقات۸/۱۶۱)

على منكبيه: يعني د عجو پشان جامو کې په يو ځای د ريښم پټئ لګول منع دي. هغه که اوږه وي يا که بل ځای وي خو په دې شرط چې د څلورو ګوتو نه زيات وي. (مرقات۸/۱۶۱)

النهبى: لوټ مار او ډاکې ته وايي. (مرقات۸/۱۶۱)

النمور: د نمرة جمع دهر د پرانګ څرمن ته وايي. دې باندې ناسته د عجمو عادت دی. اوس د عربو عادت دی. دې سره هم تکبر رائځي. او کېدی شي چې د درندګئ اثر هم پيدا شي.

الخاتم: د زيب او زينت په غرض د ضرورت نه بغير ګوتمه د استعمالولو نه منع شوې ده، خو که څوک بادشاه يا قاضي وغيره حاکم وي نو د هغې لپاره د ضرورت په وجه په محدود پيمانه جائز دي. وايي چې د عوامو لپاره سخت کراهت دی. اوس منسوخ شوی دی. اوس ترد جائز حد پورې د ټولو لپاره جائز دی. (مرقات۸/۱۶۱)

د نارينوؤ لپاره د سروزرو ګوتمه اچول حرامه ده

﴿۴۷﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: نَهَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَعَنْ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته د سرو زرو ګوتمه او د قسی د اچولو نه

لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمِيَاثِرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُد

د ميائرد استعمالولو نه منع کړم. (ترمذی، ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه) او د ابو داؤد په يو روايت کې داسې دي

قَالَ : نهى عَن ميائر الأرجوان[1]

چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ارغواني يعني د سور ميائرد استعمالولو نه منه کړه.

توضيح القسى: د مصر يو ښار د "قس" ارخ ته منسوب دی. دا ټوټه به د ريښم نه جوړېدله، ځکه ممانعت راغلی دی. (مرقات۸/۱۶۲)

الميائر: دا د **ميثرة** جمع ده. زين پوش ته وايي. علماؤ ليکلي دی چې دا چې دا به د ريښمو وه، نو ځکه منع کړی شوې ده. ملا علي قاري وغيره د سور رنګ کېدو په وجه هم دې ته ممنوع وايي، نو دا د تکبر او د آرائش

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۵۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۲۷/۴ رقم الحديث ۴۰۵۱ والترمذي في ۱۹۸/۴ رقم الحديث ۱۷۳۷.

په وجه ممنوع دی. بیا خو به هره سره ټوټه پاس او لاندې استعمالول خلاف اولی وي. (مرقات ۱۶۲/۸)

په ریښم او د زمري څرمن باندې کیناستل منع دي

﴿۴۸﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَرْكَبُوا الْخَزَّ

او حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو د خز او د پرانګ د

وَلَا النِّمَارَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

څرمن په زین پوش باندې مه سپورېږئ.

توضیح الخز: که د خز نه خالص ریښم مراد وي نو بیا به یې استعمال حرام وي او که په پخواني زمانه کې د وړئ سره ګډوډ کړی شوې یوه ټوټه مراد وي نو بیا په کراهت تنزیهي باندې دا حدیث محمول دی.

النمار: د نمرة جمع ده. د پرانګ څرمن ته وایي. د ممانعت وجه یې مخکې لیکلی شوې ده. چې کله یې شریعت منع کوي نو بیا د وجې لټول مناسب نه دي. (مرقات ۱۶۳/۸)

﴿۴۹﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[2]

او د حضرت براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سور زین پوش نه منع کړې ده.

د شین رنګ جامې جائز دي

﴿۵۰﴾ وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ التَّيْمِيِّ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو رمثه تیمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله زه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم نو

وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ

هغه وخت د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بدن باندې دوه سري جامې وي یعني نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کومې دوه جامې

وَلَهُ شَعَرٌ قَدْ عَلَاهُ الشَّيْبُ

اغوستې وي هغه خو یا خالص شین رنګې وي یا هغې کې شنې غاړې ؤو. او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سر او ږېرې باندې لږ ویختان د

وَشَيْبُهُ أَحْمَرُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ:

بوډوالي یعني د سپین ویختانو غلبه وه. او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بوډه والی سور ؤو. (ترمذی) او د ابو داؤد په

---

[1] رقم الحديث ۴۳۵۷ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۲/۴ رقم الحديث ۴۱۲۹ وابن ماجه ۱۲۰۵/۲ رقم الحديث ۳۶۵۶

[2] رقم الحديث ۴۳۵۸ مرقاة المفاتيح ۲۲۹/۸

وَ هُوَ ذُو وَفْرَةٍ وَ بِهَا رَدْعٌ من حناء[1]
يو روايت كې داسې دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفره والا ؤو. او په هغه ويختانو كې د نكريزو رنګ ؤو.

توضيح اخضران: يا بالكل شنې جامې وي يا هغې كې شنې غاړې وي. دواړه جائز دي. د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شين رنګ خوښ ؤو. (مرقات ۱۶۴/۸)

ذوفرة: دا د سر د ويختانو يو قسم دی. باب الترجل كې به ان شاء الله تفصيل راشي. (مرقات ۱۶۵/۸)

ردع من حناء: حنا نكريزو ته وايي. او ردعد هغې رنګ ته ويلی شوی دی. يعنې د هغې په ويختانو كې د نكريزو رنګ ؤو. كېدی شي چې په يو ويختانو كې رنګ ؤو. دا هم امكان لري چې د عطر د استعمال په وجه ويختان سره ښكاره كېدل يا بله كومه وقتې معامله وه. د دې تاويل ضرورت ځكه پيښ شو چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سره او د زېرې ويختانو كې يو څو ويختان سپين ؤو. د څليريش (۲۴) نه زيات نه ؤو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خضاب نه كولو. التبه فقهاء خضاب ثابتوي. (مرقات ۱۶۵/۸)

د قطري څادر ذكر

﴿۵۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ شَاكِيًا
او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلې بيمارۍ زمانه كې په داسې حال كې
فَخَرَجَ يَتَوَكَّأُ عَلَى أُسَامَةَ وَعَلَيْهِ ثَوْبُ قِطْرٍ
جومات ته راغلو چې اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورله سهاره وركړي وه او بدن مبارك باندې يې د قطر توته وه.
قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ فَصَلَّى بهم . رَوَاهُ فِي شرح السنة[2]
چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځان نه چاپيره كړه. او بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته لمونځ وركړو.

توضيح ثوب قطری: يو قسم څادر ته وايي چې سري غاړې به په كې ؤو. او په يمن كې به جوړېدله. يا قطری نسبت دی. د قطر له ارخ نه چې په بحرين كې د يو ښار نوم ؤو. نن سبا قطر د ملك نوم دی. يعنې دا څادر د هغه ځای جوړ ؤو.

توشح: ښايسته څادر بدن نه راتاوهلو ته توشح وايي. د وشاح پشان يې د بدن نه راتاؤ كړی ؤو. وشاح هار ته وايي. (مرقات ۱۶۵/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۳۵۹ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۶/۴ رقم الحديث ۴۲۰۶ والترمذي في ۱۱۰/۵ رقم الحديث ۲۸۱۲.

(2) رقم الحديث ۴۳۶۰ أحمد في المسند ۲۱۲/۳ .

د یو بدبخته یهودي معامله

﴿۵۲﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبَانِ قِطْرِيَّانِ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو زمانه کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بدن مبارک باندې دوه جامې وې. هغه د قطر

غَلِيظَانِ وَكَانَ إِذَا قعد

وي. ډېر زياتې پيرې وې. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به زيات وخت پورې کيناستلو او خوله پرې راتلله، نو هغه جامې به په

فرق ثَقُلَا عَلَيْهِ فَقَدِمَ بَزٌّ مِنَ الشَّامِ لِفُلَانٍ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درندې شوې چې د هغې په وجه به نبي کريم ﷺ ته تکليف ؤو. آخر دا چې يو چې فلانی

الْيَهُودِيِّ. فَقُلْتُ: لَوْ

يهودي له چې نوم يې دلته نه دی ذکر کړی شوی د شام نه توتې راغلي وي، نو ما عرض وکړو چې که چرې تاسو

بَعَثْتَ إِلَيْهِ فَاشْتَرَيْتَ

يو کس هغه يهودي ته ولېږي چې د هغې سره بوعدهٔ فراغت يعنې چې په دې وعده باندې تاته د کوم ځای نه څه شی د کوم ځای

مِنْهُ ثَوْبَيْنِ إِلَى الْمَيْسَرَةِ

نه راځي نو د هغې قيمت به يې ادا کړي. او دوه توتې به دې اخستې وې چې تاسو د دې تکليف نه بچ شي چې کوم د دې جامو په

فَأُرْسَلَ إِلَيْهِ فَقَالَ:

وجه تاباندې دی. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا مشوره قبوله کړه او يو کس يې په ذکر کړی وعدې باندې د توتې اخستلو لپاره هغه يهودي ته ولېږلو.

قَدْ عَلِمْتُ مَا تُرِيدُ

هغه کس چې د هغه يهودي نه توتې وغوښتلې، نو هغې ورته وويل چې ستا چې کومه اراده ده په هغې زه پوهېږم. د دې نه بغير

إِنَّمَا تُرِيدُ أَنْ تَذْهَبَ

نور هيڅ غواړي چې دا وخت ته مانه په وعده باندې توتې ويسي او بيا وروسته د دې د قيمت ادا کولو نه انکار وکړي. په ظاهره

بِمَالِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

خو د دې الفاظ مخاطب هغه کس ؤو، خو حقيقت کې د هغې خطاب نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته ؤو. هغه کس ېرته راغلو او نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته يې

كَذَبَ قَدْ عَلِمَ

د هغه يهودي قول نقل کړو. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې يهودي دروغ وويل او هغه خپله هم پوهېږي چې هغې بالکل دروغ خبره د خولې

أَنِّي مِنْ أَتْقَاهُمْ

نه ويستلې ده. حقيقت دا دی چې هغه د تورات په ذريعه نبه خبر دی چې زه د ټولو خلکو نه زيات متقي

وآداهُم للأمانة. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ[1]

او پرهيزګاره يم او د هغوی نه زيات امانت د ادا کونکی يم.

توضيح بز من الشام: د زم اطلاق دلته مطلق په ټوټه باندې شوی دی. يعنې د شام نه ديهودې ټوټې مدينې ته راوړلی شوی وي.

لوبعثت: يعنې که ته يو کس دې يهودې ته ولېږي. (مرقات ۱۶۶/۸، ۱۶۵)

الی المیسرة: ذا د يسار نه دی. مالدارئ ته وايي. يعنې د روپو راتلو پورې ته په قرضو د هغې نه ډوه ټوټې واخلې نو ډېره به ښه وي.

لکان حسناً: د شرط جواب مخذوف دی. که لو شرطيه وي او که تمنيه وي نو بيا خو خبره ختمه.

فارسل: يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کس ولېږلو. هغې په قرضو باندې د اخستلو خبره وکړه، نو بدبخته يهودي وويل چې آؤ زه خبريم چې ته يا هغه زما قبضه کول غواړي. چې د قاصد د خبرې پته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ولېږدله نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې يهودې د عناد په وجه دروغ ويلي دي ګڼې هغوی ته د تورات به ذريعه ښه معلومه ده چې زه د ټولو انسانانو زيات د الله نه وېرې دونکی يم. (مرقات ۱۶۶/۸)

واداهم: د ټولو نه زيات ادا کونکی يم. هغه که امانت وي يا د چا قرض وي. (مرقات ۱۶۶/۸)

سړي جامې د ښځو لپاره دي د ناريتۀ لپاره حرامې دي

﴿۵۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: رَآنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عبدالله بن عمرو ابن عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه د کسم په

وَعَلَى ثَوْبٌ مَصْبُوغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّدًا فَقَالَ:

رنګ شوي ګلابي رنګ جامه اغوستلو باندې ولیدلم، نو ويې فرمايل چې دا څه دي؟ زه په دې خبره

مَا هَذَا؟ فَعَرَفْتُ مَا كَرِهَ فَانْطَلَقْتُ

باندې پوهه شوم چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما دې جامو ته د ناخوښوالي په نظر وکتلې، نو زه ژر لاړم

فَأَحْرَقْتُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او خپلې هغه جامې مې وسوزولې. بيا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وپوښتل

([1]) رقم الحديث ۴۳۶۱ أخرجه الترمذي في السنن ۵۱۸/۳ رقم الحديث ۱۲۱۳ والنسائي في ۲۹۴/۷ رقم الحديث ۴۶۲۸

مَا	صَنَعْتَ	بِثَوْبِكَ؟	قُلْتُ: أَحْرَقْتُهُ	قَالَ:

چې تا به خپلو جامو څه وکړل؟ ما عرض وکړو چې هغه مې اوسوځولې. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې

أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ؟ فَإِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِلنِّسَاءِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

هغه دې خپلې کومې زنانه ته ولې وانه غوستلې، ځکه د ښځو لپاره دغه شان جامو اغوستلو کې هيڅ باک نشته دی.

توضيح بعصفرک: کسم کې رنګ شوې جامه مراد ده.

مورداً: دا د ورد نه دی. ګلابې رنګ ته وايي. يعنې ګلابې رنګ کې رنګ کړی شوې سره توته مراد وه. (مرقات ۸/۱۶۶)

﴿۵۴﴾ وَعَن هلالِ بن عَامر عَن أَبِيه قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى

او حضرت هلال ابن عامر د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې وويل ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منى

يَخْطُبُ	عَلَى	بَغْلَةٍ	وَعَلَيْهِ

کې په خطبه ورکولو کې ليدلې ؤو. هغه وخت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خچر سپور ؤو. او بدن مبارک

بُرْدٌ	أَحْمَرُ	وَعَلِيٌّ	أَمَامَهُ

باندې يې د سرو پټو والا څادر ؤو. او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته ولاړ ؤو.

يُعَبِّرُ	عَنْهُ.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُدَ [2]

چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الفاظ يې خلکو ته رسول.

توضيح برداحمر: قاموس کې يې ليکلې دي "البرد بالضم ثوب مخلط" د دې نه معلومه شوه چې برد پټيدار جامو ته وايي. دلته د براحمر نه مراد هم دغه پټيدار څادر دی. خالص سرې جامې مراد نه دي. (مرقات ۸/۱۶۷)

وعلى أمامه يعبر عنه: دا چې د حج موسم ؤو. مجمع زياته وه. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اواز به چې تر کوم ځای پورې رسيدلو د هغې نه مخې به حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول رسولو. د دې نه د مكبر الصوت د استعمال قاعده ثابتېږي. يعنې د لاود سپيکر د استعمال جواز ملاوېږي. (مرقات ۸/۱۶۷)

---

[1] (رقم الحديث ۴۳۶۲ اخرجه ابوداود في السنن ۳۳۵/۴ رقم الحديث ۴۰۶۷ وابن ماجه في ۱۱۹۱/۲ رقم الحديث ۳۶۰۳.

[2] (رقم الحديث ۴۳۶۳ اخرجه ابوداود في السنن ۳۳۸/۴ رقم الحديث ۴۰۷۸ واحمد في المسند ۴۷۷/۳.

د تور څادر ذکر

﴿۵۵﴾وَعَن عَائِشَةَ قَالَتْ: صُنِعَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُرْدَةٌ سَوْدَاءُ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره تور څادر تيار کړی شو چې

فَلَبِسَهَا فَلَمَّا عَرِقَ فِيهَا وَجَدَ رِيح

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استعمال کړو، خو چې د هغې په وجه پرې خوله راغله او د هغې د وړئ بوې راؤوتلو

الصُّوف فقذفها. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لطافت طبع د ناخوښئ په بناء هغه غوزار کړو.

توضيح: د وړئ نه جوړ شوی تور څادر ؤو. دې عموماً خوله راځي، خوله او د اوبو لړښدلو په وجه د وړئ د تويېدو نه يو قسم بوې ځي. د دې بو بوې په وجه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ويستلو ځکه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معامله د فربښتو سره وه.

زنګون ماتولو باندې د ناستي حکم

﴿۵۶﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو موقع کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شوم، نو

وَهُوَ مُحْتَبٍ بِشَمْلَةٍ قَدْ وَقَعَ

هغه وخت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څادر په ذريعه په ماتو زنګونانو ناست ؤو. او د هغه څادر په غاړو

هُدْبها على قَدَمَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

باندې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قدمونه پراته ؤو.

توضيح: محتب: د احتباء صورت ذکر مخکې شوی دی. په مات زنګونانو ناسته کيناستل منع دي، خو چې د ستر انتظام او اهتمام وي نو بيا د ممانعت وجه ختمه شي. دلته همدغه شان وه. (مرقات ۱۶۷/۸)

هدبها: يعنې د هغې لمن قدمونو باندې راغلې وي. چې د پردې انتظام پرې کېدلو. (مرقات ۱۶۷/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۳۶۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۹/۴ رقم الحديث ۴۰۷۴ وأحمد في المسند ۲۱۹/۶.

([2]) رقم الحديث ۴۳۶۵ أخرجه أبوداود في السنن ۳۳۹/۴ رقم الحديث ۴۰۷۵ وأحمد في المسند ۶۳/۵.

بڼځه باریکه توټه څنګه استعمال کړي

﴿۵۷﴾وَعَن دِحيةَ بن خليفةَ قَالَ: أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبَاطِيٍّ

او حضرت دحلیه ابن خلیفه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره قبطی توټي راغلی.

فَأَعْطَانِي مِنْهَا قُبْطِيَّةً فَقَالَ: اصْدَعْهَا

نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې یو قبطی توټه ماله راکړه. او وې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا وشلوه

صَدْعَيْنِ فَقَطَعْ أَحَدَهُمَا قَمِيصًا وَأَعْطِ الْآخَرَ امْرَأَتَكَ تَخْتَمِرُ بِهِ.

او دوه توټې یې کړه. د یو نه قمیص جوړه کړه او بله خپلې ښځې ته ورکړه هغه به ترینه لوپټه جوړه کړي.

فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ: وَأْمُرِ امْرَأَتَكَ

یا چې کله دحیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یعنې زه بېرته لاړم نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې خپلې ښځې ته دا وایه چې د دې

أَنْ تَجْعَلَ تَحْتَهُ ثَوْبًا لَا يَصِفُهَا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۱)

توټې نه لاندې بله توټه کېږدي ځکه د دې د نرې والي په وجه د هغې ویښتان او بدن ښکاره نه شي.

توضیح: قباطی: د مصرى توټې یو قِسم دی. **اصدعها:** یعنې دا وشلوه او دوه توټې یې کړه.

تختمر: یعنې د دې نه لوپټه جوړه کړي. (مرقات ۱۶۸/۸)

لایصفها: یعنې د نرې والي په وجه د هغې د بدن حالت معلوم نشي، ښکاره نه شي، نو ځکه د نرئ توټې د لاندې دې یو بله جامه هم واغوستلی شي چې بدن پرې پټ شي او که کوم د بدن بیان کوي نو چې وې نکړی شي. د دې نه معلومه شوه چې د ښځې لپاره دغه قِسمه باریکه جامې اغوستل منع دی. (مرقات ۱۶۸،۱۶۹/۸)

توټه کې اسراف کول منع دی

﴿۵۸﴾وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا

او د حضرت ام سلمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې یو ورځ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې خوا له تشریف راوړو

وَهِيَ تَخْتَمِرُ فَقَالَ : لَيَّةً لَا لَيَّتَيْنِ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۲)

نو هغه وخت هغې لوپټه اچولې وه. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې د لوپټې یو پلو په سر واچوه. دبل پلو ضرورت نه ؤو.

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۶۶ أخرجه أبوداود في السنن ۳۶۳/۴ رقم الحديث ۴۱۱۶ وأحمد في المسند ۲۰۵/۵.

(۲) رقم الحديث ۴۳۶۷ أخرجه أبوداود في السنن ۳۶۳/۴ رقم الحدث ۴۱۱۵ وأحمد في المسند ۲۹۶/۶.

توضيح لية: يعني سر باندې د لوپټې يو پلو د ستر لپاره کافي دی. بل پلو اچولو کې اسراف دی. داسې کول پکار نه ؤو. حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لوپټه په سر باندې راتاو کړې وه. چې د پټکي مشابهت هم په کې ؤو. او داسې کول بې ضرورته هم ؤو، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع وکړه. **لية** يو پلو او **ليتين** دوه پلوه.

الفصل الثالث

د لنګ او پرتوګ تر پونډو پورې کيدل خوښ کړی شويدي

﴿۵۹﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: مَرَرْتُ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا کې تېر شوم. هغه وخت

وَفِي إِزَارِي اسْتِرْخَاءٌ فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللهِ

زما لنګ زوړ ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې عبدالله خپل تهبند اوچت کړه نو ما لږ شان اوچت کړو.

ارْفَعْ إِزَارَكَ فَرَفَعْتُهُ ثُمَّ قَالَ:

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې لږ شان يې نور اوچت کړه، ما نور اوچت کړو. بيا حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل

زِدْ فَزِدْتُ فَمَا زِلْتُ أَتَحَرَّاهَا بَعْدُ

چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې حکم نه وروسته زه مسلسل دې عمل يعني لنګ پورته کولو ته متوجې يم.

فَقَالَ: بَعْضُ الْقَوْمِ: إِلَى أَيْنَ؟ قَالَ: إِلَى أَنْصَافِ السَّاقَيْنِ. رَوَاهُ مُسلم [1]

ځينې خلکو د هغې نه وپوښتل چې ته خپل لنګ څومره اوچت ساتې. هغې وويل چې تر نيمې پونډو پورې.

توضيح: استرخا: سست والی په کې ؤو. (مرقات ۱۶۹/۸)

اتحرها: يعني د دې مقدار ساتنه به مې کوله او خيال به مې کولو چې د دې نه لږ هم لاندې نه شي، ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همدغه خوښ کړی ؤو. معلومه شوه چې تر نيم ساق پورې لنګ پکار دی.

آخري حد ذا دی چې د ښنګرو نه لاندې نه وي. ها ضمير فعلة د مخذوف اړخ ته راجع دی يا زيدها هو په طرز باندې دی. د ښنګرو نه لاندې ازار بند يا د پرتوګ حکم او مسئله په ابتدائی بحثونو حديث ۹ او ۱۰ کې تفصيل سره شوی دی. (مرقات ۱۶۹/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۳۶۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۳/۳ رقم الحديث ۴۷-۲۰۸۶)

د لنګ زوړ ندلو حرمت د تکبر په وجه دی

﴿۶۰﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کس چې د تکبر په وجه خپل

خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

تهبند یا پاجامه د ښنګرو نه لاندې زوړ ندوي نو د قیامت په ورځ به الله هغې ته د رحمت په نظر نه ګوري. دې اوریدلو

فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللهِ

سره ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! کله کله داسې کیږي چې زما د قصد او ارادې نه بغیر زما تهبند

إِزَارِي يَسْتَرْخِي إِلَّا

زوړ ند شي او د ښنګرو پورې یا د ښنګرو نه لاندې زوړ ند شي، خو دا چې زه یې هر وخت خیال وساتم یعنی که زه ورته هر

أَنْ أَتَعَاهَدَهُ. فَقَالَ لَهُ

وخت متوجې یم نو بیا زما لنګ کله هم نه شي زوړ ند پدلی، خو شرعي یا طبعي ستونزه لرې وجې زما هر وخت متوجې کېدل

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

امکان نه لري، نو داسې صورت کې زما لپاره څه حکم دی؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته وفرمایل چې

إِنَّكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهُ خُيَلَاءَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

ته په هغه خلکو کې یې چې د تکبر په وجه خپل تهبند یا پاجامه زوړ ند ولی شي.

توضیح: **فقال ابوبکر**: لنګ د زوړ ندولو وعید چې ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واوریدلو نو پریشانه شو او عرض یې وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زه د هر کوشش کوم چې لنګ لاندې رانشي خو د خپلې دغې والې په وجه کله کله بې اختیاره لاندې راشي، نو دې کې ګناه شته دی؟ (مرقات ۱۷۰/۸)

خیلاء: یعنې ته د هغه خلکو نه نۀ یې چې د تکبر په توګه پرتوګ زوړ ندوی.

سوال: کوم خلک چې د ښنګرو نه لاندې پرتوګ یا پتلون زوړ ندوي او هغه جائز ګڼي نو هغوی د دې حدیث نه استدلال کوي. چې وګوره د تکبر په توګه داسې کول جائز نه دي. مونږ تکبر نه کوؤ. لهذا زمونږ لپاره جائز دي.

جواب: د هغه خلک د دې حدیث نه استدلال کول غلط دی. اول دا چې د صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبره د مجبورۍ وه. قصد او اراده نه وه. او دا خلک قصد او اراده کوي. دویم ځکه غلط دی چې د

---

[1] رقم الحديث ۴۳۶۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۹/۷ رقم الحديث ۳۶۶۵ وابوداود في السنن ۳۴۵/۴ رقم الحديث ۴۰۸۵.

ابوبکر رضی اللہ عنہ نه به د مجبوری به وجه کله کله داسې عمل کېدو. او دا خلک همیشه لپاره دا جائز ګڼي. درېم دا چې حصرت صدیق اکبر رضی اللہ عنہ به دا عمل ګناه ګڼله او دا خلک يې ګناه نه ګڼي. څلورم دا چې نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په ټول جماعت کې صرف ابوبکر رضی اللہ عنہ ته د دې اطمینان ورکړی ؤو چې ستا عمل د تکبر په توګه نه دی نو ځکه ګناه نه ده. دا یو خاص اجازت ؤو. باقي نورو صحابه کرامو کې هیڅ یو کس ته اجازت نۀ ؤو ملاو شوی، ځکه دا عمل خپله د تکبر دی. دې کې که یو کس د تکبر اراده وکړې او که نه، دا عمل متکبرانه دی. حضرت عمر، عثمان او علی رضی اللہ عنہم ته خو اجازت نه ؤو ملاو شوی او نن سبا په ګناهونو کې ککړ شوی یو کس د خپل ځان لپاره جواز ګوري.

لایقاس الملوك بالحدادین

چه نسبت خاک را با عالم پاک

اصل کې ځادر وغیره د شاته نه منع دی

﴿۶۱﴾ وَعَن عِكْرِمَة قَالَ: رَأَيتُ ابنَ عَبَّاس يَأتَزِرُ

او حضرت عکرمه فرمایي چې ما حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ په داسې تهبند ترلو باندې لیدلی دی چې د

فَيَضَعُ حَاشِيَةَ إِزَارِهِ مِنْ مُقَدَّمِهِ عَلَى ظَهرِ قَدَمِهِ

هغه تهبند مخکنۍ غاړه خو به یې د خپلو پښو پورې ساته او د هغې وروستنۍ غاړه به یې د ښنګرو نه لاندې

وَيَرْفَعُ مِنْ مُؤَخَّرِهِ قُلْتُ لِمَ تَأتَزِرُ هَذِهِ الإِزْرَةَ؟

ساله. ما دې لیدلو سره د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ نه وپوښتل چې ته (کله کله) داسې تهبند ولې ترې؟

قَالَ: رَأَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يأتزرها. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

هغه وویل چې ما نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم لیدلی دی چې نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم به (کله کله) داسې تهبند ترلو.

پټکی ترل د فرښتو علامت دی

﴿۶۲﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: عَلَيكُمْ بِالعمائم

او حضرت عباده رضی اللہ عنہ فرمایي چې نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل ته پټکي ترل ضروري وګڼه ځکه عمامه ترل

فَإِنَّهَا سيماء الْمَلَائِكَة

د فرښتو علامت دی. او هغه وخت چې د جنګ بد په موقعه چې کومې فرښتې د مسلمانانو د مرستې لپاره راغلې وې هغوی

---

[1] رقم الحدیث ۴۳۷۰ أخرجه ابوداؤد في السنن ۴، ۳۵۴ رقم الحدیث ۴۰۹۶

و أُخوها خلف ظهورکم. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ[1]

پښکې ترلې ؤو، لکه څنګه چې الله فرمايلي دي او د پښکې شملې شاته پريږدئ ځکه فربښتې هم په دې شکل راغلي وي.

د بڼځو لپاره داسې باريکه لباس منع دی چې په کوم کې بدن ښکاري

﴿۶۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې يو ورځ حضرت اسماء بنت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضره شوه. د هغې بدن باندې باريکه جامې وې.

فَأَعْرَضَ عَنْهُ وَقَالَ: يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ليدلو سره وفرمايل د هغې نه مخ واړولو او ويې فرمايل چې ای اسماء!

لَمْ يَصْلُحْ أَنْ يُرَى

بڼځه چې کله د حيض ورځو ته ورسيږي يعنې کله چې هغه بالغه شي نو هرګز صحيح نه دي چې د هغې

مِنْهَا إِلَّا هَذَا وَهَذَا . وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

د بدن يو اندام هم وليدلی شي بغير د دې نه او د بڼه ويلو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل مخ او لاسونو اړخ ته اشاره وکړه.

توضيح: اسماء بنت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خور او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بښه وه. د بلوغت نه وروسته هغې باريکې جامې واغوستلې. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړه.

المحيض: د دې نه مراد بلوغت دی، ځکه د حيض راتلل د بلوغت علامت دی.

د دې حديث نه معلومه شوه چې چې که کومې بڼځې داسې باريکه جامې اغوستې وي د هغې نه لاندې د هغې بدن ښکاري نو هغه بڼځه په حقيقت کې د بربنډې بڼځې په حکم کې ده. چې د کاسيات عريات مصداق دی. (مرقات ۱۷۱/۸)

الا هذا وهذا: د دې نه مراد د بڼځې مخ او تلی دی. د مجبورۍ په وجه د دې کولاؤول د بڼځې مجبوري ده. د دې مطلب دا نه دی چې دې ارخ ته کتل جائز دي. البته که ځای د فتنې وي نو د بڼځې لپاره بغير د ضرورت نه مخ ښکاره کول منع کېږي. (مرقات ۱۷۱/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۳۷۱ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۱۷۶/۵ رقم الحديث ۶۲۶۲.

[2] رقم الحديث ۴۳۷۲ أخرجه أبوداود في السنن ۳۵۷/۴ رقم الحديث ۴۱۰۴.

نوي جامه اغوستلو سره کومه دعا ويل کيږي

﴿۶۴﴾وَعَنْ أَبِي مَطَرٍ قَالَ: إِنْ عَلِيًّا اشْتَرَى ثَوْبًا بِثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ

او حضرت ابو مطر وايي چې يو ورځ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو توته په دري درهمه واخستله او کله

فَلَمَّا لَبِسَهُ قَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي رَزَقَنِي مِنَ الرِّيَاشِ

يې چې هغه واغوستله نو وې ويل چې ټول تعريفونه دالله لپاره دي. چې هغې ماته د زينت والا

مَا أَتَجَمَّلُ بِهِ فِي النَّاسِ وَأُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي

اسبابو نه هغه څيز راکړو چې د هغې په ذريعه مونږ د خلکو مخکې ارام هم کوؤ او سترهم پټوؤ. بيا

ثُمَّ قَالَ: هٰكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ. رَوَاهُ أَحْمد[1]

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې دغه شان ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامو د اغوستلو نه وروسته د احمد او ثناء اوربدلي ده.

توضيح رياش: د ريش جمع ده. د لباس په معنى کې دى. (مرقات ۱۷۱/۸)

اتجمل: د زينت اختيارولو په معنى کې دى. (مرقات ۱۷۱/۸)

اواري: د مواراة نه دي د پټولو په معنى کې دى. دلته سترپټول معنى کې دى. (مرقات ۱۷۱/۸)

﴿۶۵﴾وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: لَبِسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ثَوْبًا جَدِيدًا

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جامې واغوستلې نو

فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي مَا

نو دا دعا يې وکړه چې: ټول تعريفوه الله لره دي چې ماته يې دا جامې د اغوستلو لپاره راکړې چې

أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي ثُمَّ قَالَ:

د هغې په ذريعه زه خپل سترهم پټوم او خپل ژوند کې پرې د خلکو مخکې ارام هم کوم. بيا هغه وويل

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا

چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه داسې اوربدلي دي چې کوم کس نوي جامې واغوندي نو دا دعا دې وغواړي. او

فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي

ټول تعريفوه الله لره دي چې ماته يې دا جامې د اغوستلو لپاره راکړې چې د هغې په ذريعه زه خپل

مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي ثُمَّ عَمَدَ إِلَى الثَّوْبِ

سترهم پټوم او خپل ژوند کې پرې د خلکو مخکې ارام هم کوم. بيا هغه جامې چې زړې شوې دي (يعنې کومې جامې چې

---

(۱) رقم الحديث ۴۳۷۳ أحمدي المسند ۱۵۷/۱

الَّذِي أَخْلَقَ فَتَصَدَّقَ بِهِ كَانَ فِي كَنَفِ اللهِ

هغې د خپل بدن نه ويستلي دي) چې چا له يې د الله په نوم ورکړي نو په ژوندون کې او د مرګ نه وروسته (يعنې

وَفِي حِفْظِ اللهِ وَفِي سِتْرِ اللهِ حَيًّا

دنيا کې هم او به آخرت کې هم) به د الله په پناه کې وي. د الله په محافظت کې به وي. او د الله د عفو

وَمَيِّتًا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]

او د مغفرت په پرده کې به وي. (احمد، ترمذی، ابن ماجه) او ترمذی ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

توضيح: **كنف الله**: ای فی ستره و حفظه د دې نه وروسته کلمات د دې کلمې لپاره تاکيد او تفسير او توضيح ده. (مرقات ۱۷۲/۸)

حيا و ميتا: يعنې په دنيا کې هم او په آخرت کې هم. (مرقات ۱۷۲/۸)

حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باريکه توټه وشلوله

﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ عَنْ أُمِّهِ قَالَتْ: دَخَلَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ

او علقمه ابن ابو علقمه د خپل پلار نه روايت کوي چې هغې بيان کړل چې يو ورځ د عبدالرحمن ابن ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَلَى عَائِشَةَ وَعَلَيْهَا خِمَارٌ رَقِيقٌ

لور حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته په داسې حالت کې لاړه چې هغې باريکه لوپټه اچولې وه.

فَشَقَّتْهُ عَائِشَةُ وَكَسَتْهَا خِمَارًا كَثِيفًا. رَوَاهُ مَالِك[2]

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه باريکه توټه وشلوله او هغې له يې يوه پيړه لوپټه ورکړه.

توضيح: دا خو د باريکې لوپټې خبره وه که هغې باريک قميص يا پرتوک ليدلی وی نو څه به کولی؟ او که نيمه بربنډ لباس کې يې ښځې ليدلی وی نو څه به کولی؟

زمانه بدليدلو سره خلک څنګه څنګه بدليدل؟

﴿۲۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ أَيْمَنَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ

او حضرت عبدالواحد ابن ايمن د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې وويل يو ورځ زه د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په

وَعَلَيْهَا دِرْعٌ قِطْرِيٌّ ثَمَنُ

خدمت کې حاضر شوم نو هغه وخت د هغې په بدن باندې (د مصر جوړې شوې) د قطرې توتې قرتئ وه.

---

[1] رقم الحديث ۴۳۷۴ أخرجه الترمذي في السنن ۵۲۱/۴ رقم الحديث ۳۵۶۰ وابن ماجه في ۱۱۷۶ رقم الحديث ۳۵۵۷ .

[2] رقم الحديث ۴۳۷۵ أخرجه مالک في الموطا ۹۱۳/۲ رقم الحديث ۶ من كتاب اللباس.

خَمْسَةِ	دَرَاهِمَ	فَقَالَتْ:	ارْفَعْ
چې قيمت يې پنځه درهمه ؤو. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د خبرو په دوران کې ماته وويل چې لږ زما			
بَصَرَكَ إِلَى جَارِيَتِي انْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهَا تُزْهَى أَنْ تَلْبِسَهُ فِي الْبَيْتِ			
دې وينځې ته وګوره دا څومره غرور کوي. دا کور کې دا قسمه جامې اغوستلو ته تياره نه وه خو			
وَقَدْ كَانَ لِي مِنْهَا دِرْعٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ			
دا چې دا واغوندي او بهر ؤوځي. حال دا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې ماسره دغه شان			
فَمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ تُقَيَّنُ بِالْمَدِينَةِ			
يعني د قطرى ټوټې يو قميص وه. او مدينه کې به چې کومې ښځې خپل واده کې يا د بل د واده په			
إِلَّا أُرْسَلَتْ إِلَيَّ تَسْتَعِيرُهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]			
وخت کې خپل ارائش کولو نو ما پسې به يې څوک راولېږلو او عرايتاً به يې غوښتله.			

توضيح درع: قميص ته وايي.

قطرى: معمولې قِسم قطرى يمنې ټوټه وه. بحرين د علاقې د قطر جوړه شوې وه.

ثمن خمسة دراهم: اى ثمنه يعني د هغې قيمت پنځه درهمه ؤو.

وانظر اليها: يعني په تعجب سره دې ته وګوره.

تُزْهٰى: يعني دا سپکه ګڼي او دې باندې راضي نه ده. تا باندې پيش دى. زا ساکن دى. او ها باندې فتحه ده. بيا يا باندې الف مقصوره دى. د تدعى پشان دى. تا باندې زبر هم جائز دى. (مرقات ۱۷۳/۸)

تُقَيَّنُ: د تقيين نه د مجهول صيغه ده. تزيين په معنىٰ کې دى. يعني کله به چې د شب زفاف لپاره به ښځې ځان سنګار کړو او خاوند له به تله نو هغه ښځې به ماته استائى راولېږلو او دا ټوټه به يې د عاريت په توګه غوښتله. چې دې سره زينت حاصل کړي. نن زمانه کې دومره بدلون راغلى دى چې د شرريفانو د لورګانو نه بغير د يو وينځه د کور دننه دا لباس اغوستلو ته تياره نه ده. بدلتے ہیں یہ انسان کیسے. دې حديث کې د عهد رسالت نه د لرېوالې د خرابوالې اړخ ته اشاره ده. يو حديث کې دي چې هرې اولنۍ ورځې نه بله ورځ خرابه راځي. شاعر ته تغير داسې بيان کړى دى. (مرقات ۱۷۳/۸)

کیسے کیسے ویسے ویسے ہو گئے ویسے ویسے کیسے کیسے ہو گئے

---

[1] رقم الحديث ۴۳۷۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۸۶/۵ رقم الحديث ۲۶۲۸

ريښمي لباس د نارينو لپاره حرام دی

﴿۶۸﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَبِسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَبَاءَ دِيبَاجٍ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ريښمي قبه واغوستله چې

أُهْدِيَ لَهُ ثُمَّ أُوْشَكَ أَنْ نَزَعَهُ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له د هدې په توګه ورکړی شوی وه، خو ژر يې هغه قبه د بدن نه ويستله او

فَأُرْسَلَ بِهِ إِلَى عُمَرَ فَقِيلَ: قَدْ أُوْشَكَ مَا انْتَزَعْتَهُ

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې ولېږله. يو صحابي دې ليدلو سره عرض وکړو چې تاسو دا قبه دومره ژر ولې ويستله؟

يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: نهاني عَنهُ جبريلُ

اې دالله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل زه جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام دې دا اغوستلو نه منع کړی وُو. (دې نه معلومه شوه

فَجَاءَ عُمَرُ يَبْكِي

چې هغه قبه د ريښمو د توټې د حرمت نه مخکې اغوستې وه) بيا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دا واقعه معلومه شوه نو هغه په ژړه حاضر شو

فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ كرهتَ أَمْرًا

او عرض يې وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! کوم شی چې ستا نه دی خوښ (يعنې د دې ريښمي قبه دا اغوستلو) نو

وَأُعْطِيْتَنِيهِ فَمَا لِي؟

ماته دې راکړه. (چې زه دا واغوندم) دې صورت کې به زما څه حال وي؟ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

فَقَالَ: إِنِّي لَمْ أُعْطِكَهُ تَلْبَسُهُ إِنَّمَا أَعْطَيْتُكَهُ تَبِيعُهُ .

"ما هغه قبه تا له د دې لپاره نه ده درکړې چې ته يې واغوندې بلکې ته دا خرڅه کړه"، نو

فَبَاعَهُ بِأَلْفَيْ دِرْهَمٍ. رَوَاهُ مُسلم[1]

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه قبه په دوه زره (۲۰۰۰) درهمه خرڅه کړه.

توضيح: **اوشك ان نزعه**: يعنې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ډېر ژر هغه قبه د اغوستلو نه وروسته ويستله، نو پدې ترېنه چا وپوښتل چې (**قد او شك الخ**) يعنې تا دومره ژر دا قبا ولې ويستله. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اوس اوس جبرائيل امين زه منع کړم. د حرمت نه مخکې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبه اغوستې وه. بيا د حرمت حکم راغلو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبه ويستله او حضرت

---

[1])رقم الحديث ۴۳۷۷ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۴۴/۳ رقم الحديث (۱۶-۲۰۷۰)

عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې هديه کړه. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ژړه راغلو چې يو څيز حرام وُو، نو آيا زه د دين نه دومره لرې يم چې حرام استعمالولی شم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطمينان ورکړو چې د اغوستلو لپاره نه بلکې د خرڅولو لپاره مې درکړې وه. (مرقات ۱۷۳/۸)

که د جامو تنرئ د ريښمو وی نو دسړو دپاره جائز دی

﴿۶۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې دې کې هيڅ شک نشته دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده

عَنْ ثَوْبِ الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ فَأَمَّا الْعَلَمُ

دهغه جامو د اغوستلو نه چې خالص ريښم وي التە که د ريښم ګوټ يا بيل د څلور ګوتو نه زيات نه وي

وَسَدَى الثَّوْبِ فَلَا بَأْسَ بِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

او هغه جامه چې د هغې لاندې حصه کې ريښم وي نو د هغې په استعمالولو کې هيڅ باک نشته دی.

توضيح: **المصمت**: دا هغه ټوټې ته وايي چې خالص ريښم وي يعنې تنسته او اټيرن دواړه ريښم وي، خو که تنسته د ريښم وي او اټيرن د سپڼرسو وي نو هغه د سوت په حکم کې دی. چې جائز دی. د دې برعکس ناجائز دی. عربئ کې دوه لفظونه راځي يو د "سدیٰ" لفظ دی چې د جامو په اوږد والې کوم تارونه استعمالېږي. هغې ته سدیٰ (تانا) وايي. او د جامو په پلن والې کې چې کوم تار استعمالېږي هغې ته **لحمة** بانا وايي. د هرې جامې بنياد **لحمه** وي. سدیٰ اصل نه دی. لهذا که لحم د ريښمو وي نو ټوټې ته ريښمې وايي او که **لحمه** د سوت وي نو ټوټې ته به سوتې ويل کېږي. همدغه اشاره دې حديث کې ده. **العلم**: د جامو د پاسه ګلان او **کشيده کاری** ته علم وېيي. د څلورو ګوتو برابر د ريښمو وغيره ګلان وغيره جائز دي. (مرقات ۱۷۴/۸)

شال استعمالول جائز دی

﴿۷۰﴾ وَعَنْ أَبِي رَجَاءٍ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ

او حضرت ابورجاء رحمه الله (تابعی) فرمايي چې يو ورځ حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (د کور نه) راوُتلو او

وَعَلَيْهِ مِطْرَفٌ مِنْ خَزٍّ وَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

زمونږ خوا له راغلو. هغه وخت د هغې په بدن باندې د خز مطف (شال) وُو. هغې وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

---

[1] رقم الحديث ۴۳۷۸ أخرجه ابوداود في السنن ۳۲۹/۴ رقم الحديث ۴۰۵۵ واحمد في المسند ۲۱۸/۱

مَنْ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ نِعْمَةً فَإِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ . رَوَاهُ أَحْمد[1]

چې "کم کس له الله خپل نعمت ورکړي نو الله دا خبره خوښوي چې د هغه بنده په بدن د هغه نعمت اثر وليدلی شي".

توضيح: مطرف: صاحب قاموس ليکلي دي "**والمطرف کمکرم رداء من خز مربع ذواعلام**" د هنه معلومه شوه چې د مطرف په ميم باندې پيښ دی. طا ساکن دی. را باندې زبر دی. بيا فا ده يعنې مطرف چې د مکرم په وزن دی. د خز يو خاص قِسم دهاری دار څادر (شال) ته وايي. اوس دلته پوښتنه ده چې کله د مطرف په مفهوم کې خز (ريښم) داخل شو، نو بيا حديث کې د من خز د ذکر کولو څه ضرورت ؤو. د دې جواب شارحين دا ورکوي چې دلته د خز نه مراد نه دی بلکې د خز اطلاق چې څنګه په خالص ريښم باندې کېږي هم دغه شان د دې اطلاق د ريښم او د وړئ دواړو نه جوړې شوې توتې باندې هم کېږي. دلته همدغه توټه مراد ده. او د هم دې په وجه د دې استعمال جواز راغلی دی. بهرحال دلته د مطرف نه مراد يو خاص قِسم ښايسته ګل دار شال مراد دی. چې هغې باندې په جائز مقدار پورې د ريښمو ګلان جوړ شوې وي. (مرقات ۱۷۵/۸)

ښه وخورئ وڅګئ خو اسراف مه کوئ

﴿۷۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُلْ مَا شِئْتَ وَالْبَسْ مَا شِئْتَ

او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې وفرمايل (جائز او د مباح څيزونو نه) چې موځه خوښه وي خورئ

مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ: سَرَفٌ وَمَخِيلَةٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ[2]

او چې څه موخوښه وي نو اغوندئ خو هغه وخت کې د دوه څيزونو يعنې د اسراف او د تکبر تاسو کې چلن ونکړي".

توضيح: ما اخطاء تك: يعنې چې تر څو پورې تاسو کې د خوراک او څښاک دوه خصلتونو اسراف او تکبر شامل نه وي نو تر هغه وخت پورې خوراک او څښاک مباح دی. چې اسراف راشي يا تکبر راغلو نو اوس به مباح په کراهت کې راشي، نو بيا د دې فراخوالې هيڅ ګنجائش نه وي. (مرقات ۱۷۵،۱۷۶/۸)

﴿۷۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:

او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې هغې وويل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1] رقم الحديث ۴۳۷۹ احمد في المسند ۴۳۸/۴.

[2] رقم الحديث ۴۳۸۰ البخاري تعليقًا ۲۵۲/۱ باب قول الله تعالى (قل من حرم زينة .....) كتاب اللباس.

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُوا وَاشْرَبُوا
وفرمايل د خپل ضرورت او حاجت مطابق خوراک کوئ او اغوندئ او کوم څيز چې ستاسو د ضرورت او حاجت
وَتَصَدَّقُوا وَالْبَسُوا مَا لَمْ يُخَالِطْ إِسْرَافٌ
نه زيات وي نو هغه د الله په لاره کې خرچ کړئ. او د اغوستلو به څيزونو کې چې څه غواړئ اغوندئ
وَلَا مَخِيلَةٌ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]
چې ترڅو پورې هغې کې اسراف او تکبر نه وي.

سپينو جامو کې خپل رب سره ملاقات وکړئ

﴿۴۳﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَحْسَنَ مَا زُرْتُمُ اللهَ
او حضرت ابو دارداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هغه بهترينه توته چې هغه تاسو واغوندئ
فِي قُبُورِكُمْ وَمَسَاجِدِكُمُ الْبَيَاضُ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[2]
او تاسو خپلو قبرونو کې او خپلو جوماتونو کې د الله تعالى سره ملاقات کوئ، سپينه توته ده.

توضيح: في قبوركم: قبرونو کې سپينو توتو سره د الله سره د ملاقات مطلب دا دی چې سړی کله مړ شي نو بهتر او ښه دا دي چې د هغې کفن سپين وي. که د مجبورۍ په وجه بل رنګ وي هم جائز دي. قبر کې د سړي ملاقات د خپل رب سره کېږي ځکه قبر د يو کندې نوم نه دی بلکې عالم برزخ مراد دی.

ومساجدكم: سړی چې کله د لمونځ لپاره جومات ته ځي نو لمونځ کې د الله سره ملاقات کېږي. هغه وخت کې هم سپين لباس کې ملاقات بهتر او ښه دی. د دې حديث نه د سپين لباس فضيلت ثابتېږي چې د خپل رب سره د ملاقات لپاره د ټولو نه ښه لباس همدغه سپين لباس دی.



---

(1) رقم الحديث ۴۳۸۱ أخرجه النسائي في السنن ۷۹/۵ رقم الحديث ۲۵۵۹ وابن ماجه في ۱۱۹۲/۲

(2) رقم الحديث ۴۳۸۲ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۸۱/۲ رقم الحديث ۳۵۶۸

باب الخاتم
ګوتمه د اغوستلو بیان

الفصل الاول
د سروزرو ګوتمه د نارینۍ لپاره حرامه ده

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: اتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سرو زرو ګوتمه جوړه کړه. او يو

وَفِي رِوَايَةٍ: وَجَعَلَهُ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى ثُمَّ أَلْقَاهُ

روايت کې دا الفاظ هم دي چې دا ګوتمه يې خپل ښي لاس کې واچوله و بيا يې اوغورزوله.

ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنَ الْوَرِقِ نُقِشَ فِيهِ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپينو زرو ګوتمه جوړه کړه چې هغې کې د "محمد رسول الله" الفاظ ليکلی شوي ؤو

وَقَالَ: لَا يَنْقُشَنَّ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هَذَا .

او ويې فرمايل چې هيڅ يو کس دې زما د مهر پشان الفاظ په خپله ګوتمه کې نه ليکي.

وَكَانَ إِذَا لَبِسَهُ جَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله دا ګوتمه اچوله نو د هغې غمی به يې د تلي اړخ ته کولو.

توضیح: من ذهب: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سرو زرو ګوتمه هغه وخت جوړه کړې وه چې د نارينۍ لپاره د سرو زور استعمال حرام نه ؤو. کله چې د سرو زرو استعمال حرام شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وغورزوله. (مرقات ۱۷۷/۸)

امام محمد رحمه الله په موطأ محمد کې ليکلي دي چې د نارينۍ لپاره چې څنګه د سرو زرو ګوتمه حرامه ده. هم دغه شان د وسپنې، کانسی او د پيتل وغيره ګوتمې هم ناجائز دي. لهذا د نارينۍ لپاره د سپينو زرو نه بغير بل هيڅ قسمه ګوتمه جائز نه ده. د ښځو لپاره د سرو زرو ګوتمه جائز ده او د سپينو زرو مکروه ده، ځکه دې د نارينۍ سره مشابهت دی، خو که ښځه د سپينو په ګوتمه څه د

---

[1] رقم الحديث ۳۳۸۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۲۸/۱۰ رقم الحديث ۵۸۷۹ ومسلم في ۱۶۵۵/۳ رقم الحديث (۵۳-۲۰۹۱)

سروزرو رنګ ومښې نو دا به زيات بهتر وي. قاضي خان ليکلي دي. چې کوم خلک په اسنادو باندې مهر لګولو ته محتاج وي لکه قاضي، والي او حاکم وغيره نو د داسې خلکو لپاره د ګوتمه اچول جائز دي. د نورو لپاره افضل دا دي چې نه يې اچوي. او که څوک يې اچوي نو جائز دي. او مناسب دیی چې په چپ لاس کې يې واچوي او د ګوتمې غمی د لاس تلی اړخ ته کړي. لاس کې د ګوتمې د اچولو حديثونه موجود دي، خو د ځينې علماؤ په نزد هغه د نارينۍ په حق کې منسوخ دي، خو "سفرالسعادة" کې ليکل شوي دي چې دواړه جائز دي. زما په خيال همدغه راجح پکار دي، ځکه دواړو اړخونو ته صحيح حديثونه موجود دي. بلکې شوافع حضرات خو يې شي لاس کې اچول افضل ګڼي، ځکه نبي لاس ته په چپ افضليت حاصل دی. علماؤ ليکلي دي چې د سپينو زرو ډبرې ګوتمې جوړول او کور کې ايښودل جائز دي، خو د استعمال لپاره صرف يوه ګوتمه جائز ده. دوه يا درې په يو ځال استعمالول جائز نه دي. بهتر دا دي چې ګوتمه کې د سپينو زرو په مقدار څلور نيمي ماشي نه کم وي. که زيات شي نو هغه هم جائز دي، خو خلاف اولی دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د صلح حديبيه نه وروسته بادشاهانو ته خطونه وليکل نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل شو چې د بادشاهانو په نزد ا ضابطه ده چې مهر شوی خط خپله خلاص کړي او لولي يی. د مهر نه بغير خط نه قبلوي، نو په دې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپينو زرو ګوتمه جوړه کړه او د هغې په غمې کې يې دا عبارت نقش کړو **"محمد رسول الله"** لکه څنګه چې راتلونکې حديث نمبر ۴ کې تفصيل راروان دی.

ولا ينقش: يعنې څوک دې زما د مهر پشان الفاظ نه نقش کوي. ظاهره خبره ده چې دا يو اصولې قاعده او ضابطه ده چې د مهر يو سرکاري حيثيت وي. که د هر کس د مهر نقش د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مهر پشان وی نو دې کې به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مهر سرکاری حيثيت متاثر شوی وی او د عام بادشاهانو په نزد به د دې مهر خصوصيت شک مند شوی وی، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع وکړه. که نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع نه وی کړی نو صحابؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به دا سنت ګڼلی وی او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عمل به يې عمل کولی. (مرقات ۱۷۸/۸)

د نارينۍ لپاره د سروزرو ګوتمه اچول حرامه ده

﴿۲﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمُعَصْفَرِ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (نارينۍ) قسی جامې، د کسم رنګ شوې

وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ وَعَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الرُّكُوعِ. رَوَاهُ مُسلم [1]

جامي او د سروزرو ګوتمي د اچولو نه منع کړې ده. او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رکوع کې د قرآن لوستلو نه منع کړې ده.

توضيح: القسي: د ريښم خو قِسم دی. د قس اړخ ته منسوب دی چې د مصر يو بنار دی.

تختم الذهب: يعني د نارينۀ لپاره د سروزرو ګوتمه استعمالول حرام دي. (مرقات ۱۷۹/۸)

في الركوع: رکوع کې قرآن لوستلو د ممانعت يو مطلب دا دی چې رکوع او سجده کې د تسبيحاتو د لوستلو په ځای قرآن کريم مه لولئ. دا د الله تعالى عظيم کلام دير د دې د ادب تقاضا دا ده چې دا په قيام او قعود کې ولوستلی شي.

د دې ممانعت دويم مطلب دا دی چې قرآن دومره په تونديۀ او بې اطمينانئ سره مه لولئ چې څه برخه په قيام کې ولوستلی شي او قرأت د پوره کولو نه بغير ژر ژر رکوع ته لاړ شئ او څه برخه په رکوع کې ولولئ. دا مطلب راجح دی. (مرقات ۱۷۹/۸)

د نارينۀ لپاره د سرو ګوتمه د دوزخ داور سکروټه دی

﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ

او حضرت عبدالله ابن عباس فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سروزرو ګوتمه وليدله، د

فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ فَقَالَ:

يو کس په لاس کې نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د لاس نه ګوتمه رايو ستله او غوزاره يې کړه او بيا يې وفرمايل

يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ

چې څومره عجيبه خبره ده چې تاسو کې يو کس د دوزخ د اور سکروټه حاصل کړي او هغه خپل لاس ته يې

فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ؟

واچوي (يعني کوکس چې خپلو لاسونو کې د سروزرو کوم څيز اچوي نو د هغې لاس به د دوزخ اور ته خي. دې صورت کې: ديو نارينه

فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَمَا ذَهَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د سروزرو ګوتمه اچول ګويا کې خپل لاس کې د دوزخ داور سکروټه اچول دي) بيا چې کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاړو نو هغه کس ته وويل شو

---

[1] الحديث ۴۳۸۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۴۸/۳ رقم الحديث (۲۹-۲۰۷۸) وابوداود في السنن ۳۲۲/۴ رقم الحديث ۴۰۴۴.

خُذْ	خَاتَمَكَ	انْتَفِعْ	بِهِ.
چې ته دا خپله ګوتمه را اوچته کړه او د دې نه فائده واخله يعنې دا خرڅه کړه او که خوښه دې نو يوې بنځې ته يې ورکړه			
قَالَ: لَا وَاللّٰهِ لَا آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسلم[1]			
خو هغه کس وويل چې نا په خدای قَسم! زه دا کله هم نه را اچتوم چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غوزاره کړې ده.			

توضيح: جمرة: د اور سکروتې ته جمرة وايي. (مرقات ۱۸۰/۸)

خذ خاتمك: د کوم کس د لاس نه چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سرو زرو ګوتمه غوزاره کړې وه هغې ته چا وويل چې خپله ګوتمه را اوچته کړه او څه فايده ده ترېنه واخله مثلاً خرڅه يې کړه يا يې بنځې ته واچوه. دې وفادار عاشق رسول وويل چې کوم شی خپله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راويستلی د او غورزولی يې دی نو زه به کله هم دې ته لاس نه ور وړم. د دې حديث نه يوه خبره معلومه شوه چې د طاقت او قدرت وخت لرو کې نهی عن المنکر لاس اچولو سره کول پکار دی. دويمه خبره دا معلومه شوه چې صحابه کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څومره فرمانبرداره او څومره وفاداره او څومره عاشقان ؤو. نن سبا عاشقان صرف د نمائش کدوان دي. الا ماشاء الله.

د مهر نبوي نقش

﴿۴﴾وَعَنْ	أَنَسٍ	أَنَّ النَّبِيَّ	صَلَّى اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
او د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې کله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د صلح حديبيه نه بېرته مدينې ته راغلو)					
أَرَادَ	أَنْ يَكْتُبَ	إِلَى	كِسْرَى	وَقَيْصَرَ	وَالنَّجَاشِيِّ
کسری (د فارس بادشاه) قيصر (د روم بادشاه) او نجاشی (د حبشې بادشاه) ته د اسلام دعوت د ورکولو لپاره خطونه					
فَقِيلَ:	إِنَّهُمْ	لَا	يَقْبَلُونَ	كِتَابًا	
ورولېږلو اراده وکړه نو عرض وکړی شو چې (د ارئج شوي قاعدې مطابق) دا بادشاهان هغه خطونه					
إِلَّا	بِخَاتَمٍ	فَصَاغَ	رَسُولُ اللّٰهِ	صَلَّى اللّٰهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا
قبلوي (يعنې مستند يې ګڼي) چې په کوم مهر لږبدلی وي، نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سپينو زرو					

([1]) رقم الحديث ۴۳۸۵ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۵/۳ رقم الحديث (۵۲-۲۰۹۰)

حَلْقَةَ فِضَّةٍ نُقِشَ فِيهِ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
حلقه والی ګوتمه جوړه کړه چې هغې کې يې "محمد رسول الله" نقش کړو. (مسلم) او د بخاری په
وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: كَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ
يو روايت کې داسې منقول دي چې چې ګوتمه کې چې کوم الفاظ نقش کړی شوي ؤو. هغه په درې
أَسْطُرٍ: مُحَمَّدٌ سَطْرٌ
کرښو کې ؤو. داسې چې په يو سطر کې (د تهلو نه لاندې ؤو) د "محمد" لفظ ؤو. يو سطر کې (په مينځ کې ؤو)
ورسولُ سطر وَالله سطر[1]
د "رسول" لفظ ؤو. او يو سطر کې (چې د تهلو نه پاس ؤو) "الله" د "الله" لفظ ؤو.

توضيح: حلقة فضة: يعنې کوم بېل غمی نه ؤو. بلکې اصل کې سپين زر ؤ هغې غمی ؤو. د جدا غمې والا ذکر هم په حديثونو کې راتلونکی دی. مهر نبوی کې چې ګوم الفاظ نقش کړی شوي ؤو. د هغې نقش داسې جوړ کړی شوی ؤو: الله

رسول

محمد

(الله پاس بيا لاندې رسول بيا محمد) همدغه امام بخاری درې جدا سطرونه ګڼلې دي. چې محمد يو سطر دی. چې د تهلو نه لاندې دی. د هغې نه پاس دويم سطر کې د رسول لفظ دی او د هغې نه پاس د الله لفظ دی. دې کې د ادب د مرتبو لحاظ ساتلی شوی دی. (مرقات ۱۸۱/۸)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګوتمې غمی

﴿۵﴾ وَعَنْهُ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ
او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګوتمه د سپينو زرو وه. او د
وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
هغې غمې هم د سپينو زرو ؤو.

---

[1] رقم الحديث ۴۳۸۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۲۴/۱۰ رقم الحديث ۵۸۷۵ ومسلم في ۱۶۷۵/۳ رقم الحديث (۵۸-۲۰۹۲)

[2] رقم الحديث ۴۳۸۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۲۲/۱۰ رقم الحديث ۸۵۷۰ أبوداود في السنن ۴۲۴/۴ رقم الحديث ۴۲۱۷.

توضيح: فصه منه: فص غمې ته وايي او د منه مطلب دا دی چې غمی د بل کوم عنصر نه نۀ ؤو. بلکې د همغه د سپينو زرو يوه برخه غمی ؤو. همدغې باندې پاسنی عبارت نقش کړی شوی ؤو. (مرقات۸/۱۸۲)

﴿۶﴾وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دا هم روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپينو زرو ګوتمه خپل

فِي يَمِينِهِ فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ كَانَ يَجْعَلُ

نبي لاس کې واچوله چې غمی يې د حبشی ؤو. او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ګوتمې غمی د لاس ارخ ته کولو

فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّه (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

(يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپله ګوتمه داسې اچوله چې د هغې غمی به لاس د تلی ارخ ته ؤو)

توضيح: حبشي: يعنې د هغه ګوتمی غمی د عقيق ؤو. دا چې د عقيق غر په حبشه کې واقع دی نو ځکه د هغې ارخ ته منسوب کولو سره ورته حبشی ويلی شوی دی يا حبشی ويلو سره ترو رنګ مراد اخستلی شوی دی. چې د ګوتمی غمی تور ؤو. (مرقات۸/۱۸۵،۱۸۴)

د دې روايت په ظاهره د مخکنې روايت سره تعارض دی. چې کوم کې ويل شوې دي چې غمی جدا نه ؤو. او د بحث لاندې حديث کې دي چې غمی بېل جوړ شوی ؤو. د دې جواب دا دی چې دا يوې ګوتمې خبره نه ده بلکې د ډېرو ګوتمو قصه ده. د ځينو يو ځای ؤو او ځينو کې غمی د جدا عنصر ؤو.

مما يلي كفه: يعنې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عاجزئ او د زهد او تقوی او د ترک زينت له نظره به د ګوتمې غمې د تلي ارخ ته ساتلو. (مرقات۸/۱۸۵)

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګوتمه به د چا لاس په خنصره ګوته کې وه

﴿۷﴾وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې ګوته کې وه. حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې

---

[1] رقم الحديث ۴۳۸۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۸ رقم الحديث (۶۲-۲۰۹۴) وابوداود في السنن ۴/۴۲۴ رقم الحديث ۴۲۱۶.

وَأَشَارَ إِلَى الْخِنْصِرِ مِنْ يَدِهِ الْيُسْرَى. رَوَاهُ مُسلم[1]

ويلو سره د چپ لاس کچي ګوتي اړخ ته اشاره وکړه.

کومه ګوته کې ګوتمه واچولی شي؟

۹۱﴾وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم إِن أَتَخَتَّمَ

حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه د دې نه منع کړم چې زه خپلې دې

إِصْبَعِي هَذِهِ أَوْ هَذِهِ قَالَ: فَأَوْمَأَ

ته کې يا دې ګوته کې ګوتمه واچوم. راوي وايي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې ويلو سره مينځنۍ

إِلَى الْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِيهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

ګوته او د هغې سره نزدې ګوته يعنې د شهادت ګوتې اړخ ته اشاره وکړه.

ضيح: ګوتمې د اچولو مستحب طريقه دا ده چې د چپ لاس وړه ګوته کې واچولی شي. مينځنۍ او بابه(يعنې مسواکه يا وزيره ګوته) کې د اچولو نه ممانعت راغلی دی، لکه څنګه چې د بحث ندې حديث کې دي. لهذا دا مکروه تنزيهي دی، ځکه داسې اچول نه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ابت دي، نه د صحابؤ نه ثابت دي، نه د تابعينو نه ثابت دي. دغه شان په موټه ګوته کې اچول هم ابت نه دي، خو دا پابندي او ممانعت د نارينؤ لپاره دی. د ښځو لپاره ممانعت نشته دی. هغوی که دواړو لاسونو په کومه ګوته کې اچوي ټول جائز دي. (مرقات ۱۸۶/۸)

الفصل الثاني

د نارينؤ لپاره ښي او چپ لاس کې ګوتمه اچول هم جائز ده

۹۲﴾عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ.

حضرت عبد الله ابن جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ګوتمه خپل ښي لاس کې

---

[1] رقم الحديث ۴۵۸۹ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۹/۳ رقم الحديث (۶۳-۲۰۹۵)

[2] رقم الحديث ۴۳۹۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۵۹/۳ رقم الحديث (۶۵-۲۰۷۸) والنسائي في ۱۷۷/۸.

رَوَاهُ ابْن مَاجَه[1] وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ عَن عَلِيّ[2]

اچوله. (ابن ماجه، ابو داؤد او نسائی د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړې دي)

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتختم فِي يسَاره. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[3]

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ګوتمه خپل چپ لاس کې اچوله.

سره زر او ريښم د نارينۍ لپاره حرامه دي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ حَرِيرًا

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ريښمي توته را واخسته او هغه يې

فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمَّ

خپل ښي لاس کې ونيوله دغه شان سره زر يې را واخستل او هغه يې خپل چپ لاس کې ونيوله او بيا

قَالَ: إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمتي . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ[4]

يې وفرمايل چې زما د امت نارينۍ لپاره دا دواړه څيزونه حرام دي. (مسند احمد، ابو داؤد، نسائی)

توضيح: يعنې يو لاس کې يې ريښم ونيول او بل لاس کې يې سره زر ونيول او اعلان يې وکړو چې دا دواړه څيزونه زما په امت باندې حرام دي. (او د ښځو لپاره حلال دي) ځينې بې همته خلک د سرو زرو ګوتمه په دې بهانه اچوي چې که چرې حادثه وشي نو دا ګوتمه به خرڅه کړو او سفر کې روپئ پکار راشي. زه وايم چې بيا يې جيب کې کېږده، اچوي يې ولي؟ او د مصيبت د راتلو نه مخکې به د دې انتظار کوي نو بيا به مصيبت رائي. عافيت ولي نه غواړي؟ (مرقات ۱۸۷/۸)

لږ مقدار کې سره زر استعمالیدلی شي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ رُكُوبِ النُّمُورِ

او د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پرانک د څرمن زين باندې سورېدلو

---

(1) رقم الحديث ۴۳۹۱ أخرجه الترمذي في السنن ۲۰۰/۴ رقم الحديث ۱۷۴۴ والنسائي في ۱۷۵/۸ رقم الحديث ۵۲۰۴

(2) رقم الحديث ۴۳۹۲ أخرجه أبوداود في السنن ۳۴۱/۴ رقم الحديث ۴۲۲۶ والنسائي في ۱۷۴/۸ رقم الحديث ۵۲۰۳

(3) رقم الحديث ۴۳۹۳ أخرجه ابوداود في السنن ۴۳۱/۴ رقم الحديث ۴۲۲۷.

(4) رقم الحديث ۴۳۹۵ أخرجه ابوداود في السنن ۴۳۷/۴ رقم الحديث ۴۲۳۹ والنسائي في ۱۶۱/۸ رقم الحديث ۵۱۵۰ .

وَ عَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ إِلَّا مُقَطَّعًا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

نه منع کړي ده. دغه شان نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نارينۍ لپاره د سروزرو اچولو نه منع کړي ده، خو دا چې هغې ډېر لږ وي.

توضيح الا مقعاً: د سروزرو پارچو او ټوټو باندې د مقطع اطلاق شوی دی. مراد ترېنه لږ مقدار سره زر دي، لکه څنګه چې لږ مقدار کې د سروزرو ريبنم اجازت دی. دغه شان د ډېر لږ مقدار د سروزرو د استعمالولو هم اجازت دی، لکه د تورې خولئ او موتې باندې وي. د سروزرو ميخ وربانديې ټک وهل شوی وي يا د سروزرو معمولي تارپه يو څيز کې استعمال کړی شوي وي يا ګوتمه يا اسلحه وغيره ته د سرو اوبه ورکړی شوي وي يا د سات ستنې وغيره کې سروزرو څه ذرې وي، دا لږ مقدار حرام نه دی. همدغې د مقطعاً د الفاظو نه مستثنی ګڼلی شوي دي. (مرقات ۱۸۸/۸)

د اوسپني او پيتلو ګوتمه استعمالول منع دي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ عَلَيْهِ خَاتَمٌ

او د حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو کس نه چې د پيتلو

مِنْ شَبَهٍ: مَا لِي أَجِدُ مِنْكَ

ګوتمه يې اچولې وه وفرمايل چې په ما څه شوي دي چې ما له ستاسو نه د بوتانو بوی راځي. يعني د هغه کس مخې ته يې

رِيحَ الْأَصْنَامِ؟ فَطَرَحَهُ

داد تعريض په توګه وويل چې په عامه توګه بوتان د پيتلو نه جوړېږي، نو هغه کس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا ناخوبنې ليدلو سره

ثُمَّ جَاءَ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ

هغه ګوتمه غوزاره کړه. بيا چې دوباره هغه کس راغلو نو د وسپنې ګوتمه يې اچولې وه. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې ليدلو

مِنْ حَدِيدٍ فَقَالَ:

سره وفرمايل چې په ما څه شوي دي چې په تاسو کې د دوزخيانو کالی وينم (يعني نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا خبره هم د تعريض

مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ

پتوګه په دې بناء وفرمايل چې کافرانو کې څه خلک چې په دنيا کې د وسپنې څيزونه اچولي يا دې ارشاد کې دې ارخ ته اشاره وه

حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ؟

چې کافرانو ته چې په دوزخ کې کوم طوق او زنځيرونه اچولی کېږي هغه به د وسپنې وي نو ځکه د وسپنې ګوتمه اچول د دوزخيانو

---

[1] رقم الحديث ۴۳۹۶ اخرجه ابوداود في السنن ۴۲۸/۴ رقم الحديث ۴۲۲۳ والترمذي في ۲۱۸/۴ رقم الحديث ۱۷۸۵.

فَطَرَحَهُ	فَقَالَ:	يَا	رَسُولَ	اللهِ
سره مشابهت اختيارول دي) نو هغه که دا ګوتمه هم غوزاره کړه او عرض يې وکړو چې اې د الله رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!				
مِنْ	أَيِّ	شَيْءٍ	أَتَّخِذُهُ؟	قَالَ: مِنْ	وَرِقٍ	وَلَا
نو بيا زه د څه شيز ګوتمه واچوم؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل "د سپينو زرو او چې هغه هم د						
تُتِمَّهُ مِثْقَالًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1] وَقَالَ مُحْيِ السُّنَّةِ وَقَدْ صَحَّ عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ						
سپينو زرو پوره مثقال نه وي". (روايت کړي دي ترمذي، ابو داؤد، نسائي) او محي السنة وائي چه						
فِي الصُّدَاقِ	أَنَّ	النَّبِيَّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	
د سهل ابن سعد نه صحيح روايت منقول دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو سړی ته وفرمايل (چه د نکاح خواهش						
قَالَ	لِرَجُلٍ	وَلَوْ خَاتَمًا	مِنْ	حَدِيدٍ		
منډ وو) چې د ښځې د مهر د پاره د مال د قسم نه يو شي تلاش کړه اګر که هغه د اوسپنې ګوتمه وي						

توضيح شبه: پيتل ته شبه وايي. دا چې دا په سور والې کې د سرو زرو سره مشابه وي نو ځکه ورته شبه ويل شوی دی. (مرقات ۱۸۸/۸)

ريح الاصنام: دا چې پيتل او د تانبې نه عموماً بوتان جوړيږي، نو ځکه يې د بوتانو ذکر کړی دی. (مرقات ۱۸۸/۸)

حديد: د وسپنې کالی يې د ناکاره خلکو کالی ګڼلی دی، ځکه چې د دوزخ والا دا په دنيا کې استعمالوي يا دې ارخ ته اشاره ده چې ناکاره خلکو ته به دوزخ کې د وسپنې طوق اچولی کيږي. لهذا کوم خلک چې دنيا کې د وسپنې ګوتمه اچوي نو هغه د هم هغوی سره مشابهت کوي. پيتل او د کانسی ګوتمه د نارينۍ لپاره مکروه تحريمي ده. او د سرو زرو ګوتمه حرامه ده. (کذا في فتاوى قاضي خان) (مرقات ۱۸۹/۸)

ورق: "واو" باندې زبر دی. "را" باندې زير دی او سکون هم جائز دی. سپينو زرو ته وايي. (مرقات ۱۸۹/۸)

ولا تتمه مثقالاً: يعنې يو مثقال سره زره وي. بلکې د دې نه کم وي. (مرقات ۱۸۹/۸)

قال محي السنة: د شوافو حضراتو په نزد دا چې د وسپنې ګوتمه استعمالول جائز دي، نو ځکه محي السنة رحمه الله د بحث لاندې حديث لپاره د يو مقابل حديث حواله ورکړې ده. چې کوم کې د مهر په بدل کې د وسپنې ګوتمه د ورکولو ويل شوي ده. چې د هغې د دې د جواز پته لږي. احنافو د هغې جواب دا ورکوي چې حضرت سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت په هغه زمانه باندې محمول دی چې د وسپنې د ګوتمې ممانعت او د حرمت حکم نه ؤو راغلی. ګويا کې د بحث لاندې حديث د هغې لپاره ناسخ

([1]) رقم الحديث ۴۳۹۶ أخرجه ابوداود في السنن ۴۲۸/۴ رقم الحديث ۴۲۱۰ والترمذي في ۲۱۸/۴ رقم الحديث ۱۷۸۵.

دی. یا د هغې د وسپنې ګوتمه مراد نه ده. بلکې د خاتم حدیث نه شئ قلیل ارخ ته اشاره ده. چې مهر هغه ګڼه هم ویي. کتاب النکاح کې تفصیل شته دی. (مرقات۸/۱۸۹)

هغه لس شیان چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به بد ګڼل

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ عَشْرَ خِلَالٍ: الصُّفْرَةَ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به لس شیان بد ګڼل یو خو زیړ والی

يَعْنِي الخلوق وتغييرَ الشيب وجر الأزرار

یعني د خلوق استعمال یو بل ته، دویم د بوډه والي د بدلولو، درېم د بنګړو نه لاندې تهبند یا پاجامه

وَالتَّخَتُّمَ بِالذَّهَبِ وَالتَّبَرُّجَ بِالزِّينَةِ لِغَيْرِ مَحِلِّهَا

زوړندولو سره ګرځېدل، څلورم د نارینۍ لپاره د سرو زرو ګوتمه اچول، پنځم د بنځو بې ځایه د زینت

وَالضَّرْبَ بِالْكِعَابِ وَالرُّقَى إِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ

بنکاره کول، شپږم د نرد (زمری) لوبول، اؤوم د معوذاتو نه بغیر د دمونو کولو، اتم د کوډو او

وَعَقْدَ التَّمَائِمِ وَعَزْلَ الْمَاءِ لِغَيْرِ مَحِلِّهِ وَفَسَادَ الصَّبِيِّ

تعویذونو زړوندولو، بې ځایه عزل یعني د بنځې د شرمګاه نه منی غوزارول، د ماشوم خرابو، اګر

غَيْرَ مُحَرِّمِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

که دې ته به یې حرام نه ویل. (ابوداؤد، نسائی)

توضیح: الصفرة: دا د یو زیړ رنګ عطر دي. چې د بنځو لپاره خاص دي. د نارینۍ لپاره نه دي. دې ته خلوق هم وایي. شاعر ساحر وایي: ـ

خلوقية في خلوقيه سوداء من عنت الثعلب

وتغيير الشيب: د دې یو مطلب دا دی چې سر او ږیره کې سپین ویښتان یو یو کتل او د هغې راویستل. دا د بوډه والي د بدلو به معنی کې دی. دویم مطلب دا دی چې د سپینو ویښتانو ته خضاب لګول منع دی. (مرقات۸/۱۹۰)

سوال: د دې حدیث نه معلومیږي چې نکریزي لګول هم منع دي. حال دا چې حدیثونو کې د دې

---

[1] رقم الحديث ۴۳۹۷ أخرجه ابوداود في السنن ۴۲۸/۴ رقم الحديث ۴۲۲۲ والنسائي في ۱۴۱/۸ رقم الحديث ۵۰۸۸ .

ترغیب موجود دی؟ **جواب**: دا چې د نکریزې د خضاب تغیر الشیب نه مستثنی دی. حدیثونو کې د دې استثناء موجوده ده. گویا کې په ابتداء کې د تغیر الشیب مطلق ممانعت ؤو. بیا د نکریزو اجازت ملاو شو. دویم جواب ملا علي قاري کړی دی. ډېر ښه جواب دی. فرمایي چې د بحث لاندې حدیث کې چې د بوډه والي د بدلولو نه د هغې پټول مراد دی. او بوډه والی یا په تور خضاب سره پټېږي یا سپینو ویختانو ویستلو سره پټېږي، ځکه دې سره اشتباه رائي. پاتې شو د نکریزو رنګ نو دې سره هیڅ د التباس او اشتباه امکان نشته دی. دا خو د بوډه والي اظهار او اعلان دی، نو ځکه دې حدیث کې د نکریزو د استعمالول بحث نه دی شوی، نو هیڅ اعتراض نشته دی. (مرقات ۱۹۰/۸)

التبرج: زینت اختیارول او ډول او سنګار ته تبرج وایي.

لغیر محلها: یعنې بې ځایه د زیب او زینت اظهار منع دی، لکه د نااشناؤ مخې ته. باقې په موقع او محل کې ډول او سنګار جائز دی، لکه د خاوند او د محارمو مخې ته. (مرقات ۱۹۰/۸)

بالکعاب: دا د کعب جمع ده. زمري د ګیټګو په معنې باندې دی چې پانس□ هم ورته وایي. چې د خټې په شانه په ګوزارولو سره لوبولی کیږي. دا د جوارئ یو قِسم دی. د احنافو په نزد شطرنج کول هم منع دی. د چوسر خو خبره بله ده. (مرقات ۱۹۱/۸، ۱۹۰)

رقی: دا د رقیة جمع ده. د دې نه منتر وغیره لوستلو سره دم کول مراد دي. چې شرعاً منع دی.

لابامعوذات: یعنې د قرآن په آخر کې دوه معوذتین په ذریعه که کوم کس دم دُرخا کوي هغه جائز دی. دغه شان قرآن او حدیث کې چې کوم تعوذات ذکر دی. هغه هم مراد دی. چې اجازت یې شته دی.

والتمائم: دا د تمیمة جمع ده. عر کې د منکو (دانو) او د هډوکو یوځاي کولو سره د هار جوړول او بیا د ماشومان به غاړه کې اچول رواج ؤو چې ماشومانو ته بد نظر ونه لږي. د اسلام پاک نظام دا منع کړل. د جاهلیت همدغه رواج ته شاعر اشاره کوي او وایي (مرقات ۱۹۱/۸)

واذا المنیة انشبت اظفارها ۰ الفیت کل تمیم لا تنفع

الغرض کوم تعویذونه چې مشرکانه او مبتدعانه یا په غیر معروف الفاظو باندې مشتمل وي هغه منتر دی او ناجائز دي، خو کوم تعویذونه کې او اوراد او ظائف چې په قرآن او حدیث کې وي هغه جائز دي. دواړو کې فرق ضروري دی. د ټولو نفي مناسب نه ده. **و عزل الماء**: یعنې بې ځایه عزل کول منع دی. په موقع عزل هغه دی چې د خپلې ښځې سره سړی په جماع کې سړی د ښځې د رضا نه بغیر عزل وکړي او که د وینځې سره سړی په جماع کې عزل کوي نو هغه برمحل دی بې محل نه دی.

وفساد الصبی: د دې جملې مطلب دا دی چې د مور په غېږه کې د شودو ماشوم دی. خاوند د ښځې سره جماع وکړه. چې د هغې په نتیجه کې هغه حامله شوه. چې د هغې په وجه د مور شوده د صحت لپاره مضر شول. چې شوده څښونکی ماشوم پرې خرابېدلی شي. چې داء الغیل ورته وایي. چې بیان یې په کتاب

یکې کې شوې ده. ځکه به ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوښ نه وو. (مرقات ۸ ۱۹۱)

غیر مختونه: یکړه ده چې نه وقع ده. چې منصوب دی. یعنې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به ده عمل نه خپلو خو حرمه به یې ورته نه ویل یعنې نه شوده او لا هم شوه ده مور سره جماع به یې حرام نه ګڼله یکې صرف هغه څخه نفرت به نه خوښوله. (مرقات ۸ ۱۹۱)

بڼځه له اواز کونکې زر اغوستل منع دي

(۱۵) وَعَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ: أَنَّ مَوَالَاةً لَهُمْ ذَهَبَتْ بِأَبْنَةِ الزُّبَيْرِ

د حضرت ابن زبیر رضی الله عنه روایت دی چې هغې له زده شوې وینځې د حضرت زبیر رضی الله عنه لور ده

إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ

عمر رضی الله عنه خدمت کې پیش کړه. هغه د مشومې په پښو کې ګونګړې وو. حضرت عمر رضی الله عنه

فَنَهَاهَا عمر وَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَعَ كُلِّ جَرَسٍ

هغه ګونګړې څوځ کړه او وې فرمایل چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه ورښې دي چې هر ګونګړې سره

شَيْطَانٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

شیطان وي. (ابو داؤد)

تشریح جرس: د ګونګړې و شپیونکی ګینګړی ته وایي. د بڼځې په زیورانو کې که دغه شان ګونګړي وي نو هغې ستعمل هم غه منع دي. لکه څنګه چې ټرن او شنګول منع دي. ډو ماشومانو وسپو د نورو ځناورو په څیر کې ګونګړې چون منع دي. ټرونکې به ګنده ګران وي. ځکه ماشوم خو شیر کف دي. (مرقات ۸ ۱۹۲)

(۱۶) وَعَنْ بُنَانَةَ مَوْلَاةِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَيَّانَ الْأَنْصَارِيِّ

د حضرت عبدالرحمن ابن حیان انصاري رضی الله عنه د آزاد شوې وینځې بنانه نه روایت دی چې هغه (یو وړځ) د

كُنْتُ عِنْدَ عَائِشَةَ إِذْ دُخِلَتْ عَلَيْهَا بِجَارِيَةٍ

حضرت عائشه رضی الله عنها سره وه چې د حضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کې یو وړه جینۍ راوستلی شوه. چې ګینګړې

وَعَلَيْهَا جَلَاجِلُ يُصَوِّتُنَ فَقَالَتْ:

ورته چې ډوډو هغې شرنګار کونو. حضرت عائشه رضی الله عنها (د هغه جینۍ راوستونکې بڼځې ته) وفرمایل چې دا

لَا تُدْخِلُنَّهَا عَلَيَّ إِلَّا أَنْ تُقَطِّعْنَ جَلَاجِلَهَا
جینئ تر هغه وخت پوري زما خوا له مه راولئ چې تر څو پوري ترښه دا ګینګرې غوزار نه کړی شي.
سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا
ځکه ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې هغه کور ته (د رحمت) فرښتي نه داخلیږي چې کوم کې
فِيهِ جَرَسٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
د باجې پشان څیز موجود وي.

توضیح الجلا جل: دا د **جلجل** جمع ده. شرنګ کونکې ګونګرو ته وایي. د دې نه مخکې حدیث کې د "جرس" تفصیل او جلجل تفصیل یو شان دی. (مرقات ۱۹۳/۸)

د شرعي مجبورئ په وخت کې د سروزرو استعمال جائز دی

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ أَنَّ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ بن أسعد قُطِعَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ
د حضرت عبدالرحمن ابن طرفه نه روایت دی چې د هغې نیکه حضرت عرفجه بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوزه
فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ
د کلاب په جنګ کې غوڅه کړی شوې وه. هغې د سپینو زرو پوزه جوړه کړه، خو هغې کې بوبوې پیدا شوه،
فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[2]
نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته د سرو زرو پوزه د جوړولو حکم وکړو. (ترمذی، ابوداؤد، نسائی)

توضیح یوم الکُلاب: کاف باندې پیش دی. **کُلاب** د یو ځای نوم دی. د جنګ د ورځ په معنی کې دی. یعنې د کلاب په جنګ کې د دې صحابي پوزه غوڅه کړی شوې وه. هغې د سپینو زرو پوزه جوړه کړه، خو هغې کې بد بویې پیدا شوه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته د سرو زرو پوزه د جوړولو حکم وکړو. سروزرو سره زخم ژر صحیح کیږي. د دې نه معلومه شوه چې د مجبورۍ په وجه د سرو زرو استعمالول جائز دي. فقهاؤ د د پوزه جوړولو او غاښونو کې د سروزرو تار استعمالول جائز لیکلي دي. امام محمد رحمه الله غاښونو کې د سرو زرو تار ترل هم جائز لیکلي دي. (مرقات ۱۹۱/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۲۳۹ أخرجه ابوداود في السنن ۴۳۳/۴ رقم الحديث ۴۲۳۱ وأحمدفي المسند ۲۴۲/۶

(2) رقم الحديث ۴۲۰۰ أخرجه ابوداود في السنن ۴۳۴/۴ رقم الحديث ۴۲۳۲ والترمذي في ۲۱۱/۴ رقم الحديث ۱۷۷۰.

په زرو کې د زکوة ورکولو باندې سخت وعید

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَحَبَّ

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل "کوم کس چې خپلو خپلوانو

أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلَقَةً مِنْ نَارٍ فَلْيُحَلِّقْهُ

(یعني بڼځې یا د اولاد وغیره ته پوزه یا غوږ کې) د اور حلقه (کړئ) اچول خوښوي نو هغې ته دي

حَلَقَةً مِنْ ذَهَبٍ وَمَنْ أَحَبَّ

د سروزرو حلقه ضرور واچوي (یعني د سروزرو والئ اچولو سزدا ده چې هغې ته بدا ورو والئ اچولی کړي) کوم کس چې د

أَنْ يُطَوِّقَ حَبِيبَهُ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَلْيُطَوِّقْهُ طَوْقًا مِنْ ذَهَبٍ

خپلو خپلوانو په غاړه کې د اور طوق اچول خوښوي نو هغې ته په غاړه کې د سروزرو کلوبند واچوي

وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُسَوِّرَ حَبِيبَهُ سِوَارًا مِنْ نَارٍ

او کوم کس چې خپلو خپلوانو ته په د اور بنګړی اچول خوښوي نو هغې ته د سروزرو بنګړی ضرور واچوي خو د

فليسوره مِنْ ذَهَبٍ وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوا بِهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

سپینو زرو د استعمال اجازت تاسو ته شته دی چې تاسو هغه استعمالولی او په تصرف کې راوستلی شئ.

توضیح ان یحلق حبیبه: یعني خپلو خپلوانو مثلاً اولاد او بڼځې ته د اور حلقه او چول غواړي نو هغې ته دې د سرو حلقه او زیور واچوي. **سوال**: دې حدیث کې د سروزرو زیوراتو په استعمالولو باندې سخت وعید اورول شوی دی. دغه شان د دې حدیث نه وروسته حدیث نمبر ۱۹ او حدیث نمبر ۲۰ کې د سروزرو په مختلفو زیوراتو په استعمال باندې د سخت وعید ذکر دی. حال دا چې د دې نه مخکې ډېرو حدیثونو کې زیورات د بڼځو لپاره جائز کړی شوي دي. دا واضحه تعارض دی. د دې څه حل دی؟ **جواب**: علماؤ د دې حدیثونو په تطبیق کې ډېر تاویلونه کړي دي. چې د دې پوښتنې جواب ترینه راوتلی دی. علامه خطابی فرمایي چې یو تاویل او جواب دا دی چې د اسلام په ابتداء کې د نارینۀ پشان د بڼځو لپاره هم د سروزرو د زیوراتو استعمال منع ؤو. د بحث لاندې حدیث تعلق د هغه زمانې سره دی. بیا د بڼځو لپاره د سروزرو زیورات جائز کړی شو، لکه څنګه چې د دې نه مخکې د حضرت علي رضي الله عنه په حدیث نمبر ۱۱ کې ذکر دي. دویم جواب دا دی چې د بحث لاندې حدیث تعلق د هغه بڼځو د زیوراتو سره دی چې د دې زیوراتو زکوة نه ادا کوي. زکوة اګر که د سپینو زرو په زیوراتو کې هم وي خو د سروزرو اهمیت په دې وجه ذکر کړی شوی دی. یو جواب دا

---

(۱) الحديث ۴۲۰۱ اخرجه ابوداود في السنن ۴۳۶/۴ رقم الحديث ۴۲۳۷ واحمد في المسند ۳۳۴/۲.

ده کېدی شي: دا صنعت تعلق د تکبر و تفاخر سره وي. بهرحال ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ وېلي چې دې جواب سره د حنفو هغه موقف و ضاحه مخې ته راغلو چې زیور تو کې زکوة نشته دی. فالعبوا بها: یعنې سپینو زرو کې خه تصرف خو پرې هغه کوئ. لعب په معنی د لوبې نه تصرف مراد دی.

(۴۸) وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَيُّمَا امْرَأَةٍ

د حضرت اسماء بنت یزید رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل "کومه ښځه چې

تَقَلَّدَتْ قِلَادَةً مِنْ ذَهَبٍ قُلِّدَتْ فِي عُنُقِهَا مِثْلُهَا مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د سروزرو میل چوې نو د قیامت په ورځ به د هغې په غاړه کې همغه شان د اور میل اچولی

وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ جَعَلَتْ فِي أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ جُعِلَ اللهُ فِي أُذُنِهَا مِثْلَهُ

کېږي. او کومه ښځه چې په غوږ کې د سروزرو بالا یا بنی چوې نو د قیامت په ورځ به الله د هغې په

مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

غوږ کې همغه شی د اور بالا یا بنی چوي.

توضیح لغت: قلادة: غاړې میل ته وېلي. خرصا: خړبندي پیش و زیرد و پدویل کېدی شي. د هغه وړې حلقې ته وېلي چې په غوږ کې چوئ کېږي. د غوږ بو بالا یا بالی مراد دی. د حضرت صې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د روایت نمبر ۱۱ بندې د روایت منسوخ دی. (مرقات ۸/۱۹۵، ۱۹۴)

(۴۹) وَعَنْ أُخْتِ حُذَيْفَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ

د حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ای د ښځو جمعه!

أَمَا لَكُنَّ فِي الْفِضَّةِ مَا تُحَلِّيْنَ بِهِ؟

آیا ستاسو لپاره په سپینو زرو کې هغه خبره نشته ده چې تاسو هغې زیور (کالی) جوړ کړئ (یعنې ستاسو لپاره

أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُحَلِّي ذَهَبًا

د سپینو زرو زیور جوړولو کفي دی) یاوستئ! ستاسو کې چې کومه ښځه هم د سروزرو زیور جوړوي او یاد

تُظْهِرُهُ إِلَّا عُذِّبَتْ بِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

هغه زیور (بې ځایه او بې موقع) ښکاره کوي نو هغه به د هغې عمل په بدل کې په عذاب کې اخته کېږي.

---

(۴۸) اخرجه ابوداود في لباس ۴ رقم الحديث ۴۱۳۶ والنسائي في ۸ ۱۵۷ رقم الحديث ۵۱۳۹

(۴۹) اخرجه ابوداود في لباس ۴ رقم الحديث ۴۱۳۷ والنسائي في ۸ ۱۵۶ رقم الحديث ۵۱۳۷

توضیح امالکن: آیا ستاسو لپاره دا کافي نه ده چې تاسو د سپینو زرو کالی جوړ کړئ او وایې چوئ.

تظهره: یعني د خپلو زیوراتو بې ځایه او بې محل نمائش کوي. تفاخر او تکبر کوي او نورو مسکینانو ښځو باندې خپل اچتوالی ظاهروي. د دې علت په وجه د سروزرو زیوراتو د ممانعت خبره باندې ښه پوهیدنه کیږي. او حدیثونو کې هیڅ تعارض نشته دی. د ممانعت تعلق د او د تبختر سره دی. (مرقات ۱۹۵/۸)

الفصل الثالث

جنت کې که ریښم او سره زر غواړئ نو دنیا کې ترینه ځان وساتئ

﴿۲۱﴾ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْنَعُ أَهْلَ الْحِلْيَةِ وَالْحَرِيرَ

د حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به زیور والا او د ریښمو والا

وَيَقُولُ: إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ حِلْيَةَ الْجَنَّةِ

نه منع کوله. (یعني د دې شیانو د اچولو نه به یې منع کوله) او فرمایل به یې چې که تاسو د جنت د

وَحَرِيرَهَا فَلَا تَلْبَسُوهَا فِي الدُّنْيَا . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ [1]

زیوراتو او د ریښمو خواهش لرئ چې جنت کې تاسو ته دا شیان ملاو شي نو دنیا کې دا شیان مه اچوئ.

توضیح یمنع: د نارینۍ لپاره سره زر او ریښم حرام دی. د حدیث تعلق د نارینۍ سره دی. خطاب نارینۍ ته دی. ښځو ته نه دی. **اهل الحلیة والحریر:** د دې نه مراد هغه خلک دي چې د سروزرو زیورات او د ریښمو لباس استعمالوي. (مرقات ۱۹۶/۸)

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سروزرو ګوتمه

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا فَلَبِسَهُ

او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو ګوتمه جوړه کړه او هغې یې واچوله.

قَالَ: شَغَلَنِي هَذَا عَنْكُمْ

بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (حاضرین مخاطب کړه او) وې فرمایل چې نن ورځ دې ګوتمې زه ستاسو نه مشغول کړم

مُنْذُ الْيَوْمَ إِلَيْهِ نَظْرَةً وَإِلَيْكُمْ

(یعني نن زه ستاسو اړخ ته متوجې نه شوم) ځکه کله خو دې ګوتمې ته ګورم او کله تاسو ته ګورم. او دې

---

[1] رقم الحديث ۴۴۰۴ أخرجه النسائي في السنن ۱۵۶/۸ رقم الحديث ۵۱۳۶

نظرة ثمَّ ألقاهُ . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]
(ويلو سره) نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ګوتمه راويستله او غوزاره يې کړه.

توضيح شغلئ: معلومه شوه چې د دنيا زيب او زينت سره هر کس متاثره کېدی شي، نو ځکه د هر مسلمان لپاره ترک دنيا او د ډول او سنګار نه اختراز ډېر ضروري دی. ګنې د دنيا په سمندر کې به غرق شئ.

القاها: د دې نه معلومه شوه چې دا ګوتمه د سرو زرو وه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کېدی شي چې د حرمت نه مخکې د اباحت په وخت کې اچولي وه. بيا يې غوزاره کړه. (مرقات ۸/۱۹۶)

ناجائزه لباس يا زر ماشومانو ته هم اچول منع دي

﴿۲۳﴾وَعَن مَالك قَالَ: أَنا أكره ن يُلْبَس الْغِلْمَانُ شَيْئًا مِنَ الذَّهَبِ
د حضرت امام مالک نه روايت دی چې هغې وفرمايل زه دا بد ګڼم چې هلکانو د سروزرو کوم شی واچولی شي.
لِأَنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ځکه ماته دا روايت رارسيدلی دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سروزرو ګوتمې د استعمالولو نه هم
نهى عَن التختمِ بالذهبِ
منع کړې ده. (او چې د ګوتمې پشان شی هم منع دی نو نور شيان خو به بطريق اولی منع وي) لهذا زه
فَأَنا أكره لِلرِّجَالِ الْكَبِيرِ مِنْهُمْ وَالصَّغِيرِ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّإِ[2]
د نارينۀ لپاره (سرزرو اچول) بد ګڼم. هغه که غټ وي يا که ماشومان وي.

توضيح والصغير: يعنې کوم او زيورات چې د نارينۀ لپاره منع دي هغه ماشومانو ته اچول هم منع دي. مثلاً د ريښمو لباس وړو ماشومانو ته منع دی. دغه شان د سروزرو ګوتمه هم وړو هلکانو ته اچول منع ده. دغه شان د سپينو زرو تعويذونه يا نور زيورات وړو هلکانو ته اچول منع دي. که غټو ور واچول نو هغه به ګناه ګار وي. زير بحث حديث کې د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د دې فتوی مطلب او مقصد همدغه دی.

([1]) رقم الحديث ۴۴۰۵ أخرجه النسائي في السنن ۸/۱۹۴ رقم الحديث ۵۲۸۹

([2]) رقم الحديث ۴۴۰۶ أخرجه مالك في الموطا ۲/۹۱۱ رقم الحديث ۴ من كتاب اللباس .

باب النعال
د پیزار بیان

نعال: د نعل جمع ده. نعل هغه شي ته وایي چې د هغې په ذریعې باندې ښپې د زمکې نه ساتلی کېږي، نورو الفاظو کې دې ته د پاپوش نوم ورکولی کېږي. ښپو کې استعمالېدونکی پیزار دا چې هره زمانه کې بدلېږي رابدلېږي. هر قوم کې د لباس جدا جدا رواج وي. کله چېرې کله بوټان وغیره وي، ځکه دا د جمعي عنوان سره ذکر کړی شوی دی. دي باب کې اصل کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه پیزارو د هئیت او د صفاتو بیان مقصود دی. چې کوم هغه دور کې د اهل عربو رواج ؤو.

دا چې هغه زمانه کې هم رائج شوي بوټان په مختلق قِسمونو کې ؤو، ځکه د جمع صیغه "نعال" استعمال کړی شوی ده. (مرقات ۱۹۹/۸)

الفصل الاول
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معیاري پیزار

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النِّعَالَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کوم پیزار مبارک اغوستلو باندې

الَّتِي لَيسَ فِيهَا شعرٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]

لیدلی دی هغې کې ویختان نه ؤو.

توضیح شعر: څرمن ته چې کله ښه کلک رنګ ورکړی شي نو پاک او اعلیٰ شي. او د هغې تور ویختان وخیجي، خو که څرمن مدبوغ او مصبوغ شوې نه وي نو هغه اوچه شي او ویختان د هغې د پاسه پاتې شي. دغه قسمه څرمت زیاته ښه نه وي. د بحث لاندې حدیث مطلب همدغه دی. چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پیزار باندې ویختان نه ؤو. یعني د ښه څرمن نه جوړه شوې وه. (مرقات ۱۹۹/۸)

﴿۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: إِنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم كَانَ لَهَا قبالان. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[2]

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پیزار کې دوه مزي ؤو. (بخاری)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۰۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۸/۱ رقم الحديث ۵۸۵۱ ومسلم في ۸۴۴/۲ رقم الحديث (۲۵-۱۱۸۷)

[2] رقم الحديث ۴۴۰۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۱۲/۱۰ رقم الحديث ۵۸۵۷ وابوداود في ۳۷۵/۴ رقم الحديث ۴۱۳۴.

توضیح قبالان: دا تثنیه ده. د دې مفرد قبال دی. د بوټ د مزی هغه برخې ته وایي چې د ګوتو په مینځ کې وي. د دې حدیث مطلب دا دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بوټانو کې دوه مزي ؤو. چې د مخې ته د ګوتو سره به پیوسته ؤو. یو مزی خو به د موټې ګوتې او ورسره پیوسته ګوتې په مینځ کې ؤو. چې کوم نن سبا په هوائی چپلو کې وي. او بل مزی به د قریب وسطی او د هغې سره نزدې بنصر (مسواکه) ګوتې به مینځ کې ؤو. چې سره بوټ په پښو کې مضبوط وي. او دا په هغه زمانه کې رواج ؤو. نن سبا دا رواج عام نه دی. اهل سیرت د بحث لاندې کې د ذکر شوې بوټ نقشه لیکلې ده. اهل بدعتو دا عام کړې ده. (مرقات ۲۰۰/۸)

د بوټانو اهمیت

﴿۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې زه د یوې غزوې په موقع چې جنګ په کې وشو (جهاد ته د تللو

فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا يَقُولُ: اسْتَكْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ

وخت کې) مې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا واورېدل چې ډېر بوټان واخلئ ځکه چې سړي بوټان

رَاكِبًا مَا انْتَعَلَ. رَوَاهُ مُسلم[1]

په پښو کړې وي نو سپور پشان وي.

توضیح: فی غزوة: د بوټانو د اهمیت له نظره په اهتمام سره دا اعلان د غزوه تبوک په موقع نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی ؤو. دا چې د سفر دور ؤو، پیدل هم ؤو. سخته ګرمي هم وه، نو ځکه د بوټانو ضرورت ؤو. لهذا د بوټانو د اهمیت اړخ ته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره وکړه چې تر څو پورې د سړې په پښه کې بوټان وي ګویا کې هغه کس د سپور پشان دی، ځکه د بوټانو سره سړی تیز مزل کوي. پښې نه زخمي کېږي. او د یخنۍ او د ګرمۍ د ټکر نه محفوظ وي. (مرقات ۲۰۱/۸)

ما انتعل: ای ما دام الرجل لابس النعل یکون کالراکب. (مرقات ۲۰۱/۸)

د بوټ د پښو ګولو او ویستلو مسنونه طریقه

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو کې کوم بوټانو اچوي

---

(۱) رقم الحدیث ۴۲۰۹ أخرجه مسلم في صحیحه ۱۶۲۰/۳ رقم - - ۶۶-۲۰۹۶) وأبوداود في السنن ۳۷۵/۴

فَلْيَبْدَأْ	بِالْيُمْنَى	وَإِذَا	نَزَعَ	فَلْيَبْدَأْ	بِالشِّمَالِ
نو هغې له پکار ده چې د ښي پښې نه شروع وکړي يعنې اول ښي پښه کې بوټ واچوي او چې کله بوټان وباسي نو					
لِتَكُنِ	الْيُمْنَى	أَوَّلَهُمَا	تُنْعَلُ		
د چپې پښې نه دې شروع کوي يعنې اول د چپې پښې نه بوټ وباسې. حاصل دا چې ښي پښه د اچولو					
وَآخِرَهُمَا	تُنْزَعُ	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]			
وخت کې مخکې کول پکار دي. او د ويستلو وخت کې وروسته کول پکار دي.					

توضیح: **بالیمنی**: اسلام ښي اړخ ته اعزاز او اکرام حاصل دی. لهذا ښي پښه د چپې پښې په نسبت زیاته د احترام قابل ده. دلته د بوټ اچول د بوټ د ویستلو په نسبت زیات د اکرام او د اعزاز سبب دی. د دې قاعدې له نظره حدیث کې مسلمانانو ته دا تعلیم ورکړی شوی دی چې کله بوټان اچوئ نو د شروع د ښي پښې نه کوئ چې د اعزاز قابل اندام ته اول اعزاز حاصل شي. او چې کله بوټان وباسئ نو شروع د چپې پښې نه کوئ چې د بوټانو د اچولو اعزاز تر ډېره وخت پورې ښې پښې ته حاصل وي. ګویا کې د دې اعزاز ابتداء او انتهاء کې د ښې پښې لحاظ ساتلی شوی دی. د "ان الله یحب التیامن الخ" حدیث باندې ښه عمل وشو. (مرقات ۲۰۱/۸)

یو ښپه کې بوټ او بله لغړه بې کاره عمل دی

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَمْشِي أَحَدُكُمْ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو کې هیڅ یو کس
فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ لِيُحْفِيهُمَا جَمِيعًا أَوْ لِيَنْعَلْهُمَا جَمِيعًا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
یو ښپه کې بوټ اچول سره نه ګرځي. دا ضروري ده چې یا خو دواړه پښې برابرې وي یا دواړو پښو کې بوټان وي.

توضیح: **فی نعل واحدة**: شمائل ترمذی کې نعل واحد کې د ګرځېدلو روایت دی. راروان حدیث نمبر ۹ کې پوره تفصیل لیکلی شوی دی. هلته یې وګورئ. دلته د حدیث مطلب دا دی چې که که بوټان اچوئ نو په دواړو پښو کې یې اچوئ. که نه یې اچوئ نه په دواړو کې یې مه اچوئ. یو پښه کې بوټ اچول او بل بله بربنډه ساتل مکروه تنزیهي دي، ځکه داسې کول د تهذیب او د شائستګی خلاف دی. چې بې کاره خکاري. او بل دا چې دې کې تکلیف او پریشاني هم ده. چې یو پښه اوچته

---

[1] رقم الحديث ۴۴۱۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۱۱/۱۰ رقم الحديث ۵۸۵۶ ومسلم في ۱۶۶۰/۳ رقم الحديث (۶۷/۲۰۹۸)

[2] رقم الحديث ۴۴۱۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۰۹/۱۰ رقم الحديث ۵۸۵۵ ومسلم في ۱۶۶۰/۳ رقم الحديث (۶۸-۲۰۹۷)

وي او يو لاندې وي. تللو کې مشکل وي. د غورځېدلو خطر دی. (مرقات ۸/۲۰۳)

وليحفها: دا د احفاء نه دی. يعنې په دواړو کې بوټان واچوئ يا دواړه بربنډې کړئ. (مرقات ۸/۲۰۳)

يوه موزه کې مزل کول منع دی

﴿۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا انْقَطَعَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د يو بوټ يعنې د چپلي وغيره

شِسْعُ نَعْلِهِ فَلَا يَمْشِ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ حَتَّى يُصْلِحَ شِسْعَهُ

مزی وشلېږي نو په يو بوټ کې دي نه ځي. بلکې د هغه بوټ مزی دې صحيح کړي. د غه شان يو يو

وَلَا يَمْشِ فِي خُفٍّ وَاحِدٍ وَلَا يَأْكُلْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَحْتَبِي

مزې اغوستلو سره مه ځئ او مه په چپ لاس خوراک کوئ. د غه شان مه په يو جامه کې راغونډ شي (چې د هغې

بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ وَلَا

جامې يوه برخه د هغې ستر نه وي پټ کړی) او مه کوه مه ټوټه په بدن دا سې تاوا وئ چې لاس هم دننه

يَلْتَحِفِ الصَّمَّاءَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

وي (او د لاس راويستلو وخت کې ستر بنکاره شي)

توضيح: **شسعة:** د بوټ مزي ته شسع ويل شوی دی. يعنې که د بوټ مزی شليدلی وي نو صرف يو بوټ کې سفر مه کوئ. د غه شان په يوې موزه کې هم سفر مه کوئ، ځکه دا د تهذيب د شائستگی خلاف دی. احتباء او اشتمال الصماء کې تحقيق تير شوی دی.

الفصل الثاني

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بوټانو مزي

﴿۷﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَالَانِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پوش مبارک کې دوه مزي ؤو. چې

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۱۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۶۶۱ رقم الحديث (۷۱-۲۰۹۹) وابوداود في السنن ۴/۳۷۷ رقم الحديث ۴۱۳۷

مُثَنًّى شراکهما. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

دپښو ګوتمې به په کې وي. او هغه دواړو کې به هر مزی ډبل ؤو چې مزی مضبوط وي. او پښو کې خنډې هم نۀ.

توضیح: مثنیً شراکهما: یعنې مخې ته مزي به ډبل ؤو. چې پښې زخمي نه کړي. او په ډبل والي مضبوطې هم وي. دلته دې حدیث کې صرف د دوه مزو ذکر دی. امکان لري چې د بوټانو شاته چې کوم مزي وي هغه هم مراد وي، ځکه دغه شان بوټان استعمالېږي. او د هغې مزي ډبل کړی کېږي چې مضبوط هم وي او د پلنوالي په وجه پښو کې خنډې هم نۀ. (مرقات ۲۰۵/۸)

په ولاړه باندې د ځینو بوټانو اغوستل منع دي

﴿۸﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ

او حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ولاړه د بوټانو د اغوستلو نه منع کړې

قَائِمًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ[2]

ده. (روایت کړې دې ابو داؤد، ترمذی او ابن ماجه د ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه نقل کړې دې)

توضیح: قائماً: دا ممانعت هغه وخت دی چې په ولاړه د بوټانو اچول ګران وي، لکه بوټ وغیره پیزار دي. دا په اطیمنان سره د اچولو لپاره کیناستل غواړي چې مزی کلک وترلی شي. که په ولاړه ولاړه داسې کوي نو کله به پاسیږي او کله به غورځېږي مشقت به وي.

د حدیث دا نهي ارشادي ده. او د ځینو بوټانو لپاره ده د هر قسم بوټانو لپاره نه ده. (مرقات ۲۰۵/۸)

یو بوټ کې مزل څنګه دی؟

﴿۹﴾وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ:

او حضرت قاسم ابن محمد د حضرت عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت کوي چې هغې وویل چې

رُبَّمَا مَشَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ

نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ځینې وخت یو پیزار اچول سره مزل کولو. او یو روایت کې دا الفاظ دي

---

(1) رقم الحديث ۴۴۱۳ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۹۴/۲ رقم الحديث ۳۶۱۴

(2) رقم الحديث ۴۴۱۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۶/۴ رقم الحديث ۴۱۳۵.

وَفِي	رِوَايَةٍ: أَنَّهَا	مَشَتْ	بِنَعْلٍ	وَاحِدَةٍ.
چې حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا یو پیزار واچلو او مزل یې وکړو. ترمذی دا روایت نقل کړی دی او ویلي				
رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ:	هَذَا	أَصَحُّ [1]
یې دي چې دا روایت د اسنادو په اعتبار سره یا مفهوم او د معنی په اعتبار سره ډېر صحیح دی.				

توضیح: بنعل واحدة: یعنې کله که نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو بوټ کې د مجبوری په وجه کور ته دننه تلی ؤو. (مرقات ۸/۲۰۶)

پوښتنه: اوس پوښتنه دا ده چې دا حدیث د هغه ټولو حدیثونو سره معارض دی چې کوم کې یو بوټ پښو کولو سره د تللو نه منع کوي. د دې څه جواب دی؟

جواب: علماؤ زیر بحث حدیث کې تاویل کولو سره داسې جواب کړی دی. اول جواب دا دی چې دا حدیث صحیح نه دی. یا که صحیح دی نو معمول به نه دی. دویم جواب دا دی چې دا حدیث د جواز لپاره دی چې یو بوټ اچولو سره مزل کول حرام نه دی. دریم جواب دا دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا عمل په نادره درجه کې ؤو. او نادر د معدوم په حکم کې راځي "والنادر کالمعدوم" څلورم جواب دا دی چې د دې تعلق د کور دننه سره دی. د عام مزل سره نه دی. پنځم جواب دا دی چې دا عمل مکروه تنزیهي دیر لهذا د باقي حدیثونو او د دې حدیثونو مال او مرجع یو ده چې داسې کولو کې کراهت تنزیهي دی. یا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جواز د بیان لپاره ځپې ځل په کراهت تنزیهي باندې عمل کړی دی. چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حق کې به مکروه نه ؤو. بلکې د امت د تعلیم په بنیاد باندې به د ثواب کار شو. شپږم جواب دا دی چې اصل کې دا د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپل عمل ؤو، لکه څنګه چې په نورو روایتونو کې د دې بیان دی. او ترمذی همدغه روایت راجح ګڼلی دی. (مرقات ۸/۲۰۶)

بوټان ویستل او کیناستل د مجلس د آدابو نه دي

﴿۱۰﴾ وَعَنِ	ابنِ عبَّاسٍ	قَالَ:	مِنَ السُّنَّةِ	إِذَا جَلَسَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْلَعَ نَعْلَيْهِ فَيَضَعَهُمَا
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې دا خبره د سنت نه ثابته ده چې یو کس کینې او بوټان				
بِجَنْبِهِ.	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُدَ [2]		
وباسي او هغه خپل خوا کې کېږدي.				

توضیح: مطلب دا دی چې چې مجلس کې د بوټانو سره مه کینئ. دا د مجلس د آدابو نه خلاف دی. او د تهذیب او شائستګی هم خلاف دی. بوټان ویستلو سره به پښو ته راحت هم ملاو شي. او کس ته به هم

([1]) رقم الحديث ۴۴۱۵ أخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۱۳ رقم الحديث ۱۷۷۵، وابن ماجه في ۲/۱۱۹۵ رقم الحديث ۳۶۱۸.

([2]) رقم الحديث ۴۴۱۶ أخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۱۴ رقم الحديث ۱۷۷۷-۱۷۷۸

راحت ملاو شي. او بوټان خپل چپ اړخ ته کيښودل پکار دي چې د نبي اړخ تکريم په ځای پاتې شي. او مخې ته هم مه ږدئ چې د قبلې اړخ ته کس لمونځ کوي. شاته يې هم مه ږدئ ګڼې غل به وتښتوي.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د خفين هديه

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه نقل کوي چې نجاشي (د حبش بادشاه) د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کې

خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ

دوه توري موزې (يعنې د توري څرمنې موزې) د هديه په توګه راولېږلې چې ساده غير منقش وي، نو

فَلَبِسَهُمَا. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ. وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د طهارت په حالت کې واچولې (ابن ماجه) او ترمذی دا روايت د ابن بريد او هغې

عَنْ أَبِيهِ: ثُمَّ

د خپل پلار نه نقل کړی دی يعنې د ترمذی په روايت کې د عن ابن بريده په ځای عن ابی بريده دی او د هغې به روايت کې

تَوَضَّأَ وَمسح عَلَيْهِمَا[1]

د هغه الفاظو هم زيا تواليدی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس وکړو او په هغه موزو يې مسح وکړه.

توضيح: نجاشي به د حبشي د بادشاه لقب ؤو. د هغې نوم "اصحمه" ؤو. او دا مسلمان شوی ؤو. د جنازې لمونځ يې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی ؤو. **خفين**: پائتابې موزې مراد دي. **اسودين**: يعنې د توري څرمنې ته جوړې شوې توري وي. **ساذجين**: يعنې ساده وي. دې باندې هيڅ ګل نه ؤو نقش کړی شوی. **فلبسهما**: يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه قبولې کړې او هغې باندې يې مسح وکړه او د هغې سره يې لمونځ وکړو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه موزو باره کې دا تحقيق نه ؤو کړی چې دا د کوم قِسم حرمن نه جوړې شوي دي. آيا دا څرمن د حلال ځناور وه يا که د حرام وه؟ مدبوغ وه او که غير مدبوغ وه؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صرف دا وليدل چې د پاس نه پاکې دي. هيڅ نجاست پرې نه ځکاري. همدې باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اکتفاء وکړه. د دې نه معلومه شوه چې بهر د غير مسلمو د دنيا نه چې کوم څيزونه رائي هغې کې دومره کتل کافي دي چې په ظاهره پرې هيڅ نجاست نشته دی. دې باب کې فصل ثالث نشته دی. (مرقات ۲۰۶/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۱۷ أخرجه ابوداود في السنن ۲۷۷/۴ رقم الحديث ۴۱۳۸.

باب الترجل
سر د ږمنځولو بيان

ترجل: عربئ کې ترجل ږمنځي ته وايي. که په سر کې وي يا که په ږيره کې وي، خو په عامه توګه ترجل سر د ږمنځولو لپاره استعمالږي. او که ږيره ږمنځول وي نو د هغې لپاره د تسريح لفظ بيانږي. دا باب هم په حقيقت کې د کتاب اللباس د لاندې دي، ځکه د ږمنځي وغيره تعلق هم د بدن د ارائش و زيبائش نه دی. چې د لباس په زمره کې راځي. اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د ژوند پوره ضابطه ده، ځکه دي کې د انساني ژوند متعلق واضحه هدايات موجود دي. دي سلسله کې کې د ږمنځولو فايدې او طريق او آداب و صفات د بيانولو لپاره د الترجل عنوان ترلی شوی دی. چې ۶۸ مختلف حديثونو کې د ږمنځولو وغيره متعلق تفصيلي احکامات راغلي دي. (مرقات ۲۰۷/۸)

الفصل الاول
د حائضې ښځې بدن ناپاکه نه وي

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سر مبارک هم ږمنځ کړې وو

وَأَنَا حَائِض (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

او د حيض په حالت کې ووم

توضيح: د دې حديث نه معلومه شوه چې د حائضې ښځې بدن دومره ناپاکه نه وي چې د هغې سره بالکل لاس لږول منع وي. د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به د حيض په حالت کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سر مبارک ږمونځولو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاک بدن ن د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لاس بار بار لږبدلی ؤو.

پنځه شيان فطرت کې داخل دي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْفِطْرَةُ خَمْسٌ:

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل پنځه څيزونه په فطرت کې

---

[1] (رقم الحديث ۴۴۱۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۶۸/۱۰ رقم الحديث ۵۹۲۵ ومسلم في ۲۴۴/۱ رقم الحديث ۹-۲۹۷)

الْخِتَانُ	وَالِاسْتِحْدَادُ وَقَصُّ
داخل دي. یو خو ختنه کول، د نامه لاندې ویختان د پاکولو لپاره د وسپنې یعنې د چاړه وغیره استعمالول.	
الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ ونتفُ الإبطِ " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]	
درېم شونډو ویختان واړه کول څلورم د نوکان غوڅول او پنځم د ترخ ویختان پاکول. (بخاری مسلم)	

توضیح: الفطرة: د فطرت نه مراد د انبیاء کرامو سنت قدیمه مراد دي. ګویاکې دا څیزونه خلقی، جلبی او پیدائشی خصلتونه دي. (مرقات ۸/۲۰۸)

ختنه کې د فقهاؤ اختلاف: الختان: د شوافعو په نزد ختنه واجب ده. د احنافو په نزد سنت مؤکده ده. (مرقات ۸/۲۰۸)

دلائل: شوافعو د استدلال په توګه وویل چې د ختنه د اسلام د شعائر نه دي. او شعار واجب وي. دویم دلیل دا دی چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چې د غیر ختنه شوي کس ګواهي نه قبلېږي. او نه یې امامت قبول دی. دا دلیل وجوب دی. د احنافو ائمه فرمایي چې حدیثونو کې د فطرت لفظ راغلی دی. چې د سنت په معنی کې دی. د سنن المرسلین لفظ هم راغلی دی. دغه شان په حدیث کې دي "**الختان سنة للرجل و مكرمة للنساء**" (رواه احمد) (مرقات ۸/۲۰۸)

جواب: د شعار لفظ د وجوب لپاره یقني نه دی. سنت کې هم کېدی شي. باقي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه فتوی د هغه کس باره کې ده چې د ختنې نه انکار کوي. یا دا سپکه ګڼي.

ملاعلي قاري فرمایي چې امکان لري چې د احنافو په نزد هم ختنه واجب وي. د سنت اطلاق د دې وجې نه وي چې دا ثابت بالسنة دي. خپله واجب ده. د ملاعلي قاري کلام د قواعدو مطابق دی. چې ختنه واجب کېدل پکار دي، ځکه د ننه پورې دې باندې د استمرار سره عمل جاري دی. هیڅ نه دی پریښی. دا د وجوب دلیل دی. که کوم ماشوم مختون پیدا شي نو د ختنې ضرورت نشته دی. که ختنه یې نه وي شوې یا نوی مسلمان وي نو وروسته به ورله ختنه کېږي. اووؤ (۷) نه تر لس کالو پورې ختنه کول پکار ده. دا د ختنې بهتر وخت دی. اګر که د پیدائش سره هم کېږي. او هغه اسانه هم ده. څوارلس (۱۴) انبیاء مختوم پیدا شوې ؤو. حضرت آدم علیه السلام، حضرت شیث علیه السلام، حضرت صالح علیه السلام، حضرت شعیب علیه السلام، حضرت یوسف علیه السلام، حضرت موسی علیه السلام، حضرت سلیمان علیه السلام، حضرت حنظله بن صفوان علیه السلام، حضرت زکریا علیه السلام، حضرت عیسی علیه السلام او حضرت محمد صلی الله علیه وعلی جمیع الانبیاء والمرسلین.

د ښځو ختنه په ګرمو ملکونو کې کېږي. د فرج دننه د وازګې پشان غوښه پرسیږي. ماهره ښځې دا

---

(۱) رقم الحدیث ۴۴۲۰ اخرجه في صحیحه ۳۴۹/۱۰ رقم الحدیث ۵۸۹۱ ومسلم في ۲۲۲/۱ رقم الحدیث (۵۰-۲۵۷)

غوڅوي. دا الذ للجماع ده. هیڅ ضروري نه ده. د شوافعو په نزد اوس هم په مصر وغیره کې د ښځو ختنه کېږي. دعوت په کې ورکول کېږي او متیان په کې تقسیمېږي. (مرقات۸/۲۰۸)

الاستحداد: حدیده د استعمالولو په معنی کې دی. د نارینۀ لپاره د وسپنه استعمالو سره د نامه لاندې ویختان لرې کول زیات بهتر او قوت باه سبب دی. (مرقات۸/۲۰۹)

قص الشارب: د مسئلې تفصیل او حدیث په توضیحات جلد اول ص ۵۵۶ باب السواک کې تیر شوی دی. هغې اړخ ته رجوع وکړئ. (مرقات۸/۲۰۹)

تقلیم الظفار: نوکان غوڅول سنت دي. د دې مستحب طریقه داسې ده چې د ښي لاس د شهادت ګوتې نه شروع وکړئ او په موټه ګوته یې ختم کړئ. او بیا د چپ لاس د وړې ګوتې نه شروع کړئ او په موټه ګوته یې ختم کړئ. پښو کې دا طریقه ده چې د ښي پښې د وړې ګوتې نه شروع وکړئ او د چپې پښې په موټه ګوته یې ختم کړئ. توضحات جلد اول صفحه ۵۵۶ باندې مزید تفصیل شته دی. (مرقات۸/۲۰۹)

نتف الابط: نتف ویستول او په ننبه کولو په معنی کې دی. د ترخ ویختان لرې کولو ته وایي. په ګوتو باندې د دې ویختانو ویستلو ښه وي. که استرا باندې وکړی شي نو د ویختان ځنګل به جوړ شي، خوله جمع کېدلو سره بیا د ترخ نه بدبوې خیژي. به اونۀ کې پکار دی ګنې په شلو (۲۰) ورځو کې دي وي ګنې د څلویښتو (۴۰) ورځو نه زیات پریښودل مکروه دي. تفصیل یې تیر شوی دی. (مرقات۸/۲۰۹)

اوس دلته پوښتنه دا ده چې د بحث لاندې حدیث کې د پنځو خصلتونو ذکر دی. او په باب السواک کې د لس خصلتونو ذکر دی. دا تعارض دی؟

د دې جواب دا دی چې یو څو مهم مسائل د موقع او محل په مناسبت سره ذکر شوي دي. هیڅ حصر مقصود نه دی او نه هلته په لسو کې حصر موجود دی. بلکې د لسو نه زیات خصلتونه هم دي او نه دلته پنځو کې حصر مقصود دی. څومره چې بیان کړی شو په خپل ځای دي. د دې نه بغیر هم شته دی. چې ذکر کول یې ضروري ونه ګڼلی شو. لهذا هیڅ تعارض نشته دی.

ږیره خریل او بریت غټول د مشرکانو کار دی

﴿۳﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ:

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د مشرکانو خلاف وکړئ (یعني

أَوْفِرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا

هغوی دا چې ږیره پست کوي او بریت غټوي نو ځکه تاسو دا وخت خپل ځان ممتاز وساتئ یاد وساتئ چې) تاسو

الشَّوَارِبَ". وَفِي رِوَايَةٍ: أنهكوا الشَّوَارِب وأعفوا اللحى (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

ږېرې غټې کړئ بريتونه واړه کړئ. او يو روايت کې داسې چې تاسو بريت بيخې واړه کړئ او ږېره پرېږدئ.

توضيح اللحى: دا د لحية جمع ده لحيه اصل کې د جامې هډوکې ته وايي. بيا د دې اطلاق په هغه ويختانو شو چې د جامې د پاسه دي. همدغې ته لحيه وايي. ږېره ساتل واجب ده. دې ته سنت ځکه وايي چې د سنتو نه ثابت ده او مسنون طريقه ده. يو لاکه پنځلس زره (۱۱۵۰۰۰) انبياؤ او يو نيم لاکه (۱۵۰۰۰۰) صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې يو هم ږېره نه وه خرائيلي. ږېرې د غټولو لپاره د "اوفروا" صيغه استعمال شوي دهر چې د وفر نه ده. او د غټولو په معنىٰ کې ده، نو ځکه د واعفوا صيغه استعمال شوي ده. يعنې ږېره معاف کړئ. دا همدغه شان پرېږدئ چې ښه غټه شي. ږېرې د غټولو حکم په حديثونو کې ذکر ده. د دې هيڅ حد نشته دی. البته علماؤ ليکلي دي چې که سړې مخ وړوکی وي و ږېره دومره اوږده او غټه شي چې متقي، پرهيزګاره، صالحان او علماء دا مناسب نه ګڼي نو د مخ په تناسب سره ږېره د غاړو او د اوږدوالي نه کمول جائز دي. کمولو آخري د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دي چې د يو موټې د قبضې هومره کمول کېدی شي. د دې نه کمول جائز نه دي. او د فقهاؤ په دې اتفاق دی چې د دين خبره تره همدغې حده پورې ده. باقي د عقل خبره ده چې کوم د هر عقلمند خپل خپل عقل دی. هغه دين نه دی. توضيحات جلد اول ۵۵۶ کې تفصيل ذکر دی. (مرقات ۲۱۱/۸) بهرحال د بحث د لاندې حديث تعليم دا دی چې ږېره غټول او بريت واړه کول د مؤمن مسلمان کار دی. چې د رحمان قانون دی او ږېره غوڅول او بريت غټول د کافر او مشرک کار دی. چې د شيطان قانون دی.

دزير ناف ويختانو د صفا کولو آخري موده

﴿۴﴾ وَعَن أَنس قَالَ: وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي بريت واړه کول، نوکان غوڅول، د ترخ ويختانو پاکول او نامه لاندې

الْعَانَةِ أَنْ لَا تُتْرَكَ أَكثر

ويختان د غوڅولو باره کې زمونږ لپاره کومه موده مقرره کړی شوې ده هغه دا ده چې مونږ دا د

من أَرْبَعِينَ لَيْلَة. رَوَاهُ مُسلم[۲]

څلويښتو ورځو نه زياته پرېږندو.

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۲۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۵۱/۱۰ رقم الحديث ۵۸۹۳ ومسلم في ۲۲۲/۱ رقم الحديث (۵۲-۲۵۹)

(۲) رقم الحديث ۴۴۲۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۲۲۲/۱ رقم الحديث (۵۱-۲۵۸) والترمذي في ۸۶/۵ رقم الحديث ۲۷۵۹.

توضیح: اربعین لیلة: د دې روایت نه خو همدغه مفهوم کېږي چې د پاکوالي دا ټول کارونه په څلویښتو (۴۰) ورځو کې دننه لرې کول پکار دي. د دې نه زیاته د موده به د ګناه سبب وي، خو په نورو روایتونو کې څه نور تفصیل ذکر دی. د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه یو روایت منقول دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به نوکان او شونډې هره جمعه تراشلې. د نامه لاندې ویختان به یې شل (۲۰) ورځې پس پاکول او د ترخ ویختان به یې څلویښت (۴۰) ورځې پس پاکول. د فقهې په یو کتاب قنیه کې لکیل شوي دي چې افضله دا ده چې د پاکوالې دا ټول کارونه په اونۍ کې وشي. که په اونۍ کې امکان نه لري نو پنځلس ورځو کې دې وکړی شي. که په دې باندې هم عمل ونه کړی شو نو آخري حد څلویښت ورځې دی. د دې نه وروسته مکروه او وعید دی. ځینې علماؤ لیکلي دي چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ترخ او د نامه لاندې ویختان په څلویښتو (۴۰) ورځو کې پاکول. او د ځینې روایتونو مطابق یې دیرش ورځو کې پاکول.ملاعلي قاري فرمایي. ترخ او د نامه لاندې ویختان په یوه اونۍ کې نه خرائیل کېږي، نو ځکه دا دومره ژر نه غټېږي. د دې لپاره د دیرشو (۳۰) ورځو موده معتدل قول دی. د ملاعلي قاري دا فیصله ډېره ښه ده. باقي پاتې شو نوکان او بریت نو هغه په هره اونۍ کې پاکېدلی شي. (مرقات ۸/۲۱۲)

ویختانو کې د تور خضاب تفصیلي مسئله

﴿۵﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى
او د حضرت ابو هریر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل یهودیان او عیسایان
لَا يَصبِغون فخالفوهم» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
خضاب نه لګوي.نو تاسو د هغوی خلاف کوئ.

توضیح لایصبغون: یعني یهود او نصاری د ډېرې په سپینو ویختانو کې خضاب او بل هیڅ قسمه رنګ نه لګوي، نو تاسو د هغوی په مخالفت کې ډېره کې خضاب کوئ.د ټولو نه اول دا خبره د پوهېدلو ده چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اصباغ او رنګ او د خضاب به حوالي سره د نکریو زیات اهمیت ورکړی دی. د زیړ اجازت یې هم کړی دی. التّه د تور رنګ نه یې سخته منع کړې ده. د لاندې حدیث "واجتنبو السواد" جمله موجود ده. چې امام مسلم نقل کړې ده. کوم کس چې د مسلم روایت ته موضوع وایي هغه به بدعتي وي، ځکه بخاری او د مسلم حدیثونو صحت د امت په اجماع شوی

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۲۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۳۵۴ رقم الحديث ۵۸۹۹ ومسلم في ۳/۱۶۶۳ رقم الحديث (۸۰-۲۱۰۳)

دی. امام احمد بن حنبل رحمه الله خپل سند کې دا حدیث نقل کړي دی "غیروا الشیب ولاتقربوا السواد" (رواه احمد)

ملاعلي قاري د نوی په حواله نقل کړي دي چې د خضاب باره کې یو څو اقوال دي. صحیح قول دا دی چې ویختانو کې هر قسمه رنګ او خضاب کول مستحب دي. هغه که نارینه وي یا که ښځه وي. البته د تور رنګ خضاب حرام دی. (مرقات ۸/۲۱۴)

امام محمد رحمه الله په موطأ کې داسې لیکي: "لانریٰ بالخضاب بالوسمة والحناء والصفرم باساً وان ترکه ابیض فلا بأس کل ذٰلك حسن" (مرقات ۸/۲۱۴)

شرحه شرعة الاسلام کې لیکلی شوي دي چې: الخضاب سنة ثبت قولاً وفعلاً اما قولاً فلحدیث ابی هریرة السابق واما فعلاً فلما قال ابن عمر ان النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کان یصفر لحیته بالورس والزعفران". (مرقات ۸/۲۱۴)

وفی مجمع الفتاویٰ اختلف الروایة فی ان النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هل فعل الخضاب فی عمره؟ والاصح انه لم یفعل الخضاب فی لحیته لعدم الحاجة الیه وام خضاب رأسه بالحناء فهو مشهور وقیل کان فعله غیر مرة لدفع الصداع والحرارة قلت یؤیده ماورد فی الاختضاب من الاحادیث".

منها: اختضبوا بالحناء فانه یزید فی شبابکم وجمالکم ونکاحکم. (رواه البزار) (مرقات ۸/۲۱۴)

ومنها: اختضبوا بالحناء فانه طیب الریح ویسکن الروع. (رواه ابو یعلی والحاکم)

ومنها: اختضبوا وافرقوا وخالفوا الیهود. (رواه ابن عدی)

قال الغزالی فی الاحیاء الخضاب بالسواد خضاب الکفار ویقال اول من خضب بالسواد فرعونه لعنه الله. (مرقات)

وعن ابن الدرداء فعه قال علیه السلام من خضب بالسواد سود الله وجهه یوم القسامة. (رواه الطبرانی)

د دې ټولو روایتونو نه دا ثابتول مقصود دي چې اسلام کې د خضاب کول جائز او مستحب دي. البته د تور رنګ استعمالول منع دي. اوس دلته دا پوښتنه پیدا کیږي چې خضاب دومره ضروري ده او د یهودو او د نصاریٰ د مخالتف ذریعه ده نو د دې نه دا ثابته شوه چې د خضاب نه بغیر سپینه ډیره سپینه پریښودل منع دي. حال دا چې زیاتره مسلمانان یې نه رنګوي بلکې طبعي حالت باندې یې سپینه ساتي. د دې اعتراض جواب دا دی چې د حدیث مطلب دا دی چې یهود هیڅ یو رنګ او خضاب جائز نه ګڼي. تاسو خضاب ناجائزه مه ګڼئ. بلکې د یهودو مخالفت وکړئ او جائز کېدلو عقیده وساتئ. بیا خضاب وکړئ نو هم جائز او ښه دي. او که خضاب ونه کړئ بلکې ډیره په طبعي حالت پریږدئ نو دا هم جائز او ښه دي. لکه څنګه چې د امام محمد رحمه الله فتوی مخکې لیکلی شوې ده. چې "وان ترکه ابیض فلا بأس به" اوس دلته دا خبره پاتې شوه چې د فقهاؤ په نزد د تور خضاب د استعمالولو څه حکم دی.

دې سلسله کې علامه نؤوی د مسلم په شرح ص ۱۹۹ باندې داسې لیکی: زمونږ د شوافعو د مسلک مطابق د سپینو ویختانو خضاب مستحب دی. او د نارینۀ او د زنانۀ لپاره د تور رنګ نه بغیر هر رنګ مستحب دی. د تور رنګ خضاب د ځینو په نزد مکروه دی، خو مختار او صحیح قول دا دی چې تور خضاب حرام دی او هدغه زمونږ مسلک دی. قاضي عیاض مالکي فرمایي چې د سلف صالحینو خو اول کې په دې باندې اختلاف ؤو. چې آیا د ویختانو د بل رنګ په یو رنګ خضاب افضل دی او یا که سپین ساتل افضل دي. ځینو سلفو د خضاب پریښودل افضل ګڼلي دي، ځکه یو حدیث کې د خضاب کولو نه منع راغلې ده. او نبي کریم ﷺ خپله خضاب نه دی استعمال کړی. حضرت علي رضی الله عنه، حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه مسلک همدغه دی. د سلفو صالحینو د یو بلې ډلې مسلک دا دی چې خضاب کول افضل دي. د صحابه کرامو د یو لویې ډلې رائی همدغه ده، ځکه په ډېرو حدیثونو کې د خضاب ترغیب وارد دی. د دې نه وروسته د دې سلفو دې کې اختلاف دی. چې آیا د خضاب استعمالول جائز دي او که نه؟ د صحابه کرامو یو لویې جماعت د عدم جواز قائل دي، خو یو څو صحابه او تابعین داسې هم دی چې هغوی تور خضاب استعمال کړی دی. دې حضراتو کې حضرت عثمان بن عفان، حضرت حسین بن علی او د حضرت حسن بصری نومونه مشهور دي. قاضي عیاض فرمایي چې دواړه روایتونه صحیح دي، خو دې کې هیڅ تعارض نشته دی. بلکې مطلب دا دی چې د شارحین د حدیثونو تور خضاب استعمالول په یو څو مجبورو باندې حمل کړی دی، نو ملا علي قاري لیکلي "**وروی ان عثمان والحسن والحسین خضبوا لحاهم بالسواد للمهابة**" (مرقات ۲۱۳/۸)

علامه شامي لیکي **قوله علیه السلام غیر واهذا لشیب واجتنبو السواد قال الحموری وهذا فی حق غیر الغزاة ولا یجرم فی حقهم للارهاب ولعله محمل من فعل ذلك من الصحابة**". (فتاوی شامی ج ۶ ص ۷۵۶)

د دې روایتونو نه معلومه شوه چې د تور خضاب د احنافو په نزد مکروه تحریمي دی. د بذل المجهود په شرح ابوداؤد کې د دې حدیث د لاندې لیکلی شوي دي. چې **وفی الحدیث تهدید شدید فی خضاب الشعر بالسواد وهو مکروه کراهیة التحریم**. (بذل المجهود ج ۵ ص ۸۲)

د دې روایتونو او د فقهي عبارتونو نه معلومه شوه چې تور خضاب د احنافو په نزد مکروه تحریمي دی. او د شوافعو په نزد مطلق حرام دی. د شریعت له نظره د دې د حرمت اصل منشاء دا ده چې بودا او ځوان کې التباس را نه شي. او څوک چاله دهوکه ورنکړی شي، ځکه بودا به د ډیر عمر سړی هم وي خو د خضاب په وجه به خپل ځان ځوان ظاهره وي. دا دهوکه ده چې صرف په تور خضاب سره کېږي نو ځکه منع کړی شو. د نورو رنګونو نه یې هر کس پیژندلی شي چې بوډه دی، ځکه یې نکریزې ایښي دي، نو التباس به نه وي. او په تور خضاب کې تغیر خلق الله هم دی. بهرحال د دې کس لپاره په حدیثونو کې سخت وعید دی چې تور خضاب استعمالوي، خو د مجاهد لپاره

کنجائش شته دی. چې په دښمن باندې رعب وي. یا د داسې کس لپاره چې واده یې د پیغلې جینئ سره شوی وی. او د خپلې ښځې له نظره داسې کوي، نو باوجود د خلاف اولی به هم جائز وي. یا یو کس په داسې علاقه کې اوسیږي چې هلته د هغه کس نه ډېره کرکه کېږي. چې کوم تور خضاب نه استعمالوي، نو د دې مجبورو په وجه د مجبوری په درجه تور خضاب استعمالول مجبوري ده. ځکه تور خضاب استعمالول چرته ضروري دی. چې ملا کړه شي نو ولي په خضاب به سیدها شي څه؟ بابا سعدی یو بوډهئ ښځ ولیدله چې د سر سپین ویختانو ته یې خضاب ورکړی ؤو، نو وې فرمایل۔

موئے سپید را چرا سیاه کردہ گیر — راست نہ خواہد شدای پشت کوز

یعنې فرض کړه تا تورو ویختانو ته تور خضاب ورکړو. اوس ځوانه ځکاري، خو دا کړه ملا به دې څنګه سیدها کېږي؟

تور خضاب د ممانعت باره کې راتلونکې حدیث نمبر ۶ او حدیث نمبر ۳۴ کتنه هم وکړئ.

بهرحال د تعجب خبره ده هغه علماؤ باندې چې د دې واضحه ممانعت باندې د پوهېدلو باوجود هم د کوم شرعي عذر په بناء تور خضاب ته جائز وایي. او دې باندې کتابونه لیکي: انا لله وانا الیه راجعون.

فان کنت لا تدري فتلک مصیبة — وان کنت تدري فالمصیبة اعظم

د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پلار ویختان د خضاب حکم

﴿۶﴾ وَعَن جَابِر قَالَ: أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پلار ابو قحافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مکې د فتحې

وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ

په ورځ راوستلی شو او په همغه ورځ هغې اسلام قبول کړو. د هغې د سر او د زیري ویختان ګویاکې ثغامه ؤو

بَيَاضًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

یعنې بالکل سپین ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته وفرمایل چې د دې ویختانو سپین والی په څه

غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ. رَوَاهُ مُسلم[1]

ذریعه بدل کړه، خو د تور رنګ نه ځان وساته یعنې تور خضاب مه استعمالوه.

توضیح: حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پلار نوم عثمان ؤو. اب قحافه د هغې کنیت ؤو. د مکې د فتحې په ورځ ډېر د بوډه والي عمر کې مسلمان شو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دا خضاب کړئ خو تور خضاب نه یې بچ کړئ. تور خضاب استعمالول مکروه تحریمي دي یا حرام دي.

---

[1] رقم الحديث ۴۴۲۴ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۶۳/۳ رقم الحديث (۷۹-۲۱۰۲) وابوداود في السنن ۴۱۵/۴ رقم الحديث ۴۲۰۴

الثغامة: دا يو بوتی دی. چې ګلان ډېر زيات سپين وي. د هغې سره د سر د ويختانو تشبيه کړی شوې ده. (مرقات ۲۱۳/۸)

د يهودو په خلاف د سر په مينځ کې لار ويستل سنت دي

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به کومه معامله کې د الله له ارخه

مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ

حکم نه ؤو ملاو شوی. هغې کې به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل کتابو موافقت خوښولو، نو اهل کتابو به

يَسْدُلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرِقُونَ رؤوسهم

د خپله سرويختان همدغه شان پرېښودل (يعنې هغوی به په مينځ ويختان نه اړول بلکې خپل ويختان به يې همدغه شان

فَسَدَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

غټ پرېښودل) خو مشرکانو به د خپل سرونو مينځ کې لاره ويسته، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د اهل کتابو د

نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فرق بعدُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

طريقې مطابق) د خپل تندې ويختان همدغه شان پرېښې ؤو، خو وروسته به يې سر په مينځ لاره ويسته.

توضيح: موافقه اهل الكتاب: دا چې د اهل کتابو سره اسماني کتاب او اسماني مذهب ؤو، نو ځکه به چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې تر څو پورې د شريعت محمديه مطابق حکم نه ؤو راغلی نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د اهل کتابو طور طريقو ته د اهل مکې د مشرکانو په طور طريقو باندې ترجيح ورکوله. د مکې والو سره د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ څه وران شوي آثار ؤو. د هغه قاعدې مطابق نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سدل او د فرق په معامله کې د اهل کتابو د سدل طريقې ته ترجيح ورکړه. بيا د وحي نه معلومه شوه چې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ طريقه د سدل نه وه بلکې د فرق او د مينځ لاره وه. د سر ويختان د سر څلورو واړو اړخونو کې د غورځولو نوم سدل دی. او د سر ويختان په دوه برخو کې تقسيمول او نبي او چپ اړخ ته په مينځ کې دلاره ويستلو نوم فرق دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اول سدل اختيار کړو. بيا يې د يهودو طريقه پرېښودله او دا صرف دې واقعه کې نه دی شوی بلکې ډېر واقعات داسې دي چې هغې کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يهودو موافقت په ځای مخالفت اختيار کړی دی. مثلاً اول يې سدل وکړو. بيا يې مخالفت وکړو او سدل يې اختيار کړو.

([1]) رقم الحديث ۴۴۲۵ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۶۱/۱۰ رقم الحديث ۵۹۱۷ ومسلم في ۱۸۱۷/۴ رقم الحديث (۹۰-۳۳۶)

اول یې ویختان سپین وساتل بیا یې د خضاب حکم وکړو. اول یې د عاشورې روژه ونهوله او بیا یې د هغې سره د یوې بلې روژې د نهولو حکم وکړو. اول یې د بیت المقدس اړخ ته لمونځ وکړو. بیا یې مخالفت وکړو او د کعبې اړخ ته یې لمونځ کول شروع کړو. اول یې د حائضه ښځې نه بالکل بائیکاټ وکړو بیا یې د جماع نه بغیر د اختلاط حکم وکړو. اول یې د جمعې د ورځې د روژې حکم وکړو او بیا یې ځان له د جمعې د روژې نه منع وکړه. اول یې د جنازې د قیام لپاره حکم وکړو بیا یې د یهودو په مخالفت کې پریښودل. اول یې د شنبې او د یک شنبې د ورځې د روژې نهولو نه منع وکړه. بیا یې د یهود او د نصاری په مخالفت کې روژه نهول شروع کړل چې د هغوی اختر نو مونږ به روژه نه یسو. (مرقات ۲۱۴/۸)

د دې نه معلومه شوه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل امت د یهود او د نصاری د طور طریقې د خپلولو نه څومره لرې ساتل غوښتل. او نن سبا مسلمان حکمران په هر یو څیز کې څنګه یهود او نصاری ته غاړې ورکوي. یهود او نصاری د دوی اړخ ته نه دې راغلي بلکې دا خلک او نا اهله حکمرانان د هغوی اړخ ته تلي دي. (فالی الله المشتکی)

د سر په ویختانو کې قزع کول منع دی

﴿۸﴾ وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ الْقَزَعِ.

او حضرت نافع د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې هغې وفرمایل ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د قزع نه په منع

قِيلَ لِنَافِعٍ: مَا الْقَزَعُ؟ قَالَ:

کولو باندې اوربدلي دي. حضرت نافع وپوښتل چې قزع څه څیز دی؟ نو هغې وویل چې قزع دې ته وایي چې د

يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ وَيُتْرَكُ الْبَعْضُ

سر د ویختانو څه برخه و خرائیل شي او ځینې برخه پریښودلی شي. (بخاری او مسلم) او ځینې راویانو وضاحت

وَأَلْحَقَ بَعْضُهُمُ التَّفْسِيرَ بِالْحَدِيثِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

د حدیث سره ترلی دی. (یعنې د هغې راوي مطابق د قزع دا معنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بیان کړې ده)

توضیح القزع: د سر ځینې ویختان خرائیل او ځینې پریښودلو ته قزع وایي. **"قال النووی القزع خلق بعض الرأس مطلقاً"**

قیل لنافع: یعنې د حدیث راوي نه چا وپوښتل چې قزع څه شی دی، نو هغې جواب کې د قزع

---

[1] رقم الحديث ۴۴۲۶ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۶۳/۱۰ رقم الحديث ۵۹۲۰ ومسلم في ۱۶۷۵/۳ رقم الحديث ۲۱۲۰/۱۱۳

تعریف وکړو. هغې کې راوي قزع د ماشوم سره خاص کړی دی. دا قید د رواج په وجه دی، ځکه په عامه توګه قزع د ماشومانو په سر کې کېږي. ګنې د ممانعت په اعتبار سره چې څنګه قزع د ماشومانو لپاره مکروه ده، همدغه شان د غټو لپاره هم مکروه ده. د قزع بې شماره صورتونه دي. ځینې خلک د حج او عمره په دوران کې د حلق په غرض ایک چوتهائی سر یو عمره کې وخرائې. بیا دوه خله، درې ځله داسې کوي. څه ویختان وخرائې او څه پرېږدي. د قزع دا مکروه ترین صورت دیږ ځینې خلک د نظرئ نه د بچ کېدلو لپاره د ماشومانو په سر کې لارې جوړوي. مخې او د شا نه او بنې اړخ نه چپ اوخ ته ویختان واړه کړې او کربنې په کې جوړوي. دا هم بد ترینه قزع ده. ځینې خلک د ماشومانو د سر ویختان واړه کړي او د تندې نه تر تالو پورې ویختان پرېږدي. او هغې ته ځونډی وایي. دا هم قزع ده. داسې انګرېزېږي ویختان هم په قزع کې راځي لکه فوجې کټ، سدهیر کټ، سنتوش کټ، وغیره وغیره. د دې لپاره ضابطه دا ده چې که د سر ویختان برابر غوڅ کړی شو او پرېښودلی شو نو دا قزع نه ده، خو که ځینې ویختان واړه او ځینې لویې واړه واړه کړی شي نو دا ټول قزع دي. چې مکروه دي. هغه که غټ کوي او ماشومان یې کوي. د مذهبې شعار په توګه هندوان چې په سر باندې کومه چوټه ساتې هغه هم بدترینه قزع ده. که یو مسلمان د هندوانو پشان چوټه ساتې نو کافر به شي. (مرقات ۲۱۶/۸)

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صَبِيًّا قَدْ حُلِقَ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو داسې هلک ولیدلو چې

بَعْضُ رَأْسِهِ وَتُرِكَ بَعْضُهُ فَنَهَاهُمْ عَنْ ذَلِكَ

د سر څه برخه یې خرائیل شوې وه، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه ماشوم د ساتونکو نه منع کړه او

وَقَالَ: احْلِقُوا كُلَّهُ أَوِ اتْرُكُوا كُلَّهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

ویې فرمایل چې ټول سره ورله ځرائېوئ یا ورله ټول سر پرېږدئ.

توضیح احلقوا کله: دې حدیث کې هم د قزع نه ممانعت بیان دی، ځکه د ټولو ویختانو د غوڅولو یا د ټولو ویختانو د پرېښودلو طلب همدغه دی چې ځینې پرېښودلی او ځینې غوڅول منع دي. چې قزع ده. (مرقات ۲۱۶/۸)

هیجړا او مخنث جوړېدل حرام دي

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لعن الله الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخنث نارینۍ باندې لعنت ویلی دی.

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۲۷ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۱/۴ رقم الحديث ۴۱۹۵ والنسائي في ۱۳۰/۸ رقم الحديث ۵۰۴۸.

وَالْمُتَرَجِّلَاتِ	مِنَ	النِّسَاءِ
او په هغه ښځو باندې يې هم لعنت ويلی دی چې د نارينۍ سره مشابهت اختياروي. او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ		
وَقَالَ: أخرجوهم من بُيُوتِكُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]		
وفرمايل چې مخنث د خپلو کورونو نه وباسئ.		

توضيح: المخنثين: د مخنث د باب تفعيل نه دی او مجرد کې سمع د يسمع نه د نرم کېدو، ماتېدلو او پستيدلو په معنی کې دی. چې د کومو حرکاتو او سکنات قول او فعل د ښځو پشان وي لباس د ښځو پشان خپلوي، اواز او چال چلن کې د ښځو پشان انداز لري دا مخنث دی. دې ته هيجړه هم وايي. که مخنث خلقي او طبعي پيدا شوی وي نو هغې باندې هيڅ شرعي نهو که نشته دی. هغه په قدرتي مصيبت کې اخته دی. معذور او مجبوره دی، خو صحيح سړی وي او هغه حرکاتو او سکناتو کې د ښځو د طرز زندګۍ او وضع او قطع اختياروي. تردې چې جنسي آلې بدله کړي، نو دا مجرم دی. او دې قسمه باندې لعنت ويلی شوی دی. نکريزي لږول د ښځو لپاره مسنون دي او د نارينۍ لپاره د ضرورت نه بغير مکروه دي. د مخنث په مقابله کې دلته هغه ښځه باندې هم لعنت ويلی شوی دی چې په ژوند پ طرز کې او په کرکاتو او سکناتو او اقوالو او افعالو کې د نارينۍ چال چلن خپلوي، خو په رائی ورکولو او علم کې د نارينۍ سره مشابهت اختيارول کې قباحت نشته دی. (مرقات ۲۱۷/۸، ۲۱۶)

اخرجوهم: دا چې دا مخنث د کړو وړو په اعتبار سره د نارينۍ په زمره کې راځي نو ځکه وفرمايلی شو چې دوی د کور نه بهر وباسئ چې د ښځو په کړو وړو کې شريک نه شي. (مرقات ۲۱۷/۸)

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَعَنَ اللهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ		
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم نارينه چې د ښځو مشابهت		
والمتشبِّهات من النِّسَاء بِالرِّجَالِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]		
اختياروي او کومه ښځه چې د نارينه مشابهت اختياروي نو په هغوی د الله لعنت وي.		

توضيح: نارينۍ او د زنانۍ لباس او د اوسيدلو او بودوباش جدا جدا طرقې دي. خپلې خپلې طريقې باندې تلل پکار دي چې مشابهت رانه شي.

---

(1) رقم الحديث ۴۴۲۸ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۳/۱۰ رقم الحديث ۵۸۸۶ والترمذي في السنن ۹۸/۵ رقم الحديث ۲۷۸۵.

(2) رقم الحديث ۴۴۲۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۲/۱۰ رقم الحديث ۲۶۴۹ واحمد في المسند ۲۲۵/۱.

د سر په ویختانو کې د مصنوعی ویختانو لګولو حکم

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل کومه ښځه چې په

لَعَنَ اللهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ

خپلو ویختانو کې د بلې ښځې د ویختانو جوړ لګوي او کومه ښځه چې د بلې ښځې په ویختانو کې د ویختانو

والواشمة والمستوشمة (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

جوړ ولګوي او کومه ښځه چې خال لګوي او او خال جوړونکي ښځه ،دې ټولو باندې د الله لعنت دی.

توضیح: **الواصلة**: دا **ضرب یضرب** نه د مؤنث اسم فاعل صیغه ده. چې ترجمه ملاؤول او یو ځای کول دي. دلته د بل انسان ویختان د خپلو ویختانو سره د یو ځای کولو په معنی کې دی. مطلب دا چې یوه ښځه د خپل حسن لپاره د بلې ښځې د چونټې ویختان د خپلو ویختانو سره یو ځای کړي. دې ښځې ته واصله وایي. او دا کار د لعنت سبب دی، ځکه دې کې تغیر خلق الله هم دی. او د بل انسان د بدن اندامونو نه د شرعي ضابطې نه بغیر فائده اخستل هم دي چې ناجائز دي. او دې کې دهوکه او دروغ هم دي. علامه طیبي د واصله مفهوم داسې بیانوي.

"**الواصلة التی تمثل شعرها بشعر آخر زُوراً**" (طیبي ج ۸ ص ۲۵۰)(مرقات ۲۱۷/۸ ،الکاشف: ۲۶۸/۸)

والمستوصله: دا د باب استفعال نه دی. او تا د طلب لپاره دی. یعنې کومه ښځه چې د بلې کومې ښځې نه مطالبه کوي چې زما په سر کې دا ویختان ولګوه. علامه طیبي داسې وضاحت کوي.

والمستوصلة التی تأمر من یفعل بها ذلك(مرقات ۲۱۷/۸ ،الکاشف : ۲۶۸/۸)

شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله د خپلې فارسئ شرح اشعة اللمعات کې د دواړو لفظونو مطلب داسې بیانوي چې واصلہ زنے کہ پیوندی کند مویہائے خودرا بمویہائے دیگر تابسیار شود وزیادہ گردد.

ومتوصلہ آنکہ بفرماید دیگرے راکہ پیوند کند بمویہائے وے مویہائے دیگر. (اشعة اللمعات ج ۳ ص ۶۱۲)

ترجمه: واصله هغه ښځې ته وایي چې خپل ویختان د نورو د ویختانو سره پیوند کوي چې د هغې ویختان ګڼ او اوږد شي او مستوصله هغه ښځې ته وایي چې د بلې ښځې نه مطالبه کوي چې زما د ویختانو سره د بلې ښځې ویختان ولګوه.

دې دواړو صورتونو کې ښځه یوه ده او د خپلو ویختانو د غټولو په چکر کې ده. دا مطلب نه دی چې

---

[1] رقم الحدیث ۴۴۳۰ أخرجه البخاري في صحیحه ۳۷۴/۱۰ رقم الحدیث ۵۹۳۷ ومسلم في ۱۶۷۷/۳ رقم الحدیث ۲۱۲۴/۱۱۹ .

واصله هغه ده چې خپل ویختان د بل په سر کې ولګوي. هغه صورت هم اګر که منع دی، خو د حدیث مطلب ده نه دی. ما دومره زور دلته ځکه ولګولو چې مظاهر حق وغیره کې د ځینو شارحینو نه دا سهو شوې ده. اوس مسئله دا ده چې که د انسان ویختان ښځه خپلو ویختانو سره لګوي نو دا مطلقاً حرام دي، خو که د ویختانو په ځای وړئ یا نور تارونه لګوي، د دې څه حکم دی؟ نو د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد هغه هم جائز نه دي. فتاوی عالمګیري کې لیکلې شوې دي چې د سر په ویختانو کې د انسان ویختان شاملول حرام دي، خو د وړئ وغیره تار لګول جائز دي. اوس که یوه ښځه د یو ځناور ویختان مثلاً د خچر یا د اَس د لکئ ویختان د خپلو ویختانو سره شامل کړي نو د دې څه حکم دی؟ نو امام مالک او د نورو اکثرو علماؤ مطلقاً د یختانو یو ځای کول ناجائز وایي، ځکه د حدیث ممانعت عام دی. همدغه راجح دي. البته ځینې علماؤ څه خاص حالت کې د ځناور ویختانو لګولو ته ناجائز ګڼلي دي. نن سبا بازارونو کې د زروګنو د سر د ویختان د خول سره ملاویږي. ښځې یې اخلي او د لعنت مستحق کیږي. (مرقات ۲۱۸/۸)

الواشمة: وشم د بدن ګودنې ته وایي. د دې طریقه دا ده چې سنت یا نور کوم د تیږې څوکې والا آله بدن کې منډل کیږي. کله چې زخم ولګي او وینه رواته شي نو هغه زخم کې رانجه یا نیل وغیره اچولو سره ډک کړی شي. کله چې ویختان یو ځای شي او زخم صحیح شي، نو لاندې نیله نشان او خال ځکاري. چې د همیشه لپاره وي. واشمه هغه ښځې ته وایي چې دا عمل په خپل بدن باندې کوي. او مستوشمه هغه ښځې ته وایي چې دا عمل خپله نه کوي په بلې کومې ښځې باندې یې کوي. د عبارت ترجمه داسې ده. خال لګونکي او خال جوړونکي ښځه. (مرقات ۲۱۸/۸)

دې تغیر خلق الله دی، ځکه حرام دی. علماؤ لیکلي دي چې که پلټته ماده د څرمن د لاندې خښه پاتې شوه نو یا په هغې باندې اودس او غسل او لمونځ نه صحیح کیږي، ځکه هغه ځای نجس پاتې کیږي. والله اعلم.

مصر او لیبیا او افغانستان کې د وشم دا عمل ډېر زیات دی. الله دې هدایت ورکړي.

خلق الله کې تغیر حرام دی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ

او حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې خال لګونکي او خال جوړونکي ښځې، د خولې نه ویختان

وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ

راویستونکي ښځې، د حسن لپاره غاښونه په سوان سوان کونکي ښځې، دې ټولو باندې چې د الله په جوړ کړی

خَلْقَ اللهِ فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ:

شوې څیزونو کې بدلون کوي الله لعنت فرمایلی دی. نو یوه ښځه ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورغله او وې ویل

إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكَ لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ فَقَالَ:
چې ماته دا خبره رارسيدلې ده چې ته په داسې ښځو باندې لعنت وايې؟ حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل
مَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې زما لپاره څه ستونزه ده چې زه هغې باندې لعنت ونه وايم. چې په چا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لعنت ويلی دی.
وَمَنْ هُوَ فِي كِتَابِ اللهِ فَقَالَتْ: لَقَدْ قَرَأْتُ
او چې څوک د الله په کتاب کې لعنتي ګڼلی شوی دی. ښځې وويل چې ما هم دا شی ويلی دی چې
مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ فَمَا وجدت فِيهِ مَا تَقُول
د دوه قايو په مينځ کې دی (يعنې ما هم پوره قرآن کريم لوستلی دی) خو هغې کې ماته دا خبره چې ته يې وايې
قَالَ: لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ
(صريح الفاظو کې) چرته نه ملاو شوې؟ حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې که ته قرآن کريم په غور او فکر
لَقَدْ وَجَدْتِيهِ أَمَا قَرَأْتِ:
سره او پوهې سره ولولې نو دې کې به درته يقيناً دا حکم ملاو شوی وی. آيا تا دا آيت نه دی ويلی
(مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا
يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې څه تاسو ته درکوي هغه اخلئ او هغې باندې عمل کوئ. او د کوم شي نه
نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا) ؟ قَالَتْ: بلى قَالَ:
چې تاسو منع کوي د هغې نه منع شئ. هغه ښځې وويل چې آؤ دا آيت خو ما ويلی دی. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل
فَإِنه قد نهى عَنهُ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
چې پس دا هغه څيز دی چې د کوم نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده.

توضيح: الْمُتَنَمِّصَاتِ: مُتَفَعِّلَاتٌ په وزن دی. **ميم** ثانی باندې شد دی **منماص ای المنقاش** راويستلو ته وايي. د مخ نه واړه واړه ويختان چې کومې آلې سره راويستل کيږي. هغې ته منماص وايي. دغه شان عمل کونکې ښځې ته نامصه وايي. چې ذکر يې په حديث کې دی. دلته د متنمصه ذکر دی. هغه دا ښځه ده چې د په نورو کار کوي. يعنې په نور باندې ويختان راويستونکې ښځه. (مرقات ۲۱۸/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۳۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۶۹/۸ رقم الحديث ۴۸۸۶ ومسلم في ۱۶۷۸ رقم الحديث (۱۲۰-۲۱۲۵)

المتفلجات: دا د فلج نه دی. د دوه غاښونو مینځ کې فاصله او کړکۍ ته وایي. جاهلیت کې د حسن زیاتولو لپاره سوان او د لور په ذریعه غاښونه برابروي چې غاښونه یو شان شي. یا به یې په مینځ کې فاصله جوړه کړه او غاښونو کې به یې د کړکۍ پشان سوری جوړ کړو چې ښایسته ځکاري. داد خلق الله بدلون دی، نو ځکه منع او د لعنت سبب دی. **اله:** یعنې شان دا دی. (مرقات ۲۱۸/۸)

کیت وکیت: یعنې واشمات او د هغې نه وروستنۍ ښځو باندې نبي کریم ﷺ لعنت کړی دی.

ومن هو فی کتاب الله: ای ومن هو ملعون فی کتاب الله. (مرقات ۲۱۹/۸)

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دې کلام باندې د هغه ښځې باندې اشتباه راغله چې قرآن کې چرته ذکر دي، نو ځکه یې وویل چې ما ټول قرآن اول نه تر آخر پورې لوستلی دی. دا حکم هلته نشته دی.

اللوحین: ای الدفتین یعنې د دواړو ارخ نه مې اول نه تر آخر پورې لوستلی دی. د لوحین نه ټول قرآن مراد اخستلی شوی دی. (مرقات ۲۱۹/۸)

قرأتیه وجدتیه: دواړو ځایونو کې اشباع ده. یعنې که ربنتیا په پوهې سره لوستلی وی! نو دا حکم به دې ضرور موندلی وی!!!. (مرقات ۲۱۹/۸)

فانه: یعنې نبي کریم ﷺ منع کړې ده. ګویا کې قرآن منع کړې ده. (مرقات ۲۱۹/۸)

بد نظري یو حقیقت دی

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْعَيْنُ حَقٌّ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ فرمایي چې بد نظري حق دی. او

وَنَهَى عَنِ الْوَشْمِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1].

نبي کریم ﷺ د خال لګوو نه منع کړې ده.

توضیح: العین حق: یعنې بد نظري یو حقیقت دی. هیڅ او وهم ادهام نه دی. معتزله وغیره او روښان خیاله خلک بد نظري نه منې. هغوی وایي چې دا صرف وهم دی، لکه څنګه چې پل باندې بیروند کی تړېږي او خیال د غورځېدونکی ګڼي. دغه شان دا کس هم په وهم کې اخته دی. چې ما باندې د فلانې نظر لږېدلی دی. اهل سنت فرمایي چې بد نظري یو حقیقت دی چې دا هیڅ وهم نه دی. د قرآن او حدیث ډېر نصوص دې باندې دلالت کوي. معتزله خپله په وهم کې دی. (مرقات ۲۲۰/۸)

د بدنظرئ د لږېدلو حقیقت علماؤ داسې بیان کړی دی چې عائن (نظر باز) او ناظر په قوت واهمه

---

[1] رقم الحدیث ۴۴۳۲ اخرجه البخاري في صحیحه ۳۶۰/۱ رقم الحدیث ۵۹۱۴ ومسلم في ۸۴۲/۲ رقم الحدیث (۲۱-۱۱۸۴)

باندې اثر کوي. نو هغه متاثره شي. یا د عائن او ناظر په نظر کې باقاعده خراثیم وي او په مطلوب باندې اثر کوي. د الله مشیت او په حکم سره ناظر په نظر کې دا تاثیر پیدا شي. او س دلته پوښتنه دا ده چې وشم او بد نظري ولي یو ځای ایښودلی شوي دي. حال دا چې د بدنظرۍ بهل سې بابونه راروان دي. دلته یې څه کار دی؟

د دې جواب دا دی چې په اهل وشم کې د اکثرو دا خیال وي چې د وشم په وجه بدنظري ختمیږي. د دې په جواب کې وفرمایل چې وشم نه کوئ. بد نظري یو حقیقت دی. کله چې لږې نو وشم دا نه شي منع کولی. (مرقات ۲۲۰/۸)

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُلَبِّدًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چې ما د نبي کریم صلى الله عليه وسلم ملبد لیدلی دی. (بخاري)

توضیح ملبداً: د دې مطلب دا دی چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم د حج په موقع ګوند وغیره باندې خپل ویښتان راغوند کړي ؤو چې ما ولیدل. نبي کریم صلى الله عليه وسلم د ګرد او دوړو نه د بچ کېدلو لپاره داسې کړي ؤو یا به یې بل مقصد ؤو. د احرام په حالت کې داسې کول جائز دي، خو ویښتانو پټول جائز نه دي. (مرقات ۲۲۰/۸)

د نارینه لپاره د زعفرانو استعمالول منع دی

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم د دې نه منع کړي ده چې یو نارینه خپل

أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

بدن باندې یا په جامو باندې زعفران ومنبي.

توضیح: ان یتزعفر الرجل: تزعفر د زعفران نه جوړ شوی دی. مطلب دا دی چې نارینه نه په جامو کې زعفران استعمالوی شي او د نه د زعفران خوشبوي خپل بدن منبلی شي. خکه زعفران منبل د ښځو سره مخصوص دي. باقي که کوم صحابه کرامو زعفران استعمال کړي دي یا یې خلوق استعمال کړی دی چې د زعفرانو دویم نوم دی، نو د دې جواب دا دی چې کېدی شي دا ممانعت مخکنئ واقعه وي. دویم جواب دا دی چې یا یې په ډېر کم مقدار کې استعمال کړی وي. د ممانعت د زیات مقدار دی. (مرقات ۲۲۱/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۳۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۴/۱۰ رقم الحديث ۲۶۸۳ وأحمد في المسند ۱۲۱/۲

[2] رقم الحديث ۴۴۳۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۴/۱۰ رقم الحديث ۵۸۴۶ ومسلم في ۱۶۶۳/۳ رقم الحديث (۷۷-۲۱۰۱)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعلى خوشبو استعمال كړه

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَطْيَبِ مَا نَجِدُ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې كله به ما له بهترينه خوشبوي راغله نو هغه به ما نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له لګوله

حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ ولحيته (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

تر دې چې د هغې خوشبوي پرق به ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سر او ږيره كې ښكاره كېدو.

د مخلوط او غير مخلوط خوشبويي ذكر

﴿۱۸﴾ وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا اسْتَجْمَرَ

او حضرت نافع فرمايي چې كله به حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خوشبوې اخستله نو كله به يې چې كله صرف خوشبويي

اسْتَجْمَرَ بِأُلُوَّةٍ غَيْرِ مُطَرَّاةٍ وَبِكَافُورٍ

اخستله چې هغې كې به مشك وغيره مخلوط نه وُو. او كله به يې د كافور خوشبوې اخستله چې دا به يې د اګربتئ سره

يَطْرَحُهُ مَعَ الْأُلُوَّةِ ثُمَّ قَالَ:

(يعني دواړه يو ځاى كړى شي او) په اور كې واچولى شي. او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې

هَكَذَا كَانَ يَسْتَجْمِرُ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هم داسې خوشبوې اخستله. كله به يې صرف د اګربتئ خوشبوې اخستله

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ . رَوَاهُ مُسلم [2]

او كله به يې كافور او د اګربتئ دواړه به يې ګډوډ نو د هغې خوشبوې به يې اخستله. (مسلم)

توضيح استجمر: د استجمار ډېرې معنې دي دلته په سكروتې كې خوشبوي اچول او د هغې خوشبوې اخستلو ته استجمار ويل شوي دي. مراد ترينه د خوشبوې ده. (مرقات ۲۲۱/۸)

بِأُلُوَّةٍ: باجاره دى. همزه باندې زبر دى. پيش هم جائز دى. لام باندې پيش دى. واؤ باندې شد او زبر دى. آخر كې ګول تا ده.

وهي عود يتبخر به: يعني الوة عود ته وايي. عود يو اعلىٰ قِسم لرږى دى. چې سوځولو سره ترينه

---

[1] رقم الحديث ۴۴۳۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۶۶/۱۰ رقم الحديث ۵۹۲۳ومسلم في ۸۴۷/۲ رقم الحديث (۳۸-۱۱۸۹)

[2] رقم الحديث ۴۴۳۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۶۶/۴ رقم الحديث (۲۱-۲۲۵۴) والنسائي في ۱۵۶/۸ رقم الحديث ۵۱۳۵

خوشبوې حاصليږي. حرمين شريفين کې مجمع کې دننه يا کله د مطاف دننه يې د عرب خلک سوځوي. خلک منډې وهي او دهوني ترښه اخلي. دې ته اګر هم وايي. نن سبا په جوماتو کې اګربتی سوځولې کيږي. (مرقات ۲۲۲/۸)

غير مطراة: ای غير مخلوطة بغيرها من الطيب كالمسک والعنبر يعني الوة اور عود كله مشک او عنبر نه بغير سوځولی کيدلی او كله به د دې سره کافور ګډوه ولو سره سوځول کيدلو يعني يو ځله به د عود دهونی اخستله او بل ځل به يې د کافور وغيره مشک او عنبر ګډوه دهونی اخستله.

طيرحه: د غوزارولو په معنی کې دی. ګډول مراد دی.

غير مطراة: نه غير ګډ ود مراد دی. (مرقات ۲۲۲/۸)

الفصل الثاني

بريت واړه کول پخوانی سنت دی

﴿۱۹﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُصُّ أَوْ يَأْخُذُ مِنْ شَارِبِهِ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې شونډې وړې کولې يا به يې اخستلې.

وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ صَلَوَاتُ الرَّحْمَنِ عَلَيْهِ يَفْعَلُه. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [1]

او ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې د خدای دوست ؤو هغې به داسې کوم يعني هغې به هوم خپلې شونډې وړې کولې.

د بريت غټولو کولو پاره وعيد

﴿۲۰﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ

او د حضرت زيد ابن ارقم نه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې

لَمْ يَأْخُذْ شَارِبَهُ فَلَيْسَ مِنَّا. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ [2]

شونډې نه غوڅوي هغه زمونږ نه نه دی. (احمد، ترمذی، نسائی)

توضيح: فليس منا: يعني دې شعبه کې زمونږ په طريقه نه دی. باقي دين کې دی. يا زمونږ سره د هغې هيڅ تعلق نشته دی. دا يې بطور اسلوب حکيم وفرمايل چې هغه پريشانه شي او توبه وباسي. دا تشديد او تغليظ او تهديد او توبيخ دی. (مرقات ۲۲۲/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۴۳۷ أخرجه الترمذي في سننه ۸۶/۵ رقم الحديث ۲۷۶۰ واحمد في المسند ۳۰۱/۱.

([2]) رقم الحديث ۴۴۳۸ أخرجه الترمذي في السنن ۸۷/۵ رقم الحديث ۲۷۶۱ والنسائي في ۱۵/۱ رقم الحديث ۱۳.

د غاړو اړخ نه د ږيرې برابرولو حکم

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْخُذُ

او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مِنْ لِحْيَتِهِ مِنْ عَرْضِهَا وَطُولِهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ (۱)

به خپله ږيره مبارکه پلنوالي او اوږد والي کې (يعني د لاندې نه هم او ښي او چپ اړخ نه هم) کموله.

توضيح: يأخذ من اطراف لحيته: د دې نه مراد هغه غټ ويختان دي چې د نورو ويختانو نه غټ شي. چې د ږيرې هوار والي کې فرق راولي، نو ځکه به هغه زياتې ږيره غوڅولی کيږي. دښه د ږيرې دوړې کولو جواز نه ملاويږي، لکه څنګه چې د مودودي منونکي خشخشی ږيره ساتي. البته تر د يو موټې پورې ږيره وړه کول جائز دي. يو قبضه کمول د جواز آخري حد دی. ګويا کې صحابي د آخري حد ويلی دی. (مرقات ۲۲۳/۸)

د نارينه لپاره د خلوق عطر استعمالول جائز نه دي

﴿۲۲﴾ وَعَن يعلى بن مرّة أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَيْهِ

او د حضرت يعلى ابن مره نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يعلى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په جامو باندې د

خَلُوقًا فَقَالَ: أَلَكَ امْرَأَةٌ؟ قَالَ: لَا

زعفرانو مرکب خوشبويي خلوق وليدله، نو ويې فرمايل چې آيا ته د ښځې والا يې؟ هغې وويل نا.

قَالَ: فَاغْسِلْهُ ثُمَّ اغْسِلْهُ ثُمَّ اغْسِلْهُ ثُمَّ لَا تعد. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ (۲)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل نو بيا دا اوينځه بيا يې اوينځه بيا يې اوينځه او بيا کله هم داسې مه کوه.

توضيح: خلوق يو قسم عطر دي چې ښځې يې استعمالوي. د زعفرانو نه خلوق جوړيږي. چې د نارينۀ چې زعفران منع دی نو خلوق هم منع دی.

الک امرأة: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ځکه وپوښتل چې که د ښځې والا وي نو کېدی شي چې د هغې بدن نه لرېدلی وي چې معاف دی، خو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته معلومه شوه چې هغې په مستقله توګه استعمال کړی دی نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ځل يې وفرمايل چې چې لاړ شه او دا وينځه بلکې دې ځل يې وينځه. (مرقات ۲۲۴/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۳۹ أخرجه الترمذي في السنن ۸۷/۵ رقم الحديث ۲۷۶۲.

(۲) رقم الحديث ۴۴۴۰ أخرجه الترمذي في السنن ۱۱۲/۵ رقم الحديث ۲۸۱۶ والنسائي ۱۵۲/۸ رقم الحديث ۵۱۲۱

﴿۲۳﴾وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ رَجُلٍ

او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله د هغه کس لمونځ نه

فِي جَسَدِهِ شَيْءٌ مِنْ خَلُوقٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

قبولوي چې په بدن يې لږ شان خلوق هم لږ بد لي وي.

توضيح: خلوق: يعنې دا کس به لمونځ کوي خو د بنځو سره د مشابهت به وجه به يې لمونځ نه قبلږي، ځکه خلق د بنځو خوشبوې ده. دې مشابهت اختيار کړی دی خو ابن مالک فرمايي چې دلته د خلوق په استعمالولو باندې دا سخت وعيد راغلی دی. چې زجر او توبيخ او تشديد او تغليظ باندې محمول دی. (مرقات ۲۲۴/۸)

﴿۲۴﴾وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ: قَدِمْتُ عَلَى أَهْلِي مِنْ سَفَرٍ

او حضرت عمار ابن ياسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ځل زه د سفر نه بېرته خپل کور والو ته په داسې حال

وَقَدْ تَشَقَّقَتْ يَدَايَ فَخَلَّقُونِي بِزَعْفَرَانٍ

کې راغلم چې ځما دواړه لاسونه چاودلي ؤو، نو زما کور والو (د علاج په توګه) زما په لاسونو د دې خوشبوې ومښله

فَغَدَوْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې زعفران په کې ګډوډ کړی شوی دی. بيا چې کله سحر زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شوم

فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ

او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مې سلام وکړو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما د سلام وجواب ونه کړو

وَقَالَ: اذْهَبْ فَاغْسِلْ هَذَا عَنْكَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

بلکې ويې فرمايل چې لاړ شه او د دې خوشبويي وينځه.

توضيح: فلم يرد علي: يعنې د خلوق د استعمالول په وجه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته د سلام جواب رانه کړو. کېدی شي چې د عمار د عذر علم نه ؤو شوی. ګنې معذوره او مجبوره ؤو. د دوا په توګه يې استعمال کړی ؤو. (مرقات ۲۲۴/۸)

([1])رقم الحديث ۴۴۴۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۰۳/۴ رقم الحديث ۴۱۷۸ وأحمد في المسند ۴۰۳/۴ .

([2])رقم الحديث ۴۴۴۲ أخرجه أبوداود في السنن ۴۰۲/۴ رقم الحديث ۴۱۷۶ وأحمد في المسند ۳۲۰/۴.

د نارينۆ اوزنانۆ په عطرو کې فرق

﴿۲۵﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: طِيبُ الرِّجَالِ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د نارينۆ خوشبوي هغه ده چې

مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ وَطِيبُ النِّسَاءِ

دبويي ظاهر خووي خو د هغې رنګ ظاهر نه وي، لکه مشک او عنبر او عطر وغيره او د ښځو خوشبو هغه ده

مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ [1]

چې رنګ خويي ظاهر وي خو د هغې بوي ښوره نه شي لکه د نکريزو او زعفران وغيره. (ترمذی، نسائی)

توضيح: ښځه باپرده شی دی نو د دې تقاضا دا ده چې د هغې د بدن نه خوشبوي په کوم نارينه باندې ونه لږي. البته د کور د ښځې زينت د ښځې لپاره ضروري دی، نو ځکه دي د ښځې په خوشبوي کې زينت زيات وي، خوشبوي کمه وي او د نارينه پرده نشته دی نو ځکه دې تيزه خوشبوي ولګوي خو زيبائش او زينت د نارينه د نارينتوب خلاف دی، نو د هغې په عطرو کوشبوي تيزه او زينت کم وي.

﴿۲۶﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكَّةٌ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره سکه وه. د يو مرکب خوشبوي نوم،

يَتَطَيَّبُ مِنْهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [2]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغې نه لګوله.

توضيح: سكة: سين باندې پيش دی. ک باندې شد سره زبر دی. آخر کې ګول تا ده. اکثر شارحينو د سکة ترجمه او مفهوم داسې بيان کړی دی چې دا يو مخلوط مرکب دی، خو دا خبره په زړه نه لګي ځکه "يتطيب منها" لفظ د دې پوره موافق نه دی. مرقات کې ملاق علی قاری د ډېرو اقوالو نه وروسته فرمايي "وقيل الظاهر ان المراد بها ظرف فيها طيب" علامه جزوی فرمايي چې "ويحتمل ان يكون وعاء". علامه ميرک د کلام نه هم معلومېږي چې دا لوښی کېدی شي. بهرحال د عطرو ډبی اخستل ډېر ښه دي. بيا د هغې دننه ګډوډ يا غير ګډوډ وي هيڅ فرق نه کوي. (مرقات ۸/۲۲۶، ۲۲۵)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۴۳ اخرجه الترمذي في السنن ۹۹/۵ رقم الحديث ۲۷۸۷ والنسائي في ۱۵۱/۸ رقم الحديث ۵۱۱۷.

[2] رقم الحديث ۴۴۴۴ اخرجه ابوداود في السنن ۳۹۴/۴ رقم الحديث ۴۱۶۲.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثر په سر تیل مړول

﴿۲۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يُكثر دهن رَأسه
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل سر مبارک کې زیات تیل استعمالول.
وتسريحَ لحيته وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ كَأَنَّ ثَوْبَهُ
ږیره به یې زیاته استعمالوله او اکثر به یې سر مبارک باندې یو توته ږدله چې داسې به ښکاره کیدله
ثَوْبُ زَيَّاتٍ. رَوَاهُ فِي شرح السنة [1]
چې د بوجئ توته ده. (شرح السنة)

توضیح: یکثر دهن: دلته پوښتنه دا ده چې تیل خو به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زیات استعمالول خو د زیات ږمونځولو نه خو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده. دلته د کثرت ذکر ولې دی؟

د دې جواب دا دی چې د کثرت نه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده هغه په خپل ځای صحیح دی. دلته د کثرت مطلب دا دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی نفسه ږمونځه زیاته استعمالوله. دا مطلب نه دی چې د منع حد پورې په یې ږمونځه استعمالوله. سر کې د ږمونځې لپاره ترجل او ږیره کې د ږمونځې لپاره د تسریح لفظ استعمال شوی دی. (مرقات ۸/۲۲۶)

ویکثر القناع: د پټکي وغیره لاندې چې کومه نرمه توته استعمالیږي هغې ته قناع وایي. دا چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به سر کې تیل زیات استعمالول نو ځکه د تیلو منښلو نه وروسته به یې دا نرمه توته د پټکي لاندې ایښودله چې پټکي پسې تیل ونه خښلي. (مرقات ۸/۲۲۷)

کأن ثوبه: ثوبه کې چې کوم ضمیر دی دا د هغه قناع ثوب ارخ ته راجع دی. یعنې نرمه توته به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پټکي لاندې استعمالوله. هغه توته به په تیلو کې داسې نوندې شوه چې داسې غورځنه به شوه لکه څنګه چې د تیل خورځونکي کس جامې وي. د تیلو خرڅونکي والا جامې هم غورځنې وي. او په خاصه توګه د هغې لاس کې یوه توته وي چې هغه پرې لاسونه پاکوي. هغه په تیلو کې غوړه وي.

بهرحال دا ضمیر د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بدن مبارک باندې د اغوستلی شوې جامو ارخ ته نه دی ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پاکوالي کې انظف الناس ؤو. ملا علي قاري څه روایتونه هم نقل کړي دي چې وضاحت او تصریح سره دا ضمیر همغه د قناع ارخ ته راجع دی. (مرقات ۸/۲۲۷)

---

(۱) رقم الحديث ۴۲۴۵ المرجع الحاوي في شرح السنة ۱۲/۱۸۲ رقم الحديث ۳۱۶۴

د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوڅئ مبارکي

﴿۲۸﴾ وَعَن أُم هَانِئٍ قَالَتْ: قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا بِمَكَّةَ قَدْمَةً

او حضرت ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ځل د مکي د فتحې په ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ کره تشريف

وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ [1]

راوړو نو هغه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څلور کوڅئ وي يعنې دوه نبي اړخ ته ؤو او دوه چپ اړخ ته.

توضيح قدمة: دا د قدم لپاره مفعول مطلق دي. قاف باندې زبر دی. دال ساکن دی. میم باندې زبر دی. "ای مرة واحدة" يعنې د دې راتګ نه د فتح مکې راتګ مراد دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څلور ځله مکې ته تشريف راوړی دی. عمرة القضاء کې بيا د مکې د فتحې په ورځ بيا د طائف د جعرانه نه راغلو او آخري ځل حجة الوداع کې راغلو.

غدائر: دا د غديرة جمع ده. اصل کې ګډې ته وايي خو دلته هغه مراد نه دی بلکې مطلب دا دی چې د حفاظت له نظره د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويختان څلورو برخو کې شوي ؤو. (مرقات ۲۲۸/۸)

د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دويختانو مينځ کې د لارې ذکر

﴿۲۹﴾ وَعَن عَائِشَةَ قَالَتْ: إِذَا فَرَقْتُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ صَدَّعْتُ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې کله به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سر کې لاره ويستله نو د تندي

فَرْقَهُ عَنْ يَافُوخِهِ وَأَرْسَلْتُ نَاصِيَتَهُ

نه به يې د سر د ويختانو دوه برخې کولو سره جدا کولې او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تندي ويختان د

بَيْنَ عَيْنَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [2]

دواړو سترګو مينځ کې پريښودل.

توضيح فرقت: فرق: د سر ويختانو مينځ کې لاري ته وايي او فرقت لاره ويستلو ته وايي.

رأسه: يعنې د سره په ويختانو کې به يې مانګ ويستلو. (مرقات ۲۲۸/۸)

صدعت: صدع د څېرولو په معنی کې دی. لاره ويستلو لپاره ويختان په دوه برخو کې تقسيمول مراد دي. (مرقات ۲۲۸، ۲۲۹/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۴۶ اخرجه ابوداود في السنن ۴۰۹/۴ رقم الحديث ۴۱۹۱ والترمذي في ۲۱۶/۴ رقم الحديث ۱۷۸۱.

[2] رقم الحديث ۴۴۴۷ اخرجه ابوداود في السنن ۴۰۸/۴ رقم الحديث ۴۱۸۹ وابن ماجه في ۱۱۹۹/۲ رقم الحديث ۳۶۳۳.

یا فوخه: یا فوخ د سر هغه مینځئ برخې ته وایي چرته چې تالو وي. وړوکوالي دا ځای پرقبږي.

بین عینه: حضرت عائشه رضی الله عنها د لاره ویستلو دا صورت وایي چې د هغې یو سر به د تالو سره وه او دویم به یې د دواړو سترګو مینځ کې د تندې د پاسه وُو، خو دا د لارې ویستلو صورت شو. د تندې د ویختانو کیفیت داسې بیانوي چې دنیم ویختې د کربنې بنې اړخ ته وُو او نیم وختې ته به د کربنې چپ اړخ ته وُو. د حدیث همدغه مفهوم دی خو د الفاظ وتنګي ده. وضاحت پوره نه دی.

علامه طیبي فرمایي "**بین عین یکون نصف شعر ناصیته من جانب یمین ذاك الفرق والنصف الأخر من جانب یسار ذلك الفرق اه**" ملا علي قاري د الفاظو تنګي او د باریک فرق ته اړخ ته اشاره کولو سره فرمایي "**وتأمل فیما بین القوسین من الفرق فانه فرق دقیق وبالتأمل حقیق لمن له توفیق**" (مرقات)

هره ورځ د سر ډمنځولو نه ممانعت

﴿۳۰﴾ وَعَن عبد الله بن مغفّل قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّرَجُّلِ

او حضرت عبدالله ابن مغفل رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ډمونځولو نه منع کړې ده

إِلَّا غِبًّا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

خو روزانه دا چې یو ورځ پس ډومنځ کړی شي.

توضیح الاغباً: قاضي عیاض رحمه الله فرمایي چې "غب" لفظ د هر هغه کار لپاره استعمالېږي چې کوم یو ورځ وکړی شي او بله ورځ پرینبودلی شي. د ومونځ باره کې همدغه مطلب دی. چې سر او ډېره هره ورځ مه ډمونځوئ حکه مسلمان د دې ارائش او زیبائش نه دی پیدا شوی او دا تکلفات د هغې د ژوند برخه ده چې هر وخت خامخا ډمونځې پسې ننبتی وي. د دې نه معلومه شوه چې کوم خلک د هر اودس نه وروسته ډېره ډمونځوي او دا سنت ګڼي. دا غلطه ده. (مرقات ۲۲۹/۸)

امام غزالی په احیاء العلوم کې یو حدیث نقل کړی دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به هره ورځ دوه ځل سره ډمونځولو. علماؤ لیکلي دي چې د دې حدیث هیڅ ثبوت نشته دی. البته د ښځو حکم جدا دی. علماؤ لیکلي دي چې ښځه هره ورځ سر ډمونځولی شي، ځکه د دې کار په ډمونځه چونتې جوړول دي. بهرحال دا د اولی او د غیر اولی مسئله ده. د څه فرض یا حرام مسئله نه ده، خو نن سبا نارینه او زنانه دومره بې حیا شوي دي چې په روانه او په ناسته یې لاس کې ډمونځه وي. داسې بې حیاء ښځې هم په نظر کې راشي چې د سړک په غاړه په سرعام سر ډمونځوي.

---

[1] ... ۳۹۲/۴ رقم الحدیث ۴۱۵۹ والترمذي في ۲۰۵/۴ رقم الحدیث ۱۸۵۶.

ډیر د عیش ژوند پریږدئ او کله لغړي ښپي هم کړئ

﴿۴۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ: مَا لِي أَرَاكَ شَعِثًا؟ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْهَانَا عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الإِرفاه قَالَ: مَالِي لَا أَرَى عَلَيْكَ خِذَاءً؟ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نحتفي أَحْيَانًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۱)

حضرت عبد الله ابن بریده رضی الله عنه فرمایي چې یو ورځ حضرت فضاله ابن عبید رضی الله عنه ډیو کس نه وپوښتل چې څه خبره ده چې زه تا په کډود ویختانو (یعنې ستا ویختان ږمونځ شوي نه) وینم؟ هغې وفرمایل چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډ عیش او ارام څیزونه د زیات اختیارولو نه به مونږ منع کولو. (او ږمونځولو او د تیل استعمال هم په دې کې دی) هغه بیا وپوښتل چې څه خبره ده چې زه ستا پښو کې بوتان نه وینم؟ هغې جواب ورکړو چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به مونږ ته دا حکم کولو چې مونږ کله کله بربنډي پښي ښم ژ

توضیح: شعثاً: کډود ویختانو ته وایي. دې ډېر د ږمونځولو وهلو او د تیل نه ورکولو او د عیش د ژوند پریښودلو علامت ؤو، نو ځکه یې په جواب کې "كثير من الارفاه" الفاظ راغلي دي. چې مفهوم یې د عیش او د ارام ژوند دی چې خوراک د پاسه خوراک وي، لباس د پاسه لباس وي "الافارة التنعم وماظاهرة الطعام على الطعام واللباس على اللباس" (مرقات ۸/۲۳۰)

ان نحتفی: بربنډو پښو باندې تللو ته احتفا وایي. دې سره جفا کشی راځي. پښې مضبوطږي. عاجزي او انکساري راځي او بربنډو پښو سره طاقت پیدا کېږي. چې د مجبوری په وخت کې پکار راځي. او خاروه باندې بربنډو پښو باندې ګرځېدلو سره سړی د تې بې د مرض نه محفوظ وی.

احیانا: یعنې کله کله معمول وي همیشه نه وي. (مرقات ۸/۲۳۰)

بهرحال هر حال کې اعتدال بهترین حال دی.

اپنی مٹی پہ تو چلنے کا سلیقہ سیکھو — سنگ مرمر پہ چلو تو پھسل جاؤ گے

که ویختان غټ کړئ نو اکرام یې کوئ

﴿۴۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل چې د کوم کس په سر چې ویختان وي

---

(۱) برقم الحديث ۴۱۴۹ اخرجه ابو داود في السنن ۴/۳۹۳ رقم الحديث ۴۱۶۰ واحمد في المسند ۶/۲۲.

قَالَ:	مَنْ	كَانَ	لَهُ	شعرٌ
نو هغې له پکار ده چې خپل ویختان ښه وساتي (یعني دا وینځې او تیل ورکوي یا یې ږمونځوي او د لهونې پشان یې				
فليُكرمه	رَوَاهُ	أَبُو	دَاوُد	(۱)
ګډوډ نه وي ځکه نفاست او صفائی خو خوش بویي یو خوښ کړی شوی او محبوب څیز دی)				

توضیح: د ویختانو اکرام دا دی چې دې له تیل ورکړی شي، ږمونځ کړی شي او دا جوړ کړی شي. اسلام شائستګی او د تهذیب حکم ورکوي. او هر څیز ته د هغې جائز مقام ورکوي او دهر څیز کې د افراط تفریط نه د پاک اعتدال تعلیم ورکوي. ویختان دې داسې هم نه وي چې هر وخت په کې سړی لږبدلی وي، نو سړي باندې لازم ي چې د دې خیال وساتي چې معاشره کې اوسیدلو قابل شي. (مرقات۸/۲۳۰)

بهترین خضاب کوم یو دی؟

﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ
او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د کوم څیزونو په ذریعه د
الشَّيْبُ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ (۲)
بوډه والي یعني د ویختانو سپین والی بدل کېدی دی هغې کې بهترین شی نکریزي او وسمه ده.

توضیح: الحناء والکتم: کتم د یو قسمه وابنو نوم دی. چې د وسمې سره ګډوډ کړی شي او بیا په خضاب کې کارول کېږي. ځینې حضرات وایي چې کتم خپله وسمې ته وایي. اوس د بحث لاندې حدیث لپاره دا کتل غواړي چې آیا نکریزي او وسمه دواړه ملاو کړی شي او خضاب ترطنه جوړ کړی شي یا د حدیث مطلب دا دی چې صرف نکریزي یا صرف وسمه جدا جدا خضاب کړی شي.

علامه ابن اثیر جزری په نهایه کې څه لیکلي دي. د هغې نه په ظاره معلومېږي چې حدیث کې صرف نکریزي یا صرف په کتم باندې خضاب کول مراد دی. هغې د دلیل په توګه دا ویلي دي چې که د نکریزو سره کتم ملاو کړی شي نو د دې نه تور خضاب جوړېږي او د تور خضاب استعمالول د ډېرو صحیح حدیثونو په وجه منع دی. لهذا دلته "الحناء والکتم" کې واؤ په معنیٰ د او دی. چې د تنویع لپاره دی او د تنویع لپاره واو راځي. اوس به د حدیث مطلب دا شي چې خضاب اختیار کړی شوی دی چې هغه په نکریزو خضاب وکړي یا د کتم خضاب استعمال کړي. د نکریزو خضاب سور وي او د طرف د کتم

---

(۱) رقم الحدیث ۴۴۵۰ اخرجه ابوداود في السنن ۳۹۴/۴ رقم الحدیث ۴۱۶۳

(۲) رقم الحدیث ۴۴۵۱ اخرجه ابوداود في السنن ۴۱۶/۴ رقم الحدیث ۴۲۰۵ والترمذي في السنن ۲۰۴/۴ رقم الحدیث ۱۷۵۳.

خضاب شین وي. د علامه ابن اثیر دا تحقیق خو ډېر ښه دی، خو ملا علي قاري وغیره شارحین فرمایي چې د حدیث په ټولو روایتونو کې واو ذکر دی. داټول اسانید خلاف ظاهر باندې حمل کول ګران دی، ځکه د ځینو شارحینو تحقیق دا دی چې دې حدیث کې واؤ په معنیٰ د مع دی او حناء او کتم ملاولو سره تور رنګ نه جوړېږي بلکې سور ښکنی سیاهی رنګ پیدا کېږي چې نسواري هم ورته ویلی شي. زما په خیال اصل کې تشویش د دلته نه پیدا کېږي چې شارحینو حضراتو د کتم باره کې هیڅ متفقه بیصله نه ده کړې. ځینې حضراتو کتم ته وسمه ویلې ده چې تور رنګ دی. ځینو دا داسې وانښه ګڼلې دي چې شین رنګ ترښه پیدا کېږي. اوس حدیث د لفظ نکرزو سره سره کوم شارح رنګ ملاو کړی دی هغه همغه شان فیصله کړې ده. د ملا علي قاري په خیال کې د کتم نه پیدا کېدونکی رنګ تور وي. بیا هغې یو جامع کلام پیشک ړی دی چې د ټولو حضراتو په کلام کې اتفاق راځي. چې زیاته صحیح خبره دا ده چې د کتم او نکرزو په ګډوډ والي سره د خضاب مختلف قسمونه شي. که د کتم اجزاء په نکریو زیات وي یا کتم او نکریزي دواړه برابر وي نو خضاب تور وي چې ناجائز دی، لکه څنګه چې ابن اثیر په نهایه کې دا ګډوډ ګڼلو سره ناجائزه ګڼلی دی. اوو بیا یې واؤ د او تنویع په معنی کې اخستی دی اوو که نکریو اجزاء به کتم باندې غالب وي نو د خضاب رنګ سور راوځي چې جائز دی، لکه څنګه چې نورو شارحینو اخستی دی او واؤ یې په خپل اصل معنیٰ کې اخستی دی. چې په معنی د مع دی.

تور خضاب کونکي لپاره وعید

﴿۳۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَكُونُ قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې آخري زمانه کې

يَخْضِبُونَ بِهَذَا السَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ

به څه داسې خلک پیدا شي چې د کوترې د پوټ پشان به د سیاهي په ذریعه خضاب کوي (یعنې هغوی چې کوم خضاب

لَا يَجِدُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ [1]

استعمالوي هغه هم دغه شان تور وي لکه څنګه چې د کوترې پوټ تور وي) داسې خلکو باندې به د جنت بوي هم ونه لږي.

توضیح: **بهذا السواد**: معلومه شوه چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه یو خاص تور خضاب ؤو. د هغې ارخ ته یې اشاره کړې ده. یا مراد جنس سواد دی.

کحواصل: دا د حوصلة جمع ده. د مرغۍ د غاړې او څټ د لاندې چې کومه سینه وي. هغې ته حوصله وایي. چرته چې ابتداء کې خوراک جمع کېږي. ځینې کوترو کې داسې وي چې دا برخه توره وي.

---

[1] رقم الحديث ۴۴۵۲ اخرجه ابوداود في السنن ۴۱۸/۴ رقم الحديث ۴۲۱۲ في ۱۳۸/۸ رقم الحديث ۵۰۷۵.

عامو کې داسې نه وي. البته تور او سپين ګډوډ رنګ په اکثره کوترو کې وي. کېدی شي د هغې سره تشبيه وي، ځکه د تور رنګ باوجود هم څه ويختان سپين پاتې شي.

دې حديث کې د هغه خلکو لپاره سخت وعيد دی چې په ږيره کې تور خضاب لګوي. دغه شان مسئله د ښځو د سر د ويختانو هم ده. تعجب په هغه علماؤ چې د دې وعيد باوجود د تور خضاب ترغيب ورکوي. او دعوت کوي او د حديث مطلب دا بيانوي چې سور جائز نه دی او تور خضاب کوئ او دا زړه ورتيا هم کوي چې د مسلم شريف په روايت کې "اجتنبوا السواد" جمله صحيح نه ده.

لايجدونه رائحة الجنة: که دا جائز ګڼې نو دعوت ورکوي نو د جنت خوشبوې حرامه او که صرف دې باندې عمل کوي نو د حشر په ميدان کې به د جنت خوشبوې ورکول سره د مسلمانانو ته رسيږي. دا خلک به محرومه وي يا تشديد او تهديد او تاليظ باندې محمول دی. بهرحال د تور حضاب حرام کېدل د دې حديث نه واضحه کېږي. (مرقات ۲۳۲/۸)

زيړ خضاب کول جائزدي

﴿۳۵﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دباغت نه بغير او ويختانو نه

يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَيَصْفِرُّ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ

بغير به يې د څرمن پيزار اغوستلو او په خپلې ږيرې مبارکې باندې به يې د ورس (يو قسمه وابنه چې د يمن

وَالزَّعْفَرَانِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ

په علاقه کې به ؤو) او د زعفرانو په ذريعه به يې زيړ رنګ ورکولو. او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به هم

يَفْعَلُ ذٰلِكَ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

داسې کول (يعني ذکر شوی پيزار به يې اغوستلو او ذکر شوی خضاب به يې کول)

﴿۳۶﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته يو کس تېر شو

قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ: مَا أَحْسَنَ هٰذَا.

چې د نکريزو خضاب يې لګولی ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دې خضاب څومره ښکلی دی.

([1])رقم الحديث ۴۴۵۳أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۷/۴ رقم الحديث ۴۲۱۰ والنسائي في ۱۸۶/۸ رقم الحديث ۵۲۴۳.

قَالَ: فَمَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ
بيا يو بل كس تېر شو چې د نكريزو او د وسمې خضاب يې لګولى ؤو چې خالص تور نه ؤو.
فَقَالَ: هَذَا أَحْسَنُ مِنْ هَذَا ثُمَّ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ليدلو سره وفرمايل چې دا خضاب د هغه اولنې هم ښكلى دى. د هغې نه
مَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالصُّفْرَةِ
وروسته يو بل كس تېر شو چې زيړ خضاب يې لګولى ؤو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ليدلو سره
فَقَالَ: هَذَا أَحْسَنُ مِنْ هَذَا كُلِّه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
وفرمايل چې دا د دې ټولو نه ښكلى دى. (ابو داؤد)

توضيح: بالحناء والكتم: د دې حديث نه معلومه شوه چې والكتم كې واو د مع په معنى كې دى، لكه څنګه چې مخكې دا هم راجح ګڼلى شوى دى. (مرقات ۸/۲۳۴)

﴿۳۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: غَيِّرُوا الشَّيْبَ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل بوډه والى يعنې د ويختانو
وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنِ ابْنِ عمر[3] وَالزُّبَيْر[4]
سپينوالى د خضاب به ذريعه بدل كړئ او د يهودو سره مشابهت مه اختيارو ئ چې خضاب نه كوي.

سپين ويختان د مؤمن د نورانيت سبب دي

﴿۳۸﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيكه نه نقل كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل
لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ
سپين ويختان مه وباسئ ځكه بوډه والى (يعنې د ويختانو سپينبدل) د مسلمانانو لپاره د نورانيت سبب دى.

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۵۴ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۱۷ رقم الحديث ۴۲۱۱ وابن ماجه في ۲/۱۱۹۸ رقم الحديث ۳۶۳۷

(۲) رقم الحديث ۴۴۵۵ أخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۰۳ رقم الحديث ۱۷۵۲ وأحمد في المسند ۲/۴۹۹

(۳) رقم الحديث ۴۴۵۶ أخرجه النسائي في السنن ۸/۱۳۷ رقم الحديث ۵۰۷۳

(۴) رقم الحديث ۴۴۵۷ أخرجه النسائي في السنن ۸/۱۳۷ رقم الحديث ۵۰۷۴ وأحمد في المسند ۱/۱۶۵

مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ
کوم کس چې د اسلام په حالت کې د بوډه والي اړخ ته قدم اخلي (يعني د کوم مسلمان چې يو ويښتي سپين شي)
كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً وَكَفَّرَ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً وَرَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [1]
نو د هغې په وجه الله د هغې لپاره يو نيکی ليکي او د هغې يوه خطا معاف کوي او د هغې يوه درجه اوچته کړي.

توضيح: لاتنتفوا: د سپين ويښتانو د ويستلو ممانعت دی ځکه دا نور الهی مظهر دی. او د مومن وقار دی، نو د ې زياتېدل ښه دي. ويستل يې ښه نه دي. د قيامت په ورځ کې کله تورتم شي د هغه سپيني ډېري ويښتان به د ډېوي، تارچ او د رڼا کار کوي. (مرقات ۲۳۵/۸)

﴿ ۳۹ ﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ
او حضرت کعب ابن مره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم کس
شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ القيامةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ [2]
د اسلام په حالت کې بوډه شي، نو د هغې بوډه والی به د قيامت په ورځ د رڼا په صورت کې ظاهر ېږي.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جمه، لمه اووفره ويښتان

﴿ ۴۰ ﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي ما او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په يو لوښي کې لامبل (يعني د اوبو نه ډک په يو
وَكَانَ لَهُ شَعْرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ وَدُونَ الوفرة. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ [3]
لوښي به زمونږ په مينځ کې پروت وُو) او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سر ويښتان به د جمه د پاسه او د وفره د لاندې وُو.

توضيح: من اناء واحد: ملا علي قاري فرمايي چې د يو لوښی به يې جدا جدا غسل کولو يو ځای مراد نه دی. او که داسې مراد واخستلی شي نو په مينځ کې به پرده وه، لکه څادر يې ځوړند کړو نو يو اړخ ته نارينه او بل اړخ ته زنانه او په مينځ کې لوخی، يا د شپې وخت کې تورتم وي هغه وخت مراد دی. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايلي دي چې ما په ژوند کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ستر نه دی ليدلی، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو د هغې نه هم زيات حيادار وُو. (مرقات ۲۳۷/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۴۵۸ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۴/۴ رقم الحديث ۴۲۰۲ والترمذي في ۱۱۵/۵.

([2]) رقم الحديث ۴۴۵۹ أخرجه الترمذي في السنن ۱۴۷/۴ رقم الحديث ۱۶۳۴ والنسائي في ۲۶/۶ رقم الحديث ۳۱۴۲.

([3]) رقم الحديث ۴۴۶۰ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۰۷ رقم الحديث ۴۱۸۷ والترمذي في ۲۰۵/۴ رقم الحديث ۱۷۵۵.

له شعر فوق الجمة: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويختان به په مختلف وختونو کې په مختلف انداز کې ؤو. حديثونو کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ويختان لپاره دري الفاظ استعمال شوي دي. اول لفظ جمة دی. جيم باندې پيش دی. ميم باندې شد دی. دا د تولو نه اوږده وي. چې اوږو ته رسيږي. د هغې نه وروسته بل لفظ لَمّة دی. لام باندې زير دی. ميم مشدد دی. دا مينځنئ ويختان ؤو. چې د اوږو سره به نږدې ؤو. د دې نه نه وروسته په درېم نمبر لفظ د وفره دی. واو باندې زبر دی پر فا ساکن دی. را باندې زبر دی. دا د تولو نه وړو ويختانو ته وايي. چې د غوږونو د پوسقو ته رسي. د دط مجموعې لپاره د "جلو" لفظ ساتل پکار دی. يعنې جمهو لمه، وفره، د اعلی نه ادنی اړخ ته ترقې ده.

علامه طيبی فرمايي "**الوفرة الشعرة الی شحمة الاذن والجمة الی المنکب واللمة التی المت بالمنکبين**" (طيبي ج ۸ ص ۲۵۹)(مرقات ۲۳۹/۸ ،الکاشف : ۲۸۱/۸، ۲۸۰)

شيخ عبدالحق محدث دهلوی اشعة اللمعات کې فرمايي: *بدانکه موئے سر سه نام دارد ۱: جمه ۲: ؤوفره ۲: لمه، جمه موئے تادو، ؤوفره تانرمه گوش ولمه بين بين اصح در تفسير اين الفاظ اين است الخ.* (ج ۳ ص ۶۲۰)

حديث باندې اسانه بانې د پوهېدلو لپاره داسې وګڼئ چې جمه د تولو نه اوږده وي او وفره د تولو نه واړه وي او لمه درميانه وي. د فوق الجمه مطلب دا دی چې دا د پوره جمه نه څه د پاسه ؤو. د جمه د حد پورې نه ؤو راغلي. او "**دون الوفرة**" کې د دون د ادون په معنٰی کې دی. يعنې د وفره نه څه لږ لاندې ؤو، نو د اوږو نه څه پاس او د غوږونو د پوسقو نه څه لږ لاندې په متوسطه درجه کې ؤو. چې لمه ورته ويل کېږي. او همدغه بيانول مقصود دي. د ابوداؤد شريف په حديث کې د دون الجمه فوق الوفرة الفاظ راغلي دي چې دا پاسنی واضحه کوي. چې د جمه نه کم او د وفره نه زيات چې د لمه درجه ده د شيخ عبدالحق د عبارت نه معلومېږي چې د دې الفاظو نور مطلبونه هم بيانېږي، خو صحيح تفسير همدغه دی. هسې د جمه لفظ مطلق د ويختانو لپاره هم ويل کېږي، لکه څنګه چې لاندې د خريم په روايت کې دي.

د ناريتۀ لپاره ډير اوږده ويختان ښه نه دي

﴿۴۱﴾ وَعَنِ ابنِ الحنظليَّةِ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن حنظلية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابه کرامو کې يو کس دی روايت کوي

قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ لَوْلَا

چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو کس ته ورفرمايل چې خريم اسدی ښه سړی دی. که د هغې ويختان

طُولُ جُمَّتِهِ وإسبال إزاره فَبَلَغَ ذَلِكَ خُرَيْمًا

اوږده نه وي او د هغې لنګ زورند نه وي. چې کله خريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې خبرې علم وشو

فَأَخَذَ شَفْرَةً فَقَطَعَ بِهَا جمته إِلَى أُذُنَيْهِ وَرفع إزراه
نو هغې یو چاړه راواخسته او ویختان یې د غوږونو د پوسقو پورې غوڅ کړل او خپل لنګ یې د
إِلَى أَنْصَاف سَاقيه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]
پوهندو د نیمې پورې کړل.

توضیح الاسدی: همزه باندې زبر دی او سین ساکن دی. دا لفظ حقیقت کې ازدی دی. او د ازدی نه مراد ازد شنۍ دی. ازد بن غوث د یمن د یوط قبیلې د نیکه نوم ذی. قاموس کې لیکلي دي چې د ازد د لفظ نه د اسد لفظ زیات واضحه دی. د مدینې اکثر انصاری د همدغه کس ازد بن غوث یا د اسد بن غوث د نسل نه ؤو. دې لفظ نه د اسد قبیله مراد نه ده. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خریم تعریف هم وکړو او په یو نقص خبر هم کړو. هغې هغه نقص ژر لرې کړو. د تعلیم ورکونکي به د روکولو څه اوایو او د تعلیم اخستونکي به څه اوایو د هغې ویختان د ضرورت نه زیات اوږده ؤو؟ (مرقات ۸/۲۴۰)

حج او عمره کې سر خرائیل بهتر دي. د هغې نه بغیر یې ساتل افضل دي، خو په دې شرط چې نمائش او زیبائش مقصود نه وي. مسلمان هر وخت مجاهد وي او مجاهد د سر ویختان نه شي خرائیلی، جنګ ګران شي. او د ویختانو نه کافران وېرېږي. د تبلیغیانو یو بزرګ محمد احمد په بیانونو کې وایي چې اوږده ویختان خلک ځکه ساتي چې د قیامت په ورځ فرښتو د هغې نهول او دوزخ ته غوزارول اساني وي. دا کس د مجاهدینو او د جهاد دښمن دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همیشه ویختان ساتلي دي. تول عمر کې یې څلور یا پنځه ځل خرائیلي دي. قیامت کې به د فرښتو د نهولو لپاره صرف ویختان وي. ولي لاس، پښې، څټ او ملا او نور اندامونه نه وي. ګه صرف ویختان وی نو بیا ډېره هم پاکه کړه.

د برکت ویختان

﴿۴۲﴾ وَعَن أَنَسٍ قَالَ: كَانَتْ لِي ذُؤَابَةٌ فَقَالَتْ لِي أُمِّي: لَا
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې زما په سر اوږده ویختان ؤو. زما مور ماته وویل چې زه ستا نه دا
أَجُزُّهَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُدُّهَا
ویختان غوڅوم او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه ویختان را ښکل او نهول به یې. لهذا ما د برکت حاصلولو
وَيَأْخُذُهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [2]
لپاره هغه ویختان همغه شان پریښودل.

---

(1) رقم الحديث ۴۴۶۱ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۳۴۸ رقم الحديث ۴۰۸۹ وأحمد في المسند ۴/۱۸۰.

(2) رقم الحديث ۴۴۶۲ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۱۱ رقم الحديث ۴۱۹۶

توضیح ذوابة: زلفو ته وایي.

لااجزها: ای لا اقطعها: زه تا نه غوڅوم، ځکه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس مبارک په دې لږبدلي دي، نو دا د برکت والا ویختان دي. همدغه شان د حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سر باندې هم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د طائف په موقع باندې لاس رانبکلی ؤو. هغې ټول ژوند هغه وساتل. د حضرت شیخ الاسلام سید حسین احمد مدنی لاس د حضرت احمد علی مدنی لاهوری د ږېرې په ویختانو لږبدلي ؤو. هغې ټول ژوند د ږېرې ویختان په قینجې باندې واړه نه کړل. کله چې کیناستلو نو ږېره به یې نامه ته رسیدله. دا د برکت والا ویختانوي: اسلام سر د ویختانو ساتلو ممانعت نشته دی. بلکې ویختان د نه ساتلو عقیده د خوارجو ویل شوي دهږ د تبلیغي جماعت یو بزرګ محمد احمد صاحب د یختان د ساتلو خلاف نن سبا بیانونه ورکوي. د دې کس د جهاد او مجاهدینو سره دښمني ده. کېدی شي د دښمنانو په اشاره یې بیړه اوچته کړې ده.

د ضرورت په بناء د سر ویختان خریل جائز دي

﴿۴۳﴾ وَعَن عبدِ الله بن جَعْفَرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْهَلَ آلَ جَعْفَرٍ

او د حضرت عبدالله ابن جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اولاد ته

ثَلَاثًا ثُمَّ أَتَاهُمْ

درې ورځې مهلت ورکړی ؤو (د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهادت خبر سره یې د درېو ورځو پورې د زړه د غم اجازت ورکړی ؤو) او دې

فَقَالَ: لَا تَبْكُوا عَلَى

موده کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د هغوی ته تشریف ونړوړ او پرې. بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام اطمینان او دلاسه کولو لپاره هغوی له راغلو او وې فرمایل

أَخِي بَعْدَ الْيَوْمِ ثُمَّ قَالَ:

بس د نن نه پس زما ورور جعفر پسې به نه ژړئ او بیا یې وفرمایل چې زما ورېرونه (یعني عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ،

ادْعُوا لِي بَنِي أَخِي.

عون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او محمد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د جعفر هلکان دي) ماله راولئ، نو مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت

فَجِيءَ بِنَا كَأَنَّا أَفْرُخٌ

کې راوستلی شو او هغه وخت مونږ د چرګوتو پشان (یعني ډېر کم عمري) ؤو. د هغې نه وروسته

فَقَالَ: ادْعُوا لِي الْحَلَّاقَ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل نائي زما خوا له راولئ. (کله چې نیا راغله) نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَأَمَرَهُ فَحَلَقَ رؤوسنا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ[1]
هغې ته زمونږ د ويختانو د خرائيلو حکم وکړو او هغې زمونږ سرونه وخرائيل.

توضيح: حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورور او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محبوب د تره ځوي وُو. غزوه موته کې شهيد شو. او د اسماء بنت عميس خاوند وُو. د هغې واړه واړه بچي يتيمانان پاتې شول. د يو نوم عبدالله وُو. د دويم نوم عون او د دريم نوم محمد وُو. د هغوی د سر خرائيلو لپاره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوی نيا راوغوښتله او د هغوی ويختان يې پر وخرائيل. د صفائی په غرض داسې معلومه شوه چې ويختان ساتل هم جائز دي او د ضرورت په بناء خرائيل هم جائز دي. د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې مړې باندې د درې ورځو نه زيات غم کول جائز نه دي. د زړه غم جدا شی دی. دې باندې پابندي نه شي کېدی. ملاعلی قاري ليکلي دي چې د درې ورځو نه وروسته تعزيت کول جائز نه دی. (مرقات ۲۴۲/۸، ۲۴۱)

د جينګو ختنه

﴿۴۴﴾ وَعَن أُمِّ عطيَّةَ الأنصاريَّةِ: أَنَّ امْرَأَةً كَانَت تختن بِالْمَدِينَةِ.
او حضرت ام عطيه انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې مدينه کې يوه ښځه وه چې د ښځو ختنه به يې کوله،
فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
لکه څنګه چې هغه زمانه کې د ښځو ختنه هم رواج وُو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ورځ هغه ښځې ته وفرمايل چې
لَا تُنْهِكِي فَإِنَّ ذَلِكَ أَحْظَى لِلْمَرْأَةِ
ته نه زيات مه غوڅوه بلکې لږې پاس غوڅوه ځکه دا يعنې زيات نه غوڅول د ښځو لپاره هم ډېر خوند وروي.
وَأَحَبُّ إِلَى الْبَعْلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ
او د نارينه هم ډېر خوښ وي. يعنې که زيات غوڅ کړی شي نو جماع نه ښځې له خوند ورکوي او نه سړی له.
وَقَالَ: هَذَا الْحَدِيثُ ضَعِيفٌ وَرَاوِيه مَجْهُول[2]
ابوداؤد دا روايت نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث ضعيف دی او د دې راوي مجهول دی.

توضيح: لا تنهکی: يعنې ختنه کې مبالغه مه کوه بلکې ضروري برخه لږه شان غوڅوه. دا لږ غوڅول د دواړو لپاره په جماع کې د خوند معاون وي. زيات نه. د عربو ملکونو دا چې ګرم وُو. د ښځو په

([1]) رقم الحديث ۴۴۶۳ أخرجه ابوداود في السنن ۴۰۹/۴ رقم الحديث ۴۱۹۲ والنسائي في ۹۲/۸ رقم الحديث ۵۲۲۷.

([2]) رقم الحديث ۴۴۶۴ أخرجه ابوداود في السنن ۴۲۱/۵ رقم الحديث ۵۲۷۱

اندام نهانی کې د وازګې پشان غوښه پیدا کېږي هغه به یې غوڅوله. همدغه د جینکو ختنه وه. د اذا جاوزا لختان الختان حدیث نه هم د دې ختنې اړخ ته اشاره کېږي. د اُحد په میدان کې حضرت حمزه رضی الله عنه یو کافر باندې حمله کولو وخت کې وفرمایل "یا ابن مقطعة البظور" ای د ختنه کاروبار کونکي ښځې ځویه. د دې روایتونو نه د ښځو د ختنې ثبوت ملاوېږي، خو دا د ګرم ملکونو مسئله ده. زمونږ ملک کې دا مسئله بیانول پکار نه دي. اهل بدعت به پروپېګنډه کوي او تماشا به جوړه کړي. دلته د دې هیڅ ماهر هم نشته دی. او دا کوم شرعی کار او حکم هم نه دی. ګرم ملکونو کې شوافع دا کار کوي. بس دا کافي ده. هغوی متبایان او دعوت هم ورکوي، خو اهل بدعت چې اهل حق په دې وجه بدناموي هغوی ډېر ظلم کوي. کوم عالم خو دا د خپل اړخ نه نۀ دی ایجاد کړی. حدیثونو کې دې اړخ ته اشاره ده. که کوم عالم د دې متلعق یو تحقیق بیان کړي نو څه جرم دی؟(مرقات۲۴۲/۸)

ښځو ته ویښتانو کې نکریزي لګول جائز دي

﴿۴۵﴾وَعَنْ كَرِيمَةَ بِنْتِ هَمَّامٍ: أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ

او د حضرت کریمه بنت همام نه روایت دی چې یوې ښځې د حضرت عائشه رضی الله عنها نه د سرپه ویښتانو کې

عَنْ خِضَابِ الْحِنَّاءِ فَقَالَتْ: لَا بَأْسَ وَلَكِنِّي أَكْرَهُهُ

د نکریزو د خضاب باره کې وپوښتل نو هغې وفرمایل چې دې کې هیڅ باک نشته دی، خو زه دا ښه

كَانَ حَبِيبِي يَكْرَهُ رِيحَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ (۱)

نه ګڼم خو زما محبوب یعنې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د دې بوې نه خوښولو. (ابوداؤد، نسائی)

توضیح یکره ریحه: دا به د سر د ویښتانو خبره وه ګڼې په لاس باندې نکریزې لګول خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ښځو لپاره خوښ کړي هم ؤو، لکه مخکې به راشي. دې حدیث کې حضرت عائشه رضی الله عنها د عامو ښځو لپاره د سرپه ویښتانو کې نکریزې لګول جائز ګڼي. لهذا که ښځې د سرپه ویښتانو کې خضاب لګول غواړي نو جائز دي. البته تور خضاب جائز نه دی. (مرقات۲۴۳/۸)

ښځو ته په لاسونو باندې نکریزي لګول مستحب دي

﴿۴۶﴾وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ هِنْدًا بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ

او حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې د عتبه لور هنده رضی الله عنها چې کله دا وویل چې ای د الله نبي صلی الله علیه وسلم!

(۱) رقم الحديث ۴۴۶۵ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۵/۴ رقم الحديث ۴۱۶۴ والنسائي ۱۴۲/۸ رقم الحديث ۵۰۹۰

بَايِعْنِي	فَقَالَ:لَا	أُبَايِعُكَ	حَتَّى	تُغَيِّرِي
ما سره بيعت وکړه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تر کومې پورې ته خپل دواړه لاسونه باندې نکريزي لګولو				
كَفَّيْكِ	فَكَأَنَّهُمَا	كَفَّا	سَبُعٍ.	رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۱)
سره دې رنګ بدل نه کړي نو زه تاسره د خبرو بيعت نه کوم. ستا لاسونه د نکريزو نه بغير داسې دي لکه د درنده لاس چې وي.				

توضيح ان هندا: هنده بن عتبه د حضرت ابو سفيان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بنځه او د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور ده. د اُ - په جنګ کې د حضرت حمز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهادت اصل محرکه همدغه وه. بيا يې د مکې د فتحې دوران کې اسلام راوړو او په مختلف جنګونو کې يې برخه واخسته. دا بيعت کېدی شي چې د اسلام د بيعت نه بغير بل کوم بيعت ؤو. د دې حديث نه معلومه شوه چې د بنځو له خپل لاس باندې نکريزي لګول مستحب دي. او د دې پرويښودل مکروه دي، ځکه دې کې هم د نارينؤ سره يو مشابهت رائي. اسلام کورنی نظام مضبوط ليدل غواړي، نو ځکه بنځې ته د هر قسم اختيارولو حکم کوي. شيطان او د هغې څانګه اين جی اوز د مسلمانانو کورنی نظام تباه کول غواړي او د بنځې نه نارينه جوړ کړي او د خاوند مقابله کې يې ودروي. (مرقات ۲۴۳/۸)

﴿۴۷﴾ وَعَنْهَا	قَالَتْ:	أُوَمَّتِ	امْرَأَةٌ	مِنْ	وَرَاءِ	سِتْرٍ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ورځ يوې بنځې د پردې شاته د خپل لاس په ذريعې اشاره وکړه چې هغې						
بِيَدِهَا	كِتَابٌ	إِلَى	رَسُولِ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
پرچه وه چې کوم کس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راليږلي وه. يعنې هغه بنځې د پردې د شانه لاس راويستلو						
فَقَبَضَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	يَدَهُ
او هغه پرچه يې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورکول غوښتل. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس رانښکلو						
فَقَالَ : مَا	أَدْرِي	أَيَدُ	رَجُلٍ	أَمْ	يَدُ	امْرَأَةٍ ؟ قَالَتْ:
او ويې فرمايل چې ماته پته نشته دی چې دا د نارينه لاس دی يا که د بنځې؟ هغه بنځې عرض وکړو						
بَلْ	يَدُ	امْرَأَةٍ	قَالَ:لَوْ	كُنْتِ	امْرَأَةً	لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكِ
چې د بنځې لاس دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل! که ته بنځه وی نو د نوکانو رنګ به د ضرور د						

(۱) رقم الحديث ۴۴۶۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۵/۴ رقم الحديث ۴۱۶۵

يَعْنِي الْحِنَّاء. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ(۱)

نکریزو په رنګ بدل کړي وی.

توضیح: **اومت امرلة:** دا لفظ اصل کې د ماده به اعتبار سره او مأت دی. د تخفیف په غرض بل همزه حذف کړی شوی دی. د اشاره په معنی کې دی.

بیدها کتاب: دا جمله د امرأة لپاره صفت واقع دی. یعنې د هغه ښځې په لاس کې یوه لیکلی شوي پرچه وه. کېدی شي کومه مسئله یې معلومه وله.

فقبض النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس د مخکې کولو نه وروسته رانښکلو. د دې حدیث نه چې مخکې کوم تیر شوی دی د هغې نه او د بحث د لاندې حدیثونو نه داسې معلومېږي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به بیعت وغیره کې د ښځو سره لاس ملاول. حال دا چې د دې ټولو حدیثونو او په صریح روایتونو کې حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سختئ سره د دې نه نفي کړې ده. لهذا د بحث لاندې حدیثونو کې به دا تأویل کېږي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اول اراده وکړه چې په لاس بیعت وکړي. بیا یې صرف په ژبه بیعت وکړو. یا یې د لاس لستونې رانغښتلو سره داسې کړي وي چې ښځو ته برکت حاصل شي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت د ښځو لپاره د پلار په درجه کې ؤو، لکه څنګه چې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په قرأت کې دي ﴿ **النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ وهو ابوهم** ﴾ خو د دې باوجود هم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوره احتراز کړی دی. او د غیر محرم ښځو نه یې پرده کړې ده. او د هیڅ یوې ښځې د لاس سره یې لاس نه دی ملاو کړی. (مرقات ۸/۲۴۴)

﴿۴۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لُعِنَتِ الْوَاصِلَةُ وَالْمُسْتَوْصِلَةُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایلي دي چې یوځای کونکي ښځه او یوځای کولو والا ښځه یعنې خپل

وَالنَّامِصَةُ وَالْمُتَنَمِّصَةُ وَالْوَاشِمَةُ

ویختان کې د انساني ویختانو جوړ لګونکي ښځه او لګولو والا ښځه او ویختان چټونکي ښځه او اوچې

والمشتوشمة من غير دَاء. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد(۲)

کونکي ښځه بغیر د څه مرض نه خال لګونکي ښځه او لګولو والا ښځه دا ټولې ښځې ملعونې ګرځولی شویدي

---

۱ الحديث ۴۲۲۱ أخرجه ابو داود في السنن ۳۹۶/۴ رقم الحديث ۴۱۶۶ والنسائي في ۱۴۰/۸ رقم الحديث ۵۰۸۹

۲ الحديث ۴۲۲۸ أخرجه ابو داود في السنن ۳۹۹/۴ رقم الحديث ۴۱۷۰ وأحمد في المسند ۲۵۱/۱

توضیح: یعني دا کارونه د مبجورئ په درجه یا د علاج په توګه جائز دي. ګنې د تغیر خلق الله په وجه ناجائز دي. د الفاظ تشریح تېره شوي ده. (مرقات ۲۴۵/۸)

د نارینۀ او د زنانۀ په لباس کې یو شان والی د لعنت سبب دی

﴿۴۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه نارینه باندې لعنت ویلی دی چې

الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

د زنانۀ لباس اچوي او دغه شان یې په هغه ښځه هم لعنت کړی دی چې د نارینۀ لباس اچوي. (ابو داؤد)

توضیح: لعن: نارینۀ د لباس جدا رنګ وي او د ښځو جدا رنګ او ډیزائن وي. که نارینۀ د ښځو سور لباس واجولو نو د هغوی لپاره دا د لعنت سبب دی. یا ښځو د نارینۀ مثلاً سپین لباس اچوي نو دا د هغې لپاره د لعنت سبب دی. دغه شان د نارینۀ د خولۍ او واسکټ د ښځو لپاره جائز نه دی. هغه که د یونیفارم په وجه مجبوره وي یا د شوق او ذوق نه مجبوره وي. هغه ښځه ده هغې له د مردانه وضع قطع ته احتراز کول پکار دي. دغه شان نارینۀ له هم د ښځو د وضع قطع نه احتزار کول پکار دي. ګنې د الله تعالی د رحمت نه به ډوځي او د لعنت مستحق به شئ.

﴿۵۰﴾ وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ: قِيلَ لِعَائِشَةَ: إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ

او حضرت ابو ملیکه فرمایي چې حضرت عائشه رضي الله عنها ته وویل شو چې یوې ښځې د نارینۀ بوټان اچولي

قَالَتْ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [2]

دي نو هغې وفرمایل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه ښځه باندې لعنت کړی دی چې د نارینۀ سره مشابهت اختیاروی.

توضیح: الرجلة: رجل مذکر دی رُجلة مؤنث دی. د دې نه مراد هغه ښځه ده چې خبرو اتر، رنګ روغن، وضع قطع او په اسیدلو کې د نارینۀ سره مشابهت اختیاروی. دا مذموم حرکت دی چې د لعنت سبب دی، خو کومه ښځه چې علم و دانش او عقل او رائی او حکم او هوښیارئ کې د نارنیۀ سره مشابه صفات لري هغه مشابه مذموم نه دی، لکه ویل شوي دي "كانت عائشة رجلة الرأي" یعني د حضرت عائشه رضي الله عنها رائی او عقل د نارینۀ پشان وُو. رجُلة کې جیم باندې پیش دی.

---

(1) رقم الحديث ۴۴۶۹ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۹/۴ رقم الحديث ۴۱۷۰ واحمد في المسند ۲۵۱/۱

(2) رقم الحديث ۴۴۷۰ أخرجه ابوداود في السنن ۳۵۵/۴ رقم الحديث ۴۰۹۹

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل اهل بيتو لپاره سده ژوند خوښ کړو

﴿۵۱﴾ وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ

او حضرت ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله سفر ته روانيدلو نو خپل اهل و عيال کې به د تولو نه آخری

كَانَ آخِرُ عَهْدِهِ

وخت حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته ورکولو او کله به چې د سفر نه بېرته راغلو نو د تولو نه اول به فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته ورتللو يعني

بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةَ

سفر ته د تللو وخت کې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اول د نورو اهل بيتو سره الوداعي ملاقات کولو، بيا به چې د هغوی تولو نه فارغ شو

وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ

نو آخر کې به د حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا خوا ته ورتللو او هغې ته به يې چې څه ويل او ورپدل نو او به يې چې ويل او وار به يې ورپدل او چې

عَلَيْهَا فَاطِمَةَ فَقَدِمَ

کوم نصيحت او وصيت به يې کولو نو او به يې کړو او خدای پامانی ويل سره روان شو او بيا به چې د سفر نه بېرته راغلو نو د تولو نه

مِنْ غَزَاةٍ وَقَدْ

اول به حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته ورغلو او د تولو نه اول به يې د هغې سره ملاقات کولو. يو ځل د جهاد د يو سفر نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

عَلَّقَتْ مَسْحًا أَوْ

بېرته راغلو نو هغه وخت حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د خپل کور په دروازه باندې د تاټ پرده روړنده کړې وه. په ظاهره خو

سِتْرًا عَلَى بَابِهَا

داسې معلومېدله چې هغې هغه پرده د ارائش لپاره زوړنده کړې وه ځکه که د ضرورت په خاطر يې زوړنده کړې وه

وَحَلَّتِ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ

نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هيڅ باک نه وی کهلی. او هغې خپلو دواړو ځامنو حسن رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او حسين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته

قُلْبَيْنِ مِنْ فِضَّةٍ

د سينو زرو دوه کړی اچولی وي. يعنې هغوی کې هريو ته يوه يوه کړايا يو دوه دوه کړی اچولي وي. کله چې د خپل معمول مطابق

فَقَدِمَ فَلَمْ يَدْخُلْ

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سفر نه بېرته راتللو وخت کې د تولو نه اول د حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د ملاقات لپاره د هغې کور ته لاړو

فَظَنَّتْ أَنَّ مَا

او ځيزونه يې وکتل نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته داخل نه شو. حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا پوهه شوه چې کوم ځيز

مَنَعَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَا رَأَى.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما کور ته د راننوتلو نه منع کړی دی هغه دا دی چې کوم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلی

فَهَتَكَتِ السِّتْرَ وَفَكَّتِ الْقُلْبَيْنِ

دی يعنې دروازه باندې د پردې زوړ ندول او د حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس کې کړي، نو فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

عَنِ الصَّبِيَّيْنِ وَقَطَعَتْهُ مِنْهُمَا

ژر هغه پرده او شلوله او د دواړو ځامنو د لاسونو نه يې دواړه کړې وينستلې او هغه يې ماتې کړې. بيا يې دواړو

فَانْطَلَقَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زامنو هغه دواړه ماتې کړې راواخستلې او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کې حاضر شول. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړې د هغه

يَبْكِيَانِ فَأَخَذَهُ مِنْهُمَا فَقَالَ: يَا ثَوْبَانُ

دواړو نه واخستلې او بيا يې ماته وفرمايل چې ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا کړې ويسه او فلاني کور والو ته يې ورکړه او راشه يعنې

اذْهَبْ بِهَذَا إِلَى

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپلو خپلوانو کې د چا نوم واخستلو چې د هغوی کور والو ته يې ورکړه ځکه هغوی محتاج او ضرورت مند ؤو دا چې

فُلَانٍ إِنَّ هَؤُلَاءِ

دا دواړه ماشومان زما د اهل بيتو نه دي نو ځکه زه دا نه نه ګڼم چې دوی په دنيوي ژوند کې بهترين خوراکونه وکړي يعنې زما په

أَهْلِي أَكْرَهُ أَنْ يَأْكُلُوا

نزد دا ماته خوښ نه دي زما دا بچي بهترين خوراکونه او ښه لباس او د اسبابو نه خوند او فائده واخلي يا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د بهترين خوراکونو

طَيِّبَاتِهِمْ فِي حَيَاتِهِمُ

نه د عيش او آرام ژوند اختيارول او دنيا خوندونه حاصلول مراد واخستل. او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې ارشاد په ذريعه ګويا کې دا واضحه

الدُّنْيَا. يَا ثَوْبَانُ

کړل چې زه د خپلو اهل بيتو باره کې هغه څيز اختيارووم چې هغوی د دنيا کې د فقر، زهد، سخت او د مشقت ژوند تېر کړي. چې اخرت

اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً

کې يې درجې اوچتې وي. او د هغوی شمار په هغه خلکو کې نه وی چې د هغوی باره کې الله تعالى فرمايي چې خو د دې سره

مِنْ عَصَبٍ وَسُوَارَيْنِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل خيال کې د خپل لخت جګر فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د زړه خفګان ته هم کتل نو ځکه يې هغې سره د شفقت او د محبت

مِنْ عَاجٍ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد[1]

داظهار لپاره داهم وفرمایل چې ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لپاره د عصب یو امبیل د دواړو ماشومانو لپاره[2]

توضیح اخر عهده بانسانٍ فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله کوم سفر ته تللو نو د ټول اهل بیت د ښځو سره به یې الوداعی ملاقات نه آخر کې د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره ملاقات کولو او بیا به سفر ته روان شو. او بېرته راتلو کې به د ټولو نه اول د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره ملاقات کولو. دا یې د فقط د ښځو معامله بیان کړې ده. د نارینۀ نه ده. (مرقات۸/۲۴۶)

من غزاة: اصل ماده غزوة ده. واؤ د الف بدل کړی شوی دی. (مرقات۸/۲۴۶)

علقت: دا د تعلیق نه دی. د ځوړندولو په معنی کې دی. (مرقات۸/۲۴۶)

مسحاً: ټاټ ته وایی. (مرقات۸/۲۴۶)

اوستراً: او د شک لپاره دی، ""ستر" پردې ته وایي.

وَحَلَّتْ: دا هم د باب تفعیل د زیوراتو د اچولو په معنی کې دی. (مرقات۸/۲۴۷)

قلبین: قاف باندې ضمه ده. لام ساکن دی. با باندې زبر دی. قلب مفرد دی. ای سوارین یعنې د سپینو زردو دوه ګړې یې اچولي وي. (مرقات۸/۲۴۷)

فکت: د جدا کولو او د ماتولو په معنی کې دی. (مرقات۸/۲۴۷)

وقطعته منهما: دا جمله د مخکنۍ جملې لپاره د عطف تفسیر په توګه دی. یعنې دواړه ګړې یې د هغوی د بدن نه راویستلي او دواړه یې ماتې یې کړي. (مرقات۸/۲۴۷)

فأخذ منهما: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا منظر ولیدلو نو د هغوی دواړو په حالت یې پرې رحم راغلو. یعنې په دواړو یې زړه خوږ شو یا یې پرې مینه او رحمت راغلو. دا ترجمه ډېره ښه ده، خو ملاعلي قاري فرمایي چې دا ترجمه مناسب نه ده. بلکې دا ترجمه ده چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوی دواړو نه هغه دواړه ماتې ګړې واخستلي او حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې ورکړي.

الی فلان: یعنې هغوی غریبانان خلک دي، هغوی ته یې ورکړه.

اکره: دا جمله د تعلیل د محل لپاره هم کېدی شي. تو عبارت به داسې شي "ای لانی اکره یأکلو" یا

---

[1] رقم الحديث ۴۴۷۱ أخرجه ابوداود في السنن ۴۱۹/۴ رقم الحديث ۴۲۱۳ واحمد في المسند ۲۷۵/۵

[2] دحدیثپاتې ترجمه: هاتې (پیل) د غابنو دوه ګړې واخله چې د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د زړه ساتنه هم وشي او د ماشومانو او ښکې هم بندې شي.

دا د استیناف په موقع کې دی. عبارت به داسې شي "**ان هٰؤلا ای الحسن والحیسن وعلیاً وفاطمة اهل بیتی و اکره یاکلوا**" یعنې دا ښه شیان صدقه کړه او دا درهم واخله او د بازار نه د عصب امبیل راوړه چې دا دلاسه شي او د حسنین لپاره د پیل د غاښ دوه کړې راوړه چې د دوی زړه غلي شي. دا سې معلومېږي چې دا کړې د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وي. هغې حسنین ته اچولي وي.

عصب: یعنې د عصب قلاده واخله. شارحینو د دې حدیث باره کې سخت تشویش کړی دی چې د عصب نه څه څیز مراد دی چې قلاده ترېنه جوړېږي. ځېنې علماؤ ویلې دي چې دا یمن جوړېدنکې یوه ټوټه ده چې د څه اجزاؤ نه یې امبیل جوړېږي، خو شارحین لیکي چې د ټوټې نه امبیل جوړول، دې باندې نۀ پوهېږي. لهذا علامه خطابی فرمایي چې ما د یمن والو نه اوربدلي دي چې عصب د یو دریابې ځناور غاښونه دي. چې بهترین سپین امبیل ترېنه جوړېږي. هغه ځناور ته فرس فرعون وایي. (مرقات ۲۴۸/۸)

ما په تېر ۲۰۰۵ء کې په زامبیا د لوساکا (ښار) کې د کفوئې په دریاب کې بشماره فرس فرعون ولیدل. دې ته جاموس البحر هم وایي. او خنزیرالبحر هم وایي. دا مېښې پشان وي، خوله یې اَس پشان وي او نو بدن یې د خنزیر پشان دی. ډېر لویې دی. شپږ (۶) منټو پورې په اوبو کې غپه کېږي. او کله چې سر رابهر کړي نو یو تیز مکروه اواز راوباسي. د عصب امبیل به کېدی شي د دې غاښونو نه جوړېدل.

عاج: د هاتي (فیل) د غاښونو نه کړې جوړېږي. د دې استعمال د احنافو په نزد جائز دی. د عاج دا مشهوره معنی پریښودل او غیر مشهوره معنی اخستلو ته هیڅ ضرورت نشته دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل بیتو لپاره د دنیا سخت ژوند خوښ کړو د دې لپاره چې د آخرت ټول راحتونه او نعمتونه محفوظ پاتې شي. او د اذهبتم طیباتکم فی حیاتکم الدنیا د وعید نه بچ شي. (مرقات ۲۴۸/۸)

رانجه لګول مسنون طریقه او د اثمد فایدي

﴿۵۲﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اكْتَحِلُوا بِالْإِثْمِدِ
او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل اصفهانی رانجه هر وخت مبنئ
فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ.
ځکه رانجه بینائی زیاتوي او ویختان یعنې بانه غټوي. چې د سترګو د ښایست او د حفاظت ذمه وار دي.
وَزَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ بِهَا
ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو اوږده د رانجو کڅوړه وه. چې د هغې نه به

كُلَّ	لَيْلَةٍ	ثَلَاثَةً	فِي	هَذِهِ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هره شپه دري ځله دي سترګه او دري ځله دي سترګه کې رانجه مښل. يعني				
وَثَلَاثَةً	فِي	هَذِهِ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ[1]
مسلسل دري سلائی نبي سترګه کې او دري په چپه سترګه کې مښل.				

توضيح اثمد: د ځينو حضراتو خيال دی چې د اثمد مطلق رانجو ته وايي خو د حديثونو له نظره زياته صحيح دا ده چې **اثمد** يو مخصوص معدنی رانجو ته وايي. د ځينې حضراتو خيال دی چې اثمد يو مخصوص قسم اصفهانی رانجه دي چې د سترګو نه روانې اوبه اودروي. او د سترګې د زخم ليږه ګټوري دي. او د سترګې سوځې لري کوي. او د سترګو د رڼا والا رګونو ته طاقت ورکوي. وړو ماشومانو او د بوډه ګانو ليږه په خاصه توګه ګټور دي. د بحث لاندې حديث کې د دې دوه فايدې ذکر دي. يو دا چې د سترګو باڼه غټوي چې د سترګې حفاظت هم پرې کيږي او بنايست هم پرې پيدا کيږي. دويم د چې د اثمد رانجه د سترګو نظر تېزوي. د رانجو يوه طريقه په حديث کې ده چې دري سلائی په سترګه کې وکړی شي او دري په بله کې، د شپې وخت ځکه انتخاب کړی شوی دی چې دې کې تر ډېر وخت پورې رانجه پاتې کيږي.

مكحلة: د رانجو اوږدې کټورې ته وايي. يعني د رنجو لوخی. (مرقات ۲۴۹/۸)

د يو څو مفيد دواګانو ذکر

﴿۵۲﴾وَعَنْهُ	قَالَ:	كَانَ	النَّبِيُّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	يَكْتَحِلُ	
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د شپې د اوده کېدو نه مخکې هره								
قَبْلَ	أَنْ	يَنَامَ	بِالْإِثْمِدِ	ثَلَاثًا	فِي	كُلِّ	عَيْنٍ	قَالَ:	وَقَالَ:
سترګه کې د اصفهانی رانجو دري سلائی اچولې. او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل									
إِنَّ	خَيْرَ	مَا	تَدَاوَيْتُمْ	بِهِ	اللَّدُودُ				
چې تاسو د علاج ليږه کوم څيزونه اختيار وئ هغې بهترين شيان څلور دي. يو خو لدود، دويم									
وَالسَّعُوطُ	وَالْحِجَامَةُ	وَالْمَشِيُّ	وَخَيْرَ	مَا	اكْتَحَلْتُمْ	بِهِ	الْإِثْمِدُ	فَإِنَّهُ	
سعوط، درېم حجامة او څلورم مشی. د سترګو لګولو څيزونو کې بهترين څيز اصفهانی رانجه دي.									
يَجْلُو	الْبَصَرَ	وَيُنْبِتُ	الشَّعْرَ	وَإِنَّ	خَيْرَ	مَا	تَحْتَجِمُونَ	فِيهِ	
چې بينائی زياتوي او د باڼو ويښتان تازه کوي. او د غوره ډک خکر لګولو ليږه د سپوګمئ									

[1] رقم الحديث ۴۴۷۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۲/۴ رقم الحديث ۴۰۶۱ والترمذي في ۲۰۶/۴ رقم الحديث ۱۷۵۳

يَوْمُ سَبْعَ عَشْرَةَ وَيَوْمُ تِسْعَ عَشْرَةَ وَيَوْمُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ

اؤولسمه (۱۷)، نورلسمه (۱۹) او يويشتمه (۲۱) تاريخ بهترينې ورځې دي. حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا

وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ عُرِجَ بِهِ مَا مَرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ

هم بيان کړه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله معراج ته لاړو نو د فرښتو هيڅ يو داسې جماعت نه ؤو چې د

إِلَّا قَالُوا: عَلَيْكَ بِالْحِجَامَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ [1]

هغې په خوا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تېر نه شو ويلې چې ډک خکر لګول ستا لپاره ضروري ده.

توضيح: **ان خير ما تداويتم**: يعنې بهترين او فائده مند دوايانې څلور دي. ۱: **لدود**: دا هر هغه دوائی ده چې د مريض خوله کې ورڅخولې شي. ۲: **سعوط**: دا هغه دوائی ده چې د مريض په پوزه کې اچولی کېږي. ۳: **حجامه**: د ستنو د غاړو په ذريعه ښکر لګولو ته وائی يعنې وينه ويستل. ۴: **المشی**: دا هر هغه دست راستونکي دوا ته وايي چې د استعمال نه وروسته يې دست جاري وي. د سړي خيټه هم روانه شي. او خپله سړی هم بار بار تشناب ته منډې وهي. دې وجې نه دې ته المشی ويل شی دی.

وان خير ما: يعنې د ښکر لګولو بهترينې ورځې د هرې مياشتې اؤولسم، نورلسم او يويشتم تاريخ دی. دا معتدلې ورځې دي چې وينه په اعتدال کې وي. کتاب الطب کې به مزيد وضاحت راشي. ان شاء الله. (مرقات ۲۵۲/۸)

د حمام د استعمالولو ذکر

﴿۵۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى الرِّجَالَ وَالنِّسَاءَ عَنْ دُخُولِ الْحَمَّامَاتِ

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نارينه او زنانه حمام ته د تللو نه منع کړي ؤو.

ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ أَنْ يَدْخُلُوا بِالْمَيَازِرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد [2]

وروسته يې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسې صورت کې نارينۀ ته د تللو اجازت ورکړو چې د هغوی په بدن باندې تهبند وي.

توضيح: **الحمامات**: هره زمانه کې د حمامونو جدا جدا انتظام وي. مخکې زمانه کې به يو کور کې په يوځای د غسل خانې انتظام ؤو. هغې کې به ګرمې اوبه وي نارينۀ او زنانۀ به په يو ځای لامبل، نو ځکه په ابتداء کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نارينه او زنانه دې ته د تللو نه منع کړل. د هغې نه وروسته يې نارينۀ ته اجازت ورکړو، خو په زنانۀ همغه شان پابندي وه ځکه چې ښځې ځان له حمام ته لاړې شي نو بيا هم ښځې د يو بل نه پرده نه کوي. نارينۀ ته داسې حمامونو ته د غسل لپاره د تللو دا شرط

([1]) رقم الحديث ۴۴۷۳ أخرجه الترمذي في السنن ۳۴۰/۴ رقم الحديث ۲۰۴۸.

([2]) رقم الحديث ۴۴۷۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۰۰/۴ رقم الحديث ۴۰۰۹ والترمذي في ۱۰۵/۵ رقم الحديث ۲۸۰۲.

اينبودلى شوى دى چې هغوى د نامه نه تر ګونډو پورې لنګ دې ترلى وساتي. نن سبا سوئمنګ پول شکل دى. بلکې د هغې نه هم زيات بې حيا او بداخلاقه دي، ځکه دا سوئمنګ پول غسل لپاره نه بلکې د څه نورو مقصدونو لپاره تيار کړى شوې دي. (مرقات۸/۲۵۳،۲۵۲)

بنځي دي مشترکه حمامونو ته نه ځي

﴿۵۵﴾وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ قَالَ: قَدِمَ عَلَى عَائِشَةَ نِسْوَةٌ مِنْ أَهْلِ حِمْصٍ

او د ابوملیح فرمايي چې يو ځل د حضرت عائشه رضي الله عنها په خدمت کې د شام د ښار حمص نه څه بنځې راغلې.

فَقَالَتْ: مَنْ أَيْنَ أَنْتُنَّ؟ قُلْنَ: مِنَ الشَّامِ

عائشه رضي الله عنها د هغوى نه وپوښتل چې تاسو چرته اوسيږئ؟ هغوى وويل چې د شام ملک کې،

فَلَعَلَّكُنَّ مِنَ الْكُورَةِ الَّتِي تَدْخُلُ نِسَاؤُهَا الْحَمَّامَاتِ؟

عائشه رضي الله عنها وفرمايل چې کېدى شي تاسو د هغه علاقو اوسيدونکې وئ چرته بنځې حمام ته ځي؟

قُلْنَ: بَلَى قَالَتْ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغوى وويل چې آؤ، نو هلته ورته حضرت عائشه رضي الله عنها وفرمايل چې ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه دا اورېدلي

يَقُولُ: لَا تَخْلَعُ امْرَأَةٌ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا هَتَكَتِ السِّتْرَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ

دي چې کومه بنځه هم د خپل خاوند د کور نه بغير بل کوم ځاى جامې اوباسي نو ګويا کې هغه هغه پرده

رَبِّهَا. وَفِي رِوَايَةٍ: فِي غَيْرِ بَيْتِهَا إِلَّا هتكت ستر هَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[1]

اخوا کوي چې د هغې او د الله په مينځ کې ده. يعنې دې روايت کې د فى بيت غير زوجها په فى بيتها الفاظ دي.

توضيح: الكورة: کوره کاف باندې پيش دى. ښار، غاړه اؤ علاقې په معنى کې دى. (مرقات۸/۲۵۴)

لا تخلع: جامې د ويستلو په معنى کې دى. (مرقات۸/۲۵۴)

هتكت الستر: پرده د لرېکولو په معنى کې دى. مراد ادب او د حيا پرده اخوا کول دي. "اى حجاب الحياء و جلباب الاد" (مرقات۸/۲۵۴)

و بين ربها: ځکه د الله له اړخه د دې پابنده ده چې هغه پرده وکړي او غير محرم هغې ته ونه کتلى شي. بلکې د بنځې دا هم نه دي مناسب چې هغه د بنځې نه بغير په تش ځاى کې خپل بدن لغړ کړي.

[1] رقم الحديث ۴۴۷۵ أخرجه ابوداود في السنن ۳۰۱/۴ رقم الحديث ۴۰۱۰ والترمذي في ۱۰۵/۵ رقم الحديث ۲۸۰۳ .

﴿۵۶﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل نزدې چې تاسو به

"سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرْضُ الْعَجَمِ وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا يُقَالُ

د عجمو په ځمکه باندې فتح حاصله کړئ او تاسو ته به داسې کورونه ملاو شي چې د هغوی کورته

لَهَا: الْحَمَّامَاتُ فَلَا يَدْخُلَنَّهَا الرِّجَالُ إِلَّا بِالْأُزُرِ

به حمام ویل کېږي. لهذا خبردار! هغې ته نارینه د لنګ نه بغیر داخل نشئ. او ښځې خو هغې ته بالکل

وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ إِلَّا مَرِيضَةً أَوْ نُفَسَاءَ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

د هغې نه منع کړئ، خو دا که یوه ښځه مریضه وي یا د نفاس په حالت کې وي.

توضیح النساء: یعنې نارینۀ ته اجازت شته دی چې هغوی ازار بند وترې او حمام کې غسل وکړې خو ښځو ته سره د ازار بند هم مشترکه حمامونو ته د تللو اجازت نشته دی، ځکه د هغې ټول بدن پرده دی. خو که کوم شرعي عذر او اخلاقي مجبوري وي چې ښځه بیماره وي او د حمام په استعمالول باندې علاج کېږي، یا د نفاست په حالت کې وي او د غسل ضرورت دی نو دا صورتونه مستثنی دي. د ماشوم د پیدائش نه وروسته تر څلویښتو (۴۰) ورځو پورې ښځه په نفاست کې وي. (مرقات ۲۵۴/۸)

کوم کس چې ایمان لري هغه دي مشترکه حمام ته نه ځي

﴿۵۷﴾وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کوم کس چې الله او د

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَدْخُلِ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

قیامت په ورځ ایمان لري نو هغه دي د تهبند نه بغیر حمام ته نه ځي. کوم کس چې الله او د قیامت په ورځ ایمان لري

فَلَا يُدْخِلْ حَلِيلَتَهُ الْحَمَّامَ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

نو هغه دي خپله ښځه حمام ته داخلیدلو ته نه پرېږدي. او کوم کس چې الله او د قیامت په ورځ ایمان لري

فَلَا يَجْلِسْ عَلَى مَائِدَةٍ تُدَارُ عَلَيْهَا الْخَمْرُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ[2]

نو هغه دي په هغه دسترخوان نه کیني کوم باندې چې د شرابو کار روان وي. (ترمذی، نسائی)

([1]) رقم الحديث ۴۴۷۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۰۱/۴ رقم الحديث ۴۰۱۱ وابن ماجه في ۱۲۳۳/۲ رقم الحديث ۳۷۴۸.

([2]) رقم الحديث ۴۴۷۷ أخرجه الترمذي في السنن ۱۰۴/۵ رقم الحديث ۲۸۰۱ والنسائي في ۱۹۸/۱ رقم الحديث ۴۰۱

توضيح بغير ازاربند: يعني د ازار بند سره تلل جائز دي، خو بربنډ تلل منع دي. دغه شا ته ښځه حمام ته بوتلل منع دي. دا خبره ياد وساتئ چې نن سبا د ښځو داسې حمامونه جوړ شوي دي چې هلته يوه وړه کمره کې جدا د تشناب ځای وي. هلته ښځه بربنډه تللی شي، ځکه هلته نارينه نه وي. او نه ښځې وي. هغه مشترکه حمامونه دي. حديث کې د مشترکه حمامونو ذکر دی.

يدار: يعني داسې دسترخوان وي چې هغې باندې د شرابو کار روان وي. هلته کيناستل حرام دي. (مرقات ۲۵۶/۸)

الفصل الثالث

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم په سر مبارک کې خضاب نه دی لګولی

﴿۵۸﴾ عَن ثابتٍ قَالَ: سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

د حضرت ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابن مالک نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د خضاب کولو

لَوْ شِئْتُ أَنْ أُعَدَّ شَمَطَاتِ

يا د نه کولو باره کې وپوښتل، نو هغې وويلل چې که ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سر کې سپين

كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ

ويختان شمارل غوښتلی نو يقيناً ما به شمارلی وی. يعني د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سر مبارک کې يو د شمار سپين ويختان

قَالَ: وَلَمْ يَخْتَضِبْ زَادَ

ؤو. دې صورت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د خضاب کولو څه ضرورت ؤو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کله هم خضاب نه دی کړی.

فِي رِوَايَةٍ: وَقَدِ اخْتَضَبَ أَبُو بَكْرٍ

يو بل روايت کې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يا د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا عبارت مزيد نقل کړی دی چې

بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ وَاخْتَضَبَ عُمَرُ بِالْحِنَّاءِ بحتا (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نکريزو او د وسمې خضاب استعمال کړی دی او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صرف نکريزي استعمال کړی دی.

توضيح شمطات: د شمطط جمع ده. د سپين او تور ويختانو سره د سپين ګډون ته شمطط وايي. "اى بياض شعر الرأس يخالطه سواد". (مرقات ۲۵۶/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۷۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۵۱/۱۰ رقم الحديث ۵۸۹۵ ومسلم في ۱۸۲۱/۴ رقم الحديث (۱۰۰-۲۳۴۱)

الحناء والكتم: يعني ګډوډ خضاب يې استعمال کړو. (مرقات۸/۲۵۶)
بحتاً: يعني يعني خالص د نکريزو خضاب يې کړی، ګډوډ يې نه دی استعمال کړی. (مرقات۸/۲۵۶)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيړ خضاب استعمال کړيدی

﴿۵۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَصْفِرُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې روايت دی چې هغې به خپلې ږيره کې زيړ خضاب کولو. چې د هغې په وجه

حَتَّى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ مِنَ الصُّفْرَةِ فَقِيلَ لَهُ: لِمَ تُصْبِغُ بِالصُّفْرَةِ؟

به د هغې جامې زيړې وې. کله چې د هغې نه پوښتنه وشوه چې ته زيړ خضاب ولې استعمالوې؟ نو

قَالَ: أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا

هغې وفرمايل چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله ږيره مبارکه باندې زيړ خضاب لګولو باندې ليدلی دی.

وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْهَا

او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نزد ږيره باندې زيړ خضاب نه بغير بل هيڅ يو خوښ شيز نه ؤو. او د

وَقَدْ كَانَ يَصْبُغُ ثِيَابَهُ كُلَّهَا حَتَّى عِمَامَتَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ (۱)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټولې جامې تردې چې پټکی له به يې هم زيړ رنګ ورکولو. (ابوداؤد، نسائی)

توضيح: د زيړ خضاب نه د ورس په ذريعه خضاب کول مراد دی. دا د زعفرانو مشابه رنګ دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ږيره مبارکه کې استعمال کړيدی. جامو کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيړ رنګ نه دی استعمال کړی. نهايه کې ليکلی شوي دي چې د مختار قول دا دی چې کله کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ويختان رنګ کړي دي. اکثر يې نه دې رنګ کړي. او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خضاب به لږ ؤو، نو که غواړي نو دا اوايه چې خضاب يې نه دی کړی يعنې زيات يې نه دی کړی او. که غواړي اوايه چې خضاب يې کړی يعنې لږ يې کړی.

ثيابه: قصداً او عمداً نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامو او پټکو ته کله هم زيړ نه دی ورکړی، لکه څنګه چې په حديثونو کې دي، خو که بغير د قصدا او اراده پټکی او قميص باندې زيړ رنګ لږيدلی وي نو هغه جدا خبره ده. (مرقات۸/۲۵۶)

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۷۹ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۳۳۳ رقم الحديث ۴۰۶۴ والنسائي في ۸/۱۴۰ رقم الحديث ۵۰۸۵

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويختان

﴿۶۰﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ

او حضرت عثمان ابن عبدالله ابن موهب وايي چې يو ورځ زه د ام المؤمنين حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت

فَأُخْرِجَتْ إِلَيْنَا شَعْرًا مِنْ شَعْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخضوباً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [1]

كې حاضر شوم نو هغې وويل نو هغې مونږ ته د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ويخته مبارک راويستل چې رنګين ؤو.

توضيح: مخضوباً: يعنې هغه يو ويخته خضاب شوی رنګين ؤو. دا همدغه لږ خضاب باندې محمول دی. چې د هغې وجه دا ويخته رنګين و. يا د عطرو په شيشه كې زيات وخت ايښودلو سره ويخته رنګين شوی ؤو. يا رنګين معلومېدل. (مرقات ۲۵۷/۸)

يو مخنث نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بنار نه وشړلو

﴿۶۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: أُتِيَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمُخَنَّثٍ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د ورځ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې يو مخنث راوستلی شو.

قَدْ خَضَبَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

چې د ښځو پشان يې لاس او پښو باندې نكريزي ايښی وي، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ليدلو سره وفرمايل چې په

مَا بَالُ هَذَا؟ قَالُوا: يَتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ

دې څه شوي دی؟ صحابه كرامو عرض وكړو چې دا كس خپل اوسيدلو، خبرو اترو او طور طريقو كې د ښځو سره مشابهت

فَأَمَرَ بِهِ فَنُفِيَ إِلَى النَّقِيعِ. فَقِيلَ:

كوي، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د بنار نه ويستلو. او هغه يې د مدينې يو ځای نقيع ته ولږلو. بيا صحابه كرامو عرض

يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا تَقْتُلُهُ؟

وكړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آيا مونږ دا مړ نكړو يعنې دا چې فسق او فساد او د بدئ ګندګي

فَقَالَ: إِنِّي نُهِيتُ عَنْ

ترېنه ښوريږي نو ته صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حكم وكړه نو دا به مړی كړی شي. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

---

[1] رقم الحديث ۴۴۸۰ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۵۲/۱۰ رقم الحديث ۵۸۹۷.

قَتْلِ الْمُصَلِّينَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
چې د لمونځ کونکو د وژلو نه منع کړی شوی یم.

توضيح: النقيع: عوالی مدینه کې د یو ځای نوم دی. مخنت یې هغه ښارته وشړلو. هغې په تکلف سره ځان د نارینۍ سره مشابه کولو. او داسې کوم حرام دي. (مرقات۸/۲۵۹)

الا نقتُله: یعنې صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ داسې وګڼل چې دې دومره لوی جرم کړی دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښارنه ویستلو نو د ې تقاضا دا ده چې دا اوژلی شي، نو ځکه هغوی د وژلو باره کې د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړل او وجه یې ورته دا وویله چې دا مسلمان دی. لمونځ کوي او زه د لمونځ ګوزاره د وژلو نه منع کړی شوی یم. (مرقات۸/۲۵۹)

د نارینۍ لپاره خلوق استعمالول منع دي

﴿۶۲﴾ وَعَن الوليدِ بن عقبةَ قَالَ: لَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ
او حضرت ولید ابن عقبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې کله نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکه فتح کړه او نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
جَعَلَ أَهْلُ مَكَّةَ يَأْتُونَهُ بصبيانهم
د مکې ښارته دننه شو نو د مکې والو خپل ماشومان د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت راوستل شروع کړل،
فيدعو لَهُم بِالْبركَةِ وَيمْسَح رؤوسهم
نو نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغه ماشومانو لپاره د برکت دعاء کوله او په شفقت سره به یې د هغوی په سرونو لاس رانبکلو،
فَجِيءَ بِي إِلَيْهِ وَأَنَا مُخَلَّقٌ
نو دې موقع باندې زه هم د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې راوستلی شوم خو دا چې زما بدن باندې د زعفرانو غیره
فَلَمْ يَمَسَّنِي من أجل الخَلوق. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
جوړه شوې خوشبوي خلوق لرې بدلي وه نو ځکه د خلوق په وجه نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما نه لاس ونه لګولو.

توضيح: خلوق دا چې د ښځو لپاره مخصوص دي او د نارینۍ لپاره جائز نه دي نو ځکه ورسره نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس ونه لګولو.

([1])رقم الحديث ۴۴۸۱ أخرجه ابوداود في السنن ۲۲۴/۵ رقم الحديث ۴۹۲۸.

([2])رقم الحديث ۴۴۸۲ أخرجه ابوداود في السنن ۴۰۴/۴ رقم الحديث ۴۱۸۱ وأحمدفي المسند ۴/۳۲.

كه د چا ويختان وي نو حفاظت ئول يې ضروري دي

﴿۶۳﴾وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِي جُمَّةً

د حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو چې زما د سر ويختان داوږو

أَفَأُرَجِّلُهَا؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ وَأَكْرِمْهَا

پورې دي. آيا زه دا ږمونځ کړم؟ نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل آؤ او د هغې عزت هم کوه. يعنې هغې کې تيل وغيره

قَالَ: فَكَانَ أَبُو قَتَادَةَ رُبَّمَا دَهَنَهَا

لګوله او ښه ساتنه يې کوه. راوي وايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې ارشاد چې آؤ او د دې

فِي الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ مِنْ أَجْلِ قَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نِعْمَ وَأَكْرِمْهَا. رَوَاهُ مَالِك[1]

عزت کوه باندې عمل کولو لپاره به حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اکثر ورځ کې دوه ځل د سرخ ويختانو کې تيل لګول.

توضيح: واكرمها: يعنې د خپلو ويختانو اکرام کوه. د دې جملې نه حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ استفاده وکړه او د ويختانو ښه ستانه يې شروع کړه تر دې چې ورځ کې به يې دوه ځل ږمونځول. دا د زيب او زينت لپاره نه ؤو او نه يې ذاتي خواهش ؤو بلکې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم پوره کولو لپاره به يې داسې کولو. (مرقات ۲۵۶/۸)

د غير مسلمو وضع قطع خپلول منع دي

﴿۶۴﴾وَعَنِ الحجاج بْنِ حَسَّانَ قَالَ دَخَلْنَا

او حضرت حجاج ابن حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ مونږ يعنې زه او زما د کور څه کسان د

عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِك فَحَدَّثَتْنِي

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کې خدمت حاضر شو. دا واقعه زما خور ماته بيان کړه چې نوم يې مغيره دی. يعنې هغه وخت زه

أُخْتِي الْمُغِيرَةُ قَالَتْ:

ماشوم ؤوم. ماته هغه ورځ د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کې حاضر بدل خو ياد دي چې هغه ورځو کې زه ماشوم ؤوم خو د

وَأَنْتَ يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ وَلَكَ قَرْنَانِ

حاضرئ کيفيت او هلته چې کوم احوال پيښ شوي ؤو، د هغې تفصيل را ته ياد نه دي، نو زما خور ماته وويل چې هغه ورځو کې ته

---

[1] (رقم الحديث ۴۴۸۳ اخرجه مالک في الموطا ۹۴۹/۲ رقم الحديث ۶ من كتاب الشعر.

أَوْ	قُصَّتَانِ	فَمَسَحَ	رَأْسَكَ

ماشوم وي او ستا په سر د ببري کوڅئ يا خکري وي. حضرت انس رضي الله عنه ستا په سر لاس راښکلو او ستا

وَبَرَّكَ عَلَيْكَ وَقَالَ: احْلِقُوا هَذَيْنِ أَوْ قُصُّوهُمَا فَإِنَّ هَذَا زِيُّ الْيَهُودِ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

په حق کې يې د برکت دعا وکړه او ويې فرمايل چې دا دواړه وخرائيوه ځکه دا د يهودو وضع ده.

توضيح فحدثتني: حجا بن حسان د خپل ماشوم توپ قيصه اوروي چې مونږ د حضرت انس رضي الله عنه کره داخل شو نو هلته څه وشو او د دې قصه زما خور ماته وکړه ځکه زه وړوکی ؤوم: خو د نورو احوال پتنه راته نه وه. هغه زما خور ماته بيان کړل، خور راته وويل چې هغه وخت ته وړوکی وي. ستا په ويختانو کې د ويختانو دوه ببري کوڅئ وي يا دو خکري وي. دا راوي ته شک شوی دی. (مرقات ۲۶۰/۸)

قصتان: د تندې د پاسه ويختانو ته وايي. (مرقات ۲۶۰/۸)

ښځي ته د سر ويختان خريل حرام دي

﴿۶۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ [2]

او حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دې نه منع کړې ده چې هيڅ ښځه خپل سر وخرائيوي.

توضيح: د ښځو لپاره د ويختانو همغه حيثيت دی کوم چې د نارينوؤ لپاره دی، لکه څنګه چې د نارينوؤ لپاره ږيره خرائيل حرام ده نو د ښځو لپاره د سر ويختان خرائيل حرام دي. حکيم الامت حضرت تهانوی رحمه الله ليکلي دي چې يورپ کې ښځو سر خرائيل شروع کړل. ډاکټرانو هم ورله ملګرتيا وکړه. څه لږه موده پس د ښځو ږيرې راوښتلې، نو هلته ډاکټرانو وويل چې غلطي شوې ده چې د فطرت خلاف فيصله يې وکړه. دا چې د ښځو د بدن ټول قوت غريزی زور د سر ويختانو باندې پريوځي. چې په هغې يې ويختان اوږه کېږي. او ګرموالی ترينه خارج کېږي، نو چې د ښځو ويختان يې ورائيل نو د بدن ګرمائش يې مخ ته متوجې شو نو ږيرې يې راؤتلي. (مرقات ۲۶۱/۸)

د سر اوږيرې ويختان که خواره وي نو داد تهذيب خلاف دي

﴿۶۶﴾ وَعَنْ عطاءِ بن يسارٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ

او حضرت عطاء ابن يسار رضي الله عنه فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مسجد نبوي کې ناست ؤو.

---

[1] رقم الحديث ۴۴۸۴ اخرجه ابوداود في السنن ۴۱۲/۴ رقم الحديث ۴۱۹۷

[2] رقم الحديث ۴۴۸۵ اخرجه الترمذي في السنن ۲۵۷/۳ رقم الحديث ۹۱۴ والنسائي ۱۳۰/۸ رقم الحديث ۵۰۴۹.

فَدَخَلَ	رَجُلٌ	ثَائِرُ	الرَّأْسِ	وَاللِّحْيَةِ
چې یو کس راغلو چې سر او د ږېرې ویختان یې ګډوډ ؤو. یعنې ښواره واره او نښتې ؤو.				
فَأَشَارَ	إِلَيْهِ	رَسُولُ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې لیدلو سره د هغې سر او ږېرې اړخ ته په خپل لاس مبارک باندې دې انداز سره اشاره وکړه				
كَأَنَّهُ	يَأْمُرُهُ	بِإِصْلَاحِ	شَعْرِهِ	وَلِحْيَتِهِ
لکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې هغې ته حکم کوي چې هغه د خپل سر او ږېرې ویختان صحیح کړي،				
فَفَعَلَ	ثُمَّ رَجَعَ	فَقَالَ	رَسُولُ اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
نو هغه کس د سر او ږېرې ویختان صحیح کړل او بیا ببرته راغلو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل				
أَلَيْسَ	هَذَا	خَيْرًا	مِنْ	أَنْ يَأْتِيَ أَحَدُكُمْ
چې آیا دا د هغې نه بهتر نه دی چې تاسو کې یو کس داسې حالت کې راشي چې د هغې د سر ویختان ګډوډ وي				
وَهُوَ	ثَائِرُ			الرَّأْسِ
او داسې ښکاري لکه شیطان یا پیرۍ وي یعنې هغې خپل شکل او صورت داسې جوړ کړی وي لکه				
كَأَنَّهُ	شَيْطَانٌ.			رَوَاهُ مَالِك[1]
څنګه چې یو پیرۍ ویختان ښواره واره او او بدهئیت کې شکل او صورت ساتي.				

توضیح: ثائر الرأس: ګډوډ ویختان چې ږمونځ په کې نه وي وهل شوي، نه تیل وي نه څه او نه څه.

کانه شیطان: معلومه شوه چې شیطان لویې غیر مهذب، بدتهذیبه او هر ګناه ګونکی دی. (مرقات ۲۶۲/۸)

د کور دالان صفا ساتئ

﴿۲۷﴾ وَعَنِ ابْنِ الْمُسَيِّبِ سُمِعَ يَقُولُ: " إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ

او حضرت ابن مسیب (تابعی) نه روایت دی چې د هغې نه دا اوریدلی شوي دي چې الله تعالی پاک دی.

يُحِبُّ الطِّيبَ نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ كَرِيمٌ يُحِبُّ

پاکوالی خوښوي. الله تعالی ډېر پاک دی او پاکي خوښوي. الله کرم کونکی دی. کرم خوښوي. الله ډېر

---

[1] رقم الحديث ۴۴۸۶ اخرجه مالک في الموطا ۹۴۹/۲ رقم الحديث ۷ من كتاب الشعر.

باب التصاوير

د تصويرونو بيان

تصاوير د تصوير جمع ده. د يو شي صورت جوړولو ته تصوير وايي. هغه كه د مجسمي په شكل كې وي يا په لاس جوړ شوي يا د كيمري او مشين او د شعاګانو په ذريعي وي ټولو ته تصوير ويل كيدی شي. دي باب كې چې د كومو تصويرونو بيان دی. د هغې د زنده سرو تصويرونه مراد دي، ځكه شريعت د جائز او ناجائز بحث كوي. او تصويران ناجائزه دي. چې د زنده سرو وي. د غير زنده سرو شيانو تصويران په اسلام كې منع نه دي.

دي باب كې چې د كومو زنده سرو د تصويرونو بيان شوی دی. هغې كې په پردو باندې د تصويرونو د ممانعت تذكره ده، چې ترينه معلوميږي چې د تصويرونو ممانعت فقط د مجسمو سره نه دی بلكې د زنده سري هر قسمه ځناور تصويرونه حرام دي. هغه كه په لاس جوړ كړی شوي وي او يا كه بله كومه ذريعه استعمال كړی شوي وي. زنده سرو د تصويرونو د حرمت دوه درجې دي. ۱: د حرمت يوه وجه خو دا ده چې د زنده سرو په تصويرونو كې د خدای د تخلق سره مشابهت دی. ۲: دويمه وجه دا ده چې د تصويرونو په لاره هميشه شرک راغلی دی. او آئنده به هم راځي. نن سبا خلک د آغا خان د تصوير عبادت كوي. د خميني د تصوير عبادت كوي. د الطاف حسين د تصويرونو غوښتونكي ورته سجده كوي. كه يو كس دا غواړي چې زه شرک نه كوم نو كوم خلک چې د تصويرنو په وجه شرک كې اخته شوي دي. د هغوی ذمه واري په چا ده؟

بت پرستی دین احمد میں ابھی آئی نہیں
اس لئے تصویر جاناں ہم نے کھچوائی نہیں

الفصل الاول

درحمت فرښتي هلته نه ځي چرته چې شوقي سپي يا تصويرونه وي

﴿۱﴾عَن أَبِي طَلْحَة قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا
حضرت ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې هغه كور ته فرښتي نه داخليږي
فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تصاوير (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
چې كوم كې عكس وي او نه هغه كور ته داخليږي چې كوم كې سپی وی.(بخاری ومسلم)

([1])رقم الحديث ۴۴۸۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۰/۱۰ رقم الحديث ۵۹۴۹ ومسلم في ۱۶۶۵/۳ رقم الحديث (۸۳-۲۱۰۶)

توضیح الملائکة: د دې نه مراد د رحمت فرښتې دي. چې کورونو کې وي. او دعاکانې کوي او د خدای د رحمت سبب جوړیږي چې پرې کورونو ته برکتونه راځي. د ملائکه نه دلته مراد هغه فرښتې نه دي چې د انسان په حفاظت باندې مامور وي. یا اعمال نامه لیکلو باندې مامور وي. یا روح قبض کونکي فرښتې دي. هغه خو هر حال کې راځي.

کلب: د دې سپي نه مراد شوقې سپی دی. شریعت چې د کومو سپو کور د ساتلو اجازت کړی دی هغه سپي مراد نه دي مثلاً د کور د حفاظت سپی یا ښکاري سپی یا د رمې او د پټې د حفاظت سپی، نو داسې سپي مراد نه دي. د ځینو حضراتو خیال دی چې د حیث کې چې کوم حکم دی. دې کې عموم دی. چې کور کې مطلق سپی ساتل منع دی. هغه که شوقیه وي یا که د ضرورت وي. دواړو صورتونو کې د رحمت فرښتې کور ته نۀ راځي. **(کذا قال النوّوی)** خو دا قول شاذ دی.

ولا تصاویر: دا عطف دی. د کاب لفظ د پاسه او دا چې د کلب جمله د نفې د لاندې ده نو د لاتصاویر عطف د د اعاده عامل سره صحیح شي. اصل عبارت داسې شو **"لاتدخل الملائکة بیتا فیه کلب و لا تدخل الملائکة بیتا فی تصاویر"**. ملا علي قاري فرمایي **"و اعادة لا کاعادة الفعل"** یعنې لاتصاویر کې دلا اعاده همدغه شان ده. ګویا کې **لاتدخل الملائکة** کې د فعل اعاده وشوه. **"فلیتدبر فانه دقیق"** ګویاکې د دې حدیث مطلب او د مسند احمد د حدیث مطلب یو دی. د هغې عبارت داسې دی. **"ان الملائکة لا تدخل بیتا فیه تماثیل اوصورة"** بهرحال د حدیث تعلیم دا دی چې چې د زنده سري تصویر جوړول او کور کې ساتل حرام دي. او دا د کبیره ګناهونو نه دي. دا تصویر که په ټوټه جوړ شوی وي یا نقود او نوټونو او سکو باندې جوړ شوي وي. دا خو د جوړولو او د ویستلو خبره ده. باقي کور چې د ساتلو تر کوم ځای پورې تعلق دی نو که اعزاز او د احترام په توګه د کور په دیوالونو باندې یا په پټکي او په څادر او کوټ او بنین باندې وي نو دا ټول حرام دي، خو کوم تصویر چې معزز او مکرم نه وي بلکې سپک او ذلیله وي چې لاندې غوړول شوي فرش یا بالخ باندې وي او د هغې تذلیل کیږي نو هغه کور کې ساتل حرام نه دي. (مرقات ۲۶۵/۸)

دې تفصیل سره دا خبره په ذهن کې راشي چې د اخبارونو تصویران چې د اهانت په توګه زمکه باندې پراته وي د هغې حرمت سخت نشي کېدی. ماهره علماؤ ارخ ته رجوع ضروري ده. والله اعلم. زمونږ ملک د سرکاري اعزاز په توګه د بانئ پاکستان محمد جناح تصویرونه ځوړندول حرام دي. د هغوی په دفترنو کې به د رحمت فرښتې نه راځي، نوټو باندې چې کوم تصویرونه دي دا د ایوب خان په زمانه کې شروع شوي ؤو. د دې ګناه په حکومت باندې ده، ځکه عام خلک یې د اعزاز په توګه نه ساتې مجبوري ده.

د غیر ضروري او شوقیه سپو وژل ضروري دي

﴿۲﴾وَعَنِ ابنِ عبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ام المؤمنین حضرت میمون رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

أَصْبَحَ يَوْمًا واجماً

یو ورځ د سحر وخت کې ډېر خفا بنکاره شو او د خفګان سبب بیانولو سره د حضرت میمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه یا یا د بل کومې

وَقَالَ: إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ

زوجه مطره نه یا خپل زړه کې دا تعجب او د حیرانتیا په توګه خپله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ

وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِيَ اللَّيْلَةَ فَلَمْ يَلْقَنِي أَمَرَ وَاللهِ

نن شپه ماته د راتللو وعده کړې وه خو هغه ماله را نغلو. قسم په خدای دا سې کله نه دي شوي چې هغې

مَا أَخْلَفَنِي. ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ

وعده خلافي کړي وي. بیا ناڅاپه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذهن کې کوتري ته خیال راغلو چې د

تَحْتَ فُسْطَاطٍ لَهُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خیمه کې یعنې د کوم تخت یا د تاټ وغیره لاندې پرته وه، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پوهه شو چې

فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ

جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې کوتري په وجې زما خوا له نه دی راغلی او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه کوتري د ویستلو حکم ورو.

ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ مَاءً فَنَضَحَ مَكَانَهُ فَلَمَّا أَمْسَى لَقِيَهُ جِبْرِيلُ

چې هغه پله د هغه ځای ویستلی شوه نو حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوا له راغلو او

فَقَالَ: لَقَدْ كُنْتَ وَعَدْتَنِي أَنْ تَلْقَانِيَ الْبَارِحَةَ. قَالَ:

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې هغې نه وپوښتل چې تاخو ټهره شپه ما سره د ملاوېدلو وعده کړې وه؟ حضرت جبرائیل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وفرمایل

أَجَلْ وَلَكِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ

چې آؤ خو مونږ هغه کور ته نه داخلېږو چې کوم کې سپی یا تصویر وي. د هغې نه بله ورځ

فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتَّى إِنَّهُ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْكَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيرِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د د سپو د مړلو حکم وکړو چې تردې چې د وړو باغونو سپو د وژلو حکم یې هم وکړو او

وَ يَتْرُكُ كَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيرِ. رَوَاهُ مُسلم [1]

دلويې باغونو د سپو پرېښودل حکم يې وکړو ځکه د هغه باغونو د حفاظت لپاره د سپو ساتل ضروري ؤو.

توضیح: د عربو معاشره کې هم د شوقې سپو ساتلو رواج ؤو، لکه څنګه چې په نوره دنيا کې ؤو. د اسلام په ابتداء کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپو د وژلو مطلقاً حکم کړی ؤو. کله چې د خلکو په زړونو کې نفرت کينا ستلو نو بيا د ضرورت له نظره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو څو سپو د ساتلو اجازت وکړو. د بحث لاندې حديث د همغه ابتدائی دور نقشه ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عامو سپو د وژلو حکم کړی ؤو، خو د لويې باغونو د حفاظت کونکي سپو د ضرورت له نظره اجازت کړی ؤو. دا وه دويمه مرحله. ګڼې د دې نه مخکې خو هيڅ يو سپی د ساتلو اجازت نه ؤو. د سپو د فاسدونو نن سبا اندازه کېږي. او د يورپ په اکثر کورونو کې ښځې سپې د خاوند په درجه کې ساتي. او د هغې د خاوند کار اخلي. اوس يو څو مياشتې مخکې هندوستان کې يوې ښځې په اعلانيه توګه د سپي سره واړه وکړو او نکاح يې ولوستلی شوه.

جروکلب: د سپي وړوکې بچې ته جرو وايي. چې ترجمه يې پلا ده. (کُوکری).

فسطاط: د دې ترجمه خيمه ده، خو اصل د واقعې په اعتبار سره ډاځه تاټ يا کت يا کوم يو تخت ؤو. چې دلاندې يې کُوکری پټ شوی ؤو. (مرقات ۲۶۷/۸)

الحائط: کجورو او د انګورو وغيره غټ باغ ته وايي. (مرقات ۲۶۷/۸)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د تصوير والا شی ماتولو

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي کريم ﷺ به خپل کور کې هيڅ يو داسې څيز نه پرېښوستلو

فِيهِ تَصَالِيبُ إِلَّا نَقَضَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ [2]

چې په کوم به تصوير ؤو او هغه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتولو.

توضیح: تصاليب: د دې مفرد تصليب دی. چې معنې يې د صليب تصوير جوړول دي. چې د عيسايانو مقدس علامت دی، خو دلته د تصاليب نه مراد مطلق د زنده سرې تصوير وي. چې منع دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې داسې تصوير ليدلو نو ژر به يې ماتولو، ځکه

بت پرستی دین احمد ﷺ میں ابھی آئی نہیں
اس لئے تصویر جاناں ہم نے کھچوائی نہیں

---

[1] رقم الحديث ۴۴۹۰ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۶۴/۴ رقم الحديث (۸۲-۲۱۰۵) وابوداود في السنن ۳۸۷/۴ رقم الحديث ۴۱۵۷

[2] رقم الحديث ۴۴۹۱ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۵/۱۰ رقم الحديث ۵۹۵۲ وابوداود في السنن ۳۸۳/۴ رقم الحديث ۴۱۵۱.

چیرته چې تصویر ؤو هلته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داخل نشو

﴿۴﴾ وَعَنْهَا أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې هغې یو ځل داسې بالخت واخستلو چې هغې باندې تصویرونه ؤو.

فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حجرې ته د اخلیدلو وخت کې چې هغه تصویر ولیدلو نو

قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْ فَعَرَفْتُ

په دروازه کې اودرېدلو او حجرې ته داخل نه شو. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د دې تصویر والا بالخ په وجه

فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ قَالَتْ:

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ باندې د خفان اثرات محسوس کړل. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي

فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَتُوبُ إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ

چې ما عرض وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ما نافرمایي پرېږدم او الله او د هغې د رسول رضا ارخ ته متوجې کېږم.

مَا أَذْنَبْتُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ما کومه داسې ګناه کړې ده چې تاسو زما حجرې ته نۀ راداخلېږي؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ؟ قُلْتُ:

چې داڅنګه بالخ دی او تادادکوم ځای نه راوړی دی؟ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې ما جواب ورکړو

اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا

ما دا بالخ ستاسو لپاره اخستی دی چې تاسو کله هم وغواړي نو دې په مُرسته کینې او چې کوم وخت وغواړي نو

وَتَوَسَّدَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ

دا سر لاندې کېږدي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوربدلو سره وفرمایل چې یاد وساته تصویر جوړونکو ته

يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ".

به د قیامت په ورځ عذاب ورکول کېږي او هغې ته به ویل کېږي چې کوم تصویران تا جوړ کړي دي دي

وَقَالَ: إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّورَةُ

کې سا واچوه او دا ژوندي کړه او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم کور کې تصویران وي هغې

لَا تدخله الْمَلَائِكَة (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

ته فرښتي نه داخليږي. همدغه شان انبياء او اولياء لپاره هم دا مناسب نه دي چې هغوی د تصويرو الا کور ته داخل شي.

توضيح: **نمرقة**: نون باندې پيش دی. ميم ساکن دی. را باندې پيش دی. وړوکې بالښ ته وايي. علامه نؤوی ليکلي دي چې ځينې علماء وايي چې د دې نه پرده مراد ه.

که پرده مراد واخستلی شي نو د حديثونو باندې پوهېدل به اسان شي او دا خبره خو ثابت شوه چې تصويرونه که په کيمره مشين وي يا په لاس جوړ کړی شوي وي ټول ناجائز دي. هغه که د مجسمې په شکل کې وي يا غير مجسمه وي. وګورئ چې دلته په پرده باندې کوم تصويران ؤو دا څه مجسمې خو نه وي. بلکې د ننسبا د کاغذ ورقو پشان او د ټوټو پشان تصويرونه ؤو.

احيوا ماخلقتم: يعنې تا چې د کوم حيوان تصوير جوړ کړی دی هغې کې سا واچوه ګنې عذاب خوره. دا تعليق بالمحال او تعجيز دی. (مرقات ۸/۲۷۰)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصويران وران کړل

﴿۵﴾ وعنها أَنَّهَا كَانَت عَلَى سَهْوَةٍ لَهَا سِتْرًا

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې يو ځل هغې خپل څېر باندې يو داسې پرده ولېدله چې هغې

فِيهِ تَمَاثِيلُ فَهَتَكَهُ

باندې تصويران ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ولېدله او ويشلوله. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د هغه شليدلي پردې دا

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّخَذَتْ مِنْهُ نُمْرُقتين

مصرف راويستلو چې د هغې نه يې دوه بالښتونه جوړ کړي. او هغه دواړه بالښتونه يې کور کې کيخوستل

فكانتا فِي الْبَيْت يجلسُ عَلَيْهِم (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغې باندې تکی وهلو او پرې کيناستلو به.

توضيح: **سهوة**: سين باندې زبر دی. ها ساکن دی. واؤ باندې زبر دی. د کور دننه وړه څېر او د ناستې ځائ ته وايي. يعنې د ناستې هغه وړوکی شان ځای چرته چې ښځې خپل سامان ږدې يا ديوال کې هغه طاق ته سهوة وايي چې ښځې يې د خزانې، بکس او د صندوق په توګه استعمالوي. چې مخې ته يې پرده ځوړنده وي. (مرقات ۸/۲۷۰)

---

[1] رقم الحديث ۴۴۹۲ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۳۹۳ رقم الحديث ۵۹۶۱ ومسلم في ۳/۱۶۶۹ رقم الحديث (۹۶-۲۱۰۷)

[2] رقم الحديث ۴۴۹۳ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۳۸۶ رقم الحديث ۵۹۵۴ ومسلم في ۳/۱۶۶۸ رقم الحديث (۹۴-۲۱۰۷)

تماثيل: تصوير مراد دی، ځکه نرمه پرده باندې مجسمه نه جوړيږي. (مرقات۸/۲۷۰)

فهتکه: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه پرده وشلوله، يوه وجه بې ځايه اسراف او د ارائش او زيبائش ؤو. او د دويمه وجه د زنده سرې ناجائز تصوير ؤو. (مرقات۸/۲۷۰)

نمرقتين: حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د هغه دوه ټکړو نه بالختونه جوړ کړل، ځکه شلولو سره هغه تصوير ان ورن شول.

پوښتنه: د دې مخکښې د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث کې دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالخ باندې د جوړو شوي تصوير په وجه کورته را نغلو. حال دا چې دلته د تصوير والا توتې نه دوه بالختونه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استعمال لپاره اينبودلی شوې ؤو. دا تعارض دی. د دې څه جواب دی؟

جواب: د بحث لاندې حديث کې د هتکه لفظ راغلی دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرده وشلوله. هغې سره د تصوير حيثيت ختم شو. لهذا تعارض نشته دی. دا جواب هم روکړی شوی دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ډول سنګار او د بې خايه اسراف په وجه دا پرده شلولې وه، لکه څنګه چې په بل حديث نمبر ۶ کې تفصيل موجود دی. دې حديث کې پرده باندې د زنده سرې تصوير نه ؤو. اګر که دې باندې د تماثيل اطلاق شوی دی. دا تاويل کمزوری شان دی. اولنی جواب ښه دی. د دې حديث نه معلومه شوه چې د مجسمې نه بغير توتې يا کاغذ باندې هم تصوير جوړول منع دی. (مرقات۸/۲۷۰)

بې ضرورته ديوال ته پردي مه ځوړندوئ

﴿۶﴾ وَعَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِي غَزَاةٍ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ځل نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جهاد لپاره سفر کې لاړو، نو د
فَأَخَذَتْ نَمَطًا فَسَتَرَتْهُ عَلَى الْبَابِ فَلَمَّا
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تلو نه وروسته مايو توته حاصله کړه او د هغې پرده مې په دروازې زوړنده کړه.
قَدِمَ فَرَأَى النَّمَطَ فَجَذَبَهُ حَتَّى هَتَكَهُ
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله بېرته د جهاد د سفر نه راغلو او هغه پرده يې وليدله نو هغه يې رانښکله او وې يې شلوله
ثُمَّ قَالَ: إِنَّ اللهَ لَمْ يَأْمُرْنَا أَنْ نَكْسُوَ الْحِجَارَةَ وَالطِّينَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]
او وې فرمايل چې الله مونږ ته د دې حکم نه دی کړی چې د خاورې او کانې نه توته جوړه کړو.

توضيح: لمطاً: يو ښه قسمه نرمې درئ ته وايي. ۵ودج هم اچولی کېږي. کېدی شي دا نمده د معرب نه وي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ځکه وشلوله چې دې باندې د اَس تصوير جوړ شوی ؤو. ځکې

---

[1] رقم الحديث ۴۴۹۴ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۳۸۶ رقم الحديث ۹۵۵۴ ومسلم في ۳/۱۶۶۶(۹۲-۲۱۰۷)

دروازه باندې ټوټه اچول او پرده کول خو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم عمل دی. دا احتمال هم شته دی چې دا پرده غير ضروري، ارائشی او زيبائشی وه، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وشلوله. د حديث آخري الفاظ د دې تائيد کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناخوښوالي وجه دا ويلي ده چې مونږ الله د دې پابند کړې نه يو چې مونږ د خاورې او د کانې نه ټوټې جوړې کړو. (مرقات ۲۷۱/۸)

قيامت کې به تصوير ويستونکې ته د ټول نه زيات عذاب وي

﴿۷﴾ وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) (۱)

د قيامت په ورځ به د ټولو نه سخت عذاب هغه خلکو ته وي چې په تخليق د الله سره مشابهت اختيار وي.

توضيح يضاهون: د مضاهات نه دی. چې د مشابهت په معنی کې دی. ځينو نسخو کې همزه هم دی. هغه هم يو لغت دی. د شکل جوړول د الله کار او د الله صفت دی ﴿**ويصوركم في الارحام كيف يشاء**﴾ (آل عمران : ۶) لهذا کوم کس چې تصوير جوړوي نو حقيقت کې هغه خپل فعل د الله د فعل سره مشابه کوي. چې لويې ګناه ده. د دې حديث نه معلومه شوه چې د تصوير ويستلو د ممانعت يوه وجه د خدای د تخليق سره مشابهت دی. (مرقات ۲۷۱/۸)

اشد الناس عذاباً: که تصوير جوړونکی شرک او د بوتانو د عبادت په غرض تصوير جوړوي، نو دا کفر دی، ځکه به وره د قيامت په ورځ د ټولو نه سخت عذاب ورکړی کېږي. که د بت پرستئ په غرض نه وي بلکې د خدای د تخليق سره د مشابهت په غرض جوړوي نو دا هم کفر دی، ځکه به ورته سخت عذاب ورکول کېږي. او که تصوير صرف د زيب او زينت او د شوق او ذوق په غرض وي نو دا فسق او فجور او ګناه ده. سړی د ګناه کبيره مستحق شي. بيا دا حديث د تشديد او تغليظ او تهديد او توبيخ باندې محمول دی. (مرقات ۲۷۲/۸) چا څه ويلي دي

بت پرستی دين احمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ميں ابھی آئی نہيں
اس لئے تصوير جاناں ہم نے کھچوائی نہيں

النّاس: ابن ملک رحمه الله فرمايي چې که د مصور کار د دې عقيدې د لاندې وي (چې هغه د خدای د تخليق سره مشابهت کونکی وي) نو هغه کافرک کېږي. هغه صورت کې به د حديث مطلب دا وي چې دې قبيح کفر باندې به هغه کس د نورو کافرانو په نسبت زيات سخت عذاب وي. (هغه صورت کې به

د الناس نه مراد کافران وي او کلام به په حقیقت باندې محمول شي) او که داسې عقیده نه لري نو بیا د هغه کس په حق کې به دا حدیث په تغلیظ او تهدید باندې محمول وي الخ. (هغه صورت کې به د الناس نه مسلمانان مراد وي. کلام به په زجر او توبیخ او تهدید او تشدید باندې حمل کېږي).

بهرحال د تصویر نه مراد د زنده سرې تصویر مراد دی. علماء فرمایي چې د حدیث د دې سخت وعید نه هغه تصوریان خارج دي چې هغه دومره وړوکی او نری وي چې که په ځمکه واچولی شي نو ولاړ سرې ته صفا نۀ ځکاري. یا داسې تصویر وي چې د هغې سره داسې انداونه نه وي چې د هغې نه بغیر سرې ژوندی نشي پاتې کیدلی، لکه څنګه چې نیم تصویر وي. داسې تصویرونه د مجبورۍ په وجه حج او عمره یا تذکره وغیره ضروري اسنادونو کې کېدی شي حرام نه وي. داسې واړه تصویرونه او دغه شان هغه تصویرونه چې د اکرام په توګه نه وي بلکې مهان وي نو د هغې کور کې ساتلو باندې کېدی وعید هم نه وي. اګر که ځینې علماء دې کې هم احتیاط کوي.

که مصور کې همت وي نو میږی دي پیدا کړي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلي دي فرمائیل ئې چې
قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ
الله فرمایي چې د هغه کس به زیات ظالم څوک یې چې څوک زما د پیدا کولو پشان پیدا کول کوي یعنې لکه څنګه
ذَهَبَ بِخلق كخلقي
صورت چې زه جوړوم هغه شان صورت هغه هم جوړوي. اګر که په حقیقت کې هغه د هغه مادې نه شکل نه شي جوړولی چې د کومې
فليخلقوا ذَرَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا
مادې نه د الله جوړ شوي شکلونه دي، خو بیا هم هغه یو شکل جوړوي او دا ګمان کوي چې دا شکل ما جوړ کړی دی. که تصویر
حَبَّةً أَوْ شَعِيرَةً" (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
او مجسمه جوړنکي په ربنتیا د تخلیق دعوی کوي نو لږ یو میږی خو دې جوړ کړي یا خو دې د جوارو یوه دانه پیدا کړي.

توضیح: یعنې جوړولو سره د خدای د تخلیق مشابهت اختیارول وي نو بیا کولاؤ میدان ته راشه او یو میږی خو پیدا کړه یا په هوا کې الوتکونکي یوه ذره خو پیدا کړه یا د جوارو دانه پیدا کړه. دې حدیث کې د امر صیغه د تعجیز لپاره ده. بهرحال د ټولې دنیا بادشاهان او خلک کې راجمع شي نو یوه چټاکئ خاوره هم نشي پیدا کولی. چرګئ د چرګوتو په زړه رابنکونکي تصویرونو کې مشابهت

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۹۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۵/۱۰ رقم الحديث ۵۹۵۳ ومسلم في ۱۶۷۱/۳ رقم الحديث (۱۰۱-۲۱۱۱)

اختیاروي خو د ټولې دنیا بادشاهان او خلک که راجمع شي نو یوه هګۍ نه شي پیدا کولی. لږ یوه هګۍ خو اوښایئ. که نه شئ کولی نو بیا د بل په تخلیق کې بې ځایه ماتوالی ولې کوئ؟ سره د بې وسئ نه قادر جوړېدلو کوشش کول څومره لویې ظلم دی.

د الله په نزد به مصور ته د ټولو نه زیات عذاب وي

﴿۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي د

أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ المصوِّرون (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

خدای په نزد د ټولو نه د سخت عذاب حقدار مصور دی.

توضیح: المصورون: اصطلاحي توګه باندې د زنده سرو تصویر جوړونکي ته مصور وایي. د غیر زنده سرو تصویر جوړونکي ته نقاش وایي. دلته د زندسرې تصویر مراد دی. دې حدیث او تېر شوي حدیث نمبر ۷ کې توضیح او تشریح یو شان ده. هلته تفصیل وګورئ.

چې څومره تصویران جوړ کړي هماغومره عذاب به ګټي

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُول: كُلُّ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلی دي چې هر

مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ يُجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا

مصور به دوزخ ته ځي. او د هغې د جوړ شوي هر تصویر په بدل کې به یو کس پیدا کېږي چې تصویر جوړونکي

فَيُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ. قَالَ ابْن عَبَّاس: فَإِن كنت لابد فَاعِلًا

ته به د دوزخ عذاب ورکوي. حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې که تاسو ته د تصویر ضرورت وي

فَاصْنَعِ الشَّجَرَ وَمَا لَا رُوحَ فِيهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

نو د بوټو او د غیر ذی روح تصویر جوړ کړئ.

توضیح: نَفْسٌ: څومره تصویران چې دنیا کې مصور جوړ کړي دي. هغه ټول تصویرونو ته به قیامت کې د یو زنده سرې شکل ورکړی شي او د دوزخ د اور په شکل کې به هغه زنده سری د عذاب په صورت کې دې مصور باندې مسلط شي.

---

[1] رقم الحديث ۴۴۹۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۲/۱۰ رقم الحديث ۵۹۵۰ ومسلم في ۱۶۷۰/۳ رقم الحديث (۹۸-۲۱۰۹)

[2] رقم الحديث ۴۴۹۸ أخرجه البخاري ۴۱۶/۴ رقم الحديث ۲۲۲۵ ومسلم في ۱۶۷۰/۳ رقم الحديث (۹۹-۲۱۱۰)

فيعذبه: كه د مذكر صيغه ده نو ضمير د فاعل لفظ الله لره دى. او كه د مؤنث صيغه ده نو د ضمير فاعل د نفس لپاره دى. بهرحال هر مصور له سوچ كول پكار دى چې هغه څومره تصويرونه جوړوي هغه هومره به ورته عذاب زياتېږي. (مرقات ۲۷۴/۸)

درې لوى ګناهونه او عجيبه سزا

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلى دي چې كوم كس د

تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ كُلِّفَ

داسې خوب د ليدلو دعوى كوي چې هغې نه وي كتلى يعنې د دروغو خوب بيان كړي نو د قيامت په ورځ به هغه

أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ وَلَنْ يَفْعَلَ وَمَنِ

دوه جوارو ته غوټه ورکولو باندې مجبور كړى شي چې هغه به يې هرګز نه شي كولى. او كوم كس

اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ

چې د څه خلكو خبرو اترو اړخ ته خپل غوږ نژدې كوي او دا چې هغه خلك د دې اورېدل نه خوښې

أُوْ يَفِرُّونَ مِنْهُ صُبَّ فِي أُذُنَيْهِ الْآنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ

او د هغې نه وتښتي نو د قيامت په ورځ به د دې كس په غوږ كې سيسه واچولى شي او كوم كس چې

صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ وَكُلِّفَ

تصوير جوړوي. هغې ته به د قيامت په ورځ عذاب ورکول كېږي. او هغه به دې خبره باندې مجبوره كول كېږي

أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا وَلَيْسَ بِنَافِخٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

چې دې تصوير كې روح واچوي حال دا چې هغه به هرګز هغې كې روح نه شي اچولى.

توضيح: تحلم: يعنې داسې خوب يې بيان كړو چې هغه يې نه ؤو ليدلى. بلكې دروغ يې جوړ كړل او بيان يې كړل. نو د هغې سزه به دا وي چې د جوارو دوه دانو ته غوټه ورکولو باندې به مجبوره كړى شي. چې غوټه نه شي ورکولى نو عذاب كې به اخته وي، ځكه دا تعليق بالمحال دى. د دروغو خوب بيانول د عامو دروغو ويلو نه ځكه زيات سخت دى چې په دروغ جن خوب كې دا كس په عالم غيب باندې دروغ وايي. او خوب د نبوت د اجزاؤ نه يو جز دى، نو ګويا كې دې كس د نبوت به يو جز كې دروغ وويل چې لويې جرم دى. مثلاً دا كس اوايي چې ما خوب ليدلى دى چې ماته د فلانې

---

(۱) رقم الحديث ۴۴۹۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۴۲۷/۱۲ رقم الحديث ۳۹۱۶ وأبوداود في السنن ۲۸۵/۴ رقم الحديث ۵۰۲۴

ولایت رتبه راکړی شوي ده. یا د فلانې کس مغفرت شوی دی. یا ما حج کړی دی یا ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې لیدلی دی یا ماته د جنت پروانه ملاو شوي ده. دغه شان د دروغو خوب بیانول د عذاب سبب دی. (مرقات۸/۲۷۵)

استبرع: یعنې د څه خلکو پټو خبرو اوربدلو ته غوږ ږدي او خبرې اوري او بیا یې ښوروي. او فساد ښوروي نو نو دا حرام دي. (مرقات۸/۲۷۵)

صب: یعنې ورغوزار به کړی شي. (مرقات۸/۲۷۵)

الانك: داقلعي او تانبې ته وایي.

وليس بنافخ: یعنې کوم کس چې د زنده سرې تصویر جوړ کړو نو د قیامت په ورځ به هغه مجبوره کول کېږي چې اوس په دې سا واچوه. هغه کس به دې کې سا نه شي اچولی نو دې باندې به هغې ته سزه ورکول کېږي. او دا سزه به د همیشه لپاره وي. دا هم تعلیق بالمحال دی. چې دې کې روح واچوه ګنې په عذاب کې اوسه. چې روح نه شي اچولی نو عذاب کې به پروت وي. (مرقات۸/۲۷۶)

د نرد شیر لوبې کولو ممانعت

﴿۱۲﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ

او د حضرت بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم د نرد شیر په

فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

ذریعه سره لوبه وکړه، هغه ګویاکې د خنزیر غوښه او وینه کې خپل لاس ومنډلو.

توضیح: نردشیر: د ګیټکو په قسم کې یوه لوبه ده. دا لوبه د ټولو نه اول د فارس بادشاه شاه پور بن اردشیر بن بابک نوی راویستلې (ایجاد) وه. کوم کس چې دا لوبه کوي ګویاکې هغه مجوسي رسم ژوندی کوي. چې ګناه په کې ده. یو بله لوبه ده چې شطرنج ورته وایي. چې تذکره یې مخکې راروانه ده. د احنافو په نزد دا دواړه لوبې مکروه تحریمي دي، خو د شوافعو په نزد که وخت نه ضایع کوي، لمونځ نه قضا کوي. صرف د ذهن تازه کولو په نیت وي نو مباح او جائز دی. د احنافو ائمؤ وعید ونه لیدلي دي. د وعید مخې ته تشحیذ اذهان هیڅ اهمیت او حیثیت نشته دی. د امام شافعي رحمه الله یو قول دی چې شطرنج مکروه دی. دې قسمه لوبه کې به تصویرونه استعمالیدل، نو ځکه دا د تصویرونو په باب کې ذکر کړی شو. د خنزیر غوښه او وینه حرام کیدلو سره د طبیعیت د زیاتي نفرت سبب وي، نو ځکه د نفرت پیدا کولو لپاره دا ذکر کړی شوی دی. (مرقات۸/۲۷۶)

---

[1] رقم الحديث ۴۵۰۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۷۰ رقم الحديث (۱۰-۲۲۶۰) وابوداود في السنن ۵/۲۳۰ رقم الحديث ۲۹۳۹.

الفصل الثاني

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ماله حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغلى ؤو

قَالَ: أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي

او فرمايلي يې چې زه تېره شپه تاله راغلى ؤم خو كورته د راتلو نه چې كوم شيز منع كړى ؤوم هغه دا ؤو

أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ عَلَى الْبَابِ تَمَاثِيلُ

چې د دروازې په پرده باندې تصويرونه ؤو. همغه وخت كې چې كور كې كومه رنګينه نقش كړى شوې

وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي الْبَيْتِ كَلْبٌ

توپه وه د هغې نه پرده جوړه كړى شوې وه او په هغې باندې هم تصويرونه ؤو. او په كور كې سپى هم موجود ؤو.

فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي عَلَى بَابِ الْبَيْتِ

لهذا تاسو د دوى د سرونو د غوڅولو حكم وكړه كوم چې د دروازې په پرده دي او د هغه تصويرونو

فَيُقْطَعُ فَيَصِيرُ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ

سرونه غوڅ كړه چې دې شكل او هئيت بدل شي. او د بوتو په شكل شي او بيا هغه پرده غوڅه كړه او

فَلْيُجْعَلْ وِسَادَتَيْنِ مَنْبُوذَتَيْنِ

د هغې نه د دوه بالختونو جوړولو حكم وكړه او تكى ورته ؤوهه او د اوده كېدو لپاره په فرش

تُوطَآنِ وَمُرْ بِالْكَلْبِ فَلْيُخْرَجْ".

باندې پرېوځه او هغه د پښو لاندې كوه. او د سپى هم د كور نه د بهر ويستلو حكم وكړه،

فَفَعَلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد [1]

نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همد غه شان وكړل لكه څنګه چې ورته جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ويلي ؤو.

توضيح: فيقطع: د كومو تصويرونو سرونه چې غوڅ كړى شوي وي د هغې ممانعت نشته دى، لكه څنګه چې دې حديث كې دي او كوم تصويران چې واړه وي نو د هغې ممانعت هم نشته دى. د وړو تصويرونو معيار دا دى چې هغه دومره نرې وي چې ولاړ سړى يې كله په ځمك كېږدي نو د هغې اندامونه جدا جدا نه معلوميږي. او په كومو تصويرونو كې چې داسې اندامونه نۀ وي چې د هغې نه بغير انسان ژوندى نه شي پاتې كېدى، لكه خيټه نه وي، د نامه نه لاندې نه وي نو هغې كې هم كېدى

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۰۱ أخرجه ابوداود في السنن ۳۸۸/۴ رقم الحديث ۴۱۵۸ والترمذي في السنن ۲۸۰۶.

شي وعيد نه وي. كه تصويران غټ وي نو فتاوى قاضي خان ليكل شوي دي چې كه لمونځ كونكي په داسې حالت كې لمونځ كوي چې تصويرونه د هغې د جانماز مخې ته وي يا پاس په ديوالونو باندې نبي او چپ اړخ ته ځوړند وي يا په اچول شوؤ جامو باندې وي نو داسې حالت كې لمونځ كول مكروه دي. او كه دا تصويران په درئ او فرش باندې د مُهان په درجه كې وي نو راجح قول دا دى چې كه د سجدې په ځاى باندې نه وي نو لمونځ نه مكروه كيږي. دا تفصيل د هغه تصويرانو باره كې دى چې غټ وي. وړو تصويرانو كې د كراهت نشته دى. (كذا في فتاوى الخانية) (مرقات ۲۷۸/۸، ۲۷۷)

قرام: نرمې پردې ته وايي. معلومه شوه چې د مجسمې نه بغير تصويران هم ناجائز دي، ځكه دلته مجسمه مراد نه ده. بلكې سپكي او نرمي باندې تصويرن مراد دي.

وسادتين: يعنې چې د دې تصويران سرونه مات كړى شي يا پرده وشلولى شي نو اوس دا تصويران نه پاتې نشول لهذا بالخ جوړول ترې نه جائز شو.

مصورينو په غټ باندې به په محشر كې د دوزخ اور مسلط وي

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د دوزخ نه به يو غټ راوځي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ

د قيامت په ورځ يعنې د اوريوه لمبه به اوږد غټ شكل راوځي. د هغې به غټ كې به دوه د كتونكي

تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُولُ:

سترګې وي، د اوږدونكې غوږونه به وي، خبرې كونكي ژبه وي، هغه غټ به وايي چې زه په

إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ:

درې قسمه خلكو باندې مسلط كړى شى يم. چې دا درې قسمه خلك دوزخ تمرانبكاړم او دخلكو مخكې يې ذليل او رسوا كړم

بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ

او په عذاب كې يې اخته كړم. هغې كې خو به يو هغه قسمه خلك وي چې د حق سره يې د تكبر او د عناد سلوك وكړو.

وَكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ

يعنې دنيا كې هغوى ته حق ظاهر شو خو هغوى قبول نه كړو. دويم قسمه خلكو كې هر هغه كس شامل دى

إِلَهًا آخر و بالمصوّرين ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

چې د الله سره يې بل معبود رابللى دى او دريم قسم خلك به هغه وي چې تصويرونه يې جوړ كړي دي.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۰۲ أخرجه الترمذي في السنن ۶۰۴/۴ رقم الحديث ۲۵۷۴ وأحمد في المسند ۳۳۶/۲ .

شراب، جواري او کوبه حرام دي

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

"إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ الْخَمْرَ وَالْمَيْسِرَ وَالْكُوبَةَ وَقَالَ:

بيشکه الله تعالى شراب، جواري او کوبه غږول يې د نبوت په ژبه حرام کړي دي. او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ". قِيلَ: الْكُوبَةُ الطَّبْلُ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان[1]

چې هر نشه کونکی شی حرام دی. او بيان کړی شوي دي چې "کوبه" چمبې ته وايي.

توضيح: الكوبة: د کوبه په معنی او په مصداق کې يې درې اقوال دي. اول قول دا دی چې د دې نه مراد نرد دی. دويم قول دا دی چې د دې نه بربط مراد دی. دريم قول دا دی چې د دې نه مراد چمبه ده. د دې چمبې نه د غازي چمبه مستثنی ده. دا حديث کېدی شي چې د نرد په وجه دلته ذکر کړی شوي وي. چې تصويرونه په کې وي. (مرقات ۲۷۹/۸)

﴿۱۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شراب، جواري، چمبه او د

والغبيراء. الغبيراء: شَرَابٌ يَعْمَلُهُ الْحَبَشَةُ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ: السكركة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

غبيرا نه منع کړي ده. او غيرا يو قسم شراب وي چې د حبش خلک د جوارو نه جوړوي. او هغې ته سکرکه وايي.

توضيح: الذرة: جوارو ته ذره ويل شوي دي. شياه فام خلک د ټولو نه زيات جوار استعمالوي. د دې نه هم شراب جوړوي. د چمبې په وجه دا حديث په باب التصاوير کې راغلی دی.

غبيرا: د دې شرابو دويم نوم سکرکه هم ده. (مرقات ۲۸۰/۸)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ

او د حضرت ابو موسى اشعرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روا[illegible] چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې کوم

لَعِبَ بِالنَّرْدِ فَقَدْ عَصَى اللهَ [illegible] رَسُولَهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد[3]

کس د نرد لوبه وکړه حقيقت کې هغې الله او د هغې د رسول نافرماني وکړه. (احمد، ابوداؤد)

---

(1) رقم الحديث ۴۵۰۳ اخرجه ابوداود في السنن ۹۶/۴ رقم الحديث ۳۶۹۶ وأحمد في المسند ۲۸۹/۱.

(2) رقم الحديث ۴۵۰۲ أخرجه ابوداود في السنن ۸۹/۴ رقم الحديث ۳۶۸۵ وأحمد في المسند ۱۸۵/۲

(3) رقم الحديث ۴۵۰۵ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۰/۵ رقم الحديث ۴۹۳۸ وابن ماجه في ۱۲۳۷/۲ رقم الحديث ۳۷۶۲.

د کوترو ساتنه ناجائزه ده

﴿۱۸﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا

او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو ورځ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو کس ولیدلو چې

يَتْبَعُ حَمَامَةً فَقَالَ:

کوترانو پسې شوی وُو، یعنې د هغې سره لهو و لعب او په الوځولو کې مشغول وُو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

شَيْطَانٌ يَتْبَعُ شَيْطَانَةً . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ (۱)

چې دا شیطان دی او شیطان پسې شوی دی. (احمد، ابو داؤد، ابن ماجه، بیهقی فی شعب الایمان)

توضیح: شیطان یتبع شیطانة: د کوترو ساتنه ناجائزه ده، ځکه دې کې ډېرې خرابیانې دي. مثلاً دې سره وخت ضایع کېږي. سړی د لمونځونو نه غافل شي. د الله د ذکر نه غفلت پیدا شي. کوترې اولوځونکی د کور په چهت باندې وخېجي او د بې حیائی او د بې پردګئ مرتکب شي. دغه شان دا سړی د فسق او فجور ښکار شي، نو ښه صحیح شیطان ترېنه جوړ شي. که د کوترو په الوځولو کې کومه جواري هم کوي نو بیا خو یې په شیطان کېدلو کې هیڅ شک نشته دی. او بله دا چې کوتري ته ځکه شیطان ویلی شویدی چې هغه د سړي د دې بربادئ سبب او ذریعه جوړه شوه. او د دې ټولو فسادونو مرکز جوړ شو. که کوم کس د نسل د زیاتولو په غرض دا ساتې او د دې ساتنه کوي نو بیا اګر که ساتنه یې جائز ده خو دا خارجې فسادونه ناجائز دي.

الفصل الثالث

د زنده سرو تصویر ویستلو کاروبار ناجائز دی

﴿۱۹﴾عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ

او حضرت ابو سعید ابن ابو الحسن تابعی فرمایي چې یو ورځ زه د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کې

إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ إِنِّي رَجُلٌ إِنَّمَا

حاضر شوم چې ناڅاپه یو کس هغې له راغلو او وې ویل چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما د معاشي ژوند متکیا زما

مَعِيشَتِي مِنْ صَنْعَةِ يَدِي

دلاسونو په مزدوري باندې ده. چې د هغې په ذریعه زه تصویران جوړوم. اوس پوښتنه دا ده چې ولې شریعت دا

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۰۶ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۱/۵ رقم الحديث ۴۹۴۰ وابن ماجه في ۱۲۳۸/۲ رقم الحديث ۳۷۶۵.

وَإِنِّي	أَصْنَعُ	هَذِهِ	التَّصَاوِيرَ
حرام کړی دی. بله کوم کسب ماله نه راځي چې د هغې په ذریعه د خپل رزق انتظام وکړم، نو آیا د مجبورۍ په وجه دا کسب			
فَقَالَ	ابْنُ		عَبَّاسٍ:
زما لپاره جائز دیږ یا نا؟ حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې ولیدل چې د تصویر جوړولو سره د دې کس تعلق د سخت نوعیت			
لَا	أُحَدِّثُكَ	إِلَّا	مَا	سَمِعْتُ
دی. کېدی شي چې زما په منع کولو باندې منع نه شي، نو هغې د هغې مخې ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حدیث بیان کړو چې				
مِنْ	رَسُولِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
هغه وفرمایل چې زه ستا مخې ته د دې نه بغیر بله هیڅ خبره نه بیانوم چې کومه ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوریدلې ده،						
سَمِعْتُهُ	يَقُولُ:	مَنْ	صَوَّرَ	صُورَةً
نو ته یې په غور واوره چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا اوریدلي دي چې کوم کس تصویران جوړوي نو				
فَإِنَّ	اللهَ	مُعَذِّبُهُ	حَتَّى	يَنْفُخَ	فِيهِ	الرُّوحَ
الله تعالی به یې په عذاب کې اخته کړي. تر دې چې هغه په دې کې روح واچوي. او حال دا چې هغې کې به						
وَلَيْسَ	بِنَافِخٍ	فِيهَا	أَبَدًا .	فَرَبَا	الرَّجُلُ	رَبْوَةً	شَدِيدَةً	وَاصْفَرَّ	وَجْهُهُ
هرګز روح نه شي اچولی. هغه کس دې وعید اوریدلو سره غټه ساه واخستله او د ویرې په وجه یې مخ پیکه شو.									
فَقَالَ:	وَيْحَكَ	إِنْ	أَبَيْتَ
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغې دا حالت ولیدلو نو ویې فرمایل چې په تا باندې افسوس دی چې که ته دې تصویر ویستلو د			
إِلَّا	أَنْ	تَصْنَعَ	فَعَلَيْكَ	بِهَذَا	الشَّجَرِ	وَكُلِّ	شَيْءٍ
کسب نه بغیر بل کسب قبلولو نه انکار کوي نو داسې وکړه چې د دې بوټو او د هغه شیزو نو تصویران							
لَيْسَ فِيهِ روح. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]							
جوړوه چې غیر زنده سري دي.							

توضیح فربا الرجل: ربا د یربو نه دی یعنې یوه یخه او اوږده سا یې واخستله او د خدای د ویرې نه یې رنګ پیکا شو. اَس چې کله منډه وهي نو ستړې کېدلو سره اوږده سا اخلي نو هغې ته ربا الفرس وایي. کاس که کوم شارح د دې ترجمه په ربیدلو سره کړی وی نو ربوة شدیدة باندې به هم صحیح

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۰۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۴/۴۱۶ رقم الحديث ۲۲۲۵ وأحمد في المسند ۱/۳۶۰ .

پوهه شوی وی او په واصفر وجهه باندې به هم پوهه شوی وی، خو چا دا ترجمه نه ده کړې. بس د سا اخستلو او د یخ او وبدې سا د رابنکلو ترجمه یې کړې ده. د دې حدیث نه دا خبره واضحه شوه چې د زنده سرې نه بغیر د هر شي تصویر جوړول جائز دی. (مرقات ۲۸۱/۸)

د تصویر ویستلو په وجه شرک راغلی اوراځي به

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې کله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ریمار شو نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ازواجو کې ځینو د کنیسه

ذَكَرَ بَعْضُ نِسَائِهِ

ذکر وکړو چې ماریه بهورته ویل کېدله. کنیسه د یهودو او د عیسایانو د عبادت ځای ته وایي. چې کثیت معرب دی. د دې باره کې

كَنِيسَةً يُقَالُ لَهَا:

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ریماری کې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ناسته وم. ییسیاني د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د زړه

مَارِيَةُ وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ

ساتې لپاره خبرو کې مشغوله وي چې ځینو ازواج مطهرات یعني ام سلمه او ام حبیبه د کنیسه ذکر وکړو چې هغوید حبشه په ملک

وَأُمُّ حَبِيبَةَ أَتَتَا أَرْضَ الْحَبَشَةِ

کې لیدلي ؤو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ازواج مطهرات حبشه ته تلي وي. چې خلک یې د عیسائیت پیروکار ؤو، نو هغې دواړو

فَذَكَرَتَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا

د کنیسې د ښایست او هغې کې د جوړ شوؤ تصویرانو ذکر وکړو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې تذکره اوریدلو

فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: أُولَئِكَ

سره خپل سر مبارک را اوچت کړو او ویې فرمایل چې هغه خلک یعني حبشي والا یا نصاری داسې کوي

إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ

چې کله هغوی کې کوم نیک سړی مړ شي نو هغوی د هغې په قبر باندې د عبادت ځای جوړوي.

مَسْجِدًا ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ

چې کنیسه ورته وایي. او په هغه کنیسه کې د خپل نیک او صالحه خلکو دا تصویرونه جوړوي.

أُولَئِكَ شرار خلق الله (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
هغه خلک حقیقت کې د خدای بدتره مخلوق دی.

توضيح کنيسة: د يهود او نصاری عبادت ګاهونو ته کنيسه وايي.

وتصاوير فيها: ای ذکرتا حسن تصاويرها: د ګرجې د ښايست او د هغې د تصويرونو ښايست يې د تعجب په توګه بيان کړو. (مرقات ۲۸۲/۸)

على قبره مسجداً: يعنې قبر نه د عباد خانه جوړوله. او بيا د هغې به نوم کنيسه جوړوله. او بيا به يې هغې کې د هغه نيکانو تصويرونه د زړه د اطمينان لپاره جوړول. چې بوډه ګان به مړه شول نو نوي نسل ته به يې شيطانان ويل چې ستاسو مشرانو د دې تصويرانو او د نيکانو د دې مجسمو عبادت کولو، نو نوی نسل به د بوتانو په عبادت کې اخته شو، لکه څنګه چې د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې هم د شرک ابتداء همدغه شان شوي وه. معلومه شوه چې د تصويرانو په ذريعه د شرک ابتداء هم وشوه او بيا به هم شرک په دې لاره راځي. تر ننه پورې د قبر پرست بريليان حضرات دي. چې بدعتيان هم دي- او شرک کې هم اخته دي.

شرار خلق الله: يعنې تصوير ويستونکي او بيا په قبرونو باندې د عبادت ځايونه جوړونکي بدترين مخلوق دی، ځکه خپله هم ګمراه شول او نورې هم ګمراه کړل (مرقات ۲۸۲/۸).

زندگی اس کی ہے ملت کے لئے پیغام موت
کر رہا ہو جو بجائے کعبہ قبروں کا طواف
بت پرستی دین احمد میں ابھی آئی نہیں
اس لئے تصویر جاناں ہم نے کھنچوائی نہیں

پنځه قسمه خلګو ته به قيامت کې سخت ترين عذاب وي

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د قيامت په ورځ به د
عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ أَوْ
ټولو نه سخت عذاب هغه کس باندې وي چې نبي اوژني يا د جهاد کې هغه نبي اوژني يا چې په مور

---

[1] رقم الحديث ۴۵۰۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۸۷/۷ رقم الحديث ۳۸۷۳ ومسلم في ۳۷۵/۱ رقم الحديث (۱۶-۵۲۸)

قَتَلَ	أَحَدَ	وَالِدَيْهِ	وَالْمُصَوِّرُونَ
او پلار کې يو اوژني او کوم کس چې تصوير جوړ کړي يا چې کوم عالم د علم نه فائده وانخلي يعني د			
وعالم	لم	ينتفع	بِعِلْمِهِ[1]
خپل علم مطابق عمل ونه کړي دې باندې به هم سخت عذاب وي.			

توضيح: دې حديث د پنځه قسمه خلکو بيان دی. چې قيامت کې به ورته د ټولو نه سخت عذاب ورکول کيږي. ۱: چاچې نبي شهيد کړو ۲: څوک چې ميدانِ جهاد کې نبي اوژلو، نه دا چې په قصاص ۳: کوم بدبخته چې مور او پلار کې کوم يو کس اوژلو ۴: د زنده سرو تصوير ويستونکی ۵۵: هغه عالم چې د علم حق ادا نه کړي، نه د دې دعوت وکړي او نه په دې باندې عمل وکړي. (مرقات ۲۸۳/۸)

د شطرنج غندنه

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: الشطرنج هُوَ ميسر الْأَعَاجِمِ[2]
او د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې به فرمايل شطرنج د عجمو خلکو يعني د غير مسلمو جواري ده.

توضيح ميسر الاعاجم: يعنې عجم او د فارس د خلکو د مجوسيانو جواري ده. لهذا د دې مجوسيانو مشابهت اختيارول جائز نه دی، ځکه د هغوی خاصه لوبه نرد، چوسر او د شطرنج کول جائز نه دي.

د احنافو په نزد دا شيان مکروه تحريمې دي. امام شافعي رحمه الله فرمايي چې د تشحيذ اذهان لپاره شطرنج کول جائز دي. د هغې نه هم يو قول منقول دی چې شطرنج مکروه دی. مخکې حديث نمبر ۱۲ کې تفصيل شوی دی.

خطاکار سړی شطرنج لوبوي

﴿۲۳﴾ وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ أَبَا مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ قَالَ: لَا يَلْعَبُ
او د حضرت ابن شهاب نه روايت دی چې حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمايل چې شطرنج
بالشطرنج إِلَّا خاطئ[3]
صرف هغه کس کوي چې خطا کار وي.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۰۹ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۱۹۷/۶ رقم الحديث ۷۸۸۸

[2] رقم الحديث ۴۵۱۰ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۲۴۱/۵ رقم الحديث ۶۵۱۸

[3] رقم الحديث ۴۵۱۱ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۲۴۱/۵ رقم الحديث ۶۵۱۹

شطرنج يوَه باطله لوبه ده

﴿۲۴﴾وَعنهُ أَن سُئِلَ عَنْ لَعِبِ الشَّطْرَنْجِ فَقَالَ: هِيَ مِنَ الْبَاطِلِ

او د حضرت ابن شهاب نه روايت دی چې د هغې نه د شطرنج باره کې وپوښتلی شو، نو هغې وويل چې دالوبه يو باطل

وَلَا يُحِبُّ اللهُ الْبَاطِلَ. رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ [1]

څيز دی او الله باطل نه خوښوي. پاس ذکر شوي څلور روايتونه بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړي دي.

توضيح: هدايه کې ليکلی شوي دي چې د حديثونو د وعيد له نظره شطرنج او نردشير کول مکروه تحريمي دي. جامع صغير کې يو روايت ذکر دی چې شطرنج کولو والا ملعون دی.

"**نساب الاحساب**" کتاب کې اما غزالی رحمه الله ليکلي دي چې د امام شافعي رحمه الله په نزد شطرنج کول مکروه دی. کېدی شي چې د امام شافعي رحمه الله نه دوه اقوال منقول وي. يو کې مباح او بل کې شطرنج مکروه دی. درمختار کې ليکل شوي دي چې دا قِسمه ټولي لوبي مکروه دي.

په سپي او پيشو کې فرق

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي دَارَ قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ځينو انصارو کور ته تللو. حال دا چې د هغې کور سره

وَدُونَهُمْ دَارٌ فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ

دنورو خلکو کورونه هم وُو، خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به هلته نه تللو. د هغه خلکو دا خبره خوښه نه شوه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ په کاونډ کې

فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

دنورو خلکو کور ته ځي او زمونږ کورونو ته نه راځي، نو هغه خلکو عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

تَأْتِي دَارَ فُلَانٍ وَلَا تَأْتِي دَارَنَا.

تاسو د فلاني کور ته ځي خو مونږ کره نه راځي. زمونږ څه قصور دی چې زمونږ کور د ستاسو د راتللو د سعادت نه محروم ه دی.

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِأَنَّ فِي دَارِكُمْ كَلْبًا.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ستاسو کور ته ځکه نه درځم چې تاسو کورونو کې سپي ساتلی شوي دي.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۱۲ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۲۴۱/۵ رقم الحديث ۶۵۱۸

قَالُوا: إِنَّ فِي دَارِهِمْ سِتْوَرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: السِّتْوَرُ سَبُعٌ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ[1]

هغوی عرض وکړو چې هغوی په کورونو کې پیشوګان ساتلي دي. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل پیشو درنده دی.

توضیح: نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د انصارو ځینو کورونو ته تللو. لاره کې څه کورونه د انصارو حضراتو هم وُو. د هغې نه مخکې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تګ په هغوی ګرانه شوه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولې مونږ کره نه راځي. چې مونږ ته دا لویې اعزاز حاصل شي. چا څه ښه ویلي دي.

ګلا ګوشۂ دهقان به آفتاب رسید چوں سایه بر سرش انداخت چوں تُو سلطانے

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته معذرت وکړو چې تاسو په محله کې سپی ساتلی دی نو ځکه ستاسو محلې ته نۀ راځم. هغه حضراتو وویل چې ته چرته ځي نو هغه خلکو خو په کورونو او محله کې پیشو دی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب کې وفرمایل چې پشو درنده دی. دا د سپی پشان نه دی. سپی شیطان دی او د شیطان د فرښتو سره دښمني ده. پیشو شیطان نه دی نو دا په سپو باندې نه شي قیاس کېدلی.



[1] رقم الحديث ۴۵۱۳ اخرجه الدارقطني في السنن ۱/۶۳ رقم الحديث ۵ من كتاب الطهارة .

کتاب الطب والرقی
د طب او د دَمولو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿کلوا واشربوا ولا تسرفو﴾(سورة الاعراف: ۳۱)

وقال الله تعالیٰ: ﴿رب اعوذبك من همزات الشیاطین واعوذبك رب ان یحضرون﴾(المؤمنون: ۹۸،۹۷)

الطب: طا باندې کسره ده. علامه سیوطی رحمه الله فرمایي چې طا باندې زبرزیر او پیش درې واړه حرکات لوستل کېدی شي. "**الطب هو علاج الامراض**" یعنې د بیماری علاج ته طب وایي. شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په اشعة اللمعات کې لیکي "طب برحکات ثلاث ه علاج کردن" د همدې نه طبیب دی. چې معالج ته وایي. وطبّ طاطبیب وہر حاذِق درکار خو، ومتطبب علم طب خواننده وعمل کننده بدان که ہنہوز حادق نشده باشد وطب بکسره بمعنی سحر نیز آمده ومطبوب مسحور، یعنې طب د زبر سره طبیب ته هم وایي او خپل کار کې هر ماهر ته ته وایي. متطبب د علم طب لوستونکی نو آزموده ته طبیب وایي. او طب د جادو په معنی کې هم راځي. فلان مطبوب یعنې فلانی باندې جادو شوی دی.
علامه طیبي رحمه الله د دې مادې متعلق یو شعر لیکلی دی.

لکل داء دواء سیتطب بها الا الحماقة اعیت من یداویها

د طب دوه قسمونه دي:۱: طب جسماني ۲: طب روحانی.صحت د حفاظت او د مرض لرې کولو په غرض علاج ته طب جسماني وایي. چې تعلق یې د ظاهري بدن سره دی او باطني او روحاني مرضونه لکه کینهو حسد، حرص، لالچ، تکبر، غرور او بد اخلاق او عادتونه او د بد عملونو د لرې کولو لپاره چې کوم علاج کېږي. هغې ته طلب روحاني وایي.نبي کریم ﷺ د بعثت اصل مقصد اګر که طلب روحاني ؤو خو دا چې د نبي کریم ﷺ راوړلی شوی شریعت کامل او پوره بلکې د ژوند اکمله ضابطه ده، نو ځکه نبي کریم ﷺ د طب جسماني متعلق ډېر واضح انداز کې کافي مقدار پورې اصول او قواعد او بنیادې ضابطي د امت مخې ته اینبي دي.د دې تفصیل له نظره علماؤ لیکلي دي چې د طب د فن دوه مأخذ دي. یو مأخذ وحي الهي دی چې د وحي په ذریعه ځینې ځل نبي کریم ﷺ ته وویل شو چې د فلاني مرض علاج د فلاني څیز نه دی.د علم دویم مأخذ تجربه او مشاهده ده چې د په تجربې باندې کومه دوا د یو مرض لپاره ګټوره وي. حیات الحیوان کې لیکل شوي دي چې حضرت سلیمان علیه السلام به د کوم بوټې یا وني خوا کې لمونځ وکړو نو بیا به یې د هغې نه وپوښتل چې ستا څه نوم دی نو هغې ورته نوم وویله. بیا به ترېنه هغې وپوښتل چې د کوم مرض لپاره دوا یې. هغې به ورته وویله، نو سلیمان علیه السلام به هغه لیکله. دغه شان طب عام شو. الخ.د جمهور امت په دې اتفاق دی چې د علاج په جواز باندې ډېرو دلائلو له نظره علاج کول

مستحب او جائز دی. ځینې د اوچ قسمه صوفیان د علاج نه انکار کوي. او وایي چې د مرض راتلل پەتقدیر کې لیکلی شوي دي. څوک چې د مرض علاج کوي ګویاکې هغه د تقدیر مقابله کوي. او د تقدیر مقابله جائز نه ده. لهذا علاج جائز نه دی. (مرقات ۲۸۷/۸)

د دې حضراتو د دې مفروضو لره هیڅ اعتبار نشته دی. او د دې جواب دا دی چې العلاج والدواء من قدر الله یعنې څنګه چې مرض پەتقدیر کې لیکلی شوی دی، نو د هغې علاج او دوا هم پەتقدیر کې لیکلی شوي دي. البته که کوم کس د مضبوط توکل مالک وي او علاج کول نه غواړي نو علاج خو څه فرض نه دی. صرف مستحب امر دی. که کوي نو ودې کړي او نه یې کوي نو نه دې کړي، خو دې ته ناجائز ویل جائز نه دي. باقې پەطب نبوی او د خلکو پەطب کې دا فرق دی چې د طب نبوی نسخه د بنودلی شوي اصولو مطابق استعمال کړی شي و د هغې علاج یقیني شي او د نورو پەطب کې علاج کې یقین نه وي. همدا هغه څیز دی چې ځینې طبیبان پەشک کې اچوي چې طب نبوی کې یوه نسخه د یو مرض لپاره ویل شوي وي خو هغه د طبیبانو پە نزد د مرض بالکل برعکس وي. بلکې د مرض لپاره مضر وي. مثلاً شهدو سره دستونو سره رائي. اوس د دستونو د ختمولو لپاره د علاج پەتوګه شهد ورکول د عام فهم نه بالاتر دی، خو طب نبوی کې دا ویل شوي دي چې دا علاج دی. او ربنتیا هم دا علاج دی، ځکه دستونه د یوې فاسدې مادې پە وجه رائي. او هغه فاسده ماده د شهدو پە وجه لرې کېږي، لکه راروان حدیث ۸ کې دا قصه پە تفصیل سره راروانه ده. طب نبوی کې پەخاصه توګه دا قاعده پەنظر کې ساتل پکار ده چې کله یوه دوا د یو مرض لپاره پەخاصه توګه ویل کېږي، خو د هغې استعمال د نورو مرکباتو سره ملاؤول مقصود وي. کله کله د مفرد پە حیثیت هم کار کوي، خو پە عامه توګه د طب نبوی بنودلی شوي نسخه د نورو مرکباتو سره ملاؤول مقصود وي. البته د طب نبوی بنودلی شوی جزء د ټول معجون مرکب لپاره بنیاد او غټ جزو وي. طب نبوی کې دا خیال هم ساتل پکار دي نبي کریم ﷺ چې د کوم مرض ذکر کړی دی. مرض همغه وي مثلاً د تبې لباره نبي کریم ﷺ غسل فائده مند ګڼلی دی، نو د هرې تبې لپاره ده نه دی. بلکې د خاص حجازي تبې لپاره دی. بهرحال مسلمان حکیمانو له دې موضوع باندې پە بصیرت سره لیکل پکار دي چې طب نبوی باندې ملحدین اعتراض ونه کړی شي. د دې پر صدیو ں نه چې انګریزان څنګه د مسلمانانو نورې اسلامي شعبې بدنامې کړي دي، نو دې ظالم دښمن د طب نبوی باندې حمله وکړه او د دې مقابله کې یې خپل د انګریزي طرز علاج راویستلو. او طب نبوی یې شکمن کړو. نن مسلمان داکټرانو خپل اسلامي تشخیص هېر کړی دی. هغوی هم د کافرانو سره یو ځای شي او پەطب نبوی باندې اعتراضونه کوي. شیخ الفسیر مولانا احمد علی لاهوری رحمه الله پەملفوظات کې لیکلي دي چې د نوي عصری تعلیم پەوجه انګریزانو زمونږ تاج پټ کړو، زمونږ دین یې پټ کړو او مونږه یې پەدین باندې اعتراض کونکي پریښودلو. الخ.

دلته آخر کې دا خبره د هم د یادولو وړ ده چې علاج کولو کې ضروري دي چې خپل علاج کونکي پەعلاج باندې پوره اعتماد او یقین کول پکار دی. که پەعلاج کونکي باندې شک شو او یقین پرې نه ؤو نو علاج بەهیڅ فائده نه کوي. بالکل همدغه شان پەطب نبوی باندې هم پوره یقین او اعتماد ضروري دی. ګڼې فائده بەونه کړي. وګورئ قرآن عظیم ته الله شفا ویلي ده. شهد یې شفا ګڼلي دي. زمزم شفا ده، خو د نیت

اخلاص او پوره اعتماد دلته هم ضروري دی ګڼې هیڅ فائده به ونه کړي. یقین کونکو ته ژر فائده رسیږي. بهرحال د بدن صحت په دري شیانو باندې قائم دی. ۱: د مضر صحت شیانو نه احتراز ۲: د صحت د اصولو مطابق د صحت خیال ساتنه ۳: د فاسد ګډون نه بدن پاک ساتل.

والرقی: د د رقیة جمع ده. دمونه کولو ته وایي. او منتر جنتر ته وایي. که دمونه کول د قرآن او حدیث د نصوصو او د هغې د وظائفو نه وی نو دې کې دا تفصیل دی چې که چرې د هغه کلام معنی معلومه نه وي نو په هغې دمونه کول جائز نه دی. او که د کلام معنی معلومه وي خو هغې کې شرکیه الفاظ وي نو دا هم ناجائز دي. او که د هغه کلام معنیٰ معلومه وي او د شریعت د تعلیماتو موافق وي او هیڅ د شرک او بدعت لفظ په کې نه وي نو په هغې دمونه کول جائز دي. باقي چې کومو حدیثونو کې د دمونه کول ممانعت راغلی دی نو د هغې نه ناجائزه دمونه کول مراد ی. معتزله د دمونه کول قائل نه دی. دې سلسله کې د یوې قصې کتنه وکړئ.

ما د خپل استاذانو نه یوه قصه اورېدلي ده. چې د الله والا یو سړی وُو. چې نوم یې ابوالخیری وُو. یو ورځ یې یو مریض دمولو چې یو روښانه خیال والا معتزلي هلته راغلو. او په ابوالخیری باندې یې اعتراض وکړو چې "اذا ترفض فتلا ش" یعنې دې دَم باندې به څه فائده وشي. دا خو یو پوکی دی. چې تا وکړو نو د هوا سره ګډوډ شو او ختم شو. د دې وجود پاتې نه شو، نو اثر به څه وکړي؟ هغه د الله والا دَم ودرولو او هغه معتزلي ته ډېر سخت بد الفاظ وویل. د متعزلي سترګې سرې شوې، د غوسې نه یې رګونه وپرسیدل او حالت یې ګډوډ شو، نو ابوالخیری ورته وویل چې څه وشول؟ هغه ورته وویل چې پوښتنه هم اوس کوي چې څه وشو. دومره کنځلي دې راته وکړې چې بدن کې مې اور ولېږدلو. ابو الخیری ورته وویل چې دا خو یو پوکی دی. "اذا ترفض فتلاشی" هغې ورته وویل چې ماته سخت تکلیف راورسیدلو. هغه د الله والا ورته وویل چې زما په کلام کې. دومره تاثیر دی، نو د الله په کلام کې به څومره تاثیر وي؟

الفصل الاول .

الله تعالی د هر مرض علاج پیدا کړی دی

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَنْزَلَ اللهُ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله تعالی نه ده راکوزه کړې

دَاءً إِلا أَنْزَلَ

او نه ده پیدا کړي، هیڅ یو داسې بیماري چې د هغې لپاره یې شفا نه وي رانازله کړي یعنې الله د هر مرض سره د

لَهُ دَوَاء. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (۱)

هغې علاج هم پیدا کړی دی. چې که هغه مرض ولږي نو د دې په ذریعه یې ورته شفا ورکړی شي.

دوا فقط ظاهري سبب دی شفا الله ورکوي

﴿۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د هرې بیماری دوا شته دی.

فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللهِ. رَوَاهُ مُسلم (۲)

لهذا کله چې دوا د بیماری موافق شي نو بیماري د خدای په حکم یعني د هغې به مشیت او ارادي سره ښه شي.

توضیح برأ بأذن الله: د بیماری نه روغېدلو ته برأ وایي.

د دې حدیث نه او د دې نه مخکنې حدیث نه دا خبره په واضح توګه معلومه شوه چې کله څوک بیمار شي نو علاج کول او دوا استعمالول مستحب دي، لکه څنګه چې د مریض کېدل د الله د تقدیر تابع دي نو دغه شان دوائی او د مرض ختمېدل هره جائزه ذریعه هم د الله د تقدیر تابع وي.

د دې حدیث نه دویمه دا خبره ثابته شوه چې د دوا استعمالولو نه وروسته اثر اچونکی او شفا ورکونکی د الله ذات او د هغې حکم دی. دوا صرف یو سبب او ذریعه ده. مؤثر حقیقي نه دی. همدا هغه څیز دی چې د هر یو علاج او دم کولو لپاره د اصل په توګه او د قاعدي لحاظ ساتنه ضروري ده. د هیڅ یو دوا او دم مؤثر بالذات ګڼل صحیح نه دي. مؤثر حقیقي صرف او صرف د الله تعالی ذات دی. د هغې له اړخه دوا وغیره مستقل حکم کېږي، نو هله دوا اثر کوي. همدغه نظریه د عقائدو په کتابونو کې بیان کړی شوي ده. چې اشاعره او د ما تریدیه متکلمین وایي چې د خوراک او څښاک نه وروسته د الله تعالی مستقل حکم وي چې دا خوراک د هغه خوړونکي خیټه مړه کړي او اوبه د دې اوبه د خښونکي تنده ختمه کړي. او که یو کس اور کې اوغورځېږي نو د غورځېدلو نه وروسته د الله له اړخه حکم راځي چې دا اوسوځوه ګڼې اور به اثر نه کوي، لکه حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې اور اثر نه ؤو کړی.

ملا علي قاري رحمه الله د حمیدی په حواله یو روایت نقل کړی دی. چې خلاصه یې دا ده چې کله یو سړی بیمار شي نو الله یوه فرښته راولېږي. چې د هغې په لاس کې یوه پرده وي. فرښته د دې مرض او د دوا په مینځ کې حائل کړي. د هغې نتیجه دا راؤځي چې بیمار کومه دوا هم استعمالوي هغه مرض ته نه لږي (شفا نه حاصلیږي) کله چې د الله مشیت وي چې بیمار ښه شي نو هغه فرښتې ته حکم کوي چې د مرض او دوا له مینځه پرده اوچته کړه. د هغې نه ورسته چې بیمار دوا استعمالوي

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۱۴ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳۴/۱۰ رقم الحديث ۵۶۷۸ وابن ماجه في السنن ۱۱۳۸/۲ رقم الحديث ۳۴۳۹.

(۲) رقم الحديث اخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۲۹ رقم الحديث (۶۹-۲۲۰۴) واحمد في المسند ۳۳۵/۳.

نو الله د دې دوا په ذريعه شفا ورکړي. د دې ددواړو حديثونو نه دا خبره معلومه شوه چې الله انسان چرته پيدا کړی دی نو په همغه ځای کې يې ورته د خوراک څښاک او د دوا انتظام کړی دی. چې په جړې بوټي او مېوۍ کې پټ دي. (مرقات۸/۲۸۷)

دړې شيانو کې شفاء ده

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثٍ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايل شفا په دړې څيزونو کې ده.

فِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أَوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ

وينه ايستونکي خکر لګولو کې، يا شهد څښلو کې (هغه که خالص شهد وځښلی شي يا په اوبو وغيره

أَوْ كَيَّةٍ بِنَارٍ وَأَنَا أَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الْكَيِّ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [1]

کې ملاو کړی شي) او اور باندې داغولو سره، خو زه خپل امت د داغولو نه منع کوم. (بخاری)

توضيح: **شرطة محجم**: شرطه د فعلته په وزن نشتر وهلو ته وايي، خو دلته صرف د ويشتلو لپاره استعمال کړی شوی دی. د نشتر مفهوم دې کې نشته دی، ځکه مخکې د محجم لفظ دی. چې د نائی د وسپنې هغه آله ترېنه مراد ده چې د هغې په ذريعه نائی بدن کې زخم کوي او وينه راوباسي. د ټولې جملې ترجمه شيخ عبد الحق په فارسۍ کې داسې کړې ده. "شفا درسه جيز است يکی درخون کشيدن است".

اردو کې د دې ترجمه داسې شوې ده. وينه ايستونکي خکر کې، ملاعلي قاري عربۍ کې د دې ترجمه داسې کړې ده. "**وهو الضرب على موضع الحجامة ليخرج الدم منه**"(مرقات۸/۲۹۰)

اوكية بنار: درېم څيز چې کوم کې شفا ده. هغه په اور باندې داغول دي. يعنې د داغ کولو والا آله يې ګرمه کړه. په هغې بيمار وداغلو يا يې مالوچ او اسپند ته اور ولګولو او داغ يې ورکړو. نن سبا هم د دې ماهرين دا کار کوي. او علاج کامياب شي. (مرقات۸/۲۹۰)

سوال: د اور داغولو باندې علاج کولو نه په ځېنې حديثونو کې ممانعت راغلی دی، لکه د بحث لاندې حديث کې دي، خو د ځېنو روايتونو نه معلوميږي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله د داغ په عمل باندې د ځېنو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ علاج کړی دی. د صحابه کرامو په معمولاتو کې هم د داغ عمل مونډلی کېږي. دې روايتونو کې په ظاهره تعارض دی. د دې څه جواب دی؟

جواب: اصل حقيقت داسې دی چې د داغولو عمل د جائز علاجونو نه يو علاج دی، خو د دې نه د

([1]) رقم الحديث ۴۵۱۶ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۱۳۶ رقم الحديث ۵۶۸۰ وابن ماجه في السنن ۲/۱۱۵۵ رقم الحديث ۳۴۳۱

منع کولو څه خارجي وجوهات دي. اولنئ وجه دا ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت باندې د رحمت او د شفقت په توګه د داغولو نه امت منع کړی دی چې ترڅو پورې بل علاج ممکن وي نو داغولو عمل ارخ ته تلل نه دي پکار، ځکه اور سخت ځيز دی، خو چې بله کومه اسانه طريقه نه وي نو بيا په مجبوری کې معذورې ده. د ممانعت دويمه وجه دا ده چې د اغولو عمل عرب مؤثر بالذات ګڼې نو د دې غلطې عقيدې په وجه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داغول منع کړل. مطلق ممانعت نه دی.

درېمه وجه دا ده چې زياته مبالغه او کښې فاحش نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړی دی. د حاجت په قدر اجازت اول هم ؤو او اوس هم دی. لهذا حديثونو کې هيڅ تعارض نشته دی. (مرقات ۲۹۰/۸)

حديثو کې د داغولو ذکر

﴿۴﴾ وَعَن جَابِرٍ قَالَ: رُمِيَ أُبَيٌّ يَوْمَ الْأَحْزَابِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې غزوه احزاب کې (چې غزوه خندق هم ورته وايي) په ورځ د ابی بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَلَى أَكْحَلِهِ فَكَوَاهُ

په اندام باندې تير ولږېدلو چې وينه ترېنه راروانه شوه، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې له داغ ورکړو يعنې

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ. رَوَاهُ مُسلم [1]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زخم خولې د داغولو حکم ورکړو. يا يې په خپل لاس مبارک وداغلو چې وينه بنده شي.

توضيح: الاحزاب: غزوه خندق او غزوه احزاب د يوې غزوې دوه نومونه دي. په ځلورمه هجرئ دا غزوه شوې وه. لس زره (۱۰۰۰۰) کافرانو مدينه منوره تر يوې مياشتې پورې محاصره کړې وه. د جانبي نو له ارخ د دوه په دوه جنګ نوبت د خندق په وجه نه ؤو راغلی. البته تير ويتشنه به کېدله. دې ډېر صحابه کرم زخميان شوي ؤو. حضرت ابی بن کعب په اکحل يعنې د څنګل په رګ لږېدلی ؤو. او حضرت سعد بن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم په تير لږېدلی ؤو. وينه نه بندېدله، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دواړو له داغ ورکړو. که دا د څټ سره وي نو د هغه نوم راخيژي. چې څنګل ته دا رګ راشي نو د دې نوم اکحل شي. او دا رګ چې کله ورون او پوندئ ته راشي نو د دې نوم النساء شي چې د عرق النساء په نوم مشهور دی. (مرقات ۲۹۱/۸)

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: رُمِيَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فِي أَكْحَلِهِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د حضرت سعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هفت اندام رګ باندې غشی ولګيدلو (چې وينه

---

[1] رقم الحديث ۴۵۱۷ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۳۰/۴ رقم الحديث (۷۴-۲۲۰۷) وأحمد في المسند ۳۰۳/۳

فحمسه النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ بِمِشْقَصٍ
ترېنه جاري شوه، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل لاس مبارک باندې د غشي په څوکه په ذريعه
ثُمَّ ورمت فحمسه الثَّانِيَةَ. رَوَاهُ مُسلم [1]
(زخم له) داغ ورکړو. بيا چې د هغې په لاس زخم راغلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيا وداغلو. (مسلم)
﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُبَيِّ بن كَعْب طَبِيبا
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابی ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يو طبيب ولېږلو.
فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا ثُمَّ كَوَاهُ عَلَيْهِ. رَوَاهُ مُسلم [2]
طبيب د هغې يو رګ غوڅ کړو او هغه (زخم) باندې يې داغ ورکړو.

د کلونجي خاصيت

﴿۷﴾ وَعَن أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اورېدلي دي چې
فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا السَّامَ . قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: السَّامُ: الْمَوْتُ
توره دانه د سام نه بغير د هرې بيمارۍ لپاره شفا ده. ابن شهاب بيان وکړو چې د سام نه مرګ مراد دی.
وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ: الشُّونِيزُ (مُتَّفق عَلَيْهِ) [3]
او د تورې دانې نه کلونجي مراد ده.

توضيح: الحبة السوداء: د تورې دانې نه کلونجي مراد ده. دا د يو بوټي تخم دی. د دې وزن او رنګ روغن او خوند بالکل د پيازو د تخم پشان دی. شک پرې کېږي چې همدغه کلونجي ده خو دا کلونجي نه ده. بلکې کلونجي د پنجاب په علاقو کې پيدا کېږي. دا باقاعده ريبل کېږي. د دې بوټی وړوکی شان وي. (مرقات ۲۹۲/۸) السام: مرګ ته وايي. (مرقات ۲۹۲/۸)

الشونيز: دا د کلونجي د بوټي اصل نوم دی. د علامه طيبي رحمه الله خيال دی چې د کلونجي صرف د هغه مرضونو علاج دی چې د رطوبت او د بلغم د مرضونو نه پيدا کېږي، ځکه د کلونجي

---

(1) رقم الحديث ۴۵۱۸ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۳۱/۴ رقم الحديث (۷۵-۲۲۰۷) والترمذي في السنن ۱۲۲/۴ رقم الحديث ۱۵۸۲.

(2) رقم الحديث ۴۵۱۹ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۳۰ رقم الحديث (۷۳-۲۲۰۷) وأبوداود في السنن ۱۰۷/۴ رقم الحديث ۳۸۶۴.

(3) رقم الحديث ۵۶۸۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۴۳/۱۰ رقم الحديث (۵۶۸۸) ومسلم في ۱۷۳۵/۴ رقم الحديث (۸۸-۲۲۱۵)

مزاج اوچ او ګرم دی، نو طبائع مرطوبه بلغميه لپاره مفيد دی. عام نه دی، خو د علامه طيبي رحمه الله نه بغير نو ټول شارحين دا په عموم باندې حمل کوي او وايي چې رښتيا کلونجي د مرګ نه بغير د هرې بيماری لپاره شفا ده، خو هغه تو ګه شفا ده چې نورې دوايانې د دې سره ملاو شي او د کلونجي جزء هغې مهم او ډېروي. علامه کرمانی فرمايي چې دا حديث په عموم کې دی، نو ځکه عامه معنی اختيار زياته بهتره ده. کلونجي باندې خلکو مستقل کتابونه ليکلي دي. د بيشماره مريضتياګانو لپاره د دې خاص خاص نسخې تجويز کړی شوي دی. (مرقات ۲۹۲/۸)

شهدو کې شفاء ده

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې يو کس حاضر شو او

فَقَالَ: أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

وې ويل چې زما د ورو خيټه سوځي يعنې باندې دستونه دي. نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې هغه

اسقيه عسلاً فَسَقَاهُ ثُمَّ جَاءَ

باندې شهد وڅښه. هغه کس (لاړو او) په خپل ورور يې شهد وڅښل (لږ ساعت وروسته) بيا راغلو

فَقَالَ: سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ

او وې ويل چې ما پرې شهد وڅښل خو شهدو د دې نه بغير نور هيڅ کار ونه کړو چې د هغې په خيټه کې بهيدل او زياتوالی وکړو.

إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ لَهُ

يعنې شهد د څښلو نه وروسته پرې دستونه نور هم زيات شول. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ته

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. ثُمَّ جَاءَ الرَّابِعَةَ

دريځل دا حکم وکړو تر دې چې هغه په ځلورم ځل راغلو او وې ويل چې د هغې دستونه زيات شوي دي،

فَقَالَ: اسْقِهِ عَسَلًا فَقَالَ:

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته بيا وفرمايل چې هغه باندې شهد وڅښه. هغې عرض وکړو چې ما

لَقَدْ سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا

پرې شهد وڅښل خو شهدو د دې نه بغير بل هيڅ کار نه دی کړی. چې د هغې په خيټه بهيدل يې نور زيات کړی دی،

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَدَقَ اللهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ.

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې الله خو رښتيا ويلي دي خو ستا دورور خيټه دروغ جنده ده. آخر دا چې هغه کس

فَسَقَاهُ فَبَرَأَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
بیا خپل ورور باندې شهد وځښل (خالص یا یې او اوبو کې ملاو کړل او پرې وې ځښل) نو هغه شه شو.

توضیح: غسلاً: خلکو او د عامو طبیبانو خیال ؤو. چې شهد خپله مسهل دي. دستونو والا مریض لپاره ښه نه دي، خو نبي کریم ﷺ شهدو باندې زور کولو. او د طبیبانو ظاهري مشاهده یې رد کوله. چې علاج پرې وشو نو بیا طب او طبیبانو ؤمنله چې د خیټې د دستونو اصل علت کولمو کې یوه فاسده ماده وي. چې ترڅو پورې هغه نه وي ختمه شوي، بیماري نه ختمېږي. شهد سره دستونو پسې دستونه کېدلو سره آخر کې هغه فاسده ماده ختمه شي نو هلته علاج پوره شي. دا حقیقت به طبیبانو نۀ پېژندلو. حال دا چې دا علاج بالمثل دی. او د طبیبانو په نزد دا یو پوره حقیقت دی. د کتاب الطب په ابتداء کې دې باندې کلام شوی دی. (مرقات۸/۲۹۳)

کلونجي او شهدو په برکت باندې یقین کولو سره شفا هم حاصلېږي. صحابه کرامو د مختلفو مرضونو لپاره کلونجي استعمال کړې ده. بلکې ظاهري بدن باندې د شهدو مینلو سره به یې علاج کولو. زخم باندې د شهدو پټۀ عجیب الاثر دی، خو په دې شرط چې شهد خالص وي. خالص شهد دا وخت په کراچۍ په اته سوه (۸۰۰) روپئ یوه کلو ده. (مرقات۸/۲۹۳)

د قسط فائدي

﴿۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ
او حضرت انس رضی اللہ عنہ فرمایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل کوم څیزونه چې تاسو د دوا په
بِهِ الْحِجَامَةَ وَالْقُسْطَ الْبَحْرِيَّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
توګه اختیارولئ هغې کې بهترین څیز خکر لګول او د بحری قسط استعمالول دي. (بخاری ومسلم)

توضیح: القسط: دا د یو جړې نوم دی. چې "کُوټ" هم ورته وایي. کېدی شي چې کوټ عربی قسط وي. دا د یو دوا نوم دی. چې په لرې لرې ځنګلونو کې وي. وړوکی شان بوټی دی. د هغې جړه ده. د کشمیر په علاقو کې زیاته وي. خاص کر کیل او د ذواریه په ځنګلونو کې ډېر دي. د انګریزانو په زمانه کې د دې په راویستلو باندې سخته پابندي وه. د ۳۰۲ کیس به پرې ؤو. د طبیبانو په نزد د قسط بیشماره فایدي دي. د دې دوه قِسمونه دي. یو قسط بحری دی. چې سپین رنګ کې وي. دویم قسط هندی دی چې رنګ یې تور سور رنګی وي. قسط بحری زیات مفید دی. د بحث لاندې حدیث کې قسط بحری په بهترین دواګانو کې شمارل شوی دی. (مرقات۸/۲۹۵)

---

(1) رقم الحديث ۴۵۲۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳۹/۱۰ رقم الحديث ۵۶۸۴ ومسلم في ۱۷۳۶/۴ رقم الحديث (۹۱-۲۲۱۷)

(2) رقم الحديث ۵۶۹۶ ومسلم في ۱۲۰۴/۳ رقم الحديث (۶۳-۱۵۷۷)

"کوټ" سره د ماشومانو د مخصوصي ناروغئ "عذره" علاج

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل تاسو د خپلو ماشومانو بيماري په لاس

بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ عَلَيْكُمْ بِالْقُسْطِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

يا په توتي سره زور کولو باندې د عذره نه هغوی ته سزا مه ورکوئ، تاسو لره د قسط استعمال پکار دی.

توضيح الغمز: لاس باندې زور ورکولو ته غمز وايي. (مرقات ۸/۲۹۶)

العذرة: عين باندې پيش دی. ذال ساکن دی. را باندې زبر دی. د شودو ماشومانو په تالو او مړئ کې يوه بيماري وي. عذره د هغې نوم دی. د هغې سبب د وينې هيجان وي. د ماشومانو مورګانې د ماشومانو په تالو کې ګوته اومنډي او تالو له زور ورکوي. چې د پورې په لاره ترېنه توره وينه راؤوځي. دې عمل باندې سره ماشومانو ته ډېر تکليف وي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې علاج په ځای اسان علاج وښودلو چې قسط حل کړئ او د هغې اوبه حاصلي کړئ او د ماشوم په پوزه کې يې وڅڅوئ. دا اوبه د جمع شوي وينې ځای ته ورسيږي، نو اوچې شي. ماشوم ته شفا حاصله شي.
دلته هم طبيبان حيران شو چې قسط خو سخت ګرم دی. او دا بيماري هم د ګرمئ نه پيدا کيږي. د دې لپاره يې قسط څنګه تجويز کړو. د دې جواب دا ورکړی شوی دی چې دا وينه او د دې هيجان اصل کې د بلغم په وجه کيږي. ګويا کې د دې بيماری اصل فاسده ماده بلغم دی. او قسط سره بلغم ختميږي. لهذا دا د دې بهترين او اسان علاج دی. (مرقات ۸/۲۹۶)

"کوټ" باندې د ذات الجنب علاج

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: عَلَى مَا تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ

او حضرت ام قيس فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو د خپلو ماشومانو علاج ولې

بِهَذَا الْعِلَاقِ؟ عَلَيْكُنَّ

داسې په زرو ورکولو باندې کوئ. بلکې تاسو له د دې علاج په عود هندي يعنې د کوټ ذريعه

بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ

کول پکار دی، ځکه عود هندی کې د اؤوه (۷) مرضونو شفا ده. چې هغې کې يو ذات الجنب دی.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۲۳ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۱۵۰ رقم الحديث ۵۶۹۶ ومسلم في ۳/۱۲۰۴ رقم الحديث (۶۳-۱۵۷۷)

يُسْعَطُ	مِنَ	الْعُذْرَةِ	وَيُلَدُّ
عذره په صورت کې لوګی وکړی شي او ذات الجنب په صورت دې لدود کړی شي (يعنې د			
مِنْ	ذَاتِ	الْجنب	(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
ذات الجنب بيماري لري کولو لپاره عود هندی په اوبو کې حل کولو باندې د زخم اړخ ته خوله کې وڅڅوئ).			

توضيح تدغرن: د تفعلن په وزن باندې دی. دا د دغر نه دی. منډلو يا د زور ورکولو په معنی کې دی، لکه څنګه چې د غمز لفظ مخکې تېر شوی دی. (مرقات۸/۲۹۶)

العلاق: دې عين باندې دري واړه حرکات رائي. د زبيښلو په معنی کې دی. دا هم د دغر په معنٰی کې دی. زور ورکول يا د زبيښل مراد دی. يعنې تاسو ښځې ولي او په کومه وجه د خبلو ماشومانو په تالو کې ګوته ور دننه کړئ او زور ورکوئ او دوی په سخت تکليف کې اخته کوئ. تاسو عود هندی ولي نه استعمالوي چې د دې بيماری نه بغير په کې د نورو بيماريانو علاج هم په کې دی. عود هندی د همدغه قسط او د کوټ نوم دی. (مرقات۸/۲۹۷)

ذات الجنب: دا بيماري په دوه قسمه ده. يو دا چې سينه کې دننه د عضلاتو په وجه ورم راشي. دا خطرې صورت دی. او مهلک مرض دی. دويم قسم دا چې په اړخ کې باد جمع شي او درد پيدا شي. عود هندی او قسط هندی د دې دويم قسم ذات الجنب لپاره مفيد دی، ځکه عود هندی د رياحی مرضونو لپاره دوا ده. د ذات الجنب د علاج لپاره عود هندی په اوبو کې حل کولو سره په دورمه باندې په خوله کې وڅڅولی شي. (مرقات۸/۲۹۷)

سبعة اشفية: يعنې د اؤوه مرضونو علاج په قسط کې موجود دی. د دوؤ (۲) ذکر نبي کريم ﷺ وکړو. د پاتې پنځو نوم يې نه دی اخستی. کېدی شي چې په خلکو کې هغه مرضونه مشهور ؤو. او دا ياد وساتئ چې د قسط دوا صرف د هغه اؤوه مرضونو په علاج کې منحصر نه دی. نبي کريم ﷺ تذکره د اووؤ (۷) کړې ده. د نورو يې نفي کړې ده، ځکه قسط په څلورمه ورځ باندې د تبې لپاره مفيد دی. د مازغو د قوت لپاره مفيده ده. اعضائې رئيسه لپاره مفيد دی. فالج، لقوه، رعشه لپاره مفيد دی. د خيتې چنجو لپاره مفيد دی. د نارينه قوت لپاره مفيد دی. د رياحی مرضونو لپاره مفيد دی. وبائی امراض لپاره مفيد دی. د مخ چاودلو لپاره مفيد دی. (مرقات۸/۲۹۷، مظاهرحق جديد)

---

[1] رقم الحديث ۴۵۲۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۱۶۶ رقم الحديث ۵۷۱۳ ومسلم في ۴/۱۷۳۴ رقم الحديث (۸۶-۲۲۱۴)

په اوبو باندې د تبې علاج

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او حضرت ابن خدیج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې

قَالَ: اَلْحُمّٰى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوهَا بِالْمَاءِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [۱]

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل تبه د جهنم د ګرم والي نه ده. لهذا تاسو دا په اوبه یخوئ.

توضیح: من فیح جهنم: یعني تبه د دوزخ د اورد ګرموالي نمونه ده. دې کلام کې تشبیه بیانول مقصود دې چې د تبې حرارت او ګرموالی د دوزخ د حرارت او د ګرموالي پشان دی. د دې حرارت د ماتولو لپاره بهترین علاج اوبه دي، ځکه د اوبو په طبیعت کې برودت دی. دا برودت دغه حرارت ماتوي. دا خبره یاد وساتئ چې د تبي ډېر قسمونه دي. د ځینې تبې لپاره اوبه فائده مند ثابت شي. ما یو ځل سخته تبه کې غسل وکړو. اوس لا د غسل نه فارغ شوی نه ؤوم چې تبه ختمه شوه، خو د ځینې تبې لپاره اوبه او غسل ډېر زیات نقصاني وي. لهذا دې ارشاد نبوی لپاره ضروري دي چې سړی اول هغه تبه معلومه کړي چې د کومې لپاره غسل فائده مند وي. حجاز مقدس کې به حجازي تبه وه. د هغې لپاره اوبه مفید وي. هسې په عامو تبو کې د یخو اوبه پټئ او بدن باندې واوره منبل مفید وي.

بدنظرئ لپاره د دم په ذریعه سره د علاج اجازت

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالْحُمَّةِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دم په ذریعه د بدنظرئ، چیچلی شوي و

وَالنَّمْلَةِ. رَوَاهُ مُسلم [۲]

میږانو علاج کولو اجازت کړی دی.

توضیح: رخص: د اجازت ورکولو په معنی کې دی. او د دم کولو ممانعت ؤو چې چرته د جاهلیت الفاظ دې کې رانشي. چې دا خطره پاتې نه شوه نو اجازت ملاو شو. رخص د ممانعت نه وروسته اجازت ته وایي.

فی الرقیة: یعني د دم کولو اجازت یې وکړو. (مرقات ۳۰۱/۸)

العین: بدنظرئ ته وایي. د ځینو خلکو سترګو کې په قدرتي توګه د بدنظرئ داسې جراثیم وي. چې د نظر لږبدلو سره په نظر لږبدونکي باندې پرېوځي، نو هغه متاثره شي. د ځینو جراثیم ډېر تیز او سخت وي، نو د هغې بد نظرې زیات مضر وي. عربو کې د بنو اسد خلک دې ډېر مشهور ؤو. هغوی کې

---

[۱] رقم الحديث ۴۵۲۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۰/۶ رقم الحديث ۳۲۶۳ ومسلم في ۱۷۳۲/۴ رقم الحديث (۸۱-۲۲۱۰)

[۲] رقم الحديث ۴۵۲۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۲۵/۴ رقم الحديث (۵۸-۲۱۹۶) والترمذي في ۳۲۴/۴ رقم الحديث ۲۰۵۶

ځپنې داسې ؤو چې کور کې به يې ښځې ته وويل چې په نغري باندې پتليه کړده او اوس غوښه راوړم. دې ويلو سره به بهر اوؤتلو او په کوم ځناور به يې نظر ولږولو نو هغه ځناور به مړ شو، نو خلکو به د هغې غوښه تقسيم کړه. هره علاقه کې داسې خلک وي. زمونږ ځای کې هم يو داسې کس ؤو. هغې يو ښايسته ګول کانۍ وليدلو او وي ويل چې دا څومره ښايسته کانۍ دی. کانۍ په جومات کې ايښودلی شوی ؤو. د عامو خلکو مخکې هغه کانۍ ژر مات شو او دوه ټوټې شو. (مرقات ۳۰۲/۸)

الحمة: اصل کې زهرو ته وايي. بيا د دې اطلاق د لړم په ټک وهلی شوي باندې وشو ځکه هغې کې هم زهر وي. (مرقات ۳۰۲/۸)

النملة: اصل کې ميږي ته وايي. دلته د بدن په غاړو باندې وړو دانو لپاره ويل شوی دی، ځکه دا دانې هم د ميږانو پشان بدن باندې ښوربږي. کله د پولئ او دانو په شکل کې راځي. راتلونکي حديث نمبر ۴۷ کې د دې تفصيل موجود دی. (مرقات ۳۰۲/۸)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَرْقِيَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم وکړو چې مونږ د بد نظرئ د اثر

مِنَ الْعَيْنِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

لرې کولو لپاره دم وکړئ.

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِهَا جَارِيَةً

او د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې يو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې په کور کې يوه جينئ وليدله

فِي وَجْهِهَا سَفْعَةٌ يَعْنِي صُفْرَةً فَقَالَ

چې په مخ يې زيړي زوانکي وي، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دې باندې دم اوايه. يعنې

:اسْتَرْقُوا لَهَا فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

اس د دې دم وکړه، ځکه دا نظره شوي ده.

توضيح: سفعة: د مخ زيړوالي ته سفعة وايي. سی باندې زبر دی او "فا" ساکن دی. عين باندې زبر دی. سين باندې پيش هم ويل شوی دی. د دې ترجمه د علامة الشيطان نه هم شوي ده. او صربة وحدة يعنې د شيطان د څپړي وهلو نه هم شوي ده. راوي په زيړ زنګ سره ترجمه کړې ده. شيخ عبدالحق د مخ د تورواليو سره هم ترجمه کړې ده. مراد تربنه د شيطان بد نظرې ده. او د پيريانو

([1]) رقم الحديث ۴۵۲۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۹/۱۰ رقم الحديث ۵۷۳۸ ومسلم في ۱۷۲۵/۴ رقم الحديث (۵۹-۲۱۹۵)

([2]) رقم الحديث ۴۵۲۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۹/۱۰ رقم الحديث ۵۷۳۹ ومسلم في ۱۷۲۵/۴ رقم الحديث (۵۹-۲۱۹۷)

بدنظري د انسانانو د بد نظري نه بدتره وي. د لغت کتابونو کې د سفعة اطلاق د مخ په تورو دانو باندې کېږي. مشهوره همدغه ده. (مرقات ۳۰۳/۸)

هغه دم کول جائز دي چې په هغې کې خلاف شرع الفاظ نه وي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقَى

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دم ويل او دم کولو نه منع کړې ده، نو

فَجَاءَ آلُ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ فَقَالُوا:

عمرو ابن حزم خاندان خلک چې د عامو دمونو په ذريعه به يې دم کولو حاضر شول او عرض يې وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَنَا رُقْيَةٌ نَرْقِي بِهَا مِنَ الْعَقْرَبِ

چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! مونږ سره يو دم دی چې مونږ ورته د لړم په چيچلو باندې وايو.

وَأَنْتَ نَهَيْتَ عَنِ الرُّقَى فَعَرَضُوهَا عَلَيْهِ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه دمونو نه منع کړل. د هغې نه وروسته هغوی دم وويله او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې واورولو

فَقَالَ: مَا أَرَى بِهَا بَأْسًا

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (منتر اورېدلو سره) وفرمايل چې دې منتر کې هيڅ باک نشته دی. تاسو کې

مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ

چې کوم يو کس خپل ورور ته فائده رسولی شي نو هغه ورته ضرور فائده ورورسوئ (هغه که د دم

أَخَاهُ فَلْيَنْفَعْهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]

کولو په ذريعه او که په بله کومه طريقه وي خو په دې شرط چې د شريعت خلاف خبره نه وي).

توضيح: ابتدائی بحثونو کې داسې حديث باندې پوره کلام شويدی چې کوم دم جائز دی او کوم دم ناجائز دی. د دم کولو لپاره يوه ضابطه ليکلی شوي ده.

د بدنظرئ علاج د شفاء په شپږو آيتونو

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ: كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ

او حضرت عوف ابن مالک اشجعی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږ به د جاهليت زمانه کې (د دم په ذريعه)

---

[1] رقم الحديث ۴۵۲۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۹/۱۰ رقم الحديث ۵۷۳۹ ومسلم في ۱۷۲۵/۴ رقم الحديث (۵۹-۲۱۹۷)

فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَرَى

دم لوستلو. بیا چې کله اسلام راغلو نو مونږ عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! تاسو د دمونو باره کې څه حکم

فِي ذَلِكَ؟ فَقَالَ: اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لَا بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لم يكن فِيهِ شرك. رَوَاهُ مُسلم (۱)

کوی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې تاسو هغه دم ماته اوایئ چې کوم کې شرک نه وي نو زه یې هیڅ باک نه کړم.

توضیح مالم یکن فیه شرك: ابتدائی بحثونو کې تفصیل لیکلی شوی دی چې کوم یو دم جائز دی او کوم یو ناجائز دی. او د دې ضابطه څه ده. دلته همغه ضابطې ته اشاره ده چې کوم دم کې شرکیه کلمات نه وي نو هغه جائز دي کنې ناجائز دي.

حکایت: شیخ عبدالحق محدث دهلوی په اشعة اللمعات کې د دحدیث د لاندې یوه قصه لیکلې ده. چې شیخ ابو القاسم قشیری رحمه الله بیان کړی دی چې یو ځل زما ماشوم ډېر زیات بیمار شو تردې چې مونږ د هغې د ژوند نه ناامیده شو. دې دوران کې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خوب کې ولیدلو. ما ورته د ماشوم د بیماری شکایت وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ته د شفا د آیتونو ولي غافل یې؟ زه چې راوینې شوم نو ما قرآن کې د شفا آیتونه ولټول چې ټول شپږ (۶) آیتونه راته ملاو شول. ما هغه په کاغذ ولیکل او اومې وینځل او اوبه مې په ماشوم وڅښلي. ماشوم ژر داسې اودرېدلو. چې ګویاکې د هغې د پښو بند کولاو شو. هغه شپږ آیتونه دا دي. چې د نیم آیت په شکل کې دي: ۱: ویشف صدور قوم مؤمنین (سورة التوبه :۱۴) ۲: وشفاء لما فی الصدور (سورة یونس :۵۷) ۳: یخرج من بطونها شراب مختلف الوانه فیه شفاء للناس (سورة نحل :۶۹) ۴: وننزل من القرآن ما هوا شفاء ورحمة للمؤمنین (سورة بنی اسرائیل:۸۲) ۵: واذا مرضت فهوا یشفین (سورة الشعراء :۸۰) ۶:قل هوا للذین آمنوا هدی و شفاء (سورة حم سجدة: ۴۴)

نظره کیدل یو حقیقت دی

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

الْعَيْنُ حَقٌّ وَلَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ

چې بد نظري حق دی (یعني نظر لږ بدل یو حقیقت دی) که تقدیر باندې مخکې کېدونکی یو څیز وی

---

(۱) رقم الحدیث ۴۵۳۰ اخرجه مسلم في صحیحه ۱۷۲۷/۴ رقم الحدیث (۶۴-۲۲۰۰) وابوداود في السنن ۲۱۴/۴ رقم الحدیث ۳۸۸۶.

سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ وَ إِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا . رَوَاهُ مُسلم (۱)

نو هغه به نظر وی او چې تاسو نه د وینځلو مطالبه وکړی شي نو تاسو یې وینځئ. (مسلم)

توضیح العین حق: یعنې بد نظرې لږبدل یو حق او یو حقیقت دی. دا هیڅ وهم او توهم نه دی. چې د کتونکي به سترګو کې یو څیز ښه ولږي نو د هغې اثر د کتل شوي څیز ته ورسیږي. او هغه متاثره شي. ګویاکې د سترګو نه د وائرس په شکل یو مسموم زهرجنه ماده وځي او د جراثیمو په شکل کې لاړ شي او د کتل شوي بدن سره پیوسته شي او اثر کوي، لکه څنګه چې د ځینو مارانو په سترګو کې الله دا تاثیر ایښی دی چې هغه په نظر باندې د لیدل شوي اړخ ته زهر انتقال کړي، لکه څنګه چې به تېر شوي بابونو کې د ځینو مارانو باره کې حدیثونو کې ذکر شوی دی. دلته که د وائرس او جراثیم مخې ته کوم شي موجود شي نو د هغې اثر لیدلی شوي ته رسي. مثلاً که د لیدلی شوي څیز سره د نظر تعویذ وي یا بله کومه وظیفه وي. معتزله وایي چې بد نظرې هیڅ حقیقت نه لرې. دا صرف انساني وهم دی، ځکه په تقدیر کې څه لیکلی شوي دي همغه به کېږي. د بدنظرئ دخل په تقدیر کې نه شي کېدلی. علماء حق فرمایي چې د معترلو خیال غلط دی. او د نظر لږبدل د قرآن نه ثابت دي او حدیثونو کې د ډېر وضاحت دی، نور د بدنظرئ او تقدیر په مینځ کې هیڅ تضاد نشته دی. بلکې خپله دا بد نظرې د الله د مقدراتو نه دی. (مرقات ۳۰۵/۸)

سابق القدر: یعنې دې کائنات کې هر څه دي. هغه ټول د الله د تقدیر په دائره کې دي. هیڅ یو شی د تقدیر د ګرفت نه بهر نه دی. باالفرض که کوم داسې یو شی وی چې هغه د تقدیر دائره ماته کړي او مخکې تلی شوی نو هغه به بدنظرې وی خو د تقدیر د دائرې نه بهر هیڅ یو شی نشته دی. لهذا بدنظرې هم د تقدیر د دائرې دننه دی. (مرقات ۳۰۵/۸)

واذا استغسلتم: یعنې که یو کس داسې دی چې د هغې نظر لږېږي او خلکو کې معروف او مشهور دی او د هغې نظر په چا ولږبدلو نو د نور ډېرو علاجو نه بغیر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو علاج ښودلی دی چې د عاین نه دي مطالبه وکړی شي چې ته غسل وکړه او اوبه په تش وغیره کې محفوظ کړه او بیا یې نظره کړی شوي ته ورکړه. هغه به دې اوبو باندې غسل وکړي نو صحیح به شي. په راتلونکي حدیث نمبر ۴۸ کې د دې تفصیلي واقعه راروانه ده. (مرقات ۳۰۵/۸)

: زیر بحث حدیث مطلب همدغه دی چې کوم کس نظره شي او که هغه د نظر لږبدونکي نه دا مطالبه کړي چې ته غسل وکړه او اوبه ماته راکړه نو هغې له ژر داسې کول پکار دي او دا جهالت کول کار دی چې دې کې زما بې عزتې ده. د اسلام نه مخکې به د عرب خلکو همدغه شان کول. اسلام

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۳۱ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۱۶/۴ رقم الحديث (۴۲-۲۱۸۸) والترمذي في السنن ۳۴۷/۴ رقم الحديث ۲۰۶۲.

هم دا عمل جاري وساتلو. دې کې به تاثير وي ګڼې کم نه کم دا فائده خو به کېږي چې د نظره شوي وهم به لرې شي چې اوس به په ما نظر اثر نه کوي.

الفصل الثاني

د بوډاوالي نه بغير د هر مرض علاج شته

﴿۱۹﴾ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

حضرت اسامه ابن شريک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ځينو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

أَفنتداوى؟ قَالَ: نعم يَا عبد اللهِ تَدَاوَوْا

آيا مونږ بيماري کې دوا او علاج وکړو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې اى د الله بنده ګانو علاج وکړئ ځکه داسې هيڅ

فَإِنَّ اللهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شِفَاءً غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَم . رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد[1]

بيماري نه ده پيدا کړي چې د هغې لپاره يې شفا نه وي پيدا کړي. بغير د يوې بيماري نه چې هغه بوډه والی دی.

توضيح: **افنتداوی**: آيا مونږ دوا استعمال کړو. صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دا پوښتنه ځکه وکړو چې د هغوی دا سوچ ؤو کې چې کېدی شي چې دوائی استعمالول د الله د تقدير منافي وي يا د اعلی توکل خلاف وي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جواب کې وفرمايل چې علاج کوئ، دا د الله له ارخه ده. الله د هرې بيماری لپاره دوائی رانازله کړې ده. دا خپله د تقدير يوه برخه ده، خو بوډه والی يو داسې مرض دی چې هيڅ علاج يې نشته دی.

په مريض باندې په زوره خوراک مه کوئ

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ

او حضرت عقبه ابن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل خپلو مريضانو باندې

عَلَى الطَّعَامِ فَإِنَّ اللهَ يُطْعِمُهُمْ وَيَسْقِيهِمْ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[2]

په زوره خوراک مه کوئ ځکه هغوی باندې د الله خوړې او څښې. (ترمذی، ابن ماجه)

توضيح: د انسانې ژوند د بقاء لپاره صرف خوراک نه دی، نو په ظاهري اسبابو کې يو سبب دی. الله چې کله وغواړي نو د هيڅ يو غيبې ذريعې باندې انسان ژوندی کولی شي. مثلاً مريض دی. هغه که ظاهري خوراک نه شي کولی نو هغه مه مجبوره کوئ. الله د هغې د غيبې خوراک انتظام کړی

---

(1) رقم الحديث ۴۵۳۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹۲/۴ رقم الحديث ۳۸۵۵ والترمذي في السنن ۳۳۵/۴ رقم الحديث ۲۰۳۸،

(2) رقم الحديث ۴۵۳۳ أخرجه الترمذي في السنن ۳۳۶/۴ رقم الحديث ۲۰۴۰ وابن ماجه في ۱۱۴۰/۲ رقم الحديث ۳۴۴۴.

دي. هغه داسې چې د مريض د بدن رطوبت ښواره شي او د مريض د خوراک کار کوي نو الله هغې باندې د غيبو نه خورې او څښي. تاسو هغه مه مجبوروئ، کنې نقصان به وشي. (مرقات ۳۰۸/۸)

د سرخ باده علاج

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَوَى أَسْعَدَ بْنَ زُرَارَةَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سعد بن زراه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بدن باندې سورواليمِنَ الشَّوْكَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ [1]

(د علاج لپاره) داغ ورکړو. (روايت کړې دې ترمذي) امام ترمذي وائي دا حديث غريب دې

توضيح: الشوكة: وهي حمرة تعلو الوجه والجسد (مرقات) يعنې شوکه د هغه سورواليو نوم دی چې په مخ او بدن باندې مسلط وي. دې ته طبيبان سره مخه وايي. د بدن د يو ځای نه يې ابتداء کېږي. بيا پوره بدن کې ښوره شي. دې ته سره مخه وايي. کېدی شي پښتو کې دې ته لمبه وايي. ډېره سخته بيماري ده. (مرقات ۳۰۸/۸)

د ذات الجنب علاج

﴿۲۲﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَدَاوَى

او حضرت زيد بن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته هدايت وکړو چې مونږ دمِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ بِالْقُسْطِ الْبَحْرِيِّ وَالزَّيْتِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [2]

ذات الجنب بيماری په قسط بحری او د زيتون په تيلو علاج وکړو.

﴿۲۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْعَتُ

او حضرت زيد بن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ذات الجنب د علاج لپاره دالزَّيْتَ وَالْوَرْسَ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [3]

زيتون د تيلو او د ورس تعريف کولو. (ترمذی)

توضيح: د زيتونو تيلو ته زيت وايي.

ورس: يو قسمه وانبه دي. چې رنګ يې سور اوزيړ وي. د دې ريشي د زعفرانو پشان وي. ډېرو دوايانو کې استعمالېږي.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۳۴ أخرجه الترمذي في السنن ۳۴۱/۴ رقم الحديث ۲۰۵۰

[2] رقم الحديث ۴۵۳۵ أخرجه الترمذي في السنن ۳۵۵/۴ رقم الحديث ۲۰۷۹ واحمد في المسند ۳۶۹/۴.

[3] رقم الحديث ۴۵۳۶ أخرجه الترمذي في السنن ۳۵۵/۴ رقم الحديث ۲۰۷۸ وابن ماجه في ۱۱۴۸/۲ رقم الحديث ۳۴۶۸.

سنا بهترينه دوايي ده

﴿۲۴﴾ وَعَن أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهَا:

او د حضرت اسماء بنت عميس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې نه وپوښتل چې

بِمَ تستَمشِينَ؟ ـــ قَالَت: بِالشُّبرُمِ قَالَ:

ته د څه شي نه جلاب (مسهل) اخلي. هغې وويل چې د شبرم نه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

حارٌّ حارٌّ. قَالَتْ: ثُمَّ اسْتَمْشَيْتُ بِالسَّنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

چې شبرم خو ګرم دی. اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې بيا ما په سنا سره جلاب وکړل او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

لَوْ أَنَّ شَيْئًا كَانَ فِيهِ الشِّفَاءُ مِنَ الْمَوْتِ لَكَانَ فِي السَّنَا.

چې که په کوم شي د مرګ شفا کېدلی يعنې که د مرګ علاج په کومې دوا کې وی نو هغه به سنا وی.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث حسن غَرِيب [1]

(روايت کړې دې ترمذی او ابن ماجه) امام ترمذی رحمه الله وائی چه دا حديث حسن غريب دې

توضيح ام عميس: د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زوجه محترمه وه. د هغې د شهادت نه وروسته د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نکاح کې وه. (مرقات ۳۰۹/۸)

نستمشين: استمشاء طلب مشئ ته وايي او د **مشئ** نه مراد اسهال او دست دی. يعنې د کوم شي نه جلاب اخلي چې اسهال وشي؟ (مرقات ۳۰۹/۸)

بالشبرم: دا د يو وانبو نوم دی. د هغې بوټې دانې مراد دي. دې کې وړې وړې دانې وي. چې د مسور برابر وي. دا دانې دستونه لګوي. دا اوبو کې جوش کېږي او بيا د دې اوبه څښلی کېږي چې بيا ترېنه جلاب کېږي. (مرقات ۳۰۹/۸)

حارحار: يعنې شبرم ګرم دی. د لفظ د تاکيد په توګه مکرر راوړلی شوی دی. ځينې نسخو کې د حا نه وروسته "جار" د جيم سره دی. هغه صرف د وزن جوړولو لپاره د الفاظ مهمله نه دی، لکه کتع بتع يا پانی شانی. طبيبان وايي چې شبرم د څلورمبې درجې کې د ګرمو دوايانو نه دی. ډېر زيات دست راولي، ځکه دې کې احتياط شرط دی. (مرقات ۳۰۹/۸)

فی السنا: د قصر سره دی. ځينو د مد سره هم ويلی دی. يو بوټی دی. د دې بانو ته سنا وايي. نکريزو د پانو سره مشابه وي. د دې بنه قِسم سنا مکی دی. دا مبده کول کېږي. اوبيا يې استعمالوي. ډېر پيکه دي. په

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۳۷ أخرجه الترمذي في السنن ۳۵۶/۴ رقم الحديث ۲۰۸۱ وابن ماجه في ۱۱۴۵/۲ رقم الحديث ۳۴۶۱.

اوله درجه کې ګرم دی. معتدل دی. دې کې د هیڅ نقصان خطر نشته دی. صفرا غوڅوي. بلغم د اسهال او تنقیه لپاره ډېر زیات مفید دی. د زړه خول مضبوطوي. دې د سودائي وسوسو خاصیت په خاصه توګه موجود دی. خلاصه دا ده چې د مرګ نه بغیر د ټولو علاجونو لپاره مفید دی. (مرقات ۳۱۰/۸)

په حرام شیانو باندې علاج مه کوئ

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله بیماري هم راپېرلې ده او دوا یې هم.

وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

او د هرې بیماري لپاره یې دوا مقرره کړې ده. لهذا په دوا باندې علاج کوئ خو په حرام څیز علاج مه کوئ.

توضیح: بالحرام: د حرام څیز نه مراد د خنزیر اجزاء او شراب وغیره شیان دي. د ایږي غوشه او د شیر وغیره د ځناورو اجزاء باندې علاج کول حرام دی. ډېرو حدیثونو کې په حرام شیانو باندې علاج کول منع کړی شوي دي. ګویا کې دې کې شفا نشته دی، نو استعمال یې فضول دي. د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په یو روایت کې دي چې الله کوم شیان حرام کړي دي، نو هغې کې یې ستاسو لپاره شفا هم نه ده ایښي. یو صحابي حضرت طارق جعفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په شرابو باندې د علاج کولو اجازت وغوښتلو، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې شراب دوا نه ده بلکې درد او مرض دی. یو حدیث کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه مریضانو لپاره عدم شفا لپاره ښېرې کړي دي چې په حرامو باندې دوا کوي. وي فرمایيل **"من تداوىٰ بالحرام فلا شفاه الله"** (کذا فی اشعة اللمعات ۶۴۹/۳ والمرقات ۳۱۰/۸)

ملا علي قاري وغیره شارحینو لیکلي دي چې که یو حاذق او ماهر او دیندار او پرهزګاره طبیب یو مریض ته وایي چې ستا علاج د شرابو نه بغیر بله هیڅ یوې دوائی کې نشته دی، نو د علاج په توګه به د هغې استعمال جائز وي. دا خبره په خپل ځای صحیح ده خو د متحقق محال دی. مثلاً ټول طبیبان په دې باندې څنګه اتفاق کولی شي چې د مرض علاج د شرابو نه بغیر هیڅ څیز کې نشته دی. دغه شان د خاذق او ماهر طبیبانو وجود هم ډېر نادر دی. ګویا کې د دې قیدونو سره شرابو د استعمال جواز تعلیل بالمحال دی.

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ. رَوَاهُ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خبیثې دوا نه منع کړې ده. (روایت

---

[1] رقم الحديث ۴۵۳۸ اخرجه ابوداود في السنن ۲۰۶/۴ رقم الحديث ۳۸۷۴.

أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

کړې دي احمد ،ابو داؤد ،ترمذی ،ابن ماجه)

توضيح الخبيث: د دې نه مراد حرامه دوه ده. چې تفصيل يې پاس ليکلی شوی دی. يا د دې نه مراد هغه دوا ده چې طبيعت ترېنه نفې کوي. علماؤ او طبيبانو ليکلي دي چې طبيعت چې د کومې دوا نه کرکه کوي هغې کې عموماً علاج او شفا نه وي. هغه صورت کې به دا نهې په کراهت باندې محمول وي. (مرقات۸/۳۱۱)

په نګريزو باندې د درد علاج

﴿۲۷﴾وَعَنْ سَلْمَى خَادِمَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: مَا كَانَ أَحَدٌ

او حضرت سلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خادمه وه. وايي چې مونږ کې به کوم کس

يَشْتَكِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا فِي رَأْسِهِ إِلَّا

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د سر درد (داسې) بيماری شکايت کولو (چې تعلق به يې د وينې د زياتوالي د دباؤ سره وؤ)

قَالَ: احْتَجِمْ وَلَا وَجَعًا فِي رِجْلَيْهِ

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به وفرمايل چې خکرولګوه. او کوم کس به چې د پښو شکايت کولو (يعنې داسې

إِلَّا قَالَ: اخْتَضِبْهُمَا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

درد چې د ګرمئ او حرارت نه به وؤ) نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به وفرمايل چې په پښو باندې نکريزي ولګوه.

توضيح اختضبهما: د دې خضاب نه مراد نکريزي لګول دي. يعنې چرته چې پښو يا په سر درد وي هلته دې نکرزيژ ولږولی شي نو درد ختمږي. د بحث لاندې حديث کې د سر د درد لپاره د خکر کولو حکم دی. نارنۍ له پکار دي چې په نوکانو باندې نکريزي ونه لګوي چې د بنځو سره مشابهت ونه شي. (مرقات۸/۳۱۲)

په نګريزو باندې د زخم او د دانو علاج

﴿۲۸﴾ وعنها قَالَتْ: مَا كَانَ يَكُونَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرْحَةٌ

او حضرت سلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د بدن په کومه برخه به چې) کله زخم راغلو (هغه که په

---

[1] رقم الحديث ۴۵۳۹ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۲۳۶ رقم الحديث ۳۸۷۰ والترمذي في ۴/۳۳۹ رقم الحديث ۲۰۴۵.

[2] رقم الحديث ۴۵۲۰ أخرجه ابوداود في السنن ۴/۱۹۴ رقم الحديث ۳۸۵۸ واحمد في المسند ۶/۴۶۲.

وَلَا	نَكْبَةٌ	إِلَّا	أَمَرَنِي
توره، چاړه او يا د بل کوم يو داسې څيز د غوښې لو په صورت کې وُو) يا په کانې او ازغې باندې به			
أَنْ أَضَعَ عَلَيْهَا الْحِنَّاءَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]			
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زخمي شو نو ماته به يې حکم وکړو چې دې باندې د نکريزي کېږده. (ترمذی)			

توضيح: **قرحة**: د بدن دانو او د دانو لپاره هم ويل کېږي. او د چاړه يا چاقو په زخم باندې د دې اطلاق کېږي. دواړه معنې اخستل کېدی شي، خو د دانو معنی به زياته بهتره وي چې حديث کې عموم راشي، ځکه د زخم ذکر وروسته خپله موجود دی. (مرقات ۳۱۲/۸)

نكبة: مطبق زخم ته هم وايي، خو که د **قرحة** نه د زخم اخستلو په صورت کې فرق کول مقصود وي نو نکبة د کانې يا ازغې وغيره په زخم باندې به حمل کېږي. (مرقات ۳۱۲/۸)

د ښکر لګولو ذکر

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يحتجم			
او حضرت ابو کبشه انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل سر مبارک باندې او			
على هامته وَبَيْنَ كتفيه وَهُوَ يَقُولُ: مَنْ أَهْرَاقَ مِنْ هَذِهِ الدِّمَاءِ			
خپلو دواړو اوږو به مينځ کې به يې ځکر لګولو. چې کوم کس د دې وينو نه څه را وباسي او بيا هغه			
فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ لَا يَتَدَاوَى بِشَيْءٍ لِشَيْءٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[2]			
د کوم مرض علاج ونه کړي نو هغې ته هيڅ نقصان او ضرر نه رسيږي.			

توضيح: **على هامته**: سر او کوپړۍ ته هامه وايي. **كتفيه**: يعنې د اوږو په مينځ کې به کله ډک ځکر لګولو. او کله به يې د مونډو د مينځ نه وينه ويستله.

اهراق: زيات مقدار کې د وينې ويستلو لپاره دا لفظ استعمالېږي يعنې ځکر لګولو نه وروسته به د بل کوم علاج ضرورت نه وي. (مرقات ۳۱۲/۸)

﴿۳۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ عَلَى وَرِكِهِ			
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل وروڼ باندې ځکر ولګولو ځکه د			

---

[1] (رقم الحديث ۴۵۴۱ أخرجه الترمذي في السنن ۳۴۳/۴ رقم الحديث ۲۰۵۴ وابن ماجه في ۱۱۵۸/۲ رقم الحديث ۳۵۰۲.

[2] (رقم الحديث ۴۵۴۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹۵/۴ رقم الحديث ۳۸۵۹ وابن ماجه في ۱۱۵۲/۲ رقم الحديث ۳۴۸۴.

مِنْ وَثْءٍ كَانَ بِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پښو مبارکو باندې پولئ راغلي وي.

توضيح ورك: ورون او پيړ پتون ته وايي.

من وثأ: ملا علي قاري او علامه طيبي ليکي چې دا لفظ د واؤ زبر او د ثا د سکون او آخر کې د همزه سره دی. پښو کې د موچ راتلو يا په غوښه کې زخم کېدلو ته وايي. **وفي القاموس الوثء وجع يصيب اللحم لا يبلغ العظم او وجع في العظم بلا كسر او هو الفك**. همدې فک ته موچ راتلل وايي. لغت کې زياتر دا لفظ د همدې موچ راتلو لپاره ويل کېږي، خو حديث کې موچ د راتلو ترجمه اخستل لرې معلومېږي. باقي دوه مطلبه زيات واضح دي، ځکه د ځکر لګولو فائده دې کې ظاهرېږي. (مرقات ۳۱۳/۸)

د بنګر لګولو اهميت

﴿۳۱﴾ وَعَنِ ابنِ مَسْعُود قَالَ: حَدَّثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ:
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معراج واقعات بيانولو کې دا هم وفرمايل
أَنَّهُ لَمْ يَمُرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا أَمَرُوهُ:
چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د فرښتو د کوم جماعت نه تېر شوی دی. هغوی (د الله له اړخ نه) دا
مُرْ أُمَّتَكَ بِالْحِجَامَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث حسن غَرِيب[2]
حکم ورکړو چې ته خپل امت ته د ځکر لګولو حکم ورکړه. (روايت کړې دې ترمذی، ابن ماجه)

توضيح مر امتك: د دې حديث نه د وينه ايستلو او د ځکر لګولو اندازه کېږي. د دې اهميت وجه دا ده چې د امراض دموی د وينې د فساد نه پيدا کېږي، ځکه د وينې فساد د ټولو مرضونو جړ له ده. چې امراض دموی ورته وايي. د وينې فشار او فساد نه بلډ پريشر وي. چې شوګر ترېنه پيدا کېږي. او شوګر يو قِسم له مرګ دی. د امراض دموی د ټولو نه لويې علاج وينه ويستل دي. چې حجامه ده.

فصد: د دې نسبت بنګر کې زياته فائده ځکه ده چې د دې نه د څرمن د هرې برخې نه وينه رابنکل کېږي. د فصد نه خو صرف د يو رګ نه وينه راؤځي. (مرقات ۳۱۳/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۵۴۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹۷/۴ رقم الحديث ۳۸۶۳ والنسائي في [illegible] رقم الحديث ۲۸۴۸.

(2) رقم الحديث ۴۵۴۴ أخرجه الترمذي في السنن ۳۲۴/۴ رقم الحديث ۲۰۲۵.

امتك: د دې نه مراد ټول امت دی. چاته چې د دې علاج ضرورت شي. دا عام مفهوم دی. او د امت نه صرف عرب هم مراد کېدی شي، ځکه هغوی له په خاصه توګه مفید او ګټور دی. ځکه د هغوی ملک سخت ګرم دی. عام مفهوم زیات واضح دی. اغیارو کافرانو د مسلمانانو دا طریقه پټه کړې ده. اوس هغوی دې شیانو ته د فائده مند په ځای مضر وایي. او مسلمانان حکمرانان ورته صرف ګوري.

د چونګښې دوا د جوړولو ممانعت

﴿۳۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ: إِنَّ طَبِيبًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضِفْدَعٍ

او د حضرت عبدالرحمن ابن عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو طبیب د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه چیند خه (باټا) په دوا کې

يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ فَنَهَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [1]

شاملولو باره کې وپوښتل (چې آیا دا صحیح دي یا نا؟) نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د باټا د وژلو نه منع کړو.

توضیح: عن ضفدع: طبیب دا پوښتنه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ځکه وکړه چې د دې نه مخکې په طبیبانو کې دا رواج ؤو چې دوا کې به یې چونګښه شاملوله. د اسلام نظر په بناء طبیب دا پوښتنه وکړه نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د چونګښې د وژلو او هغه په دوا کې د شاملول نه منع کړو. جامع صغیر کې دي. چې **"نهى عن قتل الضفدع للدوا"** ملا علي قاري فرمایي **"ولم يكن النهى عن قتلها ابقاء عليها ومكرمة لها بل لانه لم ير التداوى بها لرجسها وقذارتها"** یعني نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د چونګښې و وژلو ممانعت هغې باندې د خوابنوبړئ یا د هغې د تقدس په وجه نه دی فرمایلی بلکې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې د وژلو منع ځکه کړې ده چې په چونګښه کې د هغې نجاست او د طبع د کراهت په بنیاد باندې علاج نشته دی. زما په خیال کې دا حدیث د علامات نبوت نه یوه علامت او معجزه ده، ځکه ټوله دنیا کې طبي تجربې په چونګښه باندې کېږي په کرورونو چونګښې بې مقصده وژلی کېږي نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع وکړه چې دې کې فائده کمه او نقصان زیات ؤو. نجس هم ؤو او استقذار طبع هم ؤو. (مرقات ۳۱۴/۸)

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځکر لګولو بیان

﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَجِمُ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د څټ په دواړو رګونو کې د اوږو په

---

[1] رقم الحديث ۴۵۴۵ أخرجه ابوداود في السنن ۲۰۳/۴ رقم الحديث ۲۸۷۱ والنسائي في ۲۱۰/۷ رقم الحديث ۴۳۵۵.

فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ:
مینځ کې ډک خکر لګولو. (ابوداؤد) ترمذی او ابن ماجه دا عبارت هم نقل کړی دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَكَانَ يحتجمُ سبعَ عشرَة وتسع عشرَة وَإِحْدَى وَعشْرين[1]
به په اؤولسم (۱۷)، نورلسم (۱۹) او یؤویشتم (۲۱) تاریخ باندې به یې خکر لګولو.

توضیح اخدعین: د څټ دواړو اړخونو ته چې کوم دوه رګونه دي هغې ته اخدعین وایي. (مرقات ۳۱۵/۸)

الکاهل: د اوږو په مینځ کې برخې ته کاهل وایي. بلکې د څټ د لاندې شا باندې په شپږ مهرونو باندې مشتمل ټولې برخې ته کاهل ویل کېږي. (مرقات ۳۱۵/۸)

د خکر لګولو ورځ او تاریخ

﴿۳۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْتَحِبُّ الْحِجَامَةَ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اؤولسم، نورلسم
لِسَبْعَ عَشْرَةَ وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ. رَوَاهُ فِي شرح السّنة[2]
او یؤویشتم تاریخ باندې خکر لګول خوښولو. (روایت کړې دې شرح السنة)

توضیح: دې ورځو او تاریخونو کې د ویني ویستل یا د نه ویستلو مفوض الی علم الشارع دی. دې کې هیڅ یو کس دخل نه شي کولی. البته ځینې روایتونو کې د څه ورځو د خاصیت اړخ ته اشاره کړی شوي ده، نو چې څومره اشاره ده هغه هومره اشاره باندې پوهه کېدل پکار دي. تاریخونو کې د طبیبانو خیال دی چې د سپوګمئ په حساب سره د انسان د بدن وینه هم کمېږي او زیاتېږي. د سبوګمې د پنځلسم تاریخ ته تر د یؤویشتم پورې د وینې جوش ډېر زیات وي، نو ځکه دې تاریخونو کې د وینې ویستل زیات ضروري او د اصلاح قابل دي.

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنِ احْتَجَمَ
او ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کوم کس
لِسَبْعَ عَشْرَةَ وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ كَانَ شِفَاءً لَهُ مِنْ كُلِّ دَاءٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[3]
چې به اؤولسم، نورلسم او یؤویشتم تاریخ باندې به خکر لګوي. هغې ته د بیماری نه شفا حاصلیږي.

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۴۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹۵/۴ رقم الحديث ۳۸۶۰ والترمذي في ۳۴۱/۴ رقم الحديث ۲۰۵۱.

(۲) رقم الحديث ۴۵۴۷ أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۵۰/۱۲ رقم الحديث ۳۲۲۵

(۳) رقم الحديث ۴۵۴۸ أخرجه ابوداود في السنن ۱۹۶/۴ رقم الحديث ۳۸۶۱.

﴿۳۶﴾ وَعَن كبشةَ بنت أبي بكرةَ: أَنَّ أَبَاهَا كَانَ يُنْهِي أَهْلَهُ عَنِ الْحِجَامَةِ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ

او د حضرت کبشه بنت ابی بکره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې د هغې پلار به خپل کور والو ته د سه شنبې په ورځ

وَيَزْعُمُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ

د خکر لګولو نه منع کول. او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه به يې نقل کول چې سه شنبې د ورځې وينه (د غلبې) ورځ ده

يَوْمُ الدَّمِ وَفِيهِ سَاعَةٌ

او دې ورځ کې يو داسې ساعت دی چې وينه نه بندېږي (لهذا دې ورځ کې د وينې ويستلو صورت کې دا کېدی

لَا يَرْقَأُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

شي چې همغه ساعت راشي او وينه د اودرېدلو نوم وانخلي چې هلاکت هم ترېنه واقع کېدی شي).

توضيح: د حديث کې د سه شنبې و ورځې وينې د ويستلو نه منع کړې ده. او وجه يې ويل شوې ده چې دې کې يو وخت دی چې که چرې په هغې وينه راويستلی شي نو کله به هم بنده نه شي او سړی به مړ شي. او کېدی شي چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ځوي د هابيل وينه قابيل په همدغه ورځ تويه کړې وه. لهذا دا وينې ورځ ده. د يزعم لفظ د شک لپاره استعمالېږي، نو دا حديث دا مرفوع په ځای مقوف کېدی شي.

﴿۳۷﴾ وَعَنِ الزُّهْرِيِّ مُرْسَلًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت زهری تابعی د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د ارسال په طريقه نقل کوي چې

مَنِ احْتَجَمَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ أَوْ يَوْمَ السَّبْتِ

(نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل) کوم کس چې د شنبې په ورځ يا د چهار شنبې په ورځ خکر لګوی او بيا

فَأَصَابَهُ وَضَحٌ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: وَقَدْ أُسْنِدَ وَلَا يَصِحُّ [2]

هغې ته د کوړ (برګی) بيماری اولګی نو هغه دې خپل ځان ملامته کړي. (روايت کړې دې احمد، ابوداؤد)

توضيح: دې حديث کې د شنبې او چهار شنبې په ورځ د وينې د ويستلو نه منع کړې ده.

وَضَحٌ: دا د رنا او د وضاحت نه اخستلی شوی دی چې دې ورځو کې به وينه ډېره زياته وغورځېږي چې سړی د برص په بيماری اخته شي. وضح برګي ته وايي. يعني د بدن سپينېدل. (مرقات ۳۱۴/۸)

فلايلومن: يعني هيڅ قانون او هيڅ ضابطي باندې دې الزام (تور) نه لګوي. شريعت خو هغې ته لارښود نه کړې ده. چې دې پرې عمل ونه کړو نو اوس دې خپل ځان ملامته کړي. (مرقات ۳۱۴/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۵۴۹ اخرجه ابوداود في السنن ۱۹۶/۴ رقم الحديث ۳۸۶۲.

(2) رقم الحديث ۴۵۵۰ اخرجه البغوي في شرح السنة تعليق ۱۵۱/۱۲

﴿۳۸﴾ وَعَنْهُ مُرْسَلًا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنِ احْتَجَمَ

او حضرت زهری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د طريق په ارسال فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کوم کس چې

أَوِ اكْتَوَى يَوْمَ السَّبْتِ أَوِ الْأَرْبِعَاءِ فَلَا يَلُومَنَّ

د شنبې يا د چهار شنبې په ورځ ډک خکر ولګولو يا (د خپل بدن په کوم اندام باندې) اخيږ وکړي

إِلَّا نَفْسَهُ فِي الْوَضَحِ. رَوَاهُ فِي شرح السّنة[1]

نو هغه دې د برګي مرض د اخته کېدو په صورت کې خپل ځان ملامته کړي.

۲۰ ربيع الاول ۱٤۱۸هـ

شيطان څنګه انسان په غلط منتر جنتر باندې مجبور کړي

﴿۳۹﴾ وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ رَأَى فِي عُنُقِي

او د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بنځه فرمايي چې يو ورځ عبدالله زما په څټ کې تار ځوړند وليدلو نو

خَيْطًا فَقَالَ: مَا هَذَا؟ فَقُلْتُ: خَيْطٌ رُقِيَ لِي فِيهِ قَالَتْ:

وې پوښتل چې دا څه دي؟ ما وويل چې دا تار دی. چې ماله پرې منتر ويلی شوی دی. زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې

فَأَخَذَهُ فَقَطَعَهُ ثُمَّ قَالَ:

عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دې اوربدلو سره) هغه تار د زما د څټ نه راويستلو او توکړه توکړه يې کړو او بيا يې وويل چې

أَنْتُمْ آلَ عَبْدِ اللهِ لَأَغْنِيَاءُ عَنِ الشِّرْكِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

د عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کور والو ته د شرک نه بې پروا شه. ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلي دي

إِنَّ الرُّقَى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ فَقُلْتُ: لِمَ تَقُولُ هَكَذَا؟ لَقَدْ

چې بيشکه دم کوډي او تويکي شرک دی. ما وويل چې ته دا څنګه وايي. چې ماته د منتر نه ډېره

كَانَتْ عَيْنِي تُقْذَفُ وَكُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلَى فُلَانٍ

فائده شوې ده. زما سترګه (د درد له وجې) بهر راوتلی وه او زه به فلانئ يهودئ ته تلم راتلم. هغه

الْيَهُودِيِّ فَإِذَا رَقَاهَا سَكَنَتْ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ:

يهودئ چې کله منتر باندې زما سترګه دم کړه نو د سترګې خارښ لاړو. حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې

([1]) رقم الحديث ٤٥٥١ أخرج البغوي في شرح السنة ١٥١/١٢ رقم الحديث ٣٢٣٥.

إِنَّمَا	ذَلِكِ	عَمَلُ	الشَّيْطَانِ
(داستانادانې او غفلت دی) او د هغه درد ښه کېدل د منتر په وجه نه ؤو بلکې حقیقت کې هغه د شیطان کار ؤو.			
كَانَ	يَنْخَسُهَا	بِيَدِهِ	فَإِذَا	رُقِيَ
چې ستا ستر گه یې خار ښتوله (چې تاته به پرې درد محسوسیدلو) یا چې کله یې دم وویل شو نو دا چې د شیطان کار ؤو				
كُفَّ عَنْهَا إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكِ أَنْ تَقُولِي كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:				
نو ځکه شیطان خار ښتول پرې ښودل. ستا لپاره هغه دعا بالکل کافي وه کومه به چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لوستله.				
أَذْهِبِ	الْبَاسَ	رَبَّ	النَّاسِ	وَاشْفِ	أَنْتَ	الشَّافِي
چې ترجمه دا ده (یعنې ای د خلکو پروردګاره نو بیماري لرې کړه او شفا ورکړه ځکه ته شفا ورکونکی یې.						
لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سقما. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]						
ستا د شفا نه بغیر بله شفا نشته دی. داسې شفا چې بیماري پریږدنه دي. (روایت کړې دي ابو داؤد)						

توضیح: رقى لى فيه: یعنې دا تار دی چې زما لپاره پرې منتر ویل شوی دی.

الرقى: یعنې هغه دم کوم چې د یو بت یا د شیطان یا د فرعون او هامان نوم وي یا بله کومه شرکیه کلمه وي یا چې د کوم معنی معلومه نه وي نو داسې دم کول منع دی. (مرقات ۳۱۸/۸)

والتمائم: د تمیمة جمع ده. تعویذ ته وایي. د عرب خلکو به څه هډوکي مهري وغیره کې واچول او د هغې نه به یې امبیل جوړ کړو. او بیا به یې د ماشومانو غاړه یا پښو کې تړلو. د هغوی خیال ؤو چې په دې به بدنظرئ وغیره د مصیبتونو نه بچ شي. اصل حقیقت د تمائم همدغه دی. بیا دې کې فراخې راغله او د دې اطلاق په عامو تعویذونو باندې هم کېدلو. لهذا کومو تعویذونو کې چې د الله نوم وي، ادعیه ماثوره وي، صالح وظائف وي نو د دې ممانعت نشته دی. دا فرق پیژندل ډېر ضروري دی. شرکي تعویذونه منع دي. شرعي تعویذونه جائز دي. (مرقات ۳۱۸/۸)

واذا المنية أنيبت اظفارها الفيت كل تميمة لاتنفع

التولة: تا باندې زیر دی. وا، او لام باندې زبر دی. د جادو کوډي ته وایي چې تار باندې د جادو کوډي وویل شي او ښځه په نارینه او نارینه په ښځه باندې عاشق کړي. چې پښتو کې ورته "کوډي" وایي. دې کې عموماً جادو او د شرک عمل وي. دا ټول ناجائز دي، نو ځکه نبي کریم ﷺ وفرمایل

---

[1] رقم الحديث ۴۵۵۲ أخرجه ابوداود في السنن ۲۱۲/۴ رقم الحديث ۳۸۸۳ وابن ماجه في ۱۱۶۶/۲ رقم الحديث ۳۸۱/۱

چې دا ټول شرک دی یعنې بیشکه منتر او کوډې شرک دی. (مرقات۸/۳۱۸)
حزب الله او د جماعت المسلیمن ګمراه خلک د دې حدیث تشریح صحیح نه کوي او عوامو ته وایي چې مطلق تعویذونه منع دي. حال دا چې د هغوی دا وینا غلطه ده. تعویذونه جوړول ثابت دي. البته دا کاروبار جوړول یا غلط انداز اختیارول غلط دي، نو د غلط خلکو غلط کار ته دي غلط وویل شي نه دا چې مطلق تعویذ ته غلط وویل شي.

لم تقول هكذا: یعنې ته ولې منع کوي حال دا چې مونږ ته په تجربې معلومه شوي ده چې دم کې فائده شته دی. (مرقات۸/۳۱۸)

تقذف: یعنې سترګې خوږېدلي ګویاکې هغې کې کنکی غوزار کړی ؤو. د مجهول صیغه ده. (مرقات۸/۳۱۹)

اختلف الی: یعنې د دم لپاره فلانئ یهودئ له به تلمه را تلمه. (مرقات۸/۳۱۹)

رقاها: هغې به دم کوله. **سكنت:** په ارامه به شوه.

عمل الشيطان: یعنې د شیطان یوه منظمه منصوبه ده. هغه د عقیدو او د عملونو د خرابولو لپاره دا سازش کوي چې اول یو ځای ته زور ور کړي او بیماریې کړي. کله چې بیا انسان ناجائز دم کوي یا مزارونو ته حاضرېږي او څادرې پرې غوړوي یا د غیر الله په نوم نذر و نیاز او ذبح کوي، نو شیطان د هغې نه ګوته لرې کړي، نو سړی صحیح شي او د هغې عقیده په هغه غلط دمونو او کوډو باندې پخه شي.

ينخسها: یعنې زور ور کړي. وهې را وهې یې.

كف: یعنې دا یهودې ملخد چې کله دم وکړي نو شیطان هغه ځای پرېږدي. بیمار داسې وګڼې چې دا کمال د یهودې په دم کې دی. تا له پکار دي چې د نبي کریم ﷺ د ارشاد مطابق دا وظائف ولولي. (مرقات۸/۳۱۹)

نشره د شیطان کار دی

﴿۴۹﴾ وَعَن جَابِر قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النُّشْرَةِ فَقَالَ:
او د جابر رضي الله عنه فرمایي چې د نبي کریم ﷺ نه د نشره باره کې وپوښتلی شو، نو ویې فرمایل
هُوَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
چې هغه شیطاني کار دی. (ابوداؤد)

توضيح النشرة: نو باندې پیش دی. شین ساکن دی. رابانده زبر دی. دا یو قِسم سفلی عم دی.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۵۳ اخرجه ابوداود في السنن ۲۰۱/۴ رقم الحديث ۳۸۶۸ واحمد في المسند۲۹۴/۳،

چې د مصیبت د لرېکولو لپاره کېږي.
علامه طیب لیکي چې نشره یو رقیه او منتر دی چې د هغې به ذریعه د لېونې علاج کېږي. دې ته نشره ځکه وایي چې د عربو خیال ؤو چې پیریان دا مرض د لېونو نه واخلي او اخوا دیخوا یې بنوروي. جیریر شاعر وایي ـ

ادعوك دعوة ملهوف كأن به مسّاً من الجن اوريحاً من النشر (الكاشف: ۳۲۸/۸)

حدیث کې چې د کوم نشره ذکر دی نو داسې معلومېږي چې د دې نه د جادو عمل مراد دی. او د دې نه تعویذونه او د منترجنتر عمل مراد دی، خو بیا د تعویذونو او دم نه د جاهلیت شکریه تعویذونه مراد دي او غلطدمونه به مراد وي، ځکه جائز تعویذونه جائز دي.

غاړه کې د ګنډو زوړ ندولو مذمت

﴿۴۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوربدلي دي چې

مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً أَوْ قُلْتُ

چې زه به د هر عمل نه بې پرواه شم که زه تریاق وڅښم یا غاړه کې ګنډه واچوم او یا د زړه او یا په

الشِّعْرَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

قصد او اراده شعر ولیکم. (ابوداؤد)

توضیح: **وعن عبدالله بن عمر:** دلته کاتب په غلطئ سره د مشکوة په نسخو کې عبدالله بن عمر لیکلی دی. دا عبدالله بن عمرو بن العاص دی. عبدالله بن عمرم بن خطاب نه دی. (مرقات ۳۲۱/۸)

ماابالی: یعنې زما هیڅ باک او پرواه نه وي چې زه د یو جائز او ناجائز کار ارتکاب وکړو. که زه په دې دري شیانو کې د یو شي ارتکاب وکړم.

ماابالی: اولنی ما نافیه دی. دویم موصوله دی. د حدیث مطلب دا دی چې که زه په دري شیانو کې د یو شي ارتکار وکړم نو زما به هیڅ پرواه نه وي چې زه که د جائز یا د ناجائز کار ارتکاب کوم. بیا خو به هر غیر شرعي کار ارتکاب به هم جائز شي که د دې ناجائزه شیانو ارتکاب زه وکړم. چې زه د یو ناجائزه کار ارتکاب نه کوم نو د دې دري شیانو ارتکاب به هم نه کوم، نو ناجائز خو د تریاق استعمال دی. چې کله دې کې د شراب یا د مار غوښه ملاو کړی شي نو زما لپاره او زما د ټول امت لپاره دا حرام دي. یا زه شرکیه کونجکي او ګنډي غاړه کې واچوم. دا شرکیه ګنډي زما لپاره هم او

---

[1] رقم الحديث ۴۵۵۴ اخرجه ابوداود في السنن ۲۰۱/۴ رقم الحديث ۳۸۶۹ واحمدفي المسند ۱۶۷/۲.

زما د امت لپاره هم حرام دي. او يا زه شعر اوايم دا زما لپاره حرام دی. البته زما د امت لپاره حرام نه دی، ځکه شعر خو يو کلام دی. "حسنه حسن و قبيحه قبيح" خو د نبوت د شان دا منافي دي چې زه شعرونه اوايم. شاعر شم او شعرونه چوړ کړم، خو د بل يو نيم شعر کله کله ويل دا منع نه دي.

هغه زمانه کې به تریاق کې شراب يا د مار غوښه ملاوېدله او بيا به پرې د زهرو علاج کېدلو. که دا ناجائزه شيان په تریاق کې نه وي نو فی نفسه تریاق خو د يو جائز مرکب نوم دی. چې منع نه دی. همدغه شرکيه ګندې که نه وي نو صالح تعويذونه وي نو د امت لپاره هغه هم منع نه دي او شعر خو صرف د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره منع دی. (مرقات ۳۲۱/۸)

غلط دمونه منع دي

﴿۴۲﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنِ اكْتَوَى أَوِ اسْتَرْقَى

او حضرت مغيره ابن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل کوم کس چې داغ ولګولو

فَقَدْ بَرِئَ مِنَ التَّوَكُّلِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[1]

يا يې منتر ولوستلو نو هغه د توکل نه بی شو. (احمد، ترمذی، ابن ماجه)

توضيح: اکتوی: دم، علاج او داغ وغيره چې څوک مؤثر بالذات ګڼي نو دا په اتفاق سره ناجائز دي. او که د اسباب او د ذرايعو په درجه کې مباح ګڼي نو دا د اسبابو استعمال دی. اسبابو باندې توکل او يقين ناجائز دی. د دې استعمال خو جائز دی. اوس د بحث لاندې حديث باندې داسې پوهه شئ:

چې که يو کس دم کوي او علاج کوي نو دا جائز او مباح دي، خو که يو کس د دې مباح نه هم ځان ساتې او د توکل اوچت مقام ته رسيدل غواړي نو دم او علاج څه فرض خو نه دی، ځکه د اسبابو اړخ ته زياته توجو کولو او هغې ته کامل رغبت کول د الله نه د غافله کېدو دليل دی، لکه څنګه چې په لاندې روايت کې دي. ګويا کې د دې حديث تعلق د اعلیٰ قسم متوکلينو سره دی. چې د مباح شيانو نه هم ځان ساتي. يا د دې حديث تعلق د جاهليت د زمانې هغه دم سره دی چې کوم کې شرک وي او د داغ ورکولو نه هغه داغ مراد دی چې مؤثر بالذات وګڼلی شي. ورسره لاندې حديث باندې هم دغه شان پوهه شئ. (مرقات ۳۲۳/۸)

﴿۴۳﴾ وَعَنْ عِيسَى بْنِ حَمْزَةَ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عبدِ الله بن عُكيم

او حضرت عيسی ابن حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ زه حضرت عبدالله بن عکيم ته لاړم نو (او مې ليدل چې)

وَبِهِ حُمْرَةٌ فَقُلْتُ: أَلَا تُعَلِّقُ تَمِيمَةً؟ فَقَالَ:

د هغې بدن د لمبه مرض کې اخته شوی ؤو. ما ؤول چې ته تعويذ ولې نه تړې؟ هغې وويل چې زه د

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۵۵ اخرجه الترمذي في السنن ۳۴۴/۴ رقم الحديث ۲۰۵۵ وابن ماجه في ۱۱۵۴/۲ رقم الحديث ۳۴۸۹.

نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذَلِكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا

دې کار نه د خدای پناه غواړوم. (ځکه) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم کس يو شی زوړنده وي

وُكِلَ إِلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

يا (يې تړي نو همغه شي ته حواله کيږي).

هغه مرضونه چې د هغې لپاره دم کول ډير غوره دي

﴿۴۴﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا رُقْيَةَ

او د حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل منتر يعنې

إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ. رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ[2] وَأَبُو دَاوُد وَرَوَاهُ ابْن مَاجَه عَن بُرَيْدَة[3]

د دم اثر خو بس نظر يا د زهرو والا ځناور (لکه لړ وغيره) د چيچلو لپاره وي. (احمد، ترمذی، ابوداؤد)

توضيح: **عين**: بدنظرئ ته وايي. **اوحمة**: د زهرجن ځناور زهرجن چيچلو ته حمة وايي. د دې حديث مطلب دا دی چې دم خو حقيقت کې د دې دوه بيمارو لپاره دی. اګر که د نورو مرضونو لپاره هم وي، خو د نظر او د زهرجن چيچلو لپاره دم د تير په څوکه دوا او علاج دی. ځويا کې د بل کوم يو شي لپاره دم دومره مفيد نه دی. دې سره د دم نفي مقصود نه ده، ځکه د مشکوة جلد اول ص ۲۱۷ باندې د جائز تعويذونو او دمونو واضح ثبوت شته دی. بلکې د دې دوه شيانو لپاره د دم د خصوصي فايدې ذکر دی. (مرقات ۳۲۵/۸)

﴿۴۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ دَمٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[4]

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې دم خو بس د نظر يا د زهريله چيچلو او وينې باندې اثر کوي.

توضيح: ادم: د دې نه مراد د نکسير وينه ده. د دې لپاره دم ډير مفيد دی.

﴿۴۶﴾ وَعَنْ أَسْمَاء بنت عُمَيس قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ

او د حضرت اسماء بنت عميس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې هغې عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

---

(1) رقم الحديث ۴۵۵۶ أخرجه الترمذي في السنن ۳۵۲/۴ رقم الحديث ۲۰۷۲ وأحمدي المسند۳۱۰/۴

(2) رقم الحديث ۴۵۵۷ أخرجه ابوداود في السنن ۲۱۳/۴ رقم الحديث ۳۸۸۴ والترمذي في ۳۴۵/۴ رقم الحديث ۲۰۵۷.

(3) رقم الحديث ۴۵۵۸ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۶۱/۲ رقم الحديث ۳۵۱۳

(4) رقم الحديث ۴۵۵۹ أخرجه ابوداود في السنن ۲۱۶/۴ رقم الحديث ۳۸۸۹

إِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الْعَيْنُ أَفَأَسْتَرْقِي لَهُمْ؟
د جعفر طيار اولاد (ښايسته او د ښه سيرت والا دي نو ځکه نظر ورته ژر لږي، نو د دوی لپاره دم اوايو.
قَالَ: نَعَمْ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابِقَ الْقَدَرِ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې آؤ، ځکه که کوم څيز په تقدير مخکې کېدی شوی نو هغه به نظر
لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ. رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه [1]
وی (يعني د نظر اثر يقيناً يو سخت ترين شی دی. لهذا د دې د لرې کولو لپاره دم کول جائز دي).

توضيح: العين: كله د عاين نظر منظور اليه کې کار کوي. دا د هغوی د نظر دننه يو جراثيمې ماده وي، خو كله منظور اليه کې د کشش په وجه د کتونکي نظر يې رابنکي. دلته د همدې صورت ذکر دی چې د جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اولاد دومره ښايسته او زړه رابنکونکی دی چې څوک هم دوی ته ګورې نو نظره ورته لږي. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دې د لرې کولو او د ماتولو لپاره دم استعمالوئ، ځکه د بد نظر لږېدل يو حقيقت دی. (مرقات ۳۲۶/۸)

ښځو ته ليکل خودل څنګه دي؟

﴿۴۷﴾ وَعَنِ الشِّفَاءِ بِنت عبد الله قَالَتْ: دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عِنْدَ حَفْصَةَ
او حضرت شفاء بنت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يو روځ) زه د ام المؤمنين حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره ناسته
فَقَالَ: أَلَا تُعَلِّمِينَ هَذِهِ
وُوم چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دننه راغلو او ماته يې (ليدلو سره وفرمايل چې آيا ته دې ته يعني
رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ؟. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [2]
حفصه ته د نمله دم نه زده کوي لکه څنګه چې تا دې ته ليکل زده کړي دي؟ (روايت کړې دي ابوداؤد)

توضيح: رقيم النملة: د نملة باره کې اول هم حديث نمبر ۱۳ د لاندې ليکل شو دی. نمله هغه پولو ته وايي چې د انسان پښتې باندې راخيژي او تکليف رسوي. کوم کس چې دې پولو کې اخته شي نو هغې ته داسې لږي ګويا کې د هغې په بدن باندې ميږان روان دي. کېدی شي په همدې وجه پولو ته نمله (ميږی) وايي.

([1]) رقم الحديث ۴۵۶۰ أخرجه الترمذي في السنن ۳۴۶/۴ رقم الحديث ۲۰۵۹ وابن ماجه في ۱۱۶۰/۲ رقم الحديث ۳۵۱۰.

([2]) رقم الحديث ۴۵۶۱ أخرجه ابوداود في السنن ۲۱۵/۴ رقم الحديث ۳۸۸۷ واحمد في المسند ۳۷۲/۶.

حضرت شفاء مکه مکرمه کې د دې نمله د دې ختمولو لپاره یو منتر ویول او دم به یې کولو. کله چې حضرت شفاء اسلام قبول کړو او هجرت یې وکړو نو دا خپل منتر یې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پیش کړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اجازت وکړو او ویې فرمایل چې څنګه ته حفصه ته خط و کتابت زده کړو نو دا منتر دې ورته ولې ونه ښودلو؟ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره دې منتر ارخ ته وه. چې د عرب ښځو به د یو کلمات د جهار پهونک په وخت کې ویله. هغه کلمات دا دي.

العروس تنتعل و تختضب وتكتحل وكل شئ تفتعل غيرانها لا تعصى الرجل

یعني ناوي به بوټان واچوي او نکریزي او رانجه به اومنبي. ټول هر څه به کوي خو د خاوند نافرماني به نه کوي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خاصه توګه دا نتر حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د ښودلو ځکه حکم وکړو چې دې کې د لاتعصى الرجل الفاظ دي. دې حې حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باندې تعریض دی چې هغې د شرب په واقعه کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راز ښکاره کړی ؤو. چې نافرماني وه او وفاداره ښځه د خاوند نافرماني نه کوي.

الكتابة: لکه څنګه چې تا حفصه ته خط زده کړی ؤو. یو حدیث کې دي چې

لا تعلموهن الكتابة: ښځو ته خط مه زده کوئ. دې دواړو حدیثونو کې تعارض دی؟

د دې جواب دا دی چې د خط او کتابت ممانعت وروسته راغلی دی. دا قصه مخکنئ دهر لهذا د خط زده کولو حکم منسوخ شوی دی.

دویم جواب دا دی چې د خط او کتابت کې ازواج مطهراتو ته په خاصه توګه اجازت ؤو. د نورو عامو ښځو لپاره ممانعت ؤو. درېم جواب دا دی چې په ابتداء کې اجازت ؤو. وروسته د ښځو لپاره د زمانې د فساد په وجه ممانعت راغلو، لکه څنګه چې په ابتداء کې به جومات کې په جمع د لمونځ کولو اجازت ؤو، خو اوس نشته دی. (مرقات ۳۲۷/۸)

د بد نظرئ یوه عجیبه واقعه

﴿۴۸﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ: رَأَى عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ

او حضرت ابو امامه ابن سهل ابن حنیف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (یو ورځ) عامر ابن ربیعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (زما پلار) سهل

يَغْتَسِلُ فَقَالَ: وَاللهِ

ابن حنیف لامبو لو باندې ولیدلو نو وې ویل چې قسم په خدای (د سهل د بدن او د هغې د رنګ او صورت

مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ وَلَا جِلْدَ

به څه اوایو) ما د نن ورځ پشان (هیڅ ښایسته بدن کله هم) نه ؤ ولیدلی. او د پرده نشینې (ښایسته ښځې

مُخَبَّأَةٍ قَالَ: فَلُبِطَ سَهْلٌ

څرمن پشان (نازک او ښایسته رنګ والا) کله هم نه ؤ ولیدلی. ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (د عامر) دا وینا وه

فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې داسې محسوسه شوه (لکه) سهل چې راغوزار کړی شوی وي، نو هغه را اوچت کړی شو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام خدمت ته

فَقِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ لَكَ فِي سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ؟

راو ړلی شو او عرض و کړی شو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! تاسو د سهل د علاج لپاره څه وایي.

وَاللهِ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ

قسم په خدای دا خو د خپل سر د اوچتول طاقت هم نه لري. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (سهل حالت لیدلو

فَقَالَ: هَلْ تَتَّهِمُونَ لَهُ أَحَدًا؟ فَقَالُوا:

سره) وفرمایل چې آیا د کوم کس باره کې ستا خیال شته دی چې هغې دا نظره کړی دی؟ خلکو عرض و کړو چې

نَتَّهِمُ عَامِرَ بْنَ رَبِيعَةَ

آؤ. د عامر ابن ربیعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې زمونږ ګمان دی چې هغې نظره کړی دی. راوي وایي چې

قَالَ: فَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامِرًا فَتَغَلَّظَ عَلَيْهِ وَقَالَ:

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې اوربدلو سره) عامر راوغوښتلو کله او نرمه یې ورته وویل او ویې فرمایل

عَلَامَ يَقْتُلُ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ؟ أَلَا بَرَّكْتَ؟

چې ته ولې د خپل ورور مرګ پسې لېږدلی یې. تا سهل ته د برکت دعا ولې نه کوله چې هغه نظره شوی نه وی.

اغْتَسِلْ لَهُ. فَغَسَلَ لَهُ عَامِرٌ

بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عامر ته حکم و کړو چې ته د سهل لپاره (خپل انداموونه) وینځه او اوبه یې

وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَمِرْفَقَيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ

په دې وروا چوه، نو عامر یو لوخې کې خپله خوله، لاس، څنګلي، د دواړو پښو د ګوتو پوري او د نامه لاندې

وَأَطْرَافَ رِجْلَيْهِ وَدَاخِلَةَ إِزَارِهِ

بدن (یعنې ستر، ورون او کوناټي) یې وینځلو او بیا یې هغه اوبه (چې عامر پرې د اټول انداموونه ویځلي ؤو)

فِي قَدَحٍ ثُمَّ صُبَّ عَلَيْهِ فَرَاحَ مَعَ النَّاسِ

سهل باندې واچولې (د دې اثر دا وشو چې) سهل ژر صحیح شو او پاڅیدلو او د خلکو سره داسې روان شوی لکه په دې

لَيْسَ لَهُ بَأْسٌ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَرَوَاهُ مَالِكٌ وَفِي رِوَايَتِهِ:

چې څه شوي نه ؤو. (شرح السنة، موطا امام مالک) او د مالک یو روایت دا منقول دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام (رتونکي والاته)

قَالَ : إِن الْعين حق تَوَضَّأ لَهُ[1]

وفرمایل چې بد نظري حق دی نه د نظره شوي کس لپاره اودس کوه، نو هغې د نظره شوي کس لپاره اودس وکړو.

توضیح: **ولا جلد مخبأة**: یعنې عامر د سهل متعلق وویل چې د هغې څرمن داسې نرمه او نازکه او ښایسته ده چې تر ننه پورې مې داسې ښایسته شی نه دی لیدلی. بلکې د پرده نشین جینئ څرمن هم دغه شان د ښایسته رنګ والا به نه وي لیدلي. (مرقات۸/۳۲۸)

فلبط: علامه طیبي دا صیغه د باب تفعیل نه د معروف صیغه اخستې ده. او سهل د دې فاعل دی.

لبط منه به ځمکه د پر مخې پرېوتلو په معنی کې دی.

ملاعلي قاري د صیغه د ضرب او د نصر نه د مجهول صیغه ګڼلې ده. ګویاکې داسې محسوسه شوه چې سهل پر مخې په ځمکه راپرېوتلو. (مرقات۸/۳۲۸ الکاشف: ۸/۳۳۲)

فتغلظ: یعنې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عامر په سختو الفاظ سره یاد کړو او ښه یې ورټلو.

الابرکت: یعنې ترڅو چې تاته آسانه بدن ویلي شوي وي، نو د هغې د هغې لپاره د برکت دعا ولې ونه کړه؟ چې بارک الله علیک به دې ویلی وي. (مرقات۸/۳۲۹)

اغتسل له: یعنې اوس هغې ته د خپلو اندامونو د دهون اوبه ورکړه. علماؤ لیکلی دي چې عاین او ناظر کې غږغړه او اودس وکړي، ګوندې او د نامه لاندې علاقه دې وینځې او یو تش کې دې اوبه جمع کړي. او بیا دې د نظره شوي کس د شا نه په سر باني اوبه واچوي. دا د شریعت حکم دی چائز او مفید دی. که څوک پرې پوهېږي او که نا، دې کې د خپل عقل دخل بې فائده دی.

علامه مارزی رحمه الله فرمایي چې د نظره کونکي غسل کولو او اوبه نظره شوي کس ته ورکول دې باندې واجب دي. لهذا که هغه د دې نه انکار وکړي نو هغه مجبوره کول کېدی شي بلکې قیدي کول کېدلی هم شي. یو مړ کېږي او بل د اندامونو دهون نهی ورنه دے ربے ر ۱۵. دا کوم انصاف دی؟

قاضي عیاض مالکی فرمایي چې کوم کس بدنظرئ کې مشهور وي نو د هغې نه ځان ساتل او د هغې مخې ته نه راتلل او احتیاط کولو لازم دي. او حاکم باندې لازم دي چې د داسې کس د خلکو د ناسې پاستې او د اختلاط نه منع کړي او هغوی په دې پابند کړي چې هغه صرف کورکې کینې او بهر ته دې د راوتلو کوشش نه کوي. که هغوی غریبانان وي نو د هغې د خوراک او څښاک انتظام دې د بیت المال نه وکړي، خو دوی ته دې د بهر راتلو اجازت نه کوي. (مرقات۸/۳۳۰، ۳۲۹)

---

[1] رقم الحدیث ۴۵۶۲ أخرجه مالک في الموطا ۹۳۹/۲ رقم الحدیث ۲ من کتاب العین وابن ماجه ۱۱۶۰/۲ رقم الحدیث ۳۵۱۱.

په معوذتینو سره د نظر بد علاج

﴿۴۹﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنَ الْجَانِّ

او حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د پيريانو او د انسانانو د بد

وَعَيْنِ الْإِنْسَانِ حَتَّى نَزَلَتِ الْمُعَوِّذَتَانِ

نظرئ نه پناه غوښتله تردې چې معوذتين نازل شو. کله چې دا سورتونه نازل شو نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د

فَلَمَّا نزلت أخذ بهما وترك سِوَاهُمَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث حسن غَرِيب[1]

دې سورتونو په ذريعه دعا غوښتله او د هغې نه بغير يې د نورځيزونو نه پناه پريښود له.

د مُغَرِّبُوْنَ څه مطلب دی؟

﴿۵۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ رُئِيَ فِيكُمُ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې يو نبي کريم صلى الله عليه وسلم ماته و فرمايل چې آيا ستا دننه (يعني

الْمُغَرِّبُونَ؟ قُلْتُ: وَمَا الْمُغَرِّبُونَ؟ قَالَ: الَّذِينَ يَشْتَرِكُ

انسانانو کې) مغربون خکاري. ما عرض وکړو مغربون څوک دي؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل

فِيهِمُ الْجِنُّ. [2] رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وذُكر حديثُ ابْن عباسٍ: خيرَ مَاتداويتم فِيبَاب التَّرَجُّل[3]

چې مغربون هغه خلک دي چې د هغې سره پيريان (شيطانان) شريک وي. (ابوداؤد)

توضيح: هل رئي: يعنې آيا په انسانانو کې مغربون خکماري؟ دلته استفهام، تنبه او د استيقاظ لپاره دی. او هل په معنی د قد دی. المغربون: د باب تفعيل نه د اسم فاعل صيغه ده. لرې کولو او د وړاندې کولو په معنی کې رائي. د دې د مفهوم په تعين کې دا چې اشتباه وه نو ځکه حضرت عائشه رضي الله عنها وپوښتل چې "وما المغربون" يعنې دا کوم خلک دي. د دې څه حقيقت دی.، د کوم جنس او د کومې ډلې سره يې تعلق دی؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم په جواب کې وفرمايل چې مغربون هغه خلک او طبقه ده چې د هغې د هغوی سره د پيريانو اشتراک عمل دی. (مرقات ۳۳۱/۸، ۳۳۰)

([1]) رقم الحديث ۴۵۶۳ أخرجه الترمذي في السنن ۳۴۵/۴ رقم الحديث ۲۰۵۸ والنسائي في ۲۷۱/۸ رقم الحديث ۵۴۹۴

([2]) رقم الحديث ۴۵۶۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۳۳/۵ رقم الحديث ۵۱۰۷

([3]) رقم الحديث ۴۵۶۵ أخرجه الترمذي في ۳۴۲/۴ رقم الحديث ۲۰۵۳.

سوال: دا دی چې د مغربون پیژنده دې حدیث کې صرف دومره وشوه چې دا هغه خلک دي چې د هغوی سره د شیطانانو او د پیریانو مشترک عمل دی. د دط الفاظو مفهوم خپله متعین نه دی چې د پیریانو د اشتراک عمل څه مطلب دی؟

د جواب اولنی مفهوم: د مغربون ترجمه لرې کېدل او وړاندې کول دي. او د دې لفظ یو بل مفهوم او مطلب دا دی چې مغربون هغه خلک دي چې د جماع په وخت کې د الله د ذکر نه لري اوسي. یعنې د جماع کولو نه مخکې بسم الله نه وایي او دا دعا نه وایي **"اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا"** دا خلک چې کله خبل ځان د الله د ذکر نه او د دې دعا نه لرې ساتې نو شیطان نزدې راشي او د جماع کونکي کس د ذکر نه خپل ذکر راتاؤ کړي او په جماع کې د دې کس سره شریک شي. د دې په نتیجه کې چې کوم اولاد پیدا شي هغه د خیر او نیکئ نه لرې شي او د شیطان هغې باندې پوره غلبه وي. چې ځېنې ورته مزاحې خلک وایي. دا کس بې بسم الله بیدا شوی دی. (مرقات ۳۳۱/۸) شارحین لکیي چې نن سبا د نوي نسل د وران والي یوه لویه ذریعه همدغه غلطې ده. قرآن عظیم کې د **﴿وشارکهم فی الاموال والاولاد﴾** والا آیت کې همدې حقیقت اړخ ته اشاره کړی شوي ده.

دویم مفهوم: دا دی چې د مغربون نه مراد زناکار نارینه او ښځې دي. چې د زنا په ذریعه حسب او نسب غائب کړي او خراب یې کړي. بل لرې نسب په خپل نسب کې شامل کړي. یا خپل نزدې نسب د بل لرې نسب کې شامل کړي او دا ټول کار د شیطان د اشتراک عمل نه کېږي. په زنا باندې آماده کول د شیطان عمل او د هغې کار دی لکه **﴿یأمرهم بالحشاء والمنکر﴾** خو الله فرمایي **﴿ولا تقربوا الزنا انه کان فاحشة وساء سبیلا﴾** (سورة بنی اسرائیل: ۱۳۲)

دریم مفهوم: د مغربون او د هغې د اشتراک عمل دریم مفهوم دا دی چې د دې نه مراد د پیریانو هغه نارینه دي چې د انسانانو د ښځو ورسره ناجائزه تعلقات قائم وي او هغوی د هغه ښځو سره زنا کوي او د هغې به نتیجه کې د هغه ښځو اولاد پیدا شي. د غه شان د پیریان د انسانانو شره شریک شول. انسان چې کله د خپل دین نه وړاندې شي نو پیری هغې باندې سپور شي ځکه د حفاظت بوج ختم شي او حصار مات شی.

الفصل الثالث

د صحت او بیمارئ مرکز معده ده

﴿۵۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمَعِدَةُ حَوْضُ الْبَدَنِ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل سړي معده د بدن حوض

وَالْعُرُوقُ	إِلَيْهَا	وَارِدَةٌ	فَإِذَا
دی. او د خيټې رګونه (چې د باندا انداموتو سره پيوسته وي) د معدې اړخ ته (اوبو څښونکي پشان) راځي.			
صَحَّتِ	الْمَعِدَةُ	صَدَرَتِ	الْعُرُوقُ
کله چې معده صحيح وي نو دا رګونه د معدې صحت ورکونکي رطوبات سره د اندامونو اړخ ته ځي.			
بِالصِّحَّةِ	وَإِذَا	فَسَدَتِ	الْمَعِدَةُ
چې تر ښه بدن ته طاقت حاصليږي او کله چې معده خرابه وي نو دا رګونه فاسد رطوبات د اندامونو			
صَدَرَتِ	الْعُرُوقُ	بِالسقمِ [1]	
اړخ ته ځي. چې بدن ته بيماري او کمزور پيدا شي.			

توضيح: حوض البدن: يعنې د انسان د بدن او د هغې د معدې په مينځ کې چې کوم نسبت، رشته او تعلق دی. هغه همغه نسبت دی چې د اوبو د حوض او د بوټو او د فصل په مينځ کښ دی، نو د کومو اوبو او د تالاب په غاړه کې ولاړ بوټی د خپلو جړلو په ذريعه د اوبو نه د خپلې بقا لپاره حياتياتی رطوبات حاصلوي. همدغه شان انساني بدن د مختلفو رګونو په ذريعه د خپلې معدې نه صحت او د طاقت رطوبات حاصلوي. نو که په حوض کې اوبه پاکې او صحت بخښ وي نو هغه د بوټې د تازه والي سبب جوړوږي. او که زيګ او د مضر صحت وي نو هغه د بوټې د اوچوالي او د تباهئ ذريعه جوړږي. دا خو د دې حديث مفهوم او مطلب دی. مخکې د نظام هضم باره کې څه ليکل چې نور وضاحت وشي. (مرقات ۳۳۲/۸)

د هاضمې عجيبه قدرتی نظام: الله تعالی د انسان په بدن کې عجيبه قدرتي نظام هضم پيدا کړی دی. چې ټول کال چلږي. او انسان ته پته هم نه وي چې شکر ادا کړي، خوذاک چې کله معدې ته ورسيږي نو د معدې مشنرې تيزه شي او دغه شان عمل شروع شي چې معده د خوراک څه اجزاء د ګند په صورت لاندې غورزږي. چې د مقعد په لاره خارج کيږي. او د خوراک ښه اجزاء ځګر ته ورسيږي. دا د نظام هضم اولنئ مرحله ده. د هغې نه وروسته ځګر کې صفرائ، سودائ، وينه او به جمع شي. ځکر صفراء ترخي ته واچوي. دا پيکه ترخي اوبه دي. د دې يو څاڅکی ترخی معده کې اچوي چې نوي خوراک د هضمېدلو سره حل شي. همدغه څاڅکی که معدې ته غوزار نه شي بلکې بهر ښی نو پول بدن کې د صفرا نه د يرقان بيماري ښوره شي. ځګر سوداء کوتلی کې اچوي او

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۶۶ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶۶/۵ رقم الحديث ۵۷۹۶.

تلی تازه وي. ځګر اوبه ګردو ته ورسوي او د ګردو د لارو نه تېرېدلو سره فضله اوبه مثانه کې جمع کړي او د متیازو صورت اختیار کړي. او متیازي د نالئ نه خارج شي.

ځیګر وینه زړه ته رسوي او زړه کې د پمپنګ دفاعي نظام دی چې دا وینه بدن کې ټولو رګونو او شریانونو کې ښورهولو سره متحرک ساتي. همدغه حرکت که د پنځه منټو لپاره بند شي نو انسان مړ شي. د نبض حرکت د همدغې نظام برخه ده. همدغه وینه چې د خزینه ځناور د تئینو ته ورسي نو هلته د تي په غوشه کې الله داسې د فلټر سسټم قائم کړی دی چې همدغه وینه صاف او پاک شودو کې بدلې شي. چې بیا یې انسان په مزو سره ځښي. "فتبارك الله احسن الخالقين" د بحث لاندې حدیث کې همدغه عجیب او غریب نظام هضم او نظامِ قدرت اړخ ته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره کړې ده چې "المعدة حوض البدن" او د همدغه عجیب نظام اړخ ته الله اشاره کړې ده چې عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغې مور (بی بی) خدا نه ؤو بلکې د خدای بنده ګان ؤو. "كانا يأكلان الطعام" هغې دواړو به خوراک کولو. او دې اوږد نظام هضم نه به هغوی تېرېدل. د دې د شکر ادا کولو اړخ ته بابا سعدی اشاره کې ویلې دي

ابر و باد و مه و خورشید فلک در کار اند　　تا تو نانے بکف آرے و بغفلت نخوری

د لړم د خوړلو علاج

﴿۵۲﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ يُصَلِّي فَوَضَعَ يَدَهُ
او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ شپه کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمونځ کولو کې خپل لاس
عَلَى الْأَرْضِ فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ فَنَاوَلَهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَعْلِهِ
په زمکه ایښی ؤو چې دې (لاس) په ګوته لړم وچیچلو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل پاپوش مبارک
فَقَتَلَهَا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: لَعَنَ اللهُ الْعَقْرَبَ
په ذریعه هغه لړم اوژلو او کله چې د لمونځ نه فارغ شو نو ویې فرمایل چې لړم باندې د خدای لعنت وي،
مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا وَلَا غَيْرَهُ أَوْ نَبِيًّا وَغَيْرَهُ
نه لمونځ کونکی پرېږدي او نه غیر لمونځ کونکي. یا یې دا وفرمایل چې نه نبي پرېږدي او نه غیر نبي.
ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَمَاءٍ فَجَعَلَهُ فِي إِنَاءٍ
د هغې نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مالګه او اوبه راوغوښتل او دواړه یې په یو لوښي کې حل کړل
ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلَى أُصْبُعِهِ
او بیا به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا اوبه او مالګه د ګوتې په هغه برخه باندې واچول چې په کوم ځای

حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَيَمْسَحُهَا وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ.
لږم خوږلی ؤو او ګوته به يې مښله. او قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس لوستلو. دا
رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[1]
دواړه روايتونه بيهقی په شعب الايمان کې نقل کړي دی.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويخته مبارک

﴿۵۳﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ: أَرْسَلَنِي أَهْلِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ
او حضرت عثمان ابن عبد الله ابن موهب فرمايي (يو ورځ) زما کور والو ماته د اوبو يوه پياله او راکړه او
وَكَانَ إِذَا أَصَابَ الْإِنْسَانَ عَيْنٌ
ام المؤمنين حضرت ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته يې ولږلم. معمول دا ؤو چې کله به څوک نظره شو يا به بله کومه
أَوْ شَيْءٌ بَعَثَ إِلَيْهَا مِخْضَبَهُ فَأَخْرَجَتْ مِنْ شَعْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بيماري وه نو ام سلمه ته به يې يوه پياله لږلې او ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويخته مبارک راويستل
وَكَانَتْ تُمْسِكُهُ فِي جُلْجُلٍ مِنْ فِضَّةٍ فَخَضْخَضَتْهُ لَهُ
چې هغې به د سپينو زرو په يو لوښي کې اينبودل او ويخته مبارک به يې اوبو کې اچولو سره ښوزول او
فَشَرِبَ مِنْهُ قَالَ: فَاطَّلَعْتُ فِي الْجُلْجُلِ
بيا به مريض هغه اوبه څښلې (چې د هغې په برکت سره به الله هغې ته شفا ورکوله) راوي وايي چې
فَرَأَيْتُ شَعَرَاتٍ حُمْرًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
ما د سپينو زرو لوښي ته وکتل نو ماته د (نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ډېر سره ويختان ښکاره شول.

توضيح بقدح: ماته پياله راکولو سره زما د کور والو زه د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ولږلم.

وكان: يعنې هغه وخت دا معمول ؤو چې څوک به بيمار شو نو هغې به خپل لوښی ام سلمه ته ولږل او ام سلمه سره به د نبي کريم ﷺ ويخته مبارک د سپينو زرو په يو لوښي کې اينبي ؤو. حضرت ام سلمه به د هغې نه يو يا زيات ويختان راويستلو سره د هغه کس په پياله کې اچولو سره ښوځولو چې د ويخته مبارک برکت اوبو کې راشي. هغه کس به د خپلې پيالې نه همدغه مبارکی اوبه وړلې او

([1]) رقم الحديث ۴۵۶۷ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵۱۸/۲ رقم الحديث ۲۵۷۵

([2]) رقم الحديث ۴۵۶۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۵۲/۲۰ رقم الحديث ۵۸۹۶

خپل مریض ته به یې د شفا په غرض ورکول.

مخضبه: میم باندې زیر دی او خ ساکن دی. ض باندې زبر دی او د ب نه وروسته ضمیر دی چې انسان ته راجع کېږي. مخضب تېب، ترمای، لګن، تهال او تغاری ته وایي. مراد ترینه لوښی دی چې اوبه په کې اینبودل کېږي.

فاخرجت: یعنې د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عادت ؤو چې د هغه ویختانو نه به یې ځینې ویختان راویستل چې په ابو کې یې واچوي. (مرقات ۳۳۴/۸)

جلجل: یعنې دا ویختان حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د سپینو زرو په یو ډبې او لوښي کې محفوظ کړي ؤو. جلجل اګر که جرس او شرنګنې ته وایي خو دلته د شرنګنې پشان ډبی مراد دی. چې د سپینو زرو نه جوړ شوی ؤو او د دې مقصد لپاره سپین زر استعمالیدل، لکه څنګه چې کعبې ته ریښم اغوستلی کېږي او سره زر پرې لګوي.

فخضخضته: د مضمضته پشان دی لفظاً او معنی. یعنې ام سلمه د نبي کریم ﷺ ویختان د هغه کس په لوښي کې واچول او وې ښوځول چې اوبو کې برکت راشي. دا مطلب زیات واضح دی. خکه د دې نه مخکې حدیث کې تصریح موجود ده چې ام سلمه به راویستل چې د سپینو زرو په ډبو کې به یې اینبودل، خو ملا علي قاري دلته دا ضمیر د جلجل اړخ ته راجع کړی دی. هغه فرمایي "ای حرکت الجیجل فی الماء" دبی به یې اوبو کې کیښدلو سره حرکت ورکولو. شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کې صراحت سره لیکلي دي چې حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وینښته مبارک د هغه کس په لوښي کې اوبو کې اچولو سره حرکت ورکولو چې دې کې برکت راشي، نو یو ځای کې لیکي "**فاخرجت من شعر**" پس بیرون می آورد ام سلم بعضے از مویہائے پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و دران ظرف می انداخت.

فخضخضته: پس می جنبانید ام سلمه مخضب را که دروی آب بؤوی و مو یهائے شریف رادروی انداختی. یعنې حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به چې کوم موئې مبارک په کوم لوښي کې اچولي، هغه لوښی به یې ښوځولو. دې حدیث په پوهه کېدلو کې ماته همیشه قلق ؤو. نن الحمد لله دا حدیث حل شو او زړه خوشحاله شو. (مرقات ۳۳۴/۸، اشعة اللمعات)

د خرېړی خواص

﴿۵۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا

او د ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې ډېرو

لرسولِ الله: الْكَمْأَةُ جُدَرِيُّ الْأَرْضِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

صحابؤ عرض وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! خرېړی د زمکې دانی دی؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ وَالْعَجْوَةُ
نا (بلكي) خريږي د من د قسم نه دی او د دې اوبه د سترګو لپاره شفا ده او عجوه چې د کجورو د
مِنَ الْجَنَّةِ وَهِيَ شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ:
ټولو نه اعلی او ښه قسم دی. د جنت کجوره ده. او دې کې د زهرو نه د شفا خاصیت دی. ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي
فَأَخَذْتُ ثَلَاثَةَ أَكْمُؤٍ أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا
چې (نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دا ارشاد اورېدلو سره ما درې یا پنځه ځل یا اؤوه (۷) ځل خریږي واخستل
فَعَصَرْتُهُنَّ وَجَعَلْتُ مَاءَهُنَّ فِي قَارُورَةٍ وَكَحَّلْتُ بِهِ
او هغه مي وزیښنل او د دې اوبو نه مي شیشه ډکه کړه او بیا مي دا اوبه مي د یوې چندهي وینځې
جَارِيَةً لِي عَمْشَاءَ فَبَرَأَتْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حسن[1]
په سترګو کې واچولې نو هغه پرې ښه شوه. (روایت کړې دې ترمذی)

توضیح: **الکماة**: غریزو علاقو کې باراني په میاشتو کې ځمکه او په ځمکه باندې پرتو لرږو کې یو شیز پیدا کېږي چې ډېر قسمونه یې دي. ځینې د بال د ګلانو پشان وي، ځینې د چترو پشان وي چې د پاس نه تورنګې وي او د لاندې سپین وي. چې باریکه نالئ په کې وي. کوم چې دا شیز ډکړي کوی. د دې خوند د غوښې وي. دا ساګ یا د غوښې پشان پخول کېږي. ډېر خوندور وي. پښتو کې ورته "خرړی" وایي. د افریقې ملک زامبیا کې یې غریب خلک په شکرو کې ډک ډک د سرک غاړې ته راوړي او خرڅوي یې. (مرقات ۳۳۵/۸)

جدری الارض: دا د خریږي یو قسم دی. چې ګویا کې ځمکې باندې د بدن د دانې پشان وي. چې د دانو پشان وي. په دې وجه صحابه کرامو وپوښتل چې آیا دا د زمکې دانو دی؟ (مرقات ۳۳۵/۸، ۳۳۴)

من المن: یعنې لکه څنګه د نعمت په توګه الله د بنی اسرائیلو ته من او سلوی ورکړې وه. دا خریږي مونږ لپاره د من په ځای دی. دا دانې نه دی بلکې نعمت دی. چې د محنت نه بغیر یې الله ورکوي. صحابه کرامو هم د خریږي چې غندنې اراده وکړه. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوی خیال رد کول سره دا نعمت وګڼلو. خریږي ته مار چترئ هم وایي.

وماء ها شفاء: یعنې د سترګو د بیمارو او د نظر لپاره شفاء ده. چې د دې اصلي طبعي زبیښلو سره حاصل کړی شي او بیا د دې څاڅکي په سترګو کې واچولی شي. دا انفرادي توګه باندې هم علاج

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۴۹ أخرجه الترمذي في السنن ۳۵۱/۴ رقم الحديث ۲۰۶۸ وابن ماجه في السنن ۱۱۴۳/۲ رقم الحديث ۳۴۵۵

دی. او امکان لري چې د نورو دوايانو سره ملاؤ ولو سره پرې علاج کېږي. د دې حديث په آخري برخه کې حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپله تجربه نقل کړې ده. چې ترېنه معلومېږي چې دا انفرادي توګه باندې علاج دی. (مرقات ۳۳۵/۸)

عسل: داسې جينئ د کومې سترګې چې بريخی. (مرقات ۳۳۵/۸)

د هري مياشتي اولنئ درې ورځو کې شهد څټولو سره شفاء

﴿۵۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَعِقَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم کس چې هره مياشت کې

الْعَسَلَ ثَلَاثَ غَدَوَاتٍ فِي كُلِّ شَهْرٍ لَمْ يُصِبْهُ عَظِيمُ الْبَلَاءِ[1]

درې ورځې د سحر وخت کې شهد څټې نو هغه به هيڅ لويې مصيبت کې نه اخته کېږي.

توضيح: ثلاث: حديث کې د هرې مياشتې درې ورځې ويل شوي دي. هغه که هرې درې ورځې وي، خو د مياشتې ابتدائی درې ورځې دې مقرري کړی شي، نو د نظم و ضبط په اعتبار سره بهتر وي. البته په نهره د څټلو اړخ ته د غدوات لفظ نه اشاره کېدی شي. لهذا په نهره اوبو کې ملاوېدلو سره سره څښل پکار دي. يا دې هسې وخټلی شي، خو شرط دا دی چې شهد خالص وي، د فارم نه وي، نه د شکر نه جوړ شوي وي. طبيبان ليکي چې د په نهر خوله د شهدو څټل بل غم څټې. معده صفا کوي. د دې لزوجت او فضلات لرې کوي. معده په اعتدال سره ګرمه وي. د بدن بندونه پرانېزي. د دې نه بغير شهد د بدن استرخاء او هر قسمه رياح ختموي. متيازې، حيض او د ښځې شوده روانوي. مثانه او ګردو کې کانې ماتوي. د بدن بيکاره مواد خارجوي.

د شفاء دوه غټې ذريعې

﴿۵۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَلَيْكُمْ

او حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د شفا ورکونکي

بِالشِّفَاءَيْنِ: الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ". رَوَاهُمَا ابْنُ مَاجَهْ

دوه شيان په خپل ځان باندې لازم کړئ. يو خو شهد دی او بل قرآن. دا دواړو روايتونه ابن ماجه او

وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ

بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړي دي. او بيهقي ويلي دي چې دا صحيح دي. بل حديث (يعني

---

[1] رقم الحديث ۴۵۷۰ اخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۴۲/۲ رقم الحديث ۳۴۵۰ والبيهقي في شعب الايمان ۹۷/۵ رقم الحديث ۵۹۳۰.

أَنَّ الْأَخِيرَ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ مَسْعُودٍ[1]

علیکم بالشفائین) مرفوع نه دی بلکې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې موقوف دی.

بغیر ضرورته خکر لګول نقصان ور کوونکی دی

﴿۵۷﴾ وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ

او حضرت ابو کبشه انماری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه بیماری په سبب چې

عَلَى هَامَتِهِ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُومَةِ

د بزې د زهرو څخه غوښه خوړلو په وجه لږ بدلي وه، په خپل سر یې خکر ولګولو. (د حدیث یو راوي)

قَالَ مَعْمَرٌ: فَاحْتَجَمْتُ أَنَا مِنْ غَيْرِ سُمٍّ كَذَلِكَ فِي يَافُوخِي

د معمر بیان دی چې ما د هیڅ یو زهر جن شي د خوړلو نه بغیر دغه شان خکر یې په سر ولګولو نو زه د

فَذَهَبَ حُسْنُ الْحِفْظِ عَنِّي حَتَّى كُنْتُ أُلَقَّنُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فِي الصَّلَاةِ. رَوَاهُ رزين[2]

خپلې حافظې د خوبئ نه محرومه شوم. تردې چې لمونځ کې به د الحمد د زده کولو ضرورت پیښ شو.

توضیح یافوخی: یعنې د ضرورت نه بغیر یا د تجربې نه بغیر مې د سر کې تالو باندې بنکر اولګولې شی. دې سره مې د حافظې قوت ختم شو. د دې نه معلومه شوه چې د ضرورت نه بغیر نه خو آپریشن (عملیات) کول پکار دي او نه وینه ویستل پکار دي. که ضرورت هم وي نو بیا هم د تجربې د لاندې کول پکار ده (مرقات ۳۳۸/۸).

نیم حکیم خطرهٔ جان نیم ملا خطرهٔ ایمان

د بنکر لګولو ورځ

﴿۵۸﴾ وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: قَالَ ابْنُ عُمَرَ: يَا نَافِعُ يَنْبَغِ بِي الدَّمُ

او حضرت نافع فرمایي: (یوه ورځ) حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې نافع زما بدن کې وینه جوش وهي. ته

فَأْتِنِي بِحَجَّامٍ وَاجْعَلْهُ شَابًّا وَلَا تَجْعَلْهُ شَيْخًا

راله د خکر لګونکی راوغواړه خو ځوان سړی راوله. بوډا یا ماشوم مه راوله. (ځکه مضبوط کس بنه خکر

وَلَا صَبِيًّا. وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ:

لګوي) نافع وایي چې د هغې نه وروسته حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل: ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه

([1]) رقم الحديث ۴۵۷۱ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۴۲/۲ رقم الحديث ۳۴۵۲ والبيهقي في شعب الايمان ۵۱۹/۲ رقم الحديث ۲۵۸۱.

([2]) رقم الحديث ۴۵۷۲ رواه رزين مرقاة المفاتيح ۳۸۸/۸

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: اَلْحِجَامَةُ عَلَى الرِّيقِ أَمْثَلُ وَهِيَ تُزِيدُ فِي الْعَقْلِ

اوربدلي دې ډک خکر په نهره ويستل زيات بهتر دي. دې سره عقل زياتيږي (چې د چا حافظه کمزوري

وَتُزِيدُ فِي الْحِفْظِ وَتُزِيدُ الْحَافِظَ حِفْظًا فَمَنْ

وي) د هغې حافظه تيزه شي. او (د چا چې حافظه تيزه وي د هغې) حافظه زياته شي. لهذا کوم کس

كَانَ مُحْتَجِمًا فَيَوْمَ الْخَمِيسِ عَلَى اسْمِ اللهِ تَعَالَى وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

چې خکر لګول غواړي نو هغه دې د الله نوم اخستلو سره د پنځشنبې په ورځ خکر ولګوي او د جمعې،

وَيَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ فَاحْتَجِمُوا يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الثُّلَاثَاءِ

شنبې او د يکشنبې په ورځ د خکر لګولو نه ځان وساتئ. بيا د دوشنبې او سه شنبې په ورځ ولګوئ

وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ فَإِنَّهُ الْيَوْمُ الَّذِي أُصِيبَ بِهِ أَيُّوبُ

او د چهار شنبې په ورځ د خکر لګولو نه ځان وساتئ، ځکه د چهار شنبې ورځ هغه ورځ ده چې ايوب عَلَيْهِ السَّلَامُ په

فِي الْبَلَاءِ. وَمَا يَبْدُو جُذَامٌ وَلَا بَرَصٌ إِلَّا فِي يَوْمِ الْأَرْبِعَاءِ أَوْ لَيْلَةِ الْأَرْبِعَاءِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]

امتحان کې اخته شوی ؤو او د جذام يا د برکي بيماری د چهار شنبې په ورځ يا د چهار شنبې په شپه ظاهريږي.

توضيح: الثلثاء: فصل ثانی کې حديث نمبر ۳۶ کې ذکر دي چې د سه شنبې په ورځ خکر مه لګوه او دلته حديث کې د دې ورځې اجازت هم ملاو شوی دی او فضيلت هم دی. دا تضاد دی. د دې جواب دا دی د حضرت کبشه چې کوم حديث تير شوی دی هغې باندې کلام دی. دويم جواب دا دی چې د فضيلت او د اجازت د هغه سه شنبې باره کې دی چې د هرې مياشتې په اؤولسم (۱۷) تاريخ کې راځي. د هرې سه شنبې فضيلت او اجازت نشته دی. د دې حديث په آخر کې چې د کوم مصيبتونو ذکر شوی دی دا اغلبي امور دي. هيڅ حصر نه دی. (مرقات ۳۳۸/۸)

خکروي اؤولسم تاريخ وي او د سه شنبي ورځ وي

﴿۵۹﴾ وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْحِجَامَةُ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ

او حضرت معقل ابن يسار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د سه شنبې په ورځ

---

[1] رقم الحديث ۳۴۵۷ اخرجه ابن ماجه في السنن ۱۱۵۳/۲ رقم الحديث ۳۴۸۷

لِسَبْعَ عَشْرَةَ مِنَ الشَّهْرِ دَوَاءٌ لِدَاءِ السَّنَةِ . رَوَاهُ حَرْبُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْكِرْمَانِيُّ
اؤولسم تاريخ خكر لګول د ټول کال د ټيمار يو علاج دی. دا روايت حرب ابن اسماعيل د کرماني نه نقل کړی دی
صَاحِبُ أَحْمَدَ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ
چې د امام احمد بن حنبل مصاحب دی. او د روايت اسناد داسې (قوي) نه دي چې دې باندې اعتماد
بِذَاكَ هَكَذَا فِي الْمُنْتَقَى
وکړی شي (د ابن جارود کتاب) ملتقی کې هم دغه شان منقول دي. او دغه شان روايت رزين هم د
وروى رزين نحوه عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ[1]
حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړی دی.

توضيح: دې حديث کې د سه شنبې په ورځ د خکر لګولو او د جواز ذکر دی، خو د دې نه مخکې د حضرت کبشه په حديث نمبر ۳۶ کې د سه شنبې د خکر لګولو د ممانعت ذکر دی، نو د دې يو جواب دا دی چې حضرت کبشه په روايت باندې کلام دی. هغه د دې مقابله نه شي کولی. دويم جواب دا دی چې د ممانعت د سه شنبې د ورځې دی، خو که د سه شنبې ورځ د مياشتې به اؤولسم تاريخ راشي نو د دې هم اجازت شته دی. او فائده هم ده. خلاصه دا چې خکر لګوي نو اؤولسم تاريخ وي او د سه شنبې ورځ وي نو اجازاجازت دی. لهذا تضاد نشته دی.

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۷۴ مرقاة المفاتيح ۸/ ۳۹۰

باب الفال و الطيرة
فال او د سپيروالي بيان

ګټه: الحمدلله دا سطور په ۲۹ د شعبان ۱۴۲۶هـ په بيت الله الحرم مکه مکرمه کې ليکم.
لفظ فال د همزه نه بغير استعمالېږي. اردو کې هم دې ته فال وايي او شګون هم ورته وايي. اصل کې فال مطلق شګون کې استعمالېږي، خو د دې غالب استعمال په ښو او بدو کې استعمالېږي. د ښه فال او بد شګون مطلب دا دی چې سړي په يو خاص حالت کې ښه کلمې اورېدلي وي يا يې يو ښه شی ليدلی وي نو هغه يې د خپل ښو او د کميابئ راز وګڼلو. مثلاً يو کس مريض دی. د مرګ په کشمکش کې اخته دی. هغې د چانه واورېدل چې ويل يې يا سالم يا يو کس د تجارت په سفر باندې وتلی وي چې هغې چاته دا وويل چې سنا يا ناجح يا فائز يا راشد يا يو کس د دشمن مقابلې له ميدان ته وتلی وي چې هغې يو کس وليدلو چې نوم يې ظفر علی خان يا فتح علی خان ؤو. چې د فتحي اړخ ته په کې اشاره ده. يا يو کس بّل وطن کې يو ښار ته داخليدلو چې مخې ته يو کس ورغلو چې نوم يې بُريد ؤو. چې د يخ او ښه حالت اړخ ته په کې اشاره کيدله يا يو کس د خپل ورک شوي شي پسې ؤوتلو چې ګوري نو مخې ته يو کس راروان ؤو او چاته يې ويل يا واجد. د دې الفاظو د خپل مقصد لپاره ښۀ ګڼل فال دی. شرعي اعتبار سره نيک فال او نيک مقصد اخستل او په هغې باندې د ښو اندازه کول جائز ده. فال کله کله په بدئ کې هم استعمالېږي. چې بد فالي يا بد شګوني ورته وايي. شرعاً د بد فالي اخستل او بد فالئ اجازت نشته دی.

الطيرة: دا مصدر دی چې تطير د باب تفعل نه په خاصه توګه راځي. عام مصدر ونه داسې نه وي. الطيرة فقط د بد فالي په معنی کې راځي. د دې لفظ په مفهوم کې طير او طيران پروت دی. چې د الوتلو په معنی کې دی. عربو کې دا رواج ؤو چې هغوی کې به يو سفر ته تللو نو د مرغانو جالې يا داسې نور ځايونو نه به يې د مرغو د پاڅولو کوشش کولو، د دې لپاره چې نيک فال ونيسي. که چرې مرغی به ښي اړخ ته والوته نو دا به عربو مبارکه ګڼله. او دې ته به يې ايمن ويله. او سفر به جاري ساتلو. او که چرته مرغی به چپ اړخ ته والوتله نو هغه به يې نامباکره ګڼله او هغې ته به يې اشأم ويله يعنې منحوس او سفر به يې بيا نه کولو. د ايمن ترجمه ده مبارک او د اشأم ترجمه ده منحوس او نامبارک؟
عربو به د خپل رسم د لاندې مرغی ته سانح او بارح هم ويله. (مرقات ۳۴۱/۸)
سانح به يې هغې ته ويل چې ښي اړخ ته به الوتله او بارح به يې هغې ته ويل چې چپ اړخ ته به الوتله.

دا چې د ټول د جاهليت ادهام ؤو، ځکه اسلام دا منع کړل، ځکه هر مسلمان باندې لازم دي چې د دې وهمونو نه ځان وساتي چې صحيح مسلمان پاتې شي. د هر قوم او د درې علاقې جدا جدا ادهام او رسمونه دي. حديثونو کې د دې ادهام بيان دی چې په عربو کې يې رواج ؤو، خو د شريعت حکم عام دی. چرته او چې په کومه اندازه کې هم وي نو شريعت د دې ادهام رد کوي.

الفصل الاول

بدفالی نېول منع دي

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا اوريدلي دي چې بدفالي حقيقت دی.

الْفَأْلُ قَالُوا: وَمَا الْفَأْلُ؟ قَالَ:

د دې نه بهتر خو (ښه فال دی) صحابؤ عرض وکړو چې او فال څه شی دی؟ نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل

الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

چې هغه ښه کلمه ده چې تاسو کې يې کوم واورې او د هغې نه د ښه اميد پيدا کوي.

توضيح: **لاطيرة**: يعنې د بد فالئ هيڅ حقيقت نشته دی. د نفع او نقصان حقيقي مالک خو د الله ذات دی. د ضرر لرې کولو کې د بدفالئ هيڅ دخل نشته دی. لهذا د دې ارخ ته نسبت کول او دا حقيقي ګڼل شرک دی. د بد فالئ د ذکر کولو نه وروسته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نيک فال تعريف کړی دی. او ويې فرمايل "**وخيرها الفال**" يعنې د دې بدفالئ نه بهتر خو فال ښه دی. د فال او طيرة متعلق مخکې تفصيل تېر شوی دی. (مرقات ۳۴۲/۸)

پوښتنه: اوس دلته دا پوښتنه پيدا کېږي. هغه دا ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فال باره کې وفرمايل چې دا د طيرة نه ډېر ښه دی. د دې نه معلومې ږي چې طيره هم څه نه څه ښه دی. حال دا چې طيره کې هيڅ ښه نشته دی؟

جواب: د دې ظاهري پوښتنې جواب دا دی چې دلته د خير لفظ د اسم تفضيل معنٰی کې نه دی استعمال شوی. بلکې خپل اصل معنٰی کې استعمال شوی دی. "**الصيف احر من الشتاء**" دلته شتاء کې د حرارت تصور نشته دی او حال دا چې د صيف حرارت د دې نه زيات وي بلکې دومره ويل

([1]) رقم الحديث ۴۵۷۶ اخرجه البخاري في صحيحه ۲۱۲/۱۰ رقم الحديث ۵۷۵۴ ومسلم في ۱۷۴۵/۴ رقم الحديث (۱۱۰-۲۲۲۳)

دي چې د يخنئ موسم ګرم وي. دغه شان د "وهواهون" صيغه د هين په معنى کې ده، **واصحاب الجنة خير** خپل اصل معنى کې استعمال شوى دى يا لکه "**الاخص والاعم**" خپل اصل معنى کې دى يا "**العسل احلى من الحنظل**" کې **احلى** اصل فعل کې استعمال شوى دى نو د "**خيرا لفال**" هم دغه شان دى. (مرقات ۳۴۲/۸)

يو څو بې اصله وهمونه او د هغې بطلان

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د بيمارۍ يو بل ته لږېدل

وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ

او بدفالي بامه او صفر دا ټول څيزونه بې حقيقت دي. (البته) تاسو د جذام نه داسې تښتئ لکه

كَمَا تَفِرُّ مِنَ الْأَسَدِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

څنګه چې د زمرې نه تښتئ. (بخاری)

توضيح: **لاعدوى**: يعنې د بيمارۍ کې د ذات پات فلسفه غلطه ده او د عوامو دا خيال صحيح نه دى چې بيماري د يو نه بل ته لګيږي. د عام طبيبانو خيال دى چې اوۀ (۷) قسمه بيمارۍ داسې دي چې يو بل ته لګي: ۱: برګى ۲: چيچک ۳: خارښ ۴: داني او د بدن ننګۍ ۵: ګنده ننګۍ ۶: رمد يعنې د سترګو خوګېدل. ۷: وبائي مرضونه. د طبيبانو دا خبره او د هغوى تجربې په خپل ځاى خو حديثونو مقدسۀ او د شريعت دا تعليم دى چې د يو بل د بيمارۍ د لګېدو عقيده ساتل او دا ګڼل چې صرف او صرف د دې بيمارۍ په وجه زه بيمار شوم نو دا وهم پرستيۍ ده. بيماري د الله په حکم راځي او د هغه د قدرت په نظام خورږي. که د لږ ساعت لپاره دا اومنل شي چې دا بيماري د يو کس نه بل کس ته لږي نو پوښتنه دا ده چې هغه اول کس ته څنګه راغله؟ ظاهر خبره ده چې د الله د حکم مطابق راغلې ده، نو څنګه چې اولنى کس د الله په حکم بيماري راځي نو دغه شان بل کس ته هم د الله په مستقل حکم راځي. د طبيبان وخيال او د هغوى د تجربو دا توجيه کېدى شي چې دې حضراتو د بيمارۍ ظاهري سبب او علت ليدلى دى او شريعت د بيمارۍ اصلي او حقيقي علت بيان کړى دى. دواړو کې هيڅ تضاد نشته دى. د انبياء کرامو تعليم او د هغوى مؤثر نظر حقيقي په الله باندې وي. لهذا د ظاهري اسبابو ذکر نه کوي، خو طبيبان او عوام ظاهري اسبابو ته ګوري نو د هغې ذکر کوي.

---

[1] رقم الحديث ۴۵۷۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۵۸/۱۰ رقم الحديث ۵۷۰۷ واحمد في المسند ۴۴۳/۲.

لا طیرة: د دې تشریح د دې نه مخکې حدیث نمبر ۱ کې شوي ده.

ولاهام: د عربي لغت په اعتبار سره د هامه د سر کوپړۍ ته وایي، خو دلته د دې لفظ مختلف مفهومونه بیان کړی شوي دي: ۱: ځینې علماؤ دا مفهوم بیان کړی دی چې د هامه نه مراد هغه مرغۍ ده چې د مړې د کوپړۍ نه پیدا کیږي. د جاهلیت په زمانه کې د عربو دا خیال ؤو چې کله سړی مړ شي نو د هغې د کوپړۍ نه یوه مرغۍ پیدا شیږ هغه د مړې کور ته راځي چې د هغه کور لپاره د نحوست علامت وي. اسلام دا عقیده رد کړه چې داسې قصه نه ده. دا خو وهم پرستي ده.

۲: ځینې علماؤ د هامه دا مفهوم بیان کړی دی چې د هامه نه مراد ګونګی (مراد ترېنه نه هغه مارغه دی چې اکثر د شپې الوځي) د عربو عقیده وه چې کله یو کس بل کس مړ کړي نو د وژل شوې کوپړۍ او سر نه ګونکي په شکل یو مرغۍ پیدا کیږي. دا ګونګی چغې وهي چې ماله اوبه راکړئ یعنې زما انتقام واخلئ. چې د وژلی شوي وراثان د هغې قصاص او بدله نه اخلي نو دا مرغه فریاد کوي. د جاهلیت د عرب شاعرانو دا عقیده په خپلو شعرونو کې ښه مشهوره کړې ده. یو حماسي شاعر د خپلو دوستانو په قبرونو باندې دا شعر وایي (مرقات ۳۴۴/۸).

اقیم علی قبر یکما لست بارحاً طوال اللیالی او یجیبصدا کما (حماسه ص: ۱۵۰)

دا چې د "صدا" دی. دا همدې عقیدې اړخ ته اشاره ده. اسلام د جاهلیت دا عقیده راطله کړې ده.

۲: ځینې علماؤ د هامه دا مفهوم بیان کړی دی چې هامه د بوم او د بومه نه همدغه متعارف ګونګی مراد اخستی دی. د ګونګي متعلق د عربو خیال ؤو چې چرته دا په یو ځای وغیره باندې کښې نو هغه ځای ویران او تباه شي. ګویا که د ګونګي جاله ویران ځای دی. د اردو شاعر وایي:

لبلوں نے کر لیا گلشن میں جا بوم ویرانے میں ٹکراتا رہا

عربو نه بغیر د عجمو ځینې وهم پرست نا پوهه خلک هم د ګونګي متعلق همدغه خیال کوي. شریعت دا وهمونه رد کړي دی. (مرقات ۳۴۴/۸)

ولاصفر: شارحین د دې لفظ دوه مفهومه بیانوي. اولنی مطلب دا دی چې د جاهلیت په زمانه کې د عربو عقیده وه چې کله د صفرا لمضفر میاشت راشي نو هغه د ځان سره مختلف مصیبتونه راولي. دا منحوسه میاشت ده. لهذا دې کې واده کول پکار نه دی. زمونږ علاقوم کې وهم پرستي ښځې د خپلو سرونو نه ټوټې تاو کړي او په لاس کې لرګی راواخلي او د کور ګوټونه او ستنې وهلې او په خوله لګیا وي "سپیرې بال اوزه سپیرې بال اوه." یعنې د صفر بال زمونږ د کور نه اوه اوزه. شریتع دې ته وهم پرستي وایي. او حکم یې وکړو چې لاصفر یعنې صفر کې هیڅ نحوست نشته دی.

د لا صفر دویم مفهوم شارحین داسې بیانوي چې د ځینې وهم پرستو خلک خیال ؤو چې د خیټې دننه د یو چینجي نوم صفر دی. دا وږی کیږي نو خیټه کې دننه کولمې خوري چې سړی ترېنه مړ شي. شریعت دا وهم رد کړو. ځینو د دې لفظ درېم مفهوم داسې بیان کړی دی چې دې کې د نسیئ اړخ ته

اشاره ده. چې صفر په محرم او محرم په صفر کې بدلول جائز نه دي، لکه څنګه چې به عربو د خپلو ضرورتونو، غرضونو او مقصدونو لپاره د میاشتو او کلونو کې رد و بدل کولو، چې تفصیل یې د دې نه مخکې په کتاب الحج کې تېر شوی دی. (مرقات ۳۴۴/۸)

لاندې روایت نمبر ۴ کې د "ولانو" الفاظ هم راغلي دي. د دې مطلب دا دی چې باران د الله په حکم کېږي. د کوم برج یا د ستوري په وجه نه کېږي لکه څنګه چې د عربو خیال ؤو چې نوء ستوری او د برج په وجه باران ونه نه کېږي او د عجمو خلک د سُهیل او سُهلیئې او ګپ او ګپ ارخ ته باران منسوبوي.

وفرمن المجذوم: جذام یو خطري بیماري ده چې اعضاء پرې غیر متوازن کېدلو سره مات شي.

پوښتنه: د جذام والا متعلق مختلف حدیثونه راغلي دي. د بحث لاندې حدیث کې دي چې د جذام والا کس نه داسې تښتئ لکه تاسو چې زمري خطرې ګنئ او تر ېنه تښتئ. دویم حدیث کې دي چې یو د جذام مرض والا کس د نبي کریم ﷺ سره د بیعت کولو اراده وکړه. نبي کریم ﷺ پیغام ورولېږلو چې ته ېږته لاړ شه او مونږ بیعت وکړو، لکه په حدیث نمبر ۶ کې راروان دي. د دې نه وروسته حدیث نمبر ۲۰ کې ذکر دي چې د نبي کریم ﷺ د جذام والا د یو کس لاس ونېولو او د ځان سره یې خوراک ته کېنولو او ویې فرمایل چې د الله په یقین او توکل یې خوره.

اوس دې حدیثونو کې خپل مینځ کې هم تعارض دی او د بحث لاندې حدیث کې په دوه جملو کې هم تعارض دی، ځکه یو دا دی چې "**لاعدوی**" یعنې بیماري یو بل ته نه ځي او په همدې کې دې چې د جذام والا کس نه تښتئ نو د دې تعارضونو څه جواب دی؟

جواب ۱: د دې تعارضونو د جواب د حل کولو لپاره علماؤ درې جوابونه کړي دي. اولنی جواب دا دی چې د جذامي کس نه چې د احتراز او ځان ساتلو کوم حدیثونه دي هغه "سداً للذرائع" دي. مطلب دا دی چې حقیقت کې بیماري الله راولي خو خلکو ته هسې وهم او وسوسه راځي او شک ورته وي چې کېدی شي دا بیماري د هغې سره د ناستې پاستې له وجې وي. د دغه شان خلکو عقیدې به خرابې شي، نو خلک په دغه غلطو عقیدو کې پرېوتلو نه د بچ کېدو لپاره وَفرمایل: د جذام والا نه تښتئ چې په دې وهم او وسوسه کې پرېنوځئ. دې عارض په وجه نبي کریم ﷺ دا وفرمایل، ګنې اصل حکم همغه دی چې بیماري د الله په حکم راځي او د یو بل ته لګیدو هیڅ حیثیت نشته دی. دا خو د لاعدویٰ سره تعارض ختم شو.

جواب ۲: د دې تعارض دویم جواب دا دی چې د "لاعدویٰ" عام حکم سره صرف د جذام بیماري مستثنی شوې ده چې دې کې زیاتوالی دی، نورو کې نشته دی.

جواب ۳: د دې تعارض د حل لپاره درېم جواب دا دی چې د جذام والا کس نه ببنښتېدلو حکم د ظاهري اسبابو په بنیاد دی. د حقیقت په اعتبار سره نه دی. د دې تفصیل دا دی چې د جذام والا کس په دې

بيماري کې يو بُو وي. د عام اختلاط نه دا بُو په بل کې اثر کوي. دا اثر صرف د ظاهري اسبابو تر حده وي. حقيقت کې بيماري د الله په حکم راځي، نو د جذامي نه د عدم اختلاط حکم صرف د صحت د حفاظت د اصولو د لاندې دی. عدوی او يو بل ته د لګيدو د اصولو د لاندې نه دی.

باقي دا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوره يقين ؤو او په الله يې پوره اعتماد ؤو او حقيقي علت يې صحيح پېژندلو نو ځکه يې د جذام والا کس د ځان کېنولو او يو ځای د خوراک وکړو او نور يې وېرول. (مرقات ۳۴۵/۸، ۳۴۴)

د يو بيمارئ متعدي کيدل بې حقيقته خبره ده

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا عَدْوَى

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل يوې بيماري د يو نه بل ته

وَلَا هَامَةَ وَلَا صفر. فَقَالَ أَعْرَابِي: يَا رَسُول

لېږدل د هامه او د صفر د ټولو هيڅ حقيقت نشته دی. يو بانډه چې عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

فَمَا بَالُ الْإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ

نو بيا د دې اوښانو باره کې څه ويل کېږي (چې خپله تندرستي او خپلې څرمنې صافي په اعتبار سره)

لَكَأَنَّهَا الظباء فيخالها الْبَعِير

هوسی په ريګستان کې منډې وهي. خو چې کله يو خارښتي اوښ دوی سره شريک شي نو نور هم خارښتيان کړي؟

الأجرب فيجر بِهَا؟ فَقَالَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې بنادارا ته وايه چې دا اولنی اوښ چا خارښتي کړو؟ يعني د خارښت پيدا کېدلو لپاره

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

داضروري نده چې هغه ورته دبل نه ولګي. لهذا څنګه چې دې تندروسته اوښانو کې د شريک کيدونکي خارښتی اوښ کې د

فَمن أعدى الأول. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ [1]

خارښت پيدا کېدل د الله په تقدير کېږي همدا شان د نورو اوښانو خارښتی کيدل هم د الله د حکم او د قدرت د نظام مطابق کېږي.

توضيح: الرمل: ريګستان او صحرا ترېنه مراد ده. دد ېنه بانډه چې د صحت منه ماحول ارخ ته اشاره وکړه. (مرقات ۳۴۵/۸)

الظبا: د ظبي جمع ده. هوسی ته وايي، يعني د تندروستي هوسی پشان پرقېدلی بنکاري. (مرقات ۳۴۵/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۵۷۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۴۱/۱۰ رقم الحديث ۵۷۷۰ ومسلم في ۱۲۴۲/۴ رقم الحديث (۱۰۱-۲۲۲۰)

یخالط: ملاوېدلو او د شریک کېدلو په معنی کې دی.

الاجرب: خارښتې اوښ ته وایي. (مرقات۸/۳۴۵)

فیجربها: یعنې دا ټول تندروسته اوښان دا یو خارښتې اوښ خارښتیان کړي، نو دا خو چهوت چهات اثر دی او د یو نه د بیماری د نورو اړخ ته تجاوز اور متعدی کېدو دلیل دی. (مرقات۸/۳۴۵)

الاول: یعنې د ټولو نه اول چې کوم اوښ ته بیماري ولېږدله هغه پرې چا راوستله؟ هغه د الله په حکم او د هغې د قدرت په وجه راغله، نو ځکه د چهوت چهات او د بیماری د تجاوز او متعدی کېدلو عقیده غلطه ده. دا بې حقیقته او بې اصله خبره ده.

د دې قسمه حدیثونو خلاصه دا ده چې د نبي کریم ﷺ نظر به حقیقي علت او حقیقي سبب باندې ؤو. د ابنیاء کرامو د ظاهري اسبابو په ځای د اصل حقیقت خبره د تعلیم په توګه وړاندې کوي او د عوامو او د طبیبانو او د تجربه کارو خلکو نظرونه په ظاهري اسبابو باندې وي، نو ځکه هغوی ظاهري سبب ته نسبت کوي لکه څنګه چې په ابتداء کې لیکلی شوي دی. (مرقات۸/۳۴۵)

ستورو او د پرۍاؤنو هیڅ حیثیت نشته

﴿۴﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا عَدْوَى
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل یو بل ته بیماري لېږدل د
وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صفر. رَوَاهُ مُسلم[1]
هامه، ستوري او د صفر هیڅ حقیقت نشته دی.

توضیح: نوء: د نوء جمع انواء ده. یو تور ستوری یا یو برج مراد دی. شاعر ساحر وایي

جمد القطار و لورئته کماتری بهتت کما تتبجس الانواءُ

د نوء یو مطلب خو دا دی چې د یو ستورې رابښتل او د بل ډوبیدل دي او د ربیع په موسم کې دا بدلون راځي. د عربو عقیده وه چې د دې ستورو د رابښتلو او په ډوبیدلو سره بارانونه کېږي. شریعت دا رد کړه او وې ویل چې باران د الله به حکم کېږي، د ستورو نه نخ کېږي.

نهایه کې لیکل شوي دي چې د نوء جمع انواء ده چې معنی یې سپوږمی او د هغې هغې منزلونه دي. چې منزل ورته وایي. قمر او سپوګمئ اتویش (۲۸) منزلونه دي، لکه قرآن دې اړخ ته داسې اشاره ده ﴿والقمر قدرناه منازل﴾

د جاهلیت خلکو به د همدغه منزلونو او نچهترو اړخ ته منسوب کولو او دا منزلونه به یې د باران

---

[1] رقم الحدیث ۴۵۷۹ اخرجه مسلم في صحیحه ۱۷۴۴ رقم الحدیث (۱۰۶-۲۲۲۰) وابوداود في السنن ۴/۲۳۲ رقم الحدیث ۳۹۱۲.

لپاره مؤثر حقیقي ګڼي، نو په جاهلیت کې د عربو خیال ؤو چې سپوګمئ یا یو ستوری چې د فلانط منزل نه فلاني منزل ته راکوزېږي نو باران کېږي. دا عقیده شریعت شرک وګڼله. د عجم خلک هم خپنط بارانونه دغه قسمه ستورو ارخ ته منسوب کوي. مثلاً کله چې د س ه یل ستوری راوخیجي نو وایي چې دا د سهیل باران دی یا دا د س ه لیئ ے باران دی. دا ګپ ژئی ں باران دی. دا ټول شرکیه عقیدې دي. (مرقات ۳۴۶/۸)

غول او شیشکي نقصان نشي ورکولی

﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَا عَدْوَى

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې یو یو بل ته

وَلَا صَفَرَ وَلَا غُولَ. رَوَاهُ مُسلم[1]

بیماري لږېدل د صفر او د غول هیڅ حقیقت نشته دی.

توضیح: ولاغول: د غول جمع اغوال او غیلان دی. دا د بیریانو او د شیطانانو یو جنس او قسم دی. چې شیشکه ورته وایي. د عربو خیال ؤو چې په ځنګلونو کې دغه قسمه پیریان او شیطانان دي. چې خپل رنګ روغن او شکل او صورت بدلوي او خلک هلاک کوي. او د لارو نه یې بې لارې کوي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا عقیده رد کړه او وې فرمایل چې د الله د حکم نه بغیر غول او شیطانان هیڅ نه شي کولی. تاسو د دې بې حقیقته خطرې نه خطر مه محسوسوئ او د دوی د مشرانو نه پناه مه غواړئ. د غول اصل حقیقت چرېل دی. چې پښتو کې ورته "ګډیرچ" یعنی شیشکه وایي. دا د پیرانو یو قسم دی. چې شکل او صورت بدلولو باندې خلک وېروي. دېنه چې څوک وېرېدلو نو هغه مړ شو، ځکه دا چرېل د شپې مخې ته راځي. کله د اس به شکل کې راشي نو لږ ساعت وروسته د سپي په شکل کې رابنکاره شي، لږ ساعت وروسته د وېرونکي چرېل په شان ښځې په شکل کې رابنکاره شي. څ ساعت وروسته د یو لویې دیو په شکل کې راشي. کله چرګه د خپلو چرګوتو سره کوړک کوړک کولو سره مخې ته راشي. لېدونکي وېرېږي. څوک چې ترېنه وېرېدلو نو هغه مړ شو. او که ترېنه ونه یرېدلو نه هیڅ نه شي کولی. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د همدې حقیقت ارخ ته اشاره کړې ده چې د هلاک کولو طاقت د هغې به لاس کې نشته دی. غول او چرېل صرف وېرول کوي، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د "لا غول" ویلو سره د غول د وجود نه نفي وکړه بلکې د غول د دې کرتبونو د ضرر او نقصان نفي یې وکړه چې وېرېږئ مه، دا هیڅ نقصان نه شي رسولی او نه په دې کې دومره طاقت شته دی چې څوک بې لارې کړي. کوم خلک چې صحرائی او قبائلی نظام نه پیژني نو د دې

---

(۱) برقم الحدیث ۴۸۷۰ أخرجه مسلم في صحیحه ۱۷۴۴/۴ رقم الحدیث (۱۰۷-۲۲۲۲) وابوداود في السنن ۲۳۳/۴ رقم الحدیث ۳۹۱۳.

حديث په مفهوم باندې اسانې سره نه پوهېږي. (مرقات ۸/۳۴۶)

د جذامي نه منع

﴿۶﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ

او حضرت عمرو ابن شريد د خپل پلار نه نقل کوي چې هغې بيان وکړو چې د بنو ثقيف د خلکو چې کوم وفد راغلي ؤو. هغې

رَجُلٌ مَجْذُومٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

کې يو جذامي کس هم ؤو نو نبي عليه السلام ورته وسړی هغې ته وروليږلو او ورته وې ويل چې مونږ ستانه (شفاهي) بيعت اخستي

إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [۱]

دی. لهذا ته لاړ شه (ګويا کې نبي عليه السلام هغه روا ونه ګڼلو چې حاضرين مجلس کراهت محسوس نه کړي).

توضيح: د دې حديث تفصيل مخکې ليکل شوی دی.

الفصل الثاني

نيک فال نيول جائز دی

﴿۷﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَفَاءَلُ وَلَا يَتَطَيَّرُ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به ښه فال نيولو. او بد فال به يې نه نيولو.

وَكَانَ يُحِبُّ الِاسْمَ الْحَسَنَ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ [۲]

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د ښه نوم نو به ذريعه فال نيول خوښول.

مرغۍ پاسول، د هغې نوم او د اواز نه فال نيول شرک دی

﴿۸﴾ وَعَنْ قَطَنِ بْنِ قَبِيصَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْعِيَافَةُ

او حضرت قطن ابن فبيصه د خپل پلار نه نقل کوي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: عيافه او

وَالطَّرْقُ وَالطِّيَرَةُ مِنَ الْجِبْتِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [۳]

طرق او بد فالي نيول دا ټول څيزونه د جبت نه دي.

توضيح: العيافه: عيافه دانې د عربو په نزد يو فن ګڼلې کېږي. او د دې نه د فال راويستلو عام رواج ؤو.

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۸۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۵۲ رقم الحديث (۱۲۶-۲۲۳۱) والنسائي في ۱۵۰/۷ رقم الحديث ۴۱۸۲.

(۲) رقم الحديث ۴۵۸۲ أخرجه احمد في المسند ۲۵۷/۱

(۳) رقم الحديث ۴۵۸۳ أخرجه ابوداود في السنن ۲۲۸/۴ رقم الحديث ۳۹۰۷ وأحمد في المسند ۴۷۷/۳.

د دې صورت به دا ؤو چې وی کس به مرغی والوځوله یا به خپله والوتله، نو دې کس به ورته کتل چې د دې مرغی نوم څه دی. د دې اوزا څنګه دی. او کوم اړخ ته په کوم انداز الوځي. د دې ټولو شیانو به عربو فال نېول. زیاتره به یې د مرغی د نوم او د هغې د اواز فال نېولو. مثلاً که وېرونکي مرغی نوم به بازؤو نو د دې د انجام نه به یې فال اخستلو. او که کارغه به ؤو نو د دې نه به یې د غریب الوطن او د سفر بدفالي نېوله. او که نوم به یې ملاچرچک ؤو نو د هغې نه به یې هدایت او راهنمائی مراد اخستله. عیافه او طیره کې دومره فرق د چې طیره عام دی، هغه که مرغی وي یا ځناور وي او که انسان وي د دوی نه بدفالي نېولو ته طیره وایي، خو عیافه د مارغانو د نومونو او د اوازونو سره خاص دی. نن سبا هم داسې وهم پرست خلک موجود دي چې دې مرض کې اخته دي. (مرقات ۳۴۸/۸)

الطرق: د دې یو مطلب دا دی چې طرق کانړو ویشتلو ته وایي. د عربو په نزد به د فال نېولو دا هم یوه صورت ؤو. هغه خلکو به د خپل مطلب معلومولو لپاره هوا کې کانړي ویشتل او خاوره یا ایره یې شیندله. چې کوم اړخ ته به ایره یا خاوره زیاته وشیندل شوه نو دې خلک به همغه اړخ ته سفر کولو. او بل اړخ به یې منحوس ګڼلو. زمونږ علاقه کې به هم یو یو ښکارې سړې مړه شان بوچئ د ایرو نه ډکوله او بیا به یې په ګوته د هغې مینځ وهلو، نو کوم اړخ ته به چې ایره زیاته لاړه نو هغه کس به همغه اړخ ته د ښکار لپاره تللو. شریعت دا منع کړل چې دا صرف وهم پرستي ده.

د طرق دویم مفهوم دا دی چې د عرب خلکو به په شګه وغیره باندې مختلفې هندسې لیکلي. د غه شان خطونه راښکلو سره به زائچې جوړولي او د هغې نه به یې خپل مطلب راویستلو، لکه څنګه چې رمل او جفر وي. دا هم شریعت منع کړې دي.

الجبت: د لفظ جبت نه یا جادو او کهانت مراد دی، نو مطلبدا به دا وي چې د مارغانو د تېرېدلو نه او د هغې د اوازونو او د نومونو نه او د کانړو ویشتلو او د خاورو شیندلو نه بدفالي اخستل او د هغې نه فال راویستل یا رمل او زائچه په ذریعه حالات معلومول ټول د سحر او د کهانت په حکم کې دي. چې د شرک کارونه دي.

یا د جبت نه مراد شیطان دی، نو د حدیث مطلب به دا شي چې دا ټول کارونه شیطاني دي. شیطان دا خوښوي او خلک دې اړخ ته اماده کوي. (مرقات ۳۴۹/۸)

وهم پرستئ نه د بچ کیدلو علاج توکل دی

﴿۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

الطِّيَرَةُ	شِرْكٌ	قَالَهُ	ثَلَاثًا
بدفالي نېول شرک دی. نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ		اهمیت ظاهرولو لپاره دا خبره دریځله وفرمایل او	

وَمَا مِنَّا إِلَّا وَلَكِنَّ اللهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ.
مونږ کې هر چا لره الله په خپل يقين توکل چلوي (يعني د ايمان تقاضا دا ده چې د يو کار او د سفر د
رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ بِقَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ
قصد او ارادې په وخت کې يو داسې شي ظاهر شي چې هغې سره انساني تقاضي زړه او مازغو کې
يَقُولُ: كَانَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ يَقُولُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: وَمَا مِنَّا إِلَّا وَلَكِنَّ اللهَ
يو وهم او تردد پيدا شي نو دغه وهم او تردد باندې هيڅ يقين مه کوئ بلکې الله باندې توکل او
يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ. هَذَا عِنْدِي قَوْلُ ابْنِ مَسْعُودٍ[1]
يقين کولو سره هغه کار وکړئ يا هغه سفر ته لاړ شئ.

توضيح الطيرة شرك: که د بد فالئ پخه عقيده څوک لري او بد فالې قطعي او يقيني امر ګڼې نو دا شرک جلي دی چې حرام دی. او که د عام عادت مطابق د دستور او د رواج په توګه بد فالئ کوي نو دا شرک خفي دی. د شرک خفي مطلب به دا وي چې دا د مشرکينو په طريقو او د هغوی د عادتونو نه دي. (مرقات ۳۴۹/۸)

بالتوكل: يعني د وهم پرستو نه د بچ کېدو علاج دا دی چې سړی په هر معامله کې په الله باندې يقين وکړي او شکوک او شبهات يې رد کړل او دا عقيده وساته چې کائنا چې څه بدلون او تصرف کې وي. هغه صرف او صرف د الله په لاس کې دي. د ورځو، وختونو او د انسانانو د هغوی د حالات د دې سره تعلق نشته دی. زمونږ نظام د الله به کارونو باندې اثر نه کوي بلکې د الله نظام زمونږ کارونو باندې اثر کوي. د دې روايت په آخر کې امام ترمذی فرمايي چې ما د امام بخاری نه واورېدل چې هغه فرمايي چې "وما منا" تر آخر پورې دا کلام د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل کلام دی. مرفوع حديث نه دی. (مرقات ۳۵۰/۸)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جذامی سړه ډوډۍ وخوړله

﴿۱۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ
او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې (يو ورځ) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو جذامي لاس ونيولو او
فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ وَقَالَ: كُلْ ثِقَةً بِاللهِ
هغه يې د خوراک پياله کې د ځان سره شريک کړو او ويې فرمايل چې خوره، زما په الله باندې اعتماد دی

---

[1] (رقم الحديث ۴۵۸۴ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۰/۴ رقم الحديث ۳۹۱ والترمذي في ۱۳۷/۴ رقم الحديث ۱۶۱۴.

وَتَوَكَّلًا عَلَيْهِ. رَوَاهُ ابْن مَاجَه[1]
او زه د هغې به ذات باندې توکل کوم.

بدفالي هيڅ شی نه دی

﴿۱۱﴾ وَعَن سعدِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:لَا هَامَةَ
او د حضرت سعد ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل نه هامه څه شی دی
وَلَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَإِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ
او نه دیو بل نه ییماري لږبدل څه حقیقت لري او نه بدفالئ کې څه حقیقت شته دی. که په کوم شي کې بدفالي وی نو کور
وَالْفرس وَالْمَرْأَة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
کې، اَس کې او ښځه کې به وی.

توضيح ففی الدار: د دې حدیث تشریح او توضیح د دې نه مخکې شوې ده، خو دلته د دې بحث اصل مقام دی، نو ځکه څه اشاره کول ضروري ده. بدفالي او د نحوست په سلسله کې مختلف حدیثونه منقول دي. ځینې حدیثونو کې مطلباً هر قِسم شیانو نه د بد فالئ نهي او ممانعت ذکر دی او ځینې حدیثونو کې د اَس، کور او د ښځې وغیره ځینې شیانو کې د نحوست ثبوت اړخ ته اشاره موندلی کیږي، لکه څنګه د بحث لاندې حدیث کې دي. لهذا دې مختلف حدیثونو کې تطبیق کول او مناسبت او موافقت پیدا کول ضروري دي، نو علماؤ او شارحین د حدیثو مختلف توجیهات بیان کړي دي. (مرقات ۳۵۲/۸)

توجیه (۱): اولنئ توجیه دا ده چې زیر بحث حدیث کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کلام د فرض او د شرط په توګه دی. چې فرض کړه که دنیا کې کوم شي کې نحوست وی نو دې دري شیانو کې به وی، خو دا چې د نحوست عقیده صحیح نه ده. لهذا دې دري شیانو کې هم نحوست نشته دی. قاضي عیاض هم دغه توجیه کړې ده. چې که په کوم شي کې نحوست وی نو د دې دري څیزونو کې به د دې موقع، محل او امکان وی، خو چې دې کې نشته دی نو په هیڅ څیز کې نشته دی.

توجیه ۲: دویمه توجیه حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حدیث راوي خپله کړې ده. هغه فرمایي چې کور کې د نحوست مطلب دا دی چې دا تنګ ؤو، اَس کې نحوست دا دی چې هغه سرکش وي او ښځه کې

---

(۱) رقم الحديث ۴۵۸۵ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۹/۴ رقم الحديث ۳۹۲۵ والترمذي في ۳۲۴/۴ رقم الحديث ۱۸۱۷.

(۲) رقم الحديث ۴۵۸۶ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۶/۴ رقم الحديث ۳۹۲۱، واحمد في المسند ۱۸۱/۱ .

نحوست دا ده چې بدزبانه او بد اخلاقه وي.

توجيه ۳: درېمه توجيه دا ده چې د ظاهري اسبابو په اعتبار سره درې څيزونو کې نحوست د عامو حديثونو نه مستثنى ګڼلى شوي دي چې په طبعي توګه دې څيزونو کې د نحوست ډخل دى. مؤثر حقيقي صرف د الله ذات دى. (مرقات ۸/۳۵۲.۲۵۲)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به نيک فال نيول خوښول

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعْجِبُهُ

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د يو حاجت لپاره بهر راوتلو نو

إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةٍ أَنْ يَسْمَعَ: يَا رَاشِدُ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به دا ته به خوښه وه چې د چا د ژبې نه داسې واوري: يا راشد يا نجيح يعني يو

يَا نَجِيحُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

كار ته د تللو په وخت کې داسې نومونه اوريدل نيک فال دى.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَتَطَيَّرُ مِنْ شَيْءٍ

او د حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هيڅ شي بد فالي نه اخستله

فَإِذَا بَعَثَ عَامِلًا سَأَلَ عَنِ اسْمِهِ فَإِذَا أَعْجَبَهُ

او كله چې ورته يو عامل (كاركن ته چرته) ليږلو نو د هغې نوم به يې پوښتلو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خوشحاله شو

اسْمه فَرِح بِهِ وَرُئِيَ بِشر ذَلِك على وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهُ

او خوشحالي به د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ مبارک باندې ظاهره شوه او كه د هغې نوم به بد معلوم شو

رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ على وَجْهِهِ وَإِذَا دَخَلَ قَرْيَةً

نو د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ مبارک به خفګان ظاهر شو (تردې چې د هغې نوم به يې په نوم کې بدل کړو)

سَأَلَ عَنِ اسْمِهَا فَإِنْ أَعْجَبَهُ اسْمُهَا

د غه شان كله به چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو بنار ته لاړو نو د بنار د نوم پوښتنه به يې كوله، نو كه د هغې نوم به

فَرِحَ بِهِ وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهَا

نه معلوم شو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خوشحاله شو او په مخ مبارک به يې خوشحالي ظاهره شوه او نوم به يې بد وو

---

[1] (رقم الحديث ۴۵۸۷ أخرجه الترمذي في السنن ۴/۱۳۸ رقم الحديث ۱۶۱۶

رُئِيَ كَرَاهِيَة ذَلِك فِي وَجهه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نو د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خفګان به د هغې په مخ مبارک ظاهر شو.

کور کې د بې برکتئ ذکر

﴿۱۴﴾ وَعَن أنس قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مايوورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو سړي عرض وكړو چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

إِنَّا كُنَّا فِي دَارٍ كَثُرَ فِيهَا عَدَدُنَا

(مخكې) به مونږ كورونو كې اوسيدلو. زمونږ د كسانو شمير به په كې هم زيات ؤو او مونږ سره نبه

وَأَمْوَالُنَا فَتَحَوَّلْنَا إِلَى دَارٍ قَلَّ فِيهَا عَدَدُنَا وَأَمْوَالُنَا.

مال هم ؤو. بيا يو بل كور ته انتقال شو نو هغې كې زمونږ د كسانو شمير هم كم شو او زمونږ مال كم شو.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذروها ذميمة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې اوربدلو سره) وفرمايل چې هغه كور پرېږدئ چې كوم بد دى.

توضيح: ذروها: يعنې چې تاته كور بد ښكاري نو هغه پرېږده. دلته پوښتنه دا پيدا كېږي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د كور نحوست څنګه تسليم كړو حال دا چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په الطيرة شرک كې د دې نفې كړې ده؟ د دې يو يوې كرښې جواب خو دا دى چې نحوست كې درې شيان مستثنى كړى شوي دي. هغې كې كور هم دى. دا همغې اړه ته اشاره ده.

د دې پوښتنې جواب بهترين جواب علامه خطابي كړى دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله وليدل چې دې خلكو ته وهم پيدا شوى دى چې د دې كور په وجه زمونږ مالونو او كسانو كې كموالى راغلى دى او مونږ ته د دې كور په وجه نقصان رارسيږي نو نبي كريم ﷺ هغوى ته د كور د پرېښودلو حكم وركړو چې عقيده يې خرابه نه شي او د وهم د هغوى د عقيدې برخه جوړه نه شي، نو ځكه نبي كريم ﷺ دې كې مصلحت وليدلو او د دې وهم جړله يې غوښه كړى شي او د دې وهم په ګرد كې د ښكې ليدلو نه او په شرک خفې كې د اخته كېدلو نه بچ كړى شي او د كور د پرېښودلو ورته وويل شي. "دا د اسلوب حكيم په توګه ؤو". (مرقات ۳۵۵/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۵۸۸ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۶/۴ رقم الحديث ۳۹۲۰ وأحمد في المسند ۳۴۷/۵.

([2]) رقم الحديث ۴۵۸۹ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۸/۴ رقم الحديث ۳۹۲۴

وباء وهلي علاقې نه د تختيدلو مسئله

﴿۱۵﴾ وَعَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَحِيرٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ فَرْوَةَ بْنَ مُسَيْكٍ

او حضرت يحى ابن عبد الله ابن بحير فرمايي چې ماته هغه چا بيان وكړو چا چې د حضرت فروه ابن مسيک نه

يَقُولُ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

روايت اورېدلى دى چې هغې (يعنې فروه وويل) چې ما عرض وكړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

عِنْدَنَا أَرْضٌ يُقَالُ لَهَا أُبَيْنُ وَهِيَ أَرْضُ رِيفِنَا

مونږ سره يو زمكه ده چې "ابين" ورته وايي او زمونږ د زراعت او غلې زمكه ده (يعنې هغه سبزي منډيي دا چرته

وَمِيرَتِنَا وَإِنَّ وَبَاءَهَا شَدِيدٌ.

چې د نورو ځايونو نه غله راجمع كېږي او نور بنارونو ته لېږل كېږي) خو د دې زمكې وبا سخته ده. (يعنې وبائى

فَقَالَ: دَعْهَا عَنْكَ

مرضونه په كې زيات دي) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (دې اورېدلو سره) وفرمايل چې دا پرېږدئ (يعنې اوسيدل او

فَإِنَّ من القَرَف التّلف. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

تگ وراتگ پرېږدئ ځكه هغه د طاعون اثر كړى شوي ابادئ په حكم كې ده) او وبا هلاكت او د هلاكت سبب دى.

توضيح: **ابين**: دا د هغه ځمكې او علاقې نوم دى چې د كوم باره كې صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسئله پوښتلې وه.

ريفنا: ريف زراعت ته وايي. **وميرتنا**: ميرة غلې ته وايي. **دعها**: يعنې دا پرېږده. (مرقات ۳۵۶/۸)

الرف: وبائى مرض ته قرف ويل شوى دى. د قرف اصل ترجمه نزدې والى دى.

التلف: دا د هلاكت په معنى دى. مطلب دا دى چې د وبائى مرضونو نزدې والى او راتللو سره هلاكت واقع كېږي. لهذا تاسو دا ځكه پرېږدئ او بل ځاى ته لاړ شئ.

پوښتنه: دلته دا پوښتنه ذهن كې پيدا كېږي چې د وبائى مرضونو د ځاې نه د تښتيدلو نه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع كړې ده. دېرو صحيح حديثونو كې د دې ثبوت شته دى، نو بيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې حديث كې خلكو ته وبائى زمكې نه د تښتېدلو اجازت څنګه وركړو؟

جواب: د دې پوښتنې يو جواب علامه طيبي كړى دى. چې خلاصه يې داده چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عدوى او ذات پات باندې د عمل كولو اجازت نه دى كړى. او نه دا اجازت د عدوى له نقطۀ نظره دى بلكې د اصول طب او د حفظان صحت په بنياد باندې دا حكم ؤو، ځكه د هغه ځاى

---

[1] رقم الحديث ۴۵۹۰ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۸/۴ رقم الحديث ۳۹۲۳ وأحمدي المسند ۴۵۳/۳

اوبه او هوا د هغه خلکو د طبیعتونو موافق نه ؤو. گویاکې د دې حدیث تعلق د وبائی مرضونو سره نه دی. بلکې د حفظ ما تقدم په بنیاد د حفظان صحت سره د دې تعلق دی چې کله د علاقې اوبه او هوا ستاسو موافق نه وي نو هغه علاقه پرېږدئ او لاړ شئ.

د دې پوښتنې دویم جواب دا دی چې نبي کریم ﷺ هغه خلکو د ځای بدلولو حکم د هغوی د عقیدې ت تحفظ په بنیاد ورکړی ؤو، ځکه هغوی په وهم کې ؤو. چې کېدی شي دا ځای زمونږ موافق نه وي. او په همدې وجه مصیبتونه مونږ ته متوجې وي. ممکنه وه چې د هغوی دا وهم به عقیده کې بدل شوی وی او بد فالئ په بده عقیده کې اخته شوی وی، نو ځکه د دې د ختمولو لپاره نبي کریم ﷺ د مصلحت په خاطر هغوی ته د تللو حکم وکړو. د دې حدیث نه دا استدلال کول صحیح نه دی چې د وبائې ځایونو نه تښتېدل جائز دي. مسئله دا چې د وباء ښورېدلو نه مخکې د هغې ځای نه تلل جائز دي. د هغې نه وروسته د مرګ د وېرې نه تښتېدل جائز نه دي، خو د شریعت دا هم حکم دی چې د بهر نه راتلل او د وبائی مرضونو په علاقه کې داخلیدل هم منع دی. سیلاب او طوفان او اور د زلزلې نه تښتېدل او محفوظ مقام ته تلل جائز دي. دا په وبائي مرض باندې قیاس کول کېدی نه شي. (مرقات ۳۵۲/۸)

الفصل الثالث

بد فالئ نه د بچ کیدلو دعا

﴿۱۶﴾عَن عُرْوَة بن عَامر قَالَ: ذُكِرَتِ الطِّيَرَةُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عروه بن عامر (تابعی) فرمایي چې د نبي کریم ﷺ مخې ته د بد فالئ ذکر وشو

فَقَالَ:" أَحْسَنُهَا الْفَأْلُ وَلَا تَرُدُّ

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې د دې بهترین صورت (ښه فال) دی. او (یاد وساتئ) هیڅ

مُسْلِمًا فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ

مسلمان لره دې یو بد فال منع نه کړي او تاسو کې چې کوم یو کس دا سې څیز اوینې چې هغه یې نه خوښوي

فَلْيَقُلْ: اللهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ

نو هغې له پکار دي چې دا دعا اوایي "اللهم لا یاتی الخ" ای الله د ښو اوبدو راوستلو والا صرف ته یې او صرف

وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

ته بدئ او خرابوالی لرې کونکی یې او د بدو نه مخ اړول او د نیکو اړخ ته د تللو توفیق او طاقت د الله له ارخه دی.

([1]) رقم الحديث ۴۵۹۱ أخرجه ابوداود في السنن ۲۳۵/۴ رقم الحديث ۳۹۱۹.

باب الكهانة
د کاهنانو بیان

د لغت کتاب په صراح کې لیکلی شوي دي چې کهانت فال نیولو ته وایي او فال نیول کاروبار ته هم کهانت وایي. د دې کاروبار کونکې ته کاهن وایي. علامه طیبي فرمایي چې کاهن هغه کس ته وایي چې د راتلونکې واقعاتو او د حادثاتو خبر ورکوي او د راروان وخت د علم غیب او معرفت او رازونو دعوی هم کوي. یعنې د ننبانو او علامتونو نه معلومولو باره کې چې کوم کس د علم غیب پښیګویي کوي نو داسې کس ته به عربو کاهن هم ویله او عراف به یې هم ورته ویله. د ستورو حالتو کتلو سره نجومي او لاس کتلو سره فال راویستونکی یا د طوطي په ذریعه یا د رمل جفر او د ابجد وغیره هندسو په ذریعه د مستقبل خبر ورکول ټول د کهانت په دې کاروبار کې داخل دي. (مرقات ۳۵۷/۸ الکاشف : ۳۵۴/۸)

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پیدائش او د بعثت نه مخکې د عربو په معاشره کې د کهانت ډیر شهرت وه. تردې چې د عدالت فیصلي او لوی لوی جګړې به یې د کاهنانو په ذریعه ختمولي.

د بنو زهره یوې کاهنې بنځې چې کله د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والده محترمه آمنه لیدلې وه نو وې ویل "دا بنځه به یا شنډه وي یا به د دې د خیټې نه نذیر پیدا کېږي" د بنو زهره دي بنځې د سردار عبدالله د حلالکي په بدل کې سَل (۱۰۰) اوښان مقرر کړي ؤو.

د عربو په معاشره کې د کاهنانو مختلف قسمونه ؤو

۱: د ځینې کاهنانو به مستقیماً د پیریانو او د شیطانانو سره روابط ؤو. شیطانان به اسمان ته نژدې لاړل او د فرښتو نه به یې د راتلونکې واقعي والا خبره واورېدله او کاهنانو ته به یې رسوله. کاهنانو به د یوې خبرې سل دروغ وټړل او خپل کاروبار به یې روان کړی ؤو او خلکو نه به یې بیوقوفه جوړ کړي ؤو. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بعثت نه وروسته دا سلسله ختمه شوه او د پیریانو او د شیطانانو د اسمان نه شهاب ثاقب باندې د ویشتلو سلسله شروع شوه.

۲: ځینې کاهنان به په روحاني اعتبار سره خبیثان ؤو. لهذا د هغوی سره به د خبیث روحونو روابط ؤو او هغه کاهنانو به د ارواحِ خبیث نه استفاده کوله او د خدای مخلوق به یې بې لارې کولو.

۳: ځینو کاهنانو به د زمکې او اسمان د علامات سماوي او د علامات ارضی او د خلک شخصي علامات ته په کتلو به یې بې سره او بې ښپې خبرې کولې او خپله دنده به یې روانه کړې وه. اسلام دا ټولې انې بانې حرام کړې او په دې باندې ټوله ترلاسه کړي شوي ګټه یې حرامه کړه. لهذا د کاهن دا عمل حرام دی او هغې له شیریني وغیره ورکول هم حرام دي.

الفصل الاول

کهانت او رمل ناجائز دی

﴿۱﴾عَن مُعَاوِيَة بن الحكم قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أُمُورًا

حضرت معاويه ابن حكم فرمايي چې ما عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ! داسې ډير شيان دي چې

كُنَّا نَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ كُنَّا نَأْتِي الْكُهَّانَ

مونږ به د جاهليت زمانه كې كول. هغې كې خو يو دا دی چې مونږ به كاهنانو له تللو او د هغوی نه

قَالَ: فَلَا تَأْتُوا الْكُهَّانَ

به مو د غيبو خبرو باره كې پوښتنې كول. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تا كاهنانو له مه خئ.

قَالَ: قُلْتُ: كُنَّا نَتَطَيَّرُ

حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما عرض وكړو چې يو دا شيز هم دی چې مونږ بد فالي نيولې.

قَالَ: ذَلِكَ شَيْءٌ يَجِدُهُ أَحَدُكُمْ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې دا يو داسې شی دی چې تاسو يې خپل زړه كې محسوسولی شئ خو چې دا تاد څه كار نه ايسار نه

فِي نَفْسِهِ فَلَا يصدَّنَّكم.

كړي يعنې كه تاسو دانسان په تقاضا بد فالي ؤوم كړي نو د دې نه په متاثره كېدلو سره خپل قصد او اراده مه پرېږدئ، ځكه بد فالي

قَالَ: قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ

دوهم نه بغير بل هيڅ حقيقت نه لري. حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما عرض وكړو يو بل شيز هم دی چې زمونږ نه

يَخُطُّونَ قَالَ: كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ

بعضو به څه كرښې ايستلې او خطونه به مو رانښكل. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې انبياؤ كې يو نبي تير

يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاك. رَوَاهُ مُسلم [1]

شوی دی چې كرښې او خطونه به يې رانښكل. لهذا د چا خط چې د هغې موافق وي نو هغه به مباح وي.

توضيح فلايصدنكم: يعنې ستاسو دا وهمونه به ستاسو كار ونه كړي. د الله په يقين كار كوئ. (مرقات ۳۵۸/۸)

يخطون: يعنې كرښې به يې ويستلې او څه خاني (جدول) به يې جوړولې. دا د علم رمل او حفر ارخ ته اشاره

---

[1] رقم الحديث ۴۵۹۲ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۴۸/۴ رقم الحديث (۱۲۱-۵۳۷) وأبوداود في السنن ۲۲۹/۴ رقم الحديث ۳۹۰۹

ده. چې د خطونو او د زائچو د حساب په ذریعه به خلکو مستقل معلومات حاصلول. (مرقات ۳۵۸/۸)

نبي من الانبیاء: شارحین لیکي چې د هغه نبي نه یا حضرت دانیال عَلَيْهِ السَّلَام یا حضرت ادریس عَلَيْهِ السَّلَام مراد دی. الله هغې ته د معجزې په توګه د رمل او جفر علم ورکړی وُو. دا چې د رمل او د جفر علم نسبت یو نبي ته وُو، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ډېر حیمانه انداز سره دا امت د دې علم نه منع کړو او د مخکښ نبي د هغې په عمل یې اعتراض هم ونه کړو. او ویې فرمایل چې یو نبي به داسې عمل کولو خو دا چې مأمون او محفوظ او معصوم وُو او د مجزې به توګه به یې داسې کولو نو ځکه د هغې عمل صحیح وُو. اوس که ستاسو دا عمل د هغه نبي د عمل سره بالکل موافق شي نو صحیح به وي او که موافق نه شي نو صحیح به نه وي. اوس تاسو خپله فیصله وکړې چې کله تاسو معلومه هم نه ده چې ستاسو عمل د هغه نبي د عمل سره موافق دی یا نا نو تاسو دا فیصله نه شئ کولی، نو بیا د دې عمل هیڅ حیثیت نه پاتېږي. لهذا تاسو د دې نه ځان وساتئ ځکه دا علم او د دنیا نه اخستل شوی دی. دغه حکیمانه جواب سره نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه عمل هم منع نه کړو او په هیڅ یو نبي باندې اعتراض هم ونه شو. (مرقات ۳۵۹/۸)

د کهانت بنیاد څنګه دی؟

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَأَلَ أُنَاسٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكُهَّانِ

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې خلکو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د کاهنانو باره کې پوښتنه وکړه

فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُمْ

نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته وفرمایل چې هغه هیڅ نه دي یعنې هغوی چې د کومو خبرو دعوی کوي

لَيْسُوا بِشَيْءٍ قَالُوا:

هغه بې بنیاده دي، نو ځکه د هغې په ویلی شوؤ خبرو باندې یقین مه کوئ. خلکو عرض وکړو چې

يَا رَسُولَ اللهِ فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا بِالشَّيْءِ يَكُونُ حَقًّا

یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ځینې ځل هغوی داسې خبره وکړي یا یو داسې خبر راکړي چې رښتیا وي.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې هغه خبره رښتیا وي چې کوم هغوی (یعنې شیطانان) معلومې کړی.

فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ قَرَّ الدَّجَاجَةِ

او خیل ملګری (کاهن) ته یې غوږونو کې داسې واچوي څنګه چې یو چرګه بله چرګه د دانو لپاره راغواړي

فَيَخْلِطُوْنَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كذبة (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

نو بيا هغه كاهن د دې خبرې سره سل (۱۰۰) خبري د دروغو يو ځاې كړي (بخاری ومسلم)

توضيح: يكون حقا: يعنې كله كله د هغه كاهنانو ويل شوې خبره صحيح ثابت شي. د دې څه وجه ده

يخطفها: نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وويل چې د كاهنانو يوه نيمه خبره چې صحيح ثابت شي د هغې اصل حقيقت دا دی چې اسمانونو ته د الله يو حكم راشي. د اسمان د لاندې د اوريځو د لاندې فرښتې خپلو كې د دې حكم متعلق خبرې كوي. پيرانو كې سركشه قسمه شيطانان د اسمان د لاندې اوريځو كې پټ پټ ورځي او د فرښتو نه يوه خبره واوري او زمكي ته يې راوړي. (مرقات ۳۵۹/۸)

فيقر: د چرګې كوړک كوړک اواز ته وايي. يعنې چرګه چې كله بله چرګې ته د دانو لپاره راولي او د كوړک كوړک اواز كوي. دغه شان دا پيرې د خپل كاهن ملګري او د كاهن (ترويتي) په غوږونو كې د پاس خبره واچوي او هغه د دې سره سل دروغ يو ځای كړي. راروان حديث نمبر ۹ كې د شيطانانو د بښتلو طريقه ويل شوي ده. وېرندونكی شيطان د ټولو نه لاندې زمكه باندې وي د هغې په اوږه بل ودرېږی او دغه شان د ټولو نه زړه ور د پاس اسمان اوريځو ته ورسيږي. د پاس نه هغه به شهاب ثاقب ويشتلی كېږي. كه په څوک پرې ولږېږي نو هغه مړ كېږي يا بيخې لېونی شي، خو د دې ټولو كوشش دا وي چې اورېدلی شوي خبرې ځمكې پورې راشي او د هغوی د بې لارې كولو كار جاري شي. (مرقات ۳۵۹/۸)

يو رښتيا سره سل دروغ

﴿۳﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ الْمَلَائِكَةَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې د فرښتو يو جماعت

تَنْزِلُ فِي الْعَنَانِ وَهُوَ السَّحَابُ · فَتَذْكُرُ الْأَمْرَ

چې كله عنان يعنې اوريځو كې كوز شي او (خپل مينځ كې) د هغه خبرو او كارونو تذكره كوي چې

قُضِيَ فِي السَّمَاءِ فتسترق الشياطينُ السمعَ

كوم اسمان ته نژدې وي (او دنيا كې واقع كېدونكي دي) نو شيطانان په پټه د هغه خبرو اورېدلو ته غوږ

---

[1] رقم الحديث ۴۵۹۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۹۵/۱۰ رقم الحديث ۶۲۱۳ ومسلم في ۱۷۵۰/۴ رقم الحديث (۱۲۳-۲۲۲۸)

فَتُوحِيهِ	إِلَى	الْكُهَّانِ	فَيُكَذِّبُونَ	مَعَهَا
ونيسي او كله چې هغوى كومه واوري نو هغه كاهنانو ته وروړسوي او هغه كاهنان د شيطانانو نه د				
مِائَةَ كَذْبَةٍ من عِنْدِ أنفسهم. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]				
اوربدلې شوؤ خبرو سره سل دروغ يو ځاى كړي.				

نجومیانو ته د تلونکو څلوښت ورځې لمونځ مردود

﴿ ۴ ﴾ وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَتَى عَرَّافًا

او حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كوم كس چې نجومي يا كاهن ته ورغلو

فَسَأَلَهُ	عَنْ	شَيْءٍ	لم	تقبل
او د هغې نه يې څه وپوښتل (يعنې د غيب خبرې معلومې كړي) نو د هغې څلويښت (۴۰)				
صَلَاةَ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً. رَوَاهُ مُسلم[2]				
ورځو پورې لمونځ نه قبلېږي. (مسلم)				

توضيح: صلوة اربعين ليلة: يعنې د شپې او د ورځې لمونځ يې نه قبلېږي يا يې د تهجد لمونځ نه قبلېږي. دا سزه د هغه كس ده چې د نجومي تصديق يې وكړو. دا څومره د محرومئ خبره ده چې انسان د خپل مهم عبادت د لمونځ نه محرومه شي او دا څومره سخت جرم دى. چې تر د څلويښتو (۴۰) ورځو پورې لمونځ پاتې شي. حال دا چې د نجومي سره هيڅ يقيني علم نه وي. بلكې ټولي هوكې دي. (مرقات ۳۶۲/۸) بابا سعدى په ګلستان كې يوه قصه ليكلې ده چې د يو نجومي په كې هغې د ښځې سره يو نااشنا سړى ننوتلى ؤو او مزي يې كولي او نجومي بازار كې خلكو ته د سمان خبرې كولي، نو سعدى بابا ورته وفرمايل.

بر اوج فلک چه دانی چیست — چوں نه دانی که در سرائے تو کیست

يعنې ته به د اسمان د اوچتوالي كومه يوه خبره معلومه كړي او حال دا دى چې تاته دا پته هم نشته دى چې ستا په كور كې څه كېږي؟

علامه اقبال د نجوم د فن متعلق ويلي.

تیری تقدیر کو اختر شناس کیا جانے — تو خاک زندہ ہے تو تابع ستارہ نہیں

([1]) رقم الحديث ۴۵۹۵ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۰۴/۶ رقم الحديث ۳۲۱۰.

([2]) رقم الحديث ۴۵۹۵ اخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۳۱/۴ رقم الحديث (۱۵-۲۲۳۰) راحدي المسند ۶۸/۴.

ستوري دباران سبب كفل كفر دی

﴿۵﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ: صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ

او حضرت زيد ابن خالد جهنمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته سحر كې لمونځ وكړو

بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى أَثَرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَّا انْصَرَفَ

په مقام حديبيه كې، او د شپې باران شوی ؤو. كله چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لمونځ نه فارغ شو

أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ: هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُم؟

او متوجې كېدلو سره يې وفرمايل چې آيا تاسو پوهېږئ ستاسو پروردګار دا وخت څه فرمايلي دي.

قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُه أَعلم قَالَ:

صحابه كرامو عرض وكړو چې الله او د هغې رسول ښه پوهېږي. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ

الله فرمايلي دي چې زما بنده ګانو (ښ) دي حال كې شپه كړه چې ځينو په ما ايمان راوړو او ځينو كفر وكړو،

فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي

نو چا چې دا وويل چې مونږ باندې د الله فضل او د هغې په رحمت باران شوی دی نو هغې ما باندې ايمان راوړو

كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ:

او په ستورو يې كفر وكړو (يعنې د ستورو د اثر منكر دي) او كوم چې وويل چې د فلاني ستورې په راښتلو

مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِن بِالكوكب "(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

او د فلاني ستورې په ډوبيدلو په وجه مونږ باندې باران وشو نو هغه په ما كفر وكړو. (بخاری ومسلم)

توضيح: كافر بې: كه څوك د باران په ورېدلو كې د يو ستوري مثلاً سهيل، ګپ اور مشتري مؤثر حقيقي ګڼي نو دا سړی كافر كېږي. او كه د هغه عقيده دا وي چې باران فقط الله وروي. دا ستوري ظاهري اسباب دي نو دا كفر نه دی خو دا عقيده ساتل مكروه ده. د حديث د الفاظو نه مطلق حرمت معلوميږي. (مرقات ۳۶۴/۸)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَا أَنْزَلَ اللهُ مِنَ السَّمَاءِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې كله هم الله د اسمان

---

[1] رقم الحديث ۴۵۹۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۳/۲ رقم الحديث ۸۴۶ ومسلم في ۸۳/۱ رقم الحديث (۱۲۵-۷۱)

مِنْ بَرَكَةٍ إِلَّا أُصْبِحَ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ بِهَا كَافِرِينَ
کوم برکت را نازلوي نو د انسانانو يو نا يو جماعت د هغي په ذريعه کفر کي اخته کيږي. (يعني څه نه څه خلک ضرور داسي
يُنْزِلُ اللهُ الْغَيْثَ
وي چې دا برکت الله ته د منسوبول په ځای نورو اسبابو او ذرائعو ته منسوبوي، لکه الله باران اوروي
فَيَقُولُونَ: بِكَوْكَبِ كَذَا وَكَذَا". رَوَاهُ مُسلم[1]
نو ځينې خلک وايي چې د فلاني ستوري په اثر باران وشو.

الفصل الثاني

علم نجوم او سحر او جادو يو شی دی

﴿۷﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې د علم نجوم يوه برخه زده
اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ
کوي نو ګويا کې د علم سحر يوه برخه زده کوي. همدغه شان هغه هغه هومره د سحر علم زده کوي
زَادَ مَا زَادَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه[2]
څومره چې هغه د نجوم علم زده کوي.

د نجومیانو تصدیق کول حرام دی

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَتَى كَاهِنًا
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې څوک کاهن ته لاړ شي
فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ أَوْ أَتَى امْرَأَتَهُ حَائِضًا
او د هغه ويلي شوي خبري رښتيا وګڼي يا چې څوک د حيض په حالت کې د خپلې ښځې سره هم بستري وکړي
أَوْ أَتَى امْرَأَتَه من دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا
يا چې څوک د خپلې ښځې سره د شا نه بد فعلي وکړي نو دا د هغه څيز (يعني قرآن او سنت) نه بيزاره شو

([1])رقم الحديث ۴۵۹۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۸۴/۱ رقم الحديث (۱۲۶-۷۲) والنسائي في السنن ۱۱۴/۴ رقم الحديث ۱۵۲۴

([2])رقم الحديث ۴۵۹۸ أخرجه ابوداود في السنن ۲۲۶/۴ رقم الحديث ۳۹۰۵ وابن ماجه في ۱۲۲۸/۲ رقم الحديث ۳۷۲۶.

أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ. رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد[1]
چې کوم په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شوی دی.

توضيح برئ: که د نجومې تصديق يې هم وکړو او دا حرام کار يې حلال وګڼلو نو دې صورت کې دا کس يقيني کافر شو او که دې کار ته يې حلال ونه ويله بلکې د معصيت په درجه کې ګناه وکړه نو بيا دا حديث د تشديد او تهديد او توبيخ او تغليظ باندې حمل کېږي. (مرقات ۳۶۶/۸)

الفصل الثالث

کاهنانو ته د غيبو خبره ځنګه رسي

﴿۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا قَضَى اللهُ
د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څه وخت چې الله
الْأَمْرَ فِي السَّمَاءِ ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا
اسمان کې د يو څه حکم کوي نو فرښتې د الله حکم اوريدلو سره په وېرې او عاجزی سره خپلې ځنګلې اوپرې توي
لِقَوْلِهِ كَأَنَّهُ سِلْسِلَةٌ عَلَى صَفْوَانٍ فَإِذَا
او الله د حکم اواز د هغه زنجير په شان وي چې صوم په پاک کانې باندې راښکل شي. بيا چې کله د
فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا: مَاذَا
فرښتو د زړونو نه وپره لرې شي او هغه فرښتې د هغه نزدې فرښتو نه پوښتنه کوي چې ستاسو
قَالَ رَبُّكُمْ؟ قَالُوا: لِلَّذِي
پروردګار څه حکم کړی دی. مقربې فرشتې ورته هغه حکم ؤوايي، کوم چې الله جاري کړی دی
قَالَ الْحَقَّ وهوَ العلِيُّ الكبيرُ فَسَمِعَهَا
حق دې او د الله ذات اوچت، او د اوچتې مرتبې والا دی، نو دا خبرې د چې د فرښتو په مينځ کې کېږي،
مُسْتَرِقُوا السَّمْعِ ومُسْتَرِقوا السَّمْعِ
په پټه اوريدونکي (يعنې پيريان او شيطانا) يې واوري او هغوي په پټه سره د اوريدونکو هيئت د

---

[1] رقم الحديث ۴۵۹۹ أخرجه ابوداود في السنن ۲۰۲۵/۴ رقم الحديث ۳۹۰۴ والترمذي في ۲۴۳/۱ رقم الحديث ۱۳۵

هَكَذَا بَعْضُهُ فَوْقَ بَعْضٍ وَصَفَ سُفْيَانُ بِكَفِّهِ فَحَرَّفَهَا وَبَدَّدَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ

خپل لاس (د ګوتو) په ذریعه بیان کړي، نو هغوی لاس کوږ کړو او د ګوتو به مینځ کې یې جدا والی وکړو

فَيَسْمَعُ الْكَلِمَةَ فَيُلْقِيهَا إِلَى مَنْ تَحْتَهُ ثُمَّ يُلْقِيهَا الْآخَرُ

او د پاس والا چې د کومو فرښتو خبرې پتې اوري او لاندې پیریانو ته یې رسوي او هغه یې لاندې

إِلَى مَنْ تَحْتَهُ حَتَّى يُلْقِيَهَا عَلَى لِسَانِ

پیري ته رسوي تردې چې هغه آخري پیریی (چې د ټولو نه لاندې وي) دا خبره ساحر یا د کاهن ژبې

السَّاحِرِ أَوِ الْكَاهِنِ. فَرُبَّمَا أَدْرَكَ

ته ورسوي. دلته (د هغه پیریانو او شیطانانو ویشتونکي او په منډه کولو لپاره د اسمان نه شعلې راغوزاروي نو) کله

الشِّهَابُ قَبْلَ أَنْ يُلْقِيَهَا

دا شغلي ساحر یا کاهن ته د رسولو نه مخکې پټ اوربدونکی (پیری) راونیسي. او کله داسې کېږي چې هغه پیری

وَرُبَّمَا أَلْقَاهَا قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَهُ

د دې شغلي د رسیدلو نه مخکې ساحر یا کاهن هغه خبره روسي نو هغه دې سره سل دروغ یو ځای

فكذب مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ

کړي (او د خلکو مخې ته د دې دروغو خبرو به مینځ کې هغه خبره هم بیان کړي چې کوم ورته د دې پیریانو او د شیطانانو په

فَيُقَالُ: أَلَيْسَ قَدْ

ذریعه رسیږي) نو کله چې څوک دا کاهن د دې په ویلو شوي خبرو کې د دروغو خبرو په ذریعه دروغژن کړي

قَالَ لَنَا يَوْمَ كَذَا

(یعنې دا ورته ویل کېږي چې دې چې کومه فلانئ فلانئ خبره کړې وه هغه دروغژنه ثابته شوه، نو د دغه بې لارې

وَكَذَا: كَذَا وَكَذَا؟

خلکو له اړخه نه چې د کوم کاهن خبرې ریښتیا ګڼي د دروغژن کونکي مخې) ته دا وایي چې آیا دا

فَيَصْدُقُ بِتِلْكَ الْكَلِمَةِ الَّتِي

حقیقت نه دی او آیا ته پوهېږي چې دې کاهن په فلانئ فلانئ ورځې دا خبره کړې وه او دغه شان د

سُمِعَتْ مِنَ السَّمَاءِ". رَوَاهُ البُخَارِيّ[1]
دې کاهن د ربښتيا ؤ تصديق په دې خبره وشي چې دې ته د (پيريانو په ذريعه) د اسمان نه رارسيدله.

توضيح: خضعاناً: عاجزي او تواضع او وېرې په توګه د څنګلو پرقولو ته وايي.

صفوان: مضبوط غټ کانې ته وايي. فزع: يعنې کله چې د فرښتو د زړونو نه وېره لرې شي.

ماذا قال ربكم: د لاندې اسمان والا فرښتې د مقربو فرښتو نه پوښتنه کوي چې د الله څه حکم دی؟ (مرقات۸/۳۶۷)

الحق: يعنې مقربي فرښتې ورته وايي چې کوم حکم د الله راغلی دی هغه حق دی.

فحرفها: يعنې سفيان ثوری د شيطات د باس ښتلو کيفيت وويله. هغې خپل لاس کاږه کړل او ګوتې يې د پاس نه کيښودلو سره په مينځ کې فرق وکړو. حديث نمبر ۲ کې د کيفيت تفضيل ليکلی شوی دی چې کوم د ټولو نه وېرېدونکی دی هغه به ځمکه باندې کيني. د هغې د پاسه بل کيني. او دا سلسله تر پاس پورې ورسيږي. (مرقات۸/۳۶۸)

د شهاب ثاقب حقيقت

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابنِ عبَّاسٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابه کرامو کې يو
مِنَ الْأَنْصَارِ: أَنَّهُمْ بَيْنَا جُلُوسٌ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
صحابي ماته بيان وکړو چې يو ځل د شپې وخت کې صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ناست ؤو
رُمِيَ بِنَجْمٍ وَاسْتَنَارَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
چې يو ستوري باندې ويشتل وشو او د هغې رڼا تيزئ سره ښوره شوه (دې ليدلو سره) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هَذَا؟
صحابه کرامو ته وفرمايل چې تاسو به د جاهليت په زمانه کې داسې د ستورو ويشتلو ته څه ويل؟
قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ كُنَّا نَقُولُ:
صحابه کرامو عرض وکړو چې د حقيقت حال باندې الله او د هغې رسول ښه پوهيږي. مونږ خو به ويل

---

[1] رقم الحديث ۴۶۰۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۵۳۷/۸ رقم الحديث ۴۸۰۰ والترمذي في ۳۳۷/۵ رقم الحديث ۳۲۲۳

وُلِدَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ عَظِيمٌ وَمَاتَ رَجُلٌ عَظِيمٌ

چې نن شپه څوک غټ سړی پیدا شوی دی او (کله به مو دا ویل چې) نن شپه کوم لویی سړی مړ شوی دی.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَإِنَّهَا لَا يُرْمَى بِهَا لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ستوری نه د چا په مرګ سره نه ویشتلی کیږي او نه د چا په پیدائش باندې ویشتلی کیږي.

وَلَكِنَّ رَبَّنَا تَبَارَكَ اسْمُهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا

بلکې حقیقت دا دی چې زمونږ رب چې نوم یې د برکت والا دی. کله چې کوم حکم جاري کوي نو د

سَبَّحَ حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثُمَّ سَبَّحَ

الله د عرش اوچتونکي فرښتي تسبیح (یعنې سبحان الله، سبحان الله ذکر شروع کړي) بیا (د هغوی د تسبیح اواز اورېدلو

أَهْلُ السَّمَاءِ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ حَتَّى

سره) د اسمان فرښتي تسبیح وایي چې د عرش اوچتونکو والا فرښتو سره نژدې دي. تر دې چې د

يَبْلُغَ التَّسْبِيحُ أَهْلَ هَذِهِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا ثُمَّ

هغوی د تسبیح اواز (د یو بل اسمان نه تېرېدلو سره) د دنیا د اسمان والا فرښتو ته ورسیږي. بیا

قَالَ الَّذِينَ يَلُونَ حَمَلَةَ الْعَرْشِ لِحَمَلَةِ الْعَرْشِ: مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟

هغه فرښتي چې د الله عرش ته نژدې وي د عرش د اوچتونکو فرښتو نه تپوس کوي چې ستاسو پروردګار څه فرمایلي دي؟

فَيُخْبِرُونَهُمْ مَا قَالَ: فَيَسْتَخْبِرُ بَعْضُ أَهْلِ السَّمَاوَاتِ

هغه فرښتي هغوی ته خبره وکړي چې کومه پروردګار کړې ده. بیا هغه خبره نورې فرښتې هم معلومه کړي

بَعْضًا حَتَّى يَبْلُغَ هَذِهِ السَّمَاءَ الدُّنْيَا

او د هغوی نه نورې فرښتې تردې چې دا سلسله د اسمان والا دنیا باندې اوسیدونکو ته ورسیږي.

فَيَخْطَفُ الْجِنُّ السَّمْعَ

بیا د هغوی اورېدلی شوي خبره پیریان یوسي یعنې هغوی غوږ ایخی وي او د داسې خبرو په انتظار کې وي او کله چې

فَيَقْذِفُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ

هغوی په پټه کومه خبره واوري نو هغه د هغه ځای نه ویسي او خپلو ملګرو ته یعنې کاهنانو ته یې ورسوي، نو د هغه

وَيُرْمَوْنَ فَمَا جَاؤُوا بِهِ

پیریانو د ویشتلو لپاره ستوري ویشتلی کیږي د غه شان که کاهن چې خبره، کومه چې د اسمان نه اورېدلی

عَلَى	وَجْهِهِ	فَهُوَ	حَقٌّ
شوي ده او د پيريانو په ذريعه هغي ته را رسيږي همغه شان بيان کړي نو هغه يقيناً صحيح ثابيت شي، خو هغه			
وَلَكِنَّهُمْ	يَقْرِفُونَ	فِيهِ	وَيَزِيدُونَ". رَوَاهُ مُسلم (۱)
کاهن داسي نه کوي بلکي د هغي سره د دروغو خبرې يو ځاي کړي او د يوې خبرې نه دېرې خبرې جوړې کړي.			

ستوري د کوم مقصد لپاره پيدا کړی شوي دي؟

﴿۱۱﴾ وَعَن	قَتَادَةَ	قَالَ:	خَلَقَ اللهُ تَعَالَى هَذِهِ النجومَ لثلاثٍ
او حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې الله ستوري د دري خبرو لپاره پيدا کړي دي. يو خو دا چې دا يې			
جَعَلَهَا	زِينَةً	لِلسَّمَاءِ	وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ
د اسمان د ښايست لپاره پيدا کړي دي او دويم دا چې د شيطانانو او د پيريانو د ويشتلو لپاره او			
وَعَلَامَاتٍ	يُهْتَدَى	بِهَا	فَمن
دريم د علاماتو لپاره چې خلک د هغي په ذريعه (ځنګل او سمندر کې) خپله لاره معلومه کړي شي. لهذا څوک چې دي (ستورو			
تَأَوَّلَ	فِيهَا	بِغَيْرِ	ذَلِكَ أَخْطَأَ وَأَضَاعَ
کې د دي خبرو نه بغير بل کوم غرض بيان کړو نو هغي خطا وکړه، خپله برخه يې ضايع کړه او ويا په هغه څيز کې څه تکليف چې			
نَصِيبَهُ	وَتَكَلَّفَ		مَا
په هغي هغه نه پوهېږي (يعني د اسمان د شيانو باره کې چې کوم حقوق دي د هغي علم د قرآن او سنت نه بغير په بله کومه طريقه			
لا	يَعْلَمُ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ
حاصلول امکان نه لري او چې به قرآن او سنت کې د ستورو غرض د دي دري خبرو نه بغير بل کوم بيان نشته دی نو د ذکر خبرو			
تَعْلِيقًا	وَفِي	رِوَايَةٍ	رَزِينٍ:
نه بغير بل يو غرض بيانول، د داسي خبرې بيانول دي دي چې معلومېدل هيڅ خيلا کې نه وي) دا روايت بخاری بغير د سند نه نقل			
تكلّف	مَا	لا	يعنيه
کړی دی او د رزين به روايت کې دا الفاظ دي چې د هغه څيز تکليف به څه وي (يعني د هغه څيز باندې د پوهه کېدو دعوی باندې			
ومالا عِلْمَ لَهُ بِهِ وَمَا عَجَزَ عَنْ عِلْمِهِ الْأَنْبِيَاء وَالْمَلَائِكَة وَعَن الربيع مِثْلُهُ			
څه) چې د کوم علم هغي ته نشته دی او چې د علم نه يې انبياء او فرښتې عاجزه دي. ربيع هم د غه شان			

(۱) رقم الحديث ۴۶۰۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۵۰ رقم الحديث (۱۲۴-۲۲۲۹) والترمذي في السنن ۵/۳۳۷ رقم الحديث ۳۲۲۴.

وَزَادَ: وَاللّٰهِ مَا جَعَلَ اللّٰهُ فِي نَجْمٍ حَيَاةَ أَحَدٍ وَلَا رِزْقَهُ
نقل کړي دي چې قس په خدای ې الله په ستورو کې نه خو د چا ژوند (یعنې پیدائش) مقرر دی. او
وَلَا مَوْتَهُ وَإِنَّمَا يَفْتَرُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَيَتَعَلَّلُونَ بِالنُّجُومِ
نه د چا رزق (یعنې مال او عزت وغیره) او نه د چا مرګ. د دې نه بغیر نور هیڅ نه دي ځکه کاهن په
وَلَا مَوْتَهُ وَإِنَّمَا يَفْتَرُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَيَتَعَلَّلُونَ بِالنُّجُومِ [1]
الله باندې د ځان نه دروغ ترې او د ستورو د راختل او ډوبیدل د څه نا څه واقعې او حادثې علت ګڼي.

توضیح: **لثلاث**: د شهاب ثاقب باره کې د ځینو علماؤ خیال دی چې دا عام ستورې نه دي بلکې د پیریانو د ویشتلو لپاره د مستقلې لمبې او راکتې دي. په ظاهره دا د اسمان ستورې ځکاري. اګر که ستورې هم دي خو اسما کې مرکوز ستورې نه دي. **والله اعلم**.

اسلام نه مخکې د خلکو خیال ؤو چې د یو لویې سړي په پیدائش یا د هغې د مرګ د حادثې په وخت کې ستورې ماتېږي. نبي کریم ﷺ د اسمان د ستورو درې مقصدونه بیان کړل.

۱: د دینا د اسمان زینت لپاره دي، ځکه اسمان د انسانانو لپاره د چهت په منزل دی. او چهت کې د رڼا او زینت لپاره خلک مختلف شیان جوړوي. الله په خپل جوړ شوي چهت کې د زینت او د رڼا لپاره لمر او سپوګمئ او ستورې جوړ کړي دي. ﴿**ولقد زينا السماء الدنيا بمصابيح و جعلناها رجوما للشياطين**﴾(سورة ملک :۵)

۲: د ستورو دویم مقصد د شیطانانو ویشتل دي. چې کوم باس خیجې. هغوی باندې ستورې رالېږي.

۳: د ستور د پیدا کولو درېم مقصد د دنیا خلکو ته رهنمائی کول دي. که سمندر وی یا دشته او شاړه او که صحرا وي. دې ایټمي دورر کې هم انسانان د ستورو نه رهنمائی حاصلوي. او د دې نه بې پروا کېدی نه شي. (مرقات۸/۳۷۲،۳۷۱)

اضاع نصیبه: یعنې د عمر یوه برخه شي ضایع کړه او د ستورو اصل مقصد یې په نظر کې ونه ساتلو.

ویتعللون بالنجوم: یعنې ستورې د یوې حادثې او واقعې لپاره د علت په توګه پیش کوي او وایي چې په فلاني ستورې دا وشو او په فلاني ستورې هغه وشو. د فضول اندازو او اټکلونو کې پول یې جوړ کړی وي. (مرقات۸/۳۷۲)

([1])رقم الحديث ۴۶۰۲ أخرجه البخاري تعليقًا ۶/۲۹۵ باب (۳) من كتاب بدء الخلق

نجومي ساحر دی او ساحر کافر دی

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنِ اقْتَبَسَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: چا چې د علم نجوم کومه

بَابًا مِنْ عِلْمِ النُّجُومِ لِغَيْرِ مَا ذَكَرَ اللهُ

برخه زده کړه او د زده کولو په غرض يې د دې درې څيزونو نه بغير د بل څه سره متعلق وي چې کوم الله په قرآن کې بيان

فَقَدِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ

کړي دي، نو بيشکه هغه د سحر د علم نه يوه برخه زده کړه (او سحر علم يو بد علم دی ځکه د دې ځپنې قسم په فسق

الْمُنَجِّمُ كَاهِنٌ والكاهنُ

کې داخل دی او ځپنې قسم موجب کفر دی) او ياد وساتئ منجم د کاهن به حکم کې وي او کاهن د ساحر په حکم کې دی. او کوم

ساحرٌ والساحرُ كافرٌ. رَوَاهُ رزين[1]

کس چې د سحر او دهغې د جائز لرلو عقيده وي هغه کافر شي (دغه شان منجم او کاهن هم د خپلې بدې عقيدې به وجه کافر شي).

توضيح: المنجم: نجومي ته ځکه کاهن ويل شوي دي ځکه دواړه د يو جنس خلک دي. يو ميدان دی او هم يو کار دی، ځکه نجومي هم د غيب په خبرو کې د کاهن پشان نېغې او کږې خبرې جوړوي او بيا يې وايي.

والکاهن ساحر: کاهن ته ځکه ساحر ويلی شوی دی چې کوم نقصان انسانانو ته جادوګر رسوي. هغه نقصان کاهن هم رسوي. لهذا ضرر او نقصان کې دواړه يو شان دي، نو کاهن ساحر دی.

"**والساحر کافر**" يعنې جادوګر کافر دی. (مرقات ۳۷۴/۸)

د سحر تعريف: د سحر او جادو يو تعريف دی "السحر هو اخراج الباطن فی صورة الحق"

دويم تعريف داسې دی. "**کل ما ذق ولطف مأ خذهٗ هوا سحر**" يعنې هر باريک او بهتر انداز سره حاصل شوی شی سحر او جادو دی. ګويا کې د لاس صفائی او د لطيفو فنون اعلی مظاهره د سحر او جادو دی. دلته د يو څو خارق عادت او ما فوق الفطرة څيزونو بيان کول هم مناسب معلوميږي. اګر که جلد اول ص ۲۴۸ کې د دې بيان شوی دی، نو خارق عادت او ما فوق العادة څيزونه اؤوه

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۰۳ رواه رزين

(۷) دي: ۱: خارق عادت شیانو کې اولنی شی "ارهاص" دی. که د نبي لاس د نبوت نه مخکې د خارق عادت شي نه ظاهر شي نو دې ته ارهاص وایي. ګویاکې د شی د نبي د راتلو اعلان دی. لکه د نبوت نه مخکې به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کانړو سلام کولو. ۲: **معجزات**: که مدعی نبوت په لاس باندې د هغې د نبوت تصدیق لپاره یو خارق عادت امر ظاهر شي نو هغې ته معجزه وایي.

۳: **کرامت**: که د یو متبع سنت صاحب ایمان کس په لاس باندې یو خارق عادت امر ظاهر شي نو هغې ته کرامت وایي. پیغمبر ته د خپلې معجزې علم هم وشي او د هغې ظاهرېدلو مقصد هم وشي خو د ولي په کرامت کې دا شرط نشته دی. ۴: **معونات**: دا هغه خارق عادت امور دي چې د یو متبع سنت کس د مرستې لپاره ظاهر شي لکه د ولۍ په حالت کې خوراک څښاک ملاو شي.

۵: **استدراج**: دا داسې خارق عادت امور دي چې د یو کافر د خدای د دښمن په لاس باندې د هغې د مقصد موافق ظاهر شي لکه د دجال په لاس به ظاهرېږي. ۶: **اهانت**: دا داسې خارق عادت امور دي چې د یو کافر د خدای د دښمن په لاس د هغې د مقصد خلاف ظاهر شي چې هغه ذلیل او خوار شي لکه مسلیمه کذاب او سترګې په سترګه باندې لاس رابنکلو نو بله سترګه یې هم ضایع شوه. باغ کې د بوټو جړلو کې غرغنده کولو سره اوبه غوزارې کړي نو ټول بوټې اوچ شو. د یو ماشوم په سر یې لاس رابنکلو نو د هغې حافظه ختمه شوه. ۷: **السحر**: خارق عادت کې اؤوم څیز جادو دی. دا یو داسې خارق عادت امور دي چې د انسان په لاس د منتر جنتر او د جادو په ذریعه ظاهرېږي.
د معتزلؤ په نزد جادو یو وهم دی. د دې هیڅ حیثیت نشته دی، خو د جمهورو په نزد سحر او جادو یو حقیقت دی. او د دې تعریف دا دی "**اخراج الباطل فی صورة الحق**" یا "**کل ما لطف ودق مأخذ فهو سحر**" د امام مالک او د امام احمد بن حنبل په نزد ساحر کافر دی. لهذا واجب القتل دی.
ائمه احناف فرمایي چې که د جادو په عمل کې د دین د ضروریاتو نه انکار دی نو دا کفر دی. او که د جادو په عمل کې صرف د شرکیه کلمات دي نو دا شرک دی. او که په دې کې داسې کلمات وي چې د اعمال حسنه منافي دي نو دا معصیت او ګناه کبیره دی. او که په دې کې داسې کلمات دي چې صحیح دي او د صحیح مقصد لپاره استعمالېږي نو دا مباح او جائز دی. لک د بنځې او خاوند په مینځ کې اصلاح مقصود وي، د احنافو دا تفصیل ډېر بنکلی دی، خو کتل دا دي چې د دغه شان مسلماني جادو په دنیا کې وجود شته هم دی یا که صرف یو خیال دی؟ ځکه د جادو بنیاد په خبیث اعمالو او افعالو او خبیث اقوالو باندې قائم دی.

کار الله کوي او نسبت يې غير الله ته کېږي

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَمْسَكَ اللهُ

او حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل که الله تر د پنځه کالو پورې

الْقَطْرَ عَنْ عِبَادِهِ خَمْسَ سِنِينَ ثُمَّ أَرْسَلَهُ لَأَصْبَحَتْ طَائِفَةٌ مِنَ النَّاسِ

خپل بنده ګان د باران نه محرومه وساتي او بيا پرې باران وکړي نو د خلکو يو جماعت به هم په هغه

كَافِرِينَ يَقُولُونَ: سُقِينَا بِنَوْءِ الْمِجْدَحِ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ [1]

صورت کې کفر کوي او وايي به چې مجدح يعني د سپوګمئ د منزل په سبب مونږ باندې باران وشي.

توضيح: بنوء المجدح: مجدح کې ميم د کسري سره دی. جيم ساکن دی او دال باندې زبر دی. د سپوګمئ په منزلونو کې د يو منزل نوم دی. د جاهليت په زمانه کې د عربو خيال ؤو چې کله دې منزل ته سپوګمئ داخل شي نو زيات باران ونه کېږي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا عقيده باطله کړه او د دليل په توګه يې وفرمايل چې مثلاً د پنځه کالو پورې باران ولاړ ؤو، نو د مجدح منزله چرته ؤو. هغې باران ولي ونه کړو. که باران د مجدح منزل باندې کېدو نو دا موجود ؤو او بارن نه ؤو. اوس چې الله باران وکړو نو خلکو د مجدح ارخ ته نسبت وکړو. دا د افسوس خبره ده.

دې حديث کې چې د کوم علت ارخ ته اشاره شوې ده دا حقيقت يو ضابطه ده چې کائنات کوم کوم امورو کې خلک د مزارونو او پيرانو او فقيرانو ارخ ته منسوب کوي. هغه کارونه د الله به حکم سره کېږي، خو د دې نسبت د غير الله ارخ ته کوي. دا ډېر زياتی او ظلم دی چې کار خو وکړي الله جل و علی او نسبت او د تعريف سهرا د بل به سر وتړي (مرقات ۳۷۴/۸)



---

[1] رقم الحديث ۴۶۰۴ رواه رزين

کتاب الرؤیا
د خوبونو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿لقد صدق الله رسوله الرؤیا بالحق لتدخلن المسجدالحرام ان شاء الله اٰمنین محلقین رؤسکم و مقصرین لا تخافون﴾(سورة الحجرات :۲۷)

رؤیا د باب فتح بفتح نه راځي، خو د مصدر بدلیدلو سره یې معنی بدلېږي. که چرې مصدر رؤیة راشي نو په سترګو باندې د کتلو په معنی کې دی. که مصدر رأیاً راشي نو د رائی قائمولو په معنیٰ کې دی. که مصدر رئة راشي نو دې ته رؤیت پرپوسی وایي. یعنې د چاچې پرپوس خراب شي او که مصدر رؤیآ راشي نو د خوب د لیدلو په معنی وي. کتاب کې همدغه مراد دی.

الله تعالی د انسان په زړه او مازغو کې د خوب په حالت کې هم داسې علوم اچولي دي لکه څنګه یې چې د بیدارئ په حالت کې اچولي دي. د خوب په حالت کې چې انسان څه ویني هغې ته خوب وایي.

د خوب درې قِسمونه دي : ۱: خوب اول قِسم خو فقط خیال دی. بیا انسان چې ګرځي راګرځي او په سترګو باندې مختلف شیان ویني. د شپې بیا همغه شیان ورته متشکل شي ځکه زړه او مازغو باندې د همغه شیانو نقشه پرته وي. ۲: دویم قِسم د خوب اضغاث او احلام دی. دا هغه ویرونکی، هیبتي او پراګنده خوب وي. چې د شیطاني اثراتو عکاسي وي. ۳: دریم قِسم د خوب هغه خوب وي چې د الله له اړخ نه وي او بشارت او خیر او نیکئ ظاهره وي. دغه قِسمه خوب ته رؤیا صالحه وایي.

د دې حقیقت دا دی چې الله تعالیٰ د دې بنده په زړه او مازغو کې علم او معرفت یو نُور پیدا کړي، ځکه هغه په خوب کې د دې شیانو درک لګوي. چې لکه څنګه یې په بیدارئ کې درک کوي. دا اصل د راتلونکې وخت واقعاتو اړخ ته اشاره وي. کله دا اشاره ډیره خفي وي چې فقط ماهرین د دې په تعبیر باندې پوهېږي. او کله دومره واضحه وي چې ګس و ناګس پرې پوهېږي. (مرقات۳۸۴/۸)

د خوبونو لوی امام خو حضرت یوسف علیه السلام تیر شوی دی، خو امت محمدیه علی صاحبهما الف الف تحیتة کې د خوبونو د ټولو نه لوی امام علامه محمد ابن سیرین رحمه الله تیر شوی دی.

د خوب تعبیر "علی رجل الطائر" وي یعنې چا چې وویله د همغې تعبیر به واقع کېږي، خو د دې باوجود د تعبیراتو څه اصول هم دي. ابن سیرین رحمه الله ته منسوب کتاب د تعبیر الرؤیا په ابتداء کې د اصولو اړخ ته اشاره شوي ده. د هغې خلاصه دا ده :۱: یو اصل او قاعده دا ده چې د شریعت د قواعدو او ضوابطو د لاندې د شریعت په رڼا کې د دې د خوب تعبیر وکړو لټولی شي او بیا دي تعبیر راویستلی شي. ۲: دویم اصل دا دی چې د قرآن یو آیت یا حدیث ته دي وکتلی شي او د هغې په رڼا

کې دي تعبير وکړی شي. ۳: دريم اصل دا دی چې د عربي لغت په مرستي سره دي د خوب تعبير راويستلی شي. همدغه وجه ده چې د خوب تعبير د داسې کَس نه معلومول پکار دي چې د خوب ليدونکي خواخوږی هم وي او د تعبير په قواعدو کې هم ماهر وي. شرعي حيثيت د خوب دا دی چې د انبياء کرام خوب د وحي خفي درجه لري او د نورو صالحينو خوب که چرې د شريعت سره په تکر کې نه وي نو داسې خوب فقط اطمينان وي. د هغې نه هيڅ شرعي ضابطه نه جوړيږي. حديثونو کې کې ښه خوبونه په مبشراتو سره ياد کړی شوي دي.

الفصل الاول

ريښتني خوبونه مبشرات دي

﴿ ۱ ﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د نبوت په اثارو کې هيڅ پاتې نه دي.

إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ قَالُوا: وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ؟ قَالَ:

بغير د مبشراتو نه، صحابؤ (دې اوريدلو سره) عرض وکړو چې مبشرات نه څه مراد دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

الرُّؤْيَا الصالحةُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1] وَزَادَ مَالِكٌ بِرِوَايَةِ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ: يَرَاهَا الرجل

ښه خوب. (بخاری) او د امام مالک په روايت کې دا اضافه دي چې مسلمان سړی خپله خوب وينې يا

الْمُسلم أَو ترى لَهُ[2]

د هغې باره کې وليدلی شي.

توضيح: **المبشرات**: دا د بشارت نه دی. د خوشخبرئ په معنی کې دی. يعنې د نبوت دروازه بنده شوې ده. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته بل نبي راتلونکی نشته دی. لهذا د اسماني وحي نزول ختم شوی دی. اوس د خوب په صورت کې صرف بشارتونه پاتې شو، خوب کې دا چې غالب عنصر د بشارت وي، نو ځکه د غلبې په توګه د دې غالب حيثيت مطلقاً مبشرات ګڼلی شوي دي. ګڼې خوبونه ريښتای وي خو دې کې د بشارت په ځای يرونه وي. يعنې د غم خبر وي. په همدغه وجه علماؤ ويلي دي چې د مبشراتو نه مطلق خبر مراد دی. هغې کې بشارت وي يا که يرونه وي. (مرقات ۳۷۵، ۳۷۶/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۶۰۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۷۵/۱۲ رقم الحديث ۶۹۹۰ وأبوداود في السنن ۲۸۰/۵ رقم الحديث ۵۰۱۷

([2]) رقم الحديث ۴۶۰۷ أخرجه الترمذي في السنن ۴۱۲/۴ رقم الحديث ۲۲۷۳ ومالك في الموطا ۹۵۷/۲ رقم الحديث ۳ من كتاب الرؤيا.

ربښتنی خوب د نبوت څلويښتمه برخه ده

﴿۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل شه خوب د نبوت څلويښت

وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

(۴۰) برخو كې يوه برخه ده. (بخاری و مسلم)

توضيح: جزء من ستة: يعنې ربښتنې خوب د نبوت څلويښتمه برخه ده.

سوال: ځينې روايتونو كې زير بحث روايت ۴۶ ذكر دی خو په ځينو نورو روايتونو كې ۲۶ ذكر دی په ځينو كې د ۲۴ او په ځينو كې د ۷۶ ذكر دی چې په ظاهره تضاد دی. د دې تضاد څه جواب دی؟

جواب: د دې پوښتنې يو جواب خو همغه مشهور جواب دی چې په شمير كې تضاد نه وي ځكه عدد اقل د عدد اكثر دننه وي. دويم جواب دا دی. دويم جواب دا دی چې دلته په يو عدد كې حصر بيانول او تعين او تحديد بيانول مقصود نه دي. بلكې صرف زياتوالی بيانول مقصود دی. باقې د خاص خاص اعدادو ذكر كول دا د شريعت د اسرار نه دي. مونږ د دې وجه بيانولو باندې مكلف نه يو. البته علماؤ د څلويښت عدد يو حكمت بيان كړی دی. هغه دا دی چې د ټول نبوت زمانه ۲۳ كاله ده او ۶ مياشتې دې كې هغه زمانه ده چې كوم كې هغې ته صرف ربښتنې خوبونه راغلي دي. دې اعتبار سره ۲۳ كاله د څلويښتمه برخه جوړيږي. د دې وجه نه ويل شوید چې د ربښتنې خوب د نبوت څلويښتمه برخه ده. (مرقات ۳۷۶،۳۷۷/۸)

پوښتنه: دلته يوه بله پوښتنه او يو اشكال دی. چې قاديانيان خلك يې هم پيش كوي. اشكال دا دی چې د يو څيز جزء د هغې د كل برخه وي. د هغې نه جدا نه شمارل كيږي. لهذا چې نبوت ختم شو نو د هغې يو بل جزء او يو برخه څنګه پاتې شوه؟ معلومه شوه چې د نبوت سلسله جاري ده.

جواب: د دې جواب دا دی چې يو نبوت دی او يو علم نبوت دی، نو نبوت اګر كه ختم شوی دی خو علم نبوت باقي دی. ربښتنې خوب خپله نبوت نه دی بلكې د علم نبوت متعلق دی. قاديانی دجال دی. (مرقات ۳۷۶/۸)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب كې ليدلو تحقيق

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: من

او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل كوم كس چې زه

([1]) رقم الحديث ۴۶۰۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۶۱/۱۲ رقم الحديث ۶۹۸۳ ومسلم في ۱۷۷۴/۴ رقم الحديث ۲۲۶۴/۷)

رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِي صُورَتِي (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

خوب کې ولیدلم، هغې په حقیقت کې زه ولیدلم، ځکه شیطان زما په صورت کې نه شي جوړېدلی.

توضیح فقد رأني: یعنې چاچې خوب کې زه ولیدلم نو هغې په رښتیا زه ولیدلم. د دې کس دا خوب د اضغاث احلام نه ئه دی بلکې په حقیقت باندې بناء دی، ځکه شیطان خپل ځان زما په شکل کې نه شي اچولی. د دې وجه دا ده چې نبي د هدایت محضه ده او شیطان د ضلالت محضه ده. دواړو کې واضح فرق او واضح تضاد دی. که شیطان داسې کولو باندې قادر شي نو بیا شریعت کې د خل اندازئ کولو خطر هم پیدا کېدی شي.

نن سبا حزب الله او د جماعة المسلمین خلک د نبي کریم ﷺ خوب کې د لیدلو نه انکار کوي. او د دلیل په توګه وایي چې نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو نه بغیر بل هیچا نه دی لیدلی، خوب کې هغه شی ښکاري چې سسړي مخکې لیدلی وي. د دې مهمل پوښتنې جواب دا دی چې کله صحیح حدیث موجود دی نو ستاد دې منطق هیڅ حیثیت نشته دی. دویم جواب دا دی چې همغه حق دی او هغه سړي نبي کریم ﷺ لیدلی دی، خو سړی د خپلو اعمالو په اعتبار سره د نبي کریم ﷺ زیارت کوي. که اعمال ښه وي نو نبي کریم ﷺ په ښه صورت وینې او که اعمال خراب دي نو نبي کریم ﷺ په همغه رنګ کې وینې. دریم جواب دا دی چې حدیثونو کې د نبي کریم ﷺ شکل مبارک په پوره توګه شمائل کې ذکر دی. د دې نه د لیدلو اندازه کېږي. بهرحال دا خصائص نبوي او د اعجاز نبوي نه دی چې د نبي کریم ﷺ شکل او صورت کې شیطان نه شي راتلی. (مرقات ۳۷۶/۸)

چاچې زه په خوب کې ولیدلم هغه هم زه ولیدلم

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ رَآنِي

او حضرت ابو قتاده رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې چا زه خپل خوب کې

فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [2]

ولیدلم نو هغې حق ولیدلو یعنې د هغې خوب رښتیا دی چې هغې زه ولیدلم.

توضیح الحق: یعنې هغه کس هم زه لیدلی یم. دا حق دی. دروغ نه دي. دې باره کې د دروغو خیالات او د شیطان دخل نه شي کېدی. دا اعزاز د نبي کریم ﷺ د خصائص نه دی. چې د اعجاز نبوي برخه ده. هر سړی نبي کریم ﷺ د خپلو عملونو په آئینه کې وینې. (مرقات ۳۸۲/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۶۰۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۰۲/۱ رقم الحديث ۱۱۰ ومسلم في صحيحه ۱۷۷۴/۴ رقم الحديث (۱۰-۲۲۶۶)

([2]) رقم الحديث ۴۶۱۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۳/۱۲ رقم الحديث ۶۹۹۶ ومسلم في ۱۷۷۶/۴ رقم الحديث ۲۵۷.

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب كې د ليدلو فضيلت

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: من رَآنِي فِي الْمَنَامِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كوم كس چې زه په خوب كې وليدلم

فيسراني فِي الْيَقَظَةِ وَلَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِي (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

هغه به ژر ما د بيدارئ په حالت وينې او شيطان زما په صورت كې نه شي جوړېدلى. (بخارى ومسلم)

توضيح: فسيراني في اليقظة: يعنې كوم كس چې زه په خوب كې وليدلم نو نزدې ده چې هغه كس به ما د بيدارئ په حالت كې دنيا كې اوينې. دې صورت كې د دې حديث تعلق د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژوند مبارك سره دى. د دې حديث دويم مطلب دا دى چې كوم كس ما په خوب اوينې نو هغه به ما په عالم آخرت كې به بيدارئ وينې. گويا كې د هغه كس انجام به ښه وي او د ايمان سره به د دنيا نه ځي. (مرقات ۳۸۲/۸)

ښه او د بد خوب ليدلو وخت كې سړى څه وكړي؟

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللهِ

او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ښه خوب د الله تعالى له

وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ

ارخه دى او بد خوب د شيطان له ارخه دى. لهذا چې تاسو كې څوك داسې خوب اوينې چې د كوم

مَا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ

نه هغه خوشحاله وي، نو پكار ده چې دا خوب دې صرف هغه چا ته بيان كړي چې هغه يې خپل دوست او خيرخواه گڼي (لكه

بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ

علماء، صلحاء او خپلوان او دې خوب باندې د الله شكر ادا كړي او د هغې حمد او تعريف وكړي لكه د بخارى او د مسلم په يو

وَإِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ

بل روايت كې منقول دي) او چې يو داسې خوب اوينې چې هغه يې نه خوښوي نو پكار ده چې د دې خوب بد والي

فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَلْيَتْفُلْ ثَلَاثًا

او د شيطان د شر نه د الله نه پناه وغواړي او د شيطان د لرې كولو په قصد دري ځله لاړي توك كړي او

([1]) رقم الحديث ۴۶۱۱ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۸۳/۱۲ رقم الحديث ۶۹۹۳ ومسلم ۱۷۷۵/۴ رقم الحديث (۲۲۶۶/۱۱)

وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحدا فَإِنَّهَا لن تضره (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دا خوب دې د چا مخې ته بيان نه کړي (هغه که دوست وي او دښمن) او دا خوب به هغې ته نقصان نه رسوي.

توضيح: د هر قِسم خوب اصل قدرت خو د الله په لاس کې دی، خو ښه ليدلو سره د الله له اړخه بنده ته يو بشارت حاصليږي. چې بنده پرې د الله شکر ادا کوي، نو الله خوشحاله کيږي، نو دې اعتبار سره دا خوب د الله له اړخه دی، خو بد خوب باندې سړی غمجن او پريشانه شي او په قِسمه قِسمه وسوسو کې اخته شي. چې شيطان پرې ډير خوشحاله شي، نو ځکه ويلی شوي دي چې داسې خوب د شيطان له اړخه دي يعنې شيطان په دې خوشحاليږي. د هغې د خوارولو لپاره شريعت حکم کړی دی چې داسې حالت کې چپ اړخ ته لاړې غوزاړې کړي چې شيطان په ذلالت سره وتښتي او د داسې خوب دې چاته تذکره نه کوي. الغرض ښه خوب باندې د الله شکر ادا کړئ او بد خوب باندې د شيطان نه د کرکې اظهار وکړئ. مخکې روايت کې دي چې دې خله چپ اړخ ته لاړې غوزاړې کړي او اعوذ بالله ولولئ او اړخ دې بدله کړي. (مرقات ۳۸۴/۸، ۳۸۳)

﴿۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تاسو کې څوک داسې خوب اوينې

يَكْرَهُهَا فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثًا

چې هغه يې نه خوښوي نو هغې له پکار ده چې چپ اړخ ته دري ځله لاړې توک کړي او دري ځله د

وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ. رَوَاهُ مُسلم[2]

شيطان نه د الله پناه وغواړي او خپل اړخ بدل کړي چې د خوب ليدلو وخت (کې اوده شوی) ؤو.

خوبونو لپاره اصولي ضابطه

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هغه وخت چې زمانه به

لَمْ يَكَدْ يَكْذِبُ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ وَرُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ

نزدې وي نو د مؤمن خوب به دروغژن نه وي او د مؤمن خوب به د نبوت د څلويښتو جزونو نه يو جزء دی.

---

[1] رقم الحديث ۶۶۱۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۳۸/۶ رقم الحديث ۳۲۹۲ ومسلم في ۱۷۷۲/۴ رقم الحديث (۴-۲۲۶۱)

[2] رقم الحديث ۴۶۱۳ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۷۲/۴ رقم الحديث (۲۲۶۲ وابوداود في السنن ۲۸۴/۵ رقم الحديث ۵۰۲۲.

وَمَا كَانَ مِنَ النُّبُوَّةِ فَإِنَّهُ لَا يَكْذِبُ . قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ: وَأَنَا أَقُولُ:

او کوم شی چې د نبوت د جزو نو نه وي هغه دروغ جن نه شي کېدی. حضرت محمد ابن سیرین فرمایي چې زه وایم

الرُّؤْيَا ثَلَاثٌ: حَدِيثُ النَّفْسِ وَتَخْوِيفُ الشَّيْطَانِ وَبُشْرَى مِنَ اللهِ فَمَنْ

چې خوب په دري قسمه دي. یو خو د نفس خیال، دویم د شیطان وېرول او دریم د خدای له ارخه بشارت پس څوک چې

رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلَا يَقُصَّهُ عَلَى أَحَدٍ وَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ قَالَ:

یو بد خوب اوینې نو هغه د چا مخې ته مه بیانوئ او پاڅېرئ او لمونځ وکړئ. او ابن سیرین فرمایي چې

وَكَانَ يُكْرَهُ الْغُلُّ فِي النَّوْمِ وَيُعْجِبُهُمُ الْقَيْدُ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوب کې د طوق لیدل بنه نه ګڼي او د قید لیدل به یې خو بنول، نو ویلی کېږي چې

وَيُقَالُ: الْقَيْدُ ثبات فِي الدِّين (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]) قَالَ الْبُخَارِيّ:

د قید مطلب دین باندې ثابت قدمي ده. دا پوره روایت بخاری او مسلم نقل کړی دی. امام بخاری فرمایي چې دا

رَوَاهُ قَتَادَة وَيُونُس وَهِشَام وَأَبُو هِلَالٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

حدیث قتاده، یونس هشام او ابو هلال د محمد ابن سیرین نه او هغې د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی او

وَقَالَ يُونُسُ: لَا أَحْسَبُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یونس ویلي دي چې زما ګمان دی چې د حدیث هغه جز چې کوم کې ابن سیرین د قید ذکر کړي دی یعنی دا

فِي الْقَيْدِ وَقَالَ مُسْلِمٌ:

الفاظ ﴿يعجبهم القيد والقيد ثبات في الدين﴾ د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول نه دی. بلکې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ارشاد دی او امام مسلم

لَا أَدْرِي هُوَ فِي الْحَدِيثِ

دا ویلي دي چې ماته معلومه نه ده چې هغه جزء چې کوم کې د قید الفاظ دي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ الفاظ دي یا د

أَمْ قَالَهُ ابْنُ سِيرِينَ؟

ابن سیرین خپل قول دی. د مسلم په یو بل روایت کې همدغه شان الفاظ دي. او مسلم دا هم ویلي دي چې ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوُهُ

یا محمد ابن سیرین په حدیث کې ادراج کړی دی همدغه رنګ هغه وویل چې زه طوق لیدل بنه ګڼم..... الخ (ګویا

---

(1) رقم الحديث ۴۶۱۶ أخرجه البخاري ۴۰۴/۱۲ ومسلم في ۱۷۷۳/۴ رقم الحديث (۲-۲۶۹) وابوداود في السنن ۲۸۲/۵ رقم ۵۰۱۹

وَأَدْرَجَ	فِي	الْحَدِيثِ
کې د مسلم د قول مطلب دا دی چې د حدیث پوره آخري جزء چې د طوق او ذکر باندې مشتمل دی. د نبی عَلَيْهِ السَّلَام		
قَوْلَهُ:	وَأُكْرَهُ	الْغُلَّ...
ارشاد نه دی. بلکې حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یا د محمد ابن سیرین خپل قول دی. او بخاری او مسلم د دې اقوالو په رنا		
إِلَى	تَمام	الْكَلَام[1]
کې د قال و کان یکره الخ د ضمیرونو حقیقت حال هم منکشف کېږي چې دا ضمیرونه د چا ارخ ته راجع کېدل پکار دي.		

توضیح: **اذا اقترب الزمان**: د دې یو مطلب دا دی چې کله د قیامت نزدې زمانه راشي نو مسلمانان به کثرت سره بنه خوبونه وینې. دا چې دا به غیب نه پردا اوچتونکی وي نو خوبونه به یې هم رښتای وي. دویم مطلب دا دی چې کله د سړي د مرګ زمانه نژدې شي نو د هغط خوبونه به رښتیا وي. درېم مطلب دا دی چې کله زمانه کې ورځ او د شپې وخت برابر شي او زمانه کې اعتدال راشي چې هغط سره به د خلکو په مزاج کې هم اعتدال راشي نو هغه وخت به خوبونه راشي لکه څنګه چې د سحر د وخت خوب رښتیا وي. همدغه شان د هغه معتدل زمانې خوب به هم رښتیا وي. د دط حدیث د عمومي الفاظو نه داسې معلومېږي چې د مؤمن ټول خوبونه به رښتای وي. د دې باره کې ابن سیرن څه وضاحت فرمایلی دی چې رښتنې خوب هغه دی چې د الله له ارخه وي. هر خوب رښتیا هم نه وي او دروغ جن هم نه وي. بیا هغې د خوبونو دریِ قسمه بیان کړل.

قال: دې کې د فاعل ضمیر ابن سیرن ارخ ته ګرځي او (مرقات ۳۸۷/۸) **وکان یکره** کې ضمائر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ګرځي.

الغل: غین باندې پیش او لام باندې شد دی. طوق غل ته وایي.

القید: په زنځیرونو بند ته قید وایي. (مرقات ۳۸۷/۸)

دویرونکي او مهمل خوبونو د تعبیر پوښتنه مه کوه

﴿۹﴾ وَعَن جَابِر قَالَ: جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ته یو بانده چې راغلو او عرض یې وکړو

رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَأْسِي قُطِعَ قَالَ: فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې ما خوب لیدلی چې ګویا کې زما سر غوڅ کړی شوی دی. جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وخندل

---

(۱) رقم الحدیث ۴۴۱۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۰۴/۱۲ رقم الحديث ۷۰۱۷ ومسلم في ۱۷۷۳/۴ رقم الحديث (۲۲۶۱/۴)

وَقَالَ: إِذَا لَعِبَ الشَّيْطَانُ بِأَحَدِكُمْ فِي مَنَامِهِ
او ويې فرمايل چې تاسو کې د يو کس خوب د هغې سره شيطان تماشه وکړي نو هغه دې هغه خوب
فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ النَّاس. رَوَاهُ مُسلم[1]
د خلکو مخکې نه بيانوي. (مسلم)

توضيح: **اذا العب**: يعنې شيطان انسان ته وېرېدونکی خوب ښائې او د لوبو توقو او د خلکو لپاره تماشا جوړوي، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل امت ته دا تعليم وکړو چې د شيطان داسې وېرېدونکي خوبونه اثر مه اخلئ او مه دې ته اهميت ورکوئ. چې د دې تعبير پسې ځای په ځای ګرځئ. دا م ٥مل خوب دی. د دې اظهار چاته مه کوئ.

د خوب د تعبير يوه ضابطه

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رَأَيْتُ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ما د شپې هغه شيانو کې چې د خوب والا
كَأَنَّا فِي دَارِ عُقْبَةَ بْنِ رَافِعٍ
يې وينې (يعنې خوب کې مې) وليدل ګويا کې زه او زما صحابه د عقبه ابن رافع کور کې ناست يو
فَأُوتِينَا بِرُطَبٍ مِنْ رُطَبِ ابْنِ طَابٍ فَأَوَّلْتُ
او ماته تازه کجورې راوړلې شوې چې رطب ابن طاب ورته وايي، نو د دې خوب دا تعبير وکړو چې
أَنَّ الرِّفْعَةَ لَنَا فِي الدُّنْيَا وَالْعَاقِبَةَ فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ دِينَنَا قَدْ طَابَ. رَوَاهُ مُسلم[2]
زمونږ لپاره دنيا رفعت او سربلندی ده. او آخرت کې نيک انجام يعنې ښه جزا د انعام ده او زمونږ دين ښه دی.

توضيح: **ان الرفعة لنا**: د دې حديث نه د خوب د تعبير يو اصل او ظابطه معلومېږي. ابتدائی بحث کې د تعبير په دې اصولو کې يو اصول دا ؤو چې کله د عربې لغت په بنياد تعبير راويستلی کېږي. زيربحث حديث کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نومونو د لغت نه تعبير راويستلی دی. د عقبه د لفظ نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عاقبت او د آخري انجام د خير تعبير راويستلو او د رافع د لفظ نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دنيا او آخرت اوچتوالي تعبير راويستلو او د طاب د لفظ نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دين اسلام د طيب او ښه کېدو تعبير اخستی. (مرقات ۳۹۱/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۶۱۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۷۷/۴ رقم الحديث (۱۶-۲۲۶۸) وابن ماجه في السنن ۱۲۸۷/۲ رقم الحديث ۳۹۱۲

([2]) رقم الحديث ۴۶۱۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۷۹/۴ رقم الحديث (۱۸-۲۲۷۰)

د هجرت متعلق د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو خوب

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو موسى اشعرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې هغه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل كوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل د

"رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أُهَاجِرُ مِنْ مَكَّةَ إِلَى أَرْضٍ بِهَا

هجرت نه مخكې مايو ورځ په مدينه كې دا خوب وليدلو چې زه د مكې نه هجرت كوم او يو داسې ځاى ته روان

نَخْلٌ فَذَهَبَ وَهْلِي إِلَى أَنَّهَا

يم چې د كجورو بوټې په كې دي، نو د هغه خوب په تعبير كې زما دا خيال شو چې هغه ښار (چرته به چې زه

الْيَمَامَةُ أَوْ هَجَرُ فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ وَرَأَيْتُ

هجرت كوم، يمامه به وي يا به هجر خو هغه مدينه شوه. چې پخوانى نوم يې يثرب دى او ما په خپل هغه خوب

فِي رُؤْيَايَ هَذِهِ: أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا

كې دا هم وليدلي ؤو چې ما خپله توره اخوځوله او هغه د پاس نه ماته شوه. د توري د ماتېدلو تعبير د جنګ

فَانْقَطَعَ صَدْرُهُ فَإِذَا هُوَ مَا أُصِيبَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ

اُحد د پريشانو او د مصيبتونو په صورت كې ظاهر شو چې مسلمانان ترېنه په تكليف كې شول. بيا ما په خوب

ثُمَّ هَزَزْتُهُ أُخْرَى فعادَ أحسنَ مَا كَانَ

كې توره په دويم ځل او خوځول نو نه هغه صرف صحيح شوه بلكې د مخكنې نه هم بهتره شوه، نو د توري

فَإِذَا هُوَ جَاءَ اللهُ بِهِ مِنَ الْفَتْحِ

د صحيح كېدلو تعبير (د جنګ اُحد په موقع يا د فتح مكې يا د صلح حديبيه په وخت) كې د الله له

وَ اجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِينَ " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ارخه راكړى شوي فتح او د مسلمانانو اجتماعيت په صورت كې ظاهره شوه. (بخارى ومسلم)

توضيح يمامه: اوله زمانه كې به يمامه ډېره شنه علاقه او د حجاز په ښارونو كې يو مركزي ښار ؤو. هجر هم ډېر زيات شين ؤو. او دواړو ښارونو كې د كجورو ډېر زيات باغونه ؤو. د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همغه ارخ ته لاړو چې كېدى شي خوب كې د همغه ارخ ته د هجرت اشاره كېږي. نن سبا يمامه د سعودي عرب پايه تخت د رياض سره نزدې يو ورځ كى شان كلى پاتې شوى دى او د هجر هم دغه حالت دى.

---

(1) رقم الحديث ۴۶۱۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۲۷/۶ رقم الحديث ۳۶۲۲ ومسلم في ۱۷۷۹/۲ رقم الحديث ۱۷۷۹/۴۰

یثرب: د مدینې منورې زوړ نوم یثرب ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه بدل کړو او مدینه نوم یې ورله کیښودلو. مدینه کې به ډېر زیات د کجورو باغونه ؤو، نو ځکه د دې نوم نخله هم دی. د مدینې منورې اسلامي نومونه سلو (۱۰۰) ته نژدې دي. ما به توضیحات څلورم کتاب الحج ص ۴۱۰ کې ټول ذکر کړي دي. (مرقات ۳۹۸/۸)

ورئیت: دا د یو بل خوب بیان دی چې د هجرت نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیدلی ؤو، لکه د نورو روایتونو نه معلومېږي او امکان لري چې د خوب دا برخه هم د هجرت نه مخکې لیدلی شوي وي چې کوم د دې حدیث د ظاهر نه معلومېږي. اګر که دا لرې خکاري.

هزړته: توره خوځولو ته وایي. د تورې ماتېدل ګویاکې د شکست اړخ ته اشاره وه او بیا جوړېدل د مسلمانانو دوباره راجمع کېدل او فتح حاصلولو اړخ ته اشاره وه. یا د تورې دوباره چوړېدل د نورو فتوحاتو مثلاً د مکې فتح، صلح حدیبیه او د خیبر فتحې اړخ ته اشاره وه. (مرقات ۳۹۲/۸)

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو بل خوب تعبیر

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل (یو ورځ) زه اوده ؤم چې

بِخَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَ فِي كَفَّيَّ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ

(خوب کې) د زمکې خزاني زما مخې ته راوړلی شوي. بیا زما په لاس د سروزرو دوه ټوټې کیښودلی شوي

فَكَبُرَا عَلَيَّ فَأُوحِيَ إِلَيَّ

چې په ما بوج شوي. د هغې نه وروسته په ما وحي راغله (یعني خوب کې د الهام په توګه زما په زړه کې الله دا خبره واچوله)

أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ

چې دې کړو ته پوکی وکړه، نو ما پوکی ورکړو او هغه کړي والوتلي. ما د هغه دواړو کړو نه هغه دواړو

اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا

دروغو باره کې تعبیر واخستلو (دا ستوګنې د علاقې په اعتبار سره) چې د هغې په مینځ کې زه یم. یعني یو خو

صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ:

دیمامه والا او بل د صنعاء والا، بخاري او د مسلم په یو بل روایت کې (چې ترمذي نقل کړی دی) داسې دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا مُسَيْلِمَةُ صَاحِبُ الْيَمَامَةِ

د هغه دواړو دروغو وضاحت داسې وکړو چې) هغې کې خو یو ته مسلیمه بن کذاب ویل کېږي چې د یمامه

وَالْعَنْسِيُّ صَاحِبُ صَنْعَاءَ لَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ
اوسيدونكى دى او بل اسود عنسى د چې د صنعاء اوسيدونكى دى (ليكونكى د مشكوة شريف وايي چې)
فِي (الصَّحِيحَيْنِ) وَذَكَرَهَا صَاحِبُ الْجَامِعِ عَنِ التِّرْمِذِيِّ [1]
ما دا روايت په بخارى او مسلم كې نه دى موندلى او دا صاحب جامع الاصول د ترمذى نه نقل كړى دى.

توضيح: سوارين: نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سرو زرو دوه كړي د خپل لاس په تلي كې وليدلي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو نبي نه كړي. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هغې ته د پوكې كولو حكم وكړى شو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته پوكى وكړو چې هغه پرې هغه علاقو اړخ ته لاړې چرته چې دوه دروغ جن نبي يان ظاهر بدونكي ؤو. يو خو د صنعاء يمن كذاب اسود عنسى ؤو چې په اسلام يې لويې مصيبت اچولى ؤو خو د هغط د علاقې مسلمان لكه د غر پشان او درېدل او فيروز ديلمى هغه اوژلو. د هغې كېدى شي دوه ورځې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مړ شو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ ته وويل "**فيروز فازفيروز**" چې فيروز كامياب شو ماته جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ وويل چې فيروز اسود عنسى اوژلو. دويم مسليمه كذاب يمامه كې اودرېدلو. حضرت ابو بكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د غر پشان د هغې مقابلې ته وردې دلو. آخر دا چې د اسلام دروند لښكر د حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مشرئ كې په حديقة الموت كې دې خبيث باندې حمله وكړه او وحشى نن حرب او حضرت ابو دجانه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مشتركه كاروائي سره مسليمه كذاب جهنم ته داخل شو. (مرقات ۳۹۳،۳۹۴/۸)

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ: رَأَيْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ فِي النَّوْمِ
او حضرت ام العلاء انصاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما خوب وليدلو چې عثمان ابن مظعون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لپاره
عَيْنًا تَجْرِي فَقَصَصْتُهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:
(دا وبو) يوه چينه جاري ده. كله چې ما خوب نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بيان كړو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل
ذَلِكِ عَمَلُهُ يُجْرَى لَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [2]
چې دا د هغې د عمل ثواب دى چې د هغې لپاره جاري كړى شوى دى. (روايت كړې دي بخارى)

توضيح: عيناً تجرى: د عين نه مراد سترګه نه بلكې د دې نه د اوبو چينه ده. حضرت عثمان بن مظعون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شان والا صحابي دى او د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعي ورور او د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محبوب ؤو. مدينه منوره كې دا اولنى كس دى چې په بقيع الغرقد كې خښ كړى شو. د

([1]) رقم الحديث ۴۶۱۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۹/۸ رقم الحديث ۴۳۷۵ ومسلم في ۱۷۸۱/۴ رقم الحديث (۲۲-۲۲۷۴)

([2]) رقم الحديث ۴۶۲۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۱۰/۱۲ رقم الحديث ۷۰۱۸.

جاري چيني نه د هغې د عمل مسلسل د جاري کېدو اړخ ته اشاره ده. دا چې صحابي مرابط ؤو او د مرابط عمل هميشه جاري وي نو ځکه د هغې عمل داسې بنکاره شو. (مرقات ۳۹۵/۸)

عالم برزخ ته د تللو متعلق يو خوب

﴿۱۴﴾ وَعَن سُمرةَ بنِ جُندب قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا معمول ؤو چې کله به

إِذَا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د سحر د) لمونځ نه فارغ شو نو خپل مخ مبارک به يې مونږ ته متوجې کړو

فَقَالَ: مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا؟ قَالَ:

او پوښتنه به يې کوله چې نن شپه تاسو کې چا خوب ليدلی دی؟ حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې

فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا فَيَقُولُ:

که مونږ کې چا خوب ليدلی ؤو نو هغې به يې بيانولو او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغې هغه تعبير کولو کوم به چې ورته

مَا شَاءَ اللهُ فَسَأَلَنَا يَوْمًا فَقَالَ:

الله الهام کولو، نو (د خپل معمول مطابق) وی ورځ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ نه همغه پوښتنه وکړه او وې وفرمايل چې

هَلْ رَأَى مِنْكُمْ أَحَدٌ رُؤْيَا؟ قُلْنَا: لَا قَالَ: " لَكِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ

آيا تاسو کې چا خوب ليدلی دی؟ مونږ عرض وکړو چې نا. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل خو ما نن شپه خوب ليدلی دی (او

رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَأَخَذَا بِيَدَيَّ فَأَخْرَجَانِي إِلَى أَرْضٍ مُقَدَّسَةٍ

هغه دا چې دوه کسان ماله راغلل او زما لاسونه يې ونيولو سره زه د مقدسې ځمکې نه د شام اړخ ته بوتلم.

فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ وَرَجُلٌ قَائِمٌ بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ

پس يو ځای ته ورسيدلو سره زه څه وينم چې يو کس ناستی دی او بل کس ولاړ دی په لاس کې د وسپنې توکړه نيولې ده

يُدْخِلُهُ فِي شِدْقِهِ فَيَشُقُّهُ حَتَّى يَبْلُغَ قَفَاهُ

او ولاړ کس هغه د توکړه د ناست کس په وخکی کې اچوي او هغه دا خبروي تر دې چې د هغې د څټ پورې يې وخبري.

ثُمَّ يَفْعَلُ بِشِدْقِهِ الْآخَرِ مِثْلَ ذَلِكَ وَيَلْتَئِمُ شِدْقُهُ هَذَا فَيَعُودُ

بيا هغه د بل وخکي سره داسې کوي. (يعنې هغه هم څټ پورې وخبري) چې کله هغه وخکی خپل اصلي حالت ته راشي

فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ. قُلْتُ:

نو د اول پشان همغه عمل کوي. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا فرمايي چې ما (دې ليدلو سره) د هغه دواړو کسانو نه وپوښتل (چې

مَا	هَذَا؟	قَالَا:	انْطَلِقْ

زه یې ځان سره راوستلی ؤوم) چې دا څه کېږي؟ هغه دواړو وویل چې راځه راسره (یعنې دا پوښتنه مه کوه چې څه کېږي

فَانْطَلَقْنَا	حَتَّى	أَتَيْنَا

بلکې مخکې رازه اوس لاړ په عجائبات کتل دي. د دې تعبیر به معلوم شي) نو مونږ مخکې لاړو تردې چې یو داسې ځای

عَلَى	رَجُلٍ	مُضْطَجِعٍ	عَلَى	قَفَاهُ

راغلو چې هلته یو سړی پرمخې پروت ؤو او یو سړی دیر غټ کانې په لاس د هغه سر ته ولاړ ؤو چې لاس

وَرَجُلٌ	قَائِمٌ	عَلَى	رَأْسِهِ	بِفِهْرٍ	أَوْ	صَخْرَةٍ

لاس پرې ډکېږي او هغې باندې یې د هغه پروت سړي سر چتولو. کله به چې هغه کانې (راښکلو او) د هغې سر

يَشْدَخُ	بِهَا	رَأْسَهُ	فَإِذَا	ضَرَبَهُ	تَدَهْدَهَ	الْحَجَرُ

به یې پرې ؤوهلو نو کانې به (سر چت کړو او) راتمبیدلو سره به لرې لاړو (هغه به بیا د وهلو لپاره) هغه کانې

فَانْطَلَقَ	إِلَيْهِ	لِيَأْخُذَهُ	فَلَا	يَرْجِعُ	إِلَى	هَذَا	حَتَّى	يَلْتَئِمَ	رَأْسُهُ

را اوچتولو لپاره لاړو نو چې بېرته به راغلو نو د هغې رارسیدلو سره به د هغه سړي سر بېرته صحیح شو او بیا

وَعَادَ	رَأْسُهُ	كَمَا	كَانَ	فَعَادَ	إِلَيْهِ	فَضَرَبَهُ

به یې په هغه کانې ؤوهلو او د غه شان د اسلسله روانه وه (چې د هغې سر به صحیح کېدلو) او هغې به پرې وهلو.

فَقُلْتُ:	مَا	هَذَا؟	قَالَا:	انْطَلِقْ	فَانْطَلَقْنَا	حَتَّى

ما (دې لیدلو سره) وپوښتل چې دا څه کېږي؟ هغې دواړو جواب راکړو چې راځه راځه نو مونږ مخکې لاړو تردې

أَتَيْنَا	إِلَى	ثَقْبٍ	مِثْلِ	التَّنُّورِ	أَعْلَاهُ	ضَيِّقٌ	وَأَسْفَلَهُ

چې یو داسې کندي ته ورسیدلو چې د تنور پشان وه چې د پاسنۍ برخه یې تنګه وه او لاندنۍ برخه یې فراخه وه

وَاسِعٌ	تَتَوَقَّدُ	تَحْتَهُ	نَارٌ	فَإِذَا	ارْتَفَعَتِ

او د هغې دننه اور لمبې وهلې. کله به چې اور د پاس ارخ لمبه شو نو څه خلک په کې دننه ؤو (د لمبو سره به) پاس

ارْتَفَعُوا	حَتَّى	كَادَ	أَنْ	يَخْرُجُوا	مِنْهَا	وَإِذَا	خَمَدَتْ	رَجَعُوا	فِيهَا

راغلل تردې چې د کندي نه به راوتلو ته نژدې شول او کله به چې د اور لمبه کمه شوه نو هغوی به بیا دننه شول

وَفِيهَا	رِجَالٌ	وَنِسَاءٌ	عُرَاةٌ	فَقُلْتُ:

(ما ولیدل چې) دې اور کې ډېر نارینه ؤو او ډېرې ښځې وې او ټول برېنډ ؤو. ما (دې لیدلو سره) پوښتنه وکړه چې

مَا هَذَا؟ قَالَا: انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى نَهَرٍ

دا څه کېږي؟ نو هغې دواړو وویل چې راځه راځه نو مونږ مخکې لاړو تردې چې یو داسې نهر ته ورسیدلو چې (د

مِنْ دَمٍ فِيهِ رَجُلٌ قَائِمٌ عَلَى وَسْطِ النَّهَرِ وَعَلَى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ

اوبو په ځای په کې) د وینو نه ډک شوی ؤو. د نهر په مینځ کې یو سړی ولاړ ؤو او بل سړی د هغې غاړې ته ولاړ

بَيْنَ يَدَيْهِ حِجَارَةٌ فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ الَّذِي فِي النَّهَرِ

ؤو چې مخې ته یې کانې ایښودلی شوي ؤو. کله چې هغه سړی چې د نهر په مینځ کې ؤو مخکې (غاړې ته) راغلو او

فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ رَمَى الرَّجُلُ بِحَجَرٍ فِي فِيهِ

غوښتل یې چې بهر راشي نو هغه سړی چې په غاړه ؤو د هغې خله په کانې ویشتله چې هغه پرې خپل ځای ته

فَرَدَّهُ حَيْثُ كَانَ فَجَعَلَ كُلَّمَا جَاءَ لِيَخْرُجَ

بېرته لاړو او بیا دا سلسله همدغه شان جاري وه چې د نهر دننه نه به چې سړي د بهر راتلو اراده کوله نو د

رَمَى فِي فِيهِ بِحَجَرٍ فَيَرْجِعُ كَمَا كَانَ

غاړې والا سړي به هغه په خله ویشتلو او هغه به یې خپل ځای ته بېرته ورسولو (ما دې لیدلو سره) پوښتنه وکړه

فَقُلْتُ مَا هَذَا؟ قَالَا: انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ

چې دا څه کېږي؟ نو هغې دواړو وویل چې رازه رازه، نو مونږ مخکې لاړو تردې چې یو شین باغ ته ورسیدلو. هغه

فِيهَا شَجَرَةٌ عَظِيمَةٌ وَفِي أَصْلِهَا شَيْخٌ وَصِبْيَانٌ

باغ کې یو غټ بوټی ؤو او د هغې په جړله یو بوډا او څه هلکان (ناستي) ؤو. بیا څه وینم چې هغه بوټي سره یو

وَإِذَا رَجُلٌ قَرِيبٌ مِنَ الشَّجَرَةِ بَيْنَ يَدَيْهِ نَارٌ يُوقِدُهَا

بل سړی هم دی. چې مخې ته یې اور بلېږي. او هغه (سړی) دا اور لمبه کوي. بیا هغه دواړو زه د ځان سره هغه

فَصَعِدَا بِيَ الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلَانِي دَارًا أَوْسَطَ الشَّجَرَةِ

بوټي ته وخیژولم او زه یې یو داسې کور ته داخل کړم چې بالکل د بوټو به مینځ کې ؤو. (او دا کور دومره ښایسته

لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا فِيهَا رِجَالٌ شُيُوخٌ وَشَبَابٌ

ؤو چې) ما کله هم داسې ښایسته کور نه ؤو لیدلی. په دې کور کې څومره ښایسته ځوانان او بوډاګان ؤو، څومره

وَنِسَاءٌ وَصِبْيَانٌ ثُمَّ أَخْرَجَانِي مِنْهَا فصعدا

په دې کې ښځې او ماشومان ؤو. د هغې نه وروسته هغه دواړو زه د هغه کور نه ویستلم او د بوټو نه پاس یې

بِي الشَّجَرَة فأُدخلاني دَار هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ مِنْهَا

بوتلم او زه يې يو داسې کور ته داخل کړم چې د هغه مخکښې کور نه ډېر ښايسته او افضل ؤو. هغې کې بوډاګان

فِيهَا شُيُوخٌ وَشَبَابٌ فَقُلْتُ لَهُمَا: إِنَّكُمَا قَدْ طَوَّفْتُمَانِي اللَّيْلَةَ

او ځوانان موجود ؤو. اوس ما هغه دواړو کسانو ته وويل چې نن شپه زه تاسو ښه وګرځولم، خو ما چې څه ولیدل

فَأَخْبِرَانِي عَمَّا رَأَيْتُ قَالَا: نَعَمْ

د دې د حقیقت نه ما خبر کړئ؟ هغې دواړو وويل چې ښه! مونږه يې تاته وايو. (بيا هغوی بيانول شروع کړل چې)

أَمَّا الرَّجُلُ الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ

کوم سړی چې تاسو وليدلو چې د هغې وخکی څېرول کېدلي، هغه داسې سړی ؤو چې دروغ ښه ؤو، دروغ به يې ويل او

يُحَدِّثُ بِالْكَذْبَةِ فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ

د هغې دروغ خبرې به نقل کېدلې او بيانېدلې به چې دنيا کې به څلورو واړو اړخونو ته خپرې شوې، نو د هغې

فَيُصْنَعُ بِهِ مَا تَرَى إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَالَّذِي

سره دا سلوک کېږي. کوم سړی چې تاسو وليدلو او د هغې سلسلې به تر قيامته پورې روانه وي او هغه سړی چې

رَأَيْتَهُ يُشْدَخُ رَأْسُهُ فَرَجُلٌ عَلَّمَهُ اللهُ الْقُرْآنَ

تاوليدلو چې د هغې سر چتول کېدو، هغه داسې سړی دی چې د الله تعالی قرآن کې يادکړی ؤو (يعنې هغې ته

فَنَامَ عَنْهُ بِاللَّيْلِ

د قرآني علومو د زده کولو توفيق ورکړی شوی ؤو) خو هغه سړی د دې (قرآن نه) بې پروا شو او شپه ئې اوده شو

وَلَمْ يَعْمَلْ بِمَا فِيهِ بِالنَّهَارِ يُفْعَلُ بِهِ مَا رَأَيْتَ

او د ورځې به يې د قرآن مطابق عمل نه کولو نو د هغې سره دا سلوک کېږي. کوم چې تاسو وليدلو او د هغې

إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي الثَّقْبِ فَهُمُ الزُّنَاةُ وَالَّذِي

سلسلې به د قيامت پورې روانه وي او کوم خلک چې تاپه تنور کې وليدل، هغه زناکاردي او هغه سړی چې

رَأَيْتَهُ فِي النَّهَرِ آكِلُ الرِّبَا

تاسو په نهر کې وليدلو هغه سود خوردی (هغه ټولو ته هم د خپلو خپلو کړو سزا ملاوېږي او تر قيامت پورې

وَالشَّيْخُ الَّذِي رَأَيْتَهُ فِي أَصْلِ الشَّجَرَةِ إِبْرَاهِيمُ

به ورته ملاوېږي) او کوم بوډه کس چې تاسو د بوټي جړلي سره ناست وليدلو، هغه حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ؤو

وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهُ فَأَوْلَادُ النَّاسِ وَالَّذِي يُوقِدُ النَّارَ
او د هغې سره چې کوم ماشومان ؤو هغه د سړو اولاد دی او هغه سړی چې د بوتې نه څه فاصله کې اور لګوي
مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ وَالدَّارُ الْأُولَى الَّتِي دَخَلْتَ
هغه د دوزخ داروغه ده او د بوتې د پاسه اولنی کور چې تاسو په کې داخل شوی وی، هغه (جنت کې د عام)
دَارُ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ وَأَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ وَأَنَا جِبْرِيلُ وَهَذَا
مؤمنانو کور دی او دا کور (چې د اولنې کور نه د پاسه واقع دی) دشهیدانو کور دی. زه جبرائیل یم او دا
مِيكَائِيلُ فَارْفَعْ رَأْسَكَ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا فَوْقِي
(چې ما سره دی) میکائیل دی. اولږ اوس تاسو سر اوچت کړه (نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې) ما خپل سر اوچت
مِثْلُ السَّحَابِ وَفِي ۱ رِوَايَةٍ
کړو نو څه وینم چې زما د پاسه (د هر اوچتوالي کې) داوریځې پشان یو څیز دی او یو روایت کې دا الفاظ دي چې
مِثْلُ الرَّبَابَةِ الْبَيْضَاءِ قَالَا:
لاندې باندې د اوریځې پشان یو څیز دی. هغه دواړو وویل چې زه به خپل کور ته الړشم او هغه دواړو وویل چې
ذَلِكَ مَنْزِلُكَ قُلْتُ: دَعَانِي أَدْخُلْ مَنْزِلِي قَالَا: إِنَّهُ بَقِيَ لَكَ عُمُرٌ لَمْ تَسْتَكْمِلْهُ فَلَوِ اسْتَكْمَلْتَهُ أَتَيْتَ
اوس لاستاسو عمر پاتې دی چې تاسو به یې پوره کوي. چې کله تاسو خپل عمر پوره کړي نو خپل کور ته
مَنْزِلَكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَذَكَرَ حَدِيثَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فِي رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
به لاړ شي (بخاری) او د حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه روایت چې د مدینه کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د خوب
فِي الْمَدِينَةِ فِي بَابِ حرم الْمَدِينَةِ "[1]
متعلق دی، هغه د حرم مدینه په باب کې نقل کړی شوی دی.

توضيح. **فاخرجاني**: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خوب د هر معراجونه شوي دي. دا معراج د همغه معراجونو نه یو دی، خو د لیلة الاسری والاد معراج واقعه نه ده بلکې هغه د جسد عنصری سره د بیدارئ به حالت کې شوی دی. (مرقات ۳۹۶/۸)

کلوب: د وسپنې قینچي ته وایي. چې اردو کې ورته "آنکڑا" وایي. (مرقات ۳۹۶/۸)

شدقة: وخکي ته شدق وایي. چې باچھ هم ورته وایي. (مرقات ۳۹۶/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۲۱ اخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۱/۳ رقم الحديث ۱۳۸۶ واحمد في المسند ۱۴/۵.

یلتئم: اتئام یو ځای کیدلو په معنی دی. (مرقات۸/۳۹۶)

بفهر: غټ کاپی ته وایي. چې د وسپنې پشان مضبوط وي چې نورو الفاظ کې ورته سخت کاپی وایي. **شیدخ:** د سر چتولو لپاره د **شدخ** لفظ استعمالیږي. (مرقات۸/۳۹۷)

تدهر: د کاپي راتمیدلو لپاره دا لفظ ویل کیږي. (مرقات۸/۳۹۷)

خمدت: اور مړ کولو او د هغېد لمبو لاندې تللو لپاره دا لفظ ویل کیږي. (مرقات۸/۳۹۸)

الفصل الثاني

د تعبیر لپاره خوب د دوست یا عقل مند مخې ته کیږده

﴿۱۵﴾ عَنْ أَبِي رزين العقيليِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ

حضرت ابو رزین عقلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د مومن خوب د نبوت د

مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَهِيَ عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ

څلویښتو برخو نه یوه برخه ده او خوب چې تر څو پورې بیان نه کړی شي نو هغه د مرغی په پښو کې وي

مَا لَمْ يُحَدِّثْ بِهَا فَإِذَا حَدَّثَ بِهَا وَقَعَتْ. وَأَحْسِبُهُ

او دا چې کله د چا مخې ته بیان کړی شي نو هغه واقع شي (روای وایي چې زما خیال دی چې

قَالَ: لَا تُحَدِّثْ إِلَّا حَبِيبًا أَوْ لَبِيبًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دا هم وفرمایل) هوښیار او د ملګري نه بغیر د بل چا مخکې خوب مه بیانوئ (ترمذی)

وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ قَالَ: الرُّؤْيَا

او د ابوداؤد په روایت کې دا دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د تر څو پورې د خوب تعبیر بیان نه کړی شي

عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ مَا لَمْ تُعْبَرْ فَإِذَا عُبِرَتْ وَقَعَتْ. وَأَحْسِبُهُ

نو هغه د مرغی په پښو باندې وي او کله چې د دې تعبیر بیان کړی شي نو هغه واقع شي او زما خیال دی

قَالَ: وَلَا تَقُصَّهَا إِلَّا عَلَى وَادٍّ أَوْ ذِي رَأْيٍ[1]

چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا (هم) وفرمایل چې او ملګري او د عقلمند نه بغیر د بل چا مخکې خوب مه بیانوئ.

توضیح: علی رجل طائر: بې ثباتی او بې قراری او جلد ختمولو لپاره د عربو په نزد به دا محاوره استعمالیږي

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۲۲ أخرجه ابوداود في السنن ۲۸۳/۵ رقم الحديث ۵۰۲۰ والترمذي في ۴۱۴/۴ رقم الحديث ۲۲۷۸.

چې دا څیزونه خو د مرغۍ د پښو او پنجې د لاندې رازوړند وي. د مرغۍ پښو لره قرار وي. څنګه چې هغه حرکت وکړي نو هغه څیز وغورځېږي. همدغه شان د خوب معامله ده چې ترکومې پورې چاته ظاهر نه کړی شي نو قائم وي خو فایده یې ظاهره نه وي او کله چې چاته بیان شي نو زر ضایع شي او د خپل تعبیر اړخ ته لاړ شي. ګویا کې خوب د تعبیر راویستلو په انتظار کې وي. څنګه چې تعبیر راویستلی شي نو خوب ختم شي، نو ځکه د حبیب یعنې د خیرخواه مخې ته یې بیانوي. هغه به د ښه تعبیر خیال کوي. یا لبیب یعنې عاقل او ماهر ته خوب بیانوئ، هغه به ښه تعبیر وکړي. (مرقات ۴۰۳/۸)

ورقه بن نوفل په کامیابئ سره مړ شوی دی

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَرَقَةَ.

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې (یو ځل) د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ورقه بن نوفل باره کې وپوښتلی شو

فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ: إِنَّهُ كَانَ قَدْ صَدَّقَكَ

(چې هغه مومن ؤو یا نا؟) او حضرت خدیجه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د هغې مخې ته بیان وکړو چې هغه د

وَلَكِنْ مَاتَ قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصدیق کولو خو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تصدیق نه مخکې مړ شو، نو

أُرِيتُهُ فِي الْمَنَامِ وَعَلَيْهِ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ماته په خوب کې ورقه بن نوفل په داسې حالت کې وښودلی شو

ثِيَابٌ بِيضٌ وَلَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَكَانَ عَلَيْهِ لِبَاسٌ غَيْرُ ذَلِكَ. رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ[1]

چې هغې باندې سپینې جامې وې او که هغه دوزخي وی نو د هغې په بدن به بل قسمه جامې وی. (احمد، ترمذی)

که امکان لري نو خوب باندې په ویښه عمل وکړئ

﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ عَمِّهِ أَبِي خُزَيْمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

او حضرت خزیمه ابن ثابت د خپل تره (حضرت ابو خزیمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه نقل کوي چې هغې په هغه

أَنَّهُ رَأَى فِيمَا يَرَى النَّائِمُ أَنَّهُ سَجَدَ

حالت کې چې په کوم حالت کې اوده کېدونکی وي یعنې په خوب کې ولیدل چې هغې د

عَلَى جَبْهَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تندې باندې سجده وکړه. بیا هغې دا خوب نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بیان کړو،

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۲۳ أخرجه الترمذي في السنن ۴۶۸/۴ رقم الحديث ۲۲۸۸ واحمد في المسند ۶۵/۶.

فَاضْطَجَعَ	لَهُ	وَقَالَ: صَدِّقْ
نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (هغه خوب اوربدلو سره) د ابو خزيمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورځ ته پرېوتلو (چې هغه په تندي مبارک باندې		
رُؤْيَاكَ	فَسَجَدَ	عَلَى
سجده وکړي) او وې وفرمايل چې خپل خوب رښتيا کړه يعني د خپل خوب مطابق عمل وکړه، نو		
جَبْهَتِهِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي بَكْرَةَ:		
هغې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تندي باندې سجده وکړه (شرح السنة) او ابو بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا روايت		
كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ فِي بَابِ مَنَاقِبِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا[1]		
"كأن ميزانا نزل من السماء" به د مناقب ابو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باب كې نقل كړي.		

توضيح: على جبهته: يعني ابو خزيمة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب وليدلو چې هغه خوب کې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تندي باندې سجده کوي. سحر هغې دا خوب نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بيان کړو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرېوتلو او ويې فرمايل چې خپل خوب رښتيا کړه او زما په تندي باندې سجده وکړه. د دې حديث نه معلومه شوه چې تر څو پورې په کوم باندې په بيدارئ کې عمل کول ممکن وي نو خوب لېدونکې له هغې باندې عمل کوی پکار دی. او په توګه چې د عباداتو معامله وي. چې خوب کې يو خاص جومات کې لمونځ وکړو يا په خاص ورځ کې روژه ونېوله يا يې د خاص بزرګ زيارت وکړو، نو بيدارئ کې په دغه افعالو باندې عمل کول پکار دی. (مرقات ۸/۴۰۶، ۴۰۵)

الفصل الثالث

﴿۱۸﴾ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ		
حضرت سمره بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثر پوښتنه کوله د خپلو		
لِأَصْحَابِهِ: هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا؟		
صحابه کرامو نه چې آيا تاسو کې چا خوب ليدلی دی؟ نو الله به چې چاته (خوب ورخودلی او خوب به يې ليدلی وؤ		
فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُصَّ وَإِنَّهُ قَالَ لَنَا		
نو هغې به خپل خوب نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بيان کړو. يو ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته بيان کړو		

---

[1] رقم الحديث ۴۶۲۴ أخرجه احمد في المسند ۵/۲۱۵

ذَاتَ غَدَاةٍ: " إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي وَإِنَّهُمَا قَالَا لِي: انْطَلِقْ وَإِنِّي

چې نن شپه (ما خوب ولیدلو چې) دو کسان ماله راغلل او زه یې راپاڅولم چې مونږ سره راشه نو زه

انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا ".وَذَكَرَ مِثْلَ الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ

د هغوی سره لاړم. د هغې نه وروسته د حدیث راوي سمره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ همغه اوږد حدیث بیان کړو چې (د

فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ بِطُولِهِ وَفِيهِ زِيَادَةٌ لَيْسَتْ فِي الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ وَهِيَ قَوْلُهُ: "

دې خوب متعلق ؤو) اول فصل کې تیر شوی دی، خو دې حدیث کې د اول حدیث نه دوه خبرې زیاتې دي

فَأُتِينَا عَلَى رَوْضَةٍ مُعْتَمَّةٍ فِيهَا مِنْ كُلِّ

او هغه دا دي چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل پس مونږ یو داسې باغ ته ورسیدلو (چې هلته د زیات بوټې

نَوْرِ الرَّبِيعِ وَإِذَا بَيْنَ

او هغې کې د شینوالي (هرو الي ؤو) تورتم خورؤو. باغ کې هر اړخ ته پسرلی پسرلی ؤو او هر قسمه غوټۍ کولاوي وي.

ظَهْرَيِ الرَّوْضَةِ رَجُلٌ طَوِيلٌ لَا أَكَادُ أَرَى رَأْسَهُ

بیا ناڅاپه څه وینم چې د باغ په یوه مینځ کې یو سړی ولاړ دی. هغه هر لوړؤو. چې سر سریې هم ماته نه ښکاریدلو،

طُولًا فِي السَّمَاءِ وَإِذَا حَوْلَ الرَّجُلِ مِنْ أَكْثَرِ وِلْدَانٍ

ځکه لوړوالي یې د اسمان سره خبرې کولې. بیا ماته دا ښکاره شو چې د هغې نه کیر چاپیره هلکان ؤو

رَأَيْتُهُمْ قَطُّ قُلْتُ لَهُمَا: مَا هَذَا مَا هَؤُلَاءِ؟

چې ما کله هم نه ؤو لیدلي. ما د هغه دواړو نه وپوښتل چې دا اوږد سړی څوک دی او دا هلکان څوک دي؟

"قَالَ: "قَالَا لِي: انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا

نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې هغه دواړو (زما د خبرې جواب راکولو په ځای) ماته وویل چې رازه رازه

فَانْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ عَظِيمَةٍ لَمْ أَرَ رَوْضَةً قَطُّ أَعْظَمَ مِنْهَا وَلَا أَحْسَنَ".

نو مونږ مخکې لاړو او یو لویې باغ ته ورسیدلو چې د هغې نه لویې او د هغې نه بل هیڅ ښه باغ ما کله هم نه ؤو لیدلی.

قَالَ:" قَالَا لِي: ارْقَ فِيهَا ".قَالَ:

نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمال چې (هلته رسیدلو سره) هغه دواړو ماته وویل چې دننه لاړ شه یا د دې

فَارْتَقَيْنَا فِيهَا فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَدِينَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ وَلَبِنِ فِضَّةٍ

په بوټو وخیژه نو مونږ وختلو او د یو یو ښار ته نزدې لاړو چې د سرو او د سپینو زرو د خښتو نه جوړ شوي ؤو.

فَأَتَيْنَا بَابَ الْمَدِينَةِ فَاسْتَفْتَحْنَا فَفُتِحَ لَنَا

بيا مونږ د هغه ښار په دروازه راغلو او هغه مو کولاوه کړه او کله چې هغه دروازه زمونږ لپاره کولاوه کړی شوه

فَدَخَلْنَاهَا فَتَلَقَّانَا فِيهَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ

نو دننه دخل شو او هغه ښار کې مونږ د داسې څومره خلکو سره ملاو شو هغې کې د هريو په بدن باندې

كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ وَشَطْرٌ مِنْهُمْ

نيمه برخه د هغې نه هم ښايسته وه چې کومه به تا ليدله او نيمه به د هغې نه هم بدتره وه او نيمه ډېره زياته ښايسته او تندرسته وه

كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ. قَالَ:" قَالَا لَهُمْ:

او نيمه برخه ډېره بدرنګه او خرابه وه. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دې دواړو هغې ته ولو ته وويل چې

اذْهَبُوا فَقَعُوا فِي ذَلِكَ النَّهَرِ " قَالَ: وَإِذَا

لاړ شئ او دې نهر کې غوپه اوهئ. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې کله دې دواړو دا خبره وکړه نو) زه څه وينم

نَهَرٌ مُعْتَرِضٌ يَجْرِي كَأَنَّ مَاءَهُ الْمَحْضُ فِي الْبَيَاضِ فَذَهَبُوا

چې هلته عرضا يو نهر بهيږي چې اوبه د خالص شود و پشان سپينې دي، نو هغه خلک د نهر خوا له لاړل

فَوَقَعُوا فِيهِ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ

او هغې کې غپا شول. بيا چې کله هغوی (غپا اوله) مونږ له راغلل نو د هغوی د بدن نه هغه خرابوالی او بدوالی لرې شوی ؤو.

فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ وَذَكَرَ

او د هغوی شکل په بهترين شکل او صورت کې بدل شوی ؤو. د هغې نه وروسته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د

فِي تَفْسِيرِ هَذِهِ الزِّيَادَةِ: وَأَمَّا الرَّجُلُ الطَّوِيلُ الَّذِي فِي الرَّوْضَةِ فَإِنَّهُ إِبْرَاهِيمُ

دې حديث په زيات وضاحت کې وفرمايل چې هغه اوږد کس چې په باغ کې ؤو. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ؤو،

وَ أَمَّا الْوِلْدَانُ الَّذِينَ حَوْلَهُ فَكُلُّ مَوْلُودٍ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ

او د نه کير چاپيره چې کوم هلکان ؤو هغه د اسې ماشومان ؤو چې فطرت باندې مړه شوي دي (يعنې کوم ماشومان

قَالَ: فَقَالَ بَعْضُ الْمُسْلِمِينَ:

چې نابالغه عمر کې مړه شي هغه د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ سره وي) روايي دا وايي چې ځينې صحابه کرامو وفرمايل چې

يَا رَسُولَ اللهِ وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِينَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِينَ

يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د مشرکانو ماشومان؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د مشرکانو نابالغه هلکان هم

وَأَمَّا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَانُوا شطرٌ مِنْهُم حسن وَشطر مِنْهُمْ حَسَنٌ وَشَطْرٌ مِنْهُمْ قَبِيحٌ

د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ سره وي او هغه خلک چې نيم بدن يې ښه او نيم بد ؤو. هغه داسې خلک ؤو چې عملونه يې

فَإِنَّهُمْ قَوْمٌ قَدْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا تَجَاوَزَ اللهُ عَنْهُم. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

يو شان ؤو. دا چې هغوی څه عملونه کړي ؤو او څه يې بد کړي ؤو. بيا الله هغوی معاف کړل.

دروغ جن خوب بيانول غټ دروغ دي

﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مِنْ أَفْرَى الْفِرَى

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ در بهتانونو کې يو لويې بهتان

أَنْ يُرِيَ الرَّجُلُ عَيْنَيْهِ مَا لم ترياً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

دا دی چې يو په خپلو سترګو هغه څيز وښايي چې حقيقت کې سترګو نه دی ليدلی. (بخاری)

توضيح افری الفری: يعنې د ټولو نه غټ دروغ دا دي چې سړی په سترګو باندې هغه څيز او وښاې چې سترګو نه وي ليدلی يعنې د درغو خوب بيانول په لويې بهتانونو کې يو بهتان دی. د دې وجه دا ده چې د خوب تعلق د وحې سره دی او د نظام وحي د نظام غيب باندې بهتان او دروغ ترټل د عامو دروغو پشان نه بلکې ډېر سخت دي. (مرقات ۴۱۱/۸)

د سحر خوب ريښتنې وي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعيد خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

أَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْأَسْحَارِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ والدارمي[3]

د شپې د وروستۍ برخې خوب ډېر ريښتيا وي. (ترمذی، دارمی)

توضيح الاسحار: دا چې د شپې آخري برخه کې خيټه خالي شي او د هغې ګډوډ بخارت ختم شي او سړی د بشري ښايستونو نه لرې کېدلو سره په ملکوتي صفاتو کې راشي، نو ځکه هغه وخت خوب د ټولو نه زات ريښتيا او پاخه وي. (مرقات ۴۱۱/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۶۲۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۳۸/۱۲ رقم الحديث ۷۰۴۷ وأحمد في المسند ۹/۵

(2) رقم الحديث ۴۶۲۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲/۴۲۷ رقم الحديث ۷۰۴۳ واحمد في المسند ۶/۲ ف

(3) رقم الحديث ۴۶۲۷ أخرجه الترمذي في السنن ۴۶۳/۴ رقم الحديث ۲۲۷۴ والدارمي في ۱۶۹/۲ رقم الحديث ۲۰۰۰.

کتاب الآداب

د آدابو بیان

آداب جمع ده. د دې مفرد ادب دی. ادب د هر هغه قول او فعل نوم دی. چې ښه او د ستایلو قابل وګڼلی شي. ځینو د ادب تعریف داسې کړی دی. "**الادب هواعطاء کل شئ حقه ؤوضع کل شئ موضعه**" یعنې د موقي او ځای له نظره هر شي ته د هغې جائز مقام ورکولو ته ادب وایي. ځینو ویلي دي چې د غټو احترام کول او په وړو باندې د شفقت کولو نوم ادب دی. د ادب مفهوم دا چې ډیر وسیع دی ځکه دا انساني ژوند او د انساني تهذیب په اړخ کې شامل دی. همدغه وجه ده چې د ادب په ضمن کې د ژوند سره تعلق لرونکی مختلف حدیثونه به راځي.

د ادب په ضمن کې د سلام باب هم دی. د دینه وروسته د استیذان باب هم دی. بیا د مصافحې او د معانقې باب دی. بیا د القیام دی. د دې نه وروسته د عطاس او د تناؤب باب دی. د دې نه وروسته باب الضحک دی. بیا باب الاسامي او د هغې نه وروسته باب البیان دی والشعر دی. غرض دا چې د کتاب الرقاق پورې ټول بابونه د کتاب الآداب دلاندې دي. د ټولونه چې اول کوم باب راځي هغه باب السلام دی.

باب السلام

د سلام بیان

سلام د الله تعالی په نومونو کې یو نوم دی. چې ترجمه یې داسې ده. یعنې هغه الله چې د هر عیب او د هر نقص او کمزورئ نه پاک او محفوظ دی. (مرقات ۴۱۲/۸)

په ابتداء د اسلام کې د سلام ابتداء وشوه. هغه وخت دا چې په مسلمان او غیر مسلمان کې د پیژندې ضرورت ؤو، نو یو مسلمان به بل مسلمان ته ویل السلام علیکم یعنې زماله اړخه به تاته هیڅ تکلیف نه رسېږي. هغې به په جواب کې ویل وعلیکم السلام یعنې زماله اړخه به هم تاته هیڅ تکلیف نه در رسېږي. ګویاکې په ابتداء د اسلام کې به سلام د شفر په توګه استعمال شو. شریعت د د سلام کولو لپاره مشروع کړو. اوس د اسلام پوره مفهو داسې دی چې السلام علیکم ویلو والا بله ته وایي چې الله دي تا په دنیا او آخرت کې د هر قسم ظاهري او باطنی مصیبتونو نه محفوظ وساتي. جواب ورکونکې هم په وعلیکم السلام ویلَ سره همدغه مفهوم ادا کوي. وس د دواړو له اړخه یو بل ته ضمانت هم ورکړی شو او عام هم شو. د همدغې نظر په خاطر به چې مخکې زمانه کې به حاکمانو کله یو مجرم ته سزه ورکوله نو د سلام په جواب کې به یې ویل لاسلام ولا کلام یعنې زه تاته د سلامئ ضمانت نه درکؤم. دا چې نن سبا حاکمان جاهلان دي ځکه وعلیکم السلام هم وایي. او بیا کنځلو کولو سره سره سزه هم ورکوي. دا خلک د سلام د مفهوم نه جاهله دي او جاهل حیوان خو بس لا یعقل وي. سلام کول سنت دی خو جواب ورکول یې واجب دی. اګر که د دې واجب نه سنت افضل دی.

فاسق و فاجر ته سلام کولو کې مخکې والی پکار نه دی، خو د سلام جواب ورکول يې واجب دی. همدغه شان د غیر مسلم معامله هم ده چې هغې له جواب ورکول پکار دی، خو په سلام کې اولیت پکار نه دی. بیا د سلام په اصولو کې ځینې اصول داسې دي. چې لږو خلکو له پکار ده چې چې زیاتو خلکو ته په سلام کې مخکې والی وکړي. دغه شان وړو له پکار ده چې غټو ته مخکې سلام وکړي. ولاړو خلکو له پکار ده چې ناستو خلکو ته سلام وکړي. دغه شان موټر وغیره کې ناستو خلکو ته پکار ده چې پیاده کس ته سلام وکړي. هر راتلونکې کس ته پکار ده چې د مقامي مجلس خلکو ته سلام کولو کې اولیت وکړي.

کوم خلک چې خوراک کولو کې مشغول وي هغوی ته سلام کول پکار نه دی، ځکه سلام کونکی د خپل سلام د جواب په انتظار کې شي او کیدی شي چې ډوډۍ خوړونکی د خوراک په وجه په سلام کې نارسته وکړي، نو دا کس به ناراضه شي، خو که سلام کونکی وږی وي نو هغه سلام کولی شي. د هغې د سلام مطلب به دا وي چې دا هغوی سره په ډوډۍ کې شریک کیدل غواړي.

میتازو یا د تشناب کې یا به جهري ګناه کې اخته کس ته سلام کول پکار نه دی. دغه شان تلاوت یا ذکرو اذکار کې مشغوله کس ته هم سلام کول پکار نه دی، چرته چې سلام کول جائز نه دی. هتله سلام اوربدونکو باندې جواب ورکول هم لازم نه دی. فقهاء کرامو د اشعارو په اوږده قصیده کې د دې ټول مواضعو ذکر کړی دی، چرته چې سلام کول پکار نه دی. د فقې په کتابونو شامي وغیره کې هغه قصیده کتل پکار ده.

الفصل الاول

د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ تخلیق او فرښتو ته سلام

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَلَقَ اللهُ آدَمَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله تعالی آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپل

على صورته طوله ذِرَاعًا فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ

صورت پیدا کړو. د هغې اوږد والی شپیته (۶۰) ګزه ؤو. کله چې خدای هغه پیدا کړو نو هغې ته يې وفرمایل

اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ النَّفَرِ وَهُمْ نَفَرٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ

لاړشه او دې جماعت ته سلام وکړه او هغه د فرښتو جماعت ؤو چې کوم هلته ناست ؤو. بیا واوره

فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ

چې هغوی تاته څه جواب درکوي. هغوی به (جواب درکوي) همغه ستا او ستا د اولاد جواب دی،

فَذَهَبَ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ

نو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ (د خدای د دې حکم د پوره کولو لپاره د فرښتو هغه جماعت ته لاړو او وې ویل "السلام علیکم"

فَقَالُوا:	السَّلَامُ	عَلَيْكَ	وَرَحْمَةُ	اللهِ"	قَالَ:
فرښتو جواب ورکړو السلام علیک ورحمة الله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې (ګویاکې) د آدم عَلَيْهِ السَّلَام د					
فَزَادُوهُ	وَرَحْمَةُ	اللهِ	.قَالَ:	فَكُلُّ	مَنْ
سلام په جواب کې د ورحمة الله لفظ فرښتو زیات کړو (بیا) نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې پس کوم کس					
يَدْخُلُ	الْجَنَّةَ	عَلَى	صُورَةِ	آدَمَ	وَطُولُهُ	سِتُّونَ	ذِرَاعًا
جنت ته داخلیږي نو هغه به د آدم عَلَيْهِ السَّلَام په صورت کې وي. هغه شان د هغې اوږد والی به شپیته (۶۰) ګزه وي.							
فَلَمْ	يَزَلِ	الْخَلْقُ	يَنْقُصُ	بَعْدَهُ	حَتَّى	الْآنَ	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]
بیا د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه وروسته د خلکو بدن مسلسل کمیدلو تردې چې موجوده مقدار ته راورسیدلو.							

توضیح: علی صورته: یعنې الله حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په خپل صورت باندې پیدا کړو. دې حدیث باندې د پوهه کیدلو باره کې یو څو اقوال دي.

۱: اول قول دا دی چې دا حدیث د متشابهاتو نه دی. لهذا د چا د تاویل ضرورت نشته دی. بلکې د سلف صالیحنو په طرز به ویل کیږي "**ما یلیق بشانه**" یعنې د الله د شان سره چې کوم شان برابر وي مونږ هغه منو.

۲: ځینې علماؤ د دې حدیث په مفهوم کې دا تاویل کړی دی چې د صورة نه مراد د الله هغه صفات دي چې په کوم باندې یې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پیدا کړو لکه "**حی، عالم، کریم، بصیر، متکلم**" ګویاکې انسان د الله د صفاتو مظهر دی. دې توجیه کې د "**بصورته**" ضمیر د الله اړخ ته راجع کیږي او د صورت نه به صفت مراد وي.

۳: ځینې علماؤ د دې حدیث مفهوم داسې بیان کړی دی چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام الله د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په صورت جوړو کړو یعنې کوم صورت باندې یې چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام جوړ کړو همغه د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به قسمت کې ؤو. بې مثاله ؤو. ځکه هیڅ یو صورت نمونه نه وه، لکه څنګه چې ځینې بچی نه د پلار په شکل کې وي او نه د مور په شکل کې وي، نو مورګانې وایي چې دا په خپل شکل باندې پیدا شوی دی. د دې تاویل له نظره بصورته کې شمیر د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اړخ ته ګرځي او مطلب به همغه وي چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ډیر مثاله ؤو.

۴: د دې حدیث مفهوم ځینې علماؤ داسې بیان کړی دی چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام الله د صورت او د مجسمې په شکل کې پیدا کړو یعنې مرحله واریې پیدا نه کړو چې اول نطفه وي بیا مضغه وي بیا عظام

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۲۸ اخرجه البخاري في صحيحه ۳/۱۱ رقم الحديث ۶۲۲۷ ومسلم في ۲۱۸۳/۴ رقم الحديث ۲۸۴۱.

وي بيا لحم وي او بيا تخليق وي. داسې نه ؤو بلکې د پيدائش د ابتداء نه يې مکمل صورت ؤو، چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ شپيته(۶۰) ګزه قد ؤو. "فتبارك الله احسن الخالقين" د هغې نه وروسته انسان په کمبدو شو. اوس دوه نيم يا درې ګزه پاتې شو. بيا چې کله انسان جنت ته داخليږي نو ۶۰ ګزه په پوره وي. بهرحال حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ فرښتو ته سلام وکړو. فرښتو جواب ورکړو. همغه طريقه په د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په اولاد کې راغله چېکومه اوس وخت کې د مسلمانانو سره ده. باقي انسان درندګانو او مارغانو کې شامل شول. يا ده دې وي چې شرعي ګزکم و زيات دو ليشته وي. (مرقات ۸/۴۱۳، ۴۱۲)

سلام کول بهترين عمل دی

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او د حضرت عبدالله ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو کس د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل

أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ: تُطْعِمُ الطَّعَامَ

چې د اسلام والو کوم يو خصلت بهتر دی؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې خوراک ورکول او

وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لم تعرف (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

هر اشنا او نااشنا ته سلام کول. (روايت کړې دې بخاری و مسلم)

يو مسلمان باندې دبل مسلمان شپږ حقوق دي

﴿۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِلْمُؤْمِنِ عَلَى الْمُؤْمِنِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د مسلمان په مسلمان باندې

سِتُّ خِصَالٍ: يَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَشْهَدُهُ إِذَا مَاتَ

شپږ حقوق دي. کله (کوم) مسلمان بيمار وي نو بل مسلمان د هغې بيمار پرسې وکړي، چې يو مسلمان مړ شي نو د هغې په

وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ

جنازه کې شريک شي، چې يو مسلمان يې خوراک ته راوغواړي نو د هغې دعوت قبول کړي، چې

وَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ

ملاوپږي نو هغې ته سلام وکړي، چې پرنچې وکړي نو د هغې جواب ورکړي او شپږ دا چې (يو مسلمان د بل

وَيَنْصَحُ لَهُ إِذَا غَابَ أَوْ شَهِدَ لَمْ أَجِدْهُ

مسلمان په هر حالت کې) خيرخواهي وکړي هغه که حاضر وي يا غائب او د مشکوة مؤلف وايي چې دا حديث نه خو

---

(۱) رقم الحديث ۶۲۲۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۱ رقم الحديث ۶۲۳۶ ومسلم في ۱/۶۵ وأبوداود في السنن ۵/۳۷۹ رقم: ۵۱۹۴

فِي الصَّحِيحَيْنِ وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَلَكِنْ ذَكَرَهُ صَاحِبُ الْجَامِعِ " بِرِوَايَةِ النَّسَائِيِّ[1]

په صحيحين كې موندلى دى او نه د حميدى په كتاب كې البته دا صاحب جامع الاصول نقل كړى دى.

توضيح: خلاصه دا چې ۱: بيمار پرسې كول ۲: جنازه كول ۳: دعوت قبولو ۴: د ملاقات وخت كې سلام كول ۵: پرنجې كولو باندې جواب وركول ۶: هرحال كې د هغې خيرخواهي كول.

خپل مينځ كې سلام كول د محبت دزياتېدو ذريعه ده

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ترڅو پورې ايمان را نه وړئ جنت ته به داخل

حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى

نه شئ او ستاو ايمان ترهغه وخت پورې كامل كېدى نه شي چې ترڅو پورې تا (د الله د رضا او خوشحالئ لپاره) د دوستئ

تَحَابُّوا أَوَ لَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ

تعلقات قائم نه كړئ او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل او آيا زه تاسو ته يوه داسې ذريعه نه وايم چې تاسو يې اختيار كړئ نو خپل مينځ

إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

كې مو د دوستئ تعلق قائم شي او هغه ذريعه دا ده چې تاسو سلام عام كړئ يعنې هر اشنا او نا اشنا ته سلام كوئ.

څوك چاته سلام وكړي؟

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوك چې په سورلى وي هغه د پيدل

وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ

تلونكي والا ته سلام وكړي، پيدل تلونكى دې په ناست كس باندې سلام وكړي او لږ كسان دې په

عَلَى الْكَثِيرِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[3]

زياتو كسانو ته سلام وكړي.

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل وړوكى دې لويې ته، او

([1]) رقم الحديث ۴۴۳۰ أخرجه «مسلم بلفظ حق المسلم علي المسلم ست» في صحيحه ۱۷۰۵/۴ رقم الحديث (۵-۲۱۶۲)

([2]) رقم الحديث ۴۴۳۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۷۴/۱ رقم الحديث (۹۳-۵۴) وأبوداود في السنن ۳۷۸/۵ رقم الحديث ۵۱۹۳.

([3]) رقم الحديث ۴۴۳۲ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۵/۱۱ رقم الحديث ۶۲۳۲ ومسلم في ۱۷۰۳/۴ رقم الحديث (۱-۲۱۶۰)

وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَ الْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)

تېرېدونکی دې ناست ته او د کم تعداد والا دې زیات تعداد والو ته سلام وکړي. (روایت کړې دې بخاری)

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماشومانو ته سلام کړی دی

﴿۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ

او انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ځل نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هلکانو باندې تېرېدلو نو

فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[۲]

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته سلام وکړو.

توضیح: اګر که په اصولي توګه وړو له پکار دي چې هغوی مشرانو ته اول سلام وکړي خو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عاجزئ او د شفقت په توګه اول ماشومانو ته سلام کړی دی. چې د دې نه جواز معلومېږي او ماشومان هم ډېر وُو، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته سلام وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تېرېدونکی هم وُو، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلام وکړو. او ماشومانو ته تعلیم ورکول هم وُو.

غیر مسلمو ته د سلام کولو مسئله

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: لَا تبدؤوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل یهودو او عیسایانو ته سلام کولو کې ابتداء مه

وَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ (رواه مسلم)[۳]

کوئ او کله چې تاسو لاره کې هغوی کې دیو سره ملاو شئ نو د تهولو نه تنګې لارې باندې تللو ته مجبوره کړئ.

توضیح: لاتبدؤُا: یعني یهود او نصاری ته په سلام کې ابتداء مه کوئ. د دې حدیث نه معلومه شوه چې غیر مسلمو ته په سلام کې ابتداء کول حرام دي، خو که سخته مجبوري وي نو په سلام کې ابتداء کول جائز دي. که په نااشنا کې کافر ته سلام وکړی شو نو دا سې واپس کول پکار دي چې "استرجعت سلامی" زه خپل سلام بېرته اخلم. که غیر مسلم په سلام کې ابتداء وکړه نو صرف جواب ورکول جائز دي. مبتدع ته هم په ابتداء کې سلام کول پکار نه دي، خو که مجبوري وي نو صحیح ده. دې حدیث کې یو حکم دا بیان شوی دی چې که کوم یهودي یا عیسائ درسره لاره کې مالو شیی نو هغه تنګه لاره

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۳۳ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۴/۱۱ رقم الحديث ۶۲۳۱، وابوداود في السنن ۳۸۰/۵ رقم الحديث ۵۱۹۸.

(۲) رقم الحديث ۴۶۳۴ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۲/۱۱ رقم الحديث ۶۲۴۷ ومسلم في ۱۷۰۸/۴ رقم الحديث (۱۵-۲۱۶۸)

(۳) رقم الحديث ۴۶۳۵ أخرجه مسلم في ۱۷۰۷/۴ رقم الحديث (۱۳-۲۱۶۷) وابوداود في السنن ۳۸۳/۲ رقم الحديث ۵۲۰۵

باندې تللو ته مجبوره کړه. د مسئلې وضاحت داسې دي چې که په اهل کتابو کې کوم یو ذمي وي نو د هغې په فراخه لاره باندې د تللو حق نشته دی. دغه شان که یو مسلمان او اهل کتاب په یوه لاره روان وي او لاره د مسلمانانو لپاره تنګېږي نو یهود او نصاراؤ له په فراخه لار د تللو حق نشته دی نو ځکه به هغوی ته په لاره د تللو حکم ورکړی کېږي. او که هغوی پرې عمل نه کوي نو دیکه ورکولو باندې به هغه مجبوره کول کېږي، خو افسوس هغه هم یو دورؤو چې مسلمانانو به یهود او نصاراؤ ته دکې ورکولي، خو کله چې د مسلمانانو حکمرانانو نا اهل شول نو نن یهود او نصاریٰ مسلمانان تنګ او د تورتم مقام ارخ ته دیکه کوي. د غیر مسلمو په جواب کې د **هداك الله** الفاظو سره جواب ورکول پکار دي. (مرقات ۸/۴۲۰، ۴۱۹)

مسلمانانو سره د یهودو عداوت و شرارت

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمُ الْيَهُودُ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې تاته یهودي سلام وکړي
فَإِنَّمَا يَقُولُ أَحَدُهُمْ: السَّامُ عَلَيْكَ.
نو د دې نه بغیر نور هیڅ نشته دی چې خلک داسې وایي "السام علیك" (یعني تالره دي مرګ وي)
فَقُلْ: وَعَلَيْكَ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
لهذا ته د هغې په جواب کې داسې وایه "وعلیك" (یعني تاله دي مرګ راشي)
﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الكِتَابِ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې اهل کتاب یعني یهود او نصاری تاته
فَقُولُوا: وَعَلَيْكُم" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
سلام وکړي نو ته د هغې په جواب کې وایه وعلیکم.

توضیح: د یهودو د شرارت او د خباثت اندازه د دې نه لږول کېږي چې دا خبیث د یو مسلمان د ملاوېدلو په وخت کې هم نه معاف کوي بلکې د سلام په صورت کې د دعا په ځای بنېره کوي. کله به یې چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته سلام کولو نو د السلام علیکم په ځای به یې ژبه تاوه کړه او السام علیکم به یې ویل. چې ترجمه یې مرګ او هلاکت دی، نو په دې وجه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو په جواب کې هغوی ته وعلیکم وایئ یعني تالره دې مرګ او هلاکت وي. ځې روایتونو کې صرف د علیکم لفظ دی.

---

[1] رقم الحديث ۴۶۳۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۲/۱۱ رقم الحديث ۶۲۵۷ ومسلم في ۱۷۰۶/۴ رقم الحديث (۸-۲۱۶۴)

[2] رقم الحديث

هغه زیات بهتر دی ځکه وعلیکم کې د تشریک خطر دی، ځکه مطلب دا کېدی شي چې زمونږ د هلاکت او د مرګ سره دې په تا هم مرګ او هلاکت وي. کومو روایتونو کې چې وعلیکم دی نو هغې که به واؤ د استثناء په معنی کې اخستلی کېږي. چې مطلب به یې دا وي چې مرګ او هلاکت دې صرف تا لره وي "ای وعلیکم ماتستحقون" بهرحال دواړه الفاظ جائز دي. (مرقات ۸/۴۲۲، ۴۲۱)

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حلم او صبر

﴿۱۱﴾ وَعَن عائشةَ قَالَتْ: اسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُودِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې دیهود و یو جماعت د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې د حاضرېدلو اجازت

فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ.

وغوښتلو نو اجازت ورکړی شو او کله چې هغوی نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلل نو وي ویل چې په تا دې مرګ وي،

فَقُلْتُ: بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ. فَقَالَ:

نو ما وویل "بلکې تاسو لره دي مرګ راشي او په تاسو دې لعنت وي" نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ قُلْتُ:

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا الله د محبت او نرمئ والا دی او هر کار کې محبت او نرمي خوښوي. ما عرض وکړو

أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا؟ قَالَ: قَدْ

چې تاسو وا نو رېدل چې دوی څه وویل؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل بیشکه ما واورېدل او ما

قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ. وَفِي رِوَايَةٍ: عَلَيْكُمْ وَلَمْ يذكر الْوَاوَ

(دهغوی په جواب کې) وویل چې وعلیکم. او یو بل روایت کې علیکم دی. یعنې دواؤ ذکر نشته دی. (بخاری او مسلم)

وفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ. قَالَتْ: إِنَّ الْيَهُودَ أَتَوُا النَّبِيَّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم

او د بخاری په روایت کې داسې دي چې عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا و فرمایل څه یهودیان نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلل

فَقَالُوا: السَّام عَلَيْكَ. قَالَ: وَعَلَيْكُمْ

او هغوی د (السلام علیکم) ویلو په ځای دا وویل چې السام علیک نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې وعلیکم.

فَقَالَتْ عَائِشَةُ: السَّامُ عَلَيْكُمْ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې دیهود دا بداخلاقي ما برداشت نه کړه او ما په جواب کې وویل چې تاسو لره دې مرګ راشي

وَلَعَنَكُمُ اللهُ وَغَضِبَ عَلَيْكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او تاسو باندې دې د الله لعنت وي او په تاسو دې د الله غضب وي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

مَهْلًا يَا عَائِشَةُ عليكِ بالرِّفق وإياك والعنفَ والفُحْشَ.

چې عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لاړه شه، تالره نرمي اختيارول پکار دي. او د سختي وينا او بدو خبرو نه ځان ساتل پکار دي.

قَالَت: أَوَ لم تسمع مَا قَالُوا؟ قَالَ:

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل چې تا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وانه ورېدل چې دوی څه وويله؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

أَوَ لم تَسْمَعِي مَا . قُلْتُ رَدَدْتُ عَلَيْهِمْ

او آيا تا وانه ورېدل چې هغوی څه ويلي دي ما په هغې څه جواب ورکړو؟ (تاته معلومېدل پکار دي چې)

فَيُسْتَجَابُ لِي فِيهِمْ وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيَّ

د هغوی په حق کې زما دعا (يا ښېره) خو قبلېږي، خو زما په حق کې د هغوی دعا (يا ښېره) نه قبلېږي

وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ. قَالَ: لَا تَكُونِي فَاحِشَةً

او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ته د بدو خبرو والا مه جوړېږه

فَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الفُحْشَ والتفحُّش (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]

ځکه الله د بدو خبرو والا په تکلف سره بدې خبرو جوړول نه خوښوي. (روايان دی بخاری ومسلم)

توضيح: د يهودو دښمني او خباثت تر دې حده پورې زيات شوی ؤو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به يې هم به سلام کې د ښېرې کولو کوشش کولو. "السام عليكم" به يې ويله. چې معنی يې دا وه چې تالره دې مرګ او هلاکت راشي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اورېدل خو صرف وعليكم سره به يې جواب ورکولو. يو ځل حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا واورېدل نو ښه جواب يې ورکړو. چې په هغې ورته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ای عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا! نرمي کول الله خوښوي. ته د نرمئ نه کار واخله. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل چې آيا ته د دې يهوديانو خبرې نه اورې چې به سلام کې ښېرې کوي؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې زه يې اورم او جواب هم ورکوم. د دوی ښېرې زما په حق کې نه قبلېږي او زما ښېرې د دوی په حق کې قبلېږي. دې حديث کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حکم او د صبر بردشات کولو لويه نمونه موجوده ده. (مرقات ۴۲۳/۸)

الفحش: يعنې کمزورې او د وقار خلاف الله نه خوښوي. **التفحش**: يعنې تکلف کولو د فحش خبره الله نه خوښوي.

([1]) رقم الحديث ۶۴۳۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۱۹۹/۱ رقم الحديث ۴۶۰۱ وفي ۴۵۲/۱۰ رقم الحديث ۶۰۳۰

مسلم او د غیر مسلم په ګډ مجلس کې د سلام طریقه

﴿۱۲﴾ وَعَن أُسامة بن زيد: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ

او حضرت اسامه بن زید فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو داسې مجلس په خوا تېرېدلو چې

مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ

مسلمانان او مشرکان په کې یوځای ناست ؤو. او په مشرکانو کې بت پرست ؤو. او یهودیان هم، نو

فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مجلس والو ته سلام وکړو.

توضیح: اخلاط: یعني په هم یو مجلس کې مسلمانان او غیر مسلم چې کله ناست وي نو د هغوی ته د سلام کولو طریقه دا ده چې د مسلمان نیت کولو سره سړی سلام وکړي. دغه شان که فاسق مجاهر او حالق لحیة یعني ږېره خرائیونکی د نیکانو خلکو سره ناست وي نو د نیکانو په نیت سلام کول پکار دی. ږېره خرائیونکی او د فاسق مجاهر ته سلام کولو کې لومړی والی پکار نه دی. (مرقات ۴۲۵/۸)

لارو او ټپرونو کې کیناستل کله جائز کیږي؟

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ بِالطُّرُقَاتِ. فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

تاسو لارو کې ناستې نه منع شئ. ځینو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وفرمایل یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

مَا لَنَا مِنْ مَجَالِسِنَا بُدٌّ نَتَحَدَّثُ فِيهَا. قَالَ:

زمونږ په لارو کې دناسته نو نه بغیر بله چاره نشته دی چرته چې مونږ خبرې کوؤ. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ.

کله چې تاسو (د مجبورۍ په بناء) د ناستې نه بغیر د بل صورت نه انکار کوئ نو لاري ته د هغې حق ادا کړئ.

قَالُوا: وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ:

صحابه کرامو عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د لارې څه حق دی؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ستر کې

---

[1] رقم الحديث ۴۶۳۹ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۸/۱۱ رقم الحديث ۶۲۵۴ ومسلم في ۱۴۲۲/۳ .

غَضُّ الْبَصَرِ وَ كَفُّ الْأَذَى

بندي کړئ يعني حرامو شيانو ته مه ګورئ، ضرر رسولو نه لري اوسئ يعني لاره تنګولو نه يا بل کوم تېرېدونکي ته ضرر مه

وَرَدُّ السَّلَامِ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) [1]

روسئ، د سلام جواب ورکوئ او خلکو ته د ښو خبرو حکم کوئ او بد خبرو نه منع شئ. (بخاری و مسلم)

توضيح: د دې نه معلومه شوه چې لارو او سپرونو باندې کيناستلو سره اوازونه کول او ګپ لګول منع دی، خو که د مجبورۍ په خاطر کيناستل وي نو بيا د هغې د جواز لپاره شرط دا دی چې تېرېدونکو ته د سلام ښه جواب ورکړئ او که هغه نااشنا وي نو هغوی ته لار اوښايئ. د نيکو حکم کوئ، نظرونه ښکته ساتئ.

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ:

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې مضمون په سلسله کې نقل کې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (دا هم وفرمايل چې) د

وَإِرْشَادُ السَّبِيلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

کوم کس نه لاره هېره شي يا چې کوم کس لاره نه پېژني نو هغې ته لاره ښودل. دا روايت ابو داؤد د ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَقِيبَ حَدِيثِ الْخُدْرِيِّ هَكَذَا [2]

د روايت نه وروسته همدغه شان نقل کړی خنګه چې صاحب مصابيح او دهغه په اتباع کې صاحب مشکوة دلته نقل کړی دی.

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ:

او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دې مضمون په سلسله کې نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا هم وفرمايل

وَتُغِيثُوا الْمَلْهُوفَ وَتَهْدُوا الضَّالَّ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

چې د مظلوم فرياد دې واورېدلی شي او لادرې هېرونکې ته دې لاره وښودلی شي. دا روايت ابو داؤد د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عقيب حَدِيث أَبِي هُرَيْرَة هَكَذَا وَلم أجدهما فِي الصَّحِيحَيْنِ [3]

د روايت نه وروسته همدغه شان نقل کړی دی او ما دا دواړه حديثونه په صحيحينو کې نه دی موندلی.

توضيح: ملهوف: په مصيبت کې د ښملی شوي فرياد ته وايي. د هغې سره مرسته کول او د لارې

---

[1] رقم الحديث ۶۴۴۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۱۱ رقم الحديث ۶۲۲۹ ومسلم في ۱۶۷۵/۳ رقم الحديث (۱۱۴-۲۱۲۱)

[2] رقم الحديث ۶۴۴۱ أبوداود في السنن ۱۶۰/۵ رقم الحديث ۴۸۱۶

[3] رقم الحديث ۶۴۴۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۰/۵ رقم الحديث ۴۸۱۷.

هېرونكې صحيح رهنمائ كول دا د اسې كارونه دي چې د دې په وجه لاره كې كيناستل جائز كېږي، ځكه دا په نېكې ارادې سره ناسته ده. (مرقات۸/۴۲۶)

الفصل الثاني

اسلامي معاشره كې شپږ خپل مينځي حقوق

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د مسلمان په مسلمان باندې

سِتٌّ بِالْمَعْرُوفِ: يُسَلِّمُ عَلَيْهِ

شپږ حقوق دي چې د نېه نېوائي متعلق دي. چې يو مسلمان درسره ملاو شي نو هغې ته سلام كول،

إِذَا لَقِيَهُ وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ وَيُشَمِّتُهُ

چې كوم مسلمان (د خوراک يا د بل كوم غرض مو راولي) نو هغه قبلول، چې يو مسلمان پرنچې وكړي

إِذَا عَطَسَ وَيَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَتْبَعُ جِنَازَتَهُ

نو هغې باندې يرحمک الله ويل، چې كوم مسلمان بيماروي نو د هغې بيمار پرسې كول، چې يو مسلمان مړشي

إِذَا مَاتَ وَيُحِبُّ لَهُ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ والدارمي [1]

نو د هغې د جنازې سره تلل او د مسلمان لپاره هغه څيز خوښول چې كوم د ځان لپاره خوښوي.

توضيح: **بالمعروف**: شارحين ليكي چې بالمعروف كې د با متعلق مخذوف دى. اصل عبارت داسې دى. "**للمسلم على المسلم خصال ستة متلبسة بالمعروف**" يعني دا شپږ خصلتونه په نيک او نېه طريقې سره پوره كول پكار دي. د دستور مطابق د دې حق ادا كول پكار دي. امربالمعروف او نهى عن المنكر مراد نه دى.

كوم شپږ خصلتونه چې د دستور موافق او د حسن سلوک او په خوش اخلاقئ سره پوره كول پكار دي، هغه دا دي. ۱: د ملاقات په وخت كې سلام كول ۲: د خوراک دعوت قبولو ۳: د پرنچې جواب وركول ۴: د بيمار پرسئ لپاره مريض ته تلل ۵: په مرگ د هغې جنازه كول ۶: د جنازې سره تلل. اوس دلته پوښتنه دا ده چې ذكر شوي خصلتونه پنځه دي او حال دا چې حكم د شپږو (۶) دى. د دې جواب شيخ عبد الحق دا كړى دى چې د جنازې سره تلل، دا دا د جنازې نه وروسته شوى دى. لهذا د جنازې ذكر په ضمن كط راغلو. په مستقله توګه نه دى ذكر كړى شوى. (مرقات۸/۴۲۷، ۴۲۶)

---

[1] رقم الحديث ۴۶۴۳ أخرجه الترمذي في السنن ۵/۷۵ رقم الحديث ۲۷۳۶ وابن ماجه في ۱/۴۱۱ رقم الحديث ۱۴۳۳.

سلام چې څومره کامل وي ثواب به هم کامل ملاوېږي

﴿۱۷﴾ وعنِ عمرَان بن حُصَيْن أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

او حضرت عمران ابن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجلس ته يو سړی راغلو او وي ويل

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَرَدَّ عَلَيْهِ ثُمَّ جَلَسَ.

السلام عليکم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته د سلام جواب ورکړو. بيا هغه کس کيناستلو.

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: عشر. ثُمَّ جَاءَ آخر

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د دې سړي لپاره لس (۱۰) نيکئ وليکل شوي. بيا يو بل سړی راغلو

فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ

او هغې وويل السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د سلام هم جواب ورکړو

فَجَلَسَ فَقَالَ: عِشْرُوْنَ

او کله چې هغه کيناستلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دې کس لپاره شل (۲۰) نيکئ ليکل شوي دي.

ثُمَّ جَاءَ لآخر فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ فَرَدَّ عَلَيْهِ

د هغې نه وروسته يو بل سړی راغلو او وي ويل السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې د سلام جواب

فَجَلَسَ فَقَالَ: ثَلَاثُونَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد [1]

هم ورکړو او کله چې هغه کيناستلو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل د دې سړي لپاره ديرش (۳۰) نيکئ ليکل شوي دي.

توضيح: يعنې که څوک صرف السلام عليکم وايي، نو هغې باندې لس نيکئ ملاوېږي. که ورحمة الله ورته اوايي نو شل نيکئ به شي. او که "وبرکاته" ورسره اوايي نو ديرش نيکئ سلام کونکي ته ملاوېږي. راتلونکي حديث کې د ومغفرته لفظ هم دی. چې د هغې په وجه د څلويښتو ليکو بشارت ورکړی شوی دی. سلام اګر که يو سړي ته کېږي، خو مسنون طريقه همدغه ده چې د عليکم د جمع ضمير استعمال کړی شي. سلام کولو کې هم او جواب ورکولو کې هم. (مرقات ۴۲۷/۸)

﴿۱۸﴾ وَعَن مُعَاذ بْنِ أَنَس عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ

او حضرت معاذ ابن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د پاس حديث د معنې په شان روايت نقل کړی دی

---

[1] رقم الحديث ۴۶۴۴ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۹/۵ رقم الحديث ۵۱۹۵ والترمذي في ۵۱/۵ رقم الحديث ۲۶۸۹.

وَزَادَ	ثُمَّ	أَتَى	آخَرُ
چې حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په کې دا الفاظ نور نقل کړي دي. او بيا يو بل يعني څلورم سړی راغلو او			
فَقَالَ:	السَّلَامُ	عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ	اللهِ وَبَرَكَاتُهُ وَمَغْفِرَتُهُ
وي ويل چې السلام عليكم ورحمة الله وبركاته و مغفرته. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د هغې د سلام جواب ورکړو)			
فَقَالَ:	أَرْبَعُونَ	وَقَالَ:	هَكَذَا
او وې فرمايل چې د دې لپاره څلويښت نيکۍ وليکل شوې. او وې فرمايل همدغه شان به ثواب کې زياتوالی کېږي.			
تكون الْفَضَائِل . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]			
يعني سلام کونکی چې څومره د سلام الفاظ زياتوي نو هغه هومره به يې ثواب کې زياتوالی کېږي.			

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللهِ

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل خلکو کې الله ته د نږدې نه

مَنْ بَدَأَ السَّلَام . رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد[2]

نزدې هغه څوک دی چې اول سلام وکړي. (احمد، ترمذی، ابو داؤد)

توضيح: د ابتداء بالسلام فضيلت هغه وخت حاصليږي چې کله دواړه ملګري د يو بل سره مخامخ شي. که داسې نه وي نو د سلام کولو چې څه قواعد دي، نو هغې کې افضل همدغه دی چې لږ د پرو ته سلام وکړي، راتلونکی ناستو ته او سپور پيدل ته سلام وکړي او ماشومان مشرانو ته سلام وکړي.

ناشنا ښځو ته د سلام کولو حکم

﴿۲۰﴾ وَعَنْ جَرِيرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى نِسْوَةٍ

او د حضرت حرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښځو په خوا کې تېرېدلو نو

فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ. رَوَاهُ أَحْمَدُ[3]

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته سلام وکړو.

---

(1) رقم الحديث ۴۶۴۵ أخرجه ابوداود في السنن ۵/ ۳۸۸ رقم الحديث ۵۱۹۶.

(2) رقم الحديث ۴۶۴۶ أخرجه ابوداود في السنن ۵/ ۳۸۰ رقم الحديث ۵۱۹۷ والترمذي في ۵/ ۵۴ رقم الحديث ۲۶۹۴.

(3) رقم الحديث ۴۶۴۷ أخرجه أحمد في المسند ۴/ ۳۵۷

توضيح: فسلم عليهن: يعني نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ښځو ته سلام وکړو. دې حديث کې دا تفصيل نشته دی چې ښځې بوډۍ ګاڼې وي او که پيغلې وي يا مخلوط وي. چې هرڅه وي خو ښځو ته سلام کول د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خصوصياتو نه يو خصوصيت ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت د پلار په حکم کې دی، نو ځکه د امت ښځې د لوريانې دي، خو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه بغير بل هيڅ مسلمان او يو پير فقير لپاره جائز نه دي چې هغوی ښځو ته سلام وکړي. البته که ښځه بالک بوډۍ وي نو دې ته سلام کول جائز دی. پيغلو ښځو ته سلام کول مکروه تحريمي دي، ځکه دا د فتنې د پرانستلو سبب او دروازه ده.

د يو سړي سلام کول يا جواب ورکول د ټول جماعت له اړخه کافي دی

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا

او حضرت علي ابن ابی طالب کرم الله وجهه نه منقول دي. چې هغې وفرمايل چې څه خلک کله تېرېږي

أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوسِ

نو هغې کې يو ته سلام کولو د هغوی ټولو له اړخه کافي کېږي. دغه شان چې څه خلک ناست وي نو هغې کې د يو جواب

أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ

ورکول د هغه ټولو له اړخه کافي کېږي. دا روايت بيهقي په شعب الايمان کې د مرفوع په طريقه نقل کړی دی او ابوداؤد دا

مَرْفُوعاً. وروى أَبُو دَاوُد وَقَالَ:

روايتد (موقوف په طريقه) نقل کړی دی. او هغې (د خپل سند يا نولو نه وروسته) وويل چې دا روايت حسن ابن علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

وَرَفعه ° الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ

مرفوع بيان کړی دی او حسن ابن علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (امام حسن ابن علی ابن ابی طالب نه دی بلکې) هغه حسن دی، چې دا ابوداؤد

وَهُوَ شَيْخُ أَبِي دَاوُدَ [1]

استاد او شيخ دی. او ابوداؤد هم د حسن ابن علی د سند نه مرفوع نقل کړی دی، خو د بل سند نه يې موقوف نقل کړی دی.

توضيح: سلام کې لومړی والی مستحب او افضل دی، خو دا سنت علی الکفايه دی. مطلب دا چې په جماعت کې که يو سلام وکړو نو د ټولو له اړخه کافي کېږي. او که په اوربدونکو کې يو جواب ورکړو نو د ټولو له اړخه کافي کېږي. که ټول شرکت وکړي نو دا هم منع نه دي.

---

[1] رقم الحديث ۴۶۴۸ أخرجه ابوداود في السنن ۳۸۷/۵ رقم الحديث ۵۲۱۰ والبيهقي في الشعب ۴۶۶/۶ رقم الحديث ۸۹۲۲.

په سلام کولو کې د یهودو او نصارا و مشابهت مه اختیارئ

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

قَالَ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا . لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى

کوم کس چې زمونږ د غیرو سره مشابهت کوي، هغه زمونږ نه نۀ دی. تا مه د یهودو سره هم مشابهت کوي

فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ

او مه د عیسایانو سره، د یهودو سلام کول د ګوتو په ذریعه اشاره کول او د عیسایانو سلام کول د

بِالْأَكُفِّ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ[1]

تلو په ذریعه د اشاره کولو په صورت کې وي.

توضیح الاشارة بالاصابع: دا چې سلام د ټولو انبیاؤ سنت دی او اسلام چې کوم سلام پیش کوي دا د انبیاؤ طریقه وه، خو یهودو او نصاریٰ د انبیاؤ طریقه پریښودله او د خپل ځان نه یې سلام جوړ کړو، نو یهود نابهبود د ګوتو په اشارو سلام کوي او نصاراؤ د لاس په تلې باندې سلام کول اختیار کړو. چې د سیلوټ په شکل کې دی. د سلام لفظ دلته د هیڅا به نزد نشته دی، نو ځکه مسلمانانو ته حکم وکړی شو چې د لاس په ځای په ژبه د السلام علیکم الفاظو سره سلام وکړي. صرف به لاس ښوئولو سلام ونه کړي، خو که یو کس لري وي او هغې ته اواز نه ورسیږي نو په لاس سلام کول جائز دی، خو د دې لپاره شرط دا دی چې په ژبه د سلام الفاظ هم ادا کړي. خلاصه دا چې د اهل کتابو هیڅ خصوصیت کې د هغوی سره مشابهت اختیارول جائز نه دی. خاص کر د سلام په معامله کې ځان ساتل او خپل اسلام شعائر ژوندې ساتل ډېر ضروري دي. دغه شان ځینې قومونه په سلام کې لاس یو ځای کولو سره د نمستی الفاظ ادا کوي. څه خلک ملا ښکه کولو سره سلام کوي او څوک صرف سر ښکته کولو سره سلام کوي. دا ټولې طریقې اسلام کې منع دي. اسلام کامل او پوره بلکې د ژوند اکمله ضابطه ده. دا به هیڅ یو طریقه کې د غیر مسلمو محتاج نه دی (مرقات ۴۳۱/۸، ۴۳۰).

اپنی ملت پہ قیاس اقوام مغرب سے نہ کر — خاص ہے ترکیب میں قوم رسولِ ہاشمی ﷺ

اسنادہ ضعیف: د عمرو بن شعیب طریقه ضعیفه ده، خو نورې طریقې صحیح دي. (مرقات ۴۳۱/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۴۹ اخرجه الترمذي في السنن ۵۴/۵ رقم الحديث ۲۶۵۹ واحمد في المسند ۴۹۹/۲ .

هر نوي ملاقات کې سلام کول پکار دی

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتا: إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ

او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل تاسو کې چې څوک

أَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ فَإِنْ حَالَتْ

د خپل مسلمان ورور سره ملاقات وکړي نو پکار ده چې (اول) هغې ته سلام وکړي او د هغې نه وروسته

بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ ثُمَّ لَقِيَهُ

که د دواړو په مینځ کوم بوټی یا دیوال یا (غټ) کانې واقع وي او بیا د هغې نه ملاقات وشي نو

فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

هغې ته (دوباره) سلام وکړئ.

توضیح: د مستثنی صورتونو نه بغیر هر ملاقات کې د یو مسلمان بل مسلمان ته سلام کول مسنون دي. هغه که د هغوی په د جدا کېدلو په وخت کط ولې نه وي، بس لږ شان جدا کېدلو نه وروسته ملاقات باندې سلام کول پکار دی. مثلاً په مینځ کې دیوال یا بوټی هم حائل شي. بیا هم په ملاقات باندې سلام کول مسنون دی. د دې نه دا خبره واضحه شوه چې کوم خلک مخې ته ناستې دي او بیا پسېدلو سره سلم شروع کوي نو دا مناسب نه دي، لکه د لمونځونو نه وروسته یا د اخترونو نه وروسته، خو د رخصت په وخت کې سلام کول جائز او مسنون دی. (مرقات ۴۳۲/۸)

کور ته د ننوتلو یا راوتلو وخت کې سلام کوئ

﴿۲۴﴾ وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا دَخَلْتُمْ بَيْتًا

او حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې تاسو کور ته ننوځئ

فَسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهِ وَإِذَا خَرَجْتُمْ فَأُودِعُوا أَهْلَهُ بِسَلَامٍ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ مُرْسَلًا[2]

نو خپل کور والو ته سلام کوئ او کله چې د کور نه بهر راوځئ نو د سلام په ذریعه رخصت کوئ.

توضیح: علی اهله: یعنې کور ته د ننوتلو وخت او دغه شان د راوتلو وخت کې خپل کور والو ته سلام کوئ. د داخلیدلو وخت کې سلام خو د امن و امان دعا ده او د رخصتېدلو وخت کې سلام د دیانت او د امانت دعا ده، خو ښځې ته د سلام کولو نه مخکې هغه پوهه کول پکار دي چې داسې

---

(1) رقم الحديث ۴۴۵۰ أخرجه ابوداود في السنن ۳۸۱/۵ رقم الحديث ۵۲۰۰

(2) رقم الحديث ۴۴۵۱ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴۴۷/۶ رقم الحديث ۸۸۴۶

سلام کول د سنت طریقه ده. که داسې دې ونه کړل نو خطر دی چې ښځه به دا خیال کوي چې نن خو خاوند ماته سلام و کړو، سبا به سجده هم کوي.

فاودعوا: یعنې کور والو ته الوداعی سلام کول سره د کور نه بهر لاړ شئ.

د دې مطلب د نظر لاندې دا صیغه د وداع نه به وي چې د رخصت کولو په معنیٰ کې دی، خو شیخ عبدالحق رحمه الله لیکلي دي چې اودعوا د ایداع نه دی. چې د امانت ساتلو په معنیٰ کې دی. ګویاکې دا کس د خپل سلام په ذریعه د خپل اهل وعیا او خپل مال په کور کې د امانت په توګه پرېږدي او روان دی. دا مطلب بعید دی. (مرقات۸/۴۳۳، اشعة اللمعات)

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل زما ځویه! چې ته کله د خپل کور والو سره

فَسَلِّمْ يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ [1]

ملاوېږي نو سلام کوه، هغه سلام به باندې او ستا کور والو باندې د خیر او برکت د نزول سبب وي.

د کلام نه مخکې سلام کول پکار دی

﴿۲۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلسَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ.

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل سلام د کلام نه اول دی.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيث مُنكر [2]

روایت کړې دې ترمذی او امام ترمذی وائی دا حدیث منکر دې

توضیح: د سلام چې کوم مقصد په ابتداء کې لیکلی شوی دی. د هغې له نظره د دوه کسانو ملاقات کې د ټولو نه اول د سلام لفظ کېدل پکار دی چې طرفینو ته د سلامتئ ضمانت ملاوشي. د هغې نه وروسته نور کلام شروع کول پکار دی. ځینې خلک اول نورې خبرې کوي او بیا سلام کوي. دا صحیح نه ده، لکه څنګه چې ریډیو پاکستان کې د خبرو شروعات داسې کوي دا دا ریډیو پاکستان دی السلام علیکم. دغه شان ځینې قومونه خوش آمدید، مرحبا او اهلا و سهلا او د پخیر راغلی الفاظ اول استعمالوي. بیا سلام کوي. دا صحیح نه دي، ځکه د حدیث تعلیم دا دی چې اول سلام وي او بیا کلام وي.

سلام کې د پخواني او وسني جاهلیت تقلید ناجائز دی

﴿۲۷﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ نَقُولُ: أَنْعَمَ اللهُ بِكَ عَيْنًا

او حضرت عمران ابن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې مونږ به د جاهلیت په زمانه کې داسې ویل "انعم الله بک عینا

([1]) رقم الحديث ۴۶۵۲ أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۶ رقم الحديث ۲۶۹۸

([2]) رقم الحديث ۴۶۵۳ أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۶ رقم الحديث ۲۶۹۹.

وَأَنْعَمَ	صَبَاحًا.	فَلَمَّا
وانعم صباحا" يعني خداى دېستا سترګې يخې ساتې او هر سحر په نعمتونو کې داخل اوسې. بيا		
كَانَ الْإِسْلَامُ نُهِينَا عَنْ ذَلِكَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]		
چې د اسلام زمانه راغله نو مونږه يې د دې ويلو نه منع کړو.		

توضيح: د اسلام نه مخکې به د جاهليت خلکو د ملاقات په وخت کې د مختلفو وختونو لپاره څه کلمات لوستل. هغې کې يوه کلمه د "انعم الله بك عيناً" وه او بله کلمه د "انعم صباحاً" وه. دواړو کې د خوشحالئ او ترو تازګئ دعا وه. اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د زوند اکمله صابطه ده، نو ځکه خپل منونکي يې غيرو ته محتاجه نه کړل. بلکې د خپل مالاوبدلو او د ملاقات اسلامي طريقې يې وضع کړې، خو په افسوس سره ويل کېږي چې نن سبا د اسلام نه بيزاره مسلمانانو د نوي جاهليت طور طريقې د ځان لپاره د فخر ذريعې جوړې کړې. په نوي جاهليت کې خلک د سحر لپاره ګډ مارننګ او د مابنام لپاره د ګډ ايوننګ او د نورو وختونو لپاره نور الفاظ استعمالوي. دا تقليد غلط دى. کوم قومونه چې خپلو حدودو کې خپل روايتونه او د حرکانو نه خپله تنګ راغلي دي، مونږ په خوشالئ هغه خپلوؤ. او فخر پرې کوؤ. چا ربښتيا ويلي دي.

مانگتے پھرتے ہیں اغیار سے مٹی کے چراغ — اپنے خورشید میں پھیلا دے سائے ہم نے

غائبانه سلام او د هغې جواب

﴿۲۸﴾وَعَنْ غَالِبٍ	قَالَ:	إِنَّا لَجُلُوسٌ	بِبَابِ الْحَسَنِ	الْبَصْرِيِّ إِذْ جَاءَ
او حضرت غالب فرمايي چې مونږ د حضرت حسن بصري رحمه الله په دروازه ناست ؤو. چې ناڅاپه يو				
رَجُلٌ فَقَالَ:	حَدَّثَنِي	أَبِي	عَنْ	جَدِّي قَالَ:
سړى راغلو او بيان يې وکړو ماته زما پلار او هغې ته د هغې پلار (يعني زما نيکه) بيان کړي چې				
بَعَثَنِي أَبِي إِلَى	رَسُولِ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ فَقَالَ: ائتيه
زه زما پلار د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضرولو له لېږلم او وې ويل چې ته نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ شه				
فَأَقْرِئْهُ	السَّلَامَ.	قَالَ:	فَأَتَيْتُهُ	
او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې زما سلام اوايه. زما نيکه بيان کړى دى چې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضر				

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۵۴ أخرجه أبوداود في السنن ۳۹۸/۵ رقم الحديث ۵۲۳۱

فَقُلْتُ: أَبِي	يُقْرِئُكَ	السَّلَامَ.	فَقَالَ:
شوم او عرض مي وكړو چې زما پلار په تاسو باندې سلام ويلى دى. نبي عَلَيْهِ السَّلَام دې اوږدلو سره وفرمايل			
عَلَيْكَ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]			
چې تا باندې او ستا په پلار دې سلامتي وي.			

توضيح: كه كوم كس د لرې نه د چا سلام د چا لپاره راوړى وي او هغې ته پيش كوي نو د هغې جواب څنګه ورکول پكار دى. د هغې تعليم دې حديث كې ورکړى شوى دى چې د هغې به جواب كې "وعليك و عليه السلام" يا د هغه كس نوم اخستلو سره "وعليك وعلى ابيك السلام" وايئ. دغه شان اسلام د سلام راوړونكي او رالېږونكي دواړو د سلام په جواب كې شريک كړي دي.

خطونو كې د سلام ليکلو طريقه

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ بن الْحَضْرَمِيِّ أَنَّ الْعَلَاءَ الْحَضْرَمِيَّ كَانَ عَامِلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو العلاء حضرمى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې علاء حضرمى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخه
وَكَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَيْهِ بَدَأَ بِنَفْسِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
عامل مقرر شو. هغې به چې كله نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خط ليکلو نو د خپل اړخه به يې شروع كوله.

توضيح: ابي الحلاء الحضرمى: حضرمى نسبت دى حضرموت اړخ ته او حضرموت د يمن د مشهور ښار نوم دى. حضرت العلا الحضرمى همدغه ښار اړخ ته منسوب دى. دا جليل القدر صحابي دى. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د بحرين والي (ګورنر) مقرر كړى ؤو. بيا د حضرت صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور كې هم هغه والي ؤو. لويې مجاهد ؤو. د هغې په لاس لويې كرامتونه ظاهر شول. د مشكوة په نسخو كې د عن ابى العلا الحضرمى الفاظ دي. ځينې نسخو كې د عن ابن العلاء الحضرمى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان العلا الحضرمى الفاظ راغلي دي. همدغه واضح او قابل فهم دى. دې حديث كې د حضرت علاء حضرمى د خط الفاظو كې د هغې نوم اول دى او د هغې نه وروسته د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم دى او بيا سلام دى. خطونو كې د سلام ليکلو همدغه مسنون طريقه ده. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم دغه طرز اختيار كړى دى. (مرقات ۴۳۴/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۶۵۵ اخرجه ابوداود في السنن ۳۹۹/۵ رقم الحديث ۵۲۲۷، واحمد في المسند ۳۶۶/۵

([2]) رقم الحديث ۴۶۵۶ اخرجه ابوداود في السنن ۳۴۸/۵ رقم الحديث ۵۱۳۴

په ليکلی شوي خط باندې خاوري شيندلو وجه

﴿۳۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا كتب أحدكُم

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کله تاسو کې څوک

كتابا فليترب بِهِ فَإِنَّهُ أَنْجَحُ

(چاته) خط ليکل غواړي نو هغه خط (د ليکلو نه وروسته) هغې باندې خاوره واچوئ يا پرې خاوره شيندلو سره وخنډئ

لِلْحَاجَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيث مُنكر [1]

ځکه د څيز د حاجت راويستلو لپاره ډېر د کار دی.

توضيح فليترب به: يعنې د خط ليکلو نه وروسته دا په خاورو کې ککړ کړئ. د خط په خاورو کې د ککړلو مصلحت کې علماؤ مختلفې خبرې لکيلي دي. اوله خبره يې دا ليکلې ده چې مخکې زمانه کې به په قلم او رنګ (د ليکلو) باندې خط لکيلی کېدو. د قلم رنګ د خط ليکلو نه وروسته هم لونده وي. که کاغذ راتاو کړی شي نو لکيلی شوی خط وراښکاره کېږي. د هغه خط د اوچولو لپاره خلکو به هغې باندې نری ګرد اچولو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم د دې څيز تعليم ورکړی دی چې داسې کوئ. ستاسو حاجت به ډېر ژر پوره کېږي. د حديث دا مطلب ډېر واضح دی او د بوهېدلو پهر اعتبار سره بالکل اسان دی.

ځينو علماؤ دا مطلب بيان کړی دی چې د خط ليکلو نه وروسته په خاوره باندې کېږدئ او اوايئ چې د دې په مضمون کې چې کوم خواست دی د هغې حاجت او ضرورت پوره کونکی صرف الله دی. دا خط هيڅ نه شي کولی. دا خو صرف يو ذريعه ده. چې استعمال کړی شوي ده. بهرحال علماؤ دا حديث منکر ګڼلی دی. (مرقات ۴۳۷/۸)

مضمون د تسلسل لپاره قلم په غوږ باندې ايښودل پکار دی

﴿۳۱﴾ عَن زيدِ بن ثابتٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت زيد ابن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه (يو ورځ) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم،

وَبَيْنَ يَدَيْهِ كَاتِبٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "

نو هغه وخت د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته يو ليکونکی ناست ؤو. ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا واورېدل

ضَعِ الْقَلَمَ عَلَى أُذُنِكَ فَإِنَّهُ أَذْكَرُ لِلْمَآلِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَفِي إِسْنَادِهِ ضعفٌ [2]

چې قلم خپل غوږ باندې ږده. ځکه دا څيز مطلب ډېره يادونه کوي. (روايت کړې دې ترمذی)

([1]) رقم الحديث ۴۶۵۷ أخرجه الترمذي في السنن ۶۳/۵ رقم الحديث ۲۷۱۳ وابن ماجه في ۱۲۴۰/۲ رقم الحديث ۳۷۷۴.

([2]) رقم الحديث ۴۶۵۸ أخرجه الترمذي في السنن ۶۳/۵ رقم الحديث ۲۷۱۴

د ضرورت په خاطر د غير مسلمو ژبه زده کول جائز ده

﴿۳۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَعَلَّمَ السُّرْيَانِيَّةَ.

او حضرت زيد ابن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته حکم وکړو چې زه سرياني ژبه زده کړم

وَفِي رِوَايَةٍ: إِنَّهُ أَمَرَنِي أَنْ أَتَعَلَّمَ كِتَابَ يَهُودَ

او يو روايت کې دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته حکم وکړو چې زه د يهودو نه خط او کتابت زده کړم.

وَقَالَ: إِنِّي مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابٍ. قَالَ:

او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د خط او کتابت په معامله کې زه په يهودو باندې اطمينان نه يم.

فَمَا مَرَّ بِي نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى

زيد ابن ثابت فرمايي چې (د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې حکم نه وروسته) نيمه مياشت هم نه وه تېره شوې چې ما د

تَعَلَّمْتُ فَكَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَى يَهُودَ

(يهودو ژبه زده کړه او د هغوی نه مې) خط او کتابت زده کړو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله يهودو ته خط او کتابت لېږلو

كَتَبْتُ وَإِذَا كَتَبُوا إِلَيْهِ قَرَأْتُ لَهُ كِتَابَهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [1]

نو هغه به ما ليکلو او يهودو به چې کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کوم خط راولېږلو نو هغه به د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې ما لوستلو.

توضيح: السريانية: تورات په عبرانئ ژبه رانازل شوی ؤو، خو يهودو به عبراني او سرياني دواړه ژبې استعمالولې او دواړه ژبې نزدې نژدې وې. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ځېنې وخت چاته خط ليکلو نو په سريانئ کې به ضرورت ؤو يا به سريانئ کې ليکلی شوی خط راغلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغې به ليکلو او لوستلو دواړو کې د يهودو نه استفاده کوله، خو په يهودو باندې اعتبار او اعتماد نه ؤو. دا احتمال ؤو چې هغوی څه په ځای نو څه اوايي او يا نور څه وليکي، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړو چې ته په سريانئ او د يهودو په ژبه کې لکيل زده کړه. د هغې به ډهن دې شباش وي چې په نيمه مياشت، د پنځلس (۱۵) ورځو نه هم کم کې هغې دا ژبه زده کړه او هغې کې يې ليکل شروع کړل. د دې حديث نه معلومه شوه چې د مسلمانانو په معاشره کې د هېره قسمه افرادو شتون ضروري دی چې مسلمان په هيڅ يوه شعبه کې غير مسلمو ته محتاجه نه وي.

امام غزالی رحمه الله په احياء العلوم کې ليکلي دي چې د مسلمانانو خپل نائی پکار دی. خپل

([1]) رقم الحديث ۴۶۵۹ أخرجه الترمذي في السنن ۶۴/۵ رقم الحديث ۲۷۱۵.

طبيب پكار دى. خپل لوار پكار دى. خپل انجينئر وغيره وغيره. د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د ضرورت له خاظره د غير مسلمو ژبه زده كول جائز دي. (مرقات ۴۳۹/۸)

د ملاقات او درخصت په وخت كې سلام كوئ

﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ فَلْيُسَلِّمْ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ

چې كله تاسو كې څوك يو مجلس ته ورسي نو (اول) سلام كوي او كه بيا كيناستل غواړي نو كښېنې.

ثُمَّ إِذَا قَامَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتِ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[1]

او چې اودرېږي نو هغه وخت كې هم سلام وكړي ځكه اولنى سلام د دويم سلام كولو نه زياد بهتر نه دى.

په لاره كې د ناستي حق ادا كړئ

﴿۳۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا خَيْرَ فِي جُلُوسٍ فِي الطُّرُقَاتِ

او د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په لارو كې كيناستل ښه كار نه دى،

إِلَّا لِمَنْ هَدَى السَّبِيلَ وَرَدَّ التَّحِيَّةَ

خو چې كوم كس (لاره هېرودونكي يا ړوند ته) لاره اوښاي. د سلام جواب وركوي. (حرام څيزونو ته د كتلو نه)

وَغَضَّ الْبَصَرَ وَأَعَانَ عَلَى

ستركې بندي كړي او د هغه كس سره مرسته وكړي چې بوج ورسره وي نو د داسې سړي په لاره باندې

الْحُمُولَةِ رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي جُرَيٍّ فِي بَابِ فضل الصَّدَقَة[2]

ناسته ښه ده. شرح السنة او ابى جرى د روايت باب فصل الصدقة كې نقل كړى شوى دى. (شرح السنة)

توضيح الحمولة: دا هغه ځناور ته وايي چې پيټى پرې راوړلى كېږي. مطلب دا چې په لاره كې د كيناستلو حق د هغه چا دى چې هغه دا كار وكړي. چې د يو مجبوره كس سره مرسته كوي او په سورلى د هغې سره سامان كېږدي. او كه داسې نه كوي نو فضول لاره كې مه كيناسئ. (مرقات ۴۴۱/۸)

---

(1) رقم الحديث ۴۶۶۰ اخرجه ابوداود في السنن ۳۸۶/۵ رقم الحديث ۵۲۰۸ والترمذي في ۶۰/۵ رقم الحديث ۲۷۰۶.

(2) رقم الحديث ۴۶۶۱ اخرجه البغوي في شرح السنة ۳۰۵/۱۲ رقم الحديث ۳۳۳۹.

الفصل الثالث

د سلام ابتداء حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ کړي ده

﴿۳۵﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کله الله حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ پیدا کړو

وَنَفَخَ فِيهِ الرُّوحَ عَطَسَ فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ

او د هغې بدن کې یې روح واچولو نو هغې ته پرنچې راغلو، نو هغې الحمد لله وویله. دغه شان هغې

فَحَمِدَ اللهَ بِإِذْنِهِ فَقَالَ لَهُ رَبُّهُ: يَرْحَمُكَ. اللهُ

د الله په توفیق او اجازت سره د خدای حمد وکړو. الله د هغې (د حمد) په جواب کې وفرمایل یرحمک الله

يَا آدَمَ اذْهَبْ إِلَى أُولَئِكَ الْمَلَائِكَةِ

یعني د الله رحمت دې تا باندې نازل وي او ییایي وفرمایل چې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د فرښتو هغه جماعت ته لاړ شه

إِلَى مَلَإٍ مِنْهُمْ جُلُوسٍ فَقُلِ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ.

چې هلته ناست دي، او وایه چې السلام علیکم، نو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ فرښتو له ورغلو او هغوی ته یې سلام وکړو.

قَالُوا: عَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ. ثُمَّ رَجَعَ إِلَى رَبِّهِ

فرښتو په (جواب کې) وویل علیک السلام ورحمة الله. د هغې نه وروسته حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل پروردګار ته راغلو

فَقَالَ: إِنَّ هٰذِهِ تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ بَنِيكَ بَيْنَهُمْ.

(یعني هغه ځای ته ښه راغلو چې ته چې الله د هغې سره کلام کړی ؤو) الله هغه ته وفرمایل دا ستا او ستا اولاد دعاده.

فَقَالَ لَهُ اللهُ وَيَدَاهُ مَقْبُوضَتَانِ:

چې خپل مینځ کې به یې یو بل ته کوي. ییا الله هغې ته وفرمایل حال دا چې د هغې دواړه لاسونه بند ؤو

اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ؟ فَقَالَ: اخْتَرْتُ يَمِينَ رَبِّي

چې دې دواړو کې چې کوم یو غواړې خوښ یې کړه. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ وویل چې ما د خپل پروردګار نه ښې لاس خوښ

وَكِلْتَا يَدَيْ رَبِّي يَمِينٌ مُبَارَكَةٌ ثُمَّ بَسَطَهَا

کړو او زما د پروردګار دواړه لاسونه د برکت والا دي. ییا الله هغه لاس کولاو کړو نو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ څه وینې

فَإِذَا فِيهَا آدَمُ وَذُرِّيَّتُهُ فَقَالَ: أَيْ رَبِّ مَا هٰؤُلَاءِ؟

چې دې کې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ او د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د اولاد صورتونه دي. هغې وپوښتل چې پروردګاره دا څه دي؟

قَالَ: هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ فَإِذَا كُلُّ إِنْسَانٍ مَكْتُوبٌ عُمُرُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ

پروردګار وفرمایل چې دا ستا اولاد دی. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ دا هم ولیدل چې د مسلمان عمر د هغې د دواړو سترګو کې

فَإِذَا فِيهِمْ رَجُلٌ أَضْوَؤُهُمْ أَوْ مِنْ أَضْوَئِهِمْ

مینځ کې لیکل شوی دی. بیا د هغې نظر په یو داسې انسان باندې پرېوتلو چې د ټولو نه زیات روښانه ؤو، یا هغې

قَالَ: يَا رَبِّ مَنْ هَذَا؟ قَالَ:

کې د زیات روښانو نه یو ؤو. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ وپوښتل چې زما پروردګاره دا څوک دي؟ پروردګار وفرمایل

هَذَا ابْنُكَ دَاوُدُ وَقَدْ كَتَبْتُ لَهُ عُمُرَهُ أَرْبَعِينَ سَنَةً. قَالَ: يَا رَبِّ زِدْ فِي عُمُرِهِ.

دا ستا ځوي داؤد دی او ما د دې عمر څلویښت کاله لیکلی دی. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ وویل چې د دې عمر څه

قَالَ: ذَلِكَ الَّذِي كَتَبْتُ لَهُ. قَالَ:

زیات کړه. پروردګار وفرمایل چې دا هغه څیز دی چې ما د دې په حق کې لیکلی دی. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

أَيْ رَبِّ فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُ لَهُ مِنْ عُمُرِي سِتِّينَ سَنَةً.

چې پروردګاره (که د دې عمر لیکلی شوی دی نو زه د خپل عمر نه شپېته (۶۰) کاله دې ته ورکوم.

قَالَ: أَنْتَ وَذَاكَ. قَالَ: ثُمَّ

پروردګار وفرمایل ته پوهه شه او ستا کار پوهه شه یعنې دې معامله کې تاته اختیار دی. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې د هغې نه

سَكَنَ الْجَنَّةَ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ أُهْبِطَ مِنْهَا

وروسته حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ جنت کې پاتې شو تر هغه چې الله غوښتل او بیا هغه د (جنت نه) زمکې ته راکوز کړی شو

وَكَانَ آدَمُ يَعُدُّ لِنَفْسِهِ

او حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ مسلسل د خپل عمر کلونه شمارل (تردې چې د هغې عمر نه سوه څلویښت (۹۴۰) کاله

فَأَتَاهُ مَلَكُ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُ آدَمُ:

شو نو) د مرګ فرښته (د روح د قبض کولو لپاره) هغې له راغله. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ هغې ته وویل

قَدْ عَجَّلْتَ قَدْ كُتِبَ لِي أَلْفُ سَنَةٍ. قَالَ: بَلَى

چې تا تندې وکړه. زما عمر خو زر (۱۰۰۰) کاله مقرر کړی شوی دی. فرښتې وویل چې (دا صحیح

وَلَكِنَّكَ جَعَلْتَ لِابْنِكَ دَاوُدَ سِتِّينَ سَنَةً فَجَحَدَ فَجَحَدَتْ
ده) خو تا د خپل عمر څلويښت کاله خپل ځوي داؤد ته ورکړی دی. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې نه
ذُرِّيَّتُهُ وَنَسِيَ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ"
انکار وکړو او د هغې اولاد هم انکار کوي. او حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ (دا ممانعت) هېر کړی ؤو (چې د الله له ارخه
قَالَ: فَمَن يؤمئذ أمر
د مشهور بوتې مېوه د خورلو متعلق وه او د هغې اولاد هم هېره کړې وه) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل د هغه ورځې
بِالْكِتَابِ وَالشُّهُودِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ(۱)
نه د ليکلو او ګواه کولو حکم وکړی شو.

توضيح: اضوء: يعني د ټولو نه زياته پرقېدونکی او روښان ؤو. دا د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ جزئی فضيلت ؤو. او کېدی شي د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې ارخ ته متوجې کېدل د زړه ميلان او مناسبت ؤې چې په دواړو کې د خلافت ارضي په وجه ؤو، ځکه د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وروسته الله د نبوت سلسله جدا کړه او خلافت يې جدا کړو داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ بيا دا سلسله جمع کړه او دغه شان د هغې نه وروسته هم د نبوت سره د خلافت عهده جمع کړی شوه. **ستين سنة:** دلته دشپېته کالو خبره ده اوپه مشكوة ج ۱ ص ۳۲۵ باب الايمان بالقدر کې د څلويښتو کالو ذکر دی ددې جواب داچې څلويښت کاله د ورکولو خبره زياته واضحه او راجح ده دشپېتو کالو خبره د کوم راوي نه سهو شوي ده. دلته پوښتنه داچې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د عمر ورکولو نه بيا ولې انکار وکړو؟ ددې جواب داچې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ قصداً ايا په ارادې سره انکار نه ؤو کړی بلکې د وخت د تيريدلو په وجه د هغې نه هېر شوي ؤو. "فنسي ولم نجد له عزماً". (مرقات ۸/۴۴۶)

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ: مَرَّ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ
او حضرت اسماء بنت يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ د ښځو په خوا تېرېدلو او مونږ د ښځو سره
فَسَلَّمَ عَلَيْنَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه والدارمي(۲)
ناست ؤو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته سلام وکړو.

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۶۲ أخرجه الترمذي في السنن ۵/۴۲۲ رقم الحديث ۳۳۶۸.

(۲) رقم الحديث ۴۶۶۳ أخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۸۳ رقم الحديث ۵۲۰۴ وابن ماجه في ۲/۱۲۲۰ رقم الحديث ۳۷۰۱.

د سلام د ثواب کتلو لپاره بازار ته تلل

﴿۳۷﴾ وَعَنِ الطفيلِ بن أُبي بن كعبٍ: أَنَّهُ كَانَ يَأْتِي ابْنَ عُمَرَ

او حضرت طفیل ابن ابی ابن کعب نه روایت دی چې هغه به د حضرت عبدالله ابن عمر په خدمت کې حاضر ېدلو

فَيَغْدُو مَعَهُ إِلَى السُّوقِ. قَالَ فَإِذَا غَدَوْنَا إِلَى السُّوقِ

او ېیا به د سحر وخت کې هغې سره بازار ته تللو. حضرت طفیل وایي چې کله به مونږ سحر بازار ته تللو نو

لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى سَقَّاطٍ وَلَا عَلَى صَاحِبِ بَيْعَةٍ وَلَا مِسْكِينٍ

حضرت عبدالله ابن عمر به چې د چا سقاط، د کوم خرڅونکي، کوم مسکین او چې د چا په خوا به

وَلَا أَحَدٍ إِلَّا سَلَّمَ عَلَيْهِ. قَالَ الطُّفَيْلُ: فَجِئْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا

تېر ېدلو نو هغې ته به يې سلام کولو، نو حضرت طفیل وایي چې یو ورځ زه حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ته

فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَى السُّوقِ فَقُلْتُ لَهُ: وَمَا تَصْنَعُ فِي السُّوقِ

راغلم او هغې زه د ځان سره بازار ته بوتلم نو ما هغې ته وویل چې بازار ته لاړ شو نو هلته به څه وکړو. ته نه

وَأَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ وَلَا تَسْأَلُ عَنِ السِّلَعِ

د کوم اخستلو او خرڅولو ځای او د ېږي او نه د کوم خرڅونکي څیز باره کې پوښتنه کوي، نه خو اخستل خرڅول

وتسوم بِهَا وَلَا تَجْلِسُ فِي مَجَالِسِ السُّوقِ

او نه کومه سودا کوي او نه د بازار په کوم مجلس کې شریک کېږي. (نو بازار ته د تللو نه خو ښه دا دي چې)

فَاجْلِسْ بِنَا هَهُنَا نتحدث. قَالَ: فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ:

ته زمونږ سره همدلته کینې چې څه خبرې وکړو. حضرت طفیل فرمایي چې حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه

يَا أَبَا بَطْنٍ قَالَ وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ

(دي اوږدلو سره) ماته وویل چې ای د غټې خیټې والا، د روایي بیان دی چې د طفیل خیټه غټه وه (ته څه خبر

إِنَّمَا نَغْدُو مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ نُسَلِّمُ

يې مونږ د اخستلو او خرڅولو یا د بل کوم غرض لپاره بازار ته نه ځو بلکې) مونږ خو صرف د سلام کولو په

عَلَى مَنْ لَقِينَاهُ. رَوَاهُ مَالك وَالْبَيْهَقِيّ فِي شعب الْإِيمَان[1]

غرض ځو. او هر هغه کس ته سلام کوؤ چې مونږ سره ملاویږي او د دغه شان بازار ته تللو سره ثواب حاصل کړو.

([1]) رقم الحديث ۴۶۶۴ أخرجه مالك في الموطا ۹۶۱/۲ رقم الحديث ۶ من باب السلام والبيهقي في شعب الايمان ۴۳۴/۶ رقم الحديث ۸۷۹۰

توضیح: **فاستتبعني**: یعني زه یې د ځان سره کړم او بازار ته روان شو. **لاتقف**: یعني د هیڅ اخستلو او خرڅولو لپاره به نه اودریدلو. **ولا تسوم**: یعني سوده هم کوي نو صرف د ګرځیدلو نه څه فایده. دلته جومات کې کښنه او دې کې مونږ ته حدیثونه واوروه. (مرقات ۴۴۸/۸)

سقاطی: د کباړو مال کې کاروبار کونکی. (الکاشف: ۳۰/۹)

یا اباابطن: یعني د غټو خیټې والا، د کوم کس خیټه چې غټه وي هغې ته ابو بطن وایي، لکه څنګه چې ویل شوي دي، خو د علم زیات شوقین ته هم ابو بطن وایي. کېدی چې په دې وجه یې ورته ابوبطن ویلي وي. دې کې هیڅ منافات نشته. حضرت علي رضي الله عنه ته به یې هم د علم د کثرت په وجه شیخ بطین وایي. (مرقات ۴۴۸/۸)

سلام کې بخل کونکی بخیل دی

﴿۳۸﴾ وَعَن جَابِرٍ قَالَ: أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رضي الله عنه فرمایي چې یو کس د نبي کریم صلی الله علیه وسلم به خدمت کې حاضر شو او

فَقَالَ: لِفُلَانٍ فِي حَائِطِي عَذْقٌ وَأَنَّهُ

عرض یې وکړو چې زما باغ کې د فلاني فلاني د کجورې بوټی دی. او صورت حال دا دی چې د دې

آذَانِي مَكَانُ عَذْقِهِ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

بوټي په وجه ماته تکلف رسي نو نبي علیه السلام یو کس هغې پسې ورولېږلو چې هغه راوله. کله چې هغه راغلو

أَنْ بِعْنِي عَذْقَكَ قَالَ: لَا.

نو نبي علیه السلام وفرمایل چې ته خپل د کجورې بوټی زما په لاس خرڅ کړه. هغې وویل چې زه دا نه خرڅوم.

قَالَ: فَهَبْ لِي. قَالَ: لَا. قَالَ:

نبي علیه السلام وفرمایل چې زما په نوم یې وقف کړه. هغې وویل چې وقف کومه یې هم نه، نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل

فَبِعْنِيهِ بِعَذْقٍ فِي الْجَنَّةِ؟

چې بنا دا بوټی زما په لاس د کجور د داسي بوټي په بدل کې خرڅ کړه چې تاته په جنت کې ملاو شي.

فَقَالَ: لَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا رَأَيْتُ الَّذِي هُوَ أَبْخَلُ مِنْكَ

هغې وویل چې داسي یې هم نه خرڅوم. نبي علیه السلام وفرمایل ما ستا نه غټ بخیل هیڅ یو کس نه دی

إِلَّا الَّذِي يَبْخَلُ

لیدلی بغیر د هغې نه چې په سلام کې بخل کوي. یعني د سلام په معامله کې نقصان کونکی سړی ستانه

بِالسَّلَامِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيشُعَبِ الْإِيمَانِ[1]
هم بخیل دی چې هغه داسې لږ کار کولو باندې هم زیات ثواب حاصلول نه غواړي.

توضیح: سلام باندې هیڅ نه خرچ کېږي. د ژبې یو څو کلمات دي. چې فایده یې ډېره زیاته ده. دې بخل کونکي ربنتیا هم لویې بخیل دی. **عذق**: د کجورې بوټې ته عذق ویلی شوی دی. د هغه کس عجیبه حالت ؤو.. چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې نه بوټی اخستل غوښتل نو هغې انکار وکړو. بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د د عیبې په توګه وغوښتلو، هغې بیا انکار وکړو. بیا یې ورسره د هغې به بدل کې د جنت کې د کجورې د بوټې وعده وکړه. هغې بیا انکار وکړو، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې د دې کس نه دنیا کې بل هیڅ یو لویې بخیل نشته دی، خو سلام کې چې څوک کوم کس بخل کوي هغه د دې نه لویې بخیل دی. د هغه کس په طبیعت کې سختې وه. راجحه دا ده چې مسلمان ؤو. بس "**و خلق الانسان ضعیفا**"(مرقات۸/۴۴۹)

سلام کې مخکې والی کونکی د تکبر نه پاک دی

﴿۳۹﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل
اَلْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيءٌ مِنَ الْكِبْرِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيشعب الْإِيمَان[2]
سلام کې اولیت کونکی د تکبر نه پاک دی.(بیهقی فی شعب الایمان)

توضیح: **البادئ**: یا خو چې په لاره کې د دوه ملګرو ملاوبدلو باندې کوم کس اول سلام کوي هغه مراد دی چې هغې کې تکبر نه وي. یا د دې نه هغه دوه کسان مراد دي چې د یو بل نه خفا وي او په ملاقات کې اولیت وکړي او خبرې یې شروع کړي نو د داسې کس ټول ګناهونه معاف کېږي. او دا د تکبر نه هم خالي دی. اولنۍ مفهوم زیات عام دی. (مرقات۸/۴۵۰)

دا کربني زه مکه مکرمه کې د بیت الله مخې ته لیکم. **الحمدلله ثم الحمدلله. ۹ رمضان ۱۴۲۶هـ**

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۶۵ اخرجه احمد في المسند۳/۳۲۸ والبيهقي في الشعب ۶/۴۳۰ رقم الحديث ۸۷۷۱ رقم الحديث ۴۶۶۶.

(۲) رقم الحديث ۴۶۶۶ اخرجه البيهقي في الشعب ۶/۴۳۳ رقم الحديث ۸۷۸۷.

باب الاستیذان
اجازت د اخستلو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿یا ایها الذین اٰمنوا لا تدخلوا بیوتاً غیر بیوتکم حتی تستانسوا وتسلموا علی اهلها﴾ اسلام دا چې کامل او پوره بلکې اکمل مذهب او عالمي قانون دی، نو ځکه دي د انساني ژوند د هر اړخ د ټولو مسائلو د حل بهترین ضمانت ورکړی شوی دی. همدغي سلسله کې د انساني معاشري په مسائلو کې د یو بل کور ته د تلو راتلو مسئله ده. قرآن کریم کې الله تعالی دا داسې بیان کړې ده ﴿یا ایها الذین اٰمنوا لا تدخلوا بیوتاً غیر بیوتکم حتی تستانسوا وتسلموا علی اهلها فان لم تجدوا فیها احدا فلا تدخلوها حتی یؤذن لکم وان قیل لکم ارجعو فارجعوا هو ازکی لکم والله بما تعملون علیم﴾ (سورة نور ۲۷،۲۸) دې آیت کې الله تعالی سلام او اجازت دواړه راجمع کړي دي. ادب او د تهذیب تقاضا دا ده چې هیڅ یو ګس دي بغیر د اجازت نه د بل کور ته داخلیږي، ځکه په دې باندې دي نقصانونه واقع کیدلی شي، ځکه شریعت دا امر مستحب ګرځول دی چې که چرې یو کس د چا کور ته تلل غواړي، نو هغې له پکار ده چې اول د هغې کور مخې ته اوږي او د دننه تللو اجازت وغواړي. (مرقات ۴۵۰/۸) که چرې د کور په مالک په نظر راغلو نو سلام دي وکړي او بیا دي اجازت وغواړي. "آادْخُلُ" آیا زه دننه راتلی شم؟ که د کور مالک کور کې نه وي یا په نظر رانغلو نو دریځل په السلام علیکم الفاظو سره سلام وکړي او بیا دي بیرته لاړ شي. دغه شان که د کور مالک کور کې موجود دی خو هغې وویل چې ؤوره زه مصروف یمه بیرته لاړ شه نو دي رغلي کس له پکار ده چې بیرته لاړ شي. دا چې د اجازت غوښتلو به معنی کې دی، نو د کور مالک ته دا اختیار حاصل دی چې اجازت ورکوي یا نا. اجازت ورکول د راتلونکې کس څه جبري حق نه دی. بلکې د راتلونکې کس لپاره دابهتر او اطهر او پاکه طریقه ده چې د هیڅ شکایت یا د عداوت نه بغیر بیرته لاړ شي د قرآن اعلان دی ﴿هو ازکی لکم﴾ (سورة نور: ۲۸) سبحان الله اسلام څه پاک دین دی نظام دی.

الفصل الاول
که دریځله سلام باندې اجازت ملاؤ نشو نو بیرته لاړ شه

﴿۱﴾عَنْ	أَبِي	سَعِيدٍ	الْخُدْرِيِّ	قَالَ:	أَتَانَا	أَبُو	مُوسَى

حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه فرمایي چې (یو ورځ) حضرت ابو موسی اشعر رضی الله عنه مونږ له راغلو

قَالَ: إِنَّ عُمَرَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَنْ آتِيَهُ
او وي ويل چې حضرت عمر رضي الله عنه ما پسې يو کس راليږلی وُو او زه يې غوښتلی وُوم. زه چې د غوښتلو په حساب دهغې
فَأَتَيْتُ بَابَهُ فَسَلَّمْتُ . ثَلَاثًا فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ
دروازې ته ورسيدلم او د ننه تللو اجازت غوښتلو لپاره مې دري ځله سلام وکړو نو ماته د سلام جواب ملاؤ
فَقَالَ: مَا مَنَعَكَ فَرَجَعْتُ.
نه شو، نو زه بېرته راغلم. بيا (وروسته ملاقات وشو نو حضرت عمر رضي الله عنه زمانه وپوښتل چې څه شي ته ماته
أَنْ تَأْتِيَنَا؟ فَقُلْتُ: إِنِّي أَتَيْتُ فَسَلَّمْتُ عَلَى بَابِكَ ثَلَاثًا
د راتللو نه منع کړې وي؟ ما وويل چې زه تاله راغلی وُوم او ستا په دروازه اودرېدلو سره مې دري ځله سلام وکړو
فَلَم تردَّ عليَّ فَرَجَعْتُ وَقَدْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
خو تا جواب رانکړو او نه ستا خادم جواب راکړو. لهذا زه بېرته راغلم، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ماته فرمايلي وُو چې
:إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلَاثًا
تاسو کې يو کس (د چا کور ته لاړشي او دروازه باندې او درېدلو سره) دري ځله اجازت وغواړي او هغې ته
فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ فَلْيَرْجِعْ. فَقَالَ عُمَرُ:
اجازت ملاؤ نه شي نو پکار ده چې بېرته راشي. حضرت عمر رضي الله عنه (دې اوربدلو سره) وفرمايل چې د دې حديث
أَقِمْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ.
ګواه راوله يعنې د دې حديث په صحيح کولو باندې ګواه پيش کړه چې دا د نبي کريم صلی الله عليه وسلم
قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَقُمْتُ مَعَهُ
ارشاد مبارک دی. حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې زه د حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه
فذهبتُ إلى عمرَ فشهدتُ (مُتَّفق عَلَيْهِ) (۱)
سره (د تللو لپاره) پاځيدلم او د حضرت عمر رضي الله عنه له لاړو او ګواهي مې ورکړه. (بخاری ومسلم)

توضيح: مامنعك: يعنې ته ما راغوښتلی وي نو څه شي ته ماله د راتللو نه منع کړی وي؟ (مرقات ۴۵۱/۸)

اقم عليه بينة: يعنې کوم حديث چې تا بيان کړی دی دې باندې ګواه پيش کړه چې دا واقعي د نبي

کریم ﷺ حدیث دی یا نا؟حضرت عمر رضی الله عنه چې ولیدل چې به کثرت سره حدیثونه بیانېدل شروع شوي دي نو هغې د حدیثونو بیانولو کې د احتیاط له نظره دا قانون چوړ کړی ړو چې کوم کس حدیث بیانوي، نو هغې باندې لازم دی چې کم نه کم یو کس د ګواه به توګه پیش کړي چې هغې څه بیان کړي دي. چې هغه واقعي مرفوع حدیث دی یا نا. ابتداء کې داسې نه ؤو. ؤورسته د احتیاط په توګه دا قانون جوړ کړی شو. د دې مطلب دا نه دی چې خبر واحد د اعتماد قابل نه دی. خبر واحد خو بیا هم خبر واحد وي. دا د حضرت عمر رضی الله عنه له اړخه احتیاطي ؤو چې دروغجن خلک د ځان نه حدیثونو د جوړولو کوشش ونه کړی شي. (مرقات ۴۵۱/۸)

فقلت انی: اصل عبارت داسې دی **فقلت منعنی لانی** داد حضرت عمر رضی الله عنه د پرېښتنې د "**ما منعك**" جواب دی.

قال ابو سعید: تفصیلي روایت داسې ذکر دی چې حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د پریشانۍ په حالت کې د صحابه کرامو هغه مجلس ته راورسیدلو چرته چې حضرت ابی بن کعب ناست ؤو. د حضراتو د ګپ لپاره حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نور هم وهرولو. حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه وفرمایل زما ورونو زه پریشانه یم زما سره مړی ته وکړئ او چاچې دا حدیث اورېدلی وي هغه زما سره لاړ شئ. حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه وفرمایل چې دې مجلس کې به مونږ د ټولو نه وړوکی صحابي سره لېږو چې دې قصې ته زیات اهمیت حاصل نه شي. مجلس کې د ټولو نه وړوکی حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه ناست ؤو. هغه د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه سره لاړو او ګواهي یې ورکړه چې دا واقعي مرفوع حدیث دی. د هغې نه وروسته حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته وفرمایل چې ته د نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو لپاره عذاب شوي. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل چې سبحان الله زه عذاب جوړېدل نه غواړم. زه صرف د غواړم چې خلک حدیث بیانولو کې د احتیاط نه کار واخلي. دې ځله سلام کولو کې اولنی سلام د پېژندلو لپاره وي او دویم سلام داجازت لپاره وي او دریم سلام دېرته تللو لپاره وي (مرقات ۴۵۰/۸)

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ ته نزدې والی

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذْنُكَ عَلَيَّ

او حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ ماته وفرمایل چې زما له

أَنْ تَرْفَعَ الْحِجَابَ وَ أَنْ تَسْمَعَ سِوَادِي حَتَّى أَنْهَاكَ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]

اړخه تاته دا اجازت دی چې ته پرده اوچته کړي او زما خبرې واوري تر څو چې دې زه منع نه کړم.

---

(۱) رقم الحدیث ۴۶۶۸ اخرجه مسلم في صحیحه ۱۷۰۸/۴ رقم الحدیث ۲۱۶۹ وابن ماجه في السنن ۱۲۲۱/۲ رقم الحدیث ۳۷۰۹

توضیح ان ترفع الحجاب: یعنې د کور د پردې دروازه اوچته کړه او زما خبرې واوره.

سوادی: ای سراری یعنې داسې پتې خبرې چې د هغې د کولو وخت کې یو بدن د بل بدن سره ولږېږي چې بل څوک یې وانوري. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کور په دروازه باندې د بورئ پرده وه. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دا خصوصي حیثیت حاصل ؤو چې صرف پرده اچته کړي او دننه لاړ شي، خو که د پرده اوچتولو نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د داخلیدلو نه وروسته منع کړو نو بیا به اجازت نه وي ګڼې صرف د پردې اوچتولو اجازت ؤو. د دې نه د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لویې شان او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زیات نزدې والي ښه ښته لږېږي. عامو نوؤ صحابه کرامو به خیال کولو چې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کور د کسانو نه یو کس دی، خو دا خبره د ساتلو وړ ده چې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا تلل راتلل تر د بیتک د حد پورې وه. د ازواج مطهراتو نه پرده خو لازم وه. د کور بې پردګي کله نه وه شوي. (مرقات ۴۵۲/۸)

خپل تعارف په غیر مبهم الفاظو کې پکار دی

﴿۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَيْنٍ كَانَ عَلَى أَبِي

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (یو ورځ) زه د پیو قرض په معامله کې زما په پلار باندې ؤو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ: مَنْ ذَا؟ فَقُلْتُ: أَنَا. فَقَالَ: أَنَا أَنَا . كَأَنَّهُ كرهها (مُتَّفق عَلَيْهِ)

خدمت کې حاضر شوم، نو د خپل راتلو خبر د ورکولو لپاره مې دروازه وټکوله. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ: مَنْ ذَا؟ فَقُلْتُ: أَنَا. فَقَالَ: أَنَا أَنَا .

وپوښتل څوک یې؟ ما وویل زه یم، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوږدلو سره وفرمایل چې زه یم، زه یم

كَأَنَّهُ كرهها (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

ګویا کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما داسې جواب ورکول یې بد وګڼل.

توضیح فی دین: د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پلار په جنګ اُحد کې شهید شوی ؤو، خو د اته (۸) لوریانو نه بغیر ځان پسې ډېر زیات قرض هم پرېښودلی ؤو. حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې سلسله کې ډېر زیات تشویش کې ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې ډېره زیاته مرسته هم وکړه. د همدې قرض سلسله کې حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دروازې له راغلی ؤو چې د قرضدارانو سره څه خبره وکړي چې هغوی څه لږه نرمي وکړي یا د قرض د ادا کولو څه صورت جوړ شي، نو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په برکت سره هغه قرض خلاص شو او په لږو کجورو کې برکت راغلو.

---

[1] رقم الحديث ۴۶۶۹ اخرجه البخاري في صحيحه ۳۵/۱۱ رقم الحديث ۶۲۵۰ ومسلم في ۱۶۹۷/۳ رقم الحديث ۲۱۵۵.

من ذا: دې لفظ سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اواز کونکي د تعيين او د فرق اراده کړې وه. بيا حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د "انا" لفظ استعمال کړو چې تعين پرې ونه شو او نه فرق حاصل شو. دې باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نکير وفرمايلو چې انا انا څه ځيز دی. صفا الفاظو کې خپل نوم اوايه چې شک لرې شي. د انا لفظ استعمالولو سره تو شک اوس هم پاتې دی. بيا د دې ويلو نه څه فايده شوه؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اواز پېژندلی وُو، خو د تعليم لپاره يې نکير وفرمايلو. ځينې علماء فرمايي چې صرف دروازه ټکولو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناراضا شو ځکه د اجازت لپاره خو اسلام کې سلام او استيذان مقرر دی. د دې حديث نه هغه خلکو ته هم تعليم ملاوېږي چې په تليفون خبرې شروع کړي او خپل نوم نه وايي. ګوياکې د هغوی خيال دی چې د هغوی اواز د دنيا ټول خلک پېژندي. دا خام خيال دی. صفا الفاظ کې ويل پکار دي چې زه معروف شاه يم او د قطر نه خبرې کوم. لفظ "انا" کې که د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نکير او خفګان داسې واخستلی شي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل زه هم يم يعنې زه زه سره هيڅ پېژندنه نه شي کېدی، نو د دې مطلب هم امکان دی. اګر که چرته ليکل شوی نه دی ليدلی. (مرقات ۴۵۲/۸)

قاصد سره دراتلو وخت کې د نور اجازت ضرورت نشته

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره (د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور) ته

فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ. فَقَالَ:

داخل شوم، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور کې د شودو يوه پياله وليدله. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل

أَبَا هِرٍّ الْحَقْ بِأَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ إِلَيَّ فَأَتَيْتُهُمْ

چې ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا اهل صفه ته لاړشه او هغوی ماله راوله، نو هغوی پسې لاړم او رامې وستل.

فَدَعَوْتُهُمْ فَأَقْبَلُوا فَاسْتَأْذَنُوا

هغه خلک چې کله راغلل نو دروازه باندې اودرېدل او اجازت يې غوښتل. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَأَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1]

هغوی ته اجازت ورکړو او هغوی دننه لاړل.

توضيح: اهل صفه: حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسجد نبوي کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدرسه صفه طالب علم وُو. صفه کې به کله ايتا (۸۰) طالب علمان وُو. کله به تر څلور سوه (۴۰۰) نه زيات

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۷۰ أخرجه البخاري في صحيحه ۳۱/۱۱ رقم الحديث ۶۲۴۶.

شو او کله به کم شو. د ضرورت په وخت کې به د جهاد لپاره تیار ؤو. ګویاکې دا قطعهٔ منتظره د مجاهدینو وه. چې جهادې مدرسه کې یې درس ویله. حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هم هغوی نه ؤو. خپله اوږی ؤو. د شودو پیاله راغله نو خوشحاله شو چې زه به یې هم وڅښم، خو ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وشو چې ټول راوغواړه. د قاصد سره ټول راغلل او کورته د دننه تللو لپاره بیا اجازت وغوښتلو. کېدی شي دا په دې وجه ؤو چې دا حضرت ناوخته راغلي ؤو یا د زیاتې حیا په وجه یې دروازې سره اجازت وغوښتلو چې یو استحبابي امر دی. حدیث نمبر ۲ کې وضاحت شته دی. (مرقات ۴۵۴/۸)

الفصل الثاني

سلام وکړئ او اجازت وغواړئ

﴿۵﴾ عَنْ كَلَدَةَ بْنِ حَنْبَلٍ: أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ بعث بِلَبن أَو جدابة وَضَغَابِيسَ

حضرت کلده ابن حنبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې صفوان بن امیه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما په لاس شودو، د هوسئ بچی او تره

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَعْلَى الْوَادِي

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ولیږل او هغه وخت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې په پاسنۍ غاړه باندې (چې معلی ورته وایي)

قَالَ: فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ

ولاړؤو. کلده وایي چې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام خدمت ته هغه غه شان ورغلم، نو ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَام قیام ګاه ته د داخلیدلو نه

وَلَمْ أُسَلِّمْ وَلَمْ أَسْتَأْذِنْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

مخکې سلام ونه کړو او نه مې د دننه راتللو اجازت وغوښتلو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمایل چې

"ارْجِعْ فَقُلِ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد [1]

بېرته لاړشه (یعني دلته نه اوځه او دروازې ته لاړشه) او هلته اودریدلو سره) اوایه چې السلام علیکم، آیا زه دننه راتلی شم.

توضیح: جدایة: جدایه د هوسئ هغه بچې ته وایي چې د شپږو (۶) میاشتو وي. د ګډې او بزي بچې ته هم جدایه وایي. جیم باندې کسره او فتح دواړه جائز دي. (مرقات ۴۵۴/۸)

ضغابیس: دا د ضغیوس جمع ده. تره ته وایي. چې د یو فټ نه ډیره اوږده او موټې ګوتې پشان پېره وي. دې ته پښتو کې تره وایي. (مرقات ۴۵۴/۸)

اعلی الوادی: د دې نه د مکې مکرې پاسنۍ برخه مراد ده چې المعلاة ورته وایي. (مرقات ۴۵۵/۸)

ارجع: یعني د اجازت لپاره هغه کس سلام ونه کړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تعلیم او تنبیه په توګه

---

[1] رقم الحديث ۴۶۷۱ اخرجه ابوداود في السنن ۳۶۹/۵ رقم الحديث ۵۱۷۶ والترمذي في ۶۱/۵ رقم الحديث ۲۷۱۰.

هغې ته د ښځې ته تللو حکم وکړو او بيا د سلام کولو او د راتللو حکم وکړو. چې ترښه معلومېږي چې د اجازت لپاره سلام کول ضروري امر دی. (مرقات ۴۵۵/۸)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ

او د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کله تاسو کې څوک راوغوښتلی

فجاءَ مَعَ الرسولِ فَإِن ذَلِك إِذْنٌ.

شي او د همغې سره راشي چې د دې راغوښتلو ته تلی دی، نو د هغې سره راتلل د هغې لپاره اجازت دی. او يو روايت

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ: رَسُول

کې داسې دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د يو سړي بل سړی د راغوښتلو لپاره هغې

الرجل إِلَى الرجل إِذْنه[1]

ته کس لېږل د هغې له اړخه اجازت دی.

اجازت غوښتلو سره د دروازې نه چپ ودريږئ

﴿۷﴾ وَعَن عبد الله بن بُسرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ

او حضرت عبدالله ابن بسر فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د چا کور ته د تللو لپاره د دروازې ته

لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَاب تِلْقَاءَ وَجْهِهِ

ورسيدلو نو د دروازې اړخ ته به يې مخ کولو سره نه او دربدلو چې د کور والو باندې نظر ونه لږي

وَلَكِنْ مِنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ فَيَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكُمُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ

(بلکې نبي يا چپ اړخه ته به او دربدلو او بيا به يې د اجازت غوښتلو لپاره) وفرمايل السلام عليکم او د

وَذَلِكَ أَنَّ الدُّورَ لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا سُتُورٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

دروازې مخې ته د نه او دربدلو وجه به دا وه چې هغه زمانه کې به په دروازو باندې پردې نه ځوړندې. (ابوداؤد)

وَذَكَرَ حَدِيثَ أَنَسٍ قَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ فِي بَابِ الضِّيَافَةِ[2]

او د انس دا روايت قال عليه الصلوٰة والسلام عليكم السلام عليكم ورحمة الله په باب الضيافة کې نقل کړی شوی دی.

توضيح: لم يستقبل: يعني دروازې ته مخامخ او دربدل پکار نه دي، ځکه دروازه پرانستلی شي نو

([1]) رقم الحديث ۴۶۷۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۶/۵ رقم الحديث ۵۱۹۰ وأحمد في المسند ۵۳۳/۲ .

([2]) رقم الحديث ۴۶۷۳ أخرجه ابوداود في السنن ۳۷۴/۵ رقم الحديث ۵۱۸۶ وأحمد في المسند ۱۹۰/۴ .

دغه شان به د کور دننه نظر پرېوځي. بلکې ښي يا چپ اړخ ته اودرېدل پکار دي، لکه څنګه چې د تبليغ يا تېښتن والا کوي. مفسد قسمه خلک ليدلی شوي دي چې بالکل په مينځ کې ودرېږي او دننه د کتلو کوشش کوي. د دې حدېث د آخري الفاظو نه معلوميږي چې د اسلام په ابتدائی دور کې د مسلمانانو په دروازو باندې به پردې نه وي او وروسته دور کې پردې راغلي. لهذا که د نظر لږېدلو خطر نه وي نو بيا مخامخ د اودرېدلو منع نشته دی. د ممانعت اصل وجه د نظر د پرېوتلو دی. البته نفس سنت باندې عمل کولو په غرض مخامخ اودرېدل به مناسب نه وي. (مرقات ۸/۴۵۶)

الفصل الثالث

کور کې که مور هم وي بيا هم اجازت غواړئ

﴿۸﴾عَنْ عَطَاءٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

حضرت عطاء ابن يسار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو سړي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل چې آيا زه

أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي؟ فَقَالَ: نَعَمْ

خپلې مور ته د ورتللو لپاره هم اجازت وغواړم؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل آؤ، ځکه کېدی شي چې کوم وخت کې د

فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ.

هغې د بدن اندامونه کولاوي چې بچو ښودل يې هم جائز نه دي. هغه سړي وويل چې ما سره همدغه شان کېږي.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ:

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې که هغې ته ورځې او اجازت غوښتلو سره ورځه. هغه وويل چې زه

إِنِّي خَادِمُهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا

د خپلې مور خادم يم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل بهر حال خو اجازت غواړه او ورځه. آيا ته دا خوښوي چې خپله مور

عُرْيَانَةً ؟ قَالَ : لَا . قَالَ : فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا . رَوَاهُ مَالِكٌ مُرسلاً[1]

برېنده اوينې؟ هغه کس وويل چې هرګز نۀ. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بيا اجازت اخله اورهغې له ورځه.

توضيح: **فاستأذن**: يعنې کور کې ځېنې وخت ښځې داسې حالت کې کينې چې هيڅ يو کس يې خوښوي چې په هغې يې نظر ولږي. لهذا هر صورت کې اجازت غواړئ او دننه خئ. د اجازت صورت دا هم کېدی شی چې د سلام نه بغير د داخليدلو وخت کې سړی ټوخی کولو سره ورشي، د بوټان اواز تيز کړي يا دروازه وټکوي چې دننه ښځو ته اندازه وشي. حديث کې د مور ذکر دی. مراد

([1])رقم الحديث ۴۶۷۴ أخرجه مالک في المؤطا ۹۶۳/۲ رقم الحديث ۱ من باب الاستئذان .

هغه تولې ښځې دي چې د محارمو د قبيل نه وي، خو که کور کې صرف ښځه وي نو د داسې اجازت ضرورت نشته دی. (مرقات ۴۵۷/۸)

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د اجازت يو صورت

﴿۹﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ لِي مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدْخَلٌ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له د شپې او د ورځې هم ورتللم، نو زه به

بِاللَّيْلِ وَمَدْخَلٌ بِالنَّهَارِ فَكُنْتُ إِذَا دخلتُ بِاللَّيْلِ تنحنح لي. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

چې د شپې وخت ورتللم نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ماته د اجازت کولو لپاره ټوخی راکولو.

توضيح تنحنح لی: د دې حديث نه دا خبره واضحه وشه چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د شپې وخت کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور ته د داخليدلو لپاره داسې اجازت غوښتلو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ټوخی کولو. د دې نه دا امر معلوم نه شو چې د ورځې په وخت کې د اجازت کوم علامت مقرر ؤو. امکان لري چې د ورځې وخت کې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ټوخی کول د اجازت علامت ؤو، لکه څنګه چې عامه طريقه همدغه وي.

اوس دلته يو سوال پيدا کيږي. هغه داسې چې په ځينې روايتونو کې راغلي دي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټوخی کول د اجازت د نشتوالي دليل ؤو، نو ځکه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټوخي سره به زه بيرته تللم. د دې سوال جواب دا دی چې امکان لري چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټوخی کول د اجازت دواړو لپاره علامت ؤو، خو دخارجي قرينې نه معلوميدل چې دا د اجازت علامت دی او دا د عدم اجازت علامت دی. (مرقات ۴۵۷/۸)

﴿۱۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې سلام کې اوليت ونه کړي نو

بِالسلامِ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان[2]

هغې له خوا ته د راتللو اجازت مه ورکوئ.



([1]) رقم الحديث ۴۶۷۵ أخرجه النسائي في السنن ۱۲/۳ رقم الحديث ۱۲۱۱، وابن ماجه في ۱۲۲۲/۲ رقم الحديث ۳۷۰۸

([2]) رقم الحديث ۴۶۷۶ أخرجه البيهقي في الشعب ۴۴۱/۶ رقم الحديث ۸۸۱۶

باب المصافحة والمعانقة

د مصافحې او معانقې بیان

اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د ژوند اکمله ضابطه ده، ځکه د انساني ژوند د مسائلو حل دي کې موجود دی. مصافحه کول د مسلمانانو د معاشري یوه برخه ده، ځکه اسلام کې د دې د مسائلو او د فضائلو ذکر شوی دی. مصافحه ده صفحه نه دی. صفحه د یو شي پلنوالی برخې ته وایي. د یو لاس پلنوالي د بل لاس پلنوالي باندې د کیخودلو نوم مصافحه دی. دغه شان د لاس د کیخودلو او خپل مینځ کې د ملاوېدلو سره د بخښنې معنی هم پوره شي، ځکه مصافحه کې بخښنه کېږي.

اسلام کې د سلام کولو جدا مقام دی او د مصافحه کولو جدا مقام دی، خو سلام مع المصافحة هم اسلام کې مشروع دی، د دې لپاره چې د ملاقات پوره حق ادا شي. د مخامخ کیدو په وخت کې د نور قومونو هم څه طریقې دي. یهود په ګوتو سره په یو خاص طرز باندې اشاره کوي. او عیسایان ورغوي باندې سلیوټ کوي. اسلام ډیره معیاري طریقه خوښدلي ده او د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طریقه د ټولو نه معیاري ده، ځکه

جہاں آپ کی تقلید اسی حد تک سلیقہء بشریت بشر کو ملتا ہے

که د سلف صالحینو په نزد هم کله په یو لاس سره مصافحه شوي وي نو هغه عام عادت نه ؤو. عام عادت چې منقول دی او کوموته چې علماؤ او صلحاؤ کامل سنت ویلی دی. هغه په دواړو لاسونو باندې مصافحه ده. اګر که د هیڅ حدیث نه ماته صریح ثبوت نه دی ملاؤ شوی. امام بخاري په بخاري یو د عنوان قائم کړی دی. چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لاس په خپل دواړو لاسونو کې ونیولو، د دینه د استدلال کول کوشش کېږي، خو هغه اخذ بالیدین دی. د غیر مقلدینو نه بغیر په جزیرۀ عرب کې او د سعودي خلک او عام هو ښیار خلک په یو لاس مصافحه کوي.

جمعي او اخترونو د لمونځ او پنځه وخته لمونځونو نه وروسته د یو بل سره مصافحه علماؤ خلاف سنت بلکې بدعت یې ویلي دي. او دا یې مکروه لیکلي دي. یوې ناواقفه ښځې سره مصافحه کول جائز نه دي، ځکه چاته چې کتل ناجائز وي نو د هغې د بدن نه لږبدل هم جائز نه دي. بوډۍ ښځې سره د سلام د فتني د نشر الي په وجه جائز دی. د سلام نه وروسته په سینه باندې ایږدل د هیڅ حدیث او نص نه ثابت نه دی بلکې دا د عوامو د غلطیانو نه دی. او د عاشقانو طریقه ده. شاعر ساحر وایي:

حاولن تفدیقی و خفن مراقباً فوضعن ایدهن فوق ترئیاً

والمعانقة: سلام او مصافحې سره معنقه هم اسلام کې جائز ده. معانقه څټ د څټ او سینه د سینې سره ملاوېدلو ته وایي. څه خلک د دې یو مکروه شکل جوړوي او خپلو له جټکې ورکوي. دا معانقه نه ده بلکې

مباطنه ده. خيال ساتل پکار دي. قميض د نشوالي په صورت کې هم معانقه مکروه ده. (مرقات ۴۵۹/۸)

الفصل الاول

مصافحه ثابت ده

﴿۱﴾ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ: أَكَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟

حضرت قتاده تابعي فرمايي چې ما د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وپوښتل چې آيا د نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

قَالَ: نعم. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

به (خپل مينځ کې د ملاقات نه وروسته) مصافحه کول؟ هغې وفرمايل چې آؤ.

ماشوم بنګلول مستحب دي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَبَّلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت حسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بنګل کړو،

وَعِنْدَهُ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ. فَقَالَ

نو يو صحابي اقرع ابن حابس چې هغه وخت د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر ؤو. وي ويل

الْأَقْرَعُ: إِنَّ لِي عَشَرَةً مِنَ الْوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ

چې زما لس بچي دي او ما هغې کې هيڅ يو نه دی بنګل کړی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي اوربدلو سره

أَحَدًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ

د هغې ارخ ته وکتل او ويې فرمايل: څوک چې رحم نه کوي هغې باندې رحم نه کيږي يعنې څوک چې خپل اولاد يا مخلوق

مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

خپل اولاد يا د خداى په مخلوق نرمي او شفقت نه کوي. هغې باندې د الله رحمت او شفقت نه کيږي. (بخاری او مسلم)

وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَثَمَّ لُكَعُ فِي بَابِ مَنَاقِبِ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ

او د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت "اثم لكع" به مونږ ان شاء الله مناقب اهل بيت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په

([1]) رقم الحديث ۴۶۷۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۹/۱۱ رقم الحديث ۶۲۶۳ والترمذي في ۷۱/۵ رقم الحديث ۲۷۲۹.

أَجْمَعِينَ إِنْ شَاءَ تَعَالَى وَ ذَكَرَ حَدِيثَ أُمِّ هَانِئٍ فِي بَابِ الْأَمَانِ)[1]

باب کې نقل کوؤ. او د حضرت ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روایت په باب الامان کې نقل کړی شوی دی.

الفصل الثاني

د مصافحې فضیلت

﴿٢﴾ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ

حضرت براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل کله چې دوه مسلمانان

مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَتَفَرَّقَا . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ

ملاوېږي او مصافحه کوي نو د هغې دواړو د جدا کېدو نه مخې خدای هغوی اوبښي. (احمد، ترمذی،

وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ قَالَ: إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ

ابن ماجه) او د ابوداؤد په روایت کې داسې دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل کله چې دوه مسلمانان

فَتَصَافَحَا وَحَمِدَا اللهَ وَاسْتَغْفَرَاهُ غفر لهما[2]

ملاوشي او د یو بل سره مصافحه کوي، د الله حمد وکړي او بښنه وغواړي نو هغه دواړه وبخښل شي.

د سلام کولو وخت کې ټیټېدل منع دی

﴿٣﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ مِنَّا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو کس عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! مونږ کې چې

يَلْقَى أَخَاهُ أَوْ صَدِيقَهُ أَيَنْحَنِي لَهُ؟ قَالَ:

څوک کله د خپل مسلمان ورور یا د خپل دوست سره ملاقات وکړي نو آیا هغه ټیټ شي؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

لَا. قَالَ: أَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ؟ قَالَ:

نا. هغه سړي وویل چې آیا د هغې سره غاړه ملاوکړي او هغه ښکل کړي؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

لَا. قَالَ: أَفَيَأْخُذُ بِيَدِهِ وَيُصَافِحُهُ؟

نا. هغه سړي وویل چې د هغې لاس خپل لاسونو کې نیولو سره د هغې سره مصافحه وکړي؟

---

(1) رقم الحديث ٤٦٧٨ أخرجه البخاري في صحيحه ١٠/٤٢٦ رقم الحديث ٥٩٩٧ ومسلم في ٤/١٨٠٨ رقم الحديث ٢٣١٨.

(2) رقم الحديث ٤٦٧٩ أخرجه ابوداود في السنن ٥/٣٨٨ رقم الحديث ٥٢١٢ والترمذي في ٥/٧٠ رقم الحديث ٢٧٢٧.

قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل آؤ.

توضيح قال لا: يعني د سلام كولو وخت كې بنكته كېدل منع دي. دې سره د بدعت او شرک دروازه كولاوېدلی شي. دې حديث كې چې څنګه د سلام كولو وخت كې د بنكته كېدلو نه منع شوي ده. همدغه شان د يو بل سره غاړه په غاړئ د معانقه كولو نه هم منع شوي ده. اولاس وغيره بنكلول هم منع كړی شوي دي.
فقهاؤ ليكلي دي چې كه د لاس بنكلو د دنيا په غرض وي نو دا په اتفاق سره مكروه تحريمي دي، خو كه د مور او پلار يا د استاذانو يا د مشائخو او د الله والو لاس بنكل كړي نو دا جائز دي، خو د دنيا دار لاس وغيره د دنيا په غرض بنكولو جائز نه دي. لهذا د ممانعت صورت د همدغه منع شوي صورتونو سره دی. (مرقات ۴۶۲/۸)

د سلام يوه طريقه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: " تَمَامُ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ
او د حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د مريض پوره بيمار پرسي ده
أَنْ يَضَعَ أَحَدُكُمْ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ أَوْ عَلَى يَدِهِ فَيَسْأَلَهُ:
دا چې تاسو كې يو خپل لاس د هغې په تندي باني يا د هغې په لاس كېږدئ او بيا ترهنه پوښتنه وكړئ
كَيْفَ هُوَ؟ وَتَمَامُ تَحِيَّاتِكُمْ
چې د دې څه حال دی؟ او ستاسو پوره سلام چې تاسو يې خپل مينځ كې كوئ مصافحه ده يعني كله
بَيْنَكُمُ الْمُصَافَحَةُ". رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيُّ وَضَعفه[2]
چې تاسو سلام كوئ نو مصافحه هم كوئ چې سلام پوره شي.

د سفر نه راتلونكي سره معانقه او تقبيل جائز دی

﴿۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يو ځل زيد ابن حارثه مدينې ته راورسيدلو نو هغه وخت
وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي فَأَتَاهُ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما كور كې وُو. زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام (خدمت كې د حاضرېدلو لپاره زما كورته) راغلو

([1]) رقم الحديث ۴۶۸۰ أخرجه الترمذي في السنن ۷۰/۵ رقم الحديث ۲۷۲۸ وابن ماجه في ۱۲۲۰/۲ رقم الحديث ۳۷۰۲.
([2]) رقم الحديث ۴۶۸۱ أخرجه الترمذي في السنن ۷۱/۵ رقم الحديث ۲۷۳۱ وأحمد في المسند ۲۶۰/۵.

فَقَرَعَ الْبَابَ فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرْيَانًا
او دروازه يې وټکوله. نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لوڅ بدن خپلې ټوټې يعنې څادر واچولو او د زيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ
يَجُرُّ ثَوْبَهُ وَاللّٰهِ مَا
سره د ملا وبدلو لپاره بهر اوتلو قسم په خدائ چې ما ددې نه مخکې او ددې نه ورسته نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لوڅ نه دی ليدلی
رَأَيْتُهُ عُرْيَانًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ
(يعنې کله هم داسې نه دي شوي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استقبال په وخت کې دغه شان د شوق او ارمان اظهار کړی وي
فَاعْتَنَقَهُ وَ قَبَّلَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
او دهغې سره د ملا وبدلو لپاره لوڅ بدن بهر وتلی وي) بهر حال نبي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت زيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له غاړه ورکړه او ښکل يې کړو.

توضيح: **فاعتنقه**: يعنې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت زيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره معانقه وکړه. د دې حديث نه د معانقې او د تقبيل ثبوت ملاوېږي. راتلونکي د حضرت جعفر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حديث نمبر ۱۰ نه هم د معانقې او تقبيل ثبوت ملاوېږي. فقهاؤ همدغه اختيار کړی دی چې دا جائز دي. چرته چې د ممانعت روايت دی. هغه دې تقبيل باندې محمول دی. چې کوم د دنيا به غرض وي. (مرقات ۴۶۳/۸)

عريانا: يعنې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صرف لنګ اغوستی ؤو. بدن يې بيخي لوڅ نه ؤو. (مرقات ۴۶۳/۸)

معانقه جائز ده

﴿۷﴾ وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ بُشَيْرٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ عَنَزَةَ أَنَّهُ قَالَ:
او حضرت ايوب ابن بشير د عنزه قبيلې د يو سړي نه روايت کوي چې هغې بيان وکړو چې ما د حضرت ابوذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ
قُلْتُ لِأَبِي ذَرٍّ: هَلْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وپوښتل کله به چې تاسو د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ملاقات کولو نو آيا نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به
يُصَافِحُكُمْ إِذَا لَقِيتُمُوهُ؟ قَالَ: مَا لَقِيتُهُ قَطُّ
تاسو سره مصافحه هم کوله؟ حضرت ابوذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمايل ما چې کله هم د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ملاقات کړی دی
إِلَّا صَافَحَنِي وَبَعَثَ إِلَيَّ ذَاتَ يَوْمٍ
نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما سره مصافحه کړې ده او ديوې ورځې واقعه ده چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما راغوښتلو لپاره
وَلَمْ أَكُنْ فِي أَهْلِي فَلَمَّا جِئْتُ
ما پسې (يو سړی) راولېږلو. هغه وخت زه خپل کور کې موجود نه ؤوم. کله چې کور ته راغلم نو ماته

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۸۲ أخرجه الترمذي في السنن ۷۲/۵ رقم الحديث ۲۷۳۲.

أُخْبِرْتُ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ عَلَى سَرِيرٍ فَالْتَزَمَنِي

خبر راکړی شو، نو زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام خدمت کې حاضر شوم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت په يو تخت باندې ناست ؤو.

فَكَانَتْ تِلْكَ أَجْوَدَ وَأَجْوَدَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

نبي عَلَيْهِ السَّلَام ماله غاړه راکړه او دا غاړه راکول (لطف او سرور په اعتبار سره د مصافحې پرمنيت) غوره ؤو، څه پر غوره ؤو.

د حضرت عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راتلو باندې معانقه

﴿۸﴾ وَعَن عكرمةَ بن أَبِي جهلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بن ابو جهل فرمايي چې (د فتح مکې په ورځ چې زه د اسلام قبولو لپاره) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَوْمَ جِئْتُهُ: مَرْحَبًا

خدمت کې حاضر شو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (ماته په کتلو سره) وفرمايل (د الله او د رسول له

بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

ارخه يا د دارالحرب نه درا الاسلام ارخ ته) هجرت کونکي سپور ته هرکلی.

توضيح: د فتح مکې په موقع کې عکرمه بن ابی جهل د مسلمانانو مقابلې ته راغلی ؤو، خو د حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاسو يې ماتې وخوړله او د يمن ارخ ته په تښتيدو شو. د هغې ښځه مسلمانه شوې وه. هغې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه امان عکرمه لپاره امان وغوښتلو. دا راتګ يې د همغه موعې دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تلطف په توګه هغه ته "الراکب" او "المهاجر" په نوم سره يا دکړو ځکه اوښ باندې سپور راراوان ؤو او د کفر نه يې د اسلام ارخ ته هجرت کول. تفصيلي روايت کې د معانقه ذکر کيد. دې حديث نه د مسافر راتګ باندې د استقبال ثبوت هم ملاوېږي او د مبارک باد الفاظ هم ملاوېږي. (مرقات ۴۶۴/۸)

د يوسړي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښکولو لو عجيبه قصه

﴿۹﴾ وَعَن أُسَيدِ بن حُضَيرٍ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ: بَيْنَمَا

او حضرت اسيد ابن حضير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د انصارو نه ؤو، د هغې باره کې روايي فرمايي چې هغه وخت کله چې (اسيد)

هُوَ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ وَكَانَ فِيهِ مُزَاحٌ بَيْنَا يُضْحِكُهُمْ

د خلکو سره خبې کولې او د هغې په مزاج کې خوش طبيعتي او ظرافت ؤو د هغې سره خلکو خندل نو

---

[1] (رقم الحديث ۴۶۸۳ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۰/۵ رقم الحديث ۵۲۱۴.

[2] (رقم الحديث ۴۶۸۴ أخرجه الترمذي في السنن ۷۴/۵ رقم الحديث ۲۷۳۵.

فَطَعَنَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَاصِرَتِهِ بِعُودٍ
نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (ازراه مزاق) هغه په يو لرګي وسكونډو. هغې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته
فَقَالَ: أَصْبِرْنِي. قَالَ: أَصْطَبِرْ. قَالَ:
وفرمايل چې ماله د دې سكونډلو بدله راكړه. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې زما نه بدله واخله، هغه وويل
إِنَّ عَلَيْكَ قَمِيصًا وَلَيْسَ عَلَيَّ قَمِيصٌ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې د ستاسو به بدن باندې جامه شته دى او زما په بدن باندې جامه نشته دى، نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَنْ قَمِيصِهِ فَاحْتَضَنَهُ وَجَعَلَ يُقَبِّلُ كَشْحَهُ قَالَ:
خپله قرتئ راواخستله. اسيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغې نه غاړه واخستله او د غاړې بنكولولو يې ورله شروع كړل او وې ويل
إِنَّمَا أَرَدْتُ هَذَا يَا رسولَ الله. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]
چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ما صرف همدغه غوښتل (يعني د بدن مبارك بنكولو). (ابوداؤد)

توضيح رجل: مصابيح كې د رجل لفظ مجرور دى. چې د اسيد بن حضير صفد تى. د دې نه دا وهم پيدا كيږي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چې د بدلې چې كومه واقعه ذكر ده، دا انصار د لويې شان والا مشهور صحابي اسيد بن حضر دى، خو د ګپ انداز يې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شان خلاف دى. لهذا دا واقعه د بل كوم كس ده. چې طبيعيت كې مزاح ؤو او هغه هم د انصارو نه ؤو. دا قعې مشهور صحابي حضرت حضرت اسيد بن حضير بين كړې ده. د دې خبرې تائيد د جامع الاصول د روايت نه كيږي. هلته د رجلا لفظ دى، نو عبارت دسې دى "عن اسيد بن حضير قال ان اجلا من الانصار كان فيه مزاح" بهر حال صحيح او راجح همدغه ده چې د حضرت اسيد بن حضير د دې حديث راوي دى. قصه او واقعه د بل چا ده. (مرقات ۴۶۵/۸)

اصبرنى: يعني زه ستا نه بدله اخلم، نو ځكه تاسو ماته صبر وكړې. مطلب دا د دى چې ماله بدل راكړه. (مرقات ۴۶۶/۸)

اصطبر: يعني زه به د بدله د ركولو لپاره صبر وكړم. ته خپله بدله واخله.

مرسلا: دې حضراتو دا روايت د ارسال په طريقه نقل كړى دى خو په شرح السنة كې د بياضى په حوال دا حديث متصل كړى شوى دى. بياضي د بياضه بن عامر ارخ ته منسوب دى. د بياضى ذكر چې مطلق چرته وي، هلته عبدالله بن جابر انصاري مراد وي. (مرقات ۴۶۶/۸)

---

[1] رقم الحديث ۴۶۸۵ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۵/۵ رقم الحديث ۵۲۲۴.

د تندي بنکولول ثابت دي

﴿۱۰﴾ وَعَنِ الشَّعْبِيِّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَقَّى جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ

او حضرت شعبی فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت جعفر بن ابی طالب سره ملا و شو نو

فَالْتَزَمَهُ وَقَبَّلَ مَابين عَيْنَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ

هغه له یې غاړه ورکړه او هغه یې د سترګو په مینځ کې ښکل کړو. دا روایت ابوداؤد او شعب الایمان کې

فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ مُرْسَلًا وَفِي بَعْضِ نُسَخِ الْمَصَابِيحِ وَفِيشرح السّنة

بیهقی په د ارسال په طریقه نقل کړی دی خو د مشکوة په ځینو مسخو او شرح السنة کې دا روایت د

عَن البياضي مُتَّصِلا[1]

بیاضی نه د اتصال په طریقه رانقل کړی شوی دی.

توضیح: جعفر بن ابی طالب: حضرت جعفر طیار اول د مکې نه حبشې ته هجرت وکړو او بیا د هلته نه مدینې ته هجرت وکړو. زیر بحث حدیث کې د همدغه حبشې نه مدینې ته د هجرت ذکر دی. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د ملاقات کوم ذکر دی هغه د همدې موقع دی.

قبل بين عيينه: د دې نه د اندې بنکولو ثابتېږي. (مرقات ۴۶۸/۸)

د جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په راتګ باندې خوشحالي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فِي قِصَّةِ رُجُوعِهِ مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ

او حضرت جعفر ابن ابی طالب د حبشې د زمکې نه د بېرته راتللو واقعه بیانوي او وایي چې مونږ د حبشه نه

قَالَ: فَخَرَجْنَا حَتَّى أَتَيْنَا الْمَدِينَةَ

راروان شو او مدینې ته رسیدلو سره د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (خدمت کې حاضر شو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره)

فَتَلَقَّانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَنَقَنِي ثُمَّ قَالَ: " مَا أَدْرِي:

مو ملاقات وکړو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماله غاړه راکړه او ویې فرمایل چې زه نه شم ویلی چې زه

أَنَا بِفَتْحِ خَيْبَرَ أَفْرَحُ أَمْ بِقُدُومِ

د خیبر د فتح کېدو په وجه زیات خوشحاله یم یا که د جعفر په بېرته راتلو په وجه، او اتفاقًا حضرت

([1]) رقم الحديث ۴۶۸۶ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۲/۵ وأخرجه البغوي في شرح السنة ۲۹۰/۱۲ رقم الحديث ۳۲۲۷.

جَعْفَرٍ؟. وَوَافَقَ ذٰلِكَ فَتْحَ خَيْبَرَ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ "[1]

جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په همدغه ورځ راغلی ؤو چې په کومه خیبر فتح شوی ؤو.

بنپي بنکولول څنګه دي؟

﴿۱۲﴾ وَعَنْ زَارِعٍ وَكَانَ فِي وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ قَالَ: لَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ

او حضرت زارع چې د عبدالقیس په وفد کې شامل ؤو، وایي چې کله مونږ مدینې ته ورسیدلو نو

فَجَعَلْنَا نَتَبَادَرُ مِنْ رَوَاحِلِنَا فَنُقَبِّلُ يَدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

د خپلو سورلو نه ژر ژر راکوشو نو مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه او پښې بنکل کړی. (ابوداؤد)

توضیح ورجله: یعنې مونږ د سورلو نه کوز شو او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورغلو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس او پښې مو بنکل کړي. لاس او د تندې به بنکولو کې څه خاص مسئله نشته دی، ځکه د دین والو تندی او لاسونه بنکلو د حدیثونو نه ثابت دي. که دنیوي غرض نه وي نو بنکولو کې هیڅ باک نشته دی. البته پښو بنکولو کې بنکته کېدنه کېږي چې د سجدې صورت ترېنه پیدا کېږي. دې کې کلام دی. که کوم کس پلنګ وغیره اوجت ځای باندې ولاړ او کوم کس د هغې پښې بنکولو او د سجدې صورت نه جوړېږي، نو دې کې بحث نشته دی. بحث په دې کې دی چې پښې بنکولو کې چې د سجدې کوم صورت جوړوېږي، د هغې څه حکم دی؟

د احنافو څه علماء دا جائز ګڼي او دا د سجده تعظیمي نه جدا ګڼي او وایي چې دې کې نه د عبدات والا سجده شته او نه د تعظیم والا سجده شته دی. دا صرف د احترام او اکرام یو صروت دی. "عمدة الفقه" کې حضرت مولانا متفی محمد شفیع رحمه الله په احسن الفتاوی کې د مفتي رشید احمد رحمه الله دا جائز لکیلي دي. حضرت مفتي محمد شفیع رحمه الله خو د دې د ثابتولو او د دلائل پیش کولو ډېر کوشش کړی دی. د بحث لاندې حدیث کې د دې حضراتو لویې دلیل دی، خو عام فقهاء د پښو بنکولو جائز نه ګڼي او د بحث لاندې حدیث د پیغمبر په خصوصیت باندې حمل کوي. او د پښو بنکولو بنه نه ګڼي. بنده عاجز هم د همدغه فقهاؤ رائی خوښوي کومو چې د پښو بنکولو ناخوښ عمل ګڼي. او حدیث په پیغبري باندې حمل کوي. یا دا چې په ابتداء کې دا عمل جائز ؤو بای منع شو یا به یې بله کومه وجه وي. بهرحال پښو تېښېدل او د هغې بنکولو د اسلامي تعلیماتو د روح منافي دي.

([1]) رقم الحديث ۴۹۸۷ اخرجه البغوي في شرح السنة ۲۹۰/۱۲ رقم الحديث ۳۳۲۷.

([2]) رقم الحديث ۴۹۸۸ اخرجه ابوداود في السنن ۳۹۵/۵ رقم الحديث ۵۲۲۵

د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عمل

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي طور طريقه، عادات او ورش او نيک خصلتي او يو روايت کې دي چې

كَانَ أَشْبَهَ سَمْتًا وَهَدْيًا وَدَلًّا.

خبري اتري او په کلام کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مشابهت کې د فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه زيات بل څوک نه

وَفِي رِوَايَةٍ حَدِيثًا وَكَلَامًا بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فَاطِمَةَ

ليدلی (يعني حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په هغه کارونو کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره زيات مشابه وه)

كَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَيْهِ قَامَ إِلَيْهَا فَأَخَذَ بِيَدِهَا فَقَبَّلَهَا وَأَجْلَسَهَا فِي مَجْلِسِهِ

فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به چې کله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر بدله نو بيا به يې هغه خپل د ناستي ځای کې کېنوله،

وَكَانَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا قَامَتْ إِلَيْهِ

همغه ډول به چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کله د فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خوا لاړو نو فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به ليدلو سره او درېدلو.

فَأَخَذَتْ بِيَدِهِ فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِي مجلسِها. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس به يې په لاس ونيولو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به يې ښکلو کړو او خپل ځای باندې به يې کېنولو.

توضيح: سمتاً: طور او طريقي ته وايي. (مرقات ۴۶۸/۸)

هدياً: عادت او د روش په معنى کې دى. (مرقات ۴۶۸/۸)

ودلاً: تګ راتګ او مزل ته وايي. دې الفاظو کې ترادف هم او معمولي تغاير هم دى. (مرقات ۴۶۸/۸)

د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د عمل نه معلومېږي چې د لاس ښکلو جائز دي. دې کې هيڅ کلام نشته دى. ښکلو جائز هم دي او اولاد له دې باندې عمل هم کول پکار دى. مور او پلار که د شفقت په توګه د خپل اولاد لاس ښکول کړي نو دا جائز دي خو دا په محبت او شفقت باندې محمول امور دي. دا کاروبار جوړول پکار نه دى.

---

(۱) رقم الحديث ۴۶۸۹ اخرجه ابوداود في السنن ۳۹۱/۵ رقم الحديث ۵۲۱۷ والترمذي في ۶۵۷/۵ رقم الحديث ۳۸۷۲.

د حضرت صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل

﴿۱۴﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ

او حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما يو ځل د ډيوي غزوي نه حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مدينې ته راتلو سره د هغې

فَإِذَا عَائِشَةُ مُضْطَجِعَةٌ قَدْ أَصَابَتْهَا حُمَّى

سره لاړم نو څه وينم چې د هغې لور حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا پرته ده او تبه يې ده، نو حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَأَتَاهَا أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ: كَيْفَ أَنْتِ يَا بُنَيَّةُ؟

هغې له ورغلو او وې پوښتل چې زما لوره ستا طبيعت څنګه دی او هغې د شفقت او د محبت يا

وَقَبَّلَ خَدَّهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

سنتو د لحاظ ساتلو د وجې نه يې د هغه مخ ښکل کړو.

اولاد د کشمالي د ګل پشان دی

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِصَبِيٍّ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې يو ماشوم راوړلی شو.

فَقَبَّلَهُ فَقَالَ: أَمَا إِنَّهُمْ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ښکل کړو او وې فرمايل چې خبر شئ او دا اولاد د بخل او وېرې سبب دی

وَإِنَّهُمْ لَمِنْ رَيْحَانِ اللهِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[2]

خو دې کې هم شک نشته دی چې اولاد د خدای ورکړی شوی نعمت او رزق هم دی.

تو ضيح: مبخلة: اولاد د بخل ذريعه ده. د دې مطلب دا دی چې کله د سړي اولاد نه وي نو لاس يې کولاو وي، د هغې هيڅ ځيز بندې پروا نه وي. په پټو سترګو خرچ کوي، خو چې د چورګوتو پشان اولاد راشي نو بيا سړی سوچ کوي چې اوس د دې بچو د ساتلو لپاره روپئ بچت کولو ضروري ده. او د غه شان سړی بخل شروع کړي او بيا يې په ځان هم خرچ نه کوي. (مرقات ۴۶۹/۸)

(۱) رقم الحديث ۴۶۹۰ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۳/۵ رقم الحديث ۵۲۲۲

(۲) رقم الحديث ۴۶۹۱ أخرجه البغوي في شرح السنة ۳۵/۱۳ رقم الحديث ۳۴۴۸.

مجبنة: د سړي چې اولاد نه وي نو په زړه ورتيا د جنګ ميدان ته وردانګي. نه هغې سره خپل فکر وي او نه د ژوند فکر وي خو که اولاد يې وي نو دا سړی په احتياط بيا ژوند تېروي او وايي چې وروه زما واړه واړه بچي دي. زه جنګ نه کوم دغه شان هغه زړ زړی شي. (مرقات ۴۶۹/۸)

ريحان الله: يعنې د خوشبودار ګلانو پشان دا ماشومان ګرځې راګرځې. عام مور او پلار ماشومان پوزې ته رانژدي کړي او بويې کوي يې. د ريحان نه رزق هم مراد اخستل کېدی شي چې دا د الله له ارخه رزق دی. (مرقات ۴۶۹/۸)

الفصل الثالث

﴿۱۶﴾ عَن يعلى قَالَ: إِنَّ حسنا وحُسيناً رَضِي الله عَنْهُم اسْتَبَقَا

حضرت يعلى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کوم ځای نه منډه د

إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَمَّهُمَا إِلَيْهِ وَقَالَ:

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا له راغلل نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې دواړو له غاړه ورکړه او ويې فرمايل

إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مجبنَةٌ. رَوَاهُ أَحْمد[1]

چې ماشومان د بخل سبب دی او د وېرې سبب دی.

هديه ورکولۍ محبت به ډيريږي

﴿۱۷﴾وَعَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عطاء خراساني نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل خپل مينځ کې د يو بل

تَصَافَحُوا يَذْهَبُ الْغِلُّ وَتَهَادَوْا

سره مصافحه کوئ، دې سره بغض او کينه ختمېږي او خپل مينځ کې د يو بل ته هديه او تحفه لېږئ،

تَحَابُّوا وَتَذْهَبِ الشَّحْنَاءُ رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا[2]

دې سره محبت زياتېږي او دښمنی ختمېږی.

([1]) رقم الحديث ۴۶۹۲ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۲۰۹/۲ رقم الحديث ۳۶۶۶ وأحمد في المسند ۱۷۲/۴.

([2]) رقم الحديث ۴۶۹۳ أخرجه مالك في الموطأ ۹۰۸/۲ رقم الحديث ۱۶.

توضيح: کينه او حسد او عداوت ته **الغل** وايي. غَين باندې زير دی. (مرقات ۴۷۱/۸)

الشحناء: د زړه دننه چې کومه کينه وي هغې ته شحناء وايي مراد تربنه دښمني ده (مرقات ۴۷۱/۸)

مصافحه کولو سره ګناهونه رژيږي

﴿۱۸﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ

او د حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: چا چې د غرمې

صَلَّى أَرْبَعًا قَبْلَ الْعَاجِرَةِ فَكَأَنَّمَا صَلَّاهُنَّ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْمُسْلِمَانِ

نه مخکې څلور رکعته لمونځ وکړو. هغې ګويا کې هغه څلور رکعته په شب قدر کې ولوستل او مسلمانان

إِذَا تَصَافَحَا لَمْ يَبْقَ بَيْنَهُمَا ذَنْبٌ إِلَّا سَقَطَ . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[1]

چې کله خپل مينځ کې مصافحه کوي نو د هغې دواړو مينځ کې هيڅ ګناه نه پاتې کيږي بلکې رژيږي.

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

[1] رقم الحديث ۴۶۹۴ أخرجه البيهقي في الشعب ۴۷۴/۶ رقم الحديث ۸۹۵۵.

باب القیام
تعظیما د اودرېدلو بیان

قیام د اودرېدلو په معنی کې دی، خو دلته مطلق د اودرېدلو خبره نه ده بلکې د یو راتلونکي مخې ته د تعظیم لپاره د احتراماً اودرېدو بیان دی ځینو حدیثونو کې د دې قیام ډیر سخت ممانعت راغلی دی نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځان لپاره د دې قیام ډیر سخت ممانعت کړی دی او دې ته یې د عجمو طریقه ویلي ده خو د حدیثونو نه د قیام اجازت معلومېږي، ځکه دي مسئله کې د فقهاؤ اختلاف دی.

د علماؤ اختلاف: حدیثونو، روایتونو او په واقعاتو کې د اختلاف په وجه د علماء کرامو په مینځ کې اختلاف راغلی دی چې تعظیماً او احتراماً د چا لپاره وردېدل جائز دي یا جائز نه دي؟

دلائل: کوم علماء چې دا منع کوي، هغوی فرمایي چې د قیام په ممانعت کې ډیر حدیثونه راغلي دي. هغې کې سخت وعید دی. او دې لره د اغیارو کافر عجمو طریقه ګرځولو باندې منع کړی شویده. مثلاً حدیث نمبر ۴، ۵ او ۶ کې په واضحه الفاظو سره دي قیام ته ناجائزه ویلی شوی دی. دا قیام مکروه بلکې بدعت دی. (مرقات ۴۷۳/۸)

کوم علماء چې دې ته جائز وایي. هغوی د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حدیث نمبر اول نه استدلال کوي. چې هغې کې د "قوموا الی سیدکم" الفاظ راغلي دي. دغه شان په حدیثونو کې دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لپاره ودریدلی ؤو. دا ټول د جواز دلائل دي. (مرقات ۴۷۳/۸)

جواب: د علماؤ کومه طبقه کې قیام منع کوي. هغوی د قیام د جواز د روایتونو جواب داسې کوئ چې د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه د هغې په مجبوري باندې حمل کوي چې هغه زخمي ؤو. خپلي سورلي ن خپله نشو راکوزېدلی، ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل! **"قوموا الی سیدکم"** یعني د دې لپاره ودرېږئ. که چرې د احترام او تعظیم خبره وی نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به **"قوموا لسیدکم"** فرمایلی وی. باقی د حضرت عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره روایتونه ډیر ضعیف دي.

د علماؤ دویمه ډله چې د قیام د جواز قائل دي. هغوی د قیام د ممانعت د حدیثونو دا جواب کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عجمیانو په طریقه د اودرېدلو نه منع کړې ده او هغه یقیناً ممنوع ده، ځکه هغوی کې به لوی کَس په مجلس کې ناستی ؤو. تر څو پورې به چې هغه ناستی ؤو نو خلک به د هغې د تعظیم لپاره اودرېدل بلکې د اودرېدلو پابند به ؤو. هغوی به په خپله خوښه نۀ شول کیناستلی او د مجلس پرۀ به دا اودرېدل غوښتل، بلکې حکم به یې ورکولو. د دغه شان د

اودرېدلو په حرمت او بدعت کې څه شک دی؟ دا خو د ټولو په نزد حرام دی، خو که د یو صاحب فضل او بزرګئ والا کس لپاره فقط د احترام او دیني محبت په بنیاد څوک ودرېږي. هغه عالم او فاضل هغه قیام هم نه خوښوي، نو د جمهورو علماؤ په دې باندې اتفاق دی چې داسې اودرېدل جائز دي. علامه طیبي رحمه الله او محی السنة لیکلي دي چې د صالحینو او علماؤ، بزرګانو او د اولیاؤ لپاره د دیني محبت په بنیاد اودرېدل جائز دي. (الکاشف: ۴۹/۹)

مطالب المؤمنین د "**قنیه**" په حواله لیکلي دي چې کوم کس قیام کول غواړي نو هغې له د ځان خوښی په وجه دا قیام مکروه دی، خو څوک چې صاحب احترام وي او د هغه د قیام طلب هم نه کوي نو د هغې لپاره به ااودرېدل مکروه نه وي.

قاضي عیاض مالکی لیکې چې حدیثونو کې د منع شوي قیام نه هغه قیام مراد دی چې کوم به عجمي خلکو کولو چې کیناستونکې کس په احترام کې به د آخر پورې کیناستلو. او هغې پابند به ؤو. دا مکروه او منع دی. (مرقات ۴۷۴/۸)

خلاصه: او محاکمه د دې ټول بحث دا ده چې کوم کس صاحب اکرام وي، ولي کامل او نیک وي، هغې د خپل ځان لپاره د چا قیام هم نه خوښوي او یو د دنیوي غرض نه بغیر خالص د دیني محبت په بنیاد د هغې د احترام لپاره ودرېږي او دا قیام د عجمیانو په طرز هم نه وي، نو دي قیام کې هیڅ باک نشته دی. د کومو حدیثونو نه چې د جواز پته لږېږي هغه په همدغې باندې محمول دي.

خو که یو کس عالم او فاضل نه دی یا عالم فاضل دی، خو دا قیام غواړي نو د هغې لپاره دا قیام منع دی. او که یو دنیا داره کس دی او د دنیوي غرضونو په خاطر خلک د هغې لپاره ودرېږي او د زړه نه هغه خوښوي، نو دا سخت منع دی. کومو حدیثونو کې چې د قیام منع راغلي ده. هغه همدغه قیام باندې محمول ده.

الفصل الاول

حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د مجلس د خلکو پاڅیدل

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ

حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله بنو قرظه د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حکم او ثالث جوړولو

بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ

باندې راکوز شول نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو سړی حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې ولېږلو. هغه وخت د

وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ

حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قیام ګاه سره نزدې ناست ؤو، نو هغه به خر باندې سپور راغلو

فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْأَنْصَارِ:

او چې جومات ته راانږدې شو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د دې لیدلو سره) وفرمایل چې ای انصارو! تاسو

قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُم . مُتَّفق عَلَيْهِ. وَمَضَى الْحَدِيثُ بِطُولِهِ فِيبَابِ حِكَمِ الْإِسْرَاءِ(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

خپل سردار لپاره ودرېږئ. (بخاری او مسلم) او دا حدیث پوره تفصیل سره د قیدیانو په باب کې تېر شوی دی.

توضیح: د دې باب په ابتدائی بحث کې د دې حدیث تشریح او توضیح ده چې به تفصیل سره لیکلی شوې ده. او کتاب الجهاد کې په حکم الاسراء کې دا حدیث تېر شوی دی. هلته یې تشریح وګورئ.

څوک د خپل ځای نه پاسول او خپله هلته کیناستل جائز نه دي

﴿۲﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ

داسې پکار نه ده چې څوک کوم ځای کې ناست وي او هغه د هلته نا پاڅوئ او خپله کینئ، البته (د ناستې)

وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

ځای فرخه ساتئ او راتلونکي ته ځای ورکړئ (چې د پاڅولو حاجت نه وي).

توضیح: ځینې خلک حیله او بهانه وکړي او بل د مجلس نه پاڅوي او خپله هلته کینې. دا جائز نه ده. په زوره پاڅول نو خو نور هم زیات مکروه او منع دي. مجلس کې فراخوالی پیدا کول پکار دی.

مجلس نه د لږ وخت لپاره پاڅیدلو باندې د ځای حکم

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:مَنْ قَامَ مِنْ

او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: څوک چې د خپل ځای

مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ. رَوَاهُ مُسلم[3]

نه پاڅیدلو او بیا هلته کیناستلو نو د هغه ځای زیات حقدار به همغه وي.

توضیح: **فهواحق**: یعنې یو سړی د مجلس نه د لږ ساعت لپاره پاڅیدلو. که هغې خپل ځای باندې کومه نښانه کیښودله یا ژر بېرته راغلو نو دا سړی د خپل ځای د ټولو نه زیات مستحق او حقدار دی، خو که دا سړی ناوخته پورې رانغلو او د هغې په ځای بل څوک کیناستلو نو د ده حق بیا ختم شو. دغه شان که کوم ځای ونېولو او هلته یې څه څادر وغیره وغورولو خو د ډېر ساعت پورې غیب ؤو نو بیا به

([1])رقم الحديث ۴۶۹۵ أخرجه البخاري في صحيحه ۴۱۱/۷ رقم الحديث ۴۱۲۱ ومسلم في ۱۳۸۸/۳ رقم الحديث ۱۷۶۸.

([2])رقم الحديث ۴۶۹۶ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۲/۱۱ رقم الحديث ۶۲۶۹ ومسلم في ۱۷۱۴/۴ رقم الحديث ۲۱۷۷.

([3])رقم الحديث ۴۶۹۷ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۱۵/۴ رقم الحديث ۲۱۷۹،والترمذي في السنن ۸۳/۵ رقم الحديث ۲۷۵۱

هم د هغې ځای د هغې د لاس نه وځي اګر که هغې نابښنه هم يښې ده. د دې نه معلومه شوه چې جومات د ځان لپاره ځای د غه شان خاص کول پکار نه دی چې بل پرې نه شي کيناستلی. (مرقات ۴۷۵/۸)

الفصل الثاني

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ځان لپاره اودرېدل نه خوښول

﴿۵﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه زيات محبوب او

وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا

عزيز بل هيڅوک نه ؤو خو (د دې محبت او تعلق باوجود) صحابه کرامو به چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وليدلو نو نه به اودرېدل، ځکه

لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

هغوی پوهېدل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا اودرېدل نه خوښوي. دا روايت ترمذی نقل کړی دی

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ[1]

او ويلي يې دي چې دا حديث صحيح دی.

توضيح نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ځان لپاره اودرېدل نه خوښول. دا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انکساري او عاجزي وه. او دا اودرېدل **سداً للذراع** هم ؤو. که نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودرېدل رواج کړی وی نو معلومه نه ده چې خبره به د کوم ځای نه کوم ځای ته رسيدلی دی. لهذا مختلفو وختونو او مقاماتو او حالاتو ته به کتل غواړي چې کوم صورتونو کې د قيام ممانعت دی. او کوم کوم صورتونو کې اباحت دی. تفصيل مخکې تېر شوی دی. (مرقات ۴۷۶/۸)

خلک خپلې مخې ته ودرولو سخت وعيد

﴿۶﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سَرَّهُ

او حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې دا خبره خوښوي

أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[2]

چې خلک د هغې مخې ته نيغ ولاړ وي نو هغې له پکار ده چې د خپلې ناستې ځای په دوزخ کې تيار کړي.

---

[1] رقم الحديث ۴۶۹۸ أخرجه الترمذي في السنن ۸۴/۵ رقم الحديث ۲۷۵۴.

[2] رقم الحديث ۴۶۹۹ أخرجه ابوداود في السنن ۳۹۸/۵ رقم الحديث ۵۲۲۹ والترمذي في ۸۴/۵ رقم الحديث ۲۷۵۵

توضیح قیاما: همغه د عجمیانو والا قیام مراد دی. چې غرور، تکبر، اوچتوالی او زور زیاتی وي. چې یقیناً منع دی. نن سبا د جمعیت علماء اسلام په جلسو کې د مشرانو راتللو باندې پښې والا ټول اودریږي. دا همغه ممنوع صورت دی چې ذکر یې دې حدیث کې دی. دې مشرانو باندې واجب دي چې عوام د دې نه منع کړي او د وعید نه بچ شي. (مرقات ۸/۴۷۶)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى عَصًا

او حضرت ابوامامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ورځ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د همسا مبارکې په مرسته بهر راوتلو

فَقُمْنَا فَقَالَ: لَا تَقُومُوا كَمَا

نو مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په احترام کې اودرېدلو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو داسې مه ودرېږي

يَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهَا بَعْضًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

لکه څنګه چې عجمیان خلک اودرېږي چې هغوی کې د ځینو ځینو تعظیم کوي.

﴿۷﴾ وَعَنْ سعيد بن أَبِي الْحسن

او حضرت سعدی ابن ابوالحسن چې یو جلیل القدر او ثقه تابعی او د حضرت حسن بصری ورور دی

قَالَ: جَاءَنَا أَبُو بَكْرَةَ فِي شَهَادَةٍ

فرمایي چې یو ورځ حضرت ابوبکره صحابي مونږ له د ګواهۍ راکولو لپاره راغلو. یو سړی د هغې به احترام کې

فَقَامَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهِ فَأَبَى أَنْ يَجْلِسَ فِيهِ وَقَالَ:

خپل ځای پریښود لو او اودرېدلو خو هغې به ځای باندې د کیناستلو نه انکار وکړو او ویې فرمایل چې

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ذَا

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه منع کړې ده. او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې خبرې نه هم منع کړې ده چې

وَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَمْسَحَ الرَّجُلُ يَدَهُ بِثَوْبِ مَنْ لَمْ يَكْسُهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

څوک د داسې سړي په جامو باندې خپل لاس اوچ کړي کوم چې هغې ته جامې اغوستې دي.

توضیح فی شهادة: یعنې کومه مقدمه کې یې هغې له ګواهي ورکوله، ځکه راغلو. (مرقات ۸/۴۷۷)

فأبى: حضرت ابوبکره ځکه انکار وکړو چې کېدی شي هغه کس د زړه نه خوشحاله نه ؤو. صصرف د

([1]) رقم الحديث ۴۷۰۰ أخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۹۸ رقم الحديث ۵۲۳۰ وابن ماجه في ۲/۱۲۱۱ رقم الحديث ۳۸۳۶.

([2]) رقم الحديث ۴۷۰۱ أخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۶۵ رقم الحديث ۴۸۲۷ وأحمدي المسند ۵/۴۴.

رعايت په خاطر اودرېدلو او ځای يې پريښودلو. حضرت ابو بکره د تقوی او د احتياط په بنياد باندې داسې وکړل يا بله کومه عارضي وجه وه ځکه دا د عدالت او و محکمه عدالت ماحول ؤو. (مرقات۸/۴۷۷)

که مجلس ته بېرته راځئ نو ځان لپاره نښانه کېږدئ

﴿۸﴾ وَعَن أَبِي الدرداءِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جلس

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله کيناستلو نو مونږ به د

جلسنا حوله فَأَرَادَ الرُّجُوعَ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ګېرچاپېره کيناستلو او بيا به چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بېرته تلو په اراده پاڅيدلو نو

نَزَعَ نَعْلَهُ أَوْ بَعْضَ مَا يَكُونُ عَلَيْهِ

(خپل ځای) باندې به يې پنې (پيزار) ويستل او کيښودل (او لوڅې پښې به لاړو) يا به يې د خپل بدن يو څيز

فَيَعْرِفُ ذَلِكَ أَصْحَابُهُ

(لکه څادر وغيره) هغه ځای کې پريښودلو. دې باندې به صحابه کرام پوهه شول چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَيَثْبُتُونَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

به مجلس ته بېرته راځې نو هغوی به په خپل خپل ځای ناست ؤو.

دوه کسانو کې ټوتل او کيناستل منع دي

﴿۹﴾ وَعَن عبد الله بن عَمْرٍو عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[2]

د هيڅا لپاره دا حلال نه دي چې هغه د ناستو دوه کسانو په مينځ کې د هغوی د اجازت نه بغير جدا والی راولي.

توضيح: ان يفرق: يعنې که دوه ملګري خپل مينځ کې ناستې وي او درېم سړی راشي او د هغوی په مينځ کې کيناستلو او د دواړو په مينځ کې جدائی راولي، دا منع دي، ځکه دا امکان لري چې هغه دواړه خپل مينځ کې ضروري خبرې کوي يا هسې هغوی وهڅوي او بله کومه ترجيحي وجه موجود

([1]) رقم الحديث ۴۷۰۲ أخرجه ابوداود في السنن ۱۸۰/۵ رقم الحديث ۴۸۵۴

([2]) رقم الحديث ۴۷۰۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۵/۵ رقم الحديث ۴۸۴۵ والترمذي في ۸۳/۵ رقم الحديث ۲۷۵۲.

وي. که دغه شان بله کومه مجبوري موجود نه وي نو بيا داسې کيناستلو کې هيڅ باک نشته دی. ځينې علماؤ د تفريق نه د دوه کسانو په مينځ کې نفاق او تفرقه پيدا کول مراد اخستی دی. بيا خو به مطلب ډېر واضحه شي.

راتلونکي حديث کې دي چې که دا دواړه ملګري اجازت ورکوي نو بيا به په مينځ کې ناسته جائز وي. بهرحال د دې حديث تعلق د ازدحام حالت سره دی.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

لَا تَجْلِسْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا : رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

(د اول نه د ناست شوؤ) دوه کسانو په مينځ کې مه کينئ، خو دا چې که د هغوی اجازت وي. (ابو داؤد)

الفصل الثالث

مجلس ختميدو باندې قيام جائز دی

﴿۱۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْلِسُ مَعَنَا فِي الْمَسْجِدِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونږ سره جومات کې کيناستلو

يُحَدِّثُنَا فَإِذَا قَامَ قُمْنَا قِيَامًا

او خبرې به يې کولې. بيا به چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاڅيدلو نو مونږ به اودرېدلو. او (تر ډېره پورې به) ولاړ ؤو.

حَتَّى نَرَاهُ قد دخل بعض بيُوت أَزوَاجه [2]

تردې چې مونږ به وليدل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو بيبيانو کې د يو کره لاړو.

توضيح: قمنا قياماً: د دې قيام تعلق د هغه قيام سره نه دی چې د کوم ممانعت راغلی دی. بلکې دلته يې قيام ځکه وکړو چې مجلس خلاص شو. لهذا اوس د کيناستلو هيڅ مقصد پاتې نه شو، نو د تللو لپاره اودرېدل، خو د قيام په حالت کې به صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څه لږ انتظار کولو، ځکه کېدی شي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بېرته مجلس ته راغلی وی يا هغې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بل کوم حاجت پيښ شوی دی نو ځکه به صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ انتظار کولو. (مرقات ۴۷۹/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۷۰۴ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۵/۵ رقم الحديث ۴۸۴۴.

([2]) رقم الحديث ۴۷۰۵ أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴۶۷/۶ رقم الحديث ۸۹۳۰.

مجلس کې راتلونکې ګس ته اهميت ورکول سنت دي

﴿۱۲﴾ وَعَن وَاثِلَة بن الخطابِ قَالَ: دَخَلَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت واثله ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې يو سړی حاضر شو

وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ قَاعِدٌ فَتَزَحْزَحَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات کې ناست ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه سړي ته (د ځای ورکولو) لپاره د

فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللهِ

خپل ځای نه وخوزېدلو او يو اړخ ته وړاندې شو. هغه کس عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

إِنَّ فِي الْمَكَانِ سَعَةً. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ لِلْمُسْلِمِ لَحَقًّا

کور کې د ناستې ځای کافي فراخه دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل دا د مسلمان حق دی چې

إِذَا رَآهُ أَخُوهُ أَنْ يَتَزَحْزَحَ لَهُ. رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان [1]

کله يې هغه يو مسلمان ورور په راتلو اوينې نو د هغې لپاره ځای پرېږدي او يو اړخ ته وړاندې شي.

توضيح: يتزحزح: يعنې د راتلونکي سړي لپاره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل ځای نه اوخوزېدلو. هغه سړي وويل چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ځای شته دی. ته صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مه ښوځېږه. دې باندې ورته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې يو نوي راتلونکي مسلمان دا حق دی چې د مجلس ورونه د هغې ليدلو سره وخوزېږي. دې کې خو يو ښه تهذيب دی او بل دا چې د دې سړي په راتلو باندې هغې ته اهميت ورکول دي. چې هغه به پرې ډېره خوشحاله شي چې خلکو زما راتګ بوج ونه ګڼلو. بلکې ماته يې اهميت راکړو. دې سره محبتونه زياتېږي. (مرقات ۴۸۰/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۷۰۶ أخرجه البيهقي في الشعب ۴۶۸/۶ رقم الحديث ۸۹۳۳.

باب الجلوس والنوم والمشي
د ناستي، پرپوتلو او ګرځېدو بيان

اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د ژوند اکمله ضابطه ده، ځکه دا د انساني ژوند د هري شعبي کفالت کوي دې سلسله کې اسلام خپل منونکو ته د اوده کېدلو، ویښېدلو، ګرځېدلو راګرځېدلو او د کېناستلو او پاڅېدلو طریقه بنایي. که چېرې یو کس معاشرتي ژوند کې د راتلونکو دي شیانو کې د شریعت نه رهنمائی نه حاصله وي نو لامحاله به د نورو قومونو په په تقلید کې ورک او ګمراه به شي.

الفصل الاول
ګونډه ماتول باندې ناسته جائز ده

﴿۱﴾عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خانه کعبې په دالان کې د خپلو

مُحْتَبِيًا بِيَدَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

لاسونو په ذریعه راغونډ ناست وُو.

توضیح: محتبیاً: خپې نیغي بدن سره پیوسته کولو ناستې ته احتباء وایي. دا په یو خاص طریقې باندې د کېناستلو نوم دی. هغه طریقه داسې ده چې د سرې مقعد په زمکه وي او ګونډې (زنګون) یې د خولې سره نزدې ودرولي وي او دواړه لاسونه یا د کومې پټئ سره یا د څادر سره ګونډو نه راتاوهلو سره ناستې ته احتباء وایي: حدیث کې صرف د دوه لاسونو سره د احتباء ذکر دی، خو د احتباء ذکر عام دی هغه که په لاس وي یا که جامو سره وي. د احتباء په طرز ناسته کې عاجزي او تواضع وي، نو ځکه دې طریقې باندې ناسته مستحب ده. د ګونډې ناستي په صورت کې د چا سره پرتوګ او پاجامه وي نو هغه صورت کې ستر نه کولاوېږي، خو که پرتوګ یا پاجامه نه وي بلکې د احرام دوه څادرونه وي او هغې کې یو سرې په لاسونو راغونډ کېني، نو هغې کې ستر کولاوېږي. لهذا دې طریقه باندې کېناستل منع دي. د لنګ هم دغه حکم دی.

([1])رقم الحديث ۴۷۰۷ أخرجه البخاري في صحيحه ۶۵/۱۱رقم الحديث ۶۲۷۲ وابن ماجه في السنن ۱۲۲۷/۲ رقم الحديث ۳۷۳۳.

جومات کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارام کول ثابت دي

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبَّادِ بن تَمِيم عَنْ عَمِّهِ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ

او حضرت عباد ابن تميم د خپل تره نه روايت کوي. هغې وويل چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات کې

مُسْتَلْقِيًا وَاضِعًا إِحْدَى قدمَيه على الْأُخْرَى. (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

دغه شان ستوني ستاق وليدلو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو قدم به بل قدم ايښى ؤو.

توضيح: واضعاً: يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ارام لپاره پرېوتلو او يو قدم يې په بل قدم کيښودلو. ورسره لاندې روايت کې قدم په قدم باندې کيښودل سره چت پرېوتلو منع کړی شوي دي. حال دا چې دلته د دې صورت اجازت کړی شوی دی، نو دواړو روايتونو کې تعارض شو.

د دې جواب دا دی چې صرف قدم په بل قدم باندې ايښودل منع نه دي، ځکه دې کې د ستر کولاوېدلو خطر نشته دی، خو يوه پښه په بله پښه کيښودلی چې ستر پرې کولاو شي. هغه منع دی. الغرض دراغوندې ناستې پرېوتلو مدار د ستر کولاوېدلو سره دی. که د ستر انتظام شوی وي نو راغونده ناسته منع نه دی.

ښې باندې ښه اړول او چيت پريوتل منع دي

﴿۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى

او حضر جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه منع کړې ده چې څوک يوه پښه اوچته کړي

الْأُخْرَى وَهُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ. رَوَاهُ مُسلم [2]

او بله پښه په هغې باندې کېږدي او هغه وخت کې هغه ستوني ستاق وي.

توضيح: دې حديث کې په يوه خاصه طريقه باندې د پرېوتلو نه منع کړی شوي ده، ځکه هغې کې ستر کولاوېږي. هغه طريقه داسې ده چې يو کس کله چت پرېوځي او يوه پښه اوچه کړي او د هغې په ګونده باندې بله پښه او قدم کېږدي، چې لاندې ښئ ټوله علاقه پرې ښکاري او سړی په احرام کې دی يا په ازار بند کې دی نو داسې کول منع دي، خو که سړې پرتوګ اغوستی وي يا د ستر انتظام شوی وي نو بيا داسې پرېوتل جائز دي. بهرحال دې حديث کې د ممانعت يو خاص صورت دی. لهذا د دې د مخکنې حديث سره تعارض نشته دی. (مرقات ۴۸۱/۸)

﴿۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يستلقين

او د حضر جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې تاسو کې دې هيڅوک داسې

([1]) رقم الحديث ۴۷۰۸ أخرجه البخاري في صحيحه ۸۰/۱۱ رقم الحديث ۶۲۷۲ ومسلم في ۱۶۶۲/۳ رقم الحديث ۲۱۰۰

([2]) رقم الحديث ۴۷۰۹ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۶۲/۳ رقم الحديث ۲۰۹۹ وابوداود في السنن ۱۸۷/۵ رقم الحديث ۴۶۶۵.

أحدكم ثمَّ يضع رجليه على الأخرى. رَوَاهُ مُسلم[1]

ستوني ستاق نه پرېږدي چې يوه پښه ودروي او بله پښه په هغې کېږدي.

تکبر سره د ګرځيدونکي انجام

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل يو کس په دوه پټي دارو

يَتَبَخْتَرُ فِي بُرْدَيْنِ وَقَدْ أَعْجَبَتْهُ نَفْسُه

جامو کې ځان خوښئ او کبر سره سره روان ؤو. او د هغې نفس هغه په غرور او ځان خوښئ کې اخته کړی ؤو.

خسف بِهِ الأرض فَهُوَ يتجلجل فِيهَا إِلَى يَوْم الْقِيَامَة. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

زمکې هغه سړی رانښکلو، نو هغه به تر د قيامت پورې دغه شان رانښکلی کېږي.

توضيح: ځينې علماء وايي چې دا قارون ته ويلی شوی دی، خو علامه نؤوی رحمه الله او نور شارحين فرمايي چې دا د قارون نه بغير بل کوم متکبر کس ؤو. چې الله ترېنه ناراضا شو. اسلام د دورنه مخکې د يو سړي قصه ده. (مرقات ۴۸۲/۸)

ځکه باندې د الله والو د تلو انداز داسې وي ﴿و عباد الرحمن الذين يمشون على الارض هونا واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاما﴾ (سورة فرقان: ۶۳)

الفصل الثاني

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالخت استعمال کړی دی

﴿۶﴾ عَن جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا

حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې تکی وهلو سره ولیدلو

عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[3]

چې دوه بالختونه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چپ اړخ ته ايښودلی شوي ؤو.

([1]) رقم الحديث ۴۷۱۰ أخرجه مسلم في صحيحه ۱۶۶۱/۳ رقم الحديث ۲۰۹۹.

([2]) رقم الحديث ۴۷۱۱ أخرجه البخاري في صحيحه ۲۵۸/۱۰ رقم الحديث ۵۷۸۹ ومسلم في ۱۶۵۳/۳ رقم الحديث ۵۳۲۶.

([3]) رقم الحديث ۴۷۱۲ أخرجه ابوداود في السنن ۳۸۰/۵ رقم الحديث ۴۱۴۳ والترمذي في ۹۱/۵ رقم الحديث ۲۷۷۰.

ګونډه ماتول باندې د کښناستلو ذکر

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله جومات کې کښناستلو

فِي الْمَسْجِدِ احتبى بيدَيْهِ. رَوَاهُ رزين [1]

نو دواړه ورنونه به يې ودرول او پوندو باندې به يې دواړه لاسونه د حلقې سره وترل.

کله کله به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرفصاء په صورت کې کښناستلو

﴿۸﴾ وَعَن قيلة بنت مخرمَة أَنَّهَا رَأَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ

او د حضرت قيله بنت مخرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې هغې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات کې

وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ. قَالَتْ: فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د قرفصاء په هيئت په ناسته وليدلو. قيلة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې کله ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې

الْمُتَخَشِّعَ أُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [2]

ډېر د عاجزئ او انکسارئ په حالت کې ناست وليدلو نو زه د هيبت په وجه ورپېدلم.

توضيح القرفصآء: قاف باندې پيش دی. را ساکن دی. فا باندې پيش دير. د هغې نه وروسته مد دی او بيا همزه دی. فا باندې زبر ويل هم جائز دی.

تواضع او د انکسارئ نه ډک د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يوې ناستې نوم قرفصآء دی. دا په داسې طرز باندې ناسته ده چې مثلاً يو سړی د قعده په حالت کې کيني او ګونډې په زمکه کېږدي او پښې شاته ولږوي. بيا ښې لاس په چپ لاس او چپ لاس په ښې ترخ کې ومنډې او خپله خيټه په ورنونو او ګونډو باندې رامات کړي او سر زمکې ته نزدې يوسي. دا قرفصاء ناسته ده. دې کې عاجزي، تواضع او انکساري ده. نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا استعمال کړه. (مرقات ۴۸۴/۸)

المتخشع: يعنې خشوع، خضوع او د انکسارئ دي صورت کې چې کله ما وليدل نو زه ورپېدلم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته الله رعب او دبدبه ورکړې وه، نو ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې څومره تواضع اختيار کړه نو هومره د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رعب زيات شو، نو ښځه وپرېدله.

ارعدت: زه ورپېدلم.

من الفرق: دا لفظ چې کله سمع د يسمع نه راشي نو د وهرې په معنى کې وي. (مرقات ۴۸۴/۸)

([1]) رقم الحديث ۴۷۱۳ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۵/۵ رقم الحديث ۴۸۴۶،ولم يذكر المسجد.

([2]) رقم الحديث ۴۷۱۴ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۶/۵ رقم الحديث ۴۸۴۷.

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به سحر د لمونځ نه وروسته تر څانښت پورې كيناستلو

﴿۹﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ تَرَبَّعَ

او حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به كله د سحر لمونځ وكړو نو څلور

فِي مَجْلِسِهِ حَتَّى تطلع الشَّمْس حسناء. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

كوټه به كيناستلو او د لمر بنه رڼا كېدلو پورې به همدغه شان ناست ؤو.

توضيح: څانښت بورې ناسته ثابت ده. د دې په ضمن كې د څانښت لمونځ هم ثابت شو. لهذا د څانښت د لمونځ نه انكار كول مناسب نه دي.

تريع: يعنې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چارزانو كيناستلو او د لمر د راښتلو پورې به يې انتظار كولو. چې دا خبره ترښه ثابه شوه چې مكروه وخت كې لمونځ كول جائز نه دى. دلته دا هم ثابته شوه چې دين اسلام ژوندى او اباد مذهب دى چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ناستې د كيفيت په كې هم الحمد لله محفوظ دى. (مرقات ۴۸۵/۸)

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مؤقتې استوګنې طريقه

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ

او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به كله د سفر په دوران كې ارام كولو

اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ

او داوده كېدلو لپاره به د شپې كوم ځاى ته كوزېدلو نو بنې اړخ ته به يې ډډه اچوله او كله به چې سحر ته نزدې

نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ. رَوَاهُ فِيشَرْحِ السُّنَّةِ[2]

راكوزېدلو نو خپل يو لاس به يې ودرولو او د هغې به تلې مبارك به يې سر مبارك كيښودلو. (شرح السنة)

توضيح: د دې حديث مطلب دا دى چې د سفر دوران كې به چې كله نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې وخت كې يو ځاى كې پراؤ اچولو نو د شپې څه برخه به پاتې وه نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به بنې اړخ باندې پرېوتلو لكه څنګه به يې چې په حضر كې عادت ؤو، خو كه د شپې اكثره برخه به تېره شوې وه او صبح صادق به بيخې نزدې ؤو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په ډډه نه پرېوتلو. بلكې بنې لاس او

([1]) رقم الحديث ۴۷۱۵ أخرجه ابوداود في السنن ۱۷۸/۵ رقم الحديث ۴۸۵۰ وأخرجه مسلم أيضا في صحيحه ۴۶۴/۱ رقم الحديث (۲۸۷-۶۷۰)

([2]) رقم الحديث ۴۷۱۶ أخرجه مسلم في صحيحه ۴۷۶/۱ رقم الحديث رقم (۳۱۳-۶۸۳) والبغوي في شرح السنة ۳۲۵/۲۲ رقم: ۳۳۵۹

څنګل به يې ودرولو او هغه تلي باندې به يې سر مبارک کيښودلو او څه لږ به يې وکړو. د دې وجه دا وه چې دا چې صبح صادق نزدې ؤو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کلک خوب نه د بچ کېدلو کوشش کولو چې د سحر لمونځ فوت نه شي، نو ځکه به يې په تلی سر مبارک کيښودلو او څه لږ به يې ناارامي او څه د ارام کولو کوشش کولو. د دې حديث نه معلومه شوه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د سحر د لمونځ لپاره څومره اهتمام کولو. او نن سبا مسلمانان څومره په غفلت کې دي. زرګونو کې به يو په مشکله ملاو شي چې د شپې نه اهتمام کوي چې د سحر لمونځ قضاء نه شي. (مرقات ۴۸۵/۸)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم قبلي ته ښېي کولو سره نه دی اوده شوی

﴿۱۱﴾ وَعَنْ بَعْضِ آلِ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَ: كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِمَّا

او د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يو هلک فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درئ د هغه توتې پشان وه چې کومه د

يُوضَعُ فِي قَبْرِهِ وَ كَانَ الْمَسْجِدُ عِنْدَ رَأْسِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر مبارک کې ايښودلی شوي وه او جومات به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سر مبارک سره نزدې ؤو.

توضيح: مما يوضع: دا د صيغه مضارع په ځای د وضع ماضي صيغه پکار وه، خو راوي حکايت بزمانه حال په غرض د مضارع صيغه استعمال کړې ده.

نحواً: د يو شان والي او د مقدار په معنی کې دی. دې حديث کې دا بيانول مقصود دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل ژوند کې د درئ لپاره دومره مختصره توته استعمالوله لکه څومره توته چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر کې ښوره کړی شوي وه. چې بالکل مختصره وه. اوس پوشتنه دا ده چې دا توته قبر کې ولي ښوره کړی شوي وه او چا ښوره کړې وه؟ نو علماؤ ليکلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مرګ بيماری کې د درئ لپاره يو څادر استعمالولو چې صحابه کرامو ليدلی ؤو. د هغې غلام شقران همدغه څادر اخستی ؤو او په پته يې قبر کې خپور کړو چې هسې نه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته يې څوک استعمال کړي. خو صحابه کرامو دا وليدلو او د قبر نه يې راويستلو. (مرقات ۴۸۹/۸)

عنده مسجده: يعني نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د قبلي اړخ ته پرېوتلو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حجره

---

[1] رقم الحديث ۴۷۱۷ أخرجه ابوداود في السنن ۲۹۷/۵ رقم الحديث ۵۰۴۴.

به په مسجد نبوي کې چپ اړخ ته وه. کله به چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله هجره کې ښي اړخ باندې پرېوتلو نو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سر مبارک سره جومات ؤو. د دې بيان نه غرض دا دی چې راوي دا ويل غواړي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په ښي اړخ باندې پرېوتلو. د دې حديث نه دا خبره بالکل واضحه ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت ته دا تعليم ورکړی دی چې د پرېوتلو وخت کې د بيت الله اړخ ته مخ کوئ ځه ما ټول ژوند داسې کړي دي. (مرقات ۴۸۶/۸)

د دې نه دا خبره هم واضحه شوه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ټول ژوند کې د قبلې اړخ ته پښې نښورلو سره نه پرېوتلو. نن سبا په عربو باندې تعجب دی چې هغوی کوشش کوي چې د بيت الله اړخ ته پښې نښورې کړي او اوده شي. څوک چې داسې نه کوي، نو هغوی داسې کولو لباندې مجبوره کوي او وايي "**ان كان هذا بيت الله فانا عبد الله**" که دا بيت الله دی نو زه عبد الله يم. خپو خپرولو کې هيڅ باک نشته دی.

نسګور پريوتل د الله تعالى په نزد مبغوض دي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مُضْطَجِعًا عَلَى بَطْنِهِ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو سړي په خيټه پروت وليدلو نو
فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې ته وفرمايل چې داسې پرېوتل د الله په نزد نا خوښه دي.

توضيح: ضجعة: پرېوتلو ته وايي. د پرېوتلو دا کيفيت د الله په نزد مبغوض دی. اوده کېدو او د پرېوتو څلور طريقې دي: اوله طريقه د ستوني ستاغ پرېوتلو ده. دا د اهل اعتبار طريقه ده چې د اسمان نظام ته ګوري او عبرت ترېنه حاصلوي. دويمه طريقه ښي اړخ باندې د پرېوتلو ده. دا د عبادت کونکو طريقه ده. دې کې زړه زوړند وي، نو خوب سرسرې وي، نو د عبادت لپاره پاڅيدل اسان وي. دريمه طريقه په چپ اړخ باندې د پرېوتلو ده. دا طريقه د ارام غوښتونکو ده. دې کې زړه لاندې خخ پاتې شي نو خوب ښه په غفلت سره کيږي. څلورمه طريقه د ناکاره خلکو ده. دا خلک پر مخې په خيټه او نسکوره خله پرېوځي. دې حديث کې دغه شان پرېوتلو نه منع شوي ده، ځکه دوزخ کې به دوزخيان دغه شان وي. (مرقات ۴۸۶/۸)

---

(۱) رقم الحديث ۴۷۱۸ أخرجه الترمذي في السنن ۹۰/۵ رقم الحديث ۲۷۶۸ وأحمد في المسند ۳۰۴/۲ .

﴿۱۳﴾ وَعَنْ يَعِيشَ بْنِ طِخْفَةَ بْنِ قَيْسٍ الْغِفَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ

او حضرت يعيش ابن طخفه ابن قيس غفاري د خپل پلار نه چې د اصحاب صفه نه ؤو، نقل کوي چې هغه

قَالَ: بَيْنَمَا أَنَا مُضْطَجِعٌ مِنَ السَّحَرِ عَلَى بَطْنِي إِذَا

بيان کړو چې زه د سينې د درد په وجه په خيټه باندې پرېوتی ؤو. چې ناڅاپه مې محسوس کړل چې يو ماړ پښو

رَجُلٌ يحركني بِرِجْلِهِ فَقَالَ: هَذِهِ ضِجْعَةٌ يَبْغَضُهَا اللهُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا

نه خوځوي او بيا ما واورېدل چې هغه کس وايي د پرېوتلو دا طريقه الله ته ناخوښه ده او بيا چې ما

هُوَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه [1]

نظر اوچت کړو نو هغه کس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؤو. (روايت کړې دې ابو داؤد، ابن ماجه)

توضيح: من السحر: سحر دسينې درد ته ويلی شوی دی. اصل کې سحر کولمو ته وايي. دلته د سنيې درد مراد دی يعنې د دې مجبوری په وجه په زه پر مخې پرېوتلم. (مرقات ۴۸۷/۸)

چار ديوارئ يا د پردې نه بغير چت باندې اوده کيدل منع دی

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بن شَيبَان قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ بَاتَ

او حضرت علي ابن شيبان فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې د شپې کور کې په

عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَيْسَ عَلَيْهِ حِجَابٌ وَفِي رِوَايَةٍ: حِجَارٌ

يو داسې چهت پرېوتلو چې پرده پرې نه وي او يو روايت کې داسې دي چې د هغې نه ګيرچاپيره د مانع شی

فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَفِي مَعَالِمِ السُّنَنللخطابي حجى "(رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ) [2]

نه وي نو د هغه د ذمې نه بري دی. (ابو داؤد) او د خطابی کتاب معالم السنن کې (د لفظ حجاب په ځای) د حجی لفظ دی.

توضيح: حجاب: يو لفظ حجاب دی چې د پرده په معنی کې دی. بل لفظ حجار دی چې د کانې په معنی کې دی. درېم لفظ حجئ دی چې د عقل او مانع به معنی کې دی. مطلب دا دی چې کوم چهت باندې ديوال يا کومه پناه يا پرده نه وي او څوک د شپې هغې باندې څملي نو دا سې کول پکار نه دي. کېدی شی دا سړی ارخونه بد رابدل کړي او د چهت نه ورغوزېږي او لاندې توته توته کېدو سره مړ شي.

الذمة: الله د انسان د بدن د تحفظ لپاره فرښتې هم مقرر کړي دي او د هغه تحفظ لاړې او طرقې يې هم ورته ويلي دي او شريعت هم د دې تعليم ورکړی دی. او که کوم کس دا ټولې طريقې له نظره

---

[1] رقم الحديث ۴۷۱۹ أخرجه ابوداود في السنن ۲۹۵/۵ رقم الحديث ۵۰۴۰ وابن ماجه في ۱۲۲۷/۲ رقم الحديث ۳۷۲۳.

[2] رقم الحديث ۴۷۲۰ أخرجه ابوداود في السنن ۲۹۵/۵ رقم الحديث ۵۰۴۱ وأحمد في المسند ۷۹/۵

غوڑوي نو د تحفظ ذمه واري نه خته شي. اوس دې دا سړی خپل ځان ملامته کړي. د خپلو غوږدلو نسبت دې بل اړخ ته نه کوي، نه دې دا الزام لږوي چې زه مسلمان ؤوم. اسلام دې ځای کې ماته لاربنودنه نه ده کړي. (مرقات ۸/۴۸۸، ۴۸۷)

﴿ ۱۵ ﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنَامَ الرَّجُلُ عَلَى سطحٍ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کوټه باندې د اوده کېدلو نه منع

لَيْسَ بمحجورٍ عَلَيْهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

کړې ده چې کوم باندې پرده (ديوال) نه وي.

د حلقي مينځ کې کيناستونکې والا باندې لعنت

﴿ ۱۶ ﴾ وَعَن حذيفةَ قَالَ: مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژبې مبارکې په ذريعه هغه سړی

قَعَدَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد[2]

لعنتي ګڼلی شوی دی چې مجلس په مينځ کې کيني.

توضيح وسط الحلقة: د دې جملې يو مطلب دا دی چې مثلاً يو مجلس کې خلک ناستې دي. يو سړی د بهر نه راغلو. مجلس کې ځای نشته دی، خو دا کس د خلکو په څټونو باندې پښې اړوي او مخکې د مجلس په مينځ کې کيني. دا کيناستل منع دي. د دې جملې دويم مطلب دا ذی چې يو مجلس دی. هغې کې خلک ناست دي. او يو بل ته مخامخ خبرې کوي. څوک راشي او د هغوی په مينځ کې کيني او د هغوی په مينځ کې حائل شي. چې ده هغې په وجه خلکو ته تکليف ورسيدلو، ځکه د هغوی په مينځ کې پرده او خلل پيدا شو، نو ځکه دا منع دي.

د دې جملې درېم مفهوم او مطلب دا دی چې څوک بې حيا او بد تهذيبه شي او راشي د مجلس د خلکو په مينځ کې کيني او مسخري کوي، د شادو پشان حرکتونه کوي او خلک خندوي. هغې باندې لعنت دی. دا مطلب ډېر واضحه دی. (مرقات ۸/۴۸۹، ۴۸۸)

بهترين مجلس هغه دی چې په فراخه ځای کې وي

﴿ ۱۷ ﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُ الْمَجَالِسِ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل بهترين مجلس هغه

([1]) رقم الحديث ۴۷۲۱ أخرجه الترمذي في السنن ۵/۱۳۰ رقم الحديث ۲۸۵۴.

([2]) رقم الحديث ۴۷۲۲ أخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۶۴ رقم الحديث ۴۸۲۶ والترمذي في السنن ۵/۸۳ رقم الحديث ۲۷۵۳.

أَوْسَعُهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

دی چې په فراخه ځای کې وکړی شي.

مجلس کې بيل بيل مه کينئ

﴿۱۸﴾ وَعَن جَابِر بن سَمُرَة قَالَ: جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغلو داسې وخت کې چې (مسجد نبوي) کې

وَأَصْحَابُهُ جُلُوسٌ فَقَالَ: مَا لِي أَرَاكُمْ عِزِينَ؟ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

د هغوی صحابه ناست ؤو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل څه خبره ده چې تاسو بېل بېل او بنواره ناست وينم.

توضيح: عزين: د عزة جمع ده. د خلکو جماعت ته وايي. دلته جدا جدا جماعتونه مراد دي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت ته دا تعليم ورکړو چې د اتحاد او اتفاق او د يووالي تقاضا دا ده چې کله په يو مجلس کې کينئ نو يوځای کينئ. جدا جدا ناستې سره به وحشت او ځانله والي کې زيات والی راشي. او د مسلمانانو صفت په قرآن کې د ﴿كانهم بنيان مرصوص﴾(سورة صف :۴) ذکر دی. لهذا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې جدا جدا ځايونو کې د ناستې په ځای يو ځای کينئ.

داسې ځای کې مه کينئ چرته چې څه سيوری او څه لمروي

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کله چې تاسو کې څوک د

فِي الْفَيْءِ فقلص الظِّلُّ فَصَارَ بَعْضُهُ فِي الشَّمْسِ

سيوري لاندې ناست وي او بيا سيوری ختمېږي او هغه وخت کې د هغې د بدن څه برخه په لمر کې او

وَ بَعْضُهُ فِي الظل فَليقمْ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[3] وَ فِي شرح السنة

څه برخه په سيوري کې وي نو هغه له پکار ده چې د هلته نه پاڅېږي. (ابوداؤد) او شرح السنة کې د

عَنهُ. قَالَ: وَإِذا كَانَ أَحَدُكُمْ فِي الْفَيْءِ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې وفرمايل تاسو کې چې څوک سيوري ته ناست وي او بيا هغه

([1]) رقم الحديث ۴۷۲۳ أخرجه أبوداود في السنن ۱۶۲/۵ رقم الحديث ۴۸۲۰،وأحمد في المسند۱۸/۳ .

([2]) رقم الحديث ۴۷۲۴ أخرجه مسلم في صحيحه ۳۲۲/۱ رقم الحديث (۴۳۰/۱۱۹) وأبوداود في السنن ۱۶۳/۵ رقم الحديث ۴۸۲۳.

([3]) رقم الحديث ۴۷۲۵ أخرجه أبوداود في السنن ۱۶۲/۵ رقم الحديث ۴۸۲۱ وابن ماجه في ۲۲۷/۲ رقم الحديث ۳۷۲۲.

فَقَلَصَ	عَنْهُ	فَلْيَقُمْ	فَإِنَّهُ
سيوری ختمېږي نو هغې له پکار ده چې د هلته نا پاځيږي ځکه داسې ځای چې ټيم سيوری وي او څه			
مَجْلِسُ	الشَّيْطَانِ.	هٰكَذَا	رَوَاهُ	مَعْمَرٌ	مَوْقُوفًا [1]
لمر وي هغه د شيطان د ناستې ځای دی. دغه شان معمر هم دا روايت د موقوف په طريق نقل کړی دی.					

توضيح: مجلس الشيطان: دې روايت کې د وفی شرح السنة نه تر آخر پورې دا کلام د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کلام دی. مرفوع حديث نه دی، خو دغه شان د عقل خلاف مسائلو کې چې کله موقوف روايت راشي نو د مرفوع حديث په حکم کې وي. بهرحال د حضرت ابوهريره کلام دی. مرفوع حديث نه دی، خو دغه شان د عقل خلاف مسائلو کې چې کله موقوف روايت راشي نو د مرفوع حديث په حکم کې وي. بهرحال د حضرت ابوهريره د کلام "ان مجلس الشيطان" يو مطلب دا دی چې ربنتيا هم شيطان داسې ځای کې کيني، نو دا د شيطان د ناستې ځای شو. بيا شيطان مکار داسې ځای کې ولې کيني؟ نو د دې جواب دا دی چې د شيطان کوم کار بنه دی؟ (د اوښ کوم ځائ نيغ دی)

د دې جملې دويم مطلب دا دی چې شيطان داسې ځای کې کيناستلو باندې خوشحالېږي چې کوم ځای کې د ناسته باندې انسان ته تکليف وي او د هغې صحت پرې خرابېږي، ځکه چې نيم بدن ګرم وي نو وينه به منډه وهي او نيم بدن به يخ او کنګل وي. دې سره د بدن په صحت باندې اثر غوزېږي او شيطان همدغه غواړي او په همدې باندې خوشحالېږي. (مرقات ۴۹۰/۸)

بنځو ته د لارې په غاړه باندې د تللو حکم

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ						
او د حضرت ابو ايوب انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې يوه ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت						
خَارِجٌ	مِنَ	الْمَسْجِدِ	فَاخْتَلَطَ	الرِّجَالُ	مَعَ	النِّسَاءِ
چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جومات نه راوتلو، دا بيان يې ترينه واوربدلو. بيا لاره کې د بنځو سره ملاو شو						
فِي	الطَّرِيقِ	فَقَالَ	لِلنِّسَاءِ:	اسْتَأْخِرْنَ		
يعنې نارينه او زنانه په لاره کې ګډې وډې روانې وي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بنځو ته وفرمايل چې تاسو د نارينوُ ناشته						
فَإِنَّهُ	لَيْسَ	لَكُنَّ	أَنْ	تُحْقِقْنَ		الطَّ
او د هغوی نه جدا شئ ځکه دا ستاسو لپاره مناسب نه دي چې تاسو د لارې په مينځ کې روان						

([1]) رقم الحديث ۴۷۲۶ أخرجه البغوي في شرح السنة ۳۰۱/۱۲ رقم الحديث ۳۳۳۵ وأحمد في المسند ۳۸۳/۲.

عَلَيْكُنَّ	بِحَافَاتِ	الطَّرِيقِ	فَكَانَتِ	الْمَرْأَةُ
بلكې ستاسو لپاره ضروري دي چې تاسو د لارې په غاړه باندې ځئ. نو ښځو په دې حکم باندې عمل وکړو				
تَلْصَقُ	بِالْجِدَارِ	حَتَّى	إِنَّ	ثَوْبَهَا
او کله به چې په لاره باندې تللې نو د دیوال سره به چختې تللې تردې چې (ځپنې وخت) به د هغوی				
لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[1]				
جامه به دیوال پسې اینختله. (ابو داؤد. بیهقی فی شعب الایمان				

توضيح: د ښځو د شرافت او وقار او عظمت تقاضا دا ده چې هغوی د کور رانې او پټه خزانه وي چې په کور کې وي خو که د کوم شرعي مجبورۍ په وجه هغوی ته په کولا لاره کې د تګ ضرورت شو نو د شریعت حکم دی چې ښځې دې د نارینۍ سره اوږه په اوږه نه ګرځي راګرځي بلکې هغوی له ډېر په عاجزئ او شرافت او عظمت سره ښکته ښکته د لارې په غاړه تلل پکار دي او سر باندې لویه لوپټه اچول پکار دي. دې سره به د هر مفسد په زړه باندې د هغه با عظمته ښځو رعب او دبدبه وي. بهرحال اسلام ښځو ته لویې مقام ورکړی دی خو هغوی یې د نارینۍ د ټولو شعبو نه شاته اینبي دي د همدې برخه ده چې د لارې په مینځ کې هغوی له تلل پکار نه دي. د لارې مینځ کې د تللو حق د نارینۍ ته حاصل دی. (مرقات ۴۹۱/۸)

نارینه ته د ښځو په مینځ کې تلل پکار نه دي

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم نهى أَنْ يمشيَ يَعْنِي الرجلُ بَين				
او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوه ښځو په مینځ کې تللو نه				
المرأتين. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]				
منع کړې ده یعنې نارینه ته.				

توضيح: ان يمشي: یعنې د دوه ښځو په مینځ کې د نارینه تلل منع دي، ځکه دا بې شرمي هم ده او فتنه کې لوېدلو خطر هم دی او لویې قباحت هم دی چې سړی د نا اشنا ښځو په ډله کې ګرځي راګرځي او فتنه کې اخته کېږي. دغه شان د دیوې ښځې سره ځان تلل هم منع دي او د ډېرو ښځو سره تلل هم منع دي، ځکه دې کې ناجائزه اختلاط دی. (مرقات ۴۹۱/۸)

---

[1] برقم الحديث ۴۷۲۷ أخرجه ابوداود في السنن ۴۲۲/۵ رقم الحديث ۵۲۷۲ والبيهقي في الشعب.

[2] برقم الحديث ۴۷۲۸ أخرجه ابوداود في السنن ۴۲۳/۵ رقم الحديث ۵۲۷۳.

مجلس کې چرته ځای وویني هلته کینئ

﴿۲۲﴾ وَعَن جابرِ بن سمرةَ قَالَ: كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجلس کې مونږ حاضر شو

جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

نو مونږ کې به چې کوم کس چرته ځای ولیدلو او آخر کې به چې کوم ځای خالي ؤو هلته به کیناستلو. (ابو داؤد)

وَذكر حَدِيثًا عبد الله بن عَمْرٍو فِي بَابِ الْقِيَامِ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَلِيٍّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ

او د عبدالله ابن عمر دواړه حدیثونه په باب القیام کې نقل کړي شوي دي او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فِي بَابِ أَسْمَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى [1]

او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه روایتونه به مونږ ان شاء الله په باب اسماء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وصفاته مې نقل کوؤ.

توضیح: حیث ینتهی: یعنې مجلس به چې چرته ختمېدلو د هغې غاړه کې به ځای موجود دی، نو هغې کې کینئ. دا نه چې د نبه ځای په لټه کې د نورو په سرونو باندې اوړئ او مخکې ځئ او د خلکو کنځلې او شړې اورئ. (مرقات ۴۹۲/۸، ۴۹۱)

الفصل الثالث

د کیناستلو یوه ممنوعه طریقه

﴿۲۳﴾ عَن عمْرِو بن الشَّرِيدِ عَن أَبِيهِ قَالَ: مَرَّ بِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو ابن شرید د خپل پلار نه روایت کوي چې هغې وویل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما په خوا کې تېر

وَأَنَا جَالِسٌ هَكَذَا وَقَدْ وَضَعْتُ يَدِي الْيُسْرَى خَلْفَ ظَهْرِي وَاتَّكَأْتُ عَلَى أَلْيَةِ

شو او زه داسې ناست ؤوم چې زما نبي لاس خو زما په شا باندې ؤو او د موټې ګوتې د غونبې په

يَدِي. قَالَ: أَتَقْعُدُ قِعْدَةَ

بیخ باندې تکیه وهلې وه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې آیا ته په داسې □ئیت باندې ناستې یې

الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [2]

چې په کوم هئیت هغه خلک کینې چې په چا د خدای غضب شوی وي.

([1])رقم الحديث ۴۷۲۹ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۴/۵ رقم الحديث ۴۸۲۵ والترمذي في ۹۹/۵ رقم الحديث ۲۷۲۵.

([2])رقم الحديث ۴۷۳۰ أخرجه ابوداود في السنن ۱۶۷/۵ رقم الحديث ۴۸۴۸ وأحمد في المسند ۳۸۸/۴.

توضیح المغضوب علیهم: د دې نه مراد یهود دي، ځکه هغوی باندې د الله غضب رانازل شوی دی. اوس دا نیک وي او که بد وي د الله د غضب نه بهر نه شي وتلی. سورت فاتحه کې هم د "غیر المغضوب علیهم " د الفاظو نه یهود مراد دي. کوم طرز باندې د ناستې نه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده هغه متکبرانه انداز هم دی او د یهودو سره مشابهت هم دی، خو خپله دا ناسته هم د عجیب کارتون په شکل کې ه، ځکه دې کې سړی چپ لاس په خپلې ملا باندې کینې او د ښي لاس د موټې ګوتې بیخ کې چې کومه پېړه غوښته ده هغې باندې تکی ؤوهي او کینې. د د ناستې دې عجیبه نه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده. د دې نه معلومه شوه چې د یهود او نصاریٰ وړو وړو علاماتو کې هم د هغوی سره مشابهت اختیارول پکار نه دی. (مرقات۸/۴۹۲)

نسګور پریوتل د جهنمیانو طریقه ده

﴿۲۴﴾ وَعَن أَبِي ذَرٍّ قَالَ: مَرَّ بِي النَّبِيُّ وَأَنَا مُضْطَجِعٌ
او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما په خوا کې تېر شو چې ما د خپلې
عَلَى بَطْنِي فَرَكَضَنِي بِرِجْلِهِ وَقَالَ:
خیتې په اړخ یعني پر مخې پروت ؤوم. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې لیدلو سره) خپلو پښو باندې زه اوهلم.
يَا جُنْدُبُ إِنَّمَا هِيَ ضِجْعَةُ أَهْلِ النَّارِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه [1]
او ویې فرمایل: ای جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (تاته دې معلوه وي چې) دغه شان پرېوتل د دوزخیانو طریقه ده.

توضیح اهل النار: د دط لفظ دوه مطلبه دي. اولنی مطلب دا دی چې د فاسقانو او د فاجرانو او د کافرانو خلکو دنیا کې همدغه عادت دی چې هغوی پر مخې پرېوځي. دویم مطلب دا دی چې کافران چې کله دوزخ ته غوزارول کېږي نو هغوی به پر مخې غوزارول کېږي، نو د دوزخیانو هیئت به په دوزخ کې داسې وي نو ځکه مسلمانانو لره دا کیفیت خپلول پکار نه دی. دا مطلب ډیر واضحه دی. (مرقات۸/۴۹۳)

---

(۱) رقم الحدیث ۴۷۳۱ أخرجه ابن ماجه في السنن ۱۲۲۷/۲ رقم الحدیث ۳۷۲۴.

باب العطاس والتثاؤب
د پرنچې او اسویلي بیان

العطاس پرنچې ته وایي. د ټولو نه اول حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ اسویلی کړی دی. کله چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په بدن کې روح واچولی شو نو هغې پرنچی وکړو، نو الله حکم وکړو چې الحمدلله ووایه. چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ الحمدلله وویله نو الله جواب کې وفرمایل "**یرحمك الله یا آدم**" پرنچی کول د انسان لپاره د صحت علامت دی. د مازغو ستړیوالی دې سره ختم شي. بدن خوشحاله او بیداره شي. د مازغو دروند والی او بوج ختم شي، ځکه د الله له اړخه انسان ته حکم کړی شوی دی چې د شکر په توګه الحمدلله وایئ او څوک چې دا واوري نو هغه دي "**یرحمك الله**" ووایي. د هغې نه وروسته پرنچي کونکې له مستحب دي چې هغه "**یهدیکم الله ویصلح بالکم**" سره هغې ته دعا وکړي. که چرې پرنچي کونکې **الحمدلله** ونه ویله یا یې په ورو وویله چې هیچا وانه وریدل، نو جواب ورکول په هیچا باندې لازم نه دي. یعنې ضروري نه ده چې یرحمک الله ووایي.

که د پرنچي کونکې په جواب کې د جماعت نه یو سړي هم **یرحمک الله** وویله نو د ټولو له اړخ نه کافي ده. که پرنچی کونکی بیا بیا پرنچېږي نو هغه به زکام یا ناروغه وي. لهذا بیا بیا جواب ورکول هیچا باندې لازم نه دي. ځینې روایتونو کې د **الحمد لله علی کل حال** الفاظ راغلي دي. دا ډیر بهتره الفاظ دي. او عام فهم او اسان دي. اسلا دا چې کامل او پوره بلکې د ژوند پوره ضابطه ده، نو ځکه د مسلمانانو د ټولو مسائلو حل وړاندي کوي. "**والتثاؤب**" اسویلي کولو ته وایي. د دې مسائل هم راروان دي.

الفصل الاول
پرنچي باندې رحمان او اسویلي باندې شیطان خوشحاله کیږي

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:"

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللهَ

الله پرنچی خو خوښوي خو اسویلی نه خوښوي. لهذا تاسو کې چې کوم کس پرنچی وکړي او د الله تعریف وکړي

كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ:

نو دغه پرنچی او الحمدلله اوربدنکي هر مسلمان باندې حق دی چې پرنچي کونکي ته جواب کې

يَرْحَمُكَ اللهُ. فَأَمَّا التَّثَاؤُبُ "فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تثاءب أحدكم

يرحمك الله وايي. د اسويلی خبره، نو د اسويلی راتلل د شيطان اثر دی. لهذا تاسو کې چې چا ته اسويلی راشي نو پکار

فليرده ماستطاع فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ

ده چې د خپل وس پورې د اربمې د ختم کړي. واضحه دي وي چې تاسو کې کوم يو کس اسويلی کوي نو

ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ:

هغې پسې شيطان خاندي. (بخاری) او د مسلم په روايت کې دا الفاظ دي چې (نو پکار ده چې د خپل وس پورې

"فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَالَ: هَا ضحك الشَّيْطَانُ مِنْهُ

هغه بند کړي) ځکه تاسو کې چې څوک هاء وايي (يعنې اسويلی کوي) نو هغې پسې شيطان خاندي.

توضيح: يحب العطاس: يعنې الله پرنچی خوښوي. دا ځکه چې پرنچې سره چستې راځي. بيدارې او چالاکې پيدا کېږي. چې فهم او ادراک پرې زياتېږي. ټول بدن تازه تازه شي، نو ځکه الله دا خوښوي او اسويلي سره بوج او ثقل زياتېږي. نيم ويداوالی او غفلت او سستې او بدفهمي زياتېږي، ځکه دا الله ته ناخوښه دي د شيطان خوښ دی. عطاس او تثاؤب دواړه د خپل انجام او د نتيجې په اعتبار سره خوښ يا ناخوښه دي. د اسويلي انجام او ثمره د شيطان خوښه ده. د الله ناخوښ دی او د عطاس انجام او ثمره د الله خوښه ده. د شيطان ناخوښ دي. بيمار سړی مسلسل اسويلی کوي. (مرقات ۴۹۴/۸)

كان حقا: د دې لفظ په وجه د علماؤ مختلف رائی قائم کړي دي چې آيا د پرنچې جواب فرض دی يا واجب دی يا که مستحب دی. د احنافو په نزد د پرنچې جواب علی الکفايه دی. د مالکيو په نز مختلف اقوال دي. د وجوب قول هم دی او د سنت هم دی او د مستحب هم دی. د غير مقلدينو حضراتو د يوې طبقې په نزد د پرنچې جواب فرض دی. بهرحال د احنافو سره د جمهورو علماؤ په نزد د پرنچې جواب واجب علی الکفايه دی خو هغه شرط پاتې دی چې د پرنچې والا په زوره الحمدلله ووايي. د اسويلي متعلق يو ادب دا دی چې سړی د خپل لاس د شا ارخ خپله خله باندې کېږدي يا پرې يو توته کېږدي چې خله بنده شي، ځکه شيطان د انسان بنکاره دښمن دی. د اسويلي

وخت کې د انسان شکل وران شي نو شیطان خاندې او تهوقې پسې کوي چې د دې شکل ته وګوره د دې په وجه زه د سړو په مینځ کې حصار یم. (مرقات ۸/۴۹۴)

د پرنچې د جواب مسنونه طریقه

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: " إِذا عطسَ أحدُكم

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې تاسو کې چا ته پرنچې راشي

فلْيقلِ: الحمدُ لِلّٰهِ وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ

نو پکار ده چې هغه الحمدلله اوایي او د هغې ورویایي دا وفرمایل چې د هغه ملګري له پکار ده چې د هغې په جواب کې

يَرْحَمُكَ اللهُ. فإِذا قَالَ لَهُ يَرْحَمك الله

یرحمك الله اوایي او د هغې په جواب کې یرحمك الله اوایي نو پرنچې کونکي له پکار ده چې داسې

فليقل: يهديكم الله وَيصْلح بالكم" رَوَاهُ البُخَارِيّ

اوایي یهدیکم الله ویصلح بالکم یعنې الله دې تاته هدایت وکړي او ستا زړه او ستا احوال دې صحیح کړي.

پرنچی کونکی که الحمدلله ونه وائي نو دجواب مستحق نه دي

﴿۳﴾وَعَن أَنسٍ قَالَ: عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَمَّتَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دوه کسانو له پرنچې راغلو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الْآخَرَ. فَقَالَ الرَّجُلُ:

هغې کې یو سړي ته جواب ورکړو او دبل د پرنچې جواب یې ورنکړو. دکوم سړي د پرنچې جواب چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه ؤو کړی

يَا رَسُولَ اللهِ شَمَّتَّ هَذَا وَلَمْ تُشَمِّتْنِي

هغې عرض وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! تاسو دې سړي ته خو جواب ورکړو خو ماته دې جواب رانکړو؟

قَالَ: إِنَّ هَذَا حَمِدَ اللهَ وَلم تحمَدِ الله . (مُتَّفق عَلَيْهِ)

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دې سړي د الله حمد کړی ؤو یعنې الحمدلله یې وویل او د الله حمد ونه ویل.

توضیح: فشمت: دا د تشمیت نه دی. پرنچی کونکی چې کله الحمدلله اوایي او د هغې به جواب کې بل کس یرحمک الله اوایي. هغه جواب ته تشمیت وایي. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه کس د پرنچې په جواب کې یرحمک الله وفرمایلو چاچې الحمدلله وویله او چاچې نه ؤو ویلی هغې له یې جواب ورنکړو. هغې شکایت وکړو. د همغه شکایت او د هغې د جواب بیان په دې حدیث کې دی.

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِذَا

او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اورېدلي دي چې کله

عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتُوهُ

تاسو کې څوک پرنچي وکړي او د الله حمد وکړي نو هغې له جواب ورکوئ يعني يرحمك الله اوايئ

وَإِنْ لَمْ يَحْمَدِ اللهَ فَلَا تُشَمِّتُوهُ. رَوَاهُ مُسلم

او که هغه د الله حمد ونه کړي نو هغې له جواب مه ورکوئ.

دزکام شوي کس د پرنچي جواب ورکول لازم نه دی

﴿۵﴾ وَعَن سلمةَ بن الْأَكْوَع أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَهُ

او د سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه سړي ته د پرنچي جواب ورکول وراورېدل

فَقَالَ لَهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ

چې کوم وخت د هغې سره ناست ؤو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې په جواب کې وفرمايل يرحمك الله بيا هغه کس په

ثُمَّ عَطَسَ أُخْرَى فَقَالَ: الرَّجُلُ مَزْكُومٌ. رَوَاهُ مُسلم وَفِي رِوَايَة التِّرْمِذِيّ

دويم ځل پرنچي راغلو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې د دې کس زکام دی (مسلم) او د ترمذی په يو روايت کې

أَنَّهُ قَالَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ: إِنَّهُ مَزْكُومٌ

داسې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه کس په درېم ځل پرنچي کولو باندې وفرمايل چې د دې سړي زکام دی.

چې اسويلی درشي نو خوله باندې لاس ږدئ

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو کې چې چا ته

فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فَمِهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ. رَوَاهُ مُسلم

اسويلی راشي نو هغه لره پکار ده چې هغه خپل لاس په خله باندې کېږدي ځکه شيطان هغې کې دننه کېږي.

توضيح: لاس ايښودلو سره شيطان دننه نه ځي. دا چې دا د غفلت علامت دی نو د دې فرصت شيطان غنيمت وګڼي او دننه د تللو کوشش کوي يا خپلې وسوسې داخلوي. لاس ايښودلو سره هغه هيڅ نه شي کولی.

الفصل الثاني

پرنچې کولو وخت کې خله باندې لاس ایښودلو سره ورو آواز کول پکار دی

﴿۷﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَطَسَ غَطَّى وَجْهَهُ

د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله پرنچی کولو نو مخ مبارک به یې

بِيَدِهِ أَوْ ثَوْبِهِ وَغَضَّ بِهَا صَوْتَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

خپل لاسونو یا په یوه توته باندې پټولو او د خپل پرنچې اواز به یې په قلاره کولو. دا روایت ترمذی

وَأَبُو دَاوُدَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ

د او ابوداؤد نقل کړی دی او ترمذی ویلي دي چې دا حدیث صحیح دی.

توضیح: د پرنچې کولو د آدابو نه یو ادب دا دی چې خوله او مخ سړی پټ کړي چې خراب شکل نښکاره نه شي او اواز چې څومره کمې دی شي هغه هومره یې کم کړئ. ځینې خلک ډېر په اخلاص سره اواز کې دومره لویه دهماکه پیدا کړي چې ورسره نېژدي سړی وربرېدي. دوه کاله مخکې دلته حرمینو ته یو سړی راغلو او هغې به دومره په زوره پرنچی کولو چې د حرم مکي د یو ګوډ نه تر بل ګوډ پورې به اوچت اواز تللو او خلک به ورته به کتلو شول چې څه پیښه وشوه. ما خپله د دې سړي اواز بیا بیا اورېدلی دی. داسې کول پکار نه دي. (مرقات ۴۹۸/۸)

پرنجی او جواب یې

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ

او د حضرت ابوایوب نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې تاسو کې چا ته پرنچی راشي نو

فَلْيَقُلْ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ

پکار ده چې هغه دسې اوایي چې الحمدلله علی کل حال یعني هر حال کې د خدای تعریف دی او څوک چې د

وَلْيَقُلِ الَّذِي يَرُدُّ عَلَيْهِ: يَرْحَمُكَ اللهُ وَلْيَقُلْ هُوَ:

دې جواب ورکوي نو داسې ویل پکار دي یرحمك الله او بیا پرنچي کونکي ته داسې ویل پکار دي

يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

: یهدیکم الله ویصلح بالکم یعني الله دي تاته هدایت وکړي او ستا زړه یا ستا احوالو دي صحیح کړي.

د يهودي پرنچي باندې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: كَانَ الْيَهُودُ يَتَعَاطَسُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يهوديان به چې كله د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوا تېرېدل

يَرْجُونَ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ: يَرْحَمُكُمُ اللهُ

نو د قصد نه به يې پرنچي كولو په دې اميد چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغې په جواب كې يرحمك الله اوايي

فَيَقُولُ: يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ

خو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به صرف دا ويل يهديكم الله و يصلح بالكم.

توضيح: يهود يو منصوبه ساز قوم دى. د هغوى منصوبه دا وه چې د اسلام د قبولو نه بغير به مونږ د الله د رحمت مستحق شو او د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبه اعلان وشي، نو ځكه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس كې به يې بار بار پرنچي كولو او د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اړخ د يرحمك الله په انتظار كې به ؤو. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هميشه هغوى ته د هدايت دعا كوله خو د ايمان مخكې ې هغوى ته د رحمت دعا ونه كړه. "يهديكم الله" به يې فرمايلي. (مرقات ۸/۵۰۰)

پرنجي كولو وخت كې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په السلام عليكم باندې ناراضا شو

﴿۱۰﴾ وَعَن هلالِ بن يسَاف قَالَ: كُنَّا مَعَ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ فَعَطَسَ رَجُلٌ

او حضرت هلال ابن يساف فرمايي چې مونږ د حضرت سالم ابن عبيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ؤو چې جماعت

مِنَ الْقَوْمِ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. فَقَالَ لَهُ سَالِمٌ:

كې يوسړي پرنچي وكړو او هغې د (الحمدلله په ځاى) السلام عليكم وويل. حضرت سالم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغې په جواب

وَعَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ. فَكَأَنَّ الرَّجُلَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ

كې وويل تا باندې او ستا په مور باندې هم سلام، هغه كس گويا كې دا الفاظ په زړه كې بد وگڼل.

فَقَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَقُلْ

حضرت سالم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا (ناخوابني محسوسولو سره و فرمايل چې (د دې ناخوابنئ څه وجده) تاته دې معلومه وي چې

إِلَّا مَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ما همغه الفاظ ويلي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه وخت ويلي ؤو چې كله يوسړي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخكې پرنچي وكړو او

فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ

هغې السلام علیکم ویلي ؤو. نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام د هغې په جواب کې وفرمایلي ؤو چې تا باندې او ستا په مور باندې دې

إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ:

سلام وي. بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کله تاسو کې چا ته پرنچې راشي نو هغې له پکار ده

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَلْيَقُلْ لَهُ مَنْ يَرُدُّ عَلَيْهِ: يرحمك الله

چې الحمد لله رب العالمین اوایي او جواب ورکونکي له پکار دي چې یرحمك الله اوایي او بیا

وَلْيَقُلْ: يَغْفِرُ لِي وَلَكُمْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد

پرنچي کونکي له پکار دي چې داسې اوایي یغفر الله لی ولکم یعنې الله ستا او زما مغفرت وکړي.

توضیح: وجد في نفسه: وجد موجدة نه د سخت غوسه کېدو په معنیٰ کې دی. دا غصه کیدونکی صحابي نه ؤو بلکې تابعي ؤو. دې بیچاره مجلس کې پرنچې کولو باندې وویل "السلام علیکم" د هغې په جواب کې سالم بن عبید صحابي وویل وعلیک وعلی امک السلام. د سلام دې طریقې کې د هغه سړي د مور ذکر په مجلس کې وشو، نو ځکه هغه غصه شو. صحابي د هغې په غوسه باندې پوهه شو نو بیا یې ورته وویل چې ته خفه کېږه مه. ما چې کومه طریقه اختیار کړې ده، دا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم د یو باره کې اختیار کړې وه، ما په سنت عمل وکړو. (مرقات ۵۰۱/۸)

سوال: اوس دلته سوال دا دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرنچې کونکي کس ته په غلطئ باندې د هغې مور ولي یاده کړه؟

جواب: د دې سوال دوه جوابه دي: اولنی جواب دا دی چې هغه کس سلام بې موقع او بے محل استعمال کړو، نو دا داسې شوه چې ګویاکې یو کس د مخاطب په ځای د هغې مور ته د سلام جواب ورکړي. لکه څنګه چې هغه بې موقع او بې محل ؤو. د غه شان د پرنچې په جواب کې السلام علیکم بې موقع او بے محل ؤو. دویم جواب دا دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره وکړه چې دا څه چې ستا شوي دي. دا ستا قصور نه دی بلکې ستا د مور قصور دی چې تاته یې صحیح تعلیم نه دی درکړی او صحیح تربیت یې نه دی کړی، نو ځکه ته د دې آدابو نه محرومه شوي. لهذا اصل شاباش ستا مور ته دی. د دې حدیث نه امت ته دا تعلیم حاصل شو چې د شریعت اصطلاحات او اطلاقات بې ځایه او بے محل استعمالو جائز نه دي. کوم حکم چې د کوم مقام لپاره وي نو په همغې کې یې استعمالول جائز دي. دویم تعلیم دا هم حاصل شو چې د شریعت وضع کړی شوي الفاظو په ځای نور الفاظ استعمالول جائز نه دي اګر که معنی یې ډېره ښه وي. (مرقات ۵۰۱/۸)

دري ځل د پرنجی جواب آخری حد دي

﴿۱۱﴾ وَعَن عبيد بن رِفَاعَة عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبید ابن رفاعه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

شَمِّتِ الْعَاطِسَ ثَلَاثًا فَإِنْ زَادَ فَشَمِّتْهُ

د پرنجي کونکي مسلسل د دري پرنچو جواب ورکړئ او که کوم کس د درېو نه زيات وپرنچېږي نو هغه صورت

وَإِنْ شِئْتَ فَلَا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

کې اختيار دی چې که خوښه مو وي د هغې جواب ورکړئ او که خوښه مو وي نو جواب مه ورکوئ.

﴿۱۲﴾ وَعَن أَبِي هريرةَ قَالَ: شَمَّتَ أَخَاكَ ثَلَاثًا

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې تاس د خپل (مسلمان) ورور د پرنچې ترد درېو پورې جواب ورکوئ.

فَإِنْ زَادَ فَهُوَ زُكَامٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

او که هغه د درېو نه زات وپرنچېږي نو (پوهه) شئ چې د دې زکام دی. دا روايت ابو داؤد نقل کړی دی

وَقَالَ: لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا أَنَّهُ رَفَعَ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ويلي يې دي چې زه پوهېږم چې حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا روايت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته رسولی دی.

الفصل الثالث

شارع د تاکلی شوي الفاظو پابندی ضروری ده

﴿۱۳﴾ عَنْ نَافِعٍ: أَنَّ رَجُلًا عَطَسَ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ فَقَالَ:

او حضرت نافع فرمايي چې (ديوي ورځ) واقعه ده چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره خواکې ناست يو سړي پرنچی

الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ:

وکړو او ويې ويل چې الحمد لله والسلام علی رسول الله. حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دې اوربدلو سره) وفرمايل

وَأَنَا أَقُولُ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ وَلَيْسَ هَكَذَا. عَلَّمَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې زه هم وايم الحمد لله والسلام علی رسول الله خو داسې نه ده چې کوم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته ښودلی

أَنْ نَقُولَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

ده. (او هغه) دا ده چې مونږ داسې اوايو الحمد لله علی کل حال يعنې هر حال کې د خدای تعريف دی.

توضیح: دې حديث کې هم هغه خبره ذکر ده چې کومه پاس ليکلی شوي ده چې د شريعت وضع کړی شوي اصطلاحات او د اطلاقاتو خيال ساتل ډېر ضروري دي. که يو سړی د خپل ځان نه ډېرې ښې

جملې جوړ کړې او لولې يې خو دا رائجه سکه نه ده. دې باندې د شريعت ټاپه نه ده لږېدلي. لهذا دې لره هيڅ اعتبار نشته دی.

اوس دلته وګورئ دې سړي درود ولوستلو چې ښه جمله ده خو د بی ځايه ويلو په وجه حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې دا ښې جملې خو زه هم وايم او جائز هم دي، خو اوس وخت د دې موقع او محل نه دی بلکې دا بی ځايه ده، نو ځکه دې لره هيڅ اعتبار نشته دی.

دې بې موقع عمل باندې نن سبا د بدعتې حضراتو عملونه هم قياس کېدی شي، لکه هغوی د جمعې د لمونځ نه وروسته ودرېږي او درود وايي.

د اذان نه مخکې درود وايي او الفاظ هم د درود نه وي، نو درود خو ښه عمل دی خو د دې لپاره يو موقع او محل دی. روضې مبارک ته چې لاړ شي او د خطاب په الفاظو سره درود وايي ، خو د ا روضه اطهر نه بغير په ګلګت او خنجراب نه هغه الفاظ شروع کړي او کوم خلک چې د هغې سره ملګرتيا نه کوي نو وايي دا د رسول دښمن دی. ياد وساتئ بدعتيان خلک په غلطه لار راوان شوي دي، (مرقات ۵۰۱/۸) لکه بابا سعدی ويلي دي :ـ

ترسم نه رسی بکعبه اے اعرابی کیں راہ کہ تومی روی بترکستان است



باب الضحك
د خنديدو بيان

اسلام دا چې کامل او پوره بلکې د انساني ژوند اکمله ضابطه ده، ځکه دي کې د انساني ژوند د هر اړخ او شعبې کفالت موجود دی. دي سلسله کې د انسان د خندلو مسائل بيانېږي. الله تعالیٰ انسان کې د خندلو ماده يخي ده. لهذا خندل منع دی بلکې جائز ده، خو په دې کې د اعتدال د حد نه زياتی کول مناسب نه دی. ځکه دي سره د مخ رڼا او وقار ختمېږي او په روحاني اعتبار زړه مړ کېږي. د ټولو نه ښه تبسم دی. او د ټولو نه بد په ډکه خوله خندل دي. صحابه کرامو به ښه ډير خندل خو هغوی کې کله هم غفلت رانغلو. هغوی د ورځې شهسواران ؤو، او د شپې راهبان، عابدان او زاهدان. درويشان ؤو. د خندلو باوجود هم د ايمان د هغوی په زړونو کې د يو غر پشان ؤو. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خندل به اکثر د تبسم په صورت کې ؤو.

الفصل الاول

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تبسم کولو

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم په دومره ډېره خنده باندې نه دی ليدلی

حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا

چې (د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خله کولاوه شوي وي او) ماته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخامخ غاښونه (وړئ)

كَانَ يتبسم. رَوَاهُ البُخَارِيُّ[1]

ښکاره شوي وي بلکې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خنده به تر د مسکا حده پورې وه. (بخاری)

توضيح مستجمعاً: استجماع په پوره توګه خندلو ته وايي. چې په برق خندا ترېنه مراد دي.

لهواته: تالو کې کومه کوا ځوړنده وي هغې ته لهوات وايي. په سره خندل مراد دي. چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم داسې نه دي کړي. (مرقات ۸/۵۰۵)

يتبسم: د خندلو درې قسمونه دي. که په زوره داسې خندل وي چې حلق او پوره خله ښکاره شي نو دې ته په برق خندا ده. او که په زور سره معمولي خندل وي نو دې ته ضحک وايي. او که بالکل اواز

---

[1] رقم الحديث

نه وي صرف مخې ته غاښونه کولاو شي نو دا تبسم دی.

جریر بن عبدالله سره د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معامله

﴿۲﴾ وَعَن جرير قَالَ: مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ

او حضرت جریر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي: د کوم وخت نه چې زه مسلمان شوی یم. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم

وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ. مُتَّفق عَلَيْهِ (مُتَّفق عَلَيْهِ) [۱]

زه د ملاقات نه منع کړی نۀ یم او کله به چې هم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه لیدلم نو خندل به یې.

توضیح: حضرت جریر بن عبدالله بجلی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرګ نه یو څو ورځې مخکې مسلمان شوی ؤو. الله هغې له قدرتي حسن دومره ورکړی ؤو چې هغې ته د دې امت یوسف ویلی شوی دی. دا د خپل ځان باره کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوه خصوصیاتو ذکر کوي.

ماحجبني: یو خصوصیت دا ؤو چې ما کله هم غوښتل چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ملاقات وکړم نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه کله هم نه هیسار کړی بلکې د ملاوېدلو اجازت یې راکړی دی. د دې نه د کور بې پردګي مراد نه ده بلکې د نبي کریم ﷺ سره د ناسته پاسته او ملاقات مراد دی.

دویم خصوصیت دا چې کله به هم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه لیدلم نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مسکی شو. کېدی شي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د حضرت جریر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مخ کې د الله تعالی د انوراتو اثر ښکاره کیدلو یا د الله د قدرت حسین او جمیل منظر لیدلو سره فتبارك الله احسن الخالقین باندې مسکا کوله. (مرقات ۵۰۵/۸)

پخوانۍ قصو باندې خندل جائز دي

﴿۳﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ

او حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په کوم جائۍ نماز باندې لمونځ کولو نو

الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ

د هغه ځای به تر هغه وخت پورې نه پاڅیدلو چې تر څو پورې به لمر (ښه) نه ؤ راښتلی. کله به چې لمر راوښتلو

قَامَ وَكَانُوا يَتَحَدَّثُونَ فَيَأْخُذُونَ

نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د اشراق لمونځ وکړو یا به کور ته د تللو لپاره اودرېدلو. هغه دوران کې

---

[۱] رقم الحديث

فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فيضحكون ويبتسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.
صحابه کرامو رضي الله عنهم د جاهليت د زماني خبرې کولې او خندل به يې نو د هغوی سره به نبي عليه السلام هم
رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِي: يتناشدون الشِّعْرَ
خندل. (مسلم) او د ترمذی په روايت کې داسې دي صحابه کرام به د شعرونو ويلو او اورېدلو کې اخته ؤو.

توضيح: **يتناشدون الشعر**: يعنې ترد جائز حده پورې به يې شعرونه ويل. د الله د واحدانيت او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د منقبت او انساني حکمت باندې مشتمل شعرونه به يې ويل. دا ژوندو زړونو د خلکو ننباني ده او جائز ده.

الفصل الثانی

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به ډېر خندل

﴿۴﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا
حضرت عبدالله ابن حارث ابن جزء رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه زيات بل
مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
هيڅوک په خندلونه دی ليدلی. (روايت کړې دي ترمذی)

الفصل الثالث

صحابه کرامو به ښه ډېر خندل

﴿۵﴾ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ: هَلْ كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابو قتاده رضي الله عنه فرمايي چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه وپوښتل شو چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم
يَضْحَكُونَ؟ قَالَ: نَعَمْ وَالْإِيمَانُ فِي قُلُوبِهِمْ أَعْظَمُ مِنَ الْجَبَلِ.
صحابه کرامو به خندل. حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمايل آؤ. حال دا چې د هغوی په زړونو کې د غرنه هم غټ ايمان ؤو او
وَقَالَ بِلَالُ بْنُ سَعْدٍ: أَدْرَكْتُهُمْ
حضرت بلال ابن سعد تابعی فرمايي چې ما صحابه کرام په داسې حال کې موندلي دي چې هغوی
يَشْتَدُّونَ بَيْنَ الْأَغْرَاضِ وَيَضْحَكُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ فَإِذَا كَانَ اللَّيْلُ
به د غشو د ننبانو په مينځ کې منډې وهلې او د يو بل خبرو باندې به يې خندل، خو چې شپه به راغله

كَانُوا رُهْبَانًا. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّة

نو د الله نه به ډېر زيات وېرېدونکي شول.

توضیح: قال نعم: پوښتنه کونکی تابعی دی چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحابي نه پوښتنه کوي چې آيا صحابه کرامو به خندل. د پوښتنه کونکي خيال دا ؤو چې خندل دا چې د غفلت يوه برخه ده او صحابه د غفلت نه ډېر لرې ؤو، نو ځکه به نه خندل. د دې په جواب کې ورته حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې آؤ ښه به يې خندل، خو د هغوی په زړونو کې په د خندلو په وجه غفلت نه راتلو بلکې په زړونو کې به يې د غر برابر ايمان ؤو. دې جمله کې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه کس د زړه د وېرې جواب ورکړو او اشاره يې وکړه چې تر د جائز حده پورې خندل انساني فطرت دی او دا د ژوندې زړونو علامت دی.

حيات الحيوان کې ليکلی شوي دي چې يو حضرت يحيی عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ملاقات وشو. د ملاقات په موقع حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ وخندل. حضرت يحيی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې تا خدای هېر کړی دی چې خاندې؟ حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل چې آيا ته د الله نه ناامېده شوی يې؟ دې باندې دواړو وغوښتل چې د الله له اړخه اشاره وشي چې دې دواړو کې څوک په حالت کې دی. د الله له اړخه وحي راغله چې تاسو دواړو کې الله ته هغه زيات محبوب دی چې د کوم اخلاق زيات ښه وي يعني فيصله د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په حق کې وشوه.

د زير بحث حديث يو راوي بلال بن سعد تابعی فرمايي چې ما وليدل چې صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د تيرانو د ننبانو په مينځ کې منډې وهلې او يو بل پسې به يې خندل، خو د شپې به راهبان شول او عبادت به يې کولو يعني د ورځې شهسواران او د شپې تهجد ګوزاران ؤو. "**رهبان الليل وفرسان النهار**"

باب الآسامی
د نومونو بیان

اسامی او اسماء جمع ده. اسلام چې کامل او پوره بلکې د ژوند اکمله ضابطه ده، ځکه الله تعالیٰ د مسلمانانو ته هر ځای کې لار ښودنه کړې ده. تردې چې نومونو ایښودلو کې یې هم ورته لار ښودنه کړې ده، نو دې باب کې به هغه حدیثونه راځي چې د ښه ښه نومونو د ایښودلو تعلیم په کې ورکړی شوی دی او د بدو نومونو نه د منع حکم کړی شوی دی یا د هغې د بدلولو لار ښودنه شوې ده.

الفصل الاول

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کنیت باندې د خپل کنیت ایښودلو حکم

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوقِ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا أَبَا الْقَاسِمِ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بازار کې وُو. یو سړي ورته د ابو القاسم په نوم اواز وکړو.

فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راتاو شو او د هغه کس اړخ ته یې وکتل. هغې عرض وکړو چې ما تاته اواز نه وُو کړی

إِنَّمَا دَعَوْتُ هَذَا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: سموا

بلکې هغه سړي ته مې اواز کړی وُو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ورته دا وفرمایل چې تاسو زما په نوم

بِاسْمِي وَلَا تكنوا بكنيتي. (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

باندې نوم ږدئ خو زما په کنیت باندې کنیت مه مقرروئ.

توضیح: ولا تکتنوا بکنیتی: یو اسم محضه وي چې مور او پلار یې د خپل اولاد لپاره د پیدائش په وخت کې ږدي. او یو لقب وي چې معاشره کې خلک یو سړي ته ورکړي، لکه ولی الدین یا مصلح الدین وغیره. یو کنیت وي. دا هغه دی مثلاً چې څوک د خپل ځوي یا د لور یا د پلار وغیره نوم سره خپل ځان معارف او مشهور کوي، لکه ابوبکر، ابوذر، ابو حفص، ابن عباس او ابن مسعود. اسلام د کنیت د ایښودلو اجازت کړی دی خو صحیح حدیثونو کې دا خبره ملاوېږي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کنیت چې ابو القاسم وُو هغې باندې چاته د کنیت ایښودلو اجازت نشته وُو. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو ځوي نوم قاسم وُو. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کنیت د هغې په وجه ابو القاسم

---

[1] رقم الحديث

وو. اوس خبره دا ده چې ایا د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژوند مبارک پورې د دې کنیت ممانعت موجود ؤو یا که دا ممانعت د همیشه لپاره دی. دې باره کې د علماؤ مختلف اقوال دي. (مرقات ۵۱۰/۸)

د شوافعو اقوال: شوافع او د اهل ظواهرو په نزد د هیڅ یو کس لپاره د ابو القاسم کنیت ایښودل جائز نه دی. **د امام محمد قول:** امام محمد رحمه الله فرمایي چې د هیڅ یو کس لپاره دا خو جائز نه دي چې هغه خپل نوم محمد کېږدي او کنیت ابو القاسم کېږدي. که جدا جدا یې ایښودل غواړي نو محمد نوم ایښودل هم جائز دی. او که بل وي نو ابو القاسم کنیت ایښودل هم جائز دی. **د امام مالک قول:** امام مالک رحمه الله فرمایي چې نوم او کنیت ټول جائز دي. د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند مبارک کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کنیت د ایښودلو ممانعت ؤو. اوس ټول جائز دي.

د احنافو قول: د احنافو ائمؤ دا راجحه ګڼلې ده چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند مبارک کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کنیت باندې کنیت ایښودل سخت منع ؤو. اوس اګر که هغه شان سخت منع نه دی، خو یو قسمه ممانعت اوس هم دی. ملا علي قاري واضحه فیصله کوي او فرمایي چې راجح او صحیح همدغه ده چې د کنیت ایښودلو دا ممانعت د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژوند مبارک پورې محدود ؤو، ځکه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند مبارک کې دې لفظ په استعمالولو سره اشتباه راتلله، لکه حدیث نمبر ۱ کې تفصیل دی چې یو سړي اواز وکړو یا ابا القاسم، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې اواز واوربدلو نو مخ مبارک یې راوګرځولو او وي کتل. هغه سړي وویل چې تاسو ته نه، زه بل سړي ته اواز کوم چې کنیت یې ابو القاسم دی. دې باندې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابو القاسم کنیت ایښودلو نه منع کړو ځکه دې باندې به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خفه کېدو. او د یهودو په کتاب کې د ابو القاسم کنیت کېدی کافي مشهور ؤو، ځکه به یهودو به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د ابو القاسم په کنیت اواز کولو. د دې اشتباه په وجه هم دا کنیت منع ؤو، خو کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مړ شو نو د کنیت دا ممانع ختم شو. ګویا کې دلته انتهاء د حکم په وجه انتهاء د علت شوه. (مرقات ۵۱۱/۸)

زه خپل رب قاسم جوړ کړی یم

﴿۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: سموا باسمي

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل تاسو زما په نوم باندې نوم کېږدئ

وَلَا تكنوا بِكُنْيَتِي فَإِنِّي إِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ مُتَّفق عَلَيْهِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)

خو زما په کنیت باندې کنیت مه مقرروئ ځکه زه قاسم ګرځولی شوی یم او ستاسو په مینځ کې تقسیم کوم.

توضيح اقسم بينكم: قاسم تقسيم كونكي ته وايي. د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې كوم كنيت ابوالقاسم ؤو دا صرف د ځوي د نوم په وجه نه ؤو بلكې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صفات او د خصوصياتو په وجه هم نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ابوالقاسم ويلى شوى دى. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د تقسيم د صفت په وجه هم ابوالقاسم ويلى شوى دى، ځكه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مال غنيمت هم تقسيمولو د صدقې مالونه به يې هم تقسيمول. او د علومو او د وحي د تقسيم په وجه هم نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ابوالقاسم ويلى شوى دى، لكه څنګه چې د فضائلو والا كس ته ابوالفضل وايي. د جنګ صفت كې شهرت لرونكي كس ته ابو الحرب وايي. دغه شان د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صفت، سخاوت او د مالو د تقسيم د صفت په وجه ابو القاسم ويلى شوى دى. دې حديث كې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د كنيت علت او سبب ارخ ته اشاره شوې ده. (مرقات ۸/۵۱۰)

عبدالله او عبدالرحمن د ټولو نه بهتر نومونه دي

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ أَحَبَّ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د الله تعالى په نزد ستاسو

أَسْمَائِكُمْ إِلَى اللهِ: عَبْدُ اللهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ " رَوَاهُ مُسلم

نومونو كې د ټولو نه زيات خوښ نومونه عبدالله او عبدالرحمن دي.

توضيح عبدالله: دغه نومونو كې دا چې د كمال د درجې پورې توحيد او كمال درجه عبديت دى، نو ځكه دا محبوب نومونه دي، خو ځينې علماء فرمايي چې دا نومونه د انبي اء كرامو د نومونو نه وروسته خوښ كړى شوي دي. لهذا د محمد د نوم نه دا زيات خوښ نوم نه شي كېدى. يا به ترينه كم وي او يا به د محمد د نوم سره په خوښوالي كې برابر وي. (مرقات ۸/۵۱۳)

د غلام نوم يسار او افلح مه ږدئ

﴿۴﴾ وَعَن سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: " لَا تسمين غُلَاما

او حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د خپل غلام نوم

يسارا وَلَا رباحا ولانجيحا وَلَا أَفْلَحَ فَإِنَّكَ تَقُولُ: أَثَمَّ هُوَ؟

يسار، رباح، نجيح او افلح مه ږدئ ځكه د كه كوم وخت كې تاسو د يو كس نه وپوښتل چې آيا هغه يسار يا رباح

فَلَا يَكُونُ فَيَقُولُ لَا " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

دلته دى او هغه هلته نه وي نو جواب در كونكى به وايي چې هغه (يعني يسار يا رباح) دلته نشته دى. (مسلم) او

وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ: لَا تسم غُلَاما رَبَاحًا وَلَا يَسَارًا وَلَا أَفْلَحَ وَلَا نَافِعًا

د مسلم په يو بل روايت كې داسې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل د خپل غلام نوم رباح، يسار، افلح او نافع مه ږدئ.

توضیح: یسار: دا د یسر نه دی چې د اسانۍ په معنی کې دی رباح د ربح نه د نفع په معنی دی. نجیح د کامیابئ په معنی کې دی. او افلح هم د کامیابئ او نجات به معنی کې دی. د دې حدیث مطلب دا دی چې داسې نومونه مه ږدئ چې د هغې ظاهري معنې، ښه صفات او د کامیابو اړخ ته اشاره کوي. مثلاً سعد دی. نجیح او یسار دی. چې کور کې څوک اواز کوي چې دننه یسار دی. افلح ددی نو جواب به راځي چې یسار نشته دی. افلح نشته دی. د دې نه په ظاهره د خیر یوه نفي کېږي. چې ښېره هم ورته ویل کېدی شي، نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د داسې نومونو اینبودلو نه منع وکړه. دې اګر که د نومونو د ذات نفي مراد وي خو د ظاهري الفاظو نه معلومېږي چې دې نومونو کې چې کوم صفات دي د هغې هم نفي کېږي. اګر که په غیر ارادي توګه وي، نو ځکه یې ممانعت وشو، خو دا ممانعت د مکروه تنزیهي په درجه کې دی. چې خلاف اولی او د افضل او د غیر افضل خبره ده. د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د راتلونکې روایت نه خپله په واضحه توګه معلومېږي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ابتداء کې دا حکم کړی ؤو خو د امت په تنګسیا کې د پرېوتلو له نظره نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وروسته دې باندې چپ پاتې شو او منع یې نه کړو. (مرقات ۵۱۳/۸)

اوس افلح او یسار نوم اینبودل جائز دي

﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِر قَالَ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْهَى عَنْ أَنْ يُسَمَّى بِيَعْلَى وَبِبَرَكَةَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا اراده کړې وه چې یعلی برکت،

وَبِأَفْلَحَ وَبِيَسَارٍ وَبِنَافِعٍ وَبِنَحْوِ ذَلِكَ.

افلح، یسار، نافع او دغه شان نور نومونو نه خلک منع کړي خو بیا ما ولیدل چې د دې ارادې نه

ثُمَّ سَكَتَ بَعْدُ عَنْهَا ثُمَّ قُبِضَ

وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سکوت اختیار کړو. تردې چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دینا نه لاړو

وَلَمْ يَنْهَ عَنْ ذَلِكَ. رَوَاهُ مُسلم

او دا نومونه اینبودل یې منع نه کړل.

توضیح: د دې حدیث نه په واضحه توګه معلومه شوه چې هغه مخکنی حکم وروسته موقوف شو. دا چې د امت لپاره لویه تنګسیا وه نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې باندې وروسته خاموشي اختیار کړه. ګنې بیا خو به د عبدالله نوم اینبودل هم ګران شوی وی چې کور کې د الله بنده نشته دی. دې دوه قسمه روایتونو کې هیڅ تعارض نشته دی. بلکې د ابتداء او د انتهاء فرق دی. ابتداء کې منع کړی شو او آخر کې اجازت ورکړی شو.

قبیح ترین نوم او لقب شهنشاه دی

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَخْنَى الْأَسْمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل د قیامت په ورځ به د الله په

عِنْدَ اللهِ رَجُلٌ يُسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ

نزد د بدترینه نوم والا کس هغه وي چې چاته د شهنشاه نوم ورکړی شي (بخاری) او د مسلم په روایت کې داسي

قَالَ: أَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَخْبَثُهُ رَجُلٌ

دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل د قیامت په ورځ به د الله په نزد مبغوض ترین او د ټولو نه بدتر هغه سړی وي

كَانَ يُسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ لَا مَلِكَ إِلَّا اللهُ

چاته چې د شهنشاه نوم ورکړی شي. د خدای نه بغیر بل هیڅ څوک بادشاه نشته دی.

توضیح: **ملك الاملاك**: د دې ترجمه فارسئ کې شهنشاه دی. او پښتو کې د دې ترجمه باچاهانو باچا ده. دا چې بادشاه علی الاطلاق د الله تعالی ذات دی نو دغه شان نوم د مخلوق لپاره الله باندې د بادشاهئ دعوی لازم راځي. او دا ډېر لویې جرم دی، نو ځکه ورته قبیح ترین نوم ویلی شوی دی.

اخنی: د قبیح په معنی کې دی. اغلظ و اخبث هم دغه څیز دی. (مرقات ۸/۵۱۶، ۵۱۵)

د ایران بادشاه دا نوم ایښی ؤو. بیا د معزول کېدو نه وروسته د سمندر ارخ ته په تښتېدلو ولیدلی شو. یو سپی ورپسی شوی ؤو. هیڅ یو ملک هغه قبلولو ته تیار نه ؤو. د کینسر نه مړ شو. مصر کې مجبوراً څخ کړی شو. د فرعون ګاونډي شو.

داسې نوم مناسب نه دی چې په هغې کې ځان ښودنه وي

﴿۷﴾ وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَتْ: سُمِّيتُ بَرَّةَ

او حضرت زینب بنت ابی سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې زما نوم بره (یعنې نیکو کار) کیښودلی شو،

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمُ اللهُ أَعْلَمُ

نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې د خپل نفس تعریف مه کوئ. تاسو کې چې کوم کس نیکوکار دی،

بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ سَمُّوهَا زَيْنَبَ . رَوَاهُ مُسلم

الله یې نه پیژني. د دې ماشومې نوم زینب کېږدئ.

توضیح: برة: د نیکوکار په معنی کې دی. دغه شان نوم ایښودلو کې خودبینی او د خودرائی احتمال دی. او دې کې د خپل نفس لپاره د پاکوالي دعوی هم ده. چې مناسب نه ده، ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا نوم بدل کړو، خو دا یاد وساتئ چې څنګه د یسار او د نجیح ممانعت ؤو، بیا اجازت

ملاو شو. همدغه شان د بره معامله هم وکړئ. (مرقات ۵۱۸/۸)

﴿۸﴾ وَعَن ابنِ عبَّاسٍ قَالَ: كَانَتْ جُوَيْرِيَةُ اسْمُهَا بَرَّةُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يوې زوجې مطهرې د حضرت جويريه نوم بره ؤو

فَحَوَّلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَهَا جُوَيْرِيَةَ

خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې دا نوم بدل کړو او جويريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يې ورله کيښودلو، ځکه د

وَكَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُقَالَ: خَرَجَ مِنْ عِنْدِ برة. رَوَاهُ مُسلم

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا خوښ نه ؤو. چې يو کس دا اوايي چې ته د بره له خوا نه راغلي. (مسلم)

بد نوم بدلول پکار دی

﴿۹﴾ وَعَن ابن عمر أَنَّ بِنْتًا كَانَتْ لِعُمَرَ يُقَالُ لَهَا: عَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوه لور وه چې عاصيه

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جميلَة. رَوَاهُ مُسلم

به يې ورته ويله، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې نوم جميله کيښودلو.

توضيح: د جاهليت په زمانه کې د عربو دستور ؤو چې وېرونکي نومونه به يې کيښودل. او د نافرمانۍ او د ازار اړخ ته اشاره کونکي نومونه به يې کيښودل، نو ځکه د هغوی په نومونو کې د جبل، حجر، حرب، حمار، اسد، فهد او دغه قسمه پيکاره نومونه ملاوېږي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د داسې نومونو اصلاح وکړه او دا يې بدل کړل او داسې هر عالم له کول پکار دي چې د علاقې بد نومونه بدل کړي. قومونو کې نن سبا د ټولو نه ښه نومونه د بنګله ديش خلک اېږدي. او د ټولو نه بيکاره نومونه سندهي، د پښتنو او بيا د پنجابيانو دي. پښتنو کې چې کله د خان نوم راشي نو دا کافي دی. اګر که خپل نوم يې هيڅ نه وي. د بوټې د پانې سره خان ولږوئ نو دا پتی خان بهترين نوم دی. (مرقات ۵۱۸/۸)

﴿۱۰﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أُتِيَ بِالْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ

او حضرت سهل ابن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې منذر ابن ابی اسيد چې کله پيدا شو نو هغه

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ وُلِدَ فَوَضعه على فَخذه

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوړلی شو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه په خپل وړون مبارک باندې کښولو او

فَقَالَ: وَمَا اسْمه؟ قَالَ: فلَان:

پوښتنه يې وکړه چې د ده څه نوم دی. راوستونکي وويل چې فلانی نوم دی. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

لا ولكن اسمها لُمُنذر .(مُتَّفق عَلَيْهِ)

چې (دا نوم ښه نه دی) بلکې د دې نوم منذر دی.

خپل غلام او وينزې ته عبدي او امتي ويل پکار نه دي

﴿۱۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل تاسو کې هيڅوک (خپل غلام

عَبْدِي وَأَمَتِي كُلُّكُمْ عِبَادُ اللهِ وَكُلُّ نِسَائِكُمْ إِمَاءُ اللهِ.

او وينزې ته) عبدی او امتي مه وايئ. ستاسو ټول نارينه د الله بنده ګان او ستاسو ټولې ښځې د الله وينځې دي.

وَلَكِنْ لِيَقُلْ: غُلَامِي وَجَارِيَتِي وَفَتَايَ وَفَتَاتِي.

بلکې داسې وايئ چې زما غلام يعني زما هلک زما جاريه يعني زما جينئ. يا زما خادم او زما خادمه.

وَلَا يَقُلِ الْعَبْدُ: رَبِّي ولكنْ ليقلْ: سَيِّدِي " وَفِي رِوَايَةٍ: "

دغه شان هيڅ غلام (خپل مالک ته) زما رب مه وايئ بلکې زما سردار ويل پکار دي. او يو روايت کې داسې دي

لِيَقُلْ: سَيِّدِي وَمَوْلَايَ ". وَفِي رِوَايَةٍ: " لَا يَقُلِ الْعَبْدُ لِسَيِّدِهِ:

چې زما سردار يا زما مولی ويل پکار دي. او يو روايت کې داسې دي چې هيڅ يو غلام خپل مالک

مَوْلَايَ فَإِنَّ مولاكم اللهُ". رَوَاهُ مُسلم

ته زما مولی مه وايئ ځکه ستاسو مولی صرف الله دی.

توضيح: عبدی: د جاهليت په دور کې عربو خپل غلام ته يا عبدی ای زما بنده ويلو او وينځې ته به يې يا امتی ای زما غلامه ويلو. دې کې به يو انسان خپل بنده ګڼلی کېدلو. حال دا چې انسانان ټول د الله بنده ګان دي. دغه شان امة به يې د غلام په معنی کې اخستلو. حال دا چې حقيقي ملکيت د الله دی، ځکه دا الفاظ موهم شرک جوړېدل، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه ممانعت وکړو.

اوس دلته پوښتنه دا ده چې د عبد او امة اطلاق قرآن کې موجود دی ﴿من عبادكم وامائكم﴾ (سورة نور : ۳۲) نو دې حديث کې ممانعت څنګه وکړی شو؟ د دې جواب دا دی چې ممانعت هغه صورت کې دی چې څوک د تکبر او تجبر او د غرور او سرکشی په توګه داسې اطلاق کوي او غلطه معنی اخلي. ګويا کې د عبد نه خپل بنده مراد اخلي چې ما پيدا کړی دی، خو که څوک داسې نه کوي نو بيا دا اطلاق جائز دی، ځکه څنګه چې قرآن او حديث کې دي. ګويا کې د عبد او امة يو مفهوم غلط دی. دې مفهوم کې راغوښتل ناجائز نه دی. او دويم مفهوم صحيح دی. هغې کې راغوښتل جائز دي. (مرقات ۵۲۲/۸)

سلام چې څنګه د مشرانو اصلاح کړي ده، همدغه شان يې د غلامانو او د وينځو اصلاح هم کړې ده چې خپلو مشرانو ته رب يا ربی ويل جائز نه دي. دې هم هغه خبره ده چې د رب يو مفهوم داسې دی چې د الله سره خاص دی. دې صفت او دې مفهوم څوک په رب ويلو سره راغوښتل جائز نه دي، خو د رب يو مفهوم داسې دی چې د هغې اطلاق په غير الله ته کېږي. هغه صرف د مالک او د آقا په معنی

کې دی، نو ځکه اجازت دی. لهذا د رب د اطلاق نفي هم ده او اثبات هم دی. دغه شان د مولی لفظ دی. د دې پنځه معنې رائې. ځینې د معنیٰ په اعتبار سره هیڅ مخلوق د مولیٰ ویل سره نه شي راغوښتلی. چې د خالق او د مالک په معنی کې دی، خو ځینې د معانې په اعتبار سره غیرالله ته هغې اطلاق کېدی شي، نو ځکه د نفي او د اثبات جدا جدا مواقع دي.

انګور ته د "کرم" ویلو ممانعت

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:"

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

لَا تَقُولُوا: الْكَرْمُ فَإِنَّ الْكَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ ". رَوَاهُ مُسلم وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ

کرم مه وایئ ځکه کرم د مومن زړه دی (مسلم) او هم د مسلم یو حدیث کې د حضرت وائل ابن حجر

قَالَ: "لَا تَقُولُوا: الْكَرْمُ وَلَكِنْ قُولُوا: الْعِنَبُ والحبلة"

نه داسې منقول دي چې د انګور بوټې ته کرم مه وایئ بلکې عنب او حبله وایئ.

توضیح: د عرب خلکو به ځکه انګور ته کرم ویلي چې د انګورو نه به شراب جوړېدل چې کرام الناس به څښلو. حماسی شاعر وایي

انا محیوك یاسلمیٰ فحیینا وان سقیت کرام الناس فاسقینا

بهرحال د کرم لفظ کې د شرابو پس منظر پروت ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا اطلاق منع کړو چې یو نجس څیز چې شراب دی د هغې په ماده او مبدء او د هغې بنیاد په کرم سره ولي یاد کړی شي. نو ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کرم مه وایئ. عنب وایئ یا حبله وایئ. د انګور بوټې یا د هغې ښاخ یا جړلې ته حبله وایي. (مرقات ۵۲۲/۸)

زمانې ته بد مه وایئ

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَسُبُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل انګور ته کرم مه وایئ او

وَلَا تَقُولُوا: يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدهرُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيّ

ما دا وایئ چې د ناامیدئ په زمانه کې ځکه بیشکه الله (په اختیار) کې زمانه ده.

توضیح: ان الله هو الدهر: پوښتنه دا ده چې د الله څومره نومونه دي هغه توقیفی نومونه دي. هغې کې د الدهر نوم نشته دی، نو دلته څنګه وویل شو چې الله دهر دی. د دې جواب دا دی چې الله الدهر په معنی د متصرف فی الدهر یا الله هو المدهر یعنې یعنې زمانه کې تصرف کونکی او هغې سموالی او کوږوالي والا الله دی. اوس دهر ته د بد ویلو نه ولې منع شوي ده، نو د دې حقیقت دا دی چې زمانه خو هیڅ نه شي کولی. زمانه چې څه کېږي هغه ټول الله کوي. د زمانې شاته د الله لاس دی،

نو کوم کس چې زمانې ته کنځل کوي، نو هغه پ حقيقت کې د هغې شاته مؤثر حقيقي ته په غير شعوري توګه کنځل کوي. دا کنځل بحال متعلقه په اعتبار سره دی. دې کې د فاعل د بې ادبۍ خطر دی، نو ځکه منع کړی شوی دی. زمانې ته بد مه وایئ. د دې تفصيل په توضيحات جلد اول کې په ابتدائی ابواب ایمان کې تير شوی دی. (مرقات ۵۲۲/۸)

﴿۱۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَسُبَّ أَحَدُكُمُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو کې هيڅوک زمانې

الدَّهْرَ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ. رَوَاهُ مُسلم

ته بد مه وایئ ځکه حقيقت کې الله د زمانې بدلونکی رابدلونکی دی.

ځان ته خبيث مه وایئ

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو کې دې هيڅوک داسې نه وايي

خَبُثَتْ نَفْسِي وَلَكِنْ لِيَقُلْ: لَقِسَتْ نَفْسِي". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

چې زما زړه خبيث دی بلکې لقست نفسی وایئ يعنې زما طبيعت خراب ش. (بخاری او مسلم) او د

وَذَكَرَ حديثُ أَبِي هريرةَ: يُؤْذِينِي ابنُ آدمَ فِي بَابِ الْإِيمَانِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت په يُؤْذِينِي ابن آدم باب الايمان کې نقل کړی شوی دی. (بخاری و مسلم)

الفصل الثاني

د ابوالحکم کنيت مناسب نه دی

﴿۱۶﴾ عَنْ شُرَيْحِ بن هَانِئٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ لَمَّا وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ قَوْمِهِ

حضرت شريح ابن هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه نقل کوي چې کله هغه د خپل قوم سره د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سَمِعَهُمْ يُكَنُّونَهُ بِأَبِي الْحَكَمِ

په خدمت کې حاضره شوه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واوربدل چې د هغې قوم هغه د ابوالحکم د کنيت په ذريعه

فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ اللهَ هُوَ الْحَكَمُ

مخاطب کوي نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی راوغوښتل او ويې فرمايل چې حکم خو صرف الله دی.

فَلِمَ تُكَنَّى أَبَا الْحَكَمِ؟ قَالَ:

او حکم د هغې له ارخ دی. بيا تاسو خپل کنيت ابوالحکم ولې ما عرض وکړو چې کړی دی.

إِنَّ قَوْمِي إِذَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ أَتَوْنِي فَحَكَمْتُ بَيْنَهُمْ
حضرت هانی رضی الله عنه چې کلمز ما قوم دیوې مسئلې خکار شي نو ما پسې راځي او زه د هغوی په معامله کې کومه فیصله کوم
فَرَضِيَ كِلَا الْفَرِيقَيْنِ بِحُكْمِي. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَحْسَنَ هٰذَا
نو دواړه ډلې هغه منې. نبي کریم صلی الله علیه وسلم دې اوریدلو سره وفرمایل چې دا ډېره ښه خبره ده (دا
فَمَا لَكَ مِنَ الْوَلَدِ؟ قَالَ: لِي شُرَيْحٌ
راته اوایه) ستا څو بچي دي او د هغوی څه نومونه دي. هغې وویل چې زما درې بچي دي. چې نومونه یې شریح،
وَمُسْلِمٌ وَعَبْدُ اللهِ قَالَ: فَمَنْ أَكْبَرُهُمْ؟
مسلم او عبد الله دي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چې درې واړو کې لوی څوک دی؟
قَالَ قُلْتُ: شُرَيْحٌ. قَالَ فَأَنْتَ أَبُو شُرَيْحٍ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ
حضرت هانی رضی الله عنه وویل چې ما عرض وکړو شریح. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل نو یې اته دننه پس ابو شریح شوې.

توضیح: الحکم: د الله په نومونو کې یو نوم دی. د هغه سړي کنیت ابو الحکم ؤو. چې د الله د بې ادبئ ارخ په کې راوتلو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغوی کنیت خوښ نه کړو او هغه یې د ابو شریح په نوم سره بدل کړو. ابو الحکم یعني د حکم پلار او د حکم د الله نوم دی. د دې حدیث نه معلومه شوه چې د پاکستان سیاسي لېډران او د جماعت اسلامي بانې مودودي صاحب ته ابو الاعلیٰ ویل هم منع دي، لکه څنګه چې ابو الحکم منع دی. (مرقات ۸/۵۲۴)

اجدع نوم ایښودل ښه نه دی

﴿۱۷﴾ وَعَنْ مسروقٍ قَالَ: لَقِيتُ عُمَرَ فَقَالَ:
حضرت مسروق (تابعی) فرمایي چې کله زه د حضرت عمر رضی الله عنه سره مخ شوم نو هغه پوښتنه وکړه
مَنْ أَنْتَ؟ قُلْتُ: مَسْرُوقُ بْنُ الْأَجْدَعِ. قَالَ عُمَرُ:
چې ته څوک یې، ما عرض وکړو چې زه د اجدع ځوي مسروق یم. حضرت عمر (زما د پلار نوم اجدع اوریدلو
سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: الْأَجْدَعُ شَيْطَانٌ رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وابن مَاجَه
سره) وفرمایل چې ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې اجدع د شیطان (نوم) دی.

توضیح: اجدع: د مسروق تاریخ او وجه تسمیه دې نه مخکې ج ۵ ص ۳۷۴ باندې لیکلی شوې ده. اجدع غوږ او پوزه غوڅ شوې ته وایي. حضرت عمر رضی الله عنه د تفنن او د ظرافت طبع په توګه دا وفرمایل چې دا اشاره په دې وه چې کله ستا پلار هغه وخت ژوندی وی نو د هغې نوم به بدل کړی شوی دی. (مرقات ۸/۵۲۴)

ښه نومونه ږدئ

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د قيامت په ورځ تاسو به

بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَائَكُمْ. رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد

ستاسو او ستاسو د پلارونو په نومونو راغوښتلی کيږئ. لهذا تاسو ځان له ښه نومونه ږدئ. (احمد ابو داؤد)

توضيح: ځينې عجيبه قومونه وي. بچي پيدا کړي. ټول بوج يې اوچتوي، خو لږ زحمت نه کوي چې د ښه نوم سوچ ورله وکړي.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم او کنيت يو ځای مه ږدئ

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ نَهَى

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې خبرې نه منع کړې ده چې څوک

أَنْ يَجْمَعَ أَحَدٌ بَيْنَ اسْمه وكُنيته وَيُسمى أَبَا الْقَاسِم. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ

د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نوم او کنيت يو ځای اختيار کړي. او د چا نوم چې محمد وي، هغې ته ابو القاسم (هم) وويل شي.

﴿۲۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: إِذَا سَمَّيْتُمْ بِاسْمِي

او د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت د چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل که تاسو زما د پلار په نوم

فَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ:

باندې خپل نوم محمد کيږدئ نو زما په کنيت باندې کنيت مه ږدئ. (ترمذی ابن ماجه) او ترمذی ويلي دي

هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ قَالَ:

چې دا حديث غريب دی. او د ابو داؤد په روايت کې داسې دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

مَن تسمّى باسمي فَلَا يَكْتَنِ بِكُنْيَتِي

چې څوک زما په نوم باندې نوم کيږدي نو هغه زما په کنيت باندې کنيت مه مقرروئ او څوک چې

وَمَنْ تَكَنَّى بِكُنْيَتِي. فَلَا يَتَسَمَّ باسمي

زما په کنيت باندې کنيت مقرر کړي نو زما په نوم باندې نوم مه ږدئ.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم او کنيت ايښودلو اجازت

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يوې ښځې عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما

وَلَدْتُ غُلَامًا فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا وَكَنَّيْتُهُ أَبَا الْقَاسِمِ فَذُكِرَ لِي
يو ځوي شوی دی او ما د هغې نوم محمد او د هغې کنيت ايښی دی، خو ماته ويلی شوي دي چې
أَنَّكَ تَكْرَهُ ذَلِكَ.
تاسو دا نه خوښوي (يعني ويونکي ماته دا وويل چې تاسو خپل نوم او کنيت يو ځای اختيار ول حرام ګڼي؟)
فَقَالَ: مَا الَّذِي أَحَلَّ اسْمِي
نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې داسې څه شی دی چې چا زما په نوم باندې نوم کښې نو هغه يې حلال او جائز ايښی دی.
وَحرم كنيتي؟ أَوْ مَاالَّذِي
او زما په کنيت باندې يې کنيت مقرر ول حرم کړی دی. يا يې دا وفرمايل چې داسې څه شی دی چې
حَرَّمَ كُنْيَتِي وَأَحَلَّ اسْمِي؟ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.
زما کنيت باندې کنيت ايښود ل خو حرام کړی دی او زما په نوم باندې نوم ايښود ل يې حلال کړی دی؟ (ابو داؤد)
وَقَالَ محيي السّنة: غَرِيب
او محی السنة ليکلي دي چې دا حديث غريب دی.

د دې حديث ممانعت نورو حديثونو لپاره ناسخ ګڼلی کښې شي، ځکه د جمهورو په نزد دا فيصله ده چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم او کينت د نبي کريم ﷺ د مرګ نه وروسته جائز دی. اختلافي اقوال مې شاته نقل کړي دي.

﴿۲۲﴾ وَعَن مُحَمَّد بن الحنفيَّةِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ:
او حضرت محمد ابن حنفيه د خپل پلار (حضرت علي کرم الله وجه) نه نقل کوي چې هغې وويل
يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ وُلِدَ لِي بَعْدَكَ وَلَدٌ
چې ما عرض وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ماته اوايه چې که چرې ستاسو د پلار (د مرګ نه) وروسته
أُسَمِّيهِ بِاسْمِكَ وَأُكَنِّيهِ
که زما دلته (د فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نا يا د بلې کومې ښځې نه) نه کوم ماشوم پيدا شو نو آيا زه د هغې
بِكُنْيَتِكَ؟ قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد
نوم د ستاسو په نوم او د هغې کنيت د ستاسو په کنيت ايښود لی شم؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل آؤ.

د حضرت انس رضی الله عنه کنيت

﴿۲۳﴾ وَعَن أنس قَالَ: كَنَّانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ بِبَقْلَةٍ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما کنيت د هغه ساګ په نوم مقرر کړو چې کوم به مارا ويستل

كُنْتُ أُجْتَنِيهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

(يعني نبي عليه السلام زه ديو ساک چې عربي کې ورته حمزه وايي په راويستلو باندې وليدلم نو د هغې په مناسبت سره يې

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ

زما کنيت ابو حمزه کيښودلو. دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې چې زمونږ علم دا دی چې دا حديث د دې سند نه بغير

إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْه. وَفِي المصابيح صَحَّحَهُ

(جامع ترمذي نقل کړی دی او د بل هيڅ سند سره ذکر نه دی) صاحب مشکوة وايي چې مصابيح دا حديث صحيح ګڼلی دی.

توضيح: کوم ساک او وابنه به چې حضرت انس رضي الله عنه راويستل د هغې نوم به حمزه ؤو، نو ځکه د هغې کنيت حمزه کيښودلی شو. د دې نه معلومه شوه چې د کنيت ايښودلو لپاره دا ضروري نه ده چې د اولاد په وجه وي. بلکې د نورو شيانو په وجه هم ايښودلی کېدی شي. البته د هغې واسطه او تعلق ضروري دي. الکه ابو هريره، ابو حمزه، ابو الکلام وغيره. دغه دا هم ضروري نه ده چې سړی بالغ وي نو هله به د هغې کنيت ايښودلی کېږي بلکې دا هم جائز دي چې يو وړوکی ماشوم هم د کنيت سره ياد کړی شي لکه ابو عمير وړوکی ماشوم ؤو چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم کنيت ورکړو.

﴿۲۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ كَانَ يُغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به بد نومونه بدلول. (روايت کړي دي ترمذي)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ډير نومونه بدل کړل

﴿۲۵﴾ وَعَنْ بشير بن مَيْمُون عَنْ أُسَامَةَ بْنِ أَخْدَرِيٍّ

او حضرت بشير ابن ميمون (تابعي) د خپل تره حضرت اسامه بن خدري نه نقل کوي چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم

أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ أُصْرِمُ كَانَ فِي النَّفَرِ الَّذِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په خدمت کې يو جماعت حاضر شو نو يو سړی هغوی کې داسې هم ؤو چې اصرم به يې ورته ويلي.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا اسْمُكَ؟ قَالَ: أَصْرَمُ

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د هغه نه پوښتنه وکړه: ستا څه نوم دی؟ هغه وويل اصرم، نبي عليه السلام هغه ته وويل

قَالَ: بَلْ أَنْتَ زُرْعَةُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ:

چې وفرمايل چې (نا بلکې د ننه) ستا نوم زرعه دی. دا روايت ابو داؤ نقل کړی دی. او هغې دا هم نقل کړي دي

وَغَيَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَ الْعَاصِ وعزيز وَعَتَلَةَ وَشَيْطَانٍ وَالْحَكَمِ وَغُرَابٍ

چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم عاص، عزيز، عتله، شيطان، حکم، غراب، حباب او د شهاب نومونه بدل کړي ؤو.

وَحُبَابٍ	وَشِهَابٍ	وَقَالَ: ترکت	أسانیدها	للاختصار
ابوداؤد فرمایي چې ما د اختصار له نظره دا روایتونه (چې د نومونو د بدلولو ذکر په کې دی) بغیر د اسنادو نه نقل کړی دی.				

توضیح: اصرم: دا د غوڅولو په معنی دی، لکه څنګه چې یو بوټی یا فصل غوڅول کیږي. دا ښه نوم نه دی، نو ځکه ورله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعمیری نوم زرعه کیښودلو چې پټي او کروندي ته وایي. عاصی د عاص نه نافرمانئ او د سرکشئ په معنی کې دی، نو ځکه ورله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا نوم بدل کړو. (مرقات ۵۲۹/۸)

عزیز: دا د الله د نومونو نه دی. عبدالعزیر خو ښه دی خو صرف عزیز مناسب نه دی. د دې په معنی کې تعلی او زبردستئ ده. چې د عبدیت د شان خلاف دی. (مرقات ۵۲۹/۸)

عتلة: سخت او سرکشه ته وایي. مؤمن داسې نه وي. (مرقات ۵۲۹/۸)

شیطان: د بدو جزله او د هغې د داعي نوم شیطان دی، نو ځکه دا نوم ایښودل غلط دی، ځکه شیطان د یاشط نه دی چې معنی یې سوځېدل او هلاک کېدل ده. یا شیطان د شطن نه راوتلی دی چې معنی یې ده د الله د رحمت راویستل شوی او بعدی کیدل دواړه معنې بیکاره دي او خپله شیطان بد کرداره دی. لهذا دا نوم بیکاره دی.

حکم: دا د الله د نومونو نه دی. کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوالحکم منع کړو نو صرف حکم نوم ایښودل نو بطریق اولی ناجائز دی. (مرقات ۵۲۹/۸)

غراب: کارغه ته وایي. چې یو مکروه مارغه دی. مرادر هم دی. (مرقات ۵۲۹/۸)

حباب: د شیطان نوم دی او د مار نوم هم دی، نو ځکه د نوم به لپاره ایښودل غلط دی. (مرقات ۵۳۰/۸)

شهاب: شیطان ویستونکي ستورو ته شهاب ثاقب وایي. که د دې اضافت د دین له ارخه شي لکه شهاب الدین نو بیا جائز دی. (مرقات ۵۳۰/۸)

دزعموا لفظ د دروغو پل دی

﴿۲۶﴾ وَعَن أَبِي مسعودٍ الأنصاريِّ قَالَ لِأَبِي عَبْدِ اللهِ أَوْ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ
او د حضرت ابو مسعود انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغې د حضرت ابو عبدالله نه یا د حضرت ابو عبدالله
لِأَبِي مَسْعُودٍ: مَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي (زَعَمُوا)
د حضرت ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وپوښتل چې د نبي کریم ﷺ نه دی د زعموا د لفظ باره کې څه اوربدلی دي؟

قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ.

هغې جواب ورکړو چې آؤ ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي چې دا (لفظ) د نارينه بده سورلی ده.

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: إِنَّ أَبَا عَبْدِ اللهِ حُذَيْفَةَ

ابو داؤد دا روايت نقل کړی او ويلي يې دي چې ابو عبد الله د حضرت حذيفه بن اليمان کنيت دی.

توضيح: زعموا: يعنې د زعموا چې کوم لفظ دی دا د سړې بدترينه سورلې ده. اهل لغتو ليکلي دي چې د زعم لفظ سره چې کوم قول وشي دا هغه خبرې او قول ته وايي چې هغې کې پوره اعتماد او اطمينان نه وي. اګر که کله کله د زعم لفظ د يقيني خبرې لپاره هم استعمالېږي، خو عامه قاعده همدغه ده چې دا لفظ د شک او ګمان په موقع استعمالېږي. د بحث لاندې حديث کې يو صحابي د بل نه پوښتلي دي چې د آيا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دې د زعم لفظ متعلق څه اوريدلي دي. صحابي جواب ورکړو چې آؤ ما اوريدلي دي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دا د سړې بدترينه سورلی ده. مطلب دا دی چې څنګه چې يو سړی انو بانو سره خپل منزل ته د رسيدلو لپاره ذرائع استعمالوي. دغه شان کله چې يو کس د دروغو خبره ښوره وي نو هغه د کوم ثبوت يا د سند يا د کوم نوم اخستلو نه بغير وايي چې د خلکو داسې خيال دی. خلک داسې وايي. دغه شان ويلی کېږي، د کلام په انداز سره سړی د دې لفظ په ذريعه د پر دروغ وايي او ښوروي يې. نن سبا د بې بې سې په خبرو کې دروغ ته د رسيدلو او د هغې په ښورولو کې د ټولو نه زيات همدغه لفظ استعمالولي. يو جزئی خبرې او واقعې ته د قاعده کليه شکل د ورکولو لپاره همدغه لفظ د پل په توګه استعمالوي چې خلک داسې وايي. د خلکو دغه شان خيال دی. دا عجيبه طريقه ده چې درغوجن سړی کله هم نه ښول کېږي، ځکه نه هغه د چانوم اخلي او نه سند او ثبوت وايي. د دې حديث تعليم دا دی چې داغه شان بې سره او بې پښې خبرې ښورول پکار نه دي او بې تحقيقه اوريدل شوي خبرې الوځول پکار نه دي. بلکې پوره تحقيق او د اعتمار سره د کلک حقيقت په بنياد باندې خبره مخکې رسول پکار دي. (مرقات ۸/۵۳۱، ۵۳۰)

شرک فعلي پشان د شرک قول نه بچ کيدل هم ضروري دي

﴿۲۷﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ وَشَاءَ فُلَانٌ

داسې مه وايئ چې (همغه به کېږي) چې څه الله غواړي او فلانی وغواړي البته د ظاهري اسبابو او

وَلَكِنْ قُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ
وسائلو له نظره د انسان له ارخه و د مشيت نسبت منشور وي نو بيا) داسې وايئ چې (هغه به کېږي)
ثُمَّ شَاءَ فلَان". رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَفِي رِوَايَةٍ مُنْقَطِعًا
څه چې الله غواړي او بيا يې فلاني غواړي. دا روايت احمد او ابوداؤد نقل کړی دی. او په يو منقطع روايت کې دي
قَالَ:" لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ وَشَاءَ مُحَمَّدٌ
چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: داسې مه وايی: څه چې الله وغواړي او محمد (ﷺ)
وَقُولُوا مَا شَاءَ اللهُ وحْدَه. رَوَاهُ فِي شرح السنة"
وغواړي، او ؤوايی هغه څه چې يوائې يې الله وغواړي.

توضيح: وشآء فلان: يعنې د مشيت الفاظو کې د الله د خوښې سره د بل چا خوښي ملاول پکار نه دي چې څوک اويي چې څه الله او رسول غواړي هغه به کېږي. دغه شان هيڅ يوه جله ورسره ملاول پکار نه ده بلکې داسې فيصله کول پکار دي چې کله الله وغواړي او بيا فلانې وغواړي، نو دې صورت کې د الله خوښه مقدم وي او د سړې خوښه به د هغې تابع شي. دا صورت صحيح دی. خلک داسې خبرو کې ډېرې زيات غلو کوي. حال دا څنګه چې د شرک فعلې نه سړی ځان ساتېدغه شان د شرک قولې نه ځان ساتل ضروري دي. (مرقات ۵۳۲/۸)

منافق ته سردار مه وايئ

﴿۲۸﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت حذيفه رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل
لَا تَقُولُوا لِلْمُنَافِقِ سَيِّدٌ فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ
هيڅ يو منافق ته سيد مه وايئ يعنې سردار او آقا ورته مه وايئ ځکه که هغه سيد وي (او تا هغې ته
سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد
سيد وويل) نو تا خپل پروردګار ناراضا کړو.

توضيح: سيد: سردار او آقا ته وايي. منافق دا چې د الله د دين او د مسلمانانو دښمن وي. که په ژبه يې هر څه وي خو د زړه نه اسلام سره دښمني ساتي، نو داسې کس ته خدای سيد او د آقا والا د احترام الفاظو سره يادول ناجائز دي. الله منافقين د ذلالت او رسوائی او د خورای او د بربادئ الفاظو سره ياد کړی دی. د دې نه باوجود هم که يو کس د منافق تعريف او توصيف کوي و هغه د الله کلام ته د دروغو نسبت کوي چې الله پرې خفه کېږي. که يو منافق ربنتيا هم د خپل خاندان سردار دی

يا د ملک مشر دی نو بيا هم ورته آقا ويل پکار نه دي ځکه هغه د دې شان والا الفاظو سره د يادولو اهل نه دی. نن سبا د مسلمانانو د منافق حکمرانانو په تعريف کې چې کوم خوشامدي خلک د هغوی قصيدې وايي هغې له پکار دي چې منع شي او خپل رب نه ناراض کوي ځکه د آخرت د عذاب لپاره تيار شي. (مرقات ۵۳۳/۸)

الفصل الثالث

د بد نوم بد اثروي

﴿۲۹﴾ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ شَيْبَةَ قَالَ: جَلَسْتُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ

حضرت عبدالحميد ابن جبير ابن شيبه وايي چې زه د حضرت سعد ابن مسيب په خدمت کې حاضر شوم نو هغې

فَحَدَّثَنِي أَنَّ جَدَّهُ حَزْنًا قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ماته دا حديث بيان کړو چې زما نيکه (چې نوم يې حزن ؤو) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شو

فَقَالَ: مَا اسْمُكَ؟ قَالَ: اسْمِي حَزْنٌ قَالَ:

نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ترې ونه وپوښتل چې ستا څه نوم دی؟ هغې وويل چې زما نوم حزن دی. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

بَلْ أَنْتَ سَهْلٌ قَالَ: مَا أَنَا بِمُغَيِّرٍ اسْمًا سَمَّانِيهِ أَبِي.

چې (حزن ښه نوم نه دی) بلکې زه ستا نوم سهل ايږدم. هغه وويل چې زما نيکه چې ماله کوم ايښی دی زه دا بدلوی نه شم.

قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ: فَمَا زَالَتْ فِينَا الْحُزُونَةُ بَعْدُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

حضرت سعيد وفرمايل چې د هغې نه وروسته تر اوسه پورې زمونږ خاندان کې همېشه سختي ده.

توضيح: حزن: دا نوی مسلمان صحابي ؤو. کېدی شي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کلام يې حکم په ځای اختياري ګڼلی وي او د نوم خوښول يې خوښ کړی نه وي، خو د نوم ترجمه دا چې سختي او مصيبت ؤو، نو ځکه يې د نوم اثر په خاندان کې پاتې شو او هميشه د حکمرانانو له اړخه د مصيبتونو او د تکليفونو ښکار شول. حضرت سعيد بن المسيب جليل القدر تابعی دی. دا افسوس کوي چې کاش که زما نيکه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلی شوی نوم سهل خپل کړی وی نو زمونږ خاندان باندې به هم نرمي او سهولت وی، ځکه د ښه او د بد نوم اثر ضرور کېږي. حزن سختي او کلکي او کارجنې ځمکې ته وايي. او سهل نرمه، پسته او هواري ځمکې ته وايي. (مرقات ۵۳۴-۵۳۵/۸)

بنه اوريښتيا نومونه

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي وَهَبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَسَمُّوا

او حضرت ابو وهب جشمي فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د انبياؤ په نومونو باندې

أَسْمَاءَ الْأَنْبِيَاءِ وَأَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللهِ عَبْدُ اللهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ وَأَصْدَقُهَا

خپل نومونه ږدئ او د الله په نزد بهترين نوم عبدالله او عبدالرحمن دي. او زيات ريښتني نومونه

حَارِثٌ وهمامٌ أقبحها حربٌ ومُرَّة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

حارث او همام دي او د تولو نه بد نومونه حرب او مره دي.

توضيح: **الانبياء**: يعنې د انبياؤ په نونو نو باندې خپل نومونه ږدئ. دې كه پته اشاره كېد ى شي چې د فريښتو په نومونو باندې خپل نومونه مه ږدئ.

دې حديث كې دا هم وويلى شو چې د جاهليت د زمانې په طرز بد او وېرونكنې نومونه مه ږدئ لكه څنګ چې حرب دى يا مره دى. مره پيكا او تريخ ته وايي د ابليس كنيت هم ابومره دى. او حرب جنګ ته وايي.

د جاهليت په دور كې حمار، كلب او عبدالشمس وغيره نومونه به هم ايښودلى كېدل دا قبيح نومونه دي.

حارث: كرهنى او د كسب او عايد لپاره د حارث لفظ استعمالېږي. اوس دنيا كې هر سړى په كسب او كټولو كې مشغول دى، نو ځكه دا ريښتنې نوم دى.

دغه شان "همام" اهتمام او قصد او ارادې ته وايي. او هر كس په څه نا څه اهتمام او قصد او اراده كې لږيا دى، نو ځكه دا هم بنه ريښتينې نوم دى. (مرقات ۵۳۵/۸)

تمت بالخير

